مظاهر حق

د مشکوٰة المصابیح پښتو شرحه

تالیف

علامه نواب محمد قطب الدین خان دهلوی رحمه الله

تزئین و ترتیب

مولانا عبد الله جاوید غازی پوری (فاضل دار العلوم دیوبند)

اووم جلد ۷

۱. حدیثونه د اعراب سره
۲. تحت لفظي ترجمه
۳. حدیثونو تخریج
۴. د لغاتو حل

مباحث

کتاب الصید والذبائح
کتاب الأطعمة
کتاب اللباس
کتاب الطب والرقی
کتاب الرؤیا کتاب الادب

بسم الله الرحمن الرحيم

(د مشکٰوة المصابيح پښتو شرحه)

مظاهر حق

تاليف: نواب محمدقطب الدين خان دهلوي رحمة الله عليه

ترتيب او تزئين: مولاناعبدالله جاويد غازي پوري (فاضل ديوبند)

خپرندوی: صداقت خپرندويه ټولنه

پښتو ژباړه: محمد رسول سعيد

تصحيح کوونکي: بسم الله رحيمي، مولوي عبدالکريم کريمي، مولوي عبدالجبار

لومړی چاپ: ۱۳۹۲ش - ۲۰۱٤ ع.

پنځم چاپ :۱۳۹۹ل. / ۲۰۲۰م.

د خپرونو لړ: ۱۸۳

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځايونه:

صداقت خپرندويه ټولنه-کندهار

اوله ناحيه، نوی سړک- کريم اعتماد مارکېټ

Sadaqat.books@gmail.com / ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

کندهار: صداقت خپرندويه ټولنه- ارگ بازار- قلم او کتاب مارکېټ ۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴ .

کابل: صداقت خپرندويه ټولنه،کوټه سنگي مينه يار مارکېټ او **اکسوس کتاب پلورنځی**. **هلمند** :تاج منور خپرندويه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه گدام. **جلال آباد:** مومند خپرندويه ټولنه.ننگرهار مارکېټ. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتيکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

د مظاهر حق اووم جلد فهرست

بِسمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِح

(د ښکار او ذبیحو بیان)

د ښکار حکم: د حرم د حدودو څخه دباندي هر ځای ښکار کول حلال دی په شرط ددې چي ښکار کونکی د احرام په حالت کي نه وي، د ښکار مباح کېدل د کتاب او سنت (یعني قرآن کریم او حدیثو) څخه ثابت دي او د امت اجماع هم پر دې ده، مګر د حضرت امام مالک رحمة الله عليه د مذهب په یوه کتاب (رسالة ابن ابوزيد) کي لیکلي دي چي محض د لهو او لعب لپاره ښکار کول مکروه دي، او د لهو او لعب څخه پرته ښکار مباح دی، او کوم چي د رسول الله ﷺ د ذات مبارک تعلق دی نو دا ثابته نه ده چي رسول الله ﷺ په خپله ښکار کړی دی مګر دا ثابته ده چي کله به رسول الله ﷺ ته ښکار راوړل سو نو رسول الله ﷺ به هغه نه منع کوی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د سپي او غشي ښکار

﴿۳۸۸۷﴾: عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عدي بن حاتم رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ فَاذْكُرْ اسْمَ اللّٰهِ فَإِنْ أَمْسَكَ عَلَيْكَ فَأَدْرَكْتَهُ حَيًّا فَاذْبَحْهُ

هر کله چي تاسو د روزل سوو سپیانو (په ښکار پسي) د لېږلو اراده وکړئ نو د الله تعالی نوم اخلئ (یعني بسم الله الله اکبر وایاست) بیا که ستا سپی ښکار ونیسي او ته هغه ژوندی تر لاسه کړې نو ذبح یې کړه

وَإِنْ أَدْرَكْتَهُ قَدْ قَتَلَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ فَكُلْهُ وَإِنْ أَكَلَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى

او که ښکار مړ تر لاسه کړې او سپي د هغه غوښه خوړلې نه وي نو د هغه غوښه خوره او که سپي د هغه ښکار څخه څه خوړلي وي نو بیا یې د هغه ښکار څخه مه خوره ځکه چي هغه سپي د خپل

نَفْسِهِ فَإِنْ وَجَدْتَ مَعَ كَلْبِكَ كَلْبًا غَيْرَهُ وَقَدْ قَتَلَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي

خوراک لپاره ایښې ده، که ستا د سپي سره د بل چا سپی هم وي او په دواړو کي يوه سپي ښکار وژلی وي نو د هغه غوښه مه خوره ځکه چي تا ته معلومه نه ده چي

أَيُّهُمَا قَتَلَ وَإِذَا رَمَيْتَ بِسَهْمِكَ فَاذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ فَإِنْ غَابَ عَنْكَ يَوْمًا فَلَمْ

په هغوی کي کوم يوه ښکار وژلی دئ هر کله چي ته پر ښکار غشي ولې نو د الله تعالی نوم اخله بيا که ښکار يوه ورځ تا ته په لاس در نه سي او په دويمه ورځ ته هغه تر لاسه کړې

تَجِدْ فِيهِ إِلَّا أَثَرَ سَهْمِكَ فَكُلْ إِنْ شِئْتَ وَإِنْ وَجَدْتَهُ غَرِيقًا فِي الْمَاءِ فَلَا تَأْكُلْ. متفق علیه.

او په هغه شي کي ستا د غشي نښه موجوده وي نو هغه وخوره که ستا زړه غواړي، او که ته ښکار په اوبو کي پروت او مړ تر لاسه کړې نو مه يې خوره که څه هم په هغه کي د غشي نښه موجوده وي (ځکه چي کېدای سي چي هغه په اوبو سره مړ سوی وي. بخاري او مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۲۷۹، رقم: ۱۷۵، ومسلم ۳\ ۱۵۳۱، رقم: ۶– ۱۹۲۹.

تشريح: د الله ﷻ نوم يادوه: ددې مطلب دادی چي د سپي پرېښودل د چاړې تېرولو په درجه کي دی ځکه څرنګه چي د چاړې په ذريعه د ذبح په وخت کي د الله ﷻ نوم اخيستل کيږي همدارنګه په ښکار پسي د تعليم يافته سپي پرېښودو په وخت کي هم د الله ﷻ نوم اخيستل يعني بسم الله الله اکبر ويل ضروري دي، که يو چا په هېره سره بسم الله الله اکبر ونه وايه نو په دغه صورت کي د هغه ښکار خوړل حلال دي او که دا صورت وي چي د سپي پرېښودو په وخت کي يې په قصد سره بسم الله الله اکبر ونه وايه او هغه سپی يې پرېښودو او چيري چي سپی وو هلته ودرېدی اوس د سپي له درېدو څخه وروسته هغه بسم الله الله اکبر ووايه او سپی ښکار ونيوی او مړ يې کړی نو هغه ښکار به حلال نه وي.

دا ضروري ده چي د سپي پرېښودونکی مسلمان يا اهل کتاب (لکه عيسائي يا يهودي) وي که چيري يو سپی د يو چا د پرېښودو څخه پرته خپله ولاړی او ښکار يې زخمي کړ نو هغه به حلال نه وي همدارنګه که يو سړی د سپي پرېښودو په وخت کي بسم الله الله اکبر ونه وايي مګر هغه ښکار يې ژوندی تر لاسه کړ او هغه يې ذبح کړ نو هغه به د ښکار په حکم کي نه وي.

لکه څرنګه چي د ښکاري ذي ناب (داړونکي) حيوان لکه سپی، شرموښ او د داسي نورو

حیوانان ښکار حلال دی همدارنګه د ښکاري ذي مخلب (پنجه لرونکي) نیول سوی ښکار هم حلال دی لکه باز، شاهین او داسي نور.

د ذي مخلب حیوان د ښکاري کېدو علامه داده چي هغه په دوه درې ځله ښکاره نېولو سره پرېږدي او خپله یې ونه خوري، او د ذي ناب حیوان د ښکاري کېدو نښه داده چي هغه د پرېښودو څخه وروسته راوبلل سي نو سمدستي راسي، که چیري د ذي مخلب حیوان یعني باز وغیره له ښکار څخه څه وخوړل نو هغه ښکار هم حلال دی او د هغه خوړل صحیح دي، که چیري د ذي ناب حیوان څخه یو حیوان د ښکار سوي حیوان څخه څه وخوري نو هغه ښکار به حلال نه وي همدارنګه که چیري د ښکاري سپي وغیره د درې ځله ښکار نیولو سره د پرېښودو څخه وروسته یو ځل هم له ښکار څخه څه وخوړل نو هغه د ښکاري سپي په حکم کي داخل نه دی تر دې چي هغه دوهم وار ښکاري جوړ کړل سي یعني تعلیم یافته سي.

او بیا هغه ښکار تر یوې ورځي پوري ستا څخه ورک وي...الخ: د حنفي علماوو په نزد د غشي په ذریعه د وژل سوي ښکار د حلال کېدو شرط دادی چي د غشي ویشتلو په وخت کي بسم الله الله اکبر ویل سوي وي او بیا هغه ښکار زخمي کړي او دا که چیري هغه ښکار د غشي په ذریعه له زخمي کېدو څخه وروسته د ښکاري څخه ورک سي او د هغه د پلټني څخه دی نه کښېني، ځکه ابن ابي شیبه رحمة الله علیه په خپل کتاب مصنف کي او طبراني رحمة الله علیه په خپل معجم کي له ابورزین رحمة الله علیه څخه دا روایت نقل کړی دی چي هغه د ښکار په اړه چي د ښکاري څخه ورک سوی وو د رسول الله ﷺ دغه ارشاد نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: (لعل هو ام الارض قتله) او عبدالرحمن همدارنګه روایت له بي بي عائشې رضي الله عنها څخه مرفوع نقل کړی دی.

له دغه حدیث څخه څرګنده سوه که چیري په ښکار پسي سپی، شرموښ، باز یا بل ښکاري حیوان پرېښودل سي او هغه ښکار مړ کړي نو هغه ښکار به حلال وي په شرط د دې چي هغه سپی یا بل حیوان معلم یعني تعلیم یافته وي، د غیر معلم سپي وغیره وژل سوی ښکار به حلال نه وي

﴿۳۸۸۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا نُرْسِلُ الْكِلَابَ الْمُعَلَّمَةَ قَالَ كُلْ مَا

د حضرت عدي بن حاتم رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما وویل: اې د الله رسوله! موږ روزل سوي سپي په ښکار پسي استوو (یعني د دې څه حکم دئ) رسول الله ﷺ وفرمایل:

أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ قُلْتُ وَإِنْ قَتَلْنَ قَالَ وَإِنْ قَتَلْنَ قُلْتُ وَإِنَّا نَرْمِي بِالْمِعْرَاضِ

که هغه سپی ستا لپاره ښکار نیولي وي نو د هغه غوښه خوره، ما وویل که سپي زما ښکار مړ کړي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: که څه هم مړیې کړي، ما وویل: موږ د غشي څوکه نه ورته برابروو یعني په پلنوالي یې ولو (نو ایا دا ښکار حلال دئ؟)

قَالَ كُلْ مَا خَزَقَ وَمَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَقَتَلَهُ فَإِنَّهُ وَقِيذٌ فَلَا تَأْكُلْ. متفق علیه

رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم ښکار چې غشي زخمي کړي هغه خوره او کوم غشي چې د څوکې د خوا څخه نه بلکه د عرض (پلنوالي) له لوري ولګیږي او هغه مړ کړي نو هغه وقیذ دئ (یعني هغه ښکار دئ چې هغه په لرګي یا ډبرې سره ووژل او مړ سي نو هغه مه خوره). بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۹\ ۶۰۴، رقم: ۵۴۷۷، ومسلم ۳\ ۱۵۲۹، رقم: ۱- ۱۹۲۹.

د لغاتو حل: المعراض: هو السهم الثقیل الذي لا ریش له. (هغه غشی چې تېره څوکه نه لري)

تشریح (معراض) هغه غشي ته وایي چې بې وزره وي، داسي غشی په تللو سره د څوکي له خوا څخه نه بلکه د پلنوالي له خوا څخه لګیږي.

(هغه وقیذ دی): وقیذ او موقوذ هغه ښاروي ته وایي چې پخ شي سره ووژل سي که هغه لرګی وي یا ډبره او یا بل شی وی، د علماوو پر دې خبره اتفاق دی چې د معراض په صورت کي که چیري هغه ښکار د خپل تېره شي په ذریعه ووژني نو هغه حلال دی او که معراض هغه د خپل پلنوالي په ذریعه وژلی وي نو هغه حلال نه دی، علماوو دا هم ویلي دي چې له دغه حدیث څخه دا ثابتیږي چې هغه ښکار حلال نه دی چې هغه د مرمۍ په ذریعه وژل سوی وي.

او هغه ښکار چې د معراض د پلنوالي له خوا څخه په ژوبل کېدو سره مړ سوی وي دا ځکه حلال نه دی چې په ذکر سوي صورت کي د ښکار زخمي کېدل ضروري دي چې د ذبح معنی متحققه سي، حال دا چې د معراض پلنوالی ښکار نه زخمي کوي ځکه هغه ښکار هم حلال نه دی چې د غټې تېره شي د مرمۍ په ذریعه وژل سوی وي ځکه مرمۍ هډوکی ماتوي او زخمي کوي یې نه ځکه نو هغه د معراض په حکم کي دی، هو که چیري په مرمۍ کي سپکه تېره څوکه وي او ښکار د هغه په ذریعه مړ سوی وي نو هغه حرام نه دی بلکه په دغه صورت کي د هغه مرګ په زخم سره متحقق سوی دي.

که یو سړی یو ښکار په چاړه یا توره ویشتلو سره ووژني او هغه ښکار مړ سي نو هغه حلال دی په شرط د دې چې هغه چاړه یا توره د تېره خوا څخه لګېدلې وي کنه نو حلال به نه وي همدارنګه که چیري ښکار په یو داسي سپکه ډبره ویشتلو سره وژل سوی وي چې په هغه کي

تېره والی وي او هغه ښكار زخمي كړي نو هغه ښكار هم خوړل كېدای سي ځكه په دغه صورت كي د هغه ښكار مرګ د زخم په ذريعه يقيني وي او كه ښكار په درنه ډبره ويشتلو سره وژل سوی وي نو د هغه خوړل به جائز نه وي كه څه هم هغه يې ژوبل كړی وي ځكه په دغه صورت كي دا احتمال كيدای سي چي هغه ښكار د ډبري په وار سره مړ سوی وي.

خلاصه دا كه چيري د ښكار مرګ د هغه د زخمي كېدو په وجه واقع سوی وي او د هغه يقين هم وي نو هغه خوړل كيدای سي او كه د هغه مرګ د وار په اثر سره واقع سوی وي او د هغه يقين وي نو هغه ښكار به قطعا نه خوړل كيږي، او كه د شک صورت وي چي د هغه مړ كېدل د زخمي كېدو په وجه هم محتمل وي او د وار په وجه هم محتمل وي نو احتياط دادی چي هغه ونه خوړل سي.

﴿۳۸۸۹﴾: وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّا بِأَرْضِ قَوْمٍ أَهْلِ

د حضرت ابو ثعلبه خشني ؓ څخه روايت دئ چي ما وويل: اې د الله رسوله! موږ په اهل كتاب خلكو كي اوسيږو

الْكِتَابِ أَفَنَأْكُلُ فِي آنِيَتِهِمْ وَبِأَرْضِ صَيْدٍ أَصِيدُ بِقَوْسِي وَبِكَلْبِي الَّذِي لَيْسَ

ايا موږ د هغوی د لوښو څخه خوراک كوو؟ او موږ د اهل كتاب په ځمكه كي اوسيږو چي هلته ښكار زيات دئ او زه په خپله ليندۍ او نا روزل سوو سپيانو او روزل سوو سپيانو سره

بِمُعَلَّمٍ وَبِكَلْبِي الْمُعَلَّمِ فَمَا يَصْلُحُ لِي قَالَ أَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ آنِيَةِ أَهْلِ الْكِتَابِ

ښكار كوم په دې كي كوم شی زما لپاره صحيح دئ؟ رسول الله ﷺ را ته وفرمايل: تا چي د اهل كتابو د لوښو كومه يادونه وكړه (د دې په اړه دا حكم دئ چي)

فَإِنْ وَجَدْتُمْ غَيْرَهَا فَلَا تَأْكُلُوا فِيهَا وَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فَاغْسِلُوهَا وَكُلُوا فِيهَا وَمَا

كه نور لوښي وي نو په هغه كي يې مه خوره او كه نور لوښي نه وي نو هغه ښه پريوله او په هغه كي خوراک كوه او كوم شی چي

صِدْتَ بِقَوْسِكَ فَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ فَكُلْ وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ الْمُعَلَّمِ فَذَكَرْتَ

ته په خپل ليندۍ سره ښكار كړې او پر هغه د الله جل جلاله نوم واخلې هغه خوره او كوم حيوان چي په

روزل سوو سپيانو سره ښکار کړې او پر هغه دي

اسْمَ اللّٰهِ فَكُلْ وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ غَيْرِ مُعَلَّمٍ فَأَدْرَكْتَ ذَكَاتَهُ فَكُلْ . متفق عليه

د الله جل جلاله نوم اخيستى وي نو هغه هم خوره او کوم ښکار چي په ناروزل سوو سپيانو سره ښکار کړې او هغه ژوندى تر لاسه کړې نو ذبح يې کړه او خوره يې . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\ ۶۰۴، رقم: ۵۴۷۸، ومسلم ۳\ ۱۵۳۲، رقم: ۸- ۱۹۳۰.

تشريح: د هغوى په لوښو كي خوراک مه کوئ: دغه حکم د احتياط لپاره دى او ددې څو سببونه دي، يو خو دا چي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد دى : (دع ما يريبک الى ما يريبک)، دوهم په دې خبره خبرول مقصد دي چي تر خپله وسه پوري د هغوى په مستعملو لوښو کي خوراک او څښاک ونه کړل سي که څه هم هغه پرېولل سوي وي ، دريم د مسلمانانو په ذهن کي دا خبره په ارزښت سره کښېنول دي چي د مسلمانانو په وړاندي د هغوى دا ملي غوښتنه په هر صورت کي بايد پاته وي چي هغوى دي له اهل کتاب سره د ناستي ولاړي او تعلق څخه نفرت کوي ، بيا دغه حکم چي د هغوى په لوښو کي خوراک مه کوئ دا په اصل کي د تقوا لپاره دى او په دې باره کي چي کومه فتوا ده نو هغه خپله حديث بيان کړې ده .

هغه ښه پرېولئ : دا حکم به په هغه صورت کي د وجوب په توګه وي کله چي د هغوى د لوښو د ناپاکه کېدو غالب ګمان وي او په هغه صورت کي به د استحباب په توګه وي کله چي د هغوى د نجاست غالب ګمان نه وي.

ابن مالک رحمة الله عليه وايي: رسول الله ﷺ د کافرانو د لوښو د پرېوللو حکم کړى دى چي د هغه د نجاست او ناپاکى يقين وي او که دا يقين نه وي نو بيا د هغه لوښو د پرېوللو پرته استعمال به هم مکروه تنزيهي وي .

برماوي رحمة الله عليه نقل کړي دي چي ددغه حديث د ظاهري مفهوم څخه دا څرګندېږي که چيري د اهل کتابو د لوښو څخه پرته نور لوښي په لاس راتلاى سي نو په هغه صورت کي د هغوى لوښي په پرېوللو سره هم د خپل خوراک او څښاک په استعمال کي بايد نه راوستل سي ، فقهاوو دا مسئله ليکلې ده چي ددغه لوښو د پرېوللو څخه وروسته استعمال په هر صورت کي جائز دى که څه هم نور لوښي وي يا نه وي ، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي له دغه حديث څخه کوم کراهت ثابتيږي نو دا پر هغه لوښو محمول دى چي په هغه کي هغه خلګ د خنزير غوښه پخوي او خوري ، يا د شرابو څښلو لپاره يې استعمالوي نو داسي لوښي د ايمان له

لحاظه د کرکي وړ وي ځکه نو د هغو استعمال مکروه دی که څه هم هغه ډېر پرېولل سي ، فقهاوو چي کومه مسئله بیان کړې ده دا په هغه لوښي باندي محمول ده چي د خنزیر د غوښو په ډول په ناپاکو شیانو کي زیات نه استعمالیږي .

د بوی ناکه غوښو حکم

﴿۳۸۹۰﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَمَيْتَ بِسَهْمِكَ فَغَابَ عَنْكَ فَأَدْرَكْتَهُ فَكُلْهُ مَا لَمْ يُنْتِنْ . رواه مسلم .

د حضرت ابو ثعلبة خشني رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي ته خپل غشي وچلوئ او ستا ښکار غائب سي او بیا ته هغه تر لاسه کړې (او په هغه کي ستا د غشي نښه موجود وي) نو هغه خوره تر څو پوري چي ښکار بوی نه وي پیدا کړی . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۳\۱۵۳۲، رقم: ۹- ۱۹۳۱.

تشريح: حنفي علماء وايي تر څو چي په هغه کي بدلون پیدا نسي نو دغه حکم به د استحباب په توګه وي کنه نو په غوښه کي بوی پیدا کېدل د هغه غوښو حرام کېدل نه واجبوي، په یوه روایت کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ داسي غوښه خوړلې ده چي په هغه کي بوی پیدا سوی وو .

امام نووي رحمه الله وايي : د بوی لرونکی غوښو له خوړلو څخه منع پر نهي تنزیهي باندي محمول ده نه پر نهي تحریمي باندي، بلکه دا حکم د هر هغه خوراک دی چي هغه بدبویه سوی وي مګر دا چي د هغه د خوراک په وجه د څه تکلیف او تاوان رسېدو بېره وي .

﴿۳۸۹۱﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الَّذِي يُدْرِكُ صَيْدَهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ فَكُلْهُ مَا لَمْ يُنْتِنْ . رواه مسلم .

د حضرت ابو ثعلبة خشني رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د هغه په اړه چي د ښکار کولو څخه وروسته یې ښکاري په دویمه ورځ تر لاسه کړي وفرمایل که هغه بوی نه وي اخیستی نو هغه خورئ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۵۳۲، رقم: ۱۰- ۱۹۳۱.

د نوو مسلمانانو خوراک

﴿۳۸۹۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ هُنَا أَقْوَامًا حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ بِشِرْكٍ يَأْتُونَا بِلُحْمَانٍ لَا نَدْرِي يَذْكُرُونَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا أَمْ لَا قَالَ اذْكُرُوا أَنْتُمْ اسْمَ اللّٰهِ وَكُلُوا . رواه البخاري .

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دئ چي صحابه کرامو ووېل: اې د الله رسوله ! په دغه ځای کي داسي خلک اوسيږي چي د هغوی د شرک زمانه ډېره نژدې ده (يعني نوي مسلمانان سوي دي) دا خلک موږ ته غوښه راوړي او موږ ته ددې خبر نه وي چي هغوی د ذبح پر وخت د الله ﷻ نوم اخلي يا نه، رسول الله ﷺ وفرمايل د خوراک پر وخت تاسو بسم الله پر واياست او خورئ يې. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\ ۲۹۴، رقم: ۲۰۵۷.

تشريح: تاسو د الله ﷻ نوم پر واياست ...الخ: ددې دا مطلب نه دی چي تاسو په بسم الله ويلو سره هغه غوښه خورئ نو هغه وخت به ستاسو بسم الله ويل د ذبح کونکي د بسم الله ويلو قائم مقام سي بلکه ددغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ دا بيان کړی دی چي د خوراک خوړلو په وخت کي بسم الله ويل مستحب دي او تر څو چي ددې خبري تعلق دی چي کومه غوښه تاسو ته راوړل سوې ده د هغه په باره کي تاسو ته دا څرګنده نه ده چي ايا دا هغه ذبيح ده چي په بسم الله ويلو سره ذبح سوې ده يا د بسم الله ويلو څخه پرته ذبح سوې ده نو ددې حکم دادی چي د هغه غوښي خوړل جائز دي په شرط ددې چي د هغه ذبح کونکي له هغه خلکو څخه وي چي د هغوی د لاس ذبيحه خوړل شرعا جائز وي او دا جواز د حسن ظن پر بنا وي چي د يو مسلمان حال او کيفيت پر صالح والی او نيکۍ باندي د محمولو کولو متقاضي وي که داسي يو سړی تاسو ته غوښه راوړي نو تاسو دا نېک ګمان کوئ چي هغه په هر حال مسلمان دی ځکه نو هغه به د ذبح کولو په وخت کي د الله ﷻ نوم خامخا اخيستی وي.

د غير الله په نامه ذبحه حرامه ده

﴿۳۸۹۳﴾: وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ سُئِلَ عَلِيٌّ هَلْ خَصَّكُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابو طفيل رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د حضرت علي رضي الله عنه څخه پوښتنه وسول چي ايا

رسول الله ﷺ تاسو (يعني اهل بيت) په يو خاص شي سره خاص کړي او ممتاز کړي يا ست؟

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَيْءٍ فَقَالَ مَا خَصَّنَا بِشَيْءٍ لَمْ يَعُمَّ بِهِ النَّاسَ إِلَّا مَا فِي قِرَابِ

حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل: موږ په هيڅ يو خاص شي سره خاص کړل سوي نه يو چي خلکو ته په عامه توګه سره نه وي ورکړل سوي البته په دې شي سره يې خاص کړي يو چي

سَيْفِي هٰذَا فَأَخْرَجَ صَحِيفَةً فِيهَا لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللّٰهِ وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ

زما د توري په پوښ کي دننه دي (يعني دا شي موږ ته په خاصه توګه سره را کړل سوی دی مګر زه دا نسم ويلای چي په دې کي کوم احکام دي هغه د عامو مسلمانانو لپاره دي يا خاص زموږ لپاره) په دې ويلو سره حضرت علي رضي الله عنه د توري د پوښ څخه يو کاغذ راوکښی چي په هغه کي ليکلي وه پر هغه چا دي د الله جل جلاله لعنت وي چي د الله جل جلاله د نامه څخه پرته د بل چا پر نامه حيوان ذبح کړي او پر هغه چا دي د الله جل جلاله لعنت وي چي

سَرَقَ مَنَارَ الْأَرْضِ وفي رواية من غير منار الارض وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَهُ وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ آوَى مُحْدِثًا. رواه مسلم.

د ځمکي نښه (د حدودو د نښه ډبري وغيره) پټ کړي، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي پر هغه چا دي د الله جل جلاله لعنت وي چي د ځمکي په پېژندلو کي تغير او تبديل وکړي او پر هغه چا چي پر خپل پلار لعنت وکړي او پر هغه چا دي د الله جل جلاله لعنت وي چي بدعتي ته پناه ورکړي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۵۶۷، رقم: ۴۳-۱۹۷۸.

تشريح د ځمکي له نښي څخه مراد ډبري او نور شيان دي چي د ځمکي پر حدودو باندي نصب وي او د هغه په ذريعه د يو بل په ځمکه کي فرق او بېلوالی کيږي او د هغه نښو پټولو او په هغه کي د تبديل کولو مطلب دادی چي هغه سړی په زور سره د خپل همسايه ځمکه لاندي کول وغواړي،

ځوک چي پر خپل پلار باندي لعنت وکړي: يعني يا خو پر خپل پلار باندي په صراحت سره لعنت وکړي يا د بل چا پر پلار باندي لعنت وکړي او هغه سړی د غچ اخيستني لپاره د هغه پر پلار لعنت وکړي، په دغه دوهم صورت کي څه هم هغه پر خپل پلار باندي په څرګنده لعنت نه

دی کړی مګر د لعنت سبب هغه ګرځېدلی دی ځکه نو ویل کیږي چي هغه پر خپل پلار باندي لعنت کړی دی.

ځوک چي یو بدعتي ته پناه ورکړي: بدعتي هغه سړي ته وايي چي په دین کي یو داسي خبره پیدا کړي چي د هغې اصل موجود نه وي او هغه خبره د شریعت خلاف او په سنتو کي تبدیلي راوستونکې وي، داسي سړی یعني بدعتي ته پناه ورکول د هغه عزت او تکریم کول او د هغه مرسته کول د شریعت په نظر کي د نیوکي وړ کار دی.

چي په کوم شي سره وینه بهیږي په هغه سره ذبحه

﴿۳۸۹۴﴾: وَعَنْ رَّافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا لَاقُو الْعَدُوِّ غَدًا

د حضرت رافع بن خدیج رضی الله عنه څخه روایت دئ چي ما وویل: اې د الله رسوله! سبا موږ د دښمن سره مقابله کونکي یو

وَلَيْسَتْ مَعَنَا مُدًى فَنَذْبَحُ بِالْقَصَبِ قَالَ مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ فَكُلْ

او زموږ سره چړې نسته ایا موږ په بانړس سره ذبح وکړو، رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم شی چي وینه بیوي او پر کومه ذبیحه چي د الله جل جلاله نوم واخیستل سي هغه خوري،

لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ وَسَأُحَدِّثُكَ عَنْهُ أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى

مګر په غاښ او نوک سره ذبح کول صحیح نه دي او ددې دواړو شیانو حال ما تاسو ته بیان کړی دئ، غاښ خو هډوکی دئ او نوک د حبشیانو چړې دي،

الْحَبَشِ فَأَصَبْنَا نَهْبَ إِبِلٍ وَغَنَمٍ فَنَدَّ مِنْهَا بَعِيرٌ فَرَمَاهُ رَجُلٌ بِسَهْمٍ

د راوي بیان دئ موږ ته د لوټ اوښان او پسونه تر لاسه سول په هغو کي یو اوښ وتښتېدئ یو سړي هغه اوښ په غشي وویشتئ

فَحَبَسَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِهٰذِهِ الْإِبِلِ أَوَابِدَ كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ فَإِذَا غَلَبَكُمْ مِنْهَا شَيْءٌ فَافْعَلُوا بِهِ هٰكَذَا. متفق عليه

او هغه یې تم کړ، ددې په لیدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل په ساتل سوو او په کورني اوښانو

کي تښتېدونکي او نفرت کونکي اوښان هم وي لکه څرنګه چي ځنګلي حیوانان تښتېدونکي او نفرت کونکي وي هر کله چي په کورني حیوانانو کي وحشت پیدا سي او دواک څخه ووځي نو د هغوی سره دا عمل کوئ (یعني د ځنګلي حیوان په ډول ښکار او ذبح یې کړئ). بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۳۱، رقم: ۲۴۸۸، ومسلم ۳\۱۵۵۸، رقم: ۲۰- ۱۹۶۸.

د لغاتو حل: فند: ای شرد وفر (وتښتېدی). الاوابد: هي الابل التي توحشت ونفرت.

تشریح: غاښ خو هډوکی دی: یعني غاښ هډوکی دی او په هډوکي سره ذبح کول صحیح نه دي ځکه د غاښ ذبح سوی ښاروی خوړل هم جائز نه دی.

شیخ ابن صلاح رحمة الله علیه ویلي دي: په دغه موضوع کي د ډېر زیات تحقیق، پلټني او فکر سربېره زه په دې پوه نه سوم چي د هډوکي په ذریعه د ذبح کولو د منع څه مطلب دی، او د دې څه وجه ده، له شیخ عبدالسلام څخه هم داسي خبره منقول ده، او کوم چي د حدیث تعلق دی په هغه کي هم یوازي دا فرمایل سوي دي چي په غاښ سره ذبح کول ځکه صحیح نه دي چي هغه هډوکی دی، د دې څخه پرته بل یو ظاهري علت او سبب ته اشاره نسته مګر امام نووي رحمة الله علیه په هډوکي سره د ذبح کولو د منع دا علت بیان کړی دی که چیري په هډوکي سره ذبح وکړل سي نو هغه هډوکی به د ذبیحه په وینه سره نجس سي او د هډوکي د نجس او ناپاکولو منع منقول ده ځکه چي دا هډوکی د جناتو خوراک ښودل سوی دی.

هغه د حبشیانو چاړه ده: دا لکه په نوک سره چي د ذبح کولو د منع علت وي یعني که چیري د نوک په ذریعه ذبح وکړل سي نو په دې کي د حبشیانو مشابهت اختیارول لازمیږي ځکه چي د نوک په ذریعه د ښاروي په شکولو سره خوړل له حبشیانو سره خاص دی او هغه حبشي غیر مسلم وي. حال دا چي مسلمانانو ته دا حکم ورکړل سوی دی چي هغوی دي د غیر مسلمانانو طریقې نه اختیاروي بلکه د هغوی خلاف دي کوي.

څرګنده دي وي چي د غاښ او نوک په ذریعه د ذبح کولو منع د درې سره امامانو په نزد مطلق دي حال دا چي د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه مذهب دا دی چي هغه په غاښونو او نوکانو سره ذبح کول خو جائز نه دي چي په خپل ځای یعني خوله او ګوتو کي وي مګر کوم غاښ او نوک چي د خپل ځای څخه په ایستلو سره د خولې او ګوتو څخه بېل سوي وي د هغه په ذریعه ذبح کول جائز دي مګر دا جواز له کراهت سره دی، بیا هم د هغه ذبیحې په غوښه خوړلو کي څه حرج نسته، د درې سره امامانو دلیل ذکر سوی حدیث دی چي په هغه کي د غاښ او نوک په ذریعه د ذبح کولو

منع بېله قید او استثنی نقل ده ، د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه دلیل د رسول الله ﷺ ارشاد دی چې (انهر الدم بما شئت او وافر الاوداج) او کوم چې د حضرت رافع رضي الله عنه د دغه روایت تعلق دی نو په دې باره کې د حضرت امام اعظم رحمة الله علیه له خوا دا ویل کېږي چې دغه حدیث بېله کښېلي غاښ او نوک په ذریعه پر ذبح کولو باندې محمول دی ځکه چې د حبشیانو دغه طریقه وه.

نو له هغه سره هم داسې معامله کوئ: ددې مطلب دادی که چیرې کورنۍ یو څاروی لکه اوښ، غوا ، پسه یا بل څاروی وتښتي نو هغه به د ذبح کولو په معامله کې د وحشي حیوان د ښکار په ډول وي لکه څرنګه چې وحشي حیوان د ښکار په مثل وي چې څرنګه پر وحشي حیوان باندې په بسم الله ویلو غشي یا شی وویشتل سي نو هغه غشی د هغه حیوان د بدن پر یو برخه باندې په لګېدو سره هغه ختم کړي نو هغه به د ذبیحې په حکم کې سي، همدارنګه د هغه تښتېدونکي کورني حیوان ټول بدن او د هغه د بدن ټول اندامونه هم د ذبح په ځای کې دي نو په بسم الله ویلو سره پر هغه ویشتونکی غشی د هغه د بدن پر کومه برخه چې په لګېدو سره هغه ختم کړي نو د هغه غوښه به حلاله وي او دا حکم په هغه صورت کې دی کله چې اوښ یا بل شی په څاه یا بل یو کنده وغیره کې ولوېږي ، دلته په خاصه توګه یوازې د اوښ یادونه ځکه سوې ده چې په هغه کې وحشت ډېر زیات دی.

دا خبره باید په ذهن کې وي چې د ذبح دوه ډولونه دي یو ډول خو اختیاري دی او دوهم ډول اضطراري دی ، د اختیاري یو صورت خو د حیوان د حلق او سینې په مینځ کې په یو تېره شي سره لکه چاړه یا بل شی سره په جراحت سره د رګونو پرېکول وي او دوهم صورت په نحر سره یعنې د اوښ په سینه کې د نیزې یا بل شي په وهلو سره وي او اضطراري حالت دا وي چې د حیوان د بدن یو برخه په زخمي کولو سره هغه ووژل سي.

په ډبره ذبح سوی حیوان حلال دی

﴿۳۸۹۵﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ كَانَ لَهُ غَنَمٌ تَرْعَى بِسَلْعٍ فَأَبْصَرَتْ

د حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دئ چې د هغه سره د پسو یوه رمه وه چې پر سلع

جَارِيَةٌ لَنَا بِشَاةٍ غَنَمِنَا مَوْتًا فَكَسَرَتْ حَجَرًا فَذَبَحَتْهَا بِهِ فَسَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهُ بِأَكْلِهَا . رواه البخاري.

غونډۍ باندې په څرېدل ، یوه ورځ زموږ مینزې یو پسه د مرګ په حالت کې ولیدئ نو هغې د

ډبري يوه تيره ټوټه راواخيستل او په هغه سره يې ذبح کړ بيا کعب ددې په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ د هغه د خوړلو اجازه ورکړه . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\۴۸۲، رقم: ۳۳۰۴.

په ارامه سره ذبح کوئ

﴿۳۸۹۶﴾: وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ اَوْسٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ

د حضرت شداد بن اوس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

اللهَ تَعَالٰى كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا

الله تعالى پر هر شي احسان کول واجب ګرځولي دي (يعني د هر شي په ښه طريقه سره د استعمال حکم يې کړی دئ) بيا هر کله چي تاسو (په قصاص وغيره کي) څوک وژنئ نو په ښه طريقه يې وژنئ او هر کله چي تاسو

ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ. رواه مسلم

ذبح کوئ نو په ښه طريقه ذبح کوئ چي د ذبح کولو لپاره خپله چاړه په ښه ډول تيره کړئ او مذبوح حيوان ته آرام ورکړئ . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۵۴۸، رقم: ۵۷- ۱۹۵۵.

تشريح آرام دي ورکړئ : مطلب دادی چي د ذبح کولو څخه وروسته دي هغه حيوان پرېږدي چي د هغه ساه وخېژي او هغه يخ سي ، يعني ذکر سوی عبارت او جمله په اصل کي په ذبح کولو کي د احسان کولو وضاحت دی ، په ښه توګه او نرمۍ سره د ذبح کولو مطلب دادی چي هغه حيوان دي په تېره چاړه سره ذبح کړي او ژر دي يې ذبح کړي او د ذبح کولو څخه وروسته دي هغه يخېدو ته پرېږدي .

حنفي علماء وايي : د ذبح سوي حيوان پوست کښل تر هغه وخته پوري مکروه دي تر څو چي هغه ښه يخ نسي او مستحب دادي چي کوم حيوان ذبح کېدونکی وي نو هغه دي د يو بل مخکي نه ذبح کوي او د ذبح کونکي حيوان په پښه نولو او کشولو سره دي له هغه ځای څخه نه ليري کوي .

﴿۳۸۹۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهٰى أَنْ تُصْبَرَ بَهِيمَةٌ أَوْ غَيْرُهَا لِلْقَتْلِ . متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي ددې څخه يې منع کړې ده چي کوم حيوان په ولاړه قتل يا ذبح کړل سي .بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۴۲، رقم: ۵۵۱۴، ومسلم ۳\۱۵۴۹، رقم: ۵۸- ۱۹۵۶.

د لغاتو حل: تصبر: ای تحبس (منعه يې کړې)

تشريح: ددغه حديث معنى يا خو داده چي هغه په تېرو درختو ، ډبرو يا بل شي سره وژل منع دي يا دا معنى ده چي د يو حيوان ښپله اوبه او دانې بندولو سره وژل منع دي .

﴿۳۸۹۸﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ مَنِ اتَّخَذَ شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا . متفق عليه .

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر هغه سړي لعنت ويلي دئ چي يو ساه لرونکي شی په نښه کړل سي. (د ويشتلو لپاره) .بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۴۲، رقم: ۵۵۱۵، ومسلم ۳\۱۵۴۹، رقم: ۵۹- ۱۹۵۸.

د لغاتو حل: غرضا: ای هدفا.

﴿۳۸۹۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَتَّخِذُوا شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا . رواه مسلم

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په کوم شي کي چي ساه وي هغه نښه مه جوړوئ . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۵۴۹، رقم: ۵۸- ۱۹۵۷.

تشريح: دغه منع د نهي تحريمي په توګه ده ځکه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کوم څوک چي داسي وکړي پر هغه دي د الله جل جلاله لعنت وي او ددغه منع وجه داده چي ددغه فعل په ذريعه

نه یوازې دا چې یو ذي روح ځاروی په تکلیف کې اخته وي بلکه د مال ضائع کول هم دي.

پر مخ وهل او داغ لګول

﴿۳۹۰۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الضَّرْبِ فِي الْوَجْهِ وَعَنِ الْوَسْمِ فِي الْوَجْهِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ پر مخ باندې د وهلو څخه یا پر مخ باندې د داغ لګولو څخه منع کړې ده. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۶۷۳، رقم: ۱۰۶-۲۱۱۶.

د لغاتو حل: الوسم: ای الکی. (داغ)

﴿۳۹۰۱﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَيْهِ حِمَارٌ قَدْ وُسِمَ فِي وَجْهِهِ قَالَ لَعَنَ اللَّهُ الَّذِي وَسَمَهُ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ په خوا کې یو خر تیر سو چې پر مخ یې داغ لګول سوی وو، رسول الله ﷺ وفرمایل پر هغه سړي دې د الله لعنت وي چې پر ده یې داغ لګولی دئ. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۶۷۳، رقم: ۱۰۷-۲۱۱۶.

تشریح: که چیرې دلته دا سوال پیدا سي چې رسول الله ﷺ د هغه خره پر مخ داغ ورکونکي باندې لعنت کړی دی حال دا چې پر مسلمانانو باندې د لعنت کولو څخه یې منع فرمایلې ده نو ددې جواب به دا وي چې کیدای سي داغ ورکونکی مسلمان نه وو یا له منافقانو څخه وو، او دا هم کیدای سي چې رسول الله ﷺ دغه لعنت کول د ښېرا په توګه نه وي کړي بلکه د اخبار بالغیب په توګه وي یعني رسول الله ﷺ د دغه جملې په ذریعه دا خبر ورکړ چې هغه سړی د الله تعالی په نزد د لعنت مستحق ګرځول سوی دی.

په دې پوه سئ چې د هر حیوان پر مخ باندې داغ لګول په اتفاق سره د ټولو علماوو منع دي که څه هم هغه سړی وي یا حیوان وي، د حیوان د مخ څخه پرته د هغه د بدن پر یو بله برخه باندې د داغ ورکولو مسئله داده چې د امتیاز او تعین په مقصد سره د زکوة او محصول د حیوانانو

داغ کولو ته ځينو علماوو مستحب ويلي دي او له دې څخه پرته د نورو حيوانانو داغ کول هم محض جائز دي.

او کوم چي خلکو ته د داغ ورکولو مسئله ده نو په دې اړه د رسول الله ﷺ، صحابه کرامو او نورو مختلف اخبار او آثار قولا او فعلا منقول دي، ځيني اقوال پر دې دلالت کوي چي دا ښه کار نه دی، ځيني اقوال پر پرهېښودو باندي دلالت کوي او ځيني اقوال پر صريح منع باندي دلالت کوي، حال دا چي د رسول الله ﷺ دغه عمل پر جواز باندي دلالت کوي چي رسول الله ﷺ طبيب حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه ته واستوی چي د هغه رګ يې ووهی او داغ يې ورکړ، همدارنګه حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه چي ژوبل سو نو رسول الله ﷺ هغه ته دداغ ورکولو اجازه ورکړه بلکه کوم وخت چي و پړسيدی نو بل داغ يې ورکړی او د حضرت جابر او ابو زراره رضي الله عنهما داغ کول هم منقول دي.

علماوو ليکلي دي چي په کومو اقوالو کي د انساني بدن د داغولو منع دي د هغه تعلق د قصد او بېله ضرورته داغولو سره دی هو که چيري د يو ناروغی يا بل څه په وجه وي د داغولو اړتيا وي نو بيا جائز دي.

علماوو دا هم ليکلي دي چي د درملني په نيت سره د انسان د بدن يو برخه داغل له اسباب وهميه څخه دي چي دغه اختيارول د جذبه توکله او اعتماد علی الله په اعتبار مناسب نه دي، حال دا چي دوهم علاج اسباب ظنيه څخه د کېدو په وجه د توکل قطعا خلاف نه دي مګر که چيري ددې خبري ګمان وي چي داغ ورکول د مرض د فعيه لپاره يو ګټور علاج وي نو په دغه صورت کي هغه اختيارول به غير مناسب نه وي، اهل فتوا دا قول اختيار کړی دی چي داغ ورکول بذاته مکروه تحريمي دي مګر د غالب ګمان حاصلېدو په صورت کي په دې توګه چي حاذق ډاکټر دا ووايي چي د ناروغی د دفع انحصار يوازې پر داغ باندي دی او له دې څخه پرته بل څه علاج نسته نو داغ کول به مکروه تحريمي نه وي.

ځيني حضرات وايي چي د داغ منع پر دې بنياد ده چي د جاهليت په زمانه کي اهل عرب پر دې پخه عقيده درلودل چي داغ ورکول د ناروغی لپاره يو قطعي او يقيني علاج دی، څرګنده دي وي چي په اسلامي نظر سره دا يوه باطله عقيده ده ځکه مسلمانان له دې څخه منع کړل سول چي ددې په اختيارولو سره په شرک خفي کي اخته نسي.

په کوم وخت کي داغ جائز دی

﴿۳۹۰۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ غَدَوْتُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ بِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ لِيُحَنِّكَهُ فَوَافَيْتُهُ فِي يَدِهِ الْمِيسَمُ يَسِمُ إِبِلَ الصَّدَقَةِ. متفق عليه.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي ما د سهار په وخت کي عبدالله بن ابو طلحه رسول الله ﷺ ته بوتلی چي رسول الله ﷺ خرما وژوییي او د هغه پر تالو یې ومومږي ما ولیدل چي هغه وخت د رسول الله ﷺ په لاس مبارک کي د داغ ورکولو آله وه چي په هغه سره یې د زکوة اوښانو ته داغ ورکوئ. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳٦٦، رقم: ۱۵۰۲، ومسلم ۳\ ۱٦۷۴، رقم: ۱۰۹- ۲۱۱۹.

د لغاتو حل: الميسم: آلة من حديد يكوى بها. (د داغ لګولو آله.)

تشريح: عبدالله ابن طلحه رضی الله عنه د مور له خوا د حضرت انس رضی الله عنه ورور وو، یعني د مور له خوا حقیقي ورور وو او د پلار له خوا میرېزی ورور وو، ابو طلحه رضی الله عنه د حضرت انس رضی الله عنه د موز دوهم خاوند وو چي له هغې څخه عبدالله پیدا سوی وو، د خرما ځوښنل او د هغه ناړې د ماشوم په تالو کي لګول سنت دي.

د رسول الله ﷺ هغه اوښان داغ کول د یو اندېښنې باعث جوړېدل پکار نه دي ځکه چي رسول الله ﷺ د مخ څخه پرته د بدن په نورو برخو کي داغ ورکړ، او دداغ کومه منع چي نقل سوې ده د هغې تعلق په خاصه توګه له مخ سره دی یا بېله ضرورته داغ ورکول منع سوي دي حال دا چي د زکوة اوښان په دغه ضرورت کي دي چي دهغوی او نورو اوښانو په مینځ کي فرق او بېوالی وکړل سي.

﴿۳۹۰۳﴾: وَعَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي مِرْبَدٍ فَرَأَيْتُهُ يَسِمُ شَاةً حَسِبْتُهُ قَالَ فِي آذَانِهَا. متفق عليه.

حضرت هشام بن زید د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت کوي چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم، رسول الله ﷺ د حیوانانو د تړلو په ځای کي وو، ما ولیدل چي رسول الله ﷺ د پسو یو اندام ته داغ ورکوئ، د هشام بیان دئ چي زما خیال دئ چي انس وویل چي د پسو غوږونو ته یې داغ ورکوئ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۷۰، رقم: ۵۵۴۲، ومسلم ۳\۱۶۷۴، رقم: ۱۱۰- ۲۱۱۹.

د لغاتو حل: المربد: موضع يحبس فيه الابل والبقر والغنم. (غوجل)

تشريح: له دغه حديث څخه څرګندهٔ سوه چي په مخ کي غوږ شامل نه دی ځکه چي پر مخ باندي له داغ ورکولو څخه منع فرمایل سوې ده که چیري د غوږ تعلق هم له مخ سره وي نو رسول الله ﷺ به پر غوږ ولي داغ ورکولای.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

چي وينه بهيوي په هغه شي ذبح جائز ده

﴿۳۹۰۴﴾: وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ أَحَدُنَا

د عدي بن حاتم رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما وويل: اې د الله رسوله! که په موږ کي چا ته ښکار

أَصَابَ صَيْدًا وَلَيْسَ مَعَهُ سِكِّينٌ أَيَذْبَحُ بِالْمَرْوَةِ وَشِقَّةِ الْعَصَا فَقَالَ أَمْرِرِ الدَّمَ بِمَا شِئْتَ وَاذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ. رواه ابوداؤد والنسائي.

تر لاسه سي او د هغه سره چاړه نه وي نو ایا په ډبره یا لرګي سره هغه ذبح کولای سي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: ته چي په کوم شي سره غواړي وينه وبيوه او د ذبح په وخت کي د الله جل جلاله نوم واخله. ابو داؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\۲۴۹، رقم: ۲۸۲۴، والنسائي ۷\۱۹۴، رقم: ۴۳۰۴.

د تلواري ذبح حکم

﴿۳۹۰۵﴾: وَعَنْ اَبِي الْعَشْرَاءِ عَنْ اَبِيهِ اَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَمَا تَكُونُ الذَّكَاةُ

ابو عشراء د خپل پلار څخه روايت کوي چي هغه وويل: اې د الله رسوله! ایا ذبح یوازي پر

إِلَّا فِي الْحَلْقِ وَاللَّبَّةِ فَقَالَ لَوْ طَعَنْتَ فِي فَخِذِهَا لَأَجْزَأَ عَنْكَ. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي وقال ابوداؤد و هذا ذكوة المتردي

وقال الترمذي هذا في الضرورة .

غاړه او د سيني په سر کي کيږي . رسول الله ﷺ وفرمايل که ته د ښکار په ورانه کي زخم وکړې نو هم ستا لپاره بس ده . ترمذي، ابوداؤد، نسائي ، ابن ماجة، دارمي ، ابوداؤد ويلي دي دا حکم د هغه ښکار لپاره دئ چي په څاه کي لويدلی وي يا د لوړې ځخه را لغړيدلی وي او ترمذي ويلي دي دا حکم پر ضرورت موقوف دئ

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۶۲ ، رقم: ۱۴۸۱، وابوداود ۳\ ۲۵۰، رقم: ۲۸۲۵، والنسائي ۷\ ۲۲۸، رقم: ۴۴۰۸، وابن ماجه ۲\ ۱۰۶۳، رقم: ۳۱۸۴، والدارمي ۲\ ۱۱۳، رقم: ۱۹۷۲.

د لغاتو حل: اللبة: آخر الحلق (د ستوني پای)

تشريح: امام ترمذي رحمة الله عليه د امام ابوداؤد رحمة الله عليه وضاحت په نور زيات تفصيل سره بيان کړ چي په دغه حکم کي د تښتېدلي اوښ د ذبح کولو صورت هم شامل سي .

په روزل سوي سپي يا باز سره ښکار کول

﴿۳۹۰۶﴾ : وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا عَلَّمْتَ

د حضرت عدي بن حاتم رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مِنْ كَلْبٍ أَوْ بَازٍ ثُمَّ أَرْسَلْتَهُ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللّٰهِ فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكَ عَلَيْكَ قُلْتُ

کوم سپی يا باز چي تا روزلی وي او بيا هغه پر يو ښکار پريږدې او د الله نوم واخلې نو کوم حيوان چي هغه ستا لپاره ونيسي او خپله يې ونه خوري نو هغه ته خوره ، ما وويل :

وَإِنْ قَتَلَ قَالَ إِذَا قَتَلَهُ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ شَيْئًا فَإِنَّمَا أَمْسَكَهُ عَلَيْكَ. رواه ابوداؤد .

که څه هم هغه ښکار مړ کړي ؟ رسو ل الله ﷺ وفرمايل : هو که څه هم سپی يا باز ښکار مړ کړي او خپله د هغه ځخه څه ونه خوري نو هغه ستا لپاره نيولی دئ . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳\ ۲۷۱، رقم: ۲۸۵۱.

په غشي سره د ښکار کولو حکم

﴿۳۹۰۷﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرْمِي الصَّيْدَ فَاَجِدُ فِيْهِ مِنَ الْغَدِ

سَهۡمِيۡ قَالَ اِذَا عَلِمۡتَ اَنَّ سَهۡمَكَ قَتَلَهُ وَلَمۡ تَرَ فِيۡهِ اَثَرَ سَبُعٍ فَكُلۡ . رواه ابوداؤد

د عدي بن حاتم رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي ما وويل: اې د الله رسوله ! زه پر ښکار غشي ولم بيا په دويمه ورځ په هغه ښکار کي خپل غشي تر لاسه کړم ، رسول الله ﷺ وفرمايل که تا ته ددې يقين وسي چي ستا غشي هغه وژلی دئ او په هغه کي د درنده نښه نه وي نو هغه خوره . ابوداؤد

تخريج: الترمذي ۱۴\۵۵، رقم: ۱۴۶۸.

د غير مسلم د لاس ذبح حلاله نه ده

﴿۳۹۰۸﴾: وَعَنۡ جَابِرٍ قَالَ نُهِيۡنَا عَنۡ صَيۡدِ كَلۡبِ الۡمَجُوۡسِ . رواه الترمذي .

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي د مجوسي (د اور عبادت کونکو) د سپي ښکار کړل سوي شيانو څخه موږ منع کړل سوي يو . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۱۴\۵۴، رقم: ۱۴۶۵.

تشريح: مطلب دادی چي کوم ښکار مجوسيان په خپل سپي يا د يو مسلمان د سپي په ذريعه ونيسي نو د هغه خوړل جائز نه دي مګر که چيري هغه ښکار ژوندی په لاس ورسي او ذبح کړل سي نو په دغه صورت کي د هغه خوړل جائز دي او همدارنګه که مسلمان د مجوسي د سپي په ذريعه ښکار ووژني نو د هغه خوړل هم جائز دي او که چيري په سپي پرېښودو يا غشي ويشتلو کي مسلمان او مجوسي دواړه ګډ وي او هغوی ښکار ووژني نو هغه ښکار به حلال نه وي.

دغه حديث ددې خبري دليل دی چي د غير مسلم د لاس ذبيحه حلاله نه ده که چيري هغه د سپي يا بل شي په ذريعه ښکار مړ کړي نو د هغه ښکار به هم حلال نه وي .

د غير مسلم په لوښي کي د خوراک حکم

﴿۳۹۰۹﴾: وَعَنۡ اَبِيۡ ثَعۡلَبَةَ الۡخُشَنِيِّ قَالَ قُلۡتُ يَا رَسُوۡلَ اللّٰهِ إِنَّا أَهۡلُ سَفَرٍ نَمُرُّ

د حضرت ابو ثعلبة خشني رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي وويل اې د الله رسوله ! موږ اکثره وخت سفر

بِالۡيَهُوۡدِ وَالنَّصَارٰی وَالۡمَجُوۡسِ فَلَا نَجِدُ غَيۡرَ آنِيَتِهِمۡ قَالَ فَإِنۡ لَمۡ تَجِدُوۡا غَيۡرَهَا فَاغۡسِلُوۡهَا بِالۡمَاءِ ثُمَّ كُلُوۡا فِيۡهَا وَاشۡرَبُوۡا. رواه الترمذي .

کوو او د يهودو ، نصاراوو او مجوسيانو په منځ کي تګ راتګ کوو او د هغوی د لوښو څخه

پرته نور لوښي نه وي، رسول الله ﷺ راته وفرمايل که تاسو نور لوښي تر لاسه نه کړئ نو په اوبو سره هغه ښه پريولئ او بيا په هغه کي خوراک کوئ. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۳، رقم: ۱۴۶۴.

تشريح: د غير مسلمان په لوښي کي د خوراک او څښاک په اړه په لومړي فصل کي هم حديث تېر سوی دی او دلته هم د دغه مسئلې وضاحت سوی دی.

د اهل کتابو خوراک

﴿۳۹۱۰﴾: وَعَنْ قَبِيْصَةَ بْنِ هُلْبٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت قبيصه بن هلب رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت کوي چي ما د نبي کريم ﷺ څخه د نصارا وو

عَنْ طَعَامِ النَّصَارٰى و في رواية ساله رجل فَقَالَ ان من الطعام طعاما

د خوراک په اړه پوښتنه وکړه، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي يو سړي دا پوښتنه وکړه چي په خوراکونو کي يو خوراک داسي وي چي

اتحرج منه فقال لَا يَتَخَلَّجَنَّ فِي صَدْرِكَ شيئ ضَارَعْتَ فِيهِ النَّصْرَانِيَّةَ.

رواه الترمذي و ابوداؤد.

د هغه څخه زه پرهيز کوم، رسول الله ﷺ راته وفرمايل ستا په زړه کي دي اندېښنه پيدا نه وي ځکه چي د شک او شبې پيدا کېدل د نصرانيت مشابه وي يعني د دې خوراکونو په باره کي ته په خپل زړه کي شکونه را نه ولې پر ظاهر امر باندي عمل کوه. ترمذي او ابوداؤد

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۱۳، رقم: ۱۵۶۵، وابوداؤد ۴\۱۴۷، رقم: ۲۷۸۴.

د لغاتو حل: ضارعت: اى شابهت.

تشريح: تا د خپل عمل په ذريعه د عيسائيت مشابهت اختيار کړ: د دغه جملې په ذريعه رسول الله ﷺ پوښتنه کونکي ته دا څرګنده کړه چي ستا د عيسائيانو د خوراک څخه پرهېز کول داسي عمل دی چي هغه ته د عيسايانو مشابه کړلې ځکه چي دغه د عيسايانو طريقه ده چي هغوی د خوراک او څښاک په اړه پر ځان بې ځايه پابندي لګوي او د هغوی پادريانو (ديني لاربنود) په دين کي سختي پيدا کړې ده که د هغوی په زړه کي د ښه او حلال خوراک په اړه دغه اندېښنه پيدا کيږي چي دا حرام يا مکروه دي نو هغوی بې فکره د هغه څخه پرهېز کول پيل کړي نو ته بېله

دلیله په شک کې په لوېدو سره د هغوی د خوراک څخه پرهېز مه کوه ، ته مسلمان یې او ستا دین ډېر ساده او اسانه دي په دې کې د سختۍ نوم نسته ، تا ته له خپل عمل څخه د خپل دین نرمي او اسانول ظاهرول پکار دي که ته بېله تحقیقه یو خوراک حرام ګڼې نو دا پر ځان باندې بې ځایه پابندي لګول دي او د خپل دین د سخت ښکارندولو برابر به نه وي بلکه د عیسائیت د مشابهت اختیارولو برابر به وي .

ځیني حضرات د حدیث د آخري برخي ترجمه داسي کړې ده چي ستا په زړه کې څه دا بیره رانسي چي د عیسایانو د خوراک په خوړلو سره ته د هغوی مشابه سوې په دغه صورت کې به مطلب دا وي چي خوراک محض په دې وجه پر ځان مه حراموه چي هغه غیر مسلمان سړي تیار کړی دی او په دې وجه د هغه غیر مسلمان مشابهت لازمیږي ځکه چي خوراک او څښاک په شیانو کې د یو قوم مشابهت تاوان نه کوي په شرط د دې چي د تشبه نیت نه وي .

په دغه ارشاد کې د عیسائیت خاصوالی یوازې د دې لپاره سوی دی چي پوښتنه کونکی صحابي حضرت عدي بن حاتم رضي الله عنه وو ، چي د اسلام منلو څخه وړاندې عیسائي وو .

په هر حال له حدیث څخه دا ښکاره سوه چي تر څو پورې د یو خوراک د حرام کېدو یقین نه وي نو محض د شک په وجه له هغه څخه پرهېز کول او په هغه خوراک کې شک کول مناسب نه دي او د غیر مسلم اقوامو په ډول په اسلام کې د خوراک او څښاک پرهېز نسته چي محض د یو چا په لاس لګېدو سره هغه خوراک ناپاکه کیږي بلکه مسلمانانو ته اجازه ده چي هغوی د هر قوم پوخ کړی خوراک خوړلای سي په شرط د دې چي دا یقین وي چي په هغه خوراک کې حرام شی نه دی یو ځای سوی یا هغه په نجس لوښو کې پوخ سوی نه دی ، د دغه حدیث دا مطلب نه دی که چیري یو غیر مسلمان یو شی پوخ کړي د مثال په توګه غیر مذبوحه غوښه یا خنزیر ، یا په خوراک کې شراب ګډ کړي نو هغه دې هم خوړل کیږي .

د مجثمه د خوړلو منع

﴿۳۹۱۱﴾ : وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَكْلِ الْمُجَثَّمَةِ وَهِيَ الَّتِي تُصْبَرُ بِالنَّبْلِ . رواه الترمذي .

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د مجثمه د خوړلو څخه منع فرمایلې ده او د مجثمه معنا دا ده چي حیوان مخته ودرول سي او په نښه کولو سره په غشي وویشتل سي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۹، رقم: ۱۴۷۳.

د لغاتو حل: المجثمة: هي كل حيوان ينصب ويرمى ليقتل.

تشريح: په روايت كي د مجثمه د وضاحت لپاره چي كوم الفاظ نقل سوي دي هغه د راوي الفاظ دي، جاهل او بې رحمه خلگ داسي كوي چي مرغان او حيوانان په تړلو سره په نښنه كوي، شريعت له داسي كولو څخه منع كړې ده او د داسي حيوانانو غوښه خوړل يې منع كړي دي ځكه چي په داسي وژلو سره د ذبح مقصد او مفهوم نه تر لاسه كيږي او كله چي حيوان په شرعي توگه ذبيحه نه وي نو د هغه خوړل هم حرام دي.

هغه ځناور چي خوراک يې حرام دی

﴿۳۹۱۲﴾: وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى

د عرباض بن ساريه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د خيبر په ورځ رسول الله ﷺ د دغه شيانو د خوړلو

يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السَّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ

څخه منع وفرمايل: (۱) په حيوانانو كي څيرونكي حيوانان (يعني داړونكي لكه زمرى، شرموښ، گيدړه، پړانگ او داسي نور) (۲) پنجه دار مرغان يعني كوم مرغان چي په پنجه سره ښكار كوي (لكه باز)

وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ وَعَنِ الْمُجَثَّمَةِ وَعَنِ الْخَلِيسَةِ وَأَنْ تُوطَأَ الْحَبَالَى

(۳) د كورني او ساتل سوي خرونو غوښه (۴) مجثمه (۵) خليسه. او رسول الله ﷺ د هغه مينځي سره هم د كوروالي څخه منع كړې ده د كومي چي اميد (حامله) وي

حَتَّى يَضَعْنَ مَا فِي بُطُونِهِنَّ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى سُئِلَ أَبُو عَاصِمٍ عَنِ

تر څو پوري چي كوچنى يې پيدا نسي، محمد بن يحيى وايي ابو عاصم څخه د مجثمه د معنا

الْمُجَثَّمَةِ فَقَالَ أَنْ يُنْصَبَ الطَّيْرُ أَوِ الشَّيْءُ فَيُرْمَى وَسُئِلَ عَنِ الْخَلِيسَةِ

پوښتنه وسول نو هغه وويل مجثمه دا ده چي مرغان يا بل حيوان مخته ودرول سي او په غشي وويشتل سي، بيا د خليسه معنا ځيني و پوښتل سوه

فَقَالَ الذِّئْبُ أَوِ السَّبُعُ يُدْرِكُهُ الرَّجُلُ فَيَأْخُذُهُ مِنْهُ فَيَمُوتُ فِي يَدِهِ قَبْلَ أَنْ يُذَكِّيَهَا . رواه الترمذي

نو هغه وويل چي شرمښ يا بل درنده يو حيوان نيولى وي او د هغه څخه يو څوک هغه حيوان په زور واخلي او بيا هغه حيوان د ذبح کولو څخه مخکي د هغه په لاسونو کي مړ سي . ترمذي

تخريج : سنن الترمذي ۴\۵۹، رقم: ۱۴۷۴.

د لغاتو حل : الخليسة: الماخوذ من فم السباع.

تشريح : د خيبر د ورځي څخه مراد دادى چي رسول الله ﷺ د ذکر سوو شيانو د منع حکم په هغه کال جاري کړ او داهم کېداى سي چي په کومو ورځو کي په خيبر کي جهاد روان وو په هغه ورځو کي يوه ورځ دا حکم جارى کړى وي .

ذي ناب : هغه حيوان ته وايي چي د هغه داړي يعني تېره غاښونه وي او د خپلو داړو په ذريعه حيوانان شکوي لکه زمرى، شرموښ، بېزو، خنزير، ګېدړه او داسي نور، ځيني حضرات وايي چي ګېدړه په درندګانو کي شامل نه ده نو هغه حلال دى

ذي مخلب : هغه مرغه ته وايي چي په خپلو پنجو سره ښکار کوي لکه باز، تپوس، او داسي نور . د کورني خرو څخه مراد هغه خرونه دي چي په ابادۍ کي اوسيږي ، د ځنګلي خره غوښه حلاله ده ، په حديث کي د ذکر سوي منع څخه مخکي د کورني خره غوښه هم حلاله وه .

هغه له مينځو سره د جماع کولو څخه هم منع وفرمايل...الخ: دا حکم د هغه مينځو دى چي د حامله کېدو په حالت کي د يو چا په واک کي راغلې وي، که چيري هغه حامله نه وي نو د هغې په باره کي دا حکم دى چي له هغې سره دي تر هغه وخته پوري کوروالي نه کيږي تر څو چي هغې ته يو حيض رانسي (باز : د يو ښکاري مرغه نوم دى چي په عربي کي صقر ورته وايي) .

د ژوندي حيوان پوست ايستل منع دى

﴿۳۹۱۳﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس او ابو هريرة (رضي الله عنهم) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د شريطه

نَهٰى عَنْ شَرِيطَةِ الشَّيْطَانِ زَادَ ابْنُ عِيسَى وَهِيَ تُذْبَحُ فَيُقْطَعُ منها الْجِلْدُ

وَلَا تُفْرَى الْأَوْدَاجُ ثُمَّ تُتْرَكُ حَتَّى تَمُوتَ . رواه ابوداؤد .

شیطان څخه منع فرمایلې ده ، ابن عیسی راوي وايي شریطه شیطان څخه مراد هغه حیوان دئ چي د هغه پوست وکښل سي او ذبح نه کړل سي تر څو چي په خپله مړ سي. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۳\۲۵۱، رقم: ۲۸۲۶؟

د لغاتو حل: شریطة الشیطان: ای الذبیحة التي لاتنقطع اوداجها.

تشریح: د جاهلیت په زمانه کي مشرکانو داسي کول چي د حیوانانو د حلق سربېره به یې لږ پوست پرې کړ او هغه به یې پرېښود ی ، د هغوی رګونه به پوره پرې سوي نه وه ځکه نو هغه به په اسانۍ سره د مړ کېدو پر ځای په ډېره سختي سره مړ کېدی ، دې ته شریطه په دې سبب ویل سوي دي چي شرط له شرط حجام څخه اخیستل سوی دی ددې معنی نشتر وهلو ده یا شرط د علامې په معنی دی او ددې نسبت شیطان ته په دې اعتبار سره سوی دی چي ددغه بد کار باعث شیطان دی او هغه له داسي ذبح کونکي څخه ډېر خوشحاله کیږي .

د حیوان د نس چیچي خوړلو حکم

﴿۳۹۱۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذَكَاةُ الْجَنِينِ ذَكَاةُ أُمِّهِ . رواه ابوداؤد والدارمي ورواه الترمذي عن ابي سعيد .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د مور ذبح کول، د هغې د نس د چیچي ذبح کول دي (یعني د یو حمل داره حیوان حلالولو سره د هغه د نس چیچی هم حلال سي او د هغه خوړل جائز دي). ابوداؤد. ترمذي او دارمي .

تخریج: سنن ابي داود ۳\۲۵۱، رقم: ۲۸۲۶، والدارمي ۲\۱۱۵، رقم: ۱۹۷۹.

تشریح: د حدیث ظاهري مطلب دادی چي د مور ذبح کول د هغې د نس د بچي حلال کېدو لپاره کافي دي د مثال په توګه یو سړی اوښه قرباني کړي او د هغې په نس کي مړ بچی راووځي نو د هغه خوراک جائز دی ، امام مالک، امام شافعي او د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیهم دا مذهب دی، مګر د امام شافعي رحمه الله په نزد هغه بچي خوړل په هر حال کي صحیح دي که څه هم د هغه پر بدن وېښتان وي یا نه وي او د امام مالک رحمه الله په نزد د هغه بچي خوړل په هغه صورت کي جائز دي چي د هغه ساخت پوره سوی وي او د هغه پر بدن وېښتان راختلي وي .

د دغه درې سره امامانو پر خلاف د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه مذهب دادی چي د هغه بچي خوړل حلال نه دي مګر که چيري هغه بچی د مور د نس څخه ژوندی راووځي او بيا ذبح کړل سي نو په دغه صورت کي د هغه په خوړلو کي څه پروا نسته. په حنيفه کي د امام زفر او امام حسن ابن زياد رحمة الله عليهما هم دغه قول دی، ددغه حضراتو له خوا د خپل مذهب د دليل په توګه دا ويل کيږي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: که ښکار په څاه کي يا په غشي خوړلو سره په اوبو کي ولويږي او بيا مړ راووځي نو د هغه خوړل جائز نه دي ځکه دا احتمال دی چي هغه ښکار په اوبو کي په ډوبېدو سره مړ سوی وي، حال دا چي رسول الله ﷺ د ساه وتلو په سبب کي د شک واقع کېدو په وجه د هغه ښکار خوړل حرام وګرځول نو د هغه شي يعني ساه وتلو په سبب کي شک واقع کېدل د ذبيحه د نس څخه د راوتونکي مړ بچي په باره کي هم موجود دی ځکه نو هغه به هم حرام وي لکه څرنګه چي په اوبو کي ولويږي او د ښکار د مرګ سبب معلوميدای نسي چي ايا هغه د خپل مور د ذبح کېدو په وجه مړ سوی دی يا د ساه بندېدو په وجه مړ سوی دی، او کوم چي ددغه حديث تعلق دی نو د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد ددغه حديث په صحيح کېدو کي کلام سوی دی.

﴿۳۹۱۵﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ وويل: اې دالله رسوله !

وَسَلَّمَ نَنْحَرُ النَّاقَةَ وَنَذْبَحُ الْبَقَرَةَ وَالشَّاةَ فَنَجِدُ فِي بَطْنِهَا الْجَنِينَ أَنُلْقِيهِ

موږ اوښه، غوا او پسه ذبح کوو او موږ د هغه په نس کي بيا مړ چيچی تر لاسه کړو نو موږ هغه

أَمْ نَأْكُلُهُ قَالَ كُلُوهُ إِنْ شِئْتُمْ فَإِنَّ ذَكَاتَهُ ذَكَاةُ أُمِّهِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

وغورځوو او که يې وخورو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل که تاسو خوښوئ نو وه يې خورئ ځکه چي د هغه د مور ذبح کول د هغه ذبح کول دي. ابو داؤد او بن ماجه.

تخريج: سنن ابي داود ۳\ ۲۵۲، رقم: ۲۸۲۷، وابن ماجه ۲\ ۱۰۶۷، رقم: ۳۱۹۹.

تشريح: د مفهوم په اعتبار دا روايت هم هغه دی کوم چي مخکي نقل سوی دی او په دې اړه د امامانو چي کوم اختلافي اقوال دي هغه هم مخکي ذکر سوي دي.

د نحر او ذبح تفصيل: په مخکنيو مخونو کي ښودل سوي دي چي د ذبح دوه ډولونه دي: يو

اختیاري او دوهم اضطراري، اختیاري هم دوه صورتونه دي یو نحر او دوهم ذبح، نحر دادی چي د اوښ سینه په نېزه ووهل سي یعني په نېزې سره څیري کړل سي او په اوښ کي مستحب نحر کول دی که څه هم د هغه ذبح کول هم جائز دي مگر په کراهت سره، او ذبح داده چي د حیوانانو د حلق رګ پرې کړل سي، د ذبح په صورت کي د حیوان د حلق چي کوم رګونه پرې کیږي هغه څلور دي یو خو هغه رنګ چي د هغه په ذریعه د ساه تګ راتګ کمیږي، دوهم مری یعني هغه رګ چي له هغه څخه خوړلې ته اوبه ځي او دوه شا رګونه چي کرنګي راسته او چپه خوا ته وي، د دغه څلورو رګونو پرې کولو ته په شرعي توګه سره ذبح ویل کیږي که په دغه څلورو کي درې رګونه پرې سي نو بیا هم ذبح صحیح ده او د هغه حیوان خوړل حلال دي او که دوه رګونه پرې سي نو هغه حیوان به مردار وي د هغه خوړل به صحیح نه وي.

لکه څرنګه چي په اوښانو کي نحر کول مستحب دی همدارنګه په غوا او پسو کي ذبح کول مستحب دي مگر که چا هغه په نحر سره ذبح کړل نو دا هم جائز دي مگر په کراهت سره.

که یو څوک پسه یا بل حیوان د څټ له خوا څخه ذبح کړي نو که چیري هغه تر دومره وخته پوري ژوندی وي چي هغه سرې د هغه رګونه پرې کړي نو د هغه خوړل جائز دي مگر په کراهت سره ځکه داسي ذبح کول د سنت خلاف دي او که د هغه د رګونو پرې کولو څخه مخکي مړ سي نو د هغه خوړل جائز نه دي.

که یو څوک یو حیوان مثلاً چرګ په ذبح کولو سره چاړه حرام مغز ته ورسوي او د سر په پرې کېدو سره جلا سي نو د هغه خوړل جائز دي او مکروه هم نه دي مگر دومره زیات ذبح کول چي سر ځیني پرې سي مکروه دي.

حیوان بې ګټې مه وژنئ

﴿۳۹۱۶﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَتَلَ عُصْفُوْرًا فَمَا فَوْقَهَا بِغَيْرِ حَقِّهَا سَأَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَنْهَا

څوک چي په ناحقه یا پرته د ضرورته یو چوغکه یا تر دې لوی مرغه ووژني الله تعالی به د هغه د قتل پوښتنه ځیني کوي

يَوْمَ الْقِيَامَةِ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَمَا حَقُّهَا قَالَ حَقُّهَا أَنْ تَذْبَحَهَا فَتَأْكُلَهَا وَلَا

تَقْطَعُ رَأْسَهَا فَيُرْمَى بِهَا . رواه احمد والنسائي والدارمي .

د قيامت په ورځ ، پوښتنه وسول اې دالله رسوله ! د چوغكي وغيره څه حق دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د هغه ذبح كول او خوړل، دا نه چي بېله ګټي سر ځيني پرېكړي او وه يې غورځوي. احمد، نسائي او دارمي.

تخريج: مسند الامام احمد ٢\١٦٦، والنسائي ٧\٢٣٩، رقم: ۴۴۴۵، والدارمي ٢\ ۴، رقم: ١٩٧٨.

تشريح: د اسلامي لارښوونو سره سم د الله ﷻ په دغه وسيع كائناتو كي هر ساه لرونكى شى د خپل ځان د ساتني حق لري كه هغه اشرف المخلوقات (انسان) وي يا حيوان ، لكه څرنګه چي د يو انسان ناحقه وژل د شريعت له نظره لويه ګناه ده او ډېر لوى ظلم دى همدارنګه د يو حيوان په ناحقه ختمول هم يو غير مناسب كار د بې رحمۍ خبره ده .

الله ﷻ انسان ته په طاقت او توان وركولو سره پر حيوان باندي تسلط او اختيار وركړى دى نو ددې دا مطلب نه دى چي انسان په خپل دغه طاقت او اختيار سره محض د خپل شوق پوره كولو لپاره يا محض د تفريح لپاره حيوانان وژني او د هغوى په لوبو كولو سره په ناحقه وژني .

د كوم حيوان غوښه چي الله ﷻ د انسان لپاره حلاله ګرځولې ده كه هغه حيوان د ښكار په توګه په وژلو سره يا ذبح كولو سره د هغه غوښه وخوري او له هغه څخه ګټه تر لاسه كړي نو هغه د خپل اختيار جائز استعمال كوي او كه محض د لهو و لعب او تفريح لپاره هغه حيوان ناحقه او بې ګټي ختموي او د هغه غوښه وغيره څخه د ګټي تر لاسه كولو څخه پرته د هغه په وژلو سره يې غورځوي نو په داسي كولو سره هغه نه يوازي د خپل اختيار ناجائزه استعمال كوي بلكه پر يو ساه لرونكي باندي د ظلم كولو برابر دى ځكه په حديث كي داسي سړي خبردار سوى دى چي ستا دغه كار يعني حيوان او مرغان په ناحقه وژل به د الله ﷻ په دربار كي د نيوكي وړ وي او سبا به د قيامت په ورځ الله ﷻ ستا څخه په دې باره كي پوښتنه كوي او تا به په عذاب اخته كړي .

ابن مالك رحمة الله عليه وايي : له دغه حديث څخه څرګنده سوه چي د يو حيوان د خوړلو له مقصد څخه پرته ذبح كول يا په بله طريقه وژل مكروه دي مګر نور علماء وايي چي دغه كراهت تحريمي دى ځكه رسول الله ﷺ د هغه حيوانانو د وژلو څخه منع فرمايلې ده كوم چي نه خوړل كيږي يا د هغه خوړل حلال نه دي لكه څرنګه چي مخته به راسي .

طيبي رحمة الله عليه وايي : د يو حيوان حق د هغه څخه د ګټي اخيستني څخه عبارت دى لكه څرنګه چي بېله قصده د هغه د سر په پرې كولو سره غورځول د هغه د حق ضائع كولو څخه

عبارت دی، نو ویل کیږي چې ددغه حدیث دغه الفاظ (ولا یقطع راسها فیرمي بها) د مخکنې عبارت د تاکید او تائید په توګه دي.

د ژوندي حیوان د جسم څخه پرې کړل سوې غوښه مرداره ده

﴿۳۹۱۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ وَاقِدِ اللَّيْثِيِّ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ

د حضرت ابو واقد لیثي رضي الله عنه څخه روایت دئ چې کله رسول الله ﷺ مدینې ته تشریف راوړ هغه

وَهُمْ يَجُبُّوْنَ أَسْنِمَةَ الْإِبِلِ وَيَقْطَعُوْنَ أَلْيَاتِ الْغَنَمِ فَقَالَ مَا قُطِعَ مِنَ الْبَهِيْمَةِ وَهِيَ حَيَّةٌ فَهِيَ مَيْتَةٌ لا توكل. رواه الترمذي و ابوداؤد.

وخت په مدینه کي دا رواج وو چې د ژوندو اوښانو قب او د پسو لمان به پرېکېدل او خوړل کېدل به، رسول الله ﷺ وفرمایل کوم شی چې د حیوان د بدن څخه پرېکړل سي او هغه حیوان ژوندی وي نو هغه شی مردار دئ هغه دي نه خوړل کیږي. ترمذي او ابوداؤد.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۶۲، رقم: ۱۴۸۰، وابوداود ۳\۲۷۷، رقم: ۲۸۵۸.

د لغاتو حل: یجبون: ای یقطعون (پرې کوي)

تشریح: د جاهلیت په زمانه کي انساني عقل او طبائع آفت وهلي وه ځکه د هغه وخت انسانان په داسي طریقو کي اخته سوي وه چې له هغو څخه انسانیت هم پناه غوښتل، په دغه طریقو کي یو رواج په مدینو والاوو کي دا هم وو چې کله به هغوی غوښتل نو د خپلو ژوندي اوښانو قوبونه او د ژوندي پسو لمونه به یې پرېکول او هغه به یې په ایشولو سره خوړل، دا نه یوازي دا چې له ښکارویو سره یوه ډېره بې رحمانه طریقه وه بلکه د طبع سلیم خلاف هم وه، رسول الله ﷺ مدینې ته په رسېدو سره د هغه ځای خلګ له دغه بد کار څخه منع کړل او هغوی ته یې دا ښرګنده کړه چې د ژوندي حیوانانو د بدن کوم یو اندام پرې کړل سي نو هغه به مردار وي او د هغه خوړل به هم حرام وي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

وینه بیول ضروري دي

﴿۳۹۱۸﴾: وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي حَارِثَةَ أَنَّهُ كَانَ يَرْعَى لِقْحَةً

عطاء بن یسار رضی اللہ عنہ د بني حارث د یو سړي څخه روایت کوي چي هغه یوه اوښه چي لنګېدو ته

بِشِعْبٍ مِنْ شِعَابِ أُحُدٍ فراى بها الْمَوْت فَلَمْ يَجِدْ ما يَنْحَرُهَا بِهِ فَأَخَذَ

نژدې وه د احد د غره سره نژدې په یوه دره کي څرول، هغه یوه ورځ په هغه اوښه کي د مرګ اثار ولیدل هغه ته یو شی په لاس نه ورغلئ چي په هغه سره اوښه حلاله کړي

وَتِدًا فَوَجَأَ بِهِ فِي لَبَّتِهَا حَتَّى أُهَرِيقَ دَمُهَا ثُمَّ أَخْبَرَ رسول الله فَأَمَرَهُ بِأَكْلِهَا.

رواه ابوداؤد ومالك و في روايته قال فذكها بشظاظ.

آخر هغه میخ پورته کړ او د بوک د لوري یې د هغه په سینه کي چخ کړ تر څو چي د هغه وینه یې په بنه ډول و بیول، بیا ددې پېښي ذکر رسول الله ﷺ ته وکړل سو، رسول الله ﷺ د هغه د غوښو خوړلو هغه ته اجازه ورکړه. ابوداؤ، مالک، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي هغه سړي هغه اوښه په تیره لرګي سره ذبح کړل.

تخریج: سنن ابي داود ۳\۲۴۹، رقم: ۲۸۲۳، ومالک ۲\۴۸۹، رقم: ۳.

د لغاتو حل: لقحة: اى ناقة قريبة العهد بالنتاج. بشظاظ: خشبة محددة الطرف.

تشریح: (وتد) د لرګي هغه مېخ یا موړي ته وایي چي په مځکه یا دېوال کي ټک وهل کیږي، او (شظاظ) هغه لرګي ته وایي چي د هغه دواړي خواوي نوکداره وي، هغه یې ددواړو نوکانو په مینځ کي په نهولو سره پر اوښ اچوي چي هغه دواړي خواوي په بېلېدو سره ونه غورځېږي.
له دغه حدیث څخه څرګنده سوه چي په شرعي توګه د ذبح یا نحر اصل مفهوم دادی چي په جراحت سره وینه وبېول سي او دا خبره چي په کوم شي سره تر لاسه سي د هغه په ذریعه د څاروي ذبح کول یا نحر کول کېدای سي که هغه د اوسپني چاړه وي یا بل شی وي.

د اوبو په حیواناتو کي ماهی حلال دی

﴿۳۹۱۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْبَحْرِ اِلاَّ وَ قَدْ ذَكَّاهَا اللهُ لِبَنِيْ آدَمَ. رواه الدار قطني.

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د دریاب هر حیوان (چي خوراک یې حلال وي) الله تعالی د خلکو لپاره ذبح کړی دی (یعني پرته د ذبح کولو څخه جائز

دئ). دار قطني

تخريج: سنن الدار قطني ۴\۲٦٧، رقم: ۴.

تشريح: د حديث مطلب دادی چي د اوبو د حيوانانو بېله ذبح کولو خوړل حلال دي او د هغه محض ښکار کول او له اوبو څخه ژوندی راکښل د ذبح په حکم کي دی.

له دغه حديث څخه په څرګنده دا معلومېږي چي ټول د اوبو حيوانان حلال دي که څه هم د هغه ښکار وکړل سي مګر کوم چي د اصل مسئلې تعلق دی نو هغه داسي نه ده بلکه د ماهي پر حلال کېدو باندي د ټولو علماوو اتفاق دی او د ماهي څخه پرته د نورو حيوانانو په باره کي اختلافي قولونه دي، د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه مذهب دادی چي د اوبو په حيوانانو کي د ماهي څخه پرته بل هيڅ حيوان حلال نه دی او هغه ماهی هم حلال نه دی چي د يخ يا ګرمۍ د آفت څخه پرته په خپله په مړ کېدو سره د اوبو پر سر راسي او کوم ماهی چي د يخ او ګرمۍ د آفت څخه په مړ کېدو سره د اوبو پر راسي نو هغه حلال دی.

د ذبيحې اړوند څو مسئلې

کوم حيوانان او مرغان چي په ښکار کولو سره خوراک کوي يا د هغوی خوراک يوازي چټلي وي نو د هغوی خوړل جائز نه دي لکه زمری، شرموښ، ګېدړه، پيشي، باز، او داسي نور، او کوم حيوانان چي داسي نه وي لکه طوطي، کوتره، هوسۍ، هيلۍ، سويګی او داسي نورو حيوانانو خوړل جائز دي.

سمساره، شرموښکی، غاتره، خر او د خره غوښه خوړل او د خره شيدې څښل جائز نه دي، آس که څه هم حلال دی او غوښه يې خوړل کېږي مګر خوړل يې غوره نه دي. د ماهي او ملخ څخه پرته د نورو حيوانانو بېله ذبح کولو خوړل صحيح نه دي، کوم حيوانان چي بېله ذبح کولو په خپله مړه سي نو هغه به مردار وي او خوړل به يې حرام وي.

که په يو شي کي مږی ولوېږي او مړ سي نو د هغه مېږي را ايستلو پرته د هغه شي خوړل صحيح نه دي که چيري په قصد سره يو مېږی نيم حلق ته ننه باسي نو د مردار خوړلو ګناه به وي.

د مسلمان ذبح کول په هر حال کي صحيح ده که څه هم ښځه يې ذبحه کړي يا سړی، همدارنګه که هغه پاک وي يا ناپاک، په هر حال کي د هغه ذبح سوی حيوان خوړل حلال دی، کافر يعني مرتد، د اور عبادت کونکي او د بتانو د عبادت کونکو او داسي نورو ذبح سوي حيوانان خوړل حرام دي.

که کافر غوښې پلورې او دا وايي چې ما په مسلمان باندې ذبح کړې دې نو دهغه څخه غوښه رانيول او خوړل صحيح نه دي ، مګر کوم مسلمان چې ذبح کړې دی که هغه وخت يو مسلمان د هغه سره ناست وي او وينې يې يا هغه ځي نو بل دوهم مسلمان د هغه پر ځای ناست وي نو بيا د هغه غوښه خوړل به صحيح وي.

که يو داسې حيوان ذبح کړل سي چې د هغه خوړل حلال نه وي نو د هغه پوست او غوښه پاکېدای سي چې د هغه د خوړلو څخه پرته په بل استعمال کې راوستل بېله کراهت صحيح کيږي پرته د انسان او خنزير د پوست څخه چې په دغه دواړو کې د ذبح کولو هيڅ اثر نه کيږي، د انسان پوست ناپاکه کېدل د هغه د نجس کېدو په وجه دي چې هغه په پاکولو سره هم هيڅکله پاکيدای نسي ، کومه چرګه چې مردار او چټل شيان خوري نو د هغې د درو ورځو په بندې کولو سره ذبح کول پکار دي بېله بندې کولو د هغه په ذبح کولو سره غوښه خوړل مکروه دي .

د څاروي په پښې چاړې سره ذبح کول مکروه او منع دي ځکه چې په دې کې څاروي ته تکليف وي همدارنګه د ذبح کولو څخه وروسته د يخېدو څخه مخکې د هغه پوست کښل ، لاسو او پښې ماتول او په ذبح کې چې د کومو څلورو رګونو پرېکول دي د هغو د پرې کېدو وروسته د هغه غاړه پرېکول دا ټول مکروه دي .

ملخ خوړل جائز دي او د ماهي په ډول د هغه د ذبح کولو ضرورت هم نسته ، د کومو حيوانانو غوښه چې خوړل کيږي او د کومو چې نه خوړل کيږي د دواړو ښکار کول جائز دي مګر دا ضروري ده چې د ښکار مقصد د لهو او لعب او تفريح لپاره نه وي بلکه د هغه د ګټې اخيستلو نيت وي ، کوم حيوانان چې حلال دي د هغو غوښه خوړل د هغه څخه تر ټولو لويه ګټه اخيستل دي مګر کوم حيوانان چې حلال نه دي د هغوی ښکار که چيرې په دغه مقصد سره وکړل سي چې د هغوی د پوست يا بل شي څخه ګټه واخيستل کيږي نو څه پرواه نسته .

خلاصه دا چې د حيوانانو قدر کول پکار دي ، بېله ضرورته او بېله مقصده د هغو ښکار کول ښه خبره نه ده ، د ذبح کولو مسنون طريقه داده چې حيوان مخ پر قبلې باندې په تېره چاړه اخيستلو سره په بسم الله الله اکبر ويلو سره د هغه غاړه پرېکړل سي تر دې چې څلور سره رګونه يې پرې کړل سي .

============

بَابُ ذِكْرِ الْكَلْبِ

(د سپيانو بيان)

په دغه باب کي هغه حديثونه نقل کيږي چي له هغو څخه د سپيانو اړوند احکام معلوميږي چي د کوم مقصد لپاره او کوم سپيان ساتل جائز دي او د کوم ناجائز دي او دا چي د کوم سپي وژل جائز دي او د کوم سپي وژل جائز نه دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

(لومړی فصل)

د شوق سپيان ساتل په ثواب کي کمي راولي

﴿۳۹۲۰﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْ ضَارٍ نُقِصَ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چي د حيوانانو د ساتني او ښکار لپاره نه بلکه يوازي د شوق لپاره سپي ساتي د هغه د عمل څخه هره ورځ دوه قيراطه ثواب کميږي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۰۸، رقم: ۵۴۸۰، ومسلم ۳\۱۲۰۱، رقم: ۵۰- ۱۵۷۴.

تشريح: (قيراط) په اصل کي د يو وزن نوم دی چي د ځينو په قول د دينار دوه پر شپږ برخي او د ځينو په قول د دينار د لسمي برخي د نيمي برخي برابر وي مګر په حديث کي د قيراط استعمال د هغه مقدار لپاره سوی دی چي د هغه حقيقي علم الله تعالی ته دی که څه هم په ځينو حديثو کي دغه مقدار د احد د غره برابر ښودل سوی دی، پر دې بنياد د دغه حديث مطلب به دا وي چي شريعت د کومو مقاصدو لپاره د سپيانو ساتلو اجازه ورکړې ده لکه د څارويو، کورو او کښت د ساتني لپاره او د ښکار لپاره د دې څخه پرته محض د تفريح او شوق لپاره که چيري يو سړی سپی وساتي نو هغه چي کوم نيک اعمال کړي دي او الله تعالی د هغه د اعمالو په وجه په خپل فضل او کرم سره د هغه په عمل نامه کي د اجر او ثواب کومي ذخيري ايښي دي نو د هغه څخه هره ورځ په دغه اندازه کمي راځي او که دغه مقدار د بدن تصور کړل سي نو هغه دوه به دا احد د غره برابر وي يا دا چي دوه قيراطه څخه مراد د هغه سړي د برخو څخه د دوو برخو کمي او تاوان دی، په هر حال له دوو قيراطو څخه هر مقصد چي واخيستل سي د حديث اصل مقصد خو يوازي دا څرګندول دي چي بېله شرعي ضرورته د سپيانو ساتل د خپلو اعمالو د اجر او ثواب له

یو ډیري لوی برخي څخه لاس پرېولل دي .

او کوم چي د دغه سبب تعلق دی چي د سپي د ساتلو په وجه د اعمالو په ثواب کي د کمی بنیاد دی نو په دې اړه د علماوو اختلافي قولونه دي، د ځینو په نزد د کمی او تاوان سبب د رحمت د ملائکو کور ته نه راتلل دي لکه څرنګه چي فرمایل سوي دي چي په کوم کور کي سپی وي هلته د رحمت ملائکي نه راځي .

او ځیني حضرات دا سبب بیانوي چي کوم سړی سپی ساتي نو هغه د نورو لپاره د تکلیف رسولو سبب جوړېږي او ځیني حضراتو ویلي دي چي دغه کمي او تاوان په دې وجه دی چي په کوم کور کي سپیان ساتل کیږي نو د هغه کورنۍ په بې خبري کي سپی د هغه خلکو په خوراک او څښاک کي خوله وهي او څرګنده ده چي د کور خلک ناخبره وي ځکه نو هغوی هغه لوښي د پرېوللو څخه پرته خوراک او څښاک پکښې کوي .

﴿۳۹۲۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اتَّخَذَ كَلْبًا اِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ اَوْ صَيْدٍ اَوْ زَرْعٍ انْتَقَصَ مِنْ اَجْرِهٖ كُلَّ يَوْمٍ قِيْرَاطٌ . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي د حیوانانو د ساتني ، ښکار کولو او د فصل د ساتني لپاره نه بلکه د شوق په توګه سپی ساتي نو د هغه د ثواب څخه هره ورځ د یو قیراط په اندازه ثواب کمیږي . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۵\۵، رقم: ۲۲۲۲، ومسلم ۳\۱۲۰۳، رقم: ۵۸- ۱۵۷۵.

تشریح: د مضمون او مفهوم په اعتبار دغه حدیث هم د لومړي حدیث په ډول دی مګر په دغه حدیث کي د هغه سپي د استثناء ذکر هم دی کوم چي د کښت د ساتني لپاره وي او په دغه حدیث کي د یوه قیراط ذکر دی حال دا چي په لومړي حدیث کي د دوو قیراطو ذکر سوی دی، دغه فرق د سپیانو د مختلفو اقسامو پر بنیاد دی، چي بېله ضرورته په ساتونکو سپیانو کي ځیني سپیان خو خلکو ته تاوان رسوي د داسي سپیانو ساتلو په صورت کي د یوه قیراط برابر په ثواب کي کمي کیږي یا دا فرق د مقام او وجهي په اعتبار دی چي په ځینو ځایو کي خو د بېله ضرورته سپیانو ساتلو په وجه په ثواب کي دوه قیراط برابر کمي کیږي لکه مکه او مدینه چي دواړه مقدس ښارونه دي د خپل عظمت او بزرګي په لحاظ داسي دي که د هغه په حدودو کي اوسېدونکی یو سړی بېله ضرورته سپیان ساتي نو هغه زیات ګناه کار دی ځکه د هغه په ثواب

كي هره ورځ دوه قيراطه كمي كيږي حال دا چي ددغه دوو مقدسو ښارو څخه پرته په بل ښار كي د سپي ساتونكي نسبتا كم ګناه كار وي ځكه د هغه په ثواب كي د يوه قيراط برابر كمي كيږي يا دا هم كيداى سي چي كوم خلګ په ښار يا كليو كي سپيان ساتي نو د هغوى په ثواب كي دوه قيراطه كمي كيږي او كوم خلګ چي په ځنګل او صحراء كي سپيان ساتي نو د هغوى په ثواب كي يو قيراط كمي كيږي ځكه چي په ابادۍ كي د سپي ساتلو مطلب دا وي چي د هغه په وجه زيات خلګو ته تكليف ورسول سي حال دا چي په ځنګل او صحراء كي دا صورت نه وي.

يا دا چي دغه فرق د زمانې د اختلاف په سبب دى چي مخكي خو د يوه قيراط برابر كمي كېدو خبرداری ورکړل سوی وو مګر وروسته چي خلګو سپيان زيات پالل او له هغوی سره اوسېدل يې پيل کړل او د هغوى ساتلو ته يې زيات شوق او رغبت سو نو د شريعت له خوا هم په زجر او خبرداری كي زياتوب او شدت اختيار كړل سو او په ثواب كي هره ورځ دوه قيراطه كمي كېدو وجه بيان كړل سوه.

د سپيانو دوژلو حكم

﴿۳۹۲۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ ته رسول الله ﷺ د سپيانو د وژلو حكم راكړ (موږ

حَتَّى إِنَّ الْمَرْأَةَ تَقْدَمُ مِنَ الْبَادِيَةِ بِكَلْبِهَا فَنَقْتُلُهُ ثُمَّ نَهَى رسول الله صَلَّى

سپيان وژل پيل كړل) تر څو چي كومه ښځه به د ځنګل څخه راتلل او سپى به د هغې سره وو موږ به هغه هم وژئ، بيا رسول الله ﷺ موږ ددغه ډول سپيانو د وژلو څخه منع كړو (يعني د كومو

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِهَا وَقَالَ عَلَيْكُمْ بِالْأَسْوَدِ الْبَهِيمِ ذِي النُّقْطَتَيْنِ

فَإِنَّهُ شَيْطَانٌ. رواه مسلم.

سپيانو څخه چي د ساتني او ښكار كار اخيستل كيږي) او دا حكم يې راكړ چي پر تاسو د تورو سپيانو وژل واجب دي چي په ستركو كي يې دوه سپين ټكي وي ځكه چي هغه شيطان دئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۳/۱۲۰۰، رقم: ۴۷-۱۵۷۲.

د لغاتو حل: الاسود البهيم: اى الذي لابياض فيه (چي سپينوالى پكښې نه وي). ذي النقطين: اى الذي فوق عينيه نقطتان بيضاوان (هغه چي تر ستركو پورته يې دوه سپين ټكي وي). مرقاة.

تشریح: علماوو لیکلي دي چي د سپیانو وژلو حکم یوازي د مدینې منورې سره خاص وو ځکه چي هغه مقدس ښار محض یوازي په دغه اعتبار سره د تقدیس حامل نه وو چي په هغه کي رسول الله ﷺ اوسیدی بلکه په دې اعتبار سره هم هغه ته پاکي او عظمت حاصل وو چي هغه د وحي نازلېدو او د ملائکو د تګ راتګ ځای وو، نو دا خبره بالکل مناسب وه چي هغه مځکه د سپیانو د وجود څخه پاکه وساتل سي.

د ښځو خاصوالی یا خو په دې وجه دی چي کومي ښځي په ځنګل کي اوسیږي هغوی ته د ځارویو د ساتني لپاره د سپیانو زیات ضرورت وو او کله چي به هغوی ښار ته راتلې نو هغه وخت به هم سپیان ورسره وه.

یا دا ویل کیږي چي دلته د ښځي قید محض اتفاقي دی او مراد دادی چي هغه سپیان هم ژوندي نه پرېښودل سول کوم چي د صحراء څخه ښار ته راتلل که څه هم هغه د ښځو سره راتلل یا د خلکو سره راتلل کوم چي دوو ټکو والا وي یعني هغه تور سپی چي د هغه پر سترګو باندي دوه سپین ټکي وي، دا ډول سپیان ډېر شریر او خلکو ته سخت تکلیف رسونکي وي ځکه ورته شیطان فرمایل سوي دي.

هغه ته د شیطان ویلو یوه وجه دا هم ده چي داسي سپیان نه د ساتني لپاره پکاریږي او نه د ښکار نیولو لپاره په دې سبب امام احمد او اسحاق رحمة الله علیهما ویلي دي چي د تور سپي نیول سوی ښکار حلال نه دی ځکه چي هغه شیطان دی.

امام نووي رحمة الله علیه ویلي دي چي پر عقور، داړونکي سپي پر وژنه باندي د علماوو اتفاق دی که څه هم هغه رنګ تور نه وي مګر د هغه سپي په اړه اختلافي قولونه دي کوم چي تاوان رسونکی نه وي.

امام الحرمین وایي: د سپیانو وژني د حکم اصل صورت دادی چي مخکي رسول الله ﷺ د هر ډول سپیانو وژلو حکم کړی وو وروسته د هغه حکم عمومیت منسوخ کولو سره یوازي د تور رنګ سپي پوري محدود کړل سو او بیا په آخري توګه د هغه ټولو سپیانو د وژلو منع نافذ سول کوم چي تاوان رسونکي نه وي تر دې چي تور سپی هم په دغه حکم کي شامل کړل سو چي د هغه څخه د تاوان رسیدو ویره نه وي نو هغه دي هم نه ختم کیږي.

﴿۳۹۲۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ كَلْبَ غَنَمٍ أَوْ مَاشِيَةٍ. متفق علیه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د سپيانو د وژلو حکم وکړ خو د ښکاري سپيانو، د پسو د ساتني لپاره او د حيوانانو د ساتني لپاره د سپيانو د وژلو څخه يې منع وفرمايل. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٦٠، رقم: ٢٣٢٢، وصحيح مسلم ٣\١٢٠٠، رقم: ۴۶– ۱۵۷۱.

تشريح: (او ما شية) او د څارويو ساتونکي سپيان، دغه جمله د تعميم بعد تخصيص په توګه ده يعني د استثنی په اړه مخکي خو په خاصه توګه د پسو د ساتونکو سپيانو ذکر وو بيا وروسته په عمومي توګه سره د ټولو حيوانانو د ساتونکو سپيانو ذکر يې وکړ مګر په دغه صورت کي د (او) حرف به د تنويع لپاره وي لکه څرنګه چي په مخکني عبارت کي دي.

يا دا چي په (او ماشية) کي د (او) حرف د راوي د شک ظاهرولو لپاره دی يعني د دغه په ذريعه د حديث راوي دا ښودل غواړي چي ما ته صحيح په ياد نه دي چي په دغه ځای کي د (الا کلب صيد او کلب....) څخه وروسته د غنم لفظ يې وفرمايه او که د ماشية لفظ.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ټولو سپيانو نه وژل

﴿۳۹۲۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْلَا

د حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : که چيري

أَنَّ الْكِلَابَ أُمَّةٌ مِنَ الْأُمَمِ لَأَمَرْتُ بِقَتْلِهَا كلها فَاقْتُلُوا مِنْهَا كُلَّ أَسْوَدَ بَهِيمٍ،

سپيان د قومونو څخه يو قوم نه وای نو ما به د دې ټولو د وژلو حکم کړی وای په هر حال په دي کي يوازي تور سپيان وژنئ.

رواه ابوداؤد و الدارمي و زاد الترمذي والنسائي وَمَا مِنْ أَهْلِ بَيْتٍ

ابوداؤد، دارمي. او ترمذي او نسائي په دې روايت کي دا الفاظ زيات کړي دي چي کوم

يَرْتَبِطُونَ كَلْبًا إِلَّا نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِمْ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ كَلْبَ حَرْثٍ أَوْ كَلْبَ غَنَمٍ.

کوروالا سپی ساتي د هغه د عمل څخه هره ورځ يو قيراط ثواب کميږي مگر ښکاري سپيان او د فصلونو د ساتني سپي او د رمې سپيان ددې څخه مستثنا دي.

تخريج: سنن الترمذي ۱۴\ ۶۷، رقم: ۱۴۸۹، وابوداود ۱۳\ ۲۶۷، رقم: ۲۸۴۵، والدارمي ۱۲\ ۱۲۵، رقم: ۲۰۰۸، والنسائي ۱۷\ ۱۸۵، رقم: ۴۲۸۰.

تشريح: سپيان هم د ډلو څخه يوه ډله ده: ددغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ د قرآن کريم دغه آيت کريمه ته اشاره وفرمايل:

وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الأَرْضِ وَلاَ طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلاَّ أُمَمٌ أَمْثَالُكُم...

ژباړه: او څومره ساه لرونکي چي پر مځکه گرځي او څومره مرغان دي چي هغوی په خپلو دواړو وزرو سره الوځي په هغوی کي هيڅ داسي نسته چي ستاسو په ډول يوه ډله يا امت نه وي.

ددغه آيت کريمه مطلب دادی چي څرنگه انسانان يو امت او يو جنس دی همدارنگه حيوانان هم يو امت او يو جنس دی که پر مځکه باندي گرځېدونکي وي او يا په هواء کي الوتونکي وي، څرنگه چي انسان په خپلو مختلفو نومونو او انواعو په ذريعه د يو بل څخه پېژندل کيږي همدارنگه د حيوانانو هم مختلف نومونه او مختلف اقسام دي چي د هغه په ذريعه د يو بل په مينځ کي فرق او امتياز کيږي، او څرنگه چي انسان د الله تعالی يو مخلوق دی چي هر سړی د خپل خپل مقدر سره سم د الله تعالی له خوا رزق تر لاسه کوي همدارنگه حيوانانو ته هم د الله تعالی له خوا رزق ورکول کيږي او دا چي څرنگه چي الله تعالی، انسان د خپل خاص حکمت په بناء پيدا کړی دی همدارنگه حيوانان يې هم د حکمت سره سم پيدا کړي دي په دې اعتبار سره چي څرنگه د انسان ارزښت دی همدارنگه د حيوانانو هم ارزښت دی چي هغوی بېله ضرورته او بېله مقصده وژل د الله تعالی د تخليق او حکمت خلاف کار دی.

نو رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايه چي ددغه آيت کريمه په موجب دا خو ممکن نه ده چي ټول سپيان دي ووژل سي ځکه چي د الله تعالی په مخلوق کي څومره ډلي دي په هغوی کي يوه ډله د سپيانو هم ده او د يو ډلي فنا کول د الله تعالی د هغه حکمت بالکل خلاف کار دی کوم چي د هر ساه لرونکي په تخليق کي دی البته هغه سپيان چي تور وي نو هغه بايد ووژل سي ځکه چي دا ډول سپيان ډېر شرير او خطرناک وي چي له هغو څخه د تکليف پرته بل څه گټه نه رسيږي او پاته نور سپيان چي د کښت او حيوانانو د څارني لپاره په کار راځي نو هغوی د انسان خدمت کوي ځکه نو د قرآن کريم د تعليم څخه پرته هسي هم د عامي گټي سره سم هغوی ژوندي پرېښودل زيات غوره او گټور دي.

په حديث كي د (فاقتلوا) د لفظ د تركيب نحوي په اعتبار جواب دی د شرط محذوف، يعني رسول الله ﷺ داسي وفرمايل: چي كله مذكوره سبب د آيت كريمه په موجب د ټولو سپيانو د وژلو يوه لاره نه معلوميږي نو كم از كم هغه سپيان ووژنئ چي خاص تور وي.

د حيوانانو جنګول حرام دي

﴿۳۹۲۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د حيوانانو د جنګولو څخه منع فرمايلې ده (يعني سپيان، چرګان، كركان وغيره). ترمذي، ابوداؤد.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۸۲، رقم: ۱۷۰۸.

تشريح: مطلب دادی چي اوښان، فيلان، غوايان، سپيان، چرګان او داسي نور حيوانان جنګول او ددې څخه پرته د چارپايانو په خپلو كي جنګول بايد ونسي، همدارنګه د مرغانو هم دغه حكم دی، له دې څخه څرګنده سوه چي كله د حيوانانو په خپلو كي د جنګولو منع ده نو د خلكو په خپلو كي جنګول په درجه اولی منع دي.

===========

بَابُ مَا يَحِلُّ اَكْلُهُ وَمَا يُحَرَّمُ

(د حلالو او حرامو حيوانانو بيان)

څرګنده دي وي چي د كوم شي حرامېدل د كتاب الله څخه ثابت دي هغه اول خو ميته يعني مړ سوی حيوان دی، دوهم دم مسفوح يعني بهېدونكې وينه، دريم د خنزير غوښه او څلورم د هغه حيوان غوښه چي د غير الله په نامه ذبح سوې وي لكه څرنګه چي د دغه آيت څخه ثابت دي:

(قُل لاَّ أَجِدُ فِي مَا أُوْحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلاَّ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللهِ بِهِ) سورة الانعام: ۱۴۵.

ژباړه: (اې محمد ﷺ!) دوی ته ووايه چي كوم احكام د وحي په ذريعه ماته راغلي دي په هغو كي خو هيڅ حرام خوراك زه نه وينم د يو خوړونكي لپاره چي هغه وخوري مګر دا چي هغه مړ سوی وي يا بهېدونكې وينه وي يا د خنزير غوښه وي ځكه چي هغه بالكل ناپاك دي يا كوم

حيوان چي د شرک ذريعه وي چي د غير الله په نامه منسوب سوی وي .
له دې څخه وروسته سنت نبوي ﷺ په هغه حرامو شيانو کي د ځينو نورو حيوانانو زياتوب وکړ لکه ذي ناب ، ذي مخلب ، کورني خرونه او داسي نور، د کومو حيوانانو چي د احاديث نبوي په ذريعه حرامېدل ثابت دي په هغو کي ځيني حيوانان په سبب قطعيت احاديث په اتفاق سره د ټولو علماوو حرام دي او د ځينو حيوانانو په باره کي د امامانو اختلاف دي ځکه چي د هغوی په اړه احاديث هم مختلف منقول دي د ځينو حيوانانو په اړه د دغه آيت کريمه په بناء په علماوو کي اختلاف پيدا سوی دي : (و يحل لهم الطيبات و يحرم عليهم الخبائث) ، ژباړه: او رسول الله ﷺ پاک شيان د هغوی لپاره حلالوي او چټل شيان پر هغوی حراموي .
حنفي علماوو د دغه آيت په سبب د ماهي څخه پرته د اوبو ټول حيوانان حرام ګرځولي دي ځکه چي د دغه حضراتو په نزد د ماهي څخه پرته د اوبو نور حيوانان هم سته چي هغه خبيث او چټل دي په دغه دليل چي له خبيث څخه مراد هغه شی دی چي هغه طبيعت سليم چټل وګڼي او په اوبو کي د ماهي څخه پرته کوم شی چي ساه لرونکی وي هغه طبيعت چټل ګڼي .
په هدايه کي ليکلي دي چي د امام مالک او علماوو د يوې ډلي مذهب دادی چي د اوبو ټول حيوانان مطلق حلال دي مګر په هغو کي ځينو علماوو دريابي خنزير، دريابي سپی او دريابي انسان مستثنی کړی دی ، د امام شافعي رحمه الله په نزد مطلق د درياب حيوانان حلال دي د هغوی دليل دغه آيت کريمه دی : (احل لکم صيد البحر وطعامه) ژباړه : ستاسو لپاره د درياب ښکار نيول او د هغه خوړل حلال سوي دي .
او هغوی د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد څخه هم استدلال کړی دی چي رسول الله ﷺ د اوبو په باره کي فرمايلي دي چي : (هو الطهور ماوه والحل ميتته) ژباړه : د هغه (درياب) اوبه پاکونکي دي او د هغه مردار حلال دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

ذی ناب درنده حرام دئ

﴿۳۹۲۶﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ فَأَكْلُهُ حَرَامٌ . رواه مسلم .

د حضرت ابو هريرة رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر څيرونكي درنده (يعني چي هغه په غاښونو سره ښكار كوي) حرام دئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۵۳۴، رقم: ۱۵- ۱۹۳۳.

په پنجه ښكار كونكو مرغانو غوښي حرامي دي

﴿۳۹۲۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د څيرونكو درندګانو او په پنجه سره د ښكار كونكي مرغانو (د خوراک) څخه منع فرمايلي ده. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۵۳۴، رقم: ۱۶- ۱۹۳۴.

د كورني خره غوښي حرامي دي

﴿۳۹۲۸﴾: وَعَنْ اَبِي ثَعْلَبَةَ قَالَ حَرَّمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لُحُومَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ. متفق عليه.

د حضرت ابو ثعلبه رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د كورني خرونو غوښه خوړل حرام ګرځولي ده. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۵۳، رقم: ۵۵۲۷، ومسلم ۳\۱۵۳۸، رقم: ۲۳- ۱۹۳۶.

تشريح: مګر ځنګلي خرونه چي هغوی ته ګور خر وايي په اتفاق د ټولو علماوو حلال دي.

د آس حكم

﴿۳۹۲۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ وَأَذِنَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ. متفق عليه.

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ د كورني خرونو د غوښو خوړلو څخه منع وفرمايل او د اسانو د غوښو اجازه يې وركړه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۵۳، رقم: ۵۵۲۴، ومسلم ۱۳\۱۵۴۱، رقم: ۳۶- ۱۹۴۱.

تشريح: د نورو امامانو پر دې اتفاق دی چي د آس غوښه خوړل مباح دي مګر د امام اعظم رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه قول دادی چي د آس غوښه خوړل مکروه دي ، ځيني وايي چي کراهت تحريمي مراد دی او ځيني کراهت تنزيهي مراد اخلي مګر په کفايت المنتهی کي نقل سوي دي چي ځينو علماوو واضحه کړې ده چي امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه د خپل وفات څخه درې ورځي مخکي له خپل دغه قول څخه رجوع کړې وه يعني د نورو امامانو په ډول هغه هم د آس د غوښو د اباحت قائل سوی وو ، په حنفي مذهب کي پر دې فتوا ورکول کيږي، همدارنګه د فقه حنفي مشهور او معتبر کتاب درمختار کي هم دا ليکلي دي چي د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزد د آس غوښه حلاله نه ده حال دا چي امام شافعي رحمة الله عليه او په حنفيه کي امام ابويوسف، او امام محمد رحمة الله عليهم په نزد حلاله ده ، او ځينو علماوو صراحت کړی دی چي د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه له خپل وفات څخه درې ورځي مخکي د حرمت له قول څخه رجوع کړې وه نو پر دې فتوا ده. مولانا شاه محمد اسحاق محدث دهلوي رحمة الله عليه به هم د دغه روايت فتوا ورکول چي امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه له خپل قول څخه رجوع کړې وه او په حنفي مذهب کي د آس غوښه خوړل حلال دي .

د ځنګلي خره غوښي جائز دي

﴿۳۹۳۰﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ رَأَى حِمَارًا وَحْشِيًّا فَعَقَرَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَّحْمِهِ شَيْءٌ قَالَ مَعَنَا رِجْلُهُ فَأَخَذَهَا فَأَكَلَهَا . متفق عليه.

د ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه يو ځنګلي خر وليدئ او هغه يې وويشتئ ، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم پوښتنه وکړه ايا ستاسره د دغه ځنګلي خره د غوښو څخه يو څه سته ؟ ابو قتاده وويل : يوه پښه يې زموږ سره سته ، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه واخيستل او وه يې خوړل. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\۲۲، رقم: ۱۸۲۱، ومسلم ۲\۸۵۵، رقم: ۶۳- ۱۱۹۶.

سویکی حلال دئ

﴿۳۹۳۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أَنْفَجْنَا أَرْنَبًا بِمَرِّ الظَّهْرَانِ فاخذتها فاتيت أَبَا طَلْحَةَ فَذَبَحَهَا وبَعَثَ إِلَى رسول الله ﷺ بِوَرِكِهَا أَوْ وفَخِذَيْهَا فَقَبِلَهُ. متفق عليه

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي موږ په مر الظهران نامي ځای کي په یوه سویکی پسي وځغاستو ما هغه ونیوئ او ابو طلحه ته مي یووړ نو هغه ذبح کړ او هغه دواړه ورنونه یې او دُمچې رسول الله ﷺ ته ولیږل، رسول الله ﷺ هغه قبول کړل. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۲۰۲، رقم: ۲۵۷۲، ومسلم ۳\۱۵۴۷، رقم: ۵۳- ۱۹۵۳.

د لغاتو حل: انفجنا: اى هيجنا واثرنا: (په پسې سوو)

تشريح: له دغه حديث څخه ثرګنده سوه چي سوی کی یو حلال حیوان دی ځکه چي رسول الله ﷺ د هغه غوښه قبوله کړه، که چیري د هغه د غوښي خوړل حلال نه وای نو رسول الله ﷺ به نه قبلولای، بلکه نور به یې له هغه څخه منع کولای، په کتاب الرحمة في اختلاف الائمه کي لیکلي دي چي په اتفاق د ټولو علماوو د سویکی غوښه حلاله ده.

د سمساري غوښي

﴿۳۹۳۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الضَّبُّ لَسْتُ آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه نه سمساره خورم او نه یې حراموم. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۶۲، رقم: ۵۵۳۶، ومسلم ۳\۱۵۴۲، رقم: ۴۰- ۱۹۴۳.

تشريح: د سمساري عمر تر اووه سوه کالو پوري وي او عجيب وغريب خصوصيات یې بيانيږي د مثال په توګه اوبه نه څښني بلکه د هواء په ذريعه ژوند کوي، په څلوښتو کالو کي یو څاڅکی بولي کوي، غاښونه یې هیڅکله نه ماتیږي.

ځینو علماوو لیکلي دي چي د رسول الله ﷺ د سمساري نه خوړل د کراهت طبعي په توګه وو او د هغه د نه حلالولو وجه دا وه چي تر هغه وخته پوري رسول الله ﷺ ته د وحي په ذريعه د سمساري په اړه حکم نازل سوی نه وو، مخته هغه حديث راځي چي د سمساري پر حرمت دلالت

کوي، د هغه حدیث په وجه د امام اعظم ابو حنیفة رحمه الله په نزد سمساره خوړل حرام دي حال دا چي د امام احمد او امام شافعي رحمة الله علیهما په نزد د سمسارې په خوړلو کي څه پروا نسته د هغوی دلیل تېر سوی حدیث دی.

﴿۳۹۳۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي د حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه بیان دئ چي هغه د

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَيْمُونَةَ وَهِيَ خَالَتُهُ وَخَالَةُ ابْنِ عَبَّاسٍ فَوَجَدَ

رسول الله ﷺ سره د بي بي میموني کره چي د هغه او د ابن عباس خاله وه داخل سوو، او د هغې

عِنْدَهَا ضَبًّا مَحْنُوذًا فَقَدَّمَتُ الضَّبَّ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَفَعَ

سره یوه پخه سوې سمساره وه، بي بي میمونې هغه سمساره د رسول الله ﷺ په مخکي کښېښودل

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَنِ الضَّبِّ فَقَالَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ

رسول الله ﷺ خپل لاس مبارک را ایسته کړ (یعني هغه یې ونه خوړل) حضرت خالد رضي الله عنه پوښتنه وکړه

أَحَرَامٌ الضَّبُّ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ لَا وَلَكِنْ لَمْ يَكُنْ بِأَرْضِ قَوْمِي فَأَجِدُنِي

اې د الله رسوله! ایا سمساره حرامه ده؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل یا، دا زما د قوم په مځکه کي نه ده له دې کبله زه ځیني کرکه کوم،

أَعَافُهُ قَالَ خَالِدٌ فَاجْتَرَرْتُهُ فَأَكَلْتُهُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ

إِلَيَّ. متفق علیه.

د حضرت خالد رضي الله عنه بیان دئ چي هغه سمساره ما خپل په لور را کش کړل او وه مي خوړل او رسول الله ﷺ ما ته کتل. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۶۲، رقم: ۵۵۳۷، ومسلم ۱۳\۱۵۴۲، رقم: ۴۴-۱۹۴۶.

د لغاتو حل: محنوذا: ای مشویا (سور کړی).

تشریح: مخته چي کوم حديث راغلي او په هغه کي د سمساري د خوړلو منع نقل سوې ده دا واقعه تر هغه مخکي ده په دې اعتبار سره دغه حديث منسوخ ګرځول کيږي.

د چرګ غوښي خوړل حلال دي

﴿۳۹۳۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَاْكُلُ لَحْمَ الدُّجَاجِ. متفق عليه.

د حضرت ابو موسی رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي ما ليدلي دي چي رسول الله ﷺ د چرګ غوښه خوړل. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۴۵، رقم: ۵۵۱۷، ومسلم ۳\۱۲۷۰، رقم: ۹- ۱۶۴۹.

ملخ حلال دئ

﴿۳۹۳۵﴾: وَعَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ كُنَّا نَأْكُلُ معه الْجَرَادَ. متفق عليه.

د حضرت ابن ابي اوفی رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره په اوو غزاوو کي ګډون کړی دئ موږ به د رسول الله ﷺ سره ملخان خوړل. بخاري او مسلم

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۶۲۰، رقم: ۵۴۹۵، ومسلم ۳\۱۵۴۶، رقم: ۵۲- ۱۹۵۲.

تشریح: (کنا ناکل معه الجراد) دلته د معه لفظ (يعني له رسول الله ﷺ سره) نه خو د مسلم په اصل روايت کي دی او نه په ترمذي کي، بلکه دغه حديث چي کومو نورو محدثينو نقل کړی دی په هغوی کي د اکثرو روايت له دغه لفظ څخه خالی دی مګر کومو محدثينو چي په خپل روايت کي دغه لفظ زيات نقل کړی دی هغوی دا معنی مراد اخيستې ده چي موږ به د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کي ملخان خوړل، دغه تاويل که څه هم په حديث د نقل سوو الفاظو د ظاهري معنی خلاف دی مګر دا ضروري ځکه دی چي دا ثابته ده چي رسول الله ﷺ ملخ نه دی خوړلی بلکه په دې اړه د رسو ل الله ﷺ ارشاد نقل سوی دی چي زه يې نه خورم او نه يې حرام ګرځوم.

په درياب کي د مړ سوي ماهي خوراک

﴿۳۹۳۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ غَزَوْتُ جَيْشَ الْخَبَطِ وَأُمِّرَ أَبُو عُبَيْدَةَ فَجُعْنَا جُوعًا

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي موږ د خبط د یو لښکر سره جهاد وکړ ددې لښکر امیر ابو عبیده وو موږ د لوږي څخه ډیر تنګ سوو

شَدِيدًا فَأَلْقَى الْبَحْرُ حُوتًا مَيِّتًا لَمْ نَرَ مِثْلَهُ يُقَالُ لَهُ الْعَنْبَرُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ

په دغه ورځو کي موږ د دریاب پر غاړه یو مړ ماهی تر لاسه کړ دومره لوی ماهی موږ هیڅکله نه وو لیدلی دا ډول ماهي ته عنبر وایي دا ماهی

نِصْفَ شَهْرٍ فَأَخَذَ أَبُو عُبَيْدَةَ عَظْمًا مِنْ عِظَامِهِ فَمَرَّ الرَّاكِبُ تَحْتَهُ فَلَمَّا

موږ پنځلس ورځي وخوړی. ابو عبیده رضی اللہ عنہ د هغه د هډوکو څخه یو هډوکی واخیستی (او هغه یې ودرویٔ) تر هغه لاندي سپور سړی تیرید ای سوای

قَدِمْنَا ذَكَرْنَا لِلنَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ كُلُوا رِزْقًا أَخْرَجَهُ اللّٰهُ وَأَطْعِمُونَا إِنْ كَانَ مَعَكُمْ

موږ چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوو نو موږ رسول الله ﷺ ته د هغه یادونه وکړه،

قَالَ فَأَرْسَلْنَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُ فَأَكَلَهُ. متفق علیه.

رسول الله ﷺ وفرمایل هغه رزق چي الله تعالی تاسو ته رالیږلی دئ په موږ یې هم وخورئ که د هغه څخه ستاسو سره یو څه وي، حضرت جابر رضی اللہ عنہ وایي موږ د هغه ماهی څخه یو څه رسول الله ﷺ ته ولیږل چي رسول الله ﷺ هغه وخوړل. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۸\۷۸، رقم: ۴۳۶۲، ومسلم ۳\۱۵۳۶، رقم: ۱۷- ۱۹۳۵.

د لغاتو حل: الخبط: ورق الشجر (د درختي پاڼه)

تشریح: خبط په اصل کي د خ او ب په زور سره دی مګر د ب په جزم سره هم منقول دی چي معنی یې د درختي پاڼي ده چي په لرګي وهلو سره رالویږي.

په حدیث کي د ذکر سوې پېښي تعلق چي د کوم اسلامي لښکر سره دی هغه د دومره سخت حالت سره مخامخ سوی وو چي د لاري د خوراک په وجه د لښکر د خلکو د ژوندي پاته کېدو لپاره مجبورا د درختو د پاڼو په څنډلو سره خوړلې تر دې چي ددې په وجه د هغوی خولې او شونډان خوږ سوي وه بلکه د هغوی شونډان د اوښانو د شونډانو مشابه سوي وه ځکه نو ددغه لښکر نوم جیش الخبط یعني پاڼي څنډونکی سره مشهور سو، دغه پېښه په ۶ هجري کال کي د

صلح حديبيه څخه مخکي ده .
عنبر د يو خوشبويي نوم دی چي د هغه په باره کي په قاموس کي ليکلي دي چي دا په اصل کي د درياب د حيوانانو ګندګي ده يا د يو خاص ډول چينې څخه تر لاسه کيږي چي د درياب په بېخ کي وي، او يو ډول لوی ماهي ته هم عنبر ويل کيږي چي د هغه د پوست څخه سپر جوړيږي .
ترنيمي مياشتي پوري : په ځينو رواياتو کي تر يوې مياشتي پوري ذي ، او په ځينو رواياتو کي دا راغلي دي چي لښکر له هغه ماهي څخه تر اتلس ورځو پوري خوراک کوی په دغه ټولو روايتو کي داسي مطابقت پيدا کيږي چي هغه ماهی تر نيمي مياشتي پوري ټول لښکر وخوړی ددې څخه وروسته د لښکر ځينو خلکو تر اتلس ورځو پوري او ځيني خلکو تر پوره مياشت پوري وخوړی .

د مچ په خوراک کي لويدل

﴿۳۹۳۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ ثُمَّ لِيَطْرَحْهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ شِفَاءً وَفِي الْآخَرِ دَاءً . رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي ستاسو په لوښي کي مچ ولويږي نو پکار ده چي مچ ته غوټه ورکړئ او بيا يې راوکاږئ ځکه چي د هغه په يوه وزر کي شفا ده او په بل کي ناروغي . بخاري

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۵۱-، رقم: ۵۷۸۲.

تشريح : دغه ډول يو بل حديث له حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه هم منقول دی چي په دوهم فصل کي به راسي، په هغه کي دا هم بيان سوی دی چي مچ د ناروغۍ وزر مخکي اچوي نو ټول مچ ته غوټه ورکول چي د هغه شفاء والا وزر هم ډوب سي او همدارنګه د هغه خوراک او څيښاک له شيانو څخه هغه مضر اثرات هم زائل سي چي د ناروغۍ د وزر په ذريعه رسيدلي دي .

په غوړو کي د مږي لويدلو حکم

﴿۳۹۳۸﴾: وَعَنْ مَيْمُونَةَ أَنَّ فَأْرَةً وَقَعَتْ فِي سَمْنٍ فَمَاتَتْ فَسُئِلَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهَا فَقَالَ أَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا وَكُلُوهُ . رواه البخاري.

د حضرت میمونې (رض) څخه روایت دئ چي یوه مږه (موږک) په غوړو کي ولویدل ،د هغه په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل مږه راوکاږئ او وه یې غوړ ځوئ دا شاوخوا غوړي ځیني لیري کړئ او پاته وخورئ. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۶۶۷|۹، رقم: ۵۵۳۸.

تشریح: دا د هغه غوړو حکم دی چي یخی سوي وي او کوم غوړي چي ویلي وي په هغه صورت کي ټول مرداریږي او په اتفاق د ټولو علماوو د هغه خوړل جائز نه دي همدارنګه هغه غوړي پلورل هم د اکثرو امامانو په نزد جائز نه دي مګر امام ابوحنیفة رحمه الله د هغه پلورل جائز ګرځولي دي.

په دې اړه د علماوو اختلاف دی چي ایا هغه غوړو څخه بله ګټه اخیستل کیدای سي که یا؟ د ځینو حضراتو په نزد له هغه څخه هیڅ ګټه اخیستل جائز نه دي مګر ځیني حضرات وایي چي هغه دي په څراغ کي وسوځل سي ، په کښتیو باندي د موږلو یا دا ډول بل کار کي ګټه ور څخه اخیستل کیدای سي ، دغه قول د امام اعظم ابوحنیفة رحمه الله دی ، د امام شافعي رحمه الله په دوو قولو کي یو قول چي زیات مشهور دی هغه هم دادی مګر دغه جواز په کراهت سره دی ، د امام مالک او امام احمد رحمة الله علیهما څخه دوه روایتونه نقل سوي دي ، له امام مالک رحمه الله څخه یو روایت دا هم دی چي هغه غوړي په مسجد کي سوځل جائز دي.

د مارانو دوژلو حکم

﴿۳۹۳۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّه سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اقْتُلُوا

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي ماران وژنئ

الْحَيَّاتِ وَاقْتُلُوا ذَا الطُّفْيَتَيْنِ وَالْأَبْتَرَ فَإِنَّهُمَا يَطْمِسَانِ الْبَصَرَ وَيَسْتَسْقِطَانِ

(په خاصه توګه) هغه مار چي د هغه پر شا دوې کرښې وي او د تور رنګ وي او هغه مار چي د هغه نوم ابتر دئ (یعني هغه مار چي د هغه لکۍ کوچنۍ وي) ځکه چي دا دواړه ماران بنائي زائل کوي (یعني د دوی په لیدو سره سترګي ړندیږي) او حمل غورځوي ،

الْحَبَلَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ فَبَيْنَا أَنَا أُطَارِدُ حَيَّةً أَقْتُلُهَا نَادَانِي أَبُو لُبَابَةَ لَا تَقْتُلْهَا

عبدالله وایي یو وار ما د یو مار د وژلو لپاره حمله وکړه نو ابو لبابه راته آواز وکړ خبردار! دا مه

وژنه، ما ورته وويل رسول الله ﷺ د مارانو د وژلو حكم كړى دئ،

فَقُلْتُ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْحَيَّاتِ فَقَالَ إِنَّهُ نَهَى بَعْدَ ذٰلِكَ عَنْ ذَوَاتِ الْبُيُوتِ وَهُنَّ الْعَوَامِرُ . متفق عليه .

هغه وويل رسول الله ﷺ د حكم وركولو څخه وروسته د هغه مارانو د وژلو څخه منع كړې ده كوم چي په كورونو كي اوسيږي او هغه كورونه ابادونكي دي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٤٧، رقم: ٣٢٩٧، ومسلم ۴\١٧۵٢، رقم: ١٢٨- ٢٢٣٣.

د لغاتو حل: الابتر: هي الحية القصيرة الذنب. (هغه مار چي لنډه لكۍ يې وي)

تشريح: هغوى كور ابادونكي دي: په اصل كي د عَمر او عمر معنى د ابادولو ده تر اوږدې مودې پوري د ژوندي پاته كېدو، دغه مارانو ته عوامر ځكه ويل كيږي چي د دوى عمرونه زيات دي او په دې وجه هغوى په كور كي اوسيږي .

توربشتي رحمه الله ويلي دي: په اصل كي د عوامر اطلاق پر جناتو (پيريانو) باندي كېږي، په دې اعتبار سره چي هغوى كور ابادونكي دي له دې څخه به مراد دا وي چي په كورو كي زيات وختونه كوم ماران چي لېدل كيږي هغه په حقيقت كي جنات وي چي د مار صورت يې اختيار كړى وي نو په كورو كي اوسيدونكو مارانو د وژني په اړه بايد احتياط وسي، داسي نه وي چي يو مار ووژني او هغه په حقيقت كي جن (پيرى) وي او د هغه په وژلو سره كوروالا ته تاوان ورسوي .

طبراني رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه مرفوع دا روايت نقل كړى دى چي : (اقتلوا الحية والعقرب وان كنتم في الصلوة)، ژباړه: مار او لړم ووژنئ كه څه هم تاسو د لمانځه په حالت كي ياست . همدارنګه ابوداؤد او نسائي له حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه او طبراني له جرير څخه او هغه د حضرت عثمان بن ابو العاص رضي الله عنه څخه مرفوع دغه روايت نقل كړى دى چي : (اقتلوا الحيات كلهن فمن خاف ثارهن فليس مني) ژباړه : هر ډول ماران وژنئ ، څوک چي د مارانو د بدلې څخه بيريږي او په دې وجه هغه مړ نه كړي نو هغه زموږ څخه نه دى .

مګر دغه روايتونه چي له هغو څخه د مارانو د وژنې مطلق حكم ثابتيږي په اصل كي په كورو كي د اوسيدونكو مارانو څخه پرته پر نورو مارانو باندي محمول دى لكه څرنګه چي د ابن عمر رضي الله عنه ذكر سوى روايت يا راتلونكو نورو رواياتو څخه څرګنديږي .

﴿۳۹۴۰﴾ : وَعَنْ اَبِي السَّائِبِ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ فَبَيْنَا نَحْنُ

د حضرت ابو سائب رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي موږ د ابو سعيد خدري رضی اللہ عنہ کره ورغلو موږ د هغه

جُلُوسٌ اِذْ سَمِعْنَا تَحْتَ سَرِيْرِهٖ حَرَكَةً فَنَظَرْنَا فَإِذَا فِيْهِ حَيَّةٌ فَوَثَبْتُ لِأَقْتُلَهَا

په کور کي ناست وو چي د هغه تر تخت لاندي حرکت محسوس سو ، موږ چي وکتل چي مار دئ
زه د هغه د وژلو لپاره سمدستي ولاړ سوم

وَاَبُو سَعِيْدٍ يُّصَلِّيْ فَأَشَارَ إِلَيَّ أَنْ اجْلِسْ فَجَلَسْتُ فَلَمَّا انْصَرَفَ أَشَارَ إِلَى بَيْتٍ

هغه وخت ابو سعيد رضی اللہ عنہ لمونځ کوئ هغه په اشاره سره وويل چي کښېنه، کوم وخت چي هغه
لمونځ وکړنو هغه د کور د يوې خوني په لور اشاره وکړه

فِي الدَّارِ فَقَالَ أَتَرَى هٰذَا الْبَيْتَ فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَ كَانَ فِيْهِ فَتًى مِنَّا حَدِيْثُ

او وه يې ويل تا دا خونه ليدلې ده ؟ ما ورته وويل :هو، حضرت ابو سعيد رضی اللہ عنہ وويل په دغه
خونه کي زما د کورنۍ يو زلمی اوسيدئ چي نوی

عَهْدٍ بِعُرْسٍ قَالَ فَخَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْخَنْدَقِ

واده يې سوی وو ، بيا زه او هغه زلمی د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم سره د خندق په غزا کي شريک سوو دا

فَكَانَ ذٰلِكَ الْفَتَى يَسْتَأْذِنُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنْصَافِ النَّهَارِ

زلمی په غرمه کي د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم په اجازه سره کور ته تلئ، يوه ورځ هغه د معمول سره سم د

فَيَرْجِعُ إِلَى أَهْلِهٖ فَاسْتَأْذَنَهُ يَوْمًا فَقَالَ لَه رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم څخه اجازه واخيستل ،رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم ورته وفرمايل : خپل وسله د ځان سره واخله

خُذْ عَلَيْكَ سِلَاحَكَ فَإِنِّيْ أَخْشَى عَلَيْكَ قُرَيْظَةَ فَأَخَذَ الرَّجُلُ سِلَاحَهٗ ثُمَّ رَجَعَ

ځکه چي ما ته د بنو قريظه څخه انديښنه ده (يعني يهود بني قريظه چي په مدينه منوره کي
اوسيدل او د مسلمانانو سره يې معاهده کړې وه) هغه زلمی وسله واخيستل او روان سو ،

فَإِذَا امْرَأَتُهُ بَيْنَ الْبَابَيْنِ قَائِمَةً فَأَهْوَى إِلَيْهَا بِالرُّمْحِ لِيَطْعُنَهَا بِهِ وَأَصَابَتْهُ

کله چي هغه کور ته ورسيدئ نو هغه وليدل چي د هغه ښځه (ناوې) د دوو تنبو په منځ کي ولاړه ده هغه د شرم او غيرت څخه متاثره سو (چي د هغه بي بي دباندي ولي ولاړه ده) د هغې په لور يې نيزه پورته کړه چي هغه په ووهي ،

غَيْرَةٌ فَقَالَتْ لَهُ اكْفُفْ عَلَيْكَ رُمْحَكَ وَادْخُلِ الْبَيْتَ حَتَّى تَنْظُرَ مَا الَّذِي

بي بي ورته وويل نيزه سنبال کړه او دومره تيزي مه کوه کور ته دننه ورسه او وګوره نو درته معلومه به سي چي زه څه شي

أَخْرَجَنِي فَدَخَلَ فَإِذَا بِحَيَّةٍ عَظِيمَةٍ مُنْطَوِيَةٍ عَلَى الْفِرَاشِ فَأَهْوَى إِلَيْهَا

د کور څخه د باندي را ايستلې يم ، زلمي چي کور ته داخل سو نو يو لوی ماريې وليدئ چي پر بستره باندي يې حلقه جوړه کړې ناست دئ ، زلمي پر هغه په نيزې سره حمله وکړه

بِالرُّمْحِ فَانْتَظَمَهَا بِهِ ثُمَّ خَرَجَ فَرَكَزَهُ فِي الدَّارِ فَاضْطَرَبَتْ عَلَيْهِ فَمَا يُدْرَى

او ماريې په نيزه کي وپيوئ بيا د کور څخه د باندي راووتئ او نيزه يې په غولي کي ښخه کړه ، مار پر هغه زلمي حمله وکړل او بيا دا معلومه نه سوه

أَيُّهُمَا كَانَ أَسْرَعَ مَوْتًا الْحَيَّةُ أَمِ الْفَتَى قَالَ فَجِئْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

چي په هغوی کي کوم يو (زلمي که مار) ژر مړه سو؟ ابو سعيد رضي الله عنه وايي موږ د رسول الله ﷺ په

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ وَقُلْنَا ادْعُ اللَّهَ يُحْيِيهِ لَنَا فَقَالَ اسْتَغْفِرُوا لِصَاحِبِكُمْ

خدمت کي حاضر سو ټوله پېښه مو ورته بيان کړه او رسول الله ﷺ ته مو خواست وکړ چي د الله جل جلاله څخه دعاء وغواړي چي دا زلمی زموږ په مخکي ژوندی کړي ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل د خپل دوست لپاره بخښنه وغواړئ

ثُمَّ قَالَ إِنَّ لِهَذِهِ الْبُيُوتِ عَوَامِرَ فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهَا شَيْئًا فَحَرِّجُوا عَلَيْهَا ثَلَاثًا

بيا رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د دغه کورونو لپاره ابادونکي دي (يعني مؤمن او کافر پيريان

چي دا كورونه آباد ساتي هر كله چي تاسو د هغوی څخه يو څوک ووينئ (يعني د مار په شكل كي) نو ورته ووايئ چي ته په تنګي كي يې كه بيا را ووتلې نو موږ به دي مړ كړو د آئنده لپاره ستا اختيار دئ، دريږ واره دا الفاظ ورته ووايئ

فَإِنْ ذَهَبَ وَإِلاَّ فَاقْتُلُوهُ فَإِنَّهُ كَافِرٌ وَقَالَ لَهُمْ اذْهَبُوا فَادْفِنُوا صَاحِبَكُمْ، وفي

كه هغه ولاړ سي نو خير كنه مړيې كړئ ځكه چي هغه كافر دئ، رسول الله ﷺ انصارو ته وفرمايل ولاړ سئ او خپل دوست ښخ كړئ او په

رواية قَالَ إِنَّ بِالْمَدِينَةِ جِنًّا قَدْ أَسْلَمُوا فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهُ شَيْئًا فَآذِنُوهُ ثَلَاثَةَ

يوه روايت كي دا الفاظ دي چي نبي كريم ﷺ وفرمايل په مدينه كي د پيريانو يوه ډله ده چي مسلمانان سوي دي هر كله چي تاسو په هغوی څوک (د مار په شكل كي) ووينئ نو د درو

أَيَّامٍ فَإِنْ بَدَا لَكُمْ بَعْدَ ذَلِكَ فَاقْتُلُوهُ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ. رواه مسلم

ورځو اجازه وركړئ كه د درو ورځو څخه وروسته بيا ښكاره سي نو مړيې كړئ ځكه چي هغه شيطان دئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۷۵۶\۴، رقم: ۱۴۰– ۲۲۳۶.

تشريح تاسو د الله جل جلاله څخه دعاء غواړئ: علماوو ليكلي دي چي صحابه كرامو دا رويه نه وه چي رسول الله ﷺ ته داسي خواست وكړي، دلته د دغه خلكو دا فكر وو چي زلمی په حقيقت كي مړ سوی نه دی بلكه د زهرو په اثر بې هوشه سوی دی ځكه نو هغوی رسول الله ﷺ ته د دعاء خواست كړی وو.

مغفرت وغواړئ: په دغه ارشاد سره د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي دده د ژوندي كولو دعاء ولي غواړئ ځكه چي هغه پر خپل لار باندي په تللو سره د مرګ غېږي ته رسيدلی دی د هغه لپاره دعاء كول ګټوره نه ده اوس خو د هغه په اړه تر ټولو ګټوره خبره داده چي الله تعالی ته د هغه د مغفرت او بخښني خواست وكړئ.

پر هغه تنګي اختيار كړئ: يا هغه خبردار كړئ، مطلب دادی چي كله مار ووينئ نو هغه ته ووايئ چي ته راګېر سوی يې اوس مه راوځه كه بيا هم راووځې نو موږ به پر تا حمله وكړو او تا به ووژنو، اوس ته پوه سه او كار دي پوه سه.

په یوه روایت کې له رسول الله ﷺ څخه دا نقل سوي دي چې د مار په لیدو سره دا ویل پکار دي:
(انشدکم بالعهد الذي اخذ علیکم سلیمان بن داؤد علیهما السلام لا تاذونا ولا تظهروا لنا)
ژباړه: زه تا ته د هغه قول قسم درکوم چې حضرت سلیمان علیه السلام ستا څخه اخیستی وو چې موږ ته تکلیف مه راکوه او زموږ مخته مه راځه.

هغه شیطان دی: یعني که چیري د خبر ورکولو څخه وروسته هم هغه غائب نسي نو ددې مطلب به دا وي چې هغه مسلمان جن (پیری) نه دی بلکه یا خو کافر جن دی یا په حقیقت کې مار دی یا د ابلیس له ذریات څخه دی، په دغه صورت کې هغه سمدستي وژل پکار دي، هغه ته شیطان په دې اعتبار ویل سوي دي چې د خبرداری څخه وروسته هم هغه غائب نسو نو هغه ځان سرکش ثابت کړی دی او دا عامه خبره ده چې څوک سرکښ سي که څه هم هغه له پیریانو څخه وي یا له انسانانو او حیوانانو څخه وي نو هغه ته شیطان ویل کیږي.

د کربوړي وژلو حکم

﴿۳۹۴۱﴾: وَعَنْ أُمِّ شَرِيكٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ وَقَالَ كَانَ يَنْفُخُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَام. متفق علیه.

د ام شریک (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د وزغ (د کربوړي په ډول یو حیوان) د وژلو حکم ورکړ او وه یې فرمایل چې دغه حیوان به د حضرت ابراهیم علیه السلام اور پو کئ. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۶\۳۸۹، رقم: ۳۳۵۹، ومسلم ۴\۱۷۵۷، رقم: ۱۴۲- ۲۲۲۷.

د لغاتو حل: الوزغ: هو دویبة مؤذیة وسام ابرص.

تشریح: اور یې پوه کوی: یعني دا د کربوړي خباثت بیان سوی دی چې کله نمرود، حضرت ابراهیم علیه السلام په اور کي واچوی نو کربوړي به هغه اور د تېزولو لپاره پوکی.

دا خبره هم څرګنده سوې ده چې دغه حیوان ډېر زهرجن او ضرري دی که چیري د خوراک او څښاک شیانو ته دده زهرجن جراثیم ورسیږي نو په هغه سره خلکو ته ډېر سخت تکلیف او تاوان رسیدلای سي.

﴿۳۹۴۲﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ وَسَمَّاهُ فُوَيْسِقًا. رواه مسلم.

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د کربوړي د وژلو حکم کړی دئ او ددې نوم يې کوچني فاسق ایښی دئ. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۴\ ۱۷۵۸، رقم: ۱۴۴– ۲۲۳۸.

تشریح (فویسق)، د فاسق تصغیر دی چي معنی يې د کوچني فاسق ده، کربوړي ته فویسق یعني کوچنی فاسق په دې اعتبار ویل سوي دي چي دی د هغه فواسق خمسه یعني پنځه بدو حیوانانو له ډول څخه دی چي د هغوی په هر حالت کي د وژلو حکم دی که څه هم هغوی د حل د حدودو څخه وتلي وي یا په حرم کي وي، په لغت کي د فسق معنی د خروج ده او د شریعت په اصطلاح کي له فسق څخه مراد دادی چي د حق د اطاعت څخه وتل او د صحیح لاري څخه مخ اړول.

﴿۳۹۴۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَتَلَ وَزَغًا فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ كُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ وَفِي الثَّانِيَةِ دُونَ ذٰلِكَ وَفِي الثَّالِثَةِ دُونَ ذٰلِكَ. رواه مسلم

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي کربوړی په اول ګذار (وهلو) مړ کړي د هغه په حساب کي سل نیکۍ لیکل کیږي او څوک چي يې په دویم ګذار مړ کړي د هغه په حساب کي تر سلو کمي او څوک چي يې په دریم ګذار مړ کړي نو د هغه په حساب کي تر دې هم کمي نیکۍ لیکل کیږي. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۴\ ۱۷۵۸، رقم: ۱۴۷– ۲۲۴۰.

تشریح د دغه حدیث په ذریعه دې ته رغبت ورکړل سوی دی چي کربوړی ژر تر ژره وژنئ.

د میږي د وژلو مسئله

﴿۳۹۴۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَصَتْ نَمْلَةٌ نَبِيًّا

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: یو میږي یو نبي وچیچئ

مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَأَمَرَ بِقَرْيَةِ النَّمْلِ فَأُحْرِقَتْ فَأَوْحَى اللّٰهُ إِلَيْهِ أَنْ قَرَصَتْكَ نَمْلَةٌ أَحْرَقْتَ أُمَّةً مِنَ الْأُمَمِ تُسَبِّحُ. متفق علیه.

هغه نبي حکم وکړ چې د میږیانو غار دې وسوځل سي ، الله ﷻ هغه نبي ته وحي را ولیږل چې ته خو یوه میږي وچیچلې نو تا یې ټول قوم وسوزئ چې د الله پاکي یې بیانول . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\١٥٤، رقم: ٣٠١٩، ومسلم ١٤\١٧٥٩، رقم: ١٤٨- ٢٢٤١.

تشریح: غار یې وسوځل سو : په دې اړه ځینو علماوو ویلي دي چې د دې مطلب دادی چې نبي د هغه درختي د سوځلو حکم کړی وو چې په هغه کې د مېږیانو غار وو ، هغه درخته وسوځل سوه ، د دغه پېښي په اړه روایت دی چې یو ځل هغه نبي د الله ﷻ په دربار کې عرض کړی وو چې پروردګاره! ته یوه سیمه د هغه ځای د اوسېدونکو د ګناهو په سبب په عذاب کې اخته کوې او هغه ټوله سیمه خرابه سي حال دا چې په هغه سیمه کې ځیني فرمانبرداره خلک هم وي نو الله ﷺ فیصله وکړه چې د هغه د عبرت لپاره یو مثال وړاندې کړي نو پر هغه نبي یې سخته ګرمي مسلطه کړه تر دې چې هغه د ګرمۍ څخه د خلاصون لپاره د یوې سایه داره درختي لاندې راغلی ، پر هغه خوب غلبه وکړه او هغه بېده وو ، یو میږي هغه وچیچی نو هغه حکم یې وکړ چې ټول مېږیان دې وسوځل سي ځکه چې د هغه لپاره دا اسانه نه وه چې د هغه خاص مېږي په پېژندلو سره هغه وسوځي کوم چې دی یې چیچلی وو یا دا چې ټول مېږیان د هغه په نزد تکلیف ورکونکي وه او د تکلیف رسونکي ټول جنس وژل جائز دي .

حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله علیه لیکلي دي چې د قریة النمل څخه مراد د مېږیانو غار دی .

الله ﷻ هغه ته وحي وکړې ...الخ: یعني دا پر هغه نبي باندې د الله ﷻ له خوا عتاب دی ، علماوو لیکلي دي چې دا پر دې محمول دی چې د هغه نبي په شریعت کې د مېږیانو وژل یا سوځل جائز وه او عتاب ځکه پر وسو چې هغه تر یوه میږي زیات وسوځل مګر واضحه دې وي چې په شریعت محمدي کې د هیڅ حیوان سوځل جائز نه دي که څه هم سپږي او نور څه وي ، او د تکلیف رسونکي حیوان څخه پرته د نورو حیوانانو وژل هم جائز نه دي ، له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل سوي دي چې رسول الله ﷺ د هر حیوان د وژلو څخه منع فرمایلې ده که څه هم هغه تکلیف رسونکی وي .

په مطالب المؤمنین کې له محمد ابن مسلم رحمة الله علیه څخه د میږیانو د وژلو په اړه دا نقل سوي دي که چیري میږیانو تا ته تکلیف رسولی وي نو هغه میږی مړ کړه او که تکلیف یې نه وي درکړی نو هغه مه وژنه، فقیه ویلي دي موږ پر دې قول فتوا ورکوو چې همدارنګه د مېږیانو په اوبو کې غورځول هم مکروه دي او د یوه میږي لپاره چې تا ته یې تکلیف درکړی وي د ټولو مېږیانو غار دې نه سوځل کیږي او نه دې تباه کیږي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په غوړو کي د مړې لويدلو مسئله

﴿۳۹۴۵﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَقَعَتْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي مږه ولويږي

الْفَأْرَةُ فِي السَّمْنِ فَإِنْ كَانَ جَامِدًا فَأَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا وَإِنْ كَانَ مَائِعًا فَلَا تَقْرَبُوهُ. رواه احمد وابوداؤد ورواه الدارمي عن ابن عباس.

په غوړو کي نو که غوړي يخ وي نو مږه څيني وکاږئ وه يې غورځوئ او په څلورو خواوو کي لږ لږ غوړي وکاږئ (او بيا يې وخورئ) او که غوړي ويلي وي نو نژدې مه ورځئ (يعني مه يې استعمالوئ)، احمد، ابوداؤد او دارمي د ابن عباس څخه روايت کړی دئ.

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۲۳۲، وابوداود ۴\۱۸۱، رقم: ۳۸۴۲

د سرخاب غوښه

﴿۳۹۴۶﴾: وَعَنْ سَفِينَةَ قَالَ أَكَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَحْمَ حُبَارَى. رواه ابوداؤد.

د حضرت سفينه (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ سره د سرخاب (يو ډول حيوان) غوښه خوړلې ده. ابوداؤد. (سرخاب ته په فارسي کي چرز او تغدري ويل کيږي).

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۵۵، رقم: ۳۷۹۷.

د لغاتو حل: لحم حباری: هو طائر كبير العنق رمادي اللون. (سرخاب)

تشريح: (حباری) يعني سرخاب هغه مرغه دی چي د هغه په باره کي په عربي کي مشهور دي چي هغه تر ټولو بې عقل مرغه دی ځکه د يو سړي د حماقت څرګندولو لپاره د حباری مثال ورکول کيږي، (سرخاب): د اوبو يو مرغه دی چي د هغه په اړه دا خبره مشهوره ده چي هغوی تل جوړه جوړه اوسيږي که چيري د جوړې څخه يو مړ سي نو بل هم ورپسي مړ کيږي، د سرخاب وزرد ډېري ښکلا په وجه په سر کي لګول کيږي او ښکاريان يې په لنګوټه يا خولۍ کي لګوي.

مرداري خوړونکي حيوانان حرام دي

﴿۳۹۴۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الْجَلَّالَةِ وَأَلْبَانِهَا . رواه الترمذي و في رواية ابي داؤد وقال نهي عن ركوب الجلالة

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ د جلالة (مرداری خوړونکي حيوان) د غوښو خوړلو څخه او د هغه د شېدو چښلو څخه منع فرمايلې ده . د ابوداؤد په روايت کي دي چي پر جلالة باندي د سپرلی څخه هم منع فرمايلې ده . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۳۸، رقم: ۱۸۲۴، وابوداود ۴\۱۴۸، رقم: ۳۷۸۵.

د لغاتو حل: الجلالة: هي الدابة التي تاكل العذرة، اى الاوساخ.

تشريح: (جلالة) هغه حيوان ته وايي چي د هغه غوښه خوړل حلال دي مګر هغه ته د نجاست خوړلو عادت وي . په دې اړه تفصيل دادی که هغه حيوان کله نا کله نجاست خوري نو هغه ته به جلاله نه وايو او د هغه غوښه خوړل به حرام نه وي لکه چرګه، او که هغه حيوان داسي وي چي د هغه خوراک په عامه توګه نجاست او مرداري وي تر دې چي د هغه په وجه د هغه په غوښه او شېدو کي بدبويي راسي نو د هغه غوښه خوړل به حلال نه وي که څه هم هغه په تړلو يا بنّدي کولو سره وساتل سي او هغه ته پاک شيان ورکړل سي ، تر دې چي د هغه غوښه او شيدې سمي سي نو د هغه غوښه او شيدې څښل به صحيح وي ، د امام اعظم ابو حنيفة، امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليهم دا قول دی ، مګر امام مالک رحمۃ اللہ علیہ فرمايي چي د هغه د بندي کولو او پاکو شيانو خوړلو څخه وروسته هم د هغه غوښه د مبالغې تر حده پرېښودل ضروري دي، په فتاوی کبری کي ليکلي دي چي تر څو پوري مخلات مرغه (چرګ) تر درو ورځو پوري او جلاله تر لسو ورځو پوري بندي نه کړل سي يا ونه تړل سي نو تر هغه وخته پوري د هغه غوښه خوړل به حلال نه وي .

پر جلاله باندي د سپرتيا څخه ځکه منع فرمايل سوې ده چي د هغه خوله د غوښي پيدا کېدو په وجه مرداره وي او د سپاره سړي بدن ته به ورسېږي .

د سمسارې خوړل حرام دي

﴿۳۹۴۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ شِبْلٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ أَكْلِ لَحْمِ الضَّبِّ . رواه الترمذي .

د حضرت عبدالرحمن بن شبل رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د سمسارې د غوښو خوړلو څخه منع فرمايلې ده . ترمذي.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۵۵، رقم: ۳۷۹۶.

تشريح: دغه حديث د سمسارې پر حرام کېدو باندي دلالت کوي لکه څرنګه د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه مذهب دى او كيداى سي چي مخکي د سمسارې غوښه خوړل مباح وه مګر وروسته د دغه حکم د منع په ذريعه هغه اباحت منسوخ سوى وي .

د پيشي خوړل حرام دي

﴿۳۹۴۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ اَكْلِ الْهِرَّةِ وَاَكْلِ ثَمَنِهَا. رواه ابوداؤد والترمذي .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د پشي د خوړلو او د هغې د قيمت خوړلو څخه منع فرمايلې ده . ابوداؤد او ترمذي

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۶۱، رقم: ۳۸۰۷، والترمذي ۳\۵۷۸، رقم: ۱۲۸۰.

تشريح: د پيشي غوښه خوړل د ټولو علماوو په اتفاق حرامه ده مګر د پيشي پلورل او د هغه بيه د خوراک او څښاک په شيانو کي مصرفول حرام نه دي بلکه مکروه دي .

د خرو، غاترو او درندګانو غوښه حرامه ده

﴿۳۹۵۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ حَرَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي يَوْمَ خَيْبَرَ الْحُمُرَ الْاِنْسِيَّةَ وَلُحُوْمَ الْبِغَالِ وَكُلَّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ د کورني خرونو ، غاترو او هر څيرونکي درنده او په پنجو سره د ښکار کونکو مرغانو غوښه حرامه ګرځولې ده . ترمذي ، او ترمذي ويلي دي چي دا حديث غريب دئ .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۶۱، رقم: ۱۴۷۸.

د لغاتو حل: الحمر الانسية: اى الحمر الاهلية (کورني خرونه)

د آس د غوښو خوړل منع دي

﴿۳۹۵۱﴾: وَعَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْخَيْلِ وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيرِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د آس ، غاتري او خره د غوښي خوړلو څخه منع فرمايلې ده . ابوداؤد او نسائي .

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۵۱، رقم: ۳۷۹۰، والنسائي ۷\۲۰۲، رقم: ۴۳۳۲.

تشريح: دغه حديث چي د هغه څخه د آس د غوښو خوړلو منع ثابتيږي، ضعيف دی ځکه دا د حضرت جابر رضي الله عنه د هغه حديث خلاف کيدای نسي کوم چي مخکي تېر سوی دی او له هغه څخه د آس د غوښو اباحت ثابتيږي ، بيا هم د آس د غوښو د خوړلو منع د اکثرو علماوو په نزد د هغه حديث په ذريعه منسوخ ګرځول سوې ده کوم چي مخکي تېر سوی دی لکه څرنګه چي د حضرت جابر رضي الله عنه د روايت په تشريح کي دغه مسئله په وضاحت سره بيان سوې ده .

د معاهد د مال حکم

﴿۳۹۵۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ فَأَتَتْ

د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د خيبر په ورځ ما د نبي کريم ﷺ په ملګرتيا کي

الْيَهُودُ فَشَكَوْا أَنَّ النَّاسَ قَدْ أَسْرَعُوا إِلَى خَضَائِرِهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

جهاد وکړ ، يهوديان د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او دا شکايت يې وکړ چي خلکو د هغوی د خرماوو په لور تلوار وکړ (يعني خرماوي يې وشکولې) رسول الله ﷺ مسلمانانو ته

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا لَا تَحِلُّ أَمْوَالُ الْمُعَاهَدِينَ إِلَّا بِحَقِّهَا . رواه ابوداؤد .

وفرمايل : خبردار! د هغه خلکو مال حلال نه دئ د چا سره چي معاهده سوې ده مګر په حق سره . ابوداؤد. يعني که ذمي وي جزيه حق ده او که مستامن وي نو په سوداګرۍ سره يې د مال اخستل روا دي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۶۱، رقم: ۳۸۰۶.

تشريح معاهد : هغه سړي ته وايي چي له هغه سره قول او اقرار سوی وي ، که هغه معاهد

ذمي وي نو هغه حق چي د هغه له مال سره متعلق دی جزيه دی او که هغه معاهد مستامن وي او د هغه سره د تجارت مال وي نو د هغه مال سره چي كوم حق متعلق دی هغه پر هغه باندي جاري كېدونكی عشر دی.

ماهی، ملخ، اينه او توری

﴿۳۹۵۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُحِلَّتْ لَنَا مَيْتَتَانِ وَدَمَانِ اَلْمَيْتَتَانِ اَلْحُوتُ وَالْجَرَادُ وَ الدَّمَانِ الْكَبِدُ وَالطِّحَالُ . رواه احمد و ابن ماجة والدار قطني .

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : موږ ته دوه مړه ښېله حلالولو او دوې ويني حلالي كړل سوي دي مړه خو ماهيان او ملخان دي او دوې ويني اينه او توری دئ. احمد ، ابن ماجه او دار قطني.

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۹۷، وابن ماجه ۲\۱۱۰۱، ۱۱۰۲، رقم: ۳۳۱۴، والدار قطني۴\۲۷۱، رقم: ۲۵

پروچه پاته ماهيان

﴿۳۹۵۴﴾: وَعَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

حضرت ابو زبير رضي الله عنه د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَلْقَاهُ الْبَحْرُ أَوْ جَزَرَ عَنْهُ فَكُلُوهُ وَمَا مَاتَ فِيهِ وَطَفَا فَلَا

كوم شی چي درياب وغورځوئ يعني ماهی ، يا اوبه وچي سوې يا اوبه په بل لوري ولاړې (او ماهيان پاته سول) نو هغه ماهيان خورئ او كوم ماهيان چي په اوبو كي مړه سي او د اوبو پر سر

تَأْكُلُوهُ . رواه ابوداؤد وابن ماجه و قال محي السنة الاكثرون على انه موقوف على جابر .

راسي هغه مه خورئ، ابو داؤد، ابن ماجه ، امام محي السنة ويلي دي چي د اكثرو محدثينو په نزد دا پر حضرت جابر رضي الله عنه موقوف دئ.

تخریج: سنن ابي داود ۴\۱۶۵، رقم: ۳۸۱۵، وابن ماجه ۲\۱۰۸۱، رقم: ۳۲۴۸.

تشریح دغه حدیث د امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه د هغه مذهب دلیل دی چې هغه ماهیچې په اوبو کې په مړ کېدو سره را پورته سي، حرام دئ، د صحابه کرامو له یو ډلې څخه همدارنګه نقل سوي دي مګر د امام مالک او امام شافعي رحمة الله علیهما په نزد د داسي ماهي په خوړلو کې څه پرواه نسته ځکه چې رسول الله ﷺ مطلق (احل لکم المیتتان) یعني ستاسو لپاره دوه مړه سوي شیان حلال دي، فرمایلي دي نو میتة بحر یعني د اوبو مړ سوی شی (ماهی) به مطلق حلال وي که څه هم هغه د اوبو څخه د راوتلو وروسته مړ سوی وي یا په اوبو کې په مړ کېدو سره را پورته سوی وي، حنفیه علماء وایي چې د بحر میتة څخه مراد هغه ماهی دی چې دریاب دباندي راغورځولی وي او د هغه وجه مړ سوی وي نه هغه ماهی چې بېله یو آفت په اوبو کې خپله مړ سوی وي.

د ملخ حکم

﴿۳۹۵۵﴾: وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَرَادِ فَقَالَ أَكْثَرُ جُنُودِ اللَّهِ لَا آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ. رواه ابوداؤد وقال محي السنة ضعیف

د حضرت سلمان رضی الله عنه څخه روایت دئ چې د نبي کریم ﷺ څخه د ملخانو په اړه پوښتنه وسول، رسول الله ﷺ وفرمایل ملخان اکثر د الله جل جلاله لښکر دي نه یې زه خورم (ځکه چې زما زړه یې نه غواړي) او نه یې زه حرام ګرځوم. ابوداؤد، محي السنة ویلي دي چې دا حدیث ضعیف دئ.

تخریج: سنن ابي داود ۴\۱۶۵، رقم: ۳۸۱۳.

تشریح ملخان د الله جل جلاله لښکر په دې وجه دي چې کله پر یو ډلې یا قوم باندي الله جل جلاله عذاب راولي نو هغوی ته په ډلو ډلو ملخان ورلیږي چې د هغه قوم فصلونه او درختي وخوري چې په هغه سره وچ کالي رامنځته سي، په تېرو زمانو کې داسي ډېر ځله سوي دي چې کله د یو ځای فصلونه او باغونه د عذاب په وجه ملخانو نیست او نابود کړي دي او په دې وجه هلته وچ کالي راغلې ده نو یوه انسان بل انسان خوړل پیل کړل همدارنګه د هغه ځای تول اوسیدونکي برباد سول، کوم چې د ملخانو مسئله ده نو د هغه خوړل د اکثرو احادیثو په سبب حلال دي د ټولو امامانو همدغه مذهب دی چې ملخ خوړل حلال دی که څه هم خپله مړ سوی وي یا ذبح کړل سوی وي یا د ښکار په ذریعه مړ سوی وي او ښکار هم که مسلمان کړی وي یا مجوسي، او که څه هم

د هغه څخه څه پرې سوي وي یا نه.

چرګ ته بد مه وایاست

﴿۳۹۵۶﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ نَهٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ سَبِّ الدِّيكِ وَقَالَ إِنَّهُ يُؤَذِّنُ لِلصَّلَاةِ. رواه في شرح السنة

د حضرت زید بن خالد رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ چرګ ته د بد ویلو څخه منع فرمایلې ده او دا یې فرمایلي دي چي چرګ د لمانځه لپاره اذان کوي. شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۲\۱۹۹، رقم: ۳۲۷۰.

تشريح: د لمانځه څخه د تهجد لمونځ مراد دی، په حدیث شریف کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ به د تهجد لپاره هغه وخت را پورته کېدی کله چي به چرګ اذان وکړ او دا هم کیدای سي چي د فجر لمونځ مراد وي په دغه صورت کي به دا مطلب وي چي هغه د خپل آذان په ذریعه خبر ورکوي چي د سهار د لمانځه وخت نژدې سوی دي او بیا دوهم وار د هغه آذان د خبرداري لپاره وي، له دغه حدیث څخه ثرګنده سوه چي کله په حیوان کي هم ښه خصلتونه وي نو هغه ته د بد ویلو څخه منع سوې ده نو بیا یو مؤمن ته د بد ویونکي به څه پای وي.

﴿۳۹۵۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسُبُّوا الدِّيكَ فَإِنَّهُ يُوقِظُ لِلصَّلَاةِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت زید بن خالد رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چرګ ته بد مه وایاست ځکه چي هغه د لمانځه لپاره ویښول کوي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۲۱، رقم: ۵۱۰۱.

په کور کي باید د مار سره څرنګه چلن وسي

﴿۳۹۵۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي لَيْلٰى قَالَ قَالَ أَبُو لَيْلٰى قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ

د حضرت عبدالرحمن بن ابو لیلی رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ظَهَرَتِ الْحَيَّةُ فِي الْمَسْكَنِ فَقُولُوا لَهَا إِنَّا نَسْأَلُكِ

په کور کي چي کله مار را ووځي هغه ته دا و وایاست چي موږ ستا څخه د حضرت نوح علیه

بِعَهْدِ نُوحٍ وَبِعَهْدِ سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ أَنْ لَا تُؤْذِيَنَا فَإِنْ عَادَتْ فَاقْتُلُوهَا . رواه الترمذي و ابوداؤد .

السلام او حضرت سليمان بن داؤد عليه السلام د عهد په ذريعه دا غواړو چي ته موږ ته تکليف مه رسوه که ددې څخه وروسته هغه بيا وليدل سو نو مړيې کړئ. ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۶۴- ۶۵، رقم: ۱۴۸۵، وابوداود ۵\ ۴۱۵، رقم: ۵۲۶۰.

تشريح: حضرت نوح عليه السلام هغه وخت د مار څخه قول اخيستی وو کله چي يې په خپل کښتۍ کي حيوانان داخلول.

د مار د انتقام څخه بيرونکي باندي وعيد

﴿۳۹۵۹﴾: وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا رَفَعَ الْحَدِيثَ أَنَّهُ كَانَ يَأْمُرُ بِقَتْلِ الْحَيَّاتِ وَقَالَ مَنْ تَرَكَهُنَّ خَشْيَةَ ثَائِرٍ فَلَيْسَ مِنَّا . رواه في شرح السنة .

حضرت عکرمة رضي الله عنه د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به د مارانو د وژلو حکم کوئ او فرمايل يې چي څوک مار ددې اندېښنې څخه مړ نه کړي چي دويم مار به د هغه څخه بدل واخلي نو هغه زموږ څخه نه دئ. شرح السنة

تخريج: شرح السنة ۱۲\ ۱۹۵، رقم: ۳۲۶۵.

تشريح: د بدلې د بيري مطلب دادی چي هغه د دغه بيري څخه مار مړ نه کړي چي د هغه جوړه زما څخه انتقام وانخلي، کله داسي هم کيږي چي يو سړی يو مار ووژني او بيا د هغه جوړه هغه سړی وچيچي او بدله يې واخلي، وژلی مار که چيري نر وي نو د هغه ښځه انتقام اخيستو ته راځي او که وژل سوی مار ښځه وي نو د هغه نر مار د بدلې اخيستلو لپاره راځي، د جاهليت په زمانه کي د عربو په نزد دغه بيره د يوې عقيدې حد ته رسيدلې وه ، هغوی به ويل چي مار بايد هيڅکله و نه وژل سي که چيري هغه ووژل سي نو د هغه جوړه به خپل انتقام اخلي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم د داسي عقيدې څخه منعه وفرمايل.

﴿۳۹۶۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا سَالَمْنَاهُمْ مُنْذُ حَارَبْنَاهُمْ وَمَنْ تَرَكَ شَيْئًا مِنْهُمْ خِيفَةً فَلَيْسَ مِنَّا . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د كوم وخت څخه چي موږ د مارانو سره جګړه پيل کړې ده د هغه وخت څخه موږ (هيڅکله) د هغوی سره صلح نه ده کړې ځوک چي مار ددې بيرې څخه پرېږدي او مړ يې نه کړي چي هغه به بدله ځيني واخلي نو هغه زموږ څخه نه دئ . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵\۴۰۹، رقم: ۵۲۴۸.

تشريح: په يو بل روايت کي د (منذ حاربناهم) پر ځای (منذ عاديناهم) الفاظ نقل سوي دي يعني کله چي زموږ او مارانو په مينځ کي جګړه او دښمني رامنځته سوه، په هرحال مراد دادی چي د انسان او مار په مينځ کي دښمني او جګړه يو طبعي شی دی چي هر يو دوهم ته تاوان رسوي که انسان مار ووينې نو خامخا د هغه د وژلو هڅه کوي او که مار انسان ووينې نو د هغه د چيچلو څخه پرته نه پاته کيږي بلکه ځينو علماوو دا ويلي دي چي ددغه جنګ او دښمنۍ څخه مراد هغه دښمني ده چي د آدم د اولادې د تخليق څخه مخکي د حضرت آدم عليه السلام او مار په مينځ کي قائمه سوې ده لکه څرنګه چي په يوه روايت کي بيان سوي دي چي کله ابليس لعين د حضرت آدم عليه السلام د دوکې کولو لپاره په جنت کي داخلېدل وغوښتل نو هغه د جنت چوکېدار منع کړ، دغه مار وو چي د ابليس مرسته يې وکړه هغه ابليس په خپله خوله کي په اخيستلو سره جنت ته ورسوی او بيا ابليس لعين حضرت آدم عليه السلام او حواء لپاره د خپل مکر او فريب جال اچولو سره هغوی په وسوسه کي اخته کړل او هغوی دواړو د جنت د هغه درختي څخه خوراک وکړی چي هغه ته د ورتلو څخه منع سوی وه او آخر هغه دواړه له جنت څخه را وايستل سول، او الله جل جلاله، حضرت آدم عليه السلام او حواء عليها السلام، ابليس او مار ته په مخاطب کولو سره وفرمايل: (اهبطوا بعضکم لبعض عدو)، ويل کيږي چي مخکي د مار شکل او صورت ډېر ښکلی او ښائسته وو خو هغه ددغه سخت جرم په عذاب کي چي هغه د ابليس آله کار جوړ سوی د هغه صورت مسخ کړل سو نو مار ددې مستحق دی چي له هغه سره عداوت او نفرت د همېشه لپاره وکړل سي.

څرګنده دي وي چي په : (ما سالمناهم منذ حاربناهم) کي د مارانو لپاره د ذوي العقول ضمير ځکه استعمال سوی دی چي هغوی ته د صلح نسبت سوی دی چي د ذوي العقولو له کار و

څخه دی لکه څرنګه چي په دغه آیت کریمه کي (والشمس والقمر رایتهم لي ساجدین) یعني لمر او سپوږمی لپاره د ذوي العقول ضمیر استعمال سوی دی ، کنه نو د قاعدې په اعتبار د هغوی لپاره د غیر ذوي العقول ضمیر استعمالولو سره دا ویل پکار وه چي : (ما سالمناهم منذ حاربناهن).

﴿۳۹۶۱﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْتُلُوا الْحَيَّاتِ كُلَّهُنَّ فَمَنْ خَافَ ثَأْرَهُنَّ فَلَيْسَ مِنِّي . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ټول ماران وژنئ (یعني هر ډول ماران) څوک چي ددې د بدلې څخه ویرېږي هغه زما څخه نه دئ . ابوداؤد او نسائي .

تخريج: سنن ابي داود ۵\۴۰۹، رقم: ۵۲۴۹، والنسائي ۶\۵۱، رقم: ۳۱۹۳.

تشريح: ددغه حديث د ظاهري مفهوم څخه دا ثابتیږي چي د هر ډول مارانو وژل پکار دي مګر حقیقت دادی چي ددغه عمومي حکم څخه عوامر یعني په کورو کي اوسیدونکي ماران استثناء دي ، یا دا ویل کیږي چي د قتل څخه مراد دادی چي د خبردار کولو څخه وروسته یې وژنئ ، لکه څرنګه چي مخکي د حضرت ابو سائب رضی الله عنه په حدیث کي بیان سوی دی .

﴿۳۹۶۲﴾: وَعَنِ الْعَبَّاسِ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا نُرِيدُ أَنْ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي ما وویل: اې د الله رسوله ! زموږ اراده ده چي د

نَكْنُسَ زَمْزَمَ وَإِنَّ فِيهَا مِنْ هَذِهِ الْجِنَّانِ يَعْنِي الْحَيَّاتِ الصِّغَارَ فَأَمَرَ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِهِنَّ . رواه ابوداؤد .

زمزم څاه پاک کړو په هغه کي پیریان یعني کوچني ماران دي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو د وژلو حکم وکړ . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۵\۴۱۰، رقم: ۵۲۵۱.

تشريح: له دغه حديث څخه څرګندیږي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د هر ډول کوچنیو مارانو د وژلو حکم کړی دی مګر مخته چي کوم حدیث راغلي له هغه څخه دا ثابتیږي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه کي د یو ډول مارانو وژلو څخه منع فرمایلې ده د هغه وجه داده چي په دغه وخت کي د زمزم د څاه د

پاکولو لپاره دهغه ټولو مارانو د وژلو څخه پرته پاکوالی ممکن نه وو حال دا چي په نورو صورتو کي په هغوی کي د ځينو مارانو استثناء ممکن ده .

سپين کوچني ماران مه وژنئ

﴿۳۹۶۳﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اقْتُلُوا الْحَيَّاتِ كُلَّهَا إِلَّا الْجَانَّ الْأَبْيَضَ الَّذِي كَأَنَّهُ قَضِيبُ فِضَّةٍ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ټول ماران وژنئ مګر هغه نري سپين چي د سپينو زرو د لښتي په ډول معلوميږي هغه مه وژنئ . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۴۱۵، رقم: ۵۲۶۱.

تشريح: ددغه مار د وژني څخه ځکه منع فرمايل سوې ده چي هغه تاوان نه رسوي .

کله چي په لوښي کي مچ ولويږي نو هغه ته غوټه ورکړئ او راوه يې کاږئ

﴿۳۹۶۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَقَعَ

د حضرت ابوهريرة رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي د چا (د خوراک

الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَامْقُلُوهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ دَاءً وَفِي الْآخَرِ شِفَاءً وَإِنَّهُ يَتَّقِي بِجَنَاحِهِ الَّذِي فِيهِ الدَّاءُ فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ . رواه ابوداؤد.

او څښاک) په لوښي کي مچ ولويږي نو هغه ته دي غوټه ورکړي ځکه چي ددغه په يوه وزر کي ناروغي ده او په دويم کي شفا ، مچ هغه وزر په لوښي کي مخکي اچوي په کوم کي چي ناروغي ده له دې کبله هغه بايد په لوښي کي غوټه سي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۱۸۲، رقم: ۳۸۴۴.

د لغاتو حل: امقلوه: اى اغمسوه في الطعام (غوټه يې کړئ)

﴿۳۹۶۵﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا

د حضرت ابو سعيد خدري رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي د چا په

وَقَعَ الذُّبَابُ فِي الطَّعَامِ فَامْقُلُوهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ سَمًّا وَفِي الْآخَرِ شِفَاءً وَإِنَّهُ يُقَدِّمُ السَّمَّ وَيُؤَخِّرُ الشِّفَاءَ. رواه في شرح السنة.

خوراک کي مچ ولويږي نو هغه ته دي غوټه ورکړي ځکه چي د هغه په يوه وزر کي زهر دي او په دويم کي شفاء، او مچ زهر والا وزر مخکي اچوي بيا شفاء والا. شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۱\۲۶۱، رقم: ۲۸۱۵.

د څلورو حيوانانو وژل منع دي

﴿۳۹۶۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ أَرْبَعٍ مِنَ الدَّوَابِّ النَّمْلَةُ وَالنَّحْلَةُ وَالْهُدْهُدُ وَالصُّرَدُ. رواه ابوداؤد.

حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د څلورو ډولو حيوانانو د وژلو څخه منع فرمايلې ده: (۱) ميږی (۲) د شاتو مچ موچۍ (۳) ملا چرګک (هد هد) (۴) او لاټو (يو ډول مرغۍ ده چي توره يا توربخونه وي). ابوداؤد. وژل يې ځکه منع دي چي چوغکي خوري نو په دې خاطر غوښه يې حرامه ده نو چي غوښه يې حرامه سوه نو بې ګټې وژل يې منع دي.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۴۱۸، رقم: ۵۲۶۷، والدارمي ۲\۱۲۱، رقم: ۱۹۹۹.

د لغاتو حل: الصرد: طائر ضخم الراس والمنقار له ريش عظيم نصفه ابيض ونصفه اسود. (يو ډول مرغه)

تشريح: د مېږيانو د وژني څخه د منع مراد دادی چي هغه دي تر هغه وخته پوري نه وژل کيږي تر څو چي ځوک ونه چيچي، که يې وچيچي نو بيا يې وژل جائز دي، ځيني حضرات وايي د کوم ميږي د وژني څخه چي منع فرمايل سوې ده د هغه څخه هغه غټ مېږيان مراد دي چي د هغه پښې اوږدې اوږدې وي او د هغه وژل ځکه منع دي چي د هغه په چيچلو سره تاوان نه رسيږي.

د عسلو موچۍ وژل ځکه منع دي چي له هغه څخه انسان ته ډېري ګټې رسيږي په دې توګه چي عسل او موم د هغه په ذريعه تر لاسه کيږي.

هُدهُد (ملا چرګک) يو مرغه دی، صرد هم يو مرغه ته وايي چي لوی سر، لويه موښوکه او لوی لوی وزرو والا دي چي نيم تور وي او نيم سپين وي، ځيني حضرات وايي چي هغه ښکاري مرغه دی چي د مرغانو ښکار کوي د دغه دواړو مرغانو له وژلو څخه ځکه منع سوې ده چي د

هغه خوړل حرام دي او کوم حيوانان او مرغان چې نه خوړل کيږي د هغو وژل منع ګرځول سوي دي او ځيني حضرات وايي چې په هد هد کي بدبويي وي ځکه هغه د جلالة په حکم کي راځي ، عربو د هُدهُد او صرد آوازونه بدفاله ګڼل په دې وجه هم رسول الله ﷺ د دوی د وژلو څخه منع وفرمايل چې د خلکو زړونه د هغوی د بدوالي د عقيدې څخه راووځي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

حلال او حرام د الله ﷻ کار دئ

﴿۳۹۶۷﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَأْكُلُونَ أَشْيَاءَ وَيَتْرُكُونَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د جاهليت په زمانه کي خلکو ځيني شيان خوړل او

أَشْيَاءَ تَقَذُّرًا فَبَعَثَ اللّٰهُ تَعَالَى نَبِيَّهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْزَلَ كِتَابَهُ وَأَحَلَّ

ځيني يې نه خوړل ، بيا الله تعالى خپل نبي راوليږئ او خپل کتاب يې نازل کړ او خپل حلال شيان

حَلَالَهُ وَحَرَّمَ حَرَامَهُ فَمَا أَحَلَّ فَهُوَ حَلَالٌ وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ وَمَا سَكَتَ

يې حلال او حرام شيان يې حرام ګرځولي دي ، اوس کوم شيان چې الله تعالى حلال کړي دي هغه حلال دي او کوم شيان چې الله تعالى حرام کړي دي هغه حرام دي، او په کوم شي کي چې يې سکوت (چوپتيا) اختيار کړې ده هغه معاف دي ،

عَنْهُ فَهُوَ عَفْوٌ وَتَلَا { قُلْ لَا أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً } الْآيَةِ . رواه ابوداؤد .

بيا يې دا آيت تلاوت کړ (قل لا اجد ....) اې محمد ﷺ ! خلکو ته ووايه کوم شی چې د وحي په ذريعه ما ته راليږل سوی دئ زه په هغه کي هيڅ شی پر خوړونکي حرام بيا نه تر لاسه کوم مګر چې هغه مردار وي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۱۵۷/۱۴، رقم: ۳۸۰۰.

تشريح: د (حلاله) په لفظ کي مصدر استعمال سوی دی چې د مفعول قائم مقام دی ، معنی يې داده چې الله تعالى د خپل نبي راليږل او د خپل کتاب د نزول په ذريعه يې هغه شی ظاهر او

واضح کړ کوم چي حلال سوی دی.

حضرت ابن عباس رضي الله عنه چي کوم آیت تلاوت کړ هغه آیت دغه دی:

(قُل لاَّ أَجِدُ فِي مَا أُوْحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلاَّ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ) سورة الانعام: ۱۴۵.

ژباړه: اې محمد! (ﷺ) دوی ته ووایه چي کوم احکام د وحي په ذریعه ما ته راغلي دي په هغه کي زه څه حرام خوراک نه وینم د خوړونکي لپاره چي هغه وخوري مګر دا چي هغه مردار (مړ سوی) وي، یا بهېدونکې وینه وي یا د خنزیر غوښه وي ځکه چي هغه بالکل ناپاک دي یا کوم حیوان چي د شرک ذریعه وي چي د غیر الله په نامه سره اېښودل سوی وي.

دغه آیت کریمه حضرت ابن عباس رضي الله عنه د هغه خلکو په رد کي ووایه چي هغوی محض د خپل خواهش په وجه د یو شي د حلالوالي او حراموالي فیصله کول، چي کوم شي ته به یې شوق کېدی هغه به یې حلال ګڼی او خوړی به یې او له کوم شي څخه چي به یې بد کېدل هغه به یې حرام ګڼی، نو حضرت ابن عباس رضي الله عنه پر هغه خلکو باندي د دغه آیت کریمه په ذریعه دا واضحه کړل چي حلال هغه شیان دي کوم چي الله تعالی او د هغه رسول ﷺ حلال ګرځولي دي او حرام هغه شیان دي چي الله تعالی او د هغه رسول ﷺ حرام ګرځولي دي نه دا چي د حراموالي او حلالوالي تعلق د نفس د خواهش سره دی.

د حیوانانو او غوښو په اړه چي د کومو شیانو د حرام کېدو حکم په کتاب الله کي بیان سوی دی هغه هم هغه دی کوم چي په دغه آیت کي ذکر سوي دي د دې څخه پرته د نورو شیانو حرمت له سنت نبوي ﷺ څخه ثابت سوي دي او هغه زیات دي ځکه ابن عباس رضي الله عنه د هغه په اړه نقل سوي حدیثونه بیان نه کړل محض د دغه آیت کریمه پر تلاوت یې اکتفاء وکړل.

د خره د غوښي ممانعت

﴿۳۹۶۸﴾: وَعَنْ زَاهِرٍ الْأَسْلَمِيِّ قَالَ إِنِّي لَأُوقِدُ تَحْتَ الْقِدْرِ بِلُحُومِ الْحُمُرِ إِذْ

د حضرت زاهر اسلمي رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د خره غوښه په خپل کټو کي پخول چي د

نَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَاكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ. رواه البخاري.

رسول الله ﷺ اعلان كونكي دا اعلان وكړ چي رسول الله ﷺ د خرو د غوښو خوړلو څخه منع فرمايلي ده. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۵۱، رقم: ۴۱۷۳.

د پيريانو ډولونه

﴿۳۹۶۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ يَرْفَعُهُ اَلْجِنُّ ثَلَاثَةُ أَصْنَافٍ صِنْفٌ لَّهُمْ أَجْنِحَةٌ يَّطِيْرُوْنَ فِي الْهَوَاءِ وَصِنْفٌ حَيَّاتٌ وَّكِلَابٌ وَّصِنْفٌ يَّحُلُّوْنَ وَيَظْعَنُوْنَ. رواه في شرح السنة.

د حضرت ابو ثعلبه خشني ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د پيريانو درې ډوله دي يو خو هغه دي چي د هغوی وزران وي او هغوی الوځي دويم ډول ماران دي او سپيان دي او دريم ډول هغه دي چي په كورو كي ديره كيږي هم او كوچ هم كوي. شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۲\۱۹۵، رقم: ۳۲۶۴.

=============

بَابُ الْعَقِيْقَةِ (د عقيقې بيان)

عقيقه د عَقّ څخه مشتق دی، د عق معنی په لغت كي د څيرلو ده او په اصطلاح كي عقيقه هغه ويښتانو ته وايي چي د پيدا سوي ماشوم په سر كي وي، دغه ويښتانو ته عقيقه ځكه ويل كيږي چي هغه ويښتان په اوومه ورځ خريل كيږي او په دغه مناسبت سره عقيقه هغه پسه ته هم وايي چي د ماشوم د سرخريلو پر وخت ذبح كيږي.

د عقيقې شرعي حيثيت: د عقيقې د شرعي حيثيت په اړه اختلافي قولونه دي، ائمه ثلاثه يعني امام احمد، امام مالک او امام شافعي رحمة الله عليهم په نزد عقيقه سنت ده او د اكثرو حديثو څخه هم سنت كېدل ثابتيږي، د امام احمد رحمة الله عليه څخه يو روايت دا هم دی چي عقيقه واجب ده، د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه په اړه ويل كيږي چي د هغه په نزد عقيقه سنت نه ده بلكه مستحب ده چي له سنتو څخه ثابته ده، مشهور حنفي امام احمد رحمة الله عليه په خپل كتاب مؤطا كي

دا ليکلي دي چي موږ ته دا خبره را رسېدلې ده چي عقيقه په اصل کي د جاهليت د زمانې يو رسم وو چي د اسلام په پېل کي رواج نه وو بيا قربانۍ د هر هغه ذبح وجوب منسوخ کړ چي د قربانۍ څخه مخکي رواج وو، او د رمضان روژو د هر هغه روژو وجوب منسوخ کړ چي تر دې مخکي رواج وو، د جنابت غسل د هر هغه غسل وجوب منسوخ کړ چي تر دې مخکي رواج وو، زکوة د هري هغه صدقې وجوب منسوخ کړ چي تر دې مخکي رواج وو.

د عقيقې احکام: کوم احکام او شرطونه چي د قربانۍ په اړه نقل سوي او معتبر دي هغه احکام او شرطونه د عقيقې په اړه هم منقول او معتبر دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د عقيقې کولو حکم

﴿۳۹۷۰﴾: عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ الضَّبِّيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ مَعَ الْغُلَامِ عَقِيقَةٌ فَأَهْرِيقُوا عَنْهُ دَمًا وَأَمِيطُوا عَنْهُ الْأَذٰى. رواه البخاري.

د حضرت سلمان بن عامر ضبي رضی الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي د هلک د پيدا کېدو سره عقيقه کول سنت ده د هغه د لوري خون (ذبح) ورکړئ او د هغه څخه ضرر من شی ليري کړئ. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹/۵۹۰، رقم: ۵۴۷۱.

تحنيک

﴿۳۹۷۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُؤْتَى بِالصِّبْيَانِ فَيُبَرِّكُ عَلَيْهِمْ وَيُحَنِّكُهُمْ. رواه مسلم.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته به د دعاء لپاره کوچنی راوستل سو، رسول الله ﷺ به د هغه لپاره د برکت دعاء کول او د هغه د تالو سره به يې ژول سوې خرما موښلول. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱/ ۲۳۷، رقم: ۱۰۱- ۲۸۶.

تشریح: (تحنیک) دې ته وايي چي خرما یا بل خوږ شی په ژوولو سره د ماشوم پر تالو ومو ږل سي، تحنیک یو سنت عمل دی او غوره داده چي تحنیک کونکی یو نېک او صالح سړی وي.

﴿۳۹۷۲﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّهَا حَمَلَتْ بِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ بِمَكَّةَ

د حضرت اسماء بنت ابي بکر (رض) څخه روایت دئ چي په مکه کي عبدالله بن زبیر د هغې په

قَالَتْ فَوَلَدْتُ بِقُبَاءٍ ثُمَّ أَتَيْتُ بِهِ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعْتُهُ

نس سو بیا هغه په قبا کي پیدا سو، زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوم او هغه مي د

فِي حَجْرِهِ ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ فَمَضَغَهَا ثُمَّ تَفَلَ فِي فِيهِ ثُمَّ حَنَّكَهُ بِالتَّمْرَةِ ثُمَّ دَعَا وَبَرَّكَ عَلَيْهِ وَكَانَ أَوَّلَ مَوْلُودٍ وُلِدَ فِي الْإِسْلَامِ. متفق علیه.

رسول الله ﷺ په غیږ مبارکه کي کښېښنودئ، رسول الله ﷺ خرما راوغوښتل هغه یې په خپلو غاښونو مبارک پسته کړل بیا یې د خپل خولې مبارکي ناړي د عبدالله په خوله کي واچولې او د خرما لعاب یې د هغه د تالو سره وموښلول بیا یې هغه لپاره دعاء وکړه او (بارک الله علیک) یې ورته وویل، عبدالله لومړی کوچنی وو چي د اسلام په عهد کي پیدا سوی دئ. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۲۴۸، رقم: ۳۹۰۹، ومسلم ۱۳\۱۶۹۱، رقم: ۲۶- ۲۱۴۶.

تشریح: قُباء د مدینې منورې څخه جنوب لویدیځ ته تقریبا پر یونیم میل فاصله باندي یوه سیمه ده، له مکې څخه مدینې منورې د هجرت په سفر کي د رسول الله ﷺ د غه آخري پړاو وو چي رسول الله ﷺ مدینې ته له داخلېدو څخه مخکي تم سوی وو او درې یا څلور ورځي قیام یې کړی وو، چیري چي رسول الله ﷺ قیام کړی وو هلته د یو مسجد بنیاد کښېښنودل سو چي هغه ته مسجد قباء وايي، قباء که څه هم له مدینې څخه وتلی دی مگر تعلق یې یو ډول دی په هغه ځای کي ډېره شنکیا او د مختلفو گلانو او میوو باغونه دي، په قباء کي د اریس په نامه یو څاه دی دلته رسول الله ﷺ څو صحابه کرامو ته د جنت زیری ورکړی وو او په هغه ځای کي د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت په زمانه کي د رسول الله ﷺ هغه گوتمۍ لوېدلې وه چي په هغه سره به رسول الله ﷺ او د هغه څخه وروسته خلفاء راشدینو مهر لگوی، د دغه څاه اوبه ډېري تروې وې، ویل کیږي چي رسول الله ﷺ خپل ناړي مبارکي په دغه څاه کي واچولې نو د هغه اوبه خوږې

سوې مګر اوس دغه ځاه وچ سوی دی.

عبدالله ابن زبير رضي الله عنه لومړی کس وو ...الخ: مطلب دادی چې د هجرت څخه وروسته په مهاجرينو کې تر ټولو وړاندې ماشوم چې پيدا سو هغه عبدالله بن زبير رضي الله عنه وو، د مهاجرينو قيد ځکه لګول سوی دی چې د هجرت څخه وروسته د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه د زيږېدني څخه مخکې هم په مدينه کې د مسلمانانو تر ټولو لومړی پيدا کېدونکې ماشوم نعمان ابن بشير انصاري رضي الله عنه وو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د عقيقې د حيوانانو شمېر

﴿۳۹۷۳﴾: عَنْ أُمِّ كُرْزٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَقِرُّوا

د حضرت ام کرز (رض) څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې مرغان د

الطَّيْرَ عَلَى مَكِنَاتِهَا قَالَتْ وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ عَنِ الْغُلَامِ شَاتَانِ وَعَنِ الْجَارِيَةِ

هغوی په ځالو کې په کراره پرېږدئ (يعني د هغوی ځالي مه خرابوئ) او د رسول الله ﷺ څخه مي دا اوريدلي دي چې د هلک په عقيقه کې دوه پسونه او د انجلۍ په عقيقه کې يو پسه او د

شَاةٌ لَا يَضُرُّكُمْ أَذُكْرَانًا كُنَّ أَمْ إِنَاثًا . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي من قوله يقول عن الغلام الى آخره وقال الترمذي هذا حديث صحيح .

دوی په نر او ښځې کې څه تاوان نه رسيږي يعني د نر او ښځې حيوان تخصيص نسته. ابوداؤد او ترمذي، او د نسائي په روايت کې د يقول عن الغلام څخه تر آخري پوري دئ. او ترمذي ويلي دي چې دا حديث صحيح دئ.

تخريج: سنن ابي داود ۳\ ۲۵۷، رقم: ۲۸۳۵، والترمذي ۴\ ۸۲، رقم: ۱۵۱۶، والنسائي ۷\ ۱۶۵، رقم: ۴۲۱۷.

تشريح: (مَكِنات) د ميم په زور او د کاف په زېر او زور دواړو سره ويل کيږي، د مشکوة په يوه نسخه کې د کاف په پېښ سره هم نقل سوی دی او معنی يې د مکان ده.

د دغه ارشاد (مرغان د هغوی په ځالو کې پرېږدئ) مطلب دادی چې دغه مرغان د هغوی په

ځالو کي پرېږدئ او په هواء کوئ يې مه، ځيني حضرات وايي چي مکنات په اصل کي د مکنة جمع ده او معنی يې د سمسارې د هګيو ده، مګر دلته دغه لفظ مطلق د هګيو په معنی کي استعمال سوی دی، په دغه صورت کي به د ارشاد مطلب دا وي که چيري مرغان پر هګيو ناست وي نو هغوی ته د الوتلو تکليف مه ورکوئ، يا د دغه ارشاد تعلق د تطير او بدفالۍ اخيستلو څخه منع ده لکه څرنګه چي په عربو کي دا قاعده وه چي کله به يو چا د يو کار کولو قصد کوی يا د سفر کولو اراده به يې کول نو د مرغانو ځالي ته به ورتلی او هغه به يې په هواء کولې، که چيري هغه مرغه به راسته خوا ته ولاړی نو مبارک به يې ګڼی او د نېک فال په اخيستني سره به يې هغه کار کوی يا به په سفر تلی، او که چيري هغه مرغه به چپه خوا ته ولاړی نو د هغه کار او سفر څخه به منع کېدی، دې ته تطير وايي، رسول الله ﷺ له دې څخه منع وفرمايل چي مرغه چيري وي هم هلته يې پرېږدئ او هغه مه په هواء کوئ او مه په هغه سره بد فالي کوئ.

د عقيقې اهميت

﴿۲۹۷۴﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت حسن د سمرة (رض) څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

الْغُلَامُ مُرْتَهَنٌ بِعَقِيقَتِهِ تُذْبَحُ يَوْمَ السَّابِعِ وَ يُسَمّٰى وَيُحْلَقُ رَأْسُهُ. رواه

هلک د عقيقې په بدله کي ګرو دئ، په اوومه ورځ دي پسه ذبح کړي عقيقه دي وکړي د هغه نوم دي کښېږدي او د هغه سر دي وخريي.

احمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي لكن في روايتهما رهينة بدل مرتهن و في رواية لاحمد و ابي داؤد يدمي مكان ويسمى و قال ابوداؤد يسمى اصح.

احمد، ترمذي او ابوداؤد او نسائي دواړو په روايت کي د مرتهن پر ځای د رهينة لفظ دئ او د احمد او ابوداؤد په روايت کي د يسمى پر ځای و يدعى دئ. ابوداؤد ويلي دي چي يسمى زيات صحيح دئ.

تخريج: مسند الامام احمد ۵ \ ۱۲، والترمذي ۴ \ ۸۵، رقم: ۱۵۲۲. وابوداود ۳ \ ۲۶۰، رقم: ۲۸۳۸، والنسائي ۷ \ ۱۶۶، رقم: ۴۲۲۰.

تشريح: څرګنده ده چي ماشوم مکلف نه وي که د هغه عقيقه ونه کړل سي نو د هغه د ماخوذ

کېدو سوال هم نه پيدا کيږي په دغه صورت کي دا سوال پيدا کيږي چي بيا د عقيقې په عوض کي د ماشوم د ګرو کېدو څه مطلب دی ، امام احمد رحمة الله عليه د دغه ارشاد مطلب دا بيان کړی دی چي د کوم ماشوم عقيقه ونسي او هغه په کم عمری کي مړ سي نو هغه د خپل مور او پلار د شفاعت څخه منع کيږي تر څو چي مور او پلار د هغه عقيقه ونه کړي او هغه به د هغوی په حق کي د شفاعت کولو اهل نه وي ، ځينو حضراتو دا معنی بيان کړې ده چي تر څو پوري مور او پلار د کوچني عقيقه ونه کړي نو هغه د سلامتی ، آفاتو او غوره روزني څخه منع کيږي او بيا چي د هغه کوم خراب نتائج رامنځته کيږي نو په حقيقت کي د مور او پلار د مؤاخذې سبب وي چي عقيقه هغوی پرې ايښې ده او ځيني حضرات وايي چي د ګرو کېدو څخه مراد دادی چي هغه ماشوم د خپلو وېښتانو په چټلۍ او تکليف کي اخته وي ، لکه څرنګه چي په يو حديث کي راغلي دي (فاميطوا عنه الاذى) يعني ماشوم د تکليف څخه وساتئ، يعني د هغه وېښتان ، وينه وغيره پاک کړئ کله چي د ماشوم عقيقه وسي نو د هغه د سر وېښتان وغيره په پاکېدو سره هغه ته د تکليف څخه خلاصون تر لاسه سي .

(يُدَحی) د ياء په پېښ ، د دال په زور او د ميم مفتوحه په شد سره دی، او د تدميه څخه مشتق دی چي معنی يې په وينه لړلو ده او په يوه روايت کي (و يسمی) يعني د هغه نوم يې کښېښود پر ځای د يدمی دی مګر څرنګه چي ابوداؤد ويلي دي زيات صحيح دادی چي په دغه ځای کی بايد و يسمی سي مګر قتاده رضي الله عنه د يدمی شرح دا کړې ده چي کله د عقيقه څاروی ذبح کړل سي نو د هغه لږ وېښتان دي واخلي او د هغه د غاړې مخته دي کښېښودل سي چي هغه وېښتان په وينه ولړل سي کوم چي د ذبح کولو په وخت کي د هغه د غاړې د رګونو څخه راوځي او بيا په وينه لړل سوي وېښتان دي د هغه ماشوم پر جامه باندي داسي کښېښودل سي چي وينه د هغه پر جامې د ليکي په صورت کي وبهيږي او ددې وروسته دي د ماشوم د سر په پرېولو سره هغه وخريل سي ، د سفر السعادت مصنف ليکلي دي چي دغه تدميه دي نه ورکول کيږي ځکه چي په روايت کي د يدمی لفظ د راوي له خوا تحريف دی چي د رسول الله ﷺ د ارشاد سره هيڅ تعلق نه لري او نه له رسول الله ﷺ څخه تدميه ثابته ده ، رسول الله ﷺ د امام حسن او امام حسين رضي الله عنهما عقيقه وکړه مګر دغه عمل (تدميه) يې ونه کړه او دا يې هم ليکلي دي چي دغه عمل په اصل کي د جاهليت د زمانې يو رواج وو چي منسوخ کړل سو لکه څرنګه چي ددغه باب په دريم فصل کي له راتلونکي حديث څخه څرګنديږي .

علماوو ليکلي دي چي د ابوداؤد په روايت کي د يدمی نقل کېدل د حديث د راوي همام

وهم دی او قتاده رضي الله عنه دغه لفظ په تشريح کي چي څه ليکلي دي هغه منسوخ دي ، خطابي رحمة الله عليه ويلي دي: رسول الله ﷺ د ماشوم د بدن څخه د اذيت او مرداری ليري کولو حکم و فرمايه نو د هغه سر په وينه سره په لړلو سره د نجس کولو حکم څرنګه کېدای سي بيا هم ځينو علماوو د ماشوم د سر په وينه سره لړلو پر ځای په خلوق او زعفران په ډول خوشبويي سره لړل نقل کړي دي

د حضرت حسن رضي الله عنه عقيقه

﴿۳۹۷۵﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ عَقَّ

حضرت محمد بن علي بن حسين رضي الله عنه د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت کوي چي

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْحَسَنِ بِشَاةٍ وَقَالَ يَا فَاطِمَةُ احْلِقِي

رسول الله ﷺ د حسن رضي الله عنه عقيقه په يوه پسه سره وکړه او وه يې فرمايل اې فاطمې ! دده سر

رَأْسَهُ وَتَصَدَّقِي بِزِنَةِ شَعْرِهِ فِضَّةً فَوَزَنَاهُ فَكَانَ وَزْنُهُ دِرْهَمًا أَوْ بَعْضَ دِرْهَمٍ .

وخريه او د ويښتانو په وزن سپين زر صدقه کړه ، مور ويښتان وزن کړل نو هغه يو درهم يا تر درهم کم وه.

رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب و اسناده ليس بمتصل لان محمد بن علي بن حسين يدرك على بن ابي طالب .

ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ. ددې حديث اسناد مسلسل او متصل نه دي ځکه چي محمد بن علي بن حسين حضرت علي ابن طالب نه وو ليدلی

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۸۴، رقم: ۱۵۱۹.

تشريح: له دغه حديث څخه څرګنده سوه چي د هلک په عقيقه کي يو پسه هم ذبح کيدای سي ، ابوداؤد هم د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه دا روايت نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ د حضرت حسن او حضرت حسين رضي الله عنهما له خوا په عقيقه کي يو پسه ذبح کړ ، دغه حديث مخته را روان دی مګر نسائي د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه د دوو پسو روايت نقل کړی دی او حضرت بريده رضي الله عنه مطلق نقل کړي دي چي رسول الله ﷺ د حضرت حسن او حضرت حسين رضي الله عنهما له خوا عقيقه وکړل .

د سفر السعادت مصنف ليکلي دي : که څه هم د يوه پسه روايت هم صحيح دی مګر زيات

ټینګ او صحیح هغه روایت دی چې په هغه کې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې د هلک په عقیقه کې دوه پسونه دي ځکه چې دغه روایت د صحابه کرامو یوې ډلې نقل کړی دی او د هلک په عقیقه کې د دوو پسو ذبح کولو د ترجیح ورکولو یوه بله وجه داهم ده چې یو پسه ذبح کول د رسول الله ﷺ د عمل څخه ثابت دي او دوه پسونه ذبح کول د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه ثابت دي او څرګنده ده چې کوم شی په قول سره ثابت وي هغه تر فعل زیات ټینګ او زیات مکمل ګڼل کیږي ځکه چې د فعل په باره کې دا هم کیدای سي چې هغه له یو خاص حالت سره متعلق وي او په قول کې عمومیت او اکملیت وي، یوه خبره دا هم وه چې فعل خو محض پر جواز باندي دلالت کوي او د قول د جواز سره استحباب هم ثابتیږي ، ترمذي رحمه الله ویلي دي: په دې اړه چې د کومو صحابه کرامو روایتونه نقل سوي دي هغه دادي : حضرت علي، بي بي عائشه، بي بي ام کرز، حضرت بریده، حضرت سمره، حضرت ابوهریره، حضرت عبدالله، حضرت سلیمان ابن عامر او حضرت ابن عباس رضي الله عنهم اجمعین.

ملا علي قاري رحمة الله علیه دا لیکلي دي چې کیدای سي د هلک په اړه د استحباب کم از کم درجه یو پسه وي او کمال د استحباب دوه پسونه وي ، په کوم حدیث کې چې د یوه پسه ذکر دی د هغه په باره کې دا کیدای سي چې دغه حدیث پر کمي درجې باندي د اکتفاء کولو د جواز ظاهرولو لپاره وي یا دا چې دغه حدیث په اصل کې پر دې دلالت کوي چې دا لازمه او ضروري نه ده چې د هلک په عقیقه کې دي چې دوه پسوه یا دوې مېږي ذبح کېږي هغه دي په اوومه ورځ ذبح سي نو کیدای سي چې رسول الله ﷺ د حسن او حسین رضي الله عنهما له خوا یو یو پسه د هغوی د زېږېدني په ورځ ذبح کړی وي او دوهم پسه یې په اوومه ورځ ذبح کړی وي چې ددغه تاویل او وضاحت په صورت کې ددغه ټولو روایتو په مینځ کې مطابقت پیدا سي او هیڅ سوال پاته نسي، یا دا ویل کیږي چې رسول الله ﷺ د یوه پسه په ذریعه عقیقه کړې وي او بیا یې حضرت علي او بي بي فاطمې رضي الله عنهما ته حکم کړی وي چې دوهم پسه هغوی ذبح کړي.

د هغه سر وخریه : دغه حکم یا خو حقیقتا وو چې اې فاطمې رضي الله عنها! ته په خپل لاس سره د هغه سر وخریه، یا دا مطلب وو چې بل چا ته حکم وکړه چې دده سر وخریي، دغه امر یعني د رسول الله ﷺ له خوا د سر خریلو حکم د استحباب په توګه دی همدارنګه د ویښتانو د وزن کولو حکم هم د استحباب په توګه دی.

د حسنينو عقيقه

﴿۳۹۷۶﴾: وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَّ عَنْ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ كَبْشًا كَبْشًا. رواه ابوداؤد و عند النسائي كبشين كبشين

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د حضرت حسن او حضرت حسين رضي الله عنهما عقيقه په يوه يوه پسه سره وکړه. ابوداؤد، او نسائي د دوو دوو پسونو روايت کړی دئ

تخريج: سنن ابي داود ۳\۲۶۱، رقم: ۲۸۴۱، والنسائي ۷\۱۶۶، رقم: ۴۲۱۹.

د عقوق معنا

﴿۳۹۷۷﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ

عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي د رسول الله ﷺ څخه د عقيقې د مسئلې په اړه وپوښتل سوه،

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْعَقِيقَةِ فَقَالَ لَا يُحِبُّ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ الْعُقُوقَ

رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی عقوق نه خوښوي (د عاق معنا ده نافرماني کونکی) مطلب

وَكَأَنَّهُ كَرِهَ الِاسْمَ وَ قَالَ مَنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ فَأَحَبَّ أَنْ يَنْسُكَ عَنْهُ فَلْيَنْسُكْ عَنْ الْغُلَامِ شَاتَانِ وَعَنْ الْجَارِيَةِ شَاةٌ. رواه ابوداؤد والنسائي.

رسول الله ﷺ د عقوق لفظ بد ګڼئ بيا رسول الله ﷺ وفرمايل د چا چي کوچنی پيدا سي نو غوره داده چي د هغه د لوري ذبح وکړي يعني د هلک د لوري دوه پسونه او د انجلۍ د لوري يو پسه. ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داود ۳\۲۶۲، رقم: ۲۸۴۲، والنسائي ۷\۱۶۲، رقم: ۴۲۱۲.

تشريح: الله جل جلاله عقوق نه خوښوي: ددې مطلب دادی چي کوم څوک دا غواړي چي د هغه زوی لوی عمر ته په رسېدو سره د مور او پلار په حق کي عاق نه وي يعني د مور او پلار نافرماني کونکی نه وي نو هغوی بايد د هغه په وړکتوب کي د عقيقې څاروی ذبح کړي څکه

چي د مور او پلار عقوق يعني د مور او پلار د خپل ماشوم عقيقې نه ذبح كولو سره يو ډول نافرماني كوي ، او دا په اصل كي د هلک د عقوق يعني د نافرمانۍ كېدو سبب كيږي او الله ﷻ عقوق په هيڅ حالت كي نه خوښوي، په دغه اعتبار سره د حديث الفاظ (من ولد له) يعني د چا چي زوى پيدا سي ...الخ، د تمهيد په توګه دي .

يعني رسول الله ﷺ دغه فعل د عقيقې په لفظ سره موسوم كول خوښ نه كړل ، د روايت دغه الفاظ دراوي دي ، رسول الله ﷺ عقيقه د عقيقه په لفظ سره خوښ نه كړل چي دا ګمان ونسي چي عقيقه د عقوق څخه مشتق ده چي د هغه معنى د مور او پلار څخه سركښي او د هغوى نافرماني كول دي، او رسول الله ﷺ دا خوښ كړل چي هغه دي په غوره نامه لكه ذبيحه يا نسيكه سره ونومول سي(نهايه)، مګر توريشتي رحمه الله ويلي دي چي د رسول الله ﷺ له خوا ددې خبري نسبت چي رسول الله ﷺ عقيقه ويل ناخوښ كړل غير موزون دي حال دا چي رسول الله ﷺ په خپل څومره ارشاداتو كي د عقيقې لفظ استعمال كړى دى كه چيري د رسول الله ﷺ په نزد دغه لفظ ناخوښ واى نو د هغه ذكر به يې نه فرمايلاى مګر په دې اړه كه چيري دا وويل سي نو زياته غوره به وي چي دا احتمال دى چي پوښتنه كونكي دا ګمان كړى وي چي په ماده اشتقاق كي د عقيقې او عقوق مشترک كېدل ددې خبري متقاضي دى چي د حكم په اعتبار د عقيقې زيات ارزښت نه وي مګر رسول الله ﷺ د خپل جواب په ذريعه دا څرګنده كړه چي امر واقعې ددې خلاف دى ، شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله د نهايه د ذكر سوي وضاحت له نقل كولو څخه وروسته ليكلي دي چي كوم حديثونه د رسول الله ﷺ څخه د عقيقې په لفظ سره ذكر كول منقول دي نو هغه له دغه څخه كراهت څخه مخكي دي .

د كوچني په غوږ كي اذان سنت دى

﴿۳۹۷۸﴾ :وَعَنْ اَبِيْ رَافِعٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذَّنَ فِي

د حضرت ابو رافع رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما وليدل كله چي حسن بن علي رضي الله عنه د بي بي فاطمې رضي الله عنها څخه وزېږيدى

أُذُنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ حِينَ وَلَدَتْهُ فَاطِمَةُ بِالصَّلَاةِ . رواه الترمذي و ابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

نو رسول الله ﷺ د لمانځه په ډول د هغه په غوږ كي آذان وكړ . ترمذي او ابوداؤد .ترمذي ويلي

دي دا حديث حسن صحيح دئ

تخريج: سنن الترمذي ۴ ۸۲، رقم: ۱۵۱۴، وابوداود ۵\ ۳۳۳، رقم: ۵۱۰۵.

تشريح له دغه حديث څخه څرګنده سوه چي د ماشوم د زېږېدني څخه وروسته د هغه په غوږ کي اذان کول سنت دي ، مسند ابو ليلى په موصلي کي له حضرت حسين رضي الله عنه څخه په مرفوع طريقه نقل کړي دي چي د چا ماشوم پيدا سي او د هغه په راسته غوږ کي اذان وکړي او په چپه غوږ کي يې اقامت وکړي نو هغه ته به د ام الصبيان څخه تاوان نه رسيږي او د امام نووي په کتاب الروضه کي ليکلي دي چي د ماشوم په غوږ کي دغه الفاظ ويل هم مستحب دي : (اني اعيذها بک و ذريتها من الشيطان الرجيم) .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د عقيقې ورځ

﴿۳۹۷۹﴾: عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا وُلِدَ لِأَحَدِنَا غُلَامٌ ذَبَحَ شَاةً

د حضرت بريدة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د جاهليت په ورځو کي کله چي به په موږ کي د يو چا کوچنی پيدا سو نو يو پسه به يې ذبح کوئ

وَلَطَخَ رَأْسَهُ بِدَمِهَا فَلَمَّا جَاءَ اللَّهُ بِالْإِسْلَامِ كُنَّا نَذْبَحُ شَاةً يوم السابع

او د هغه په وينه به يې د کوچني سر لړی ، بيا چي اسلام راغلی نو موږ په اوومه ورځ پسه ذبح کوئ

وَنَحْلِقُ رَأْسَهُ وَنُلَطِّخُهُ بِزَعْفَرَانٍ . رواه ابو داؤد وَزَادَ رزين و نُسَمِّيهِ .

د کوچني سر به مو خروئ او سر به مو په ميده زعفران ورلړی . ابو داؤد ، رزين په خپل روايت کي دا الفاظ زيات کړي دي او موږ به د هغه نوم ايښود ی .

تخريج: سنن ابي داود ۳\ ۲۶۳، رقم: ۲۸۴۳.

تشريح څرګنده دي وي چي د اکثرو احاديثو په وجه د ماشوم عقيقه د هغه د زېږېدني په اوومه ورځ بايد وسي ، حضرت امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليهما فرمايي که چيري په اوومه ورځ عقيقه کول ممکن نه وي نو بيا په څوارلسمه ورځ دي وکړل سي او که چيري په څوارلسمه ورځ هم ممکن نه وي نو په يوويشتمه ورځ او که په يوويشتمه ورځ هم ممکن نه وي نو بيا په اته ويشتمه ورځ . بيا په پنځه دېرشمه ورځ على هذا القياس .

په یوه روایت کي نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ خپله عقیقه د نبوت څخه وروسته کړې ده ځکه چي رسول الله ﷺ ته دا علم نه وو چي د زېږېدني په ورځ د رسول الله ﷺ عقیقه سوې وه که یا، مګر د دغه روایت اسناد ضعیف دي، دوهم د معنی په توګه هم دغه روایت د لیري والي څخه خالي نه دی.

د امام مالک رحمة الله علیه په نزد د عقیقې د هډوکي ماتول صحیح نه دي بلکه د غوښو په را ایستلو سره دي هډوکي دي ښخ کړل سي، د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد د هډوکي ماتول صحیح دي او د شوافع په کتابو کي لیکلي دي که چیري د عقیقې غوښه په پخولو سره صدقه کړل سي نو غوره ده او که د حلاوت یعني د هلک د ښه اخلاقو او کردار لپاره د عقیقې غوښه په یو خوږه شي کي پخه کړل سي او صدقه کړل سي نو زیاته غوره ده.

===========

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

كِتَابُ الْأَطْعِمَةِ

(د خوراكونو بيان)

په كتاب الاطعمة كي چي كوم بابونه راځي او په هغو كي چي كوم حديثونه نقل كيږي له هغو څخه دا څرګنديږي چي رسول الله ﷺ كوم شيان خوړلي دي او كوم شيان يې خوړلي نه دي، او د خوراك او څښاك كوم كوم ادبونه او قواعد دي هغه به هم له دغه حديثو څخه څرګند سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د خوراك درې ادبونه

﴿۳۹۸۰﴾: عَنْ عُمَرَ بْنَ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ كُنْتُ غُلَامًا فِي حَجْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى

د حضرت عمر بن ابي سلمة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه كوچنی وم او د رسول الله ﷺ په روزنه

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِّ اللهَ وَكُلْ بِيَمِينِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ . متفق عليه

كي وم زما لاس به په كاسه كي آخوا ديخوا كيدئ، رسول الله ﷺ (يوه ورځ) ما ته وفرمايل بسم الله وايه، په راسته لاس سره خوره او د خپل مخ څخه خوراك كوه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۲۱، رقم: ۵۳۷۶، رقم: ۱۰۸- ۲۰۲۲.

د لغاتو حل: تطيش: اى تدور (راڅرخي)

تشريح: په دغه حديث كي د خوراك درې بنيادي ادبو ته توجه سوې ده تر ټولو لومړی ادب خو دادی چي د خوراك پيل بايد په بسم الله سره وسي، دوهم ادب دادی چي په راسته لاس بايد خوراك وسي او دريم ادب دادی چي د خوراك په لوښي كي د خپل مخ څخه بايد خوراك وكړل سي، د جمهورو علماوو رجحان دې خوا ته دی او په دغه حديث كي د ذكر سوو درېو شيانو چي كوم حكم سوی دی هغه د استحباب په توګه دي همدارنګه په بل روايت كي د خوراك څخه وروسته د الله جل جلاله د حمد او شكر چي كوم حكم وركړل سوی دی هغه هم د استحباب په توګه دی

مګر ځيني حضرات وايي چي په راسته لاس د خوړلو حکم د وجوب په توګه دی، د جمهورو علماوو په نزد دا مسئله ده که چيري پر يوه دسترخوان باندي ډېر کسان د خوراک لپاره کښيني نو ټول خلک دي بسم الله ووايي حال دا چي د ځينو علماوو په نزد چي په هغوی کي امام شافعي رحمة الله عليه هم شامل دی، دا وايي چي محض د يوه سړي بسم الله ويل د ټولو لپاره کافي دي، د اوبو يا دواء څښلو پر وخت هم د بسم الله ويلو هغه حکم دی کوم چي د خوراک په پېل کي د بسم الله ويلو حکم دی.

په بسم الله سره د خوراک پيل کولو اهميت

﴿۳۹۸۱﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ أَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ. رواه مسلم

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: که پر خوراک باندي د الله نوم وانه خيستل نو شيطان د ځان لپاره هغه خوراک حلال ګڼي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۵۹۷. رقم: ۱۰۲- ۲۰۱۷.

تشريح حلال ګڼي: مطلب دادی چي شيطان د هغه پر خوړلو باندي قادر کيږي يعني د خوړونکي سره خوراک کوي، دا مطلب په هغه صورت کي دی کله چي حديث د هغه پر ظاهري معنی محمول کړل سي او ځينو حضراتو دا تاويل کړی دی چي کوم خوراک په بسم الله ويلو سره ونه خوړل سي هغه داسي دی لکه شيطان چي خوړلی وي يا دا مراد دی چي هغه خوراک د الله جل جلاله په نزد د ناخوښۍ په ځايکي مصرف کول دي.

﴿۳۹۸۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هر کله چي څوک خپل په کور

بَيْتَهُ فَذَكَرَ اللّٰهَ عِنْدَ دُخُولِهِ وَعِنْدَ طَعَامِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ لَا مَبِيتَ لَكُمْ وَلَا

کي داخل سي او په کور کي په قدم ايښودولو سره الله جل جلاله ياد کړي او د خوراک پر وخت هم نو په داسي کولو سره شيطان خپلو ملګرو ته وايي ځئ په دې کور کي نه خو تم ځای ستهاو نه

عَشَاءَ وَإِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ عِنْدَ دُخُولِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ

خوراک، او څوک چي داسي په کور کي داخل سي چي الله ﷻ ياد نه کړي نو شيطان وايي تم ځای خو مو تر لاسه کړ

وَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ عِنْدَ طَعَامِهِ قَالَ أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ . رواه مسلم

او کله چي د خوراک په وخت کي د الله ﷻ نوم وانخلي نو شيطان وايي تم ځای او خوراک دواړه تر لاسه سول. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۳\ ۱۵۹۸، رقم: ۱۰۳- ۲۰۱۸.

په راسته لاس خوراک

﴿۳۹۸۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِينِهِ . رواه مسلم .

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي په تاسو کي يو کس خوراک کوي نو په راسته لاس دي خوراک کوي او هر کله چي چښل کوي نو په راسته لاس دي چښل کوي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۳\ ۱۵۹۸، رقم: ۱۰۳- ۲۰۱۸.

تشريح: په دغه حديث کي چي کوم حکم ورکړل سوی دی هغه په څرګنده د وجوب لپاره دی لکه څرنګه چي د ځينو علماوو مذهب دی ، ددې تائيد د صحيح مسلم د هغه روايت څخه هم کيږي چي مسلمه ابن اکوع رضي الله عنه بيان کړی دی چي رسول الله ﷺ يو سړی په چپه لاس خوراک کولو سره وليدی نو هغه ته يې وفرمايل : په راسته لاس خوراک کوه ، هغه سړي وويل زه په راسته لاس د خوړلو توان نه لرم ، د راوي بيان دی چي د هغه سړي راسته لاس صحيح وو هغه محض د تکبر په وجه دغه الفاظ ويلي وه، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل : الله ﷻ دي وکړي چي تا ته په راسته لاس د خوړلو توان په برخه نسي، نو ددې څخه وروسته هغه سړي هيڅکله خپل راسته لاس خولې ته پورته نه کړای سو ، همدا رنګه طبراني دغه روايت نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ سلبيه اسلميه په چپه لاس خوراک کولو سره وليدی نو د هغه لپاره يې ښېرا وکړه چي د هغه نتيجه دا سوه چي هغه په طاعون کي اخته کېدو سره مړ سو ، د جمهورو علماوو په نزد په راسته لاس د خوړلو حکم د وجوب په توګه نه دی بلکه د استحباب په توګه دی

هغوی دغه روایتونه پر زجر او توبیخ او پر شرعي مصالحو باندي محمول کړی دی.

په چپه لاس د خوراک ممانعت

﴿۳۹۸۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَأْكُلَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ بِشِمَالِهِ وَلَا يَشْرَبَنَّ بِهَا فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِهَا. رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅوک دي په چپه لاس سره یو شی نه خوري او نه څښي ځکه چي شیطان په چپه لاس سره خوري او څښي. مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۱۵۹۸/۳، رقم: ۱۰۶- ۲۰۲۰.

تشریح: تور پشتي رحمة الله عليه په چپه لاس سره د خوړلو او څښلو دا مطلب بیان کړی دی چي کوم کسان د شیطان تر اثر لاندي او د هغوی تابعدار وي هغه دغه خلګ په چپه لاس خوړلو او څښلو باندي اماده کوي، طیبي رحمة الله عليه ویلي دي چي دغه حدیث پر خپل ظاهري معنی باندي محمول دی یعني شیطان په چپه لاس سره خوراک او څښاک کوي.

حسن ابن سفیان رحمة الله عليه په خپل مسند کي د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه په حسن سند دا روایت نقل کړی دی چي کله په تاسو کي یو څوک خوراک کوي نو هغه باید په راسته لاس سره خوراک وکړي او په راسته لاس څښاک وکړي او که یو چا ته یو شی ورکوي یا له یو چا څخه یو شی اخلي نو په راسته لاس دي یې اخلي او په راسته دي یې ورکوي ځکه چي شیطان په چپه لاس سره خوراک او څښاک کوي او په چپه لاس ورکول او اخیستل کوي.

په درو ګوتو خوراک سنت دی

﴿۳۹۸۵﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ بِثَلٰثَةِ أَصَابِعَ وَيَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْسَحَهَا. رواه مسلم.

د حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به په درو ګوتو سره خوراک کوئ (یعني بټي ګوتي سره، د شهادت په ګوته سره او په منځنۍ ګوته سره) او د لاس وچولو یا پریوللو څخه تر مخه به یې لاس څټئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۳\۱۶۰۵، رقم: ۱۳۱- ۲۰۳۲.

تشريح: نووي رحمه الله ويلي دي: په درو ګوتو خوراک کول سنت دي، نو ددغه درو ګوتو سره باید څلورمه او پنځمه ګوته یو ځای نه کړل سي که څه هم د څلورمي او پنځمي ګوتي یو ځای کول د ضرورت په وجه صحيح دي ، د لاس څخه مراد دادی چي په کومو ګوتو یې خوراک کړی وي هغه باید و څټي ، لومړی به یې د مینځ ګوته څټل بیا له هغه سره نژدې ګوته او بیا به یې بټه ګوته څټل .

طبراني رحمه الله د عامر بن ربيعه څخه داسي نقل کړي دي چي رسول الله ﷺ به په درو ګوتو سره خوراک کوی او د هغوی د مرستي لپاره به یې څلورمه ګوته هم یو ځای کول ، په یوه مرسل حديث کي داسي بيان سوی دی چي رسول الله ﷺ په پنځو ګوتو سره خوراک کوی، دغه روايت یا خو پر نري شي خوړلو باندي محمول دي او یا دا چي رسول الله ﷺ د بيان جواز لپاره کله کله داسي کول مګر په زیاتو وختونو کي یې په درو ګوتو سره خوراک کوی .

په ځینو روایتو کي د (يمسحها) څخه وروسته د (بشئ) لفظ هم نقل سوی دی او دغه الفاظ هم نقل سوي دي (ثم يغسلها) يعني اوس به یې څټل او بيا به یې پرېولل .

﴿۲۹۸۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِلَعْقِ الْأَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ وَقَالَ إِنَّكُمْ لَا تَدْرُونَ فِي أَيِّهِ الْبَرَكَةُ . رواه مسلم .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ د ګوتو او کاسې څټلو حکم وکړ او وه یې فرمايل تاسو نه پوهيږئ چي په کومي ګوتي یا ګولۍ کي برکت دئ . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۶۰۶، رقم: ۱۳۳- ۲۰۳۳.

تشريح: په (والصحفة) کي د واو حرف د مطلق جمع لپاره دی نو تر هر څه وړاندي دي لوښي وغيره پاک کړل سي او بيا دي ګوتي وڅټي، لفظ د (اية) په تاء تانيث سره نقل سوی دی ځکه نو ژباړه یې په ګوتو یا ګولۍ سره سوې ده مګر په ځینو نسخو کي دغه لفظ په ه يعني د مذکر په ضمير سره نقل سوی دی په دغه صورت کي به معنی دا وي چي تاسو ته څرګنده نه ده چي په کوم خوراک کي برکت دی (ایا په هغه خوراک کي چي خوړلی دی یا په هغه خوراک کي چي وڅټل سي) ، ددې تائيد د راتلونکي حديث ددغه الفاظو څخه هم کيږي چي (فانه لا يدري في اي طعام تكون البركة) ، له دې څخه څرګنده سوه چي په اصل کي سنت ګوتي څټل دي او هغه شی

پاکول دي چي په ګوتو سره لګېدلي دي نه دا چي محض ګوتي د مبالغې لپاره په خوله کي داخلول.

﴿۳۹۸۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَمْسَحْ يَدَهُ حَتَّى يَلْعَقَهَا أَوْ يُلْعِقَهَا. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي څوک ډوډۍ خوري نو د لاسونو وچولو يا پريوللو څخه ترمخه دي يې وڅټي يا په بل چا دي يې و څټي، بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۷۷، رقم: ۵۴۵۶، ومسلم ۳\۱۶۰۵، رقم: ۱۲۹– ۲۰۳۱.

تشريح: په بل چا يې و نه څټي: ددې مطلب دادی که چيري ګوتي په خپله نه څټي نو په هغه چا دي يې وڅټي چي له هغه څخه کراهت نه محسوسوي لکه ښځه، ماشوم، مينځه، خادم، غلام او داسي نور، ځکه هغوی ته د خپل طبعي تعلق او ميني په وجه نه يوازي دا چي هغه ته څه کراهت نه محسوس کيږي بلکه يو ډول لذت محسوس کيږي په دغه حکم کي شاګرد او هغه خلک هم شامل دي چي داسي کول د سعادت تر لاسه کېدل ګڼي.

که ګوله ايله سي نو بايد پاکه يې کړي او وه خوري

﴿۳۹۸۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الشَّيْطَانَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي شيطان

يَحْضُرُ أَحَدَكُمْ عِنْدَ كُلِّ شَيْءٍ مِنْ شَأْنِهِ حَتَّى يَحْضُرَهُ عِنْدَ طَعَامِهِ فَإِذَا

ستاسو په هر کار کي ستاسو سره موجود وي تر دې چي د خوراک کولو په وخت کي هم هر کله

سَقَطَتْ مِنْ أَحَدِكُمُ اللُّقْمَةُ فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى ثُمَّ لِيَأْكُلْهَا وَلَا

چي په تاسو کي د يو چا څخه ګوله ايله سي نو هغه ته پکار ده چي هغه پورته کړي، پاکه يې کړي او وه يې خوري او

يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ فَإِذَا فَرَغَ فَلْيَلْعَقْ أَصَابِعَهُ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي فِي أَيِّ طَعَامِهِ تَكُونُ الْبَرَكَةُ. رواه مسلم.

د شیطان لپاره هغه پرېږ نه ږدي او هر کله چې خوراک کوي نو ګوتې دې و څټي ځکه چې هغه ته نه ده معلومه چې د خوراک په کومه برخه کې برکت دئ. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۶۰۷، رقم: ۱۳۵- ۲۰۳۳.

تشریح: هغه دې په پاکولو سره وخوري، مګر که چیرې پر هغه ګوله باندې نجاست او مرداري لګېدلې وي نو هغه دې په پرېوللو سره وخوري، په شرط د دې چې د هغه پرېولل ممکن وي او طبیعت هم هغه ته اماده وي او که چیرې دا ممکن نه وي نو بیا دې هغه سپي، پیشي یا بل حیوان ته واچوي او هغه دې د شیطان لپاره نه پرېږدي، دغه حدیث یا خو پر خپل حقیقت محمول دی چې هغه یې په حقیقت کې خوري او یا کنایه ده د هغه ګولې د ضائع کېدو او د هغه سپک ګڼلو، په دغه حدیث کې دې ته اشاره ده چې داسې کول یعنې هغه لوېدلې ګوله سپکه ګڼلو سره نه پورته دا په اصل کې د متکبرو خلکو مشابهت او دهغوی عادت اختیارول دي ځکه چې متکبر خلک لوېدلې ګوله پورته پېغور ګڼي او دا دوه شیان یعنې د ګولې ضائع کول او د هغه سپک ګڼل او د متکبرینو خلکو عادت اختیارول د شیطاني کارو څخه دي.

او کله چې خوراک وکړي ... الخ: دا که څه هم یو بېل حکم دی مګر په حقیقت کې د لومړي حکم څخه د حاصلېدونکي مفهوم، تکبر پرېښودولو او تواضع اختیارولو د تاکید لپاره دی چې د خوراک کولو څخه وروسته د لاس پرېوللو څخه مخکې دې ګوتې وڅټل سي چې د الله ﷻ د رزق په خپل کامل احتیاج او تواضع سره اظهار وي او د تکبر هیڅ شبه پکښې پاته نسي.

په تکیه کولو سره خوراک منع دی

﴿۳۹۸۹﴾: وَعَنْ اَبِیْ حُجَیْفَةَ قَالَ قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا آکُلُ مُتَّکِئًا. رواه البخاري.

د حضرت ابو حجیفهٔ رضي الله عنه څخه روایت دئ چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي زه په تکیه لګولو سره خوراک نه کوم. بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۴۰، رقم: ۵۳۹۸.

تشریح: د سفر السعادت مصنف لیکلي دي چې د خوراک کولو په وخت کې د څنګ وهلو درې صورتونه دي، یو دا چې اړخ پر مځکه ولګول سي، دوهم دا چې چارزانو کښېني، او دریم دا چې په یوه لاس تکیه کولو سره کښېني او په بل لاس خوراک کوي، دغه درې سره صورتونه بد

دي او ځينو حضراتو څلورم صورت دا بيان کړی دی که چيري دېوال، بالښت يا بل شي ته په تکيه کولو سره کښېني ، سنت طريقه داده چي د خوراک کولو په وخت کي يوازي خوراک ته په کښته کېدو او متوجه کېدو سره کښيني، او اکثرو علماوو د څنګ وهلو دا وضاحت کړی دی چي د دواړو اړخونو څخه د يوه په کښته کېدو سره او پر هغه تکيه کولو سره کښېني ، د خوړلو په وخت کي د داسي ناستي صورت ځکه غير مسنون دی چي په داسي حالت کي خوړل تاوان رسوي په دې توګه چي په بدن کي خپل ځای ته سم خوراک نه رسيږي او پر طبيعت باندي په بوج کېدو سره د بد هضمی شکايت پيدا کيږي .

سيوطي رحمة الله عليه په عمل اليوم والليلة کي ليکلي دي چي په تکيه کولو سره پړموخي يا په ولاړه دي خوراک نه کوي بلکه په داسي ناسته دي خوراک کوي چي يا دوه زانو وي يا د اقعاء په صورت کي وي يعني دواړه کوناټي دي ولګول سي او دواړه ورنونه دي ودرول سي او پر چپه زنګون دي کښېني .

د نبوي خوراک طريقه

﴿۳۹۹۰﴾: وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَا أَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

حضرت قتادة رضي الله عنه د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ هيڅکله پر

وَسَلَّمَ عَلَى خِوَانٍ وَلَا فِي سُكُرُجَةٍ وَلَا خُبِزَ لَهُ مُرَقَّقٌ قِيلَ لِقَتَادَةَ عَلَامَ يَأْكُلُونَ قَالَ عَلَى السُّفَرِ . رواه البخاري .

خوانچه (مجمه) باندي ډوډی نه ده خوړلې او نه يې په رکيبۍ کي او نه د رسول الله ﷺ لپاره نرمه ډوډی پخه سوې ده . د قتاده څخه پوښتنه وسول نو بيا پر څه شي باندي رسول الله ﷺ ډوډی خوړل ، هغه وويل پر دسترخوان باندي . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹/ ۵۳۰، رقم: ۵۳۸۶.

د لغاتو حل: سکرجه: اناء صغير (يو کوچنی لوښی)

تشريح: د خِوان يا خُوان معنی د دسترخوان ده، مګر دلته له خوان څخه چوکی يا مېز دي چي پر هغه باندي د خوراک په اېښودو سره وخوړل سي چي د خوراک په وخت کي د سرکښته کېدل نه وي ، دا د شتمنو ، عيش پسندو ، مستکبرينو او د غير اسلامي تهذيب والا خلکو طريقه ده چي هغوی پر مېز يا چوکی باندي د خوراک په اېښودو خوړل کوي ځکه رسول الله ﷺ په دغه

طريقه سره خوراک کول خوښ نه کړل .

سکرُجة يا څرنګه چي ځينو علماوو سکرِجة ته زيات فصيح ويلي دي، ددې معنی د کوچنۍ کاسې ده چي په هغه کي پر دسترخوان باندي اچار ، مربا يا نور شيان اېښودل کيږي ددې لپاره چي د ډوډۍ سره وخوړل سي چي لوږه زياته سي او خوراک ته زيات شوق پيدا سي او څه چي وخوړل سي هغه هضم سي نو په دغه حديث کي ښودل سوي دي چي د رسول الله ﷺ پر دسترخوان باندي هيڅکله کوچنۍ کاسه نه وه لکه څرنګه چي د شتمنو او عياشو خلکو پر دسترخوانانو باندي د داسي کاسو اېښودل رواج دي .

او نه رسول الله ﷺ ته څپتي پاخه سوي دي، دد ې مطلب دادی چي نه خو په خاصه توګه رسول الله ﷺ ته څپتي پاخه سوي دي او نه يې خوړلي دي که څه هم د رسول الله ﷺ لپاره پاخه سوي وي يا د بل چا لپاره پاخه سوي وي لکه څرنګه چي په بل حديث کي بيان سوي دي چي رسول الله ﷺ هيڅکله څپتي خوړلي نه دي .

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله په خپل کتاب کي چي کوم نقل کړی دی د هغه څخه په ظاهره دا معلوميږي چي په خاصه توګه د رسول الله ﷺ څپتي پاخه سوي نه دي مګر يو سړي د ځان لپاره پاخه کړه او بيا يې د رسول الله ﷺ مخته راوړل نو رسول الله ﷺ به هغه خوړل او له خوراک څخه به يې انکار نه کوی مګر دغه قول د راتلونکي حديث خلاف دی چي حضرت انس رضي الله عنه بيان کړی دی ، په حديث کي د څپتي څخه پرته د دوو شيانو نفي بيان سوې ده يو پر دسترخوان باندي د خوراک کولو او دوهم په کوچنۍ کاسه کي د خوراک کولو څخه ، په دغه دواړو شيانو کي د کوچنۍ کاسې د نفي د بيان پر وخت د پوښتنه کولو موقع نه وه چي بيا د خوراک سره د يو شي په اېښودو سره يې خوړی ، چي ايا د دسترخوان څخه پرته بل شی وو چي پر هغه يې خوراک اېښودی يا هيڅ شی نه وو، نو دا پوښتنه وکړل سول او قتاده رضي الله عنه جواب ورکړ چي پر دسترخوان باندي ، نو سنت طريقه داده چي خوړونکی چيري کښېني هلته دي د دسترخوان په هوارولو سره پر هغه خوراک کښېږدي او وه دي يې خوري .

هغوی پر څه شي خوراک کوئ؟ د پوښتنه کونکي مراد د صحابه کرامو په اړه معلومات کول وو ځکه چي صحابه کرامو په اصل کي د رسول الله ﷺ د سنتو پيروان وه او د رسول الله ﷺ پر طريقه باندي عمل کونکي وه ځکه د صحابه کرمو په اړه پوښتنه کول په حقيقت کي د رسول الله ﷺ په اړه پوښتنه کول وه ، يا دا هم صحيح ده چي د ياکلون ضمير رسول الله ﷺ او صحابه کرامو دواړو ته راجع کړل سي ، د روايت د آخري برخي څخه ثابته سوه چي پر دسترخوان ډوډۍ

اېښودل او خوړل سنت دي او اسلامي تهذيب دی او پر خوان يعني مېز او چوکۍ باندي د ډوډۍ اېښودل او خوړل بدعت او محض د تکلفاتو څخه دی او که چيري پر مېز باندي د خوراک په صورت کي د تکبر او لويي نيت نه وي نو بيا د مجبورۍ په حالت کي پر مېز او چوکۍ باندي ډوډۍ خوړل به جائز وي.

د نبي کريم ﷺ خوراک

﴿۳۹۹۱﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ مَا أَعْلَمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأٰى رَغِيفًا مُرَقَّقًا حَتّٰى لَحِقَ بِاللّٰهِ وَلَا رَأٰى شَاةً سَمِيطًا بِعَيْنِهِ قَطُّ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما ته نه ده معلومه چي رسول الله ﷺ د خپل وفات پوري ښتي (نرمه ډوډۍ) ليدلې وي او نه رسول الله ﷺ دم پخته پسه ليدلی دئ چي د هغه د سترګو په مخکي دم پخته کړل سوی وي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹/۱۹ه۵۳۰، رقم: ۵۳۸۵.

د لغاتو حل: سميطا: ای مشويا (سور کړل سوی).

تشريح: سميط هغه پسه يا وري ته وايي چي هغه په اوبلو سره د پوست سره سور يا پوخ سوی وي، دا په هغه زمانه کي د اهل چين خاص خوراک وو چي په خپل زمانه کي ډېر عياش او پر مخ تللي وه ځکه نو په خاصه توګه ددې يادونه سوې ده، لفظ د بعينه د تاکيد په توګه استعمال سوی دی لکه څرنګه چي ويل کيږي (کتب بيده) يعني هغه په خپل لاس سره ولېکل يا (مشی برجله) هغه د خپلو پښو په ذريعه روان سو.

د نبي کريم ﷺ ژوند

﴿۳۹۹۲﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ مَا رَأٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د کله څخه رسول الله ﷺ ته نبوت ورکړل سوی

النَّقِيَّ مِنْ حِينَ ابْتَعَثَهُ اللّٰهُ حَتّٰى قَبَضَهُ اللّٰهُ قَالَ مَا رَأٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

دئ د هغه وخت څخه تر آخر عمر پوري رسول الله ﷺ هيڅکله ميده نه ده ليدلي (يعني د ميدې څخه تيار کړل سوی شی يې نه دی خوړلي او نه يې د نبوت څخه تر وفات پوري

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْخُلًا مِنْ حِينَ ابْتَعَثَهُ اللّٰهُ حَتّٰى قَبَضَهُ اللّٰهُ قِيلَ كَيْفَ كُنْتُمْ

غلبيل ليدلى دئ (يعني بې چڼه اوړه يې خوړل) د سهل بن سعد رضی الله عنه څخه پوښتنه وسول چي تاسو به پرته د چڼ كولو څخه د

تَأْكُلُونَ الشَّعِيرَ غَيْرَ مَنْخُولٍ قَالَ كُنَّا نَطْحَنُهُ وَنَنْفُخُهُ فَيَطِيرُ مَا طَارَ وَمَا بَقِيَ ثَرَّيْنَاهُ فَأَكَلْنَاهُ . رواه البخاري

اوربشو ډوډۍ څنګه خوړل هغه وويل موږ به اوربشي ټكولې او په پوه كولو سره به مو ځيني بوس په هوا كول، بيا به مو اوړه واغږل او د هغه ډوډۍ به مو پخول او خوړل. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۴۹، رقم: ۵۴۱۳.

د لغاتو حل: النقي: اى الخبز اخالي من النخالة.

تشريح: د څه وخت څخه چي الله جل جلاله هغه رسول كړ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه وخت څخه ...الخ: عسقلاني رحمه الله وايي: زما ګمان دى چي حضرت سهل رحمه الله ددغه الفاظو په ذريعه د هغه زمانې د يادوني څخه پرهېز كړى وي چي كومه مرتبه پر رسالت باندي په فائز كېدو څخه مخكي تېره سوې ده او ددغه پرهېز سبب دادى چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه واره د شام تجارتي سفر اختيار كړى وو هغه د پيغمبرۍ څخه مخكي واقعه ده او د هغه سفر په دوران كي بحيره راهب (عيسائي مشر) د رسول الله صلی الله علیه وسلم د كوربه توب شرف تر لاسه كړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه سره خوراك وكړ او د هغه ځاى خلك خوشحاله او شتمن وه ځكه په ښكاره ده دا امكان دى چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوى سره دغه شيان ليدلي وي مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم د پيغمبرۍ څخه وروسته د خپل ژوندي تر آخري شېبو پوري چي كومه زمانه تېره كړه هغه د تنګى ، اقتصادي كمزورۍ او بدحالۍ لپاره مشهور او معروف ده ، ښكاره ده چي په دغه زمانه كي ددغه شيانو يادونه وه.

دغه حديث په اصل كي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ساده طبيعت او بې تكلفه ژوند ښكارند غماز دى چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د خپل خوراك او څښناك دومره پابندي هم نه وه څومره چي په مالي توګه سره د يو معمولي حيثيت انسان سره وي او دا هغه بنيادي سبق دى چي موږ ته دا ښيي چي د خوراك او څښناك شيانو ته متوجه كېدل د بې عقلو او غافلو خلكو د ژوند طريقه ده.

نبي ﷺ خوراک ته بد نه دي ويلي

﴿۳۹۹۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَا عَابَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ إِنْ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ وَإِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ. متفق عليه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ هيڅکله يو خوراک ته بد نه دي ويلي او نه يې بد ګڼلی دئ که خواهش به يې وو نو خوړل به يې او که رغبت به يې نه وو نو پرېښودل به يې. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹ ۵۴۷۹، رقم: ۵۴۰۹، ومسلم ۳\۱۶۳۲، رقم: ۱۸۷- ۲۰۶۴.

تشريح: مطلب دا دی چي د خوراک د شيانو په اړه د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي کوم شی به يې خوښ وو هغه به يې په مينه خوری او کوم شی چي به يې خوښ نه وو هغه به يې نه خوړی، دا نه وو چي کوم شی به يې خوښ نه وو هغه ته به يې بد ويل او نه به يې په هغه کي عيب را ايستی.

مؤمن په يوه کولمه او کافر په اوو کولمو خوراک کوي

﴿۳۹۹۴﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَأْكُلُ أَكْلًا كَثِيرًا فَأَسْلَمَ وَكَانَ يَأْكُلُ قَلِيلًا فَذُكِرَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي به ډير خوراک کوئ بيا هغه مسلمان سو او کم به يې خوړل،

ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ وَالْكَافِرَ

نبي کريم ﷺ ته د هغه يادونه وسول نو رسول الله ﷺ وفرمايل: مؤمن په يوې کولمې سره خوراک کوي او کافر

يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ. رواه البخاري وروى مسلم عن ابي موسى وابن عمر

په اوو کولمو سره خوراک کوي. بخاري. او مسلم د حضرت موسى او حضرت ابن عمر څخه

المسند منه فقط وفي اخرى له عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

يوازي ددې مسند روايت کړی دئ د مسلم په يو بل رو ايت کي چي د ابو هريرة څخه منقول دئ دا الفاظ دي چي يو کافر د رسول الله ﷺ ميلمه سو،

وَسَلَّمَ ضَافَهُ ضَيْفٌ وَهُوَ كَافِرٌ فَأَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ

رسول الله ﷺ د يوې ميږې د لوښلو حکم وکړ نو هغه ولوښل سوه او هغه ميلمه ټولي شيدې

فَحُلِبَتْ فَشَرِبَ حِلَابَهَا ثُمَّ أُخْرَى فَشَرِبَهُ ثُمَّ أُخْرَى فَشَرِبَهُ حَتَّى شَرِبَ

وچښلې، بيا د دويمي ميږې شيدې ولوشل سوې د هغه ټولي شيدې هم وچښل سوې داغسي

حِلَابَ سَبْعِ شِيَاهٍ ثُمَّ إِنَّهُ أَصْبَحَ فَأَسْلَمَ فَأَمَرَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

هغه د اوو ميږو شېدې وچښلې، سبا ته هغه کافر مسلمان سو، رسول الله ﷺ د هغه لپاره د

وَسَلَّمَ بِشَاةٍ فحلبت فشرب ثُمَّ أَمَرَ بِأُخْرَى فَلَمْ يَسْتَتِمَّهَا فَقَالَ رَسُولُ

يوې ميږې د لوښلو حکم وکړ، شيدې راوړل سوې هغه شيدې وچښلې بيا دويمه ميږه ولوشل سوه او د هغې ټولي شيدې هغه ونه چښلې، رسول الله ﷺ وفرمايل:

اللهِ ﷺ الْمُؤْمِنُ يَشْرَبُ فِي مِعًى وَاحِدٍ وَالْكَافِرُ يَشْرَبُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ.

مؤمن په يوې کولمې سره چښل کوي او کافر په اوو کولمو سره چښل کوي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۳۶، رقم: ۵۳۹۵، ومسلم ۳\۱۶۳۱، رقم: ۱۸۲- ۲۰۶۰.

تشريح: ويل کېږي چي د انسان په نس کي اووه کولمې دي مګر ددې څخه قطع نظر دلته يوه کولمه او له اوو کلمو څخه مراد د حرص کموالی او زياتوالی دی، ددې مطلب دادی چي مسلمان په خوراک او څښاک کي لږ حرص لري او کافران زيات حرص لري او دا خبره د اکثرو او اغلب په اعتبار ده يا د هغه سړي خاص حالت بيانول مراد دي چي د هغه په روايت کي ذکر سوی دی چي کله هغه مسلمان سو نو کم خوړل يې پيل کړل مګر کله چي کافر وو نو زيات خوراک يې کوی، او يا کامل الايمان مؤمن مراد دی چي هغه د الهي ذکر په برکت سره او د ايمان د نور په سبب هر وخت موړ وي، چي هغه ته نه د خوراک او څښاک حرص وي او نه يې خوراک ته شوق وي، ددې برعکس د کافر حال بل وي، دا په حقيقت کي په دغه حديث کي خبرداری دی چي د مؤمن د شان غوښتنه داده چي هغه صبر او قناعت پر ځان لازم کړي، زهد او رياضت اختيار کړي د خوراک او څښاک پر هغه حد اکتفاء وکړي کوم چي د ژوند د بقاء لپاره ضروري وي او خپل معده دومره خالي وساتي چي د زړه نورانيت د باطن پاکوالی او د شپې

بیداری وغیره لپاره تیار وي.

نقل سوي دي چي يو وار يو فقير حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته راغلی او د ډېر خوراک وروسته ولاړ سو، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه چي هغه په دومره زیات خوراک کولو باندي ولیدی نو وه يې فرمایل: بیا دی مه را پرېږدئ، علماوو ددې وجه دا لیکلې ده چي کله هغه فقیر په دومره غیر معمولي توګه خوراک وکړ نو هغه د کفارو مشابه سو او کوم څوک چي د کافرانو مشابهت اختیار کړي نو د هغه سره يو ځای کېدل باید پرېښودل سي، څرګنده دي وي چي د کم خوړلو عادت اختیارول د اهل حقیقت او عاقلانو په نزد غوره او محمود دي او ددې برعکس مذموم او بد دي، مګر هغه لوږه د افراط حد ته ورسېږي د ضعیف بدن او قوت بدني د اختلال سبب کیږي چي د هغه په وجه د دین او دنیا په چارو کي خنډ پیدا کیږي نو هغه د منع او حکمت خلاف دي.

د دوو خوراک د درو کسانو بس دئ

﴿۳۹۹۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامُ الِاثْنَيْنِ كَافِي الثَّلَاثَةِ وَطَعَامُ الثَّلَاثَةِ كَافِي الْأَرْبَعَةِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي د دوو کسانو خوراک د درو کسانو لپاره بس دئ او د درو کسانو خوراک د څلورو لپاره بس دئ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۳۵، رقم: ۵۳۹۲، ومسلم ۳\۱۶۳۰، رقم: ۱۷۹-۲۰۵۹.

تشريح: د دغه حدیث هغه تاویل دی کوم چي مخکي بیان سوی دی مګر په مخکني حدیث کي د ثلث او ربع په حساب سره فرمایل سوي دي چي د یوه خوراک دوو ته او د دوو خوراک درو ته کافي دی او دا د تضاعف (دوه برابری) په حساب سره فرمایل سوي دي چي د یوه خوراک دوو ته او د دوو خوراک څلورو ته کافي دي، دغه اختلاف د اشخاصو د احوالو د تفاوت په سبب دی چي په کوم صورت کي د دوو کسانو خوراک د درو لپاره کافي کیږي، په ځینو حالاتو او ځینو کسانو کي هغه قناعت نور هم زیات وي چي د دوو کسانو خوراک د څلورو کسانو لپاره هم کافي ګرځي، نقل سوي دي چي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه يو وار د وچ کالی په ورځو کي وفرمایل: زما اراده ده چي د هري کورنی لپاره د هغوی د شمېر په اندازه خلک واستوم ځکه چي سړی په نیم نس خوراک سره نه هلاکیږي، د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه مطلب دا وو چي د وچ

كالی، په زمانه کي خلکو ته د عيش او ارام اسباب ميسر دي او هغوی دواړه وخته په ماړه نس ډوډۍ خوري حال دا چي څومره داسي انسانان دي چي هغوی د ژوندي پاته کېدو په اندازه هم خوراک نه لري، زه غواړم چي کومو کورو ته الله ﷺ د نس مړولو په اندازه روزي ورکړې ده په هغوی کي د هر کور پر ذمه د ناتوانو خلکو هغومره روزي وتاکم څومره چي خپله د کور والا وي، د مثال په توګه په يوه کور کي پنځه کسان وي نو د هغه کور پر ذمه د پنځو ناتوانو خلکو روزي وټاکم چي هغوی يې په خپل خوراک کي ورګډ کړي، همدارنګه هغوی د خپل نيم نس په مړولو سره د هغه ناتوانه د ژوند ذريعه وګرځي کوم چي پر خوراک توان نه لري او ځرګنده ده چي د نيم نس په مړولو سره د بدن په توان کي بېله شکه کمي رامنځته کيږي مګر د دې په وجه انسان نه هلاکيږي، په هر حال د دغه حديثو او روايتو اصل مقصد دادی چي د غريبانو خبر ايستل او خپل ځان قناعت او قربانۍ ته هڅول مقصد دي او دې ته اشاره ده چي د نفس اماره تقاضا خو داده چي هر څه په لاس ورسي هغه په خپل نس کي واچوي مګر د انسانيت تقاضا داده چي الله جل جلاله تا ته څه درکړي وي په هغه کي هغه خلک هم شريک کړه کومو ته چي هيڅ هم تر لاسه نه دي.

﴿۳۹۹۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ طَعَامُ الْوَاحِدِ يَكْفِي الِاثْنَيْنِ وَطَعَامُ الِاثْنَيْنِ يَكْفِي الْأَرْبَعَةَ وَطَعَامُ الْأَرْبَعَةِ يَكْفِي الثَّمَانِيَةَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د يوه کس خوراک د دوو لپاره بس دئ او د دوو کسانو خوراک د څلورو کسانو لپاره بس دئ او د څلورو کسانو خوراک د اتو کسانو لپاره بس دئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۶۳۰، رقم: ۱۷۹- ۲۰۵۹.

تشريح د حديث مطلب دا نه دی چي کوم خوراک دوه کسان مړوي هغه څلور کسان هم مړوي بلکه مطلب دادی چي کوم خوراک دوه کسان په ماړه نس خوري هغه د څلورو لپاره هم د قناعت په توګه کافي دی چي هغه د څلورو کسانو لږ لږ لوږه ختموي او هغوی ته د عبادت او طاعت قوت ورکوي او د هغوی کمزوري ليري کوي. پر دغه باندي راتلونکی عبارت چي د درو کسانو خوراک د څلورو لپاره کافي دی، قياس کيږي. د حديث مقصد په اصل کي دې ته توجه

کول دي که چيري تاسو ته دومره خوراک په لاس درغلی وي چي ستاسو نس ډکولای سي نو هغه محض د خپل نس په ډکولو کي مه مصرفوئ بلکه د قناعت درجه اختيار کړه او د هغه څخه دومره وخوره چي ستا د خوراکي ضرورت په اندازه وي او کوم چي ستا د ضرورت څخه زيات وي هغه بل يو اړکس ته ورکړه چي وه يې خوري.

تلبينه د مريض لپاره ښه شی دی

﴿۳۹۹۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ التَّلْبِينَةُ مُجِمَّةٌ لِفُؤَادِ الْمَرِيضِ تَذْهَبُ بِبَعْضِ الْحُزْنِ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي تلبينه (د اوړو او شهدو څخه تيار سوې شيره چي په هغه کي ځيني وخت شات هم ګډيږي) د ناروغ زړه ته سکون او راحت رسوي او غمونه ځيني ليري کوي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\ ۵۵۰، رقم: ۵۴۱۷، ومسلم ۴\ ۱۷۳۶، رقم: ۹۰- ۲۲۱۶.

د لغاتو حل: التلبينة: هو حسو رقيق يتخذ من الدقيق واللبن (د شهدو او اوړو څخه تيار سوی خوراک)

تشريح: تلبينه هغه حريرې ته وايي چي د اوړو او شهدو څخه جوړيږي، کله عسل هم ور اچول کيږي، د حريرې حلوا خاص شيدې وي او د شهدو په ډول سپين وي ځکه نو تلبينه ورته وايي چي د لبن (شهدو) څخه مشتق دی.

د نبي کريم ﷺ کدو ډېر خوښ وو

﴿۳۹۹۸﴾: وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ خَيَّاطًا دَعَا النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو خياط د رسول الله ﷺ مېلمستيا وکړه کوم خوراک

فَذَهَبْتُ مَعَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَّبَ خُبْزَ شَعِيرٍ وَّمَرَقًا فِيهِ دُبَّاءٌ

چي هغه تيار کړی وو چي هغه په رسول الله ﷺ وخوري، زه هم د رسول الله ﷺ سره ولاړم هغه د اوربشو ډوډۍ او ښوروا راوړل چي په هغه کي کدو او

وَقَدِيدٌ فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ مِنْ حَوَالَيِ الْقَصْعَةِ قَالَ فَلَمْ اَزَلْ اُحِبُّ الدُّبَّاءَ بعد يَوْمِئِذٍ. متفق عليه

وچه غوښه وه ، ما نبي کريم ﷺ وليدئ چې د پيالې په شا وخوا کي يې کدو لټوئ او خوړئ يې د دغه ورځې څخه زه کدو ډير خوښوم. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\۳۱۸، رقم: ۲۰۹۲، ومسلم ۳\۱۶۱۵، رقم: ۱۴۴- ۲۰۴۱.

تشريح: د حضرت انس ﷛ دغه بلني ته ورتلل په دې وجه وو چې هغه ته به بلنه ورکړل سوې ده يا هغه د رسول الله ﷺ خاص خادم وو او په اکثرو بلنو کي د خاص خادم اجازه هم په عامه توګه کيږي ځکه حضرت انس ﷛ د رسول الله ﷺ سره په هغه بلنه کي ګډ سو، له دغه حديث څخه يوه خبره دا څرګنده سوه که چيري پر يو دسترخوان باندي په کاسي يا بل شي کي د خوراک مختلف شيان يو ځای وي نو د هغه پيالې يا لوښي نورو کونجانو ته لاس غزول جائز دي ، په دغه صورت کي د خپل لاس محض خپلي خوا ته محدود کول ضروري نه دي، په شرط ددې چې پر دسترخوان باندي ناست خلک داسي کول ناخوښ کړي ، دوهمه خبره دا څرګنده سوه چې د غريبانو بلنه قبلول پکار دي او د هغوی پر دسترخوان باندي د خوراک کوم شی چې کښېښودل سي هغه بايد په شوق وخوړل سي ، دريمه خبره دا څرګنده سوه که د خوراک په وخت کي خپل خادم ورسره وي نو د هغه سره يو ځای بايد خوراک وسي، دا يوازي د شتمنو خلکو طريقه ده چې خپله په بېل کښېنستو سره خوراک کوي او خادم په بل ځای کي کښېنوي، څلورمه خبره دا څرګنده سوه چې کدو خپل خوښ خوراک ګرځول سنت دی او همدارنګه هر هغه شی خوښول سنت دی کوم چې رسول الله ﷺ ته خوښ وو .

د خوراک وروسته اودس نه کول

﴿۳۹۹۹﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْتَزُّ

د حضرت عمرو بن اميه ﷛ څخه روايت دئ چې ما رسول الله ﷺ وليدئ چې د پسه د ولي

مِنْ كَتِفِ شَاةٍ فَدُعِيَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَلْقَاهَا السِّكِّينَ الَّتِي يَحْتَزُّ بِهَا ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ . متفق عليه .

(اوږې) څخه يې غوښه پريکول ، کله چې رسول الله ﷺ د لمانځه لپاره وبلل سو نو غوښه او چاړه يې پرېښودل او لمانځه ته يې تشريف يووړ او اودس يې ونه کړ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۳۱۱، رقم: ۲۰۸، ومسلم ۱\۲۷۴، رقم: ۹۳- ۳۵۵.

تشریح له دغه حدیث څخه څرګنده سوه چي د خوړلو په وخت کي د غوښو یا بل شي په پرېکولو سره خوړل جائز دي په شرط ددې چي د هغه ضرورت وي که چیري غوښه یا بل شی خوړین سوی وي او نرم وي چي په چاړه سره د پرېکولو اړتیا یې نه وي نو بیا په چاړې سره پرېکول او خوړل مکروه دي ځکه چي بېله ضرورته داسي کول د عجمیانو (یعني کافرانو) سره مشابهت دی لکه چي په دوهم فصل کي به راسي.

له دغه حدیث څخه دا هم څرګنده سوه چي د آذان په اورېدو سره باید ولاړ سي او لمانځه ته ولاړ سي که څه هم خوراک تیار پروت وي مګر دا د هغه صورت حکم دی کله چي د خوراک د ضائع کېدو اندېښنه نه وي او هغه خوراک ته سخت ضرورت هم نه وي یعني دومره وږی نه وي چي د هغه خوراک خوړلو څخه پرته لمانځه ته ولاړ سي نو په لمانځه کي یې توجه نه وي او ددې خبري بېره نه وي چي د لمانځه څخه د راتلو وروسته به خوراک تر لاسه نسي.

له دغه حدیث څخه داهم څرګنده سوه چي پر اور باندي د پاخه سوي شي په خوراک سره اودس کول ضروري نه دی لکه څرنګه چي د ځینو علماوو مذهب دی د هغوی په نزد پر اور باندي د پاخه سوي شي په خوراک سره اودس ماتیږي.

د نبي کریم ﷺ خوږ شی ډېر خوښ وو

﴿۴۰۰۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ. رواه البخاري.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به حلوا او شات خوښول. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۵۷، رقم: ۵۴۳۱.

تشریح په عربي ژبه کي د حلوآء (یعني په مد سره) او حلواء (یعني په قصر) سره د دواړو اطلاق پر هغه خواږه شي کیږي چي د خوږوالي او غوړوالي ذریعه سي چي په پښتو کي حلوا ورته وایي، ځیني حضرات وایي چي مطلق یعني هر خواږه شي ته حلوا وایي، په دغه صورت کي د الحلواء څخه وروسته د والعسل لفظ به د تخصیص بعد تعمیم په توګه وي یعني مخکي یې د حلوا ذکر وکړ چي یو عام لفظ دی او د هغه په حکم کي عسل هم داخل دي مګر وروسته یې په خاصه توګه سره د عسل ذکر هم وکړ.

خطابي رحمة الله علیه ویلي دي: د رسول الله ﷺ خوږ شی ډېر خوښ وو، دا د طبعي خواهش د

زیاتوب په وجه نه وو چي زیات وختونه به یې خوړ شی خوړل خوښول بلکه د ډېرو خوښولو مطلب دادی چي کله به پر دسترخوان باندي خوړ شی وړاندي سو نو په دومره شوق به یې خوړی چي معلومېدل به چي دا د رسول الله ﷺ ډېر خوښ دی.

سورکه غوره کتغ دئ

﴿۴۰۰۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَ أَهْلَهُ الْأُدُمَ فَقَالُوا

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دئ چي نبي کریم ﷺ د خپلي کورنۍ څخه کتغ وغوښتئ، هغوی ورته وویل:

مَا عِنْدَنَا إِلَّا خَلٌّ فَدَعَا بِهِ فَجَعَلَ يَأْكُلُ بِهِ وَيَقُولُ نِعْمَ الْأُدُمُ الْخَلُّ نِعْمَ الْأُدُمُ الْخَلُّ. رواه مسلم.

پرته د سرکې څخه بل شی نسته، رسول الله ﷺ سورکه وغوښتل او د هغې سره یې ډوډۍ خوړل او وه یې فرمایل سورکه غوره کتغ دئ، سورکه غوره کتغ دئ. مسلم.

تخریج: صحيح مسلم ۳\ ۱٦٦۲، رقم: ۱٦٦– ۲۰۵۲.

تشریح: سورکه غوره کتغ دی: دا یې په وار وار ځکه وفرمایل چي د سورکې زیات تعریف وسي، له دغه حدیث څخه څرګنده سوه چي په خوراک او څښاک کي اعتدال او میانه روي اختیارول او خپل نفس د خوندورو شیانو څخه ساتل ښه خبره ده، د حدیث مفهوم دادی که چیري یو سړی دا قسم وکړي چي زه به د کتغ سره ډوډۍ نه خورم او بیا د سورکې سره ډوډۍ وخوري نو هغه حانث (قسم ماتونکی) دی ځکه چي د سورکې کتغ کېدل له حدیث څخه ثابت دي. په حدیث کي راغلي دي چي سورکه د انبیاء علیهم السلام کتغ دی او په طبي توګه چي د سورکې کومې ګټې دي هغه ډېري زیاتي دي چي د هغه تصدیق د طب په کتابو کي د طبیبانو په ذریعه هم کیدای سي.

د پوڅکۍ خاصیت

﴿۴۰۰۲﴾: وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت سعید بن زید ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ . متفق عليه و في رواية لمسلم من المن الذي انزل الله تعالى على موسى عليه السلام

پوڅکۍ د من څخه دئ يعني د نعمت الهي څخه دئ ددې اوبه د سترګو لپاره شفاء ده . بخاري او مسلم. او د مسلم په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي پوڅکۍ د من څخه دئ چي الله تعالى پر حضرت موسى عليه السلام نازل كړې وو چي د هغه يادونه د قرآن كريم په دې آيت كي ده : (و انزلنا عليكم المن و السلوى).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۱۶۳، رقم: ۵۷۰۸، ومسلم ۳\ ۱۶۱۹، رقم: ۱۵۷- ۲۰۴۹.

د لغاتو حل: الكماة: نبت بالبرية تنشق عنه الارض (پوڅکۍ)

تشريح: (كماءة) د كاف په زبر، د ميم په جزم او د همزه په زور سره ، د رحمت پر وزن دى ، كماة پوڅکۍ ته وايي چي د نباتاتو له ډول څخه د وازګي په ډول يو شى دى او زيات وختونه د باران په وخت كي خپله پيدا كيږي، په عربي ژبه كي شحم الارض هم ورته وايي ، زموږ په نزد په عامه توګه پوڅکۍ وايي ، پوڅکۍ حلال شى دى او ډېر خلك يې خوري كه څه هم په ځينو ځايو كي د هغه خوړل په طبعي توګه مكروه ګڼل كيږي ځكه چي هلته يې د خوړلو عادت نه وي .

پوڅکۍ د من يو ډول دى: ددې مطلب دادى چي پوڅکۍ په اصل كي هغه من دى چي ددغه آيت كريمه (وانزلنا عليكم المن والسلوى) ژباړه: او موږ پر بني اسرائيلو من او سلوا نازل كړل، مطابق د حضرت موسى عليه السلام پر قوم بني اسرائيلو باندي به نازلېدى ځكه چي من خو د ترنجبين په ډول يو شى وو چي له آسمان څخه نازلېدى او دغه پوڅکۍ له مځكي څخه را پورته كيږي ، بلكه پوڅکۍ د من يو ډول دى ددې مطلب دادى چي څرنګه من د الله جل جلاله يو نعمت وو چي بېله مشقته به له اسمان څخه نازلېدى همدارنګه پوڅکۍ هم د الله جل جلاله يو نعمت دى چي بېله محنته د مځكي څخه پيدا كيږي، يا دا مراد دى چي پوڅکۍ د ګټو په اعتبار د من مشابه دي.

د پوڅکۍ اوبه د سترګو لپاره شفاء ده: ځينو علماوو ويلي دي چي د پوڅکۍ اوبه هغه وخت د سترګو لپاره د شفاء حكم لري كله چي د نورو دواوو لكه رانجه يا نورو شيانو سره په يو ځاى كېدو سره په سترګو كي واچول سي ، ځيني حضرات وايي چي يوازي د پوڅکۍ اوبه هم د سترګو لپاره ګټوري دي او د حديث د مطلق مفهوم په وجه دغه خبره زياته صحيح ده ، ځينو علماوو خپل ذاتي مشاهده بيان كړې ده چي هغوى يو داسي سړى ولېدى چي د هغه نظر

ختمېدونکي وو ، هغه د پو ځکې او به سترګو ته اچولې نو د هغه نظر سم سو .
د حضرت ابوهريره ﷺ دا قول هم نقل کيږي چي حضرت ابوهريره ﷺ وويل: ما درې يا پنځه پو ځکې و نستېږلې او د هغو او به مي په يو بوتل کي واچولې ، يوې انجلۍ هغه په سترګو کي واچولې نو هغه ښه سوه ، په هر حال په دې اړه تفصيل به په باب الطب والرقی کي بيان سي .

بادرنګ او خرما

﴿۴۰۰۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ الرُّطَبَ بِالْقِثَّاءِ . متفق عليه .

د حضرت عبد الله بن جعفر ﷺ څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ وليدی چي تازه خرما يې د بادرنګو سره خوړل . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۶۴، رقم: ۵۴۴۰، ومسلم ۳\۱۶۱۶، رقم: ۱۴۷- ۲۰۴۳.

تشريح: د بادرنګ او خرما يو ځای خوړلو صورت به يا خو دا وو چي د دواړو په يو ځای کېدو سره به يې په خوله کي اېښودل او خوړل، يا دا چي مخکي به يې خرما په خوله کي اچول او بيا به يې يوه ټوټه د بادرنګ اېښودل او دواړه به يې يو ځای خوړل، رسول الله ﷺ دواړه ځکه يو ځای خوړل چي د دواړو په يو ځای کېدو سره معتدل سي ځکه چي په خرماوو کي حرارت وي او په بادرنګ کي يخوالی او د مرکباتو تر ټولو لوی اصل اعتدال دی چي معتدل شی د تعديل مزاج باعث هم وي او ډېر ګټهور هم وي .
دغه حديث پر دې دلالت کوي چي په يوه وخت کي د خوراک دوه شيان غذا ګرځول يا خوړل او ښېښل جائز دي، ددغه جواز په اړه د علماوو هيڅ اختلاف نسته البته کومو علماوو چي مکروه ورته ويلي دي هغه پر دغه صورت محمول دی چي کله د خوراکونو زيات اندازه او ډولونه تيارول او خوړل د عادت په توګه اختيار کړل سي او د خوړلو دغه تنوع او کثرت د يو ديني ګټي پر ځای محض د لذت او خوند لپاره وي .

هر نبي پسونه پيولي دي

﴿۴۰۰۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَرِّ الظَّهْرَانِ

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي موږ په الظهران نامي ځای کي د رسول الله ﷺ سره وو

نَجْنِي الْكَبَاثَ فَقَالَ عَلَيْكُمْ بِالْأَسْوَدِ مِنْهُ فَإِنَّهُ أَيْطَبُ فَقَالَ أَكُنْتَ تَرْعَى الْغَنَمَ قَالَ نَعَمْ وَهَلْ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا رَعَاهَا . متفق عليه .

هلته موږ د پليو د درختو ميوې جمع کړه رسول الله ﷺ وفرمايل توره توره ميوه واخلئ دا مزه داره وي ، د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول ايا تاسو پسونه پيولي دي (ځکه چي شپانه خلک دا خوري او ددې ښه او بد پيژني) رسول الله ﷺ وفرمايل کوم نبي دئ چي هغه پسونه نه وي پيولي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۷۵، رقم: ۵۴۵۳، ومسلم ۳\۱۶۲۱، رقم: ۱۶۳- ۲۰۵۰.

تشريح: ايا تاسو پسونه پيولي دي : رسول الله ﷺ وفرمايل: هو ، ددغه سوال مطلب دا وو چي د پليو مېوه د هغه خلکو خاص خوراک او غذا وه چي په صحراء کي او سېدل يا پسونه پيايي، او په دې اعتبار سره هغه خلک ددغه مېوې د ښه او بد بيلوالی کولای سي، له دې څخه ثرګندېږي چي رسول الله ﷺ هم پسونه پېولي دي . او داسي کوم نبي دي چي هغه پسونه پېولي نه وي، ددغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ دغه حقيقت ته اشاره وفرمايل چي الله تعالی د نبوت منصب هيڅکله هم شتمنو ، پاچاهانو او متکبرينو ته نه ورکوي بلکه د دين او دنيا دغه لوی منصب تل هغه خلکو ته حواله کړی دی چي پسونه يې پېولي دي ، مفلس او نادار وه او په ډېره تواضع او انکساري سره يې په خپل لاس سره کسب اختيار کړی وو ، نقل سوي دي چي حضرت موسی عليه السلام په مزدورۍ سره د حضرت شعيب عليه السلام پسونه پېول ، حضرت زکريا عليه السلام به د نجارۍ کار کوی او حضرت ايوب عليه السلام د خياطۍ کار کوی او په دې کي د الله تعالی حکمت دا وو چي د انساني طبقې ددغه غوره خلکو روزنه او پالنه د حلال رزق په ذريعه وي چي په عامه توګه سره د سخت محنت او مشقت په نتيجه کي تر لاسه کيږي، د عمل صالح زياتي موقع تر لاسه وي او هغوی زيات نېک کارونه وکړي او په خاصه توګه په پسونو پېولو کي يوه لويه ګټه دا وه چي د خلکو څخه يوازيوالي او د الله تعالی سره د خلوت موقع تر لاسه سي چي د رعايت طريقې او د کمزورو خلکو سره د شفقت او نرمۍ چلن کولو سبق تر لاسه کيږي .

په يوه روايت کي بيان کيږي چي يوه ورځ الله جل جلاله پر موسی عليه السلام باندي وحي نازلي کړې چي اې موسی عليه السلام ! پوهېږې چي موږ تا ته د نبوت منصب ولي درکړ، حضرت موسی عليه السلام وويل: اې پروردګاره! ته ښه پوهېږې، الله جل جلاله ورته وفرمايل: هغه ورځ در په ياد کړه چي تا په

وادي الايمن كي پسونه څرول او يو پسه تښتېدلي وو نو ته په هغه پسي وځغاستې چي د هغه په وجه تا ته ډېر زيات تكليف پېښ سو بيا چي تا هغه پسه لاندي كړ نو تا هغه پسه ونه وهی او نه دي د غيظ او غضب اظهار وكړ بلكه د هغه سره دي د شفقت او نرمۍ چلن وكړ او د هغه په مخاطب كولو سره دي ورته وويل: اې بې چارې! تا خپل ځان هم په تكليف كي كړ او زه دي هم په تكليف كړم، موږ د حيوان سره ستا دغه شفقت او نرمي ولېدل نو پر تا باندي زموږ رحمت متوجه سو او ته مو په نبوت سره ونازولې او خپل غوره بنده مو جوړ كړلې.

نبي كريم ﷺ څه ډول كښېنستی

﴿۴۰۰۵﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُقْعِيًا يَأْكُلُ تَمْرًا . وفي رواية يأكل منه اكلا ذريعا. رواه مسلم .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ ورون پر مځكه لګولی او زنګون پورته كړی پر خرما خوړلو باندي ليدلی دئ ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ خرماوي ژر ژر خوړلې . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۶۱۶، رقم: ۱۴۸- ۲۰۴۴.

تشريح: د اقعاء په هيئت: ددې څخه د ناستي هغه صورت مراد دی چي په هغه دواړه كوناټي پر مځكه لګېدلي وي او دواړه زنګنونه درول سوي وي ، د خرماوو ژر ژر خوړلو وجه دا وه چي كيدای سي رسول الله ﷺ ته يو كار پېښ وو ځكه نو خرماوي يې ژر ژر وخوړلې چي د هغه په فارغه كېدو سره په هغه كار كي بوخت سي.

دوې خرماوي په يو وار خوړل

﴿۴۰۰۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقْرُنَ الرَّجُلُ بَيْنَ التَّمْرَتَيْنِ حَتّٰى يَسْتَأْذِنَ أَصْحَابَهُ . متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د دوو خرماوو په يو وار خوړلو څخه منع فرمايلې ده البته كه ورته ملګری اجازه وركړي نو جائز دي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۳۱، رقم: ۲۴۸۹، ومسلم ۳\۱۶۱۷، رقم: ۱۵۱- ۲۰۴۵.

تشريح: سيوطي رحمة الله عليه وايي : ددغه منع تعلق د هغه وخت سره وو كله چي مسلمانان په فقر او

مفلسی کي اخته وه مګر کله چي الله تعالی پراخي راوستل نو د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذريعه منع منسوخ سول چي ما تاسو د خرماوو جمع کولو څخه منع کولاست مګر اوس الله جل جلاله تاسو ته د رزق پراخي درکړل نو جمع کوئ يې يعني اوس تاسو د يوې څخه زياتي خرماوي يو ځای کولو سره خورئ او دا حرام يا مکروه نه دي .

د خرما تعريف

﴿۲۰۰۷﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَجُوعُ أَهْلُ بَيْتٍ عِنْدَهُمُ التَّمْرُ ، و في رواية قال يَا عَائِشَةُ بَيْتٌ لَا تَمْرَ فِيهِ جِيَاعٌ أَهْلُهُ قَالَهَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا . رواه مسلم .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه کور خلک وږي نه وي چي په هغه کي خرماوي وي او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي اې عائشې ! په کوم کور کي چي خرماوي نه وي د هغه خلک وږي وي ، د اا الفاظ رسول الله ﷺ دوه واره يا درې واره وفرمايل . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۶۱۸، رقم: ۱۵۲-۲۰۴۱.

تشريح: ځينو علماوو وضاحت کړی دی چي د هغه کور او سيدونکو څخه مراد اهل مدينه او هغه خلک دي چي د هغوی خوراک خرماوي وې ، نووي رحمة الله عليه ويلي دي : په دغه حديث کي دا حقيقت د خرماوو د فضيلت او ارزښت بيان دی او ددې په ذريعه د خپلو کورونو د غذائي اړتياوو لپاره د خرماوو د ذخيره کولو د جواز اظهار او ترغيب مقصد دی .

د عجوه خرماوو ګټه

﴿۲۰۰۸﴾ : وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ تَصَبَّحَ بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةً لَمْ يَضُرَّهُ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ سُمٌّ وَلَا سِحْرٌ . متفق عليه

د حضرت سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي څوک د سهار په وخت کي اووه عجوه خرماوي وخوري نو په هغه ورځ به هغه ته زهر تاوان نه سي رسولای او نه يو جادو . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵٦۹۱، رقم: ۵۴۴۵، ومسلم ۱۳\۱٦۱۸، رقم: ۱۵۵- ۲۰۴۷.

تشريح: عجوه د مدينې منورې په خرماوو كي يو ډول دى چي تور رنګ يې دى، دا ډول خرماوي د مدينې په ټولو خرماوو كي ښه او غوره خرماوي دي، ويل كيږي چي د دغه خرماوو درختي رسول الله ﷺ په خپله لګولي دي.

له زهر څخه مراد هغه زهر دي كوم چي مشهور دي يعني هغه شى چي د هغه په خوړلو سره انسان مړ كيږي، د مار، لړم او دا ډول نورو زهرجنو حيوانانو زهر هم مراد كيداى سي، مذكوره خاصيت په دغه خرماوو كي د الله تعالى له خوا پيدا كيږي لكه څرنګه چي قدرت دا ډول نباتات نورو شيانو كي د مختلف اقسامو خاصيتونه ايښي دي او دا خبره رسول الله ﷺ ته د وحي په ذريعه معلومه سوې ده چي په خرما كي دا خاصيت دى يا دا چي د رسول الله ﷺ د دعاء په بركت په دغه خرما كي دا خاصيت اچول سوى دى، او كوم چي د اوو د تخصيص سوال دى نو ددې وجه د شارع څخه پرته بل چا ته معلومه نه ده بلكه ددې علم توصيفي دى، يعني د رسول الله ﷺ څخه پر سماع باندي موقوف دى، چي رسول الله ﷺ د اوو شمېر وفرمايه او اورېدونكو هغه نقل كړ، نه خو رسول الله ﷺ د دغه تخصيص وجه بيان كړه او نه اورېدونكو پوښتنه وكړه لكه څرنګه چي د ركعتو او نورو شيانو د شمېر مسئله ده.

﴿۴۰۰۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فِي عَجْوَةِ الْعَالِيَةِ شِفَاءً أَوْ إِنَّهَا تِرْيَاقٌ أَوَّلَ الْبُكْرَةِ. رواه مسلم.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د عاليه نامي ځاى په عجوه خرماوو كي شفاء ده او ددې په سهار وخت كي خوړل د زهرو لپاره ترياق دي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۳\۱٦۱۹، رقم: ۱۵٦- ۲۰۴۸.

تشريح: د مدينې منورې په شاوخوا كي د قباء خوا ته چي كومه سيمه پر لوړې خوا واقع ده هغې ته عاليه يا عوالي ويل كيږي، په دغه مناسبت سره په دغه خوا كي چي څومره كلي او سيمي دي هغو ته عاليه يا عالي وايي، په دغه خوا كي د نجد سيمه هم ده او د هغه په مقابل كي چي څومره سيمي دي هغه لاندي دي او هغو ته سافله ويل كيږي.

په هغه زمانه كي عاليه يا عوالي تر ټولو نژدې كلى مدينې ته درې يا څلور ميله او تر ټولو ليري كلى پر اووه ميله يا اته ميله فاصله باندي واقع وو.

د عاليه په عجوه کي شفاء ده : ددې مطلب يا خو دادی چي د نورو ځايو په نسبت د عاليه په عجوه خرماوو کي شفاء زياته ده يا ددغه حديث څخه د مخکني مطلب تقليد مراد دی يعني په تېر سوي حديث کي د مطلق عجوه خرماوو چي کوم تاثير او خاصيت بيان سوی دی هغه ددغه حديث په ذريعه واضح سوی دی چي ذکر سوی تاثير او خاصيت د عاليه په عجوه خرماوو کي دی . ترياق : د تاء په پيښ او زېر دواړو سره هغه مشهوره دوايي ده چي د زهر لپاره دافع دي .

د نبي کريم ﷺ په لوږه وخت تېرول

﴿۴۰۱۰﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ يَأْتِي عَلَيْنَا الشَّهْرُ مَا نُوقِدُ فِيهِ نَارًا إِنَّمَا هُوَ التَّمْرُ وَالْمَاءُ إِلَّا أَنْ نُؤْتَى بِاللُّحَيْمِ . متفق عليه .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي ځيني مياشتي به پر موږ داسي تيريدلې چي موږ به اور نه بلوی او يوازي خرماوي او اوبه مو خوراک وو ، مګر دا چي کله به لږ غوښه راغلل نو اور به مو بل کړی . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۲۸۲، رقم: ۶۴۵۸، ومسلم ۴\ ۲۲۸۲، رقم: ۲۶- ۲۹۷۲.

تشريح: مګر دا چي کله به لږ غوښه راوړل سول : ددې مطلب دادی چي د تنګۍ په وخت کي به موږ يوازي خرماوي خوړلې او اوبه به مو څښلې ، يا کله چي به يو سړي لږ غوښه راواستول نو هغه به مو خوړل ، يا دا مطلب دی چي په کور کي د هيڅ سامان نه موجود کېدو په وجه زموږ په نغري کي اور نه بلېدی مګر کله چي به يو څه غوښه راوړل سول نو د هغو د پخولو لپاره به موږ اور بلوی .

﴿۴۰۱۱﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَيْنِ مِنْ خُبْزِ بُرٍّ إِلَّا وَأَحَدُهُمَا تَمْرٌ . متفق عليه .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ د کورنۍ خلکو هيڅکله تر دوو ورځو پوري غنم نه دي خوړلي په دغه دواړو کي به د يوې ورځي غذا خرماوي وې . بخاري او مسلم .

تشريح د حديث مطلب دادی چي رسول الله ﷺ او د هغوی کورنۍ هيڅکله هم پرله پسې دوې ورځي د غنمو ډوډۍ نه ده خوړلې . د غنمو د ډوډۍ قيد ځکه دی چي کيدای سي د اوربشو ډوډۍ ورته تر لاسه کېدل .

﴿۴۰۱۲﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَا شَبِعْنَا مِنَ الْأَسْوَدَيْنِ. متفق عليه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفات سو او موږ هيڅکله په دوو تورو شيانو نس ډک نه کړ (يعني په خرماوو ماړه نه سوو). بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۸۲، رقم: ۶۴۵۵، ومسلم۴\۲۲۸۲، رقم: ۲۵-۲۹۷۱.

تشريح: دا حديث هم ښکاروي چي رسول الله ﷺ او د هغه کورنۍ په څومره سختۍ او تنګۍ سره خپل ژوند تېروی، او سره ددې چي رسول الله ﷺ غوښتي وای نو ددنيا ټول خوندونه او وسائل به د رسول الله ﷺ په قدمو کي وای مګر رسول الله ﷺ پر کمال ايثار او استغناء باندي عامل وو.
د اسودين (دوه تور شيان) څخه خرما او اوبه مراد دي، د اوبو په تور شي سره تعبير کول د مجاورت او تغاوت په وجه دي او داسي کلام د اهل عرب په نزد مستعمل دی لکه څرنګه چي مور او پلار ته ابوين يا سپوږمۍ او لمر ته قمرين وايي، دې ته په عربي کي تغليب وايي، ښکارنده دي وي چي په دغه ارشاد کي د اوبو ذکر د خرماوو په ضمن کي دی اصل مقصد د خرما ذکر کول دی ځکه اوبه د نس ړولو لپاره نه استعماليږي او نه د هغه کمي وي.
ددغه حديث څخه دا خبره هم ښکارنده سوه چي رسول الله ﷺ او د هغه کورنۍ ته خرماوي ته هم په دومره اندازه نه تر لاسه کېدې چي د نس ړولو لپاره کافي سي بلکه دومره به تر لاسه کېدې چي په هغه سره نس ته توان تر لاسه سي.

﴿۴۰۱۳﴾: وَعَنِ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ قَالَ أَلَسْتُمْ فِي طَعَامٍ وَشَرَابٍ مَا شِئْتُمْ لَقَدْ رَأَيْتُ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلَأُ بِهِ بَطْنَهُ. رواه مسلم.

د حضرت نعمان بن بشير ﷛ څخه روايت دئ چي هغه (د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته خلکو ته وويل) ايا تاسو د خوراک او څښاک په شيانو کي په عيش او آرام سره وخت نه تيروئ او څه چي مو زړه غواړي هغه نه خورئ او څښئ؟ ما رسول الله ﷺ ليدلی دئ چي وچي

خرماوي به یې هم نه درلودلې چي په هغه سره رسول الله ﷺ موړ سوی وای. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۲۲۸۴، رقم: ۳۴- ۲۹۷۷.

د لغاتو حل: الدقل: التمر الرديء (خرابي خرماوي)

تشريح: ايا تاسو ... الخ : حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه دا خبره یا خو د تابعين په مخاطب کولو سره وکړه یا د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته د صحابه کرامو په مخاطب کولو سره یې وکړه ستاسو د نبي ﷺ سره ...الخ: مخاطبينو ته د نبي ﷺ اضافت او نسبت هغوی ته د الزام ورکولو یا داسي به وwایو چي د غیرت ورکولو لپاره یې داسي وکړه چي تاسو د کوم نبي امت یاست او د هغه په نامه فخر کوئ د هغه نبي خو دا حال وو چي هغه ته د خپل نس مړولو لپاره معمولي خرماوي هم نه تر لاسه کېدې او یو تاسو یاست چي ډول ډول خوراکونه خورئ او د عيش او عشرت ژوند مو اختيار کړی دی ، او همدارنګه تاسو د دنيا او د دنيا د لذتونو څخه په پرهېز کولو کي د خپل نبي ﷺ طريقې اختيارولو څخه مخ ګرځولی دی ، څرګنده دي وي چي په لومړي حديث کي دا بيان سوی دی چي پر رسول الله ﷺ باندي داسي ورځي تيري سوي دي چي په هغو کي د رسول الله ﷺ خوراک محض خرماوي وې، په دوهم حديث کي بيان سوی دی چي هغه خرماوي به هم په دومره اندازه نه تر لاسه کېدی چي په هغه نس موړ سي ، او دلته دا بيان وسو چي هغه لږ اندازه خرماوي به هم نه وې بلکه هغه به معمولي خرماوي وې چي د محتاج او مفلس سړي څخه پرته بل چا یې خوړل نه خوښول، او دا ټولي خبري ددې حقيقت شاهدي ورکوي چي د رسول الله ﷺ په نزد د دنيا د خوندونو هيڅ ارزښت نه وو او رسول الله ﷺ د معمولي درجې په ژوند تېرولو کي هم زړه نه لګوی بلکه رسول الله ﷺ په بنيادي توګه فقر او ترک لذات اختيار کړی وو او دا د رسول الله ﷺ معمول جوړ سوی وو چي پر هغه باندي الله جل جلاله قائم وساتی ، کله چي پر اسلام او مسلمانانو باندي د سختۍ او تنګۍ زمانه وه نو هغه وخت رسول الله ﷺ په دې عامل وو او کله چي د اسلام او مسلمانانو شوکت په برخه سو او د دنيا خزانې د رسول الله ﷺ په قدمو کي راغلې نو په هغه حالت کي هم رسول الله ﷺ پر فقر او عسرت باندي په ژوند تېرولو قناعت وکړ ، داسي ولي وو؟ محض ددې لپاره نه وو چي رسول الله ﷺ په حقيقت کي مفلس او اړ وو او رسول الله ﷺ د خواهش سربېره پر یو ښه او خوشحال ژوند مهيا کولو باندي قادر نه وو ځکه چي دا ښودل سوي دي چي وروسته مسلمانانو ته ډېر اسباب او پراخي په برخه سوه بلکه داهم پر ځای ويل کېدای سي چي د عسرت او تنګۍ په

زمانه کي هم که رسول الله ﷺ غوښتي وای نو د عيش او تنعم هغه کوم وسائل وه چي رسول الله ﷺ ته تر لاسه کېدای نسوه، حقيقت دادی چي د رسول الله ﷺ دومره سخت او تنگ ژوند تېرول د هغه د سخاوت په وجه وو. کور ته چي به څه راتلل هغه به يې هم په نورو خوړل، ددغه ايثار وجه وه چي ځان به يې په سخت تکليف کي اخته کوی مگر نورو ته به يې راحت رسوی، ددغه زهد، تقوا، قناعت او توکل وجه وه چي د آخرت د لوړتيا او د الله ﷻ د رضا لپاره يې د دنيا هر خواهش او خوند تر شا غورځولی وو.

يو لوی سبب دا هم وو چي رسول الله ﷺ د خپل عملي ژوند په ذريعه خپل امت د عيش او تنعم د ژوند څخه پرهېز کولو د قناعت او توکل د صفت پيدا کولو او خپل حقيقي مقصد په لاره کي د سختئ او تکليف زغملو تعليم او تربيه ورکول وو.

دوړي خوراک ښه نه دی

﴿۴۰۱۴﴾: وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كَانَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ ته به څومره خوراک راوړل

أُتِيَ بِطَعَامٍ أَكَلَ مِنْهُ وَبَعَثَ بِفَضْلِهِ إِلَيَّ وَإِنَّهُ بَعَثَ إِلَيَّ يَوْمًا بِقصعة لَمْ يَأْكُلْ

سو څومره چي به يې خواهش وو د هغه څخه به يې وخوړل او پاته به يې ما ته راليږل، يوه ورځ رسول الله ﷺ ما ته يوه پياله راوليږل چي د هغې څخه يې خوراک نه وو کړی

مِنْهَا لِأَنَّ فِيهَا ثُومًا فَسَأَلْتُهُ أَحَرَامٌ هُوَ قَالَ لَا وَلَكِنِّي أَكْرَهُهُ مِنْ أَجْلِ رِيحِهِ

قَالَ فَإِنِّي أَكْرَهُ مَا كَرِهْتَ. رواه مسلم.

ځکه چي په هغه کي وږه وه، ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ايا وږه حرامه ده؟ رسول الله ﷺ وفرمايل يا، مگر زما ددې بوی خوښ نه دئ، ابو ايوب وايي ما وويل کوم شی چي تاسو نه خوښوی هغه زه هم نه خوښوم. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۶۲۳، رقم: ۱۷۰- ۲۰۵۳.

تشريح حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه يو لوی جليل القدر صحابي دی، نوموړي ته يوه امتيازي درجه دا تر لاسه ده چي کله چي رسول الله ﷺ د خپل کور په پرېښودو سره د مکې څخه هجرت وکړ او مديني منورې ته ولاړی نو تر ټولو وړاندي د ابوايوب انصاري رضي الله عنه سره تم سو او

هغه ته د مېلمستيا شرف په برخه سو، او کيداى سي چي حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه د کوم معمول ذکر کړی وي (يعني دا چي د رسول الله ﷺ پاته سوى خوراک به يې هغه ته استوى) دا د هغه ورځو پېښه وي چي کله رسول الله ﷺ د حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه سره اوسېدى.

زه دا نه خوښوم: په دغه ارشاد کي پر خوراک باندي عيب لګول مقصد نه دی بلکه په اصل کي ددې خبري اظهار مقصد دی چي ددغه شي بوى مسجد ته د تلو څخه او د ملائکو مخته راتللو څخه منع کوي.

نووي رحمة الله عليه ويلي دي: په دغه حديث کي ددې خبري وضاحت دی چي د وږي خوړل مباح دي، مګر د هغه چا لپاره مکروه دي کوم چي په جماعت کي د ګډون کولو اراده ولري (يعني د وږي په خوړلو سره مسجد ته تلل مکروه دي)، او دغه حکم د هر هغه شي دی چي د هغه څخه بدبويي پيدا کيږئ، کوم چي د رسول الله ﷺ د ذات تعلق دی نو رسول الله ﷺ به هر وخت د وحي نازلېدو متوقع وو ځکه نو رسول الله ﷺ هيڅ وخت وږه نه خوړل او ځان يې ځيني ساتی.

په دې اړه د علماوو مختلف قولونه دي چي د پياز، وږي، ګندنې حکم د رسول الله ﷺ لپاره څه وو؟ ايا دغه شيان د رسول الله ﷺ لپاره حرام وه که يا؟ ځيني حنفي علماء وايي چي دغه شيان د رسول الله ﷺ د ذات لپاره حرام نه وه، د هغوى په نزد صحيح خبره داده چي مکروه تنزيهي وو.

ددغه حديث څخه ښکاره سوه چي د خوړونکي او ښېښونکي لپاره دا مستحب دي چي هغه کوم شی خوري يا ښېښي نو په هغه کي دي لږ څه شی پرېږدي او بيا دي هغه پر خپلو اړو همسايګانو باندي ويشي.

کوم شی چي تاسو ناخوښه کړی دی ...الخ: په دې خبره کي يا خو د رسول الله ﷺ پوره پيروي ته اشاره ده چي رسول الله ﷺ وږه نه خوښول ځکه زه يې هم نه خوښوم يا دا چي حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه د خپل دغه ارادې اظهار وکړ چي په جماعت د ګډون کولو لپاره مسجد د تلو په وخت کي وږه نه خورم.

دوږي تر خوړلو وروسته مسجد ته مه ځئ

﴿۴۰۱۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: څوک چي (اوم) پياز يا اوږه

بَصَلًا فَلْيَعْتَزِلْنَا أَوْ قَالَ فَلْيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى

وخوري هغه دي زموږ څخه بېل سي (يعني زموږ په مجلس كي دي ګډون نه كوي)، يا رسول الله ﷺ داسي وفرمايل چي هغه دي خپل په كور كي كښيني، او نبي كريم ﷺ ته

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِقِدْرٍ فِيهِ خَضِرَاتٌ مِنْ بُقُولٍ فَوَجَدَ لَهَا رِيحًا فَقَالَ قَرِّبُوهَا إِلَى بَعْضِ أَصْحَابِهِ وقَالَ كُلْ فَإِنِّي أُنَاجِي مَنْ لَا تُنَاجِي. متفق عليه.

يو ورځ كټو راوړل سوه چي په هغه كي سبزي (تركاري) وه رسول الله ﷺ ته د هغه بوی ورغلئ نو وه يې فرمايل، دا فلاني صحابي ته نژدې كړئ او وه يې فرمايل چي ته يې خوره ځكه چي زه د هغه چا سره مناجات كوم چي تاسو يې ورسره نه كوئ، يعني په هغه تركاى كي پياز يا اوږه ګډه وه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۳۳۹، رقم: ۸۵۵، ومسلم ۱\۳۹۴، رقم: ۷۳- ۵۶۴.

تشريح: زموږ په مسجد كي: ددغه مفرد لفظ څخه دا معلوميږي چي دغه حكم يوازي د مسجد نبوي لپاره دی او په صيغه متكلم كي د مع الغير استعمال (يعني زما د مسجد پر ځای زموږ مسجد ويل) د مسجد نبوي د تعظيم او اكرام لپاره دی مګر ددغه حكم په علت او سبب كي ټول مسجدونه بلكه د خير ټول مجلسونه، د درس او تدريس ځايونه، د اولياء الله او عالمانو مجلسونه هم شامل دي ځكه كوم حكم چي د مسجد نبوي دی چي د وږي وغيره په خوړلو سره مسجد ته مه ځئ نو دا حكم د نورو مسجدو او د خير د مجلسو هم دی او كه دا احتمال هم مدنظر وساتل سي چي په دغه ارشاد كي د مفرد لفظ څخه مراد جنس دی (چي رسول الله ﷺ د مسجد لفظ په ويلو سره ټول مسجدونه مراد اخيستي دي نو بيا دغه تاويل ته هم ضرورت نسته، د دې څخه پرته په ځينو روايتو كي د مسجدنا يعني زموږ د مسجدو لفظ نقل سوی دی، په دغه صورت كي به د ټولو مسجدو لپاره دغه حكم بالكل واضح وي.

په (او ليقعد في بيته) كي د او حرف كه چيري د راوي د شك د اظهار لپاره وي نو مراد به دا وي چي رسول الله ﷺ يا خو فليعتزلنا، يعني هغه بايد زموږ څخه بېل سي، ويلي دي يا يې دا فرمايلي دي چي فليعتزل مسجدنا، يعني هغه بايد زموږ د مسجد څخه ليري سي، يا يې دا فرمايلي دي چي: من اكل ثوما او بصلا فليقعد في بيته، يعني ثوک چي وږه يا پياز وخوري نو هغه بايد په خپل كور كي كښېني بل چا ته دي نه ورځي، كه څه هم هغه په مسجد كي وي يا د مسجد څخه پرته په بل ځای كي وي، مګر دا احتمال هم دی چي په (او ليقعد في بيته) كي د او

حرف د راوي د شک د اظهار لپاره نه وي بلکه د تنويع او تقسيم لپاره وي.

ددې تعلق د مخکنۍ جملې يعني (فليعتزل مسجدنا) سره دی، په دغه صورت کي به معنی دا وي چي د وږي او پياز په خوړلو سره مسجد ته راتلل مکروه دي چي هلته ملائکي، رسول الله ﷺ او صحابه کرام موجود دي، او د دغه شيانو په خوړلو سره په عامه توګه د خلکو سره اختلاط او مجلس کول مباح دي، يا دا چي بايد له دې څخه هم پرهېز وکړل او په خپل کور کي کښېني، او د مطلق اختلاط او مجلس څخه دي منع سي ځکه چي دا زياته غوره ده.

د هغه ذات څخه مراد حضرت جبرائيل عليه السلام او ملائکي دي، مطلب دا وو چي دغه ملائکي ما ته راځي او زه د هغوی سره خبري کوم حال دا چي تاسو ته هغوی نه راځي ځکه کوم شی چي زما لپاره جائز نه دی نو هغه ستاسو لپاره جائز دی يعني د وږي او پيازو خوړل، په دغه ارشاد کي دې ته اشاره ده چي انسان بايد د خپل ناستو خلکو او ملګرو د عاداتو او طبيعت او د هغه د حال لحاظ هم وساتي او د هغه جائز خوښي او مرضي پوره کړي.

د خوراک د شيانو تلل

﴿۴۰۱۶﴾: وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كِيلُوا طَعَامَكُمْ يُبَارَكْ لَكُمْ فيه. رواه البخاري.

د حضرت مقدام بن معديکرب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: د خپل خوراک د شيانو تول کوئ (يعني په اندازه کولو سره يې رانيسي او خرڅوي) ځکه ستاسو لپاره به په دې کي برکت واچول سي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\۳۴۵، رقم: ۲۱۲۸.

تشريح مطلب دا دی چي کوم شی په پېمانه او وزن سره تلل کيږي هغه د پور ورکړي او راکړي، خرڅولو او رانيولو او پخولو لپاره د ورکولو په وخت کي وتلل سي، چي د هغه صحيح اندازه قائمه پاته سي او د کمي او زياتوب اندېښنه پاته نسي نو دغه شی يعني تلل او غله او نور شيان وزن کول د شارع عليه السلام د دوو حکمو په وجه په خير او برکت کي د زياتوب خاصيت او تاثير لري، په خاصه توګه کله چي د سنت خيال وساتل سي، او د رسول الله ﷺ د حکم پر ځای راوړلو مقصد وي (شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله).

ملا علي قاري رحمه الله هم د مظهر څخه دا سي خبره نقل کولو سره ليکلي دي که دا اشکال

پيدا سي چي په دغه حديث او هغه حديث كي به مطابقت ځرنګه وي كوم چي د بي بي عائشې ﷞ ځخه روايت سوى دى چي هغې بيان وكړ كله چي رسول الله ﷺ له دې دنيا ځخه رخصت سو نو هغه وخت زما سره هيڅ نه وه چي ساه لرونكي خوړلي واى پرته د هغه لږ اوربشو ځخه ، الله ﷻ په هغه لږ اوربشو كي دومره بركت اچولى وو چي ما تر يو وخت پوري په راايستلو سره د خپل خوراك بندوبست كوى ، بيا يوه ورځ ما هغه وتللې نو د هغه وخت ځخه بركت ولاړى، ددې جواب دادى چي په اصل كي د رانيولو او پلورلو په وخت كي د تللو او ناپ حكم سوى دى چي برابري او توازن برابر قائم سي او د مصرفولو په وخت كي تلل او ناپول احصار او ضبط دى چي يو ډول بخل او د زړه د تنګى مظهر دى، او ددې ځخه منع فرمايل سوې ده .

نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ حضرت بلال ﷛ ته وفرمايل : اې بلال ! ته مصرف كوه د صاحب عرش (الله ﷻ) له خوا او د كمى ېېره مه كوه .

نو د شيخ عبدالحق محدث دهلوي ﷫ په حوالې سره چي كوم مطلب نقل سوى دى د هغه مطابق د ناپ او تول حكم پر ټولو باندي محمول دى چي د راكړي وركړي او رانيولو او پلورلو كي ناپ تول بايد وسي او د مصرف په وخت كي هم د ناپ او تول خيال ساتل پكار دي ، د ملا علي قاري ﷫ ځخه نقل ذكر سوى اشكال او د هغه جواب دا ځرګندوي چي د ناپ او تول حكم محض د راكړي او وركړي ، رانيولو او پلورلو پر صورت باندي محمول دى . والله اعلم.

د خوراك وروسته د الله ﷻ حمد او ثناء

﴿۴۰۱۷﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَفَعَ مَائِدَتَهُ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ غَيْرَ مَكْفِيٍّ وَلَا مُوَدَّعٍ وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا . رواه البخاري.

د حضرت ابو امامه ﷛ ځخه روايت دئ چي كله به د رسول الله ﷺ ځخه دسترخوان پورته كړل سو نو رسول الله ﷺ به فرمايل : (الحمد لله ....) د الله لپاره تعريف دئ ډېر تعريف او بركت ناك تعريف د همېشه لپاره نه كفايت كړل سو او نه ترك كړل سو او نه د هغه ځخه اې زموږ ربه بې پرواهي وكړل سوه . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\ ۵۸۰، رقم: ۵۴۵۸.

تشريح (غير مكفي) ته علماوو په ځو طريقو سره صحيح ويلي دي او ددې معنى يې بيان

كړې ده كه د هغه پوره تفصيل دلته نقل سي نو بحث به ډېر اوږد سي ، د هغه خلاصه داده چي لفظ د غير او ربنا مرفوع هم كرځول سوى دى او منصوب هم يا په دغه دواړو كي يو منصوب او دوهم مرفوع دى، همدارنګه علماوو چي كوم مطلب بيان كړى دى د هغه خلاصه داده چي دغه الفاظ ، د هغه شخه كفايت سوى دى او نه متروك او نه د هغه شخه بې پرواهي وي، دغه الفاظ يا خو د حمد او تعريف د احوال او صفاتو د اظهار لپاره دي چي انسان بايد د خپل پروردګار داسي تعريف او ثناء بيان كړي چي هغه په هيڅ درجه كافي ونه ګڼل سي ، نه حمد او ثناء بيانول پرېښودل سي او نه له هغه شخه بې نيازي وكړل سي بلكه څرنګه چي الله تعالى هر وخت پر انسان باندي په خپل رحمت سره متوجه وي ، هر وخت په تسلسل او دوام سره هغه ته خپل نعمتونه وركوي همدارنګه انسان دي هم هر وخت په تسلسل او دوام سره د الله تعالى حمد او ثناء بيانوي، چي دا د خپل منعم حقيقي په حضور كي د شكر ادا كول هم دي او د خپل پروردګار تعريف هم دى، يا دا چي دغه الفاظ په اصل كي د خوراك كولو په اړه د صفت درجه لري چي خوراك د الله تعالى ډېر لوى نعمت دى چي دا په هيڅ درجه كي هم د ځان لپاره كافي ونه ګڼل سي بلكه هر وخت خپل ځان د رزق الهي محتاج تصور كړل سي چي د هغه خواهش او طلب تركيداى نسي ، او نه له هغه شخه بې نيازه كېداى سي ، يا دا چي دغه الفاظ د الله تعالى د اوصاف جليله د اظهار لپاره دي چي داسي هيڅ ذات يا داسي هيڅ شى نسته چي هغه ذات ته كافي وي بلكه هغه خپل ټول جهان او ټولو شيانو لپاره كافي دى د هغه د قربت طلب او خواهش پرېښودل كيداى نسي او نه د هغه د فضل او كرم شخه مستغني او بې نيازه كېداى سي .

﴿۴۰۱۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ لَيَرْضَى

د حضرت انس رضي الله عنه شخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى د خپل بنده په دې

عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا

حال ليدو سره خوشحاله كېږي چي هغه يوه ګوله وخوري او پر هغه د الله تعالى تعريف وكړي يا يو غړپ وڅښي او پر هغه د الله تعالى تعريف وكړي .

رواه مسلم ، و سنذكر حديثي عائشة و ابي هريرة ما شبع آل محمد وخرج النبي ﷺ من الدنيا في باب فضل الفقراء ان شاء الله تعالى .

مسلم. او ډیر ژر به موږ انشاء الله د فضل الفقراء په باب كي د بي بي عائشې او حضرت ابو هريرة رضي الله عنه دوه حديثونه بيان كړو چي آل محمد ﷺ هيڅكله په ماړه نس دوډۍ نه ده خوړلې تر څو چي نبي كريم ﷺ د دنيا څخه تشريف يووړ.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۰۹۵، رقم: ۸۹- ۲۷۳۴.

تشريح: (اكله) د الف په زور سره دی او معنی یې په یو وار مړېدو سره خوړل دي، دغه الفاظ د الف په پېش سره هم نقل سوي دي چي معنی یې د ګوله ده.

د حديث خلاصه داده چي كله يو څوک د خوراک څخه فارغ سي يا يو شی وڅښښي او د هغه وروسته د الله جل جلاله شكر ادا كړي، د هغه حمد او ثناء ووايي نو الله جل جلاله د هغه د دغه عمل څخه ډېر خوشحاله كيږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د خوراک په شروع كي بسم الله ويل

﴿۴۰۱۹﴾: عَنْ أَبِي أَيُّوبٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُرِّبَ طَعَامٌ

د حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ په خدمت كي ناست وو چي رسول الله ﷺ ته خوراک نژدې راوړل سو.

فَلَمْ أَرَ طَعَامًا كَانَ أَعْظَمَ بَرَكَةً مِنْهُ أَوَّلَ مَا أَكَلْنَا وَلاَ أَقَلَّ بَرَكَةً فِي آخِرِهِ قُلْنَا

ما تر او سه پوري دومره د بركت خوراک نه وو ليدلی چي د هغه په شروع كي بركت وو او په آخر كي بركت ښخي ولاړی،. موږ وويل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ هٰذَا؟ قَالَ إِنَّا ذَكَرْنَا اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ حِيْنَ أَكَلْنَا ثُمَّ قَعَدَ مَنْ أَكَلَ وَلَمْ يُسَمِّ اللهَ فَأَكَلَ مَعَهُ الشَّيْطَانُ. رواه في شرح السنة.

اې د الله رسوله! دا څنګه وسول؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: موږ د خوراک د شروع كولو په وخت كي د الله جل جلاله نوم اخيستئ وو بيا په هغه كي هغه سړی د خوراک خوړلو لپاره شريک سو چي هغه د الله جل جلاله نوم نه واخيستئ او د هغه سره شيطان خوراک وكړ. شرح السنة

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۱\۲۷۵، رقم: ۲۸۲۴.

تشریح مور د الله ﷻ نوم اخیستی وو: په دغه جمله کي دې ته اشاره ده چي د بسم الله ویلو سنت په محض بسم الله ویلو سره تر لاسه کیږئ مګر غوره داده چي پوره بسم الله یعني بسم الله الرحمن الرحیم وویل سي، د خوراک پېل کولو په وخت کي بسم الله ویل مستحب دي تر دې که چیري یو څوک جنب (ناپاکه) وي یا یوه ښځه د حیض یا نفاس په حالت کي وي نو دغه استحباب د هغو لپاره هم دی په شرط ددې چي د بسم الله ویلو په وخت کي د تلاوت نیت ونه کړي بلکه د ذکر په نیت سره یې ووایي کنه نو حرام به وي ځکه چي د ناپاکی، حیض او نفاس په حالت کي د قرآن کریم تلاوت کول حرام دی او بسم الله هم د قرآن کریم یوه جمله ده.

د کومو شیانو خوراک یا څښناک چي د شریعت له نظره مکروه یا حرام دی د هغو د خوړلو یا څښلو په وخت کي بسم الله ویل مستحب نه دي، که چیري یو څوک د شراب څښلو په وخت کي بسم الله ووایي نو هغه کافر کیږي، ځینو علماوو د مطلق حرام شي خوړلو په وخت کي د بسم الله ویلو ته کفر ویلي دي.

د شیطان په خوراک کي ګډون کول د اکثرو علماوو سلفو او خلفو په نزد پر حقیقت باندي [illegible]ول دی چي هغه د بسم الله په نه ویلو سره د خوړونکي سره په خوراک کي حقیقتا ګډیږي [illegible]چي د هغه په وجه په خوراک کي بې برکتي رامنځته کیږي.

مخکي دا ذکر سوي دي چي د ځینو علماوو په نزد د اجتماعي خو[illegible]ک په صورت کي د یوه سړي بسم الله ویل د ټولو لپاره کافي دي او د هر سړي بسم الله ویل ضروري نه دي نو دغه حدیث د هغه علماوو د مذهب خلاف یو دلیل دی.

د خوراک په مینځ کي دعاء

﴿۴۰۲۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَنَسِيَ اَنْ يَّذْكُرَ اللَّهِ تَعَالَى على طعامه فَلْيَقُلْ بِسْمِ اللَّهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي په تاسو کي یو څوک خوراک شروع کړي او د الله ﷻ نوم اخیستل ځیني هېر سي نو هغه ته پکار ده چي دا الفاظ ووایي بسم الله اوله واخره. ترمذي او ابوداؤد.

تخریج: سنن الترمذي ۴\ ۲۵۳، رقم: ۱۸۵۸، وابوداود ۴\ ۱۳۹، رقم: ۳۷۶۷.

تشریح د الله ﷻ نوم اخیستل هېر سي ...الخ: له دې څخه څرګندېږي سوه چې د خوراک پېل کولو په وخت کې محض د الله ﷻ د نامه ذکر کول کافي دی یعني بسم الله ویل افضل دي .

په محیط کې لیکلي دي که چیرې یو سړی د اوداسه کولو په وخت کې د بسم الله پر ځای لااله الاالله یا الحمدلله یا اشهد ان لااله الاالله ووایي نو هغه ته به سنت ادا کونکی ویل کیږي همدارنګه د خوړلو په صورت کې هم دا مسئله ده مګر که چیرې یو سړی د اوداسه په پېل کې بسم الله ویل هېر کړي بیا د اوداسه په مینځ کې ور په یاد سي او بسم الله ووایي نو هغه ته په سنت باندې د عمل کولو درجه نه تر لاسه کیږي پر خلاف د خوراک که چیرې د خوراک په مینځ کې بسم الله ور په یاد سي او وه یې وایي نو د سنت د ادا کولو لپاره کافي کیږي .

﴿۴۰۲۱﴾: وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ مَخْشِيٍّ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يَأْكُلُ فَلَمْ يُسَمِّ حَتَّى لَمْ يَبْقَ

د حضرت امیه بن مخشي رضي الله عنه څخه روایت دئ چې یو سړي ډوډۍ خوړل او بسم الله یې نه ویل

مِنْ طَعَامِهِ إِلَّا لُقْمَةٌ فَلَمَّا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ قَالَ بِسْمِ اللَّهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ فَضَحِكَ

هر کله چې یې یوه ګوله پاته سوه هغه چې خولې ته پورته کول نو ویل یې بسم الله اوله وآخره ،

النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ مَا زَالَ الشَّيْطَانُ يَأْكُلُ مَعَهُ فَلَمَّا ذَكَرَ اسْمَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ اسْتَقَاءَ مَا فِي بَطْنِهِ . رواه ابوداؤد.

رسول الله ﷺ وخندل او بیا یې وفرمایل : شیطان دده سره خوراک کوئ کله چې ده بسم الله وویل نو هغه د خپل نس ټول خوراک د باندي وغورځوئ. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۴\ ۱۴۰۰، رقم: ۳۷۶۸.

تشریح شیطان د خپل نس هر څه قی کړل : دا پر حقیقت باندي محمول دی یا دا مراد دی چې د خوړلو په وخت کې د بسم الله نه ویلو په وجه چې کوم برکت تللی وو هغه یې بېرته راوګرځوی ، یعني هغه برکت د هغه شیطان په نس کې امانت وو کله چې هغه سړي بسم الله وویل نو هغه برکت هم په خوراک کې بېرته راغلی .

د خوراک وروسته شکر او حمد

﴿۴۰۲۲﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

إِذَا فَرَغَ مِنْ طَعَامِهِ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ.

رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به کله د خوارک څخه فارغ سو نو (الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ) به يې ويل. ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجة.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۴۷۳، رقم: ۳۴۵۶، وابوداود ۴\ ۱۸۷، رقم: ۳۸۵۰، وابن ماجه ۲\ ۱۰۹۲، رقم: ۳۲۸۳.

﴿۴۰۲۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعِمُ الشَّاكِرُ الصَّائِمِ الصَّابِرِ. رواه الترمذي و رواه ابن ماجه والدارمي عن سنان بن سنة عن ابيه.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د خوراک وروسته شکر کونکی د صبرناک روژه دار په ډول دئ، ترمذي، او ابن ماجه او دارمي د سنان بن سنة څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کړی دئ

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۶۳، رقم: ۲۴۸۶.

تشريح د شکر ادا کولو ادنا درجه داده چي د خوراک پېل کولو په وخت کي بسم الله ووايي او د خوراک فارغه کېدو وروسته د الله تعالی حمد او ثناء ووايي، د صابر روژاتي ادنا درجه داده چي خپل ځان د روژې د مفسداتو څخه وژغوري.

صابر د روژاتي په ډول دی: دغه تشبيه په اصل کي په ثواب کي ګډون دی نه دا چي په مقدار کي تشبيه ورکول مراد دي، د مثال په توګه به داسي ووايو لکه چي ويل کيږي زيد کعمرو، يعني زيد د عمرو په ډول دی، ددې معنی داده چي زيد په ځينو عادتو کي د عمرو مشابه دی نه دا چي هغه په ټولو عادتو کي د عمرو هم مثل دی، په دې کي دې ته اشاره ده چي صابر فقير د شاکر شتمن څخه غوره دی ځکه چي مشبه به د مشبه څخه اقوی وي.

﴿۴۰۲۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ اَيُّوْبٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَ وَسَقَى وَسَوَّغَهُ وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجًا. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو ايوب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به کله خوراک يا چيښاک وکړ نو (الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَ وَسَقَى وَسَوَّغَهُ وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجًا) به يې ويل. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۸۷، رقم: ۳۸۵۱.

د خوراک تر مخه او وروسته اودس

﴿۴۰۲۵﴾: وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَرَأْتُ فِي التَّوْرَاةِ أَنَّ بَرَكَةَ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ بعده

د حضرت سلمان رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما په تورات کي ولوستل چي د خوراک د برکت سبب د خوراک څخه وروسته اودس کول دي،

فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رسول الله صلى الله عليه

ما رسول الله ﷺ ته ددې يادونه وکړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل :

وسلم بَرَكَةُ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ قَبْلَهُ وَالْوُضُوءُ بَعْدَهُ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د خوراک برکت د خوراک څخه تر مخه اودس او د خوراک څخه وروسته اودس کول دي. ترمذي، ابوداؤد

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۴۸، رقم: ۱۸۴۷.

تشريح: د اوداسه څخه مراد د خوراک څخه مخکي د لاسونو او د خوړلو څخه وروسته د دواړو لاسو او خولې پرېولل دي، د خوراک څخه مخکي اودس يعني د لاسو پرېولل په هغه خوراک کي د برکت ذريعه په دې توګه وي چي د هغه لاس پرېوللو په وجه الله تعالى په خوراک کي زياتوب ورکوي او د خوراک څخه وروسته اودس په هغه خوراک کي د برکت ذريعه کېدل دادي چي د هغه په وجه طبيعت ته سکون تر لاسه کيږي او د خوراک څخه وروسته لاسونه او خوله پرېولل يا د لاسونو او خولې په پرېوللو سره طبيعت ته سکون تر لاسه کېدل په عباداتو. اخلاق حسنه او اعمال صالحه کي د تقويت او زړه لګېدو سبب وي.

﴿۴۰۲۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ فَقُدِمَ إِلَيْهِ طَعَامٌ فَقَالُوا أَلَا نَأْتِيكَ بِوَضُوءٍ قَالَ إِنَّمَا أُمِرْتُ بِالْوُضُوءِ إِذَا قُمْتُ إِلَى الصَّلَاةِ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي و رواه ابن ماجه عن ابي هريرة

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د بیت الخلاء څخه راووتی نو رسول الله ﷺ ته خوراک راوړل سو ، صحابه کرامو وویل: موږ د اوداسه لپاره اوبه راوړو؟ رسول الله ﷺ وفرمایل ما ته دا حکم سوی دئ چي کله دلمانځه لپاره ودریږم نو اودس وکړم. ترمذي، ابوداؤد. نسائي او ابن ماجه د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت کړی دئ.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۲۴۸، رقم: ۱۸۴۷، وابوداود ۴\۱۳۶، رقم: ۳۷۶۰، والنسائي ۱\۸۵.

تشریح دغه جمله رسول الله ﷺ د اکثر او اغلب په اعتبار وفرمایل ، چي د وجوب په توګه د اوداسه کولو حکم یوازي د لمانځه لپاره دی ، کنه نو د سجده تلاوت، قرآن کریم مس کولو او طواف کولو لپاره هم اودس واجب دی ، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ دا وګڼل چي صحابه کرام دا عقیده لري چي د خوراک څخه مخکي اودس کول واجب دی نو رسول الله ﷺ ددغه عقیدې د نفي په ښه ډول څرګندولو لپاره په خپل ارشاد کي د حصر طرز اختیار کړ او دا ددې خبري خلاف نه دی چي د خوراک څخه مخکي اودس کول جائز بلکه مستحب دی دلته د اوداسه څخه مراد هغه اودس دی کوم چي د لمانځه لپاره کیږي نه د خوراک کولو اودس یعني د لاسو او خولې پرېولل. د حدیث سیاق هم پر دې دلالت کوي ، بیا هم که چیري په دغه جمله کي (الا ناتیک بوضوء) : ایا موږ ستاسو لپاره د اوداسه اوبه راوړو، که چیري دلته د اوداسه څخه مراد خوراک اودس وي او ددغه جملې (انما امرت بالوضوء) کي د اوداسه څخه مراد د لمانځه اودس واخیستل سي نو داهم کېدای سي او د خوراک څخه مخکي لاسونه پرېولل د سنتو او ادابو څخه دی نه د واجباتو څخه، ځکه رسول الله ﷺ په دغه وخت کي د جواز ښوونی لپاره هغه پرېښود ، او په دغه صورت کي به د حدیث خلاصه دا وي چي دغه اودس یعني د خوراک څخه مخکي لاسونه پرېولل چي د هغه لپاره تاسو ما ته خواست کوئ ، واجب او مامور نه دی که چیري زه دا پرېږدم یعني د خوړلو څخه مخکي خپل لاسونه نه پرېولم نو څه تاوان نسته مګر دلته یو بل اودس دی او هغه د لمانځه اودس دی چي واجب دی.

د خپل مخ څخه خوراک

﴿۴۰۲۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ أُتِيَ بِقَصْعَةٍ

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته د ښوروا پياله راوړل سوه،

مِنْ ثُرِيْدٍ فَقَالَ كُلُوا مِنْ جَوَانِبِهَا وَلاَ تَأْكُلُوا مِنْ وَسَطِهَا فَاِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ فِيْ

رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل د غاړو څخه خورئ د منځ څخه مه خورئ ځکه برکت په

وَسْطِهَا .رواه الترمذي و ابن ماجة والدارمي و قال الترمذي هذا حديث

منځ کي نازليږي، ترمذي، ابن ماجه او دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ.

حسن صحيح و في رواية ابوداؤد قَالَ اِذَا اَكَلَ اَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلاَ يَأْكُلُ مِنْ

او د ابوداؤد په يوه روايت کي دا الفاظ دي څوک چي خوراک کوي نو د خپل مخ د خوا دي يې

أَعْلَى الصَّحْفَةِ وَلٰكِنْ لِيَأْكُلُ مِنْ أَسْفَلِهَا فَإِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ مِنْ أَعْلاَهَا .

خوري د منځ يا د بلي خوا دي يې نه خوري ځکه چي برکت پر سربېره برخه نازليږي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۲۹، رقم: ۱۸۰۵، وابن ماجه ۲\ ۱۰۹۰، رقم: ۳۲۷۷، والدارمي ۲\ ۱۳۷، رقم: ۲۰۴۶، وابوداود ۴\ ۱۴۲، رقم: ۳۷۷۲.

تشريح: ثريد هغه خوراک ته وايي چي ډوډۍ په ښوروا کي خشته کړل سي، د جمع لفظ د جمع د صيغې په مقابله کي راوړل سوی دی، مطلب يې دادی چي هر سړی دي د خپل مخ څخه خوراک کوي د مينځ په برخه کي د برکت نازلېدل په دې سبب دي چي د يو شي په منځنۍ برخه د نورو برخو په نسبت افضل وي نو د خوراک د لوښي منځنۍ برخه ددې وړ ده چي د خير او برکت نزول پر هغه وي او کله چي د خوراک درمياني برخه د خير او برکت نازلېدو ځای وګرځول سو نو ددې غوره خبره بله څه کېدای سي چي هغه برخه د خوراک تر پايه پاته وي چي د خوراک برکت هم تر پايه پوري وي نو د خپل مخ په پرېښودو سره لومړی د درمياني برخي څخه خوراک او د هغه ختمول به مناسب نه وي.

د کاسې د سربېره څخه مراد د هغه منځنۍ برخه ده او د هغه د لاندي څخه مراد د هغه غونډې دي، ددې مطلب هم دادی چي د خپل مخ څخه بايد خوراک وکړل سي.

په تکیه کولو سره یې خوراک نه دی کړی

﴿۴۰۲۸﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ مَا رُئِيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ مُتَّكِئًا قَطُّ وَلَا يَطَأُ عَقِبَهُ رَجُلَانِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ هیڅکله خوراک په داسي حالت کي نه دی کړی چي تکیه دي یې لګولې وي او په رسول الله ﷺ پسي به دوه کسان هم نه تلل. حاصل دا چي د کمال تواضع څخه به رسول الله ﷺ د صحابه کرامو څخه مخکي نه تلی ځکه چي دا د متکبرانو عادت دی. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۴\۱۴۱، رقم: ۳۷۷۰.

تشریح په څنګ وهلو سره د خوراک په اړه په تېرو مخونو کي تفصیلي خبره سوې ده، د وروستنیو الفاظ مطلب دادی چي کله به رسول الله ﷺ یو ځای تلی نو په رسول الله ﷺ پسي به زیات خلک نه بلکه دوه یا درې کسان به هم نه ور پسي تلل بلکه رسول الله ﷺ به د تواضع او عاجزۍ په وجه د خپلو صحابه کرامو سره داسي تلی چي یا خو به رسول الله ﷺ د ټولو په مینځ کي وو یا به تر ټولو وروسته وو، لکه څرنګه چي په بل حدیث کي دغه الفاظ نقل سوي دي چي (و یسوق اصحابه) یعني رسول الله ﷺ به د خپلو صحابهٔ کرامو څخه وروسته تلی، رسول الله ﷺ به د خپلو اصحابو او ملګرو څخه مخکي نه تلی لکه څرنګه چي د امیرانو، پاچاهانو، متکبرینو او شتمنو خلکو طریقه ده او تر هغوی مخکي تلل د خپل لویي سبب ګني، بلکه دا دې هغه کوي چي زیات خلک پسي روان وي، د دوو د قید څخه څرګنده سوه چي کله ناکله به لږ خلک لکه حضرت انس رضی الله عنه یا بل څوک ور پسي وو او هغه هم د ضرورت په وجه نو دا د تواضع او انکسارۍ خلاف نه دی.

په مسجد کي د خوراک مسئله

﴿۴۰۲۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ أُتِيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عبدالله بن حارث بن جزء رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ ته ډوډۍ او غوښه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخُبْزٍ وَّلَحْمٍ وَّهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَاَكَلَ وَ اَكَلْنَا مَعَهُ ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى وَ

صَلَّيْنَا مَعَهُ وَلَمْ نَزِدْ عَلٰى اَنْ مَسَحْنَا اَيْدِيَنَا بِالْحَصْبَاءِ. رواه ابن ماجه.

راوړل سوه، رسول الله ﷺ دغه وخت په مسجد کي وو، رسول الله ﷺ او موږ يو ځای ډوډۍ وخوړل بيا رسول الله ﷺ ولاړ سو او لمونځ يې وکړ او موږ هم د رسول الله ﷺ سره لمونځ وکړ موږ يوازي دومره وکړل چي خپل لاسونه مو د مسجد په کوچنيو ډبرو وچ کړل. ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۰۹۷، رقم: ۳۳۰۰.

تشريح: مطلب دادي چي د خوراک کولو څخه وروسته موږ خپل لاسونه په اوبو سره نه پرېولل او د هغه وجه دا وه چي په هغه خوراک کي به غوړوالی نه وو يا دا چي د لمانځه لپاره به زموږ تلوار وو يا دا سبب وو چي موږ د تکلف په پرېښودو سره پر اسانۍ باندي عمل کړی وو ځکه چي پر غير واجب کارو باندي کله ناکله پر اجازې باندي عمل کول هم د الله تعالی په نزد داسي خوښ دي لکه څرنګه چي هغه په زياتو وختو کي پر عزيمت باندي عمل کول خوښوي.

په احياء العلوم کي له ځينو صحابه کرامو څخه نقل سوي دي چي هغوی ويلي دي: د خوراک څخه وروسته زموږد پښو پندو به زموږ لپاره د دسمال کار کوی يعني موږ به د خوراک کولو څخه وروسته خپل لاسونه پر خپل پوندو موږل لکه څرنګه چي په دسمال سره وچول کيږي.

په څرګنده دا معلوميږي چي د حديث الفاظ: (لم نزد او مسحنا) کي د متکلم مع الغير صيغه رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ټولو ته شامله ده يعني رسول الله ﷺ او هلته موجود ټولو صحابه کرامو خپل لاسونه په ډبرو سره وچول.

د دغه حديث څخه څرګنده سوه چي په مسجد کي خورک او څښاک جائز دی او دا خبره په حديثو کي نقل سوې ده په خاصه توګه د خرما او داسي نورو شيانو په باره کي زيات نقل سوي دي مګر علماوو ليکلي دي چي دغه جواز په دې سره مقيد دی چي د هغه په وجه په مسجد کي چټلي وغيره پيدا نسي، کنه نو د چټلۍ پيدا کېدو په صورت کي په مسجد کي خوراک او څښاک به حرام يا مکروه وي، او د فقهي په کتابو کي ليکلي دي چي کوم څوک د اعتکاف په حالت کي نه وي نو هغه دي په مسجد کي خوراک نه کوي، نه دي هلته څښل کوي او نه دي بېديږي، نه دي پلورل او رانيول کوي چي دا مکروه دي، مګر د هغه مسافر لپاره اجازه ده چي د هغه د مسجد څخه پرته بل ځای نه وي.

علماوو ليکلي دي چي کله يو څوک مسجد ته ننوزي نو د اعتکاف نيت دي وکړي چي په مسجد کي خوراک، څښاک او نور کارونه ورته مباح سي او د اعتکاف ثواب يې هم په برخه سي.

دلاس غوښه

﴿۴۰۳۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُتِيَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ فَنَهَسَ مِنْهَا. رواه الترمذي و ابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته پخه غوښه راوړل سوه او په هغه کي رسول الله ﷺ ته د ورانه (لاس) غوښه ورکړل سوه چي د رسول الله ﷺ ډېره خوښه وه، رسول الله ﷺ غوښي په خوله څني شکولې او خوړلې. ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۴۴، رقم: ۱۸۳۷، وابن ماجه ۲\ ۱۰۹۹، رقم: ۳۳۰۷.

تشريح: رسول الله ﷺ د بې تکلفي، سادګۍ او تواضع په سبب د ورانه د هډوکو غوښه د غاښو په ذريعه په شکولو سره وخوړل، داسي غوښه خوړل مستحب دي، طيبي رحمة الله عليه وايي: د رسول الله ﷺ د ورانه غوښه خوښول په دې وجه وو چي هغه ښه خوږېنه کيږي، ژر هضم کيږي او زياته خوندوره وي، ددغه خوښې وجه داده چي د ورانه غوښه د چټلۍ د ځايو څخه لکه کلمې وغيره څخه ليري وي، په شمائل ترمذي کي د بې بي عائشي رضي الله عنها دا روايت نقل سوی دی چي د ورانه غوښه د رسول الله ﷺ زياته خوښه نه وه مګر رسول الله ﷺ ته به کله نا کله غوښه تر لاسه کېدل او د ورانه غوښه ژر خوږېنه کيږي ځکه نو د ورانه غوښه به يې خوښول، او په يوه روايت کي داسي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زياته خوندوره او زياته خوښه غوښه د ملا غوښه ده.

غوښه په چاړې پرېکولو سره مه خورئ

﴿۴۰۳۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْطَعُوا

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مه پرې کوئ

اللَّحْمَ بِالسِّكِّينِ فَإِنَّهُ مِنْ صَنِيعِ الْأَعَاجِمِ وَانْهَسُوهُ فَإِنَّهُ أَهْنَأُ وَأَمْرَأُ. رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان و قالا ليس هو بالقوي

غوښه په چاړه سره ځکه چي دا د عجمي خلکو طريقه ده (بلکه) په غاښونو پرېکولو سره يې خورئ ځکه چي په غاښونو سره خوړل يې خوندور او هاضم وي. ابوداؤد او بيهقي په شعب الايمان کي او دواړو ويلي دي چي دا قوي نه دئ

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۴۵، رقم: ۳۷۷۸. والبيهقي في شعب الايمان ۵\۹۱، رقم: ۵۸۹۹.

تشريح د عربو خلكو د خپل ځان څخه پرته د دنيا ټولو خلكو ته عجميان ويل، مگر دلته اهل فارس (ايرانيان) مراد دي چي هغو خلكو د تكبر او غرور له مخي غوښه او نور شيان په چاړه سره پرېكولو سره خوړل، مگر په ځينو وختو كي د رسول الله ﷺ څخه هم دا ثابت دي چي رسول الله ﷺ په چاړه پرېكولو سره غوښه خوړلې ده، نو په دغه دواړو روايتو كي داسي مطابقت پيدا كيږي كه چيري غوښه نرمه او خوړينه نو دچاړې پر ځاى په غاښو سره پرېكول او خوړل پكار دي او كه غوښه كلكه وي نو بيا په چاړه سره پرېكول به جائز وي. څرگنده دي وي چي ذكر سوې منع د نهي تنزيهي په توگه ده.

د مريض لپاره پرهيز ضروري دى

﴿۴۰۳۲﴾: وَعَنْ أُمِّ الْمُنْذِرِ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ام منذر (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ كره تشريف راوړ

وَمَعَهُ عَلِيٌّ وَلَنَا دَوَالٍ مُعَلَّقَةٌ فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ

او د رسول الله ﷺ سره حضرت علي رضي الله عنه هم وو، زموږ په كور كي د خرماوو غونچه زړېدل، ددغه غونچې څخه رسول الله ﷺ

وَعَلِيٌّ مَعَهُ يَأْكُلُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ مَهْ يَا عَلِيُّ

او حضرت علي رضي الله عنه خوړل، رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمايل اې علي! ته يې مه خوره

فَإِنَّكَ نَاقِهٌ قَالَتْ فَجَعَلْتُ لَهُمْ سِلْقًا وَشَعِيرًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ځكه چي ته اوس جوړ سوى يې (ناروغ وو او ستړگي يې خوږېدلې) بي بي ام منذر. وايي ما د رسول الله ﷺ او د هغوى د ملگرو لپاره چغندر او اوربشي تياري كړي وې رسول الله ﷺ وفرمايل:

يَا عَلِيُّ مِنْ هَذَا فَأَصِبْ فَإِنَّهُ أَوْفَقُ لَكَ. رواه احمد والترمذي وابن ماجة.

اې علي! دا خوره ځكه چي دا ستا لپاره ډېر گټور دي. احمد، ترمذي او ابن ماجه

تخريج: مسند الامام احمد ۶\ ۳۶۴، والترمذي ۴\۳۳۵، رقم: ۲۰۳۷، وابن ماجه ۲\ ۱۱۳۹.

تشريح. د دغه حديث څخه څرګنده سوه چې د ناروغ سړي لپاره پرهېز ډېر ضروري دي بلکه ځينو طبيبانو ويلي دي څوک چې د ناروغۍ څخه را پورته سي او پر هغه د کمزورۍ غلبه وي نو د هغه لپاره پرهېز ډېر ګټور دی حال دا چې د روغ سړي لپاره پرهېز تاواني دی.

د نبي کريم ﷺ خوښ کتڼ

﴿۴۰۲۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ الثُّفْلُ. رواه الترمذي والبيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ سفل (کوينی يعني د دېګ پای) ډېر خوښ وو. ترمذي او بيهقي په شعب الايمان کي.

تخريج: رواه الترمذي في الشمائل المحمدية ص ۸۷، رقم: ۱۸۶، والبيقهي في شعب الايمان ۵\۹۶۱، رقم: ۵۹۲۴.

د لغاتو حل: الثفل: هو ما يبقى بعد العصر او ما يلتصق بالقدر (کوينی)

تشريح: د رسول الله ﷺ عادت دا وو چې د نورو اړتياوي به يې پر خپل اړتيا مخکي کولې، رسول الله ﷺ به تر ټولو وړاندي خوراک پر خپل کورنۍ، مېلمنو او اړو کسانو باندي ويشی او کوم خوراک چې به پاته سو هغه به يې د ځان لپاره ايښودی، دا د رسول الله ﷺ د قربانۍ او سخاوت دليل هم وو او د رسول الله ﷺ د تواضع او انکسارۍ، صبر او قناعت مظهر هم وو، دا خبره د شتمنو خلکو لپاره يو څرګند دليل هم دی چې په عامه توګه سره د تکبر له موخي پاته سوی خوراک پېغور ګڼي او هغه ضائع کوي.

د پيالې څټل د مغفرت ذريعه ده

﴿۴۰۲۴﴾: وَعَنْ نُبَيْشَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَكَلَ فِي قَصْعَةٍ فَلَحَسَهَا اسْتَغْفَرَتْ لَهُ الْقَصْعَةُ. رواه احمد والترمذي وابن ماجة والدارمي وقال الترمذي هذا حديث غريب.

: حضرت نبيشه رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسو ل الله ﷺ وفرمايل: څوک چې دپيالې څخه خوراک وکړي او بيا هغه وڅټي نو پياله د هغه لپاره استغفار کوي (بخښنه غواړي). احمد،

ترمذي، ابن ماجه او دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\ ۷۶، والترمذي ۴\ ۲۲۸، رقم: ۱۸۰۴، وابن ماجه ۳\ ۱۰۹۸، رقم: ۳۲۷۱، والدارمي ۲\ ۱۳۱، رقم: ۲۰۲۷.

تشريح: ثرګنده خبره داده چي کاسه په حقيقت کي استغفار کوي، علماوو دا هم ليکلي دي چي کاسه څټل په اصل کي د تواضع اختيارول دي او د تکبر څخه ځان ساتل دي او دغه شيان د مغفرت او بخښني سبب دي او کاسې ته د استغفار نسبت په دې اعتبار سوی دی چي په ظاهره د دغه مغفرت او بخښني سبب کاسه وي.

د خوراک وروسته لاسونه پريولل

﴿۴۰۳۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَاتَ وَفِي يَدِهِ غَمَرٌ لَمْ يَغْسِلْهُ فَأَصَابَهُ شَيْءٌ فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ. رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي بيده سي او د هغه پر لاس (د خوراک) غوړ والی وي چي د خوړلو څخه وروسته يې پريولی نه وي او په دغه حالت کي هغه ته تاوان ورسيږي نو هغه دي خپل ځان ملامت کړي. ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۵۵، رقم: ۱۸۶۰، وابوداود ۴\ ۱۸۸، رقم: ۳۸۵۲، وابن ماجه ۲\ ۱۰۹۶، رقم: ۳۲۹۷.

ثريد د نبي ﷺ خوښ خوراک وو

﴿۴۰۳۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ أَحَبَّ الطَّعَامِ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الثَّرِيدُ مِنَ الْخُبْزِ وَالثَّرِيدُ مِنَ الْحَيْسِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي په ټولو خوراکونو کي د رسول الله ﷺ ښوروا ډيره خوښه وه يعني د ډوډۍ ښوروا او د حيس ښوروا. ابوداؤد. (حيس: خرما، غوړي، اوړه او د پنير يو ځای کولو څخه جوړيږي).

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۱۴۷، رقم: ۳۷۸۳.

تشريح د ډوډۍ ثريد هغه خوراک ته وايي چي ډوډۍ په ښوروا کي خشته کړل سي او د حيس ثريد هغه خوراک ته وايي چي د غوړو او کُرتو يعني مستو په يو ځای کولو سره د مالېدې په ډول سي (چي په پښتو کي ناتار ورته وايي).

د زيتون د تيلو فضيلت

﴿۴۰۳۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ اُسَيْدٍ الْاَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُوا الزَّيْتَ وَادَّهِنُوا بِهِ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ. رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي.

د حضرت ابو اسيد انصاري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د زيتون تيل خورئ او بدن په غوړوئ ځکه چي دا د يو برکتناکي درختي تيل دي. ترمذي، ابن ماجه او دارمي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۵۱، رقم: ۱۸۵۲، وابن ماجه ۲\ ۱۱۰۳، رقم: ۳۳۱۹، والدارمي ۲\ ۱۳۹، رقم: ۲۰۵۳.

تشريح: زيتون ځکه د برکت درخته ده چي په دې کي زيات خير، برکت او ګټې دي، د قرآن کريم په آيت (الله نور السماوات والارض ...الخ) کي چي کومي درختي ته شجره مبارکه ويل سوي دي له هغه څخه د زيتون درخته مراد ده چي غوره درختي يې په شام کي پيدا کيږي. په سورة والتين والزيتون کي الله تعالی د دغه درختي قسم اخيستی دی، عرب خلک په خاصه توګه د شام اوسيدونکي د دغه درختي خواږه تېل خوري او ترخه تيل يې په څراغ وغيره کي مصرفوي، په طبي توګه سره دا ثابته ده چي د بدن د زيتون په تېلو غوړولو سره ډيري ګټې تر لاسه کيږي.

د سورکې فضيلت

﴿۴۰۳۸﴾: وَعَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

د ام هانئ (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ کره تشريف راوړ او ويې فرمايل:

اَعِنْدَكِ شَيْءٌ فَقُلْتُ لَا إِلَّا خُبْزٌ يَابِسٌ وَخَلٌّ فَقَالَ هَاتِيْ مَا أَقْفَرَ بَيْتٌ مِنْ أُدُمٍ فِيهِ خَلٌّ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب.

د خوراک يو شی سته ؟ ما وويل: هيڅ نسته مګر وچه ډوډۍ او سورکه سته، رسول الله ﷺ وفرمايل هغه راوړه ، هغه کور د کتغ څخه خالي نه دئ چي په هغه کي سورکه وي . ترمذي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ .

تخريج: سنن الترمذي ۲۴۶/۴، رقم: ۱۸۴۱.

تشريح: رسول الله ﷺ په ډېره بې تکلفۍ سره ذکر سوی خوراک وغوښتی، ددې سبب دا وو چي د بي بي ام هانئ ﷺ زړه هم خوشحاله سي او هغې ته دا هم څرګنده سي چي په کور کي څه موجود وي په هغه سره قناعت بايد وکړل سي .

خرما کتغ دی

﴿۴۰۳۹﴾: وَعَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ كِسْرَةً مِنْ خُبْزِ شَعِيرٍ فَوَضَعَ عَلَيْهَا تَمْرَةً وَقَالَ هٰذِهِ إِدَامُ هٰذِهِ وَأَكَلَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت يوسف بن عبد الله بن سلام رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ وليدئ چي د اوربشو د ډوډۍ يوه ټوټه يې واخيستل د هغه سربېره يې يوه خرما کښېښودل او وه يې فرمايل دا ددې کتغ دئ او هغه يې وخوړل . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵۷۵/۳، رقم: ۳۲۵۹.

غير مسلم ته د علاج لپاره ورتګ

﴿۴۰۴۰﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ مَرِضْتُ مَرَضًا أَتَانِي النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه ناروغ سوم او رسول الله ﷺ زما پوښتني ته راغلئ

يَعُودُنِي فَوَضَعَ يَدَهُ بَيْنَ ثَدْيَيَّ حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَهَا عَلَى فُؤَادِي فَقَالَ إِنَّكَ

او خپل لاس مبارک يې زما پر سينه کښېښودئ چي د هغه يخ والی زما زړه ته ورسيدئ بيا يې

رَجُلٌ مَفْئُودٌ ائْتِ الْحَارِثَ بْنَ كَلَدَةَ أَخَا ثَقِيفٍ فَإِنَّهُ رَجُلٌ يَتَطَبَّبُ فَلْيَأْخُذْ

وفرمايل : ته د زړه په درد اخته يې ته حارث بن کلده ته ورسه چي د قبيله ثقيف څخه دئ هغه په

طب پوهیږي ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل :

سَبْعَ تَمَرَاتٍ مِنْ عَجْوَةِ الْمَدِينَةِ فَلْيَجَأْهُنَّ بِنَوَاهُنَّ ثُمَّ لِيَلُدَّكَ بِهِنَّ . رواه ابوداؤد.

هغه دي د مدینې د عجوه خرماوو څخه اووه دانې واخلي او هغه دي په هډوکي سره وکوټي بیا دي یې ستا په خوله کي واچوي . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۴\۲۰۷، رقم: ۳۸۷۵.

د لغاتو حل: یلد : ای یصب الدواء في الفم (په خوله کي دوا اچول.)

تشریح: که چیري دا سوال پیدا سي چي ددې څه سبب وو چي رسول الله ﷺ مخکي سعد رضی الله عنه ته و طبیب ته د تلو حکم وکړ او بیا یې خپل علاج هم تجویز کړ مګر د دواء جوړولو کار یې طبیب ته وسپاری ، ددې جواب دادی چي مخکي خو یې سعد رضی الله عنه ته و طبیب ته د تلو مشوره ورکړه چي په لېدو سره د هغه علاج وکړي بیا چي رسول الله ﷺ ته د هغه ناروغۍ یو آسانه علاج ورپه یاد سو چي ژر ګټه کونکی وو نو د شفقت او تعلق له موخي یې هغه ته تجویز ورکړ، یعني د دواء بنودل او استعمال د طبیب لپاره زیات اسان وو ځکه نو دغه کار یې هغه ته وسپاری .

علماوو لیکلي دي چي دغه حدیث پر دې دلالت کوي چي غیر مسلم طبیب ته ورتلل او مشوره کول جائز دي ځکه چي حارث بن کلده د اسلام په لومړنۍ زمانه کي مړ سوی دی او د هغه اسلام منل ثابت نه دي .

غذا معتدله کړئ

﴿۴۰۴۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْكُلُ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ .رواه الترمذي و زاد ابوداؤد يقول يكسر حر هذا ببرد هذا و برد هذا بحر هذا وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

د عائشې (رض) څخه روایت دئ چي نبي کریم ﷺ به تازه هندوانه (خټکی) د خرماوو سره خوړل . ترمذي، ابوداؤد دا الفاظ زیات لیکلي دي چي رسول الله ﷺ به فرمایل ددې یخوالی ددې ګرمي ماتوي او ددې ګرمي ددې یخوالي ماتوي . ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۴۶، رقم: ۱۸۴۳، وابوداود ۴\۱۷۶، رقم: ۳۸۳۶.

تشريح د ذکر سوو دواړو شيانو په يو ځای کولو سره خوړلو کي لوی حکمت دادی چي يو شی يخ او بل شی ګرم دی، د دواړو په يو ځای کولو سره معتدل خوراک جوړيږي، طيبي رحمة الله عليه ويلي دي: دختکي څخه مراد کيدای سي اوم ختکی وي ځکه چي هغه يخ وي او پوخ ختکی ګرم دی مګر د خرما په نسبت هغه هم يخ وي، اکثرو علماوو ليکلي دي چي د بطيخ څخه مراد ختکی نه دی بلکه هندوانه مراد ده چي هغه يخه وي.

چينجني خرماوي

﴿۴۰۴۲﴾: وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ عَتِيقٍ فَجَعَلَ يُفَتِّشُهُ يُخْرِجُ السُّوسَ مِنْهُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ ته زړې خرماوي راوړل سوې (چي چينجي يې کړي وه) رسول الله ﷺ به هغه څيرلې چينجي به يې د هغه څخه ايستل او غورځول به يې. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۷۴، رقم: ۳۸۳۲.

تشريح طبراني په حسن سند سره د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه مرفوع نقل کړي دي چي رسول الله ﷺ دخرما د پرېکولو څخه منع فرمايلې ده، په دغه صورت کي په ظاهره د رسول الله ﷺ په فعل او قول کي تضاد معلوميږي ځکه نو ويل کيږي چي د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه کومه منع نقل سوې ده د هغې تعلق د نوو خرماوو سره دی او د هغه مقصد د وهم او وسوسې څخه ساتل دي يا دا چي د حضرت انس رضي الله عنه څخه کوم فعل منقول دی هغه پر بيان جواز باندي محمول دی او ذکر سوې منع د نهي تنزيهي په توګه ده.

طيبي رحمة الله عليه ويلي دي: دغه حديث پر دې دلالت کوي که چيري په خوراک کي چينجيان وي نو هغه خوراک نه مرداريږي او په مطالب المؤمنين کي ليکلي دي که چيري چنجيان په پنير يا سيب کي ولويږي او د خوړلو په وخت کي نس ته ولاړ سي نو هغه به حلال وي ځکه چي د هغه څخه ځان ساتل ممکن نه دي.

مګر که چيري ددغه شيانو څخه ايستل سوي وي نو بيا د هغه حکم به دمچ موچی، مچ او هر هغه حيوان وي کوم چي دم مسفوح (روانه وينه) نه لري چي د هغه خوړل حرام دي مګر که چيري

هغه په او بو يا خوراک کي ولويږي نو هغه به ناپاک نه وي.

د پنيرو خوراک

﴿۴۰۴۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجُبْنَةٍ فِي تَبُوكَ فَدَعَا بِسِكِّينٍ فَسَمَّى وَقَطَعَ. رواه ابو داؤد.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته د تبوک په غزا کي د پنير يوه ټوټه راوړل سوه، رسول الله ﷺ چاړه را وغوښتل بسم الله يې وويل او هغه يې پريکړل. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۶۹، رقم: ۳۸۱۹.

تشريح: دغه بسم الله ويل د خوراک پېل کولو په وخت کي د بسم الله ويلو پر ځای وه نه دا چي هغه بسم الله کوم چي د ذبح پر وخت ويل کيږي لکه څرنګه چي ځيني جاهل خلک د کدو پرېکولو په وخت کي د ذبح په نيت سره بسم الله وايي، مظهر رحمه الله ليکلي دي دغه حديث پر دې دلالت کوي چي د اوښ يا پسه د بچي لرۍ او کولمې پاکي دي که چيري هغه ناپاکه وای نو بايد پنير هم ناپاک سي ځکه پنير د هغه څخه پرته نه جوړيږي.

حلال او حرام د الله جل جلاله له لوري دي

﴿۴۰۴۴﴾: وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ السَّمْنِ

د حضرت سلمان رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسوه د غوړو،

وَالْجُبْنِ وَالْفِرَاءِ فَقَالَ الْحَلَالُ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ فِي كِتَابِهِ وَالْحَرَامُ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ

پنير او ځنګلي خره په اړه، رسول الله ﷺ وفرمايل: حلال هغه دي چي الله تعالی خپل په کتاب کي حلال کړي دي او حرام هغه دي چي الله تعالی حرام کړي دي

فِي كِتَابِهِ وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ مِمَّا عَفَا عَنْهُ. رواه ابن ماجة والترمذي وقال هذا حديث غريب موقوف على الاصح.

په خپل کتاب کي او د کوم شي څخه چي الله تعالی خاموشي اختيار کړې ده هغه معاف دي. ابن ماجه او دارمي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ او د صحيح قول سره سم موقوف هم دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۹۲، رقم: ۱۷۲۶.

تشریح د غوږو په اړه ځکه پوښتنه وسول چې په ظاهره د اسلام په پیل کې ځینو خلکو ته د هغه په حلال کېدو کې شک سوی وو، د پنیر معامله بذات خود محل اشتباه او سوال وو ځکه چې په هغه زمانه کې هغه د اوښ یا پسه د لرې او کولمو څخه جوړېدی، دریم شی چې د هغه په اړه پوښتنه وسول هغه فراء وو، د فراء په اړه اکثرو شارحینو ویلي دي چې د فرئي جمع ده چې معنی یې د ځنګلي خره ده، او ځینو د فرو جمع ورته ویلي دي چې معنی یې د پوست ده ځکه ترمذي دغه روایت په باب اللباس کې نقل کړی دی په دغه صورت کې به ویل کیږي چې د فراء په اړه سوال د کفارو د عمل څخه د پرهیز کولو په جذبه سوی وو ځکه چې کفارو به د فراء پوست د دباغت څخه پرته استعمالوی.

په خپل کتاب کې حرام کړځولي دي: ددې مطلب دادی چې یا خو هغه شیان حرام دي چې د هغو حرام کېدل په وضاحت سره بیان سوي دي یا ددغه آیت (وما اتاکم الرسول فخذوه وما نهاکم عنه فانتهوا) په ذریعه اجمال بیان سوی دی او دا وضاحت ځکه ضروري دی چې د هغه اکثرو شیانو په اړه سوال پیدا نسي کوم چې حرام دي مګر د هغو حرام کېدل په کتاب الله کې په وضاحت سره بیان سوي نه دي بلکه د هغو حرام کېدل د حدیثو په ذریعه ثابت دي، د حدیث آخري جمله ددې خبري دلیل دی چې ټول شیان د خپل اصل په اعتبار مباح دي نو کوم شیان چې شریعت حرام کړي نه دي هغه مباح دي.

دغه حدیث موقوف دی: ددې مطلب دادی چې دا د حضرت سلمان رضی الله عنه خپل قـــول دی نه د رسول الله ﷺ ارشاد. د فن حدیث په اصطلاح کې د صحابه کرامو قول او فعل ته موقوف ویل کیږي لکه څرنګه چې د رسول الله ﷺ قول او فعل ته مرفوع ویل کیږي.

د نبي کریم ﷺ د طرفه د ښه خوراک خواهش

﴿۴۰۴۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِدْتُ أَنَّ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زړه مي غواړي چې

عِنْدِي خُبْزَةً بَيْضَاءَ مِنْ بُرَّةٍ سَمْرَاءَ مُلَبَّقَةً بِسَمْنٍ وَلَبَنٍ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ

زما سره د سپينو ښه غنمو ډوډۍ وي او هغه په غوړو او شیدو کې خشته سوې وي، د مسجد

الْقَوْمِ فَاتَّخَذَهُ فَجَاءَ بِهِ فَقَالَ فِي أَيِّ شَيْءٍ كَانَ هٰذَا قَالَ فِي عُكَّةِ ضَبٍّ قَالَ

ارْفَعْهُ. رواه ابوداؤد وابن ماجة وقال ابوداؤد و هذا حديث منكر.

ځخه یو سړی ولاړ سو او دغه ډول ډوډۍ یې تیاره کړې راوړل، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په کومو غوړو سره دا ډوډۍ خشته سوې ده هغه په کوم لوښي کي وه، هغه وویل: د سمسارې د پوست په کپۍ کي، رسول الله ﷺ وفرمایل دا پورته کړه. (یعني یوسه). ابوداؤد، ابن ماجه او ابوداؤد، ترمذي ویلي دي دا حدیث منکر دئ.

تخریج: سنن ابي داود ۴\۱۶۸، رقم: ۳۸۱۸، وابن ماجه ۲\۱۱۰۹، رقم: ۳۳۴۱.

د لغاتو حل: ملبقة: اي مبلولة مخلوطة.

تشریح: رسول الله ﷺ دخپل مخ ځخه د هغه ډوډۍ د پورته کولو حکم ځکه وکړ چي رسول الله ﷺ د سمسارې ځخه طبعي نفرت درلودی ځکه چي هغه د رسول الله ﷺ د قوم په سیمه کي نه ترلاسه کېدلې، لکه څرنګه چي په تېرو مخونو کي د حضرت خالد ﷺ روایت په دې اړه تېر سوی دی، که د سمسارې پوست نجس وای نو رسول الله ﷺ به د سمسارې په پوست کي د ایښي غوړو د غورځولو حکم کړی وای او نور به یې د هغه ځخه منع کړي وای.

د رسول الله ﷺ د ډوډۍ غوښتل او د نفس د خواهش سره سم د هغه اظهار کول یوه داسي پېښه وه چي د رسول الله ﷺ د عادت او مزاج بالکل خلاف معلومېږي ځکه ابوداؤد دغه روایت ته منکر ویلي دي او که چیري دغه روایت صحیح ومنل سي نو په هغه صورت کي به دا توجیه کیږي چي رسول الله ﷺ د داسي خواهش اظهار د بیان جواز لپاره کړی دی.

او مه وږه مه خورئ

﴿۴۰۴۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نُهِيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الثُّومِ إِلَّا مَطْبُوخًا. رواه الترمذي و ابوداؤد.

: حضرت علي ﷺ ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د اومي وږي د خوړلو ځخه منع کړې ده خو کله چي پخه سي نو د هغه خوړل صحیح دي. ترمذي او ابوداؤد.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۲۳۰، رقم: ۱۸۰۸، وابوداود ۴\۱۷۳، رقم: ۳۸۲۸.

تشریح: د پخې وږي خوړلو ځخه یې ځکه منع نه ده فرمایلې چي په پخولو سره د هغه بوی له منځه ځي، دغه حکم د پیاز او داسي نورو بدبویو شیان هم دی مګر څرګنده دي وي چي ذکر

سوې منع د نهي تنزيهي په توګه ده .

پاخه پياز خوړل

﴿۴۰۴۷﴾: وَعَنْ أَبِي زِيَادٍ قَالَ سُئِلَتْ عَائِشَةُ عَنِ الْبَصَلِ فَقَالَتْ إِنَّ آخِرَ طَعَامٍ أَكَلَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامٌ فِيهِ بَصَلٌ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابو زياد ﷛ څخه روايت دئ چي د بي بي عائشې (رض) څخه د پيازو په اړه پوښتنه وسول، هغې وويل : رسول الله ﷺ چي په خپل ژوند کي کوم آخري خوراک په آخري وار خوړلی وو په هغه کي پياز وو . (يعني پاخه پياز) . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۱۷۴، رقم: ۳۸۲۹.

تشريح په دغه مسئله کي تفصيل دادی چي په روايتو کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ پياز او وږه نه ده خوړلې بلکه په ځينو روايتو کي دادي چي امت يې هم له دې څخه منع کړی دی مګر د بي بي عائشې ﷞ د روايت څخه ثابتيږي چي رسول الله ﷺ پياز خوړلی دی، ځيني حضرات وايي چي د پياز او وږي د خوړلو منع چي نقل سوې ده ددې تعلق د اومه پياز او وږي سره دی نه د پاخه وږي او پياز سره ، بلکه صحيح خبره داده چي د اومه پياز او وږي په اړه منع د نهي تنزيهي په توګه ده د نهي تحريمي په توګه نه ده ، دغه شيان نه خو پر رسول الله ﷺ حرام وو او نه پر امت باندي حرام دي بلکه طحاوي په شرح اثار کي داسي حديثونه نقل کړي دي چي پر دې خبره دلالت کوي چي پياز ، وږه ، ګندنه او داسي نور شيان خوړل مباح دي که څه هم هغه اومه وي يا په خوراک کي پخ سوي وي ، مګر دغه اباحت د هغه چا لپاره دی چي د هغه د خوړلو څخه وروسته په کور کي وي او د هغه بوی سره مسجد ته ولاړ نسي ځکه چي ددغه شيانو په خوړلو سره مسجد ته تلل مکروه دي ، د امام ابوحنيفة، امام ابويوسف او امام محمد رحمة الله عليهم قول هم دادی ، ابن مالک ﷫ وايي تر څو چي د رسول الله ﷺ د ذات تعلق دی نو رسول الله ﷺ د خپل ژوند په پای کي داسي شيان خوړل چي په هغو کي پياز وه د بيان جواز لپاره او دا څرګندول يې مقصد وو چي ددغه شيانو خوړل د نهي تنزيهي په توګه دي نه د تحريمي په توګه .

کوچي د نبي کريم ﷺ خوښ وه

﴿۴۰۴۸﴾: وَعَنِ ابْنَيْ بُسْرٍ السُّلَمِيَّيْنِ قَالَا دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَدَّمْنَا زُبْدًا وَتَمْرًا وَكَانَ يُحِبُّ الزُّبْدَ وَالتَّمْرَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت بسر سلمي رضی الله عنه د ددو زامنو څخه روايت دئ چي هغوی وويل : رسول الله ﷺ زموږ کره تشريف راوړ موږ کوچي او خرماوي په مخ کي ورته کښېښودلې ، رسول الله ﷺ به کوچي او خرماوي ډېر خوښول . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۱۷۶\۱۴، رقم: ۳۸۳۷.

د خوراک ادبونه

﴿۴۰۴۹﴾: وَعَنْ عِكْرَاشِ بْنِ ذُؤَيْبٍ قَالَ أُتِينَا بِجَفْنَةٍ كَثِيرَةِ الثَّرِيدِ وَالْوَذْرِ

د حضرت عکراش بن ذؤيب رضی الله عنه څخه روايت دئ چي موږ ته يو تالی راوړل سول چي په هغه کي ښوروا او غوښه وه

فَخَبَطْتُ بِيَدِي فِي نَوَاحِيهَا وَأَكَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ

ما خپل لاس د تالی په شاوخوا کي په تيزي سره وګرځوئ او رسول الله ﷺ د خپل مخ څخه خوړل

يَدَيْهِ فَقَبَضَ بِيَدِهِ الْيُسْرَى عَلَى يَدِي الْيُمْنَى ثُمَّ قَالَ يَا عِكْرَاشُ كُلْ مِنْ

رسول الله ﷺ په خپل چپه لاس سره زما راسته لاس ونيوئ او وه يې فرمايل اې عکراش ! د يو

مَوْضِعٍ وَاحِدٍ فَإِنَّهُ طَعَامٌ وَاحِدٌ ثُمَّ أُتِينَا بِطَبَقٍ فِيهِ أَلْوَانُ التمر فَجَعَلْتُ آكُلُ

ځای څخه خوراک کوه ځکه چي دا يو خوراک دئ . بيا زموږ په مخکي غاب کښېښودل سو چي په هغه کي ډول ډول خرماوي وې ما

مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَجَالَتْ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الطَّبَقِ وَقَالَ يَا

د خپل مخ څخه خوراک پيل کړ او د رسول الله ﷺ مبارک لاس په غاب کي ګرځيدئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل اې

عِكْرَاشُ كُلْ مِنْ حَيْثُ شِئْتَ فَإِنَّهُ غَيْرُ لَوْنٍ وَاحِدٍ ثُمَّ أُتِينَا بِمَاءٍ فَغَسَلَ

عکراش ! د کوم ځای څخه چي دي زړه غواړي خوره يې په دغه غاب کي يو ډول شی نه دئ ، بيا

موړ ته او به راوړل سوې

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَيْهِ وَمَسَحَ بِبَلَلِ كَفَّيْهِ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ وَرَأْسَهُ وَقَالَ يَا عِكْرَاشُ هٰذَا الْوُضُوءُ مِمَّا غَيَّرَتِ النَّارُ. رواه الترمذي.

رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه مبارک پریولل او د خپلو لاسونو لوندوالی یې پر خپل مخ، څنګلو او سر باندي ومووړل او وه یې فرمایل اې عکراش! دا دهغه خوراک اودس دئ چي هغه اور متغیر کړی وي (یعني پخ کړي یې وي). ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۲۴۹، رقم: ۱۸۴۸.

د لغاتو حل: الجفنة: ای القصعة (کاسه)

تشریح: یو ډول خوراک دی: ددې مطلب دادی چي کله په کاسه کي یو ډول خوراک وي او هري خوا ته یو ډول وي نو بیا د کاسې په شاوخوا کي لاس وهل د طمع او حرص څخه پرته بل هیڅ نه دي، یعني که خوراک څو ډوله وي یا یو ډول وي مګر د کاسې په هره برخه کي بېل بېل رنګ وي نو د خپل طبیعت د میلان په وجه د هري خوا څخه خوړل مناسب دي مګر کله چي خوراک یو ډول وي او یو رنګ وي نو بیا هري خوا ته لاس غزول مکروه دي، د کومي خوا څخه چي غواړي، مګر په دې کي د مینځ ځای مستثنی دی ځکه چي هغه د برکت نازلېدو ځای دی او دا کیدای سي چي د مینځ څخه نه خوړل د هغه خوراک سره مخصوص دی چي یو رنګ وي او دلته د خرماوو خوړلو په صورت کي یو رنګ نه وو ځکه د مینځ څخه هم د خرما په پورته کولو کي څه پرواه نسته، ابن مالک رحمة الله علیه وايي ددغه ارشاد څخه دا مفهوم اخیستل کیږي که د خوراک شی د میوې له قسم څخه وي او هغه یو ډول وي نو په دغه صورت کي د لوښي هري خوا ته لاس غزول نه دي پکار لکه څرنګه چي د خوراک حکم دی او دا هم څرګنده سوه چي په یوه لوښي کي خوراک مختلف وي نو یوازي د خپل مخ څخه د خوړلو قید به نه وي بلکه د کومي خوا څخه چي ئې زړه غواړي خوړلای ئې سي.

د حریرې ګټې

﴿۴۰۵۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَخَذَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ په کورنۍ کي به یو څوک

أَهْلَهُ الْوَعَكُ أَمَرَ بِالْحِسَاءِ فَصُنِعَ ثُمَّ أَمَرَهُمْ فَحَسَوْا مِنْهُ وَكَانَ يَقُولُ إِنَّهُ

ناروغ سو نو رسول الله ﷺ به د حريره (نرمي شيرې) تيارولو حکم کوئ . نو حريره به تياره سوه

لَيَرْتُقُ فُؤَادَ الْحَزِينِ وَيَسْرُو عَنْ فُؤَادِ السَّقِيمِ كَمَا تَسْرُو إِحْدَاكُنَّ الْوَسَخَ بِالْمَاءِ عَنْ وَجْهِهَا . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح .

بيا به رسول الله ﷺ دَ حريره د څښلو حکم کوئ او هغوی به حريره څښل . او رسول الله ﷺ به دا فرمايل چي حريره غمجن زړه ته قوت ورکوي او د ناروغ د زړه څخه ناروغي ليري کوي لکه څرنګه چي تاسو په اوبو سره د مخ څخه خيري ليري کوي . ترمذي. او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۳٦، رقم: ۲۰۳۹.

د لغاتو حل: الوعک: ای الحمي او شدتها (تبه)

تشريح حساء د خوراک يو نرم ډول دی چي د اوړو، اوبو او غوړو په يو ځای کولو سره پخيږي. د مکې خلک حريره هم ورته وايي او تلبينه هم، چي يادونه يې د لومړي فصل په حديث کي تېره سوې ده ، رسول الله ﷺ په دغه ارشاد کي د حريرې د ګټو څرګندولو لپاره خپله خبره ښځو ته ځکه وګرځول چي په اصل کي ښځي د خپل بدن او خېرو پرېولللو او د مخ پاکولو زياته هڅه کوي يا دا چي کله رسول الله ﷺ دغه ارشاد وفرمايه نو هغه وخت ښځي موجود وې ځکه هغوی يې مخاطب کړل.

عجوه د جنت خرما ده

﴿۴۰۵۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَجْوَةُ مِنَ الْجَنَّةِ وَفِيهَا شِفَاءٌ مِنَ السُّمِّ وَالْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ . رواه الترمذي.

د حضرت ابو هريرة ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : عجوه د جنت څخه ده او په دې کي د زهرو څخه شفاء ده او پوڅکی د من څخه دی او د دې اوبه د سترګو لپاره شفاء ده . ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۵۰، رقم: ۲۰۶۶.

تشریح: عجوه د جنت خرما ده: ددې مطلب دادی چې د عجوه اصل د جنت څخه راغلی دی یا دا چې په جنت کې کومې خرماوې دې هغه عجوه دي، یا دا چې عجوه داسې ګټوره او خوندوره خرماده لکه د جنت مېوه. زیات صحیح مطلب لومړنی دی، د حدیث د پاته برخې وضاحت په اول فصل کې تېر سوی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث　　(دریم فصل)

په چاړه پرېکولو سره خوراک

﴿۴۰۵۲﴾: عَنِ الْمُغِيْرَةَ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ ضِفْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د مغیره بن شعبة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې یوه شپه (د یو چا کره) رسول الله ﷺ میمله سو (هغه

ذَاتَ لَيْلَةٍ فَأَمَرَ بِجَنْبٍ فَشُوِيَ ثُمَّ أَخَذَ الشَّفْرَةَ فَجَعَلَ يَحُزُّ لِيْ بِهَا مِنْهُ فَجَاءَ

سړي پسه حلال کړ) رسول الله ﷺ هغه ته د ورانه کبابولو امر وکړ وروں کباب سو، رسول الله ﷺ چاړه واخیستل او غوښه یې زما لپاره پرېکول، په دغه وخت کې

بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ فَأَلْقَى الشَّفْرَةَ فَقَالَ مَا لَهُ تَرِبَتْ يَدَاهُ قَالَ وَكَانَ شَارِبُهُ

بلال رضي الله عنه راغلئ او د لمانځه خبر یې ورکړ، رسول الله ﷺ چاړه هلته کښېښودل او وه یې فرمایل: بلال ته څه وسول د هغه دي لاس په خاورو ولړل سي، مغیره وایي چې د هغه (یعني

وَفَاءً فَقَالَ لِيْ أَقُصُّهُ لك عَلَى سِوَاكٍ؟ أَوْ قُصَّهُ عَلَى سِوَاكٍ. رواه الترمذي.

مغیره) بریتونه لوي سوي وه، رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل چې زه ستا بریت په مسواک (یعني مسواک سربیره ایښودو سره) غچي کړم یا دا یې وفرمایل چې خپل بریت په مسواک غچي کړه. ترمذي.

تخریج: الشمائل للترمذي ص۸۶، رقم: ۱۶۷.

تشریح: د هغه لاس دې په خاورو سي: دا په اصل کې د ذلت خوارۍ او مفلسی څخه کنایه ده او یو ډول ښېرا ده مګر ددغه جملې استعمال په عامه توګه د عربو په نزد د هغه سړي لپاره ویل کیږي چې د هغه ملامتول مقصد وي او په حقیقت کې د ښېرا واقع کېدو مطلب او خواهش

نه وي بلکه د ورځنۍ محاورې په توګه دغه جمله وايي او ددې څخه مراد محض ملامتيا وي ، دلته هم پر رسول الله ﷺ باندي دا ناخوښه سول چي اوس د لمانځه وخت پاته دی نو بلال رضی الله عنه د خوراک د بوختيا په وخت کي د لمانځه لپاره پورته کول وغوښتل او دا هم کيدای سي چي رسول الله ﷺ ددغه جملې استعمال د کوربه د کيفياتو او حالاتو په لېدو سره فرمايلې وي چي هغه وخت به کوربه ته لوی ذهني اذيت رسيدلی وي ځکه رسول الله ﷺ د هغه لپاره پر حضرت بلال رضی الله عنه باندي ددغه جملې په ذريعه د ناخوښۍ اظهار وفرمايه .

د هغه شونډي (برېتونه) اوږده سوي وه ، شارحينو ددغه جملې وضاحت په څو ډوله کړی دی يو خو دا چي د شارب ضمير د حديث راوي حضرت مغيره رضی الله عنه ته راجع دی ، په دغه صورت کي که څه هم د ظاهري طرز تقاضا دا وه چي داسي ويل سوي وای (وکان شاربي) يعني ضمير د متکلم استعمال سوی وای مګر ددې پر ځای و شاربه ويلو سره د غائب ضمير استعمال سوی دی ددې وجه محض تفنن کلام دی چي د اهل معاني په اصطلاح کي تجريد والتفات ورته ويل کيږي نو ددغه جملې مطلب دادی چي زما برېتونه لوی سوي وه او په مسواک يې پرېکوئ ، مطلب دا وو چي د شونډو لاندي د مسواک په اېښودو سره برېتونه يې په چاړه يا غچي سره پرېکول .

يا دا يې وفرمايل : دا په اصل کي د راوي خپل شک ظاهرول دي چي يا خو رسول الله ﷺ لومړنۍ جمله وفرمايل يا دا يې وفرمايل چي زه ستا برېت پرېکړم ، بلکه حضرت مغيره رضی الله عنه ته يې حکم وکړ چي هغه دي خپل برېتونه پرېکړي ، شارحينو دوهم صورت دا بيان کړی دی که د شاربه ضمير رسول الله ﷺ ته راجع کړل سي يعني د حضرت مغيره رضی الله عنه مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ برېتونه اوږده سوي وه نو رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل : زه خپل برېتونه ستا لپاره پرېکوم چي د هغه وېښتان ستا سره پاته سي او ته د هغه څخه برکت ترلاسه کړې يا دا چي رسول الله ﷺ حضرت مغيره رضی الله عنه ته حکم وکړ چي ته زما د شونډو وېښتان پرې کړه .

د خوراک شروع په بسم الله

﴿۴۰۵۳﴾ : وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كُنَّا إِذَا حَضَرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حذيفه رضی الله عنه څخه روايت دئ چي کله موږ د رسول الله ﷺ سره په يو خوراک کي ګډ سوي يو نو

طَعَامًا لَمْ نَضَعْ أَيْدِيَنَا حَتَّى يَبْدَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعَ

موږ به تر هغه وخته پوري خوراک ته لاس نه ور وړئ تر څو پوري چي رسول الله ﷺ پيل نه وای

يَدَهُ وَإِنَّا حَضَرْنَا مَعَهُ مَرَّةً طَعَامًا فَجَاءَتْ جَارِيَةٌ كَأَنَّهَا تُدْفَعُ فَذَهَبَتْ لِتَضَعَ

کړي . يو وار موږ د رسول الله ﷺ سره په يو خوراک کي حاضر سوو يوه انجلۍ د خوراک لپاره راغلل يعني د لوږې څخه بې اختياره پر خوراک را پريوتل هغې غوښتل چي خوراک ته لاس

يَدَهَا فِي الطَّعَامِ فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهَا ثُمَّ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ

کړي چي رسول الله ﷺ د هغې لاس ونيوئ بيا يو صحرائي راغلئ هغه هم پر خوراک

كَأَنَّمَا يُدْفَعُ فَأَخَذَ بِيَدِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ

راوغورځيدئ رسول الله ﷺ د هغه لاس هم ونيوئ ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل شيطان هغه

يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ أَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ جَاءَ بِهَذِهِ الْجَارِيَةِ

خوراک د ځان لپاره حلال ګڼي چي پر هغه د الله نوم نه واخيستل سي ، شيطان هغه انجلۍ

لِيَسْتَحِلَّ بِهَا فَأَخَذْتُ بِيَدِهَا فَجَاءَ بِهَذَا الْأَعْرَابِيِّ لِيَسْتَحِلَّ بِهِ فَأَخَذْتُ

راوستل چي د ځان لپاره (يعني شيطان) خوراک حلال کړي (ځکه چي هغه پرته د بسم الله ويلو څخه خوراک پيل کونکې وه) نو ما د هغې لاس ونيوئ ، بيا شيطان دغه صحرائي راوستئ چي دده په ذريعه د ځان لپاره خوراک حلال کړي ما دده لاس هم ونيوئ ،

بِيَدِهِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ يَدَهُ فِي يَدِي مَعَ يَدِهَا . و زاد في رواية ثم ذكر اسم الله واكل . رواه مسلم .

په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واک کي زما ساه ده د شيطان لاس ددغه انجلۍ د لاس سره زما په لاس کي دئ ، حذيفه وايي ددې څخه وروسته په بسم الله ويلو سره خوراک پيل سو . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۵۹۷، رقم: ۱۰۲- ۲۰۱۷.

تشريح په يوه روايت کي (مع يدها) يعني د هغه انجلۍ په لاس سره، پر ځای د (مع يديهما) يعني د هغه انجلۍ او همسايه په لاس سره، الفاظ نقل سوي دي ، او دا زيات صحيح معلوميږي بيا هم په کوم روايت کي چي د يدها لفظ دی هغه د انجلۍ سره مخصوص دی او دا

ددې خلاف نه دی چي د هغه صحرائي لاس هم د رسول الله ﷺ په لاس كي وي ځكه چي رسول الله ﷺ دا فرمايلي وه چي ما د هغه صحرائي لاس هم ونيوی مګر مخكي يې د هغه انجلۍ لاس نيولی وو ځكه په خاصه توګه يې د هغې ذكر وكړ.

زيات خوراک د بې بركتۍ علامه ده

﴿۴۰۵۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَّشْتَرِيَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو غلام رانيولو اراده وكړه،

غُلاَمًا فَأُلْقِيَ بَيْنَ يَدَيْهِ تَمَرًا فَأَكَلَ الْغُلاَمُ فَأَكْثَرَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ كَثْرَةَ الْأَكْلِ شُؤْمٌ وَأَمَرَ بِرَدِّهِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

رسول الله ﷺ د هغه غلام مخ ته خرماوي وغورځولې غلام ډيري خرماوي وخوړلې، ددې په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: زيات خوراک د بې بركتۍ سبب دئ بيا د هغه غلام د بيرته وركولو حكم يې وكړ. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۵\۳۱-۳۲، رقم: ۵۶۶۱.

د مالګي تعريف

﴿۴۰۵۵﴾: وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيِّدُ إِدَامِكُمُ الْمِلْحُ. رواه ابن ماجة.

د حضرت انس بن مالک ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مالګه ستاسو د كتغونو سرداره ده. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۱۰۲، رقم: ۳۳۱۵.

تشريح مالګي ته غوره كتغ په دې اعتبار ويل سوي دي چي هغه په ډېره اساني سره تر لاسه كيږي او د قناعت تر ټولو نژدې ذريعه ده. په دې وجه اكثرو عارفينو او اهل الله به په مالګه باندي قناعت كوی. په دې اعتبار سره د رسول الله ﷺ دغه ارشاد د هغه خلاف نه دی چي (سيد الادم في الدنيا والاخرة اللحم) يعني په دنيا او آخرت كي د ټولو كتغونو سردار غوښه ده.

د خوراک لپاره چمپل کښل

﴿۴۰۵۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَ الطَّعَامُ فَاخْلَعُوْا نِعَالَكُمْ فَإِنَّهُ أَرْوَحُ لِأَقْدَامِكُمْ.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي خوراک کښېښودل سي نو چمپل وکاږئ ځکه چي د چمپلو په کښلو سره پښو ته ډېر آرام رسيږي. دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ۲\۱۴۸، رقم: ۲۰۸۰.

د خوراک يخول ښه دي

﴿۴۰۵۷﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِيْ بَكْرٍ أَنَّهَا كَانَتْ إِذَا أُتِيَتْ بِثَرِيْدٍ أَمَرَتْ بِهِ فَغُطِّيَ حَتّٰى تَذْهَبَ فَوْرَةُ دُخَانِهِ وَتَقُوْلُ إِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ هُوَ أَعْظَمُ لِلْبَرَكَةِ. رواهما الدارمي.

د حضرت اسماء بنت ابوبكر (رض) څخه روايت دئ چي كله به هغې ته ښوروا راوړل سوه نو د هغې د پټولو حكم به يې ورکړ هغه به پټه کړل سوه تر څو چي د هغې تونښ به ووتئ (يعني يخه به سول) او دا به يې فرمايل: ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د خوراک څخه د ګرمۍ وتل د لوی برکت سبب دئ. دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ۲\۱۳۷، رقم: ۲۰۴۷.

تشريح: د ثريد ذكر محض اتفاقي دی چي د هغه وخت عام خوراک ثريد (ښوروا) وو ځكه نو هغه يې ذكر كړ، كنه د نورو خوراكونو هم دغه حكم دی، په جامع الصغير كي نقل سوي دي چي (ابردوا بالطعام فان الحار لا بركة فيه) يعني خوراک په يخولو سره خورئ ځكه چي په تاوده كي بركت نه وي، همدارنګه بيهقي مرسلا دا روايت نقل كړی دی چي: (نهى عن الطعام الحار حتى يبرد) يعني د تاوده خوراک خوړلو څخه منع سوې ده تر څو چي هغه يخ سي.

د پيالې څټل

﴿۴۰۵۸﴾: وَعَنْ نُبَيْشَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَكَلَ فِيْ

قَصْعَةٍ ثُمَّ لَحِسَهَا تَقُوْلُ لَهُ الْقَصْعَةُ أَعْتَقَكَ اللهُ مِنَ النَّارِ كَمَا أَعْتَقْتَنِيْ مِنَ الشَّيْطَانِ. رواه رزين.

د حضرت نبیشة رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي په کاسه کي خوراک وکړي او بیا هغه وڅټي نو کاسه هغه مخاطب کړي ورته وایي الله تعالی دي. تا د دوږخ څخه داسي وساتي لکه څرنگه چي تا زه د شیطان څخه وساتلم. رزین.

تخریج: رواه رزین.

تشریح: د ترمذي، احمد، ابن ماجه او دارمي په روایت کي دغه الفاظ دي : (استغفرت له القصعة) یعني هغه کاسه د سړي لپاره بخښنه غواړي، او طبراني د حضرت عرباض څخه نقل کړي دي : (من لعق الصحفه ولعق اصابعه اشبعه الله في الدنيا والاخرة) یعني څوک چي کاسه او خپل گوتي وڅټي نو الله تعالی به هغه په دنیا او آخرت کي موړ کړي.

============

بَابُ الضِّيَافَةِ (د مېلمستیا بیان)

د ضاف معنی د مېلمه کولو ده، او د اضاف معنی د مېلمستیا کولو ده، د ضیف معنی د مېله او د مضیف معنی د کوربه ده، په دغه باب کي چي کوم حدیثونه نقل کیږي له هغو څخه څرگندیږي چي د مېلمستیا څومره فضیلت دی، د شریعت له نظره د مېلمستیا څه طریقې او ادبونه دي او دا چي د مېلمه او کوربه په مینځ کي د مراتبو او تعلق څه حدود دي.

د ضیافت (مېلمستیا) حکم :

د اکثرو علماوو په نزد مسئله داده چي د مېلمستیا د حقوقو او ادبونو رعایت کول د ښه اخلاقو او تهذیب نښه ده او مستحب هم دي، زیات حدیثونه پر دې دلالت کوي، ځیني حضرات وایي چي د یوې ورځي مېلمستیا کول واجب دي او د یوې ورځي څخه وروسته مستحب دي، د مېلمستیا اته ډولونه دي چي علماوو بیان کړي دي چي تفصیل یې په باب الولیمه کي تېر سوی دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مېلمه عزت كول

﴿۴۰۵۹﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

پر الله جل جلاله او د آخرت پر ورځ ايمان لري هغه دي د خپل ميلمه عزت كوي او څوک چي پر الله جل جلاله

الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ

او د آخرت پر ورځ ايمان لري هغه دي خپل همسايه ته تكليف نه وركوي او څوک چي پر الله جل جلاله
او د آخرت پر ورځ ايمان لري دي هغه دي ښه خبره كوي يا دي

لِيَصْمُتْ . و في رواية بدل الجار وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَصِلْ

رَحِمَهُ . متفق عليه

پټه خوله اوسي . او په يوه روايت كي د همسايه پر ځاى دا الفاظ دي چي څوک پر الله جل جلاله او د آخرت پر ورځ ايمان لري هغه دي صله رحمي كوي (يعني د خپلوانو سره دي ښه چلن كوي) . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۴۴۵، رقم: ۶۰۱۸، ومسلم ۱\ ۶۸.

تشريح: څوک چي پر الله جل جلاله او د قيامت په ورځ ايمان لري ...الخ: ددې مطلب دا نه دی چي د ايمان درلودل پر ذكر سوو دوو خبرو باندي موقوف دی ، د مثال په توګه كه يو څوک د خپل مېلمه خاطر نه كوي ، خپل همسايه ته تكليف رسوي نو هغه به مؤمن نه ګڼل كيږي ، بلكه اصل مقصد ددغه شيانو ارزښت بيانول دي او د عمل كولو زيات تاكيد كول دي ، ددې مثال داسي دي لكه يو سړی چي د خپل زوی د اطاعت او فرمانبرداره كولو لپاره داسي ووايي كه ته زما زوی يې نو اطاعت او فرمانبرداري كوه ، څرګنده ده كه هغه اطاعت او فرمانبرداري ونه كړي نو له دې څخه دا نه ثابتيږي چي هغه دده زوی نه دی .

يا دا مراد دی چي د چا ايمان د کمال درجې وي (يعني کوم مسلمان چي کامل الايمان وي) نو د هغه شان به دا وي چي هغه به په دغه خبرو عمل کوي، يعني د دغه شيانو اختيارول د ايمان نښه ده، اکرام ضيف يعني د مېلمه اکرام کول په شرعي توګه دا دی چي کله يو مېلمه راسي نو له هغه سره په پراخ تندي او ښه اخلاقو وويني او له هغه سره په نرمه خبري اتري وکړي، او هغه ته تر درو ورځو پوري داسي خوراک او څښاک ورکړي چي لومړۍ ورځ د خپل حيثيت او توان سره سم د هغه مېلمستيا وکړي په شرط د دې چي د هغه په وجه د خپلو متعلقينو او لواحقينو حق ضائع نسي، او وروسته په دوو ورځو کي ښه تکليف څه چي حاضر وي هغه ته ورکړل سي، چي پر دواړو مېلمه او کور به باندي بوج نه وي، او بيا د درو ورځو څخه وروسته که مېلمه پاته سي نو هغه ته خوراک او څښاک ورکول به د صدقې په حکم کي وي، که چيري کوربه وغواړي نو خوراک او څښاک دي ورکوي او که نه نو انکار دي وکړي.

خپل همسايه ته دي تکليف نه ورکوي: يعني دا د همسايه تر ټولو کمه درجه ده چي هغه ته ي تکليف نه رسوي، او کوم چي د همسايه د حقوقو تعلق دی نو هغه ډېر زيات دي، د بخاري او مسلم په يوه روايت کي دغه الفاظ راغلي دي چي (فليکرم جاره) يعني هغه بايد د خپل همسايه سره د تکريم معامله کوي، د بخاري او مسلم په يو بل روايت کي داسي نقل سوي دي چي (فليحسن الی جاره) يعني هغه بايد د خپل همسايه په هغه شي کي مرسته وکړي چي د هغه ورته اړتيا وي، او د هغه مصيبت ليري کړي، همدارنګه امام غزالي رحمة الله عليه په اربعين کي دا روايت نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته په مخاطب کولو سره وفرمايل: تاسو ته معلومه ده چي د همسايه څه حق دی، که هغه ستاسو څخه مرسته وغواړي نو د هغه مرسته کوئ که ستاسو څخه پور وغواړي نو پور ورکوئ که هغه اړ او مفلس وي نو هغه ته يو څه ورکړئ، که هغه ناروغ وي نو د هغه پوښتنه وکړئ، که هغه مړ سي نو د هغه د جنازې سره ولاړ سئ، که هغه ته خوشحالي تر لاسه سي نو مبارکي ورکړئ که مصيبت ورته ورسيږي نو ډاډ ورکړئ د مثال په توګه د هغه په کور کي مرګ واقع سي نو د هغه کور ته ورسئ او تعزيت يې وکړئ، د هغه د سرای څخه لوړ سرای مه جوړوئ چي د هغه هوا منع سي.

که تاسو مېوه يا بل شی رانيسئ نو د تحفې په توګه يې هغه ته هم واستوئ او که دا ممکن نه وي نو بيا هغه مېوه يا بل شی کور ته په پټه وړئ او خپلو ماشومانو ته هم ټينګار کوئ چي هغه مېوه يا بل شی د کور څخه د باندي نه يوسي چي ستاسو د همسايه ماشوم هغه وويني او د محرومۍ په وجه غم او افسوس وکړي، د خپل نغري په دود سره هغه ته تکليف مه ورکوئ او دا

چي د هغه كتغ څخه هغه ته هم يو څه واستوئ او تاسو ته څرګنده ده چي د همسايه حق څه شی دی ؟ قسم دي وي په هغه ذات چي د هغه په لاس کي زما ساه ده د خپل همسايه حق هغه څوک پېژني چي پر هغه د الله ﷻ رحمت وي.

نېکه خبره دي کوي يا دي پټه خوله سي : ددې مطلب دادی چي کله د ژبي څخه د يوې خبري را ايستلو اراده وکړي او دا معلومه وي چي هغه خبره د نېکۍ ده چي پر هغه باندي ثواب ورکول کېږي که څه هم هغه واجب وي يا مستحب وي نو هغه دي د ژبي څخه راوباسي او که د هغه خبري خير معلوم نه وي يا ورته معلوم وي چي دا خبره حرامه يا مکروه ده نو هغه دي د ژبي څخه نه راباسي ، خلاصه دا چي تر خپله وسه دي پټه خوله اوسي او که خبره کول ضروري وي نو د ژبي څخه دي د خير خبره راباسي چي د خېر او ښېګڼي وي نه يوازي دا چي په حرام او مکروه خبرو کي پټه خوله کېدل پکار دي بلکه د مباح خبرو څخه هم ځان ساتل د هوښياری غوښتنه ده.

مېلمه دي تر درو ورځو زيات نه پاته کېږي

﴿۴۰۶۰﴾: وَعَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْكَعْبِيِّ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت ابو شريح کعبي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ جَائِزَتُهُ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ

څوک چي پر الله ﷻ او د آخرت پر ورځ ايمان لري هغه ته پکار ده چي د خپل ميلمه عزت کوي، د خاطر او دار مدار وخت يوه ورځ او شپه ده (يعني د تکلفاتو او احسان کولو)

وَالضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ فَمَا بَعْدَ ذٰلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَثْوِيَ عِنْدَهُ حَتّٰى يُحْرِجَهُ. متفق عليه

او د ميلمه د مېلمستيا وخت درې ورځي او درې شپې دي او ددې څخه وروسته ميلمستيا صدقه او خيرات ده او ميلمه ته پکار ده چي هغه دي د خپل کوربه سره دومره نه پاته کېږي چي هغه تنګ سي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۴۵، رقم: ۶۰۱۹، ومسلم ۳\۱۳۵۳، رقم: ۱۴-۴۸.

د لغاتو حل: يحرجه: ای يضيق صدره يوقعه في الحرج (تنګوي يې).

تشریح په نهایه جزري کي ددغه حدیث وضاحت لیکل سوی دی چي د مېلمه دي درې ورځي داسي مېلمستیا وکړل سي چي په اوله ورځ کي د هغه په خوراک او څښاک کي تکلف او اهتمام وکړل سي بیا په دوهمه ورځ دي بېله تکلفه او اهتمامه څه چي حاضر وي هغه دي ورکړي ، ددې څخه وروسته دي هغه ته د خوراک او څښاک دومره شیان ورکړل سي چي د هغه په مرسته یوه ورځ او یوه شپه سفر وکړل سي ، په حدیث کي د جائزه لفظ راغلی دی چي مفهوم یې دادی ، د لغت په اعتبار د جائزه معنی د بخښني او تحفې ده مګر دلته هغه شی مراد دی چي د یوې ورځي د خوراک او اړتیا په اندازه وي او د هغه په مرسته منزل ته ورسیږي . مېلمه ته د جائزې څخه وروسته چي څه ورکړل سي نو هغه به زیات یو شی وي او د صدقې په حکم کي به وي ، ددغه وضاحت سره سم جائزه یعني مېلمه ته د یوې ورځي په اندازه د لاري توښه ورکول به د مېلمستیا څخه وروسته وي ، حال دا چي په حدیث کي ددې یادونه مخکي سوې ده او دا جائزه به د مېلمستیا کولو څخه یو زیات شی وي .

دا هم کیدای سي چي دغه جائزه د درو ورځو مېلمستیا کولو څخه زیات یو شی نه وي بلکه په حدیث کي ددې ذکر د هغه تکلف او اهتمام د وضاحت په توګه وي چي کوربه د مېلمستیا درو ورځو څخه مخکي د خپل مېلمه لپاره کوي، د ابوداؤد د روایت څخه هم دا معلومیږي چي جائزه د مېلمه هغه تواضع او احسان ته ویل کیږي کوم چي په لومړۍ ورځ کیږي همدارنګه مولانا شاه عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله علیه هم وایي چي زموږ علم هم دادی چي د جائزې دغه معنی ده.

د مېلمه لپاره دا جائز نه ده ...الخ: ددې څخه څرګندېږي چي کوم څوک د چا سره مېلمه سي نو د هغه لپاره دا مطلق مناسب نه دي چي هغه د خپل کوربه سره تر درو ورځو زیات پاته سي مګر که چیري د کوربه خواهش وي او هغه خواست ورته وکړي نو د هغه پر غوښتنه باندي تر درو ورځو زیات پاته کېدو کي پروا نسته ، ځکه علماوو ویلي دي که چیري یو مسافر (مېلمه) د یو چا سره پاته سي او هغه د یو عذر په وجه تر درو ورځو زیات پاته سي نو هغه دي تر درو ورځو وروسته کوربه د خوراک او څښاک په اړه نه تنګوي .

مېلمستیا کول واجب نه ده

﴿۴۰۶۱﴾ : وَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ

د حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما وویل: اې دالله رسوله ! تاسو

تَبۡعَثُنَا فَنَنۡزِلُ بِقَوۡمٍ لَا يَقۡرُونَا فَمَا تَرَى فِيهِ فَقَالَ لَنَا إِنۡ نَزَلۡتُمۡ بِقَوۡمٍ فَأُمِرَ

موږ (د جهاد يا بل كار لپاره) ليږئ او موږ د يو قوم سره تم سو مگر هغوی زموږ ميلمستيا نه كوي ددې په اړه تاسو څه حكم كوئ.؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هر كله چي تاسو د يو قوم ميلمانه

لَكُمۡ بِمَا يَنۡبَغِي لِلضَّيۡفِ فَاقۡبَلُوا فَإِنۡ لَمۡ يَفۡعَلُوا فَخُذُوا مِنۡهُمۡ حَقَّ الضَّيۡفِ الَّذِي يَنۡبَغِي لَهُمۡ . متفق عليه

سئ او هغوی ستاسو لپاره د ميلمستيا مناسب بندوبست وكړي نو هغه قبول كړئ او كه داسي ونه كړي نو تاسو د هغوی څخه د ميلمستيا حق واخلي يعني دومره څومره چي د ميلمنو لپاره مناسب وي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰۸\۵، رقم: ۲۴۶۱، ومسلم ۱۳۵۳\۳، رقم: ۱۷- ۱۷۲۷.

تشريح: ددغه حديث ظاهري مفهوم پر دې خبره دلالت كوي كه چيري كوربه د مېلمه حق ادا نه كړي نو مېلمه د هغه څخه خپل حق په زور اخيستلای سي، په دې اعتبار سره دا حديث د هغه حضراتو د مذهب دليل هم دی چي هغوی مېلمه د خوراک او څښاک وركول واجب گرځوي، مگر د جمهورو علماوو دا مذهب نه دی ځكه د هغوی له خوا ددغه حديث څو تاويلونه كيږي يو خو دا چي دغه حديث په اصل كي مخمصه (د نس تش كېدو) او اضطراري حالت پر صورت باندي محمول دی او په داسي صورت كي چي مېلمه سخت وږی وي نو د هغه مېلمستيا كول بېله شكه پر كور به باندي واجب ده، او كه هغه كوربه دا حق ادا نه كړي نو دا حق د هغه څخه په زور اخيستلای سي، دوهم دا حكم د اسلام په پېل كي وو هغه وخت د اړتيا او فقر خبر اخيستل واجب وو وروسته چي الله تعالى په مسلمانانو كي په عامه توگه د فقر او مفلسی پر ځای وسعت او پراخي راوستل نو دغه حكم منسوخ سو، دريم دا چي ددغه ارشاد تعلق د اهل ذمه (يعني هغه كافران چي د هغوی د مسلمانانو سره د ځان او مال د مصالحت معاهده سوې وي) سره د قيام كولو وو، چي د هغوی سره معاهده كي يو شرط دا هم وو كه مسلمانانو د هغوی سره قيام وكړي نو د مسلمانانو مېلمستيا به پر اهل ذمه ضروري وي، ددغه شرط په وجه د مسلمانانو مېلمستيا كول پر هغوی واجب وه او كوم حق چي واجب وي نو هغه په زور اخيستل كيدای سي او څلورم دا چي دغه حديث د معاوضې او بدلې پر صورت باندي محمول دی يعني

د مثال په توګه که چیري مسافر یو ځای قیام وکړي او د هغه ځای خلک نه یوازي دا چي د هغوی مېلمستیا ونه کړي بلکه پر هغوی باندي دداسي شي پلورلو څخه هم انکار وکړي کوم چي د هغه مېلمه مسافر سره نه وي او هغوی د لوږي او بې تابۍ په حالت کي وي نو د هغوی لپاره دا جائز ده چي د هغه خلکو څخه هغه شی په زور رانیسي.

د نبي ﷺ او یارانو د لوږي څخه د شپې وتل

﴿۴۰۶۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د کور څخه ووتئ

يَوْمٍ أَوْ لَيْلَةٍ فَإِذَا هُوَ بِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ فَقَالَ مَا أَخْرَجَكُمَا مِنْ بُيُوتِكُمَا هٰذِهِ السَّاعَةَ

د ورځي یا د شپې په وخت کي، ناڅاپه د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر رضي الله عنهما سره یو ځای سو، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه تاسو کوم شي د خپلو کورونو څخه په دغه وخت

قَالَا الْجُوعُ قَالَ وَأَنَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَخْرَجَنِي الَّذِي أَخْرَجَكُمَا قُومُوا

کي را ایستلي یاست؟ هغوی وویل د لوږي له کبله، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: قسم په هغه ذات چي د هغه په واک کي زما ساه ده، زه هم دغه شي د کور څخه را ایستلی یم کوم چي تاسو را ایستلي یاست، راځئ!

فَقَامُوا مَعَهُ فَأَتَى رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فَإِذَا هُوَ لَيْسَ فِي بَيْتِهِ فَلَمَّا رَأَتْهُ الْمَرْأَةُ

نو دواړه د رسول الله ﷺ سره سوه او د یو انصاري کور ته ورسیدل هغه وخت هغه په کور کي موجود نه وو د هغه ښځي چي رسول الله ﷺ ولیدئ

قَالَتْ مَرْحَبًا وَأَهْلًا فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ فُلَانٌ

نو وه یې ویل مرحبا واهلا، رسول الله ﷺ د هغې څخه پوښتنه وکړه فلانی چیري دئ؟

قَالَتْ ذَهَبَ يَسْتَعْذِبُ لَنَا مِنَ الْمَاءِ إِذْ جَاءَ الْأَنْصَارِيُّ فَنَظَرَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ

هغې وویل زموږ لپاره د خوږو اوبو راوړلو لپاره تللی دئ، په دغه وخت کي هغه انصاري هم راغلئ، رسول الله ﷺ او د هغوی دواړه ملګري چي یې ولیدل

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَيْهِ ثُمَّ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ مَا أَحَدٌ الْيَوْمَ أَكْرَمَ أَضْيَافًا

نو هغه وويل د الله جل جلاله شکر دئ نن ورځ د بزرګو ميلمنو د اعتبار څخه زما څخه زيات خوش

مِنِّي قَالَ فَانْطَلَقَ فَجَاءَهُمْ بِعِذْقٍ فِيهِ بُسْرٌ وَتَمْرٌ وَرُطَبٌ فَقَالَ كُلُوا مِنْ هَذِهِ

بخته څوک نسته ، د راوي بيان دئ بيا هغه سړي روان سو او د خرماوو يو وابنکی يې ورته راوړ چي په هغه کي نيم پخته او پخې او وچي خرماوي وې او عرض يې وکړ دا وخورئ ،

وَأَخَذَ الْمُدْيَةَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكَ وَالْحَلُوبَ فَذَبَحَ

بيا يې چاړه راواخيستل او د پسه ذبح کولو اراده يې وکړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د شيدو پسونه مه ذبح کوه نو هغه د ميلمنو لپاره پسه ذبح کړه ،

لَهُمْ فَأَكَلُوا مِنَ الشَّاةِ وَمِنْ ذَلِكَ الْعِذْقِ وَشَرِبُوا فَلَمَّا أَنْ شَبِعُوا وَرَوُوا قَالَ

لنډه دا چي رسول الله ﷺ ، ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه د پسه غوښه او د خرماوو وابنکي وخوړئ او اوبه يې وچښلې ، هر کله چي ماړه سول نو رسول الله ﷺ

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتُسْأَلُنَّ

ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه ته وفرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واک کي زما ساه ده! پوښتنه به کيږي

عَنْ هَذَا النَّعِيمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمُ الْجُوعُ ثُمَّ لَمْ تَرْجِعُوا

د قيامت په ورځ به ستاسو څخه د دغه نعمتونو په اړه لوږي تاسو د کور څخه را ايستلي واست او کورته لا تللي نه واست

حَتَّى أَصَابَكُمْ هَذَا النَّعِيمُ. رواه مسلم و ذكر حديث ابي مسعود كان رجل من الانصار في باب الوليمة.

چي الله تعالى دا نعمتونه درکړل . مسلم، او د وليمې په باب کي د حضرت ابو مسعود رضي الله عنه حديث : کان رجل من الانصار ، بيان سوي دئ ٠

تخريج: صحیح مسلم ۳\۱۶۰۹، رقم: ۱۴۰- ۲۰۳۸.

د لغاتو حل: العذق: الغصن من النخل (د خرما د وني ښاخ).

تشريح: د دغه حدیث څخه څو مسئلې ثابتیږي: یو خو دا که چیرې پر کور به باندې باورولري نو د ځان سره د نورو ملګرو بېول صحیح دي. دوهم دا چې خپلو ملګرو ته د خپل غم او تکلیف ځرګندول جائز دي، په شرط د دې چې د دغه ځرګندول د شکوه او شکایت، بې صبر او ناراضګۍ په توګه نه وي، په خاصه توګه کله چې په کور کې د خوراک او څښاک شی نه وي او د لوږې سختوالی نه یوازې دا چې په بدني توګه ورته تکلیف رسوي بلکه په عبادت کې هم خنډ جوړیږي. نقل سوي دي چې کله به مفلسو صحابه کرامو ته د خوراک او څښاک شیان ترلاسه نه سول او د لوږې سختوالي به پرېشانه کړل نو هغوی به د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سول او د رسول الله ﷺ د مخ مبارک زیارت به یې کوی نو د هغوی لوږه او ټول تکلیف به دفع سو او د جلوه حق نورانیت به هغوی د خوراک او څښاک څخه بې پروا کړل. دریم دا چې د اړتیا په وجه د پردی ښځي سره خبري کول او د هغې خبري اورېدل جائز دي همدارنګه د ښځي لپاره دا جائز دي که د هغې خاوند په کور کې موجود نه وي، نو هغه راتلونکي مېلمه ته د راتلو اجازه ورکولای سي په شرط د دې چې د هغه مېلمه کور ته د راتلو څخه بېره نه وي او دوهم دا چې د خپل خاوند په خوښۍ یې یقین وي یعني د دې خبري شبه نه وي چې خاوند به د هغه مېلمه کور ته په راتلو باندې ناراضه سي.

څلورم دا چې هغه انصاري ﷺ په خپل کور کې د معزز او غوره مېلمنو په لېدو سره په خپل اړه یو عظیم نعمت تصور کړ او د هغه الحمدلله ویل د دې خبري ننبه ده چې د یو نعمت پر ظاهرېدو باندي د الله تعالی شکر ادا کول مستحب دي او دا هم مستحب دي چې کله مېلمه راسي نو باید د هغه په مخکي د خوښۍ اظهار وسي.

پنځم دا چې کله یو مېلمه راسي نو د خوراک څخه مخکي د هغه لپاره مېوه راوړل یا په کور کې چې خوږ شی یا بل شی موجود وي د هغه مخته ژر راوړل مستحب دي.

کله چې په خوراک او څښاک یې نس موړ سو: په دې باره کې نووي رحمه الله وایي چې د دې څخه دا خبره ثابته سوه چې په ماړه نس خوړل به د رسول الله ﷺ په زمانه کې هم کېدل او د نس موړول جائز دي یعني په ماړه نس خوراک او څښاک جائز دي، او کوم چې د هغه قولو تعلق دی چې د نس ډکولو د کراهت په اړه نقل سوي دي نو هغه پر عادت او همېشتوب باندي محمول دي

چي د عادت او همېشتوب په توګه په ماړه نس خوراک د غريبانو او اړو کسانو د هېرېدو او د زړه د سختوالي مظهر دی .

د قيامت په ورځ به ستاسو څخه ددغه نعمتو په اړه پوښتنه کيږي : ددې مطلب دادی چي الله تعالى خپلو بندګانو ته په دغه دنيا کي کوم نعمتونه ورکړي دي د هغو په باره کي به د قيامت په ورځ پوښتنه ور څخه کېږي او دغه پوښتنه به د ځينو په حق کي د توبيخ او سختوالي په توګه وي، يعني په هر صورت کي الله تعالى پر خپل نعمت بالدي د بندګانو څخه پوښتنه کوي چي موږ تاسو ته په دنيا کي فلانی او فلانی نعمت درکړی وو نو تاسو د هغه شکر ادا کړ که يا . د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دغه روايت (كان رجل من الانصار) د كتاب النكاح په باب الوليمه كي تېر سوی دی .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي　　(دوهم فصل)

د مېلمه پالني اهميت

﴿۴۰۶۳﴾: عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيْ كَرِبَ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت مقدام بن معديكرب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي

يَقُوْلُ أَيُّمَا مسلم ضَافَ قَوْمًا فَأَصْبَحَ الضَّيْفُ مَحْرُومًا كَانَ حَقًّا عَلَى كُلِّ

چي کوم مسلمان د يو قوم ميلمه سي او په داسي حال کي سبا کړي چي د هغه ميلمستيا ونه سي يعني د شپې د هغه ميلمستيا يې ونه کړه نو بيا پر هر

مُسْلِمٍ نَصْرُهُ حَتَّى يَأْخُذَ لَهُ بِقِرَاهُ مِنْ وَمَالِهِ وَ زَرْعِهِ. رواه الدارمي و ابوداؤد . و في رواية له و ايما رجل ضاف قوما فلم يقروه كان له ان يعقبهم بمثل قراه .

مسلمان د هغه مرسته فرض سي يعني دهر مسلمان دا فرض دي چي د هغوی څخه د هغه د ميلمستيا حق واخلي تر څو چي هغه خپل حق د هغوی د مال او زراعت څخه تر لاسه کړي . دارمي او ابوداؤد، او دده په يوه روايت کي داسي دي چي که څوک د يو قوم ميلمه سي او

هغوی یې میلمستیا ونه کړه نو حق یې سته چې د هغوی د مال څخه پرته د پوښتنې د خپلې میلمستیا حق واخلي.

تخریج: سنن الدارمي: ۲\۱۳۴، رقم: ۲۰۲۷، وابوداود ۴\۱۲۹، رقم: ۳۷۵۱.

د لغاتو حل: بقراه: ای بضیافته (مېلمستیا).

تشریح: د دغه حدیث د ظاهري مفهوم څخه د مېلمستیا مطلق واجبېدل ثابتیږي مګر په حقیقت کې داسې نه ده بلکه د دغه حدیث هغه تاویل او توجیه کیږي کوم چې مخکې د حضرت عقبه ابن عامر رضی الله عنه په روایت کې تېر سوي دي.

د مېلمستیا بدله مېلمستیا نه ده

﴿۴۰۶۴﴾: وَعَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ الجُشَمِي عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ اَرَأَيْتَ

حضرت ابو الاحوص رضی الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي چې هغه وویل: اې د الله رسوله! که زه د

اِنْ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ فَلَمْ يَقْرِنِي وَلَمْ يُضَيِّفْنِي ثُمَّ مَرَّ بِيْ بَعْدَ ذَالِكَ اَقْرِيْهِ اَمْ اَجْزِيْهِ قَالَ بَلْ اَقْرِهِ. رواه الترمذي.

یو چا میلمه سم او هغه زما د میلمستیا حق ادا نه کړي نو بیا هغه سړي راسي زما سره میلمه سي نو ایا زه د هغه میلمستیا وکړم یا د هغه څخه بدله واخلم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: د هغه میلمستیا وکړه. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۲۰، رقم: ۲۰۰۶.

تشریح: د حدیث خلاصه داده چې د بدۍ بدله دا نه ده چې ته به بدي ورسره کوې بلکه څوک چې بد چلن درسره وکړي نو ته ښه چلن ورسره وکړه او دا تر ټولو غوره بدله ده لکه څرنګه چې یو چا ویلي دي:

بدي را بدي سهل باشد جزا — اګر مردي احسن الی من اساء

بېله اجازې د بل کور ته مه داخلېږه

﴿۴۰۶۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَوْ غَيْرِهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِسْتَأْذَنَ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه او یا د یو بل چا څخه دا روایت دئ چې رسول الله ﷺ اجازه وغوښتل

عَلٰى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ فَقَالَ سَعْدٌ وَعَلَيْكُمُ

د سعد بن عبادة رضي الله عنه څخه د دننه ورتلو، رسول الله ﷺ و فرمايل السلام عليكم ورحمة الله،
سعد رضي الله عنه وويل: وعليكم

السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَلَمْ يُسْمِعِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى سَلَّمَ ثَلَاثًا

السلام ورحمة الله، سعد رضي الله عنه دا الفاظ په کراره وويل چې رسول الله ﷺ يې نه واوري، تر څو
چې رسول الله ﷺ درې واره سلام ادا کړ

وَرَدَّ عَلَيْهِ سَعْدٌ ثَلَاثًا وَلَمْ يُسْمِعْهُ فَرَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاتَّبَعَهُ

او سعد رضي الله عنه درې واره همداسې په کراره جواب ورکړ، مګر په رسول الله ﷺ يې نه واوريدل (د
خاموشۍ د دې حالت په ليدو سره) رسول الله ﷺ ولاړی،

سَعْدٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ مَا سَلَّمْتَ تَسْلِيْمَةً إِلاَّ هِيَ بِأُذُنِيَّ

سعد ور پسې ورغلئ او عرض يې وکړ اې د الله رسوله! زما مور او پلار دې پر تاسو قربان وي
هر څو واره چې تاسو سلام ووايه زما دواړو غوږونو واوريدل

وَلَقَدْ رَدَدْتُ عَلَيْكَ وَلَمْ أُسْمِعْكَ أَحْبَبْتُ أَنْ أَسْتَكْثِرَ مِنْ سَلَامِكَ وَمِنَ الْبَرَكَةِ

او ما د هغه جواب هم درکړی مګر خپل جواب مې ستاسو غوږونو ته ونه رسوئ ځکه چې زه
ستاسو د سلام او برکت زيات خواهشمند وم،

ثُمَّ دَخَلُوا الْبَيْتَ فَقَرَّبَ لَهُ زَبِيْبًا فَأَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا فَرَغَ

بيا رسول الله ﷺ او هغه د هغه کور ته دننه راغلل، سعد رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کې وچ
انګور راوړل او نبي کريم ﷺ هغه وخوړل

قَالَ أَكَلَ طَعَامَكُمُ الْأَبْرَارُ وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ وَأَفْطَرَ عِنْدَكُمُ

الصَّائِمُوْنَ. رواه في شرح السنة.

رسول الله ﷺ و فرمايل: نيکانو ستاسو خوراک وخوړئ او ملائکو ورته دعاء وکړه او روژه

.ارانو ورسره روژه ماته کړه . شرح السنه .

تخریج: شرح السنة ۱۲\ ۲۸۲، رقم: ۳۲۲۰.

د پرهېزګاره خلکو مېلمستيا ښه ده

﴿۴۰۶۶﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايماندار سړی

وَمَثَلُ الْإِيْمَانِ كَمَثَلِ الْفَرَسِ فِيْ آخِيَّتِهِ يَجُوْلُ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلٰى آخِيَّتِهِ وَإِنَّ

او ايمان د هغه آس په ډول دئ چي په رسۍ سره تړلی وي چي هغه په هغه رسۍ سره هر لوري ته ګرځي او بيا خپل ځای ته راځي،

الْمُؤْمِنَ يَسْهُوْ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى الْإِيْمَانِ فَأَطْعِمُوْا طَعَامَكُمُ الْأَتْقِيَاءَ وَأُوْلُوْا مَعْرُوْفَكُمُ الْمُؤْمِنِيْنَ . رواه البيهقي وابونعيم في الحلية.

همدا ډول مؤمن سهو او غفلت کوي او بيا د ايمان په لور راګرځي نو ته خپل خوراک په پرهيزګارانو خلکو وخوره او خپل بخښنښ ټولو مسلمانانو ته ورکړئ . بيهقي

تخريج: ابونعيم في حلية الاولياء ۸\ ۱۷۹، رقم: ۳۹۷، والبيهقي ۷\ ۴۵۲، رقم: ۱۰۹۶۴.

تشريح: (اخية) هغه لرګي ته وايي چي د هغه دواړه سرونه د کلفک په ډول په دېوال کي ټينګوي او بيا په هغه لرګي کي په تناو سره آس يا بل حيوان تړي او هغه ته وابنه وغيره اچوي، نو وفرمايل سول څرنګه چي يو آس په خپل رسۍ سره تړلی آخوا دېخوا ګرځي او بيا خپلي رسۍ ته په راتلو سره دربېږي چي هغه خپلي رسۍ ته کله نژدې کيږي او کله ځيني ليري کيږي مګر د هغه څخه بېلېدای نسي، همدارنګه حال د ايمان او مؤمن په مينځ کي د تعلق دی چي کله خو د اعمال صالحه په ذريعه هغه ته قرب الهي تر لاسه کيږي او کله د ګناهو په وجه ليري کيږئ مګر د اصل ايمان څخه نه بېليږي که چيري هغه په ګناهو کي اخته سي نو آخر پر هغه ګناه پښېمانه کيږي او استغفار کوي او د خپل قضا سوو عباداتو په تدارک کولو سره د ايمان د کمال درجه تر لاسه کوي .

نو تاسو خپل خوراک په پرهېزګارانو وخورئ : دغه جمله په اصل کي جزاء ده د شرط محذوف، په دې اعتبار به مفهوم داوي چي د دغه مثال سره سم کله چي د ايمان دغه حيثيت سي

کوم چې د رسی دی نو د دغه شیانو د تهنگوالي او قوي کولو طريقې اختيار کړئ چې ستاسو او ایمان په مینځ کي د وسائلو درجه لري او د دې یوه غوره او اسانه طريقه مېلمستيا کول يعني خوراک ورکول دي ، پاته سوه دا خبره چې د خوراک ورکولو په اړه د پرهېزګارۍ تخصیص ولي سوی دی ؟ نو د دې سبب دا څرګندول دي چې که څه هم هر وړي ته خوراک ورکول جائز او نېک عمل دی که څه هم هغه پرهېزګار وي یا غیر پرهيزګار وي مگر غوره داده چې که چيري يو وږي ته خوراک ورکول غواړي نو داسي وږي ته دي يې ورکړي چې هغه پرهېزګار او د خدای ﷻ څخه بېرېدونکی وي . دوهم دا چې پرهېزګارانو ته خوراک ورکول نه يوازي دا چې تاسو ته پر دغه نېک عمل ثواب درکول کيږي بلکه هغه چې په خوراک کولو سره کوم عبادت کوي د هغه ثواب به هم تاسو ته تر لاسه کيږي او هغوی به ستاسو په اړه دعاء کوي او هغه به قبليږي ، نو د پرهېزګارانو تخصيص په مذکوره سبب سره دی او کوم چې د مطلق احسان او اعانت تعلق دی نو هغه بايد د ټولو مسلمانانو سره وسي لکه څرنګه چې فرمایل سوي دي چې په خپلو صدقو سره ټول مسلمانان نازوئ .

د خوراک په وخت کي پر زنگنو کښېنستل

﴿۴۰۶۷﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ قَالَ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَصْعَةٌ

د حضرت عبدالله بن بسر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ سره یوه پیاله وه

يَحْمِلُهَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ يُقَالُ لَهَا الْغَرَّاءُ فَلَمَّا أَضْحَوْا وَسَجَدُوا الضُّحَى أُتِيَ بِتِلْكَ

چې څلورو کسانو به پورته کول او د هغې نوم غراء وو ، کله چې به د څابنت وخت سو او خلکو به د څابنت لمونځ وکړ نو هغه پیاله به راوړل سوه

الْقَصْعَةِ وَقَدْ ثُرِدَ فِيهَا فَالْتَفُّوا عَلَيْهَا فَلَمَّا كَثُرُوا جَثَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

او په هغې کي به نوروا تيار سوه او خلک به شا وخوا کښېنستل او د خلکو شمير چې به زيات سو نو رسول الله ﷺ به پر ګونډو کښېنستئ ،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ مَا هَذِهِ الْجِلْسَةُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يوه ورځ يو صحرائي وويل ستاسو دا ناسته څنګه ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل زه الله ﷻ

إِنَّ اللَّهَ جَعَلَنِي عَبْدًا كَرِيمًا وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا عَنِيدًا ثُمَّ قَالَ كُلُوا مِنْ جوانبها وَدَعُوا ذِرْوَتَهَا يُبَارَكْ فِيهَا . رواه ابو داؤد.

یو متواضع (عاجزه) انسان جوړ کړی یم سرکش ا و ضدي يې نه يم جوړ کړي، بیا رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپل خپل لوري څخه خوراک کوئ ، په منځ کي او د سربیره څخه لاسونه مه وهئ ستاسو لپاره به په دې کي برکت واچول سي . ابو داؤد

تخریج: سنن ابي داود ۱۴\۱۴۲، رقم: ۳۷۷۳.

تشریح: (غرا) ددې لغوي معنی د روښانه او ځلانده ده ، دغه لوی لوښي ته به یې غرا په دې مناسبت سره ویلو چي هغه به د لوی کېدو په وجه خلاص او پراخ وو .

په دې کي برکت لویږي : ددې مطلب دادی چي همداسي خوراک کوئ نو ددغه لوښي خوراک به د برکت باعث وي ، ددې پر خلاف کله چي د منځنۍ برخي څخه وخوړل سي نو د لاندي برخي برکت ختمیږي .

په یو ځای خوراک کولو کي برکت وي

﴿۴۰۶۸﴾: وَعَنْ وَحْشِيِّ بْنِ حَرْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى

وحشي بن حرب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي د رسول الله ﷺ

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نَأْكُلُ وَلَا نَشْبَعُ قَالَ فَلَعَلَّكُمْ تَفْتَرِقُونَ

اصحابو یوه ورځ وویل: اې دالله رسوله ! موږ خوراک کوو او زموږ نس نه مړیږي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل کيدای سي تاسو بیل بیل خوراک کوئ،

قَالُوا نَعَمْ قَالَ فَاجْتَمِعُوا عَلَى طَعَامِكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ . رواه ابو داؤد

هغوي وویل: هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل خپل خوراک پر یو ځای خورئ او پر هغه د الله جل جلاله نوم اخلئ ستاسو لپاره به په دې کي برکت وي . ابو داؤد.

تشریح: د حدیث د راوي وحشي ابن حرب د نیکه نوم هم وحشي ابن حرب وو ، دغه (وحشي

ابن حرب چي د راوي د وحشي نيکه دی هغه وحشي دی چي د احد د غزا په ورځ ئې د رسول الله ﷺ اکا سید الشهداء حضرت حمزه ابن عبد المطلب شهید کړی وو ، هغه وخت وحشي کافر وو او د کفارو له خوا له مسلمانانو سره جنګېدی مګر وروسته الله تعالی هدایت ورته وکړ او په اسلام مشرف سو ، د اسلام راوړلو څخه وروسته د هغه لویه کارنامه داده چي هغه مشهور د نبوت دعوه کونکی مسیلمه کذاب په وژلو سره جهنم ته رسولی وو ، ددغه حدیث څخه څرګنده سوه چي بېل بېل خوراک کول د بې برکتۍ سبب دی او یو ځای خوراک کول د برکت ذریعه ده او خوراک ته یو ځای کښېنستل او د خوړلو په وخت کي د الله ﷻ نوم اخیستل یعني بسم الله ویلو سره خوراک پېل کول په دغه دواړو کي هر یو د برکت باعث دی او که دواړه یو ځای سي چي خوراک ته یو ځای کښېني او د خوړلو په وخت کي بسم الله هم ووایي نو دا په برکت کي د زیاتوب سبب کیږي او د الله ﷻ د ذکر د زیاتوب ذریعه هم کیږي ، پاته سوه دا خبره چي الله ﷻ په قرآن کریم کي فرمایلي دي چي : (لیس علیکم جناح ان تاکلوا جمیعا او اشتاتا) یعني په دې اړه پر تاسو ګناه نسته که تاسو یو ځای خوراک کوئ یا بېل بېل ، نو په اصل کي دغه آیت پر رخصت باندي محمول دی یا ددې تعلق د هغه خلکو د تنګۍ څخه د ساتني لپاره دي کوم چي یو ازي او سیږي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

ډوډۍ ، کالي او کور د انسان اساسي ضرورت

﴿۴۰۶۹﴾ : عَنْ أَبِي عَسِيبٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلًا

د ابو عسیب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي یوه شپه رسول الله ﷺ د کور څخه دباندي راووتی ،

فَمَرَّ بِي فَدَعَانِي فَخَرَجْتُ اليه ثُمَّ مَرَّ بِأَبِي بَكْرٍ فَدَعَاهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ ثُمَّ مَرَّ

زما سره تیریدئ زه یې وغوښتلم ، زه د رسول الله ﷺ سره ملګری سوم ، بیا یې حضرت ابوبکر رضی الله عنه راوغوښتئ هغه راغلئ

بِعُمَرَ فَدَعَاهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ فَانْطَلَقَ حَتَّى دَخَلَ حَائِطًا لِبَعْضِ الْأَنْصَارِ فَقَالَ

بیا یې حضرت عمر رضی الله عنه راوغوښتئ هغه هم راغلئ ، بیا موږ ټول د رسول الله ﷺ سره یو ځای

روان سوو او د یو انصاري باغ ته ورسیدو ، رسول الله ﷺ د باغ خاوند ته وفرمایل :

لِصَاحِبِ الْحَائِطِ أَطْعِمْنَا بُسْرًا فَجَاءَ بِعِذْقٍ فَوَضَعَهُ فَأَكَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

په موړ خرماوي وخوره، هغه د خرماوو یو وانبکی راوړ ، رسول الله ﷺ د ملګرو سره خرماوي

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ بَارِدٍ فَشَرِبَ فَقَالَ لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هَذَا

وخوړلې، بیا یې یخي اوبه وغوښتلې او وه یې چښلې د هغه څخه وروسته یې وفرمایل : د قیامت په ورځ به ستاسو څخه د دغه

النعيم يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ فَأَخَذَ عُمَرُ الْعِذْقَ فَضَرَبَ بِهِ الْأَرْضَ حَتَّى تَنَاثَرَ

نعمت په باره کي پوښتنه کیږي ، د راوي بیان دئ چي ددې په اوریدو سره حضرت عمر رضي الله عنه د خرماوو وانبکی راواخیست او پر مځکه یې وغورځوئ چي د هغه ټولي خرماوي د رسول الله

الْبُسْرُ قِبَلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا

ﷺ مخ ته دانه دانه سوې او عرض یې وکړ ایا د قیامت په ورځ به زموږ څخه ددې په اړه هم.

لَمَسْئُولُونَ عَنْ هَذَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ نَعَمْ إِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ خِرْقَةٍ كَفَّ بِهَا

پوښتنه کیږي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :هو، مګر د درو شیانو پوښتنه به نه کیږي یو هغه جامه چي په هغه سره سړی خپل ستر پټوي ،

الرَّجُلُ عَوْرَتَهُ أَوْ كِسْرَةٍ سَدَّ بِهَا جَوْعَتَهُ أَوْ حَجَرٍ يَتَدَخَّلُ فِيهِ مِنَ الْحَرِّ وَالْقُرِّ . رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان مرسلا .

دویم د ډوډۍ ټوټه چي په هغې سره انسان خپل لوږه دفع کوي، او دریم کوچنۍ خونه چي په هغې کي انسان خپل ځان د ګرمۍ او یخ څخه ساتي . احمد او بیهقي

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۸۱، والبيهقي في شعب الايمان ۱۴\۱۴۳، رقم: ۴۶۰۱.

تشريح: د یوه انصاري په اړه احتمال دی چي هغه ابوالهیثم وي چي د هغه باغ ته د تلو ذکر د لومړي فصل په یو حدیث کي هم تېر سوی دی او دا پېښه د دوهم ځل ده ، یعني یوه پېښه هغه وه

چي د هغې ذکر د لومړي فصل په دريم نمبر حديث کي تېر سو او د وهمه پښنه داده چي دلته په حديث کي بيان سوې ده او دا کيداى سي چي د يو انصاري څخه مراد ابوالهيثم نه وي بلکه بل انصاري صحابي مراد وي.

او هغه يې پر مځکه وويشتي: د حضرت عمر رضي الله عنه دغه عمل د هغه د جذبې مظهر وو چي د قيامت په ورځ به هر کوچنى او لوى شى او هر ډول جزئي او کلي امور د پوښتنه کولو په اړه د الله تعالى د خوف او مؤاخذې په وجه پر هغه هيبت خپور سوى وي.

حجر د حاء په پيښ او د جيم په سکون سره هم صحيح دى چي د هغه معنى د حجرې (خونې) ده مګر د مشکوة په يوه صحيحه نسخه کي دغه لفظ په حُجر يعني د جيم په پيښ او د حاء په سکون سره هم نقل سوى دى چي د هغه معنى د سوري ده، په دغه صورت کي به دا مراد وي چي يو داسي کوچنى سراى چي د هغه د ډېر کوچني او حقير کېدو په وجه د مږي په سوري سره تعبير کيږي او په هغه کي د ګرمۍ او يخ په وجه په تکليف سره اوسيږي.

د څو کسانو يو ځاى خوراک

﴿۴۰۷۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَتْ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي وغوړول سي

الْمَائِدَةُ فَلَا يَقُومُ رَجُلٌ حَتَّى تُرْفَعَ الْمَائِدَةُ وَلَا يَرْفَعُ يَدَهُ وَإِنْ شَبِعَ حَتَّى

دسترخوان نو هيڅوک دي تر هغه وخته پوري د هغه څخه نه ولاړيږي تر څو پوري چي دسترخوان پورته نه سي او نه دي تر هغه وخته پوري د خوراک څخه لاس نيسي تر څو پوري چي

يَفْرُغَ الْقَوْمُ وَلْيُعْذِرْ فَإِنَّ ذالك يُخْجِلُ جَلِيسَهُ فَيَقْبِضُ يَدَهُ وَعَسَى أَنْ يَكُونَ لَهُ فِي الطَّعَامِ حَاجَةٌ. رواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان.

ټول خلک فارغ نه سي که څه هم چي دده نس موړ سوى وي، مګر که د يو وجي څخه زياته ملګرتيا نسي کولاى نو په معذرت کولو سره دي بيل سي ځکه چي د خوراک څخه په لاس نيولو سره ناست کسان شرمنده کيږي او خپله هم د خوراک څخه لاس نيسي او ډير ممکنه ده چي هغه تر اوسه لا وږى وي. ابن ماجه او بيهقي

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۰۹۶، رقم: ۳۲۹۵ والبيهقي في شعب الايمان ۵\۸۳، رقم: ۵۸۶۴.

تشريح: د دغه حديث څخه علماوو دا مسئله اخذ کړې ده که چيري پر دسترخوان باندي تر يوه زيات خلک ناست وي نو هغه يو سړی بايد تر نورو مخکي خپل لاس د خوراک څخه منع نه کړي په شرط د دې چي د هغه د لاس په غزولو سره د هغه ملګري هم د شرم په وجه خوراک پرېږدي، او که چيري خوراک کم وي چي د کم خوړلو په وجه د دسترخوان د نورو ملګرو سره تر آخره پوري پاته کېدل مشکل وي نو په دغه صورت کي د هغه لپاره غوره طريقه داده چي هغه په کراره کراره خوراک کوي او تر پايه پوري د نورو سره ملګرتيا وکړي.

﴿۴۰۷۱﴾: وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ مَعَ قَوْمٍ كَانَ آخِرَهُمْ أَكْلاً. رواه البيهقي في شعب الإيمان مرسلا

حضرت جعفر بن محمد رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ به د خلکو سره خوراک کوئ نو تر آخر وخته پوري به يې خوراک کوئ. دا حديث بيهقي په شعب الايمان کي مرسلا روايت کړی دئ.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۵\۱۲۲، رقم: ۶۰۳۷.

تشريح: امام محمد باقر رحمة الله عليه تابعي دی او هغه ته د خپل پلار امام زين العابدين رضي الله عنه او حضرت جابر بن عبد الله څخه د حديث د اورېدو شرف حاصل دی، په دې اعتبار سره دغه حديث مرسل دی، د حديث مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به پر دسترخوان باندي د موجودو نورو خلکو څخه مخکي خپل لاس نه نيوی بلکه تر پايه به يې خوراک کوی، يا دا چي رسول الله ﷺ په پيل کي خوراک نه کوی يا ډېر کرار کرار به يې خوراک کوی او همدا رنګه په خوړلو سره به يې د ټولو ملګرتيا کول چي نور خلک هم شرم ونه کړي او خوراک پرېږدي.

لوږه او درواغ مه يو ځای کوئ

﴿۴۰۷۲﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ قَالَتْ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِطَعَامٍ فَعَرَضَ عَلَيْنَا فَقُلْنَا لَا نَشْتَهِيهِ قَالَ لَا تَجْمَعْنَ جُوعًا وَكَذِبًا. رواه ابن ماجة

د حضرت اسماء بنت يزيد (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته خوراک راوړل سو بيا هغه خوراک موږ ته کښېښودل سو موږ وويل زموږ خوا ته نه کيږي (يعني خوراک ته مو زړه نه کيږئ) رسو ل الله ﷺ وفرمايل لوږه او درواغ مه يو ځای کوئ. ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۰۹۷، رقم: ۳۲۹۸.

تشريح: مطلب دادى كه يو سړى د لوږي او خواهش سربېره د تكلف په توګه د خوراک څخه انكار وكړي او دا ووايي چي زما خواهش نسته چي په حقيقت كي هغه دروا غ وايي نو د هغه څخه زيات ناپوه څوک دى چي د دوو تاوانو زغملو ته تيار سو يو خو ددنيا تاوان چي د لوږي تكليف يې پورته كړ او دوهم د دين تاوان چي دروا غ يې وويل.

يو ځاى خوراک كول د بركت باعث دى

﴿۴۰۷۳﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُوا جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا فَإِنَّ الْبَرَكَةَ مَعَ الْجَمَاعَةِ. رواه ابن ماجة.

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ټول يو ځاى خوراک كوئ، بيل بيل يې مه خورئ ځكه چي په يو ځاى خورک كي بركت وي. ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۰۹۳، رقم: ۳۲۸۷.

د مېلمه استقبال او رخصتول

﴿۴۰۷۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ السُّنَّةِ أَنْ يَخْرُجَ الرَّجُلُ مَعَ ضَيْفِهِ إِلَى بَابِ الدَّارِ. رواه ابن ماجة و رواه البيهقي في شعب الايمان عنه و عن ابن عباس و قال في اسناده ضعف.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: سنت دادئ چي سړى د خپل ميلمه د رخصت په وخت كي د كور تر دروازې پوري ووځي، ابن ماجه او بيهقي، او بيهقي په شعب الايمان كي د ابوهريره او ابن عباس (رض) څخه روايت كړ او ويلي يې دي چي ددې په اسناد كي ضعف دئ

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۱۱۴، رقم: ۳۳۵۸.

تشريح: دا هم د مېلمه اكرام او درناوى دى چي كله هغه راسي نو د كور تر دروازې پوري د هغه استقبال وكړل سي او كله چي ځي نو تر دروازې پوري د هغه سره ووځي، په دې كي يو لوى حكمت دا هم دى چي د هغه په وجه نور خلک په كور كي د يو پردي سړي په راتلو سره څه وهم او

وسوسه ونه کړي .

دا سنت دي : ددې مطلب دا دی چي دغه عمل يعني د مېلمه د استقبال او رخصتولو لپاره د کور تر دروازې پوري تلل يو پخوانی عادت دی چي د تل څخه د تهذيب مظهر هم ګڼل کيږي او د انسان د سليم فطرت غماز هم دی ، يا دا مطلب دی چي دغه عمل زما سنت او زما طريقه ده ،

په دغه سند کي کمزوري ده : په دې سره د نفس حديث پر صحت باندي اثر نه لويږي ځکه چي دغه روايت په ډېرو سندو سره نقل سوی دی که يو روايت په ډېرو سندو سره نقل سوي وي او د هغه په سند کي کمزوري هم وي نو د سندو د ډېروالي په وجه هغه ته تقويت تر لاسه کيږي ، دا خبره هم بايد په فکر کي وي چي د اعمالو د فضائلو په اړه ضعيف روايت هم د منلو وړ دی .

د مېلمه لرونکي روزي

﴿۴۰۷۵﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَيْرُ أَسْرَعُ إِلَى الْبَيْتِ الَّذِي يُؤْكَلُ فِيهِ مِنَ الشَّفْرَةِ إِلَى سَنَامِ الْبَعِيرِ . رواه ابن ماجة

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نيکي، روزي او برکت د هغه کور په لوري په تيزي سره ځي په کوم کور کي چي (په ميلمنو) خوراک خوړل کيږي ، دا ډول لکه څرنګه چي د اوښ د بوک په غوښه پريکولو کي چاړه په تيزي سره ننوزي .ابن ماجه.

تخريج : سنن ابن ماجه ۲\ ۱۱۱۴، رقم: ۳۳۵۷.

تشريح کله چي د اوښ غوښه پرېکيږي، نو تر ټولو وړاندي د هغه قُوب (بوک) پرېکوئ او د بوک غوښه زياته خوندوره وي ځکه هغه په شوق سره خوړل کيږي ، بيا يې وفرمايل : لکه څرنګه چي بوک ته چاړه ژر رسيږي تر دې زيات هغه کور ته خير رسيږي کوم چي پر مېلمنو باندي خوراک خوري .

==========

بَابُ فِيْ اَكْلِ الْمُضْطَرِ

(د مجبورتيا د خوراک بيان)

دغه باب په يو عنوان سره مقيد سوی نه دی ، ددې مطلب دا دی چي په تېر باب کي کومه موضوع را روانه ده په دغه باب کي هم له هغه سره اړوند حديثونه نقل کيږي ، بيا هم د

مشکوة په ځینو نسخو کي دلته دا عنوان ورکړل سوی دی : (باب في اکل المضطر) یعني د مضطر (اضطراري حالت) د خوراک بیان.

په دغه باب کي لومړی فصل نسته : یعني په دغه باب کي صاحب د مصابیح د بخاري او مسلم هیڅ روایت نقل کړی نه دی ځکه هغه دغه باب د فصل اول څخه خالی کړی دی ، څرګنده دي وي چي په ځینو نسخو کي د لفظ الاول څخه وروسته د الثالث لفظ هم سته ځکه چي په دغه باب کي دریم فصل هم نسته مګر صحیح خبره داده چي باید د الثالث لفظ نه وي ځکه چي د مشکوة مصنف اصل مقصد د صاحب مصابیح په باره کي بیانول دي چي هغه دغه باب د اول فصل څخه خالي کړی دی او د دریم فصل شاملول د مشکوة د مصنف سره تعلق لري که هغه یو باب د دریم فصل څخه خالي کړي نو د هغه بیانول به یوه غیر ضروري خبره وي او دا خبره هم ده چي صاحب مشکوة د هغه بیانول معمولي کړي نه دي لکه څرنګه چي راتلونکی یو باب (باب تغطیة الاواني) څخه څرګندیږي چي په دغه باب کي د مشکوة مصنف دریم فصل شامل کړی نه دی او دا ئې هم نه دي ویلي چي په دغه باب کي دریم فصل نسته.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د سخت حالت مسئله

﴿۴۰۷۶﴾: عَنِ الْفُجَيْعِ الْعَامِرِيِّ أَنَّهُ أَتَى النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا

د حضرت فجیع عامري رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه رسول الله ﷺ ته راغلی او وه یې ویل چي

يَحِلُّ لَنَا مِنَ الْمَيْتَةِ قَالَ مَا طَعَامُكُمْ قُلْنَا نَغْتَبِقُ وَنَصْطَبِحُ قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ

د مردار په باره کي تاسو څه حکم کوئ؟ رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه تاسو څومره خوراک کوئ؟ موږ وویل چي هم یې ماښام څښو او هم یې سهار څښو ، ابونعیم ویلي دي چي

فَسَّرَهُ لِي عُقْبَةُ قَدَحٌ غُدْوَةً وَقَدَحٌ عَشِيَّةً قَالَ ذَاكَ وَأَبِي الْجُوعُ فَأَحَلَّ لَهُمُ الْمَيْتَةَ عَلَى هَذِهِ الْحَالِ. رواه ابوداؤد.

ددې تفسیر ما ته عقبه داسي وکړی چي یوه پیاله د شېدو ماښام او یوه پیاله د شیدو سهار ، رسول الله ﷺ وفرمایل دومره خوراک!، په خپل پلار دي مي قسم وي د لوږي موجب دئ

(رسول الله ﷺ د غير الله قسم منع كېدو څخه مخكې دا قسم خوړلی وو) رسول الله ﷺ د هغوی لپاره مردار حلال کړل. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\۱۶۷، رقم: ۳۸۱۷.

د لغاتو حل: نغتبق ونصطبح: ای نشرب مرة في العشاء ومرة في الغداء

تشريح: خوراک د انسان د ژوند پاته ساتلو لپاره يو ضروري شی دی، انسان ته د خوراک نه ترلاسه کېدل يا په دومره اندازه کې ترلاسه کېدل چې په هغه سره نه يوازې دا چې لوږه ختمېدای نسي بلکه د ژوند وجود په خطره کې وي نو داسې حالت ته د شريعت په اصطلاح کې (حالت اضطرار) وايي، د اضطرار په حالت کې شريعت دا اجازه ورکوي که انسان د يو حرام شي په خوړلو سره خپل ځان ساتلای سي نو هغه بايد وخوري، د پوښتنه کونکي په دغه پوښتنه کولو سره چې زموږ لپاره د مرداري څخه څه شي حلال دي، دا په اصل کې معلومول يې غوښتل چې هغه کوم صورت دی چې پر هغه د اضطرار اطلاق کېږي چې په هغه صورت کې د مردار يا حرام شي خوړل جائز سي يعني د اضطرار حد څه شي دی، او د لوږې نوعيت به د کومې درجې وي چې د هغه په وجه د حرام شي خوړل مباح کېږي، که څه هم سائل د سوال لپاره کوم طرز او الفاظ اختيار کړي دي د هغو ظاهري مفهوم څخه دا ځرګندېږي چې هغه د مردار خوړلو په باره کې پوښتنه کړې وه چې د مردارو شيانو څخه کوم شيان يا د هغه کوم مقدار داسې دی چې د هغه خوړل زموږ لپاره حلال دي مګر په حقيقت کې د سائل مقصد دا نه وو او نه د هغه جواب ورکړل سوی دی بلکه مقصد دادی کوم چې مخکې ذکر سو، يعني د حالت اضطرار په باره کې سوال کول، نو رسول الله ﷺ جواب هم د هغه په اړه ورکړ، له دې څخه پرته دا عبارت: (ما يحل لنا من الميتة) چې د هغه څخه د مردارو شيانو په اړه سوال کول معلومېږي، د ابوداؤد دی مګر طبراني وغيره چې دا روايت څرنګه نقل کړی دی په هغه کې دغه عبارت (يحل) يا په پيش سره داسې دی: (ما يحل لنا الميتة) يعني هغه کوم حالت دی چې زموږ لپاره مردار خوړل حلال ګرځوي، دغه عبارت د سائل اصل مقصد په ځرګنده طرز کې ځرګندوي.

تاسو خلکو ته خوراک په کومه اندازه ترلاسه کېږي: د دغه سوال مقصد دا وو چې دوه صورتونه کېدای سي يو خو دا چې تاسو ته د خوراک په نامه چې څه شی ترلاسه نه وي نو په دغه صورت کې څه مشکل نسته کله چې په نس کې د اچولو لپاره يو شی هم په يوه اندازه کې ترلاسه نسي نو حالت اضطرار بالکل په ځرګنده توګه متحقق کېږي، دوهم صورت دادی چې د

خوراک په نامه څه نا څه شی او په کوم مقدار کي تا سو ته تر لاسه سي نو په هغه صورت کي دا کتل کيږي چي د هغه مقدار نوعيت څه شي دی چي د هغه مطابق د حالت اضطرار په اړه فيصله وسي نو ته وښيه که تاسو ته د خوراک د ډول څخه يو شی تر لاسه کيږي نو د هغه مقدار څه شي دی، چي د هغه مقدار په معلومولو سره دا اندازه وکړل سي چي د هغه په ذريعه ستاسو نسونو ته څومره مرسته تر لاسه کيدای سي او ستاسو لوږه د اضطرار حد ته رسيږي که يا، رسول الله ﷺ ددغه سوال کولو په وخت کي د مخاطب لپاره د جمع د صيغې په استعمال سره جماعت مخاطب کړ، حال دا چي سوال کونکي يو سړی (يعني فجيع عامري) وو، ددې وجه داوه چي رسول الله ﷺ کوم حکم بيانول غوښتل هغه که څه هم د يوه سړي د سوال مقصد وو مگر په حقيقت کي د هغه تعلق د ټولو خلکو سره وو ځکه رسول الله ﷺ ددغه حکم عمومي حيثيت واضح کړ، دا وجه ده چي فجيع رحمه الله هم په خپل جواب کي د جمع صيغه راوړل يعني داسي يې وويل: موږ ويل..الخ

د نصطبح ماده اشتقاق صبوح ده چي معنی يې د سهار د خوراک او څښاک ده، همدارنگه د نغتبق ماده اشتقاق د غبوق ده او معنی يې د ماښام د خوراک او څښاک ده، دلته په روايت کي د دواړو الفاظو څخه مراد د سهار او ماښام يوه يوه کاسه شيدې څښل مراد اخيستل سوي دي لکه څرنگه چي د حديث يو راوي ابونعيم رحمه الله د حضرت عقبه رحمه الله څخه دا وضاحت نقل کړی دی او کيدای سي چي د ابونعيم رحمه الله نقل سوی وضاحت د حضرت عقبه رحمه الله پر اورېدو مبني وي يا په نورو روايتو کي هم دا وضاحت نقل سوی وي، په هر حال د راوي دغه وضاحت مستند هم دی او د باور وړ هم دی.

د رسول الله ﷺ د خپل پلار قسم کول په ظاهره يو تعجب امر دی چي د هغه تاويل دا کيږي چي د رسول الله ﷺ دغه قسم کول په اصل کي د هغه وخت پېښه ده کله چي د غير الله د قسم کولو منع نوه نازل سوې يا دا چي مخکي به عربو دا ډول قسمونه کول او دا سي قسم کول د هغوی پر ژبه عادت سوي وو ځکه نو دعادت سره سم د رسول الله ﷺ د ژبي څخه هم دا قسم بېله قصده او ارادې ووتی.

رسول الله ﷺ په دغه صورت کي د هغوی لپاره مردار حلال وگرځول: دلته ددغه صورت څخه مراد د سهار او ماښام د يوې يوې پيالې شېدو څښلو صورت دی يعني رسول الله ﷺ داسي وفرمايل چي د خوراک دومره لږ اندازه تاسو ته يقينا کافي نه دي او تاسو ټول به وږي ياست ځکه دغه صورت د اضطرار دی چي په هغه کي مردار خوړل حلال دي نو تاسو د مجبورۍ

په صورت کي د مردار په خوړلو سره هم خپل ځان ساتلای سئ.

﴿۴۰۷۷﴾: وَعَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ أَنَّ رَجُلاً قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا نَكُونُ بِأَرْضٍ

د حضرت ابو واقد ليثي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي وويل: اې د الله رسوله ! کله موږ داسي ځمکي ته ورسيږو چي

فَتُصِيبُنَا بِهَا الْمَخْمَصَةُ فَمَتٰى يَحِلُّ لَنَا الْمَيْتَةُ ؟ قَالَ مَا لَمْ تَصْطَبِحُوْا

موږ ته لوږه تکليف راکوي (يعني هلته د خوراک شی نه وي) زموږ لپاره مردار کله حلال کيږي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هر کله چي تاسو تر سهاره پوري خوراک تر لاسه نه کړئ

اَوْتَغْتَبِقُوْا أَوْ تَحْتَفِئُوْا بِهَا بَقْلاً فَشَأْنُكُمْ بِهَا مَعْنَاهُ إِذَا لَمْ تَجِدُوْا صَبُوْحًا أَوْ غَبُوْقًا وَلَمْ تَجِدُوْا بَقْلَةً تَأْكُلُوْنَهَا حَلَّتْ لَكُمُ الْمَيْتَةُ . رواه الدارمي.

او په هغه ځمکه کي تاسو ته د سبزيو د ډول څخه هيڅ شی په لاس رانسي نو ستاسي کار له مردارۍ سره دی معنی يې داده چي تاسو د ماښام يا سهار خوراک پيدا نه کړئ او سبزي هم پيدا نه کړئ چي وه يې خورئ نو مرداره درته حلاله ده ، دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ۲\۱۲۰، رقم: ۱۹۹۶.

تشريح په دواړو حديثو کي په ښکاره ډول معلوميږي ځکه چي په اول حديث کي د سهار او ماښام د شيدو تر لاسه کېدو صورت هم د لوږي او مخمصه يعني پر اضطرار باندي محمول کړ او مردار خوړل يې مباح وګرځول ، او په دوهم حديث کي د حالت اضطرار تر لاسه کېدل په دې سره مشروط کړل چي تر سهار يا ماښام پوري د خوراک او څښناک هيڅ شی هم تر لاسه نسي بلکه تر دې هم زيات دغه دائره يې دومره تنګه کړل که سبزيجات او شنکياوي او داسي نور شيان لکه وابنه ، د درختي پاڼي او داسي نور شيان هم تر لاسه سي او هغه په نس کي اچول کيدای سي نو په دغه صورت کي به د اضطرار حالت نه وي او مردار خوړل به مباح نه وي، د دغه حديثو د اختلاف په وجه د علماوو په مذهب او اقوالو کي هم اختلاف پيدا سوی دی ، د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه مذهب دادی چي د ځان ساتني لپاره د مردارو شيانو خوړل په هغه صورت کي حلال دي کله چي د لوږي په وجه د ځان هلاکېدو بېره پيدا سي، او دومره خوراک به حلال

وي چي په هغه سره ځان وساتل سي ، د امام شافعي رحمة الله عليه يو قول هم دادی ، د غه مذهب او قول په ظاهره پر سختۍ او تنګۍ باندي محمول دی مګر په حقيقت کي احتياط او تقوا ده .

د دې پر خلاف د امام مالک ، امام احمد او د يوه قول مطابق د امام شافعي رحمة الله عليهم مذهب دادی که چيري يو سړی په دومره اندازه خوراک تر لاسه نه کړي چي په هغه سره موړ سي او د هغه طبعي خواهش اړ او متقاضي وي نو د هغه لپاره مردار خوړل حلال دي تر دې چي هغه خپل حاجت طبعي پوره کړي يعني هغه موړ سي او هغه ته هغه قوت تر لاسه سي کوم چي په ماړه نس خوړلو سره تر لاسه کيږي ، د دغه قول د عمل دائره زياته وسيع او په دغه مذهب کي زياته نرمي او اساني ده ، خلاصه دا چي په حالت اضطرار کي د مردار له ډولو څخه د يو شي خوړلو په اړه د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد سدرمق اعتبار دی چي مضطر دومره مردار خوړلای سي چي په هغه سره ځان وساتي ، حال دا چي د نورو امامانو په نزد د قوت تر لاسه کېدل يعني په ماړه نس خوراک اعتبار دی ، د دغه امامانو دليل اول حديث دی چي رسول الله ﷺ په هغه حالت کي د مردار خوړل حلال وګرځول کله چي سائل ته يوه کاسه شيدې په ورغ کي او يوه پياله شيدې په شپه کي تر لاسه کېدل ، او په ورغ او شپه کي تر لاسه کېدونکي يوه يوه کاسه شيدې بېله شکه سدر مق يعني د ځان ساتني تر حد پوري کافي کيدای سي که څه هم د دې په ذريعه نس مړېدای نسي نو د دې څخه معلومه سوه چي د اضطرار د حد په وجه مردار خوړل مباح کيږي ، په اصل کي د نس مړېدل نه تر لاسه کېدل دي او په اندازه د قوت مردار خوړل حلال دي ،

د دغه امامانو پر خلاف امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه خپل مذهب د دوهم حديث څخه ثابتوي چي د هغه وضاحت مخکي بيان سوی دی ، د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد کوم چي د اول حديث تعلق دی چي د هغه څخه نور امامان استدلال کوي د هغه په باره کي د هغه له خوا داويل کيږي چي په دغه حديث کي د سهار او ماښام د يوې يوې کاسې شېدو څښلو چي کوم ذکر سوی دی هغه په اصل کي برسبيل اشتراک وو يعني سهار او ماښام به يوه يوه پياله شېدې پوره قوم ته تر لاسه کېدلې نه يوه يوه سړي ته ، نو په لفظ د طعامکم کي د جمع صيغه د دې خبري څرګند دليل دی .

همدارنګه د حضرت فجيع عامري رضي الله عنه سوال کول محض د خپل ذات لپاره نه وو بلکه په حقيقت کي د خپل پوره قوم له خوا سوال وو ځکه هغه دغه الفاظ وويل: (ما يحل لنا) يعني زموږ لپاره د مردارو شيانو څخه څه شي حلال دي، او په دې کي څه شک نسته چي د يو ډلي لپاره محض يوه کاسه شېدې سدرمق يعني ځان ساتني لپاره هم هيڅ کافي کيدای نسي او نه

غه د يو سړي لوږه ختمولو کي مرسته کولای سي، هو که هر يوه ته يوه يوه پياله شيدې تر لاسه سي نو هغه بېله شکه د ځان ساتني لپاره د خوراک په اندازه کافي دي.

===========

بَابُ الْاَشْرِبَةِ

(د څښاک د شيانو بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

په درو ساه سره او به څښل

﴿۴۰۷۸﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا، متفق عليه و زاد مسلم في رواية وَيَقُولُ إِنَّهُ أَرْوَى وَأَبْرَأُ وَأَمْرَأُ.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به داوبو څښلو په منځ کي درې واره ساه کښل. بخاري او مسلم.او د مسلم په يوه روايت کي دي چي رسول الله ﷺ به دا فرمايل چي داسي او به څښل سړی ښه مړوي، صحت مند وي او ژر هضم کيږي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۹۲، رقم: ۵۶۳۱، ومسلم ۳\۱۶۰۲، رقم: ۱۲۳– ۲۰۲۸.

تشريح: درې واره به يې ساه اخيستل: يعني رسول الله ﷺ به په درو ساوو او به څښلې، حضرت انس رضي الله عنه دغه خبره د اکثر په اعتبار بيان کړې ده چي رسول الله ﷺ به زيات وختونه داسي او به څښلې او په ځينو روايتو کي د رسول الله ﷺ په اړه په دوو ساوو هم د څښلو ذکر راغلی دی، په هر حال په دوو يا درو ساوو د څښلو طريقه دا وه چي رسول الله ﷺ به هر وار لوښی د خولې څخه بېلوی.

د ژي د خولې څخه او به مه څښئ

﴿۴۰۷۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ نَهَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشُّرْبِ مِنْ فِي السِّقَاءِ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د ژي د خولې څخه او به چښل منع

فرمايلي دي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۹۰، رقم: ۵۶۲۹، لم نجده عند مسلم.

تشريح: د ژی يا داسي نورو شيانو (لکه منگی وغيره) د خولې څخه د اوبو څښلو منع په دې وجه ده چي په دغه طريقه سره اول خو د ضرورت څخه زياتي اوبه مصرف کيږي دوهم دا چي هغه اوبه پر جامو وغيره باندي په غورځېدو سره هغه خرابوي ، دريم دا چي داسي اوبه څښل په زياته اندازه په نس کي د معدې د ځای لپاره تاواني دي او څلورم دا چي د اوبو څښلو کومه سنت طريقه ده دا د هغې خلاف کيږي .

﴿۴۰۸۰﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اخْتِنَاثِ الْأَسْقِيَةِ و زاد في رواية وَاخْتِنَاثُهَا أَنْ يُقْلَبَ رَأْسُهَا ثُمَّ يُشْرَبَ مِنْهُ. متفق عليه.

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د دې څخه منع فرمايلې ده چي په ژي پورته کولو سره دي اوبه وڅښل سي او په يوه روايت کي داسي دي چي ژی پورته کول دا دي چي هغه خوله لاندي کړل سي او بيا د هغه څخه اوبه وڅښل سي (مطلب دا چي د ژي څخه اول بل لوښي ته اوبه واچوئ او بيا يې وڅښئ) . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۸۹، رقم: ۵۶۲۵، ومسلم ۳\۱۶۰۰، رقم: ۱۱۱- ۲۰۲۳.

تشريح: د دغه منع وجه هم هغه ده کوم چي مخکي ذکر سوې ده ، د ژي د خولې په تاوولو سره د اوبو څښلو په صورت کي يوه انديښنه دا هم وي چي په هغه ژي کي چنيجي يا بل شی وي يا يو زهرجن حيوان پکښې وي او هغه سمدستي خولې ته ولاړ سي او تاوان ورسوي ،

په يوه روايت کي دا راغلي دي چي رسول الله ﷺ د ژي د خولې څخه اوبه څښلي دي دغه روايت به په دوهم فصل کي راسي ، په دې سره د ژي د خولې څخه د اوبو څښلو جواز ثابتيږي ، ځينو علماوو ويلي دي له کومو روايتو څخه چي منع ثابتيږي د هغو تعلق د لوی ژي سره دي چي د هغه خوله زياته پراخه وي او کوم چي د رسول الله ﷺ د عمل تعلق دی نو هغه پر کوچني ژي باندي محمول دی چي رسول الله ﷺ به د داسي ژي د خولې څخه اوبه څښلي وي چي هغه به کوچنی وو او د هغه خوله به تنگه وه ، ځيني علماء وايي چي د منع تعلق د دوام او عادت سره

دی یعني د ژي د خولې ځخه د اوبو څښنلو عادت باید جوړ نسي ځکه چي د دې په وجه د مشک په خوله کي بدبويي پيدا کيږي او که کله نا کله د ژي د خولې ځخه اوبه وڅښنل سي نو دا به منع نه وي . یا دا هم ویل کیږي چي د اباحت تعلق د ضرورت او احتیاج په وجه دی، فرض کړه د اوبو څښنلو ضرورت وي او هلته داسي لوښی موجود نه وي چي په هغه کي اوبه راوړل سي او وڅښنل سي نو بیا په دغه صورت کي به څه پروا نه وي چي د مشک یا منګي د خولې ځخه اوبه وڅښنل سي هو بېله اړتیا او احتیاجه داسي اوبه څښنل منع دي ځکه چي په دغه طریقه سره په اوبو څښنلو کي د ذکر سوو تاوانو بېره کېدای سي .

په خاصه توګه په هغه ژي کي دننه د یو زهرجن حیوان د موجودتیا خطره نظر انداز کیدای نسي ، په یوه روایت کي راغلي دي چي یو سړي د ژي د خولې ځخه اوبه وڅښنلې نو په هغه کي دننه مار وو ، او په پای کي یوه خبره دا هم کیدای سي چي داسي اوبه څښنل مخکي مباح وو مګر وروسته د دغه منع په وجه د دغه اباحت منسوخ کړل سو .

په ولاړه اوبه مه څښئ

﴿۴۰۸۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا. رواه مسلم .

د حضرت انس رضي الله عنه ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ په ولاړه د اوبو چښنلو ځخه منع فرمایلې ده . مسلم .

تخريج: صحیح مسلم ۳\۱۶۰۰، رقم: ۱۱۳- ۲۰۲۴.

﴿۴۰۸۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَشْرَبَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ قَائِمًا فَمَنْ نَسِيَ فَلْيَسْتَقِئْ . رواه مسلم .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هیڅوک دي په ولاړه اوبه نه چښني او څوک چي یې په هیره وچښني هغه ته پکار ده چي هغه قی کړي . مسلم

تخريج: صحیح مسلم ۳\۱۶۰۱، رقم: ۱۱۶- ۲۰۲۶.

تشريح: په حدیث کي چي د قي کولو کوم حکم بیان سوی دی هغه د وجوب په توګه نه دی بلکه د استحباب په توګه دی ، د دغه حدیث د وضاحت سره سم که یو سړی په هېره په ولاړه اوبه

وڅښني نو د هغه لپاره دا مستحب دي چي هغه قی کړي.
قاضي رحمه الله ويلي دي: په ولاړه د اوبو څښنلو دغه منع په اصل کي غوره او ښه طريقه يعني په ناسته د اوبو څښنلو تلقين او د هغه پر خلاف باندي د تاديب او خبرداري په توګه دي، نه دا چي دغه منع د نهي تحريمي په توګه ده، خلاصه دا چي ددغه ارشاد څخه دا ګڼل نه دي پکار چي په ولاړه اوبه څښنل حرام دي په دې اعتبار سره دغه حديث به د هغه روايت خلاف نه وي چي په هغه کي دا نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ يو يا دوه واره ددې خلاف عمل کړی دی.

د زمزم اوبه په ولاړه څښنل

﴿۴۰۸۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِدَلْوٍ مِنْ زَمْزَمَ فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما دزمزم د اوبو يو سلواغه رسول الله ﷺ ته راوړل رسول الله ﷺ هغه په ولاړه وڅښنلې. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۴۹۲، رقم: ۱۶۳۷، ومسلم ۳\۱۶۰۲، رقم: ۱۲۰- ۲۰۲۷.

تشريح: رسول الله ﷺ په ولاړه د زمزم اوبه څښنلې: دا يا خو د تبرک په وجه وو يا دا وجه وه چي هلته ازدحام (رش) زيات وو نو کښېنستل ممکن نه وه يا دا وجه ده چي خلکو د زمزم اوبه څښنلي وې او هلته ختې جوړي سوي وي ځکه نو د ناستي امکان نه وو، يا دا چي د رسول الله ﷺ په ولاړه د زمزم اوبه څښنل محض د جواز لپاره وو.

د اوداسه او زمزم اوبه په ولاړه څښنل

﴿۴۰۸۴﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ قَعَدَ فِي حَوَائِجِ النَّاسِ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه د ماپښين لمونځ وکړ بيا د کوفې په يو پراخ ځای

فِي رَحَبَةِ الْكُوفَةِ حَتَّى حَضَرَتْ صَلَاةُ الْعَصْرِ ثُمَّ أُتِيَ بِمَاءٍ فَشَرِبَ وَغَسَلَ

کي د خلکو د معاملاتو د فيصله کولو لپاره کښېنستئ تر څو چي د مازديګر وخت سو بيا د هغه لپاره اوبه راوړل سوې چي د هغه څخه يې لومړی وڅښنلې او بيا يې

وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ وَذَكَرَ رَأْسَهُ وَرِجْلَيْهِ ثُمَّ قَامَ فَشَرِبَ فَضْلَهُ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ قَالَ

مخ پريولئ او لاسونه يې پريولل راوي وايي او د سر مسح يې وكړل او پښې يې پريولې بيا (د اوداسه څخه) چي كومي اوبه پاته سوې هغه يې په ولاړه وڅښلې، بيا يې وفرمايل:

إِنَّ نَاسًا يَكْرَهُونَ الشُّرْبَ قِيَامًا وَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُ. رواه البخاري.

خلك په ولاړه اوبه څښل بد گڼي او رسول الله ﷺ داسي كړي دي څنگه چي ما وكړل. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۸۱، رقم: ۵۶۱۶.

تشريح: او راوي دا يادونه وكړه ... الخ: ددې مقصد دا څرگندول دي چي ذكر سوى يعني اول راوي چي د لاس او مخ پرېوللو يادونه يې كړې وه نو هلته يې د سر او پښو په باره كي هم ذكر كړى وو مگر كله چي وروستني راوي حديث نقل كړ نو هغه د مخكني راوي د قول تفصيل هېر كړ او هغه ته دا په ياد نه سوه چي اول راوي دا ويلي وه چي حضرت علي رضي الله عنه د خپل سر مسح وكړه او خپل پښې يې پرېولې لكه څرنگه چي په ظاهره دا څرگندېږي يا دا چي اول راوي دا بيان كړى وو چي هغوى د خپل سر مسح هم وكړه او د پښو مسح يې هم وكړه لكه څرنگه چي ددغه پېښي په اړه د حضرت علي رضي الله عنه څخه په نقل سوي بل روايت دا ذكر سوي دي په دغه صورت كي به ويل كيږي چي پر پښو باندي د مسح څخه مراد په مختصره توگه د پښو پرېولل دي يا دا چي حضرت علي رضي الله عنه به هغه وخت موزې په پښو وې ځكه هغه پر موزو باندي مسح وكړه،

په داسي حالت كي وڅښلې چي هغه ولاړ وو: دغه جمله د تاكيد په توگه ده چي دا گمان ونسي چي د درېدو څخه وروسته بيا په ناسته هغه اوبه څښلي وې دا خبره تكراري څرگنده سوه چي هغه همدارنگه په ولاړه د اوداسه څخه پاته سوي اوبه وڅښلې.

څرگنده دي وي چي په حديثو كي په درېدو سره د اوبو څښلو منع بيان سوې ده حال دا چي د رسول الله ﷺ او اكابرو صحابه كرامو عمل ددې پر خلاف هم ثابت دى، د رسول الله ﷺ په اړه مخكي تېر سوي دي او په مواهب لدنيه كي د حضرت جبير بن مطعم رضي الله عنه څخه منقول دي چي هغه وويل: ما حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه وليدى چي هغه په ولاړه اوبه وڅښلې، همدارنگه امام مالك رحمة الله عليه بيان كړى دى چي ما ته دغه روايت را رسيدلى دى چي حضرت عمر، حضرت علي او حضرت عثمان رضي الله عنهم په ولاړه اوبه څښلي دي، نو په دغه مسئله كي چي دغه تضاد واقع سوى دى ددغه تضاد ليري كولو لپاره علماوو دا ويلي دي چي په دې باره كي كومه منع

نقل سوې ده هغه په اصل کي د نهي تنزيهي په توګه ده يا داويل کيږي چي د منع تعين په هغه صورت کي دی کله چي خلک په ولاړه د اوبو څښل عادت وګرځوي او کله ناکله يا د يو عذر په وجه په ولاړه اوبو څښلو کي څه پروا نسته.

ځکه نو رسول الله ﷺ چي په ولاړه اوبه وڅښلې نو د هغه مقصد جواز بيانول وو ، ددې څخه پرته د زمزم اوبه او د اوداسه څخه پاته سوي اوبه ولاړه څښل ددغه منع څخه مستثنى دي بلکه هغه خو په ولاړه څښل مستحب دي ، په ځينو فقهي رواياتو کي بيان سوی دی چي د زمزم اوبه او د اوداسه څخه پاته سوي اوبه دي په ولاړه څيښې مګر نوري اوبه دي په ولاړه نه څښي .

د اوبو څيښلو طريقه

﴿۴۰۸۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو انصاري کره تشريف يووړ ،

وَمَعَهُ صَاحِبٌ لَهُ فَسَلَّمَ فَرَدَّ الرَّجُلُ وَهُوَ يُحَوِّلُ الْمَاءَ فِيْ حَائِطٍ فَقَالَ النَّبِيُّ

د رسول الله ﷺ سره يو صحابي هم وو ، رسول الله ﷺ هغه انصاري ته سلام وکړ هغه د سلام جواب ورکړ ، انصاري هغه وخت باغ اوبه کوئ ، نبي کريم ﷺ هغه ته وفرمايل :

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ كَانَ عِنْدَكَ مَاءٌ بَاتَ فِي شَنَّةٍ وَإِلَّا كَرَعْنَا فَقَالَ

که ستا سره په ژي کي اوبه وي چي په دغه ژي کي يې شپه تيره کړې وي نو موږ ته يې راکړه کنه نو موږ به پر يو ويالهِ يا تالاب باندي په خوله لګولو سره اوبه وڅښو ، انصاري وويل:

عِنْدِي مَاءٌ بَاتَ فِي شن فَانْطَلَقَ إِلَى الْعَرِيشِ فَسَكَبَ فِي قَدَحٍ مَاءً ثُمَّ حَلَبَ

زما سره په ژي کي اوبه سته چي شپه يې په ژي کي تيره کړې ده ، د دې په ويلو سره هغه خپل خيمې ته ولاړی په يوه پياله کي يې اوبه راواخيستلې او په هغه کي يې د کور د ميږو څخه

عَلَيْهِ مِنْ دَاجِنٍ فَشَرِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اَعَادَ فَشَرِبَ الرَّجُلُ الَّذِي جَاءَ مَعَهُ. رواه البخاري.

شيدې ولوېشلې ، نبي کريم ﷺ هغه وڅښلې او بيا يې بله پياله راوړل هغه يې هغه صحابي ته ورکړه چي د رسول الله ﷺ سره راغلی وو . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۷۵، رقم: ۵۶۱۳.

د لغاتو حل: شنة: اى قربة عتيقة. العريش: هو السقف في البستان. داجن: اى شاة تعلف في المنزل.

تشريح: د كرعنا معنى ده چي موږ به د كرع څخه اوبه څښلې ، كرع هغه ځاى ته وايي چيري چي د باران اوبه جمع كيږي ، همدارنګه كوچنې ويالې او تالاب ته هم كرع وايي ، په دې اعتبار سره د كرع مفهوم دا سو چي موږ بېله لوښي او بېله لاس لګولو د ويالې او تالاب څخه په خوله لګولو سره اوبه څښو ، او ځيني حضرات وايي چي كرع دې ته وايي چي بېله لوښي او لاس اچولو سره اوبه وڅښي لكه څرنګه چي حيوانان د تالاب وغيره څخه د خپل پښو په اچولو سره اوبه څښي .

سيوطي رحمة الله عليه وايي: د دغه حديث څخه دا مفهوم اخيستل كيږي چي كرع يعني د خولې په لګولو سره اوبه څښل جائز دي ، حال دا چي د ابن ماجه په يوه روايت كي د كرع منع نقل سوې ده په دغه صورت كي به ويل كيږي چي د ابن ماجه د روايت تعلق د نهي تنزيهي سره دى او دلته چي كوم بيان سوى دى هغه د جواز څرګندولو لپاره وو ، مطلب دا چي په عامو حالاتو كي خو داسي د حيوان په ډول اوبه څښل مكروه دي مګر په خاصو حالاتو كي داسي اوبه څښل پروا نه لري .

د سرو او سپينو زرو په لوښي كي خوړك حرام دى

﴿۴۰۸۶﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الَّذِي يَشْرَبُ فِي آنِيَةِ الْفِضَّةِ إِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِي بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ . متفق عليه و في رواية لمسلم ان الذي ياكل و يشرب في آنية الفضة والذهب.

د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د سپينو زرو په لوښو كي د څښلو يو شي څښي د هغه دا څښل به د هغه په نس كي د دوږخ اور بل كړي . بخاري او مسلم. ، او د بخاري په يوه روايت كي د االفاظ دي څوک چي د سپينو يا سرو زرو په لوښو كي خوري يا څښي .(د هغه به دغه حال وي كوم چي ذكر سو) .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۹۶، رقم: ۵۶۳۴، ومسلم ۱۴\۱۶۳۴، رقم: ۱- ۲۰۶۵.

تشريح: د ټولو علماوو او امامانو پر دې مسئله اتفاق دى چي د خلكو او ښځو دواړو لپاره د سرو او سپينو زرو په لوښو كي خوړل او څښل حرام دي همدارنګه په هغه لوښو كي د اوبو څخه په ډكولو سره اودس كول يا په هغه كي د عطر اېښودل يا چلم څكول او داسي نورو كارو

كي استعمالول هم حرام دي كه د سرو يا سپينو زرو په لوښي كي د خوراک او څيښاک يو شی ايښودل سوی وي نو هغه دي په بل لوښي كي كښېږدي او بيا دي هغه استعمال كړي همدارنګه كه تېل يا بل څه پکښې وي نو هغه دي لومړی د چپه لاس په ورغوي راوكاږي او بيا دي يې په راسته لاس سره ولګوي.

كه چېري دا صورت اختيار كړل سو چي هغه تېل يا عطر يا بل څه د سرو يا سپينو زرو د لوښي څخه په ورغوي راوكښل سي او بيا د ورغوي څخه ولګول سي نو دا به جائز نه وي، په هدايه كي ليكلي دي چي په مفضض لوښي كي اوبه څيښل جائز دي په شرط ددې چي د خولې لګولو ځای د سپينو زرو نه وي همدارنګه د سپينو يا سرو زرو په مضبب پياله كي هم اوبه څيښل جائز دي ځكه چي پر پياله باندي ضباب كېدل يعني پر هغه باندي د سرو يا سپينو زرو پترۍ لګول د هغه پيالې د ټينګوالي لپاره وي نه د ښكلا او زينت لپاره.

﴿۴۰۸۷﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې:

تَلْبَسُوا الْحَرِيرَ وَلَا الدِّيبَاجَ وَلَا تَشْرَبُوا فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَلَا تَأْكُلُوا فِي صِحَافِهَا فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَهِيَ لَكُمْ فِي الْآخِرَةِ. متفق عليه.

حرير او ديباج (ريښمني جامې) مه اغوندئ، د سرو او سپينو زرو په لوښو كي مه څښئ او د سرو او سپينو زرو په پيالو كي خوراک مه كوئ ځكه چي دا شيان په دنيا كي د كافرانو لپاره دي او ستاسو لپاره په آخرت كي دي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۵۴، رقم: ۵۴۲۶، ومسلم ۳\۱۶۳۷، رقم: ۴- ۲۰۶۷.

تشريح: ريښمينه جامه مه اغوندئ: په دغه حكم كي د څلورو ګوتو په اندازه هغه ريښمنه جامه مستثنی ده چي د بلي جامې په غاړه ولګول سي د مثال په توګه الحاق وغيره يعني كوټ يا بل شی ته د ريښمنو جامې لګول جائز دي په شرط ددې چي هغه د څلورو ګوتو څخه زيات پلن نه وي همدارنګه هغه جامه اغوستل جائز دي چي په هغه كي رېښم وي او سوت وي او كه چيري سوت په تانې كي وي او رېښم په بانې كي وي نو د هغه اغوستل به جائز نه وي مګر د جنګ په وخت كي ددې اغوستل هم جائز دي همدارنګه كه چا ته د خارش ناروغي وي، يا شپږي زياتي سوي وي نو په دغه صورت كي هم رېښمينه جامه اغوستل ورته جائز دي.

د راسته خوا څخه شروع

﴿۴۰۸۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ حُلِبَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةٌ دَاجِنٌ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ لپاره په کور کي د ساتل سوې بزې څخه

وَشِيبَ لَبَنُهَا بِمَاءٍ مِنَ الْبِئْرِ الَّتِي فِي دَارِ أَنَسٍ فَأَعْطَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

شیدې ولویشل سوې بیا په هغه کي د څاه اوبه گډې کړل سوې چي د انس رضي الله عنه په کور کي وو، بیا هغه شیدې رسول الله ﷺ ته ورکول سوې

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَدَحَ فَشَرِبَ وَعَلَى يَسَارِهِ أَبُو بَكْرٍ وَيَمِينِهِ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ عُمَرُ

رسول الله ﷺ د هغه څخه یو څه وڅښېلې دغه وخت د رسول الله ﷺ چپه طرف ته ابوبکر صدیق رضي الله عنه وو او راسته طرف ته یې یو صحرائي وو، حضرت عمر رضي الله عنه وویل:

أَعْطِ أَبَا بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَأَعْطَى الْأَعْرَابِيَّ الَّذِي عَنْ يَمِينِهِ ثُمَّ قَالَ الْأَيْمَنَ فَالْأَيْمَنَ، وفي رواية الايمنون الايمنون الا فيمنوا. متفق عليه.

ابوبکر رضي الله عنه ته یې ورکړئ اې د خدای رسوله! ، رسول الله ﷺ هغه پیاله صحرائي ته ورکړه چي د رسول الله ﷺ راسته طرف ته ناست وو ، رسول الله ﷺ وفرمایل: اول راسته دئ او بیا چپه، او په یوه روایت کي داسي دي چي د راسته خوا خلک مستحق دي د راسته خوا خلک مستحق دي ، خبردار! د راسته خوا کسانو ته یې ورکوي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۳۰، رقم: ۲۳۵۲، ومسلم ۳\۱۶۰۳، رقم: ۱۲۵- ۲۰۲۹.

تشریح: د انس رضي الله عنه په کور کي وو: د ظاهري طرز تقاضا خو داوه چي حضرت انس رضي الله عنه دلته داسي ویلي وای چي زموږ په کور کي وو ځکه چي حضرت انس رضي الله عنه د کومي پېښې ذکر کړی دی هغه دده د کور ده او د کومي مېږي شیدې چي یې لویشلي وې هغه هم دده په کور کي وه او خپله حضرت انس رضي الله عنه ددغه پېښي بیانونکی دی مگر هغه د ظاهري طرز د تقاضا پر خلاف وکړه په دې ویلو سره چي د انس په کور کي وو ، یعني د تفنن عبارت یې اختیار کړ چي هغه ته په علم عربیت کي وضع مظهر ، موضع مضمر وایي ، دواړه الفاظ د نون په پیش سره دي چي ژباړه یې داده چي راسته مقدم دی او بیا چپه، یعني تر ټولو مخکي دي هغه سړي ته ورکړل سي چي

راسته خوا ته وي او بیا دي هغه چا ته ورکړل سي چي د مخکني سړي خوا ته وي په همدغه ترتیب دي يې تهولو ته ورکوي تر دې چي د چپه خوا ته سړي وار راسي ، په یوه روایت کي دغه دواړه الفاظ د ایمن د نون په زور سره دي په دغه صورت کي به معنی دا وي چي زه به راسته خوا ته ورکوم بیا چپه خوا والا ته مگر د نون د پیش والا روایت تائید د ذکر سوي دوهم روایت : الایمنون څخه هم کیږي ، ددغه حدیث څخه ثرگنده سوه چي د یو شي په ورکولو کي د راسته خوا لحاظ ساتل مستحب دي یعني که څه هم د راسته خوا سړی د چپه خوا د سړي په نسبت د کمي درجې وي مگر بیا هم مخکي دي هغه ته ورکول کیږي ځکه چي نبي کریم ﷺ هغه صحرائي پر حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ځکه مقدم کړ چي هغه راسته خوا وو ،

او دغه حدیث د رسول الله ﷺ پر عدل او انصاف او حق شناسۍ باندي هم دلالت کوي ، رسول الله ﷺ د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د افضل او مقرب کېدو او د حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د سفارش سربېره د صحرائي سړي حق نظر انداز نه کړ ، کوم چي د حضرت عمر رضی الله عنه د وینا تعلق دی نو هغه محض د یادوني لپاره وینا کړې وه چي کیدای سي رسول الله ﷺ ته د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه موجودتیا په یاد نه وي .

﴿۴۰۸۹﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحٍ

د حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ ته یوه پیاله د شېدو راوړل سوه ،

فَشَرِبَ مِنْهُ وَعَنْ يَمِينِهِ غُلَامٌ أَصْغَرُ الْقَوْمِ وَالْأَشْيَاخُ عَنْ يَسَارِهِ فَقَالَ يَا

رسول الله ﷺ د هغې څخه وچښل او هغه وخت د رسول الله ﷺ راسته طرف ته یو هلک وو چي تر ټولو کوچنی وو او د پوخ عمر سړي چپه طرف ته ناست وه، رسول الله ﷺ

غُلَامُ أَتَأْذَنُ لِي أَنْ أُعْطِيَهُ الْأَشْيَاخَ فَقَالَ مَا كُنْتُ لِأُوثِرَ بِفَضْلِي مِنْكَ أَحَدًا

د هغه هلک (یعني ابن عباس رضی الله عنه) څخه پوښتنه وکړه چي ایا ته اجازه کوې چي زه دا پیاله مشرانو خلکو ته ورکړم؟ (په مشرانو کي خالد بن ولید هم وو) هلک وویل: اې د الله رسوله ! ستاسو د پاته شونو د چښلو څخه زه تر خپل ځان ماسوا بل څوک نه غوره کوم،

يَا رَسُولَ اللَّهِ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ. متفق علیه و حدیث ابي قتادة سنذکر في باب

المعجزات ان شاء الله تعالى .

نو رسول الله ﷺ هغه پياله هغه کوچني ته ورکړل . بخاري او مسلم . او د ابو قتاده رضي الله عنه حديث به مورږ په باب المعجزات کي ډير ژر بيان کړو . ان شاء الله تعالى .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۲۹-۳۰، رقم: ۲۳۵۱ . ومسلم ۳\ ۱۶۰۴، رقم: ۱۲۷- ۲۰۳۰ .

تشريح: ددغه حديث څخه دا هم څرګنديږي که چيري په مجلس کي تر يوه زيات کسان وي او هغوی ته يو شی ورکول کيږي نو د راسته خوا سړی ددې زيات حقدار دی چي د ورکولو پېل د هغه څخه وکړل سي ، مګر که چيري د يو مصلحت تقاضا دا وي چي مخکي دي هغه سړي ته ورکړل سي کوم چي چپه خوا ته وي نو د راسته خوا سړي څخه دي اجازه واخيستل سي ، که هغه اجازه ورکړي نو بيا چپه خوا سړي ته دي ورکړل سي، پاته سوه دا خبره چي دلته خو رسول الله ﷺ د ابن عباس رضي الله عنه څخه اجازه وغوښتل مګر په ذکر سوي حديث کي چي کومه پېښه ذکر سوې ده هلته رسول الله ﷺ د صحرائي څخه اجازه نوه اخيستې نو ددې وجه داوه چي دلته د رسول الله ﷺ چپه خوا ته چي کوم مشران خلک ناست وه د هغوی تعلق د قريشو سره وو او ابن عباس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ قريب وو نو رسول الله ﷺ فکر وکړ که د ابن عباس رضي الله عنه څخه د اجازې په اخيستلو سره هغه خلکو ته ورکړل سي نو ابن عباس رضي الله عنه به ناراضه نسي او د هغه مشرانو خلکو تاليف قلوب به هم وسي ، حال دا چي دلته د رسول الله ﷺ چپه خوا ته حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وو چي د هغه د رسول الله ﷺ سره تعلق، مينه او اخلاص پوخ وو د هغه د تاليف قلوب سوال نه پيدا کيدی ، بلي خوا ته د هغه صحرائي په اړه هم دا خيال وو که د هغه څخه د اجازې په اخيستلو سره ابوبکر صديق رضي الله عنه ته ورکړل سي نو کيدای سي دا خبره هغه خپل حق تلفي وګڼي او د وحشت ښکار سي ځکه چي هغه په اسلام کي نوی داخل سوی وو يعني رسول الله ﷺ د هغه د تاليف قلب په دې کي وليدی چي د هغه څخه اجازه نه واخيستل سي .

د فقهاوو پر دې خبره اتفاق دی چي په طاعات (يعني ديني امورو او عباداتو) کي ايثار جائز نه دی ، دا خو د فقهاوو قول دی مګر ددغه مسئلې زيات وضاحت دادی که ايثار په واجباتو کي وي نو حرام دی او که په فضائلو او مستحباتو کي وي نو مکروه دی ، د مثال په توګه د يو سړي سره يوازي دومره اوبه دي چي په هغه سره خپله اودس کولای سي مګر هغه اوبه دوهم سړي ته ورکړي او خپله په تيمم کولو سره لمونځ وکړي ، يا د هغه سره دومره جامه وي چي د هغه ستر په پټيږي مګر هغه جامه بل سړي ته ورکړي او خپل لوڅ بدن لمونځ وکړي نو داسي

ایثار جائز نه دی بلکه حرام دی ، دا خو په واجباتو کي د ایثار صورت وو، په فضائلو او مستحباتو کي د ایثار صورت دا دی د مثال په توګه یو سړی په جماعت سره د لمانځه کولو لپاره په لومړي صف کي امام ته نژدې ناست وو مګر هغه ځای یې بل چا ته ورکړ او خپله دوهم صف ته ولاړی او هلته یې لمونځ وکړ نو داسي ایثار ښه نه دی بلکه مکروه دی ، د طاعاتو برعکس په دنیوي چارو کي ایثار یو ستایل سوی او مستحسن عمل دی ، کوم چي ددې خبرې تعلق دی چي د ځینو صوفیانو په اړه دا نقل سوي دي چي هغوی په ځینو وختونو کي په طاعاتو کي د ایثار صورتونه اختیار کړي دي نو هغوی به داسي د غلبه حال په سبب کړي وي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په ولاړه خوراک او څښاک

﴿۴۰۹۰﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا نَأْكُلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَمْشِي وَنَشْرَبُ وَنَحْنُ قِيَامٌ . رواه الترمذي و ابن ماجة والدارمي و قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح غريب .

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي به موږ تللو او په ولاړه به مو خوراک او چښناک کوئ، ترمذي، ابن ماجه او دارمي، او ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح غریب دئ .

تخریج: سنن الترمذي ۴\۲۶۵، رقم: ۱۸۸۰، وابن ماجه ۲\۹۸، رقم: ۳۳۰۱، والدارمي ۲\۱۶۲، رقم: ۲۱۲۵.

تشریح: علماوو ویلي دي چي په تګ کولو سره خوراک کول او په ولاړه څښل جائز خو دي مګر غوره او ښه خبره داده چي په تګ سره خوراک ونه کړل سي ځکه چي دا د ادب خلاف خبره ده او همدارنګه په ولاړه څښل هم لکه څرنګه چي مخکي تېر سوي دي .

﴿۴۰۹۱﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا ؟ رواه الترمذي .

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د پلار څخه روایت کوي چي ما رسول الله ﷺ په ولاړه او په ناسته په چښلو لیدلی دئ . ترمذي .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۶۶، رقم: ۱۸۸۳.

تشريح: مطلب دادی چي په ولاړه مو يو يا دوه واره ليدلی دی او هغه هم د بيان جواز لپاره وو، يا د يو ضرورت او عذر په وجه وو، د دغه يو يا دوه واره څخه پرته په نورو ټولو وختو کي مو په ناسته څښنلو باندي ليدلی دی.

د څښنلو په وخت کي د اوبو په لوښي کي ساه مه کاږئ

﴿۴۰۹۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُتَنَفَّسَ فِي الْإِنَاءِ أَوْ يُنْفَخَ فِيهِ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ د اوبو په لوښي کي د چښنلو په وخت کي د ساه کښلو څخه او پوه کولو څخه منع فرمايلي ده. ابوداؤد او ابن ماجه.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۱۴، رقم: ۳۷۲۸، وابن ماجه ۲\۱۱۳۳، رقم: ۳۴۲۸.

تشريح: د څښنلو په وخت کي په لوښي کي ساه کښل يا پوه کول ځکه منع دي چي په اوبو کي ناړي يا بل څه لويږي ځکه نو نورو خلکو ته کراهت محسوس کيږي، اکثره وخت د خولې څخه بدبويي پيدا کيږي چي د څښنلو لوښي ته بدبويي ورځي، د دې څخه پرته په اوبو کي ساه کښل په اصل کي د حيوانانو طريقه ده، ځيني حضرات وايي که چيري د يو شي د يخوالي لپاره د پوکلو ضرورت وي نو په دغه صورت کي دي پوه کول نه کوي بلکه تر هغه وخته دي انتظار کوي تر څو چي هغه يخ سي، او که چيري په اوبو کي خاشه يا بل شی ولويږي نو هغه دي په بل کوچني لرګي يا بل شي راوباسي په ګوتو يا پوه کولو سره دي هغه نه راباسي ځکه چي د دې څخه هم طبيعت نفرت او کراهت محسوسوي.

په يوه ساه اوبه مه چښئ

﴿۴۰۹۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَشْرَبُوا وَاحِدًا كَشُرْبِ الْبَعِيرِ وَلَكِنِ اشْرَبُوا مَثْنَى وَثُلَاثَ وَسَمُّوا إِذَا أَنْتُمْ شَرِبْتُمْ وَاحْمَدُوا إِذَا أَنْتُمْ رَفَعْتُمْ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو په يو دم (يعني يوه

ساه) د اوبښ په ډول اوبه مه څښئ بلکه په دوه يا درې واره ساه اخيستلو سره يې څښئ، او هر کله چې تاسو څښل شروع کړئ نو بسم الله وايا ست کله چې په دويم وار د لوښي سره خوله لګوئ نو الحمد لله وايا ست . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۶۷، رقم: ۱۸۸۵.

تشريح: ادنا درجه داده چې اوبه په دوو ساوو وڅښل سي چې د اوبښ مشابهت لازم نسي مګر په دې کي څه شک نسته چې په درو ساوو څښل غوره دي لکه څرنګه چې مخکي بيان سوی دی او په زياتو وختونو کي د رسول الله ﷺ هم دا معمول وو .

نو حمد وايا ست: په دې اړه په احياء العلوم کي ليکلي دي چې د لومړۍ ساه څخه وروسته دي الحمد لله ووايي ، ددوهمي ساه وروسته دي رب العالمين ووايي او د دريمي ساه وروسته دي الرحمن الرحيم ووايي او د اوبو څښلو څخه وروسته دغه دعاء ويل هم نقل سوې ده : (الحمد لله الذي جعله عذبا فراتا برحمته ولم يجعله ملحا اجاجا بذنوبنا) .

که په اوبو کي خاشه وي هم په اوبو کي مه پو که

﴿۴۰۹۴﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې نبي کريم ﷺ د اوبو چښلو پر وخت په هغه

النَّفْخِ فِي الشَّرَابِ فَقَالَ رَجُلٌ الْقَذَاةُ أَرَاهَا فِي الْإِنَاءِ قَالَ أَهْرِقْهَا قَالَ فَإِنِّي لَا

کي د پوه کولو څخه منع فرمايلې ده ، يو سړي وويل : ځيني وخت په اوبو کي يو شی وي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: لږ اوبه توی کړه ، بيا هغه پو ښتنه وکړه زه

أَرْوَى مِنْ نَفَسٍ وَاحِدٍ قَالَ فَأَبِنِ الْقَدَحَ عَنْ فِيكَ ثُمَّ تَنَفَّسْ . رواه الترمذي و الدارمي.

په يوه ساه څښلو سره نه اوبه کيږم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل پياله د خولې څخه ليري کړه او بيا ساه واخله . ترمذي او دارمي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۶۸، رقم: ۱۸۸۷، والدارمي ۲\۱۶۱، رقم: ۲۱۲۱.

د لغاتو حل: القذاة: ما يسقط في الشراب والعين. اَبِن: اى ابعد القدح.

د لوښي د ماتي خوا څخه اوبه نه څښل

﴿۴۰۹۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشُّرْبِ مِنْ ثُلْمَةِ الْقَدَحِ وَأَنْ يُنْفَخَ فِي الشَّرَابِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د پيالې د ماتي خوا څخه اوبه څښل منع کړه او په اوبو کي د پوه کولو څخه يې هم منع کړې ده. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۱۱، رقم: ۳۷۲۲.

د لغاتو حل: ثلمة: موضع السکر من القدح (د لوښي مات ځای)

تشريح: د سوري څخه مراد د لوښي مات سوی ځای دی، مطلب دا که چيري د څښلو لوښی مات وي نو د هغه ځای څخه اوبه مه څښئ ځکه چي هلته د شونډو نښول په ښه ډول نه وي او نتيجه دا وي چي د هغه ځای څخه د اوبو څښلو په صورت کي پر بدن او جامو باندي اوبه توئيږي، دوهم دا چي د لوښي پرېولو په وخت کي د هغه مات ځای په ښه ډول نه پاکيږي او هلته خاوره يا نور شيان پاته کيږي، په دغه صورت کي د پاکۍ تقاضا هم داده چي د هغه ځای څخه اوبه ونه څښل سي.

د حديث د مفهوم او ذکر سوي وضاحت څخه دا معلومه سوه چي د سوري څخه مات سوی لوښی مراد نه دی بلکه د هغه مات سوی ځای مراد دی يعني د دغه منع دا مطلب نه دی چي په مات سوي لوښي کي دي اوبه نه څيښي بلکه مراد دادی چي د لوښي پر مات سوي ځای باندي دي خوله نه ايږدي.

﴿۴۰۹۶﴾: وَعَنْ كَبْشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَرِبَ مِنْ فِي قِرْبَةٍ مُعَلَّقَةٍ قَائِمًا فَقُمْتُ إِلَى فِيهَا فَقَطَعْتُهُ. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب صحيح.

د حضرت کبشه رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زما په لور تشريف راوړ او د ژي د خولې سره ودريدئ په ولاړه يې اوبه وڅښلې، ما د ژي د خولې څخه هغه ټوټه پريکړه پر کوم ځای چي رسول الله ﷺ خوله مبارکه لګولې وه. (يعني د برکت تر لاسه کولو لپاره). ترمذي، ابن

ماجه، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب صحيح دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۷۰، رقم: ۱۸۹۲، وابن ماجه ۲\ ۱۱۳۲، رقم: ۳۴۲۳.

تشريح: مطلب دادی چي د ژي د خولې څومره برخه د رسول الله ﷺ د خولې سره لګېدلې وي ما د هغه ځای پوست پرېکړ او د ځان سره مي كښېښود ، او ما دغه د بركت ترلاسه كولو لپاره وكړل ، يا ددې لپاره مي وكړه چي پر هغه ځای باندي د بل چا خوله ونه لګيږي لكه څرنګه چي د بي بي ام سلمه ﷺ په روايت كي بيان سوی دی چي هلته په وضاحت سره ويل سوي دي چي ما د ژي خوله پرېكړل چي د رسول الله ﷺ د څښنلو څخه وروسته بل څوک پر هغه ځای خوله ونه لګوي.

د نبي كريم ﷺ خوږي او يخي اوبه خوښي وې

﴿۴۰۹۷﴾: وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ أَحَبُّ الشَّرَابِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحُلْوَ الْبَارِدَ . رواه الترمذي وقال والصحيح ما روى عن الزهري عن النبي صلى الله عليه وسلم مرسلا .

حضرت زهري د عروة څخه او هغه د حضرت عائشې (رض) څخه روايت كوي چي د څښنلو په شيانو كي به رسول الله ﷺ خوږي او يخي اوبه ډيري خوښولې . ترمذي، ترمذي ويلي صحيح هغه دي كوم چي زهري د نبي كريم ﷺ څخه مرسلا روايت كړی دئ .

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۷۲، رقم: ۱۸۹۵.

تشريح: د خواږه شي څخه عموم مراد دی او د رسول الله ﷺ هر خوږ څښناک ډېر خوښ وو ، كه څه هم هغه خوږې اوبه وې يا خوږې شيدې يا عسل وغيره، په دغه وضاحت سره په دغه حديث او هغه دوو حديثو كي مطابقت پيدا كيږي چي په هغو كي دا بيان سوی دی چي د رسول الله ﷺ د څښنلو په شيانو كي شيدې تر ټولو زياتي خوښي وې او په دوهم روايت كي دا بيان سوی دی چي د رسول الله ﷺ د څښنلو په شيانو كي عسل زيات خوښ وه .

هغه روايت صحيح ...الخ: ددې مطلب دادی چي زهري رحمه الله دغه روايت په دوو طريقو سره نقل كړی دی يو خو مسند يعني په سند سره لكه څرنګه چي مخكي نقل سوی دی چي : عن الزهري عن عروة عن عائشة ...الخ، او دوهم مرسل يعني بېله سند ذكر سوی دی ، داسي چي په هغه كي د بي بي عائشې ﷺ ذكر نسته بلكه د عبارت ظاهري مفهوم څخه دا معلوميږي چي د عروه ذكر يې هم نه دی كړی ځكه چي زهري رحمه الله خپله هم تابعي دی كه څه هم هغه كوچنی

تابعي دی ، ترمذي رحمۃ اللہ علیہ وايي : د زهري روايت چي د ارسال په طريقه موږ ته رسيدلی دی د هغه په سند کي چي د کومو راويانو ذکر دی هغوی د حديث په اصطلاح کي قوي دي پر خلاف د دغه روايت د سند چي متصل دی ، د دې ځيني راويان ضعيف دي .

په څښلو کي شيدې ښه شی دی

﴿۴۰۹۸﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي

أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلْيَقُلِ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ وَإِذَا سُقِيَ

يو څوک خوراک وخوري نو دا کلمات دي وايي (اللهم بارک ......) اې الله ! زموږ لپاره په دې خوراک کي برکت واچوي او د دې څخه غوره طعام راباندي وخورې او هر کله چي شيدې

لَبَنًا فَلْيَقُلِ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ فَإِنَّهُ لَيْسَ شَيْءٌ يُجْزِئُ مِنَ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ إِلَّا اللَّبَنُ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

څښي نو دا دعاء دي کوي (اللهم بارک ...منه) اې الله په دغه شيدو کي زموږ لپاره برکت واچوې او تر دې زياتي راکړې، او د دې څخه غوره دي نه وايي ځکه چي کوم شی د خوراک او څښاک دواړه لپاره کافي سي تر هغه بل غوره شی څه شي کيدلای سي . ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۴۷۲، رقم: ۳۴۵۵، وابوداود ۴\۱۱۶، رقم: ۳۷۳۰.

د رسول الله ﷺ لپاره خوږې اوبه راوړل

﴿۴۰۹۹﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ رضی اللہ عنہا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْتَعْذَبُ لَهُ الْمَاءُ مِنَ السُّقْيَا قِيلَ هِيَ عَيْنٌ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْمَدِينَةِ يَوْمَانِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي دنبي کريم ﷺ لپاره به د سقيا څخه خوږې اوبه راوړل سوې، سقيا د مديني منورې څخه د دوو ورځو په فاصله يوه چينه ده . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۱۹، رقم: ۳۷۳۵.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د سرو او سپينو زرو لوښي منع دي

﴿۴۱۰۰﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ شَرِبَ فِيْ إِنَاءِ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ أَوْ إِنَاءٍ فِيْهِ شَيْءٌ مِّنْ ذٰلِكَ فَإِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِيْ بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ. رواه الدار قطني.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د سرو او سپينو زرو په لوښو کي يا په هغه لوښي کي چي سره يا سپين زر پکښې وي يو شی وڅښي نو د هغه دا څښل د هغه په نس کي د دوږخ اور تيزوي. دار قطني

تخريج: سنن الدار قطني ۱۱ /۴۰، رقم: ۱.

تشريح: په هغه کي د سپينو يا سرو زرو يو برخه وي: ددې مطلب دادی چي په هغه کي د سرو يا سپينو زرو مېخونه يا بل څه لګيدلي وي، طيبي رحمة الله عليه په نووي رحمة الله عليه څخه دا نقل کړي دي که هغه مېخونه يا بل څه کوچني کوچني وي او په دومره اندازه او شمېر استعمال سوي وي چي د ضرورت او حاجت په اندازه وي نو هغه د حرام او مکروه په حکم کي داخل نه دی مګر که زيات وي او لوی لوی وي نو بيا به هغه د حرام په حکم کي وي، مګر څرنګه چي مخکي بيان سوی دی چي په دې اړه د حنفيه مذهب دادی چي په کوم لوښي کي د سپينو يا سرو زرو مېخونه لګيدلي وي په هغو کي او به يا بل شی څښل جائز دی په شرط ددې چي کوم ځای خوله لګول کيږي هلته سپين يا سره زر نه وي.

==========

بَابُ النَّقِيْعِ وَالْاَنْبِذَةِ

(دخوړو اوبو او د خرماوو د اوبو بيان)

رسول الله ﷺ چي به کوم شيان څښنل په هغو کي نقيع او نبيذ هم دي، او دغه دواړه شيان د شربتو له ډولو څخه دي، د نقيع جوړولو صورت دادی چي انگور يا خرماوي په اوبو کي خشته کړل سي او هغه ته جوش نه ورکول کيږي همدا رنگه د انگورو يا خرماوو خوږوالی هغه ته راځي او يو ډول ښه شربت جوړيږي، دغه شربت ډېر خوندور وي او بدن ته هم گټه رسوي ، د خرما نقيع د معدې نظام سموي او خوراک ژر هضم کوي او د انگورو نقيع د بدن د زيات حرارت رفع کولو خاصيت لري .

نبيذ هم داسي جوړيږي، فرق دادی چي د نبيذ په صورت کي انگور يا خرماوي په اوبو کي په خشتولو سره تر يو څه وخت پوري ايږدي چي په هغو کي لږ تيزي او تغير پيداسي مگر دومره زياته تيزي او تغير نه چي د نشه کېدونکي شيانو حد ته ورسيږي ځکه چي په کوم نبيذ کي نشه پيدا سي د هغه څښنل قطعا حرام دي ، نبي کريم ﷺ به هغه نبيذ هيڅکله نه څښنل چي پر هغو به تر درو ورځو زيات وخت تېر سوی وو لکه چي مخکي به راسي، د نقيع په ډول نبيذ هم يو گټور څښناک دی د بدن په طاقت او قوت کي زياتوب کوي او دعامي روغتيا ساتنه کوي .

څرگنده دي وي چي نبيذ د انگورو او خرما څخه پرته د نورو شيانو څخه هم جوړيږي، په نهايه کي ليکلي دي چي نبيذ د خرماوو څخه هم جوړيږي، د انگورو څخه هم جوړيږي او د عسلو، غنمو ، اوربشو او داسي نورو شيانو څخه هم جوړيږي، د مشکوة مصنف په ذکر سوي عنوان کي د انبذه يعني د جمع صيغه ځکه استعمال کړې ده چي د هغو ډېرو ډولو او انواعو ته اشاره وکړل سي .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

د حضرت انس ﷺ پياله

﴿۴۱۰۱﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ لَقَدْ سَقَيْتُ رَسُولَ اللهِ بِقَدَحِي هَذَا الشَّرَابَ كُلَّهُ الْعَسَلَ وَالنَّبِيذَ وَالْمَاءَ وَاللَّبَنَ . رواه مسلم .

د حضرت انس ﷛ څخه روایت دئ چي ما په خپل دغه پیاله کي په رسول الله ﷺ باندي د څښنلو ټول شیان څښنلي دي یعني شات، نبیذ، اوبه او شیدې. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۵۹۰، رقم: ۸۹- ۲۰۰۸.

تشریح رسول الله ﷺ چي په کومه پیاله کي د څښنلو شیان څښنل هغه د حضرت انس ﷛ سره وه، نقل سوي دي چي نصر بن انس ﷛ دغه پیاله د حضرت انس ﷛ څخه په اته لکه درهمه رانیول، امام بخاري ﷫ دغه پیاله په بصره کي لیدلې وه او د هغه د خوشبختۍ به یې څه ویل چي هغه ته په دغه پیاله کي د اوبو څښنلو سعادت هم تر لاسه سو.

د نبیذ جوړولو ذکر

﴿۴۱۰۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنَّا نَنْبِذُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سِقَاءٍ يُوكَى أَعْلَاهُ وَلَهُ عَزْلَاءُ نَنْبِذُهُ غُدْوَةً فَيَشْرَبُهُ عِشَاءً وَنَنْبِذُهُ عِشَاءً فَيَشْرَبُهُ غُدْوَةً. رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دي چي موږ به د رسول الله ﷺ لپاره نبیذ (د خرما اوبه نښتېږل) جوړول، زموږ سره یو ژی وو چي د هغه به لوړ طرف بندیدئ او کښته طرف ته یې خوله وه موږ به هغه ژی د سهار په وخت کي د اوبو او خرماوو څخه ډکوي او رسول الله ﷺ به د شپې هغه اوبه څښنلې او د شپې به مو د خرماوو او اوبو څخه ډکوئ او رسول الله ﷺ به د ورځي هغه اوبه څښنلې. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۵۹۰، رقم: ۸۵- ۲۰۰۵.

د لغاتو حل: العزلاء: فم المزادة وهو ما یخرج منه الماء. (د ژي خوله)

تشریح: عزلاء په اصل کي د لوښي خولې ته ویل کیږي او دلته د ژي خوله مراد ده چي د هغه لاندي وي، خلاصه دا چي د هغه ژي سرېېره خوله وه مګر د هغه په لاندي برخه کي هم یوه خوله وه د هغه پورته خوله به وتړل سوه او د هغه د لاندي خولې څخه به اوبه را اخیستل کېدې، د نبیذو جوړولو دغه طریقه زیات وختونه په ګرم موسم کي اختیارېږي چي په هغه کي د تغیر د ژر پیدا کېدو احتمال وي، په کومو حدیثو کي چي د نبیذ جوړولو لپاره د خرماوو یوه ورځ او یوې شپې څخه زیات پورې تر دې چي تر درو ورځو او شپو پوري د خښتولو ذکر دی ددې تعلق کیدای سي د یخ د موسم سره وي.

﴿۴۱۰۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْتَبَذُ
د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ لپاره به د شپې په اول کي نبیذ
لَهُ أَوَّلَ اللَّيْلِ فَيَشْرَبُهُ إِذَا أَصْبَحَ يَوْمَهُ ذٰلِكَ وَاللَّيْلَةَ الَّتِي تَجِيءُ وَالْغَدَ وَاللَّيْلَةَ
تیارېدل او رسول الله ﷺ به هغه د هغه شپې د سهار څخه تر مابنام پوري چښئل بیا به یې تول
الْأُخْرَى وَالْغَدَ إِلَى الْعَصْرِ فَإِنْ بَقِيَ شَيْءٌ سَقَاهُ الْخَادِمَ أَوْ أَمَرَ بِهِ فَصُبَّ.
رواه مسلم.

شپه چښئل، بیا په دویمه ورځ به یې د سهار څخه تر مابنام پوري څښئل، بیا به یې تول شپه څښئل او په دریمه ورځ به یې د مازدیګر پوري څښئل بیا که څه به پاته سول نو په خادم باندي به یې څښئل یا به یې تویول. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۵۸۹، رقم: ۷۹- ۲۰۰۴.

تشریح: په (سقاه الخادم او امر به) کي د او حرف د شک د اظهار لپاره نه دی بلکه د تنویع لپاره دی، مطلب دا چي په دریمه ورځ تر مازدیګر پوري د څښئلو څخه وروسته چي کوم نبیذ پاته سول هغه به وبنس پاته سوي وه ځکه رسول الله ﷺ به هغه نه څښئل بلکه خادم ته به یې د څښئلو لپاره ورکول، او که چیري په هغه کي به د نشې اثر راغلی نو بیا به یې خادم ته هم د څښئلو لپاره نه ورکول بلکه تویول به یې.

مظهر رحمة الله عليه وایي دد غه حدیث څخه ثرګنده سوه چي د بادار او مالک لپاره دا جائز ده چي هغه سربېرن خوراک وخوري او لاندیني خوراک غلام او خادم ته ورکړي.

﴿۴۱۰۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ يُنْبَذُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سِقَاءٍ فَإِذَا لَمْ يَجِدُوْا سِقَاءً يُنْبَذُ لَهُ فِيْ تَوْرٍ مِنْ حِجَارَةٍ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ لپاره به په ژي کي نبیذ جوړېدل او که ژی به نه وو نو بیا د ډبري په لوښي کي به جوړېدل. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۳\۱۵۸۴، رقم: ۶۰- ۱۹۹۷.

د لغاتو حل: التور: اناء صغیر یشرب فیه. (د څښاک کوچني لوښی)

د نبیذ منع لوښي

﴿۴۱۰۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيرِ وَاَمَرَ اَنْ يُّنْبَذَ فِيْ اَسْقِيَةِ الْاَدَمِ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د کدو په لوښي کي، په شنه منګي کي، د لاکو په لوښو کي او دلرګي په لوښي کي د نبیذ جوړولو څخه منع فرمایلې ده او دا حکم یې کړی دئ چي د پوست (څرمن) په لوښي کي دي نبیذ جوړ کړل سي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۵۸۳، رقم: ۴۶- ۱۹۹۷.

د لغاتو حل: الدباء: تقدم شرحها في الحديث. الحنتم: الجرة الخضراء (زرغونه کوزه). المزفت: الاناء المطلي بالزفت. النقير: المنقور من الخشب.

تشریح: رسول الله ﷺ د اسلام په پېل کي په دغه لوښو کي د نبیذ جوړولو څخه منع فرمایلې وه او ددغه منع بنیاد دا ډېره وه چي په دغه لوښو کي جوړ سوي نبیذ کي نشه پیدا نسي، مګر کله چي د نشې د حرمت پر نازلېدو باندي ډېر وخت تېر سو او د خلکو په ذهن کي دغه حرمت په ښه ډول مشهور او پوخ سو نو بیا په هر ډول لوښي کي نبیذ جوړول مباح سول لکه څرنګه چي مخته د راتلونکي حدیث څخه به څرګند سي او ددغه مسئلې تحقیق په کتاب الایمان کي هم تېر سوی دی.

ټول د نشې شیان حرام دي

﴿۴۱۰۶﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَهَيْتُكُمْ عَنْ

د حضرت بریدة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ما تاسو د یو څو ډوله لوښو د

الظُّرُوفِ فَإِنَّ ظَرْفًا لَا يُحِلُّ شَيْئًا وَلَا يُحَرِّمُهُ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، وفي رواية

استعمال څخه منع کړي واست مګر لوښي نه یو شی حلالوي او نه یې حراموي. (حقیقت دادئ) چي هر نشه راوستونکی شی حرام دئ، او په یوه روایت کي دي چي ما تاسو د یو څو لوښو کي

قَالَ نَهَيْتُكُمْ عَنِ الْأَشْرِبَةِ فِي ظُرُوفِ الْأَدَمِ فَاشْرَبُوا فِي كُلِّ وِعَاءٍ غَيْرَ أَنْ لَا تَشْرَبُوا مُسْكِرًا. رواه مسلم.

د څښلو څخه منع کړي واست مګر د پوست په لوښي کي د څښلو اجازه مي درکړې وه (اوس

هغه حکم منسوخ دئ) تاسو په هر لوښي کي څښل کوئ مګر هيڅ يو نشي والا شی مه څښئ.
مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۳\۱۵۸۰، رقم: ۶۵- ۹۷۷.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د شرابو نوم بدلول

﴿۴۱۰۷﴾: عَنْ أَبِيْ مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا. رواه ابوداؤد و ابن ماجة.

د حضرت ابو مالک اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي زما په امت کي به ځيني خلک شراب څښي او په نوم بدلولو سره به د هغه يو بل نوم ايږدي.
ابوداؤد او ابن ماجه.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۹۱- ۹۲، رقم: ۳۶۸۸، وابن ماجه ۲\۱۳۳۳، رقم: ۴۰۲۰.

تشريح: مطلب دادی چي د کومو خلکو په ذهن کي کوږوالی او فساد وي هغوی به د شرابو څښلو په اړه ډول ډول بهانې کولې په خاصه توګه د نامه بهانې، د مثال په توګه نبيذ يا مباح شربت لکه څرنګه چي ماء العسل يا بل نشه کېدونکی شی چي څښي او دا ګمان کوي چي دا حرام نه دي ځکه چي هغه د انګورو يا خرماوو په ذريعه جوړ سوي نه دي حال دا چي د هغوی دا ګمان کول د هغوی په حق کي د هغه مشروباتو مباح او حلال کېدو لپاره کار کونکی نه وي بلکه په حقيقت کي هغوی په شراب څښونکو کي شمېرل کيږي او د هغه سزا به ورکول کيږي، ځکه چي اصل حکم دادی چي هر نشه کونکی څښناک حرام دی که څه هم هغه د هر شي څخه جوړ سوي وي،

يو صورت دا هم وو چي هغوی به شراب څښل مګر د خپل لوري به يې د هغه بل نوم ايښودی او هغه ته به يې شراب نه ويل چي خلک د شرابو الزام پر عائد نه کړي مګر په حقيقت کي د نوم بدلون د هغوی په حق کي هيڅ ګټور نه دی ځکه چي په اصل کي اعتبار خو د مسمی دی نه د اسم.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

په شنه منګي کي نبیذ

﴿۴۱۰۸﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى قَالَ نَهَى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نبيذ الْجَرِّ الْأَخْضَرِ قُلْتُ أَنَشْرَبُ فِي الْأَبْيَضِ قَالَ لَا . رواه البخاري.

د حضرت عبدالله بن ابي اوفی رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د شین منګي د نبیذ څښنلو څخه منع وفرمایل ، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! ایا موږ د سپین منګی نبیذ څښنو ، رسول الله ﷺ وفرمایل : یا ، (دا حکم په حدیث نمبر ۴۱۰۶ سره منسوخ دئ.) بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۸۵، رقم: ۵۵۹۶.

تشریح: د شنه منګي څخه مراد حنتم یعني شین غوړ منګی دی، عبدالله ابن ابي اوفی رضي الله عنه د شنه منګي په قید سره دا وکښل چي منګی شین نه وي نو دهغه نبیذ څښنل به مباح وي ځکه هغه پوښتنه وکړه چي ایا موږ د سپینو منګیانو نبیذ څښنلای سو ، مګر رسول الله ﷺ د سپین منګي د نبیذ څښنلو څخه هم په منع کولو سره دې ته اشاره وکړه چي د شنه قید محض اتفاقي دی او ددې یو سبب دادی چي په هغه زمانه کي په کومو منګیانو کي نبیذ جوړېدل هغه به په عامه توګه شنه وه ځکه د شنه ذکر وکړل سو کنه د شنه او سپین حکم یو دی چي هغه غوړ وي که څه هم هغه شین وي یا بل رنګ وي ، په هغه کي جوړ سوي نبیذو څښنلو څخه باید ځان وساتل سي مګر څرګنده دي وي چي ددغه حدیث حکم هم منسوخ دی لکه چي مخکي یادونه وسوه .

===========

بَابُ تَغْطِيَةِ الْأَوَانِيْ وَغَيْرِهَا

(د لوښو او وغیره پټولو بیان)

په دغه باب کي به هغه حدیثونه ذکر سي چي د شپې بېده کېدو په وخت کي د لوښو پټولو، دروازو بندولو او څراغانو مړه کولو په اړه نقل سوي دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د شپې راتګ

﴿۴۱۰۹﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي شپه شروع سي او

أَوْ أَمْسَيْتُمْ فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ فَإِنَّ الشَّيَاطِينَ يَنتَشِرُ حِينَئِذٍ فَإِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ

مانبام سي نو تاسو خپل کوچنيان د باندي تلو ته مه پرېږدئ ځکه چي د غه وخت شيطانان د ځلورو خواوو څخه خپاره سي بيا چي د شپې يو ګړی تير سي

مِنَ اللَّيْلِ فَحُلُّوهُمْ فَأَغْلِقُوا الْأَبْوَابَ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ

نو په بسم الله ويلو سره د کور دروازې بندي کړئ او کوچنيان په کور کي د لوبو لپاره پرېږدئ ځکه چي شيطانان نه خلاصوي

بَابًا مُغْلَقًا وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ

بندي دروازې او د ژي دواړي غاړي په بسم الله ويلو سره بندي کړئ او په بسم الله ويلو سره خپل لوښي پټ کړئ

وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهَا شَيْئًا وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ. متفق عليه وفي رواية

که څه هم په پلنوالي کي يو داسي شی پر کښېږدئ چي څه اندازه لوښي پټ کړي او څراغ مړ کړئ. بخاري او مسلم،

للبخاري قَالَ خَمِّرُوا الْآنِيَةَ وَ أَوْكُوا الْأَسْقِيَةَ وَ أَجِيفُوا الْأَبْوَابَ وَاكْفِتُوا

او د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: لوښي پټ کړئ د ژيانو خولې بندي کړئ، دروازې بندي کړئ

صِبْيَانَكُمْ عِنْدَ الْمَسَاءِ فَإِنَّ لِلْجِنِّ انْتِشَارًا وَخَطْفَةً وَأَطْفِئُوا الْمَصَابِيحَ عِنْدَ

او د مانبام په وخت کي خپل کوچنيان د ځان سره کښېنوئ ځکه چي په د غه وخت کي پيريانان خپاره سي او تښتول (حمله) کوي، د بيده کېدو پر وخت څراغ مړ کړئ

الرُّقَادِ فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ رُبَّمَا اجْتَرَّتْ الْفَتِيلَةَ فَأَحْرَقَتْ أَهْلَ الْبَيْتِ، و في رواية

ځکه چي ځيني وختونه مږې څراغ کشوي (چپه کوي يې) او کور والا سوځي . او د مسلم په يوه

لمسلم قَالَ غَطُّوا الْإِنَاءَ وَأَوْكُوا السِّقَاءَ وَأَغْلِقُوا الْبَابَ وَأَطْفِئُوا السِّرَاجَ فَإِنَّ

روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: لوښي پټ کړئ، د ژيانو خولې بندي کړئ
، دروازې بندي کړئ او څراغونه مړه کړئ ځکه چي

الشَّيْطَانَ لَا يَحُلُّ سِقَاءً وَلَا يَفْتَحُ بَابًا وَلَا يَكْشِفُ إِنَاءً فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا

شيطان (تړلی) ژی نه خلاصوي بنده دروازه نه خلاصوي او نه (پټ کړي) لوښي خلاصوي، که
د چا سره د لوښو پټولو يو شی نه وي

أَنْ يَعْرُضَ عَلَى إِنَائِهِ عُودًا وَيَذْكُرَ اسْمَ اللهِ فَلْيَفْعَلْ فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ تُضْرِمُ عَلَى

نو په پلنوالي کي د الله جل جلاله په نوم اخيستلو سره يو لرگی پر کښيږدئ دا کار وکړه ځکه چي کوچنی فاسق
(مږه) ستاسي کور سوځي،

أَهْلِ الْبَيْتِ بَيْتَهُمْ . و في رواية له قَالَ لَا تُرْسِلُوا فَوَاشِيَكُمْ وَصِبْيَانَكُمْ إِذَا غَابَتْ

او د مسلم په يو روايت کي دي چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي خپل رمې (پسونه) او کوچنيان مه
پريږدئ هغه وخت چي لمر پريوځي

الشَّمْسُ حَتَّى تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ فان الشيطان يبعث اذا غابت الشمس حتى

بيا تر هغه وخته چي ماخستن سي ځکه چي شيطان هغه وخت را اليږل کيږي چي لمر پريوځي تر

تذهب فحمة العشاء و في رواية له قَالَ غَطُّوا الْإِنَاءَ وَأَوْكُوا السِّقَاءَ فَإِنَّ فِي

هغه وخته چي د ماخستن تياره ختميږي او د مسلم په يوه روايت کي دي چي نبي کريم ﷺ
فرمايلي دي چي لوښي پټوئ د مشکو (ژي) سرونه تړئ ځکه چي په

السَّنَةِ لَيْلَةً يَنْزِلُ فِيهَا وَبَاءٌ لَا يَمُرُّ بِإِنَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ غِطَاءٌ أَوْ سِقَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ
وِكَاءٌ إِلَّا نَزَلَ فِيهِ مِنْ ذَلِكَ الْوَبَاءِ .

کال کي يوه شپه ده چي وبا پکښي نازليږي او تر هغه لوښي نه تيريږي چي سرپېږ نه وي يا تر مشک چي سر تړونی ونه لري مګر نازليږي پکښي وبا.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٣٦، رقم: ٣٢٨٠، ومسلم ٣\١٥٩٥، رقم: ٩٧- ٢٠١٢.

تشريح: د متفق عليه روايت څخه وروسته چي د بخاري کوم روايت نقل سوی دی او په هغه کي د عند المساء (يعني کله چي ماښام سي) الفاظ ذکر سوي دي نو په دې اړه دا هم کېدای سي چي ددې تعلق د ټولو ذکر سوو شيانو سره وي (يعني کله چي شپه پېل سي نو لوښي دي پټ کړل سي، د ژيانو خولې دي وتړل سي ، دروازې دي هم بندي کړل سي او ماشومان دي له دباندي وتلو څخه منع کړل سي) په دغه صورت کي د ماښام څخه مراد هغه وخت دی چي د ماښام د پېل څخه تر ماخستن پوري وي او د دروازو بندولو او لوښو پټولو دغه وخت دی ، او که چيري دا مراد واخيستل سي چي د عند المساء تعلق يوازي د (واکفتوا صبيانکم) يعني خپل ماشومان د ځان سره وساتئ، سره وي لکه څرنګه چي د حديث سياق هم پر دې دلالت کوي نو مراد به انسب وي ، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي د شپې د دغه ټولو شيانو خيال وساتئ چي د شپې په لومړنۍ برخه کي يعني د لمر لوېدو څخه سمدستي وروسته ماشومان د دباندي وتلو او آخوا دېخوا ګرځېدو څخه منع کړئ ځکه چي دغه وخت د پيريانو د خپرېدو وخت دی ، کله چي د شپې يو ساعت تېر سي نو دا ټول کارونه کوئ يعني لوښي پټ کړئ ، دروازې بندي کړئ او بيا دغه وخت د ماشومانو په دباندي وتلو کي څه پروا نسته ، په دغه توجيه سره د دغه روايت د متفق عليه روايت سره مطابقت هم راځي .

او تبنتوي يې : د شيطانانو د ماشومانو تبنتول حقيقت دی چي د هغه تصديق د ځينو واقعو څخه هم سوی دی، که څه هم دا لرېپښيږي او يا د تبنتولو څخه مراد د ماشوم هوش او حواس زائل کول دي يا هغوی په لوبو او مسخرو کي لګول دي .

جنات او شياطين په اصل کي دواړه يو دي ، په جناتو کي چي کوم سرکښ او فاسق وي هغوی ته شيطان وايي .

فحمه : د شپې په پېل کي يعني د ماښام او ماخستن په مينځ کي چي کومه تياره خپره سي نو هغې ته فحمه وايي، د ماخستن د لمانځه څخه تر سهار پوري چي کومه تياره وي هغه ته عسعسه وايي، په قرآن کريم کي د (والليل اذا عسعس...الخ) هم دغه مفهوم دی .

څرګنده دي وي چي په دغه حديث کي کوم احکام ورکړل سوي دي هغه د وجوب په توګه نه دي بلکه د هغو مقصد محض د هغه امورو لارښوونه کول دي کوم چي موږ په ورځني ژوند کي

د خير او مصلحت متقاضي دي ، يا دا چي ددغه احكامو تعلق د استحباب سره دى يعني په حديث كي پر ذكر سوي هدايت باندي عمل كول مستحب دي. نووي رحمة الله عليه وايي : كه چيري ددغه حديث پر مضمون باندي په ژور نظر سره فكر وكړل سي او په هداياتو يې عمل وكړل سي نو ځرګنده به سي چي په دغه ارشاد كي مختلفي ښېګڼې، جامع ادبونه او د تهذيب رموز پټ دي، په خاصه توګه په دغه احكامو كي چي تر ټولو لوى تعليم دى هغه دادى چي د هر حركت او سكون په وخت د الله جل جلاله نوم اخيستل يعني بسم الله ويل يوه داسي اسانه ذريعه ده چي د دنيا او آخرت د افاتو او بلاګانو څخه د سلامتيا او ساتني ضامن ګرځول كيږي .

لوښي پټوئ

﴿۲۱۱۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ جَاءَ أَبُو حُمَيْدٍ رَجُلٌ مِّنَ الْأَنْصَارِ مِنَ النَّقِيْعِ بِإِنَاءٍ مِّنْ لَبَنٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَّا خَمَّرْتَهُ وَلَوْ أَنْ تَعْرُضَ عَلَيْهِ عُودًا . متفق عليه.

د جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو انصاري سړي چي د هغه نوم ابو حميد وو د نقيع نامي ځاى څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره د شېدو يو لوښى راوړ، نبي كريم صلى الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل : تا دا پټ ولي نه راوړ كه نور څه نه وه نو يو لرګى به دي پر هغه په پلنوالي ايښى واى . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۷۰، رقم: ۵۶۰۵، ومسلم ۳\۱۵۹۳، رقم: ۹۵- ۲۰۱۱.

د بېدېدو پر وخت اور مړ كړئ

﴿۲۱۱۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَتْرُكُوا النَّارَ فِي بُيُوتِكُمْ حِينَ تَنَامُونَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : هر كله چي تاسو بيده كيږئ نو په كور كي اور مه پرېږدئ . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۸۵، رقم: ۶۲۹۳، ومسلم ۳\۱۵۹۶، رقم: ۱۰۰- ۲۰۱۵.

تشريح: د اور څخه مراد هغه اور دى چي په هغه سره د يو شي د سوځېدو بېره وي ، كه هغه ځراغ وي يا د نغري او بل شي اور وي، مګر د رڼا كولو كوم شيان چي د ځراغ، ګروپ يا بل شي

په صورت کي وي او د هغه څخه د اور لګېدو بېره نه وي نو د هغه په پرېښودو کي څه پروا نسته او داسي شیان په دغه منع کي داخل نه دي ځکه چي د دغه منع اصل علت یعني د اور لګېدو بېره نسته نو په دغه حکم باندي عمل کول ضروري نه دی بلکه شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه وایي که چیري اور په کور کي داسي پرېښودل سي چي په هغه سره د بل شي د سوځېدو بېره نه وي لکه د یخ په وخت کي د شب بیداری په غرض یا د یو بل حکمت په وجه د نغري یا بل شي اور پرېږدي نو ویل کېږي چي پر مذکوره وضاحت باندي په قیاس کولو سره به دا هم منع نه وي.

﴿۲۱۱۲﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ احْتَرَقَ بَيْتٌ بِالْمَدِينَةِ عَلَى أَهْلِهِ مِنَ اللَّيْلِ فَحُدِّثَ بِشَأْنِهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ هَذِهِ النَّارَ إِنَّمَا هِيَ عَدُوٌّ لَكُمْ فَإِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوهَا عَنْكُمْ . متفق عليه.

د حضرت ابو موسی رضي الله عنه څخه روایت دئ چي په مدینه کي د شپې یو کور وسوځېدئ، رسول الله ﷺ ته د هغه یادونه وسول نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دا اور ستاسو دښمن دئ هر کله چي تاسو بیده کېږئ نو دا اور وژنئ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۸۵، رقم: ۶۲۹۴، ومسلم ۳\۱۵۹۶، رقم: ۱۰۱- ۲۰۱۶.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د سپي یا خره اواز په شپه کي

﴿۲۱۱۳﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا سَمِعْتُمْ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي کله تاسو د شپې

نُبَاحَ الْكِلَابِ وَنَهِيقَ الْحَمِيرِ مِنَ اللَّيْلِ فَتَعَوَّذُوا بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

د سپیو غپا واورئ او د خرو آواز واورئ نو د الله تعالی په ذریعه د شیطان څخه پناه غواړئ او اعوذ بالله من الشیطان الرجیم وایاست

فَإِنَّهُنَّ يَرَيْنَ مَا لَا تَرَوْنَ وَأَقِلُّوا الْخُرُوجَ إِذَا هَدَأَتِ الْأَرْجُلُ فَإِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ

ځکه چي هغوی هغه شیانویني کوم چي تاسو نه وینئ، (یعني شیطانان) او هر کله چي د خلکو

تګ راتګ (په شپه تيريدو آبادۍ کي) بندسي نو تاسو هم کم وځئ ځکه چي دغه وخت الله جَلَّ جَلَالُهُ

يَبُثُّ مِنْ خَلْقِهِ فِيْ لَيْلَتِهِ مَا يَشَاءُ وَأَجِيفُوا الْأَبْوَابَ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ

خپل مخلوق خپرول غواړي خپروي ، د کورونو دروازې د الله په نامه اخيستلو سره بندوی

فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لاَ يَفْتَحُ بَابًا إِذَا أُجِيفَ وَذُكِرَ اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ وَغَطُّوا الْجِرَارَ وَأَكْفِئُوا الْآنِيَةَ وَأَوْكُوا الْقِرَبَ . رواه في شرح السنة.

ځکه چي شيطان هغه دروازې نه سي خلاصولای چي بنده سي او د الله تعالی نوم پر واخيستل سي او لوښي پټ کړئ او ژيانو خولې وتړئ . شرح السنه .

تخريج: البغوي في شرح السنة ١١\٣٩٢، رقم: ٣٠٦٠.

د مږي شرارت

﴿۴۱۱۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَتْ فَأْرَةٌ تَجُرُّ الْفَتِيلَةَ فَأَلْقَتْهَا بَيْنَ يَدَيْ

د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو موږک يو لګيدلی څراغ راوړ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مخ

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْخُمْرَةِ الَّتِي كَانَ قَاعِدًا عَلَيْهَا فَأَحْرَقَتْ

کي يې پر چټائي وغورځوئ چيري چي رسول الله صلى الله عليه وسلم تشريف فرما وو او د يوه درهم په اندازه

مِنْهَا مِثْلَ مَوْضِعِ الدِّرْهَمِ فَقَالَ إِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوا سُرُجَكُمْ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدُلُّ مِثْلَ هٰذِهِ عَلٰى هٰذَا فَتُحْرِقُكُمْ . رواه ابوداؤد.

چټائي يې وسوځل ، ددې په ليدو سره رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل هر کله چي تاسو بيده کيږئ نو څراغ مړ کړئ ځکه چي شيطان دغه ضررناک شي (موږک) ته داسي مشوره ورکوي يا لاره ور ښيي او تاسو سوځي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ٥\٤٠٨، ٤٠٩، رقم: ٥٢٤٧.

تشريح: د مشکوة مصنف په دغه باب کي دريم فصل نه دی راوړی او نه يې دا ويلي دي چي دغه باب له دريم فصل څخه خالي دی ، ددې د نه ويلو وجه د کتاب الاشربه په اول فصل کي بيان سوې ده .

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

كِتَابُ اللِّبَاسِ

(د جامو بيان)

لباس په اصل کي مصدر دی مګر استعمال يې د ملبوس په معنی دی ، لکه څرنګه چي د کتاب لفظ د مصدر کېدو سربېره د مکتوب په معنی کي استعماليږي ، د لباس د ماضي او مضارع صيغې د علم يعلم باب څخه دي ، او مصدر يې د لُبس يعني د لام په پېښ سره هم راځي او لِبس يعني د لام په زور سره هم راځي چي معنی يې د التباس ده چي د ضرب يضرب له باب څخه ده .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د نبي ﷺ خوښي جامې

﴿۴۱۱۵﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَلْبَسَهَا الْحِبَرَةُ . متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د اغستلو په جامو کي د نبي کريم ﷺ حبره (د سرو يا شنو کرښو لرونکي څادر) ډېر خوښ وو . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۷۶، رقم: ۵۸۱۳، ومسلم ۱۳\۱۶۴۸، رقم: ۳۲- ۲۰۷۹.

د لغاتو حل: الحِبرة: من البرود، جمع بردة، ما كان موشيا مخططا. (کرښه لرونکی)

تشريح: (حبره) يو ډول يمني څادر ته وايي چي په هغه زمانه کي تر ټولو غوره څادر وو، په دغه څادر کي به سرې کرښي وې او په ځينو کي به شنې کرښي وې ، دغه څادر د سوت څخه جوړېدی، علماوو ويلي دي چي رسول الله ﷺ دغه څادر په دې وجه خوښوی ، ځينو علماوو ليکلي دي چي د هغه څادر د خوښي سبب د هغه شين رنګ وو ځکه چي شنه جامه د جنتيانو د جامو څخه ده، او دا هم نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ شين رنګ ډېر زيات خوښوی لکه څرنګه چي په عبراني اوسط ، ابن نسي او ابونعيم محب کي دا روايت نقل سوی دی: (انه كان احب الالوان اليه الخضرة) يعني په ټولو رنګونو کي د رسول الله ﷺ شين رنګ زيات خوښ وو.

ځینو حضراتو دا هم لیکلي دي چي رسول الله ﷺ هغه څادر ځکه خوښوی چي د هغه کرښي سرې وي او سور رنګ نه خپرېدونکی وي.

تنګ لستوڼي جبه

﴿۴۱۱۶﴾: وَعَنِ الْمُغِيرَةَ بْنِ شُعْبَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبِسَ جُبَّةً رُوْمِيَّةً ضَيِّقَةَ الْكُمَّيْنِ. متفق عليه.

د حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یوه رومي جبه وا غوستل چي د هغې لستوڼي تنګ وو. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۴۷۳، رقم: ۳۶۳، ومسلم ۱۱\ ۲۲۹، رقم: ۷۷- ۲۷۴.

تشریح: دا د یو سفر پېښه ده کله چي رسول الله ﷺ د تنګو لستوڼو والا جبه (چپنه) واغوستل، په یو بل روایت کي بیان سوی دی چي د هغه لستوڼي دومره تنګ وه چي رسول الله ﷺ به کله او دس کوی نو هغه لستوڼي به نه پورته کېدل نو رسول الله ﷺ به د خپلو لاسونو پرېوللو لپاره خپل لاسونه له هغه څخه را ایستل، ځیني حضرات وایي چې د دې څخه معلومه سوه چي د خپل قمیص، چپني او نورو شیانو لستوڼي د سفر په دوران کي تنګ جوړول مستحب دي مګر د سفر څخه پرته مستحب نه دي ځکه صحابه کرامو به پراخ لستوڼي جوړول، ابن حجر رحمه الله ویلي دي: په دې اړه د امامانو قول دادی چي د لستوڼو پراخول یو بد بدعت دی، هغوی د صحابه کرامو د لستوڼو پراخه کېدو بله معنی لیکلې ده چي د هغه تفصیل د هغوی په شرحو کي تر لاسه کېدای سي، مګر دا ویل کیږي چي د امامانو قول پر مفرط یعني د حد څخه زیات پراختیا باندي محمول دی ځکه په منتقی کي چي د امامانو د کتابو څخه یو کتاب دی دا لیکلي دي چي د لستوڼو یوه لویشت پراخول مستحب دي.

د نبي ﷺ آخري دوې جامې

﴿۴۱۱۷﴾: وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ كِسَاءً مُلَبَّدًا وَإِزَارًا غَلِيظًا فَقَالَتْ قُبِضَ رُوحُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَيْنِ. متفق عليه.

د حضرت ابو برده رضی الله عنه څخه روایت دی چي بي بي عائشې (رض) موږ ته د بنکاره کولو لپاره یو ټوټه ټوټه ګنډل سوی څادر او یو لوی لنګ و ښودی او و یې وفرمایل: په دې دوو کپړو کي د

رسول الله ﷺ روح مبارک قبض سوی وو (يعني نبي كريم ﷺ وفات سوی وو) بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢١٢، رقم: ٥٨١٨، ومسلم ٣\١٦٤٨، رقم: ٣٤-٣٥-٢٠٨٠.

د لغاتو حل: ملبدا: ای مرقعا: (ګنډل سوی)

تشريح: رسول الله ﷺ د خپل ځان لپاره دغه دعاء کړې وه: (اللهم احييني مسكينا و امتني مسكينا) ژباړه: اې الله! ما مسکين راوپاځوې او مسکين مي وفات کړې، نو دا دهغه دعاء اثر وو چي کله رسول الله ﷺ ددغه دنيا څخه تشريف وړی نو پر بدن مبارک يې دغه دوې جامې وي، له دغه حديث څخه څرګنده سوه چي د دنيا او ددنيا د رزق څخه بې شوقي د ژوند يوه غوره سرمايه ده، نو پر امت باندي لازمه ده چي په هر خصلت او عادت کي د رسول الله ﷺ پيروي اختيار کړي.

د نبي ﷺ بستره

﴿۴۱۱۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ فِرَاشُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي يَنَامُ عَلَيْهِ أَدَمًا حَشْوُهُ لِيفٌ. متفق عليه.

د بي بي عائشې ﵂ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ بستره چي پر هغې باندي دي به يې ارام کوی، د څرمنې وه چي د خرماؤ د پوستکي څخه ډکه سوې وه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٢٨٢، رقم: ٦٤٥٦، ومسلم ٣\١٦٥٠، رقم: ٣٧-٢٠٨٢.

تشريح: په شمائل ترمذي کي چي د بي بي حفصې ﵂ کوم روايت نقل سوی دی په هغه کي دا بيان سوی دی چي د رسول الله ﷺ نالي (کوربچه) د ټاټ وه، نو په دغه دواړو روايتو کي څه تضاد او اختلاف نسته ځکه چي د رسول الله ﷺ سره په يوه زمانه کي د پوست کوربچه وه او په يوه زمانه کي د ټاټ، يا دا چي د خوب کوربچه يې د پوست وه او د ناستي کوربچه يې د ټاټ وه.

د نبي ﷺ بالښت

﴿۴۱۱۹﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ وِسَادَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي يَتَّكِئُ عَلَيْهِ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ. متفق عليه

د بي بي عائشې ﵂ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ بالښت چي په هغه باندي نبي كريم ﷺ تکيه وهله يا د بيده کېدو په وخت کي به يې تر سر لاندي کوی د څرمني وو او هغه د خرماؤ د

پوستکو ډکه شوې وه . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱۳\۱۶۵۰، رقم: ۳۷- ۲۰۸۲.

تشریح تکیه کول : یعني پر هغه به په څنګ وهلو سره کښېنستی ، یا د خوب په وخت کي به یې تر سر لاندي کوي. ددغه روایتو څخه څرګنده سوه چي د خوب او ارام لپاره د کوربچې او بالښت تکیه جوړول مستحب دي په شرط ددې چي د عیش او عشرت او د نفس په ارامتیا کي د اسراف په توګه نه وي، رسول الله ﷺ به تکیه خوښول او د خوب په وخت کي به یې تر سر لاندي ایښودل او پر هغه به یې څنګ وهی ، او رسول الله ﷺ به فرمایل: که یو سړی بالښت او خوشبویي درکړي نو د هغه څخه انکار مه کوئ.

ددغه روایت او داسي نورو روایتو څخه دا څرګندېږي چي د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي د دنیا په ژوند کي یې زهد او استغناء اختیار کړې وه او ددنیا د متاع او خوندونو څخه یې مخ اړولی وو، ځکه د رسول الله ﷺ جامې هم پر غټو او شکېدلو زړو جامو باندي مشتمل وو ، نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ ته به کومه جامه تر لاسه سول نو هغه به یې اغوستل په هغه کي به یې تکلف نه کوی البته داسي هم سوي دي چي رسول الله ﷺ ته یوه ښه جامه راوړل سوې وي نو بیا یې د جواز لپاره اغوستې ده مګر بیرته یې سمدستي هغه جامه بل چا ته ورکړې ده ، نو د ښه جامو اغوستلو قید پر ځان باندي عائد کول یا د خرابو جامو اغوستل عادت اختیارول او په دې اړه بې ځایه تکلف او پابندي کول د سنت خلاف کار دی که څه هم په اصل کي مباح دی مګر دا هم باید څرګنده وي چي د ښه جامو اغستلو د استطاعت او توان سربېره محض د بخل او سستی په وجه غټې او شکېدلي جامې اغوستل یا خلکو ته د خپل ځان زاهد او تقواداره ښودلو لپاره یا د حرص او طمع په وجه معمولي او بېکاره جامې اغوستل ښه کار نه دی بلکه د ځینو شیخانو په اړه نقل سوي دي چي هغوی د خپل پرهیزګارۍ او خپل لوړ مقام د نورو د سترګو څخه پټولو لپاره یا د تحدیث نعمت په توګه د خپلي خوشحالۍ څرګندولو لپاره غوره جامې اغوستلې ، خلاصه دا که چیري الله ﷻ یو چا ته نعمتونه ورکړي وي او هغه په مالي توګه ښه وي نو د هغه لپاره د غوره او ښه جامو اغوستلو کي څه پروا نسته په شرط ددې چي د اسراف او تکبر حد ته ونه رسیږي ځکه چي میانه روي په هر ځای او هر عمل کي ستایل سوی او مطلوب صفت دی.

د نبي ﷺ څادر

﴿۴۱۲۰﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ بَيْنَا نَحْنُ جُلُوسٌ فِي بَيْتِنَا فِي حَرِّ الظَّهِيرَةِ قَالَ قَائِلٌ لِأَبِي بَكْرٍ هَذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُقْبِلًا مُتَقَنِّعًا. رواه البخاري.

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې د غرمې په ګرمۍ کې موږ په خپل کور کې د ننه ناست وو چې يو چا زما پلار (ابو بکر صديق رضي الله عنه) ته وويل، چې رسول الله ﷺ پر سر پټو اچولي وو تشريف يې راوړ. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري ۱۰\ ۲۷۳، رقم: ۵۸۰۷.

د لغاتو حل: متقطنعا: اى مغطيا راسه بالقناع (سر په پټو کي پټ کړی)

تشريح: د رسول الله ﷺ خپل سر مبارک د څادر په څوکه سره پټول د ګرمۍ څخه د ساتنې لپاره وو، يا رسول الله ﷺ خپل سر مبارک ځکه پټ کړی وو چې مخ مبارک يې پټ وي او ددين دښمنان يې ونه پېژني، دغه حديث په اصل کې د هغه حديث يوه ټوټه ده چې په هغه کې د نبي کريم ﷺ د هجرت پېښه بيان سوې ده چې په مکه مکرمه کې د بيعت العقبه څخه وروسته رسول الله ﷺ د الله تعالی له خوا د هجرت د حکم په انتظار وو، بلې خوا ته حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دا خواست کوی چې په دغه سفر کې د ملګرتيا شرف ور په برخه سي، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: که د هجرت حکم نازل سي نو همدا سي به کيږي (يعني ته به زما ملګری يې)، يوه ورځ ناڅاپه د هجرت حکم نازل سو نو رسول الله ﷺ په غرمه کې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه کو رته ورغلی او ورته وه يې ويل چې د هجرت حکم نازل سوی دی او دا هدايت دی چې زه د هجرت لپاره د مکې څخه ووځم او ته زما ملګری سې، بيا رسول الله ﷺ په شپه کې د ابوبکر صديق رضي الله عنه سره د هغه د سرای د هغه کلکين څخه ووتل چې د مکې په لاندې خوا کې واقع وو او غار ثور ته په تلو سره هلته پټ سول ...الخ.

تر درو کوربچو بالا مه پر يږدئ

﴿۴۱۲۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ وَفِرَاشٌ لِامْرَأَتِهِ وَالثَّالِثُ لِلضَّيْفِ وَالرَّابِعُ لِلشَّيْطَانِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ و هغه ته و فرمايل: يوه کوربچه د سړي

لپاره یوه کوربچه د ښځي لپاره دریمه کوربچه د مېلمه لپاره او څلورمه د شیطان لپاره (یعني د ضرورت څخه زیاته کوربچه په فضول خرچي کي راځي) . مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۳\ ۱۶۵۱، رقم: ۴۱- ۲۰۸۴.

تشریح: مطلب دادی که چیري په یو کور کي محض ښځه او خاوند وي او هغوی استطاعت لري نو دري بستري دي ساتي یوه د خاوند لپاره، دوهمه د ښځي لپاره چي کیدای سي یو وخت هغه د ناروغۍ په وجه بېله بېده سي کنه نو د ښځي او خاوند په یوه بستره کي بېده کېدل غوره دي او د سنتو مطابق دی ځکه چي رسول الله ﷺ به د ازواجو مطهراتو سره بېده کېدی، او دریمه بستره ددې لپاره وي که یو څوک مېلمه راسي نو پر هغه باندي د شپې بېده سي، او دغه دري بستري کافي دي، تر دې زیاتي بستري د اسراف په حد کي راځي لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که څلورمه بستره وي نو هغه به د شیطان لپاره وي، شیطان ته ځکه نسبت سوی دی چي هغه څلورمه بستره به یقینا د ضرورت او اړتیا څخه زیاته وي او د ضرورت څخه زیات شی اېښودل د فخر او مباحات په دائره کي په راتلو سره بد دي او د هر بد شي نسبت شیطان ته وي، یا ددې نسبت سبب دادی چي هغه څلورمه بستره چي د ضرورت څخه زیاته وي ځکه چي شیطان په هغه کي شپه تېروي، څرګنده دي وي چي کوم سړی سخي او د پراخ زړه خاوند وي او هغه ته زیات مېلمانه راځي نو هغه ته د زیاتو بسترو درلودل بد نه دي، هغه وخت زیاتي بستري درلودل بد دي چي محض د خپل لویي او فخر د اظهار لپاره وي.

پرتوګ تر بجلکو کښته کول حرام دي

﴿۴۱۲۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَنْظُرُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا. متفق علیه.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم سړی چي د تکبر او د ریاڅخه پرتوګ د بجلکو څخه کښته اغوندي، د قیامت په ورځ به خدای تعالي و هغه ته د رحمت په نظر نه ګوري. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۲۵۷، رقم: ۵۷۸۸، ومسلم ۳\ ۱۶۵۳، رقم: ۴۸- ۲۰۸۷.

د لغاتو حل: بطرا: ای تکبرا و فرحا.

تشریح: د غرور او تکبر د قید څخه څرګنده سوه که یو سړی د غرور او تکبر څخه پرته خپل

پرتوګ یا لونګ تر بجلکو لاندي کوي نو دا حرام نه دي مګر بیا هم مکروه تنزیهي دی، او د یو عذر په وجه لکه یخ یا ناروغی وغیره په وجه د پرتاګه یا لونګ تر بجلکو لاندي کول مکروه تنزیهي هم نه دي.

زړېدلې جامه

﴿۴۱۲۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق علیه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم سړی چي د تکبر له کبله خپله جامه زړېدلې ساتي، الله جل جلاله به د قیامت په ورځ د رحمت په نظر ور ته ونه ګوري. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۲۵۴، رقم: ۵۷۸۴، ومسلم ۳\ ۱۶۵۲، رقم: ۴۴- ۲۰۸۵.

تشریح: په جامو کي عمومیت دی که لونګ وي یا پرتوګ وي، او که قمیص وي یا پټو وغیره د دغه ټولو همدغه حکم دی.

﴿۴۱۲۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَجُرُّ إِزَارَهُ مِنَ الْخُيَلَاءِ خُسِفَ بِهِ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رواه البخاري

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: یوه سړي په مخکنیو امتونو کي خپل لنګ یا پرتوګ د تکبر په خاطر را کښته کړی روان وو، هغه په مځکه ننوت دا خسف به تر قیامته پوري جریان ولري یعني په دغه مځکه کي به تر قیامت پوري ننوځي. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\ ۵۱۵، رقم: ۳۴۸۵.

تشریح: د کوم سړي په اړه چي یادونه سوې ده کیدای سي چي هغه د دغه امت یو کس وي او رسول الله ﷺ د دغه خبره د وړاندویني په توګه فرمایلې وي چي په راتلونکې زمانه کي به داسي وي او ددې واقع کېدل یو یقیني امر وو ځکه رسول الله ﷺ د دغه خبري د خبر ورکولو لپاره د ماضي بیان اختیار کړ، یا دا چي د یو داسي سړي پېښه ده چي په مخکني یو امت کي به وي، په دغه اعتبار سره د حدیث ظاهري مفهوم به پر خپل ځای برقرار وي چي رسول الله ﷺ د تیري پېښي خبر ورکړی دی او دا وضاحت زیات صحیح هم دی ځکه چي بخاري دغه پېښه د بني

اسرائیلو د یادونه په دوران کي نقل کړې ده او ځیني حضرات وايي چي د دغه سړي څخه مراد قارون دی مګر د حدیث ظاهري مفهوم او د هغه سړي د نامه اخیستلو څخه پرته ذکر کولو څخه دا واضحه کیږي چي هغه سړی به د قارون څخه پرته بل څوک وي.

په لباس کي ډېر تو کر مه کاروئ

﴿۴۱۲۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الْإِزَارِ فَفِي النَّارِ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د پرتوګ یا لنګ کومه برخه چي د بجلکو څخه کښته وي، هغه به په دوږخ کي واچول سي (یعني د بدن هغه برخه چي په هغه باندي د پرتوګ هغه حصه وي). بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۶۵، رقم: ۵۸۸۷.

تشریح: مطلب دادی چي تر بجلکو لاندي د پښو پر څومره برخه باندي پرتوګ یا لونګ وغیره زړېدلي وي هغه ټوله برخه به په دوږخ کي اچول کیږي او ځیني حضراتو دا مطلب بیان کړی دی چي دغه عمل (یعني د پاېڅو تر بجلکو لاندي کول) یو بد عمل دی او د دوږخیانو کار دی، د پاېڅو تر بجلکو لاندي کولو په مسئله کي باید دا خبره څرګنده وي چي په دې اړه کوم حدیثونه نقل سوي دي په هغو کي زیات د پرتوګ یا لونګ یادونه ده او د پرتاګه زړونکي په اړه ډېر سخت وعیدونه هم بیان سوي دي تر دې چي په یوه روایت کي نبي کریم ﷺ یوه ورځ سړی په دغه حال کي پر لمانځه کولو ولیدی چي د هغه پایڅې تر بجلکو لاندي وې نو رسول الله ﷺ هغه ته د دوهم وار اودس کولو او لمونځ کولو حکم وکړ، همدارنګه په یوه روایت کي دا نقل سوي دي چي د شعبان په پنځلسمه شپه د ټولو مسلمانانو بخښنه کیږي پرته د عاق، مدمن خمر او مسبل ازار څخه چي د دغه خلکو بخښنه نه کیږي، مګر حقیقت دادی چي د دغه ټولو وعېدو تعلق محض د ازار (پرتوګ) سره نه دی بلکه د ټولو جامو سره دی یعني پر بدن چي کومه جامه د ضرورت څخه زیاته او د سنت د دائرې څخه وتلې وي پر هغو ټولو به د دغه منع حکم کیږي، او کوم چي د ازار د تخصیص تعلق دی نو د دې وجه داده چي په هغه زمانه کي څادر او ازار په عامه توګه جامې وې ځکه نو زیات استعمال په وجه د هغه ذکر وکړل سي، په نورو روایاتو کي د ازار سره د نورو جامو لکه قمیص، لنګوټې وضاحت هم سوی دی، وروسته په دوهم فصل کي د

حضرت ابن عمر ﷛ روايت نقل كيږي چي : (الاسبال في الازار والقميص والعمامة من جر منها شيئا خيلاء ...الخ) همدارنګه په دغه فصل كي د حضرت ابن عمر ﷛ روايت تېر سوى دى چي په هغه كي د مطلق جامې ذكر دى ، ددې څخه هم دا ثابتيږي چي په جامه كي د ضرورت څخه زياته جامې د منع تعلق دهري جامې سره دى .

په هر حال ادنى درجه داده چي ازار يعني (پرتوګ يا لونګ) پر نيمو پنډيو پوري وساتل سي، رسول الله ﷺ به خپل لونګ تر نيمو پونډيو پوري زړوى مګر رخصت يعني اجازه او د اسانۍ درجه تر بجلكو پوري ده چي لونګ او پرتوګ تر بجلكو پوري وزړول سي ، د كرتۍ، قميص، چپني او داسي نورو شيانو هم دغه حكم دى ، همدارنګه د قميص او كرتۍ سنت اوږدوالى دادى چي هغه د لاسو تر بندو پوري وي ، د لنګوټې شمله بايد دومره وي چي د ملا تر نيمايي پوري رسيدلې وي كومه شمله چي په اوږدوالي يا پلنوالي كي تر دې زياته وي نو هغه بدعت او په زيات زړولو كي شمېرل كيږي چي منع كار دى، د ځينو سيمو او ښارو خلک په خپلو جامو كي د ضرورت څخه زيات ټوكر استعمالوي لكه د ضرورت څخه زيات اوږده اوږده لستوڼي ، پراخي لمني ، غټې غټې پرتوګونه او لوى لوى لنګوټې نو دا ټول د سنت خلاف دي بلكه كه چيري د ضرورت څخه زيات ټوكر استعمالول د تكبر او غرور په نيت سره وي نو حرام ورته ويل كيږي او كه د خلكو د رواج په وجه وي نو مكروه ورته ويل كيږي ، په جامو كي د ضرورت څخه زيات اوږدوالي او پلنوالى د ښځو لپاره هم منع دى مګر د خلكو په نسبت يوه لوېشت يا دوې لويشتي زياتوب جائز دى بلكه دومره اندازه خو مستحب دى چي د پردې په اندازه وي لكه چي د بي بي ام سلمه ﷝ د روايت څخه معلوميږي چي په دوهم فصل كي به راسي.

ممنوع كالي

﴿۴۱۲۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْكُلَ الرَّجُلُ بِشِمَالِهِ أَوْ يَمْشِيَ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ وَأَنْ يَشْتَمِلَ الصَّمَّاءَ وَأَنْ يَحْتَبِيَ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ كَاشِفًا عَنْ فَرْجِهِ . رواه مسلم

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوک دي په چپه لاس خوراک نه كوي ، او نه دي په يوه چپلكه كي ګرځي ، او يو څادر دي پر ټول بدن نه چاپيروي او داسي جامو د را نغښتلو سره دي نه كښيني چي ستر يې ورسره ښكاره سي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\ ۱٦٦۱، رقم: ۷۰- ۲۰۹۹.

تشريح په چپه لاس سره د خوړلو منع د نهي تنزيهي په توګه ده او د ځينو حضراتو په نزد د نهي تحريمي په توګه دي ،

په يوه پښه باندي د څپلۍ په پښو کول يو ډول بدهيئتي ده او د وقار خلاف کار دی ، دوهم دا که چيري څپلۍ لوړي وي نو په دغه صورت کي به د قدم ښوئېدو او پر مځکه د لوېدو باعث وي نو ددې څخه منع فرمايل سوې ده ،

جامه دي پر بدن داسي چاپېره کړي ...الخ: دې ته په عربي کي (اشتمال الصماء) وايي، ددې صورت دا وي چي سړی يوه جامه لکه څادر يا بل شی داسي واغوندي يا پر بدن يې داسي چاپېره کړي چي ټول بدن يې پټ سي او له هيڅ خوا څخه خلاص نه وي او دواړه لاسونه هم بند سي له داسي جامې اغوستلو او څادر اچولو څخه منع فرمايل سوې ده ، په دغه صورت کي داسي وي لکه هغه ته چي طوق اچول سوی وي دې ته صماء ځکه وايي چي هغه د بدن د اندامو نقل او حرکت بندوي لکه صخرة صماء چي هغه ټينګي ډبري ته وايي چي په هغه کي سوری يا درز نه وي، ابن عام رحمه الله د هدايې په شرح کي ليکلي دي چي په لمانځه کي اشتمال صماء مکروه دی ، ددې صورت دادی چي يو سړی په يوه جامه کي خپل سر او خپل ټول بدن داسي وپېچي چي د لاسو ايستلو ځای هم نه وي مګر امام محمد رحمه الله ددغه کراهت لپاره دا شرط لګولی دی چي هغه لونګ هم تړلی نه وي ، حال دا چي د نورو په نزد دغه شرط نسته، نووي رحمه الله د مسلم په شرح کي ليکلي دي چي د فقهاوو په نزد د اشتمال صماء صورت دادی چي يو سړی يوه جامه پر خپل ټول بدن باندي را وګرځوي او بله جامه لکه لونګ ، پرتوګ وغيره د هغه پر بدن نه وي او بيا د هغه چاپېره سوي جامې په پورته کولو سره پر خپل اوږو واچوي، دغه صورت حرام دی ځکه چي په دې کي د ستر ځيني برخه ښکاره کيږي ، خلاصه دا که چيري د ستر لوڅېدل يقيني وي نو اشتمال صماء به حرام وي او که د ستر لوڅېدل محض د احتمال په درجه کي وي نو بيا مکروه دي .

پر کوناټو کښېنستل : دا هغه ناستي ته وايي چي دواړه کوناټي پر مځکه لګولو سره پندي ودروي او دواړه لاسونه پر هغه چاپېره ونيسي ، يا په داسي ناسته سره يوه جامه پر ملا او پنډيو باندي چاپېره کړي (کله چي ددغه جامې څخه پرته بله جامه يې اغوستې نه وي) داسي ناسته په هغه صورت کي منع ده کله چي د هغه سره يوازي يو څادر وي ، که هغه داسي چاپېره کړي نو ستر يې نه لوڅېږي او که د څادر څخه پرته د هغه سره بله جامه هم وي نو په داسي ناسته کي څه

پروا نسته بلکه د لمانځه څخه پرته په نورو حالاتو کي داسي ناسته مستحب هم ده ځکه چي د رسول الله ﷺ په اړه نقل سوي دي چي هغه د کعبې شريفي مخته په يو ځادر کي او د لاسونو په ذريعه پر کوناټو کښېنستی، او که چيري ځادر دومره لوی او پلن وي چي د هغه په چاپېره کولو سره د ستر لوڅېدو احتمال نه وي نو په يوازي ځادر کي داسي ناسته به جائز وي.

د نارينوو لپاره ريښم حرام دي

﴿۴۱۲۷﴾: وَعَنْ عُمَرَ وَأَنَسٍ وَّ ابْنِ الزُّبَيْرِ وَأَبِي أَمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَبِسَ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا فَلَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ. متفق عليه.

د حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت انس رضي الله عنه، حضرت ابن زبير رضي الله عنه، او حضرت ابي امامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي په دنيا کي وريښم وا غوستل، په اخرت کي به ورته د اغوستلو لپاره نه ورکول کيږي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۲۸۴، رقم: ۵۸۳۲، ومسلم ۳\ ۱۶۴۵، رقم: ۲۱– ۲۰۷۳.

تشريح: ددغه ارشاد تعلق د هغه چا سره دی چي هغه د نارينوو لپاره د ريښم جامې اغوستل حلال ګڼي، او يا دغه ارشاد پر زجر او توبيخ باندي محمول دی، يا دده تعلق دده سره دی چي داسي سړی به تر يو خاص وخت پوري په جنت کي له داخلېدو څخه مخکي د ريښمو د جامو اغوستلو څخه محروم وي، ځکه چي په جنت کي به د جنتيانو جامه د ريشمو وي، د حافظ سيوطي رحمة الله عليه د قول مطابق اکثر علماء ددغه حديث دغه تاويل کوي چي کوم څوک په دنيا کي د ريشمو جامې اغوندي نو هغه به د هغه خلکو سره جنت ته نه داخليږي کوم چي په پېل کي په فائز المرام کېدو سره جنت ته ځي، ددغه تائيد ددغه روايت څخه هم کيږي چي أمام احمد رحمة الله عليه د بي بي جويريه رضي الله عنها څخه نقل کړی دی: من لبس الحرير في الدنيا البسه الله يوم القيامة ثوبا من نار. يعني څوک چي په دنيا کي د ريشمو جامې واغوندي نو الله جل جلاله به د قيامت په ورځ د اور جامې ور واغوندي.

﴿۴۱۲۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا يَلْبَسُ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دنيا کي چي څوک

وربښم اغوندي ، نو په اخرت کي به د هغه لپاره د هغه برخه نه وي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۸۵، رقم: ۵۸۳۵، ومسلم ۳\۱۶۳۹، رقم: ۷- ۲۰۶۷.

تشريح: مطلب دادی چي په دنيا کي د ريشم اغوستونکی سړی د آخرت د عقيدې برخمن نه دی يا دا چي په دنيا کي د ربښم اغوستونکي ته به په جنت کي ربښم اغوستل په برخه نسي، لکه څرنګه چي په ذکر سوي حديث کي فرمايل سوي دي چي : لم يلبسه في الاخرۀ، يعني هغه به په آخرت کي ربښم نه اغوندي، په دې اعتبار سره د ارشاد مقصد کنايتا دا بيانول دي چي داسي سړی به په جنت کي نه داخليږي لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي : ولباسهم فيها حرير، نو د کافرانو په اړه خو دا خبره بالکل څرګنده ده مګر د مسلمانانو په اړه دغه خبره د تغليظ په توګه ده ، ددغه خبري په ذريعه دغه حقيقت په سختوالی سره بيان سوی دی چي کوم مسلمان په دنيا کي ربښم اغوندي نو هغوی به په پيل کي جنت ته نه داخليږي، يا دا چي هغوی به تر هغه وخته پوري په جنت کي نه داخليږي تر څو چي د نورو بدکارو سره هغه هم د دوږخ د اور د جامو عذاب تېر نه کړي .

د ريښمو منعه

﴿۴۱۲۹﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ نَهَانَا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَشْرَبَ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَأَنْ نَأْكُلَ فِيهَا وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ وَأَنْ نَجْلِسَ عَلَيْهِ. متفق عليه.

د حضرت حذيفه رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ د سرو او سپينو زرو په لوښي کي د خوراک او څښاک څخه منعه کړي يو او د ورېښمو او ديباج (چي يو ډول د ورېښمو جامې) اغوستلو څخه او د هغې په فرش د کښېنستلو څخه منعه کړي يو . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۹۱، رقم: ۵۸۳۷، ومسلم ۳\۱۶۳۷، رقم: ۴- ۲۰۶۷.

تشريح: د سرو او سپينو زرو په لوښو کي خوراک او څښاک او د ربښمو د جامو اغوستلو په اړه مخکي بيان سوی دی ، په فتاوی قاضي خان کي ليکلي دي چي د ريشمو د جامو استعمال څرنګه چي د نارينوو لپاره حرام دی همدارنګه د ماشومانو لپاره هم حرام دی ، امام اعظم ابوحنيفة رحمه الله وايي : د ريشمو استعمال په کوربچو کي او پر هغه بېده کېدل څه پروا نه لري

همدارنگه که د هغه څخه د بالنبت پوښ جوړ کړي یا پردې ور څخه جوړي کړي نو په دې کي هم څه پروا نسته ، امام ابویوسف او امام محمد رحمة الله علیهما دغه ټولو ته مکروه ویلي دي، خلاصه دا چي په حدیث کي د نارینوو لپاره د ریشمو اغوستلو او پر ریشمو باندي د ناستي چي کومه منع نقل سوې ده په هغه کي د اغوستلو منع خو په اتفاقي توګه د ټولو په نزد پر تحریم محمول ده حال دا چي د امام اعظم ابوحنیفة رحمه الله په نزد پر تنزیهي باندي محمول دی ځکه چي مخکي په دې اړه وښودل سول چي هغه د ریشمو استعمال په کوربچو او نورو شیانو کي دا وایي چي په دې کي څه پروا نسته ،

ددې مطلب دادی چي په دغه شیانو کي د ریشمو استعمال په هر حال د احتیاط او تقوا پر خلاف دی ځکه چي د یو عمل په اړه دا ویل چي د هغه په کولو کي څه پروا نسته ددې خوف په سبب چي کیدای سي په هغه کي څه حرج وي او دا معنی ددغه مشهور حدیث هم ده : دع ما یریبک الی ما یریبک، یعني هغه کار پرېږده چي په هغه کي شک وي او هغه کار اختیار کړه چي په هغه کي شک نه وي، په هر حال امام اعظم ابوحنیفة رحمه الله ته داسي یو قطعي دلیل تر لاسه نسو چي د هغه پر بنیاد پر ریشمینو جامو باندي ناسته یا بېده کېدل حرام وګرځول سي او د جامو اغوستلو په منع کي صریح نصوص یعني د هغه د حرمت واضح احکام نقل سوي دي او په هغو کي پر ریشمو جامو باندي د ناستي مسئله نه راځي ځکه چي اغوستل او کښېنستل دوه بېل بېل شیان دي چي د اغوستلو اطلاق پر ناسته نسي کیدای ځکه هغه په دغه حدیث کي پر ریشمو باندي د ناستي منعه پر نهي تنزیهي باندي محمول کړې ده .

﴿۴۱۳۰﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةٌ سِيَرَاءَ

د حضرت علي رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ته د هدیې په ډول کرښي لرونکي یو

فَبَعَثَ بِهَا إِلَيَّ فَلَبِسْتُهَا فَعَرَفْتُ الْغَضَبَ فِي وَجْهِهِ فَقَالَ إِنِّي لَمْ أَبْعَثْ بِهَا إِلَيْكَ

څادر را ولېږل سو ، نبي کریم ﷺ و ماته را ولېږی ما هغه و اغوستی ما و لیدل چي د نبي کریم ﷺ پر مخ باندي د غصې اثار وه بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل :ما خو دا ستا د اغوستلو لپاره نه

لِتَلْبَسَهَا إِنَّمَا بَعَثْتُ بِهَا إِلَيْكَ لِتُشَقِّقَهَا خُمُرًا بَيْنَ النِّسَاءِ . متفق علیه.

وو درلېږلي بلکه د دې لپاره مي در لېږلي وه چي ته دا پرې کړه او پوړنی ځیني جوړ کړه او په

ښځو باندي يې تقسيم کړه .بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۲۲۹، رقم: ۲۶۱۴، ومسلم ۳\ ۱۶۴۴، رقم: ۱۷- ۲۰۷۱.

د لغاتو حل: سيراء: بردة يخالطها حرير. (هغه څادر چي ورېښم پکښې کار سوی وي)

تشريح: کله چي رسول الله ﷺ هغه جوړه حضرت علي رضي الله عنه ته واستول نو هغه دا وګڼل چي زما د اغوستلو لپاره يې راليږلي دي ځکه که چيري د هغه اغوستل جائز نه وای نو ما ته به يې ولي را استولای ، نو هغه واغوستل او کوم چي د رسول الله ﷺ تعلق دي نو د رسول الله ﷺ د غصې سبب دا وو چي په هغه جامه کي زياته برخه ريښم وو په دغه صورت کي د حضرت علي رضي الله عنه د هغه په اغوستلو سره د يو شرعي حکم خلاف ورزي وکړه يا دا که چيري په هغه کي ريښم کم وه نو ددې وجه د هغه اغوستل جائز نه وو ، په هر حال د حضرت علي رضي الله عنه دا شان وو چي هغه اغوستې وای ځکه نو رسول الله ﷺ خفه سو چي هغه ولي دا فکر ونه کړ چي دغه جامه د متقي او پرهيزګاره خلکو جامه نسي کيدای .

﴿۴۱۳۱﴾: وَعَنْ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ إِلَّا

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د ورېښمو د اغوستلو څخه منعه کړېده او

هٰكَذَا وَ رَفَعَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِصْبَعَيْهِ الْوُسْطَى وَالسَّبَّابَةَ وَ

وروسته يې و فرمايل : چي په دومره اندازه چي د شهادت ګوته دواړي يو ځای کړي و ښودل (د دې مطلب دا دی چي په قدر د دوو ګوتو د ورېښمو استعمال د نارينه لپاره جائز دي) .

ضَمَّهُمَا. متفق عليه و في رواية لمسلم أَنَّهُ خَطَبَ بِالْجَابِيَةِ فَقَالَ نَهَى

بخاري او مسلم. او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي ، د حضرت عمر رضي الله عنه په ځای جابيه کي خطبه ورکړه او و يې فرمايل :

رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ إِلَّا مَوْضِعَ إِصْبَعَيْنِ أَوْ ثَلَاثٍ أَوْ أَرْبَعٍ .

چي رسول الله ﷺ د ورېښمو د اغوستلو څخه منعه کړېده خو دوه ، درې او د څلورو ګوتو په اندازه د نارينه لپاره جائز دي .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۲۸۴، رقم: ۵۸۲۹، ومسلم ۳\ ۱۶۴۲، رقم: ۱۲- ۲۰۶۹.

تشريح: د اول روايت څخه د نارينوو لپاره د ريشمو د اباحت اندازه دوې ګوتي معلوم سو او د دوهم روايت څخه تر څلورو ګوتو پوري مباح دي نو ثابته سوه که چيري د څلورو ګوتو په اندازه ريشم استعمال کړل سي نو جائز دي د اکثرو علماوو همدغه قول دی.

طيلساني جبه

﴿۴۱۳۲﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّهَا أَخْرَجَتْ جُبَّةَ طَيَالِسَةٍ كِسْرَوَانِيَّةٍ

د بي بي اسماء بنت ابوبکر رض څخه روايت دئ چي هغې د طيلساني، کسرواني جبه راوکښل

لَهَا لِبْنَةُ دِيبَاجٍ وَفَرْجَيْهَا مَكْفُوفَيْنِ بِالدِّيبَاجِ وَقَالَتْ هَذِهِ جُبَّةُ رَسُولِ اللَّهِ

چي په هغه کي د ورېښمو يوه ټوټه د سنجاک په ډول لګېدلي وه او په لستوڼو (يا لمنو) په دواړو برخويې ورېښم لګېدلي وه، بيا يې و فرمايل: د رسول الله ﷺ دا جبه

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ عِنْدَ عَائِشَةَ فَلَمَّا قُبِضَتْ قَبَضْتُهَا وَكَانَ النَّبِيُّ

د عائشې رض سره وه کوم وخت چي هغه وفات سو نو (بي بي اسماء وايي) دا جبه ماته حاصله

ﷺ يَلْبَسُهَا فَنَحْنُ نَغْسِلُهَا لِلْمَرْضَى نَسْتَشْفِي بِهَا. رواه مسلم

سوه، نبي کريم ﷺ به دا (کله کله) اغوستله او اوس موږ د دې په پرېولو سره د دې اوبه و ناروغانو ته ورکوو او د دې په ذريعه هغوی لپاره شفاء غواړو. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\ ۱۶۴۱، رقم: ۱۰- ۲۰۶۹.

تشريح: طيالس د طيلسان جمع ده، او طيلسان د يو بلي ژبي لفظ تالسان معرب دئ چي يو خاص ډول څادر ته وايي، دغه څادر تور وي او د ورېښمو څخه جوړېږي، په مخکني زمانه کي به دغه څادر په عامه توګه يهوديانو استعمالوی، په دغه حديث کي چي د کومي چپني ذکر سوې دی هغه د دغه څادر څخه جوړه سوې وه او تور رنګه وه، دغه ډول چپنه د فارس پاچا خسرو ته منسوب وه او د خسرو عربي لفظ کِسریٰ يا د ځينو په نزد کَسریٰ دی ځکه دغه چپني ته کسرواني ويل کيږي.

د دواړو څوکو څخه د چپني هغه غاړي مراد دي چي د هغه څخه ځای څخه به چپنه خلاصېدل چي يوه ترشا او يوه مخته وي لکه څرنګه چي په عامه توګه په ځينو چپنو کي د مخ او

شا لمني خلاصي وي، ددغه دوو برخو په اړه ښودل سوي دي چي په هغو کي د رېښم تارونه لګېدلي وه ، بي بي اسماء ﷺ هغه چپنه ددې لپاره را ايستلې وي چي خلکو ته ددغه نعمت او برکت د بي بي اسماء ﷺ سره کېدل معلوم سي او دا ثرګندول هم مقصد وو که چيري په چپنه کي داسي د رېښمو تارونه لګېدلي وي نو د هغه اغوستل جائز دي .

ثرګنده دي وي چي ددغه حديث څخه دا معلومېږي چي رسول الله ﷺ د رېښمو تارو والا چپنه اغوستې ده حال دا چي ددغه باب په دوهم فصل کي د حضرت عمران ابن حصين ﷺ څخه د رسول الله ﷺ دغه ارشاد نقل سوی دی چي زه داسي قميص نه اغوندم چي په هغه کي د رېښمو تارونه لګيدلي وي ، په دغه دواړو روايتو کي په ظاهره تضاد معلومېږي نو دغه تضاد ددغه توجيه په ذريعه ليري کيږي چي د حضرت عمران ﷺ روايت پر هغه صورت باندي محمول دی کله چي هغه د رېښمو تارونه تر څلورو ګوتو زيات وي او دلته چي کوم روايت نقل سوی دی نو دا تر څلورو ګوتو کم رېښمو باندي محمول دی ، يا دا چي حضرت عمران ﷺ ته د روايت منشاء د احتياط او تقوا صورت بيانول دي او د بي بي اسماء ﷺ ددغه حديث مقصد د اصل جواز ثرګندول دي .

او ددې په ذريعه شفاء تر لاسه کوي: ددې مطلب دادی چي يا خو د هغه اوبه ناروغانو ته ورکوي چي په هغه سره هغوی شفاء تر لاسه کوي يا د شفاء لپاره هغه چپنه د ناروغ پر سر او سترګو تېروي يا د هغه چپني په لاس مس کولو سره او د هغې په مچولو سره دهغه د برکت څخه شفاء تر لاسه کوي .

د ضرورت په وخت کي د رېښمو اجازه

﴿۲۱۳۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ رَخَّصَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلزُّبَيْرِ وَعَبْدِ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و حضرت زبير ﷺ او عبد الرحمن بن

الرَّحْمَنِ بن عوف فِي لُبْسِ الْحَرِيرِ لِحِكَّةٍ بِهِمَا. متفق عليه و في رواية لمسلم قَالَ اِنَّهُمَا شَكَوَا الْقَمْلَ فَرَخَّصَ لَهُمَا فِيْ قُمُصِ الْحَرِيْرِ .

عوف ﷺ ته د ورېښمو د اغوستلو اجازت ورکړی وو چي (د ښپږو په وجه به) د هغوی بدن خارش کوی . بخاري او مسلم، او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي دوی دواړو د ښپږو څخه شکايت وکړ نو رسول الله ﷺ هغوی ته د ورېښمو د قميص د اغوستلو اجازه ورکړه .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۲۹۵، رقم: ۵۸۳۹، ومسلم ۳\ ۱۶۴۶، رقم: ۲۵- ۲۰۷۶.

تشريح: په موجز کي ليکلي دي چي رېښم په اصل کي ګرم او مفرح دي او د رېښمو د جامو په اغوستلو سره شپږي ختميږي.

د کسم رنګ سوي کالي

﴿۴۱۳۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی، رسول الله ﷺ زه کله د کسم (يو

وَسَلَّمَ عَلَيَّ ثَوْبَيْنِ مُعَصْفَرَيْنِ فَقَالَ إِنَّ هَذِهِ مِنْ ثِيَابِ الْكُفَّارِ فَلَا تَلْبَسْهُمَا،

ډول ګل دي چي سور رنګ ور څخه تشکليږي) په رنګ سوي جامو اغوستلو کي وليدم نو ويې فرمايل: دا د کفارو لباس دی، دا مه اغونده.

و في رواية قلت اغسلهما قال بل احرقهما. رواه مسلم، و سنذكر حديث عائشة خرج النبي ﷺ ذات غداة في مناقب اهل بيت النبي ﷺ.

او په يوه بل روايت کي دا الفاظ دي: ما عرض وکړ چي دا پرېولم نو نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: بلکه و يې سوځه. مسلم، او ژر به د بي بي عائشې رضي الله عنها حديث: خرج النبي ﷺ: په مناقب اهل بيت کي بيان کړل سي.

تخريج: صحيح مسلم ۳\ ۱۶۴۷، رقم: ۲۷- ۲۰۷۷.

تشريح: شارحينو ليکلي دي چي د سوځلو مقصد د رسول الله ﷺ د دې خبري په مبالغې سره نول وو چي دغه جامې په هر صورت کي د خپل ملکيت او واک څخه وباسئ که هغه پر يو چا باندي وپلورئ يا يې يو چا ته هبه کړئ غرض دا چي څرنګه وي د ځان څخه يې بېل کړئ، کوم چي د دې خبري تعلق دی چي رسول الله ﷺ د هغه جامو د پرېوللو حکم ولي ونه کړ نو د هغه سبب دا وو چي په کسم کي رنګ سوې جامه که څه هم د نارينو لپاره حرام او مکروه ده مګر د ښځو لپاره مکروه نه ده نو د هغه د پرېوللو په صورت کي د خپل مال ضائع کول وو ځکه رسول الله ﷺ د ذکر سوي حکم په ذريعه د دې خبري ته اشاره وکړل چي دغه جامې خپلو ښځو ته ورکړه او که وغواړې وه يې پلورل او که وغواړي د بل چا ښځو ته يې هبه کړه چي هغوی د دغه جامو څخه ګټه تر لاسه کړي.

په يوه روايت كي داسي دي چي حضرت عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه ته په ظاهره دا حكم وركړل سو او هغه جامې وسوځلې بيا بله ورځ چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو نو د هغه په اړه يې عرض وكړ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : تا هغه جامې خپلو ښځو ته ولي ور نه كړې، ځكه د داسي جامو اغوستل د ښځو لپاره صحيح دي ، ددغه روايت پر بناء شارحينو سوځل د هغه ظاهري حكم پر خلاف محمول كړي دي او ځينو حضرات چي دا ويلي دي چي د سوځولو حكم په اصل كي د مبالغې بيانول وو چي د هغه جامو څخه د كسم رنګ ختم كړل سي مګر دغه قول د روايت له مفهوم سره هم مطابقت لري او د روايت خلاف هم دی .

څرګنده دي وي چي نارينوو ته په كسم كي رنګ سوي جامو اغوستلو په اړه د علماوو اختلاف دی ، ځيني علماء مطلق حرام ورته وايي او ځيني مباح ورته وايي او ځيني وايي كه د جامو جوړېدو څخه وروسته په كسم كي رنګ سوي وي نو د هغو اغوستل به حرام وي او كه د رنګولو څخه وروسته د هغه تېوكر جوړ سوی وي نو د هغه اغوستل به مباح وي ، ځيني حضرات وايي كه چيري د كسم بوی زائل سوی وي نو مباح دی كنه نو حرام دی، ځينو حضراتو ويلي دي چي په كسم كي رنګ سوې جامه په مجلسونو وغيره كي اغوستل مكروه دي مګر په كور كي اغوستل صحيح دي ، د حنفيه په مذهب كي مختار قول دا دی چي په كسم كي رنګ سوې جامه اغوستل مكروه تحريمي ده او په هغه كي لمونځ كول مكروه دی ، د كسم څخه پرته د بل سره رنګ په اړه اختلاف دی، شيخ قاسم حنفي رحمه الله چي د مصر په متاخرين حنفيه علماوو كي د ډېر لوی حيثيت څښتن تېر سوی دی او د قسطلاني رحمه الله استاذ دی ، هغه فتوا وركړې ده چي اصل حرمت د رنګ په سبب دی ځكه هر سور رنګه جامه د نارينوو لپاره حرامه او مكروه ده .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

قميص غوره جامه ده

﴿۴۱۳۵﴾ : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ أَحَبَّ الثِّيَابِ إِلَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَمِيصُ . رواه الترمذي و ابوداؤد.

د بي بي ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په ټولو جامو كي قميص ډېر خوښ وو . ترمذي او ابوداؤد

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۰۸، رقم: ۱۷۶۲، وابي داود ۴\۳۱۲، رقم: ۴۰۲۵.

تشريح: د قميص د خوښۍ وجه داده چي يو خو ددې په اغوستلو سره د بدن ټول اندامونه په ښه ډول پټ سي او دوهم دا چي قميص ډېر سپک او بدن ته ارام ورکونکی وي ، دريم دا چي د قميص په اغوستلو سره سړی متواضع او منکسر معلوميږي او تر ټولو لويه وجه داده چي کوم شی د رسول الله ﷺ ډېر زيات خوښ وو په هغه کي به يقينا هغه اسرار او انوار وي چي د هغه څخه پرته په بل شي کي به نه وي لکه څرنګه چي د ټولو مستحباتو حکم دی .

د لستوڼو اوږدوالی

﴿۴۱۳۶﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ كَانَ كُمُّ قميص رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الرصغ . رواه الترمذي و ابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

د بي بي اسماء بنت يزيد ﷺ څخه روايت دی چي د نبي کريم ﷺ د قميص لستوڼي تر مړونده پوري وو . ترمذي او ابوداؤد ، او په ترمذي کي دا حديث غريب ګڼل سوی دی .

تخريج: سنن الترمذي ۲۰۹\۴، رقم: ۱۷٦۵.

د لغاتو حل: الرصغ: لايتجاوز كم القميص.

تشريح: په ځينو روايتو کي د رسول الله ﷺ د قميص لستوڼي د لاسو تر ګوتو پوري هم منقول دي همدارنګه په ځينو روايتو کي د قميص اوږدوالی تر بجلکو پورته وو .

د راسته لوري څخه اغوستل

﴿۴۱۳۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَبِسَ قَمِيصًا بَدَأَ بِمَيَامِنِهِ . رواه الترمذي.

د حضرت ابو هريره ﷜ څخه روايت دی رسول الله ﷺ چي به قميص اغوستی نو د راسته طرفه به يې اغوستل شروع کول . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۲۰۹\۴، رقم: ۱۷٦٦.

تشريح: ميامن د ميمنه جمع ده چي معنی يې د راسته خوا ده ، په حديث کي د دغه لفظ د جمع په صيغې سره ځکه راوړل سوی دی چي د قميص د راسته خوا تعلق د لستوڼي او قميص تر لاندي

پورې هم د نورو شيانو لکه غاړې وغيره دي .

پرتوګ تر نيمې پونډۍ پورې

﴿۴۱۳۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا واورېدل: د

يَقُوْلُ اِزْرَةُ الْمُؤْمِنِ اِلَى اَنْصَافِ سَاقَيْهِ لَا جُنَاحَ عَلَيْهِ فِيْمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَعْبَيْنِ

مؤمن د پرتاګه غوره صورت دا دی چې هغه تر نيمه پنډۍ پورې وي ، او د نيمې پنډۍ پورې په اغوستلو کې څه ګناه نسته ليکن د دې څخه (يعني د بجلکو څخه)

وَمَا اَسْفَلَ فَفِي النَّارِ قال ذالك ثلاث مرات ولَا يَنْظُرُ اللّٰهُ يوم القيامة اِلَى

مَنْ جَرَّ اِزَارَهُ بَطَرًا . رواه ابوداؤد وابن ماجة.

لاندې ځای په دوږخ کې دی ، نبي کريم ﷺ درې وراه دا الفاظ و فرمايل ، او د قيامت په ورځ به الله جل جلاله د هغه نفرو طرف ته و نه ګوری چې د تکبر په خاطر خپل پرتوګ اوږد ساتي . ابوداؤد او ابن ماجه .

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۳۵۲، رقم: ۴۰۹۳، وابن ماجه ۲\ ۱۱۸۳، رقم: ۳۵۷۳.

اوږد قميص منع دی

﴿۴۱۳۹﴾: وَعَنْ سَالِمٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْاِسْبَالُ

حضرت سالم رضي الله عنه د خپل پلاره څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ و فرمايل : اوږد لونګ، اوږد

فِي الْاِزَارِ وَالْقَمِيْصِ وَالْعِمَامَةِ مَنْ جَرَّ مِنْهَا شَيْئًا خُيَلَاءَ لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ اِلَيْهِ

يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه النسائي و ابوداؤد وابن ماجة.

قميص او اوږده لنګوټه (په ټولو کې) ګناه ده ، څوک چې په دې کې يو شی د تکبر په وجه اوږد ساتي ، د قيامت په ورځ به خدای تعالي و هغه ته و نه ګوري . نسائي ، ابوداؤد او ابن ماجه .

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۳۴۵، رقم: ۴۰۸۵، والنسائي ۸\ ۲۰۸، رقم: ۵۳۳۴، وابن ماجه ۲\ ۱۱۸۴، رقم: ۳۵۷۶.

تشریح: اسبال یعني د جامو د شرعي اندازې څخه زیات زړولو چي کوم حرمت او کراهت منقول دی د هغه تعلق محض د ازار یعني لونګ او پرتوګ سره نه دی لکه څرنګه چي په عامه توګه خلک فکر کوي بلکه د قمیص او لنګوټې سره هم دی او هغه هم د شرعي اندازې څخه زیات زړول حرام او مکروه دي، ددغه مسئلې تفصیلي بحث په اول فصل کي د حضرت ابو هریره رضي الله عنه په روایت کي تېر سوی دی.

د صحابوو خولۍ

﴿۴۱۴۰﴾: وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ قَالَ كَانَ كِمَامُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُطْحًا. رواه الترمذي وقال هذا حديث منكر.

د حضرت ابو کبشه رضي الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ اصحابو کرامو خولۍ په سر باندي جوته (ټېنګه) پر سر کوله. ترمذي، او په ترمذي کي دا حدیث منکر دی.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۱۶، رقم: ۱۷۸۲.

د لغاتو حل: كِمام: جمع كمة وهي القلنسوة. (خولۍ)

تشریح: اکثرو شارحینو ویلي دي چي کمام په اصل کي د کمه جمع دی لکه څرنګه چي د قبه جمع قباب دی، کمه مدور یعني ګردې خولۍ ته وایي او بطح د بطحا جمع ده چي معنی یې د هوارې ډبرېني مځکي ده، په دغه صورت کي به د حدیث مطلب دا وي چي صحابه کرامو کومي خولۍ استعمالولې هغه به ګردې او خپرې وې چي د سرونو سره به موښتي وې نه دا چي په هواء کي پورته کېدونکي لوړې او پراخه، لکه چي په دغه زمانه کي ترکي او ایراني خولۍ دي.

ځینو حضراتو لیکلي دي چي کمام د کمه جمع نه ده بلکه د کم جمع ده چي معنی یې د لستوڼي ده لکه څرنګه چي د قف جمع قفاف ده، د قف معنی د لوړې مځکي ده په دغه صورت کي به د بطحا معنی د پراخ وي ځکه چي بطحا یعني هواره او ډبرینه مځکه پراخه هم وي، همدا رنګه د حدیث مطلب به دا سي چي د رسول الله ﷺ صحابه کرامو په خپلو قمیصونو کي تنګ لستوڼي نه جوړول بلکه د هغوی د قمیصونو لستوڼي به د یوه لوېشت په اندازه پراخ وه.

د ښځي پرتوګ اوږدول

﴿۴۱۴۱﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ ذُكِرَ

د بي بي ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی چي نبي كريم ﷺ د ازار (پرتوګ) ذكر وكړ، او ما عرض

الْإِزَارُ فَالْمَرْأَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ تُرْخِي شِبْرًا فقَالَتْ إِذًا تَنْكَشِفُ عَنْهَا قَالَ

وكړ اې د الله جل جلاله رسوله ! د ښځي لپاره څه حكم دی ؟(يعني د پرتوګ په هكله يې وفرمايل: د نيمي پنډۍ څخه يوه لويشت پوري دي زياتي كړي ، ما عرض وكړ كه په دې سره د ستر د لڅېدو احتمال وي ، نو وه يې فرمايل :

فَذِرَاعًا لَا تَزِيدُ عَلَيْهِ . رواه مالك و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة وفي رواية الترمذي والنسائي عن ابن عمر فقالت اذا تنكشف اقدامهن قال فيرخين ذراعا لا يزدن عليه.

يوه لويشت نور او نه دي څخه زيات)(مالک ، ابوداؤد ، نسائي او ابن ماجه) او په ترمذي او نسائي كي چي كوم حديث د ابن عمر رضي الله عنه څخه نقل سوی دی په هغه كي دا الفاظ دي چي بي بي ام سلمه رض عرض وكړ په دې صورت كي (يعني د نيمو پنډيو څخه يوه لويشت په زياتوب كي)خو د ښځو قدم به ښكاري ، نبي كريم ﷺ وفرمايل: نو يوه لويشت يې نوره زياته كړئ د دې څخه نور زيات نه.

تخريج: موطا الامام مالک ۲\ ۹۱۵، رقم: ۱۳، وابوداود ۴\ ۳۶۴، رقم: ۴۱۱۷، والنسائي ۸\ ۲۰۹، رقم: ۵۳۳۷، وابن ماجه ۲\ ۱۱۸۵، رقم: ۳۵۸۰.

خلاص ګريوان

﴿۴۱۴۲﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ عَنْ اَبِيهِ قَالَتْ اَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

حضرت معاويه بن قره رضي الله عنه د خپل پلاره څخه روايت كوي چي د مزينه قوم د يوې ټولۍ سره زه د

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ مِنْ مُزَيْنَةَ فَبَايَعوه وَإِنَّ لَمُطْلَقُ الْأَزْرَارِ فَأَدْخَلْتُ يَدَيَّ فِي جَيْبِ قَمِيصِهِ فَمَسَسْتُ الْخَاتَمَ . رواه ابوداؤد.

نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم ، هغو خلكو د نبي كريم ﷺ سره بيعت وكړ ، په دغه وخت كي د نبي كريم ﷺ د قميص تنۍ خلاصي ناست وو ، ما د نبي كريم ﷺ په ګريوان كي

لاس د ننه کړ او په مهر نبوت باندي مي لاس را تیر کړ . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۳۴۲، رقم: ۴۰۸۲.

تشريح: د رسول الله ﷺ د قمیص ګرېوان پر سینه مبارکه وو، پر دې خبره ډېر حدیثونه دلالت کوي ځکه شیخ جلال الدین سیوطي رحمه الله لیکلي دي ځیني خلک چي د سنتو د علم څخه بې خبره دي دا فکر کوي چي د قمیص ګرېوان پر سینه جوړول بدعت دی دغه قول قطعا بې بنیاده او بالکل باطل دی .

د سپیني جامې فضیلت

﴿۴۱۴۳﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ اَنَّ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَسُوا الثِّيَابَ الْبَيْضَ فَاِنَّهَا أَطْهَرُ وَأَطْيَبُ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ. رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة.

حضرت سمره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : سپیني جامې اغوندئ ځکه چي دا ډېري پاکي او په زړه پوري دي او په سپینو جامو کي خپل مړی دفن کوئ . احمد ، ترمذي ، نسائي او ابن ماجه.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\ ۱۳، والترمذي ۵\ ۱۰۹، رقم: ۲۸۱۰، والنسائي ۴\ ۳۴، رقم: ۱۸۹۶، وابن ماجه ۲\ ۱۱۸۱، رقم: ۳۵۶۷.

تشريح: سپیني جامې ته ډېره پاکه په دې اعتبار ویل سوي دي چي سپینه جامه ډېر ژر خېرنه کیږي ځکه نو هغه په وار وار او زیاته پرېولل کیږي ددې پر خلاف پر رنګینه جامه خېره نه معلومیږي ځکه نو هغه تر ډېره وخته پوري نه پرېولل کیږي ، او پاکه په دې اعتبار سره وي چي هغه په نورو رنګونو کي نه ګډیږي ، همدارنګه سپیني جامې ته ښه په دې اعتبار ویل سوي دي چي سلیم الطبع خلک سپیني جامې ته زیات راغب وي مګر د ضرورت صورت ددې څخه وتلی دی ، لکه څرنګه چي ځیني صوفیان شنه جامه یا بل رنګ جامې ددغه ضرورت په وجه اختیاروي چي هغوی د سپینو جامو په وار وار پرېوللو باندي قادر نه وي .

څرګنده دي وي چي په کفن کي سپینه جامه افضل ده ځکه چي هغه وخت مړی د ملائکو په مجلس کي حاضریږي ، لکه څرنګه چي سپینه جامه اغوستل د هغه سړي لپاره غوره دي کوم چي مجلسونو او محفلونو ته تلل غواړي د مثال په توګه د جمعې یا جماعت لپاره په مسجد کي

او د علماوو او اولياء الله د ملاقات لپاره د هغوی په خدمت كي حاضريږي مگر ځينو حضراتو ويلي دي چي په اختر كي هغه جامه اغوستل غوره دي كوم چي زياته قيمتي وي چي د الله ﷻ د وركړي نعمت زيات اظهار وكړل سي ، ددې تائيد د هغه روايت څخه هم كيږي چي په هغه كي نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ به په اخترونو او جمعې كي د سرو لېكو والا څادر پر سر كوی .

د لنگوټې ول

﴿۴۱۴۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اعْتَمَّ سَدَلَ عِمَامَتَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي كريم ﷺ به لنگوټه تړله نو شمله به يې د دواړو اوږو په مينځ كي زړوله. ترمذي، او په ترمذي كي دا حديث غريب گڼل سوی دی .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۹۷، رقم: ۱۷۳۶.

تشريح: يعني رسول الله ﷺ د لنگوټې د دواړو سرونو شمله پرېښودو سره يوه يې پر سينه او بله يې پر شا زړول ، څرگنده دي وي چي لنگوټه تړل سنت دي او د هغه په فضيلت كي ډېر زيات حديثونه نقل سوي دي بلكه په يوه روايت كي كه څه هم ضعيف دی دا نقل سوي دي چي په لنگوټه كي دوه ركعته لمونځ تر بېله لنگوټې لمانځه اوويا ركعتو لمانځه افضل دی .

څرگنده دي وي چي په لنگوټه كي شمله پرېښودل غوره دي مگر په دائمي توگه سره نه، د رسول الله ﷺ په اړه نقل سوي دي چي كله به يې شمله پرېښودل او كله به يې نه پرېښودل، همدارنگه ځيني وختونه به د رسول الله ﷺ د لنگوټې شمله تر څټ مبارك لاندي زړېدل او كله به داسي وه چي د لنگوټې يو سر به يې په لنگوټې كي وركوی او دوهم سر به يې پرېښودی، يعني د رسول الله ﷺ د لنگوټې شمله به په زياتو وختونو كي پر شا پرته وه او كله كله به راسته خوا ته هم زړېدل ، او كله بهٔ داسي هم كېدل چي د لنگوټې دواړه سرونهٔ به يې د شملې په پرېښودو سره د دواړو اوږو په مينځ كي يعني يوه پر سينه او بله شا ته زړول ، مگر چپه خوا ته زړول ثابت نه دي ځكه چي دا بدعت دی ، په كنز كي ليكلي دي چي د شملې د اوږو په مينځ كي پرېښودل مستحب دي .

لكه څرنگه چي مخكي بيان سوی دی چي د شملې اوږدوالی كم از كم يوه لوېشت او زيات تر زيات د يوه لاس برابر كېدل پكار دي تر دې زياته شمله پرېښودل بدعت دی او د هغه حكم

خلاف ورزي ده چي د هغه په ذريعه د اسبال او اسرافو څخه منع سوې ده كه چيري د ټاكلي سوي حد څخه زيات اوږدوالی د غرور او تكبر په توګه وي نو حرام به وي كنه نو مكروه او د سنت خلاف كار به وي، محدثينو ليكلي دي چي د شملې پرېښودل يوازې د لمانځه د وخت سره مختص كول هم د سنت خلاف دی ، څرګنده دې وي چي شمله پرېښودل په فقهي اعتبار سره مستحب ده چي د هغه تعلق د سنت زائده سره دی د سنت هدی سره نه دی ځكه د شملې په پرېښودو كي څه ګناه يا خرابي نسته كه څه هم په اختيارولو كي يې ثواب او فضيلت دی ، كومو حضراتو چي د شملې پرېښودو ته سنت مؤكد ويلي دي د هغوی دا قول د تحقيق او روايت خلاف دی .

﴿۴۱۴۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ عَمَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَدَلَهَا بَيْنَ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي كريم ﷺ و ما ته لنګوټه را وتړله نو د هغې شمله يې زما مخ او شا دواړو طرفو ته و زړوله يعني و دواړو طرفو ته يې د دواړو سرونو شمله پرېښوده . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۴۱، رقم: ۴۰۷۹.

لنګوټه پر خولۍ تړل د مسلمان امتيازي علامه ده

﴿۴۱۴۶﴾: وَعَنْ رُكَانَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَرْقُ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْمُشْرِكِينَ الْعَمَائِمُ عَلَى الْقَلَانِسِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب واسناده ليس بالقائم .

د حضرت ركانه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زموږ او د مشريكانو ترمنځ فرق دادی چي هغوی بېله رخچيني لنګوټه تړي او موږ يې د رخچيني سره تړو. په ترمذي كي دا حديث غريب ګڼل سوی دی . او ابوداؤد د دې اسناد قائم نه بولي .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۱۷، رقم: ۱۷۸۴.

تشريح: دغه حديث ابوداؤد هم روايت كړی دی مګر هغه سكوت اختيار كړی دی يعني هغه دا

نه دي ويلي چي ددغه حديث اسناد صحيح نه دي نو کېداى سي چي ددغه حديث اسناد د اصل په اعتبار صحيح وي يا د دواړو يعني ترمذي او ابوداؤد د نقل کولو په وجه صحيح والى ورته تر لاسه سوى وي ، په هر حال د حديث د عبارت دوې معناوي کېداى سي يو خو دا چي موږ مسلمانان پر خوليو باندي لنګوټه تړو او مشرکان بېله خولۍ لنګوټه تړي او دوهم دا چي موږ پر خوليو لنګوټه تړو او مشرکان بالکل لنګوټه نه تړي ، شارحينو ليکلي دي چي ددغه دواړو معناوو څخه لومړى معنى مراد ده ځکه چي په هغه زمانه کي زياتو مشرکانو لنګوټې تړلې مګر د هغوى خولۍ پر سر کول ثابت نه دي ، که څه هم ملا علي قاري رحمة الله عليه د حذري رحمة الله عليه څخه نقل کړي دي چي دواړي معناوي هم مراد کېداى سي او هغه ويلي دي چي د ځينو علماوو د قول مطابق سنت دا دى چي خولۍ او لنګوټه استعمال کړل سي يوازي خولۍ پر سر کول د مشرکانو نښه ده .

د ښځو لپاره سره زر او ريښم حلال دي

﴿۴۱۴۷﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُحِلَّ الذَّهَبُ وَالْحَرِيرُ لِإِنَاثِ من أُمَّتِي وَحُرِّمَ عَلَى ذُكُورِهَا . رواه الترمذي والنسائي و قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت کي د ښځو لپاره سره زر او وريښم حلال سوي دي او په نارينه ؤ باندي حرام سوي دي . ترمذي او نسائي،او په ترمذي کي دا حديث حسن دى .

تخريج: سنن الترمذي ۱۸۹\۴، رقم: ۱۷۲۰، والنسائي ۱۶۱\۸، رقم: ۵۱۴۸.

تشريح: د خلکو په لفظ کي هلکان هم داخل دي ، هلکان مکلف نه دي ځکه د هغوى په اړه ددغه شيانو د حرمت تعلق به پر اغوستلو والا وي ، که يو کوچني رېشم يا د سرو زرو زېورات اغوندي نو د هغه ګناه به د هغه پر سرپرست وي ، او د سرو زرو څخه مراد د سرو زرو ګېڼې دي کنه نو د سرو او سپينو زرو د لوښو استعمال ځرنګه چي د نارينوو لپاره حرام دى همدارنګه د ښځو لپاره هم حرام دى همدارنګه د سپينو زرو حلال کېدل هم يوازي د ښځو سره خاص دى پر ته د هغه مقدار څخه چي د خلکو لپاره هم حلال دى لکه ګوتمى او داسي نور .

د جامو اغوستلو دعاء

﴿۴۱۴۸﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دى چي كله به رسول الله ﷺ

إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاسْمِهِ عِمَامَةً أَوْ قَمِيصًا أَوْ رِدَاءً ثُمَّ يَقُولُ اللّٰهُمَّ لَكَ

نوي جامې اغوستلې نو د هغې نوم به يې اخيستى يعني دا لنګوټه ده دا قميص دي يا دا پټو دى بيا به يې فرمايل: اللهم......ما صنع له (اې الله! تا لره

الْحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ

وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ . رواه الترمذي وابوداؤد.

تعريف دى چي تا ماته دا جامه را وا غوستل، زه ستا څخه د دې جامې خير غواړم او د هغه شي خير غواړم چي د كوم غرض لپاره دا جامه جوړه سوې ده او د دې د شر څخه او د هغه شي د شر څخه ستا په ذريعه پناه غواړم چي د هغه لپاره دا جوړه سوې ده).

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۱۰، رقم: ۱۷۶۷، وابوداود ۴\۳۰۹، رقم: ۴۰۲۰.

تشريح: د نوو جامو اغوستلو په اړه ابن حبان، خطيب او بغوي رحمة الله عليهم نقل كړي دي چي رسول الله ﷺ به كله د نوو جامو اغوستلو اراده وكړه نو هغه به يې د جمعې په ورځ اغوستل. د هغه چي به څه نوم وو ....الخ: يعني رسول الله ﷺ به د هغه جامې نوم اخيستى كه هغه به جامه وه يا لنګوټه، يا قميص يا څادر وغيره، په ذكر سوې جمله كي د ثوب څخه عموميت مراد دى او په خاصه توګه د كومو جامو ذكرچي سوى دى هغه محض د مثال په توګه دى.

﴿۴۱۴۹﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ

د حضرت معاذ بن انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي

أَكَلَ طَعَامًا ثم قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا الطعام وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ

طعام وخوري او دا ووايي: الحمدلله......... ولاقوة (ټول تعريفونه د هغه خداى لپاره دي چي هغه په ما دا طعام وخوړى او دا طعام يې ماته پرته

حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. رواه الترمذي. وزاد ابوداؤد

د حیلې او قوت را رسولی دی)نو د هغه مخکني (ټول) ګناهونه ور بخښي. ترمذي. او په ابوداؤد کي دا الفاظ زيات دي،

مَنْ لَبِسَ ثَوْبًا فَقَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ.

څوک چي جامه واغوندي او دا ووايي: الحمد لله الذي كساني هذا و رزقنيه من غير حول مني و لاقوة نو د هغه ټول مخکني او وروستني ګناهونه ور بخښي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۴۷۴، رقم: ۳۴۵۸، وابوداود ۴\ ۲۱۰، رقم: ۴۰۲۳.

زړې جامې مه غورځوئ

﴿۴۱۵۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يا عائشة!

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دی چي يوه ورځ نبي کريم ﷺ ماته وفرمايل: اې عائشې!

ان أَرَدْتِ اللُّحُوقَ بِي فَلْيَكْفِكِ مِنَ الدُّنْيَا كَزَادِ الرَّاكِبِ وَإِيَّاكِ وَمُجَالَسَةَ

که ته زما سره په دنيا او اخيرت کي يو ځاي کېدل غواړې نو ته د دنيا څخه دومره اخله څومره چي د يوه سپاره لپاره کافي وي د دولتمندو د خبرو څخه ليري اوسېږه

الْأَغْنِيَاءِ وَلَا تَسْتَخْلِقِي ثَوْبًا حَتَّى تُرَقِّعِيهِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث صالح بن حسان وقال محمد بن اسماعيل صالح بن حسان منكر الحديث.

او جامه تر هغه وخته پوري د زوړتيا په خاطر مه غورځوه تر څو پوري چي هغه د اغوستلو قابله وي. ترمذي دا روايت کړی او ويلي يې دي چي دا حديث غريب دی. موږ ته يوازيدا د صالح بن حسّان څخه معلوم دی، محمد بن اسماعيل ويلي چي صالح بن حسّان منكر الحديث دی.

تشریح: چي د سپاره سړي د لاري د توښې برابر وي: د دغه ارشاد په ذریعه رسول الله ﷺ ددې خبري ترغیب ورکړی دی چي انسان باید د دنیا پر دومره شیانو باندي قناعت وکړي چي د هغه د ژوند او مقصد حیات لپاره ضروري وي، په دغه جمله کي د سپاره سړي تخصیص کېدای سي ددې لپاره وي چي هغه خپله لار په تېزي سره پرې کوي او منزل ته رسیږي چي د هغه په وجه هغه ته لږ د لاري توښه هم بس وي، د هغه پر خلاف پیاده سړی ځکه چي هغه ته د لاري توښه زیاته اخیستل پکار دي.

د شتمنو کسانو د ناستي څخه د ځان ساتني حکم ځکه ورکړل سوی دی چي د شتمنو خلکو مجلس د دنیا او دنیا د لذتونو په وجه په خواهشاتو کي د زیاتوب او په لهب او لعب کي د بوختیا باعث جوړیږي ځکه الله ﷻ فرمایي: (لا تمدن عینیک ...)، په یوه روایت کي نقل سوي دي چي یوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل: د مړو د ناستي څخه پرهیز کوئ، وویل سول چي اې د الله رسوله! هغه کوم خلک دي چي هغوی ته مړه ویل کیږي، او د هغوی د ناستي څخه د ځان ساتني تلقین فرمایل کیږي، رسول الله ﷺ وفرمایل: شمتن خلک.

تر څو چي ته هغه د پېوند ور وګنې: ددې مطلب دادی که جامه زړه او شیري سي نو د هغه څخه بې پرواهي مه کوه او هغه مه ضائع کوه بلکه د هغه په پېوند لګولو سره کم از کم یو وار نوره استعمال کړه، ددې ارشاد په ذریعه ددې خبري تلقین سوی دی که د چا سره شیري سوي زړې جامې وي نو د زهد او قناعت تقاضا داده چي د ستر پټولو لپاره پر هغه اکتفاء وکړل سي، د حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ په اړه نقل سوي دي چي هغه د خپل خلافت په زمانه کي کله چي هغه ته د دنیا د یو عظیم حکمران حیثیت حاصل وو یوه ورځ په داسي حالت کي خطبه وفرمایل چي کوم لونګ یې تړلی وو په هغه کي دوولس پینې لګیدلي وې.

﴿۴۱۵۱﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ اِيَاسِ بْنِ ثَعْلَبَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا تَسْمَعُونَ اَلَا تَسْمَعُونَ إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو امامه رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا تاسو نه اورئ؟ ایا تاسو نه اورئ؟ چي سادګي د ایمان علامه ده، سادګي د ایمان علامه ده. په دغه حدیث کي د سادګۍ مطلب زړې جامې اغوستل دي چي د هر زیب او زینت پکښې نه وي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۹۳، رقم: ۴۱۶۱.

د لغاتو حل: تستخلقي: اى لاتعديه خلقا وهو نقيض استجد. (خيرنول)

تشريح: مطلب دادی چي د جامو په اړه د زيات تکلف او پابندۍ څخه کار اخيستل د ښځو په ډول خپل ځان ښکلی کول او هر وخت د ښکلا خيال ساتل د مسلمان سړي شان نه دی، که الله جَلَّ جَلَالُهُ د ښو جامو اغوستلو توان ورکړی وي نو ښېله شکه په خپلو جامو کي د شرعي حدودو دننه د نفاست خيال ساتل او په جائزه طريقه سره ښه جامې اغوستل څه بده خبره نه ده مګر کله نا کله زړې جامې اغوستل هم غوره دي، خلاصه دا چي په جامو کي تواضع او انکساري اختيارول او د دنيا د زيب او زينت څخه ځان ساتل د اهل ايمانو د عاداتو څخه دی او د حسن ايمان علامه ده ځکه چي د آخرت پر زينتونو باندي ايمان راوړل د دغه زهد او قناعت سبب کېږي.

ګران بيه جامه نه ده پکار

﴿۴۱۵۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ شُهْرَةٍ فِي الدنيا أَلْبَسَهُ اللّٰهُ ثَوْبَ مَذَلَّةٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي و احمد وابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي په دنيا کي د شهرت جامه اغوندي (يعني هغه جامې چي په هغه کي د تکبر او لويي اظهار کيږي) خدای تعالي به د قيامت په ورځ د ذلت لباس په واغوندي. ترمذي، احمد، ابوداؤد او ابن ماجه.

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۱۳۹، وابوداود ۴\۳۱۴، رقم: ۴۰۲۹، وابن ماجه ۲\۱۱۹۲، رقم: ۳۶۰۶.

تشريح: مطلب دادی چي کوم څوک د خپل عزت او لوئي د اظهار په غرض ښه جامې اغوندي يعني د هغه مقصد دا وي چي خلک زما پر بدن باندي د ښه جامو په ليدو سره زما عزت وکړي او ما ته شهرت او لويي تر لاسه سي نو داسي سړي ته به الله تعالی د قيامت په ورځ ذليل او حقير جامې ور واغوندي يعني هغه به د هغه جامو په ذريعه ذليل او بې عزت کړي، ددې څخه دا خبره معلوميږي چي کوم څوک د الله تعالی د رضا لپاره په دنيا کي داسي جامې واغوندي چي د هغه څخه تواضع او بې نفسي معلوميږي نو هغه ته به الله تعالی په آخرت کي د عزت او عظمت جامې ور واغوندي.

ځيني حضرات وايي چي د شهرت د جامو څخه مراد هغه حرامي جامې دي چي د هغو اغوستل مباح نه دي، ځينو ويلي دي چي هغه جامې مراد دي چي د فقيرانو او مسكينانو د ذليل او خوار كولو او د هغوی د زړه ماتولو په غرض د غرور او لويي لپاره يې واغوندي، ځينو دا هم ويلي دي چي هغه جامې مراد دي چي د تمسخر او مزاق له مخي يعني د خلكو د خندولو لپاره يې اغوندي، يا هغه جامې مراد دي چي د خپل زهد د اظهار لپاره يې اغوندي، همدارنګه ځيني حضرات وايي چي په حديث كي اعمال په جامو سره تعبير سوی دی يعني مراد دادی چي كوم څوک د ريا لپاره يعني محض د ښوونې لپاره ښه اعمال كوي چي د هغه په وجه د دنيا والاوو په نظر كي هغه ته شهرت او عزت تر لاسه سي نو د قيامت په ورځ به د هغه حشر دا وي، په هر حال د حديث د سياق په لېدو سره دا خبره ښه ويل كيږي چي هغه مراد او مطلب زيات صحيح دی كوم چي مخكي بيان سوی دی.

د بل قوم مشابهت

﴿۲۱۵۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ. رواه احمد وابوداؤد.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د يوه قوم مشابهت اختيار كړي نو هغه د هغه قوم څخه دی. احمد او ابوداؤد

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۵۰، وابوداود ۴\۳۱۴، رقم: ۴۰۳۱.

تشريح: مطلب دادی چي كوم څوک د كوم قوم او ډلي مشابهت اختيار وي هغه ته به د هغه قوم په ډول خير او معصيت تر لاسه كيږي، د مثال په توګه يو سړی د خپلو جامو او طرز په ذريعه د يو كافر قوم يا فاسقانو او فاجرانو خلكو مشابهت اختيار كړي نو د هغه په عمل نامه كي به هغه ګناه ليكل كيږي كوم چي د هغه كافرانو خلكو يا فاسقانو او فاجرانو ته وركول كيږي، همدارنګه كه يو سړی خپل ځان د علماوو، مشائخو او اولياء الله پر نمونه جوړوي د هغوی په ډول جامې اغوندي، د هغوی طريقې خپلوي او د هغوی په ډول عمل كوي نو هغه به د خير او سعادت په اعتبار د هغوی په ډله كي وشمېرل سي، د دغه ارشاد الفاظ ډېر جامع دي چي د هغه په دائره كي ډېري خبري او ډېر شيان راځي يعني د مشابهت مفهوم د عموميت حامل دی، مشابهت كه په اخلاقو كي وي او كه په افعالو او كردار كي وي او كه په جامو كي هستوګنه كي

وي يا په خوراک او څښناک، ناسته او ولاړه کي وي د ټولو همدغه حکم دی.

د زينت جامه پرېږدئ

﴿۴۱۵۴﴾: وَعَنْ سُوَيْدِ بْنِ وَهْبٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَبْنَاءِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ

حضرت سويد بن وهب رضي الله عنه د يوه صحابي د زوی او هغه بيا د خپل پلاره څخه روايت کوي چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَكَ

رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د زينت جامه پرېږدي

لُبْسَ ثَوْبِ جَمَالٍ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهِ، وفي رواية تَوَاضُعًا كَسَاهُ اللَّهُ حُلَّةَ الْكَرَامَةِ

په داسي حال کي چي د هغه توان او طاقت لري، او په يوه بل يوه روايت کي راځي، څوک چي د زينت لباس د تواضع او عاجزي په طور پرېږدي خداي تعالی به و هغه ته د لويي او عظمت لباس ور واغوندي

وَمَنْ تَزَوَّجَ لِلَّهِ تَعَالَى تَوَّجَهُ اللَّهُ تَاجَ الْمُلْكِ. رواه ابوداؤد و روى الترمذي منه عن معاذ بن انس حديث اللباس.

او څوک چي د خداي تعالی لپاره نکاح وکړي خداي تعالی به و هغه ته د باچاهی تاج ور په سر کړي. ابوداؤد. او په ترمذي کي دده څخه او د معاذ بن انس رضي الله عنه څخه حديث د لباس روايت کړ.

تخريج: سنن ابي داود ۱۳۸\۵، رقم: ۴۷۷۸.

تشريح: د حديث د اولي برخي مطلب دادی چي کوم څوک د ښه جامو اغوستلو توان لري مګر د هغه سربېره يا خو د الله تعالی د بيري په وجه يا په آخرت کي د لوړي مرتبي په اميد يا د دنيا د زينت د حقير ګڼلو په وجه د ښو جامو اغوستل پرېږدي نو الله تعالی به هغه په دنيا او آخرت کي د عزت او عظمت په دولت سره ونازوي.

د الله تعالی د رضا لپاره د نکاح کولو مطلب دادی چي هغه د يو داسي ښځي سره نکاح وکړي چي نه خو د هغه سره په کفو او عزت کي برابره وي او نه شتمنه وي او هغه سړی چي د هغه ښځي سره محض د دې لپاره نکاح وکړي چي هغه د الله تعالی رضا غوښتل يا هغه خپل نفس د بدو کارو څخه ساتل غوښتل يا د هغه مقصد د دين ساتنه او د نسل بقاء وي.

هغه ته به الله تعالی د پاچاهۍ تاج ورکړي: ددې مطلب دادی چي الله تعالی به هغه ته ددغه عمل په بدله کي په جنت کي د پاچاهۍ د عزت او عظمت تاج ور پر سر کړي، او یا دغه جمله د عزت او توقیر څخه کنایه ده یعني الله تعالی به هغه ته په دنیا او آخرت کي عزت او توقیر ورکړي. د روایت د آخري الفاظو مطلب دادی چي امام ترمذي رحمه الله دغه حدیث د معاذ ابن انس رضی الله عنه څخه نقل کړی دی او یوازي هغه برخه یې نقل کړې ده چي په هغه کي د جامو ذکر دی، د حدیث دوهمه برخه چي په هغه کي د نکاح ذکر دی هغه یې نه دی نقل کړی.

د الله تعالی نعمت څرګند کړئ

﴿۴۱۵۵﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ أَنْ يَرَى أَثَرَ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ. رواه الترمذي.

حضرت عمرو بن شعیب رضی الله عنه د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل پلاره څخه روایت کوي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل: د خدای تعالی دا خبره ډېره خوښه ده چي د هغه د نعمتو اثر د هغه په بندګانو کي ښکاره سي. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵/ ۱۱۴، رقم: ۲۸۱۹.

تشریح: مطلب دادی چي کله الله تعالی یو بنده ته مادي نعمت ورکړي نو باید چي هغه ظاهر کړي د مثال په توګه هغه د خپل حیثیت سره سم او د مبالغې او اسراف حد ته د رسېدو څخه پرته ښه جامې واغوندي مګر د هغه داسي کول د غرور او تکبر په جذبه سره نه وي بلکه د شکر ادا کولو په نیت سره وي چي فقیرانو او اړ کسان د هغه څخه د زکوة او صدقو اخیستلو لپاره رجوع وکړي، ددې څخه معلومه سوه چي د الله تعالی ورکړي نعمتونه پټول ښه نه دي بلکه د کفران نعمت یعني ناشکرۍ سبب دی، همدارنګه که چیري الله تعالی یو بنده ته روحاني نعمت لکه د علم او فضیلت دولت ورکړی وي نو هغه باید د خلکو په وړاندي د دغه نعمت اظهار وکړي چي خلک د هغه څخه ګټه تر لاسه کړي، که چیري دا سوال پیدا سي چي په ذکر سوي حدیث کي د زینت او ښکلا پرېښودو ته ترغیب ورکړل سوی دی او په دغه حدیث کي د ښه جامو په ذریعه د زیب او زینت اختیارولو تلقین ورکړل سوی دی، په دغه صورت کي د دواړو حدیثو په مینځ کي چي کوم اختلاف محسوس کیږي د هغه د دفع لپاره څه توجیه ده؟ نو ددې جواب دادی چي د ذکر سوي حدیث تعلق د هغه صورت سره دی کله چي د ښه جامو اغوستلو توان نه وي نو په هغه

صورت کي د زينت ترک کولو ته رغبت ورکړل سوی دی که يو سړي ته په يو وخت کي د ښه جامو ضرورت پېښ سي او د هغه توان نه لري نو ددې مقصد د تکميل لپاره غير موزون تکلف کولو سره او د ناروا زحمت زغملو سره د ښو جامو تر لاسه کولو هڅه دي نه کوي بلکه د صبر او استقامت لار دي اختيار کړي ددې پر خلاف کوم څوک چي د ښه جامو اغوستلو توان لري او هغه ددې سربېره د زينت پر ترک باندي خيرني او زړې جامې اغوندي نو دا څه خبره نه ده ځکه چي د هغه دغه عادت په اصل کي پر بخل او سستۍ باندي محمول دی.

وريښتان او جامه سم ساتئ

﴿۴۱۵۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَائِرًا فَرَأَى

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زموږ د ليدو يا زموږ سره د کښېنستلو

رَجُلًا شَعِثًا قَدْ تَفَرَّقَ شَعْرُهُ فَقَالَ مَا كَانَ يَجِدُ هَذَا مَا يُسَكِّنُ بِهِ رَأْسَهُ وَرَأَى

لپاره موږ ته تشريف راوړ، نبي کريم ﷺ يو سړی وليدي چي د هغه وريښتان ببر او ګډوډ وه، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ايا دا سړی ته هغه شی حاصل نه دی چي په هغه سره خپل وريښتان سم کړي بيا يې

رَجُلًا عَلَيْهِ ثِيَابٌ وَسِخَةٌ فَقَالَ مَا كَانَ يَجِدُ هَذَا مَا يَغْسِلُ بِهِ ثَوْبَهُ. رواه احمد والنسائي.

يو بل سړی وليدي چي د هغه جامې خيرني وې نبي و فرمايل: ايا دې سړي ته هغه شی نه حاصليږي چي په هغه سره خپل جامې پرېولي. احمد او نسائي.

تخريج: مسند الامام احمد ۳\۳۵۷، والنسائي ۸\۱۸۳، رقم: ۵۲۳۶.

تشريح: ددغه حديث څخه څرګنده سوه چي د بدن پاکي او نفاست او د جامو پاکوالی د رسول الله ﷺ په نزد خوښ وو او ددې برعکس يې ناخوښه وو، دغه شيان د تهذيب او ښکلا نښه هم دي او د اسلام د روح د پاکۍ عين مطابق هم دي، نو ددغه ارشاد (البذاذة من الايمان) يعني د جامو سادګي او د زينت پرېښودل د ايمان نښه ده، ددې څخه مراد پر غټو جامو باندي قناعت کول دي ځکه نو دا خبره د ذکر سوي روايت خلاف نه ده او نه د هغه نظافت او پاکۍ خلاف ده چي د هغه په باره فرمايل سوي دي چي: (انها من الدين) يعني نظافت او پاکي د دين يو برخه ده.

د الله ﷻ نعمت پر ځان څرګند کړئ

﴿۴۱۵۷﴾: وَعَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابو الاحوص رضي الله عنه د خپل پلاره څخه روايت کوي چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر

وَعَلَيَّ ثَوْبٍ دُونٍ فَقَالَ لِيْ أَلَكَ مَالٌ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ مِنْ اَيِّ الْمَالِ قلت مِنْ كُلِّ

سوم هغه وخت زما پر بدن باندي خيرني جامې وې، نبي کريم ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه ايا ستا سره مال سته؟ ما عرض وکړ هو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: څه ډول مال سته؟ ما عرض وکړ،

الْمَالِ قَدْ آتَانِي اللهُ مِنَ الْإِبِلِ والبقر وَالْغَنَمِ وَالْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ قَالَ فَإِذَا

اوښان هم سته او پسونه هم، اسان او غلامان هم، نبي کريم ﷺ وفرمايل: کله چي خداي تعالى

آتَاكَ اللهُ مَالًا فَلْيُرَ أَثَرُ نِعْمَةِ اللهِ وَكَرَامَتِهِ. رواه النسائي و في شرح السنة بلفظ المصابيح.

درته مال درکړي نو د الله ﷻ د نعمت اثر په ځان کي ښکاره کړه او هغه چي تاته کوم نعمت او عزت درکړي هغه څرګند کړه. نسائي او په شرح السنة کي د مصابيح الفاظ دي.

تخريج: مسند الامام احمد والنسائي ۸\۱۹۶، رقم: ۵۲۹۴.

تشريح: مطلب دادی چي کله الله تعالى تا ته دومره مال درکړی دی او ته ښه جامې اغوستلای شې نو بيا ښه جامې اغونده چي خلکو ته معلومه سي چي ته شتمن يې او الله تعالى تا ته خپل نعمتونه درکړي دي، په شرح السنه کي ليکلي دي چي دا خبره (يعني د الله تعالى د نعمت اظهارکول) په پاکو او نوو جامو اغوستلو سره تر لاسه کيږي، په شرط ددې چي هغه جامې د خپل حيثيت او توان سره سم وي او دا چي دومره نازکي نه وي چي د هغه څخه منع سوې ده او نه دومره زياتي ښه وي چي په هغه سره د بې ځايه شان او شوکت اظهار وي، همدارنګه د هغه جامې لاندي بل جامه يعني د يوې سربېره بله جامه يې نه وي اغوستې، نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ به د جامو په اړه د دواړو شهوتونو څخه منع فرمايل يعني نازکي جامې، لوی جامې، کلکي جامې، اوږدي جامې او د کوچنۍ جامې څخه هم مګر دا چي هغه جامه د درمياني درجې وي. شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله ليکلي دي: د جامو زړېدل او په هغو کي پېنه لګېدل يو

غوره او محمود کار دی او د ایمان د افعالو څخه دی په شرط ددې چې محض د الله تعالی د رضا لپاره وي او په دنیا کي د زهد، فقر، تواضع او انکساری اختیارول په مخلصانه جذبه سره وي او که د حیثیت او توان سربېره وي نود بخل او سستی په وجه به وي او دې ته به قبیح او بد عمل وایي.

د نارینه لپاره سرې جامې حرامې دي

﴿۲۱۵۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ مَرَّ رَجُلٌ وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَحْمَرَانِ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې یوه سړي دوې سرې جامې اغوستي وې د نبي کریم ﷺ سره تیر سو او نبي کریم ﷺ ته یې سلام ادا کړ، نبي کریم ﷺ د هغه د سلام جواب ورنه کړ. ترمذي او ابوداؤد

تخريج: سنن الترمذي ۵\۱۰۷، رقم: ۲۸۰۷، وابوداود ۴\۳۳۶، رقم: ۴۰۶۹.

تشريح: دغه حدیث په ښکاره پر دې دلالت کوي چې د نارینوو لپاره د سرو جامو اغوستل حرام دي او دا حدیث پر دې هم دلالت کوي چې کوم څوک منع کار کوي او هغه سلام ادا کړي نو د هغه د سلام جواب ورکولو او د عزت ورکولو وړ نه دی لکه څرنګه چې مخکي هم بیان سوی دی، پر ریښمینو جامو باندي ناسته هم د صاحبینو او درې سره امامانو په نزد مکروه ده مګر د امام اعظم ابوحنیفة رحمه الله په نزد جائز ده، همدارنګه د وریښمو تلتک هم مکروه دی مګر د ریښمو بالښت او بستره باندي بېده کېدل د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد جائز دي او د صاحبینو په نزد مکروه دي.

خوشبويي

﴿۲۱۵۹﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا

د حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه

أَرْكَبُ الْأُرْجُوَانَ وَلَا أَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ وَلَا أَلْبَسُ الْقَمِيصَ الْمُكَفَّفَ بِالْحَرِيرِ

د ارغواني (سور، نارنجي، سور رنګ یو ښائسته ګل چې خوند یې خوږوړي وي) رنګه په زین پوښ باندي نه سپرېږم، په ژړ یا سور رنګ رنګ کړي جامې نه اغوندم، او چې لستوڼي،

ګرېوان او لمن يې ګنډلي وي په رېشمو هغه قميص نه استعمالوم،

وَقَالَ أَلَا وَطِيبُ الرِّجَالِ رِيحٌ لَا لَوْنَ لَهُ أَلَا وَطِيبُ النِّسَاءِ لَوْنٌ لَا رِيحَ لَهُ.

رواه ابوداؤد،

بيا يې وفرمايل: اګاه سئ! په خوشبويي د سړي کي به يوازي بوي وي رنګ به نه وي او د ښځو خوشبوئي دي رنګداره وي، خوشبوئي دي پکښي نه وي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۲۴، رقم: ۴۰۴۸.

د لغاتو حل: الارجوان: وسادة صغيرة حمراء تتخذ من حرير (کوچنی د ورېښمو بالښت)

تشريح: (أرجُوان): د الف په پېښ او دراء په سکون سره، معنی يې د سره رنګ رېشمو ځين دی، مطلب دادی چي زه د سپرلۍ پر داسي حيوان باندي نه سپرېږم چي د هغه زين يا پالان باندي د رېشمو جامه وي، په نهايه کي ليکلي دي چي ارجوان په اصل کي د ارغوان معرب دی او ارغوان هغه درختي ته وايي چي د هغه ګل سور رنګه وي او کوم رنګ چي د هغه ګل مشابه وي لکه نارنجي نو هغه ته هم ارجوان وايي، په قاموس کي ليکلي دي چي ارجوان سره رنګ ته وايي، په هر حال د ملا علي قاري رحمه الله د وينا مطابق په حديث کي د ارجوان څخه مراد سره جامه ده که هغه د رېشمو وي يا غير ريشمو وي، دغه ارشاد د خپل مفهوم په اعتبار سره دغه حکم په زيات تاکيد سره څرګندوي چي نارينوو ته د سرو جامو اغوستلو څخه ځان ساتل پکار دي که څه هم پر سپرېدو باندي د اغوستلو اطلاق نه کيږي مګر ددې سربېره رسول الله ﷺ به پر سره زين باندي د سپرېدو څخه ځان ساتی نو د سره رنګ جامو اغوستلو څخه يې په طريقه اولی ځان ساتی.

او نه زه داسي قميص اغوندم ...الخ: ددې مطلب دادی چي زه داسي قميص يا چپنه وغيره نه اغوندم چي په هغه کي د رېشمو تار د څلورو ګوتو څخه زيات وي يا دا چي دغه ارشاد پر تقوا او احتياط باندي محمول دی.

چي په هغه کي رنګ وي مګر خوشبويي نه وي: ددې مطلب دادی چي ښځي ته د خپل کور څخه د وتلو په وخت کي داسي شی استعمالول صحيح نه دی چي په هغه کي خوشبويي وي مګر په کور کي دننه د هغه په استعمال کي څه پروا نسته.

په حديث کي چي د خوشبويي په اړه څه فرمايل سوي دي د هغه ظاهري اسلوب بيان د خبر دی مګر په معنی کي امر يعني حکم دی، مطلب هغه دی کوم چي په ترجمه کي هم څرګند سوی

دی، چي نارينه كومه خوشبويي استعمالوي په هغه کي دي رنګ نه وي ، ددې پر خلاف ښځي چي كومه خوشبويي استعمالوي په هغو کي دي خوشبويي نه وي، همدارنګه د شمائل ترمذي په يوه روايت کي داسي دي چي د نارينو خوشبويي بايد داسي وي چي د هغه څخه خوشبويي راوځي مګر د هغه رنګ ښکاره نه وي او د ښځو خوشبويي بايد داسي وي چي د هغه رنګ ظاهر وي مګر د هغه څخه خوشبويي نه راوځي ، ددغه روايت مطلب هم هغه دی کوم چي مخکي بيان سوی دی چي ښځو ته د کور وتلو په وخت کي داسي خوشبويي استعمال نه دي پکار چي د هغه بوی خپرېږي ځکه که چيري دا مطلب نه واخيستل سي نو د عبارت مفهوم به غير واضح سي چي هيڅ خوشبويي بېله بوي په نسي کيدای ، په دغه صورت کي هغه طرف ته د خوشبويي نسبت به غير ضروري او بې ګټي وي او که دا وويل سي چي ځيني خوشبويي داسي هم وي چي په هغه کي بوی بالکل نه وي او د ښځو لپاره د داسي خوشبويي استعمال جائز سوی دی نو دا خبره به بالکل غير حقيقي او غير صحيح وي .

د لسو خبرو ممانعت

﴿۴۱۶۰﴾ : وَعَنْ أَبِي رَيْحَانَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَشْرٍ

د ابو ريحانه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د لسو شيانو څخه منعه کړېده :

عَنِ الْوَشْرِ وَالْوَشْمِ وَالنَّتْفِ وَعَنْ مُكَامَعَةِ الرَّجُلِ الرَّجُلَ بِغَيْرِ شِعَارٍ وَعَنْ

(۱)-د غاښونو نو د تيره کولو څخه . (۲)- په بدن کي د خالو د وهلو څخه . (۳)- د وربېښتانو د کښلو څخه . (۴)- د نارينه او نارينه د يو ځاي پرېوتلو څخه چي په مېنځ کي پرده حائله نه

مُكَامَعَةِ الْمَرْأَةِ الْمَرْأَةَ بِغَيْرِ شِعَارٍ وَأَنْ يَجْعَلَ الرَّجُلُ فِي أَسْفَلِ ثِيَابِهِ حَرِيرًا

وي .(۵)- د ښځي او ښځي د يو ځاي پرېوتلو څخه چي په مېنځ کي پرده نه وي .(۶)- او د دې څخه منعه کړې ده چي نارينه د خپلو جامو لاندي د وربېښمنو استر ولګوي څنګه چي د عجمو خلک يې لګوي .(۷)- يا په اوږو باندي

مِثْلَ الْأَعَاجِمِ وَعَنِ النُّهْبَى وَعَنْ رُكُوبِ النُّمُورِ وَلُبُوسِ الْخَاتَمِ إِلَّا لِذِي سُلْطَانٍ .رواه ابوداؤد والنسائي.

د عجميانو په شان وريښم لګوي. (۸)- د لوټ څخه (۹)- د ښرموښ د پوست زين باندي د سپرېدو څخه. (۱۰) د ګوتمۍ په لاسول خو دا د يوه حاکم لپاره جائزه ده. ابوداؤد او نسائي.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۲۵، رقم: ۴۰۴۹، والنسائي ۸\۱۴۳، رقم: ۵۰۹۱.

د لغاتو حل: الوشر: تحديد الاسنان وترقيق اطرافها. الوشم: وهو ان يغرز الجلد بابرة ثم يحشى بكحل او نيل فيزرق. النتف: اى نتف النساء الشعور من وجوهنن. مكامعة: اى مضاجعة الرجل صاحبه في ثوب واحد لاحاجز بينهما.

تشريح: په عربو کي دا رواج وو چي سپين سرو ښځو به د پېغلو ښځو سره د مشابهت اختيارولو لپاره د خپلو غاښونو څوکي تېزولې او نرۍ کولې، رسول الله ﷺ ددې څخه منع وفرمايل، همدارنګه يو رواج دا هم وو چي ښځو به د خپل بدن ځيني برخي په ستنې سره د نېل يا رانجو څخه ډکولې لکه څرنګه چي دلته د کافرانو هم دا رواج دی چي د بدن يو برخه په خاصه توګه لاسو باندي نومان وغيره ليکي، رسول الله ﷺ ددې څخه هم منع وفرمايل.

د وېښتانو کښلو څخه د منع کولو مطلب دادی چي د زينت او ښکلا لپاره د ږيري او سر سپين وېښتان کښل منع دي يا دا چي د ښځو لپاره د خپل مخ يعني بارخوګانو څخه وېښتان کښل منع دي، ددغه شيانو د منع وجه داده چي اول خو په دې سره د الله تعالی په تخليق کي تغير کول لازميږي دوهم دا چي دغه شيان د زينت او ښکلا لپاره د بې ځايه او خراب ډول تکلفاتو کېدو باعث دی، که څه هم د زينت او ښکلا لپاره ښځو ته دا جائز دی مګر دا ډول بد تکلفات د هغوی لپاره هم منع دي، ځينو حضراتو دا هم ويلي دي چي دلته د وېښتانو کښلو څخه مطلب دادی چي د يو پېښي او مصيبت په وخت کي د جذباتو په مغلوب کېدو سره د خپل سر او ږيري وېښتان شکول منع دي.

د نارينه د نارينه سره بېده کېدل ... الخ: د حديث د ظاهري مفهوم سره سم مطلب دادی چي دوه نارينه دي په يوه څادر (يا تلتک وغيره) کي داسي نه بېديږي چي دواړه لوڅ وي، يا د هغوی يو ازي ستر پټ وي نو داسي کول بالکل منع دي، يا دا هم کېدای سي چي ددغه منع تعلق يو ازي د هغه صورت سره وي کله چي د دواړو ستر هم پټ نه وي، دغه دواړه احتماله د ښځو په اړه هم دي، که د دوو ښځو داسي بېده کېدل د فتنې او شر بېره وي نو په دغه صورت کي څرګنده خبره ده چي داسي کول بالکل منع دي، او که د فتنې او شر بېره نه وي نو بيا هم دغه صورت د تهذيب او ادب خلاف دی او د بې حيايۍ او بې شرمۍ کار دی.

نارينه لره د خپلو جامو لاندي د رېشمو استر لګولو مطلب دادی چي د رېشمو جامه د سړي

لپاره اغوستل بالكل حرام دي كه څه هم هغه جامه د داسي لباس په صورت كي وي چي د هغه سربېره ورېښم وي او لاندي استريې د رېشمو وي، يا د هغه سربېره برخه د رېشمو وي او لاندي استريې د ورېښم وي او صحيح قول دادی .

پر اوږو باندي د رېشمو جامو اچولو مطلب دادی چي قميص ، چپنه يا بله جامه پر اوږو باندي د سنجاف په توګه د رېشمو جامه لګول يا د رېشمو كار كول په داسي صورت كي جائز دی كله چي د هغه اندازه تر څلور ګوتو پوري وي ، تر څلور ګوتو زيات منع دي ، او كيدای سي چي د دغه جملې څخه مراد دا وي چي پر اوږو باندي د پټو په ډول د تكبر او غرور لپاره د رېشمو جامه اچول منع دي .

د شرموښ د پوست پر زين باندي د سپرېدو څخه ځكه منع فرمايل سوې ده چي په دې كي د متكبرينو مشابهت دی ، ځينو مشائخو ويلي دي چي د حيوانانو او درندګانو پر پوست باندي په ناسته سره د هغه حيوانانو او درندګانو خاصيت په انسان كي سرايت كوي .

مګر دا چي هغه د حكومت څښتن وي: لكه پاچا ، قاضي ، حاكم وغيره، خلاصه دا چي د مهر والا ګوتمۍ بېله ضرورته محض د زينت او ښكلا لپاره په ګوته كول مكروه تنزيهي دي، او ځيني حضرات وايي چي دغه حكم منسوخ دی په دې دليل چي د حضرت عمر ﷛ او نورو خلفاوو په زمانه كي صحابهٔ كرامو د مهر والا ګوتمۍ په ګوته كولې او هيڅا مخالفت نه كوی.

د نارينه لپاره سره زر او رېښم

﴿۴۱۶۱﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نَهَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ وَعَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَالْمَيَاثِرِ. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة و في رواية لابي داؤد وقال نهي عن المياثر الارجوان.

د حضرت علي ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زه منعه كړم د سرو زرو د انګشترۍ څخه او قسی څخه او د مياثر څخه (قسّی :- مصری جامه چي سوتي وي ليكن په هغه كي ورېښمني كرښي وي او مياثر :- سور زين پوښ ته وايي) . ترمذي ، ابوداؤد ، نسائي او ابن ما جه. او د ابوداؤد په يوه روايت كي دادي چي رسول الله ﷺ د سور رنګ پوښ څخه منع فرمايلې ده .

تخريج: سنن الترمذي ۴ \ ۱۹۸، رقم: ۱۷۳۷، وابوداود ۴ \ ۲۲۷، رقم: ۴۰۵۱، والنسائي ۸ \ ۱۶۶، رقم: ۵۱۶۵، وابن ماجه ۲ \ ۱۲۰۵، رقم: ۳۶۵۴، و رواية ابي داود الموضع السابق.

تشريح: د نارينوو لپاره د سرو زرو ګوتمۍ په ګوته کول د څلورو امامانو په نزد حرام دي، او کوم چي ددې خبري تعلق دی چي ځينو صحابه کرامو لکه حضرت طلحه، حضرت سعد او حضرت صهيب رضي الله عنهم په اړه نقل سوي دي چي هغوی د سرو زرو ګوتمۍ په ګوته کول نو د هغه تعلق د هغه زمانې سره دی کله چي د غه حرمت جاري سوی نه وو.

قسي هغه جامې ته وايي چي د مصر په يو ښار (قس) کي جوړېدلې، ځيني حضرات وايي چي قسي يو خاص ډول جامې ته وايي چي په هغو کي د ربښمو ليکي وې، په دغه صورت کي به ددغه منع تعلق د احتياط او تقوا په وجه پر نهي تنزيهي وي، حضرت ابن ملک رحمه الله ويلي دي: د ذکر سوي منع تعلق د هغه صورت سره دی چي کله جامه ټوله د ربښمو وي يا په هغه کي د ربښمو کار سوی وي، په دغه صورت کي به دغه منع پر نهي تحريمي وي، طيبي رحمه الله ويلي دي: قسي هغه جامې ته وايي چي هغه د کتان وي چي په هغو کي ربښم هم ګډ سوي وه،

مياثر د مثيره جمع ده چي سره زين پوښ ته وايي او هغه به په عامه توګه د ربښمو وو، ددغه منع تعلق د هغه صورت سره دی کله چي هغه د ربښمو وي مګر دغه احتمال هم کيدای سي چي ددغه منع تعلق د هغه د سوتي کېدو د صورت سره هم دی، په دغه صورت کي دغه منع به د بې ځايه شان او شوکت او غرور کي د اخته خلکو د مشابهت مظهر کېدو په وجه د نهي تنزيهي په توګه وي.

پر کوم زين سپرېدل منع دي

﴿۴۱۶۲﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَرْكَبُوا الْخَزَّ وَلَا النِّمَارَ. رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت معاويه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په ربښمنو جامو او د شرموښ د پوستکي پر زين باندي مه سپرېږئ. ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\ ۳۷۲، رقم: ۴۱۲۹، لم نجده عند النسائي.

د لغاتو حل: الخز: هو ثوب يتخذ من وبر. النمار: کساء مخطط.

تشريح: خز په تېره زمانه کي هغه جامو ته ويل کېدل چي د اُون او ربښمو په يو ځای کولو سره جوړېدل، يو ډول خاص د ربښمو جامې ته هم خز وايي، که د خز څخه مراد هغه جامه وي چي په هغه کي وړی او ربښم دواړه وي نو هغه د عجميانو د مشابهت په وجه چي د تکبر له موخي به

يې خز پر زين اچوی، دغه منع به د نهي تنزيهي په توګه وي ځکه چي د دغه خز اغوستل مباح دي، صحابه کرامو او تابعينو به دغه اغوستل، او که د خز څخه مراد خاص د ريشمو جامه وي نو بيا دغه منع به پر نهي تحريمي يعني د حرمت په توګه وي ؛ څرګنده دي وي چي په يو بل روايت کي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد نقل سوی دی چي په اخره زمانه کي به داسي خلک پيدا سي چي خز او د ريشمو جامې به حلال ګڼي نو په دغه روايت کي د خز څخه هغه خاص د ريشمو جامې مراد دي ، علماوو ليکلي دي چي د نبوت په زمانه کي د دغه جامو (يعني هغه خز چي د خاصو ريشمو وو) وجود نه وو، په دغه صورت کي به دغه ارشاد د رسول الله ﷺ پر معجزې محمول وي چي رسول الله ﷺ د يو داسي جامې په اړه خبرداری ورکړ چي په ډېره وروسته زمانه کي به په وجود کي راسي .

د سور زين پوښ څخه منعه

﴿۴۱۶۳﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمِيْثَرَةِ الْحَمْرَاءِ . رواه في شرح السنة

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د سره زين د پوښ څخه منعه کړې ده . شرح السنه

تخريج: شرح السنة ۱۲\۵۸، رقم: ۳۱۳۰.

د نبي کريم ﷺ دوه ريښتانو سپينوالی

﴿۴۱۶۴﴾: وَعَنْ أَبِي رِمْثَةَ التَّيْمِيِّ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ

د حضرت ابو رمثه تيمي ﷺ څخه روايت دی چي زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او نبي کريم ﷺ دوې شنې جامې اغوستي وې

ثَوْبَانِ أَخْضَرَانِ وَلَهُ شَعْرٌ قَدْ عَلَاهُ الشَّيْبُ وَشَيْبُهُ أَحْمَرُ . رواه الترمذي وفي رواية لأبي داود: وهو ذو وفرة وبها ردع من حناء .

او د نبي کريم ﷺ په وريښتانو باندي يو څه سپين ږيره واله غالب سوي وه يعني ږيره يې سپينه سوې نه وه خو سوروالي ته مائله وه ترمذي، او د ابوداؤد په روايت کي دي چي نبي کريم ﷺ

صاحب د (وفر) وو او هغه رنګ د نکريزو وو . (وفرة د سر وروېښتانو ته ويل کيږئ چې د غوږو تر نرميو پورې رسيږي) .

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۱۱۰، رقم: ۲۸۱۲، وابوداود ۴\ ۳۳۴، رقم: ۴۰۶۵.

تشريح: د رسول الله ﷺ د سپينو وېښتانو په اړه مختلف روايتونه نقل سوي دي، په يوه روايت کې د حضرت انس ﷛ بيان دی چې ما د رسول الله ﷺ د سر او ږيرې وېښتان وشمېرل نو هغه تر شورلسو زيات نه وه، همدارنګه په يو بل روايت کې د اووه لس شمېر راغلی دی.

(وفره) د سر هغه وېښتانو ته وايي چې د غوږو تر نرميو پورې وي، رسول الله ﷺ وفره والا وو، ددې مطلب دادی چې د رسول الله ﷺ د سر وېښتان د غوږو تر نرمۍ پورې وه،

د رسول الله ﷺ سپين ږېرتوب سور وو: ددې مطلب دادی چې رسول الله ﷺ وېښتان په نکرېزو سره کړي وه، ځينو حضراتو ويلي دي چې د سره سپين ږېرتوب څخه مراد دادی چې هغه څو وېښتان هم بالکل سپين نه وه بلکه سره وه لکه څرنګه چې په عامه توګه لېدل کيږي چې کله وېښتان سپين کيږي نو هغه مخکې خړ وي او بيا سپين سي.

او کوم چې د رسول الله ﷺ د خضاب (نکرېزو) لګولو تعلق دی نو په دې اړه د محدثينو او فقهاوو په مينځ کې اختلاف دی چې رسول الله ﷺ نکرېزي لګولي دي که يا؟ اکثر محدثين وايي چې رسول الله ﷺ نکريزي نه دي لګولي او نه د رسول الله ﷺ سپين ږېرتوب د سپينو وېښتانو دغه حد ته رسيدلی وو چې رسول الله ﷺ ته د نکريزو لګولو ضرورت محسوس سوی وای، لکه څرنګه چې د حديثو څخه ثابته ده، او بيا د رسول الله ﷺ چې څو سپين وېښتان وه نو د هغو حالت هم دا وو چې کله به رسول الله ﷺ په سر مبارک کې تېل ولګول نو د هغو وېښتانو د تېل والی به هم نه څرګندېدی، او کله چې به يې سر مبارک بېله تېلو وو نو هغه سپين وېښتان به څرګندېدل، ددې پر خلاف فقهاء ددې خبرې ثابتولو هڅه کوي چې رسول الله ﷺ به نکريزي لګولې، ددې تفصيل د فقهي په کتابو کې تر لاسه کيدای سي، محدثين ددغه حديث په اړه وايي چې ددغه حديث څخه دا مفهوم اخيستل کيږي چې کوم سپين وېښتان وه رسول الله ﷺ به يوازې پر هغه نکريزي لګولې مګر دا هم کيدای سي چې رسول الله ﷺ پر هغه وېښتانو باندې په قصد سره نکريزي نه لګولې بلکه د هغه صورت دا وو چې رسول الله ﷺ به د خپل وېښتانو پرېوللو او پاکولو لپاره کله کله په سر کې نکريزي اچولې، په دې وجه به هغه سپين وېښتان رنګين کېدل، په يوه روايت کې دا نقل سوي دي چې د حضرت انس ﷛ سره کوم وېښته مبارک

وو هغه لېدونکو ته داسي معلومېدی لکه په نکریزو چي وهل سوی وي، په دې باره کي محدثین دا وايي چي بېله شکه پر هغه وېښتانو د نکریزو اثر وو مگر هغه نکریزي رسول الله ﷺ نه وې لګولې بلکه د هغه حقيقت دا وو چي حضرت انس رضی الله عنه د ادب او تبرک په توګه هغه وېښته په خوشبويي کي اچولی وو ځکه هغه د خوشبويي په اثر د نکريزو مشابه معلومېدی، يا دا هم کېدای سي چي خپله حضرت انس رضی الله عنه د هغه وېښتانو د ساتني او ټينګوالي لپاره پر هغه نکريزي لګولي وې، همدارنګه په ځينو رواياتو کي دا نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ به کله سرې نکريزي لګولې او کله ژړې، ددې حقيقت هم دادی چي رسول الله ﷺ به د خپل ږيري مبارکي پاکي لپاره نکريزي استعمالوې او کله به يې په زعفرانو سره پرېولل، د ږيري مبارکي وېښتان يې په خپله تور وه همدارنګه په پرېوللو سره رنګين سول.

پر سرو ليكو والا پټو لمونځ

﴿۴۱۶۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ شَاكِيًا فَخَرَجَ يَتَوَكَّأُ عَلَى أُسَامَةَ وَعَلَيْهِ ثَوْبُ قِطْرٍ قَدْ تَوَشَّحَ بِهِ فَصَلَّى بِهِمْ. رواه في شرح السنة

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ ناروغ وو يوه ورځ پر اسامه رضی الله عنه باندي په تکيه وهلو سره د باندي راووت او په دې وخت کي نبي کريم ﷺ سرو ليکو والا پټو پر ځان راګرزولی وو او نبي کريم ﷺ اصحابو کرامو ته لمونځ ورکړ. شرح السنه

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۲\۲۲، رقم: ۳۰۹۲.

تشريح: قطر يو ډول څادر ته وايي چي په هغه کي سرې ليکي وې، ځيني حضرات وايي چي د کومي جامې ذکر سوی دی هغه د قطر وه چي د بحرين په سيمه کي د يو کلي نوم دی، په دغه مناسبت سره دغه جامې ته قطري ويل سوي دي، حضرت انس رضی الله عنه چي د کومي پېښي ذکر کړی دی دا د هغه وخت پېښه ده چي رسول الله ﷺ په مرض الموت کي وو، دا د رسول الله ﷺ آخري لمونځ وو چي د صحابه کرامو سره يې په مسجد نبوي کي ادا کړ، په روايت کي نقل سوي دي چي هغه وخت ابوبکر صديق رضی الله عنه صحابه کرامو ته لمونځ ورکول پېل کړي وه چي رسول الله ﷺ د ناروغۍ او کمزورۍ په وجه د اسامه رضی الله عنه په مرسته د حجرې مبارکي څخه راووتی او مسجد ته راغلی او د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه په څنګ کي کښېنستی او لمونځ يې ورکړ، ددغه پېښي پوره تفصيل په کتاب الصلوة باب الامامت کي تېر سوی دی.

﴿۴۱۶۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ عَلَى النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَوْبَانِ قِطْرِيَّانِ

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى چې نبي كريم ﷺ د قطر د ځاي كلكي غټې جامې اغوستى

غَلِيظَانِ وَكَانَ إِذَا قَعَدَ فَعَرِقَ ثَقُلَا عَلَيْهِ فَقَدِمَ بَزٌّ مِنَ الشَّامِ لِفُلَانِ الْيَهُودِيِّ

وى كله چې به نبي كريم ﷺ ډېر كښېښستى او خوله په وربانديې راغله نو هغه جامې په درنې سوې (په دې ورځو كې) يوه يهودي د شام څخه رخت راوړى

فَقُلْتُ لَوْ بَعَثْتَ إِلَيْهِ فَاشْتَرَيْتَ مِنْهُ ثَوْبَيْنِ إِلَى الْمَيْسَرَةِ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ فَقَالَ

ما عرض وكړ كه تاسو څوك وليږى او د پراخي په وعده باندې (يعني د مال د راتلو يا د زر نقد رسولو په وعده) دوې جامې را وغواړئ (نو بهتره به وي) نبي كريم ﷺ يو سړى ور وليږى، يهودي هغه ته وويل،

قَدْ عَلِمْتُ مَا تُرِيدُ إِنَّمَا تُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِمَالِي أَوْ بِدَرَاهِمِي فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ

ستا اراده ماته معلومه ده ته غواړې چې زما مال و خورې (په ظاهره د دې الفاظو مخاطب هغه سړيوو ليكن په حقيقت كې د هغه مراد نبي كريم ﷺ وو) هغه سړى چې واپس راغى نو د يهودي الفاظ يې بيان كړه،

ﷺ كَذَبَ قَدْ عَلِمَ أَنِّي مِنْ أَتْقَاهُمْ وَآدَاهُمْ . رواه الترمذي والنسائي.

نبي كريم ﷺ و فرمايل: هغه درواغجن دى او د دې څخه خبر دى (په تورات كې دا خبره معلومه ده چې نبي كريم ﷺ ډېر پرهيزګاره دى) چې زه د خداي تعالى څخه تر ټولو خلكو زيات بېرېږم او د امانتو په بنه ډول سره ادا كونكي يم. ترمذي او نسائي.

تخريج: سنن الترمذي ۳\۵۱۸، رقم: ۱۲۱۳، والنسائي ۷\۲۹۴، رقم: ۴۶۲۸.

تشريح: د دغه حديث څخه څرګنده سوه چې رسول الله ﷺ غټې جامې اغوستي وې مګر د هغه جامې په وجه چې رسول الله ﷺ ته تكليف سو نو د خپل ارام په وجه يې د بلې جامې په پور رانيولو اراده وكړه، همدارنګه د دغه حديث څخه د هغه يهودي شقاوت هم څرګند سو چې هغه د رسول الله ﷺ سره څومره بغض او نفرت درلودى.

سرې جامې د ښځو لپاره جائز دي

﴿۴۱۶۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ رَآنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د عبد الله بن عمر بن عاص رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ زه په داسې حال کې ولیدم

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيَّ ثَوْبٌ مَصْبُوغٌ بِعُصْفُرٍ مُوَرَّدٌ فَقَالَ مَا هٰذَا فَعَرَفْتُ مَا كَرِهَ

چې ما د مصبوغ عصفر (سور رنګه) ګلابي جامه اغوستې وه، نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه دا څه دي؟ زه پوه سوم چې نبي کريم ﷺ دا خوښه نه کړه

فَانْطَلَقْتُ فَأَحْرَقْتُهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا صَنَعْتَ بِثَوْبِكَ فَقُلْتُ

زه سمدستي بيرته راغلم او هغه جامه مې وسوزل (دويم وار د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سوم نو) نبي کريم ﷺ راڅخه پوښتنه وکړه چې تا د هغه سرې جامې سره څه وکړه؟ ما ورته وويل:

أَحْرَقْتُهُ قَالَ أَفَلَا كَسَوْتَهُ بَعْضَ أَهْلِكَ فَإِنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ لِلنِّسَاءِ. رواه ابوداؤد

هغه مې وسوځلې، نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: تا په خپل کورنۍ کې په يو ښځې ولې وانه غوستلې ځکه چې د ښځو لپاره د دې ډول جامو اغوستل ګناه نه لري. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۳۵، رقم: ۴۰۶۸.

د سرو ليکو والا څادر

﴿۴۱۶۸﴾: وَعَنْ هِلَالِ بْنِ عَامِرٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَأَيْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى يَخْطُبُ عَلَى بَغْلَةٍ وَعَلَيْهِ بُرْدٌ أَحْمَرُ وَعَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَمَامَهُ يُعَبِّرُ عَنْهُ. رواه ابوداؤد.

حضرت هلال بن عامر رضي الله عنه د خپل پلاره څخه روايت کوي، چې ما په منی کې رسول الله ﷺ په خطبه ويلو باندې وليدی، نبي کريم ﷺ هغه وخت په قچره باندې سپور وو، سره ليکې داره جامه يې پر بدن وه، حضرت علي رضي الله عنه يې و مخته ولاړ وو او د نبي کريم ﷺ الفاظ يې تکرارول (ځکه چې ګڼه ګوڼه زياته وه). ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۳۸، رقم: ۴۰۷۳.

د لغاتو حل: يعبر: اى يبلغ عنه الكلام الى الناس.

تشريح: هلته د خلکو ډېر رش وو او د رسول الله ﷺ اواز مبارک په مجمع کي ليري خلکو ته نه رسيدی ځکه حضرت علي رضي الله عنه به د رسول الله ﷺ الفاظ په لوړ اواز خلکو ته رسول.

تور څادر

﴿۴۱۶۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ صُنِعَتْ النبي اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُرْدَةً سَوْدَاءَ فَلَبِسَهَا فَلَمَّا عَرِقَ فِيهَا وَجَدَ رِيحَ الصُّوفِ فَقَذَفَهَا. رواه ابوداؤد.

د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی، چي د رسول الله ﷺ لپاره تور څادر تيار سو، نبي کريم ﷺ هغه استعمال کړ، کوم وخت چي ورته خوله راغله او د هغې بوئ د وړيو خپور سو نو نبي کريم ﷺ هغه ليري کړ. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۳۹، رقم: ۴۰۴۷.

د نبي ﷺ د ناستي طريقه

﴿۴۱۷۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْتَبٍ بِشَمْلَةٍ وَقَدْ وَقَعَ هُدْبُهَا عَلَى قَدَمَيْهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم، نبي کريم ﷺ دواړي ګونډې درولي وې او ګونډئې په پټو باندي تړلي وې چي د هغه زوړندوالي د نبي کريم ﷺ په پښو مبارکو باندي پرېوتل. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۳۹، رقم: ۴۰۷۵.

تشريح: محتبٍ بشملة هغه ناستي ته وايي چي د کوناټو پر مځکه اېښودو سره پښې ودرول سي او د مرستي لپاره دواړه لاسونه يا يو څادر پر پښو چاپېره کړي.

نازک ټوکر

﴿۴۱۷۱﴾: وَعَنْ دِحْيَةَ بْنِ خَلِيفَةَ قَالَ أُتِيَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبَاطِيَّ

د حضرت دحیه بن خلیفه رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ته قباطي (مصری جامه چي سپینه او نازکه وه) تانونه راوړل،

فَأَعْطَانِي مِنْهَا قُبْطِيَّةً فَقَالَ اصْدَعْهَا صَدْعَيْنِ فَاقْطَعْ أَحَدَهُمَا قَمِيصًا وَأَعْطِ

په هغه کي یوه قبطي (تان) ماته هم راکړ او راته یې وفرمایل: دا دوې ټکړې کړه د یوې ټکړې څخه قمیص جوړ کړه او ورکړه

الْآخَرَ امْرَأَتَكَ تَخْتَمِرُ بِهِ فَلَمَّا أَدْبَرَ قَالَ وَأْمُرْ امْرَأَتَكَ أَنْ تَجْعَلَ تَحْتَهُ ثَوْبًا لَا يَصِفُهَا. رواه ابوداؤد.

دویمه ټکړه و خپلي بي بي ته، هغه به و څان ته پوړنی جوړ کړي، کوم وخت چي زه راتلم نو نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: و خپلي بي بي ته دا هدایت وکړه چي د دې لاندي دي یوه بله جامه واغوندي چي د سر وړېښتان او بدن یې ښکاره نه سي. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود: ۱۴\۳۶۳، رقم: ۴۱۱۶.

تشریح: قباطي د قبطیه جمع ده، قبطیه یو خاص ډول جامې ته وایي چي سپینه وي او په مصر کي به جوړېدل، د دغه حدیث څخه معلومه سوه چي ښځو ته د داسي جامو اغوستل چي تر هغه لاندي بدن معلومیږي نو هغه باید یوازي هغه جامه نه واغوندي بلکه د هغه لاندي یوه بله جامه هم واغوندي چي بدن یې ښکاره نسي.

د پوړني طریقه

﴿۴۱۷۲﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَهِيَ تَخْتَمِرُ فَقَالَ لَيَّةً لَا لَيَّتَيْنِ. رواه ابوداؤد.

د بي بي ام سلمه رضی الله عنها څخه روایت دی، چي نبي کریم ﷺ د هغې کره تشریف راوړ هغه وخت د هغې پوړنی پر سر وو، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: پر سر د پوړني یو پېچ کافي دی، د دوو ضرورت نسته. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد: ۱۴\۳۶۳، رقم: ۴۱۱۵.

د لغاتو حل: لیة: ای لغة.

تشریح: مطلب دادی چې د پوړنې پر سر او ترغاړې لاندې یو ول واچوه دوه وله مه ورکوه چې اسراف ونسي او د نارینوو د پټو مشابهت هم ونسي، دا هم کیدا یسي (بلکه زیات صحیح هم دادی) چې دلته د ول څخه مراد پر سر څادر اچول وي لکه څرنګه چې د پخوانۍ زمانې د عربو ښځو رواج وو، چې هغوی به خپل سر د عصابه په ډول جامه اچول، رسول الله ﷺ څرګنده کړه چې د پوړنې یو پیچ کافي دی، پوړنۍ پر سر باندې ډېر مه پیچې چې د اسراف صورت پیدا نسي او د نارینوو د پټو مشابهت لازم نسي، ددې څخه معلومه سوه چې د ښځو لپاره دا صحیح نه دي چې هغوی د نارینوو په ډول جامه واغوندي او د هغوی مشابهت اختیار کړي لکه څرنګه چې د نارینوو لپاره د ښځو په ډول جامه اغوستل او د ښځو مشابهت اختیارول صحیح نه دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

پرتوګ تر نیمي پنډۍ پوري

﴿۴۱۷۳﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَرَرْتُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي إِزَارِي

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې زه د رسول الله ﷺ سره روان وم او زما پرتوګ

اسْتِرْخَاءٌ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ ارْفَعْ إِزَارَكَ فَرَفَعْتُهُ ثُمَّ قَالَ زِدْ فَزِدْتُ فَمَا زِلْتُ

زړېدی نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: اې عبدالله! خپل پرتوګ پورته کړه، ما یو څه اندازه پورته کړ ددې څخه وروسته ما همېشه

[أتحـ]ـرَّاهَا بَعْدُ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ إِلَى أَيْنَ قَالَ لِيْ أَنْصَافِ السَّاقَيْنِ. رواه مسلم

د نبي کریم ﷺ د ارشاد مطابق خپل پرتوګ پورته تړی، ځینو خلکو پوښتنه ځیني وکړه چې څومره یې پورته کول ویلي وه ده وویل د پنډیو تر نیمي پوري. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱۶۵۳/۳، رقم: ۴۷-۲۰۸۶.

تشریح: اتحراها: دلته ضمیر په اصل کې فعله (چې محذوف دی) ته راجع دی، او ترجمه یې ددې مطابق سوې ده، مګر په څرګنده دا معلومېږي چې ددې ضمیر رفعه اخیره ته راجع دی، په دغه صورت کې به ترجمه دا وي چې زه همېشه دې خبرې ته متوجه یم چې زما لونګ دې د رسول الله ﷺ د خوښې سره سم لوړ وي، په هر حال مطلب په دواړو صورتو کې یو دی.

د پرتوګ تړلو طریقه

﴿۴۱۷۴﴾: وَعَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د تکبر څخه خپله جامه (پرتوګ) کښته کړي

يَنْظُرِ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِزَارِي يَسْتَرْخِي إِلَّا

د قیامت په ورځ به خداي تعالی هغه ته نه ګوري، حضرت ابو بکر رضي الله عنه عرض وکړ، اې د الله جل جلاله رسوله! که زه د خپل پرتوګ خاص خیال و نه کړم

أَنْ أَتَعَاهَدَهُ فَقَالَ لَهُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّكَ لَسْتَ مِمَّنْ يَفْعَلُهُ خُيَلَاءَ. رواه البخاري

نو هغه اکثره کښته کیږي، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: ته د تکبر په وجه داسي نه کوې (یعني ته د هغو خلکو څخه نه یې چي تکبر کوي) بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۹۱۷، رقم: ۳٦٦۵.

تشریح: مطلب دادی چي لونګ یا پرتوګ بېله قصد او ارادې زړول په شرعي توګه تاواني نه وي په خاصه توګه د هغه سړي په اړه چي هغه غرور او تکبر نه لري مګر غوره دادي چي په هر صورت متابعت اختیار کړل سي، ددغه حدیث څخه معلومه سوه چي د لونګ او پایڅو تر بجلکو لاندي کولو د حرمت اصل تکبر او غرور دی.

﴿۴۱۷۵﴾: وَعَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ رَأَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَأْتَزِرُ فَيَضَعُ حَاشِيَةَ إِزَارِهِ مِنْ

د عکرمه رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما ابن عباس رضي الله عنه په داسي لنګ تړلو باندي لیدلي دی چي د

مُقَدَّمِهِ عَلَى ظَهْرِ قَدَمِهِ وَيَرْفَعُ مِنْ مُؤَخَّرِهِ قُلْتُ لِمَ تَأْتَزِرُ هٰذِهِ الْإِزْرَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتَزِرُهَا. رواه ابوداؤد.

هغه مخکني برخه په قدمونو پرته وه او د شا برخه به یې پورته وه، ما ورته وویل، ته لنګ داسي ولي تړې؟ هغه وویل، ما رسول الله ﷺ په داسي لنګ تړلو باندي لیدلي دی. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۵۴، رقم: ۴۰۹۶.

تشريح: ددې څخه معلومه سوه که لونګ يا پرتوګ مخته زړېدلی وي مګر د شا له خوا تر بجلکو پورته وي نو عدم اسبال يعني تر بجلکو لاندي کېدو د حکم د تعميل لپاره کافي دی.

د لنګوټي تړلو حکم

﴿۴۱۷۶﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِالْعَمَائِمِ فَإِنَّهَا سِيمَاءُ الْمَلَائِكَةِ وَأَرْخُوْهَا خَلْفَ ظُهُوْرِكُمْ. رواه البيهقي.

د حضرت عباده ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :تاسو لنګوټه تړئ ځکه چي لنګوټه تړل د ملائکو علامه ده او د لنګوټي شمله خپل د شا طرف ته پرېږدئ. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۵\۱۷۶، رقم: ۶۲۶۲.

د ښځو لپاره نرۍ جامه منعه ده

﴿۴۱۷۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ دَخَلَتْ عَلَى رَسُوْلِ

د بي بي عائشي ﷦ څخه روايت دی چي بي بي اسماء(رض) د ابوبکر ﷛ لور د نبي کريم ﷺ

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَقَالَ يَا أَسْمَاءُ

په خدمت کي حاضره سوه، هغه وخت د هغې پر بدن باندي نازکه جامه وه، رسول الله ﷺ د هغې څخه مخ واړوی او ويې فرمايل :اې اسماء!

إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ لَمْ تَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلَّا هٰذَا وَهٰذَا وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وَكَفَّيْهِ. رواه ابوداؤد.

کله چي ښځه بالغه سي ،نو د هغې سره نه ښائي چي ددې اندامونه دي وليدل سي نبي کريم ﷺ خپل مخ او دواړو لاسونو ته اشاره وکړه. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود: ۴\۳۵۷، رقم: ۴۱۰۴.

تشريح: مطلب دادی چي د ښځو لپاره د شرعي پردې حد دادی چي هغه د خپل مخ او لاسونو څخه پرته پاته ټول اندامونه پټ کړي مګر د شرم او حجاب تقاضا داده چي په دغه حالت کي هم

د كور څخه دباندي وتلو په صورت كي خلكو ته په مخ ورنسي چي د هغه پوره بدن پرته د مخ او لاسو څخه پټ وي بلكه كه چيري وتل ضروري وي مخ او لاسو نه دي هم پټ كړي ، د دغه حديث څخه معلومه سوه كه چيري ښځه يوه داسي نري جامه اغوستې وي چي د هغه لاندي د هغې بدن معلوميږي نو هغه به د لوڅي په حكم كي وي .

د نوو جامو اغوستلو دعاء

﴿۴۱۶۸﴾: وَعَنْ أَبِي مَطَرٍ أَنَّ عَلِيًّا اشْتَرَى ثَوْبًا بِثَلَاثَةِ دَرَاهِمَ فَلَمَّا لَبِسَهُ قَالَ

د حضرت ابو مطر رضي الله عنه څخه روايت دی چي حضرت علي رضي الله عنه په دري درهمه يوه جامه رانيول ، كوم وخت چي يې واغوستل نو يې وويل :

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي رَزَقَنِي مِنَ الرِّيَاشِ مَا أَتَجَمَّلُ بِهِ فِي النَّاسِ وَأُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي ثُمَّ قَالَ هَكَذَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ. رواه احمد.

الحمد لله ..... به عورتي . ټول ثنا او صفت و الله جل جلاله ته دي چي ماته يې د زينت جامې را كړې او زه د خلكو په مينځ كي د دې د زينت اظهار كوم او په دې سره خپل ستر پټوم بيا يې وويل ، ما داسي د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دا اوريدلي دي . احمد

تخريج: مسند الامام احمد ۱\۱۵۷.

د لغاتو حل: الرياش: ما ظهر من اللباس.

﴿۴۱۶۹﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ لَبِسَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ثَوْبًا جَدِيدًا

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی چي حضرت عمر بن خطاب نوي جامې واغوستلې او

فَقَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي مَا أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي ثُمَّ

دا يې وويل : الحمد لله ..... في حيوتي (ټول تعريفونه خداي تعالي لره دي چي ما ته هغه جامې را واغوستلې چي زه ورسره خپل ستر پټوم او خپل ژوند ته ورباندي ښائست وركوم)

قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ لَبِسَ ثَوْبًا جَدِيدًا فَقَالَ

بيايې وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي څوک چي نوي جامې واغوندي او دا

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي مَا أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي ثُمَّ عَمَدَ إِلَى

ووايي : الحمد لله الذي كساني ما اواري به عورتي و اتجمل به في حياتي . او بيا هغه جامه

الثَّوْبِ الَّذِي أَخْلَقَ فَتَصَدَّقَ بِهِ كَانَ فِي كَنَفِ اللَّهِ وَفِي حِفْظِ اللَّهِ وَفِي سَتْرِ اللَّهِ حَيًّا وَمَيِّتًا. رواه احمد والترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب

چي د بدن څخه يې كښلې وي (يعني زاړه كالي) صدقه كړي نو هغه په ژوند كي هم او د مرګ څخه وروسته هم د خداي تعالى په پناه او پرده كي وي. احمد ، ترمذي او ابن ماجه، ترمذي ويلي دي چي دا حديث غريب دی.

تخريج: مسند الامام احمد ۱\۴۴، والترمذي ۵\۵۲۱، رقم: ۳۵۶۰، وابن ماجه ۲\۱۱۷۸.

نري پوړنی منع دی

﴿۴۱۸۰﴾: وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ أَبِي عَلْقَمَةَ عَنْ أُمِّهِ قَالَتْ دَخَلَتْ حَفْصَةُ بِنْتُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَلَى عَائِشَةَ وَعَلَيْهَا خِمَارٌ رَقِيقٌ فَشَقَّتْهُ عَائِشَةُ وَكَسَتْهَا خِمَارًا [كَ]ثِيفًا. رواه مالك .

[حض]رت علقمه بن ابو علقمه رحمه الله د خپلي مور څخه روايت کوي چي د عبدالرحمن رحمه الله لور [ح]فصه رحمها الله د بي بي عائشي رضي الله عنها په خدمت كي حاضره سوه هغه وخت هغې نازک پوړني پر سر وو [نو] بي بي عائشي رضي الله عنها د هغې نازک پوړنۍ څيري کړ او لوئ پوړني يې ورته په سر کړ. مالک .

تخريج: الموطا ۲\۹۱۳، رقم: ٦.

تشريح: حفصه رحمها الله د بي بي عائشي رضي الله عنها وريره وه، کله چي يې هغه په نازک پوړني کي ولېدل نو خفه سوه او هغې ته د سبق وركولو لپاره يې د هغې نازک پوړنۍ ټوټې ټوټې کړ او بيا يې د هغه په بدله كي د هغې پر سر يو لوی پوړنی واچوی .

د بي بي عائشې فقر او زهد

﴿۴۱۸۱﴾: وَعَنْ عَبْدِالْوَاحِدِ بْنِ اَيْمَنَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ

حضرت عبد الواحد رضي الله عنه بن ايمن د خپل پلار څخه روايت کوي چي زه د بي بي عائشې رض په

اللّٰهُ عَنْهَا وَعَلَيْهَا دِرْعُ قِطْرٍ ثَمَنُ خَمْسَةِ دَرَاهِمَ فَقَالَتْ ارْفَعْ بَصَرَكَ إِلَى جَارِيَتِي

خدمت کي حاضر سوم هغه وخت هغې مصري قميص اغوستي وو چي د هغې قيمت پنځه درهمه وو ، بي بي عائشې رضي الله عنها راته وويل ، ته زما د دې مينځي و لوړ ته وګوره

انْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّهَا تُزْهَى أَنْ تَلْبَسَهُ فِي الْبَيْتِ وَقَدْ كَانَ لِي مِنْهَا دِرْعٌ عَلَى عَهْدِ

چي څومره غرور کوي ، هغه په کور کي د دې جامو په اغوستلو باندي نه راضي کيږي ، د دې څخه وروسته بي بي عائشې رضي الله عنها وفرمايل: زما سره

رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا كَانَتْ امْرَأَةٌ تُقَيَّنُ بِالْمَدِينَةِ إِلَّا أَرْسَلَتْ

إِلَيَّ تَسْتَعِيرُهُ. رواه البخاري.

د رسول الله ﷺ د زمانې د دې ډول يو قميص وو ، په مدينه منوره کي چي به کومه انجلۍ واده کېده نو د هغې د ناوي کېدو لپاره به يې هغه غوښتی (يعني د برکت د حاصلولو لپاره). بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۲۴۱، رقم: ۲۶۲۸.

تشريح: په دغه حديث کي بي بي عائشې رضي الله عنها دا څرګنده کړې ده چي په دغه لږ وخت کي په ذهنو کي څومره تبديلي پيدا سوې ده چي تر پرون پوري د کومي جامې قميص بنځو د خپل زينت لپاره ضرورت ګڼی هغه قميص اوس په خپل کور کي اغوستل هم نه خوښوي، يعني هغې د رسول الله ﷺ په زمانه کي د خپل فقر او زهد بيان هم کړی دی .

ريښمنه قباء

﴿۴۱۸۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَبِسَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا قَبَاءً مِنْ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه ورځ رسول الله ﷺ يوه ريښمينه قبا واغوستل چي د

دِيبَاجٍ أُهْدِيَ لَهُ ثُمَّ أَوْشَكَ أَنْ نَزَعَهُ فَأَرْسَلَ بِهِ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَقِيلَ

تحفې په ډول ورته را لېږل سوې وه، بيا نبي كريم ﷺ سمدستي ليري كړه او حضرت عمر رضي الله عنه ته يې را ولېږل، عرض وسو (يعني اصحابو عرض وكړ)

لَهُ قَدْ أَوْشَكَ مَا نَزَعْتَهُ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ نَهَانِي عَنْهُ جِبْرِيلُ فَجَاءَهُ عُمَرُ

اې د الله جل جلاله رسوله! تاسو دومره زر دا قبا ولې ليري كړه؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: زه جبرائيل عليه السلام د دې د اغوستلو څخه منعه كړم، بيا حضرت عمر رضي الله عنه په ژړا تشريف راوړ

يَبْكِي فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَرِهْتَ أَمْرًا وَأَعْطَيْتَنِيهِ فَمَا لِي قَالَ إِنِّي لَمْ أُعْطِكَهُ

او عرض يې وكړ، اې د الله جل جلاله رسوله! تاسو يو شي بد و ګڼئ او وروسته مو بيا ماته راكړ (چې زه يې وا غوندم) زما به څه حال وي؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: دا قبا ما تاته د

لِتَلْبَسَهُ إِنَّمَا أَعْطَيْتُكَهُ تَبِيعُهُ فَبَاعَهُ بِأَلْفَيْ دِرْهَمٍ. رواه مسلم.

اغوستلو لپاره نه ده دركړې بلكه د خرڅولو لپاره مې در لېږلې وه، حضرت عمر رضي الله عنه هغه په دوه زره درهمه باندې خرڅه كړه. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\ ۱۶۴۴، رقم: ۱۶-۲۰۷۰.

په كالو كې دوربشمو تارونه

﴿۴۱۸۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّمَا نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الثَّوْبِ الْمُصْمَتِ مِنَ الْحَرِيرِ فَأَمَّا الْعَلَمُ مِنَ الْحَرِيرِ وَسَدَى الثَّوْبِ فَلَا بَأْسَ بِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ د خاص وربښمني جامو څخه منعه كړېده ليكن د وربښم كناره يا ګوټ چې په اندازه د څلورو ګوتو وي يا بله جامه چې د هغې استر د وربښمو وي، په هغه كې بيا څه ګناه نسته. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود: ۴\ ۳۲۹، رقم: ۴۰۵۵.

تشريح: په كومو جامو كې چې لاندې او باندې رېښم وي نو هغه د نارينوو لپاره اغوستل حرام دي او د صاحبينو په نزد په جنګ كې د هغه اغوستل مباح دي او د كومو جامو لاندېنۍ برخه

چي د ريښمو وي او سربېره برخه د وړيو وي د هغه اغوستل په اتفاق سره جائز دي او ددې برعکس ناجائز دی مګر په جنګ کي جائز دي، د صاحبينو په نزد په جنګ کي هم د هغه جامې اغوستل مباح دي چي خاص د ريښمو وي او هغه جامه هم چي د هغه لاندينۍ برخه د ريښمو وي مګر د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد په جنګ کي يوازي هغه جامه اغوستل مباح دي چي د هغه لاندينۍ برخه د ريښمو وي او سربېرنه برخه د وړيو وي او د کومي جامې لاندينۍ برخه چي د ريښمو وي او سربېرنه برخه د بل شي وي نو هغه په هر حالت کي مباح ده.

ښه جامه

﴿۴۱۸۴﴾: وَعَنْ اَبِي رَجَاءٍ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ وَعَلَيْهِ مِطْرَفٌ

د ابو رجاء رضي الله عنه څخه روايت دی چي عمران بن حصين ما ته راغلی، هغه وخت هغه ريښميني او

مِنْ خَزٍّ وَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ

وړيني جامې اغوستي وې هغه وويل: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: الله جل جلاله چي يو څوک په

عَلَيْهِ نِعْمَةً فَإِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُحِبُّ أَنْ يُرَى أَثَرُ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ. رواه احمد

خپل نعمت سره و نازوي نو خدای تعالی دا خوښوي چي د هغه نعمت اظهار دي وکړي. احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۴۳۸.

تشريح: مطرف يو ډول خاص ټوکر وو چي د هغه دواړو خواوو ته څوکي ورکړل سوي وې، په قاموس کي ليکلي دي چي مطرف د مکرم پر وزن دی، او د خز ليکه دار څادر ته وايي، په دغه صورت کي د مطرف من خز د خز د تاکيد لپاره وي او خز هغه جامې ته وايي چي خاص د ريښمو وي او ځيني حضرات وايي چي خز هغه جامې ته وايي چي د ريښمو او وړيو دواړو څخه جوړ وي د هغه اغوستل مباح دي دلته د خز څخه دغه مراد دی.

اسراف او تکبر مه کوه

﴿۴۱۸۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كُلْ مَا شِئْتَ وَالْبَسْ مَا شِئْتَ مَا أَخْطَأَتْكَ اثْنَتَانِ سَرَفٌ أَوْ مَخِيلَةٌ. رواه البخاري في ترجمة باب.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي وخوره څه چي دي زړه غواړي او اغونده څه چي

دي خوښ وي ترڅو پورې چې ته په دوو شيانو کې اخته نه سې يعني په اسراف او تکبر کې. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۵۲،

تشريح: مطلب دادی چې د خوراک هر شي خوړل او د اغوستلو هر شي اغوستل صحيح دي مګر په خوراک او اغوستلو کې هغه توسع مکروه ده چې د اسراف او تکبر په توګه وي، په کوم توسع کې چې اسراف او تکبر نه وي نو هغه مباح دي.

﴿۴۱۸۶﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه بيا د خپل پلار څخه روايت کوي، چې

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُوا وَاشْرَبُوا وَتَصَدَّقُوا وَالْبَسُوا مَا لَمْ يُخَالِطْ إِسْرَافٌ وَلَا مَخِيلَةٌ. رواه احمد والنسائي وابن ماجة.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: و خورئ، و څښئ او خيرات کوئ او اغوندئ ترڅو پورې چې په دې کې اسراف او تکبر نه وي. احمد، نسائي او ابن ماجه.

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۱۸۱، والنسائي ۵\۷۹، رقم: ۲۵۵۸، وابن ماجه ۲\۱۱۹۲، رقم: ۳۶۰۵.

د سپينو کالو فضيلت

﴿۴۱۸۷﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحْسَنَ مَا زُرْتُمُ اللَّهَ بِهِ فِي قُبُورِكُمْ وَمَسَاجِدِكُمُ الْبَيَاضُ. ابن ماجة

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه بهترينه جامه چې د هغې په اغوستلو سره تاسو په خپلو قبرونو او مسجدونو کې د الله جل جلاله سره يو ځای کيږئ، سپينه جامه ده. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۱۸۱، رقم: ۳۵۶۸.

تشريح: مسجد د الله جل جلاله کور دی ځوک چې د عبادت لپاره مسجد ته ولاړ سي نو د الله تعالی سره د ملاقات لپاره ولاړ نو هلته سپينه جامه اغوستل غوره دي همدارنګه د مرګ څخه وروسته د الله تعالی سره ملاقات کوي نو مړي ته سپين کفن ورکول غوره دی.

==============

بَابُ الْخَاتَمِ (د ګوتمۍ بیان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د سپينو زرو ګوتمۍ

﴿۴۱۸۸﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ اتَّخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ جوړه کړه

خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ، وفي رواية وجعله في يده اليمين ثُمَّ أَلْقَاهُ ثُمَّ اتَّخَذَ خَاتَمًا

د سرو زرو ګوتمۍ (مُهر). او په يوه روايت کي دا الفاظ هم دي چي هغه ګوتمۍ يې په راسته لاس کړه او وروسته يې وکښل، وروسته يې د سپينو زرو څخه يوه ګوتمۍ جوړه کړه

مِنْ وَرِقٍ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ وَقَالَ لَا يَنْقُشُ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِ خَاتَمِي هٰذَا وَكَانَ إِذَا لَبِسَهُ جَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي بَطْنَ كَفِّهِ. متفق عليه.

چي په هغه کي د محمد رسول الله الفاظ نقش سوي وه او دا يې وفرمايل: چي هيڅوک دي زما د مهر په شان الفاظ نه نقش کوي، کله چي په نبي کريم ﷺ دا ګوتمۍ په لاسه کړه نو د هغې غمی به يې د لاس د ورغوي خوا ته کوی. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۱۸، رقم: ۵۸۶۶، ومسلم ۳\۱۶۵۶، رقم: ۵۵- ۲۰۹۲.

تشريح: نبي کريم ﷺ د سرو زرو ګوتمۍ په هغه وخت کي جوړه کړې وه کله چي د نارينوو لپاره سره زر حرام نه وه، کله چي الله تعالى د وحي په ذريعه د سرو زرو استعمال حرام وګرځوی نو رسول الله ﷺ هغه ګوتمۍ وغورځول، امام محمد رحمة الله عليه په خپل کتاب مؤطا کي ويلي دي: څرنګه چي د نارينوو لپاره د سرو زرو ګوتمۍ جائز نه ده همدارنګه د هغوی لپاره د اوسپني، ژړو او داسي نورو شيانو ګوتمۍ هم جائز نه ده، نارينه لره د سپينو زرو څخه پرته د بل شي ګوتمۍ صحيح نه ده، د ښځو لپاره د سرو زرو ګوتمۍ او نوري ګېڼې جائز دي، بلکه علماوو داسي ليکلي دي چي د ښځو لپاره د سپينو زرو ګوتمۍ مکروه ده ځکه چي د سپينو زرو ګوتمۍ د نارينوو لپاره دي او ښځو ته د نارينوو مشابهت مکروه دی، که يوه ښځه د سپينو زرو ګوتمۍ

په ګوته کول وغواړي نو د هغې رنګ دې بدل کړي، په هدايه کې دا هم ليکلي دي چې په دې اړه د ګوتمۍ د حلقې (کړۍ) اعتبار دی نه د غمي،

هيڅوک دې زما د مُهر په ډول الفاظ نه جوړوي: اصل خبره دا وه چې رسول الله ﷺ به دا کتل چې مسلمانان زما د اتباع څومره حريص دي هغوی زما د هر عمل پيروۍ کولو هڅه کوي، ځکه نو ليرې خبره نه ده چې هغوی ددغه مهر الفاظ په خپلو ګوتميو کې جوړول پېل کړي نو رسول الله ﷺ ددې څخه منع وفرمايل، ددغه منع يوه وجه دا هم وه چې د رسول الله ﷺ د هغه ګوتمۍ او پر هغه باندې جوړ سوي الفاظو يو قانوني حيثيت وو چې رسول الله ﷺ به کوم خطونه د دنيا د پاچاهانو او مشرانو په نامه لېږل نو پر هغو به يې مهر لګوی، په دغه صورت کې که نورو خلکو هم په خپلو ګوتميو کې داسې مهر جوړ کړی وای نو نه يوازې دا چې د مهر رسالت خاص حيثيت به د هغه پاچاهانو په نظر کې مشتبه کېدی بلکه يوه عجيبه خرابي به هم پيدا سوې وای، قاضي خان رحمة الله عليه ويلي دي: د سپينو زرو ګوتمۍ د هغه چا لپاره مباح ده چې د هغه لپاره د مهر جوړول د يو ضرورت په درجه کې وي لکه قاضي او داسې نور، او کوم څوک چې د مهر جوړولو ته اړ نه وي نو د هغه په اړه افضل دادي چې هغه د سپينو زرو ګوتمۍ استعمال نه کړي، او کوم څوک چې دغه ګوتمۍ استعمالوي نو د هغه لپاره مناسب دادي چې هغه ګوتمۍ د چپه لاس په ګوته کړي او د هغه غمی دی سربېره وي.

پاته سوه دا خبره چې ګوتمۍ بايد په کوم لاس کې وي، نو سيوطي رحمة الله عليه وايي: حديثونه په راسته لاس کې د ګوتمۍ په اړه هم منقول سوي دي او په چپه لاس کې هم مګر عمل په هغه حديثو دی چې په هغو کې په چپه لاس د ګوتمۍ يادونه ده، او کوم حديثونه چې د راسته لاس په اړه دي هغه منسوخ ګرځول سوي دي، عدي رحمة الله عليه او داسې نور حضرات د ابن عمر رضي الله عنهما دغه حديث نقل کړی دی چې نبي کريم ﷺ به مخکې په راسته لاس ګوتمۍ په ګوته کول مګر بيا يې په چپه لاس په ګوته کول پېل کړل.

د سفر السعادت مصنف ليکلي دي چې په دې اړه مختلف حديثونه نقل سوي دي، په ځينو روايتو کې دا نقل سوي دي چې رسول الله ﷺ په راسته لاس ګوتمۍ په ګوته کول او په ځينو روايتو کې چپه لاس نقل سوی دی، دغه ټول روايتونه صحيح دي او له هغو څخه دا ثابتيږي چې کله به رسول الله ﷺ ګوتمۍ په راسته کول او کله به يې په چپه لاس، امام نووي رحمة الله عليه دا ليکلي دي چې د ټولو علماوو پر دې اتفاق دی چې د ګوتمۍ په راسته کول هم جائز دي او په چپه لاس هم، مګر د شوافعو په نزد په راسته لاس کول غوره دي ځکه چې راسته لاس په نسبت د چپه لاس

شرف او فضیلت لري ځکه هغه لاس دي ددې زیات حقدار وي چې د هغه د زینت او ښکلا وسي.

﴿۴۱۸۹﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نَهٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَالْمُعَصْفَرِ وَعَنْ تَخَتُّمِ الذَّهَبِ وَعَنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الرُّكُوعِ. رواه مسلم

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ منعه کړېده (۱)- د. وربښمو د مصري جامو د اغوستلو څخه. (۲)- د کسم (د سره رنګ)باندي د رنګ سوي جامو د اغوستلو څخه. (۳)- د سرو زرو د ګوتمۍ د په لاس ولو څخه. (۴)- او په رکوع کي د قرانکریم د تلاوت څخه. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۶۴۸، رقم: ۲۹- ۲۰۷۸.

د لغاتو حل: القسي: ثیاب من کتان مخلوط بحریر، یوتی بها من مصر (یو ډول مصري جامه)

تشریح: قسي یو ډول د ربښمو جامو ته وایي چې د مصر په ښار قص کي به جوړېدل، په رکوع کي د قرآن کریم د ویلو څخه د منع دوې معناوي دي: یو دا چې رسول الله ﷺ ددې څخه منع وفرمایل چې په رکوع یا سجده کي د تسبیح پر ځای قرآن کریم وویل سي، دوهم دا چې رسول الله ﷺ ددې څخه منع وفرمایل که یو سړی د قیام په حالت کي د اضطراب او بې اطمینانۍ رویه اختیار کړي او د قرائت پوره کولو څخه پرته رکوع ته ولاړ سي چې د هغه د قرائت څه برخه په رکوع کي واقع سي.

د سرو زرو ګوتمۍ منعه ده

﴿۴۱۹۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ولیدل

خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فِي يَدِ رَجُلٍ فَنَزَعَهُ فَطَرَحَهُ فَقَالَ يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ إِلَى جَمْرَةٍ

د یوه سړي په لاس کي د سرو زرو ګوتمۍ، نبي کریم ﷺ د هغه د لاسه څخه را و کښل او ویې غورځول او ورسته یې ورته وفرمایل: په تاسو کي یو سړی د دوږخ د اور د سکروټو اراده کوي

مِنْ نَارٍ فَيَجْعَلُهَا فِي يَدِهِ فَقِيلَ لِلرَّجُلِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

او هغه ګوتمۍ په لاس ه وي، کوم وخت چې نبي کریم ﷺ تشریف یووړ نو هغه سړي ته یې

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذْ خَاتِمَكَ انْتَفِعْ بِهِ قَالَ لَا وَاللّٰهِ لَا آخُذُهُ أَبَدًا وَقَدْ طَرَحَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مسلم

وويل : ته خپله گوتمۍ پورته کړه او د دې څخه فائده واخله ، هغه وويل ، يا ، په خداى دي مي قسم وي دا چي دا رسول الله ﷺ غورځولې ده نو زه به يې هيڅکله بيرته نه اخلم . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\ ۱٦۵۵، رقم: ۵۲- ۲۰۹۰.

تشريح: د دغه حديث څخه څرگنده سوه چي څوک توان لري او هغه د شريعت خلاف يو كار ويني نو هغه دي په خپل لاس سره منع کړي لکه څرنگه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (من رايا حد منكم منكرا فليغيره بيده ...الخ) يعني كله چي په تاسو كي يو څوك د شريعت خلاف يو كار ويني نو هغه دي په لاس منع کړي ... الخ.

د نبي ﷺ مهر

﴿۴۱۹۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى كِسْرَى

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى كوم وخت چي رسول الله اراده وكړه ﷺ كسرى

وَقَيْصَرَ وَالنَّجَاشِيِّ فَقِيلَ إِنَّهُمْ لَا يَقْبَلُونَ كِتَابًا إِلَّا بِخَاتِمٍ فَصَاغَ رَسُولُ اللّٰهِ

قيصر او نجاشي ته د اسلام د دعوت د خطونو د لېږلو ، نبي كريم ﷺ ته عرض وسو چي دا خلک دا تحرير نه قبلوي (يعني خط مستند نه گڼي چي په هغه باندي مهر نه وي) نو نبي كريم ﷺ يوه گوتمۍ جوړه کړه

ﷺ خَاتَمًا حَلْقَتُهُ فِضَّةً وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ . رواه مسلم وفي رواية

چي حلقه يې د سپينو زرو وه او پر هغې باندي د محمد رسول الله الفاظ نقش سوي وه . مسلم،

للبخاري كَانَ نَقْشُ الْخَاتَمِ ثَلَاثَةَ أَسْطُرٍ مُحَمَّدٌ سَطْرٌ وَرَسُولُ سَطْرٌ وَاللّٰهِ سَطْرٌ .

او د بخاري په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي د مُهر په دننه برخه كي درې ليكي وې په يوه ليکه كي محمد ليكلى وو او په دويمه ليکه كي رسول او په دريمه ليکه كي الله ليكل سوى وو .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۳۲۴، رقم: ۵۸۷۵، ومسلم ۳\ ۱٦۵۷، رقم: ۵۸- ۲۰۹۲.

تشريح: دلته د ګوتمۍ په اړه يوازې د هغه د حلقې (کړۍ) پر يادونه اکتفاء سوې ده او د غمي يادونه يې نده سوې، ځکه چې په ګوتمۍ کې ګړۍ وي او هغه محل استبعاد هم دېځکه د بيان جواز لپاره د هغه يادونه وسوه، مګر په نورو حديثو کې د غمي ذکر هم دی، په ځينو روايتو کې دادي چې د رسول الله ﷺ د ګوتمۍ غمی هم د سپينو زرو وو او په يوه روايت کې دي چې د هغه غمی حبشي يعني د عقيق وو چې وروسته به يې يادونه وسي.

په مُهر نبوي کې چې کوم الفاظ جوړ سوي وه د هغو هيئت امام نووي رحمه الله هغه بيان کړی دی کوم چې مخکې ذکر سوي دي يعني په سرببره ليکه کې (الله)، په منځنۍ ليکه کې (رسول) او په لاندينۍ ليکه کې (محمد) ليکل سوي وو، ځينو حضراتو د دغه مهر دا صورت بيان کړی دی (محمد رسول الله)، والله اعلم.

د رسول الله ﷺ څخه وروسته هغه ګوتمۍ بهٔ د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په ګوته وه، او د هغه څخه وروسته د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په ګوته وه او د هغه څخه وروسته د حضرت عثمان رضي الله عنه په لاس ورغله مګر د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په آخري دور کې هغه ګوتمۍ د معيقيب د لاس څخه چې د حضرت عثمان رضي الله عنه خادم وو، په اويس نامي څاه کې ولوېدل، بيا يې هغه ډېره ولټول مګر پيدا يې نه کړل.

علماوو ليکلي دي چې هغه د هغه فتنو او فساد چې د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په آخري دور کې پيدا سو او بيا د هغه څخه وروسته په اسلامي هيواد کې پيدا سو د هغه سبب ددغه ګوتمۍ ورکېدل وه ځکه چې هغه ګوتمۍ ته الله تعالی داسې برکت ورکړی وو چې د حکومت او مملکت د انتظام او انصرام يوه مؤثره ذريعه وه لکه څرنګه چې د حضرت سليمان عليه السلام د مهر والا ګوتمۍ خاصيت وو.

د نبي ﷺ د ګوتمۍ غمی

﴿۴۱۹۲﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ خَاتَمُهُ مِنْ فِضَّةٍ وَكَانَ فَصُّهُ مِنْهُ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ يوه ګوتمۍ (مُهر) د سپينو زرو وه او غمی يې هم د سپينو زرو وو. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٣٢٢، رقم: ٥٨٧٠.

﴿۴۱۹۳﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبِسَ خَاتَمَ فِضَّةٍ فِي يَمِينِهِ فِيهِ فَصٌّ حَبَشِيٌّ كَانَ يَجْعَلُ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي كَفَّهُ. متفق عليه

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د سپينو زرو ګوتمۍ په ښي لاس کړې وه چي په هغه کي حبشي غمی وو او هغه غمی به يې د ورغوي طرف ته کړی وو. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۱۵، رقم: ۵۸۶۵، ومسلم ۳\۱۶۵۸، رقم: ۶۲-۲۰۹۴.

تشريح: د حبشي څخه مراد عقيق دی او عقيق حبشې ته په منسوب کولو سره حبشي ځکه ورته ويل کيږي چي د عقيقو کان په حبشه او يمن کي وو، يا هغه غمی به د عقيق پر ځای بل ډول غمی وو او هغه به په حبشه کي پيدا کېدل، ځکه هغه ته حبشي وويل سول، يا دا چي هغه غمی تور وو لکه څرنګه چي حبشيان تور وي، په دغه مناسبت سره هغه ته حبشي وويل سول يا دا چي هغه غمی به يو حبشي سړي جوړ کړی وي ځکه نو په حبشي سره تعبير کړل سو، په دغه صورت کي دغه روايت د هغه روايت خلاف نه دی چي په هغه کي بيان سوی دی چي د رسول الله ﷺ د ګوتمۍ غمی هم د سپينو زرو وو مګر که مخکني معنی مراد واخيستل سي يعني دا چي هغه غمی د عقيق وو او د عقيق کان په حبشه کي وو ځکه نو هغه ته حبشي ويل کيدی نو په دغه صورت کي دواړه روايتونه به پر تعدد باندي محمول دي يعني دا به ويل کيږي چي د رسول الله ﷺ د يوې ګوتمۍ غمی د سپينو زرو وو او د بلي ګوتمۍ غمی حبشي يعني د عقيق وو.

﴿۴۱۹۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هٰذِهِ وَأَشَارَ إِلَى الْخِنْصِرِ مِنْ يَدِهِ الْيُسْرَى. رواه مسلم.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ګوتمۍ په دې ګوته کړې وه يعني د چپه لاس په خچې ګوته کي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۶۵۹، رقم: ۶۳-۲۰۹۵.

ګوتمۍ په کومه ګوته کول

﴿۴۱۹۵﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نَهَانِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتَخَتَّمَ فِي

إِصْبَعِي هَذِهِ أَوْ هَذِهِ قَالَ فَأَوْمَأَ إِلَى الْوُسْطَى وَالَّتِي تَلِيهَا . رواه مسلم.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زه د ګوتمۍ په دې ګوته کي د اچولو څخه منعه کړی يم (يعني په مينځنۍ ګوته او د شهادت په ګوته کي). مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۶۵۹\۳، رقم: ۶۵-۲۰۷۸.

تشريح: د منځنۍ او شهادت ګوتي په اړه ددغه حديث څخه څرګنده سوه او د بټي ګوتي او غچۍ ګوتمي ته نژدې ګوتي کي د ګوتمۍ په ګوته کول نه خو د رسول الله ﷺ څخه ثابت دي او نه د صحابه کرامو او تابعينو څخه، ددې څخه معلومه سوه چي د ګوتمۍ په بټه ګوته کول مستحب دي، د شوافعو او حنفيه رجحان هم دې طرف ته دی مګر دا خبره د نارينوو په اړه ده، د ښځو لپاره په ټولو ګوتو کي اچول جائز دي، امام نووي رحمه الله ويلي دي د نارينوو لپاره په منځنۍ او شهادت په ګوته کي ګوتمۍ اچول مکروه تنزيهي دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

ګوتمۍ په راسته لاس کول

﴿۴۱۹۶﴾: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ . رواه ابن ماجة و رواه ابوداؤد والنسائي عن علي.

د حضرت عبد الله بن جعفر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د مهر ګوتمۍ په خپل لاس راسته کوله. ابن ماجه او په ابو داؤد او نسائي کي دا د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت کړی دی.

تخريج: سنن ابن ماجه ۱۲۰۳\۲، رقم: ۳۶۴۷.

﴿۴۱۹۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَتَّمُ فِي يَسَارِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په چپه لاس کي مهر اچوی. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود: ۴۳۱\۴، رقم: ۴۲۲۷.

رېښم او سره زر د نارينه لپاره حرام دي

﴿۴۱۹۸﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ حَرِيرًا فَجَعَلَهُ فِي يَمِينِهِ وَأَخَذَ ذَهَبًا فَجَعَلَهُ فِي شِمَالِهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ هٰذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي.

رواه احمد وابوداؤد والنسائي.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ رېښمينه جامه را واخيستل په راسته لاس کي يې کېښېښودل او سره زر يې را واخيستل په چپه لاس کي يې کېښېښودل او د سادگۍ مطلب زړې جامې اغوستل دي چي ډېر زيب او زينت پکښي نه وي .ابو داؤد

تخريج: مسند الامام احمد ۱\۹۶۱، رقم: ۴۰۵۷، والنسائي ۸\۱۶۰، رقم: ۵۱۴۴.

﴿۴۱۹۹﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ رُكُوبِ النِّمور وَعَنْ لُبْسِ الذَّهَبِ إِلَّا مُقَطَّعًا . رواه ابوداؤد والنسائي.

د معاويه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د شرموښ د پوست په زين د سپرېدو څخه منعه کړې ده او نارينه يې د سرو زرو د گوتمۍ د په لاسولو څخه منعه کړې دی مگر چي د سروزرو مقدار ډېر کم وي (لکه د کمر بند ميخ چي د سروزرو وي نو بيا مباح دي) . ابو داؤد او نسائي.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۳۷، رقم: ۴۲۳۹، والنسائي ۸\۱۶۱، رقم: ۵۱۵۰.

د لغاتو حل: النمور: اى جلود النمور وهي السباغ المعروفة. ()

تشريح: د حديث د آخري الفاظو چي په لږ اندازه د سرو زرو اباحت ثابتيږي ، دا هم منسوخ سوی دی ، ځينو علماوو دا هم ليکلي دي چي ددغه الفاظو څخه په ظاهره کوم جواز ثابتيږي هغه د حنفيه په نزد پر دې محمول دی د مثال په توگه يو شي ته د سرو زرو آب ورکړل سي يا په غمي وغيره کي د سرو زرو مېخ ولگول سي ، يا پر جامو باندي د کرښو وغيره په توگه د سرو زرو کار وکړل سي نو دا د حنفيه په نزد د نارينو لپاره هم جائز دي .

﴿۴۲۰۰﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلٍ عَلَيْهِ خَاتَمٌ

د حضرت بريده رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو سړي ته چي د ژړو گوتمۍ يې په

مِنْ شَبَهٍ مَا لِي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ الْأَصْنَامِ فَطَرَحَهُ ثُمَّ جَاءَ وَعَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ

گوته کړې وه و فرمایل : څه دي چي زه په تا کي د بتانو بوي حس کوم؟ هغه سړي هغه گوتمۍ و غورځول بیا چي هغه سړی راغلی

حَدِيدٍ فَقَالَ مَا لِي أَرَى عَلَيْكَ حِلْيَةَ أَهْلِ النَّارِ فَطَرَحَهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ

نو د اوسپني گوتمۍ یې په لاس کړې وه ، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : څه دي چي زه تا د دوږخ کالي (زیور) په لاس کړی وینم ، نو هغه گوتمۍ و غورځول او عرض یې وکړ ، اې د الله

مِنْ أَيِّ شَيْءٍ أَتَّخِذُهُ قَالَ اتَّخِذْهُ مِنْ وَرِقٍ وَلَا تُتِمَّهُ مِثْقَالًا . رواه الترمذي

ﷻ رسوله ! د څه شي څخه گوتمۍ جوړه کړم؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : د سپینو زرو څخه او دیوه مثقال څخه یې کم وزن ساته . ترمذي ،

وابوداؤد والنسائي وقال محي السنة و قد صح عن سهل بن سعد في الصداق ان النبي ﷺ قال لرجل التمس ولو خاتما من حديد .

ابو داؤد او نسائي ، امام محي السنه وايي ، چي د سهل بن سعد رضي الله عنه په صحيح حديث کي چي د ښځي د مهر په اړه دی ، دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ یوه سړي ته وفرمایل : د خپل ښځي د مهر لپاره د یو شي تلاش و کړه ، که څه هم د اوسپني گوتمۍ وي .

تخريج : سنن الترمذي ۴\ ۲۱۸، رقم: ۱۷۸۵، وابوداود ۴\ ۴۲۸، رقم: ۴۲۲۳، والنسائي۸\ ۱۷۲، رقم: ۵۱۹۵، وشرح السنة ۱۲\ ۵۹، رقم: ۳۱۳۰.

د لغاتو حل : الشبه: النحاس الاصفر ،

تشريح پوره یو مثقال نه وي : دغه منع په اصل کي د احتیاط او تقوا لپاره ده یعني غوره داده چي په گوتمۍ کي تر یو مثقال کم سپین زر وي ، او کوم چي د جواز تعلق دی نو د پوره یوه مثقال گوتمۍ هم جائز ده او غوره داده چي سره زر او سپین زر د اصل په اعتبار ناخوښه دي نو ددې استعمال باید همدومره وي چي د ضرورت مطابق وي څکه تر دوو یا زیاتو گوتمیو په گوته کول مکروه دي مگر ډیري گوتمۍ جوړول مکروه نه دي په شرط ددې چي هغه یو ځای نه په گوته کوي بلکه په وار وار یې په گوته کوي .

په فتاوی قاضي خان کي ليکلي دي : د اوسپني ، مسو او نورو شيانو گوتمۍ په گوته کول مکروه دي او د نارينوو لپاره د سرو زرو گوتمۍ حرامه ده .

محي السنه چي د ښځو د مَهر په اړه د حضرت سهل رضي الله عنه کوم روايت نقل کړی دی په هغه سره دا ثرگندول مقصد دي چي رسول الله ﷺ هغه سړي ته دا وفرمايل چي د ښځي په مَهر کي د ورکولو لپاره مال تيار کړه که څه هم هغه د اوسپني گوتمۍ وي نو د دې څخه معلومه سوه چي په ذکر سوي روايت کي د گوتمۍ اچولو کومه منع ثابتيږي هغه د تحريم لپاره نه ده ، که په حقيقت کي د اوسپني گوتمۍ په گوته کول حرام وای نو رسول الله ﷺ به د نکاح کونکي سړي ته د اوسپني گوتمۍ تيارولو لپاره ولي فرمايلای .

د مَهر د مال په اړه د ذکر سوي ارشاد په اړه علماوو ليکلي دي چي د دې مقصد په اصل کي د ښځي په مَهر کي د مال مصرفولو ازرښت او ضرورت په زيات تاکيد سره بيانول دي چي د مَهر په توگه څه نا څه مال ضرور ورکل سي که څه هم هغه ادنا شی وي ، د دغه ارشاد څخه دا هم ثرگنده سوه چي د اوسپني گوتمۍ که څه هم منع سوې ده مگر هغه گوتمۍ د مال متقوم د دائرې څخه وتلې نه ده مگر دا هم کيدای سي چي د اوسپني د گوتمۍ منع د حضرت سهل رضي الله عنه د ذکر سوي روايت څخه وروسته سوې وي ځکه چي دا خو ثابته ده چي د حضرت سهل رضي الله عنه روايت استقراء سنن او استحکام شرائع څخه مخکي دی او د حضرت بريده رضي الله عنه روايت د هغه وروسته دی نو د حضرت سهل رضي الله عنه روايت به منسوخ وگرځول سي او د حضرت سهل رضي الله عنه دغه روايت د باب المَهر په اول فصل کي تېر سوی دی .

لس خراب شيان

﴿۴۲۰۱﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُ عَشْرَ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به لس شيان بد گڼل :

خِلَالٍ الصُّفْرَةَ يَعْنِي الْخَلُوْقَ وَتَغْيِيْرَ الشَّيْبِ وَجَرَّ الْإِزَارِ وَالتَّخَتُّمَ بِالذَّهَبِ

(۱)- ژړوالی يعني د خلوق د استعمال چي زعفران او داسي نورو څخه جوړ سوي وي . (۲): د سپين ږير واله پټول ، يا خو يې سپين وربښته کښل يا توري نکريزي لگول . (۳): اوږدول د لونگ . (۴)-د سرو زرو گوتمۍ په لاسول .

وَالتَّبَرُّجَ بِالزِّيْنَةِ لِغَيْرِ مَحَلِّهَا وَالضَّرْبَ بِالْكِعَابِ وَالرُّقَى إِلَّا بِالْمُعَوِّذَاتِ

(۵)-د ښځي بې ځايه د زينت اظهار كول (يعني يوازي د مېړه لپاره ښځه ځان ته زينت وركولاى سي) . (٦)- نرد كول (د يوې لوبي نوم دى چي د چوسر د شطرنج ګوټه).(۷)- دم كول پرته د معوذاتو يعني دم كول يا و چا ته ښودل پرته د سورة برب الفلق ، برب الناس څخه چي په دې سره پناه جائزه ده .

وَعَقْدِ التَّمَائِمِ وَعَزْلَ الْمَاءِ لِغَيْرِ مَحَلِّهِ وَفَسَادَ الصَّبِيِّ غَيْرَ مُحَرِّمِهِ. رواه ابوداؤد والنسائي .

(۸)- د كنجكو او منكو تړل يعني د بد نظر او داسي نور د دفعي لپاره (او ځينو د كنجكو او منكونه د جاهليت جادو مراد اخيستل كېداى سي)(۹)- عزل كول يعني د ښځي د مخصوص ځايه څخه مني د باندي غورځول .(۱۰)- بچي خرابول يعني د كوچني د شيدو رودلو په ورځو كي د خپلي كوروالا سره يو ځايوالي كول چي په هغه سره حمل وسي او د كوچني و شيدو ته نقصان ورسيږي ، اخيري شى يعني (۱۰) نمبر نبي كريم ﷺ نه دى حرام كړى . ابوداؤد او نسائي .

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۲۷، رقم: ۴۲۲۲، والنسائي ۸\۱۴۱، رقم: ۵۰۸۸.

د لغاتو حل: الكِعَاب: فصوص النرد.

تشريح: خلوق يو ډول خوشبويي ته وايي چي د زعفران او نورو شيانو څخه جوړيږي ، د خلوق استعمالولو منع يوازي د نارينوو لپاره ده ښځو ته د هغو استعمال صحيح دى ، كه څه هم داسي حديثونه هم نقل سوي دي چي د هغو څخه د نارينوو لپاره د خلوق د استعمال اباحت ثابتيږي مګر داسي حديثونه زيات نقل سوي دي چي د هغو څخه منع ثابتيږي، ددې څخه څرګنديږي چي د اباحت حديثونه منسوخ دي ، د نارينوو لپاره د خلوق استعمال ځكه منع دى چي هغه په خاصه توګه د ښځو خوشبويي ده .

سپين ږېرتوب بدلول: كه د سپينو وېښتانو د كښلو په صورت كي وي يا د تور رنګ لګولو په ذريعه وي، دا په هر صورت منع دى ، مګر د نكرېزو لګول مستثنى دى ځكه چي د نكريزو د جواز په اړه ډېر حديثونه نقل سوي دي ، سپين وېښتان كښل د حنفيه مختار قول د حرمت او كراهت دى .

په (والتبرج بالزينة لغير محلها) كي د حاء لفظ په زور سره دى چي د موضع حل په معنى كي دى يعني هغه ځاى چيري چي ښځو ته ښكلا او سنګار كول حلال دي او هغه ځاى د هغې

خاوند او د هغې محارم لکه پلار ، ورور وغیره دي، مطلب دادی چي ښځو ته د خپل خاوند او محارمو څخه پرته د نورو خلکو په وړاندي د خپل ښکلا او سنګار څرګندول صحیح نه دي لکه څرنګه چي په قرآن کریم کي فرمایل سوي دي : (ولا يبدين زينتهن الا لبعولتهن او ابائهن ...) ، ځینو حضراتو په محلها کي د محل لفظ د حاء په زېر سره هم ویلی دی چي د حلول څخه دی.

کعاب د کعب جمع ده چي د مهرو په معنی کي ده، چي يو ډول لوبه ده، مطلب دادی چي دغه لوبه منع ده ، د اهل علمو صحابه کرامو د اکثریت په نزد دغه لوبه حرامه وه ، حنفیه شطرنج لوبي ته هم مکروه تحریمي ویلي دي.

رقی د رقیه جمع ده ، چي معنی يې په دم کولو سره د پوه کولو ده ، او د معوذات څخه مراد قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس دي، او ددې په حکم کي هغه دعاوي هم شاملي دي چي په حدیثو کي نقل سوي دي ، او په اسماء الهي سره هم تعویذ کول شامل دي ، ځینو حضراتو ویلي دي چي د معوذات څخه مراد د قرآن کریم هغه آیاتونه دي چي د استعاذه پر معنی مشتمل دي که هغه دغه سورتونه وي یا ددې څخه پرته نور آیاتونه وي، خلاصه دا چي د قرآن کریم آیاتونه ، په حدیثونه کي نقل سوي دعاوي او د اسماء الهي په ذریعه دم او چف کول جائز دي ، ددې څخه پرته په نورو شیانو حرام دي، په خاصه توګه داسي الفاظو په ذریعه چي د هغو معنی معلومه نه وي ، دا حرام دي بلکه د کفر په حد کي د داخلېدو بېره هم ده.

تمائم د تمیمه جمع ده ، او معنی يې د هغه دانو او هډوکو ده چي د هغه په يو ځای کولو سره به عربو د ماشومانو د نه نظر کېدو لپاره د هغوی په غاړه کول، دا د جاهلیت د زمانې طریقه وه مګر اسلام ددې څخه منع وکړه ، ځیني حضرات وايي چي د تمائم څخه مراد تارونه او دم دی چي د هغه نوعیت مشرکانه وي او د جاهلیت په زمانه کي رواج وو، مګر هغه تعویذونه وغیره چي په هغو کي د قرآن کریم آیاتونه، نقل سوي دعاوي او د الله تعالی اسماء لیکلي وي ، په غاړه کول جائز دي، لکه څرنګه چي په حصن حصین کي د حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما د روایت څخه ثابتیږي.

بې ځایه عزل: ددې مطلب دادی چي د حمل کېدو د بیري عزل کول په هغه صورت کي جائز دی کله چي د ښځي رضا تر لاسه وي که د هغې رضا نه وي او عزل وکړل سي نو داسي عزل ته بې ځایه ویل کیږي چي د هغه څخه منع په دغه حدیث کي راغلې ده مګر که چیري ښځه ازاده نه وي بلکه مینزه وي نو هغه مینزه محل عزل ده ځکه د هغې د خوښې څخه پرته عزل کول جائز دي.

د ماشوم د خرابولو څخه مطلب دادی چي د هغه ښځي سره صحبت وکړل سي چي د هغې په

غېږ کي تي رودونکی ماشوم وي او د هغې سره د کوروالي په نتیجه کي هغه حامله سي ، د دغه عمل په وجه د هغې شيدې خرابيږي او هغه ماشوم ته تاوان رسيږي ، ځکه تي رودونکي ښځي سره کوروالي کول ماشوم ته تاوان رسول دي ، د تي ورکونکي ښځي سره کوروالي کولو ته غيل وايي او ددې يادونه په باب المباشرت کي سوې ده .

که څه هم رسول الله ﷺ دې ته حرام نه ويل: ددې مطلب دادی که څه هم رسول الله ﷺ د تي ورکولو په زمانه کي د ښځي سره کوروالي کولو او ماشوم ته تاوان رسول نه خوښول مګر دا يې حرام نه ګرځول ځکه د منکوحه ښځي سره جماع کول حلال دي او محض د حمل د احتمال چي د هغه ماشوم سره د ذکر تاوان رسېدو تعلق دی ، هغه ښځه نه حراميږي .

د ښځي لپاره پايزيبونه حرام دي

﴿۴۲۰۲﴾: وَعَنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ مَوْلَاةً لَهُمْ ذَهَبَتْ بِابْنَةِ الزُّبَيْرِ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ

د حضرت زبير رضي الله عنه څخه روايت دی چي د هغه ازاده کړي مينځي د زبير رضي الله عنه لور د حضرت عمر بن خطاب په خدمت کي حاضره کړه

وَفِي رِجْلِهَا أَجْرَاسٌ فَقَطَعَهَا عُمَرُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَعَ كُلِّ جَرَسٍ شَيْطَانٌ. رواه ابوداؤد.

او د انجلۍ په پښو کي پايزيب وو ، حضرت عمر رضي الله عنه د هغې څخه پايزيب پرې کړه او ورته يې وفرمايل: ما د نبي کريم ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي د هر پايزيب سره شيطان وي . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۳۲، رقم: ۴۲۳۰.

تشريح: مطلب دادی چي جرس (ژنګ) د شيطان باجه ده، لکه څرنګه چي فرمايل سوي دي : (الجرس مزامير الشيطان) هر ژنګ د شيطان سره وي ، ددې مطلب دادی چي شيطان هر ژنګ وهونکي شي ته خلک مائل کول او د هغوی په نظر کي د هغه اواز زيات زړه کښونکي جوړوي.

﴿۴۲۰۳﴾: وَعَنْ بُنَانَةَ مَوْلَاةِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَيَّانَ الْأَنْصَارِيِّ كَانَتْ عِنْدَ

د حضرت عبد الرحمن بن حيان انصاري رضي الله عنه مينزه بنانه روايت کوي ، هغه د بي بي عائشې رضي الله عنها

عَائِشَةَ إِذْ دُخِلَتْ عَلَيْهَا بِجَارِيَةٍ وَعَلَيْهَا جَلَاجِلُ يُصَوِّتْنَ فَقَالَتْ لَا تُدْخِلْنَهَا

په خدمت کي حاضره سوه چي و هغې ته يوه کوچنۍ انجلۍ راوستل سوه چي پايزيبونه اچولي وه او هغه شرنګاري کوي ، بي بي عائشې ﷺ هغې ښځې ته چي انجلۍ يې راوستلې وه وويل چي دا انجلۍ تر هغه وخته پوري زما و کور ته مه راوله

عَلَيَّ إِلَّا أَنْ تُقَطِّعَنَّ جَلَاجِلَهَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ جَرَسٌ . رواه ابوداؤد.

ترڅو پوري چي د ا پايزيب ور څخه پرې نه کړې او و يې نه غورځوې ، ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي په کوم کور کي چي پايزيبونه وي و هغه کور ته ملائکي نه راځي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود : ۴\۴۳۳، رقم: ۴۲۳۱.

د مجبورۍ په وخت کي د سروزرو استعمال

﴿۴۲۰۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ طَرَفَةَ أَنَّ جَدَّهُ عَرْفَجَةَ بْنَ أَسْعَدَ قُطِعَ

د حضرت عبد الرحمن ﷺ بن طرفه څخه روايت دی چي د هغه د نيکه عرفجه بن اسعد پزه د

أَنْفُهُ يَوْمَ الْكُلَابِ فَاتَّخَذَ أَنْفًا مِنْ وَرِقٍ فَأَنْتَنَ عَلَيْهِ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان يتخذ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي .

کلاب په ځاي په جګړه کي پرې سوې وه ، هغه د سپينو زرو پزه جوړه کړه ، په هغه کي بدبويي پيدا سوه ، نبي کريم ﷺ حکم ورته وکړ چي ته د سرو زرو پزه جوړه کړه . ترمذي ، ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۱۱، رقم: ۱۷۷۰، وابوداود ۴\۴۳۴، رقم: ۴۲۳۲، والنسائي۸\۱۶۳، رقم: ۵۱۶۱.

تشريح: کلاب د يو ځای نوم دی ، هلته جګړه وسوه چي په هغه کي حضرت عرفجه ﷺ هم ګډون درلود ، ددغه جګړې په دوران کي د هغه پزه پرېکړل سول چي د هغه په وجه هغه د سپينو زرو د پزي جوړولو سره پر مخ ولګول مګر په هغه کي بدبويي پيدا سوه نو رسول الله ﷺ د سرو زرو د پزي جوړولو اجازه ورکړه ، ددغه حديث په وجه علماوو د سروزرو د پزي جوړولو او همدارنګه په غاښو کي د سپينو زرو تار لګول مباح ګرځولي دي ، مګر امام محمد رحمه الله په غاښو کي د سرو زرو د تارو لګولو ته هم جائز ويلي دي .

د سرو زرو په باره کي وعيد

﴿۴۲۰۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَحَبَّ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي خپل محبوب

أَنْ يُحَلِّقَ حَبِيبَهُ حَلْقَةً مِنْ نَارٍ فَلْيُحَلِّقْهُ حَلْقَةً مِنْ ذَهَبٍ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ

ته د اور حلقه اچول خوښوي هغه دي ورته د سرو زرو حلقه جوړه کړي او څوک چي خپل محبوب

يُطَوِّقَ حَبِيبَهُ طَوْقًا مِنْ نَارٍ فَلْيُطَوِّقْهُ طَوْقًا مِنْ ذَهَبٍ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُسَوِّرَ

ته د اور طوق اچول خوښوي، هغه ته پکار ده چي هغه ته د سرو زرو طوق واچوي او څوک چي

حَبِيبَهُ سِوَارًا مِنْ نَارٍ فَلْيُسَوِّرْهُ سِوَارًا مِنْ ذَهَبٍ وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِالْفِضَّةِ

فَالْعَبُوا بِهَا. رواه ابوداؤد.

خپل محبوب ته د اور بنګړي اچول خوښوي هغه ته پکار ده چي هغه ورته د سرو زرو بنګړي ور په لاس کړي، ليکن و تاسو ته د سپينو زرو استعمال جائز دی په دې سره چي څنګه غواړئ و لوبېږئ (د ضرورت څخه زيات د زېوراتو استعمال په لهو و لعب کي داخل دي). ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۳۶، رقم: ۴۲۳۷.

تشريح: د حديث آخري الفاظ (فلعبوا بها)، اصل معنی يې داده چي تاسو په سپينو زرو لوبي مه کوئ يعني د سپينو زرو ګڼې جوړوی او خپلو ښځو ته يې ورکوئ او د هغه ګوتمۍ جوړوئ او خيله يې په ګوته کوئ او که د خپل وسلې لکه توره وغيره زينت او ښکلا وغواړئ نو د هغه لپاره هم سپين زر استعمالوئ مګر د حديث په الفاظو کي دې ته اشاره ده چي د دنيا زينت او ښکلا او د دنيا ګڼې په لهو او لعب کي داخل دي که څه هم په حقيقت کي مباح دي، يا دې ته اشاره ده چي د ګڼو لرونکي ښځي سره تفريح او زړه لګول د هغې د ګڼو سره لوبي کول دي.

ابن مالک رحمه الله وايي: په يو شي سره لوبي کول په هغه کي د خواهش مطابق د تصرف کولو برابر دی، د الفاظو مطلب دادی چي د خپلو ښځو د ګڼو څخه کوم ډول چي غواړئ په هغه کي سپين زر استعمالوئ مګر نارينوو ته يوازي په ګوتمۍ کي او د جنګ په نورو وسلو کي د ښکلا لپاره د سپينو زرو استعمال جائز دی.

﴿۴۲۰۶﴾: وَعَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د بي بي اسماء رضي الله عنها د يزيد د لورڅخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

أَيُّمَا امْرَأَةٍ تَقَلَّدَتْ قِلَادَةً مِنْ ذَهَبٍ قُلِّدَتْ فِي عُنُقِهَا مِثْلَهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ

کومه ښځه چي د سرو زرو امېل په غاړه کړي ، د قيامت په ورځ به د هغې په غاړه کي د هغه په

الْقِيَامَةِ وَأَيُّمَا امْرَأَةٍ جَعَلَتْ فِي أُذُنِهَا خُرْصًا مِنْ ذَهَبٍ جُعِلَ فِي أُذُنِهَا مِثْلُهُ

مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

شان د اور امېل واچول سي او کومه ښځه چي په خپلو غوږو باندي د سرو زرو والي په غوږو کړي د قيامت په ورځ به د هغې په غوږو کي د هغو په شان د اور والي واچول سي . ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۳۷، رقم: ۴۲۳۸، والنسائي ۸\۱۵۷، رقم: ۵۱۳۹.

﴿۴۲۰۷﴾: وَعَنْ أُخْتٍ لِحُذَيْفَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ أَمَا لَكُنَّ فِي الْفِضَّةِ مَا تَحَلَّيْنَ بِهِ أَمَا إِنَّهُ لَيْسَ مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تَحَلَّى ذَهَبًا تُظْهِرُهُ إِلَّا عُذِّبَتْ بِهِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت حذيفه رضي الله عنه خور بيان کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ښځو ! ستا سو لپاره سپين زر کافي نه دي چي تاسو د دې زر څخه کالي جوړ کړئ ، اګاه سئ ! په تاسو کي چي کومه ښځه د سرو زرو زېور جوړوي او بيا يې بېله موقع د هغو اظهار کوي نو هغې ته به د زرو په وجه عذاب ورکول کيږي . ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۳۶، رقم: ۴۲۳۷، والنسائي ۸\۱۵۷، رقم: ۵۱۳۸.

تشريح: د ذکر سوي حديث څخه دا څرګنديږي چي ښځو لره يوازي د سرو زرو استعمال منع دی ، کومه ښځه چي د سرو زرو ګېڼې استعمالوي هغه به په حديث کي د ذکر سوي وعيد مورد وي او دا چي ښځو لره محض د سپينو زرو ګېڼې مباح دي حالانکه حقيقت دادی چي د ښځو لپاره دواړه مباح دي، هغوی د سرو زرو ګېڼې هم استعمالولای سي او د سپينو زرو هم، علماوو

د دغه حديث مختلف تاويلونه بيان کړي دي، ځيني حضرات وايي چي مخکي دا حکم وو چي د سرو زرو استعمال د ښځو لپاره هم مباح نه وو مګر وروسته د هغه روايت په ذريعه دغه حکم منسوخ سو کوم چي حضرت علي رضي الله عنه نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: حرير (ريښم) او سره زر زما د امت د خلکو لپاره حرام دي، نو د دغه ارشاد څخه ثابته سوه چي ښځو لره سره زر او ريښم مباح دي، ځينو علماوو ويلي دي چي په ذکر سوو حديثو کي چي کوم وعيد بيان سوی دی د هغه تعلق د هغه ښځو سره دی چي د زکوة ادا کولو څخه پرته ګېڼې استعمالوي او ځيني حضرات وايي چي ذکر سوی وعيد د هغه ښځو په اړه دی چي د ګېڼو په استعمال سره پردو ښځو ته ځان ښيي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

که د جنت کالي غواړي

﴿۴۲۰۸﴾: عَنْ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْنَعُ أَهْلَهُ الْحِلْيَةَ وَالْحَرِيرَ وَيَقُولُ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ حِلْيَةَ الْجَنَّةِ وَحَرِيرَهَا فَلَا تَلْبَسُوهَا فِي الدُّنْيَا. رواه النسائي.

د حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به زېور (کالي) او وريښمو والا ته فرمايل: که تاسو د جنت کالي (زېور) او وريښم خوښوئ نو په دنيا کي د اشيان مه اغوندئ.

تخريج: سنن النسائي ۸\۱۵۶، رقم: ۵۱۳۶.

ګوتمۍ

﴿۴۲۰۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا فَلَبِسَهُ قَالَ شَغَلَنِي هَذَا عَنْكُمْ مُنْذُ الْيَوْمَ إِلَيْهِ نَظْرَةٌ وَإِلَيْكُمْ نَظْرَةٌ ثُمَّ أَلْقَاهُ. رواه النسائي

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ګوتمۍ جوړه کړه او هغه يې په

لاس کړه، بیا یې وفرمایل: زه نن دې ګوتمۍ ستاسو څخه مشغوله کړم، کله زه و دې ته ګورم او کله تاسو ته په دې ویلو سره یې هغه وکښل. نسائي

تخریج: سنن النسائي ۸\ ۱۹۵، رقم: ۵۲۹۳.

تشریح: په ظاهره دا معلومیږي چې په حدیث کې د کومې ګوتمۍ ذکر سوی دی هغه د سرو زرو وه.

کوچنیانو ته سره زر حرام دي

﴿۴۲۱۰﴾: وَعَنْ مَالِكٍ قَالَ أَنَا أَكْرَهُ أَنْ يُلْبَسَ الْغِلْمَانُ شَيْئًا مِّنَ الذَّهَبِ لِأَنَّهُ بَلَغَنِيْ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ التَّخَتُّمِ بِالذَّهَبِ فَأَنَا أَكْرَهُ لِلرِّجَالِ الْكَبِيْرِ مِنْهُمْ وَالصَّغِيْرِ. رواه في الموطأ

د حضرت مالک رحمه الله څخه روایت دی چې زه دا نه خوښوم چې و کوچنیانو ته د سرو زرو شیان په وا غوندم ځکه چې ما ته معلومه سوې ده چې رسول الله ﷺ د سرو زرو د ګوتمۍ څخه منعه کړېده، زه چې کوم شیان د لویانو لپاره نه خوښوم نو د کوچنیانو لپاره یې هم نه خوښوم. مؤطا

تخریج: موطا الامام مالک ۲\ ۹۱۱، رقم: ۴.

تشریح: لکه څرنګه چې د نارینوو لپاره د سرو زرو د یو شي استعمال یا هلکانو ته استعمال منع دی همدرانګه د سپینو زرو شیان هم منع دي پرته د ګوتمۍ څخه او د ریښم جامه هم د سرو زرو په حکم کې ده.

==========

بَابُ النِّعَالِ　　(د څپلیو بیان)

نعال د نعل جمع ده او نعل هغه شي ته وایي چې د هغه په ذریعه پښې د مځکې څخه ساتل کیږي، د کوم شي په ذریعه چې د پښو ساتنه کیږي یعني څپلۍ، د هغه حیثیت او ډول په هري زمانې کې او د هر قوم په خلکو کې مختلف وي، که هغه د څپلیو په صورت کې وي یا د بوټو وغیره په شکل کې وي، ددغه باب اصل مراد د رسول الله ﷺ د څپلیو هیئت او صفات بیانول دي چې په هغه زمانه کې په عربو کې رواج وو، په هغه زمانه کې هم څپلۍ ډول ډول وې ځکه نو د باب عنوان په جمع یعني نعال سره ذکر سوی دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د نبي ﷺ څپلۍ

﴿۴۲۱۱﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ النَّعْلَ الَّتِي لَيْسَ فِيهَا شَعَرٌ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما رسول الله ﷺ د داسي څپلۍ په پښو کولو کي ليدلي دی چې په هغه کي وربښته نه وه. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۰۸، رقم: ۵۸۵۱.

﴿۴۲۱۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنَّ نَعْلَ النَّبِيِّ ﷺ كَانَ لَهَا قِبَالَانِ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ په چوټو کي دوې تسمې وې (يعني يوه تسمه يې په بټه ګوته کي او بله تسمه په منځنۍ ګوته کي). بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۱۲، رقم: ۵۸۵۷.

د لغاتو حل: قبالان: زمام النعل وهو السير، اى الجلد، الذي يكون بين الاصبعين. (تسمې)

تشريح: قبال د څپليو تسمې ته وايي چې د ګوتو په مينځ کي وي، د رسول الله ﷺ څپليو مبارکو دوې تسمې درلودې چې يوه تسمه به د بټې ګوتې او د هغه سره په څنګ کي ګوتي په مينځ کي وه او بله تسمه به د منځنۍ ګوتي او د هغه سره په څنګ کي ګوتي کي وه، دغه څپلۍ په هغه زمانه کي د عربو د څپليو په توګه استعمالېدلې.

د څپليو اهميت

﴿۴۲۱۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ غَزَوْنَاهَا يقول اسْتَكْثِرُوا مِنَ النِّعَالِ فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ رَاكِبًا مَا انْتَعَلَ. مسلم

د جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې په يوه غزا کي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واورېدل چې ډېري څپلۍ رانيسئ ځکه چې ترڅو پوري د يو سړي څپلۍ په پښو وي د سپور (سپاره) په ډول دی. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۳\۱۶۶۰، رقم: ۶۶-۲۰۹۶.

تشریح: کوم څوک چې څپلۍ په ښنو کوي نو هغه یقینا د لوځي پښنو سړي په نسبت زیات تېز ځي او د هغه پښې هم د تکلیف او تاوان څخه خوندي وي، د دغه حقیقت بیانولو لپاره د څپلۍ په پښنو کونکي سړي ته د سپاره په مثل ویل سوي دي، په دغه ارشاد کي دې خبري ته هم توجه سوې ده چې د سفر په اسبابو کي هغه شیان چې د سفر په دوران کي د ځان سره ضروري وي چې د هغو ضرورت پېښېږي.

اول راسته څپلۍ په پښنو کوی

﴿۴۲۱۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ و فرمایل: کله چې څوک څپلۍ په

وَسَلَّمَ إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيَمِينِ وَإِذَا نَزَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ لِيَكُنْ الْيُمْنَى أَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ وَآخِرَهُمَا تُنْزَعُ. متفق علیه

پښنو کوي نو اول دي یې په راسته پښنه کوي او کله چې څپلۍ کاږي نو د چپه پښې څخه دي یې کاږي چې راسته پښنه په پښنو کولو کي اوله سي او په کښلو کي دوهمه سي. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۱۱، رقم: ۵۸۵۶، ومسلم ۱۳\۱۶۶۰، رقم: ۶۷– ۲۰۹۷.

تشریح: په ذکر سوې مسئله کي قاعده داده چې کوم عمل فضیلت لري په هغه کي د راسته خوا څخه پېل کول مستحب دي او کوم عمل چې داسي نه وي نو په هغه کي د چپه خوا څخه پیل کول کار دي، څپلۍ په پښنو کول مسجد ته د تلو او نورو نېکو اعمالو ذریعه او وسیله ده ځکه د څپلۍ په پښنو کولو په وخت کي د راسته پښې څخه پېل کول مستحب دي، د دغه قاعدې په رڼا کي دا هم مستحب دي چې مسجد ته د داخلېدو په وخت کي اول راسته پښنه اېښودل پکار دي او د مسجد څخه د وتلو په وخت کي اول چپه پښنه اېستل پکار دي، د دې پر خلاف بیت الخلاء ته د تلو په وخت کي اول چپه پښنه دننه کول پکار دي او د راوتلو په وخت کي اول راسته پښنه ایستل پکار دي، د دې څخه پرته دا هم باید په فکر کي وي چې د چپه پښې په مقابل کي راسته پښې ته د فضیلت او غوره والي درجه تر لاسه ده او د هغې تکریم کول پکار دي او تکریم یې دادی چې کله څپلۍ په پښنو کیږي نو مخکي دي په راسته پښنه په پښنو کیږي او کله چې څپلۍ کاږي نو اول دي یې د چپه پښې څخه کاږي تر څو راسته پښنه د چپې پښې په نسبت زیات وخت

په ځپلۍ کي وي، يعني دا د راسته پښې د احترام ذريعه ده پر دې باندي مسجد ته ننوتل او د هغه ځخه وتل هم قياس کيداى سي.

يوه ځپلۍ په پښه کول منع دي

﴿۴۲۱۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَمْشِي أَحَدُكُمْ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ لِيُحْفِهِمَا جَمِيعًا أَوْ لِيُنْعِلْهُمَا جَمِيعًا. متفق عليه

د حضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ ځخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅوک دي په يوه چپلکه کي نه ګرځي، يا دي دواړي پښې لڅي وي يا په دواړو پښو ځپلۍ اغوندئ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۰۹، رقم: ۵۸۵۵، ومسلم ۳\۱۶۶۰، رقم: ۶۸- ۲۰۹۷.

تشريح مطلب دا دى چي کله ځپلۍ په پښو کوي نو په دواړو پښو دي يې کوي او که يې نه په پښو کوي نو دواړي پښې دي لوڅي وي، په يوه پښه ځپلۍ کول او بله لوڅه کېدل مکروه تنزيهي دي ځکه چي دغه طريقه د تهذيب خلاف ده، دوهم دا چي د پښو پورته او کښته کېدل د لوېدو سبب ګرځي په خاصه توګه په هغه صورت کي کله چي ځپلۍ پورته او مځکه لوړه او کښته وي، علماوو له دې سره د يوه لاس د لستوڼي ځخه را ايستل هم شامل کړي دي که يو سړى د قميص وغيره په يوه لستوڼي کي لاس دننه کړى وي مګر په دوهم لستوڼي کي يې لاس دننه کړى نه وي نو د هغه حکم هم دغه دى، همدارنګه په يوه پښه ځپلۍ کول او په بله پښه موزه کول هم دغه حکم لري.

﴿۴۲۱۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ ځخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي د چا د ځپلۍ تسمه

نَعْلِهِ فَلَا يَمْشِ فِي نَعْلٍ وَّاحِدَةٍ حَتّٰى يُصْلِحَ شِسْعَهُ وَلَا يَمْشِ فِي خُفٍّ وَّاحِدٍ وَ

وشکيږي نو په يوه ځپلۍ سره دي نه ګرځي ترڅو پوري چي د هغه بلي ځپلۍ تسمه يې جوړه کړې نه وي او نه دي تګ کوي په يوه موزه کي

لَا يَأْكُلْ بِشِمَالِهِ وَلَا يَحْتَبِي بِالثَّوْبِ الْوَاحِدِ وَلَا يَلْتَحِفُ الصَّمَّاءَ. رواه مسلم

او نه دي په چپه لاس باندي خوراک کوي او نه دي داسي کالي اغوندي چي په کښېنستلو سره

يې ستر معلو ميږي او نه دي داسي جامه اغوندي چي دواړه لاسونه يې د ننه راسي او. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۳\۱۶۶۱، رقم: ۷۱- ۲۰۹۹.

د لغاتو حل: شسع: هو احد سيور اى جلود النعل المشدود في الزمام. الصماء: قيل لها صماء، لانه يسد على يديه ورجليه المنافذ كلها كالصخرة الصماء التي ليس فيها خرق ولاصدع.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د نبي كريم ﷺ د څپليو تسمې

﴿۴۲۱۷﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ لِنَعْلِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَالاَنِ مُثَنًّى شِرَاكُهُمَا. رواه الترمذي

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په دوو څپليو كي دوې دوې تسمې وې او هره تسمه غبرګه وه. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۱۲، رقم: ۱۷۷۲.

په ولاړه څپلۍ په پښو كول

﴿۴۲۱۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْتَعِلَ الرَّجُلُ قَائِمًا. رواه ابوداؤد ورواه الترمذي وابن ماجة عن ابي هريرة.

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د دې څخه منعه كړېده چي سړی په ولاړه باندي څپلۍ په پښو كړي. ابوداؤد، او په ترمذي كي دا روايت د ابو هريره رضی الله عنه څخه نقل كړی دی

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲۷۶، رقم: ۴۱۳۵.

تشريح: دغه منع په هغه صورت كي ده كله چي په دړېدو سره د څپلۍ په پښو كولو كي تكليف وي يعني داسي څپلۍ وي چي د هغه په پښو كولو او د تسمو په تړلو كي لاس رسېدل ګران وي، كنه نو مطلق د څپليو په اړه دغه منع نسته.

یوه څپلۍ په پښو کول

﴿۴۲۱۹﴾: وَعَن القاسم بن محمد عن عَائِشَةَ قَالَتْ رُبَّمَا مَشَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ ، وفي رواية انها مشت بنعل واحدة. رواه الترمذي و قال هذا اصح.

حضرت قاسم بن محمد رضی الله عنه د بي بي عائشې رضی الله عنها څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ به په ځینو وختو کي په یوه چپل اغوستلو سره تلی او په یوه بل روایت کي دا الفاظ دي چې بي بي عائشه رضی الله عنها په یوه چپل په پښو کولو سره ولاړل. ترمذي ویلي چې دا روایت زیات صحیح دی.

تخریج: سنن الترمذي ۴\ ۲۱۴، رقم: ۱۷۷۷.

تشریح: په کومو حدیثونو کي چې په یوه پښه کي د څپلۍ په پښو کولو سره د ګرځېدو منع راغلې ده دغه حدیث د هغه بالکل خلاف دی، علماوو ددغه حدیث په صحیح کېدو د شک او شبهې اظهار کړی دی او لیکل یې دي که دغه حدیث صحیح ومنل سي نو په هغه صورت کي به د رسول الله ﷺ دغه عمل د نادر په درجه کي وي او دا چې ددې تعلق به له کور سره وي نه له دباندي سره، یعني رسول الله ﷺ به په کور کي دننه د یوې څپلۍ په پښه کولو سره ګرځېدی او هغه د یو مجبورۍ په وجه، یا د بیان جواز لپاره چې دا معلومه سي چې د یوې څپلۍ په پښه کولو سره ګرځېدل بالکل حرام نه دي، ددې څخه معلومه سوه چې کوم شی د امت په اړه مکروه تنزیهي دی د هغه د شارع په عمل کي راتلل د هغه شي د اصل د جواز څرګندولو لپاره وي، په دې اعتبار سره هغه شی ګویا د شارع په حق کي نه مکروه کیږي بلکه د یو شي جواز بیانول پر شارع واجب دي ، دغه نکته صاحب مواهب لدنیه د رسول الله ﷺ په ولاړه او بو څښلو په ضمن کي هم کړې ده .

څپلۍ و کاږه کښېنه

﴿۴۲۲۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مِنَ السُّنَّةِ إِذَا جَلَسَ الرَّجُلُ أَنْ يَخْلَعَ نَعْلَيْهِ فَيَضَعَهُمَا بِجَنْبِهِ. رواه ابو داؤد.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې دا طریقه سنت ده چې یو سړی چیري کښېني نو

خپلي چپلكي دي و كاږي او خپل په بغل كي دي يې كښېږدي . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۷۷، رقم: ۴۱۳۸.

تشريح: مطلب دادى چي د څپليو سره دي كښېني بلكه هغه دي وكاږي چي د مجلس د ادابو تقاضا ده او د تهذيب علامه هم ده، او څپلى دي خپل چپه خوا ته كښېږدي چي د راسته خوا تكريم وسي ، مخته دي يې هم نه ايږدي (كه چيري په مسجد وغيره كي ناست وي) چي د قبلې د تعظيم خلاف نسي او د غلا كېدو د بيري څخه شا ته دي يې هم نه ايږدي .

د نجاشي له طرفه تحفه

﴿۴۲۲۱﴾: وَعَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّجَاشِيَّ أَهْدَى لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُفَّيْنِ أَسْوَدَيْنِ سَاذَجَيْنِ فَلَبِسَهُمَا ، رواه ابن ماجة و زاد الترمذي عن ابي بريدة عن ابيه ثم توضا ومسح عليها.

حضرت ابن بريده رضي الله عنه د خپل پلاره څخه نقل كوي چي نجاشي پاچا د رسول الله ﷺ په خدمت كي دوې ساده توري موزې د تحفې په ډول را ولېږلې ، نبي كريم ﷺ هغه په پښو كړې.ابن ماجه،او د ترمذي د ابى بريده رضي الله عنه څخه دا روايت بيان كړي دى ، په هغه كي دا الفاظ دي ، نبي كريم ﷺ هغه موزې په پښو كړې وروسته يې اودس وكړ او پر هغو موزو يې مسحه وكړه.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۱۱۴، رقم: ۲۸۲۰، وابن ماجه ۱\۱۸۲، رقم: ۵۴۹.

تشريح: هغه موزې چي د رسول الله ﷺ په خدمت كي وړاندي سوې نو رسول الله ﷺ دا پلټنه ونه كړل چي دغه موزې د كوم پوست دي ، ايا د هغه دباغت سوى دى كه يا؟ او دغه موزې د مردار حيوان دي كه د ذبح سوي حيوان؟ د دغه خبرو د پوښتنه كولو څخه پرته رسول الله ﷺ هغه موزې په پښو كړې ، ګويا رسول الله ﷺ د هغه موزو د ظاهري صورت حال اعتبار وكړ چي په ظاهر كي پر هغه باندي د نجاست وغيره اثار نه وه ځكه نو هغه يې پاكي وګڼلې ، له دې څخه د نوو جامو، ټغر او نورو شيانو حكم هم معلوم سو كه پر هغه باندي په ظاهره نجاست وغيره نه وي نو هغه به پاك ګڼل كيږي .

=========

بَابُ التَّرَجُّلِ (د ږمونځ کولو بیان)

ترجل په عربي ژبه کي ژمونځولو ته وایي که د هغه تعلق د سر ژمونځولو سره وي یا د ږیري سره وي مگر په عامه توگه د ترجل استعمال د سر ژمونځولو په معنی کي وي او د ږیري ژمونځول د تسریح په لفظ سره بیانوي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د حائضې بدن ناپاک نه دی

﴿۴۲۲۲﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أُرَجِّلُ رَأْسَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا حَائِضٌ. متفق عليه.

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چي ما به د حیض په ورځو کي د نبي کریم ﷺ سر ور ږمونځوی. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۶۸، رقم: ۵۹۲۹، ومسلم ۱\۲۴۴، رقم: ۹- ۲۹۷.

تشريح: د دغه حديث څخه څرگنده سوه چي د حائضې ښځي بدن ناپاک نه وي او دا چي د هغه حائضې ښځي سره اختلاط (یو ځای والی) جائز دی.

پنځه فطري خبري

﴿۴۲۲۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الْفِطْرَةُ خَمْسٌ الْخِتَانُ وَالِاسْتِحْدَادُ وَقَصُّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ وَنَتْفُ الْإِبْطِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: پنځه شیان فطري (پیدائشي) دي یعني د ټولو انبیاؤ کرامو په نیزد سنت دي (او هغه دادي) (۱)- سنتي کول. (۲)- د نامه لاندي ورېښتان خرول. (۳)- د بریتو کوچني کول. (۴)- نوکان پرې کول. (۵)- د بغلو ورېښتان کښل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۴۹، رقم: ۵۸۹۱، ومسلم ۱\۲۲۲، رقم: ۵۰- ۲۵۷.

تشريح: د فطرت مطلب دا دی چي دغه پنځه شیان د ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام په شریعت

کي مسنون راغلي دي، څرګنده دي وي چي د فطرت سره اړوند حديث د کتاب په لومړنۍ برخه کي په باب السواک کي هم تېر سوی دی او هلته لس شيان په فطرت کي شمېرل سوي دي او دلته د پنځو شيانو بيان سوی دی، ددې څخه معلومه چي نه خو هلته حصر مقصد وو او نه دلته بلکه مراد دادی چي کوم شيان د ټولو انبياء کرامو عليهم السلام د سنت کېدو په وجه د فطرت درجه لري په هغو کي لس شيان دادي (کوم چي په باب السواک کي بيان سوي دي) او بيا په هغه لسو شيانو کي د پنځو شيانو په بېلولو سره بيان سوي دي.

د مشرکانو مخالفت

﴿۴۲۲۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ اَوْفِرُوا اللِّحَى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ. وفي رواية انهكوا الشوارب واعفوا اللحى . متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مشرکانو مخالفت کوئ يعني ږيره لويوئ او برېتونه کوچني کوئ (يعني مشرکان ږيره خروي او برېتونه پرېږدي) او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي برېتونه ښه غچي کوئ (مګر داسي نه چي خرولي يې وي) او ږيري اوږدې کړئ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۵۱، رقم: ۵۸۹۳، ومسلم ۱\۲۲۲.

د زائدو وېښتانو صفا کولو وخت

﴿۴۲۲۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ وُقِّتَ لَنَا فِي قَصِّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمِ الْأَظْفَارِ وَنَتْفِ الْإِبِطِ وَحَلْقِ الْعَانَةِ أَنْ لَا نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً. رواه مسلم.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چي زموږ لپاره د وربېښتانو د غچي کېدو او نوکانو د پرېکولو د بغل د وربېښته د کښلو او د نامه لاندي د وربېښتانو د خريلو وخت ټاکل سوی دی، دا چي په هغو باندي تر څلوېښتو ورځو زيات وخت تېر نه سي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\۲۲۲، رقم: ۵۱-۲۵۸.

تشریح: ابن ملک رحمة الله علیه وايي د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه نقل سوی يو روايت بيان سوی دی چي نبي کريم ﷺ نوکان او د شونډو وېښتان هره جمعه کوچني کول، د نامه لاندي وېښتان به يې په شلو ورځو کي پاکول او د بغلو وېښتان به يې په څلوېښتو ورځو کي پاکول، په قنيه کي ليکلي دي چي غوره داده چي په اونۍ کي يو وار نوکان پرېکړل سي، د شونډو وېښتان (برېتونه) کوچني کړل سي او د بدن زياتو ويښتانو په پاکولو سره د غسل په ذريعه خپل بدن پاک کړل سي، که په هره اونۍ کي ممکن نه وي نو په هرو پنځلسو ورځو کي دي په دې عمل وکړل سي تر دې که چيري تر څلوېښتو ورځو زيات وخت تېر سي نو دې ته به بېله عذره پرېښودل ويل کيږي، ګويا د دغه شيانو لپاره يوه اونۍ غوره وخت دی، پنځلس ورځي درمياني وخت دی او آخري وخت يې تر څلوېښتو ورځو پوري دی، تر څلوېښتو ورځو زيات وخت تېرونکی به بېله عذره پرېښودونکی شمېرل کيږي چي د حنفيه په نزد هغه د وعيد وړ دی.

مظهر رحمة الله علیه وايي: د ابو عمر او عبدالله الاغر څخه نقل سوي دي چي نبي کريم ﷺ به د هري جمعې په ورځ لمانځه ته د تللو څخه مخکي برېتونه او نوکان کوچني کول او ځينو حضراتو ويلي دي چي رسول الله ﷺ به د بغلو وېښتان او د نامه لاندي وېښتان په څلوېښتو ورځو کي پاکول، او د ځينو حضراتو د روايت مطابق په يوه مياشت کي يې پاکول، د يوې مياشتي والا روايت يو معتدل قول دی.

د نکريزو استعمال

﴿۴۲۲۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى لَا يَصْبُغُونَ فَخَالِفُوهُمْ. متفق عليه

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يهودو او نصاراؤ به نکريزي نه لګولې تاسو د هغوی مخالفت کوئ (يعني نکريزي لګوئ ليکن توري نکريزي نه په کوم چي نن سبا خلک سر يا ږيره توروي). بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۳۵۴، رقم: ۵۸۹۹، ومسلم ۳\ ۱۶۶۳، رقم: ۸۰- ۲۱۰۳.

تشريح: مطلب دادی چي تاسو خلک د نکريزو په لګولو سره د يهوديانو او عيسايانو مخالفت څرګند وی، څرګنده دي وي چي د خضاب څخه مراد هغه خضاب دی چي تور نه وي ځکه چي تور خضاب لګول منع دی، ددې تفصيلي بحث به مخته راسي، کوم چي د صحابه

کرامو وغیره تعلق دی نو هغوی به د نکریزو سور خضاب لګوی او کله کله به یې ژړ خضاب هم لګوی ، د نکریزو د خضاب لګولو په اړه ډېر حدیثونه نقل سوي دي او علماوو لیکلي دي چې د نکریزو خضاب لګول د مؤمن کېدو علامه ده ، د ټولو علماوو په نزد د نکریزو خضاب لګول جائز دي بلکه ځیني فقهاء د نارینوو او ښځو دواړو لپاره مستحب ورته وایي او په فضائلو کي یې هغه حدیثونه هم نقل کړي دي که څه هم هغه حدیثونه محدثینو ضعیف ګرځولي دي.

په مجمع البحار کي لیکلي دي چې په دغه حدیث کي د خضاب کولو حکم د هغه خلکو لپاره نه دی چې د هغوی وېښتان تور او سپین وي بلکه د هغه خلکو لپاره دی چې د هغوی وېښتان بالکل سپین سوي وي او د تورو وېښتانو نوم او نښان هم نه وي، لکه څرنګه چې د حضرت ابو قحافه رضي الله عنه وېښتان وه (چې د هغه په اړه په راتلونکي حدیث کي یادونه کېږي) ، په دغه کتاب کي هم دا لیکلي دي چې د خضاب په مسئله کي د علماوو مختلف قولونه دي او ددې اختلاف بنیاد د احوالو پر مختلف کېدو باندي دی، ځینو حضراتو ویلي دي چې ددغه حکم تعلق د هغه مسلمان او سیمي د خلکو سره دی چیري د خضاب لګولو عام رواج وي ، که یو سړی د خپل ښار د خلکو د عادت څخه بېلوي نو د غیر مناسب شهرت حامل کیږي چې مکروه دی او ځیني حضرات وایي چې د کوم سړي د وېښتانو سپین والی د هغه د باوقار سپین ږیرتوب علامه وي او د هغه د مخ د موزونیت سبب وي بلکه د خضاب په لګولو سره د هغه وقار کمیږي نو د هغه په اړه خضاب نه لګول زیات غوره دي ، ددې پر خلاف د کوم سړي د وېښتانو سپینوالی چې د هغه د بد شکله او بې وخته سپین ږېرتوب سبب وي چې د هغه په وجه د هغه شخصیت مجروح کیږي نو د هغه لپاره دغه عیب پټول او خضاب لګول زیات غوره او مناسب دي.

﴿۴۲۲۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ بَيَاضًا فَقَالَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيِّرُوا هَذَا بِشَيْءٍ وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې د ابوبکر صدیق رضي الله عنه پلار ابو قحافه د مکې د فتحې په ورځ و رسول الله ﷺ ته راوستل سو (یعني د اسلام د قبلولو لپاره) په دې وخت کي د هغه د ږیري او د سر وړېښته د ثغامه په شان سپین وه (ثغامه د هغو وښو نوم دی چې د هغه شګوفه (غوټۍ) او میوه سپینه وي) نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : د دې وړېښتانو سپینوالي په یو شی

سره ور بدل کړئ لیکن د تور رنګ څخه ځان وژغورئ. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۶۶۳، رقم: ۷۹ - ۲۱۰۲.

د لغاتو حل: الثغامة: نبت شدید البیاض، زهرة یشبه الشیب.

تشریح: ثغامه یو ډول واښو ته وایي چې د هغه غوټۍ او میوې سپیني وي، دغه واښو ته په فارسي کي درمغه وایي، ددې حدیث څخه معلومه سوه چي تور خضاب لګول مکروه حرام دي او په مطالب المؤمنین کي د علماوو دا قول لیکل سوی دی که یو لمونځ کونکی او مجاهد د دین د ښمنانو په نظر کي د خپل هیبت قائمولو لپاره تور خضاب استعمال کړي نو جائز دي او کوم څوک چي د خپل نفس خوشحاله کولو لپاره د زینت او ښکلا لپاره او د ښځي په نظر کي د ښه معلومېدو لپاره تور خضاب لګوي نو دا د اکثرو علماوو په نزد ناجائز دي، په دې اړه د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ په باره کي چي څه نقل سوي دي د هغه حقیقت دادی چي هغه به د نکریزو او وسمه (د نیل پاڼو) خضاب لګوی او د هغه خضاب په وجه به د هغه د وېښتانو رنګ تور نه وو بلکه سور به وو، همدارنګه په دې اړه د ځینو نورو صحابه کرامو په اړه چي کوم روایتونه نقل سوي دي هغه هم پر دې محمول دي.

خلاصه دا چي د نکریزو خضاب لګول په اتفاق سره جائز دی او په تور خضاب کي حرمت او کراهت دی بلکه په دې اړه سخت وعید بیان سوی دی لکه څرنګه چي په دوهم فصل کي به بیان سي.

په سر کي لار ایستل او نه ایستل

﴿۴۲۲۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به

وَسَلَّمَ يُحِبُّ مُوَافَقَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيمَالَمْ يُؤْمَرُ فِيهِ وَكَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ

په هغو خبرو کي د اهل کتابو موافقت خوښوی چي د هغه په اړه به احکام نه وه نازل سوي، په

يَسْدِلُونَ أَشْعَارَهُمْ وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ يَفْرُقُونَ رُءُوسَهُمْ فَسَدَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاصِيَتَهُ ثُمَّ فَرَقَ بَعْدُ. متفق علیه

هغه زمانه کي به اهل کتابو خپل وېښته دغسي پرېښول یعني په هغه کي به یې د ډمونځ کولو سره په سر کي لار نه ایستل او مشرکانو به په سر کي لار ایستل، رسول الله ﷺ به په هغه زمانه

كي د خپل تندي مبارك ورېښتان دغسي پرېښودل ليكن بيا يې په سر مبارك كي لار ايستل.

بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۳۶۱، رقم: ۵۹۱۷، ومسلم ۴\ ۱۸۱۷، رقم: ۹۰- ۲۲۳۶.

تشريح: د سدل معنى د سر د وېښتانو ځلورو خواوو ته پرېښودل او زړول، او د ليكي جوړولو لپاره د دواړو خواوو وېښتان يو ځاى كول، او د (فرق) مطلب دادى چي د نيم سر وېښتان يوې خوا ته او د نيم سر وېښتان بلي خوا ته يو ځاى كول، په قاموس كي ليكلي دي چي فرق د وېښتان په مينځ كي پيدا كېدونكي لاري ته وايي.

لكه څرنګه چي بيان سول چي نبي كريم ﷺ د مكې څخه مدينې منورې ته په هجرت تشريف راوړ نو په پيل كي يې د اهل كتابو په موافقت كي د تندي وېښتان سدل كول يعني همداسي به يې بې ترتيبه پرېښودل ځكه چي د اهل كتابو طريقه د سدل وه، څرګنده دي وي چي د سدل مطلب كه څه هم د وېښتان د ځلورو خواوو څخه همداسي پرېښودل دي او په دې كي د تندي د وېښتانو هيڅ تخصيص نسته مګر سدل او فرق په مينځ كي امتياز د تندي سربېره وېښتانو څخه څرګندېږي، په دې سبب په خاصه توګه د تندي د وېښتانو ذكر سوى دى، كه څه هم طيبي رحمه الله ويلي دي چي دلته د سدل څخه مراد محض د تندي وېښتان پرېښودل دي.

د حديث څخه څرګنده سوه چي په پېل كي د رسول الله ﷺ معمول د سدل وو مګر وروسته فرق يعني لاره پرېښودل آخري عمل وګرځول سو، له دې كبله ځيني حضرات وايي چي سدل يعني وېښتان همداسي پرېښودل منسوخ دي ځكه چي د رسول الله ﷺ د سدل پرېښودو سره فرق اختيارول د حكم الهي او وحي په وجه وو لكه څرنګه چي د الله جل جلاله له خوا رسول الله ﷺ ته دا اجازه وه چي په كومه معامله كي يو شرعي حكم نازل سوى نه وي په هغه كي د اهل كتابو د رواج مطابق عمل كيداى سي، كله چي د وېښتانو په اړه رسول الله ﷺ ته د وحي په ذريعه د فرق يعني لاري ايستلو حكم وركړل سو نو دا ددې خبري علامه وګرځول سول چي د وېښتانو په اړه په عارضي توګه سره د اهل كتابو د رواج مطابق عمل منسوخ سو، له دې څخه دا څرګنده سوه چي د فرق حكم آخري او حتمي دى ځكه په دې اړه د اهل كتابو مخالفت يعني سدل پرېښودل هم په حتمي توګه كېدل پكار دي.

ددغه حديث څخه ځينو حضراتو پر دې خبره استدلال كړى دى چي د مخكنيو انبياوو عليهم السلام شريعت زموږ لپاره د اجتماع قابل دى تر څو چي موږ ته د هغه پر خلاف د عمل

کولو حکم رانه کړل سي مګر دغه اجتماع به په هغه شیانو کي وي چي د هغو په اړه دا معلومه وي چي په هغه کي څه تغیر او تبدیل نه دی سوی بلکه هغه احکام دي کوم چي الله ﷻ په مخکنیو شریعتو کي نازل کړي دي.

د روایت دغه الفاظ: (یحب موافقتهم) یعني رسول الله ﷺ به د اهل کتابو موافقت خوښوی، ددې څخه څرګندیږي چي په هغه معاملو کي هم د اهل کتابو موافقت کول د رسول الله ﷺ پر اختیار باندي پرېښودل سوی وو که رسول الله ﷺ خوښ کړي نو د اهل کتابو مطابق دي عمل وکړي او که خوښ یې نه کړي نو عمل دي نه کوي، که دغه یعني د موافقت کولو حکم ددې درجې وي د کومي درجې چي یو شرعي حکم وي نو په دې کي د رسول الله ﷺ د خوښی یا نه خوښی څه سوال نه پیدا کیږي بلکه یو واجب او لازم امر به وي.

په ځینو حدیثو کي دا هم نقل سوي دي چي د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي کله به د رسول الله ﷺ وېښتان بې ترتیبه وه نو د هغه په یو ځای کولو سره به یې لار پکښي ایستل او هغه به یې پر خپل حالت باندي پرېښودل، یعني په عامو حالاتو کي کله چي به وېښتان آخوا دېخوا نه وه نو رسول الله ﷺ به سدل یا فرق دواړو کي د یوه اهتمام او تکلف نه کوی بلکه هغه وېښتان به یې پر خپل حالت باندي پرېښودل، ددې څخه معلومه سوه چي سدل او فرق دواړه جائز دي مګر فرق غوره دی.

د قزع څخه منعه

﴿۴۲۲۹﴾: وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنِ الْقَزَعِ قِيلَ لِنَافِعٍ مَا الْقَزَعُ قَالَ يُحْلَقُ بَعْضُ رَأْسِ الصَّبِيِّ وَيُتْرَكُ الْبَعْضُ. متفق عليه. والحق بعضهم التفسير بالحديث.

حضرت نافع رضي الله عنه د ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت کوي چي ما د رسول الله ﷺ څخه د ((قزع)) منعه واورېدل، د نافع رضي الله عنه څخه پوښتنه وسوه ((قزع)) څشي ده؟ هغه ورته وویل: د قزع معنی ده د کوچنی د سر د یوې برخي وېښتان خرول او یو څه پرېښودل. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۶۳، رقم: ۵۹۲۰، ومسلم ۳\۱۶۷۵، رقم: ۱۱۳– ۲۱۲۰.

تشریح: نووي رحمه الله وايي: د قزع معنی د یو چا د سر یو څه برخه خریل او څه برخه بېله خریلو پرېښودل دي، او دا معنی زیاته صحیح ده ځکه چي د حدیث راوي هم دا معنی بیان کړې ده او

دا د حدیث د ظاهري مفهوم مخالفت هم نه دی ، نو پر دغه معنی باندي اعتماد کول واجب دی او کوم چي د هلک د تخصیص ذکر دی نو دا محض د عام رواج او عادت په وجه دی کنه نو څرنګه چي قزع د هلکانو لپاره مکروه ده همدا رنګه د لویانو په اړه هم مکروه دي، ځکه په فقهي روایاتو کي دا مسئله د قید او استثناء څخه پرته بیانیږي او په قزع کي کراهت د اهل کفر د مشابهت او بد هیبتی څخه د ځان ساتني لپاره دی.

راوي چي د قزع کوم مطلب بیان کړی دی او نووي رحمه الله ورته زیات صحیح ویلي دي په هغه کي چوټي (لکه څرنګه چي کافران یې په خپلو سرو کي پرېږدي) هم شامل دی چي د مسنون طریقي خلاف کار دی.

﴿۴۲۳۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ رَأَى صَبِيًّا قَدْ حُلِقَ بَعْضُ رَأْسِهِ وَتُرِكَ بَعْضُهُ فَنَهَاهُمْ عَنْ ذٰلِكَ وَقَالَ احْلِقُوا كُلَّهُ أَوِ اتْرُكُوا كُلَّهُ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یو کوچنی ولیدی چي د هغه د سر د یوې برخي وریښتان خریل سوي وه او څه یې پرېښي وه ، نبي کریم ﷺ خلک د دې څخه منعه کړه او ارشاد یې وفرمایه: چي د سر ټول وریښتان خروئ یا ټول پرېږدئ. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۶۷۵، رقم: ۱۱۳- ۲۱۲۰.

تشریح: په دغه حدیث کي دې ته اشاره ده چي د حج او عمرې څخه پرته هم سر خریل جائز دي، مسئله دا ده چي سړي ته اختیار دی که وغواړي نو سر دي وخریي او که وغواړي نو وریښتان دي پرېږدي مګر غوره خبره داده چي د حج او عمرې څخه پرته دي سر نه خریي، لکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ او حضرت علي رضي الله عنه څخه پرته د نورو صحابه کرامو معمول وو، او د کتاب الله په لومړنی برخه کي په باب الجنایت کي د دې یادونه سوې ده.

پر نر ګډیانو لعنت

﴿۴۲۳۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُخَنَّثِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالْمُتَرَجِّلَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَقَالَ أَخْرِجُوهُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ پر نرګډي باندي لعنت ويلی دی (يعني په هغو خلکو باندي چې خپل ځانونه يې د ښځو په شکل او صورت باندي جوړ کړي وي او پر هغو ښځو چې د سړو سره ځان مشابه کوي په کالو او نورو کارو کي) او حکم يې کړی دی چې هغوی د خپلو کورونو څخه و باسئ. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۳۳، رقم: ۵۸۸۶.

تشريح: مخنِث يا مخنَث (زيات صحيح مخنَث دی) ددې اصل خنث دی چې لغوي معنی يې نرمي او ماتېدو ده، مخنث هغه سړي ته وايي چې د ښځو په ډول جامې اغوندي، د ښځو په ډول لاسونه او پښې په نکريزو سره کوي په خبرو اترو کي د ښځو لهجه اختياروي او همدارنګه په حرکاتو کي د ښځو انداز خپلوي، داسي سړي ته زموږ په ژبه کي نرښځی هم ويل کيږي، مخنث پر دوه ډوله وي يو خلقي چې د هغوی د بدن په اندامو کي په خلقي توګه د ښځو په ډول نرمي او حرکت وي، يعني په هغوی کي په قدرتي توګه د ښځو اوصاف او عادات وي، دوهم دا چې ځيني کسان که څه هم د خپل بدن د اندامو او خلقت په اعتبار بشپړ نارينه وي مګر په قصد سره ځان د ښځو مشابه کول غواړي نو هغوی د خبرو اترو انداز او هستوګني په طريقو کي د ښځو مشابهت اختياروي تر دې چې د خپلو خوټو او خاص اندام په پرېکولو سره نامرد هم جوړيږي، د مخنثو د داسي ډول په اړه لعنت او غندنه فرمايل سوې ده، ددې پر خلاف د لومړي ډول مخنث د دغه لعنت څخه مستثنی دی، ځکه چې هغوی معذور دي، او دوی ته په دې کي د خپل قصد او اختيار دخل نسته، همدارنګه پر هغه ښځو هم لعنت ويل سوي دی چې هغوی خپل ځان د نارينوو مشابه کوي،

د شرعة الاسلام په شرح کي ليکلي دي چې نکريزي لګول د ښځو لپاره مسنون دي او د نارينوو لپاره بېله عذره لګول مکروه دي، ځکه چې په دې کي د ښځو مشابهت لازميږي، ددغه قول څخه دا مسئله هم څرګنديږي چې د ښځو لپاره د نکريزو څخه بالکل بې پروا کېدل مکروه دي ځکه چې په دغه صورت کي د هغوی د نارينوو سره مشابهت لازميږي.

﴿۴۲۳۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ اللّٰهُ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په هغو خلکو باندي

خداي تعالى لعنت ويلي دى كوم سړي چي د ښځو شكل او صورت اختيار كړى وي او كومي ښځي چي د نارينه شكل او صورت اختيار كړى وي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۳۳، رقم: ۵۸۸۵.

د انسان د وېښتانو څخه فائده اخيستل حرام دي

﴿۴۲۲۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللّٰهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله جل جلاله پر: (۱) واصله (۲) مستوصله (۳) واشمه (۴) او مستوشمه باندي لعنت ويلي دى. بخاري او مسلم، (۱)- واصله: هغه ښځه چي د خپل سر د وربښتانو د اوږدولو لپاره د نورو وېښتان يو ځاي كړي. (۲)- مستوصله: هغه ښځه چي د نورو په وېښتانو كي د نورو وېښتان يو ځاي كړي. (۳)- واشمه: هغه ښځه چي په بدن كي خالونه وهي. (۴)- مستوشمه: هغه ښځه چي په بدن كي په ...ل چا باندي خالونه وهي

...ريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۷۴، رقم: ۵۹۳۷، ومسلم ۳\۱۶۷۷، رقم: ۱۱۹- ۲۱۲۴.

...شريح: د وېښتانو يو ځاى كول د ځان لپاره يا د بلي ښځي لپاره، ددې څخه مراد دادى چي د وېښتانو د ښكلا او اوږدوالي لپاره يوه ښځه د بلي ښځي وېښتان واخلي او په خپل كوڅۍ كي يې ګډ كړي يا خپل وېښتان د بلي ښځي په كوڅۍ كي ګډ كړي.

امام نووي رحمه الله فرمايي: د حديثو څخه دا خبره څرګنديږي چي بېله استثناء او قيد وېښتان يو ځاى كول حرام دي، ظاهر او مختار مسئله هم داده مګر زموږ شافعي علماء په دغه مسئله كي دا تفصيل بيانوي چي د انسان وېښتان لګول بېله اختلافه حرامه دي ځكه چي انسان ته كومه بزرګي او شرف تر لاسه دى د هغه په وجه د هغه د وېښتانو او د بدن د نورو اندامو څخه ګټه اخيستل حرام دي او كه د انسان څخه پرته د يو حيوان وېښتان چي پاك وي نو هغه په كوڅيو كي لګولو دغه حكم دى كه د ښځي خاوند يا بادار نه وي يعني كومه ښځه چي ازاده وي او مطلقه يا كونډه يا پېغله وي نو د هغې لپاره په خپل كوڅۍ كي د هغه وېښتانو ګډول هم حرام دي او كه ښځه خاوند والا يا بادار والا وي نو د هغې لپاره درې صورتونه دي چي په هغو كي تر

ټولو زیات صحیح صورت دادی چي هغه د خاوند یا مالک د اجازې څخه وروسته هغه وېښتان په خپلو کوڅیو کي ګډ کړي نو دا جائز دي.

مالک، طبري او اکثر علماء رحمة الله علیهم وایي چي د ښځي لپاره په خپل چوټي کي د هر شي ګډول منع دي که هغه وېښتان وي یا توري وړۍ وغیره وي، دغه حضراتو په دغه مسئله کي د حدیثو څخه استدلال کړی دی، فقیه ابواللیث رحمه الله وایي چي د ذکر سوي منع تعلق یوازي د وېښتانو سره دی نو په کوڅیو کي د وېښتانو څخه پرته نور شیان لکه وړۍ وغیره ګډول څه پروا نلري او د وېښتانو په داسي تار سره تړل چي د وېښتانو سره مشابهت نلري بېله کراهته جائز دي.

په فتاوی عالمګیري کي دا لیکلي دي چي د سر په وېښتانو کي د انسان وېښتان ګډول حرام دي مګر صوف یعني (وړۍ) ګډول جائز دي،

د خال وهلو مطلب دادی چي د بدن پر پوست باندي ستن یا بل شی ننه ایستل سي تر دې چي وینه ځیني وبهېږي او بیا هغه د رانجو یا نېل څخه ډک کړل سي، دا د جاهلیت د زمانې یو رواج دی او نن سبا هم په ځینو کافرانو دغه رواج سته، اسلامي شریعت داسي کول منسوخ کړي دي، نووي رحمه الله فرمایي: خپله خال وهل یا بل چا ته خال وهل حرام دي او د بدن پر کومه برخه چي خال وهل کیږي او د یو علاج په ذریعه د هغه ختمېدل ممکن وي نو د هغه نښي خرابول واجب دي او که د تکلیف څخه پرته د هغه خرابول ممکن نه وي یعني ددې خبري بېره وي چي د هغه په ختمولو سره د بدن هغه برخي ته تاوان رسیږي نو په دغه صورت کي د هغه ختمول واجب نه دي، نو باید د الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړي چي د ګناه بار ځیني لیري سي، او که مذکوره شیان بېله تکلیفه لیري کیږي نو بیا د هغو ختمول لازم دي او په هغو کي په زنډ کولو سره ګناه کار کیږي.

د الله جل جلاله د تخلیق پر بدلونکي سزا

﴿۴۲۲۴﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَعَنَ اللّٰهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُوْتَشِمَاتِ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چي الله جل جلاله لعنت ویلي دی په خالو وهونکو ښځو باندي (که د ځان خالونه وهي او که د بل) او د مخ وېښتانو کښونکو ښځو باندي

وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللّٰهِ فَجَاءَتْهُ اِمْرَاَةٌ فَقَالَتْ

او یا خپل غابښونه په سوهان یا ریتي باندي سوهان کونکو ښځو باندي (د ځینو ښځو په مخ باندي ورېښتان وي د هغو خریل منعه دي ، البته که د یوې ښځي ږیره او بریت را ووځي نو د هغو خریل یا لیري کول منعه نه دي) یوه ښځه و حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ته راغله او ویې ویل:

إِنَّهُ بَلَغَنِي عَنْكَ أَنَّكَ لَعَنْتَ كَيْتَ وَكَيْتَ فَقَالَ وَمَا لِي لا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُولُ

ما اورېدلي دي چي تاسو په داسو داسو ښځو لعنت وایاست ، ابن مسعود رضي الله عنه ورته وفرمایل : زه په هغو ښځو باندي ولي لعنت و نه وایم چي په هغوی باندي نبي کریم ﷺ لعنت ویلي دی

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ هُوَ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَقَالَتْ لَقَدْ قَرَأْتُ مَا بَيْنَ

او هغوی د خداي تعالی په کتاب کي ملعوني ګڼل سوي دي ، هغې ښځي وویل ، ما دا شیان

اللَّوْحَيْنِ فَمَا وَجَدْتُ فِيهِ مَا تَقُولُ قَالَ لَئِنْ كُنْتِ قَرَأْتِيهِ لَقَدْ وَجَدْتِيهِ أَمَا

ویلي دي چي د دوو تختو په مینځ کي نوشته سوي دي (یعني قرانکریم) خو دا خبره پکښي نسته کومه چي تاسو یې کوئ (یعني په صریحو الفاظو کي چیري لعنت ویل سوی دی)، ابن مسعود رضي الله عنه ورته وفرمایل : که تا (قرانکریم) په سوچ او فکر سره لوستی وي نو دا ځاي دي نه

قَرَأْتِ { وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا } قَالَتْ بَلَى

قَالَ فَإِنَّهُ قَدْ نَهَى عَنْهُ. متفق عليه.

دي لوستی : وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا (څه چي نبي کریم ﷺ درکړي هغه اخلئ او د څه څخه چي مو منعه کوي د هغه څخه منعه سئ)هغې ښځي وویل :هو (دا خو مي لوستی دی) ابن مسعود رضي الله عنه ورته وفرمایل : نو رسول الله ﷺ د دې خبرو څخه منعه کړې ده . بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۸\۶۳۰،رقم: ۴۸۸۶، ومسلم ۳\۱۶۷۸رقم: ۱۲۰– ۲۱۲۵.

تشریح: د ښځو لپاره د مخ وېښتان کښل مکروه دي مګر که چیري د یو ښځي پر مخ ږیره یا برېتونه وي نو د هغو پاکول جائز بلکه مستحب دي، په حدیث کي یو ازي د بلي ښځي د وېښتانو کښلو یادونه ده او خپله د وېښتانو کښونکي ښځي یادونه نسته چي هغې ته نامصه وایي، حال دا چي د دغه مسئلې سره اړوند بل روایت چي په دوهم فصل کي راځي په هغه کي د نامصه

یادونه هم سته،

د عربو په نزد د ښځو د غاښو په مینځ کي پراخوالی او فرق کېدل غوره ګڼل کیږي او په عامه توګه د کم عمره ښځو غاښونه داسي وي، په عربو کي دا رواج وو چي ښځي به سپین سري سوې او غاښونه به یې لوی سول چي د هغه په وجه به د هغې د غاښو په مینځ کي دغه پراختیا نه پاته کېدل نو هغوی به د خپلو غاښو په مینځ کي د پراختیا کولو هڅه کول او ددې بنیاد په هغوی دا جذبه وه چي پیغلي او کم عمره معلومي سي، او ښکلا یې څرګنده سي ، اسلامي شریعت دا طریقه منع وګرځول.

لفظ د (المغیرات) د ټولو ذکر سوو ښځو صفت دی کوم چي په ژباړه کي څرګندي سوي دي یعني د کومو ښځو چي یادونه سوې ده هغه ټولي داسي دي چي الله تعالی کوم شی څرنګه جوړ کړی دی په هغه کي دخپل خواهش سره سم تغیر کوي چي د الله تعالی د مصلحت او مرضی خلاف دی، همدارنګه لفظ د خلق الله د مغیرات مفعول دی او دغه پوره جمله د تعلیل په درجه کي ده چي د وجوب لعنت علت او وجه څرګندوي ، ددې څخه معلومه سوه چي مثله او د ږیري خریلو چي کوم حرمت دی د هغه علت او وجه هم دغه دی یعني د الله تعالی په تخلیق کي تغیر کول، مګر په دې سره دا نه لازمیږي چي هر تغیر حرام دی ځکه دغه علت یو ځانګړی حیثیت نلري بلکه د حرمت اصل علت د شارع له خوا منع کېدل دي او په دغه منع کي چي کوم حکمت پټ دی هغه دا دی چي هغه ته د ظاهري علت درجه ورکول کیږي نو خلاصه دا سوه چي شارع علیه السلام کوم تغیرات مباح ګرځولي دي په هغو کي به اباحت وي او کوم تغیرات چي یې حرام ګرځولي دي په هغو کي به حرمت جاري وي.

ذکر سوي ښځي چي د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په خدمت کي په حاضرېدو سره څه وویل د هغه مطلب دا وو چي ما ته دا معلومه سوې ده چي تاسو هغه ښځي له خپلي خوا لعنتي ګرځوئ یا ددې خبري خبرداری ورکوئ چي په قرآن کریم کي هغه ښځي ملعوني ګرځول سوي دي حال دا چي په قرآن کریم کي پر هغه ښځو باندي د لعنت یو صریح ذکر نسته، او دا مسئله ده چي الله تعالی ثوک د لعنت وړ نه وي ګرځولی نو پر هغه لعنت کول جائز نه دي ، نو ابن مسعود رضي الله عنه هغه ښځه په ډېر ښه انداز کي په دې پوه کړل او د قرآن او حدیث په حواله یې مسئله ورته ثابته کړه نو هغې ته اطمینان وسو ځکه چي هغې ته د حدیث په اړه شبه نه وه محض په قرآن کریم کي د صریح حکم نه تر لاسه کېدو په وجه د هغې په ذهن کي سوال پیدا سوی وو او هغه رفع سو.

د روایت د آخري جملې مطلب دا دی چي کله بندګانو ته د الله تعالی له خوا دا حکم سوی

دی چي رسول الله ﷺ د کومو کارو څخه تاسو منع کړي نو له هغه څخه منع سئ او رسول الله ﷺ په دغه حديث کي هم او د نورو حديثو په ذريعه هم د ذکر سوو شيانو څخه منع فرمايلې ده، نو ددې مطلب دا سو چي ددغه شيانو منع په قرآن کريم کي موجود ده، طيبي رحمه الله وايي: په دغه حديث کي دې ته اشاره ده چي پر ذکر سوو ښځو باندي د رسول الله ﷺ لعنت فرمايل داسي دي لکه څرنګه چي خپله الله تعالی هغه ښځي ملعوني ګرځولي دي نو په دې عمل کول واجب دي.

بد نظر حق دئ

﴿۴۲۲۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَيْنُ حَقٌّ وَنَهَى عَنِ الْوَشْمِ. رواه البخاري.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: بد نظر يا د بد نظر تاثير حق دی او نبي کريم ﷺ د خالو وهلو څخه منعه کړې ده. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۰۳، رقم: ۵۷۴۰.

تشريح: مطلب دادی چي بد نظر يو داسي حقيقت دی چي د هغه اثر څرګنديږي، الله جل جلاله په دې کي دغه خاصيت ايښی دی چي د سحر په ډول بد نظر هم پر انسان وغيره باندي اثر کوي.

د سر د ويښتانو مښلول

﴿۴۲۲۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُلَبِّدًا. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ په کونډرو سره د سر مبارک ورېښتانو مښلولو باندي وليدی. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۶۰، رقم: ۵۹۱۴.

تشريح: د ملبد څخه مراد دادی چي رسول الله ﷺ د سر وېښتان په ګونډرو سره موښلولي وه چي شيږي ونه کړي او ګرد و غبار څخه خوندي سي، داسي په عامه توګه د ذکر سوي مقصد لپاره د احرام په حالت کي کولای سي، حضرت ابن عمر رضي الله عنه به رسول الله ﷺ په داسي حال کي يا خو د احرام په حالت کي ليدلی وي يا په يو بل سفر کي به يې ليدلی وي.

د نارینه لپاره زعفران

﴿۴۲۲۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَزَعْفَرَ الرَّجُلُ. متفق عليه

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ نارینه د زعفران په بدن لګولو یا په جامو مږلو څخه منعه کړی دی. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۰۴، رقم: ۵۸۴۶، ومسلم ۳\۱۶۶۳، رقم: ۷۷- ۲۱۰۲.

تشریح: دغه منع ځکه ده چي پر جامو یا بدن باندي زعفران موږل د ښځو سره خاص دی، پاته سوه دا خبره چي د ځینو صحابه کرامو په اړه نقل سوي دي چي هغوی د خلوق استعمال کړی دی چي د زعفران څخه جوړه سوې یوه خوشبویي ده نو هغه د دغه منع څخه مخکي پېښه ده.

رنګ لرونکې خوشبویي

﴿۴۲۲۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أُطَيِّبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَطْيَبِ مَا يَجِدُ حَتَّى أَجِدَ وَبِيصَ الطِّيبِ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ. متفق عليه

د بي بي عائشې رضی اللہ عنہا څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ په بدن باندي بهترینه خوشبوئي ولګوله کوم چي زما سره وه تر داسي حده چي د خوشبويي اثر به يې پر سر مبارک او ږيره مبارکه باندي معلوميدی. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۶۶، رقم: ۵۹۲۳، ومسلم ۲\۸۴۷، رقم: ۳۸- ۱۱۸۹.

تشریح: د دغه حدیث په اړه د هغه حدیث سره سوال واقع کیږي چي په هغه کي دا بیان سوی دی چي د نارینوو لپاره د هغه خوشبویي استعمال جائز دی چي د هغه رنګ نه ښکاره کیږي، او د دغه حدیث څخه دا معلومیږي چي رسول الله ﷺ ته به کومه خوشبویي لګول کېدل د هغه رنګ به ښکاره کېدی ځکه که چیري د هغه خوشبويي رنګ نه معلومېدی نو د هغه ځلا به د رسول الله ﷺ په سر او ږیره مبارکه کي څرنګه معلومېدی؟ ددې جواب دادی چي په کوم حدیث کي د نارینوو لپاره د رنګ لرونکي خوشبویي څخه منع سوې ده د هغه څخه مراد هغه رنګ دی چي د هغه په ښکارېدو سره د ښکلا او زینت اندازه ښکاره کیږي لکه سور او ژړ رنګ او کوم رنګ چي داسي نه وي لکه د مشک او عنبر رنګ نو هغه جائز دی، ددې څخه معلومه سوه چي صندل او داسي

نورو شيانو رنګ هم جائز دی.

خوشبوداره لرګی دود کول

﴿۴۲۳۹﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا اسْتَجْمَرَ اسْتَجْمَرَ بِالْأَلُوَّةِ غَيْرَ مُطَرَّاةٍ وَبِكَافُورٍ يَطْرَحُهُ مَعَ الْأَلُوَّةِ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا كَانَ يَسْتَجْمِرُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه مسلم.

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به حضرت عمر رضي الله عنه (په کور کي) څه خوشبوداره شی دودوی نو داسي خوشبوداره لرګی به يې دود کوی چي په هغه کي به مشک نه وه او کله کافور او خوشبوداره لرګی دواړه به يې په يوځاي کولو باندي دودول بيا به يې ويل: نبي کريم ﷺ به هم داسي خوشبويه بوټی دودول. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۷۶٦\۴، رقم: ۲۱- ۲۲۵۴.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د برېتو کوچني کول سنت دي

﴿۴۲۴۰﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُصُّ أَوْ يَأْخُذُ مِنْ شَارِبِهِ وَكَانَ إِبْرَاهِيمُ خَلِيلُ الرَّحْمٰنِ صلوات الرحمن عليه يَفْعَلُهُ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د خپلو شونډو مبارکو وربښته غڅي کول او يا يې اخستل او د خداي تعالی دوست حضرت ابراهيم عليه السلام به هم د شونډو مبارکو وربښته غڅي کول. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۸٦\۵، رقم: ۲۷٦۰.

تشريح: مطلب دادی چي د برېتو بالکل کوچني کول يو داسي پخوانی سنت دی چي د حضرت ابراهيم عليه السلام معمول هم وو او د نورو انبياوو عليهم السلام هم، د فطرة لفظ په وضاحت کي دغه

بحث ذکر سوی دی ، پاته سوه دا خبره چي کله دغه یعني د برېتو کوچني کول د نورو انبیاوو سنت هم دی نو دلته یو وازي د حضرت ابراهیم علیه السلام خاصوالی ولي وسو ، نو ددغه خاصوالي وجه د حضرت ابراهیم علیه السلام د خاص عظمت او جلال اظهار دی یا دا چي ددغه سنت پیل د حضرت ابراهیم علیه السلام څخه سوی دی لکه څرنګه چي د هغه حدیث څخه څرګندیږي چي په دریم فصل کي به راسي.

برېتونه کوچني کوئ

﴿۴۲۴۱﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَمْ يَأْخُذْ مِنْ شَارِبِهِ فَلَيْسَ مِنَّا. رواه احمد والترمذي والنسائي.

د حضرت زید بن ارقم رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چي د شونډو وربښته (یعني برېت) نه غوڅي کوي ، هغه زموږ څخه نه دی . احمد ، ترمذي او نسائي

تخريج: مسند الامام احمد ۳۶۶\۱۴، رقم: ۲۷۹۱.

تشريح: هغه زموږ څخه نه دی: ددې مطلب دادی چي هغه زموږ پر سنت او طریقه نه دی او د ملا علي قاري رحمه الله مطابق ددغه جملې زیاته صحیح معنی داده چي داسي سړی زموږ په سنت او طریقه کي کامل نه دی یا ددغه جملې په ذریعه ددغه سنت د پرېښودونکي مړ کېدل به د امت مسلمه پر خلاف طریقه باندي مړ کېدل وي.

دږيري سمول

﴿۴۲۴۲﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْخُذُ مِنْ لِحْيَتِهِ مِنْ عَرْضِهَا وَطُولِهَا . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

حضرت عمرو بن شعیب رضي الله عنه د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل پلاره څخه روایت کوي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم به خپله ږیره مبارکه په عرض او طول (پلنوالی او اوږدوالی) کي یعني د دواړو طرفو څخه نه برابروله. ترمذي، او په ترمذي کي دا حدیث غریب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۸۷\۵، رقم: ۲۷۶۲.

تشريح: مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به خپله ږېره مبارکه سمول او د رسول الله ﷺ دغه عمل د ږېري پرېښودو او زیاتولو خلاف نه دی چي د هغه حکم په نورو حدیثو کي نقل سوی دی، ځکه چي د اصل منع تعلق یا د دومره کوچني کولو سره دی چي د غیر مسلم خلکو شعار دی او د ږېري سمولو لپاره له آخوا او دېخوا څخه وېښتان غڅي کول منع نه دي لکه څرنګه چي خپله د رسول الله ﷺ په اړه نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ به د ږېري د طول او عرض څخه هغه وېښتان کوچني کول چي آخوا دېخوا به لوی سوي وه ځکه ابن ملک رحمه الله ویلي دي چي د ږېري وېښتان برابرول سنت دي، په احیاء العلوم کي لیکلي دي چي د ږېري زیاتي او ږدولو په اړه د علماوو مختلف قولونه دي، ځیني حضرات وايي که یو سړی خپل ږېره په موټ کي نېولو سره هغه برخه پرې کړي چي تر موټ لاندي وي نو په دې کي څه پروا نسته، دغه قول د ابن عمر رضي الله عنه او تابعینو د یو ډلي دی، شعبي او ابن سیرین رحمة الله علیهما دا ښه ګڼلی دی، او حسن، قتاده او دهغوی پیروانو دغه شی (یعني د ږېري دغه برخه کوچني کول) ښه نه دي ګڼلي، دغه حضراتو د رسول الله ﷺ د ارشاد (اعفوا اللحي) سره سم دغه شی غوره ګڼلی دی چي د موټ څخه زیاته ږېره دي پرېښودل سي، ملا علي قاري رحمه الله لیکلي دي چي لومړی قول زیات صحیح دی.

دزعفرانو خوشبوئي نارينه ته حرامه ده

﴿۴۲۴۳﴾: وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاٰى عَلَيْهِ خَلُوْقًا فَقَالَ اَلَكَ اِمْرَاَةٌ قَالَ لَا قَالَ فَاغْسِلْهُ ثُمَّ اغْسِلْهُ ثُمَّ لَا تَعُدْ. رواه الترمذي والنسائي

د حضرت يعلی بن مره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د هغه پر بدن د زعفرانو جوړه سوې خوشبوئي وليده، نو يې وفرمايل: ايا ستا ښځه سته؟ عرض يې وکړ، يا! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: دا پرېوله، بيا يې پرېوله او بيا يې پرېوله او دا کار بيا مه کوه، (ايا ستا ښځه سته دلته يې مقصد دا وو چي که چيري ستا ښځه وي او هغې پر ځان يا کالو باندي زعفران موښلي وي او د هغې اثر وتا ته رسيدلی وي نو ته به معذوره يې والا فلا). ترمذي او بخاري.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۱۱۲، رقم: ۲۸۱۶، والنسائي ۸\۱۵۲، رقم: ۵۱۲۱.

تشريح: ايا ته ښځي والا يې؟ : د رسول الله ﷺ ددغه سوال مقصد دا وو چي ايا ښځه لرې او هغې خلوق استعمال کړی دی او بيا دهغې د بدن يا جامې څخه د هغه بوی اثر ستا بدن يا جامې ته رسيدلی دی، نو په دغه صورت کي ته معذور يې او که تا په خپله خلوق استعمال کړي وي نو

بیا معذور نه ګڼل کیږي ځکه چي سړي ته د خلوق استعمال جائز نه دی، په دغه صورت کي ستا لپاره دا ضروري ده چي ته خپل بدن یا جامې پرېولي او دغه اثر ختم کړې ، ددې څخه څرګنده سوه چي ددغه سوال مقصد دا څرګندول نه وو چي ته ښځه لرې او تا د ښځي لپاره خلوق استعمال کړي دي نو ته د معذور په حکم کي یې لکه څرنګه چي د حدیث د ظاهري مفهوم څخه ګمان کیږي .

هغه پرېوله : ددغه جملې په ذریعه رسول الله ﷺ درې واره د پرېوللو حکم وکړ او درې واره د پرېوللو حکم ورکول د مبالغې او تاکید په توګه وو ، مګر زیاته صحیح خبره داده چي رسول الله ﷺ درې واره د پرېوللو حکم ځکه ورکړ چي د هغه رنګ کم از کم په درې واره پرېوللو سره له منځه ځي .

﴿۴۲۴۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْبَلُ اللّٰهُ تَعَالٰى صَلَاةَ رَجُلٍ فِيْ جَسَدِهٖ شَيْءٌ مِنْ خَلُوْقٍ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوموسی رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : خدای تعالی د هغه سړی لمونځ نه قبلوي چي د هغه پر جسم باندي لږ شان خلوق (یعني د زعفرانو څخه جوړه سوې خوشبوئي) هم لګیدلي وي . ابوداؤد .

تخریج: سنن ابي داود ۴\۴۰۲، رقم: ۴۱۷۶.

تشریح: سید رحمة الله علیه وایي : د لمانځه نه قبلېدو څخه مراد د ښځو مشابهت اختیارولو په وجه د دغه ثواب نه تر لاسه کېدل دي کوم چي پر کامل لمانځه باندي تر لاسه کیږي ، ابن ملک رحمة الله علیه ویلي دي چي دغه ارشاد د خلوق د استعمال خلاف د زجر او تهدید په توګه دی .

﴿۴۲۴۵﴾: وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ قَدِمْتُ عَلٰى أَهْلِي من سفر وَقَدْ تَشَقَّقَتْ يَدَايَ فَخَلَّقُوْنِيْ بِزَعْفَرَانٍ فَغَدَوْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ وَقَالَ اذْهَبْ فَاغْسِلْ هٰذَا عَنْكَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عمار بن یاسر رضی الله عنه څخه روایت دی چي زه د سفر څخه و کور ته راغلم نو زما دواړه لاسونه چاودلي وه ، کور والا زما په لاسونو باندي د زعفرانو خوشبوئي و موږل ، سهار زه د

نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او سلام مي ادا کړ، نبي کريم ﷺ زما د سلام جواب را نه کړ، او ويې فرمايل چي ولاړ سه خپل لاس ونه دي پرېوله. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۰۲، رقم: ۴۱۷۶.

تشريح: په ځرګنده دا معلوميږي چي د رسول الله ﷺ په علم کي به داسي عذر نوي راغلی چي د هغه په وجه حضرت عمار رضي الله عنه د دغه خوشبويي استعمال وکړي لکه ځرنګه چي رسول الله ﷺ د هغه د سلام جواب ور نه کړ او د خپل ناراضي اظهار يې وکړ يا دا چي رسول الله ﷺ ته د عمار رضي الله عنه خوشبويي پر خپل لاس لګول او دباندي وتل خوښ نسول.

﴿۴۲۴۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طِيبُ الرِّجَالِ مَا ظَهَرَ رِيحُهُ وَخَفِيَ لَوْنُهُ وَطِيبُ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ وَخَفِيَ رِيحُهُ. رواه الترمذي والنسائي.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د نارينه ؤ خوشبوئي هغه ده چي په هغه کي يوازی بوی (ورمه) يې ښکاره وي او رنګ يې پټ وي او د ښځو خوشبوئ هغه ده چي د هغې رنګ ښکاره وي او خوشبويئ يې پټه وي. ترمذي او نسائي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۹۹، رقم: ۲۷۸۷، والنسائي ۸\۱۵۱، رقم: ۵۱۱۷.

تشريح: لکه ځرنګه چي مخکي بيان سول چي د رنګ څخه مراد هغه رنګ دی چي د ښکلا او زينت لپاره وي لکه سور او ژړ رنګ، علماو ليکلي دي چي د ښځو خوشبويي په هغه وخت کي صحيح ده کله چي هغوی دباندي نه راوځي او په کور کي دننه وي يا د خپل خاوند سره وي نو هغې ته هر ډول خوشبويي استعمالول جائز دي.

مرکبه خوشبويي

﴿۴۲۴۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَتْ لرسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُكَّةٌ يَتَطَيَّبُ مِنْهَا. رواه ابوداؤد.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ سره يوه سُکّه (يوه ترکيب سوې خوشبوئي) وه چي د هغې څخه به يې خوشبوئي لګوله. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۳۹۴، رقم: ۴۱۶۲.

سر غوړول

﴿۴۲۴۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ دَهْنَ رَأْسِهٖ وَتَسْرِيْحَ لِحْيَتِهٖ وَيُكْثِرُ الْقِنَاعَ كَأَنَّ ثَوْبَهٗ ثَوْبُ زَيَّاتٍ. رواه في شرح السنة

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ اکثره وخت خپل سر مبارک په روغنو باندي غوړوی او اکثره وخت به يې ږيره مبارکه ږمونځ کوله او پر سر مبارک به يې اکثره وخت ټوکر هواروی (يعني د غوړولو څخه وروسته نبي کريم ﷺ پر سر مبارک ټوکر هواروی چي لنگوټه په غوړه نه سي ، هغه ټوکر به غوړ وو لکه د روغن خرڅونکي کالي . شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۲\ ۸۲، رقم: ۳۱۶۴.

تشريح: ږيره مبارکه به يې ډېره ږمونځول: دا خبره د هغه روايت خلاف نه ده چي په هغه کي دا بيان سوی دی چي رسول الله ﷺ د هري ورځي ږمونځ کولو څخه منع فرمايلې ده ځکه چي اول خو دغه منع د نهي تحريمي په توگه نه ده بلکه د نهي تنزيهي په توگه ده ، دوهم د ډېر ږمونځولو څخه دا نه لازميږي چي رسول الله ﷺ به هره ورځ ږمونځول، ځکه د زياتوب اطلاق پر هغه شی هم کيږي چي يو کار د هغه د ضرورت په وخت کي وکړل سي ، يعني د کوم عمل چي کوم وخت ضرورت وي هغه وخت کول هم د کثرت په حکم کي داخل دی ، او کوم چي د مسئلې تعلق دی نو د ږيري ږمونځول سنت دي مگر کوم خلک چي د هر اوداسه څخه وروسته ږيره ږمونځوي نو د هغه په سنت صحيحه کي بنياد نسته.

د قناع څخه مراد هغه ټوکر دی چي رسول الله ﷺ به په وېښتانو کي د تېلو لگولو څخه وروسته د دې لپاره پر سر اچوی چي لنگوټه خېرنه او غوړه نسي، هغه ټوکر به د تېلو لگېدو په وجه ډېر غوړېدی ځکه يې د غوړ ټوکر سره تشبيه ورکړې ده ، دا مراد نه دی چي هغه ټوکر به چټل وو يا دا چي د رسول الله ﷺ ټولي جامې به د غوړو جامو په ډول وې ځکه چي دغه مراد د هغه نظافت او پاکی څخه ډېري ليري دی چي د رسول الله ﷺ د مزاج يو جز وو، همدا وجه ده چي رسول الله ﷺ سپيني جامې ډېري خوښولې .

د نبي ﷺ زلفي

﴿۴۲۴۹﴾: وَعَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ قَدِمَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا بِمَكَّةَ قَدْمَةً وَّلَهُ أَرْبَعُ غَدَائِرَ. رواه احمد وابو داؤد والترمذي وابن ماجة.

د بي بي ام هانی رضی الله عنها څخه روايت دی ، چي يو ځل (د مکې د فتحي په ورځ) نبي کريم ﷺ و مکې ته تشريف راوړ ، دا وخت د نبي کريم ﷺ څلور زلفي وې . احمد ، ابوداؤد ، ترمذي او ابن ماجه

تخريج: مسند الامام احمد ۶\ ۳۴۱، رقم: ۴۱۹۱، والترمذي ۴\ ۲۱۶، رقم: ۱۷۸۱، وابن ماجه ۲\ ۱۱۹۹، رقم: ۳۶۳۱.

د لغاتو حل: زيات: اى بائع الزيت او صانعه (د غوړو پلورونکی يا جوړوونکی).

په سر کي لاره ايستل

﴿۴۲۵۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ إِذَا فَرَقْتُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ صَدَعْتُ فَرْقَهُ عَنْ يَافُوخِهِ وَأَرْسَلْتُ نَاصِيَتَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ.

رواه ابو داؤد.

د بي بي عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی چي ما به د رسول الله ﷺ په سر کي لاره ايستله نو ما به د نبي کريم ﷺ لاره د سر په منځ کي څيرل او پر تندي به مي هغه پرېښودله ، د دواړو سترګو په مينځ کي (يعني لاره به مي د سر لوړي خوا څخه پيل کول او تر تندي پوري به مي راوستل او هغه به مي د دواړو سترګو مينځ ته راوستل). ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۴۰۸، رقم: ۴۱۸۹.

د لغاتو حل: يافوخه: اى جله، ومعظمه عن جانب مؤخر راسه مما يلى القفا.

تشريح: يافوخ د سر منځنۍ برخي ته وايي ، او دا د ماغ سربېرنه سطح وي ، په وړکتوب کي په دغه ځای کي بې کراري وي، بي بي عائشې رضی الله عنها د رسول الله ﷺ د سر د لارو صورت بيان کړی دی چي د هغو يو سر به د نزلې سره نژدې وو او دوهم سر به يې د سترګو د مينځ بالمقابل د تندي سره نژدې وو .

د روايت د آخري جملې مطلب دادی چي ما به د لاري مخ د تندي پر هغه غاړه اېښودی کوم

چي د دواړو سترګو په مينځ کي وي داسي چي د تندي نيم وېښتان به د لاري راسته خوا ته وه او نيم به د لاري چپه خوا ته وه ، طيبي رحمه الله د حديث دغه معنی بيان کړې ده .

هره ورځ ږمونځ کول منع دي

﴿۴۲۵۱﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّرَجُّلِ إِلَّا غِبًّا . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي .

د حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د هري ورځي ږمنځ کولو څخه منع فرمايلې ده مګر په منځ کي د يوې ورځي په پرېښودو سره (يعني يوه نه بله ورځ) . ترمذي ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۰۵، رقم: ۱۷۵۶، وابوداود ۴\ ۳۹۲، رقم: ۴۱۵۹، والنسائي ۸\ ۱۳۲، رقم: ۵۰۵۵.

تشريح: قاضي رحمه الله وايي : د غب مطلب دادی چي يو کار يوه ورځ وکړل سي او يوه ورځ پرېښودل سي ، نو د حديث مطلب دا سو چي ږمونځول دي هره ورځ نه کيږي بلکه يوه ورځ دي پرېښودل کيږي مګر دغه منع د نهي تنزيهي په توګه ده او ددې څخه بېله ضرورته هره ورځ د ږمونځولو پابندي کول او د عادت په توګه دغه کار کول مراد دی، ځکه چي دا په ښکلا او زينت کي د مبالغې او بې ځايه تکلف صورت دی، څرګنده دي وي چي لفظ د غب د ملاقات په سياق کي استعماليږي لکه څرنګه چي فرمايل سوي دي : (زر غبا تزدد حبا) ، نو ددې مفهوم دادی چي په اونۍ کي يو وار ملاقات وکړل سي ، او کله چي دغه لفظ د تبي لپاره استعماليږي نو ددې څخه د يوې ورځي په قضائي کولو سره يعني په دريمه ورځ تبه مفهوم کيږي ، همدارنګه د ناروغ پوښتنه کول او د غوښو خوړلو په سياق کي هم ددې څخه مراد دادی چي يوه ورځ دي پرېښودل سي .

هره ورځ د ږمونځولو په منع کي د سر او ږيري دواړو وېښتان مراد دي ، کوم خلک چي د هر اوداسه څخه وروسته ږمونځول کوي ددې د سنت سره هيڅ تعلق نسته، همدارنګه په احياء العلوم کي ليکلي دي چي رسول الله ﷺ به هره ورځ دوه واره ږيره مبارکه ږمونځول، نو ددغه حديث هم څه ثبوت نه دی تر لاسه سوی ، په احياء العلوم کي د امام غزالي رحمه الله څخه پرته بل هيچا دا حديث نقل کړی نه دی ، بلکه د شيخ ولي الدين عراقي رحمه الله د قول مطابق امام غزالي

رحمة الله عليه په احياء العلوم كي ددغه حديث ځخه پرته هم ځيني داسي حديثونه نقل كړي دي چي د هغو اصل ثابت نه دی.

پاته سوه دا خبره چي هره ورځ د ږمونځولو منع يوازي د نارينوو لپاره ده او كه د ښځو لپاره هم ده، نو په ظاهره دا خبره زياته صحيح معلوميږي چي دغه منع يوازي د نارينوو لپاره ده ځكه چي د ښځو لپاره ښكلا او زينت كول مكروه نه دي، بيا هم ځيني حضرات وايي چي ددغه منع تعلق د نارينوو او ښځو دواړو سره دی مگر هغه حضرات دا هم وايي چي د ښځو په اړه دغه منع د سپكي درجې ده ځكه چي د هغوی لپاره د ښكلا او زينت دائره د نارينوو په نسبت ډېره پراخه ده.

ډېر عيش او ارام مه كوئ

﴿۴۲۵۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بَرِيْدَةَ قَالَ قَالَ رَجلَ إِلَى فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ مَا لِي

د حضرت عبد الله بن بريده رضي الله عنه ځخه روايت دی چي يوه سړي و فضاله بن عبيد ته وويل، ځه

أَرَاكَ شَعِثًا قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَنْهَانَا عَنْ كَثِيرٍ مِنَ

خبره ده چي زه ستا ورېښتان پرېشانه وينم؟ فضاله ورته وويل، نبي كريم صلى الله عليه وسلم به موږ د ډېر عيش

[...]اه قَالَ فَمَا لِي لَا أَرَى عَلَيْكَ حِذَاءً قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

[...]م يَأْمُرُنَا أَنْ نَحْتَفِيَ أَحْيَانًا. رواه ابو داؤد.

او ارام د خبرو ځخه منعه كولو، وروسته يې پوښتنه ځيني وكړه چي ولي زه ستا په پښو باندي بوټونه نه وينم؟ هغه ورته وويل، رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته حكم را كړی دی چي كله كله به لڅي پښې هم گرځو. ابو داؤد

تخريج: سنن ابي داود ۳۹۲/۴، رقم: ۴۱۶۰.

تشريح: د عيش او آرام زياتو شيانونه اختيارولو او كله نا كله د لوڅو پښو گرځېدو د حكم وجه داده چي په داسي كولو سره په مزاج او طبيعت كي تواضع او انكساري پيدا كيږي، بلي خوا ته ددغه رياضت او مشقت په ذريعه پر نفس باندي واك تر لاسه كيږي او دد‌ې يوه لويه گټه دا هم ده چي د حالاتو او معيشت د سختۍ او تنگۍ په وخت كي دغه رياضت او مشقت په كار راځي او د هغه سختي او تنگۍ د زغمولو همت او توانايي ورپه برخه كيږي.

د دې ځخه معلومه سوه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به په وېښتانو كي تېل هم لگول او ږمونځول به

يې هم، بلکه دا يې ښه ګڼل او نورو خلکو به هم د حکم او ترغيب په ذريعه په هغه عمل کوی مګر دديې سره سره رسول الله ﷺ ځيني حاملين زهد او رياضت دديې خلاف هم ساتل تر دې که يو سړي به د رسول الله ﷺ په وړاندې دغه شيان پرېښودل نو رسول الله ﷺ به نه ترټل، بلکه ددغه شيانو د ترک کولو حکم به يې هم ورکوی، دديې څخه ثابته سوه چې په دې اړه اصل کراهت په کومه خبره کې دی هغه دادی چې په عيش او راحت کې د حد اعتدال څخه تجاوز وکړل سي تر دې چې نفس د اسانۍ عادي سي او په تېل لګولو او ږمونځ کولو کې داسي بوختيا ځرګند کړي کوم چې د دين څخه د بېزاره خلکو او د عيش او عشرت کونکو طريقه ده، کله چې دا حکم ورکول کيږي چې د زيب او زينت ذرائع مه اختياروئ او په خپل ژوند کې سادګي او انکساري او بې تکلفي بلکه زهد او رياضت اختيار کړئ نو دديې څخه مطلق دا مراد نه دی چې خيرن او چټل اوسېدو سره پاکي او نظافت پرېږدئ بلکه ددغه حکم مراد دادی چې په هر صورت د اعتدال او ميانه روئ خيال ساتئ د هيڅ شرعي حکم دغه منشاء هيڅکله نسي کيدای چې د هستوګني داسي طريقه اختيار کړل سي چې د تهذيب خلاف او د پاکۍ خلاف وي ځکه چې انسان مهذب او ښکلی جوړول د اسلام يو مقصد او تهذيب يو جز دی لکه چې په راتلونکي حديث کې فرمايل سوي دي.

وريښتان سم ساتئ

﴿۴۲۵۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم سړي په سر او ږيره باندي وريښته وي نو هغه ته پکار ده چې په ښه شان سره يې ساتنه وکړي (يعني ښه پاک او خوشنما يې وساتي). ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۹۴، رقم: ۴۱۶۳.

د نکريزو استعمال

﴿۴۲۵۴﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحْسَنَ مَا غُيِّرَ بِهِ الشَّيْبُ الْحِنَّاءُ وَالْكَتَمُ. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي.

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سپينو وربښتو بدلونكي ښه شى نكريزي او وسمه ده . ترمذي ، ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۰۴، رقم: ۱۷۵۳، وابوداود ۴\۴۱۶، رقم: ۴۲۰۵، والنسائي ۸\۱۳۹.

تشريح: (كَتَمٌ) او د ځينو حضراتو د قول مطابق كُتّمُ، د يو واښه نوم دى چي د وسمې په ذريعه په يو ځاى كولو سره په وښتانو كي د خضاب كولو لپاره استعماليږي، ځيني حضرات وايي چي كتم په اصل كي وسمې ته وايي، په هر حال د حديث د مفهوم په اړه دا سوال پيدا كيږي چي ايا دا مراد دى چي نكريزي او وسمه دي يوځاى كولو سره خضاب كوي يا دا مراد دى چي يوازي د نكريزو يا يوازي د وسمې خضاب دي كوي، د نهايه د قول مطابق په ظاهره داسي معلوميږي چي په حديث كي يوازي كتم يا يوازي د نكريزو خضاب كول مراد دي ځكه كه چيري كتم د نكريزو سره يو ځاى كړل سي نو د هغه څخه تور خضاب جوړيږي او په صحيح رواياتو كي د تور خضاب منع سوې ده، په دغه صورت كي به ويل كيږي چي د دغه جمله په اصل كي (بالحناء او الكتم) ده يعني د واو پر ځاى او دى، د هغه مطلب دادى چي خضاب كونكي ته اختيار دى كه د نكريزو خضاب كوي او كه د كتم، مګر حقيقت دادى چي دغه روايت په ډېرو طريقو او سندو سره منقول دى او ټولو بالحناء والكتم نقل كړى دى ، كه څه هم په دې سره پر مذكوره مفهوم باندي اثر نه لويږي ځكه چي د و حرف د مفهوم په اعتبار د او په معنى كي كېداى سي ، په ځينو حاشيو كي دا ليكلي دي چي يوازي د نكريزو خضاب سور وي او يوازي د كتم خضاب شين وي، د ځينو حضراتو د قول څخه دا مفهوم اخيستل كيږي چي خالص د كتم خضاب تور وي او كه كتم د نكريزو سره يو ځاى كړل سي نو سور رنګه رنګ پيدا كيږي، په دغه صورت كي كه وويل سي چي په حديث كي د كتم او نكريزو دواړو مركب خضاب دى نو هيڅ سوال نه پيدا كيږي ، مخته د ابن عباس رضي الله عنه يو روايت راځي چي د هغه څخه دا ثابتيږي ،

ملا علي قاري رحمه الله ليكلي دي: زياته صحيح خبره داده چي د كتم او نكريزو مركب خضاب مختلف وي ، كه د كتم جز غالب وي يا كتم او نكريزي دواړه برابر وي نو خصاب تور وي او كه د نكريزو برخه غالبه وي نو خضاب به سور وي .

تور خضاب

﴿۴۲۵۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَكُونُ قَوْمٌ فِي آخِرِ الزَّمَانِ يَخْضِبُونَ بِهٰذا بِالسَّوَادِ كَحَوَاصِلِ الْحَمَامِ لَا يَرِيحُونَ

رَائِحَةَ الْجَنَّةِ . رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په اخيره زمانه كي به يوه ډله وي چي د تور والي لپاره به د كوترې د ججورو په شان نكريزي استعمالوي (يعني څنګه چي د كوترو توري ججوري وي)داسي نكريزي به استعمالوى ، داسي خلك به د جنت بوي و نه ويني . ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۱۸، رقم: ۴۲۱۲، والنسائي ۸\۱۳۸، رقم: ۵۰۷۵.

د لغاتو حل: حواصل الحمام: اى صدوره.

تشريح: د تور والي څخه مراد خالص تور والى دي، په دغه صورت كي به هغه تور والى مستثنى وي كوم چي سور ماله وي لكه د كتم او نكريزو د خضاب رنګ، د جنت بوى به حس نه كړي: دا په اصل كي د تور خضاب كونكو لپاره د زجر او تهديد په سختۍ سره بيانول دي، يا دغه ارشاد پر هغه چا باندي محمول دى چي تور خضاب استعمالوي او جائز يې هم ګڼي ، په ځينو حاشيو كي ليكلي دي چي داسي خلك كه په جنت كي داخل سي نو د هغه د بوى څخه به نه خوندي كيږي او نه به برخمن كيږي او د ځينو حضراتو د قول مطابق د دې څخه مراد دادى چي په موقف كي د جنت څخه چي كومه خوښي او خوشبويي ترلاسه كيږي او په هغه سره مسلمان خوشحاله كيږي نو د دې څخه به ذكر سوي خلك محروم وي ، په هر حال د حديث څخه دا ثابته سوه چي تور خضاب حرام دى .

ژړ خضاب

﴿۴۲۵۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ وَيُصَفِّرُ لِحْيَتَهُ بِالْوَرْسِ وَالزَّعْفَرَانِ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ . رواه النسائي.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د پخ كړى پوست څپلى په پښو كولې او ږيري ته به يې د زعفران او ورس (يو قسم واښه) سره ژړ رنګ وركوى او حضرت عمر رضي الله عنه به هم داسي كول . نسائي

تخريج: سنن النسائي ۸\۱۸۶، رقم: ۵۲۴۴.

د لغاتو حل: السبتیه: جلود البقر المدبوغة بالقرظ. الورس: نبت اصفر.

تشریح. د دغه حدیث څخه دا معلومیږي چې رسول الله ﷺ به خپله ږیره مبارکه خضاب کول، حال دا چې په کتاب اللباس کې د حضرت انس رضی الله عنه روایت تېر سوی دی چې د هغه څخه دا ثابتیږي چې رسول الله ﷺ هیڅکله خضاب استعمال کړی نه دی ، د دواړو روایتو په مینځ کې چې د مطابقت کوم صورت دی هغه د حضرت انس رضی الله عنه د روایت په تشریح کې بیان سوی دی.

﴿۴۲۵۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ قَدْ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې د نبي کریم ﷺ خواته یو سړی تېر سو چې هغه د

خَضَّبَ بِالْحِنَّاءِ فَقَالَ مَا أَحْسَنَ هٰذَا قَالَ فَمَرَّ آخَرُ قَدْ خَضَّبَ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ

نکریزو خضاب لګولی وو (د هغه په لیدو سره) نبي کریم ﷺ وفرمایل: څومره ښه ! ابن عباس رضی الله عنه وایي ، وروسته بیا یو بل سړی تیر سو چې د نکریو او وسمې خضاب یې لګولی وو ،

فَقَالَ هٰذَا أَحْسَنُ مِنْ هٰذَا ثم مر آخَرُ قَدْ خَضَّبَ بِالصُّفْرَةِ فَقَالَ هٰذَا أَحْسَنُ مِنْ هٰذَا كُلِّهِ. رواه ابوداؤد.

نبي کریم ﷺ وفرمایل: دی د هغه څخه بهتر دی ، وروسته بیا بل سړی تیر سو چې هغه د ژړ رنګ خضاب لګولی وو ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: دی د ټولو څخه بهتره دی . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۴\۴۱۷، رقم: ۴۲۱۱.

د خضاب حکم

﴿۴۲۵۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيِّرُوا الشَّيْبَ وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ. رواه الترمذي ورواه النسائي عن ابن عمر والزبير

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : سپین ږیر واله په خضاب سره بدل کړئ او د یهودو مشابهت مه کوئ (چې هغوی به خضاب نه لګوی). ترمذي او نسائي د ابن عمر رضی الله عنه او زبیر رضی الله عنه څخه روایت کوي .

تخریج: سنن الترمذي ۴\۲۰۳، رقم: ۱۷۵۲.

تشريح کېدای سي چي په حديث کي د ذکر سوي حکم تعلق د هغه خلکو سره وي چي هغوی په جهاد کي وي ، چي ددې په ذريعه پر دښمنانو باندي د مسلمانانو د طاقت اظهار وي او دښمن په بېره کي سي .

سپين وېښتان

﴿۴۲۵۹﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ

عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلاره څخه او هغه بيا د خپل پلاره څخه روايت کوي چي رسول الله

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَنْتِفُوا الشَّيْبَ فَإِنَّهُ نُورُ الْمُسْلِمِ مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي

ﷺ وفرمايل: سپين ورېښته مه کاږئ ځکه چي سپين ورېښته د مسلمانانو لپاره د نورانيت سبب دی ، د اسلام په حالت کي که د کوم چا يو ورېښته هم سپين سي

الْإِسْلَامِ كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ بِهَا حَسَنَةً وَكَفَّرَ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةً وَرَفَعَهُ بِهَا دَرَجَةً.

رواه ابوداؤد.

نو د هغه لپاره د خدای تعالی له طرفه يوه نيکي ليکل کيږي او يوه گناه ورڅخه ليري کيږي او يوه درجه يې لوړيږي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۴۱۴، رقم: ۴۲۰۲.

تشريح سپين ږېرتوب ته نورانيت ځکه فرمايل سوی دی چي سپين ږېرتوب په اصل کي د وقار مظهر دی، لکه چي په دريم فصل کي راتلونکي يوه روايت څخه به معلومه سي چي په انسانانو کي تر ټولو پر لومړي سړي باندي د سپينو وېښتانو په صورت کي چي سپين ږېرتوب راغلی هغه حضرت ابراهيم عليه السلام وو، کله چي هغه په لومړي ځل په خپل ږېره کي د سپينو وېښتانو په صورت کي سپين ږېرتوب وليدی نو الله جل جلاله ته يې عرض وکړ: اې زما پروردگاره! دا څه شي دی؟ جواب راغلی چي دا وقار دی، حضرت ابراهيم عليه السلام وويل: اې الله ! زما وقار زيات کړې.

وقار په اصل کي يو داسي صفت دی چي انسان د گناه، فسق او بې حيايي څخه منع کوي، توبې او طاعات ته يې مائله کوي، ځکه نو دغه صفت په انسان کي هغه نور پيدا کوي چي د حشر په ميدان کي به د ظلمت او تيارو په ختمولو سره پر مخ ځي ، لکه چي په آيت کريمه کي

فرمايل سوي دي : (يسعى نورهم بين ايديهم و بايمانهم) ، ددې توجيه داده چي په رڼا كي د سپين ږېرتوب د نور څخه د قيامت د ورځي نور مراد دى ، په يوه روايت كي ددې وضاحت هم سته ، او كه چيري د نورانيت څخه د شكل او صورت ښه والى ، د باطن پاكوالى او نيك خويونه مراد وي چي په دغه دنيا كي سپين ږېرو ته تر لاسه كيږي نو دا هم د حقيقت څخه ليري خبره نه ده

ددغه حديث څخه دا مسئله هم ثابته سوه چي د سپينو وېښتانو كښل مكروه دي .

﴿۴۲۶۰﴾ : وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مُرَّةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي والنسائي

د حضرت كعب بن مره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د اسلام په حالت كي سپين ږيري سي د هغه دا سپين ږير والي به د قيامت په ورځ د هغه لپاره يو نور وي .

ترمذي او نسائي

تخريج : سنن الترمذي ۴\۱۴۷، رقم: ۱۶۳۴، والنسائي ۲۶\۶، ۲۶، رقم: ۳۱۴۲.

تشريح : دلته دا سوال پيدا كيږي چي كله سپين ږېرتوب (يعني د وېښتانو سپين كېدل) په دنيا او آخرت كي د نورانيت سبب دى نو د خضاب (نكرېزو) په ذريعه د هغو بدلول ولي جائز دي؟ ددې جواب دادى چي د خضاب مشروعيت هم په اصل كي د يو ديني حكمت په وجه دى او هغه دا چي ددې په ذريعه د دښمنانو په مخكي د قوت او هيبت اظهار وي چي هغوى مسلمانان ضعيف او كمزوري ونه ګڼي ، په دغه صورت كي بيا دا سوال پيدا كيږي كه چيري د ذكر سوي حكمت په وجه خضاب لګول مشروع وي نو ددغه حكمت لپاره د وېښتانو كښل ولي جائز نه دي؟ ددې جواب دادى چي د وېښتانو كښل داسي عمل دى چي په هغه كي محض د وېښتانو سپينوالى نه بدليږي بلكه سپين وېښتان د ېخه كښل وي چي د تكليف باعث دي او دوهم دا چي د بد شكلۍ سبب هم كيږي ، حال دا چي نكريزي لګول په ښكلا كي زياتوب كوي نو په نكريزو لګونكو او وېښتانو كښونكو كي ډېر فرق دى .

د نبي كريم ﷺ د سر مبارك وربښتان

﴿۴۲۶۱﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ وَكَانَ لَهُ شَعْرٌ فَوْقَ الْجُمَّةِ وَدُونَ الْوَفْرَةِ . رواه الترمذي

د بي بي عائشې ﷞ څخه روايت دی چي ما او نبي كريم ﷺ به د يوه لوښي څخه غسل كوئ (يعني د اوبو لوښي به د دواړو په مينځ كي پروت وو) او د نبي كريم ﷺ د سر مبارک وربښته د اوږو څخه پورته او د غوږونو څخه كښته وه). ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۰۵، رقم: ۱۷۵۵، والنسائي ۱\۱۲۸، رقم: ۲۳۳.

تخريج: الجمة: ما سقط على المنكبين (هغه وېښتان چي پر اوږو پراته وي). الوفرة: ما وصل الى شحمة الاذن (هغه وېښتان چي د غوږونو تر نرمۍ پوري وي).

تشريح: د سر وېښتان په عربي كي په درو نومو سره تعبير كيږي: يو خو جمه، دوهم وفره او دريم لمه، كه د يو چا دومره اوږده وېښتان وي چي غوږو ته رسيږي نو هغه وېښتانو ته جُمّه وايي، او كه د غوږو تر نرميو پوري وي نو هغه ته وفره وايي او كوم وېښتان چي د غوږو د نرميو او د اوږو په مينځ كي وي يعني د غوږو د نرمۍ څخه لاندي وي مګر پر اوږو سربېره وي نو هغه ته لمه وايي، بي بي عائشه ﷞ وايي چي هغه وخت د رسول الله ﷺ وېښتان پر اوږو سربېره او د غوږو د نرميو لاندي وه چي لمه ورته وايي، په ځينو ځايو كي جمه د مطلق وېښتانو په معنی استعماليږي لكه څرنګه چي په شمائل ترمذي كي نقل سوي دي: (وكانت جمة تضرب سحمة اذنيه).

نارينه بايد زائد رېښتان ايسته كړي

﴿۴۲۶۲﴾: وَعَنِ ابْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ رَجُلٌ مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نبي كريم ﷺ د يو صحابي حضرت ابن حنظليه ﷛ څخه روايت دی چي

قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ الرَّجُلُ خُرَيْمٌ الْأَسَدِيُّ لَوْلَا طُولُ

رسول الله ﷺ وفرمايل: كه د خريم اسدي د سر وېښته اوږده نه وای او د هغه لنګ اوږد نه وای

جُمَّتِهِ وَإِسْبَالُ إِزَارِهِ فَبَلَغَ ذٰلِكَ خُرَيْمًا فَأَخَذَ شَفْرَةً فَقَطَعَ بِهَا جُمَّتَهُ إِلَى أُذُنَيْهِ وَرَفَعَ إِزَارَهُ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ. رواه ابوداؤد.

نو هغه ډېر ښه سړی دی. دا الفاظ چي د خريم تر غوږو پوري ورسېدل نو هغه خپل د سر وربښتان د غوږونو پوري پرېكړل او لنګ يې تر نيمي پونډۍ پوري وتړی. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۴۸، رقم: ۴۰۸۹.

﴿۴۲۶۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَتْ لِي ذُؤَابَةٌ فَقَالَتْ لِي أُمِّي لَا أَجُزُّهَا كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمُدُّهَا وَيَأْخُذُ بِهَا. رواه ابوداؤد.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي زما څوڼي وې، زما مور ماته وويل: زه دا هيڅکله نه پرېکوم ځکه چي رسول الله ﷺ به دا کشولې او نيول به يې. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۱۱، رقم: ۴۱۹۶.

د ماتم کولو وخت

﴿۴۲۶۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْهَلَ آلَ

د حضرت عبد الله بن جعفر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د جعفر طيار اولاد ته درې

جَعْفَرٍ ثَلَاثًا ثُمَّ أَتَاهُمْ فَقَالَ لَا تَبْكُوا عَلَى أَخِي بَعْدَ الْيَوْمِ ثُمَّ قَالَ ادْعُوا لِي

ورځي مهلت ورکړ (يعني کوم وخت چي د جعفر طيار د شهادت خبر راغلی نو نبي کريم ﷺ هغوی ته تر درو ورځو پوري د ماتم کولو اجازت ورکړ او بيا نبي کريم ﷺ د هغوی و کور ته ورغی او ورته يې وفرمايل: د نن څخه وروسته زما په ورور (جعفر) باندي ژړا مه کوئ، بيا يې

بَنِي أَخِي فَجِيءَ بِنَا كَأَنَّا أَفْرُخٌ فَقَالَ ادْعُوا لِي الْحَلَّاقَ فَأَمَرَهُ فَحَلَقَ رُءُوسَنَا.

رواه ابوداؤد والنسائي.

وفرمايل: زما د ورور جعفر زامن ماته راولئ، موږ را وستل سوو، موږ داسي وو لکه کوچني مرغان، بيا يې وفرمايل: (نائي) را وغواړئ، هغه راغی نو نبي کريم ﷺ ورته د دې کوچنيانو د سر د خريلو حکم ورکړ نو زموږ سرونه وخريل سول. ابوداؤد او نسائي.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۰۹، رقم: ۴۱۹۲، والنسائي ۸\۱۸۲.

د لغاتو حل: افرخ: جمع فرخ وهو ولد الطير. (چيچي)

تشريح: حضرت جعفر رضي الله عنه د ابوطالب زوی وو او د حضرت علي رضي الله عنه سکه ورور وو، ځکه نو هغه د رسول الله ﷺ د اکا زوی وو،

د دغه حديث څخه څرګنده سوه چي د نوحې، جزع او فزع څخه پرته پر مړي باندي ژړل او

غمجن كېدل تر درو ورځو پوري جائز دي ، د درو ورځو څخه وروسته ژړا او ماتم كول جائز نه دي او نه تعزيت كول روا دي،

د حج او عمرې څخه د فارغه كېدو وروسته د سر خريل افضل دي مګر ددې څخه پرته وېښتان پرېښودل هم افضل دي مګر ددې سربېره رسول الله ﷺ د حضرت جعفر رضي الله عنه د زامنو د سر خريلو حكم ځكه وكړ چي د هغوى مور (يعني بي بي اسماء بنت عميس رضي الله عنها) د خپل خاوند د بېلوالي په سخت غم اخته وه ، هغې ته د خپل مصيبت څخه دومره فرصت نه وو چي د كوچنيانو د وېښتانو ، پاكۍ، تېل لګولو او ژمونځولو خيال وساتي ، په دغه صورت كي د هغوى په سرونو كي د شپږو پيدا كېدو خطره وه نو رسول الله ﷺ د هغوى وېښتان خريل غوره وګڼل.

د ښځو سنت كول

(۴۲۶۵): وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ الْأَنْصَارِيَّةِ أَنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تَخْتِنُ بِالْمَدِينَةِ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُنْهِكِي فَإِنَّ ذَلِكَ أَحْظَى لِلْمَرْأَةِ وَأَحَبُّ إِلَى الْبَعْلِ. رواه ابوداؤد و قال هذا الحديث ضعيف و راويه مجهول.

د بي بي ام عطيه انصاريه رضي الله عنها څخه روايت دى ، په مدينه منوره كي به يوې ښځي (د ښځو)سنتي كوله ، نبي كريم ﷺ و هغې ته وفرمايل: د سنت په ځاي كي د پرېكولو زياتوالى مه كوه (يعني زياته غوښه يې مه پرېكوه) ځكه چي په زياته غوښه نه پرېكولو سره د كوروالي په وخت كي ښځي ته زيات لذت او خوند حاصلېږي او خاوند ته هم دا خوښه ده او د زيات پرېكولو سره دا دواړي خبري ختمېږي . ابوداؤد او په ابو داؤد كي دا حديث ضعيف دى او د دې راوي نامعلوم دى.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۴۲۱، رقم: ۵۲۷۱.

تشريح (و راويه مجهول) : او راوي يې مجهول دى، كېداى سي چي دلته جنس راوي مراد وي يعني ددغه حديث ټول راويان مجهول دي، همدارنګه دا هم كېداى سي چي ددغه جملې څخه دا مراد وي چي يو راوي مجهول دى لكه چي په يو بلي نسخې كي د نقل سوو الفاظو څخه ثركنديږي : (وفي رواية مجهول). په هر حال دغه روايت طبراني رحمه الله په صحيح سند سره او حاكم په مستدرک كي د ضحاک ابن قيس رضي الله عنه څخه نقل كړى دى چي د هغه الفاظ دادى : (احفضني ولا تنهكي فانه انضر للزوجة واحظى عند الزوج).

نکریزي د ښځو لپاره

﴿۴۲۶۶﴾: وَعَنْ كَرِيمَةَ بِنْتُ هُمَامٍ أَنَّ امْرَأَةً سَأَلَتْ عَائِشَةَ عَنْ خِضَابِ الْحِنَّاءِ فَقَالَتْ لَا بَأْسَ وَلَكِنْ أَكْرَهُهُ كَانَ حَبِيبِي يَكْرَهُ رِيحَهُ. رواه ابوداؤد والنسائي.

د بي بي کريمه بنت همام رضي الله عنها څخه روايت دی چي يوې ښځي د نکروزو په هکله د بي بي عائشي رض څخه پوښتنه وکړه، هغې ورته وفرمايل: هيڅ گناه نلري، ليکن زه يې نه خوښوم ځکه چي زما د محبوب (نبي کريم ﷺ) د دې بوی خوښ نه وو. ابوداؤد او نسائي.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۹۵، رقم: ۴۱۶۴، والنسائي ۸\۱۴۲، رقم: ۵۰۹۰.

تشريح: په ځرگنده دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ د ښځو په وېښتانو کي د نکريزو لگول نه خوښول، که چيري د رسول الله ﷺ په نزد د ښځو لپاره د نکريزو استعمال ناخوښه وای نو رسول الله ﷺ به د بي بي هندې رضي الله عنها سره محض د دې وجه څخه د بيعت کولو څخه انکار ولي کولای چي د هغې لاس د نکريزو څخه خالي وو لکه چي د راتلونکي حديث څخه به ځرگنده سي.

د ښځو پر لاسو نکريزي وهل مستحب دي

﴿۴۲۶۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ هِنْدَ بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ بَايِعْنِي قَالَ لَا أُبَايِعُكِ حَتَّى تُغَيِّرِي كَفَّيْكِ فَكَأَنَّهُمَا كَفَّا سَبُعٍ. رواه ابوداؤد.

د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي د عتبه لور هندې عرض وکړ اې د الله جل جلاله رسوله! زما سره بيعت وکړی، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: يا، زه تر هغه وخته پوري ستا سره بيعت نه کوم تر څو پوري چي ته د خپلو لاسونو ورغوي بدل نه کړې، ستا دا لاسونه لکه د ليوه داسي دي (د هندې لاسونه تور وه نکريزي ورباندي نه وې لگېدلي) نبي کريم ﷺ د نارينوو سره د مشابهت کولو په وجه هغه بد وگڼل. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۹۵، رقم: ۴۱۶۵.

تشريح: هنده د عتبه لور، د ابوسفيان ښځه او د معاويه رضي الله عنه مور وه، نوموړې د مکې د فتح په کال اسلام قبول کړی دی او دا ځرگنديږي چي په ذکر سوي حديث کي د کوم بيعت ذکر سوی

دی هغه د مکې د فتح د ورځې څخه پرته د بلې ورځې پېښه ده، د حديث څخه دا ثابته سوه چې ښځو لره په لاسو نکريزو لګول مستحب دي او پرېښودل يې مکروه دي او دغه کراهت د نارينوو د مشابهت اختيارولو په وجه دی.

﴿۴۲۶۸﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ أَوْمَتْ امْرَأَةٌ مِنْ وَرَاءِ سِتْرٍ بِيَدِهَا كِتَابٌ إِلَى رَسُولِ

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دی چې يوې ښځې د پردې د شا څخه خپل لاسونه را وکښل او

اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَبَضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فَقَالَ مَا

دا اشاره يې وکړه چې د هغې په لاس کې د نبي کريم ﷺ په نامه يو خط دی، نبي کريم ﷺ خپل لاس ځيني ليرې کړ او ويې فرمايل چې

أَدْرِي أَيَدُ رَجُلٍ أَمْ يَدُ امْرَأَةٍ قَالَتْ بَلْ امْرَأَةٌ قَالَ لَوْ كُنْتِ امْرَأَةً لَغَيَّرْتِ أَظْفَارَكِ يَعْنِي بِالْحِنَّاءِ. رواه ابوداؤد والنسائي

زه نه پوهېږم چې دا لاس د نارينه دی او که د ښځې هغې ښځې وويل: دا لاس د ښځې دی، نبي کريم ﷺ وفرمايل: که ته ښځه يې نو د خپل نوکانو رنګ به دي بدل کړی وای يعني په دې به دي نکريزي لګولي وای. ابوداؤد او نسائي.

تخريج: سنن ابي داود ۳۹۶/۱۴، رقم: ۴۱۶۶، والنسائي ۱۴۲/۸، رقم: ۵۰۸۹.

تشريح: دغه حديث د ښځو پر لاسو باندې د نکريزو لګولو استحباب او د اوسيدو پر طريقو او اداب معاشرت څرګندونه کوي.

پر شپېږو ښځو لعنت

﴿۴۲۶۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لُعِنَتْ الْوَاصِلَةُ وَالْمُسْتَوْصِلَةُ وَالنَّامِصَةُ وَالْمُتَنَمِّصَةُ وَالْوَاشِمَةُ وَالْمُسْتَوْشِمَةُ مِنْ غَيْرِ دَاءٍ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې لعنت ويل سوی دی خپل يا د بلې ښځې (يا مصنوعي) وربښته يو ځای کونکو باندې (ځان ته يا بلې ښځې ته) او چې د خپل مخ وربښتان کاږي او يا د بل چا د مخ څخه وربښتان کاږي او د خالو په وهونکو باندې (خواه ځانته خالونه

وهي يا بلي ښځي ته بيله مرضه) . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۹۹، رقم: ۴۱۷۰.

تشريح: په حديث کي د ذکرسوو الفاظو وضاحت په اول فصل کي تېر سوی دی، ددغه حديث څخه دا معلومه سوه که چيري د خال لګولو ضرورت او اړتيا وي نو په دغه صورت کي خال لګول يا بل چا ته وهل جائز دي که څه هم د هغه نښه پاته سي .

د يو بل شکل اختيارول

﴿۴۲۷۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ پر هغه سړي باندي چي د ښځو لباس اغوندي او پر هغه ښځه چي د نارينه لباس اغوندي ، لعنت ويلی دی . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۳۵۵، رقم: ۴۰۹۸.

﴿۴۲۷۱﴾: وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ قِيلَ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا إِنَّ امْرَأَةً تَلْبَسُ النَّعْلَ فَقَالَتْ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَةَ مِنَ النِّسَاءِ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابن ابي مليکه رحمه الله څخه روايت دی چي بي بي عائشي رضي الله عنها ته وويل سوه چي يوه ښځه د نارينه ؤ په شان بوټونه په پښو کوي ، بي بي عائشي رضي الله عنها ورته وفرمايل : نبي کريم ﷺ پر هغه ښځي باندي لعنت ويلی دی چي د نارينه ؤ سره مشابهت کوي . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۳۵۵، رقم: ۴۰۹۹.

تشريح: هغه مشابهت بد دی چي په جامو، هستوګني او طريقو کي اختيار کړل سي ، او کومه ښځه چي په علم، عقل، حکمت او پوهي کي د نارينوو مشابهت اختياروي نو هغه بد نه دی ، لکه چي د بي بي عائشي رضي الله عنها په اړه ويل سوي دي چي : (کانت عائشة رجلة الرای) يعني د بي بي عائشي رضي الله عنها پوهه د نارينوو په ډول وه .

د راحت او ارام ژوند نه خوښول

﴿۴۲۷﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ كَانَ

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دی، کله چې به رسول الله ﷺ په سفر تلی نو د کور د ټولو

آخِرُ عَهْدِهِ بِإِنْسَانٍ مِنْ أَهْلِهِ فَاطِمَةَ وَأَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ عَلَيْهَا فَاطِمَةَ فَقَدِمَ

وګړو سره به یو ځای کېدی او رخصت به یې ځینې اخیستیاو په اخیر کې به خپلې لور بي بي فاطمې رض ته ورغی (د رخصت اخیستلو لپاره) او کله چې به د سفر څخه بیر ته راغی نو تر ټولو مخکې به (خپلې لور) بي بي فاطمې رضي الله عنها ته را تلی،

مِنْ غَزَاةٍ وَقَدْ عَلَّقَتْ مِسْحًا أَوْ سِتْرًا عَلَى بَابِهَا وَحَلَّتْ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ

یوه ورځ حسب معمول نبي کریم ﷺ د یوې غزا څخه تشریف راوړ او د بي بي فاطمې رضي الله عنها و کور ته داخل سو، بي بي فاطمې د کور پر دروازه باندې ټاټ یا پرده اچولې وه او حضرت امام حسن او امام حسین رض ته یې

قُلْبَيْنِ مِنْ فِضَّةٍ فَقَدِمَ فَلَمْ يَدْخُلْ فَظَنَّتْ أَنَّ مَا مَنَعَهُ أَنْ يَدْخُلَ مَا رَأَى

دوې کړې د سپینو زرو اچولې وې، نبي کریم ﷺ تر دروازې پورې تشریف راوړ او کور ته داخل نه سو، بي بي فاطمې رضي الله عنها ته معلومه سوه چې نبي کریم ﷺ ولې و کور ته تشریف را نه

فَهَتَكَتْ السِّتْرَ وَفَكَّتْ الْقُلْبَيْنِ عَنْ الصَّبِيَّيْنِ وَقَطَّعَتْهُ بَيْنَهُمَا فَانْطَلَقَا إِلَى

وړ، نو هغې پرده ایسته کړه او د امام حسن او امام حسین رض څخه یې کړې لیرې او ماتې کړې

رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْكِيَانِ فَأَخَذَهُ مِنْهُمَا وَقَالَ يَا ثَوْبَانُ اذْهَبْ

، دواړه و نبي کریم ﷺ ته په ژړا راغله، نبي کریم ﷺ د هغوی څخه دواړې کړې واخیستلې او ویې فرمایل: اې ثوبان!

بِهَذَا إِلَى آلِ فُلَانٍ إِنَّ هَؤُلَاءِ أَكْرَهُ أَنْ يَأْكُلُوا طَيِّبَاتِهِمْ فِي حَيَاتِهِمُ الدُّنْيَا يَا

دا زېور (کالی) د فلاني سړي کورولا ته یوسه (چې هغوی ته ضرورت وو) او د نبي کریم ﷺ

دوست وو ، هغوی ته یې ورکړه ، ځکه چې دا بچې زما د اهل بیت څخه دی زه د دوی لپاره دا بد گڼم چې په خپل د نیوي ژوند کې بهترینه غذاوي و خوري

ثَوْبَانُ اشْتَرِ لِفَاطِمَةَ قِلَادَةً مِنْ عَصَبٍ وَسِوَارَيْنِ مِنْ عَاجٍ. رواه احمد وابوداؤد

یا بهترین لباس و اغوندي یا د عیش وعشرت لذت حاصل کړي ، اې ثوبان! د فاطمې لپاره د هډوکو یو امیل واخله او د فیل د غابښو دوه باهوگان. احمد او ابوداؤد

تخریج: مسند الامام احمد ۵\۲۷۵، وابوداود ۴\۴۱۹، رقم: ۴۲۱۳.

د لغاتو حل: مسحا : المسح ثوب من الشعر غلیظ (د وړی څخه جوړه سوې جامه). عصب: هو سن حیوان

رانجه

﴿۴۲۷۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اكْتَحِلُوا بِالْإِثْمِدِ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : په سترگو کې اثمد رانجه

فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ وَزَعَمَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ

لگوئ ځکه چې دا د سترگو رڼا تېزه وي او د سترگو بانه غټوي. د ابن عباس رضی الله عنهما بیان دی چې د

لَهُ مُكْحُلَةٌ يَكْتَحِلُ بِهَا كُلَّ لَيْلَةٍ ثَلَاثَةً فِي هَذِهِ وَثَلَاثَةً فِي هَذِهِ. رواه الترمذي

نبي کریم ﷺ سره یوه رنجنوني وه او د هغې څخه به یې هره شپه درې سلائي په یوه سترگه کې او درې سلائي یې په بله سترگه کې اچول. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۲۰۶، رقم: ۱۷۵۷.

تشریح: ځیني حضرات وایي چې اثمد مطلق رانجو ته وایي مگر صحیح خبره داده چې اثمد یو خاص ډول رانجو ته ویل کیږي، د ځینو حضراتو د قول مطابق هغه خاص ډول اصفهاني رانجو ته وایي چې د سترگو څخه بهېدونکي اوبه ختموي، که چیري په سترگو کې زخم یا سوی پیدا سي نو هغه دفع کوي او د سترگو رگو ته چې د رڼا ذریعه طاقت ورکوي، په خاصه توگه د زیات عمر خلکو او کوچنیانو لپاره زیات گټور دي.

په یوه روایت کې د بالاثمد پر ځای د بالاثمد المروح الفاظ دي یعني هغه رانجه چې د خاص مشک مخلوط وي.

د هري شپې څخه مراد هره شپه د بېده کېدو څخه مخکې مراد دي، لکه څرنګه چې په یوه روایت کې وعند النوم الفاظ هم نقل سوي دي، د شپې بېده کېدو څخه مخکې په رانجه لګولو کې حکمت دادی چې د رانجو اجزا په سترګو کې تر ډېره وخته پوري وي او هغه اثرات د سترګو دننه پردو او د اوبو ځایو ته په ښه ډول رسیږي.

ښه دوا

﴿۴۲۷۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْتَحِلُ قَبْلَ اَنْ يَّنَامَ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د بیدېدو څخه مخکې سترګې

بِالْاِثْمِدِ ثَلٰثًا فِيْ كُلِّ عَيْنٍ قَالَ وَ قَالَ اِنَّ خَيْرَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ اللَّدُوْدُ وَالسَّعُوْطُ

تورولې او هره سترګه به یې درې سلایاني تورولې ، د ابن عباس بیان دی ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: په کومو شیانو سره چې تاسو دوا کوئ په هغوی کې تر ټولو ښه دا شیان دي : (۱):لدود (په خوله کې د اچولو دوا).(۲): سعوط (په پزه کې د اچولو یا د بویولو دوا).

وَالْحِجَامَةُ وَالْمَشِيُّ وَخَيْرُ مَا اكْتَحَلْتُمْ بِهِ الْاِثْمِدُ فَاِنَّهٗ يَجْلُو الْبَصَرَ وَيُنْبِتُ

(۳): حجامت (وینه کښل).(۴):مشي (جلاب)) او په سترګو کې بهترین شی لګول اثمد رانجه دي هغه د سترګو دید زیاتوي او

الشَّعْرَ وَاِنَّ خَيْرَ مَا تَحْتَجِمُوْنَ فِيْهِ يَوْمَ سَبْعَ عَشْرَةَ وَيَوْمَ تِسْعَ عَشْرَةَ

د بانو وربښته ټینګوي او د ویني کښلو بهترینه ورځ (د سپوږمۍ اوولسم ، نوولسم

وَيَوْمَ اِحْدَى وَعِشْرِيْنَ وَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حيث عُرِجَ بِهٖ

او یوېشتم تاریخونه دي)، او نبي کریم ﷺ چې معراج ته ولاړ او هلته چې د کومو ملائکو د

مَا مَرَّ عَلٰى مَلَاٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ اِلَّا قَالُوْا عَلَيْكَ بِالْحِجَامَةِ. روه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب.

صفو څخه تېرېدی نو ملائکو به نبي کریم ﷺ ته ویل ، چې وینه کښل ستاسو لپاره لازم ده . ترمذي ویلي چې دا حدیث حسن غریب دی.

تخریج: سنن الترمذي ۴\ ۳۴۰، رقم: ۲۰۴۸.

تشریح: لدود هغه دواء ته وايي چي د ناروغ په خوله کي د وښکي له خوا څڅول کيږي. سعوط هغه دواء ته وايي چي په پزه کي اچول کيږي، حجامه: د ويني کښلو ته وايي او مشي د نس ناستي دواء ته وايي، دغه لفظ د مشي (تللو) څخه مشتق دی ځکه چي د نس ناستي د دواء په خوړلو سره په وار وار بيت الخلاء ته د تللو ضرورت وي، په دې مناسبت سره دغه دواء ته مشي ويل کيږي.

د مياشتي د پيل څخه تر نيمي مياشت پوري په وينه بلکه په ټولو رطوباتو کي غلبه او جوش وي، او د مياشتي په آخري تاريخو کي د دغه شيانو عمل سست او کمزور سي، ځکه نو د مياشتي په مينځ کي او په خاصه توګه ذکر سوي تاريخونه د انسان د بدن لپاره معتدل وي، نو په دغه دواړو تاريخو کي وينه کښل زيات ګټور دي، د حجامه په اړه تفصيلي خبري به په کتاب الطب والرقی کي نقل کړل سي. انشاء الله.

حمام ته تګ

﴿۴۲۷۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى الرِّجَالَ وَالنِّسَاءَ عَنْ دُخُوْلِ الْحَمَّامَاتِ ثُمَّ رَخَّصَ لِلرِّجَالِ اَنْ يَّدْخُلُوْا بِالْمَيَازِرِ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د بي بي عائشي ﷺ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ ښځه او سړی حمام ته د تلو څخه منعه کړی دی، بيا په دې شرط سره نبي کريم ﷺ يوازي نارينهؤ ته حمام ته د تلو اجازت ورکړ چي هغوی لنګونه وهلي وي. ترمذي او ابوداؤد.

تخریج: سنن الترمذي ۵\ ۱۰۵، رقم: ۲۸۰۲، وابوداود ۴\ ۳۰۰، رقم: ۴۰۰۹.

د لغاتو حل: الميازر: جمع مئزر وهو الازار. (پرتوګ)

تشریح: د حمام څخه مراد هغه غسل خانې دي چي د عامي اړتيا لپاره په بازارو کي جوړيږي او هلته هر څوک د لمبېدو لپاره ورځي، په مخکنيو زمانو کي به دا ډول حمامونه وه چي هلته به د بېل بېل لمبېدو بند وبست نه وو بلکه څو کسانو به يو ځای غسل کوی، څرګنده ده چي په دغه صورت کي د ستر پټول ممکن نه وي ځکه رسول الله ﷺ مسلمانان حمام ته د تللو څخه منع کړل

، مگر وروسته نارینوو ته په دې شرط اجازه ورکړل سول چې هغوی دې د لونګ څخه پرته چې ترګونډو پوري ضروري دي ، هلته غسل نه کوي،

مظهر رحمة الله عليه وايي: رسول الله ﷺ د لونګ تړلو په شرط سره هم ښځو ته د حمام تلو اجازه ځکه نه ورکړه چې د هغوی ټول اندامونه د ستر په حکم کي داخل دي، د هغوی لپاره د بدن هیڅ برخه ښکاره کول جائز نه دي مګر د واقعي ضرورت او مجبورۍ په صورت کي د ښځو لپاره هم اجازه ده د مثال په توګه د سخت یخ په وخت کي د حیض او نفاس څخه په فارغه کېدو سره د ناپاک کېدو په صورت کي د لمبېدو ضرورت وي یا د یو علاج په اړه په تودو اوبو سره لمبېدل ضروري دي او تودې اوبه د حمام څخه پرته بل ځای نه وي او په یخو اوبو سره لمبېدل د تاوان باعث وي نو په دغه صورت کي به ښځو ته هم د حمام تللو خاص اجازه وي .

دلته دا اندېښنه پیدا کیدای سي چي ددغه وضاحت څخه هغه وجه نه څرګندیږي چې د هغه څخه دا معلومه سي چي په دغه منع کي د نارینوو او ښځو په مینځ کي فرق ولي سوی دی، ځکه چي د ښځو په موجودتیا کي د ښځو لپاره بېله فرقه هغه حکم دی کوم چي د نارینوو په موجودتیا کي د نارینوو لپاره دی ، لکه څرنګه چي یو سړي ته د بل سړي په مخ کي د خپل بدن لوڅول جائز دي پرته د بدن د هغه برخي څخه چي هغه په شرعي توګه د ښځي لپاره د ستر په حکم کي دی ، په دې اعتبار سره د قیاس تقاضا داده چي د نارینوو په ډول ښځو ته هم دغه اجازه ورکول پکار دي، چي هغوی د ښځو حمام ته تللای سي په شرط ددې چي د خپل بدن هغه برخه خامخا پټه کړي چي د هغه برخي لوڅول د ښځو په مخ کي هم جائز نه دي، دغه اندېښنه ددغه توجیه په ذریعه رفع کېدای سي چي رسول الله ﷺ ښځو ته په ذکر سوي شرط سره حمام ته د تللو اجازه ځکه نه ورکړه چي په عامه توګه ښځي د خپل هم جنسو په مخکي د خپل ستر پټولو خاص لحاظ نه ساتي ، ځیني ښځي داسي وي چي د ښځو په مخ کي حتی چي د پردیو ښځو په مخکي د ستر لوڅېدل پېغور نه ګڼي ، نو د خپل قریبانو یعني مور، خور وغیره په مخ کي به د ستر لوڅېدل څه عیب وګڼي، تر دې چي په کور کي هم د غسل کولو په وخت کي د یوې بلي په مخ کي د ستر پټولو خیال نه ساتي نو په حمام کي به څه لحاظ وساتي ، بلکه زیاتي ښځي یو ټوکر وغیره هم نه پرده کوي ، نو رسول الله ﷺ د نُور نبوت په ذریعه د ښځو ددغه حالت ادراک وکړ او د هغوی لپاره یې دغه لار بنده کړه .

﴿۴۲۷۶﴾: وَعَنْ أَبِي الْمَلِيحِ قَالَ قَدِمَ عَلٰى عَائِشَةَ نِسْوَةٌ مِنْ أَهْلِ حِمْصَ فَقَالَتْ

د حضرت ابو الملیح رحمه الله څخه روایت دی چي د حمص په ښار کي څو ښځي د بي بي عائشي رض په خدمت کي حاضري سوې، بي بي عائشي رض د هغوی څخه پوښتنه وکړه چي

مِنْ اَيْنَ اَنْتُنَّ قُلْنَ مِنَ الشَّامِ قَالَتْ فَلَعَلَّكُنَّ مِنَ الْكُوْرَةِ الَّتِيْ تَدْخُلُ نِسَاءُهَا

د کوم ځای اوسېدونکي یاست؟ هغوی ورته وویل ،د شام، بي بي عائشي رضي الله عنها ورته وفرمایل: شاید تاسو د هغه ځای اوسېدونکي یاست کوم ځای چي ښځي و حمام ته ځي،

الْحَمَّامَاتِ قُلْنَ بَلٰى قَالَتْ فَاِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

هغوی ورته وویل، هو ! بي بي عائشي رضي الله عنها ورته وفرمایل: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا اورېدلي

لَا تَخْلَعُ اِمْرَاَةٌ ثِيَابَهَا فِيْ غَيْرِ بَيْتِ زَوْجِهَا اِلَّا هَتَكَتْ السِّتْرَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ رَبِّهَا،

دي، کومه ښځه چي د خپل خاوند د کور څخه پرته د بل چا په کور کي جامې و کاږي ګواکي هغې پرده و شکوله کومه چي د هغې او د الله جل جلاله په مینځ کي حائله وه

وفي رواية في غير بيتها الا هتكت سترها فيما بينهما و بين الله عزوجل.

رواه الترمذي و ابوداؤد

او په یوه بل روایت کي راځي چي د خپل کور څخه پرته خو د هغې هغه پرده و شکیږي کومه چي د هغې او د الله جل جلاله په مینځ کي وي. ترمذي او ابوداؤد.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۱۰۵، رقم: ۲۸۰۲، وابوداود ۴\۳۰۱، رقم: ۴۰۱۰.

د لغاتو حل: الكورة: اى البلدة او الناحية (ښار یا سیمه)

تشریح: د بي بي عائشي رضي الله عنها ذکر سوی حدیث د ښځو د حمام تللو خلاف د دلیل په توګه وړاندي کړ، مطلب یې دادی چي ښځو ته دا حکم سوی دی چي هغوی په پرده کي وي او خپل ځان دي ددې څخه وساتي چي پردی ښځه هغه وویني تر دې چي د هغې لپاره دا هم مناسب نه دي چي د خپل خاوند د موجودتیا څخه پرته په یوازیوالي کي خپل ستر لوڅ کړي، کله چي هغه بېله شرعي ضرورته حمام ته ولاړه سي او هلته خپل اندامونه او بدن لوڅ کړي نو هغې هغه پرده وشکول چي په هغه کي د خپل بدن پټولو حکم هغې ته الله جل جلاله ورکړی وو.

یحیی رحمه الله وایي: د ذکر سوي ارشاد بنیاد دادی چي الله تعالی لباس ددې لپاره نازل

کړی دی چي ددې په ذریعه خپل ستر پټ کړل سي ، یعني هغه لباس د الله تعالی د حکم د تعمیل ذریعه ده ، کومي ښځي چي د الله تعالی دغه حکم پوره نه کړي او خپل ستر لوڅ کړي نو هغې هغه پرده وشکول کوم چي د هغې او د الله تعالی په منځ کي ده .

﴿۴۲۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

سَتُفْتَحُ لَكُمْ أَرْضُ الْعَجَمِ وَسَتَجِدُونَ فِيهَا بُيُوتًا يُقَالُ لَهَا الْحَمَّامَاتُ فَلَا

ستاسو لپاره به د عجمو مځکه فتحه کړل سي او تاسو ته به په هغه مځکه کي داسي کوروته پیداسي چي هغوی ته حمام ویل کیږي

يَدْخُلَنَّهَا الرِّجَالُ إِلَّا بِالْأُزُرِ وَامْنَعُوهَا النِّسَاءَ إِلَّا مَرِيضَةً أَوْ نُفَسَاءَ. رواه ابوداؤد.

او په هغه کي به نارینه د لنګ تړلو سره داخلیږي او ښځي د ورتلو څخه منعه کړئ پرته د هغو څخه چي ناروغه یا نفاسه وي . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۴\۳۰۱، رقم: ۴۰۱۱.

تشریح: مطلب دادی چي نارینوو ته د حمام تللو لپاره په دې شرط اجازه ده چي هغوی لونګ وتړي مګر ښځو ته مطلق اجازه نسته که څه هم هغوی لونګ تړلی وي یا بېله لونګه وي، ځکه چي د ښځي ټول بدن د سر څخه تر پښو پوري ستر دی او د نارینه ټول بدن ستر نه دی بلکه یوازي د نامه څخه تر زنګنو پوري پټول د هغه لپاره ضروري دي، ځکه په لونګ تړلو سره د هغه ستر پټیږي ، مګر که چیري یوه ښځه ناروغه وي او د یو علاج لپاره د هغې په تودو اوبو لمبېدل ضروري وي ، یا یوه ښځه د ماشوم زیږېدني څخه فارغه سوې وي او د غسل لپاره یا د یو بل شرعي عذر په وجه هغې لره د ښځو په حمام کي داخلېدل جائز دي که څه هم هغه هلته په لونګ تړلو سره غسل وکړي یا بېله لونګ وهلو په حالت کي وي، بېله عذر په حمام کي داخلېدل د ښځو لپاره جائز نه دي .

﴿۴۲۷۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي په الله جل جلاله او د

وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَدْخُلُ الْحَمَّامَ بِغَيْرِ إِزَارٍ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

قيامت پر ورځ ايمان لري هغه دي بيله پرتوګه حمام ته نه داخليږي او څوک چي پر الله جل جلاله او د

الْآخِرِ فَلَا يُدْخِلُ حَلِيلَتَهُ الْحَمَّامَ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا

يَجْلِسْ عَلَى مَائِدَةٍ يُدَارُ عَلَيْهَا بِالْخَمْرِ . رواه الترمذي والنسائي .

قيامت پر ورځ ايمان لري نو هغه د ي خپله ښځه و حمام ته نه بيايي او څوک چي پر الله جل جلاله او د قيامت پر ورځ ايمان لري نو هغه د ي په هغه سترخوان باندي نه کښېني چي پر هغه باندي د شرابو دور چليږي . ترمذي او نسائي

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۱۰۴، رقم: ۲۸۰۱، والنسائي ۱\ ۱۹۸، رقم: ۴۰۱.

تشريح: خپله ښځه دي په حمام کي نه داخلوي: ددې مطلب دادی چي خپلي ښځي ته دي د حمام تللو اجازه نه ورکوي، په دغه حکم کي مور، خور، لور او داسي ټولي ښځي شامل دي چي د هغه سرپي په واک کي وي، او د سړي لپاره دا مکروه دي چي هغه حمام ته د تللو روپۍ خپلي ښځي ته ورکړي ځکه چي په دغه صورت کي هغه د يو مکروه عمل مرسته کونکی ګرځي .

د فقهي په ځينو کتابو کي د رسول الله ﷺ حمام ته تلل نقل سوي دي مګر د محدثينو په نزد دا صحيح نه دي او په دې اړه چي کوم حديث نقل سوی دی هغه موضوع يعني د ځان څخه جوړ سوی دی، ځکه چي دا خبره درجه صحت ته رسيدلې ده چي رسول الله ﷺ هيڅکله حمام ته نه دی تللی بلکه د حمام مخ يې هم هيڅکله نه دی ليدلی، پاته سوه د هغه حمام خبره کوم چي په مکه معظمه کي د حمام النبي ﷺ په نامه مشهور دی نو کيدای سي چي يو ځای رسول الله ﷺ غسل کړی وي او بيا هغه ته د حمام صورت ورکړل سوی وي او هغه ته په حمام النبي ﷺ سره ويل سوي وي، دا هم کيدای سي چي هغه ځای په حمام النبي ﷺ په نسبت سره د خلکو پر ژبه عام سوی وي چي د رسول الله ﷺ د زېږېدني مبارک ځای د هغه ځای په شاوخوا کي واقع وي، بيا هم په حديثونو کي د حمام ذکر ضرور موجود دی لکه چي د ذکر سوو روايتو څخه څرګنده سوه .

پر هغه دسترخوان باندي مه کښېنئ: ددې مطلب دادی چي هغه ځای ته هيڅکله مه ورځئ

چيري چي د شرابو څښنل وي، كه شرابيان خلك هلته شراب څښي نو مسلمان دي شراب څښونكي منع كړي مګر هلته د تللو سربېره كه چيري خلك يې د شرابو څښنلو څخه منع نه كړل او نه يې د هغوى سره د ناراضي چلن وكړ او نه يې د هغوى پر خلاف د خپل نفرت او غصې اظهار وكړ نو يقينا د هغه شمېر به په كامل مؤمنانو كي نه وي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

نبي ﷺ سر مبارك ته خضاب نه دى وركړى

﴿۴۲۷۹﴾: عَنْ ثَابِتٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ خِضَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت ثابت رضي الله عنه څخه روايت دى چي د حضرت انس رضي الله عنه څخه د رسول الله ﷺ د رنګ وركولو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ شَمَطَاتٍ كُنَّ فِي رَأْسِهِ فَعَلْتُ وَقَالَ لَمْ

په باره كي پوښتنه وسوه، حضرت انس رضي الله عنه وويل: كه ما د نبي كريم ﷺ د سر مبارك سپين وربېښتان شمېرل غوښتل نو هغه مي شمېرلاى سواى (يعني د نبي كريم ﷺ په سر مبارك كي لږ وربېښتان سپين وه رنګولو ته يې حاجت نه وو نو په دې وجه نبي كريم ﷺ خضاب نه وو لګولى)

يَخْتَضِبْ وزاد في رواية وَقَدْ اخْتَضَبَ أَبُو بَكْرٍ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ وَاخْتَضَبَ عُمَرُ بِالْحِنَّاءِ بَحْتًا. متفق عليه.

او د انس رضي الله عنه په يوه بل روايت كي دا الفاظ دي، حضرت ابوبكر رضي الله عنه په نكريزو او په وسمه رنګ كړى وو او حضرت عمر رض يوازي د نكروځو خضاب لګولي وو. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۵۱، رقم: ۵۸۹۵. ومسلم ۴\۱۸۲۱، رقم: ۱۰۳.

د لغاتو حل: شمطات: جمع شمطة، بياض شعر الراس يخالطه سواده.

تشريح رسول الله ﷺ هيڅكله نكريزي نه دي لګولي: د دې مطلب دا دى چي رسول الله ﷺ په خپل سر مبارك كي هيڅكله نكريزي نه دي لګولي، په دغه صورت كي به دغه روايت د تېر سوي روايت خلاف نه وي چي په هغه كي پر ږيره مباركه باندي د نكريزو لګولو ذكر سوى دى، لكه چي مخته هم د حضرت ابن عمر رضي الله عنه روايت را روان دى، د نكريزو او وسمه يو ځاى كولو په اړه يادونه مخكي تېره سوې ده.

د ژړ رنګ استعمال

﴿۴۲۸۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّهُ كَانَ يُصَفِّرُ لِحْيَتَهُ بِالصُّفْرَةِ حَتّٰى تَمْتَلِئَ ثِيَابُهُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه نقل دي چي هغه به خپله ږيره په ژړ رنګ سره رنګوله تر دې پوري چي د هغه جامې په ژړي سوې،

مِنَ الصُّفْرَةِ فَقِيلَ لَهُ لِمَ تَصْبُغُ بِالصُّفْرَةِ قَالَ إِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د هغوی څخه پوښتنه وسوه چي په ژړ رنګ سره ولي ږيره رنګوې؟ هغه ورته وفرمايل: ما نبي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْبُغُ بِهَا وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْهَا وَقَدْ كَانَ يَصْبُغُ ثِيَابَهُ

كُلَّهَا حَتّٰى عِمَامَتَهُ. رواه ابوداؤد والنسائي.

کريم ﷺ په ژړ رنګ باندي ليدلي دی او نبي کريم ﷺ ته د ژړ رنګ څخه پرته بل زيات خوښ شی نه وو. نبي کريم ﷺ به خپلي ټولي جامې ژړي رنګولې تر دې چي لنګوټه هم. ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داود ۴\۳۳۳، رقم: ۴۰۶۴، والنسائي ۸\۱۴۰. رقم: ۵۰۸۰.

تشريح: د ژړ خضاب څخه مراد د ورس په ذريعه خضاب لګول دي، دا يو ډول واښه دی چي د زعفرانو مشابه دی، ډېر ځله د ورس سره زعفران هم ګډيږي.

په څرګنده دا معلوميږي چي د اول يصبغ بها څخه د ابن عمر ﷛ مراد دادی چي رسول الله ﷺ به په خپله ږيره مبارکه کي ژړ خضاب لګوی، ځيني حضراتو ويلي دي چي د وېښتانو رنګول مراد دي او د ځينو حضراتو د قول مطابق د جامو رنګول مراد دي، سيوطي رحمه الله ويلي دي: دغه قول اشبه يعني صحيح دی چي د رسول الله ﷺ د وېښتانو رنګول منقول نه دي مګر ملا علي قاري رحمه الله وايي چي دا خبره د صحت درجې ته رسيدلې ده چي رسول الله ﷺ په ګسم رنګ سوي او زعفراني جامو اغوستلو څخه منع فرمايلې ده نو بيا دا څرنګه ممکن ده چي ذکر سوې جمله د جامو پر ژړ رنګ باندي محمول سي، زياته صحيح خبره هغه ده کوم چي صاحب نهايه نقل کړې ده، ممتاز قول دادی چي کله خو رسول الله ﷺ وېښتان رنګول او زيات وختونه يې نه دي کړي، نو په راويانو کي هر يوه هغه څه بيان کړل چي ليدلي يې دي، په دې اعتبار سره هر راوي په خپل بيان کي رېښتونی دی.

ټولو جامو ته تر دې چي لنګوټې ته يې هم ژړ رنګ ورکوی: د دې څخه دا بالکل مراد نه

دی چي رسول الله ﷺ به په خاصه توګه جامو ته ژړ رنګ ورکوی او بیا به يې هغه اغوستلې ، محض دا ثرګندول دي چي رسول الله ﷺ به کوم ژړ خضاب لګوی د هغه په اثر سره به يې جامې هم ژړې کېدلې .

﴿۴۲۸۱﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى أُمِّ سَلَمَةَ فَأَخْرَجَتْ إِلَيْنَا شَعَرًا مِنْ شَعَرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَخْضُوبًا . رواه البخاري

د عثمان بن عبد الله بن موهب رضی الله عنه څخه روایت دی چي زه د بي بي ام سلمې رضی الله عنها په خدمت کي حاضر سوم هغې د نبي کریم ﷺ يو ورېښته موږ ته را ښکاره کړې چي رنګ کړل سوی وو . بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۵۲، رقم: ۵۸۹۷.

تشریح: میرک رحمه الله وايي : ابن ماجه او احمد په خپل روایت کي د رنګین سره د نکریزو او وسمه الفاظ هم نقل کړي دي یعني هغه وېښتان مبارک به په نکریزو او وسمه سره رنګ سوي وه ، د بخاري چي کوم روایت نقل سوی دی هغه ډول يو روایت ترمذي هم په شمائل کي د حضرت انس رضی الله عنه څخه نقل کړی دی ، حضرت انس رضی الله عنه بیان وکړ چي ما د رسول الله ﷺ داسي وېښته مبارک ولېدی چي رنګین وو ، یعني د حضرت انس رضی الله عنه دغه روایت هم تېر سوی دی چي رسول الله ﷺ به نکریزي نه لګولې ، نو کېدای سي چي په کوم روایت کي هغه د رسول الله ﷺ د خضاب نفي کړې ده د هغه څخه مراد دا وي چي رسول الله ﷺ به زیات وختونه خضاب نه کوی او د کوم روایت څخه چي د خضاب اثبات کېږي هغه د اقل پر احوالو باندي محمول دی یعني کله نا کله به رسول الله ﷺ خضاب کوی، او دا ویل هم صحیح دي چي ددغه دواړو څخه يو روایت پر حقیقت مبني وي او دوهم پر مجاز محمول وي، یعني حقیقت خو دادی چي رسول الله ﷺ هیڅکله خضاب نه دی کړی مګر په ځینو وختو کي رسول الله ﷺ د سر درد لپاره پر خپل سر مبارک باندي نکریزي لګولي دي او د هغه رنګ اثر د رسول الله ﷺ په وېښتانو کي هم راغلی وي، یا دا چي هغه وېښته مبارک کوم چي حضرت انس رضی الله عنه لیدلی وو په خوشبويي کي اېښودل سوی وي او د هغه خوشبويي په اثر هغه داسي معلومېدی لکه چي خضاب سوی وي، په دې اعتبار سره حضرت انس رضی الله عنه هغه وېښته مبارک ته رنګین وویل، ملا علي قاري رحمه الله وايي: زما په نزد صحیح خبره داده چي د خضاب نفي پر دې محمول کړل سي چي رسول الله ﷺ د سپینو وېښتانو پټولو لپاره پر خپل سر مبارک باندي هیڅکله خضاب نه دی کړی او د کوم روایت څخه

چي د خضاب اثبات كيږي هغه پر دې محمول كړل سي چي رسول الله ﷺ د خپلي ږيري مباركي هغه څو وېښتان خضاب كړي وي كوم چي سپين سوي وه ، د بخاري په روايت كي چي دا بيان سوى دى چي د بي بي ام سلمه رضي الله عنها سره د رسول الله ﷺ د ږيري مبارك يو وېښته وو چي پر هغه باندي د نكريزو او وسمه د خضاب اثر وو، نو پر دې باندي په شمائل كي نقل سوى د حضرت ابو هريره رضي الله عنه دغه مطلق روايت محمول كړل سي چي په هغه كي بيان سوى دى چي د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه پوښتنه وسول چي رسول الله ﷺ خضاب لګوى؟ هغه وفرمايل هو .

يو نر ښځى يې د ښار څخه وايستى

﴿۴۲۸۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُتِيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمُخَنَّثٍ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ په خدمت كي يو نر ګډى راوستل

قَدْ خَضَّبَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ بِالْحِنَّاءِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَالُ

سو چي خپل لاس او پښې يې په نكريزو باندي سره كړي وه ، نبي كريم ﷺ پوښتنه وكړه چي دده

هٰذَا قَالُوْا يَتَشَبَّهُ بِالنِّسَاءِ فَأَمَرَ بِهِ فَنُفِيَ إِلَى النَّقِيعِ فَقِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَلَا

نَقْتُلُهُ فَقَالَ إِنِّي نُهِيتُ عَنْ قَتْلِ الْمُصَلِّيْنَ. رواه ابوداؤد.

څه حالت دى ؟ اصحابو كرامو عرض وكړ ، دا نرګډى د ښځو مشابهت كوي نبي كريم ﷺ د ښاره څخه د هغه د ايستلو حكم وركړ ، نو هغه د نقيع و ځاي ته ولېږل سو ، بيا و نبي كريم ﷺ ته عرض وكړل سو ايا موږ دى قتل كړو ؟ويې فرمايل: زه د لمونځ ګزاره د قتل څخه منعه سوى يم.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۲۴، رقم: ۴۹۲۸.

تشريح: په ښكاره دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ د لمانځه په ذريعه د كنايې په توګه د هغه د اسلام ذكر وكړ، يعني رسول الله ﷺ دا څرګنده كړه چي هغه سړى په هر حال مسلمان دى ځكه د هغه د وژني حكم څرنګه وركول كيداى سي، په لمانځه ويلو سره د اسلام مراد اخيستني بنياد دا هم دى چي په حقيقت كي لمونځ يو داسي عمل دى چي د اسلام د اظهار ذريعه ده ، كه يو سړى لمونځ نه كوي نو هغه دا څرګندوي چي زما د اسلام سره هيڅ تعلق نسته ځكه دغه قول كه يو مسلمان لمونځ نه كوي نو هغه دي ووژل سي، ځينو علماوو دغه قول پر ظاهري مفهوم محمول كړى دى .

د نارينه لپاره د زعفرانو خوشبويي منع ده

﴿۴۲۸۳﴾: وَعَنْ الْوَلِيدِ بْنِ عُقْبَةَ قَالَ لَمَّا فَتَحَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت وليد بن عقبه رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ كله مكه فتحه كړه نو د مكې

مَكَّةَ جَعَلَ أَهْلُ مَكَّةَ يَأْتُونَهُ بِصِبْيَانِهِمْ فَيَدْعُو لَهُمْ بِالْبَرَكَةِ وَيَمْسَحُ

معظمې خلكو خپل كوچنيان د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضرېدل پيل كړه نبي كريم ﷺ د هغوى د كوچنيانو لپاره د بركت دعاوي كولې او د هغوى په سرونو باندي به يې خپل مبارك

رُءُوسَهُمْ قَالَ فَجِيءَ بِي إِلَيْهِ وَأَنَا مُخَلَّقٌ فَلَمْ يَمَسَّنِي مِنْ أَجْلِ الْخَلُوقِ. رواه ابوداؤد.

لاس را تېروى ، زه هم و نبي كريم ﷺ ته راوستل سوم چي زما په بدن باندي د زعفرانو خوشبويي وه نو د دغه خوشبو په خاطر نبي كريم ﷺ زما په سر لاس تير نه كړ . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۰۴، رقم: ۴۱۸۱.

تشريح: خلوق د ښځو خاصه خوشبويي ده، كه يو سړى دغه خوشبويي ولګوي نو ښځو مشابهت لازميږي ، ځكه نو د خلكو لپاره د خلوق استعمال منع دى .

ويښتان ږمونځ كول او تيل پر لګول

﴿۴۲۸۴﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِي

د حضرت قتاده رضي الله عنه څخه روايت دى چي هغه و رسول الله ﷺ ته عرض وكړ چي زما وربښتان تر

جُمَّةً أَفَأُرَجِّلُهَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ وَأَكْرِمْهَا فَكَانَ أَبُو

اوږو پوري رسېدلي دي ايا زه دا ږمونځ كړم؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: د دې وربښتانو پالنه كوه (يعني ږمونځ او غوړوه يې)

قَتَادَةَ رُبَّمَا دَهَنَهَا فِي الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ من اجل قول رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ وَأَكْرِمْهَا . رواه مالك.

ابو قتاده رضي الله عنه فرمايي ما په اكثره وخت په ورځ كي دوه واره وېښتان غوړول ځكه چي نبي كريم ﷺ دا فرمايلي وو چي او دا ږمونځوه او سالم يې ساته. مالک.

تخريج: موطا الامام مالک ۲\۹۴۹، رقم: ٦.

تشريح: په وېښتانو كي تېل لګول او زيات ږمونځول په كثرت سره اختيارول په هغه صورت كي ناخوښه او نه ستايل سوى دى كله چي د هغه مقصد محض ښكلا او زينت وي، او په هغه كي د بې ځايه پابندي څخه كار اخيستل كيږي مګر د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه په اړه چي څه نقل سوي دي د هغه نوعيت بالكل بېل وو . د هغه دغه عمل محض د رسول الله ﷺ د حكم پر ځاى راوړل او د منشاء نبوي ﷺ د تعميل لپاره وو، چي يقينا غوره او ښه به ورته ويل كيږي ، لكه څرنګه چي د حضرت انس رضي الله عنه په اړه بيان سوى دى چي هغه د انس رضي الله عنه وېښته پرې نه كړ چي هغه به رسول الله ﷺ نښول.

د يهودو وضع مه اختياروئ

﴿۴۲۸۵﴾: وَعَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ حَسَّانٍ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ فَحَدَّثَتْنِي

د حضرت حجاج بن حسان رضي الله عنه څخه روايت دى چي موږ و حضرت انس بن مالک رضي الله عنه ته ورغلو

أُخْتِي الْمُغِيرَةُ قَالَتْ وَأَنْتَ يَوْمَئِذٍ غُلَامٌ وَلَكَ قَرْنَانِ أَوْ قُصَّتَانِ فَمَسَحَ رَأْسَكَ

(زه هغه وخت كوچنى وم) زما خور بي بي مغيره د هغې ورځي واقعه ماته داسي بيان كړه چي ته په هغه ورځو كي هلک وې او ستا وربېښتانو دوې څوښي وې او د تندي و لور ته زلفي پرتې وې ، انس بن مالک رضي الله عنه ستا پر سر باندي يې لاس تېر كړ

وَبَرَّكَ عَلَيْكَ وَقَالَ احْلِقُوا هَذَيْنِ أَوْ قُصُّوهُمَا فَإِنَّ هَذَا زِيُّ الْيَهُودِ . رواه ابوداؤد.

او ستا لپاره يې د خير او بركت دعا وكړه او وه يې فرمايل: دا دواړي ور وخريه يا يې كوچني كړه ځكه دا د يهوديانو شكل دى . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۱۲، رقم: ۴۱۹۷.

تشريح: يا دوې زلفي پرتې وي: دلته راوي خپل شک څرګند كړى دى چي حضرت حجاج هغه وخت د قرنان لفظ ويلى وو كه د قصتان، قصتان په اصل كي د قصة تثنيه ده چي معنى د سر هغه

وېښتانو ته ده چي مخته پر تندي باندي پراته وي.

د ښځو د سر خريلو منع

﴿۴۲۸۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا. رواه النسائي.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د ښځي د سر خريلو څخه منعه کړېده. نسائي

تخريج: سنن النسائي ۸\۱۳۰، رقم: ۵۰۴۹.

تشريح: د ښځو په اړه د سر وېښتانو هغه ارزښت دى کوم چي د سړي په اړه د ږيري دى لكه څرنګه چي نارينوو ته ږيره خريل حرام دي همدا رنګه ښځو لره د سر خريل حرام دي.

د سر او ږيري وېښتان سم کړئ

﴿۴۲۸۷﴾: وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

د حضرت عطاء بن يسار رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ په يوه مسجد كي وو، يو سړى

الْمَسْجِدِ فَدَخَلَ رَجُلٌ ثَائِرَ الرَّأْسِ وَاللِّحْيَةِ فَأَشَارَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

چي د هغه د سر او د ږيري ورېښتان بېر وو، نبي کريم ﷺ د هغه ولورته په ګوته سره اشاره وكړه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ كَأَنَّهُ يَأْمُرُهُ بِإِصْلَاحِ شَعْرِهِ وَلِحْيَتِهِ فَفَعَلَ الرَّجُلُ ثُمَّ

، مطلب هغه ته يې حكم وكړ چي د سر او ږيري ورېښتان سم کړي، نو هغه ورېښتان سم کړه، وروسته د نبي کريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو،

رَجَعَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَيْسَ هَذَا خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدُكُمْ ثَائِرَ الرَّأْسِ كَأَنَّهُ شَيْطَانٌ. رواه مالك.

نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ايا دا (شكل او صورت) د هغه څخه بهتر نه دى چي په تاسو كي يو څوک بېر راسي لكه دى چي شيطان وي. مالک.

تخريج: موطا الامام مالک ۲\۹۴۹، رقم: ۷.

د كورونو غولي پاک ساتئ

﴿۴۲۸۸﴾: وَعَنِ ابْنِ الْمُسَيِّبِ سُمِعَ يَقُوْلُ إِنَّ اللّٰهَ طَيِّبٌ يُحِبُّ الطَّيِّبَ نَظِيفٌ

د حضرت ابن المسيب رضي الله عنه څخه روايت دی چي الله جل جلاله نظيف دی نظافت خوښوي

يُحِبُّ النَّظَافَةَ كَرِيمٌ يُحِبُّ الْكَرَمَ جَوَادٌ يُحِبُّ الْجُودَ فَنَظِّفُوا أُرَاهُ قَالَ

خداي تعالی پاک دي صفائي خوښوي كريم دي كريم سړی خوښوي ، سخي دی سخاوت خوښوي نو تاسو خپل كورونه پاک صفا ساتئ . د راوي بيان دی ، ابن مسيب وويل ،

أَفْنِيَتَكُمْ وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ قَالَ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِمُهَاجِرِ بْنِ مِسْمَارٍ فَقَالَ

خپل د كورونو غولي پاک ساتئ او د يهودو سره مشابهت مه كوئ ، د راوي بيان دي چي د ابن

حَدَّثَنِيهِ عَامِرُ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ نَظِّفُوا أَفْنِيَتَكُمْ . رواه الترمذي.

مسيب د دي قول ذكر ما مهاجر بن مسمار ته وكړ هغه وويل ، ما ته د ا حديث عامر بن سعد د خپل پلار ه څخه او هغه د نبي كريم صلی الله عليه وسلم څخه نقل كړی دی ، خو د هغه په روايت كي دا الفاظ دي ، هغوی وويل ، چي خپل غولي پاک ساتي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵/۱۰۳، رقم: ۲۷۹۹۱.

تشريح: الله تعالی پاک دی: يعني هغه د هرعيب ، نقصان، بدی او هر هغه شي څخه پاک او منزه دی كوم چي د شان الوهيت او شان ربوبيت خلاف دي، په (يحب الطيب) كي د طيب لفظ د طاء په زبر سره دی، مطلب يې دادی چي د الله تعالی په نزد ښه كړني او ښه كلام غوره دي يا د الله تعالی په نزد خوشبويي يو غوره شي دی او ددغه ټولو شيانو بنياد پاكي ده، نو كوم بنده چي د دغه شيانو په استعمالولو سره په ځان كي پاكي پيدا كوي نو الله تعالی هغه خوښوي او د هغه د عمل څخه خوشحاله كيږي ، په يوه نسخه كي دغه لفظ د طاء په زبر او ياء مشدده په زبر سره دی يعني طَيِّب ليكلی دی، په دغه صورت كي به هغه سړی مراد وي چي طيبات يعني د عقائدو او خيالاتو ښه وايي، ، د ژبي او بيان د پاكۍ او د اعمالو او اخلاقو د لوړتيا او د نېكو اوصافو حامل وي. د نظافة معنی چي په پاكي سره سوې ده ددې اصل معنی د ظاهر او باطن پاكي ده.

طيبي رحمة الله عليه وايي: د كورونو د غولي پاک ساتلو حكم په اصل كي د كرم او جود اختيارولو څخه كنايه ده يعني ددغه حكم څخه اصل مقصد دا تلقين كول دي چي په خپل ځان كي د وركړي، سخاوت او مېلمستيا صفتونه پيدا كړي ، څرګنده ده چي د كور پاكي ددغه صفت د پوره كېدو غوره ذريعه ده ، ځكه چي د كوم كور غولي پاک وي او د سراى د دېوالو څخه پاكي څرګنديږي نو په هغه كو ركي خلكو او مېلمنو ته د راتللو او هستوګني ترغيب وركول كيږي.

بريتونه كوچني كول سنت ابراهيمي دى

﴿۴۲۸۹﴾: وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ أَنَّهُ سَمِعَ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيِّبِ يَقُولُ كَانَ

د حضرت يحيى بن سعيد رضي الله عنه څخه روايت دى چي هغه د مسيب څخه دا اورېدلي دي چي

إِبْرَاهِيمُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَ النَّاسِ ضَيَّفَ الضَّيْفَ وَأَوَّلَ النَّاسِ اخْتَتَنَ

ابراهيم خليل الله اولني شخص وو چي هغه د مېلمه مېلمستيا وكړه او د ختنه (سنتي) رواج هم د هغه څخه شروع سوى دى

وَأَوَّلَ النَّاسِ قَصَّ الشَّارِبَ وَأَوَّلَ النَّاسِ رَأَى الشَّيْبَ فَقَالَ يَا رَبِّ مَا هَذَا فَقَالَ

او د بريتو ورېښته غچي كول هم د هغه څخه شروع سوي دي او هغه تر ټولو اولني شخص دى چي په سپين ږيرو والي كي يې سپين ورېښته وليدي نو عرض يې وكړ اې الله! دا څه دي؟

اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَقَارٌ يَا إِبْرَاهِيمُ فَقَالَ يَا رَبِّ زِدْنِي وَقَارًا . رواه مالك .

خداي تعالى وفرمايل: اې ابراهيمه! دا عزت دى ، ابراهيم عليه السلام عرض وكړ اې پرودګاره! دا عزت مي نور هم زيات كړې . مالك

تخريج: موطا الامام مالک ۲\ ۹۲۲، رقم: ۴.

تشريح: سيوطي رحمة الله عليه د مؤطا په حاشيه كي د داسي نورو شيانو يادونه هم كړې ده چي د هغو پېل د حضرت ابراهيم عليه السلام څخه سوى دى، او هغه دادي: ۱: نوكان پرېكول، ۲: په سر كي لاره ايستل ۳: استره استعمالول، ۴: پرتوګ اغوستل، ۵: د نكريزو او وسمې خضاب لګول، ۶: پر منبر باندي خطبه ويل، ۷: د الله تعالى په لاره كي جهاد كول، ۸: د جنګ په مېدان كي د صف برابرول، ۹: د خلكو سره معانقه كول، ۱۰: ثريد (ښوروا) تيارول.

===========

بَابُ التَّصَاوِيْرِ (د عکسونو بيان)

تصاوير د تصوير جمع ده چي معنى يې د عکس جوړولو ده، د لته د تصاوير څخه مراد د ساه لرونکي شيانو عکسونه دي چي پر پردو او نورو شيانو باندي جوړ سوي وي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

سپی يا عکس

﴿۴۲۹۰﴾: عَنْ أَبِي طَلْحَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا تَصَاوِيرُ. متفق عليه

د حضرت ابو طلحه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په کوم کور کي چي سپی يا تصويرونه وي و هغه کورته ملائکي نه راځي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٣٨٠، رقم: ٥٩٤٩، ومسلم ٣\١٦٦٥، رقم: ٨٣-٢١٠٦.

تشريح: علماوو ليکلي دي چي دلته هغه عکسونه او سپيان مراد دي چي د هغه په کور کي ساتل حرام نه دي لکه هغه سپی چي د ښکار يا کښت وغيره د ساتني لپاره وي يا داسي عکسونه چي پر کوربچو او نورو شيانو باندي وي او د هغو سپکوالی او تر پښنو لاندي کيږي، په کور کي د داسي سپيانو يا داسي عکسونو موجودتيا د ملايکو د داخلېدو بنديز نه جوړيږي مګر دا مسئله محض د عکسونو د ساتلو يا استعمالولو ده ځکه چي عکس جوړل په هر صورت کي حرام دي که هغه پر کوربچه باندي وي يا پر درهم، سکو او نوټو باندي وي، د ساه لرونکي شي عکس جوړونکی د يو سخت حرام عمل کونکی دی او په ګناه کبيره کي اخته کيږي، البته د ساه نه لرونکو شيانو عکسونه لکه درخته، غر او داسي نور شيان حرام نه دي.

ځيني حضرات وايي چي ذکر سوی حکم د عمومي نوعيت دی يعني په يو کور کي مطلق عکس او د سپي موجودتيا د ملائکو په داخلېدو کي خنډ جوړيږي که څه هم سپيان او عکسونه داسي وي چي د هغه په کور کي ساتل حرام نه دي.

د ملائکو څخه مراد هغه ملائکي دي چي د بندګانو عملونه ليکي او د هغوی پر ساتنه باندي ماموري نه دي ځکه چي کومي ملائکي پر عملونو ليکلو او ساتنه کولو باندي ماموره

دي هغوی په هیڅ حال کي د انسان څخه نه بېلیږي .

غیر ضروري سپیان مړه کول

﴿۴۲۹۱﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ مَيْمُونَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابن عباس رضي الله عنه د بي بي میموني رضي الله عنها څخه روایت کوي چي یوه ورځ نبي کریم ﷺ د

أَصْبَحَ يَوْمًا وَاجِمًا وَقَالَ إِنَّ جِبْرِيلَ كَانَ وَعَدَنِي أَنْ يَلْقَانِي اللَّيْلَةَ فَلَمْ يَلْقَنِي

سهار په وخت کي خاموش او غمګین ناست وو ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: نن شپه زما سره جبرائیل علیه السلام د ملاقات وعده کړې وه ، لیکن ما سره یې ملاقات ونه کړ ،

أَمَ وَاللَّهِ مَا أَخْلَفَنِي ثُمَّ وَقَعَ فِي نَفْسِهِ جِرْوُ كَلْبٍ تَحْتَ فُسْطَاطٍ لَه فَأَمَرَ بِهِ

قسم په خدای! جبرائیل علیه السلام هیڅکله زما سره وعده خلافي نه ده کړې ، وروسته د نبي کریم ﷺ په زړه کي د سپي د هغه بچي خیال راغی چي د نبي کریم ﷺ د خیمې لاندي پروت وو ، حکم یې

فَأُخْرِجَ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِهِ مَاءً فَنَضَحَ مَكَانَهُ فَلَمَّا أَمْسَى لَقِيَهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ لَقد

وکړ ، نو هغه یې لیري کړ ، وروسته نبي کریم ﷺ او به واخیستلې او په کوم ځای چي سپی پروت وو هغه ځای یې پاک کړ ، کله چي مانبام سو نو جبرائیل علیه السلام ورسره ملاقات وکړ ، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل :

كُنْتَ وَعَدْتَنِي أَنْ تَلْقَانِي الْبَارِحَةَ قَالَ أَجَلْ وَلَكِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ

پرون شپه تا زما سره د ملاقات وعده کړې وه ، جبرائیل علیه السلام ورته وفرمایل : هو! لیکن موږ په هغه کور کي نه داخلیږو په کوم ځای کي چي سپی

وَلَا صُورَةٌ فَأَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ فَأَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ

یا تصویر وي ، په دویمه ورځ په سهار کي نبي کریم ﷺ حکم وکړ ، ټول سپي ووژنئ تر دې چي

حَتَّى إِنَّهُ يَأْمُرُ بِقَتْلِ كَلْبِ الْحَائِطِ الصَّغِيرِ وَيَتْرُكُ كَلْبَ الْحَائِطِ الْكَبِيرِ. رواه مسلم.

د کوچنيو باغونو د سپو د وژلو يې هم حکم وکړ او د لويو باغونو سپي يې پرېښودل. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۳\ ۱۶۶۴، رقم: ۸۲– ۲۱۰۵.

د لغاتو حل: واجما: وهو السكوت من الحزن والغضب (د غم او خښم له امله چوپتيا). الفسطاط: السرير.

ټول عکسونه يې مات کړل

﴿۴۲۹۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَتْرُكُ فِي بَيْتِهِ شَيْئًا فِيهِ تَصَالِيبُ إِلَّا نَقَضَه. رواه البخاري.

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ په خپل کور کې دا سې هيڅ شی پرې نه ښودی چې په هغه کې عکسونه وي، مګر هغه يې مات کړه. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۳۸۵، رقم: ۵۹۵۲.

تشريح: تصاليب د تصليب جمع ده چې معنی يې د صليب (دار) جوړولو ده، چې عيسايان يې برکت لپاره د ځان سره اېږدي او د هغه عبادت کوي په دې خيال چې حضرت عيسی علیه السلام يهوديانو په دار کړی وو، بيا الله تعالی هغه په ژوندي کولو سره را پورته کړ، نو ددغه دار عکسونه د هغوی په نزد يو مقدس مذهبي نښه ده، مګر دلته په حديث کې د تصاليب څخه مطلق د ساه لرونکو شيانو عکسونه مراد دي.

په آخرت کې د عکس جوونکي عذاب

﴿۴۲۹۳﴾: وَعَنْهَا أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دی چې هغې يو بالښت رانيوي چې په هغه کې عکسونه وه، نبي کريم ﷺ چې هغه وليدی

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْبَابِ فَلَمْ يَدْخُلْهُ فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ

نو په دروازه کې و دريدی او د ننه را نه غلی، ماته د نبي کريم ﷺ په مخ کې د ناراضي اثار په

قالت فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتُوبُ إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاذَا

سترګو سول، عرض مي وکړ، اې د الله ﷻ رسوله! زما څخه د خداي تعالی او د هغه د رسول

أَذْنَبْتُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَالُ هٰذِهِ النُّمْرُقَةِ قُلْتُ

د مخالفت كولو څه ګناه سوې ده؟نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا بالښت څنګه دى؟ ما وويل

اشْتَرَيْتُهَا لَكَ لِتَقْعُدَ عَلَيْهَا وَتَوَسَّدَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ما دا ستاسو د ناستي او ارام كولو لپاره رانيولي دى، نبي كريم ﷺ وفرمايل: د دې عكسونو

إِنَّ أَصْحَابَ هٰذِهِ الصُّوَرِ يعذبون يَوْمَ الْقِيَامَةِ ويُقَالُ لَهُمْ أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ

جوړونكي ته به د قيامت په ورځ عذاب وركول سي او هغوى ته به وويل سي چي كوم شى تاسو جوړ كړى دى و هغه ته دي ساه وركړئ،

وَقَالَ إِنَّ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ الصُّوَرُ لَا تَدْخُلُهُ الْمَلَائِكَةُ. متفق عليه

بيا يې وفرمايل: په كوم كور كي چي عكسونه وي و هغه كور ته ملائكي نه داخليږي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۹۲، رقم: ۵۹۶۱، ومسلم ۳\۱۶۶۹، رقم: ۹۶- ۲۱۰۷.

د لغاتو حل: نمرقة: الوسادة الصغيرة (كوچنى بالښت)

ارايشي پردې څيرل

﴿۴۲۹۴﴾: وَعَنْهَا أَنَّهَا كَانَتْ قد اتَّخَذَتْ عَلَى سَهْوَةٍ لَهَا سِتْرًا فِيهِ تَمَاثِيلُ فَهَتَكَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاتَّخَذَتْ مِنْهُ نُمْرُقَتَيْنِ فَكَانَتَا فِي الْبَيْتِ يَجْلِسُ عَلَيْهِمَا. متفق عليه.

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دى هغې د كور په تاخچه يوه پرده واچوله چي په هغه كي عكسونه وه، نبي كريم ﷺ هغه پرده څيري كړه، وروسته بي بي عائشې ﷺ د هغه ټوكر څخه دوه بالښتونه جوړ كړل چي په كور كي به رسول الله ﷺ پر هغو باندي په تكيه وهلو سره ناست وو.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۲۳، رقم: ۲۴۷۹، ومسلم ۳\۱۶۶۸، رقم: ۹۴- ۲۱۰۷.

د لغاتو حل: سهوة: كوة بين الدارين (تاخچه)

تشریح: دغه حدیث په ښکاره د هغه حدیث خلاف دی کوم چي تر دې مخکي تېر سوی دی ځکه چي د اول حدیث څخه دا ثابتیږي چي پر بالښت باندي جوړ سوي عکسونه په کور کي د ملائکو د داخلېدو څخه منع کوي که څه مهم د داسي عکسونو په کور کي ساتل حرام دي، په دغه صورت کي هغه دواړه بالښتونه چي پر هغو عکسونه وه د بي بي عائشې رضي الله عنها په کور کي څرنګه ایښودل کېدل؟ د دې جواب دادی چي هغه پر بالښت باندي کوم عکسونه وه هغه د ساه لرونکو شیانو نوه چي د هغو جوړول او ایښودل حرام دي او رسول الله ﷺ چي هغه پرده شکولې وه نو د هغې وجه هم پر هغه پرده باندي د تصویرو موجودتیا نه وه بلکه د هغې سبب دا وو چي پر دېوالو او نورو شیانو باندي بېله ضرورته پردې زړول د الله تعالی د منشاء خلاف دی ځکه چي الله تعالی دا نه دي فرمایلي چي ډبرو او خاورو ته جامې واغوستل سي لکه چي د راتلونکي حدیث څخه به معلومه سي، او که چیري هغه عکسونه د ساه لرونکو شیانو وه نو په دغه صورت کي به ویل کیږي چي کله د بالښت جوړولو لپاره هغه پردې څیري کړل سوې نو پر هغو چي کوم عسکونه وه د هغو سرونه پرېکړل سول، ځیني حضرات وایي چي (هتک) یعني څېرل، ددې معنی د هغه عکسونو د پرېکولو او ضائع کولو ده کوم چي پر هغه پرده باندي وه.

﴿۴۲۹۵﴾: وَعَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فِي غَزَاةٍ فَأَخَذْتُ نَمَطًا

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ و یوې غزا ته ولاړ ما (د نبي کریم ﷺ

فَسَتَرْتُهُ عَلَى الْبَابِ فَلَمَّا قَدِمَ فَرَأَى النَّمَطَ فَجَذَبَهُ حَتَّى هَتَكَهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَأْمُرْنَا أَنْ نَكْسُوَ الْحِجَارَةَ وَالطِّينَ. متفق علیه.

څخه وروسته)یو ټوکر رانیوی، پرده مي ور څخه جوړه کړه په دروازه مي واچوله، کوم وخت چي نبي کریم ﷺ واپس راغی او هغه پرده یې ولیدل نو را کش یې کړه او څیري یې کړه، بیا یې وفرمایل: خدای تعالی و موږ ته دا حکم نه دی را کړی چي موږ کاڼو او خټو ته کالي ور اغوندو. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۸۶، رقم: ۵۹۵۴، ومسلم ۳\۱۶۶۶، رقم: ۸۷-۲۱۰۷.

تشریح: نمط یو ډول ښه فرش او ټغر ته وایي چي د هغه ځوکي نازکي او نرمي وي، دا هودج پر کجاوه باندي هم اچول کیږي او پرده هم ځیني جوړیږي، کېدای سي چي دغه لفظ د نمد

معرب وي ، بي بي عائشې ﷺ به دغه تهوکر پر دروازه باندي د ښکلا لپاره زړولی وي ، که چيري د پردې په غرض يې پر دروازه اچولی وي نو په دې باندي د عتاب کولو سوال نه پيدا کيږي، او ځيني حضراتو ليکلي دي چي پر هغه تهوکر باندي د آسانو عکسونه وه ځکه رسول الله ﷺ هغه ضائع کړل او هغه عکسونه يې خراب کړل مګر دا قول د حديث د سياق خلاف معلوميږي ځکه چي د حديث مضمون دا څرګندوي چي د رسول الله ﷺ هغه تهوکر څيرل پر هغه دروازه باندي د زړولو څخه منع کول د عکس په وجه نه وو بلکه پر دېوالو باندي د تهوکر اچولو د کراهت په وجه وو لکه چي د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه هم ثابتيږي .

يحيی رحمه الله وايي: پر دېوالو باندي د پردو اچولو منع د نهي تنزيهي په توګه ده ځکه چي د دغه شي د الله تعالی له خوا حکم نه کېدل پر منع باندي دلالت نه کوي، پاته سوه دا خبره چي بيا رسول الله ﷺ پر هغه پرده باندي د دومره ناخوښۍ اظهار ولي وکړ چي هغه يې څيري کړل، نو ددې وجه دا وه چي دغه شی د رسول الله ﷺ په نزد د اهل بيت د شان خلاف وو بيا هم دغه حديث پر دې دلالت کوي چي د کور پر دېوال وغيره باندي د پردو زړولو څخه دي منع وکړل سي او دا حديث ددې خبري هم دليل دی که بد شی ولېدل سي نو هغه دي په خپل لاس خراب کړل سي او د هغه خلاف دي د غم او غصې اظهار وکړل سي .

د عکس جوړونکي سزا

﴿۴۲۹۶﴾: وَعَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِينَ يُضَاهُونَ بِخَلْقِ اللَّهِ. متفق عليه.

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به هغه خلک په سخت عذاب کي وي چي هغوی د پيدائش په معامله کي د خداي تعالی سره مشابهت کړی وي (يعني عکسونه يې جوړ کړی وي) . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۸۶، رقم: ۴۹۵۴، ومسلم ۳\۱۶۶۸، رقم: ۹۲- ۲۱۰۷.

تشريح: مشابهت اختياروي : يعني صورت جوړول د الله تعالی کار دی ، کوم څوک چي عکس جوړوي هغه ګويا خپل فعل د الله تعالی د فعل سره مشابه کوي، يا دا مطلب دی چي عکس جوړونکی هغه شی جوړوي چي د الله تعالی د تخليق مشابه وي، ابن ملک رحمه الله وايي که د مصور فعل ددغه عقيدې لاندي وي چي هغه د الله تعالی د فعل صورت ګري مماثلت

کونکی وي نو هغه کافر کیږي او په دغه صورت کي ددغه حدیث مطلب به دا وي چي هغه ته به ددغه بد کفر په وجه د نورو کافرانو په نسبت زیات سخت عذاب ورکول کیږي او که هغه داسي عقیده نلري نو بیا د هغه په اړه به دغه حدیث پر تهدید باندي محمول وي.

﴿۴۲۹۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ يَخْلُقُ كَخَلْقِي فَلْيَخْلُقُوا ذَرَّةً أَوْ لِيَخْلُقُوا حَبَّةً أَوْ شَعِيرَةً. متفق عليه.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي خداي تعالی وفرمایل: د هغه کس څخه زیات څوک ظالم دی چي زما د پیدائش په شان جوړول کوي (یعني څه ډول شکلونه چي زه جوړوم هغه یې هم جوړوي ، هغه ته پکار ده که هغه د پیدا کولو دعوی لري نو زما په شان یو کوچنی ذره دي پیدا کړي یا یوه دانه یا اوربشه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۸٦، رقم: ۴۹۵۴، ومسلم ۳\۱٦٦۸، رقم: ۹۲- ۲۱۰۷.

﴿۴۲۹۸﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا عندالله الْمُصَوِّرُونَ. متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي د خداي تعالی په نیزد به د سخت څخه سخت عذاب و عکسونو جوړونکو ته ورکړي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۸۲، رقم: ۵۹۵۰، ومسلم ۳\۱٦۸۰، رقم: ۹۸- ۲۱۰۹.

تشريح مطلب دادی چي الله تعالی کوم خلک په سخت عذاب کي اخته کوي په هغوی کي به مصور هم وي، ځینو علماوو لیکلي دي چي دغه وعید د هغه چا په حق کي دی چي د بتانو عکسونه ددې لپاره جوړوي چي د هغوی عبادت وکړل سي او داسي سړی به یقینا کافر وي، که هغه په سخت عذاب کي اخته کړل سي نو څه لیري خبره نه ده ، ځیني حضرات وایي چي کوم څوک د الله تعالی د مشابهت په نیت سره عکس جوړ کړي نو هغه هم کافر کیږي او د سخت

عذاب ورڅ دی ، او کوم څوک چي دد غه نیت څخه پرته عکس جوړوي نو هغه نه کافر کیږي بلکه فاسق به ورته ویل کیږي، او د هغه به همهغه حکم وي کوم چي د ګناه کونکي دی، پر دې خبره د ټولو علماوو اتفاق دی چي په حدیث کي د کوم عکس جوړنکي په اړه وعید بیان سوی دی د هغه څخه د ساه لرونکي شی عکس جوړونکی مراد دی نه د درختو او نورو شیانو عکس جوړونکی، ځکه چي په عامه توګه سره د مصور اطلاق پر ساه لرونکي باندي کیږي او د جماداتو او نباتاتو عکس جوړونکي ته نقاش ویل کیږي، مجاهد رحمة الله علیه د مېوه دارو درختو عکس جوړولو ته هم مکروه ویلي دي، د نورو محققینو په نزد د غیر ساه لرونکي شي عکس جوړول د کراهت څخه خالي نه دي او په لهو و لعب او بې مقصده شیانو کي داخل دی.

﴿۴۲۹۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي فرمایل یې

كُلُّ مُصَوِّرٍ فِي النَّارِ يَجْعَلُ لَهُ بِكُلِّ صُورَةٍ صَوَّرَهَا نَفْسًا فَتُعَذِّبُهُ فِي جَهَنَّمَ قَالَ

هر عکس جوړونکي به په اور کي و غورځول سي او د هغه د هر عکس په بدله کي به هغه څوک چي د هغه عکس یې جوړ کړي وي پیدا کړل سي او هغه (جوړونکي) ته به په دوږخ کي عذاب

ابْنُ عَبَّاسٍ فَإِنْ كُنْتَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَاصْنَعْ الشَّجَرَ وَمَا لَا رُوحَ فِيهِ. متفق عليه

ورکوي ، ابن عباس وایي که عکس جوړول ستا کار وي او ته دا کار خامخا کوې نو د درختي یا غیر ذي روح شي عکس جوړ کړه . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴۱۶\۱۴، رقم: ۲۲۲۵، ومسلم ۱۶۷۰\۱۳، رقم: ۹۹– ۲۱۱۰.

تشريح: هسي خو هر ډول عکس جوړول ناجائز دی مګر اکثرو علماوو د انجونو لیاره ناوکۍ مستثنی کړي دي یعني دهغوی په نزد د انجونو لپاره ناوکۍ جوړول مباح دي مګر امام ملک رحمة الله علیه نارینوو ته د هغو رانیول مکروه ګرځولي دي او ځینو علماوو مذکوره اباحت منسوخ ګرځولی دی.

﴿۴۳۰۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ تَحَلَّمَ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي څوک داسي خوب بیان کړي

بِحُلْمٍ لَمْ يَرَهُ كُلِّفَ أَنْ يَعْقِدَ بَيْنَ شَعِيرَتَيْنِ وَلَنْ يَفْعَلَ وَمَنِ اسْتَمَعَ إِلَى

چي نه يې وي ليدلي (يعني د دروا غو خوب)هغه ته به وويل سي چي د دوو اوربشو په مينځ كي غوټه وركړي او هغه به هيڅ كله دا سي نه سي كولاى او څوك چي د يو قوم خبرو ته په پټه غوږ

حَدِيثِ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ أَوْ يَفِرُّونَ مِنْهُ صُبَّ فِي أُذُنِهِ الْآنُكُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ونيسي او هغه قوم د هغه خبري اورېدل بد ګڼي يا نفرت ځيني كوي يا هغه خلك دده د غوږ نيولو په سبب بل ځاى ته تښتي (يعني چي دى زموږ خبري وا نه وري) نو د قيامت په ورځ به د هغه په غوږونو كي مس وا چول سي

وَمَنْ صَوَّرَ صُورَةً عُذِّبَ وَكُلِّفَ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا وَلَيْسَ بِنَافِخٍ. رواه البخاري.

او څوك چي (د يو ساه لرونكي) عكس جوړ كړي هغه به مجبور كړل سي چي په هغه كي روح وا چوي او حال دا چي هغه به هيڅ كله روح نه سي په كښي اچولاى . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۴۲۷، رقم: ۷۰۴۲.

د لغاتو حل: الانک: هو الرصاص الابيض. (مس)

تشريح: چي هغه به يې هيڅكله نسي كولاى: ددې مطلب دادى چي هغه سړى به په عذاب اخته كړل سي او هغه ته به وويل سي چي هغه د اوربشو دوې دانې په جوړولو سره يو ځاى كړي او كله چي هغه داسي ونه كړلاى سي نو هغه به بيا په عذاب كي اخته كړل سي او همدارنګه به هغه ته عذاب وركول كيږي، د دروا غو خوب بيانونكى او د اوربشو دوې دانې په خپلو كي د يو ځاى كولو مناسبت دادى چي څرنګه يو سړى د خوب بې بنياده او دروا غ خبري جوړوي همدارنګه به هغه ته وويل سي چي اوس د اوربشو دوې دانې يو ځاى كړئ ، څرګنده دي وي چي د دروا غو خوب بيانول كه څه هم د دروا غو يو ډول دى مګر دغه د دروا غو خوب بيانونكي ته به مطلق د دروا غ ويلو په نسبت زيات سخت عذاب ځكه وركول كيږي چي په اصل كي د خوب تعلق د عالم غيب سره دى او رېښتوني خوب د اجزاء نبوت يو جز دى او همدارنګه د وحي د درجې حكم لري نو كوم څوك چي د دروا غو خوب بيان كړي هغه ګويا پر الله تعالى باندي دروا غ وتړل او په دې كي هيڅ شک نسته چي پر الله تعالى باندي دروا غ تړل د دروا غو تر ټولو سخت ډول دى ، ځيني حضرات وايي چي په حديث كي ذكر سوى وعيد د هغه چا په حق كي دى

چي د دروا غو د خوب په ذریعه د نبوت یا ولایت دعوه کوي د مثال په توګه هغه داسي ووایي چي ما خوب لیدلی دی چي الله تعالی زه نبي کړی یم یا ولي کړی یم، او ما ته یې خبر راکړی دی چي د فلاني سړي بخښنه سوې ده یا فلاني سړی ملعون دی وغیره وغیره، یا داسي بیان وکړي چي رسول الله ﷺ ما ته په خوب کي فلانی فلانی حکم کړی دی حال دا چي په حقیقت کي هغه په خوب کي هیڅ نوي لیدلي .

د هغه سړي په غوږ کي به مس واچول سي: دا وعید د هغه سړي په حق کي دی چي د هغه خلکو خبري د چغل خوری او فتنې خپرولو په نیت اوري ، ددې پر خلاف که چیري هغه د خلکو خبري ددې لپاره اوري که هغوی د خپلو هغه خبرو په ذریعه د فتنې او فساد فلان جوړوي نو هغوی دي منع کړي یا د هغوی د شر څخه خپل ځان یا نور خلک وساتي نو په دې کي څه پروا نسته .

د نرد شیر بدوالی

﴿۴۳۰۱﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدَشِيرِ فَكَأَنَّمَا صَبَغَ يَدَهُ فِي لَحْمِ خِنْزِيرٍ وَدَمِهِ. رواه مسلم .

د حضرت بریده رضی الله عنه څخه روایت دی چاچي د نرد شیر (سطرنج) وکړی نو هغه لکه خپل لاسونه چي د خنزیر په غوښو او وینو رنګ کړل . مسلم

تخریج: صحیح مسلم : ۴\۱۷۷۰، رقم: ۱۰- ۲۲۶۰.

تشریح: نرد شېر یو ډول لوبه ده چي د فارس (ایران) یو پاچا شاه پورابن ارد شیرابن بابک ایجاد کړې وه، او د خنزیر غوښه او وینه نه یوازي دا چي نجس دي بلکه ددې څخه ډېر زیات نفرت هم کیږي ځکه په خاصه توګه ددې یادونه وسول چي خلک ددغه لوبي څخه بېزاره سي ، څرګنده دي وي چي مطلق د نرد په ذریعه لوبه کول د ټولو علماوو په نزد حرام دي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د جبرائیل علیه السلام کورته نه تلل

﴿۴۳۰۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَانِي

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ماته راغلی

جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامِ قَالَ أَتَيْتُكَ الْبَارِحَةَ فَلَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَكُونَ دَخَلْتُ إِلَّا

جبرائيل عليه السلام او ويې فرمايل: پرون شپه زه ستاسو کره راغلی وم ليکن د ننه نه درغلم چې په

أَنَّهُ كَانَ عَلَى الْبَابِ تَمَاثِيلُ وَكَانَ فِي الْبَيْتِ قِرَامُ سِتْرٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ وَكَانَ فِي

دروازه کې عکسونه وه او په کور کې يوه نقش داره ټوکر وو چې د هغې څخه پرده جوړه سوې وه او په دروازه اچول سوې وه او په هغې کې عکسونه وه او ځکه داخل نه سوم چې په کور کې

الْبَيْتِ كَلْبٌ فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ الَّذِي على باب الْبَيْتِ يُقْطَعُ فَيَصِيرُ كَهَيْئَةِ

سپی وو تاسو حکم وکړئ چې کوم عکسونه په دروازه دي (يعني د پردې پر سر) د هغوی سرونه دې پرېکړل سي، لپاره د دې چې د هغوی شکل

الشَّجَرَةِ وَمُرْ بِالسِّتْرِ فَلْيُقْطَعْ فَلْيُجْعَلْ وِسَادَتَيْنِ مَنْبُوذَتَيْنِ تُوطَآنِ وَمُرْ

د درختو په شان سي، بيا دا حکم وکړئ چې هغه دې پرېکړل سي د هغې څخه دې دوه بالښتونه جوړ سي چې پر فرش باندې پراته وي او د پښو لاندې راسي او حکم وکړئ

بِالْكَلْبِ فَلْيُخْرَجْ فَفَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ. رواه الترمذي وابوداؤد.

چې سپی دې د کوره څخه وشړل سي، نو نبي کريم ﷺ همداسې وکړل. ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۱۰۶، رقم: ۲۸۰۶، وابوداود ۴\۳۸۸، رقم: ۴۱۵۸.

د لغاتو حل: قِرام: الستر المنقش (نقش لرونکې پرده)

تشريح: په فتاوی قاضي خان کې ليکلي دي چې په داسې حالت کې لمونځ کول مکروه دي چې د مصلا مخته يا پر سرپېره يا راسته او چپه خوا ته عکس موجود وي، يا د لمونځ کونکي پر جامو باندې عکس جوړ سوی وي مګر پر کوربچه باندې د عکس کېدو په اړه دوه قوله دي چې په هغو کې زيات صحيح قول دا دی چې پر کوربچه يا فرش باندې عکس مکروه نه دی په شرط د دې چې پر هغه کوربچه يا فرش باندې لمونځ کېږي نو په هغه ځای کې دې سجده نه کوي چېرې چې عکس وي، څرګنده دې وي چې دا مسئله په هغه صورت کې ده کله چې عکسونه لوی وي او لېدونکو ته بېله تکليف معلومېږي او که چېرې عکسونه کوچني وي يا د هغوی سرونه پرې سوي وي نو په دې کې څه پروا نسته.

د قیامت په ورځ درې دوږخیان

﴿۴۳۰۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به یوه

يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ وَلِسَانٌ يَنْطِقُ يَقُولُ إِنِّي

غاړه د دوږخ د ننه څخه را ووځي چې دوې سترګې به یې وي، ګوري به، دوه غوږونه به یې وي اوریدل به کوي او ژبه به یې وي خبرې به په کوي، هغه غاړه به په خپلې ژبې سره دا وایي،

وُكِّلْتُ بِثَلَاثَةٍ بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ وَبِكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا آخَرَ وَبِالْمُصَوِّرِينَ. رواه الترمذي.

زه په درو کسانو باندې مقرر سوی یم (یعني د دې لپاره چې دا درې کسان به د ځانه سره و دوږخ ته بیایم او په عذاب کې به یې اچوم) (۱)-یو تکبر کونکي او بغض او عناد کونکي. (۲)-او بل هغه څوک چې د الله جل جلاله څخه پرته د بل چا عبادت کوي او د هغه څخه کومک غواړي. (۳)-او هغه کسان چې عکسونه جوړوي. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي: ۴\۶۰۴، رقم: ۲۵۷۴.

شراب، خمار، طنبل

﴿۴۳۰۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى حَرَّمَ الْخَمْرَ وَالْمَيْسِرَ وَالْكُوبَةَ وَقَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ قِيلَ الْكُوبَةُ الطَّبْلُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: خدای تعالی شراب خوړل، خمار او کوبه (طنبل وهل) حرام ګرځولي دي او فرمایلي یې دي چې هر نشه لرونکي شی حرام دی، د ځینو بیان دي چې کوبه و ډول ته ویل کیږي. بیهقي

تخریج: البیهقي في شعب الایمان ۴\۲۸۲، رقم: ۵۱۱۶.

تشريح: د كوبه په معنی کي د علماوو درې قوله دي، يو خو نرد، دوهم بربط، او دريم طبل، لکه څرنګه چي مصنف د حديث د يو راوي څخه نقل کړي دي ، د ډول وغيره په ډول طبل هم يو ډول باجه ده ، په حديث کي هغه طبل مراد دی چي محض د لهو او لعب لپاره وي نه د اسلام د غازيانو طبل.

﴿۴۳۰۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د شراب ، خمار ،

وَالْكُوبَةِ وَالْغُبَيْرَاءِ، وَالْغُبَيْرَاءَ شَرَابٌ تَعْمَلُهُ الْحَبَشَةُ مِنَ الذُّرَّةِ يُقَالُ لَهُ السُّكُرْكَةُ .رواه ابوداؤد.

کوبه او غبيرا څخه منعه کړې ده ، غبيرا يو ډول شراب دي چي د حبشې خلک يې د اوربشو څخه جوړوي او دې ته سکرکه ويل کيږي . ابو داؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۸۹–۹۰، رقم: ۳۶۸۵.

تشريح: د غبيراء چي کوم تعريف بيان سوی دی هغه يا خو د ابن عمر رضي الله عنه څخه منقول دی يا بل راوي بيان کړی دی.

د الله جل جلاله او رسول ﷺ نافرماني

﴿۴۳۰۶﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدِ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَرَسُولَهُ . رواه احمد وابوداؤد.

د ابو موسی اشعری رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چاچي په نرد (شطرنج) سره لوبي وکړې نو هغه د خداي جل جلاله او د هغه د رسول الله ﷺ نافرماني وکړه . احمد او ابوداؤد

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۳۴۵، رقم: ۴۹۴۰، وابوداؤد: ۵\۲۳۰، رقم: ۴۹۳۸.

تشريح: په نرد سره لوبه کول د الله تعالی او د هغه د رسول د نافرمانۍ برابر دي چي دغه لوبه که وکړل سي نو حقيقتا خمار دی او که بېله بازۍ لګولو وکړل سي نو بيا هم صورتا خمار دی او دا مخکي بيان سوی دی چي په مطلق نرد سره لوبه کول حرام دي .

كوتر بازي حرامه ده

﴿۴۳۰۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَتْبَعُ حَمَامَةً فَقَالَ شَيْطَانٌ يَتْبَعُ شَيْطَانَةً. رواه احمد و ابوداؤد وابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو سړی و ليدي چي په كوترو پسې وو (يعني كوتري يې الوځولې)نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا شيطان دی ، په شيطاني پسې سوی دی . احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه او بيهقي

تخريج: مسند الامام احمد ۲\ ۳۴۵، وابوداود ۵\ ۲۳۱، رقم: ۴۹۴۰، وابن ماجه ۲\ ۱۲۳۸، رقم: ۳۷۶۵، والبيهقي في شعب الايمان ۵\ ۲۴۴، رقم: ۶۵۳۴.

تشريح: هغه سړي ته يې شيطان ځكه وفرمايل چي هغه د الله تعالى څخه ليري والي اختيار كړی وو او په لايعني او بې مقصده كار كي بوخت وو ، او د هغه كوترو ته يې ځكه شيطان وويل چي هغوی هغه سړی په بازۍ او لهو ولعب كي په بوختولو سره د ذكر الهي او د دين د كارو څخه منع كړی وو ، ددې څخه معلومه سوه چي كوتر بازي حرامه ده، نووي رحمه الله ليكلي دي چي د هګيو او بچيانو تر لاسه كولو لپاره د كوترو ساتل بېله كراهته جائز دي مګر د هغو الوځول مكروه دي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د تصوير جوړونكي كسب

﴿۴۳۰۸﴾: عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ

د حضرت سعيد بن ابو الحسن رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د ابن عباس رضي الله عنه سره ناست وم چي

عَنْهُمَا اِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا أَبْنَ عَبَّاسٍ إِنِّي رجل إِنَّمَا مَعِيشَتِي مِنْ صَنْعَةِ

يو سړی راغلی او ويل يې ، اې ابن عباس ! زه يو مزدور كاره سړی يم او زما كار د لاس دی زه

يَدِي وَإِنِّي أَصْنَعُ هَذِهِ التَّصَاوِيرَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَا أُحَدِّثُكَ إِلَّا مَا سَمِعْتُ

عکسونه جوړوم. ابن عباس ورته وفرمایل: زه تا ته هغه خبره وه نه کړم کومه چي ما د نبي کریم

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَوَّرَ صُورَةً فَإِنَّ اللّٰهَ مُعَذِّبُهُ حَتَّى

ﷺ څخه اوریدلی ده، ما د نبي کریم ﷺ څخه دا اوریدلي دي، څوک چي یو عکس جوړ کړي بیشکه الله ﷻ عذاب ورکونکي دی ده ته ترڅو پوري چي

يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ فِيهَا أَبَدًا فَرَبَا الرَّجُلُ رَبْوَةً شَدِيدَةً وَاصْفَرَّ

په هغه کي یې روح نه وي پوه کړې او هغه نفر به هیڅکله روح پکښي پوه نه کړي (په دې اوریدو سره) هغه سړي اوږده ساه وکښله او مخ یې ژړ سو،

وَجْهُهُ فَقَالَ وَيْحَكَ إِنْ أَبَيْتَ إِلَّا أَنْ تَصْنَعَ فَعَلَيْكَ بِهٰذَا الشَّجَرِ وَكُلِّ شَيْءٍ

لَيْسَ فِيهِ رُوحٌ. رواه البخاري.

ابن عباس رضي الله عنه ورته وفرمایل: پر تا باندي افسوس دی که ته نه منعه کیږې له جوړولو څخه یې نو د ونو عکسونه جوړوه او د هغو شیانو چي روح و نلري. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٤١٦/١٤، رقم: ٢٢٢٥.

د کنیسه ذکر

﴿٤٣٠٩﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا اشْتَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ بَعْضُ

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی کوم وخت چي نبي کریم ﷺ ناروغه سو نو د نبي کریم ﷺ

نِسَائِهِ كَنِيسَةً يُقَالُ لَهَا مَارِيَةُ فَكَانَتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَأُمُّ حَبِيبَةَ أَتَتَا أَرْضَ

په بیبانو کي ځینو د کلیساؤ ذکر وکړ چي هغه کلیسا ته ماریه ویل کیږي (او په حبشه کي وه) او د نبي کریم ﷺ بیبیانو ام سلمه رضي الله عنها او ام حبیبه رضي الله عنها حبشې ته تللي وی

الْحَبَشَةِ فَذَكَرْنَا مِنْ حُسْنِهَا وَتَصَاوِيرَ فِيهَا فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ أُولٰئِكِ إِذَا

او دې دواړو بیبیانو د هغې کلیسا د ښایست او د هغې د عکسونو ذکر وکړ نبي کریم ﷺ خپل سر مبارک را پورته کړ او ویې فرمایل: په هغو کي چي

مَاتَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَبَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا ثُمَّ صَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ أُولَئِكِ شِرَارُ خَلْقِ اللَّهِ. متفق عليه.

کوم نېک سړی مړ سي نو د هغه پر قبر باندي مسجد جوړ کړی او بیا په هغه کي د داسي نېکانو خلکو عکسونه جوړوي دا خلک په حقیقت کي د الله ﷻ بد ترین مخلوق دی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۸۷، رقم: ۳۸۷۳، ومسلم ۱\۳۷۵، رقم: ۱۶– ۵۲۸.

تشريح: مطلب دا دی چي پر قبرونو د عبادت ځایونه جوړول. او د هغوی قبرو خوا ته مخ کولو سره د عبادت کولو په وجه هغوی د الله تعالی په بدترین مخلوق کي شمېرل کیږي.

تر ټولو سخت عذاب د چا دی

﴿۴۳۱۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَتَلَ نَبِيًّا أَوْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ أَوْ قَتَلَ أَحَدَ وَالِدَيْهِ وَالْمُصَوِّرُوْنَ وَعَالِمٌ لَّمْ يَنْتَفِعْ بِعِلْمِهِ. رواه البيهقي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ چي کومو خلکو ته به د سخت څخه سخت عذاب ورکول کیږي هغه به هغه خلک وي، کوم چا چي نبي (پیغمبر) قتل کړي وي یا یو نبي هغه په قتل رسولي وي یا په خپل مور او پلار کي یې یو په قتل رسولي وي او عکسونه جوړونکي او هغه عالم چي د هغه د علمه څخه و چا ته څه فائده نه وي رسېدلې. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۶\۱۹۷، رقم: ۷۸۸۸

تشريح: کوم څوک چي د جنګ په مېدان کي یو نبي قتل کړی وي د هغه په سخت عذاب کي اخته کېدل د یو بل روایت څخه ثابت دي چي په هغه کي فرمایل سوي دي چي (اشتد غضب الله على رجل يقتله رسول الله في سبيل الله) يعني د الله تعالی سخت ترین عذاب به پر هغه چا وي چي د الله تعالی په لار یعني جهاد کي قتل کړی وي ځکه چي د الله تعالی د رسول مقتول په اصل کي هغه سړی وي چي د الله تعالی د رسول د قتلولو اراده لري، د جهاد د قید په ذریعه ګویا هغه قید مستثنی کړل سوی دی چي د حد او قصاص په توګه وي.

د سطرنج لوبه

﴿۴۳۱۱﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ اَلشَّطْرَنْجُ هُوَ مَيْسِرُ الْأَعَاجِمِ. رواه البيهقي

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي سطرنج د عجميانو خمار دی. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۵\ ۲۴۱، رقم: ۶۵۱۸.

تشريح: مطلب دا دی چي کافران د سطرنج په ذريعه حقيقتا خمار کوي يا د سطرنج لوبه کول صورتا د هغوی د خمار مشابهت لري او د هغوی هر ډول مشابهت اختيارول منع دي.

د سطرنج بدوالی

﴿۴۳۱۲﴾: وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ أَبَا مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ لَا يَلْعَبُ بِالشَّطْرَنْجِ إِلَّا خَاطِئٌ. رواه البيهقي.

د حضرت ابن شهاب رحمه الله څخه روايت دی چي د ابوموسی اشعري رضي الله عنه بيان دی، سطرنج هغه سړی کوي کوم چي خطاکار او ګنهګاره وي. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان في الموضوع السابق نفسه.

﴿۴۳۱۳﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ لَعِبِ الشَّطْرَنْجِ فَقَالَ هِيَ مِنَ الْبَاطِلِ وَلَا يُحِبُّهُ اللهُ الْبَاطِلَ. روى البيهقي الأحاديث الأربعة في شعب الإيمان.

د حضرت ابن شهاب رحمه الله څخه د سطرنج په هکله وپوښتل سوه، هغه وويل، دا لغوه او باطله لوبه ده او خداي تعالی لغو او باطل شی نه خوښوي. (بيهقي دا څلور احاديث په شعب الايمان کي نقل کړي دي).

تخريج: البيهقي في شعب الايمان في الموضع السابق نفسه.

تشريح: په هدايه کي ليکلي دي چي د رسول الله د دغه ارشاد: کوم څوک چي سطرنج يا نرد لوبه وکړي هغه ګويا د خنزير په وينه کي خپل لاسونه ډوب کړل، په دې وجه نرد او سطرنج لوبه کول مکروه تحريمي دي، په جامع صغير کي دا حديث نقل سوی دی چي د سطرنج لوبه کونکی ملعون دی او کوم څوک چي په شوق سره د سطرنج لوبي ته وګوري هغه ګويا د خنزير غوښه

وخوړل، په ځینو کتابو کې چې دا نقل سوي دي چې امام شافعي رحمة الله علیه د سطرنج لوبه په ځینو شرطو سره جائز ګرځولې ده نو په نصاب الاحتسام کې د امام غزالي رحمة الله علیه څخه دا نقل سوي دي چې د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد هم دغه لوبه مکروه ده، ددې څخه معلومه سوه چې امام شافعي رحمة الله علیه به مخکې ددې د جواز قائل وو مګر وروسته هغوی ددغه قول څخه رجوع وکړل، په مختار او نورو کتابو کې لیکلي دي چې همدا رنګه ټولې لوبې مکروه دي.

د سپي او پیشي فرق

﴿۴۳۱۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِيْ دَارَ

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د انصارو یو کورته تشریف وړئ

قَوْمٍ مِّنَ الْأَنْصَارِ وَدُوْنَهُمْ دَارٌ فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِمْ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ تَأْتِيْ

حالانکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته نژدې نور کورونه هم وه، په هغه همسایه ګانو یا نژدې کورو والاؤ باندې دا خبره سخته تمام سوه، هغوی عرض وکړ، اې د الله رسوله! تاسو ځئ

دَارَ فُلَانٍ وَلَا تَأْتِيْ دَارَنَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنَّ فِيْ دَارِكُمْ كَلْبًا

د فلانې انصاري کره او زموږ کره نه راځئ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: زه ستاسو و کورو ته ځکه نه درځم، چې تاسو په خپلو کورونو کې سپي ساتلي دي،

قَالُوْا إِنَّ فِيْ دَارِهِمْ سِنَّوْرًا فَقَالَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم اَلسِّنَّوْرُ سَبُعٌ. رواه الدارقطني.

هغوی عرض وکړ، او د هغه په کور کې پیشي ده، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: پیشي داسي درنده دئ چې نجاست نه لري. بیهقي.

تخریج: سنن الدار قطني ۱\۶۳، رقم: ۵.

========

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ

كِتَابُ الطِّبِّ وَالرُّقىٰ

(د طب او دم بیان)

طِب په عامه توګه د طاء په زېر سره مستعمل دی مګر سیوطي رحمة الله علیه وایي چي دغه لفظ د طاء په زور، زېر او پیش درې سره منقول دی، ددې معنی ده علاج کول او درملنه کول، ځیني وختونه دغه لفظ د طاء په زېر سره د سحر په معنی کي هم استعمال سوی دی، په دې اعتبار سره مطلبوب هغه سړي ته وایي چي په هغه سحر (جادو) سوی وي.

د طب اړه د بدن (ظاهر) سره هم وي او د نفس (باطن) سره هم وي او د روغتیا د ساتني او ناروغیو څخه د دفع په ذریعه د بدن علاج ته بدني طب وایي او د باطني هلاکت او تباه کونکو افکارو او اعمالو پرهېښودو او ازالې په ذریعه د نفس علاج ته طب نفساني وایي، لکه څرنګه چي د طب دوه ډولونه دي همدارنګه د دواء هم دوه ډولونه دي یو خو جسماني او طبعي که هغه مفرداتو په شکل کي وي یا د مرکباتو په شکل کي وي، او دوهم ډول روحاني او لساني چي د قرآن کریم او د قرآن کریم په حکم کي شامل د نورو شیانو په صورت کي دي، نبي کریم ﷺ به د ټول امت د خلکو علاج او اصلاح لپاره ظاهري او طبعي دواوي هم اختیارولې او باطني او روحاني معالجه هم.

رُقی: د رقیه جمع ده چي معنی یې د دم ده، د علماوو پر دې اتفاق دی چي د قرآني آیاتو، نقل سوو دعاوو او اسماء الهي په ذریعه دم کول جائز دی، ددې څخه پرته د داسي دم په ذریعه هم جائز ده چي د هغه الفاظو او کلمو معنی معلومه وي او هغه د دین او شریعت مخالف نه وي، د کوم دم الفاظ او کلمات چي د دین او شریعت د تعلیماتو او احکامو پر خلاف وي د هغه په ذریعه د م کول قطعا جائز نه دي همدارنګه هغه اهل عزائم او تکثیر چي په علم نجوم او د رمل په مرسته عملیات کوي او د حفظ ساعات او تعین اوقات په ډول شیان اختیاروي د هغوی دغه طریقه هم د اهل دیانت او تقوا په نزد مکروه او حرامه ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

هره ناروغي دوا لري

﴿۴۳۱۵﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ دَاءً إِلَّا أَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً . رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خداي تعالى هيڅ يوه داسي ناروغي نه ده پيدا کړې چي د هغې لپاره شفاء (علاج او دوا) نه وي نازله کړې . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۳۴، رقم: ۵۶۷۸.

ناروغي د خدای په حکم سره جوړيږي

﴿۴۳۱۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ فَإِذَا أُصِيبَ دَوَاءُ الدَّاءِ بَرَأَ بِإِذْنِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ . رواه مسلم .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هري ناروغي لپاره دوا شته ، کله چي دوا د ناروغي موافق سي د خداي تعالى په حکم سره ناروغي ښه سي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۴\۱۷۲۹، رقم: ۶۹- ۲۲۰۴.

تشريح. د الله جل جلاله د حکم قيد ځکه لګول سوی دی چي دا ګمان ونسي چي د ناروغي څخه د شفاء اصل تعلق د دواء سره دی او ناروغ ته په صحت ورکولو کي علاج او معالجه حقيقي او مستقل بالذات مؤثر دي بلکه حقيقت دادی چي په اصل کي شفاء محض د الله تعالى پر اراده باندي موقوف ده ، دواء او علاج محض يو ظاهري ذريعه او وسيله ده ، يو ناروغ ته دواء هغه وخت ګټه کوي کله چي د الله تعالى حکم وسي ، په روايت حميدي کي ددې تفصيل داسي نقل سوی دی ، داسي ناروغي نسته چي د هغه علاج نه وي ، کله چي يو څوک ناروغ سي نو الله تعالى يوه ملائکه را استوي او د هغې سره يوه پرده وي ، هغه ملائکه هغه پرده د ناروغ د ناروغي او د دواء په مينځ کي حائله کوي چي د هغه نتيجه داسي چي ناروغ کومه دواء استعمالوي هغه نه پر لګيږي او شفاء نه تر لاسه کيږي تر دې چي د الله تعالى مشيت وسي چي

ناروغ بنه سي، نو هغه ملائکي ته حکم وركړي چي د ناروغ او دواء په مينځ كي پرده دي پورته كړل سي ، ددې څخه وروسته چي ناروغ دواء وخوري نو الله تعالى د هغه دواء په ذريعه ناروغ ته شفاء وركوي.

ددې څخه څرګنده سوه چي كله ناروغي لاحقه سي نو د هغه علاج او دواء كول مستحب دي، د صحابه كرامو او اكثرو علماوو دا مذهب دى او په دې سره د هغه حضراتو د نظر ترديد هم كيږي چي د علاج او معالجه او دواء څخه انكار كوي، او وايي چي د هر شي په ډول ناروغي هم د قضاء او قدر تر اثر لاندي وي ځكه د يو ناروغ علاج بې ګټي دى، د جمهورو علماوو چي د علاج او معالجي قائل دي، دليل ذكر سوى حديث دى، او د هغوى عقيده داده چي بېله شكه د ناروغيو پيدا كونكى الله تعالى دى مګر ناروغيو د ازالې ذرائع پيدا كونكى هم الله تعالى دى او څرنګه چي ناروغ او ناروغي د قضاء او تقدير تابع دي همدارنګه علاج او معالجه هم د تقدير الهي څخه دي ، ددې مثال داسي دى لكه څرنګه چي د هر انسان د مرګ وخت بالكل يقيني دى د چا مرګ چي په كوم صورت كي ليكل سوى دى په هغه صورت كي به راځي مګر ددې سربېره د خپل ساتني او سلامتۍ ذرائع اختيارول او خپل ځان د يو پېښي يا دښمن د حملې څخه خوندي كول د عاء كولو حكم وركړل سوى دى يا د جنګ په مېدان كي د دين د دښمنانو د وژني هدايت وركړل سوى دى ، خلاصه دا چي د ځان او روغتيا د ساتني او سلامتۍ لپاره د [illegible]ء او نورو شيانو په ډول اسباب او ذرائع اختيارول نه خود حكم الهي خلاف دي او نه د توكل [illegible]اف دي، لكه د خوراک په ذريعه لوږه دفع كول د توكل خلاف نه دى ، د رسول الله ﷺ څخه [illegible]يات توكل كونكى څوک كېداى سي چي رسول الله ﷺ سيد المتوكلين وو مګر ددې سربېره رسول الله ﷺ به علاج هم كوى او د ناروغۍ ليري كولو لپاره به يې ذرائع هم اختيارول.

شفاء په درو شيانو كي

﴿۴۳۱۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشِّفَاءُ فِي ثَلَاثٍ فِي شَرْطَةِ مِحْجَمٍ أَوْ شَرْبَةِ عَسَلٍ أَوْ كَيَّةٍ بِنَارٍ وَأَنَا أَنْهَى أُمَّتِي عَنِ الْكَيِّ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شفا په درو شيانو كي ده :(۱) په وينه كښلو.(۲) په شاتو خوړلو كي.(۳) په اور سره په داغ وركولو كي ، ليكن زه

خپل امت په داغ سره د علاج کولو څخه منعه کوم. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\١٣٦، رقم: ٥٦٨٠.

تشريح: مِحجَم: د میم په زیر او د جیم په زور سره وینې کښلو ته وايي مګر دلته دد غه لفظ څخه ښکر مراد دی چې په هغه سره وینه کښل کیږي، شرطة: د شین په زور سره ښکر وهل، چې د هغه په ذريعه وينه کښل کيږي، نو في شرطة معجم، ترجمه به دا وي چې د ښکر په ذريعه په وينه کښلو کي شفاء ده.

د سفر السعادة د مصنف مطابق علماء وايي چې په دغه حديث کي د ټولو بدني ناروغيو علاج ته لاربښوونه او اشاره ده ځکه چې مادي ناروغي يا خو دموي، صفراوي او يا سوداوي وي، که يو ناروغي دموي (يعني د ويني د فساد په وجه وي) نو د هغه علاج دادی چې هغه د بدن څخه وکښل سي چې د هغه صورت ښکر لګول دي او په پاته درو صورتو کي د ناروغی غوره علاج اسهال (نس ناسته دی)، رسول الله ﷺ د عسلو په ذريعه مسهلاتو ته توجه وګرځول چې د اسهال لپاره د عسلو د يو غوره او معتدلي دواء کار ورکوي، او په اور سره د داغلو په ذريعه دې ته اشاره سوې ده چې که چيري د ناروغی نوعيت داسي وي چې طبيب او معالج د هغه د ناروغی څخه عاجزه سي نو بيا په اور سره دي وداغل سي ځکه چې يو مغلظ باغي سي او د هغه ماده نه منقطع کيږي نو د هغه د انتقاع يوازني ذريعه داغ ورکول دي ځکه ويل سوي دي چې: (آخر الدوا لکی) يعني آخري دواء داغل دي.

پاته سوه دا خبره چې داغ ورکول يو علاج دی نو رسول الله ﷺ د هغه منع ولي وفرمايل، ددې وجه داده چې عربو به داغلو ته دومره ازربنت ورکوی او د هغوی دا عقيده سوې وه چې ماده د ناروغی سبب وي د هغه د دفع لپاره داغ ورکول د يقيني درجې علاج دی نو د هغوی په نزد دا مشهوره وه چې آخر الواء لکی، څرګنده ده چې دا خبره د اسلامي عقيدې خلاف ده ځکه چې هيڅ علاج که هر څومره مجرب وي د يقين درجې ته نسي رسيدلای يوازي ظاهري سبب او ذريعه په پوهه کي راتللای سي، يقيني شفاء خو يوازي د الله تعالی پر حکم موقوف ده نو رسول الله ﷺ ددغه فاسدي عقيدې ترديد او خلق شرک خفي کي د اخته کېدو څخه د ساتني لپاره ددې منع وفرمايل، او دغه منع د نهي تنزيهي په توګه ده، که يو څوک داغل د ناروغی د دفع يو ظاهري سبب او ذريعه ګڼلو سره د علاج په توګه اختيار کړي او د الله تعالی څخه د شفاء اميد ولري نو جائز دي، ځيني علماء وايي چې دداغلو د منع تعلق د خطرې او تردد په وجه دی يعني

داسي صورت وي چي په داغلو سره د کټي پر ځای د تاوان او هلاکت خطره او بیره وي نو بیا داغل نه دي پکار. په دغه مسئله کي د حدیثو ځینو شارحینو دا تفصیل بیان کړی دی چي د داغلو په اړه مختلف حدیثونه نقل سوي دي ، ځیني حدیثونه پر جواز باندي دلالت کوي او ځیني نهي ثابتوي، لکه ذکر سوی حدیث او نور حدیثونه، همدارنګه په ځینو حدیثو کي دادي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه داغ ورکول نه خوښوم او په ځینو حدیثو کي پر داغ نه لګولو باندي مدح او تعریف سوی دی ، همدارنګه ددغه حدیثو د تعارض او تضاد لیري کولو لپاره او په هغه کي د مطابقت پیدا کولو لپاره علماوو دا لیکلي دي چي په کومو حدیثو کي د رسول الله ﷺ دا فعل منقول دی چي رسول الله ﷺ داغ ورکړ نو دا په اصولي توګه سره د داغلو پر جواز باندي دلالت کوي او کوم حدیثونه چي د رسول الله ﷺ د ناخوښۍ اظهار کوي هغه ددغه جواز خلاف نه دي ځکه چي ناخوښي پر عدم جواز باندي دلالت نه کوي ، داسي ډېر شیان دي چي رسول الله ﷺ نه خوښول مګر د نورو لپاره یې د هغه څخه منع نه فرمایل، همدارنګه په کومو حدیثو کي چي داغ نه ورکولو باندي مدح او تعریف منقول دي هغه هم پر عدم جواز باندي دلالت نه کوي ځکه چي د مدح او تعریف مقصد یوازي دا ظاهرول دي چي داغل نه اختیارول محض غوره او افضل دي نه دا چي ضروري دي، البته په کومو حدیثو کي چي دداغلو منع په صراحت سره نقل سوې ده نو هغه منع په اصل کي پر هغه صورت باندي محمول ده کله چي داغل اختیارول یا خو د ناروغۍ د سبب څخه پرته وي یا د ناروغۍ د دفع لپاره د هغه حاجت نه وي بلکه هغه ناروغي په بل علاج سره دفع کېدای سي او څرنګه چي مخکي ذکر سول چي دغه منع پر دې خبره باندي هم محمول ده چي دغه منع دداغلو په اصل کي د داغلو د ذکر سوي فاسدي عقیدې او شرک خفي کي د اخته کېدو څخه د ساتني لپاره ده او که داسي فاسده عقیده ونه درلودل سي نو دغه منع به نه وي ، ځیني حضرات وايي د رسول الله ﷺ د ځینو صحابه کرامو په اړه دداغلو حکم ورکول (لکه چي مخته به راسي)په دې وجه وو چي د هغه صحابه کرامو زخم ډېر خراب سوی وو او د ځینو اندامو د پرېکېدو په وجه په وینه تللو کي کمي نه کېدل او رسول الله ﷺ ته دا هم معلومه سوې وه چي په داغلو سره صحت یقیني دی ، خلاصه دا چي د یو اندام داغل یا سوځل مکروه دي مګر که چیري واقعي ضرورت وي او هوښیار طبیب دا ووایي چي ددغه ناروغي آخري علاج داغ ورکول دي نو بیا داغ ورکول به جائز وي .

په داغ سره درملنه

﴿۴۳۱۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ رُمِيَ أُبَيٌّ يَوْمَ الْأَحْزَابِ عَلَى أَكْحَلِهِ فَكَوَاهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي د احزاب په غزا (د خندق په غزا) کي يوه ورځ د ابي بن کعب هفت اندام رګ په غشي ولګېدلې، رسول الله ﷺ ورته داغ ورکړ. مسلم

تخریج: صحيح مسلم: ۱۴\۱۷۳۰، رقم: ۷۴– ۲۲۰۷.

﴿۴۳۱۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ رُمِيَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فِي أَكْحَلِهِ فَحَسَمَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ بِمِشْقَصٍ ثُمَّ وَرِمَتْ فَحَسَمَهُ الثَّانِيَةَ. رواه مسلم

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي د سعد بن معاذ هفت اندام رګ په غشي ولګېدى رسول الله ﷺ په خپل مبارک لاس د هغه زخم ته داغ ورکړ، بيا د هغه په لاس کي پاړسوب راغى نو نبي کريم ﷺ د دويم وار لپاره داغ ورکړ. مسلم.

تخریج: صحيح مسلم ۱۴\۱۷۳۱، رقم: ۷۵– ۲۲۸.

د لغاتو حل: المِشقص: هو نصل السهم اذا كان طويل.

﴿۴۳۲۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ طَبِيبًا فَقَطَعَ مِنْهُ عِرْقًا ثُمَّ كَوَاهُ عَلَيْهِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ابى بن کعب ته طبيب وليږى، طبيب د هغه وينه وکښل او بيا يې و هغه ته داغ ورکړ. مسلم

تخریج: صحيح مسلم ۱۴\۱۷۳۰، رقم: ۷۳– ۲۲۰۷.

د سياه دانې خاصيت

﴿۴۳۲۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي

اَلْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ إِلَّا السَّامَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَالسَّامُ الْمَوْتُ وَالْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ الشُّونِيزُ . متفق عليه.

د حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي هغه د نبي کريم ﷺ څخه دا اورېدلي دي ، چي په توره دانه کي د مرګ څخه پرته د هري ناروغۍ شفاء ده . ابن شهاب وويل :السام څخه مرګ او د تورې دانې څخه کلونجي مراد ده . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\١٤٣، رقم: ٥٦٨٨، ومسلم ١٣\١٧٣٥، رقم: ٨٨- ٢٢١٥.

د لغاتو حل: الشونيز: الکمون الاسود (تورې دانې)

تشريح: طيبي رحمہ اللہ وايي که څه هم د حديث په مفهوم کي عموميت دی چي کلونجي(تورې دانې) ته د هري ناروغۍ دواء فرمايل سوي دي مګر کلونجي په خاصه توګه په هغه ناروغيو کي ګټور وي کوم چي رطوبت او بلغم کي پيدا کيږي ځکه کلونجي ماء يابس ، وچه او ګرمه وي ځکه هغه ناروغۍ دفع کوي کوم چي د هغه ضد وي ، ځيني حضرات وايي د حديث مفهوم پر عموميت باندي محمول دی يعني کلونجي په هره ناروغۍ کي ګټوره ده ، په دې توګه که په يو داسي دواء کي په خاصه اندازه او ترکيب سره ګډه کړل سي نو د هغه اثرات به څرګنديږي ، کرماني رحمہ اللہ ويلي دي: د حديث مفهوم عام دی ځکه په دغه حديث کي استثناء يوازي د مرګ سوې ده .

د سفر السعادت مصنف ليکلي دي چي د اکابرو او مشائخو د يو ډلي معمول وو چي هغوی به په خپلو ټولو ناروغيو کي کلونجي د دواء په توګه استعمالول همدارنګه ځينو حضراتو به په خپل ټولو ناروغيو کي عسل استعمالول او دهغوی د ښه عقيدې درلودلو په برکت به د هغوی ناروغۍ دفع کېدلې .

په عسلو کي شفا

﴿۴۳۲۲﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د ابو سعيد خدری رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو

وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ أَخِي اسْتَطْلَقَ بَطْنُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ويې ويل: زما د ورور عملونه کيږي ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل :

اسْقِهِ عَسَلًا فَسَقَاهُ ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ إِنِّي سَقَيْتُهُ فَلَمْ يَزِدْهُ إِلَّا اسْتِطْلَاقًا فَقَالَ

په هغه شات وخوره ، هغه وربانديې شات وخوړل ، دوهم وار بيا راغلی او عرض يې وکړ ، اې د الله رسوله ! ما وربانديې شات وخوړل ،عملونه يې لا زيات سول ، نبي كريم ﷺ بيا د شاتو د

لَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ جَاءَ الرَّابِعَةَ فَقَالَ اسْقِهِ عَسَلًا فَقَالَ لَقَدْ سَقَيْتُهُ فَلَمْ

خوړلو حكم وركړ ، درې واره داسې وسوه (يعني د عملو يې زيات شكايتونه وكړل او نبي كريم ﷺ همداسې ورته وفرمايل) په څلورم وار چې راغلی نو عرض يې وکړ ، ما وربانديې شات

يَزِدْهُ إِلَّا اسْتِطْلَاقًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ اللهُ وَكَذَبَ بَطْنُ أَخِيكَ فَسَقَاهُ فَبَرَأَ. متفق عليه.

وخوړل ، عملونه يې لازيات سول ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : الله ﷻ رښتيا فرمايلي دي(يعني په شاتو كې د انسانانو لپاره شفاء پرته ده) او ستا د ورور نس دروا‌غجن دی ، په څلورم وار چې يې په هغه شات و خوړل ، نو هغه ښه سو . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۳۹، رقم: ۵۶۸۴، ومسلم ۴\۱۷۳۶، رقم: ۹۱- ۲۲۱۷.

تشريح: د يوې ناروغۍ په صورت كې د شاتو د استعمالولو يو خاص طريقه د حضرت علي ﷺ څخه داسې نقل سوې ده چې كله يو سړی ناروغ سي نو هغه دې خپلې ښځې ته ووايي چې هغه دې د خپل مهر څخه څه مال وركړي او بيا دې د هغه مال په ذريعه عسل رانيسي او عسل دې د باران په اوبو كې يو ځاى كولو سره وڅښبني انشاء الله تعالى بابركته شفاء به تر لاسه كړي .

الله ﷻ خو رېښتيا فرمايلي دي: ددغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ دغه آيت كريمه (فيه شفاء للناس) ته اشاره كړې ده چې په هغه كې الله تعالى فرمايلي دي چې په عسلو كې د خلكو لپاره شفاء ده، يا دا چې الله تعالى د وحي په ذريعه رسول الله ﷺ ته ښوولي وه كه هغه ناروغ عسل وڅښبني نو د هغه نس ته به ارام تر لاسه سي او د نس ناستي ناروغي به يې ختمه سي، دا خبره رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په ذريعه بيان كړه چې كله الله تعالى دا ښودلي دي چې د عسلو په څښبنلو سره به هغه ته شفاء ترلاسه سي او د الله تعالى ښودل سوې خبره غير صحيح نسي كيداى نو په ناروغ بانديې عسل وڅښبنه هغه ته به يقينا كټه تر لاسه سي .

بيا رسول الله ﷺ وفرمايل ستا د ورور نس دروا‌غجن دي: په دغه ارشاد سره گويا د

روغتیا په اړه د زنړه کېدو علت بیان کړ چي ستا د ورور په نس کي یو ټینګه ماده جمع سوې ده چي د هغه په وجه د عسلو ورکړی مقدار نه کافي کیږي تر څو چي هغه ماده دباندي نه راووځي تر هغه وخته به ارام نه مومي، یا دا چي نس خطا کوي یعني په سمه توګه کار نه کوي او تر اوسه شفاء نه قبلوي کله چي سم کار پېل کړي او شفاء قبوله کړي نو نس ناسته به یې بنده سي، څرګنده دي وي چي عربو په خپل کلام کي اکثر لفظ د کذب یعني درواغ د خطا پر ځای استعمالوي لکه چي هغوی وايي د فلاني سړي غوږ خطا وکړه یعني هغه چي کومه خبره اورېدلې ده د هغه حقیقت ته نه دی رسیدلی نو هغوی داسي وايي : کذب سمعه، یعني د هغه غوږ درواغ وویل.

په طب نبوي ﷺ او رواجي طب کي فرق

دلته دا خبره بیانول ضروري دي ، که څه هم علماوو تر خپله وسه په طب نبوي او اوسني رواج سوي طب کي د مطابقت او موافقت پیدا کولو هڅه کړې ده مګر حقیقت دادی چي په دواړو کي فرق خامخا موجود دی ځکه د سفر السعادت مصنف لیکلي دي چي طب نبوي ﷺ (په ظاهري توګه) د طبیبانو د قواعدو او اصولو سره څه نسبت نلري ځکه چي د طب نبوي ﷺ مصدر وحي الهي، قلب نبوت او کمال عقل دی، څرګنده ده چي کوم طب د وحي الهي په ذریعه حاصل سوی وي یا کوم علاج چي قلب نبوت او کمال عقل ښودلی وي د هغه کامیاب کېدل او د هغه په ذریعه شفاء تر لاسه کول د یقین حامل وي، ددې پر خلاف د طبیبانو او حکیمانو چي کوم طب دی او د هغه د اصولو او قواعدو مطابق چي کوم علاج کیږي د هغه کلیه کامیاب او افادیت بخش کېدل د یقیني درجې نه وي بلکه په هغه کي د غلطۍ او خطاء کېدو ګمان هم وي ځکه چي د طب بنیاد پر انساني ذهن او تجربه باندي دی په دې اعتبار سره د غه طب د طب نبوي برابر کېدای نسي چي د هغه بنیاد پر وحي الهي ، قلب نبوت او کمال عقل وي.

د طب نبوي او مروجه طب په مینځ کي دا فرق دی چي په ځینو وختو کي ځیني خلک په شک او شبه کي اچوي حال دا چي هغویویني چي رسول الله ﷺ د یو ناروغۍ داسي علاج تجویز فرمایلی دی چي د فن طب د اصولو او قواعدو خلاف دی نو هغوی ډول ډول اعتراضونه کوي حال دا چي هغوی باید دا حقیقت ومني چي هغوی د کوم طب د اصولو او قواعدو څخه خبره کوي هغه د انسان د خپل ذهن ، خپل عقل او تدبیر څخه دی ځکه نو په هغه کي غلطي او خطا کېدل او مقصد ته نه رسېدل ممکن دي، حال دا چي د طب نبوي مصدر وحي الهي او قلب

نبوت دی چي په هغه کي د خطا او غلطۍ امکان نسته ، رسول الله ﷺ چي د يو ناروغۍ کوم علاج تجويز فرمايلی دی د هغه په اړه دا خو کېدای سي چي زموږ ناقص علم او ذهن د هغه حقيقت ته ونه رسيږي مګر دا ممکن نه ده چي هغه علاج د ناروغۍ مطابق نه وي، د مثال په توګه دلته په حديث کي چي د کومي پېښي يادونه سوې ده د هغې اړوند ځيني طبيبان په سخته حيرانتيا او مشکل کي اخته سوي دي ځکه چي عسل د خپلو خواصو په اعتبار مسهل او د نس جاري کونکي دي نو د نس ناستي منع کولو لپاره د عسلو څښلو حکم نبوي په ظاهره د طبيبانو د اصولو او قواعدو بالکل خلاف دی په دې وجه هغه طبيبان وايي چي وار د عسلو څښلو څخه وروسته د نس ناستي زياتوب له دې کبله وو چي عسل نس ناسته پيدا کوي ، په دې باره کي خو يوه خبره دا کيږي چي دا بالکل د يو خاص نوعيت معامله وه چي په هغه کي د دواء د تاثير څخه زيات د رسول الله ﷺ د دعاء او اعجاز نبوي دخل وو ، په ظاهره عسل د ناروغ په ناروغۍ کي د زياتوب سبب وو مګر حقيقت دا وو چي د رسول الله ﷺ د دعاء په برکت او د رسول الله ﷺ په اعجاز سره هغه عسل د هغه سړي په حق کي شفاء ذريعه وګرځېدل او هغه ښه سو ، دا خبره که څه هم د حسن اعتقاد له نظره يو ښه تعبير او ترجماني ده چي مؤمنان مطمئن کولای سي او بيا هغوی دا ويلای سي چي محض پر دغه پېښه باندي په قياس کولو سره طب نبوي د مروج طب د اصولو او قواعدو متضاد نسي کېدای مګر ددې څخه پرته که په فني نقطه نظر سره هم د رسول الله ﷺ تجويز سوي علاج باندي پوره تحقيق او ژور نظر وکړل سي نو څرګنده به سي چي د رسول الله ﷺ ناروغ ته د عسلو څښلو حکم ورکول د طبيبانو د اصولو او قواعدو خلاف نه وو ځکه چي د نس ناستي راتلل څرنګه چي د بد هضمۍ په وجه کيږي همدا رنګه هغه فاسده ماده هم د نس ناستي کېدو سبب جوړيږي چي جمع کيږي نو کوم نس ناستي چي په معده کي د جمع کېدونکي فاسدي مادې په وجه راځي هغه بندول او د هغه مادې را ايستل ضروري وي او د دې غوره علاج عسل دي ، په خاصه توګه په ګرمو اوبو کي د عسلو يو ځای کولو سره څښل ډېر ګټور دي چي هغه ماده دفع کوي او خارجوي،

نو هغه سړی چي د بدهضمۍ په وجه وو او د هغه په معده کي فاسده ماده هم جمع سوې وه د هغه لپاره غوره علاج دا وو چي د عسلو په څښلو سره د هغه په معده کي جمع سوې فاسده ماده را وايستل سي ، نو رسول الله ﷺ هغه ته د عسلو څښلو حکم وکړ تر دې چي د هغه فاسدي مادې څخه معده پاکه سوه نو هغه ښه سو ، په دې اړه دا خبره بايد په فکر کي وي چي په علاج کي ښه عقيده او د معالج پر تجويز باندي پوره اعتبار او باور بنيادي شی دی ، موږ په خپل

ورځني ژوند کي وينو که يو سړی د خپل طبيب يا ډاکټر په اړه په يو ډول شک او شبه کي اخته وي او د هغه سره يې ښه عقيده نه وي نو د هغه مزاج د معاجل هغه علاج نه قبلوي او د شفاء څخه محروم وي که څه هم هغه علاج کونکی د هر څومره لوړي درجې وي، ددې پر خلاف که هغه سړی په پوره يقين سره يو معمولي علاج وکړي نو هغه علاج د هغه لپاره ګټور سي ، ددې څخه معلومه سوه که يو سړی د طب نبوي په ذريعه خپل علاج کوي چي د هغه کاميابي يقيني ده او هغه ته ددغه علاج څخه ګټه نه وي نو ددې مطلب به دا وي چي د هغه په ايمان کي کوړوالی دی او هغه ته د يقين او عقيدې نعمت تر لاسه نه دی کوم څوک چي د يو ناروغۍ علاج د طب نبوي په ذريعه د کولو غوښتونکی وي نو هغه بايد خپل يقين او عقيده ټينګه ولري او بيا په صدق محنت او اخلاص سره هغه علاج اختيار کړي که هغه د طب نبوي دغه بنيادي ضرورت پوره کړ نو هغه ته به يقينا ګټه تر لاسه سي ، دا حقيقت بالکل داسي دی لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي د باطني او روحاني ناروغيو او د فساد قلب او ذهن لپاره د شفاء کامل درجه لري نو کوم څوک چي قرآن کريم د اخلاص او خلوص په جذبه سره زده کوي او وايي ، د هغه په تعليماتو باندي په يقين سره عمل کوي نو د هغه زړه او روح ته يقينا شفاء تر لاسه کيږي ، ددې پر خلاف کوم څوک چي په عدم اخلاص او بې يقينۍ سره قرآن کريم زده کوي او وايي نو د هغه په باطن کي نوره زياته بدي او د هغه په زړه کي نور زيات فساد پيدا کيږي، له دې کبله ځيني حضرات د حديث الفاظ : (کذب بطن اخيک) د ناروغ پر عدم صدق او عدم خلوص باندي هم محمول کړی دی يعني ددغه حضراتو په نزد رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذريعه دا څرګنده کړه چي ستا ورور په يقين او اخلاص سره عسل نه دي څيښلي ځکه نو د ګټي پر ځای د هغه ناروغۍ زياته سوې ده .

د قسط فائدې

﴿۴۲۲۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَمْثَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الْحِجَامَةُ وَالْقُسْطُ الْبَحْرِيُّ . متفق عليه.

د حضرت انس ﷜ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په کومو شيانو باندي چي تاسو دوا کوئ نو په هغه کي تر ټولو بهترينه شی رګ وهل او بحری قسط (يو هندي دوا ده چي په هند کي (کټ) ورته ويل کيږي چي دوه ډوله دی خوږ او تريخ) استعمالول . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۵۰، رقم: ۵۶۹۵۶، ومسلم ۱۳\۱۲۰۴، رقم: ۶۳ - ۱۵۷۷.

تشريح: قسط د يو بوټي نوم دی چي کوټ هم ورته وايي او د دواء لپاره استعماليږي، طبيبانو د دغه بوټي ډيري ګټي ليکلي دي د مثال په توګه که چيري د نفاس والا ښځه د دغه بوټي دود واخلي نو بنده سوې فاسده وينه (لکه حيض) او بولي جاري کيږي ، دغه بوټی مسموم جراثيم ليري کوي ، دماغ ته قوت ورکوي ، اعضاء رئيسه او ځيګر ته قوت ورکوي ، په نارينه قوت کي تحريک پيدا کوي ، باد تحليل کوي ، د دماغي ناروغيو لکه فالج، لقوه لپاره ګټور دی، د نس چينجيان راباسي ، د خلورمي ورځي تبي لپاره هم ګټور دی ، د زکام په حالت کي د هغه دود اخيستل يو غوره علاج دی ، د دغه بوټي په دود سره د سحر او وباء اثر هم ختميږي .

مطلب دا چي د طب په کتابو کي د دغه بوټي ډېري زياتي ګټي ليکلي دي ځکه دې ته تر ټولو غوره فرمايل سوي دي، څرګنده دي وي چي قسط پر دوه ډوله وي يو خو قسط بحري چي د هغه رنګ سپين وي او دوهم ته قسط هندي ويل کيږي چي د هغه رنګ تور وي، د دواړو خاصيت ګرم او خشک دی مګر بحري قسط د هندي قسط څخه غوره دی ځکه چي په دې کي ګرمي کمه وي.

د کوچنيانو د حلق ناروغي

﴿۴۳۲۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُعَذِّبُوا صِبْيَانَكُمْ بِالْغَمْزِ مِنَ الْعُذْرَةِ وَعَلَيْكُمْ بِالْقُسْطِ. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د عذر په ناروغي کي يعني د کوچنيانو د حلق په ناروغي کي تاسو په ګوتو سره د حلق په کنبکنبلو سره و کوچنيانو ته تکليف مه ورکوئ بلکه په قسط سره د هغوی علاج کوئ (يعني قُسط اوړه کړئ او د هغې اوبه په پزه کي ورواچوئ). بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۵۰، رقم: ۵۶۹۶، ومسلم ۱۳\۱۲۰۴، رقم: ۶۳ - ۱۵۷۷.

تشريح: عذره يوه ناروغي ده چي تي رودونکو کوچنيانو ته پېښيږي، ددې سبب دويني جوش وي ، په عامه توګه ميندي او تي ورکونکي ښځي د دغه ناروغی د دفع کولو لپاره د کوچنيانو په حلق کي په ګوته اچولو سره هغه کنبکاږي چي د هغه څخه توره وينه راوځي او کوچني ته ډېر زيات تکليف وي ، رسول الله ﷺ په دغه طريقه سره د علاج کولو څخه منع وفرمايل او د دفعيه ناروغی لپاره يې قسط بطور تجويز کړ، په دغه ناروغی کي د قسط د استعمالولو

صورت دادی چي هغه په اوبو کي په ګډولو سره په پزه کي وڅڅول سي چي هغه ته سحولا وايي دغه محلول د پزي په ذريعه عذره ته په رسېدو سره هغه ليري کوي، څرګنده دي وي چي د عذره د علاج لپاره د قسط تجويز د ځينو طبيبانو په نزد د حيرانۍ باعث دی ځکه چي د هغوی د وينا مطابق قسط ګرم دی او عذره هم د ګرمۍ په وجه کيږي په خاصه توګه په حجاز کي چي د هغه هواء ګرمه ده ځکه نو په دغه ناروغۍ کي به د قسط څه ګټه وي، ددې جواب دادی چي د عذره ماده په اصل کي هغه وينه ده چي پر هغه د بلغم غلبه وي يعني عذره د ويني او بلغم دواړو څخه جوړيږي مګر بلغم زيات وي او وينه کمه وي، د بلغم رطوبت د قسط ګرمي جذب کوي، ډېر ځله د دواء ګټه بالخاصيت هم کيږي په دې اعتبار سره په عذره کي د قسط استعمال د حيرانتيا سبب نه دی، ددې څخه پرته يو جواب دا هم دی چي د عذره علاج د قسط په ذريعه کول د اعجاز نبوي په وجه دی چي په هغه کي عقل ته هيڅ دخل نسته.

ذات الجنب

﴿۴۳۲۵﴾: وَعَنْ أُمِّ قَيْسٍ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَدْغَرْنَ

د بي بي ام قيس رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د حلق په ناروغي کي تاسو د

أَوْلَادَكُنَّ بِهَذَا الْعِلَاقِ عَلَيْكُنَّ بِهَذَا الْعُودِ الْهِنْدِيِّ فَإِنَّ فِيهِ سَبْعَةَ أَشْفِيَةٍ

خپلو کوچنيانو ستونی ولي کنبنکاږئ، تاسو په عود هندي سره د هغوی علاج کوئ، په عود هندي کي د اوو ناروغيو شفاء ده چي

مِنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ يُسْعَطُ مِنَ الْعُذْرَةِ وَيُلَدُّ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ. متفق عليه

په هغوی کي يو ذات الجنب (د تشي بريښ يا نمونيا) ده، د کوچنيانو په حلق کي عود هندي اچول کيږي او په ذات الجنب ناروغي کي په خوله کي د ننه اچول کيږي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۶۶، رقم: ۵۷۱۳، ومسلم ۱۴\۱۷۳۴، رقم: ۸۶- ۲۲۱۴.

تشريح: (تدغرن) مطلب دادی چي د عذره په ناروغۍ کي حلق د ګوتي په ذريعه کنبنکنبل، څرنګه چي کوچنيانو ته د حلق (ستوني) ناروغي وي نو ښځي د هغوی په حلق کي په ګوته اچولو سره هغه کنبنکاږي، په دې اړه مخکي هم حديث تېر سوی دی چي رسول الله ﷺ ددغه تکليف ورکونکي علاج څخه منع فرمايلې ده او دلته هم رسول الله ﷺ د انکار په توګه وفرمايل

چي تاسو د خپلو کوچنیانو حلق په ګوتو سره ولي کښېکاږئ یعني ددغه طریقې څخه ځان ساتئ ، د اعلق معنی هم هغه ده کوم چي د دغر مطلب بیان سوی دی، په ځینو روایاتو کي د علاق پر ځای د اعلاق لفظ ذکر سوی دی مګر علماوو لیکلي دي چي دغه روایت اولی او اصوب دی . د اعلاق معنی هم هغه ده کوم چي د علق ده ، خلاصه دا چي رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمایلې ده چي په عذره کي د ګوتي په ذریعه علاج وکړل سي بلکه د عود هندي په ذریعه دي د هغه علاج وکړل سي او د هغه طریقه داده چي هغه دي په اوبو کي ګډ کړل سي او د کوچني په پزه کي دي وڅڅول سي ، په حدیث کي د عود هندي یادونه دا خبره څرګندوي چي په وروستني حدیث کي د قسط بحري څخه مراد دغه عود هندي دی مګر دا هم کېدای سي چي قسط هندي عود هندي ته فرمایل سوي وي لکه څرنګه چي ځیني حضراتو د هغه وضاحت په عود هندي سره کړی دی او دا خبره مخکي ښودل سوې ده چي ګټور خو دواړه دي مګر قسط بحري زیات ګټور دی .

ذات الجنب یوه ناروغي ده چي دوه صورتونه یې دي، یو دا چي په سینه کي پاړسوب پیدا سي ، دغه ناروغي که څه هم په عضلاتو کي پیدا کیږي مګر بیا د باطن څخه ظاهر ته راوځي او دغه صورت خطرناک دی ، ددغه ناروغۍ شمېر د هلاکونکو ناروغیو څخه کیږي، د ذات الجنب دوهم صورت دادی چي د ریاح غلیظه د بندېدو په وجه په بغل کي یو درد پیدا کیږي، دلته په حدیث کي چي د کوم ذات الجنب ذکر دی د هغه څخه مراد دغه دوهم صورت دی ځکه چي عود هندي د ریاحي ناروغیو دواء ده، رسول الله ﷺ په دغه ارشاد کي د اوو ناروغیو یادونه وفرمایل مګر نوم یې یوازي د دوو ناروغیو واخیست، د پاته پنځو ناروغیو په اړه یې سکوت وفرمایه ځکه چي دلته د هغه پنځو ناروغیو د وضاحت هیڅ اړتیا نه وه او دا هم کېدای سي چي هغه پنځه ناروغۍ داسي وي چي په عربو کي مشهوري وي او د هغو په اړه خلک خپله پوهیږي، او ددغه دوو ناروغیو په اړه د خلکو علم محدود وي ځکه رسول الله ﷺ یوازي د دوو ناروغیو نوم واخیست مګر په حدیث کي د اوو ناروغیو په ذکر سره دا نه لازمیږي چي په قسط کي دي د هغه اوو ناروغیو دواء وي ، د اوو څخه زیاتو ناروغیو لپاره ګټور نه وي بلکه حقیقت دادی چي ددغه دواء ګټه ډېره پراخه ده او په ډېرو ناروغیو کي استعمالیږي یعني په هغه کي ځیني ناروغۍ هغه دي چي د هغو مخکي بیان سوي دي مګر دا کیدای سي چي د اوو ناروغیو لپاره به دا ډېر ګټور وي ځکه هغه دلته ذکر سوي دي ، ددې څخه پرته ځیني حضرات دا هم وايي چي د اوو څخه مراد مخصوص عدد نه دی بلکه کثرت مراد دی ، د اهل عربو په کلام کي ډېر

ځله د او و اطلاق پر زیاتو باندي کیږي.

د تبي درملنه او اوبه

﴿۴۲۲۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ وَرَافِعِ ابْنِ خَدِيجٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَأَبْرِدُوهَا بِالْمَاءِ. متفق عليه.

د بي بي عائشه رضي الله عنها او حضرت رافع بن خدیج رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: تبه د دوږخ توبښ دی په اوبو سره یې یخ کړئ. بخاري او مسلم

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱٦\۳۳۰، رقم: ۳۲٦۳، ومسلم ۱۴\ ۱۷۳۴، رقم: ۸٦- ۲۲۱۴.

تشریح: ځیني حضرات وایي: د ارشاد مقصد د تبي حرارت ته د دوږخ د اور سره مشابهت ورکول دي یعني تبي د دوږخ د اور د تاو یوه نمونه ده، ځیني حضرات وایي چي د حدیث الفاظ پر حقیقي معنی باندي محمول دي لکه څرنګه چي په باب المواقیت کي دا روایت تېر سوی دی او د ګرمۍ په موسم کي تاو او حرارت په اصل کي د دوږخ د توبښ اثر دی نو کېدای سي چي د تبي په حرارت کي د دوږخ د توبښ اثر وي، ددغه حدیث اصل مخاطب اهل حجاز دي ځکه چي د مکې او مدینې اوسیدونکو ته به په عامه توګه د لمر سختۍ، ګرمۍ کي د محنت او مشقت او دهغوی د مزاج د ګرمۍ او تېزي په وجه هغوی ته تبي کېدلې نو کومه تبه چي د لمر حرارت او تیزي په لمر کي د زیات ګرځېدو او حرکت کولو په وجه وي نو ددغه علاج اوبه دي چي په یخو اوبو کي غوټه وخوري یا یخي اوبه پر بدن باندي واچول سي یا تبه په اوبو سره یخه کړل سي، ددې مراد دا هم کېدای سي چي په داسي تبه کي یخي دواوي په اوبو کي یو ځای کړل سي او استعمال سي او د ځینو حضرات مطابق ددې څخه دا هم مراد کېدای سي چي کوم چا ته تبه وي هغه دي په تږو باندي د الله جل جلاله لپاره اوبه وڅښښي چي د هغه په برکت سره به الله تعالی د هغه تبه رفع کړي.

د دم کولو اجازه

﴿۴۲۲۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ رَخَّصَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الْعَيْنِ وَالْحُمَةِ وَالنَّمْلَةِ. رواه مسلم.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د بد نظر (د لړم، مچۍ، غالبوزي او

داسي نورو چي د زهرو ډکه وي)او نمله (د تشي يا اړخ کي ننکئ)کي د دم کولو اجازت ورکړی دی (يعني د دعاګانو د لوستلو او پر هغه باندي د پوه کولو اجازت يې ورکړی دی). مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۴\۱۷۲۵، رقم: ۵۸-۲۱۹۶.

د لغاتو حل: الحُمة: السم، ويطلق على ابرة العقرب. (نہنس)

تشريح: د افسون څخه مراد هغه دم دی چي په هغه کي د شفاء تر لاسه کولو لپاره نقل سوي دعاوي او قرآني آياتونه ويل کيږي، بدنظريو حقيقت دی چي ځينو په زهر سره تعبير کړی دی، دداغه حضراتو وينا ده لکه څرنګه چي الله تعالى د لړم چيچلو او د مار په خوله کي زهر ايښي دي همدارنګه د ځينو خلکو په سترګو کي هم زهر دي چي د هغوی نظر په کوم شي ولګيږي که هغه انسان وي يا مال، مځکه، باغ، حيوانان او نور شيان وي، د بدنظر د دفع لپاره دعاء، تعويذ او دم نه يوازي دا چي جائز دی بلکه رسول الله ﷺ د دغه مقصد لپاره مختلفي دعاوي هم ښودلي دي چي د دعاوو په باب کي تېر سوي دي.

د چيچلو څخه مراد په زهرجن شي سره چيچل دي لکه د لړم وهل يا چيچل د مار چيچل هم په دغه حکم کي دي که لړميو سړی وچيچي يا ماريې وچيچي نو د هغه د زهر کښنته کولو غوره ذريعه دم دی.

نمله په اصل کي ميږي ته وايي مګر دلته هغه دانې مراد دي چي د سړي په بغل کي پيدا کيږي، کله دغه دانې د کوچنيو کوچنيو دانو په صورت کي وي چي پر پښتۍ سربېره وي، په نمله کي انسان ته دا محسوس کيږي لکه چي مېږيان پکښي ګرځي، او غالبا په دغه مناسبت سره دغه دانو ته نمله ويل سوي دي او که نمله د کوچنيو کوچنيو دانو په صورت کي وي نو په دې کي به وجه مشابهت دا وي چي هغه دانې د مېږيانو په ډول خپرې وي.

څرګنده دي وي چي د دم په ذريعه د هري ناروغۍ علاج کول هم جائز دي په دغه صورت کي به په خاصه توګه ددغه درو شيانو ذکر محض ددې لپاره سوی وي چي د نورو ناروغيو په نسبت په دغه درو ناروغيو کي د دم اثر زيات ګټور وي، همدارنګه په کوم روايت کي چي د حصر په توګه دا فرمايل سوي دي چي دم يوازي په درو شيانو کي جائز دي ددې تاويل به هم دا وي چي ددې څخه پرته دا هم ويل کيدای سي چي د جاهليت په زمانه کي عربو چي د کومو الفاظو او کلماتو په ذريعه دم کوی د هغه څخه د پرهيز کولو په وجه رسول الله ﷺ د اسلام په پيل کي مسلمانان د دم څخه منع کړي وه بيا چي په دغه درو ناروغيو کي د دم کولو اجازه ورکړل

سول په شرط د دې چي په هغه دم کي مشرکانه الفاظ او کلمات نه وي تر دې چي وروسته دغه اجازه عام کړل سول چي په هره ناروغۍ کي په نقل سوو دعاوو، قرآني اياتو سره دم کېداى سي.

﴿۴۲۲۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُسْتَرْقَ مِنَ الْعَيْنِ. متفق عليه.

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دى چي نبي کريم ﷺ موږ ته حکم را کړى دى چي د بد نظر لپاره دم وکړو. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۹۹، رقم: ۵۷۳۸، ومسلم ۴\۱۷۲۵، رقم: ۵۶- ۲۱۹۵.

﴿۴۲۲۹﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى فِي بَيْتِهَا جَارِيَةً فِي وَجْهِهَا سَفْعَةٌ تعني صفرة فَقَالَ اسْتَرْقُوا لَهَا فَإِنَّ بِهَا النَّظْرَةَ. متفق عليه.

د بي بي ام سلمه ﷺ څخه روايت دى چي نبي کريم ﷺ د هغې په کور کي انجلۍ وليده چي مخ يې ژړ وو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دې دم وکړي دا نظر سوې ده. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۹۹، رقم: ۵۷۳۹، ومسلم ۴\۱۷۲۵، رقم: ۵۹- ۲۱۹۷.

تشريح: د حديث د ظاهري مفهوم څخه عموميت څرګندېږي چي هغه انجلۍ نظر سوې ده که د يو انسان نظر وي يا د پيري نظر وي، مګر شارحينو وضاحت کړى دى چي پر هغه انجلۍ باندي د يو پيري بد نظر وو، د پيريانو نظر د نېزې د څوکي څخه هم تېره وي.

﴿۴۲۳۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرُّقَى فَجَاءَ

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د جادو او افسون (جادو، دم) څخه منعه

آلُ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُ كَانَتْ عِنْدَنَا رُقْيَةٌ نَرْقِي بِهَا مِنْ

کړېده (د دې ممانعت څخه وروسته) د عمرو بن حزم د خاندان خلک راغلل او عرض يې وکړ، اې د الله رسوله! زموږ سره يو دم دى چي

الْعَقْرَبِ وَانت نَهَيْتَ عَنِ الرُّقَى فَعَرَضُوهَا عَلَيْهِ فَقَالَ مَا أَرَى بَأْسًا مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَنْفَعَ أَخَاهُ فَلْيَنْفَعْهُ. رواه مسلم.

موږيږ په لړم خوړلي باندې چف كوو، اوس تاسو د دم كولو څخه منعه فرمايلې ده (نو موږ څه وكړو؟) د دې څخه وروسته نبي كريم ﷺ ته هغوى هغه دم ور واوروئ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: زه په دې دم كې څه ګناه نه وينم، په تاسو كې چې يو خپل ورور ته نفع رسولاى سي، نو نفع ورته ورسوئ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۷۲۶، رقم: ۶۳- ۲۱۹۹.

﴿۴۲۳۱﴾: وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ كُنَّا نَرْقِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقُلْنَا يَا

د حضرت عوف بن مالک اشجعي ﷺ څخه روايت دى چې د جاهليت په زمانه كې به موږ جادو كوئ (يعني د اسلام د راوړلو څخه مخكې) موږ وويل:

رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ تَرَى فِي ذَلِكَ فَقَالَ اعْرِضُوا عَلَيَّ رُقَاكُمْ لَا بَأْسَ بِالرُّقَى مَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ شِرْكٌ. رواه مسلم.

اې د الله رسوله! تاسو د دې دم په باره كې څه واياست؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: تاسو ماته خپل دمونه وښياست، ترڅوپورې چې په دې دمونو كې شرک نه وي نو زه په دې كې څه ګناه نه وينم. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\ ۱۷۲۷، رقم: ۶۴- ۲۲۰۰.

تشريح. ترڅو چې په هغه كې شرک نه وي ...الخ: مطلب دا دى چې په كوم دم كې د پيريانو او شيطانانو نومونه او د هغوى څخه د مرستې غوښتل نه وي او د هغه مفهوم او معنى داسې نه وي چې هغه ته كفر لازميږي نو د هغه په ذريعه دم كولو كې څه پروا نسته ځكه علماوو ويلي دي چې په داسې الفاظو او كلماتو باندې مشتمل دم په ذريعه دم كول جائز نه دي چې د هغه مفهوم او معنى معلوم نه وي البته ځيني داسې دمونه چې د هغو الفاظ او كلمات په صحيح روايت كې د شارع څخه نقل سوي وي او د هغو مفهوم او معنى څرګند نه وي نو د هغه په ذريعه دم كول جائز دي.

ځرګنده دي وي چي څرنګه چي شیطان د ازل څخه په انساني دښمنۍ کي اخته دی همدارنګه جنات هم بالطبع د انسان سره عداوت لري او په دې اعتبار سره جنات او شیطانان په خپلو کي د یو بل دوستان وي ، کله چي پر یو انسان باندي د پیریانو سایه او اثر وي او د هغه اثر لیري کولو لپاره داسي دم ویل کیږي چي په هغه کي د شیطانانو نومونه او د هغوی څخه مرسته غوښتل وي نو جنات د هغه دم په منلو سره هغه انسان پرېږدي ، همدارنګه په ځینو وختو کي مارچیچلی سړی په اصل کي د جناتو تر اثر لاندي وي په دې توګه چي یو شریر پیری د مار په صورت کي یو انسان وچیچي یعني خلک دا ګڼي چي هغه په حقیقت کي مار چیچلی دی ، کله چي پر دغه سړي باندي دم وویل سي چي په هغه کي د شیطانانو نومونه وي نو هغه زهر چي په حقیقت کي د جن اثر وي د هغه سړي د بدن څخه زائل سي ، همدارنګه جنات او شیطانان دواړه د انسان د ګمراهۍ ذریعه جوړیږي، د ځینو علماوو پر دې خبره اجماع او اتفاق دی چي د کتاب الله او اسماء الله څخه پرته دم کول جائز نه دی ، تر ټولو زیات مهتم بالشان دم قرآن کریم دی ، د هغه هر لفظ او هره جمله د کائنات انساني لپاره د تاثیر او شفاء او برکت خزانه ده او د هغه ګټه یقیني ده او بیا په هغه کي هم ځیني سورتونه او آیاتونه د دم زیات فضیلت لري لکه سورة فاتحه، معوذتین ، آیت الکرسي، او هغه آیت کریمه چي د الله تعالی په پناه غوښتني باندي مشتمل وي همدارنګه هغه دعاوي او عملیات هم افضل دي کوم چي په صحیح حدیثو کي د رسول الله ﷺ څخه ثابت دي .

د سفر السعادت مصنف لیکلي دي : په حدیث کي نقل سوي دي کله چي یو سړی خپل مال او اسباب وغیره یا پر کوچني باندي نظر ولویږي نو هغه ته ښه معلوم سي نو باید چي ماشاء الله لاقوة الا بالله، ووایي ، همدارنګه د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په اړه نقل سوي دي چي هغه یو ډېر ښکلی ماشوم ولیدی نو وه یې فرمایل : دده په زنه کي لړ تور والی ولګوی چي نظر نسي .

د شفاء ایاتونه

د شیخ ابو القاسم قشیري رحمۃ اللہ علیہ څخه نقل سوي دي چي هغه وویل: یو وار زما زوی سخت ناروغ سو چي موږ ټول د هغه د ژوند څخه نا امیده سو ، په دغه وخت کي مي رسول الله ﷺ په خوب کي ولیدی ، رسول الله ﷺ ته مي د خپل زوی د ناروغۍ په اړه وویل، رسول الله ﷺ راته وفرمایل : ته د شفاء د آیت څخه ولي ناخبره یې؟ کله چي زه راویښ سوم نو د قرآن کریم څخه مي د شفاء آیاتونه لټول پیل کړل، تر دې چي ما په قرآن کریم کي شپږ ځایه د شفاء آیاتونه تر لاسه

کړل او هغه دادي :

۱: وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ،

۲: وَشِفَاء لِّمَا فِي الصُّدُورِ.

۳: يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاء لِلنَّاسِ.

۴: وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاء وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ.

۵: وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ.

۶: قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًى وَشِفَاء.

نو ما دغه آياتونه وليکل او په اوبو کي په خشتولو سره مي په کوچني وڅښل، په دې سره هغه دومره ژر روغ سو لکه چي دهغه بندي پښې خلاصي کړل سي، قاضي بيضاوي هم په خپل تفسير کي د شفاء آياتو ته اشاره کړې ده، همدارنګه سعد حليبي رحمه الله د تفسير بيضاوي په حاشيه کي د دغه شفاء آياتو په تعين کولو سره د ابو القاسم قشيري رحمه الله ذکر سوي آياتونه نقل کړي دي مګر هغه الله تعالی په خوب کي وليدی د دغه آياتونه په ويلو سره پر ناروغ باندي په دم کولو او په چيني لوښي باندي په ليکلو سره او د هغه په پرېولو سره په ناروغ د څښلو ذکر کړی دی.

د شيخ تاج الدين سبکي رحمه الله څخه نقل سوي دي چي هغه وويل: ما ډېر مشائخ ولېدل چي هغوی به د نارغيو څخه دشفاء تر لاسه کولو لپاره دغه آياتونه ليکل، پاته سوه دا خبره چي د شفاء د تر لاسه کولو لپاره ددغه آياتونه يوازي ذکر سوي برخي وليکل سي که پوره آياتونه وليکل سي، نو په دې اړه نقل کونکو چي د اکابرو او مشائخو کوم عمل ليدلی دی هغه يوازي مذکوره اجزاء ليکل کافي ګڼل سوي دي.

بد نظر حقيقت دی

《۴۳۳۲》: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعَيْنُ حَقٌّ فَلَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدَرَ سَبَقَتْهُ الْعَيْنُ وَإِذَا اسْتُغْسِلْتُمْ فَاغْسِلُوا. رواه مسلم.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نظر حق دی (يعني نظر کيږي خامخا) که څه شي په تقدير کي مخته والي وړی وای نو نظر به ورلای (يعني که د تقدير څخه شی بدلېدونکی وي نو هغه به نظر وای او کله چي ستاسو څخه د پرېوللو غوښتنه وسي نو تاسو يې پرېولئ). مسلم، (په هغه زمانه کي دا رواج وو ، چي کوم سړی به نظر سو نو د عاين نظر کوني لاس ، پښې او د نامه لاندي ځای په اوبو سره پرېولل کېدی او په هغو اوبو سره د هغه چا بدن پرېولل کېدی چي هغه به نظر سوی وو او هغه د شفاء سبب په ګڼل کېدی ، نبي کريم ﷺ د دې اجازت ورکړی دی او فرمايلي يې دي ، که ستاسو څخه ستاسو د اندامونو د پرېوللو سره او په ناروغه باندي د اچولو غوښتنه وسي نو تاسو دا مطالبه و منئ).

تخريج: صحيح مسلم ۱۷۱۹\۱۴، رقم: ۴۲- ۲۱۸۸.

تشريح: نظر حق دی ، د دې مطلب دادی چي د ليدونکي په نظر د يو شي ښه راتلل که هغه شی ساه لرونکی يعني انسان او حيوان وي يا غير ساه لرونکی لکه مال او سامان وي ، او بيا پر هغه شي باندي د ليدونکي د نظر اثر کېدل يو داسي ثابت سوی حقيقت دی چي د تقدير الهي سره متعلق دی ، الله تعالی د سحر او جادو په ډول د ځينو په نظر کي دا خاصيت ايښی دی چي کوم شي ته وګوري نو د هغه د هلاکت ، تباهی او تاوان سبب ګرځي .

که پر تقدير الهي باندي مخته کېدونکي يو شی وي ...الخ: د دې مطلب دادی چي د دغه کائناتو د هري لوی او کوچني شي مرکز او مصدر تقدير الهي دی چي د لوی طاقت اثر او نفوذ هم د تقدير الهي سره وابسته دی ، يعني هيڅ شی هم د تقدير د دائرې څخه د وتلو توان نلري که د مثال په توګه يو شی داسي توان ولري چي هغه د تقدير د دائرې په ماتولو سره ووځي نو هغه به بد نظر وي چي هغه به تقدير هم بدلوي او پر هغه به غالب راځي، يعني دغه خبره په شيانو کي د نظر د شدت تاثير او د هغه تېز نفوذ بيانولو لپاره فرمايلي دي .

او کله چي ستاسو څخه د پرېوللو غوښتنه وکړل سي ...الخ: هغه وخت په عربو کي دا رواج وو چي کوم چا ته به بد نظر ولګېدی نو د هغه لاسونه، پښې او د نامه لاندي برخه به يې پرېولل او هغه اوبه به يې پر هغه سړي باندي اچولې څوک چي به نظر سوی وو او دغه طريقه به يې د شفاء ذريعه ګڼل ، د دې به تر ټولو ادنا ګټه دا وه چي په دې سره به د ناروغ وهم ليري سو ، رسول الله ﷺ د دې اجازه ورکړه او وه يې فرمايل که تاسو يو څوک نظر کړئ نو هغه ومنئ ، د بدن د اندامو دغه طريقه به د دوهم فصل په پای کي راسي .

څرګنده دي وي چي د جمهورو علماوو مذهب دادی چي ساه لرونکی شی که هغه انسان وي یا حیوان او په مالو کي د نظر تاثیر او تاوان رسېدل ثابت دي ، حال دا چي ځيني خلک لکه معتزله او نور کسان له دې څخه منکر دي لکه څرنګه چي په مالو کي د دواء، صدقې او خیرات وغیره قائل نه دي ، د دغه خلکو وینا ده چي د کوم شي واقع کېدل په مقدر کي لیکل سوي وي په هغه کي د بل شي دخل نسته او په دې کي هيڅ شک هم نسته چي د تقدير ليکل سوي هيڅ شی بدلولای نسي مګر دغه خلک په دې حقيقت نه پوهيږي چي د تقدير د اسبابو سره اختلاف نسته ، د نظر تاثير او سببيت په دې وجه دی چي الله تعالی په هغه کي يو ډول خاصيت ايښی دی چي هغه د هلاکت او تاوان سبب جوړيږي، ددې څخه پرته د علماوو د مذهب دليل دغه ارشاد (العين الحق) دی ، کله چي شارع عليه السلام دا حقيقت څرګند کړی دی چي د نظر تاثير حق دی نو ددغه عقيدې درلودل واجب او ضروري دي، پاته سوه دا خبره چي د نظر کېدو کيفيت او صورت څرنګه وي او ددې په وجه نظر سوي ته تاوان څرنګه رسيږي نو په دې اړه علماوو مفصل بحث کړی دی او ليکلي يې دي چي په دې اړه ځيني داسي خلکو چي د هغوی نظر په عامه توګه چا ته لګيږي ، بيان وکړ چي کله موږ ته يو شی ښه معلوم سي او موږ هغه ته وګورو نو داسي محسوس کيږي چي زموږ د سترګو څخه حرارت راوځي، ځيني حضرات وايي چي د نظر لګېدونکي د سترګو څخه يو خاص ډول حرارت سميه راوځي چي په هواء کي مخلوط کيږي او هغه هواء بيا هغه نظر وهلي ته رسيږي نو د هغه د تاوان او هلاکت باعث جوړيږي څرنګه چي د ځينو پخوانيو محققينو مطابق د هغه مار د زهرو کيفيت وي چي محض د خپل نظر په ذريعه زهر منتقل کوي چي د هغه نظر پر چا ولګيږي نو هغه ته يې اثر رسيږي او هغه هلاکيږي، خلاصه دا چي نه لېدونکی شی د نظر لګېدونکي په نظر سره د غشي په ډول روانيږي او که يو داسي شي په مينځ کي نه وي چي هغه منع کړي نو هغه نظر هغه ته رسيږي او هغه په هلاکت کي اچوي او که منع کونکی يو شی په مينځ کي وي لکه حرز ، تعويذ ، دواء او داسي نور شيان نو هغه شی نظر وهونکي ته نه رسيږي او په هغه کي اثر نه کوي بلکه هغه حرز او تعويذ که قوي وي نو هغه شی نظر کونکي ته بېرته راګرځي لکه څرنګه چي د مقابل لوري سره سخت سپر وي نو د غشي وېشتونکي غشی د سپر سره په ټکر خوړلو بېرته ويشتونکي ته راځي ، څرنګه چي الله تعالی د ځينو خلکو په نظر کي ذکر سوی خاصيت او تاثير پيدا کړی دی همدارنګه الله تعالی نفوس کامله يعني اهل الله او کاملينو ته هم ددغه بد نظر د دفع قوت ورکړی دی چي هغوی عامو خلکو ته د دعاء او تعويذ په ذريعه د بد نظر د اثراتو څخه په ساتنه کي مرسته وکړي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د هري ناروغۍ علاج سته

﴿۴۳۳۳﴾: عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ افَنَتَدَاوٰى قَالَ نَعَمْ يا عباداللّٰه تَدَاوَوْا فَإِنَّ اللّٰهَ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ شفاء غَيْرَ دَاءٍ وَاحِدٍ الْهَرَمُ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد.

د حضرت اسامه بن شریک رضی الله عنه څخه روایت دی چي اصحابو کرامو وویل: اې د الله رسوله! ایا موږ په دوا سره علاج کوو ؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : هو! اې د خدای تعالی بندګانو دوا (او علاج) کوئ ، ځکه چي الله جل جلاله کومه ناروغي پیدا کړې ده د هغې لپاره یې شفاء (علاج او دوا) هم پیدا کړې ده ، خو د یوې ناروغۍ علاج یې نه دی پیدا کړی هغه سپین ږیروالی (بوډاتوب) دی . احمد ، ترمذي او ابوداؤد .

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۲۷۸، رقم: ۲۰۳۸، وابوداود ۴\۱۹۲، رقم: ۳۸۵۵.

تشريح: اې د الله جل جلاله بندګانو ! ، رسول الله ﷺ صحابۀ کرام په دغه الفاظو سره مخاطب کړل یعني دې ته یې اشاره وکړه چي علاج او درملنه کول او د ناروغۍ لیري کولو لپاره ذرائع اختیارول د عبودیت او توکل خلاف نه دی په شرط ددې چي محض پر علاج باندي باور او اعتماد ونه کړل سي بلکه دواء او درملنه د شفاء یوازي یو ضروري سبب او ذریعه وګڼي او شافي حقیقي الله جل جلاله وګڼي .

په ناروغ په زوره خوراک مه خورئ

﴿۴۳۳۴﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُكْرِهُوا مَرْضَاكُمْ عَلَى الطَّعَامِ فَإِنَّ اللّٰهَ يُطْعِمُهُمْ وَيَسْقِيهِمْ . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب.

د حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په خپلو ناروغانو باندي په زوره سره خوراک مه کوئ ، ځکه چي خدای تعالی په هغوی باندي څه خوري او

ښيښي. ترمذي او ابن ماجه. ترمذي ويلي چي دا حديث غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۳٦، رقم: ۲۰۴۰، وابن ماجه ۲\۱۱۴۰، رقم: ۳۴۴۴.

تشريح: مطلب دادى كه چيري ناروغ په يو خوراک او څښاک راضي نه وي نو هغه ته يې په زور مه ورکوئ او هغه شى كه خوراک وي يا دواء وغيره.

د حديث د آخري الفاظو مطلب دادى چي په حقيقت كي د الله تعالى ذات دى چي د انسان بدن ته قوت وربخښي، دا په اصل كي د هغه مرستي د خوراک او څښاک په ډول شيانو د ګټي په صورت كي ښكاره كيږي، ګويا د يو حيوان ژوندى او سېدل او هغه ته قوت او طاقت تر لاسه كېدل پر خوراک او څښاک باندي منحصر نه دى بلكه پر قدرت الهي باندي موقوف دى نو د نفس په يو شي كي د اخته كېدو په وجه كه طبيعت خوراک او څښاک ته اماده نه وي نو د خوراک او څښاک په اړه زور كول نه دي پكار ځكه چي د طبيعت او خواهش څخه پرته خوراک او څښاک د ګټي پر ځاى تاوان كوي او كوم چي دديې خبري تعلق دى چي د بدن او ځان د بقاء لپاره د نظام قدرت او عادات انساني لاندي يو ظاهري سبب او ذريعه كېدل پكار دي نو ددغه مقصد لپاره هغه رطوبت بدن كافي كيږي چي هغه د فقدان خوراک په صورت كي حرارت غريزي تحليل كولو سره د بقاء بدن او ځان ذريعه جوړوي.

د سرخ باد علاج

﴿۴۳۳۵﴾: وَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَوَى أَسْعَدَ بْنَ زُرَارَةَ مِنَ الشَّوْكَةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د سعد بن زراره پر بدن د سرخ باد ناروغى (د دفعه كولو لپاره) داغ وركړ. ترمذي ويلي چي دا حديث غريب دى

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۴۱، رقم: ۲۰۵۰.

د لغاتو حل: الشوكة: حمرة تعلو الوجه والجسد (سرخ باد)

تشريح: داغ يې وركړ: يعني رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک سره داغ وركړ يا بل چا ته يې د داغلو حكم وركړ، دا خبره څرګنده سوې نه ده چي د ذكر سوي ناروغى د علاج لپاره د حضرت سعد رضي الله عنه د بدن كومي برخي ته داغ وركړل سوى وو.

ذات الجنب

﴿۴۳۳۶﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَدَاوَى مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ بِالْقُسْطِ الْبَحْرِيِّ وَالزَّيْتِ. رواه الترمذي.

د حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ حکم وکړ چې د ذات الجنب (نمونیا) علاج په بحري قسط او د. زیتون په تیلو سره کوئ. ترمذي، ذات الجنب: د تشي بریښ ته وایي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۵۵، رقم: ۲۰۲۷.

﴿۴۳۳۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْعَتُ الزَّيْتَ وَالْوَرْسَ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ. رواه الترمذي.

د حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ د ذات الجنب ناروغی لپاره دزیتون د تېل او ورس تعریف کړی دی. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۵۵، رقم: ۲۰۷۸.

د لغاتو حل: الورس: نبت اصفر يصبغ به. (یو ډول ژړ نبات)

تشریح: ورس یو ډول وابنه دي چې رنګ یې ژړ دی او رېښې یې د زعفرانو په ډول دي او د زعفرانو په ډول دغه وابنه هم د رنګولو لپاره په کار راځي، طبیبانو د مختلفو ناروغیو لپاره ددغه وابنو ډیري ګټې بیان کړي دي، په څرګنده معلومیږي چې د ذات الجنب د علاج لپاره ددغه دوارو شیانو استعمال د دواء په توګه یعني په خوله کې د څښولو په ذریعه وي.

سنا بنه دوا ده

﴿۴۳۳۸﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ أَنَّ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهَا بِمَ

د بي بي اسماء بنت عمیس رضی الله عنها څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ د هغې (بي بي اسماء رض څخه) پوښتنه وکړ، تاسو په کوم شی سره

تَسْتَمْشِينَ قَالَتْ بِالشُّبْرُمِ قَالَ حَارٌّ جَارٌّ قَالَتْ ثُمَّ اسْتَمْشَيْتُ بِالسَّنَا فَقَالَ

جلاب کوئ ؟ هغې (بي بي اسماء رض) وويل، په شبرم سره، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: دا ډېر گرم وي، بي بي اسماء رض وايي، بيا ما په سنا سره جلاب وکړل

النَّبِيُّ ﷺ لَوْ أَنَّ شَيْئًا كَانَ فِيهِ شِفَاءٌ مِنَ الْمَوْتِ لَكَانَ فِي السَّنَا. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

نبي کريم ﷺ وفرمايل: که په کوم شی کي د مرگ څخه شفاء وای (يعني د مرگ علاج وای) نو هغه به سنا وای. ترمذي او ابن ماجه، په ترمذي کي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۵۶، رقم: ۲۰۸۱، وابن ماجه ۲\۱۱۴۵، رقم: ۳۴۶۱.

تشريح: شبرم يو ډول وابنه دي چي د نس اېله کونکي دي، ځيني حضرات ويلي دي چي د شبرم څخه د هغه وابنو داني مراد دي او د اسهال لپاره هغه داني په اوبو کي اېشول کيږي او څښل کيږي، دواړه الفاظ (حار) د حاء په زور سره او د راء په تشديد سره دي لکه څرنگه چي د مشکوٰة شريف په اکثرو صحيح نسخو او اصل کتاب يعني ترمذي او ابن ماجه کي نقل سوي دي مگر ځينو حضراتو دوهم لفظ په جيم سره يعني جار نقل کړی دی او دغه لفظ جاريې د اول لفظ څخه وروسته د هغه مناسبت او هموزنه کېدو لپاره مهمل لفظ وايي لکه اوبه موبه، او داسي نور، په هر حال رسول الله ﷺ د دغه جملې په ذريعه دا څرگنده کړه چي شبرم ډېر گرم دي او د اسهال لپاره ډېر زيات نس ناسته رامنځته کوي ځکه نو په دې کي احتياط شرط دی.

د حديث د آخري الفاظو په ذريعه د سنا فضيلت او تعريف د مبالغې په توگه بيان سوی دی او دا ښيي ده چي سنا په خاصه توگه سنا مکي ډېره عجيبه او نادره دواء ده چي د هغه گټې مشهوري دي، او طبيبان يې په زياتو ناروغيو کي د شفاء ذريعه گڼي، د سنا تر ټولو لوی خاصيت دادی چي په دې کي هيڅ ډول تاوان او ضرر نسته، د سنا په خاصيتونو کي يو ډېر ښه خاصيت داهم دی چي د وسواس يعني سودائي توب لپاره ډېر گټور دی.

په حرام شی سره درملنه مه کوئ

﴿۴۳۳۹﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ اللهَ أَنْزَلَ الدَّاءَ وَالدَّوَاءَ وَجَعَلَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً فَتَدَاوَوْا وَلَا تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ. رواه ابو داؤد.

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله جل جلاله ناروغي هم پيدا

کړې ده او د ناروغۍ دوا هم او د هري ناروغۍ لپاره يې يوه دوا مقرر کړې ده ، تاسو په دوائي سره(د ناروغۍ علاج کوئ) ليکن په حرام شي سره علاج مه کوئ(لکه شراب يا د خنزير په غوښو يا وازګه حرام دي په دې سره علاج مه کوئ). ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۲۰۶\۱۴، رقم: ۳۸۷۴.

تشريح: د حرام شي څخه مراد شراب، خنزير او هغه شيان دي کوم چي حرام ګرځول سوي دي، د علاج په توګه مطلق حرام شی او په خاصه توګه د شرابو اختيارولو حرمت او کراهت کي ډېر حديثونه نقل سوي دي چي د هغو څخه يوازي د حرامو شيانو په ذريعه منع نه ثابتيږي بلکه دا هم څرګنديږي چي د داسي شيانو استعمال بالکل بې ګټي دی ځکه چي ددغه شيانو په ذريعه شفاء تر لاسه کول ممکن نه دي ، د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چي الله جل جلاله ستاسو شفاء په هغه شيانو کي نده ايښې کوم چي يې ستاسو لپاره حرام ګرځولي دي، همدارنګه منقول دي چي يو صحابي حضرت طارق جعفي رضی الله عنه د نبي کريم صلی الله علیه وسلم څخه د شرابو څښلو په اړه پوښتنه وکړه ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه منع کړ او کله چي هغه وويل چي زه يې د دواء په توګه استعمالوم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل: شراب دواء نه ده بلکه هغه درد او ناروغي دي، او همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: (من تداوي بالخمر فلا شفا الله) يعني څوک چي د شرابو په ذريعه علاج کوي نو الله تعالی هغه ته شفاء نه ورکوي ، مګر په ځينو فقهي روايتو کي دا اجازه ورکړل سوې ده که د يو ناروغ په اړه د باور وړ او حاذق طبيب او معالجينو پر دې اتفاق سي چي د هغه علاج د شرابو څخه پرته په بل هيڅ نه کيږي نو هغه ناروغ د دواء په توګه شراب استعمالولای سي مګر دا خبره تقريبا ناممکن ده ځکه چي اول خو د باور وړ او حاذق طبيب تر لاسه کول او دوهم د هغه طبيب په دې خبره اتفاق کول چي ددغه ناروغۍ علاج يوازي پر شرابو باندي منحصر دی، اسان کار نه دی.

په مردار شي سره درملنه مه کوي

﴿۴۳۴۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الدَّوَاءِ الْخَبِيثِ. رواه احمد وابوداؤد والترمذي وابن ماجة.

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په خبيثو (يعني نجسو او مردارو) دوا سره (علاج کول) منع کړی دي. احمد و ابوداؤد ، ترمذي او ابن ماجه

تخریج: مسند الامام احمد ۱۲\ ۳۰۵، وابوداود ۴\ ۲۰۳، رقم: ۳۸۷۰، والترمذي ۴\ ۳۳۹، رقم: ۲۰۴۵، وابن ماجه ۲\ ۱۱۴۵، رقم: ۳۴۵۹.

تشریح: مطلب دادی چي رسول الله ﷺ د داسي دواء استعمالولو څخه منع فرمایلې ده کوم چي نجس، ناپاکه او حرامه وي، او یا د خبیث څخه هغه دواء مراد ده چي بدخونده وي چي د هغه د استعمال څخه طبیعت نفرت کوي نو داسي دواء هم غوره نه ګڼل کېږي ځکه چي کومه دواء طبیعت نه قبلوي د هغه ګټه کمه وي په دې اعتبار سره په حدیث کي د ذکر سوي نفرت تعلق به د نهي تنزیهي سره وي.

د سر درد، د پښو درد

﴿۴۳۴۱﴾: وَعَنْ سَلْمَى خَادِمَةِ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ مَا كَانَ أَحَدٌ يَشْتَكِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعًا فِي رَأْسِهِ إِلَّا قَالَ احْتَجِمْ وَلَا وَجَعًا فِي رِجْلَيْهِ إِلَّا قَالَ اخْضِبْهُمَا. رواه ابوداؤد.

بي بي سلمی ﷺ چي د نبي کریم ﷺ خادمه وه وایي، چا چي به د نبي کریم ﷺ په خدمت کي د سر د درد شکایت وکړ نو نبي کریم ﷺ به ورته د رګ وهلو (وینه تویولو) حکم ورکوی او چا چي به د پښو د درد شکایت کوی نو هغه ته به یې د نکروځو د لګولو حکم ورکوی. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۴\ ۱۹۴، رقم: ۳۹۴۸.

تشریح: دغه حدیث مطلق دی چي په دغه حکم کي نارینه او ښځي دواړه شامل دي مګر غوره داده چي نارینه یوازي د پښو پر تلو باندي د نکریزو لګولو اکتفاء وکړي او پر نوکانو لګولو څخه پرهېز وکړي، د ښځو د مشابهت څخه تر خپله وسه ځان ساتل پکار دي.

د زخم درملنه

﴿۴۳۴۲﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ مَا كَانَ يَكُونُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرْحَةٌ وَلَا نَكْبَةٌ إِلَّا أَمَرَنِي أَنْ أَضَعَ عَلَيْهَا الْحِنَّاء. رواه الترمذي.

بي بي سلمی رض چي د نبي کریم ﷺ خادمه وه وایي چي د نبي کریم ﷺ په بدن باندي چي به څه زخم پیدا سو (لکه د توري یا د چړې) یا کاڼي او ازغی سره به نبي کریم ﷺ زخمي سو نو

نبي کريم ﷺ به و ماته حکم راکوئ چي زه په هغه زخم باندي نکروځي ولګوم. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۴۳، رقم: ۲۰۵۴.

د لغاتو حل: نکبة: اي جراحة من حجر او شوک (زخم يا برہښ)

تشريح: د نکريزو تاثير يخ دی او د جلدي ناروغيو لپاره ګټور دی ځکه د هغه يخوالی د زخم ګرمي او سوزش ختموي.

وينه کښل

﴿۴۳۴۳﴾: وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَحْتَجِمُ عَلَى هَامَتِهِ وَبَيْنَ كَتِفَيْهِ وَهُوَ يَقُولُ مَنْ أَهْرَاقَ مِنْ هَذِهِ الدِّمَاءِ فَلَا يَضُرُّهُ أَنْ لَا يَتَدَاوَى بِشَيْءٍ لِشَيْءٍ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابو کبشه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د خپل سر مبارک او د دواړو اوږو تر مينځ وينه کښل او فرمايل به يې، چي څوک د دې وينو څخه (د سر او د اوږو وينو څخه) څه و کاږي (يعني فاسده وينه) هغه که په يو ناروغي کي په دوا سره علاج و نکړي نو څه نقصان به ورته و نه رسوي. ابوداؤد او ابن ماجه

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۹۵، رقم: ۳۸۵۹، وابن ماجه ۲\۱۱۵۲، رقم: ۳۴۸۴.

تشريح: کېدای سي چي کله به رسول الله ﷺ (د ويني کښلو لپاره) په سر کي ښکر لګولی وي او کله به يې د دواړو اوږو په مينځ کي، او دا هم کېدايسي چي په يوه وخت يې دواړه ځايه ښکر لګولی وي.

ددغه وينو څخه څه وباسئ: ددې څخه په ظاهره دا معلومېږي چي د ويني څخه مراد د ذکر سوو دوو اندامو وينه ده مګر دا هم کېدای سي چي مطلق فاسد وينه مراد وي يعني د بدن په کومه برخه کي چي فاسده وينه وي هغه بايد وکښل سي.

﴿۴۳۴۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ عَلَى وِرْكِهِ مِنْ وَثْءٍ كَانَ بِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د درد او برہښ په وجه د خپل ترټي څخه

ډک ښکر وینه وکښل . ابو داؤد

تخریج: سنن ابي داود ۴\۱۹۷، رقم: ۳۸۶۳..

تشریح: وثاء د واو په زبر او د ثاء په جزم سره، هغه درد او زخم ته وايي چي يو اندام ته د هغه هډوکي ماتېدو پرته ورسيږي چي زموږ په ژبه کي درد او برېښ ورته وايي.

﴿۴۳۴۵﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ حَدَّثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِيَ بِهِ أَنَّهُ لَمْ يَمُرَّ عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا أَمَرُوهُ أَنْ مُرْ أُمَّتَكَ بِالْحِجَامَةِ. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د معراج د واقعې د اطلاع د ورکولو سره وفرمايل: نبي کريم ﷺ چي د ملائکو د کومي ټولۍ سره تېرېدی، هغوی به نبي کريم ﷺ ته دا عرض کوئ چي خپل امت ته د ويني کښلو حکم ورکړئ. ترمذي او ابن ماجه، په ترمذي کي دا حديث حسن غريب دی..

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۴۲، رقم: ۲۰۵۲، وابن ماجه ۲\۱۱۵۱، رقم: ۳۴۷۹.

تشریح: د ويني کښلو دغه ارزښت او فضيلت له دې کبله دی چي د ويني د فساد په وجه ډېري ناروغۍ پيدا کيږي چي هغو ته امراض دموي وايي، د امراض دموي تر ټولو لوی علاج وينه کښل دي او د ويني کښلو د نورو طريقو په نسبت ښکر لګول ځکه خوښ سوي دي چي هغه وينه د شاوخوا پوست څخه باسي، ټول طبيبان دا وايي چي په ګرمه هواء کي د اوسيدونکو لپاره د رګ وهلو په مقابله کي د ښکر وهل زيات ګټور دي ځکه چي د دغه خلکو وينه رقيقه وي چي د بدن پر سطح باندي راسي او څرګنده ده چي دغه وينه د ښکر په ذريعه کښل کيږي نه د رګ وهلو په ذريعه.

د امت څخه مراد هغه عرب دي کوم چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي موجود وه، د امت څخه د رسول الله ﷺ د قوم او وطن خلک مراد کېدای سي او دا هم ويل کيدای سي چي دلته د امت عام مفهوم مراد دی يعني د رسول الله ﷺ د ټول امت څخه هر هغه څوک مراد وي چي هغه ته د ويني کښلو اړتيا وي.

د چنگوښي څخه دوا جوړول منع دي

﴿۴۳۴۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عُثْمَانَ أَنَّ طَبِيبًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ضِفْدَعٍ يَجْعَلُهَا فِي دَوَاءٍ فَنَهَاهُ النَّبِيُّ ﷺ عَنْ قَتْلِهَا. رواه ابوداؤد

د حضرت عبدالرحمن بن عثمان رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو طبيب د رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي د چنگوښي (وازګه، وينه، يا غوښه) په دوا كي شامله سي نو څه حكم دی؟ نبي كريم ﷺ د چنگوښي د وژلو (او په دوا كي د ګډولو په سبب د حراموالي د چنګښي)څخه منعه وكړه. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲۰۳، رقم: ۳۸۷۱.

تشريح: د چنگوښي د وژلو څخه د منع كولو مطلب دادی چي چنگوښه وژل او بيا هغه په دواء كي استعمالولو څخه يې منع وفرمايل، ددغه وضاحت څخه د سوال او جواب په مينځ كي مطابقت پيدا كيږي، دديې خبري تائيد د هغه روايت څخه هم كيږي كوم چي په جامع كي نقل سوی دی چي: (نهي عن قتل الضفدع للدواء) يعني رسول الله ﷺ د دواء په توګه د چنگوښي وژلو څخه منع وفرمايل.

قاضي رحمة الله عليه وايي: د رسول الله ﷺ د چنگوښي وژلو څخه منع فرمايل كېداى سي په دې وجه وي چي رسول الله ﷺ د چنگوښي څخه د دواء جوړول مناسب ونه ګڼل او دغه مناسب نه ګڼل د چنگوښي د نجس او حرام كېدو په وجه وو چي د نجس او حرام شي په ذريعه علاج كول جائز نه دي، او يا كېداى سي چي د چنگوښي څخه د طبيعت د نفرت په وجه يې منع فرمايلې وي او د كومو شيانو څخه چي طبيعت نفرت كوي هغه د دواء په توګه استعمالول بې ګټي دي، او دا چي طبيب په چنگوښه كي كومي ګټي ليدلي دي نو د هغه په مقابله كي رسول الله ﷺ د هغه تاوانونه زيات ليدلي دي ځكه رسول الله ﷺ د هغه څخه د دواء جوړول مناسب ونه ګڼل.

دويني كښل

﴿۴۳۴۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْتَجِمُ فِي الْأَخْدَعَيْنِ وَالْكَاهِلِ. رواه ابوداؤد و رواه الترمذي وابن ماجة وكان

يحجتم لسبع عشرة وتسع عشرة واحدى وعشرين.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د غاړي ولور ته د دوو رګونو او د اوږو په مينځ کي وينه کښل. ابوداؤد، او په ترمذي او ابن ماجه کي دا الفاظ زيات ليکل سوي دي چي نبي کريم ﷺ به په اوولسم، نولسم او يويشتم تاريخ وينه کښل.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۹۵، رقم: ۳۸۶۰، والترمذي ۴\۳۴۱، رقم: ۲۰۵۱، وابن ماجه ۲\۱۱۵۲، رقم: ۳۴۸۳.

دويني کښلو ورځ

﴿۴۳۴۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْتَحِبُّ الْحِجَامَةَ لِسَبْعَ عَشَرَةَ وَتِسْعَ عَشَرَةَ وَإِحْدٰى وَعِشْرِيْنَ. رواه في شرح السنة

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به په اوولسم، نولسم او يويشتم تاريخ وينه کښل مستحب بلل. شرح السنه

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۲\۱۵۰، رقم: ۳۲۳۵.

﴿۴۳۴۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ احْتَجَمَ لِسَبْعَ عَشْرَةَ وَتِسْعَ عَشْرَةَ وَإِحْدَى وَعِشْرِينَ كَانَ شِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ. رواه ابوداؤد

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي په اوولسم، نولسم او يويشتم تاريخ وينه کاږئ هغه به د هري ناروغى څخه نجات پيدا کړي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۹۶، رقم: ۳۸۶۱.

﴿۴۳۵۰﴾: وَعَنْ كَبْشَةَ بِنْتُ أَبِي بَكْرَةَ إِنَّ أَبَاهَا كَانَ يَنْهَى أَهْلَهُ عَنِ الْحِجَامَةِ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ وَيَزْعُمُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ يَوْمُ الدَّمِ وَفِيهِ سَاعَةٌ لَا يَرْقَأُ. رواه ابوداؤد.

د بي بي كبشه بنت ابي بكره ﷺ څخه روايت دی چي د هغې پلار به د سه شنبې په ورځ د ويني كښلو څخه منعه كوله او ويل به يې ،نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چي د سه شنبې د ورځ وينه د غلبې يا دوران ورځ ده او په دې ورځ كي يو داسي ساعت دی چي په هغه كي د ويني په كښنو سره بيا وينه نه بنديږي . ابو داؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۴\۱۹٦، رقم: ۳۸٦۲.

﴿۴۳۵۱﴾: وَعَنِ الزُّهْرِيِّ مُرْسَلاً عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ احْتَجَمَ يَوْمَ الْأَرْبَعَاءِ أَوْ يَوْمَ السَّبْتِ فَأَصَابَهُ وَضَحٌ فَلَا يَلُوْمَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ . رواه أحمد وأبو داود وقال : وقد أسند ولا يصح.

حضرت زهری رحمه الله مرسلا د نبي كريم ﷺ څخه نقل كونكي دی ، څوک چي د چهار شنبې يا د شنبې په ورځ وينه وكاږي او برص (برګی ،په وجود كي د سپينو داغونو مرض دی) سي نو هغه دي خپل ځان ملامت كړي . احمد او ابوداؤد،او ويل سوي دی چي دا حديث مسند هم نقل سوی دی خو دا خبره صحيح نه ده .

تخريج: لم نجده عند الامام احمد وابي داود.

تشريح: كه څه هم دغه دوهم روايت ته صحيح نه دي ويل سوي دي مګر ددې په ذريعه هغه مرسل حديث ته تقويت حاصليږي ، او مرسل حديث د حنفيه او نورو اصحابو په نزد حجت وي.

﴿۴۳۵۲﴾: وَعَنْهُ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ احْتَجَمَ أَوِ اطَّلٰى يَوْمَ السَّبْتِ أَوِ الْأَرْبَعَاءِ فَلَا يَلُوْمَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ فِي الْوَضَحِ . رواه في شرح السنة .

حضرت زهری رحمه الله مرسلا د نبي كريم ﷺ څخه نقل كوي چي نبي كريم ﷺ وفرمايل: څوک چي د چهار شنبې يا د شنبې په ورځ وينه وكاږي يا بدن مالش كړي كه پيس سي نو پر خپل ځان دي بد وايي . شرح السنه

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۲\۱۵۱، رقم: ۳۲۲۵.

کورنی ټوټکه منع ده

﴿۴۳۵۳﴾: وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ رَأٰى فِيْ عُنُقِيْ

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د ښځي بي بي زينب (رض) څخه روايت دی چي عبد الله زما په غاړه کي تار پروت وليد

خَيْطًا فَقَالَ مَا هٰذَا ؟ فَقُلْتُ خَيْطٌ رُقِيَ لِيْ فِيْهِ قَالَتْ فَأَخَذَهُ فَقَطَعَهُ ثُمَّ قَالَ

او زما څخه يې پوښتنه وکړه دا څه شي دي؟ ما ورته وويل ، دا تار دی چي په دې سره زما لپاره دم او چوف سوی دی (په دې اورېدو سره) عبد الله وويل :

أَنْتُمْ آلُ عَبْدِ اللّٰهِ الْأَغْنِيَاءُ عَنِ الشِّرْكِ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اې د عبد الله کور والا ! تاسو د شرک څخه بالکل بې پروا ياست ، ما د نبي کريم ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي

يَقُوْلُ إِنَّ الرُّقٰى وَالتَّمَائِمَ وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ فَقُلْتُ لِمَ تَقُوْلُ هٰكَذَا لَقَدْ كَانَتْ عَيْنِيْ

فرمايل يې : جادو شرک دی ، ما ورته وويل ،دا ته څه وايي؟ زما سترګو به اوښکي تويولې او

تَقْذِفُ وَكُنْتُ أَخْتَلِفُ إِلٰى فُلَانٍ الْيَهُوْدِيِّ فَإِذَا رَقَاهَا سَكَنَتْ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ

زه به فلاني يهودي ته تلم ، هغه يهودي به م کړلې نو ما ته به ارام راغلی ، عبد الله وويل:

إِنَّمَا ذَاكَ عَمَلُ الشَّيْطَانِ كَانَ يَنْخُسُهَا بِيَدِهٖ فَإِذَا رَقَاهَا كَفَّ عَنْهَا إِنَّمَا كَانَ

دا د شيطان کار دی ، هغه به په خپل لاس سره ستا سترګه کنښکنښل او کوم وخت چي به هغه دم ووايه نو کنښکنښل به يې پرېښودل . (عبد الله وويل)

يَكْفِيْكِ أَنْ تَقُوْلِيْ كَمَا كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ أَذْهِبِ الْبَأْسَ

تا ته صرف دا الفاظ کافي دي کوم وخت چي به نبي کريم ﷺ ويل : (هغه الفاظ دا دي)، اذهب

رَبَّ النَّاسِ اشْفِ أَنْتَ الشَّافِيْ لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا . رواه

ابو داؤد.

الباس رب الناس و اشف انت الشافي لا شفاء الا شفاءک شفاء لا يغادر سقما، ترجمه : بوځه سختي اې د خلکو ربه او شفا راکړه ته شفا ورکونکی یې بغیر ستا څخه بل څوک شفا ورکونکی نسته ستا شفا هیڅ مرض نه پرېږدي . ابو داؤد .

تخریج: سنن ابي داود ۴\۲۱۲، رقم: ۳۸۸۳.

د لغاتو حل: التولة: نوع من السحر. (یو ډول جادو). تقذف: ترمی بها یهیج الوجع.

تشریح: تاسو د شرک څخه بې پرواه یاست : مطلب دادی چي الله ﷻ تاسو ته د ایمان او اسلام دولت درکړی دی او د کفر څخه یې لیري کړي یاست نو تا ته ددې اړتیا نسته چي ته د خپلو ناروغیو او تکلیفونو د ختمولو لپاره داسي کارونه او شیان اختیار کړې چي په کفر کي دي اخته کوي، حضرت عبد الله رضي الله عنه دا خبره ځکه وفرمایل چي په هغه زمانه کي د دم او تعویذ لپاره چي کوم دم کېدی هغه به پر مشرکانو مضامینو باندي مشتمل وو ، ملا علي قاري رحمه الله په دې اړه لیکلي دي چي دلته د شرک څخه مراد دغه عقیده درلودل دي چي دغه عمل (یعني دم وغیره) د ناروغۍ او ضرر د دفع کولو یو قوي سبب دی او په خپله په دې کي تاثیري طاقت دی په دغه صورت کي به دا شرک خفي وي او که چیري دا عقیده وي چي دغه شی بذات خود مؤثر حقیقي دی نو دې ته شرک جلي ویل کیږي .

کوم دم ته چي شرک ویل سوي دي د هغه څخه مراد هغه دم دی چي په هغه کي د بُتانو ، پریانو او شیطانانو نومان اخیستل کیږي چي پر کفریه کلمو او داسي شیانو باندي مشتمل وي کوم چي شریعت ناجائز ګرځولي دي او په دغه حکم کي هغه دم هم داخل دی چي د هغه معنی معلومه نه وي .

تمائم د تمیمه جمع ده او تمیمه هغه تعویذ ته وایي چي په غاړه کي اچول کیږي، دلته هغه تعویذ مراد دی چي په هغه کي د الله ﷻ اسماء، قرآني آیات او نقل سوي دعاوي نه وي .

تولة یو ډول تعویذ ته وایي چي د ښځي او سړي په مینځ کي د میني قائمولو لپاره د تار یا تعویذ په ذریعه کیږي .

بېله شکه دم، کوډي او تعویذ شرک دی: ددې مطلب دادی چي دغه ټول عملیات او کارونه هغه دي چي مشرکان یې کوي دغه شیان د شرک خفي یا شرک جلي په ضمن کي راځي لکه چي مخکي یې وضاحت سوی دی .

بلکه د شيطان کار وو، يعني ستا په سترګو کي چي کوم درد وو هغه حقيقتا درد نه وو بلکه د شيطان يو ضرر وو چي انسان پکښي اخته کوي.

نشره د شيطان کار دی

﴿۴۳۵۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سُئِلَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النُّشْرَةِ فَقَالَ هُوَ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د نشره په هکله پوښتنه وسوه (نشره يو جادو دی چي د اسيب (درد ،تکليف، صدمه نقصان، ضرر، بېره، خطره، د پېريانو اثر او د ښار د پېريانو غار) زده باندي ويل سوی وو) نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا د شيطان کار دی. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲۰۱، رقم: ۳۸٦۸.

تشريح: نشره يو ډول سفلي عمل دی چي د مېرګي وهلي لپاره کيږي، په قاموس کي دي چي نشره يو دم دی چي د هغه په ذريعه د ليوني او ناروغ علاج کيږي، خلاصه دا چي د نشره لفظ معنی د دم يا تعويذ ده، نو کوم نشره ته چي د شيطان کار ويل سوي دي د هغه څخه مراد هغه دم دی کوم چي پر اسماء الهي، قرآني اياتو او نقل سوو دعاوو باندي مشتمل نوي بلکه د جاهليت د زماني د هغه عملياتو څخه يو عمل وي چي د بُتانو او شيطانانو په نومو او د هغوی څخه پر مرسته غوښتني باندي مشتمل وي يا د هغه دم الفاظ به په عبراني ژبه وه چي د هغو معنی به معلومه نه وه.

د بې پروا خلکو کار

﴿۴۳۵۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا أُبَالِي مَا أَتَيْتُ إِنْ أَنَا شَرِبْتُ تِرْيَاقًا أَوْ تَعَلَّقْتُ تَمِيمَةً أَوْ قُلْتُ الشِّعْرَ مِنْ قِبَلِ نَفْسِي. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي، زه د هيڅ عمل پروا نه کوم (يعني د څه عمل د کولو)يعني دا چي ترياق و خورم، په غاړه کي منکه

(د جاهليت د زمانې په ډول مرۍ يا هډوكي په غاړه كول) واچوم يا د خپل زړه (ارادې او قصد) سره شعر ووايم (يعني ماته د دې شيانو په عمل كې د راوستو ضرورت نسته). ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲۰۱. رقم: ۳۸۶۹.

تشريح: مطلب دادی كه چيري په دغه شيانو كي يو شی زما څخه وسي نو ددې به دا معنی وي چي زما شمېر به د هغه خلكو څخه وي كوم چي د هر عمل څخه بې پروا وي يعني هغوی د يو كار كولو په وخت كي دا نه ګوري چي ايا هغوی دا كار وكړي كه يا ، او په نتيجه كي هغوی د نامشروع افعالو او حركاتو څخه پرهېز كوي، يعني ددغه ارشاد څخه دا څرګندول مقصد دي چي دغه شيان اختيارول د هغه چا كار كېدای سي چي د نامناسب شيانو او غير مشروع اعمالو اختيارولو غيرپابند او بې پروا وي.

د ذكر سوو شيانو استعمال رسول الله ﷺ ځكه بد وګڼی چي په تارياقو كي د مارغوښه او شراب وي او دا شيان حرام دي ، ددې څخه معلومه سوه چي د كومو تارياقو تركيبي اجزاء پر حرامو شيانو مشتمل نه وي د هغو په استعمال كي څه پروا نسته كه څه هم ځيني حضرات د حديث مطلق مفهوم باندي د عمل كولو سره سم ددې ترک هم غوره ګرځولی دی همدارنګه تميمه يعني دم څخه هغه شيان مراد دي چي د جاهليت د زمانې خلكو به د دم او عملياتو په ډول كي استعمالول ، نو داسي تعويذ وغيره چي پر اسماء الهي او آيات قرآني باندي مشتمل وي هغه ددغه حكم څخه خارج دی بلكه د هغه مستحب كېدل ثابت دي او د هغه په بركت سره د مقصد يو امېد كېدای سي ، كوم چي د شعر او شاعرۍ تعلق دی نو د رسول الله ﷺ په اړه د هغه بد كېدل د الله تعالی ددغه ارشاد (د ما علمناه الشعر وما ينبغي له) په وجه وو، رسول الله ﷺ خپله شعر نه وايه بلكه الله تعالی د شعر ويني څخه پاک كړی وو ، ځكه رسول الله ﷺ پر شعر ويلو باندي قادر نه وو او دا خبره ده چي د رسول الله ﷺ د ژبي مباركي څخه بېله بېله وړېدو او بېله قصد او ارادې چي كومي جملې ادا كېدالې او د رسول الله ﷺ كلام چي د كوم فصاحت او بلاغت څخه ډک وو هغه بذات خود د وصف شعر ويني څخه ډېر لوړ او اعلی وو، د رسول الله ﷺ په نزد د مطلق شعر ويل بد كېدل د رسول الله ﷺ د ذات مبارک سره مختص وو البته د رسول الله ﷺ څخه پرته د نورو خلكو لپاره د اشعارو ويل د نورو خبرو او كلام په ډول دي چي ښه مضامينو ته د اشعارو جامه اغوستل او صالح او پاک شعرونو په ويلو سره څرګندول ښه دي او خراب مضامين او بد خيالاتو باندي مشتمل شعرونه بد دي مګر دا خبره

ضروري ده چي په دغه صورت کي هم خپل باطن شعرونه ويلو ته متوجه کول په دې کي عمر ضائع کول او په دې کي دومره بوختيا او تفکر اختيارول چي په ديني چارو کي خنډ او تاوان پيدا سي کوم چي ضروري او واجب دي، يقينا بد به وي.

ابن ملک رحمة الله عليه د دغه حديث په وضاحت کي ويلي دي چي د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي شعر ويل، تارياک خوړل او په غاړه کي تعويذ اچول زما لپاره حرام دي البته د امت لپاره حرام نه دي، په شرط د دې چي د هغه شعر په ذريعه د يو مسلمان بدوينه ونه کړل سي او نه هغه اشعار د رواغ او پر خرابو خبرو باندي مشتمل وي او نه هغه تعويذ د غير مشروع عملياتو سره اړوند وي، همدارنګه د امت په اړه هغه تارياک هم حرام نه دي چي په هغو کي يو حرام شی لکه د مار غوښه وغيره شامل نه وي.

داغ لګول د توکل خلاف

﴿۴۳۵۶﴾: وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ قَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اكْتَوَى أَوْ اسْتَرْقَى فَقَدْ بَرِئَ مِنْ التَّوَكُّلِ. رواه احمد والترمذي و ابن ماجة.

د حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي داغ ولګوئ يا جادو ووايي هغه د توکل څخه خلاص دی (يعني په خداي تعالی باندي د باور څخه بيزاره دی). احمد، ترمذي او ابن ماجه

تخريج: مسند الامام احمد ۱۴\۲۴۹، رقم: ۲۰۵۵، وابن ماجه ۲\۱۱۵۴، رقم: ۳۴۸۹.

تشريح: مطلب دادی چي د يو ناروغ د علاج لپاره د بدن پر يوه برخه باندي داغ لګول يا د يو ضرورت او اړتيا په صورت کي دم او تعويذ کول که څه هم مباح دي مګر د توکل او اعتماد علی الله چي کومه مرتبه او مقام دی هغه د دې څخه لوړ او بالا دی، الله جل جلاله فرمايي: (وعلى الله فليتوکل المؤمنين) نو په اسبابو او ذرائعو اختيارولو کي زيات ه بوختيا او مصروفيت د رب الارباب څخه د غافل کېدو دليل دی ځکه امام غزالي رحمة الله عليه ويلي دي: که يو سړی يو ځای ته د تللو لپاره د خپل سرای دروازې په دوو قلفو سره بندي کړي يا يو قلف ور واچوي او بيا همسايه ته هم د سرای د ساتني لپاره ووايي نو هغه د توکل د دائرې څخه ووتی.

﴿۴۳۵۷﴾: وَعَنْ عِيسَى بْنِ حَمْزَةَ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُكَيْمٍ وَبِهِ

د عیسی بن حمزه رضی الله عنه څخه روایت دی چي زه عبد الله بن عکیم ته ورغلم ، د هغه بدن د ناروغی

حُمْرَةٌ فَقُلْتُ أَلاَ تُعَلِّقُ تَمِيمَةً فَقَالَ نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِلَ إِلَيْهِ . رواه أبو داود

څخه سور وو ، ما ورته وویل ، ته تعویذ ولي نه اچوې ؟ هغه راته وویل ، موږ د خدای تعالی په واسطه د دې څخه پناه غواړو (ځکه چي)نبي کریم ﷺ وفرمایل: څوک چي یو شی واچوي یا یې و تړي هغه د هغه حواله کیږي . ابوداؤد

تخریج: لم نجده عند ابي داود.

تشریح: د طیبي رحمه الله د قول مطابق په څرګنده دا معلومیږي چي حضرت عبد الله رضی الله عنه د تعویذ اچولو څخه د الله جل جلاله پناه غوښتې وه ځکه چي هغه مقام توکل او رضا باندي فائز وو او هغه تعویذ اچول د توکل خلاف وګڼل که څه هم د نورو لپاره دا جائز دی .
د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چي کوم څوک تعویذ اچوي یا تار په غاړه کوي او د دم وغیره عملیات کوي او دا عقیده لري چي دغه شیان ګټور دي او تاوان دفع کوي نو هغه پر دغه پربښودل سو چي هغه شیانو ته وسپارل سي یعني هغه د الله تعالی د مرستي او اعانت څخه م کیږي او هغه شفاء نه تر لاسه کوي ځکه چي د ذات حق څخه پرته نه یو شی ګټه ورکوي تاوان رسوي ، یعني د دغه ارشاد مقصد تفویض او توکل ته رغبت ورکول دي .

د دم اثر

﴿۴۳۵۸﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد و رواه ابن ماجة عن بريدة.

د حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دم کول د نظر یا د زهر دار شی د چیچلو څخه پرته په هیڅ شی کي اثر نه کوي . احمد ، ترمذي او ابوداؤد . او په ابن ماجه کي د حضرت برید رضی الله عنه څخه روایت کړی دی .

تخریج: مسند الامام احمد ۴\۴۳۶، وابوداود ۴\۲۱۳، رقم: ۳۸۸۴، والترمذي ۴\۳۴۵، رقم: 2057.

﴿۴۳۵۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ أَوْ دَمٍ . رواه ابوداؤد.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :نظر يا د زهر دار حيوان چيچل يا وينه باندي (يعني د نکسير خون يا يوازی ويني رواني يا د ويني د فساد) څخه پرته دم پر بل شي اثر نه کوي . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\۲۱۴، رقم: ۳۸۸۹.

تشريح: تر دې مخکي په يوه حديث کي د دوو شيانو ذکر سوی دی او په دغه حديث کي د درو شيانو ذکر سوی دی، په دغه حديث کي د ويني لفظ زيات نقل سوی دی، علماوو د ويني څخه د نکسير (تر پزي وينه راتلل) مراد اخيستي دي او که لفظ د ويني ددې پر عمومي مفهوم باندي محمول کړل سي يعني داسي وويل سي چي د ويني څخه هغه ټولي ناروغۍ مراد دي چي د ويني په سبب سره لاحق کيږي که د هغه تعلق د ويني د فشار سره وي يا د ويني د فساد سره وي، نو دا به هم صحيح وي .

د ابوداؤد په يوه روايت کي د (الا في عين) پر ځای (الا في نفس) الفاظ نقل سوي دي مگر علماوو ويلي دي چي د نفس څخه مراد عين يعني نظر دی ، همدارنگه د اودم پر ځای اولدغة الفاظ منقول دي چي د هغه معنی په غابنو سره د چيچلو ده لکه څرنگه چي مار او داسي نور حيوانان د غابنو په ذريعه چيچل کوي ،

څرگنده دي وي چي دم کول او د عملياتو په ذريعه علاج کول د سر درد، د غابنونو درد په ډول د هري ناروغۍ لپاره گټور دي ، ددې ثبوت د احاديثو څخه تر لاسه کيږي او د بخاري او مسلم په روايت کي نقل سوي دي چي کله رسول الله ﷺ ناروغ وو نو حضرت جبرائيل عليه السلام ورته راغلی او هغه وويل : (بسم الله ارقيک من کل داء يوذيک) نو په ذکر سوو حديثو کي د دم کولو اثر محض په درو شيانو کي منحصر کول په اصل کي د مبالغې په توگه دي او مراد دا دی چي د نورو شيانو په نسبت په دغه درو شيانو کي دم کول زيات گټور او غوره دی ، لکه څرنگه چي په عامه توگه سره خلک په دغه شيانو کي د عملياتو زياته برخه اخلي .

نظر

﴿۴۳۶۰﴾: وَعَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ وَلَدَ جَعْفَرٍ تُسْرِعُ إِلَيْهِمُ الْعَيْنُ أَفَأَسْتَرْقِي لَهُمْ قَالَ نَعَمْ فَإِنَّهُ لَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدَرَ لَسَبَقَتْهُ الْعَيْنُ. رواه احمد والترمذي وابن ماجة.

د بي بي اسماء بنت عميس رضي الله عنها څخه روايت دی چي ما وويل: اې د الله رسوله! د جعفر طيار رضي الله عنه اولاد ډېر ژر نظر کيږي، ايا د دوی لپاره يو څه دم وو ايم. نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو که په تقدير کي څه شي مخته والي کړی وای نو هغه به نظر وای. احمد، ترمذي او ابن ماجه

تخريج: مسند الامام احمد ٦\٤٣٨، رقم: ٢٠٥٩، وابن ماجه ٢\١١٦٠، رقم: ٣٥١٠.

تشريح: عطاء رحمه الله ليکلي دي: څرنګه چي ځيني نظر د حسد او خبث طبع په سبب تاوان او ضرر رسوي همدا رنګه د دې په مقابله کي د عارفينو او اهل الله نظر د اکسير په ډول ګټور کيږي چي د هغوی د هدايت يو نظر کافر مؤمن، فاسق صالح او جاهل عالم کوي.

﴿۴۳۶۱﴾: وَعَنِ الشِّفَاءِ بِنْتِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا عِنْدَ حَفْصَةَ فَقَالَ أَلَا تُعَلِّمِينَ هَذِهِ رُقْيَةَ النَّمْلَةِ كَمَا عَلَّمْتِيهَا الْكِتَابَةَ. رواه ابوداؤد.

د بي بي شفاء بنت عبد الله څخه روايت دی چي زه د بي بي حفصې رضي الله عنها سره ناسته وم چي نبي کريم ﷺ تشريف راوړ او ويې فرمايل، ايا ته و حفصې رض ته داسي د (بريښ) (دم) نه ښيي لکه څنګه چي تا خط ليکل ور زده کړي دي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲۱۵، رقم: ۳۸۸۷،

تشريح: شفاء، د عبد الله ابن شمس لور قريشي عدوي ده، د دې اصل نوم ليلی وو او شفاء يې لقب وو، مګر دومره مشهور سول چي پر اصل نامه باندي هم غالب سول، هغې د هجرت څخه مخکي اسلام قبول کړی وو، د لوړي درجې عاقله ښځه وه، نبي کريم ﷺ به کله ناکله د غرمې د ارام لپاره هغې ته تشريف وړی او هلته به يې ارام کوی، هغې د رسول الله ﷺ د بستري انتظام کړی وو چي د آرام په وخت کي به د غه شيان د رسول الله ﷺ په خدمت کي راسي.

د نمله په اړه مخکې هم ښودل سوي دي چې هغه دانو ته نمله وايي چې پر پښتيو باندې راخېږي او ډېر تکليف رسوي، کوم څوک چې په دغه دانو اخته سي هغه ته داسې محسوس کيږي لکه چې د هغه دانو په ځای کې مېږيان ګرځي او غالبا د دغه مناسبت څخه دغه دانو ته نمله ويل کيږي، بي بي شفاء به په مکه کې د دغه نمله د دفع لپاره يو دم وايه، کله چې هغې اسلام قبول کړ او رسول الله ﷺ هجرت وکړ مدينې ته نو دا هم هلته او سېدل او رسول الله ﷺ ته يې عرض وکړ چې اې د الله رسوله ! ما به د جاهليت په زمانه کې د نمله د دفع لپاره يو دم کوی اوس غواړم چې هغه دم تاسو ته واوروم، چې په دې باره کې ما ته حکم راکړئ چې ايا د دغه دم کول جائز دي که يا؟ رسول الله ﷺ د هغه دم په اورېدو سره د هغه په ذريعه د دم کولو اجازه ورکړه بيا يې ورته وفرمايل چې دغه دم بي بي حفصې ته هم وښيه.

د رقيه نمله څخه مراد هغه کلمات دي چې د عربو په ښځو کې مشهورې وې چې هغوی به ورته رقيه نمله ويل، کنه نو د نمله چې کوم حقيقي دم وو هغه خو په اصل کې د خرافاتو يوه مجموعه وه چې د هغه د ويلو څخه رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده، ځرګنده ده چې رسول الله ﷺ د هغه دم حکم ولې ورکړ او هغه مشهور کلمات چې د عربو ښځو به ورته رقيه نمله ويل هغه دادي : (العروس تنتعل و تختضب وتكعل وكل شئ تفتعل غير انها ولا نقصى الرجل) يعني ناوې بايد لاره وباسي او ښکلا وکړي، لاسونه او پښې سره کړي، رانجه ولګوي، هغه خبره کوي مګر د خاوند نافرماني نه کوي.

ځيني حضرات وايي چې د رسول الله ﷺ شفاء ته دا ويل چې حفصې ته د نمله دم وښيه، دا په حقيقت کې د تعريض په توګه وو او د هغې يو خاص مقصد دا وو چې رسول الله ﷺ خپلو ښځو ته د يو راز خبره کړې وه مګر بي بي حفصې هغه ځرګنده کړه، د دې ذکر د قرآن کريم په سورة تحريم کې هم سوی دی، رسول الله ﷺ شفاء ته د ذکر سوي ارشاد په فرمايلو سره بي بي حفصې ته نصيحت وکړ او هغه يې خبرداره کړه چې تا زما د راز په ځرګندولو سره د خاوند نافرمانې کړې ده چې نه يوازې ستا د مقام او مرتبې خلاف خبره ده بلکه د وفا شعارې ښځې د هغه خصوصيت هم خلاف ده چې هغه د خاوند نافرماني کول نه خوښوي.

په يوه حديث کې ښځو ته د ليک ښوونې څخه منع نقل سوې ده، رسول الله ﷺ وفرمايل : (لا تعلم الكتابة)، د دې پر خلاف په دغه حديث کې د دې جواز ثابتيږي، کېدای سي چې د دغه حديث تعلق د هغه وخت سره وي کله چې رسول الله ﷺ دغه منع نه وه فرمايلې، يعني د منع حديث وروسته وي او دلته چې کوم حديث نقل سوی دی هغه مخکې وي، ځيني حضرات په دې

اړه وايي چي د رسول الله ﷺ د ازواجو مطهراتو يو خاص حيثيت وو په دې وجه په ځينو احکامو او فضائلو کي هغوی هم خاص ساتل سوي دي، نو د منع تعلق د نورو ښځو سره دی او د هغوی په دغه فتنه کي اخته کېدل عين ممکن دي کوم چي د ذکر سوي منع بنياد دی، حال دا چي د ازواج مطهراتو په اړه داسي تصور هم نسو کيدای سي ځکه هغوی ته د ليک زده کولو اجازه وه.

خطابي رحمة الله عليه وايي دا حديث ددې دليل دی چي ښځو ته ليک ښودل مکروه دي او ملا علي قاري رحمة الله عليه ويلي دي: کېدای سي چي هغه وخت ښځو لره ليک زده کول جائز وه مګر په فتنه او فساد کي د اخته کېدو د بيري په وجه وروسته د ښځو لپاره جائز نه وي، ځيني حضرات وايي چي د ليک زده کولو ذکر سوی حکم يوازي د بي بي حفصې رضي الله عنها لپاره وو د نورو ښځو لپاره نه وو.

د بد نظر يوه واقعه

﴿۴۳۶۲﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ قَالَ رَأَى عَامِرُ بْنُ رَبِيعَةَ

د ابو امامه بن سهل بن حنيف رضي الله عنه څخه روايت دی چي عامر بن ربيعه چي سهل بن حنيف په

سَهْلَ بْنَ حُنَيْفٍ يَغْتَسِلُ فَقَالَ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ وَلَاجِلْدَ مُخْبَأَةٍ فَلُبِطَ

غسل کولو باندي وليدی نو هغه وويل، قسم په خدای چي د نن ورځ پشان هيڅ ورځ ما نه ده ليدلې او نه د يوې پيغلي انجلۍ د بدن پوست مي د ده د پوست په شان ليدلی دی،

سَهْلٌ فَأُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ لَكَ فِي

د راوي بيان دی، د دې الفاظو د هغه د ژبي څخه په وتلو سره سهل بن حنيف پر مځکه را ولوېدی وروسته هغه پورته کړل سو او د نبي کريم ﷺ په خدمت کي يې حاضر کړ او عرض وسو اې د الله رسوله! ايا تاسو به

سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ وَاللهِ مَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ فَقَالَ هَلْ تَتَّهِمُونَ لَهُ أَحَدًا قَالُوا نَتَّهِمُ

د سهل د علاج و لور ته توجه وکړئ؟ قسم په خدای نن دی خپل سر هم نه سي پورته کولای، نبي کريم ﷺ وفرمايل: ستاسو په چا باندي ګمان دئ چي هغه نظر کړی دی، خلکو وويل: زموږ

عَامِرَ بْنَ رَبِيعَةَ قَالَ فَدَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامِرًا فَتَغَيَّظَ

خيال دئ چي عامر بن ربيعه نظر كړى دى ، د راوي بيان دى چي نبي كريم ﷺ عامر بن ربيعه را وغوښت او هغه ته يې سخت الفاظ وويل ،

عَلَيْهِ وَقَالَ عَلَامَ يَقْتُلُ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ أَلَّا بَرَّكْتَ اغْتَسِلْ لَهُ فَغَسَلَ عَامِرٌ

بيا يې وفرمايل: په تاسو كي ولي يو ثوک مسلمان قتلوي ؟ تا ولي ورته د بركت دعا و نه كړه ؟ بيا يې و هغه ته وفرمايل: اوس ته خپل اندامونه په اوبو سره پرېوله (او په سهل باندي هغه اوبه پنا كړه) عامر

وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ وَمِرْفَقَيْهِ وَرُكْبَتَيْهِ وَأَطْرَافَ رِجْلَيْهِ وَدَاخِلَةَ إِزَارِهِ فِي قَدَحٍ ثُمَّ

خپل مخ ، لاسونه ، څنګلي ، ښنې ، د ښنو د ګوتي بندونه او د نامه لاندي عضوه پرېوله ، او په

صُبَّ عَلَيْهِ فَرَاحَ مَعَ النَّاسِ لَيْسَ لَهُ بَأْسٌ. رواه في شرح السنة و رواه مالك و في روايته قال ان العين حق توضأ له فتوضأ له.

يوه كاسه كي يې هغه اوبه راټولي كړې او بيا يې هغه اوبه په سهل باندي پنا كړې ، سهل په دې كار سره د خلكو سره روان سو او څه تكليف ورته پاته نه سو. شرح السنه ،او د مالک په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي نبي كريم ﷺ و عامر ته وفرمايل: نظر حق دى ته د سهل لپاره اودس وكړه نو هغه اودس وكړ او اوبه يې په نظر سوى باندي پنا كړې .

تخريج: موطا الامام مالک ۲\ ۹۳۹، رقم: ۲، والبغوي في شرح السنة ۱۲\ ۱٦۴، رقم: ۳۲۴۵.

د لغاتو حل: مخباة: هي الجارية لم تتزوج بعد (ستى)

تشريح: نووي رحمه الله وايي : د علماوو په نزد د نظر سوي لپاره د نظر كونكي د اوداسه صورت دادى چي د كوم چا په اړه دا تحقيق وي چي هغه نظر كړى دى نو د هغه مخته دي په يو لوښي وغيره كي اوبه راوړل سي او لوښى دي پر مځكه نه ايږدي بيا نظر كونكى دى د هغه لوښي څخه يوه لپه اوبه واخلي او خوله دي په پرېولي او هغه اوبه دي په لوښي كي واچوي بيا دي اوبه واخلي مخ دي په پرېولي ، بيا دي په چپه لاس كي اوبه واخلي او راسته ټوټه دي پريولي او په راسته لاس دي اوبه واخلي او چپه لاس دي پرېولي ، د تلي او ټوټې په مينځ كي چي كوم ځاى دى هغه دي نه پرېولي ، بيا دي راسته ښنه او د هغه وروسته دي چپه ښنه پريولي بيا دي همدارنګه راسته كوندى او بيا چپه كوندى پريولي په پاى كي دي د پرتاګه دننه د نامه لاندي

بدن پرېولي او د غه ټول اندامونه دي په هغه لوښي کي پرېولي ، د دغه اندامونو د پرېوللو څخه وروسته دي هغه او به پر نظر سوي کس باندي د شا له خوا پر سر واچول سي ، څرګنده دي وي چي داسي علاج کول د اسرار او حکم سره تعلق لري چي د عقل او پوهي د رسېدو څخه وتلی دی نو په دې اړه عقلي بحث کول بې ګټي دی .

مازري رحمة الله عليه ويلي دي : د ذکر سوو اندامو د پرېوللو حکم د وجوب په توګه دی، نظر کونکی سړی په داسي کولو باندي مجبوره کېدای سي چي هغه د نظر سوي کس لپاره په ذکر سوې طريقه سره اودس وکړي ، او د دغه حکم خلاف ورزي کول د انسانيت څخه ليري خبره ده ، په خاصه توګه په داسي صورت کي کله چي د نظر سوي کس د هلاکېدو بېره وي .

قاضي عياض رحمة الله عليه ويلي دي: کوم څوک چي د نظر کولو په اړه مشهور او معروف سي نو د هغه څخه ځان ساتئ او د هغه مخته د نه راتلو احتياط لازم دی ، او د هيواد د پاچا لپاره مناسب ده چي داسي سړی د خلکو په مينځ کي د تلو راتلو څخه منع کړي او پر هغه دا پابندي ولګوي چي هغه دي په خپل کور کي دننه اوسيږي، د کور څخه دباندي دي نه راوځي، که هغه سړی اړ او فقير وي نو د بيت المال څخه د ګزارې په اندازه تنخواه به ورته ټاکل کيږي ، خلاصه دا چي د داسي سړي ضرر د جزامي د ضرر څخه هم زيات سخت دی نو په دې اړه احتياط کول لازم دی .

امام نووي رحمة الله عليه د دغه قول تائيد کړی دی او وايي دا څه چي بيان سوي دي بالکل صحيح دي ځکه چي په دې اړه په علماوو کي د هيڅ اختلاف زموږ په علم کي نسته .

پناه غوښتل

﴿۴۳۶۳﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم به

يَتَعَوَّذُ مِنَ الْجَانِّ وَعَيْنِ الْإِنْسَانِ حَتّٰى نَزَلَتِ الْمُعَوِّذَتَانِ فَلَمَّا نَزَلَتَا أَخَذَ بِهِمَا

د پېريانو او د انسانانو د نظر څخه پناه غوښتله ، تر دې پوري چي معوذتين يعني سورة قل اعوذ برب الفلق او سورة قل اعوذ برب الناس نازل سوه کله چي دا سورتونه نازل سوه نو نبي کريم صلی الله علیه وسلم به د دې په ذريعه پناه غوښتله

وَتَرَكَ مَا سِوَاهُمَا . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث

غریب حسن.

او د نوزو شیانو په ذریعه باندي پناه غوښتل یې پرېښودل. ترمذي او ابن ماجه. په ترمذي کي دا حدیث حسن غریب دی.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۴۵، رقم: ۲۰۵۸، وابن ماجه ۲\۱۱۶۱، رقم: ۳۵۱۱.

مغربون د انسان سره پیري

﴿۴۳۶۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ هَلْ رُئِيَ فِيكُمُ الْمُغَرِّبُونَ قُلْتُ وَمَا الْمُغَرِّبُونَ قَالَ الَّذِينَ يَشْتَرِكُ فِيهِمُ الْجِنُّ. رواه ابوداؤد و ذکر حدیث ابن عباس خیر ما تداویتم في باب الترجل.

د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ و ماته وفرمایل: ایا په تاسو کي مغربون لیدل سوي دي؟ ما وویل: مغربون څه شي دي؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: مغربون هغه خلک دي چي پېریان په کښي شریکیږي . ابوداؤد، د ابن عباس رضي الله عنه حدیث : خیر ماتداویتم په باب الترجل کي بیان سوی دی .(په حدیث شریف کي راځي که انسان د خپلي کوروالا سره جماع کوي او د جماع په وخت کي د خداي تعالی نوم وا نه خلي یعني دا دعا و نه وایي بسم الله جنبنا الشیطان و جنب الشیطان ما رزقتنا نو شیطان خپل بدن د هغه سره یو ځای کوي او د هغه د ښځي سره جماع کوي. د بي بي سره د کورولي په وخت کي بسم الله الرحمن الرحیم ویل پکار دي او د شیطان څخه د خداي تعالی په نامه پناه غوښتل پکار ده).

تخریج: سنن ابي داود ۵\۳۳۳، رقم: ۵۱۷۰.

تشریح: په حدیث کي راغلي دي که یو سړی د خپلي ښځي سره د کوروالي کولو په وخت کي د الله جل جلاله ذکر ونه کړي یعني دغه دعاء ونه وایي : (بسم الله اللهم جنبنا الشیطان و جنب الشیطان ما رزقتنا)، نو پر هغه شیطان اثر کوي، په دې توګه چي شیطان د هغه د بدن سره خپل بدن او د هغه د ستر سره خپل ستر یو ځای کوي او د هغه ښځي سره کوروالي کوي ، داسي شیطان د هغه سړي نطفه او د هغه په کېدونکي اولاد کي ګډیږي ، لکه څرنګه چي په قرآن کي هم فرمایل سوي دي : (وشارکهم في الاموال والاولاد) ، د دې څخه معلومه سوه چي د مغربون معنی هغه خلک

دي چي د كوروالي په وخت كي د الله ﷻ د ذكر څخه مخ اړوي او خپل نفس د ذكر څخه ليري كوي، يا هغوى د جماع په وخت كي د الله ﷻ د ذكر څخه غفلت اختياروي يعني د زوجيت په وظيفه كي شيطان خپل شريک گرځوي او په پيدا كېدونكي د خپل جنس څخه ليري كوي او په خپل نسل كي پردى، وينه گډوي، د جماع وخت د غفلت وخت وي ځكه په دغه وخت كي احتياط او هوښياري اختيارولو سره د الله ﷻ ذكر يعني ذكر سوې دعاء ويلو سره بېداره او سيدل پكار دي كنه نو اعوذبالله او بسم الله دي خامخا وايي، چي ددغه بلا او فتنې څخه خوندي سي، ځرگنده دي وي چي د نن سبا په بچيانو كي چي عامه بې لاره، فتنې او فساد لېدل كيږي د هغه سبب ددغه حديث په رڼا كي بالكل ځرگند دى چي خلک په عامه توگه سره ذكر سوې دعاء هېره كړې ده او د هغه نتيجه داسي چي پيدا كېدونكى نسل په پوره توگه سره د شيطان اثرات ښكار وي. ځيني حضرات وايي چي د شيطان د گډون مطلب دادى چي شيطان هغه خلک زنا ته راغب كوي او د هغوى په نظر كي بدكاري ښه وړاندي كوي چي د هغه په وجه هغوى په دغه بدى كي اخته كېدو سره د هغه خلكو ښځي زنا ته مائله كوي او هغوى د پرديو خلكو سر ملوث كوي او د هغه په نتيجه كي نالائق اولاد پيدا كيږي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د معدې جوړښت

﴿۴۳۶۵﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمِعْدَةُ حَوْضُ الْبَدَنِ وَالْعُرُوْقُ إِلَيْهَا وَارِدَةٌ فَإِذَا صَحَّتِ الْمِعْدَةُ صَدَرَتِ الْعُرُوْقُ بِالصِّحَةِ وَإِذَا فَسَدَتِ الْمِعْدَةُ صَدَرَتِ الْعُرُوْقُ بِالسَّقَمِ. رواه البيهقي.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: معده د بدن حوض دى او د بدن رگونه د حوض په لور راځي يعني د انساني بدن د اعضاؤ رگونه و دې حوض ته تړلي دي، كله چي معده صحيح وي نو دا رگونه د بدن صحت قائم ساتلو لپاره د معدې څخه روغ مواد حاصلوي او كله چي معده خرابه وي نو رگونه خراب مواد په حاصلولو سره د ناروغۍ سبب گرځي. بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۵\۶۶، رقم: ۵۷۹۶.

تشریح: مطلب دادی چي د انسان بدن او د هغه د معدې په مینځ کي هغه نسبت دی کوم چي د اوبو د تالاب او د درختي په مینځ کي دی، څرنګه چي د یو تالاب غاړه یا په اوبو کي ولاړه درخته د خپل رګ او ریښو په ذریعه د اوبو څخه لندبل تر لاسه کوي همدارنګه د انسان بدن د مختلفو رګونو په ذریعه د خپل معدې څخه د صحت او طاقت لندبل تر لاسه کوي، که اوبه پاکي او خوږې وي نو هغه د درختي د تازګۍ او ښه نما سبب جوړیږي او که اوبه خیرني او ترخې وي نو هغه د درختي د مړې کېدو او وچېدو سبب جوړیږي.

صحیح خبره داده که چیري حدیث شریف پر طب نبوي باندي محمول کړل سي نو په دغه صورت کې به د ذکر سوي ارشاد خلاصه دا وي چي د انسان اقوال او افعال د هغه د خوراک مطابق وي که د یو سړي په نس کي حرام خوراک داخلیږي نو د هغه د بدن د اندامو څخه به حرام افعال او اقوال صادریږي، همدارنګه که د یو سړي په نس کي د خوراک څېښناک پالتو او غیر مناسب شیان وي نو د هغه د بدن هر اندام به فضول او غیر مناسب افعال صادروي، ددې پر خلاف د کوم سړي په نس کي چي حلال او پاک خوراک وي نو د هغه د اندامو او بدن څخه به صالح او پاک اعمال صادریږي، یعني د انسان خوراک د هغه د افعالو تخم دی او افعال د نما په درجه کي دي او د هغه په نس کي چي څرنګه خوراک وي د هغه د اندامو څخه به هم هغسي افعال څرګندیږي لکه چي ویل سوي دي: (کل اناء یترشح بما فیه) یعني د هر لوښي څخه هغه شی څڅیږي کوم چي په هغه کي دننه وي، ځکه نو الله جَلّ جلاله فرمایي: (کلو من الطیبات واعملوا صالحا)، او د رسول الله ﷺ ارشاد دی: (من نبت لحمه من سحت فالنار اولی به).

ځینو محدثینو ددغه حدیث په اړه کلام کړی دی او ځینو موضوع ګرځولی دی، او وایي چي لا اصل له، یعني ددغه حدیث اصل نسته، مګر حقیقت دادی چي ددغه حدیث په اړه دا ویل چي باطل دی او اصل یې نسته غیر صحیح خبره ده ځکه چي د تعدد طرق په سبب او د طبراني او بیهقي د روایت په وجه دې ته تقویت تر لاسه کیږي او په دې وجه دغه حدیث ته بېله شکه حسن یا ضعیف ویل کیدای سي.

د لړم چیچلو درملنه

﴿۴۳۶۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ يُّصَلِّيْ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی چي یوه شپه رسول الله ﷺ لمونځ کوی چي

فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ فَلَدَغَتْهُ عَقْرِبٌ فَنَاوَلَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

خپل لاس مبارک يې پر مځکه کښېښودی نو يوه لړم و چيچی، نو نبي کريم ﷺ هغه په چپلکه

وَسَلَّمَ بِنَعْلِهِ فَقَتَلَهَا فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ لَعَنَ اللهُ الْعَقْرَبَ مَا تَدَعُ مُصَلِّيًا وَلَا

وهلو سره ووژی، بيا چې نبي کريم ﷺ د لمانځه څخه فارغه سو نو يې وفرمايل: پر لړم دې د خداې تعالى لعنت وي، نه لمونځ گزاره پرېږدي او نه

غَيْرَهُ أَوْ نَبِيًّا وَغَيْرَهُ ثُمَّ دَعَا بِمِلْحٍ وَّمَاءٍ فَجَعَلَهُ فِيْ إِنَاءٍ ثُمَّ جَعَلَ يَصُبُّهُ عَلَى

بې لمانځه يا دايې وفرمايل: چې نه نبي پرېږدي او نه غير نبي، د دې څخه وروسته نبي کريم ﷺ مالگه او اوبه را وغوښتلې او په يوه لوښي کې يې دواړه واچول او په هغه کې به يې خپله

إِصْبَعِهِ حَيْثُ لَدَغَتْهُ وَيَمْسَحُهَا وَيُعَوِّذُهَا بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

گوته مبارکه لنده کوله او پر موړل به يې، وروسته يې قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس و لوستل او پر هغه يې چف کړل. دا دواړه حديثونه په بيهقي په شعب الايمان کې روايت سوي دي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۲\۵۱۸، رقم: ۲۵۷۵.

د نبي ﷺ په ويښته برکت

﴿۴۳۶۷﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ أَرْسَلَنِيْ أَهْلِيْ إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ

د حضرت عثمان بن عبد الله بن موهب رحمه الله څخه روايت دی چې زما مېرمني و ماته يوه پياله راکړه چې بي بي ام سلمه رضي الله عنها ته يې ولېږم،

بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ وَكَانَ إِذَا أَصَابَ الْإِنْسَانَ عَيْنٌ أَوْ شَيْءٌ بَعَثَ إِلَيْهَا مِخْضَبَهُ

رواج دا وو چې کله به څوک نظر سو يا څه ناروغي به سوه نو بي بي ام سلمه رضي الله عنها ته به د اوبو يوه پياله لېږل کېده،

فَأَخْرَجَتْ مِنْ شَعْرِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ تُمْسِكُهُ فِيْ جُلْجُلٍ

ام سلمې ﷺ به د نبي کريم ﷺ ورېښته مبارک را کښې چې د سپينو زرو په يوه نلکه کي بند وو او هغه ورېښته به يې په اوبو کي اچوی او حرکت به يې ورکوی او وروسته به يې هغه اوبه په ناروغه باندي څېښلې، د راوي بيان دی،

مِنْ فِضَّةٍ فَخَضْخَضَتْهُ لَهُ فَشُرِبَ مِنْهُ قَالَ فَاطَّلَعْتُ فِيْ الْجُلْجُلِ فَرَأَيْتُ شَعَرَاتٍ حُمْرَاءَ. رواه البخاري.

ما د سپينو زرو په هغه نلکه کي وکتل نو په هغه کي د نبي کريم ﷺ څو سره ورېښتان مبارکان وه. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۵۲، رقم: ۵۸۹۶.

تشريح طيبي رحمة الله عليه وايي: دلته د سپينو زرو استعمال د وېښته مبارک د تعظيم لپاره وو، لکه څرنګه چي پر کعبه شريفه باندي د رېشمو ټوکر اچول کيږي، او کوم چي د هغه وېښتانو د سوروالي تعلق دی نو کېدای سي چي وېښته مبارک په خلقي توګه سور وو، دا هم کېدای سي چي هغه په نکريزو وهل سوی وي چي د هغه په وجه هغه سور وو، يا هغه په خوشبويي کي اېښودل سوی وي ځکه د هغه خوشبويي په وجه د هغه رنګ متغير سوی وي او هغه سور معلومېدی.

د پوڅکۍ خواص

﴿۴۳۶۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ د اصحابو څخه يو کس

قَالُوا لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَمْأَةُ جُدَرِيُّ الْأَرْضِ فَقَالَ رسول

رسول الله ﷺ ته وويل: پوڅکۍ د مځکي چيچک دی، نبي کريم ﷺ وفرمايل:

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ وَالْعَجْوَةُ مِنَ

پوڅکۍ د من د قسم څخه دی او د هغې اوبه د سترګو لپاره شفاء ده او عجوه خرما د جنت خرما

الْجَنَّةِ وَهِيَ شِفَاءٌ مِنَ السُّمِّ قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ فَأَخَذْتُ ثَلَاثَةَ أَكْمُؤٍ أَوْ خَمْسًا أَوْ

ده او په دې کي د زهرو څخه د شفاء خاصیت دی، د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما درې، پنځه یا اووه پوڅکۍ واخستلې

سَبْعًا فَعَصَرْتُهُنَّ وَجَعَلْتُ مَاءَهُنَّ فِيْ قَارُوْرَةٍ وَكَحَلْتُ بِهِ جَارِيَةً لِيْ عَمْشَاءَ

فَبَرَأَتْ. رواه الترمذي وقال: هذا حديث حسن.

او د هغوی اوبه مي و نښتېښلې او د هغو د اوبو څخه مي یو بوتل ډک کړ بیا ما د یوې مینزي په سترګو کي هغه اوبه رانجه کړلې نو هغه ښه سوه. ترمذي ویلي چي دا حدیث حسن دی.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۵۱، رقم: ۲۰۶۸.

د لغاتو حل: العمش: ضعف في الرؤية مع سيلان الماء.

تشریح: پوڅکۍ د مځکي چیچک دی: مطلب دا دی چي څرنګه د چیچک دانې په اصل کي په بدن کي پیدا کېدونکي ناقص فضلات وي چي د پوست څخه راوځي همدارنګه پوڅکۍ هم د مځکي فضله مواد دي چي د مځکي څخه راوځي، صحابه کرامو دغه خبره د پوڅکۍ د بدوالي په توګه وکړه مګر رسول الله ﷺ د هغوی د خیال رد کولو لپاره د پوڅکۍ فضیلت او د هغه ګټې بیان کړې چي پوڅکۍ د من څخه دي، یعني دا هم د الله تعالی د نعمتونو څخه یو نعمت دی چي هغه خپلو بندګانو ته د احسان په توګه ورکړي دي، دهغه د تر لاسه کولو لپاره نه خو د مځکي غارولو ضرورت وي او نه د اوبو ورکولو ضرورت وي بلکه دا په خپله د مځکي څخه پیدا کیږي او د ډېرو خلکو د خوراک ضرورت پوره کوي.

ځیني حضرات وايي چي رسول الله ﷺ ددغه جملې په ذریعه پوڅکۍ ته د من سره مشابهت ورکړ چي د حضرت موسی علیه السلام پر قوم به نازلېدل، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي څرنګه د حضرت موسی علیه السلام پر قوم باندي بېله محنته او تکلیفه من نازلېدی همدارنګه دغه پوڅکۍ هم د تخم د محنت او تکلیف څخه پرته د مځکي څخه راوځي، دغه قول زیات صحیح دی ځکه چي په یوه روایت کي دا فرمایل سوي دي چي: (الكماة من المن والمن من الجنة) یعني پوڅکۍ د من څخه دي او من د جنت د نعمتونو څخه یو نعمت دی.

او د هغه اوبه د سترګو لپاره شفاء دي: په دې باره کي امام نووي رحمه الله لیکلي دي چي د ځینو علماوو په نزد محض د پوڅکۍ اوبه د سترګو لپاره شفاء دي، او ځیني حضرات دا وايي

چي د هغه اوبه په هغه صورت كي شفاء وركوي كله چي په هغه كي د ستركو د ناروغيو مطابق نوري دواوي يو ځاى كړل سي او د ځينو په نزد دا تفصيل دی كه چيري د ستركو ګرمی ته يخوالی رسول وي يعني ستركي د ګرمۍ په وجه خوږيږي نو يوازي د هغه اوبه ګټوري دي كنه نو په نورو صورتو كي د هغه اوبه د نورو دواوو سره په يوځاى كولو په ستركو كي اچول ګټور دي، مګر صحيح خبره داده چي په هر صورت كي د هغه اوبه په ستركو كي اچول ګټور دي، د ځينو مشائخو په اړه نقل سوي دي چي د هغوى بنائي بالكل له منځه تللې وه مګر هغوى د رسول الله ﷺ پر ارشاد په باور كولو سره په خپلو ستركو كي محض د پوځكۍ اوبه اچول پيل كړل نو الله ﷻ د هغوى دښه عقيدې او د رسول الله ﷺ د ارشاد په بركت د هغوى ستركو ته كامله شفاء وركړل.

د شاتو فضيلت

﴿۴۳۶۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَعِقَ الْعَسَلَ ثَلَاثَ غَدَوَاتٍ كُلَّ شَهْرٍ لَمْ يُصِبْهُ عَظِيمٌ مِنَ الْبَلَاءِ . رواه ابن ماجة والبيهقي

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په هره مياشت كي درې ورځي د سهار په وخت شات وخوري نو هغه بيا په هيڅ يو لوئ مصيبت او بلا كي نه مبتلا كيږي . ابن ماجه او بيهقي.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۱۴۲، رقم: ۳۴۵۰، والبيهقي في شعب الايمان ۵\۹۷، رقم: ۵۹۳۰.

تشريح: مطلب دادی چي د شاتو په بركت او خاصيت سره لوی مصيبت او بلا دفع كيږي كه هغه د يو سختي ناروغۍ په صورت كي وي يا په بل صورت كي وي .

د سفر السعادت مصنف ليكلي دي : نبي كريم ﷺ به هره ورځ په يوه پياله كي عسل د اوبو سره په يو ځاى كولو څښل ، علماوو ليكلي دي چي د عسلو په اوبو كي يو ځاى كول او څښل د روغتيا د ساتني لپاره هغه نعمت تر لاسه كيږي چي د هغه په معرفت عارفين ښه پوهيږي، د عسلو بې شمېره ګټي او خواص دي ، چي د هغو په وجه د طبيبانو دا تحقيق او فيصله ده چي عسل ښله شكه يو داسي نعمت الهي دی چي د هغه بدل هيڅ شی نسي كيدای، د جالينوس وينا ده چي په خاصه توګه د ناروغانو لپاره د عسلو څخه غوره هيڅ شی نسته ، طبيبان وايي چي په نهاره د عسلو څښل يا څټل بلغم ليري كوي، معده پاكوي ، فضلات ليري كوي، معتدې ته په

اعتدال سره ګرمي رسوي ، ددې څخه پرته هر ډول رياح (بادونه) زائل کوي ، بولي، حيض او شيدې جاري کوې ، د مثانې او ګردې ډبري ماتوي او رطوبت دفع کوي .

﴿۴۳۷۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِالشِّفَاءَيْنِ الْعَسَلِ وَالْقُرْآنِ. رواهما ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان وقال والصحيح ان الخبر موقوف على ابن مسعود.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوه صحت ورکونکي شيان په ځان باندي لازم کړئ (يعني د هغوى استعمال خامخا کوئ)(۱)- عسل (۲)- قران، دا دواړه حديثونه ابن ماجه او بيهقي په شعب الايمان کي روايت کړى دي او ويلي يې دي چي اصل خبره داده چي اخير حديث پر حضرت ابن مسعود رضي الله عنه باندي موقوف دى .

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۱۴۲، رقم: ۳۴۵۲، والبيهقي في شعب الايمان ۲\۵۱۹، رقم: ۲۵۸۱

تشريح: د عسلو دغه فضيلت ځکه دى چي په دې کي شفاء کېدل د قرآن کريم څخه ثابت دي، لکه څرنګه چي الله تعالى فرمايلي دي : (فيه شفاء للناس) يعني په دغه (عسلو) کي د خلکو لپاره شفاء ده، او خپله قرآن کريم هم د انساني کائناتو لپاره شفاء او رحمت دى لکه چي الله تعالى فرمايلي دي : (هدى وشفاء لما في الصدور) يعني دغه قرآن د زړونو د ناروغيو لپاره هدايت او شفاء دى، مګر په دغه دواړو کي فرق دادى چي عسل خو محض د ظاهري ناروغيو لپاره شفاء دي او قرآن کريم د ظاهر او باطن يعني بدن او روح دواړو ناروغيو لپاره شفاء دى، ځکه چي د قرآن کريم په اړه هدى و شفاء فرمايل سوي دي .

بې ضرورته پر سر دويني کښلو اثر

﴿۴۳۷۱﴾: وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ

د حضرت ابو کبشه انماري رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د يوه زهر لرونکي پسه د

عَلَى هَامَتِهِ مِنَ الشَّاةِ الْمَسْمُومَةِ قَالَ مَعْمَرٌ فَاحْتَجَمْتُ أَنَا مِنْ غَيْرِ سَمٍّ

غوښي په وجه په خپل سر مبارک کي (د وينو د کښلو په خاطر) رګ ولګوى .د دې حديث د يو راوي ((معمر)) بيان دى زما په بدن کي د د زهرو څه اثر نه وو

كَذٰلِكَ فِيْ يَافُوْخِيْ فَذَهَبَ حُسْنُ الْحِفْظِ عَنِّيْ حَتّٰى كُنْتُ أُلَقَّنُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ فِي الصَّلَاةِ. رواه رزين.

مگر ما په خپل سر کي رگ وواهه چي په هغه سره زما حافظه ولاړه تر دې پوري چي ما ته په لمانځه کي الحمد لله ويل کېدل (بل چا به راته ويل). رزين.

تخريج: رواه رزين.

تشريح: د دې څخه معلومه سوه چي د يو علت او سبب څخه پرته د سر څخه وينه کښل ضروري گرځول او پر سر باندي ښکر لگول او وينه کښل قوت حافظه ته د تاوان رسولو سبب دی.

دويني کښلو ورځ

﴿۴۳۷۲﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ قَالَ ابْنُ عُمَرَ يَا نَافِعُ تَبَيَّغَ بِيَ الدَّمُ فَأْتِنِيْ بِحَجَّامٍ

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابن عمر رضي الله عنه وويل: اې نافع! زما په بدن کي وينه جوش کوي، ته وينه کښونکی را وغواړه

وَاجْعَلْهُ شَابًّا وَلَا تَجْعَلْهُ شَيْخًا وَلَا صَبِيًّا قَالَ وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ

ليکن ځوان را وله، کوچنی يا سپين ږيری مه راوله، د نافع بيان دی د دې څخه وروسته ابن عمر رضي الله عنه وويل: ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه دا اورېدلي دي

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الْحِجَامَةُ عَلَى الرِّيْقِ أَمْثَلُ وَهِيَ تَزِيْدُ فِي الْعَقْلِ

چي فرمايل يې: وينه کښل په نهاره زيات بهتره دي، په دې سره عقل قوي کيږي

وَتَزِيْدُ فِي الْحِفْظِ وَتَزِيْدُ الْحَافِظَ حِفْظًا فَمَنْ كَانَ مُحْتَجِمًا فَيَوْمَ الْخَمِيْسِ

او حافظه په تېزيږي او د چا حافظه چي ښه وي د هغه حافظه قوي کيږي، نو څوک چي وينه کښل غواړي نو هغه دي د خداي تعالى نوم واخلي (بسم الله الرحمن الرحيم) او د پنجشنبې په

عَلَى اسْمِ اللّٰهِ وَاجْتَنِبُوا الْحِجَامَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَوْمَ السَّبْتِ وَيَوْمَ الْأَحَدِ

ورځ دي وينه وکاږي او د جمعې، شنبې او د يکشنبې په ورځو کي دي وينه نه کاږي، بيا دي د

وَاحْتَجِمُوا يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالثُّلَاثَاءِ وَاجْتَنِبُوا الْحِجَامَةَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ فَإِنَّهُ

دوشنبې او سه شنبې په ورځو كې د يې وكاږي او د چهار شنبې په ورځ دي وينه نه كاږي

الْيَوْمُ الَّذِي أُصِيبَ فِيهِ أَيُّوبُ بِالْبَلَاءِ وَمَا يَبْدُو جُذَامٌ وَلَا بَرَصٌ إِلَّا فِي يَوْمِ الْأَرْبِعَاءِ أَوْ لَيْلَةِ الْأَرْبِعَاءِ. رواه ابن ماجة.

ځكه چې د چهار شنبې ورځ هغه ورځ ده چې په هغه كې حضرت ايوب عليه السلام په مصيبت كې اخته سو. او د جذام او پيس ناروغي د چار شنبې په ورځ يا شپه باندي ښكاره كيږي. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۱۵۳، رقم: ۳۴۸۷.

تشريح: چې په هغه كې حضرت ايوب عليه السلام په مصيبت اخته سو، ددې ځخه په ظاهره دا معلوميږي چې د حضرت ايوب عليه السلام په مصيبت كې اخته كېدل له دې كبله وو چې هغه د چارشنبې په ورځ وينه كښلې وه او كوم چې ددې خبري تعلق دى نو مفسرينو د هغه په مصيبت كي د اخته كېدو نور هم اسباب بيان كړي دي، نو كېداى سي چې د هغه اسبابو ځخه يو سبب دا هم وي، علماوو ليكلي دي چې په دوهم فصل كي د بي بي كبشه رضي الله عنها بنت ابي بكر چې كوم روايت تېر سوى دى د هغه ځخه دا ثابتيږي چې د سه شنبې په ورځ وينه كښل مناسب نه دي حال چې دلته د هغه پر خلاف بيان سوى دى نو ددغه دواړو روايتو په مينځ كي دا تضاد ددغه قول په ذريعه ليري كېداى سي كه چيري د بې بي كبشه رضي الله عنها روايت صحيح ومنل سي نو دلته په نقل سوي روايت كي به د سه شنبې ځخه مراد هغه سه شنبه وي كوم چې د مياشتي په اووه لسم تاريخ واقع كيږي لكه ځرنګه چې د راتلونكي روايت ځخه هم ځرګنديږي.

د روايت د آخري الفاظو په ذريعه چې كوم حصر بيان سوى دى چې د جزام ناروغي يوازي د چارشنبې په ورځ يا د چار شنبې په شپه كي پيدا كيږي نو دغه حصر د اكثر په اعتبار او د مبالغې په توګه دى.

﴿۴۳۷۳﴾: وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت معقل بن يسار رضي الله عنه ځخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

اَلْحِجَامَةُ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ لِسَبْعَ عَشَرَةَ مِنَ الشَّهْرِ دَوَاءٌ لِدَاءِ السَّنَةِ. رواه

رزين. رواه حرب بن إسماعيل الكرماني صاحب أحمد وليس إسناده بذاك هكذا في المنتقى وروى رزين نحوه عن أبي هريرة.

د سې شنبې په ورځ په اوولسم تاريخ وينه کښل د کالو سر د ناروغيو دوا ده. رزين، امام احمد بن حنبل رح مصاحب حرب بن اسماعيل کرماني روايت وکړ، د دې حديث اسناد قابل اعتماد نه دی. په (المنتقىٰ) کې دا سې د رزين او نورو د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه داسې روايت وکړ.

تخريج: نيل الاوطار شرح منتقى الاخبار ۸\۲۰۸، رقم: ٦.

تشريح: د سه شنبې په ورځ د ويني کښلو په اړه مختلف روايتونه نقل سوي دي ځکه نو غوره او مناسب داده چې د سه شنبې په ورځ د ويني کښلو څخه پرهېز وکړل سي تر څو چې سخته اړتيا رامنځته نسي.

د سحر (جادو) احکام

په دغه باب کې د دم، تعويذ او داسي نورو شيانو اړوند احکام او مسائل بيان سوي دي، اوس کله چې باب ختميږي نو اړينه ده چې په دغه مناسبت سره د سحر او جادو احکام او اقسامو ته ناڅه تفصيل وکړل سي، ددې لپاره په خاصه توګه د شاه عبدالعزيز محدث دهلوي رحمة الله عليه منقولات منتخب سوي دي چې هغه د آيت کريمه: (واتبعوا ما تتلوا الشياطين) سره سم د سحر اقسام او احکام په وضاحت کې بيان کړي دي، ددغه معقولاتو او فرموداتو ترجمه او خلاصه او ددې په رڼا کې ځو نوري خبري هم نقل کيږي.

بايد پوه سو چې د سحر د حکم مختلف صورتونه دي که چيري سحر کونکی يو داسي قول او فعل اختيار کړي چې د کفر موجب وي لکه د بُتانو، پيريانو او ارواح خبيثه نومونه يې په داسي تعظيم او صفت سره ذکر کړي وي چې هغه يوازي د رب العزت شان وي د مثال په توګه ددغه بتانو وغيره لپاره عموم علم، قدرت، تصرف او غيب داني وغيره ثابت کړي وي يا د غير الله لپاره يې ذبح کړې وي يا غير الله ته يې سجده کړې وي، او داسي نور، نو داسي سحر به بېله شکه کفر وي او هغه سحر کونکی به مرتد ګرځول کيږي، همدارنګه کوم څوک چې د خپل يو مطلب د تر لاسه کولو لپاره داسي سحر زده کړی وي نو هغه هم کافر کيږي نو پر هغه به د ارتداد احکام نافذ کيږي که هغه سړی وي نو درې ورځي وخت به ورکول کيږي که په درو ورځو کي هغه صحيح توبه ونه کړل نو هغه دي ووژل سي او د هغه مړی دي وغورځول سي، د مسلمان په

ډول دي د هغه کفن او ښخول نه کيږي او نه دي هغه د مسلمانانو په هديره کي ښخيږي، او نه فاتحه ، درود او صدقاتو په ذريعه هغه ته ثواب ور رسيږي، او كه هغه ښځه وي نو د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب مطابق هغه ته د نارينوو په ډول د درو ورځو وخت ورکولو څخه وروسته دي قتل كړل سي حال دا چي د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه په نزد ښځه دي د تل لپاره بندي کړل سي تر څو چي هغه توبه نصوح ونه کړي او كه په سحر كي يو داسي قول او فعل نه وي چي د ارتداد كفر موجب وي مگر سحر كونكى دد‌ې دعوا وكړي چي زه د خپل دغه جادو په ذريعه هغه كار كولاى سم كوم چي الله جلالہٗ يې كوي د مثال په توگه انسان د حيوان په شكل بدلولاى سم ، يا لرگي ډبري او ډبري لرگي گرځولاى سم ، يا داسي كار كولاى سم چي پيغمبر يې كولاى سي او د هغه د معجزو په ډول زه هم معجزه ښودلاى سم ، د مثال په توگه زه په هواء كي الوتلاى سم يا د يو‌ې مياشتي مسافت په يوه گړي كي كولاى سم نو هغه هم ددغه دعو‌ې په وجه مرتد او كافر گرځي نه د نفس سحر په سبب، كه هغه داسي ووايي چي زما په عملياتو كي يو خاصيت او هغه دا چي زه د خپل عمل او جادو په ذريعه يو ساه لرونكى شى وژلاى سم ، يا يو ناروغ روغ كولاى سم ، يا زه د خلكو خيالاتو ښه او بد جوړولاى سم نو دهغه دغه سحر به د درواغ ويلو او د فسق اختيارولو په حكم كي وي او هغه سحر كونكى به فاسق او كاذب وي، او كه چيري هغه د خپل دغه عمل په ذريعه يو بې گناه څوک هلاک کړي نو هغه ته دي د قزاق او قاتل په ډول د مرگ سزا په وركولو سره قتل كړل سي ځكه چي هغه د خپل دغه عمل په ذريعه فتنه او فساد خپرونكى او د بې خلكو په هلاكت كي اچونكى دى ، په د‌ې اړه به د ساحر او ساحر‌ې په مينځ كي هيڅ فرق نه كيږي .

په يوه روايت كي د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه څخه دا منقول دي چي د كوم سړي په اړه دا معلومه سي چي هغه سحر كوي او د اقرار او تنبيه په ذريعه دا خبره ثابته سي نو هغه بايد ووژل سي ، هغه ته د توبې ويلو او وخت وركولو اړتيا نسته ، كه چيري هغه ووايي چي زه سحر پرېږدم او توبه كوم نو د هغه خبره دي نه منل كيږي ، مگر كه چيري داسي ووايي چي ما مخكي سحر كوى مگر د يو وخت څخه مي دغه كار پرې ايښى دى نو د هغه دغه قول دي قبول كړل سي او هغه دي معاف كړل سي .

امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي : كه يو سړى سحر وكړي او د هغه د سحر په وجه سحر زده مړ سو نو د ساحر څخه جواب طلب كول پكار دي كه هغه اقرار وكړي چي ما په دغه سړي سحر كړى وو او زما اكثر سحر په اكثرو وختو كي سړى وژني نو پر هغه به قصاص وي او كه داسي ووايي چي

ما په دغه سړي سحر کړی وو او زما سحر کله څوک وژني او کله يې نه وژني نو دغه قتل به د شبه عمد په حکم کي وي او پر هغه به د شبه عمد احکام جاري کيږي او که هغه داسي ووايي چي ما په بل چا سحر کړی وو مگر ناڅاپه د هغه سړی نوم هم هغه وو کوم چي د دغه سړي وو يا هغه پر هغه ځای تېر سي چيري چي د هغه بل چا لپاره سحر سوی وو او په دې وجه د هغه اثر پر دغه سړي وسو او هلاک سو نو دا به د قتل خطا په حکم کي وي او پر هغه ساحر به د قتل خطاء احکام جاري کيږي .

دلته يو سوال پيدا کيږي چي په اکثرو ذهنو کي انديښنه پيدا کيږي او هغه دا چي خرق عادت افعال چي محض په قدرت الهي سره صادريږي اکثر د اولياء الله په ذريعه څرگنديږي لکه تقليب اعيان ، تبديل صورت يا دا ډول هغه افعال چي د پيغمبرانو د معجزو مشابه وي لکه مړي ژوندي کول يا د ليري سفر په يوه گړي کي پرې کول ، ددې څخه پرته د اولياء الله څخه داسي نور هم ډېر شيان ثابت دي چي هغوی د اولياء الله په مناقبو کي ليکلي دي ، که چيري افعال الهي غير الله ته منسوب کول کفر وي نو د اولياء الله څخه صادرېدونکي د خرق عادت افعال په صورت کي هم کفر لازمېدل پکار دي او که دا وويل سي چي د اولياء الله څخه کوم خارق العادت فعل صادريږي نو هغه په حقيقت کي د هغوی فعل نه وي بلکه د الله تعالی قدرت او د هغه په حکم سره وي ، او اولياء الله د هغه فعل د صادر کېدو يو ظاهري سبب او ذريعه وي نه حقيقي فاعل، بلکه ددې څخه پرته دعاء ، تعويذ کونکی او عاملين چي د خپلو عملياتو او دعاوو په ذريعه د ساحرانو په ډول څومره محير العقول کارونه کوي .

او همدارنگه هغوی په پوره توگه د ساحرانو مشابه وي نو د هغوی پر افعالو هم د کفر اطلاق ولي نه کيږي او د هغوی او ساحرانو په مينځ کي فرق ولي کيږي؟ ددې جواب دادی چي خارق العادت افعال د معجزاتو مشابه وي که څه هم بل ډول وي ټول د الله تعالی په قدرت کي دي او د هغه په ارادې او حکم سره او د هغه په پيدا کولو سره صادريږي ، په دې اعتبار سره د اولياء الله په لاس ظاهرېدونکي خرق عادت افعال او د ساحرانو څخه صادرېدونکي خارق العادت افعالو کي هيڅ فرق نسته ځکه چي د اولياء الله څخه کوم شيان د کرامت په صورت کي صادريږي هغه هم يوازي د الله تعالی په حکم او ارادې سره پيدا کيږي ، مگر په دغه دواړو صورتو کي چي کوم فرق دی او د کوم فرق په وجه چي د کفر او عدم کفر حکم لگيږي هغه دادی چي اولياء الله يا دعاء او عاملينو د دغه افعالو نسبت غير الله ته نه کوي بلکه د الله تعالی قدرت يا د هغه اسماوو ته يې کوي ځکه پر هغوی د کفر او شرک اطلاق نه کيږي ، حال دا چي ساحران دغه

افعال غير الله يعني ارواح خبيثه ، بتانو وغيره ته كوي ځكه هغوی دغه افعال په خپل واک او خپل حكم كي ګڼي، او د هغه افعالو په عوض كي مزدوري اخلي ، د دغه پيريانو او بتانو په نامه د نذر او قرباني كولو مطالبه كوي او څرګنده ده چي دغه شيان شرک او كفر لازموي، ددې مثال داسي دی لكه چا ته بچی وركول ، په رزق كي پراخي تر لاسه كېدل او د ناروغۍ څخه شفاء تر لاسه كول او داسي نور كارونه د الله تعالى افعال دي او د هغه د حكم او ارادې لاندي دي مګر ګمراه خلک ددې نسبت ارواح خبيثه ، پيرانو او فقيرانو ته كوي او وايي چي موږ د فلاني پيري څخه زوی غوښتی وو نو هغه موږ ته راكړ ، موږ د فلاني په نامه نذر منلی وو نو هغه موږ ته په رزق كي پراختيا راكړل او موږ فلاني بزرګ او فقير ته خواست كړی وو او ددې مقصد لپاره د هغه پر مزار مو نذر كړی وي نو هغه موږ ته شفاء راكړه، يعني د هغوی په نزد ددغه شيانو وركونكی الله تعالى نه دی بلكه غير الله دی، نو داسي خلک كافر كيږي ، ددې پر خلاف الله منونكي او د هغه پر احكامو باندي عمل كونكي خلک ددغه شيانو لپاره جائز ذرائع او اسباب لكه دعاء، تعويذ، دم يا علاج مرسته اخلي نو هغوی ته په خپل مقصد كي كاميابي تر لاسه كيږئ نو ددغه امورو نسبت الله تعالى ته كوي او دا عقيده لري چي موږ ته كوم شی تر لاسه سوی دی هغه د الله تعالى له لوري راكړل سوی دی ، مګر د هغه په تر لاسه كېدو كي د اسماء الهي، دعاوو او تعويذ تاثير يا د دواء خواص د يو ظاهري سبب او ذريعې درجه لري ، له دې كبله د هغوی په ايمان كي څه خلل نه پيدا كيږي .

د سحر تعريف او حقيقت

دلته دا ښودل اړين دي چي د سحر تعريف او حقيقت څه شي دی؟ او د سحر كوم ډول د كفر سبب دی ، كوم د فسق سبب دی او كوم ډول مباح دی؟ يعني په شريعت كي جائز دی، ددې تفصيل كه څه هم اوږد دی مګر په اجمالي توګه بايد په دې پوه سو چي د سحر حقيقت او تعريف دادی چي د دعاوو او اسماء الهي د عملياتو وغيره په ذريعه د الله تعالى څخه مرسته او اعانت تر لاسه كولو پر ځای د خفيه اسباب مزاولت (يعني دمخفي طاقتونو بندګي او د هغوی د تسخير په ذريعه خوارق عادات او افعال عجيبه باندي قدرت تر لاسه كول . او د هغه خوارق عادات او افعال عجيبه نسبت قادر مطلق (الله جل جلاله) ته د كولو پر ځای غير الله ته كوي، او په عالم كي اسباب خفيه پر څو ډوله دي، ځكه د سحر هم ډولونه متعدد دي چي هغه په داسي ډول فهمول كېدای سي چي هغه خفيه سبب يا خو د روحانيت تاثير دی يا د جسمانيت تاثير ، بيا

روحانیت یا خو کلیه مطلق دی لکه کواکب او افلاک یا د عناصرو روحانیت یا هغه روحانیت جزیه خاصه دی لکه امراض او د جن او شیاطینو روحانیت، او هغه ارواح چي د انساني بدن څخه راوځي او د هغه په مسخر کولو سره د خپل مقصد لپاره استعمالیږي ، کوم چي د جسمانیت تعلق دی نو هغه یا خو ترکیب او د اجتماع د کیفیاتو د سبب څخه تاثیر کوي چي د هغه څخه عجیب او غریب خبري څرګندیږي یا د خواصو د سبب څخه تاثیر کوي یعني د هغوی صورت نوعیه د یو ترکیب او اجتماع کیفیات د توسط څخه پرته په خپله تاثیر کوي لکه څرنګه چي آهن روبا او سپنه راکشوي .

پاته سوه دا خبره چي هغه روحانیت یعني هغه پټ او مخفي طاقتونو څخه مناسبت څرنګه تر لاسه کیږي او د هغوی تاثیر څرنګه مائل کیږي نو ددې مختلفي طریقې دي ، ځیني خلک په یو څو خاصو شرطو سره د هغه روحانیت نوم اخلي او د مقصد د تر لاسه کولو لپاره هغوی ته ملتجي کیږي ، ځیني خلک د هغه د عکس په جوړولو سره د هغه په وړاندي نذر مني او هغه کار کوي چي هغوی ته خوښ وي، یا په خاصه طریقه او خاصو شرطو سره ځیني حروف او الفاظ بېله د ترکیب د لحاظ څخه وایي چي د هغه په ذریعه هغوی دغه روحونه د یو روح لویي یا داسي عجیب او غریب کار ته اشاره کوي چي د هغه څخه کله نا کله سوی وي او د هغه په وجه عام او خاص د هغه په مدح او ثناء کي رطب اللسان سوي وي، خلاصه دا چي د سحر کولو مختلف عملیات او مختلف صورتونه دي او د هغه عملیاتو او صورتونو په نتیجه کي د سحر مقصد او ډېر ډولونه مخته راځي مګر کوم قسمونه چي زیات مشهور دي هغه یو څو دي او په هغو کي لومړی ډول چي تر ټولو لوی ګڼل کیږي د کلدانیانو او بابل سحر دی، او د هغه د باطل کولو لپاره حضرت ابراهیم علیه السلام را استول سوی وو، ددغه سحر د علم اصل د هاروت او ماروت څخه را روان دی، ویل کیږي چي د بابل خلکو د هاروت او ماروت څخه ددغه سحر علم او طریقه زده کول او بیا یې د هغه په ذریعه خپل مقصد تر لاسه کوی، او په هغه کي یې مختلف تحقیق او تجربې کړي وې او دغه علم یې ډېر پراخ کړی وو، همدارنګه کلدانیان چي په بابل کي اوسېدل ددغه علم تر لاسه کولو لپاره مختلف تکلیفونه او هڅي کولې او ددې په ذریعه یې نوي شیان پیدا کول .

د تاریخ په معتبرو کتابو کي لیکلي دي چي د بابل حکیمانو او ددغه فن ماهرینو د نمرود په زمانه کي په خپل ښار بابل کي چي د نمرود دار السلطنت وو ددغه سحر په ذریعه داسي شپږ حیرانونکي طلسمات جوړ کړي وه چي د هغو حقیقت او کیفیات د انساني پوهي او ذهن څخه

لوړ وو، لومړی طلسم دا وو چې هغوی د مسي يوه هيلۍ جوړه کړې وه چې ښار ته به يې د ناخوښه او مضرو کسانو د داخليدو خبر ورکوی، کله چې به د بل هیواد څخه يو جاسوس، دښمن، غل یا بل ناخوښه کس داخل سو نو د هغه هيلۍ څخه به يو خاص آواز راوتی، د ښار ټول خلک به د هغه آواز په اوريدو سره د هغه په مقصد پوه سول او هغه جاسوس وغيره به يې ونيوی

دوهم طلسم دا وو چې هغوی يوه نغاره جوړه کړې وه، ددې لپاره چې کله به په ښار کې د يو سړي څخه يو شی ورک سو نو هغه به نغاره ووهل چې د هغه په نتيجه کې به د هغه نغارې څخه داسې آواز وتی چې ستا فلانی شی په فلاني ځای کې دی، نو د پلټنې څخه وروسته به هغه شی په هغه ځای کې تر لاسه سو.

دريم طلسم دا وو چې هغوی د ورک سوي سړي د پلټنې لپاره يوه هنداره جوړه کړې وه، کله چې به په ښار کې د يو چا د کور څخه يو سړی غائب سو نو هغه به هنداري ته راغلی او په هغه کې به يې د خپل ورک سوي کس حال کتی، که چيري هغه ورک سوی کس به په يو ښار کې وو يا په ځنګل وغيره کې وو، همدارنګه هغه ناروغ وو، روغ وو يا مفلس وو يا شتمن وو، خلاصه دا چې هغه به په کوم ځای کې او په کوم حال کې وو هغه حال او ځای به په هنداره کې څرګنديدی.

څلورم طلسم دا وو چې هغوی حوض جوړ کړی وو چې د هغه پر غاړه به د کال په پېل کې يو جشن جوړيدی، د ښار ټول سرداران او معزز کسان به د خپل خوښې د څښناک په اخيستلو سره د هغه حوض پر غاړه يو ځای کېدل او کوم چا چې به د ځان سره کوم څښناک راوړی وو هغه به يې په هغه حوض کې غورځوی، بيا به ساقيانو د هغه حوض پر غاړه باندې په دريدو سره په خلکو څښښل پېل کړل او د هغه حوض څخه به يې را کښښل او ورکول يې نو هر سړي ته به هغه خوښ څښناک تر لاسه کېدی کوم چې به يې د ځان سره راوړی وو.

پنځم طلسم دا وو چې هغوی د خلکو د جګړې ختمولو لپاره يو تالاب جوړ کړی وو، کله چې به د دوو کسانو په مينځ کې يوه جګړه رامنځته سوه او دا به نه معلوميدل چې کوم يو پر حق دی او کوم يو ناحقه دی، نو دواړه کسان به د هغه تالاب غاړي ته راتلل او بيا به په هغه کې لويدل نو کوم سړی چې به پر حق وو د هغه تالاب اوبه د هغه د نامه تر لاندي پوري راتللې او هغه به نه غرقېدی او کوم سړی چې به پر حق نه وو نو اوبه به د هغه سړي پر سر راغلې او هغه به يې ډوب کړ، مګر کله چې به هغه د مخالف کس حق ومنی او خپل د درواغو دعوه به يې پريښودل نو بيا به د غرقېدو څخه وژغورل سو.

شپږم طلسم دا وو چې هغوی د نمرود د ماڼۍ په مېدان کې يوه درخته لګولې وه چې د هغه په

سایه کي به د دربار خلک ناست وو، د خلکو شمېر چي به څومره زیاتېدی په هغه اندازه به سایه هم زیاتېدل، تر دې که چیري شمېر به یو لک ته ورسیدی نو سایه به هم زیاتېدل او که چیري د دغه شمېر څخه به یو سړی هم زیات سو نو بیا به سایه بالکل ختمېدل او ټول خلک به په لمر کي ناست پاته سول، ویل کېږي چي په دې اړه نه یوازي د بابل خلکو برخه اخیستل بلکه د هغوی پاچا نمرود هم په دې کي ډېره برخه درلودل او د دغه علم یې پوره سرپرستي کول، ویل کېږي چي د سحر دغه ډول تر ټولو زیات سخت او مشکل دی، مګر که یو سړی د سخت تکلیف او ریاضت څخه وروسته د دې حقیقت ته ورسیږي او په دغه فن پوه سي نو بیا هغه ته دومره طاقت او قدرت تر لاسه کیږئ چي هغه د انسان عادت مخالف امورو ظاهرولو او د انساني عاداتو موافق امورو منع کولو باندي هم قادر کیږي. د مثال په توګه هغه د هغه ناروغیو علاج هم کولای سي چي د هغه د معالجې څخه د دنیا طبیبان عاجزه وي د مثال په توګه ابرص، جزام او داسي نور، ځکه چي داسي سړی د روحانیاتو یعني طاقتونو په ذریعه تدابیر او عمل کوي او طبیب د جسمانیت په ذریعه تدبیر کوي.

کله چي حضرت ابراهیم علیه السلام پیدا سو او الله تعالی پر هغه باندي د اجسامو او ارواحو ټول حقیقتونه څرګندل کړل او هغه هر جسم او روح د قادر مطلق تر قدرت لاندي مجبور او بې کسه ولېدل نو د ټولو څخه په مخ ګرځولو سره ذات واحد حقیقي ته متوجه سول لکه څرنګه چي الله تعال ید قرآن کریم په سورة انعام کي فرمایي: (وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ .... وَمَا أَنَاْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ).

ژباړه: موږ په داسي توګه ابراهیم (علیه السلام) ته د اسمانو او ځمکي مخلوقات وښودل چي هغه عارف سي او د کامل یقین کونکو څخه سي بیا چي د شپې تیاره پر هغه خپره سوه نو یو ستوری یې ولېدی نو هغه وویل دا زما رب دی بیا چي هغه ډوب سو نو هغه وویل زه غروب کېدونکي سره محبت نه کوم، بیا چي ځلانده سپوږمۍ یې ولېدل نو هغه وویل دغه زما رب دی، بیا چي هغه ډوبه سوه نو هغه وویل که زما رب ما ته هدایت ونه کړي نو زه به په ګمراهانو خلکو کي سم، بیا چي کله ځلانده لمر یې ولېدی نو هغه وویل دا زما رب دی دا تر ټولو لوی دی، بیا چي کله هغه هم ډوب سو نو هغه وویل: اې قومه! بېله شکه زه ستاسو د شرک څخه بېزاره یم زه خپل رخ هغه ذات ته کوم چي هغه اسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي او زه د شرک کونکو څخه نه یم.

څرګنده دي وي چي د سحر کوم ډول مخکي ذکر سوی دی هغه خاص کفر او شرک محض

دی ځکه چي د دغه سحر علم تر لاسه کول د پنځلسو شرطونو پر پابندي موقوف دی، چي په هغو کي تر ټولو لومړی او بنیادي شرط دادی چي ارواح عالم الغیب او احوال قلب خبردار ومنل سي او په هغوی د عجز او جهل ګمان هیڅکله ونه کړل سي کنه نو بیا به هغه ارواح د هغه خبره بالکل نه مني او مقصد ته به یې نه رسوي.

د کواکبو او سیاراتو روحانیت یعني د هغوی د قوتونو د مرستي تر لاسه کولو او د هغوی تاثیر متوجه کولو لپاره چي کومه طریقه بیانیږي هغه داده چي مخکي د روحانیت قمر تاثیر ددغه الفاظ د ورد په ذریعه متوجه کوي: (ایها الملک الکریم والسید الرحیم مرسل الرحمة ومنزل النعمة) او د عطارد تاثیر او متوجه کېدو او تر خپل اثر لاندي راوستلو لپاره ددغه الفاظو ورد کیږي: (کل ما حصل لي من السحر فهو منک وکل ما یندفع من الشر مني فهو منک). د نورو کواکبو (ستورو) او سیاراتو څخه د مرستي تر لاسه کولو او د هغوی د تاثیر متوجه کولو لپاره چي کومو الفاظ مرسته اخیستل کیږي هغه هم پر دې قیاس کیدای سي، څرګنده ده چي داسي عقیده درلودل کوم چي ددغه الفاظو څخه څرګندیږي او داسي الفاظ د ژبي څخه وتل د عقیده توحید، اسلامي تعلیماتو او ملت حنفي خلاف دي.

د سحر دوهم ډول هغه دی چي په هغه کي جنات او شیاطین مسخر کیږي او د هغوی څخه مرسته اخیستلو مقصد تر لاسه کیږي، دغه ډول سهل الحصول هم دی او کثیر الرواج هم دی، جناتو او شیاطینو په دغه تسخیر کي چي د کوم شیانو اختیارول ضروري دي په هغو کي د ځینو خاصو الفاظو او اعمالو په ذریعه د هغوی سره د تعلق پیدا کولو څخه پرته د هغوی تابعداري کول، د هغوی په نامه نذر کول، د هغوی خوښه خوشبویي وغیره د هغوی د راتلو پر ځایو ایښودل، چیري چي د هغوی راتلل تصور وي هلته د لاس په جوړ کولو سره کښېښستل او هغوی په خپل وړاندي موجود ګڼلو سره هغوی ته زاري کول او هغوی ته د حاجت التجا کول او داسي نور خاص اعمال دي، او ددغه ټولو شیانو څخه صریح کفر لازمیږي.

د سحر دریم ډول هغه دی چي په هغه کي هغه انساني ارواح مسخر کیږي چي هغوی بدن پرې ایښی وي، ددغه ډول اختیارولو لپاره تر ټولو وړاندي ددې خبري ضرورت وي چي د یو داسي مړ انسان معلومات وکړل سي چي قوي الجثه او قوي القلب تېر سوی وي، بیا دځینو خاصو عملیاتو او خاصو الفاظو د ورد په ذریعه د لوی جناتو ذکر او دهغوی ډېر زیات تعظیم او توقیر باندي مشتمل مضامین دي، هغه ارواح خپلي خوا ته متوجه کیږي نو د هغه الفاظو او عملیات په زور سره او د نذر ایښودو په ذریعه هغه روح داسي په خپل واک او اختیار کي

راوستل کيږي چي د غلام او نوکر په ډول هغه ته چي کوم حکم ورکول کيږي هغه تر سره کوي، دغه عمل هم کفر لازموي يا کفر ته نژدې دی او اغلب داده چي داسي ارواح چي په دغه سفلي او شهواني عملياتو په ذريعه متوجه کيږئ په اصل کي د هغه انسانانو ارواح دي چي د کفر، شرک ، فسق او خبث په حالت کي مړه سي نو دغه عمل په سحر کي د خباثت مخالفت هم لازميږي.

د سحر څلورم ډول هغه دی چي په هغه کي د ځينو جناتو د ارواحو په ذريعه د يو سړي په خيالاتو او تصوراتو کي خلل اچوي او د هغه ذهن فاسد کوي چي هغه ته د حقيقت د خلاف څه معلوميږي يا هغه د خپل صورت هائله متخيله څخه بيريږي يا غير واقعي شيان واقعي ګڼل پيل کړي، د سحر دغه ډول ته نظر بندي يا خيال بندي وايي، ځينو مفسرينو د آيت کريمه : (يخيل اليه من سحرهم انها تسعی) سره سم ويلي دي چي د فرعون د ساحرانو سحر دغه ډول وو چي د حضرت موسی علیہ السلام ورسره واسطه راغلې وه، د حضرت موسی علیہ السلام په خيال کي هغه ټول لرګي او رسۍ ماران معلومېدل چي د فرعون جادوګرانو د هغه د بيرولو لپاره د هغه په مخکي اچولي وه ، همدارنګه که چيري سحر د نبي د معجزې په مقابله کي وي چي د هغه د نبوت دليل او شهادت ختم کړل سي نو د حرام او ګناه کبيره په حکم کي به وي او که د هغه نظر بندۍ مقصد يو سړي په دوکه کي اچول وي يا د يو سړي عزت او ابرو يا د هغه په مال کي خباثت کول وي نو د ګناه کبيره په حکم کي به وي، د دې څخه معلومه سوه که چيري د سحر دغه ډول که څه هم بنفسه کفر نه دی مګر د يو سړي پر خيالاتو او تصوراتو باندي د اثر لپاره ، يا داسي به ووايو چي د هغه د نظر بندۍ د کاميابه کېدو لپاره د جناتو د ارواحو څخه مرسته غوښتل يا التجا کول ضروري وي نو په دې سره کفر لازميږي په شرط د دې چي په هغه مرسته او اسماوو کي د هغه جناتو د ومره زيات تعظيم او توقير وکړل سي چي د توحيد د عقيدې خلاف وي.

د سحر پنځم ډول هغه دی چي په هغه کي انسان خپله د خپل خيال او د حواس خمسه قوتونه په دماغ کي په يو ځای کولو سره کمال يکسوئي پيدا کولو سره يو داسي قوت او قدرت تر لاسه کوي چي د هغه په ذريعه هغه خيال چي د هغه په قوت متخيله کي وي (او د هغه تر لاسه کول غواړي) په مشکل کولو سره مخته راولي او د بدني طول او عرض او عمق حدودو او قيوداتو څخه د ازادۍ تر لاسه کولو سره د سمريزم په طاقت سره شعبده ښيي او په يوه نظر سره دوه متصل شيان په متصل کولو سره ښيي او دوه بېل بېل شيان په يو ځای کولو سره ښيي، د سحر ددغه ډول هم اوس نوم او نښان نسته مګر په پخوا زمانه کي په هندوستان کي په ځينو پخوانيو قومو کي دا ډول سحر ډېر رواج وو، ددغه ډول سحر د تر لاسه کولو لپاره د نورو ډېرو شرطو

سره سره دوه تر ټولو زیات ضروري او اهم شرطونه په خوراک او څښناک کي بالکل کمي او د خلکو څخه بېلوالي اختیارول دی، په دې باره کي شرعي حکم دا دی که چیري ددغه سحر په ذریعه د یو مباح شي تر لاسه کول مقصد وي لکه د دوو زناکارو په مینځ کي بېلوالي راوستل یا د یو ظالم وژل نو د سحر دغه ډول به جائز وي او که د یو منع شي تر لاسه کول مقصد وي لکه د ښځي او خاوند په مینځ کي بېلوالی راوستل یا یو معصوم انسان هلاکول نو بیا دغه ډول سحر به هم حرام وي.

د سحر شپږم قسم هغه دی چي د دواوو یا مخفي شیانو په معلومولو سره د هغه په ذریعه عجیب او غریب شیان ښودل کیږي، او عام خلک ددغه مخفي خواصو څخه بې علمه وي، ځکه اکثر فقیران او پیران په خپلو حېلو سره خلک پر ځان عاشق کوي، د مثال په توګه یو سړی دا غواړي چي زه په خلکو کي د خپل کرامت څرګندولو لپاره خپل ګوتي ځلانده کړم نو د هغه طریقه داسي اختیاروي چي لږ سره نوره په کابلۍ سورکه کي په خشتولو سره د هغه سره لږ د دریاب ځګ یو ځای کړل سي او بیا ګوتو ته د هغه لیپ ورکړل سي او کوم ځای چي لیپ ورکړل سي هلته رال وڅخول سي اوس د خلکو په یو داسي مجلس کي چیري چي شمع یا څراغ لګیږي هغه ګوته د څراغ د رڼا په وړاندي راځي نو هغه ګوته به ځلانده سي او نه سوځي.

د سحر اووم ډول هغه دی چي په هغو کي د ایجاد سوو عجیب او غریب آلاتو په مرسته ځینو شیانو ته په ترکیب ورکولو سره حیرانونکي کارونه تر سره کیږي، هغه آلات اېجادول په عامه توګه په مختلفو علومو او فنو کي پر تعمق او تحقیق باندي منحصر وي، ویل کیږي چي د فرعون د ساحرانو جادوګري په نظر بندۍ او شعبده بازۍ سره داسي فني مهارت وو چي نن سبا سائنسي ایجادات هم په دغه ډول کي شاملېدای سي.

د سحر اتم ډول هغه دی چي په هغه کي د لاس د صفائي په ذریعه مختلف کارونه ښودل کیږي او خلک ورته حیرانیږي، د سحر په دغه ډول کي د لاس د سرعت سره یو څو خاص پټ حرکات هم وي.

د سحر دغه درې آخري ډولونه نه خو کفر دي او نه حرام دي مګر که چیري د یو حرام کار د تر لاسه کولو لپاره ذریعه وګرځول سي نو بیا د حرمت حکم ثابتیږي.

څرګنده دي وي چي د سحر کوم اته ډولونه بیان سوي دي دا یوازي په لفظي اعتبار دي ځکه چي په عربي ژبه کي سحر یعني جادو هر هغه شي ته وایي کوم چي محیر العقول (د عقل حیرانونکي) وي او د هغه سبب د نظرو څخه پټ وي، که د سحر یا جادو اصطلاحي او حرفي

مفهوم او د هغه د مشهور تعریف او حقیقت اعتبار وکړل سي نو په اصولي توګه د سحر درې ډوله دي یو خو هغه سحر چي په هغه کي د کواکبو او سیاراتو د قوتونو څخه مرسته اخیستني سره محیر العقول طلسمات څرګند کړل سي ، دوهم هغه سحر چي په هغه کي د جنات ، شیاطین او مړه انسانانو د ارواحو په تسخر کولو سره حاجت روایي وکړل سي، دریم هغه سحر چي په هغه کي خپل خیال او د حواس خمسه قوتونه په دماغ کي په جمع کولو سره د نظر بندۍ کمال تر لاسه کړل سي .

د سحر بدل څه شي دی ؟

په دې خبره پوهېدل ضروري دي چي د دغه امت اذکیاء او عارفین د سحر په ذکر سوو ډولو کي د اکثر په اصلاح کولو سره او د هغو د بنیاد څخه دکفر او شرک غلاظتونه لیري کولو سره هغه یې د عملیات په صورت کي وړاندي کړي دي چي د هغو څخه مختلف روحاني او بدني ګټې تر لاسه کېدای سي، د سحر د اول ډول اصلاح دعوت علوي دی، دا هغه عمل دی چي په هغه کي ملائکه علویه د اسماء الهي او ایات قرآني په مرسته سره مسخر کیږي، د دوهم ډول اصلاح عزائم او دعوت سفلي دی ، په دغه عمل کي د مځکي مؤکلات او جنات مسخر کیږي مګر په دغه تسخیر کي هم نه د کفر او شرک آمیزش وي او نه د غیر الله تعظیم او توقیر وي، بلکه دغه جنات او شیاطین د حکم او تسلط په ذریعه مسخر کیږي ، د دریم ډول اصلاح هغه عملیات دي چي د هغو په ذریعه د صالحانو او اولیاء الله ارواح طیبه سره ربط او تعلق پیدا کیږي او په عامه توګه د داسي بزرګانو دغه عملیات اختیارولو سره خپل او د مخلوق خدا په مقاصد او حوائجو کي ګټه تر لاسه کوي، ددغه عملیاتو بناد طهارت، پاکي، تلاوت قرآن، اوراد او وظائف او هغه ارواحو ته د صدقو او خیراتو ثواب رسولو باندي دی،

د پنځم ډول اصلاح عقد همت دی چي د لوړي درجې مشائخ او صوفیان یې د مشکلاتو د حل لپاره اختیاروي چي په هغو کي بنیادي کارو څخه بې خبري پیدا کولو سره او خپل فکر او خیال په یو ځای کولو سره د اسماء الهي څخه د یو پاک اسم په غور او فکر کي د استغراق درجه تر لاسه کوي ، د شپږم ډول اصلاح هغه عملیات وي چي په هغو کي آیات قراني او د اسماء الهي په خواصو کي په تحقیق او پلټني کولو سره په هغه خاص ترکیب او شرطو سره یا د هغوی د اعداد په صورت کي نقشونه او تعویذونه لیکل کیږي، یا د دعاوو په ذریعه دم کیږي لکه څرنګه چي د نقش او تعویذاتو او اورادو په کتابو کي د دې تفصیل لیکلی دی .

خلاصه دا چي په سحر کي کومه خرابي ده هغه محض له دې کبله ده چي د هغه بنیاد کفر، شرک، د کواکب (ستورو)، سیاراتو، جناتو، شیاطینو او ارواح خبیثه پر تاثیر باندي اعتقاد دی او د هغه شخه ګټه تر لاسه کول پر دې موقوف وي چي غیر الله ته د مرستي او اعانت التجاء وکړل سي او هغوی حاجت پوره کونکي وګڼل سي، او پر اسبابو او ذرائعو باندي داسي اعتماد وکړل سي، مسبب یعني د الله تعالی قدرت بالکل پرېښودل سي او کله چي د خرابۍ دغه وجه بالکل لیري سي نو بیا د اصل حرمت او حلت مدار پر اغراض او مقاصدو باندي وي که د یو نیک او مباح مقصد لپاره وي نو د سحر او عملیاتو په طاقت سره ګټه تر لاسه کول به جائز وي او که مقصد یو خراب شی او ناجائز کارو سره اړوند وي نو په دغه صورت کي به د سحر د طاقت شخه ګټه تر لاسه کول ناجائز وي.

کوم علم چي ګټه رسونکی نه وي د هغه شخه ځان ساتل هوښیاري ده

شاه عبدالعزیز رحمه الله د دغه آیت کریمه (واتبعوا ما تتلو الشیاطین ..... ما لا یضرهم ولا ینفعهم) په تفسیر کي لیکي چي یهودیانو به دغه دواړه ډول سحر زده کولو باندي اکتفاء نه کول کوم چي ډېر بد او قبیح دی بلکه هغوی به خپل وختونه او خپل صلاحیتونه د نورو داسي علومو په تر لاسه کولو کي هم صرف کول چي د علم شریعت او وحي الهي شخه د لیري کېدو ذریعه او سبب جوړېږي نو هغوی به داسي علوم زده کول چي د هغوی لپاره به تاوان کونکي وه، شخه هم نورو ته تاوان نه رسوي او هغوی ته خپله هم ګټه نه تر لاسه کېدل، نو د هوښیارۍ او ... تقاضا داده چي انسان د هر هغه علم او فن شخه ځان وساتي چي د ګټي پر ځای یو تاوان رسونکي وي، څرګنده دي وي چي د هر سړي په اړه د یو علم بد او معیوب کېدل د درو جهتو شخه د یو جهت په سبب وي، یو خو دا چي د هغه علم شخه خپل ځان ته یا نورو ته د خوف رسولو بېره وي لکه د سحر او طلسماتو علم، د نجوم علم هم په دې کي داخل دی ځکه چي د دې په ذریعه اکثر خلک د عقیدې په ګمراهۍ کي په اخته کېدو سره خپل اخروي تاوان کوي، کله چي هغوی د مځکي او کواکب په خپلو ربط ویني او علم نجوم هغوی ته ښیي چي د مځکي پر کره باندي راتلونکي تغیرات او واقعات د اجرام فلکي حرکت او سکون او د سیاراتو د چلېدو تر اثر لاندي وي نو د هغوی په ذهن کي دا خبره کښیني چي په عالم کي کومه حادثه او تغیر رامنځته سوی دی هغه د فلاني ستوري، فلاني برج او د فلاني درجې د تاثیر په سبب دی، په دا ډول هغوی د خپلو مقاصدو د تر لاسه کولو امېد یا د مقصد د فوت کېدو له بیري شخه ستورو

او د هغوی بروج او منازل وابسته کوي یعني هغوی دا عقیده جوړوي که فلانی ستوری فلانی برج او فلاني منزل کي داخل سي نو زموږ فلانی مطلب به تر لاسه سي او که فلانی ستوری په فلاني برج کي داخل سي نو زموږ فلان مطلب به تر لاسه نسي، یعني د هغوی توجه د الله تعالی څخه لیري کیږي چي د هري ګټي او تاوان حقیقي مالک دی او د هغوی پر زړه یوه داسي پرده لویږي چي هغوی د نظر الي الله څخه منع کوي.

دوهم دا که چیري هغه علم په خپله تاوان رسونکی نه وي مګر د هغه تر لاسه کونکی دعوه ګر د هغه حقائقو او نکاتو او د هغه باریک او مخفي کونجونو پوري د خپل عدم صلاحیت او عدم استعداد په وجه نسي رسیدای نو څرګنده ده چي داسي سړی چي د علم حقائق او دقائقو ته رسېدل تر لاسه نه کړي نو د هغه علم فاضل او ماهر کېدو څخه پاته سو مګر په جهل مرکب کي خامخا اخته کیږي ځکه د بې صلاحیته خلکو د اسرار او رموز الهیه احکام شرعیه په باره کي بحث او تمحیص کول، د زیاتو فلسفیانو په علومو کي وخت ضائع کول، قضا او قدر، صبر او اختیار په مسئلو کي تحقیق او پلټنه کول د مسئله توحید وجودي او شهودي پر لاره تلل او د ځینو صحابه کرامو په مینځ کي چي کوم نزاعات او خصومات پیدا سوي وه هغه د علم او تحقیق په نامه څېړل او په هغه پسي لګېدل، او داسي نور شیان دي چي د ذکر سوو علم په زمره کي شمېرل کیږي، همدارنګه د شعر او شاعری فن علم نه ګڼل کیږي ځکه چي د شعر او شاعری بنیاد د حسن مضامین او ناپاکه خیالاتو او تصوراتو باندي وي او د غه شی د عوامو په حق کي چي د هغوی زړه او دماغ د نفساني خواهشاتو او جذباتو څخه ډک وي، زهرجن تاثیر لري او په ټولو چارو کي د تخیل پردازی او مبالغې ملکه پیدا کوي.

دریم دا چي د شریعت سره په اړوند علوم محموده کي بې ځایه فکر او تعمق وکړل سي او په دې کي د افراط او تفریط څخه کار واخیستل سي لکه د عقائدو او توحید په علومو کي باریکی را ایستل او نور شرعي علوم او قواعدو کي د عقل او منطلق غیر موزون او غیر ضروري نکتې وکړل سي او په فقهي احکامو او مسائلو کي بې ځایه لټون کولو سره بې اصل حیلې او نادر روایات او اقوال بیان کړل سي همدارنګه د سلوک او ریاضت په علم کي داسي اصول او قواعد او اعمال او اشغال داخلول چي د جوګیانو وغیره طریقه ده، یا د دعوت اسماء الهي او نورو عملیاتو کي د سحر او طلسماتو اصول او قواعد ګډول یا د انبیاء علیهم السلام په قصو او حالاتو کي د یهودو او روافضو په ډول د معاندینو د دروا غو قصې او روایات اورول یا هغه بیانول چي هغه عقائد وغیره هم په دغه حکم کي شامل دي.

خلاصه دا چي د علم کوم ډولونه بیان سول د هغو متوقع کتي خلکو ته نه رسیږي بلکه د هغوی لپاره تاواني وي ، یهودیانو به په عامه توګه دا ډول بې مقصده او بې ګټي علومو کي بوخت او مصروف وو او د اصل علومو محموده څخه یې مخ ګرځولی وو .

============

بَابُ الْفَالِ وَالطِّيْرَةِ (د ښه او بد فال بیان)

فال په اصل کي مطلق شګون ته وايي مګر په عامه توګه د دغه لفظ استعمال د ښه فال په معنی کي استعمالیږي ، د نېک فال مطلب دادی چي د یو ښه خبري او ریدل یا یو ښه شي ته کتل چي د هغه څخه د خپل مقصد تر لاسه کېدو توقع پیدا سي، د مثال په توګه یو سړی ناروغ وي او په دغه تردد کي وي چي روغ به سم که یا، په دغه حالت کي هغه واوري چي ثوک یا سالم وايي، یا یو سړی د جنګ په میدان کي وي او د یو چا سره یې ملاقات وسو چي د هغه نوم ظفرخان یا فتح علي وو ، یا د مثال په توګه یو سړی د یو شي غوښتونکی وي یا د هغه څخه یو شی ورک سوی وي او د هغه پلټنه کوي نو په دغه دوران کي د هغه غوږ ته یا واجد آواز راسي ، ځیني حضرات وايي چي کله لفظ د فال په بدی سره هم استعمالیږي لکه چي ویل کیږي چي فلانی شي واقع کېدل خراب فال دی یا د ژبي څخه خرابه خبره را ایستل بد فالي ده .

طیرة : د تطیر (یعني بد فالی اخیستلو) مصدر دی لکه څرنګه چي خیره د تخیر مصدر دی، ددغه دوو الفاظو څخه پرته د بل یو لفظ مصدر پر دغه وزن نه راځي، د طیره استعمال یوازي د بدفالی په مفهوم دی مګر ځیني حضراتو دلته مطلق فال یعني د شګون په معنی کي اخیستی دی که هغه ښه فال وي یا بد فال وي .

د تطیر اصل او د هغه وجه تسمیه داده چي د جاهلیت په زمانه کي عربو دا ډول فال اخیستی چي کله به یې یو کار کوی ، یا په سفر به تلل نو یو مرغه یا هوسی به یې وشړل ، که چیري هغه به راسته خوا ته ولاړل نو دا به یې مبارک ګڼی او نېک فال به یې اخیستی او بیا به یې هغه کار پیل کوی، یا به په سفر روانېدی ، او که چیري هغه مرغه یا هوسی به چپه خوا ته ولاړی نو هغه به یې بد ګڼی او د هغه کار څخه به منع کېدی .

څرګنده دي وي چي د ښکار هغه حیوان ته سنوح یا سانع وايي چي د چپې خوا څخه راسته خوا ته ولاړ سي او د ښکار هغه حیوان چي د راسته خوا څخه چپه خوا ته ځي هغه ته بروح یا بارح وايي، عربو به سنوح ښه او بروح بد ګڼی .

دا خبره دي په ذهن کي وي چي ښه فال اخيستل محمود او مستحسن بلکه مستحب دی او تطير يعني بد فال نيول بد او منع دی، نبي کريم ﷺ به ډېر زيات په خاصه توګه د خلکو په نومو او ځايو سره ښه فال اخيستی ، په دغه دواړو کي فرق په دې وجه دی چي په ښه فال کي اطمينان او خوښي تر لاسه کيږئ ، دوهم د الله تعالی په رحم او کرم سره د نيکی امید پيدا کيږئ او په زړه کي د ښېګڼي خيار راځي ، او د امید خيال په هر حالت کي د بنده لپاره غوره دی که څه هم د هغه مراد پوره نسي ، او بد فالي ځکه منع او بد ده چي په هغه کي رنځ او تردد پيدا کيږي، د الله تعالی د رحم او کرم څخه امید قطع کيږي او د نااميدی احساس او په اندېښنو کي اخته کيږي، ځرګنده دي وي چي دغه شيان شرعا بد او منع هم دي او د عقل خلاف هم دي ، حال دا چي هغه څه کيږي کوم چي الله تعالی يې غواړي .

په هر حال په دغه باب کي هغه حديثونه نقل کيږي چي د فال وغيره سره اړوند وي او د هغو تحقيق پورته بيان سوی دی، د مشکوة مؤلف په دغه باب کي هغه حديثونه نقل کړي دي چي په هغو کي د عدوی، هامه او دا ډول نورو شيانو ذکر دی او دا ټول هم د تطير يعني بد فالی د مفهوم حامل او د هغه په حکم کي داخل دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

بد فال منع دی

﴿۴۳۷﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا طِيَرَةَ وَخَيْرُهَا الْفَأْلُ قَالُوا وَمَا الْفَأْلُ قَالَ الْكَلِمَةُ الصَّالِحَةُ يَسْمَعُهَا أَحَدُكُمْ . متفق عليه.

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي بد شګون (فال) هيڅ شی نه دی ، بهترينه شی ښه فال دی ، اصحابو وويل: فال څه ته وايي ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : هغه ښه کلمه چي په تاسو کي يې څوک د چا څخه واوري يا په څه ذريعه سره يې واوري . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۱۲، رقم: ۵۷۵۴، ومسلم ۱۴\۱۷۴۵، رقم: ۱۱۰- ۲۲۲۳.

تشريح: بد فالي بې حقيقته شی دی: د دې مطلب دا دی چي د ګټي تر لاسه کولو يا د تاوان په

دفع کي د بدفالۍ هيڅ دخل نسته او نه شريعت د اعتبار سبب ګرځولی دی، داسي عقيده درلودل نه دي پکار ځکه چي هغه څه کيږي چي د قادر مطلق (الله تعالی) مرضي وي ځکه د بد فالۍ په اخيستلو سره ځان په بېره، اندېښنه او ناامیدۍ کي ولي اخته کړل سي، طيره يعني د بدفالۍ نفي کولو او د منع ظاهرولو څخه وروسته رسول الله ﷺ د فال تعريف وکړي او وه يې فرمايل: د طيره غوره صورت ښه فال دی يعني په حديث کي طيره د مطلق فال نيولو په معنی کي استعمال سوی دی مګر دلته يو سوال پيدا کيږي او هغه دا چي د حديث د عبارت څخه په ښکاره دا معلوميږي چي ښه فال نيول غوره دي او بدفالي هم په څه ناڅه درجه کي ښه شی دی، حال دا چي په حقيقت کي بدفالي ښه شی نه دی، ددې جواب دادی چي په دغه عبارت کي لفظ د خير په اصل کي د به مفهوم کي دی نه د غوره په معنی کي، لکه څرنګه چي دغه جمله ده: (والاخرة خير وابقی واصحاب الجنة خير)، يو جواب دا هم دی چي دغه ارشاد په اصل کي د عربو پر ګمان او اعتقاد باندي مبني دی چي هغوی بدفالي هم ښه ګڼل يا دا چي ددغه عبارت بنياد دادی چي د طيره ښه کېدل بالفرض که ممکن هم وي نو فال به تر دې غوره شی وای.

هغه ښه کلمه ...الخ: مطلب دادی که يو سړي ته داسي جمله واورول سي چي په هغه سره د هغه په زړه کي د خپل مطلب او مقصد تر لاسه کېدو اميد پيدا سي او هغه دغه لفظ يا جمله په حق اړه ښه وګڼي لکه يو سړی خپل ورک سوی شی لټوي چي هغه دغه اواز واوري يا واجد، يا سړي لار غلطه کړې وي او د هغه په لټه کي سرګردانه وي چي د هغه په غوږ کي د يوې خوا څخه دغه اواز راسي يا راشد.

يو څو بې اثره خبري

﴿۴۳۷۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ وَلَا هَامَةَ وَلَا صَفَرَ وَفِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الْأَسَدِ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تجاوز د مرض (د يو ناروغ څخه بل روغ سړي ته مرض نقليدل) نسته، بدشګون (بدفال) نسته، هامه او صفره نسته (د فال ډولونه دي) او تاسو د جذامي څخه داسي تښتئ څرنګه چي خلک د زمري څخه تښتي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۵۸، رقم: ۵۷۰۷.

د لغاتو حل: صفر: هي حية في البطن، وقيل: انهم كانوا يتشاءمون بدخول شهر صفر.

تشریح: دغه خیال چي د یوه سړي ناروغي بل سړي ته نقل کیږي د جاهلیت د زمانې یادګار دی ، عربو به ویل که یو سړی د ناروغ په څنګ کي کښېني یا د هغه سره خوراک او څښاک وکړي نو د هغه ناروغي ده ته هم ورځي ، علماء لیکي په عامه توګه د طبیبانو په نزد اووه ناروغۍ داسي دي چي د یوه څخه بل ته نقل کیږي او هغه دادي : ۱: جذام ، ۲: خارش، ۳: چیچک، ۴: دانې چي پر بدن راوخیژي ۵: ګنده دهني، ۶: رمد (د سترګو ناروغي چي په هغه سره سترګي سرې سي یعني د سترګو خوږوالی)، ۷: وبائي ناروغۍ.

نو شارع د داسي خیال په رد کولو سره څرګنده کړه چي د ناروغۍ د یوه څخه په بل کي سرایت کول څه حقیقت نلري بلکه ددې تعلق د نظام قدرت او د قادر مطلق د مرضي سره دی لکه څرنګه چي لومړی سړی ناروغ سوی دی همدارنګه دوهم سړی هم په هغه ناروغۍ اخته کېدای سي ، پاته سوه دا خبره چي د ټولو ناروغیو په اړه د یو بل ته تلو تردید سوی دی نو بیا د جذام د ناروغۍ څخه د تیښتي حکم ولي ورکړل سو ، او همدارنګه خپله ددغه حدیث په مفهوم کي تضاد معلومیږي، نو ددې جواب به انشاء الله د فصل په پای کي نقل کړل سي.

د بدفالۍ په اړه مخکي بیان سوی دی ، (هاما) ددې اصل معنی د سر ده مګر دلته ددغه لفظ څخه یو خاص حیوان مراد دی چي، عربو د ګمان مطابق د مړي د هډوکو څخه پیدا کیږي او په هواء کیږي، د جاهلیت په زمانه کي عربو دا هم ویل که یو سړي قتل کړل سي نو د هغه مقتول د سر څخه یو حیوان چي هغه ته هامه وایي راوځي او هر وخت دا فریاد کوي چي ما ته اوبه راکړئ اوبه راکړئ ، یا هغه د قاتل څخه د بدلې اخیستلو هڅه کوي تر دې چي قاتل په خپل مرګ سره یا د بل چا په قتلولو سره مړ سي نو هغه مرغه په الوتلو سره ورک سي .

ځینو خلکو به ویل چي خپله د مقتول روح د هغه حیوان شکل اختیاروي او فریاد کوي چي د قاتل څخه بدله واخیستل سي ، کله چي هغه د قاتل څخه بدله واخلي نو هغه مرغه ورک سي ، شارع دغه عقیده هم باطله وګرځول او وه یې فرمایل چي ددې هیڅ حقیقت نسته .

ځیني خلک دا هم وایي چي د هامه څخه مراد مرغه دی چي کله هغه پر یو کور کښیني نو هغه کور بربادیږي، یا د هغه کور څخه یو څوک مړ سي، رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذریعه دغه عقیده باطله کړل او څرګنده دي وي چي تطیر د بدفالۍ اخیستلو په حکم کي دي چي یو منع کار دی .

د صفر په وضاحت کي ډېر قولونه بیان سوي دي، ځیني حضرات وایي چي ددې څخه د محرم وروسته میاشت مراد ده چي صفر ورته وایي، د کمزوري عقیدې خلک دغه میاشت

منحوسه ګڼي او وايي چي په دغه مياشت كي د آفاتو او پېښو نزول كيږي ځكه ددغه ارشاد په ذريعه دا عقېده باطله وګرځول سوه.

ځيني حضرات وايي چي عربو به ويل : د هر انسان په نس كي يو مار وي چي هغه ته صفر ويل كيږي د هغوی د ګمان مطابق چي نس خالي وي او لوږه وي نو هغه مار چيچل كوي او تكليف رسوي ، د هغوی وينا وه چي د لوږي په وخت كي په نس كي يو خاص ډول تكليف محسوس كيږي هغه ددغه مار په سبب وي او د هغه اثرات په يو بل كي سرايت كوي ، نووي رحمة الله عليه د مسلم په تشريح كي ليكلي دي چي د ځينو خلكو د ګمان مطابق صفر هغه چينجيانو ته وايي كوم چي په نس كي وي او د لوږي په وخت كي چيچل كوي ،ډېر ځله د هغه په سبب د سړي رنګ ژړ سي تر دې چي هلاک هم سي دا ټول بې اصله خبري دي چي په شريعت كي هيڅ اعتبار نلري.

ساري ناروغي نسته

﴿۴۳۷۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوَى وَلَا هَامَةَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ناروغه كېدل هامه او

وَلَا صَفَرَ فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَمَا بَالُ الْإِبِلِ تَكُونُ فِي الرَّمْلِ كَأَنَّهَا

صفر هيڅ شی نه دی ، يوه اعرابي وويل: اې د الله جل جلاله رسوله ! د اوښانو څه حال دی هغوی په ريګستان كي داسي او سيږي لكه څنګه چي

الظِّبَاءُ فَيُخَالِطُهَا الْبَعِيرُ الْأَجْرَبُ فَيُجْرِبُهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنْ أَعْدَى الْأَوَّلَ . رواه البخاري

هوسۍ ، بيا په هغوی كي يو پمن اوښ راسي او نور اوښان پمن كړي ، نبي كريم ﷺ وفرمايل: د ټولو څخه اولنی اوښ چا پمن كړی . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۴۱، رقم: ۵۷۷۰.

﴿۴۳۷۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوَى وَلَا هَامَةَ وَلَا نَوْءَ وَلَا صَفَرَ . رواه مسلم.

د حضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تجاوز د مرض نسته، هامه (د یو مرغه نوم دی عربو عقیده درلودل چي دا هامه د مړي د هډوکو څخه پیدا کیږي او همیشه د اوبه راکړئ چغي وهي) نسته، او نه ځای د ستورو (د ستورو د منازلو په حساب د باران اټکل) نسته، او نه صفر . مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱۴\ ۱۷۴۴، رقم: ۱۰۶- ۲۲۲۰.

د لغاتو حل: نَوء: ای طلوع نجم و غروب ما یقابله، وکانوا یعتقدون انه لا بد منه عند مطر او ریح.

تشریح: د نوء مطلب دی د یو ستوري لوېدل او د بل را ختل، د عربو په خیال کي باران کېدل یا نه کېدل د ستورو د دغه طلوع او غروب په اثر وي، لکه څرنګه چي پر علم نجوم باندي عقیده لرونکي خلک وایي چي د باران تعلق د ستورو سره دی که فلاني ستوری په فلاني تاریخ راولوېږي او په دغه تاریخو کي باران وسي نو د باران په میاشتو کي به په فلاني او فلاني تاریخو کي باران کیږي .

په نهل کي لیکلي دي چي د نوء جمع نواء ده چي د هغه معنی د قمر د منازل ده او هغه منازل اته ویشت دي، د قرآن کریم آیت: (والقمر قدرناه منازل) کي دغه منازلو ته اشاره سوې ده، عربو به د باران اوریدل دغه منازلو ته منسوب کول، دهغوی وینا وه چي کله سپوږمۍ فلاني او فلاني منازل ته راسي نو باران یقینا کیږي، یعني د هغوی په نزد د سپوږمۍ هغه منازلو ته راتلل د باران کېدو علت او دمؤثر حقیقي درجه لري، نو شارع دغه عقیده باطل وګرځول او څرګنده یې کړه چي باران اوریدل محض پر حکم الهي باندي منحصر دی، مګر څرګنده دي وي چي د دغه نفي او ابطال تعلق د هغه صورت سره دی کله چي د تاثیر علت اعتقادي وي مګر که چیري په منازلو کي د سپوږمۍ راتلل د نزول باران یو ظاهري سبب وګڼل سي یعني دا عقیده وي چي الله تعالی هغه وخت باران اوروي کله چي سپوږمۍ خپل منزل ته راسي او هغه وخت د علت درجه نه لري بلکه محض د یو ظاهري سبب درجه لري، الله تعالی پر دې قادر دی چي د هغه وخت څخه مخکي یا وروسته هم باران و اوروي او که وغواړي نو هغه وخت به هم باران و نه اوروي نو دغه عقیده نه د کفر په دائره کي راځي او نه دې ته باطل ویل کیږي، که څه هم امام نووي رحمه الله وایي چي دغه عقیده هم د کفر سبب دی ځکه چي د باران د نزول میاشت او هغه د منازلو سره متعلق کول د کافرانو شعار دی، دوهم دا چي ذکر سوی صورت که څه هم علیت عقیده نه څرګندوي مګر موهم علیت خو یقیني دی، په دې اړه زیات صحیح قول دا دی چي په

حديث كي ذكر سوې منع مطلق ده چي ددې تعلق د عليت عقيدې سره هم دى او د هغه صورت سره هم دى چي په هغه كي سپوږمۍ او د هغه منازل محض يو ظاهري سبب وګڼل سي ځكه چي اول خو ددغه ارشاد مقصد د عقيدې د ګمراهۍ او فساد سدباب دى ، دوهم داسي هيڅ حديث نقل سوى نه دى چي د هغه ځخه جواز په يو صورت كي ثابت وي .

خلاصه دا چي كله باران وسي نو داسي دي نه وايي چي د فلاني منازل ځخه باران سوى دى بلكه داسي دي وايي چي د الله تعالى په فضل او كرم سره باران سوى دى .

﴿۴۳۷۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا عَدْوَى وَلَا صَفَرَ وَلَا غُولَ . رواه مسلم

د حضرت جابر رضي الله عنه ځخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ ځخه دا اورېدلي دى چي ناروغي پيدا كېدل ، صفر او د صحراؤ بلا هيڅ نسته . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۱۷۴۴، رقم: ۱۰۷- ۲۲۲۲.

د لغاتو حل: غُول: احد الغيلان، وهي جنس من الجن والشيطاطين . (بلاوي)

تشريح: د غول جمع غيلان دى ، د جناتو او شياطينو يو ډول او جنس ته وايي، د عربو دا خيال وو چي په ځنګلو كي غول په مختلفو صورتو او شكلو كي خلكو ته ښكاره كيږي او دهغوى لاره غلطوي او هلاكوي يې ، رسول الله ﷺ دغه خيال باطل وګرځوى او وه يې فرمايل چي غول هيڅ شى هم نه دى .

جذامي

﴿۴۳۷۹﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ فِي وَفْدِ ثَقِيفٍ رَجُلٌ مَجْذُومٌ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ فَارْجِعْ . رواه مسلم .

حضرت عمرو بن شريد د خپل پلاره ځخه روايت كوي چي د ثقيف په جماعت كي يو جذامي وو هغه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو ، بيعت كول يې غوښتل ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : موږ ستا بيعت قبول كړى دى ، ته بيرته ولاړ سه . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۱۷۵۲، رقم: ۱۲۶- ۲۲۳۱.

تشريح: د جذامي سره په يو ځای کېدو کي د پرهيز په اړه يو دغه حديث دی او دوهم حديث هغه دی چي په هغه کي فرمايل سوي دي چي د جذامي څخه داسي تښتئ لکه څرنګه چي د زمري څخه تښتئ، ددغه دواړو حديثو څخه دا ثابتېږي چي د جذامي د ملګرتيا او ناستي څخه ځان ساتل پکار دي، حال دا چي هغه حديث ددې برعکس دی چي په هغه کي فرمايل سوي دي چي د يوې ناروغۍ بل ته نقل کېدل هيڅ حقيقت نه لري، څرګنده ده چي دغه دواړي خبري بالکل مخالف دي، ددغه تضاد ليري کولو لپاره او ددغه حديثو په مينځ کي د مطابقت پيدا کولو لپاره د علماوو ډېر قولونه نقل سوي دي، شيخ ابن حجر عسقلاني رحمه الله په شرح نخبه کي ليکلي دي : د حديثو ددغه تضاد ليري کولو لپاره تر ټولو غوره قول دادی چي په کوم حديث کي عدوي يعني ساري کېدو نفي سوې ده د هغه حکم د خپل عموم او اطلاق سره قائم او باقي دی او د هغه خلکو مخالطت او مجالست کوم چي د جذام په ډول ناروغيو کي اخته وي د هغوی د ناروغ کېدو سبب هيڅکله نه وي او کوم چي د احاديثو تعلق دی چي د جذامي څخه پرهيز کول ظاهر وي نو د هغه مقصد محض د وهم او وسوسې بندول دي چي هيڅوک د شرک په لمن کي ونه لوېږي ، که يو څوک د جذامي سره ملګرتيا او ناسته وکړي او بيا په دغه دوران کي د الله تعالی دغه حکم وسو چي هغه سړی هم په جذام کي اخته سو نو ليري خبره نه ده چي هغه په دغه وهم او عقيده کي اخته سي چي زه ددغه جذامي د مخالطت او مجالست په وجه په دغه ناروغۍ اخته سوم، نو رسول الله ﷺ خلک ددغه وهم څخه د ساتني لپاره چي د کفر او شرک حد ته ونه رسيږي د جزامي څخه د پرهيز کولو حکم وکړ ، همدا وجه ده چي رسول الله ﷺ خپل ذات مبارک ددغه حکم څخه مستثنی کړ چي رسول الله ﷺ د توکل او اعتقاد علی الله پر لوړه مرتبه باندي فائز وو ، چي د هغه په وجه په ذکر سوي وهم او ګمان کي د اخته کېدو تصور هم نسو کېدای، يوه ورځ رسول الله ﷺ د يوه جذامي لاس نيولی د ځان سره راوست او بيا يې د هغه سره ډوډۍ وخوړل ، خلاصه دا چي د جزامي څخه د پرهيز کولو حکم د هغه چا لپاره دی چي هغه په ځان کي د صدق او يقين طاقت نلري او ددې خبري بېره وي که هغه د جذامي مخالطت او مجالست په دوران کي په دغه ناروغۍ اخته سي نو ددغه وهم د ګمان په ښکاره کېدو سره به په شرک خفي کي اخته سي .

کرماني رحمه الله ويلي دي: دا چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي د ناروغۍ يو بل ته د نقل کېدو حقيقت نسته، نو د جذامي ناروغي ددې څخه مستثنی ده ، نووي رحمه الله وايي : په جزام

کي يو خاص ډول بدبويي وي ، که يو سړی د جذامي سره ناسته ولاړه، خوراک او څښاک زيات اختيار کړي نو هغه بويي يې متاثر کوي او ناروغ کوي يې ، لکه څرنګه چي يو سړی داسي خوراک وخوري يا په داسي بوی کي ومو ښلي چي د هغه د مزاج او طبيعت موافق نه وي يا د هغه مضر کېدل څرګند وي نو هغه سړی متاثر کيږي او په ډول ډول ناروغيو کي اخته کيږي، که څه هم دغه شيان محض يو ظاهري ذريعه او سبب وي مګر په حقيقت کي هغه ناروغي د الله تعالی په حکم سره لاحق کيږي ، په دې اعتبار سره د جذامي څخه پرهيز د طب له نظره وي نه د ناروغۍ يو بل ته د نقل کېدو په وجه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

ښه فال اخيستل

﴿۴۳۸۰﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَفَاءَلُ وَلَا يَتَطَيَّرُ وَكَانَ يُحِبُّ الْاِسْمَ الْحَسَنَ. رواه في شرح السنة.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به فال (ښه فال) کوی او بد فال به نه کوی او ښه نوم به يې خوښوی. شرح السنه

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۲\۱۷۵، رقم: ۳۲۵۴.

بدفالي شرک دی

﴿۴۳۸۱﴾: وَعَنْ قَطَنِ بْنِ قَبِيصَةَ عَنْ أَبِيهِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعِيَافَةُ وَالطَّرْقُ وَالطِّيَرَةُ مِنَ الْجِبْتِ. رواه ابوداؤد.

حضرت قطن بن قبيصه رضي الله عنه د خپل پلار ه څخه روايت کوي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: د مرغه په هوا کول د فال په ډول يا د يوه مرغه څخه فال اخيستل يا د هغه په اوربدو سره د بري ويشتل (د فال د اخستلو لپاره) او بد شګون (بد فال اخيستل) دا ټول د شرک څخه دی. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲۲۸، رقم: ۳۹۰۷.

د لغاتو حل: العيافة: وهو الضرب بالحصى الذي تفعله النساء.

تشريح: عيفة د مرغانو په ذريعه د فال نيولو يو صورت دی چي په هغه کي مرغه په خاصه توګه

په هواء کولو سره د هغه د آواز په ذریعه نیک فالي یا بد فالي کیږي، په مخکي زمانه کي په عربو کي دا ډېر زیات رواج وو او عیافت داني یو ځانګړی فن ګڼل کېدی، په دې کي په عامه توګه د مرغانو د نوم اعتبار وي د مثال په توکه د عقاب (باز) په ذریعه عقوبت ، د غراب (تپوس) په ذریعه غربت، او د هد هد (ملا چرګک)په ذریعه د هدایت فال اخیستل کېدی، په طیره او عیافه کي فرق دادی چي د طیره په مفهوم کي عمومیت دی که د یو مرغه په ذریعه بدفالي وکړل سي یا د یو بل حیوان په ذریعه ، او د عیافه استعمال په خاصه توګه د یو مرغه د آواز په ذریعه د نېک فالی او بدفالی کولو په مفهوم کي دی، په نهایه کي لیکلي دي چي د عیافه معنی د مرغه په ډېره ویشتل او الوځل دي، او د هغه نوم د هغه اواز او د هغه د الوتلو او تېرېدو په ذریعه فال کیږي .

طرق ډېرو غورځولو ته وايي، د فال اخیستلو یو دا صورت هم وو په تېره زمانه کي په خاصه توګه د عربو په ښځو کي .

جبت د سحر په معنی کي دی ، ځیني حضرات وايي چي د جبت معنی د هر هغه شي ده چي په هغه کي خیره وي یا د هغه شي د الله تعالی څخه پرته عبادت وکړل سي یعني شرک او د ځینو حضراتو په نزد جبت د شیطان کار ته وايي .

د حدیث مطلب دادی چي دغه ټول شیان یعني بدفالي کول د مرغانو د آواز په ذریعه او په ډېرو غورځولو سره فال اخیستل په سحر کي داخل دي او دا ټول د شرک کارونه دي ، صحیح خبره داده چي دغه ټول شیان شیطاني کارونه دي .

﴿۴۳۸۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

قَالَ الطِّيَرَةُ شِرْكٌ قاله ثَلَاثًا وَمَا مِنَّا إِلَّا وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ . رواه

بد شګون اخیستل شرک دی ، او دا الفاظ نبي کریم ﷺ دري واره وویل : او په موږ کي چي د چا په زړه کي چي شګون یا بدل فال نه څه تردد یا خلجان پیدا سي نو پر خدای تعالی باندي توکل سره هغه لیري کیږي .

ابوداؤد والترمذي، قَالَ سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يَقُولُ كَانَ سُلَيْمَانُ

ابو داؤد او ترمذي .او امام بخاري رحمة الله عليه. وايي ، سليمان بن حرب دا بيان کړی دی چي د دې

بْنُ حَرْبٍ يَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الْحَدِيْثِ وَمَا مِنَّا إِلاَّ وَلٰكِنَّ اللهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ هٰذَا عِنْدِيْ قَوْلُ ابْنُ مَسْعُوْدٍ.

حديث اخيري جمله : چي په موږ کي د چا په زړه کي چي الخ دا د رسول الله ﷺ قول نه دی ، دا د ابن مسعود قول دی

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲۳۰، رقم: ۳۹۱۰، والترمذي ۷\۱۳۷، رقم: ۱۶۱۴.

تشريح: بد فال نيول شرک دی، ددې مطلب دادی چي دغه کار د مشرکانو د طريقو او عاداتو څخه دی او د شرک خفي سبب دی، مگر که چيري دا عقيده وي چي داسي به وي نو هغه فال به بيله شکه او شبهې د کفر په حکم کي وي.

د جذامي سره خوراک

﴿۴۳۸۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ بِيَدِ مَجْذُوْمٍ فَوَضَعَهَا مَعَهُ فِي الْقَصْعَةِ ثُمَّ قَالَ كُلْ ثِقَةً بِاللّٰهِ وَتَوَكُّلًا عَلَى اللّٰهِ . رواه ابن ماجة

حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د يو جذامي لاس و نيوی او هغه يې (خوراک لپاره) په خپله کاسه کي شريک کړ او ويې فرمايل : ته خوره ، زه په الله جل جلاله باندي توکل لرم (چي ستا د ناروغۍ په ما باندي څه اثر نه کوي). ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۱۷۲، رقم: ۳۵۴۲.

تشريح: په دغه حديث کي دې ته شاره ده چي د توکل او يقين مرتبې تر لاسه کېدو څخه وروسته د جذامي څخه تېنتېدل او د هغه د ځان څخه ليري کول ضروري نه دي.

بدفالي نسته

﴿۴۳۸۴﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا هَامَةَ وَلَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ وَإِنْ تَكُنْ الطِّيَرَةُ فِي شَيْءٍ فَفِي الدار الْفَرَسِ وَالْمَرْأَةِ . رواه ابو داؤد.

د حضرت سعد بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هامه نا روغي لګېدل او بد شګون نسته که بد فالي وي نو هغه به په کور، اس او ښځه کي وي. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۴\۲۳۶، رقم: ۳۹۲۱.

تشریح: د طیره یعني بدفالۍ په اړه مختلف حدیثونه نقل سوي دي، د کومو حدیثو څخه چي د طیره د اثراتو نفي او په هغه د اعتبار کولو یا په هغه د اعتقاد درلودلو نهي او منع ثابتیږي هغه زیات دي، د ځینو حدیثو څخه د ښځي، آس او په کور کي د طیره ثبوت د یقیني الفاظو په ذریعه مفهوم کیږي لکه څرنګه چي د بخاري او مسلم روایت دی: (انما الشؤم في ثلاث الفرس، والمراة والدار) یعني په دې کي څه شک نسته چي په دغه درو شیانو کي نحوست دی په کور، آس او ښځه کي، په یوه روایت کي هغه د رې شیان مځکه، خادم او آس بیان سوي دي، په ځینو حدیثو کي په دغه درو شیانو کي د طیره د ثبوت الفاظ د شرط په ذریعه مفهوم کیږي لکه چي مخکي په نقل سوي حدیث کي یا دا ډول نورو حدیثو کي دي، که بدفالي او نحوست یو شی وي نو په دغه درو شیانو کي به وي، د ځینو حدیثو څخه د نورو ټولو شیانو په ډول په دغه درو شیانو کي هم د نحوست انکار مفهوم کیږي لکه چي د ابن ابي ملیکه روایت دی چي هغه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه نقل کړی دی، او په ځینو حدیثو کي دا فرمایل سوي دي چي په دغه درو شیانو کي د نحوست عقېده درلودل د جاهلیت د زمانې د بې بنیاده عقیدو او خیالاتو څخه دي، خلاصه دا چي په دې اړه د مختلف مفهوم روایتونه نقل سوي دي، نو ددغه ټولو په مینځ کي د مطابقت وجه او ددغه ټولو د مقصد خلاصه داده چي تطیر یعني بدفالي نه کول او یو شی منحوس ګڼل بالکل بې اصله خبره ده که چیري دا ومنل سي چي په ځینو شیانو کي نحوست دی نو کوم شیان چي داسي وي چي د خپل ځینو حیثیتو په اعتبار ددې وړ وي چي په هغه کي د نحوست کېدو ګمان کېدای سي او هغه د نحوست مواقع او محل ګرځول کېدای سي نو دا خبره داسي ده لکه څرنګه چي په یوه روایت کي فرمایل سوي دي: (لو کان شئ سابق القدر لسبقه العین) یعني که یو شی پر تقدیر سبقت وړونکی وای نو هغه به بد نظر وای.

قاضي رحمة الله علیه هم داسي خبره کړې ده، هغه وایي: په حدیث کي لومړی د طیره انکار کول او د هغه څخه وروسته دغه شرعیه جمله (که په یو شي کي بدفالي وای نو په کور، ښځه او آس کي به وای) راوړل پر دې دلالت کوي چي تطیر یعني د بدفالۍ د نحوست انکار په دې مفهوم کي دی که د نحوست وجود او ثبوت وای نو په دغه درو شیانو کي به وای ځکه چي دغه درې

شیان د نحوست موقع او محل کېدای سي، مګر کله چي په دغه درو شیانو کي هم د نحوست څه وجود نسته نو دډ مطلب دادی چي نحوست بالکل وجود نه لري.

ځیني حضرات وایي که چیري په دغه شیانو کي د نحوست وجود مفهوم کیږي نو په دډ معنی کي که ښځه اوږد ژبه، بې حیاء او بدکاره وي یا د هغې ماشومان نه پیدا کیږي یا د خپل خاوند نافرماني کوي، یا مکروه صورته او بدشکله وي نو په دډ اعتبار سره هغې ته منحوسه ویل کیدای سي، په کور کي نحوست په دډ معنی دی چي هغه کور تنګ او تاریک وي، د هغه همسایه خراب وي او د هغه هواء ناسمه وي، همدارنګه په آس کي د نحوست مطلب دادی چي هغه آس سرکښه او شریر وي، ډېر خوراک کوي مګر په تللو کي سست وي، د خصوصیاتو په اعتبار کم وي مګر د قیمت په اعتبار ګران وي او د مالک ضروریات او اړتیاوي نه پوره کوي، پر آس باندي خادم هم قیاس کیدای سي.

ځیني حضرات وایي چي د نحوست څخه شرعي او طبعي کراهت او ناخوښي مراد ده، په دډ اعتبار سره د شوم او تطیر نفي خو پر عموم او حقیقت باندي محمول وي مګر حقیقت دادی چي هیڅ شی هم داسي نسته چي په هغه کي د نحوست وجود وي مګر په کومو حدیثو کي چي په ځینو شیانو کي نحوست کېدل مفهوم کیږي په هغو کي د نحوست څخه مراد د هغه شیانو په طبعي توګه یا د یو شرعي بدوالي په وجه ناخوښي ده.

ښه نومونه ښه فال

﴿۴۳۸۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعْجِبُهُ إِذَا خَرَجَ لِحَاجَةٍ أَنْ يَسْمَعَ يَا رَاشِدُ يَا نَجِيحُ. رواه الترمذي.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د څه ضرورت لپاره بهر راووت نو نبي کریم ﷺ به دا خوښوله چي د چا د ژبي څخه دا الفاظ واوري اې راشده! (اې په سیده لاره باندي تلونکې) اې نجیح! (اې د مقصد تر لاسه کونکې). ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۱۳۸، رقم: ۱۶۱۶.

﴿۴۳۸۶﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَتَطَيَّرُ مِنْ شَيْءٍ

د حضرت بریده رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د هیڅ شی څخه بد فال نه اخیستل او

فَإِذَا بَعَثَ عَامِلًا سَأَلَ عَنْ اسْمِهِ فَإِذَا أَعْجَبَهُ اسْمُهُ فَرِحَ بِهِ وَرُئِيَ بِشْرُ ذَلِكَ فِي

كله چي به يې يو عامل (حاكم) چيري ليږى نو د هغه څخه به يې د هغه د نامه پوښتنه كوله كه د هغه نوم به ښه وو نو نبي كريم ﷺ به په هغه سره خوشحاله سو او خوشحالي به د نبي كريم ﷺ د

وَجْهِهِ وَإِنْ كَرِهَ اسْمَهُ رُئِيَ كَرَاهِيَةُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ وَإِذَا دَخَلَ قَرْيَةً سَأَلَ عَنْ

مخ مبارک څخه څرګندېده او كه د هغه نوم به بد وو نو د نبي كريم ﷺ د مخ مبارک څخه به ناخوښي معلومېده او كله چي نبي كريم ﷺ و يوې ابادۍ ته دا خلېدى

اسْمِهَا فَإِنْ أَعْجَبَهُ اسْمُهَا فَرِحَ وَرُئِيَ بِشْرُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ وَإِنْ كَرِهَ اسْمَهَا رُئِيَ كَرَاهِيَةُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ. رواه ابوداؤد.

نو د هغې نوم به يې پوښتى كه د هغې نوم به وربانديې ښه ولګېدى نو د خوشحالى علامه به د نبي كريم ﷺ د مخ مبارک څخه ظاهرېده او كه چيري د هغې ابادى نوم به بد وو نو د ناخوښى اثار به يې پر مخ مبارک ښكارېدل. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۲۳۶، رقم: ۳۹۲۰.

تشريح: د يو بد نامه په اورېدو سره ناخوښي كول تطير (بدفالي) نه دى، تطير به په هغه صورت كي واى كله چي رسول الله ﷺ د نامه په اورېدو سره خپل كار يا خپل سفر پرېښودلاى واى، لكه څرنګه چي د بدفالۍ په صورت كي كيږي، بيا هم د يوې سيمي خراب او بد نامه په اورېدو سره د رسول الله ﷺ د مخ مبارک څخه د ناخوښۍ اثرات څرګندېدل، ځكه چي د طبيعت د ښه والي او بدوالي څخه متاثر كېدل او د هغه په نتيجه كي د خوښۍ او ناخوښۍ څرګندول يوه فطري خبره ده.

ابن ملک رحمه الله وايي: د دغه حديث څخه معلومه سوه چي د خپل اولاد يا خادم لپاره ښه نوم اختيارول سنت دي ځكه چي ډېر واره خراب نوم د تقدير موافق كيږئ او د هغه نتائج د بدو اثراتو حامل كيږي، د مثال په توګه يو څوک د خپل زوى نوم خسار كښېږدي نو كيداى سي چي يو وخت هغه سړى يا د هغه زوى د تقدير الهي سره سم په خساره كي اخته سي او د هغه په نتيجه كي خلک دا وګڼي چي د هغه په خساره كي اخته كېدل د هغه د نامه په وجه دي او خبره تر دې پوري ورسيږي چي خلک هغه منحوس ګڼل پيل كړي او د هغه ملګرتيا پرېږدي.

په کور کي بې برکتي

﴿۴۳۸۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا كُنَّا فِي دَارٍ كَثِرَ فِيهَا

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي یوه سړي وویل: اې د الله جل جلاله رسوله! موږ په یو کور کي اوسېدلو زموږ د کور د وګړو تعداد زیات وو

عَدَدُنَا وَأَمْوَالُنَا فَتَحَوَّلْنَا إِلَى دَارٍ أُخْرَى فَقَلَّ فِيهَا عَدَدُنَا وَقَلَّتْ فِيهَا أَمْوَالُنَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَرُوهَا ذَمِيمَةً. رواه ابوداؤد.

او مال هم را سره زیات وو بیا موږ هغه کور پرېښودئ او بل کور ته ولاړو، په دې کور کي زموږ د وګړو تعداد هم کم سو او مال مو هم کم سو، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: دا کور پرېږدئ دا سپېره (منحوس) دی. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود: ۴\۲۳۸، رقم: ۳۹۲۴.

تشریح: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه ځای پرېښودو حکم د هغه ځای د منحوس ګڼلو په وجه نه وو بلکه د هغه ځای آب او هواء ښه نه وه، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا غوره وګڼل چي هغوی دغه ځای پرېږدي.

خطابي رحمة الله علیه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه خلکو ته د ځای پرېښودو حکم ددې لپاره ورکړ چي د هغوی په زړونو کي دا خبره ناسته وه چي د ټولو تاوانو بنیاد دغه ځای دی که موږ په دغه ځای کی نه اوسیدلای نو زموږ په خلکو کي به کمي نه راتللای او نه به مو په مال او سامان کي تاوان کېدی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه ځای د پرېښودو حکم ورکول غوره وګڼل چي د هغوی د غلط خیال او وهم تصور ختم سي او هغوی په شرک خفي اخته نسي.

د خرابي هوا والا منطقه

﴿۴۳۸۸﴾: وَعَنْ يَحْيَى بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بَحِيرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ فَرْوَةَ بْنَ

د حضرت یحیی بن عبدالله بن بحیر رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما ته یوه سړی بیان وکړ چي هغه د فروه بن مسیک څخه دا اورېدلي وو چي

مُسَيْكٍ يَقُولُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ عِنْدَنَا أَرْضٌ يُقَالُ لَهَا أَبْيَنَ هِيَ أَرْضُ رِيفِنَا

ما وویل: اې د الله ﷻ رسوله ! زموږ سره یوه مځکه ده چې د هغې نوم ((ابین)) دی ، دا مځکه زموږ د کښت د غلې مځکه ده (یعني د غلې منډئ ده چې دلته مال جمع کوو او نورو ښارونو ته

وَمِيرَتِنَا وَإِنَّهَا وَبَاؤُهَا شَدِيدٌ فَقَالَ دَعْهَا عَنْكَ فَإِنَّ مِنَ الْقَرَفِ التَّلَفَ. رواه ابو داؤد.

یې لېږو)لیکن د دې و بائي مرض سخت دی (یعني دلته د وبا ناروغي زیاته ده)نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : د اپرېږدئ ځکه چې د بلا (مصیبت) په نیزدېکت سره هلاکت راځئ (یعني په دا مځکه کې د اوسېدو سره د ځان د ضائع کېدو ویره ده . ابو داؤد .

تخریج: سنن ابي داود : ۴\۲۳۸، رقم: ۳۹۲۳.

د لغاتو حل: المیرة: وهي الطعام ونحوه مما یجلب للبیع. القرف: ملابسة الداء ومداناة المرض.

تشریح: طیبي رحمه الله وایي: د هغه مځکې د پرېښودو حکم د عدوي په وجه نه وو بلکه د اصول طب له کبله وو ، ځکه چې د هغه ځای آب او هواء غیر موافق وه او دا څرګنده ده چې د آب او هواء ښه او موافق کېدل د روغتیا د ساتنې بنیاد او د بدن د روغتیا او سلامتۍ لپاره ضروري سبب دی، ددې برعکس د آب او هواء ناموافق کېدل د روغتیا لپاره ډېر مضر او د نارغیو او هلاکت سبب وي .

په څرګنده دا معلومېږي چې کوم حضرات ددې خبرې ویونکي دي چې د وباء د ځای څخه باید تېښته وسي ، نو هغوی کېدای سي ددغه حدیث د مضمون څخه استدلال کوي ، ددغه حضراتو مطابق هغه سړي رسول الله ﷺ ته د وباء شکایت وکړ چې په دغه مځکه کې وباوي خپرېږي ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه مځکه پرېږدئ او د هغه ځای څخه ولاړ سئ، ځکه چې د وبائي ناروغیو قربت او مخالطت د هلاکت باعث وي ، حال دا چې په حقیقت کې ددغه حدیث څخه ذکر سوی استدلال قطعا غیر موزون دی ځکه چې دا حدیث ددغه صورت سره متعلق نه دی چې هلته وباء خپره سوې وه او رسول الله ﷺ د هغه ځای څخه تېښته جائز وګرځول ، بلکه د هغه سړي د شکایت تعلق په اصل کې ددې سره وو چې هغه مځکه داسې ده چې هلته وباوي خپرېږي یعني هغه سړي هغه مځکه منحوسه او مکروه وګڼل نو د هغه د باطني احوالو د کمزورۍ په وجه هغه ته دغه اجازه ورکول غوره وګڼل سول چې هغه دغه مځکه پرېږدي او د هغه ځای څخه ولاړ سي ترڅو هغه د بدې عقیدې او شرک خفي ښکار نسي.

د وباء د ځای په مسئله کي د علماوو مختلف اقوال او مباحث دي، مګر کوم صورت چي علماوو زيات غوره ګرځولی دی او په هغه عمل کول پکار دي هغه دادی چي د واقع کېدو څخه مخکي پرهېز وکړل سي او د واقع کېدو څخه وروسته د صبر او رضا لاره اختيار کړل سي که د يو ښار په ابادۍ کي يو داسي وبائي ناروغي خپره سي نو هلته موجود خلکو ته د هغه ښار څخه تېښته ناروا ده بلکه هلته په پاته کېدو سره دي توبه او استغفار کوي، او د هغه وباء د دفع لپاره دي د الله تعالی څخه دعاء وغواړي لکه څرنګه چي د صحيح حديثو څخه ثابته ده ، په بخاري، مسلم او نورو کتابو کي هغه حديثونه موجود دي چي په هغو کي د وباء وهلي سيمي څخه د وتلو او د وباء څخه د تېښتي منع او په داسي وخت کي د صبر او اثبات لار اختيارولو ترغيب او تعريف منقول دی .

څرګنده دي وي چي د وباء څخه تېښته جائز ګرځولو حضراتو د دغه حديث څخه استدلال کول هسي هم غير مناسب دي چي دغه حديث ابوداؤد نقل کړی دی. او کوم حديث چي د تېښتي څخه منع ثابتوي هغه بخاري او مسلم نقل کړی دی لکه چي مخکي ذکر سو، نو دغه حديث د بخاري او مسلم د احاديثو معارض نسي کېدای ، ددې څخه پرته دا حقيقت هم دی چي د علماوو او محققينو مطابق فروه ابن مسيک يو کثير الروايت صحابي نه دی بلکه د هغه څخه يا دوه حديثونه نقل سوي دي، او هغه هم يو داسي راوي روايت کړي دي چي مجهول دی، تر چي د هغه نوم هم پوره معلوم نه دی بلکه د يحيی بن عبد الله بن بحير په اړه هم اختلاف دی .

خلاصه دا چي د وباء د بيري څخه تېښته بېله شکه او شبهې منع او معصيت دی او که څوک په دې عقيده سره وتښتي که دلته پاته سم او د صبر او ثبات لاره اختيار کړم نو يقينا د وباء په ښکار کېدو سره به مړ سم او که د دغه ځای څخه ولاړم سم نو خلاص به سم نو داسي سړی به نه يوازي د تېښتي د معصيت مرتکب وي بلکه د دغه فاسدي عقيدې په وجه به کافر هم سي، د دغه عقيدې څخه پرته تېښته کونکی به ګناه کار وي، د وباء څخه د بيري تېښته ، د زلزلې راتلو يا اور لګېدو په صورت کي د کور څخه وتل پر تېښتي باندي قياس کول يوه مهمله خبره ده ځکه چي اول خو دا قياس د نص خلاف دی ، دوهم که چيري زلزله راسي نو د کور د چپه کېدو او په سرای کي د اور لګېدو په صورت کي په کور کي پاته کېدل په يقيني توګه د هلاکت او تباهۍ سبب دی لکه چي په عامه توګه لېدل کيږي ، ددې پر خلاف د وباء څخه د تېښتي په صورت کي مړ کېدل يقيني نه وي بلکه مشکوک او موهوم وي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د بد فالي دفع

﴿۴۳۸۹﴾: عَنْ عُرْوَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ ذُكِرَتُ الطِّيَرَةُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عروه بن عامر رضی الله عنه څخه روايت دى چي ما د نبي كريم ﷺ په حضور كي د بد فال ذكر

وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحْسَنُهَا الْفَأْلُ وَلَا تَرُدُّ مُسْلِمًا فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يَكْرَهُ

وكړ، نبي كريم ﷺ وفرمايل: ښه شى ښه فال دى، او يو مسلمان دي د هغه د مقصد او ارادې څخه نه راګرځي، كله چي په تاسو كي يو څوک داسي شى ووينې چي هغه بد ګڼي

فَلْيَقُلْ اللَّهُمَّ لَا يَأْتِي بِالْحَسَنَاتِ إِلَّا أَنْتَ وَلَا يَدْفَعُ السَّيِّئَاتِ إِلَّا أَنْتَ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ. رواه ابوداؤد.

نو دا كلمات دي ووايي: اللهم لا ياتى ..... الا بالله. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۲۳۵، رقم: ۳۹۱۹.

=========

بَابُ الْكَهَانَةِ (د فال ويلو بيان)

په صراح كي ليكلي دي چي كهانت فال ګوئي ته وايي او د دغه فال ګوئي كسب او كار ته كهانت ويل كيږي، همدا رنګه فال ويونكي ته كاهن وايي، طيبي رحمه الله وايي: كاهن هغه سړي ته وايي چي د راتلونكو پېښنو او حوادثو خبر وركوي او د علم غيب دعوه كوي.

د رسول الله ﷺ د پيغمبرۍ څخه مخكي په عربو كي د كهانت ډېر رواج وو، عربو به د كاهنانو پر ښودلو خبرو باندي يقين او باور كوى، په هغو كي ځينو كاهنانو به دغه دعوه كول چي كوم جنات آسمان ته ځي هغوى د هغه ځاى خبري مونږ ته ښيي، دغه خبره د روايت څخه هم ثابته ده چي د بعثت نبوي څخه مخكي شيطانان به په غلا اسمان ته تلل او هلته به يې په دنيا كي د راتلونكي پېښنو چي د هغه يادونه به ملائكو كول يا د الله تعالى له خوا څخه چي كوم احكام به

ملائکو ته ورکول کېدل هغه به شیطانانو په پټه اورېدل او بیا مځکې ته په راتللو سره د خپل ځان څخه د ځینو خبرو په اضافه کولو سره به یې خپلو تابعدارانو ته ښودلې، هغه خلکو به د غه ټولې خبرې صحیح ګڼلې او د هغو په ذریعه به یې پر عربو باندې د خپل غیب پوهې علم ثرګندوی مگر د رسول الله ﷺ د پیغمبرۍ څخه وروسته چې شیطانان اسمان ته د تللو څخه منع کړل سول نو دا لړۍ ختمه سوه او د کهانت کار هم پای ته ورسیدی .

د کهانت په ډول یو شی عرافت هم وو ، ځینو خلکو به د ځینو خاصو شیانو او علامو په ذریعه د پټو شیانو خبر ورکوی لکه په رمل باندې د پوهېدونکو خلکو په ډول هغوی به هم دا ښودل چې د غلا مال په کوم ځای کې دی یا ورک سرې چیرې دی او داسې نور ، داسې خلکو ته عراف ویل کېدل، په ځینو ځایو کې د کاهن اطلاق پر عراف او منجم باندې هم کیږي، علماء لیکي چې د کهانت ، رمل او نجوم علم حرام دی ، او د هغه زده کول او په هغه عمل کول شریعت قطعا روا کړي نه دي ځکه د دغه علومو په ذریعه ګټلی مال هم حرام دی او اخیستونکی او ور کونکی دواړه ګناه کار دي، کوم خلک چې په دنیوي توګه یا په دیني توګه د مخلوق او د هغوی پر هدایت باندې مامور دي پر هغوی لازم دي چې هغوی خلک په دغه شیانو کې د اخته کېدو څخه منع کړي او کوم خلک چې په دې کې اخته دي د هغوی خبرداری وکړي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

کاهن، فالګر او رمل ته مه نژدې کیږئ

﴿۴۳۹۰﴾: عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أُمُورًا كُنَّا نَصْنَعُهَا

د حضرت معاویه بن حکم رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما وویل: اې د الله رسوله ! موږ به د جاهلیت په زمانه کې څو کارونه کول ،

فِي الْجَاهِلِيَّةِ كُنَّا نَأْتِي الْكُهَّانَ قَالَ فَلَا تَأْتُوا الْكُهَّانَ قَالَ قُلْتُ كُنَّا نَتَطَيَّرُ قَالَ

یعني دا چې موږ به کاهنانو ته تلو (او د هغوی څخه به مو د غیب د خبرو پوښتنه کوله) نبي کریم ﷺ وفرمایل: اوس تاسو کاهنانو ته مه ورځئ ، بیا ما وویل: موږ به فال کتئ ، نبي کریم

ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُهُ أَحَدُكُمْ فِي نَفْسِهِ فَلَا يَصُدَّنَّكُمْ قَالَ قُلْتُ وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ

ﷺ وفرمایل: دا یو داسې شی دی چې هر څوک یې په خپل زړه کې پیدا کړي (یعني هر څوک

چي د فال خيال كوي) خو دا خيال دي تاسو د څه كار څخه ونه باسي ، بيا ما وويل: په موږ كي به ځينو خلكو خط (ليكى) را كاږي (يعني د رمل ، د ترويت يو علم چي د كرښو ، ټكو او اعدادو په ذريعه د غيب خبري او د بني ادم د قسمت حال بيانوي) كار كوي ،

خطا قَالَ كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ . رواه مسلم.

نبي كريم ﷺ وفرمايل: يو نبي (د خداي تعالى په حكم سره) ليكي راكښلې د چا خط چي د هغه موافق راسي هغه رشتيا دى . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۷۴۸\۴، رقم: ۱۲۱- ۲۲۲۷.

تشريح: په حديث كي چي د كوم نبي ذكر سوى دى د هغه څخه حضرت دانيال عليه السلام يا د ځينو حضراتو د قول مطابق حضرت ادريس عليه السلام مراد دى، د حديث د آخري برخي مطلب دادى چي د كرښو او خطو كښلو علم چي رمل ورته ويل كيږي په اصل كي د دغه نبي څخه جاري سوى وو چي اوس د خپل حقيقي اصولو او قواعدو په اعتبار معدوم سوى دى ، كه اوس هم يو څوك دغه علم د خپلو خصوصياتو او شرائطو سره پيژني كوم چي هغه نبي وضع كړى وو او د هغه كرښو او خطو كښل بالكل هم هغسي وي لكه څرنګه چي هغه نبي كول نو په دغه صورت كي به د علم څخه ګټه اخيستل مباح وي مګر دا خبره ثابته ده چي دغه علم د خپل اصل په اعتبار د دنيا څخه پورته سوى دى او هيڅوک په هغه د پوهېدو قدرت نلري چي هغه نبي به څه ډول كرښي او خطونه كښل ځكه اوس د دغه علم زده كول او په هغه عمل كول حرام او منع دي ، د دې وضاحت په باب ما لايجوز من العمل في الصلوة كي هم تېر سو يدى .

د كاهن خبري

﴿۴۳۹۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلَ أُنَاسٌ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ

د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روايت دى چي ځينو خلكو د نبي كريم ﷺ څخه د كاهنانو په باره كي

الْكُهَّانِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسُوا بِشَيْءٍ قَالُوا يَا

و پوښتل (چي د دوى خبري د اعتماد او باور وړ دي او كه څنګه؟) نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل :دا هيڅ نه دي خلكو وويل: اې

رَسُولَ اللّٰهِ فَإِنَّهُمْ يُحَدِّثُونَ أَحْيَانًا بِالشَّيْءِ يَكُونُ حَقًّا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

د الله رسوله ! ځیني وخت هغوی داسي خبري کوي چي هغه ریښتني وي ، نبي کریم ﷺ ورته

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنَ الْحَقِّ يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ فَيَقُرُّهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ

قَرَّ الدَّجَاجَةِ فَيَخْلِطُونَ فِيهَا أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ كَذْبَةٍ. متفق عليه.

وفرمایل : هغه کلمه حق ده چي پیریان او شیطان یې را غلا کړي او د خپل دوست په غوږ کي یې داسي و غورځوي څنګه چي یو چرګ د بل چرګ و غوږ ته اذان رسوي ، وروسته هغه کاهن په هغه رشتیا کلمه کي د سلو څخه زیاتي درواغجني خبري شاملي کړي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۹۵، رقم: ۶۲۱۳، ومسلم ۴\۱۷۵۰، رقم: ۱۲۳– ۲۲۲۸.

تشريح: هغه خبره حق وي چي پیری یې راوتښتوي، ددې مطلب دادی چي کاهنانو ته ځیني خبري یا ځیني شیان صحیح ثابتیږي ، د هغه وجه دا وي چي کله د الله تعالی له خوا یو حکم د وحي په ذریعه ملائکو ته راځي یا په لوح محفوظ کي یوه خبره پر ملائکو باندي منکشف کیږي نو په یو طریقه سره جنات او شیاطین هغه خبره د ملائکو څخه اوري او هغه د خلکو په غوږو کي پوکي کوم چي د هغه جناتو او شیاطینو پیروان وي، یعني هغه کاهن او بیا هغه کاهن په هغه خبره کي په سوونو درواغ خبري یو ځای کړي او خلکو ته یې وایي ،

ځینو حضراتو د (یقرها في اذن ولیه قر الدجاجة) معنی دا بیان کړې ده چي څرنګه چرګ د خپلي چرګي سره د جفتي کولو په وخت کي داسي مني پکښي اچوي چي چا ته نه معلومیږي همدارنګه هغه جن هم هغه آسماني خبره د خپل پیروانو په غوږو کي په داسي ډول اچوي چي د هغه څخه پرته نورو خلکو ته د هغه علم نه وي .

﴿۴۳۹۲﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ

د بي بي عائشې ﷺ څخه روایت دی چي ما د نبي کریم ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي د ملائیکو

تَنْزِلُ فِي الْعَنَانِ وَهُوَ السَّحَابُ فَتَذْكُرُ الْأَمْرَ قُضِيَ فِي السَّمَاءِ فَتَسْتَرِقُ

یوه ډله په وریځ کي را کښته سي او په خپلو کي د کارونو ذکر سره کوي چي د خدای تعالی په نیزد لیکل سوي وي (یعني کوم کارونه چي واقع کېدونکي وي او په تقدیر کي لیکل سوي

الشَّيَاطِينُ السَّمْعَ فَتَسْمَعُهُ فَتُوحِيهِ إِلَى الْكُهَّانِ فَيَكْذِبُونَ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ

مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ. رواه البخاري.

وي) شیطانان د هغوی د خبرو د اورېدو لپاره غوږ نیسي ، کله چي د هغوی څخه خبري واوري نو د کاهنانو په غوږونو کي ورواچوي بیا کاهنان په هغوی کي د ځانه څخه سل نوري د دروا غو خبري اچوي او خلکو ته یې بیانوي . بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳۰۴/۱۶، رقم: ۲۲۱۰.

تشریح: مطلب دادی چي کاهن کومي خبري بیانوي په هغو کي هغه خبره هم وي چي هغوی ته د شیطان په ذریعه معلومه سوې وي او هغه شیاطینو هغه خبره د ملائکو څخه په غلا اورېدلې وي او هغه خبره په هر صورت واقع کیږي، همدارنګه د کاهنانو ځیني خبري د حقیقت او واقعت مطابق کیږي مګر دا خبره باید په ذهن کي وي چي هغه کاهن په هغه خبره کي د خپل ځان له خوا په سوونو دروا غ خبري هم یو ځای کوي او د هغوی ښودل سوي خبرو باندي دروا غ غالب وي، ځکه شریعت د هغه کاهنانو څخه د استفاده کونکو او د هغوی خبرو ته توجه ورکول منع کړل او وه یې فرمایل چي د هغوی خبري هیڅ حقیقت نه لري .

نجومي او کاهن

﴿۴۳۹۳﴾: وَعَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً. رواه مسلم.

د بي بي حفصې رضي الله عنها څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: څوک چي و کاهن او نجومي ته ورسي او د هغه څخه د یوه شی پوښتنه وکړي، د هغه د څلوېښتو شپو پوري لمونځونه نه قبلیږي . مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱۷۵۱/۴، رقم: ۱۲۵-۲۲۳۰.

تشریح: یعني دا د هغه چا په اړه سخت تاواني او د بدبختی علامه ده چي د هغه لمونځ چي په عباداتو کي تر ټولو غوره او افضل عمل دی ،نامقبول سي، یا دا مراد دی چي کله د هغه سړي لمونځ نه قبلیږي نو نور اعمال یې په طریقه اولی نه قبلیږي او د لمانځه نه قبلېدو څخه مراد دادی چي هغه ته د لمونځو ثواب نه تر لاسه کیږي که څه هم د هغه د ذمې څخه فرض ادا سي او پر هغه د لمونځو قضا نه واجبیږي ، په حدیث کي که څه هم د اربعین لیلة الفاظ دي یعني یوازي

د شپې ذکر سوی دی مګر په حقیقت کي د ورځي او شپې دواړو لمونځونه مراد دي ځکه چي د عربو د کلام دا هم طرز دی چي په الفاظو کي يوازي د ورځي يا د شپې ذکر وي مګر مراد شپه او ورځ دواړه وي.

باران د الله ﷻ په فضل کيږي

﴿۴۳۹۴﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د زيد بن خالد جهنی رضي الله عنه څخه روايت دی چي په حديبيه کي نبي کريم ﷺ و موږ ته د سهار

وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ بِالْحُدَيْبِيَةِ عَلَى إِثْرِ سَمَاءٍ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلَةِ فَلَمَّا انْصَرَفَ

لمونځ راکړ او د شپې باران سوی وو، د لمانځه د فارغه کيدو وروسته نبي کريم ﷺ موږ ته

أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ

متوجه سو او ويې فرمايل: تاسو پوهيږئ چي ستا سو پروردګار (په دې وخت) څه فرمايلي دي ، اصحابو کرامو وويل: الله ﷻ او د هغه رسول الله ﷺ ښه پوهيږي.

قَالَ أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللَّهِ

نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: الله ﷻ فرمايلي دي، زما بندګانو نن په داسي حال کي سبا کړ چي ځينو په ما ايمان راوړ او ځينو کفر (د خدای تعالی څخه انکار) وکړ، چاچي دا وويل چي پر موږ د خدای تعالی په فضل

وَرَحْمَتِهِ فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ وَأَمَّا مَنْ قَالَ بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا فَذَلِكَ كَافِرٌ بِي وَمُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ . متفق عليه.

او کرم سره باران وسو هغه خو پر ما باندي ايمان راوړ او د ستورو د اثر څخه منکر سو او چاچي دا وويل چي د فلاني ستوري د راختو او د لويدو سره باران وسو هغه کافر سو، يعني زما څخه منکر سو او په ستورو يې ايمان راوړ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۳۳۳، رقم: ۸۴۶، ومسلم ۱\۸۳، رقم: ۱۲۵-۷۱.

تشريح: کوم څوک چي دا عقيده لري چي په باران اوريدو کي د ستورو د تاثير دخل دی يعني

ستوري باران اوروي يا ستوري داسي اثرات مرتب كوي چي په هغه سره اوبه اوريږي ، لكه ځرنګه چي د جاهليت د زمانې د خلكو عقيده وه نو داسي سړى كافر كيږي مګر كه چيري دغه عقيده داسي وي چي باران په اصل كي د الله تعالى په حكم سره او د هغه په فضل او كرم سره اوريږي او د ستورو طلوع او غروب وغيره د باران يو علامه ده او ددغه شيانو په بنياد د باران كېدو ګمان كېداى سي نو دا كفر نه دى مګر صحيح خبره داده چي داسي خيال او عقيده درلودل هم مكروه تنزيهي دي .

﴿۴۳۹۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ بَرَكَةٍ إِلَّا أَصْبَحَ فَرِيقٌ مِنَ النَّاسِ بِهَا كَافِرِينَ يُنْزِلُ اللَّهُ الْغَيْثَ فَيَقُولُونَ بِكَوْكَبِ كَذَا وَكَذَا . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي خداي تعالى د آسمان څخه بركت نازلوي نو د انسانانو يوه ډله د هغې په ذريعه په كفر كي مبتلا سي (يعني د خداي تعالى څخه انكار كوي) خداي تعالى باران كوي او ځيني خلك دا وايي چي د فلاني فلاني ستوري د اثر څخه باران وسو . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۸۴، رقم: ۱۲۶- ۷۲.

تشريح: كه څه هم صحيح خبره داده چي د بركت څخه مراد باران دى او دغه عبارت : وينزل الغيث ...الخ: د مخكني عبارت او بركت د لفظ وضاحت دى چي د بركت څخه عام يعني هر ډول بركت مراد دى او د (وينزل الغيث...الخ) په ذريعه د نزول بركت يو مثال او د هغه يو خاص صورت بيانول مقصد دى .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

نجوم او جادو

﴿۴۳۹۶﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اقْتَبَسَ عِلْمًا مِنَ النُّجُومِ اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ زَادَ مَا زَادَ . رواه احمد

وابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د نجوم د علم څخه یوه برخه زده کړي، هغه لکه د جادو یوه برخه چې یې زده کړه او که د دې څخه زیات حاصل کړي نو زیات جادو یې حاصل کړ. احمد، ابوداؤد او ابن ماجه.

تخریج: مسند الامام احمد ۱\۳۱۱، وابوداود ۴\۲۲۶، رقم: ۳۹۰۵، وابن ماجه ۲\۱۲۲۸، رقم: ۳۷۲۶.

تشریح: علم نجوم ته د سحر سره تشبیه ورکړل سوې ده چې د نجوم علم زده کول داسې دي لکه څرنګه چې یو څوک د جادو علم زده کوي او د دې مشابهت په وجه د علم نجوم خرابي څرګندول دي، په دې اعتبار سره پر علم نجوم باندي عمل کونکي د جادوګرانو او کاهنانو څخه یو فرد دی چې د شریعت خلاف کارونه اختیاروي او د غیب بنوونې دعوه کوي.

د کاهن مشابهت

﴿۴۳۹۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتَى كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ أَوْ أَتَى امْرَأَتَهُ حَائِضًا أَوْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا فَقَدْ بَرِئَ مِمَّا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ. رواه احمد وابوداؤد.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې و نجوم ګر ته ولاړ سي او د هغه بیان ریښتني و بولي یا یو څوک چې د ښځي سره په حیض حالت کي جماع وکړي یا څوک چې د ښځي سره د لویو بولو په ځاي کي جماع وکړي، هغه د هغه شی څخه منکر او بېزاره سو کوم چې پر محمد ﷺ باندي نازل سوي دي. احمد او ابوداؤد.

تخریج: مسند الامام احمد ۲\۴۰۸، وابوداود ۴\۲۲۵، رقم: ۳۹۰۴.

تشریح: بېزاره سو: مطلب دادی چې هغه کافر سو مګر دا پر هغه صورت باندي محمول دی کله چې هغه حلال وګڼي، د حلال نه ګڼلو په صورت کي د دغه ارشاد د دغه شیانو سخته خرابي او زیات ارزښت بیانوي او د دغه سختي خرابۍ اختیارونکی به په شدت سره خبردار کولو او بېرولو باندي محمول وي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د كاهن او نجومي خبري

﴿۴۳۹۸﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَضَى اللّٰهُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله جل جلاله چي په اسمان کي

الْأَمْرَ فِي السَّمَاءِ ضَرَبَتْ الْمَلَائِكَةُ بِأَجْنِحَتِهَا خُضْعَانًا لِقَوْلِهِ كَأَنَّهُ سِلْسِلَةٌ

کوم حکم جاري کوي نو ملائکه د هغه کلام څخه داسي بيريږي چي وزرونه يې د خداى جل جلاله د بيري څخه رپږدي او دا حکم د هغه ځنځير د اواز په شان وي

عَلَى صَفْوَانٍ فَإِذَا {فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا} لِلَّذِي قَالَ

چي هغه پر صفا کاني را کشيږي (يعني د خداي تعالى ارشاد او حکم رباني د ځنځير د اواز په شان وي) بيا چي د ملائکو د زړونو څخه خوف او ويره ليري سي نو د کښتني درجې ملائکه د مقربو ملائکو څخه وپوښتي ستاسو پروردګار څه وفرمايل؟ هغوى وايي څه چي زموږ

{ الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ } فسمعها مسترقوا السَّمْعِ وَمُسْتَرِقو السَّمْعِ

پروردګار وفرمايل هغه ټوله حق دي يا هغه ارشاد خداوندي وښاياست او بيا وايي د الله جل جلاله ذات لوى او برتر دي هغه خبري چي د ملائکو په مينځ کي کيږي هغه پيريان يا شيطانان واوري

هَكَذَا بَعْضُهُ فَوْقَ بَعْضٍ وَوَصَفَ سُفْيَانُ بِكَفِّهِ فَحَرَفَهَا وَبَدَّدَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ

چي داسي خبرو ته يې غوږ نيولي وي او ځيني د ځينو څخه لوړ وي او سفيان د هغه وصف پر خپل ورغوي وکړي نو خپل ګوتي يې خلاصي کړلې (يعني دا پيريان لږ لږ فاصله باندي سلسله

فَيَسْمَعُ الْكَلِمَةَ فَيُلْقِيهَا إِلَى مَنْ تَحْتَهُ ثُمَّ يُلْقِيهَا الْآخَرُ إِلَى مَنْ تَحْتَهُ حَتَّى

وار ولاړ وي پورته و لاندي ته خبر رسوي او هغه بيا د ځان و کښته پيري يا شيطان ته تردې چي

يُلْقِيَهَا عَلَى لِسَانِ السَّاحِرِ أَوْ الْكَاهِنِ فَرُبَّمَا أَدْرَكَ الشِّهَابُ قَبْلَ أَنْ يُلْقِيَهَا

اخيري پيرى هغه خبر د جادوګر او کاهن و ژبي ته رسوي او د دې پيريانو د وهلو او زغلولو لپاره د

اسمانه څخه په شعلې باندي ويشتل كيږي، كله خو دا شعلې د خبر د رسولو څخه مخكي هغوى ونيسي

وَرُبَّمَا أَلْقَاهَا قَبْلَ أَنْ يُدْرِكَهُ فَيَكْذِبُ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ فَيُقَالُ أَلَيْسَ قَدْ

او كله د شعلې د رسېدو څخه مخكي شيطان دا خبر ورسوي، كوم وخت چي دا خبر ساحر يا كاهن ته ورسوي نو د هغه خبر سره سل نور درواغ پوري كړي او كله چي هغه ته وويل سي چي تا

قَالَ لَنَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا فَيُصَدَّقُ بِتِلْكَ الْكَلِمَةِ الَّتِي سَمِعَتْ مِنَ السَّمَاءِ. رواه البخاري.

فلاني فلاني خبره كړې وه هغه خو درواغ ثابته سوه نو په دې خبره سره د هغه د ريښتني تائيد كيږي چي هغه ته د اسمان څخه حاصله سوې وه او پېريانو ورته رسولې وه. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۵۳۷، رقم: ۴۸۰۰.

د لغاتو حل: الصفوان: الحجر الاملس. صرفها: اى ففرج كفه (لاس يې خلاص كړ)

تشريح: په حديث كي هغه صورت بيان سوى دى چي كاهنانو ته د غيب خبرو رسېدو سبب جوړيږي، په دې سره د حديث په آخر كي د هغه گمراهي ذكر سوى دى چي كله د كاهن ښودل سوي خبري زياتي درواغ ثابتيږي او خلك درواغجن گڼي نو هغه خلك چي د كاهن په رېښتيا خبرو عقيده لري او د باطن په گمراهي كي اخته دي د كاهن ټولي خبري نظر انداز كوي او يوازي د هغه خبري په حواله وركولو سره د هغه د رېښتوني خبري ثابتولو هڅه كوي، كوم چي جنات او شياطين د ملائكو څخه په غلا اوري او كاهن ته يې را رسوي، دغه صورت د نجوميانو په اړه هم كيږي، كله چي هغوى په سوونو خبري ښيي او په هغو كي يو خبره ناڅاپه صحيح ثابته سي نو هغه دنيا دار خلك چي دهغوى په باطن كي گمراهي او كوږوالى وي د هغه يوې خبري په وجه د نجوميانو معتقد كيږي.

مخته د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ يو روايت راځي چي په هغه كي په څرگنده كاهن ته ساحر فرمايل سوي دي، په دې اعتبار سره د حديث دغه الفاظ: (على لسان الساحر او الكاهن) كي د ساحر څخه مراد كاهن دى، په دغه صورت كي د او حرف به د راوي د شك د اظهار لپاره وي يعني دا ويل كيږي چي راوي د خپل شك اظهار كړى دى چي دلته د ساحر لفظ فرمايل سوى دى كه د كاهن، او كه دا خبره په نظر كي وي چي ساحر د غيب خبري نه ښيي او په دې اعتبار سره

دلته د ساحر لفظ پر خپل حقیقي معنی باندي محمول کېدای نسي نو دا به ویل کیږي چي د ساحر څخه مراد نجومي دی لکه څرنګه چي په یوه روایت کي فرمایل سوي دي : (المنجم ساحر) یعني نجومي ساحر دی، په دغه صورت کي به : (الساحر والکاهن) کي د او حرف د تنویع لپاره وي .

پاته سوه دا خبره چي په غلا سره په اسمان کي دا خلېدو او د ملائکو خبري اورېدونکي جن او شیاطین د تنبتولو لپاره چي کله شغلې ویشتل کیږي او هغه شغلې هغه جن او شیطان رانیسي نو د هغه حشر څه کیږي، ځیني حضرات وايي چي هغه جن یا شیطان د هغه شغلو په وجه وسوځي او ختم سي ، ځیني حضرات وايي چي هغوی په سوځېدو سره نه ختمیږي بلکه په شغلو سوځلو سره په سخت تکلیف سي او بیرته ژوندي راسي .

ویشتونکي ستوري

﴿۴۳۹۹﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَخْبَرَنِي رَجُلٌ مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روایت دی چي د اصحابو څخه یو کس ما ته بیان وکړ

وَسَلَّمَ مِنَ الْاَنْصَارِ اَنَّهُمْ بَيْنَهُمْ جُلُوسٌ لَيْلَةً مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

چي انصاري وو چي هغوی د رسول الله ﷺ سره یوه شپه ناست وه

وَسَلَّمَ رُمِيَ بِنَجْمٍ وَاسْتَنَارَ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاكُنْتُمْ

په دې وخت کي یو ستوری وویشتل سو او رڼا یې خپره سوه نبي کریم ﷺ وفرمایل : د

تَقُولُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا رُمِيَ بِمِثْلِ هَذَا قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ كُنَّا نَقُولُ وُلِدَ

جاهلیت په زمانه کي چي به کله دا سي یو ستوری وویشتل سو نو تاسو به څه ویل ؟ اصحابو کرامو وویل: چي د حقیقت حال الله ﷻ او د هغه و رسول الله ﷺ ته معلوم دی ، موږ خو به دا

اللَّيْلَةَ رَجُلٌ عَظِيمٌ وَمَاتَ رَجُلٌ عَظِيمٌ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ویل چي نن یو لوی کس پیدا سوی دی یا نن ورځ یو لوی کس مړ سوی دی . نبي کریم ﷺ

فَإِنَّهَا لَا يُرْمَى بِهَا لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ وَلَكِنْ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى اسْمُهُ إِذَا قَضَى

وفرمایل: ستوری نه د چا په مرګ ویشتل کیږي او نه د چا په پیدا ئښت بلکه زموږ پروردګار چي د هغه نوم برکتناک دی کله چي د څه حکم نافذ کوي

أَمْرًا سَبَّحَ حَمَلَةُ الْعَرْشِ ثُمَّ سَبَّحَ أَهْلُ السَّمَاءِ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ حَتَّى يَبْلُغَ التَّسْبِيحُ

نو د عرش الهی پورته کونکي ملائکي تسبیح وايي (یعني سبحان الله ، سبحان الله) بیا د اسمان ملائکي تسبیح وايي چي د عرش الهي پورته کونکي ملائکو ته نیزدې وي تر دې چي د

أَهْلَ هَذِهِ السَّمَاءِ الدُّنْيَا ثُمَّ قَالَ الَّذِينَ يَلُونَ حَمَلَةَ الْعَرْشِ لِحَمَلَةِ الْعَرْشِ مَاذَا

هغوی د تسبیح اواز د دنیا و اسمان ته راسي بیا هغه ملائکي چي د عرش د پورته کونکو ملائکو نژدې وي

قَالَ رَبُّكُمْ فَيُخْبِرُونَهُمْ مَا قَالَ فَيَسْتَخْبِرُ بَعْضُ أَهْلِ السَّمَاوَاتِ بَعْضًا حَتَّى

د هغوی څخه پوښتنه وکړي چي ستاسو پروردګار څه وویل ؟ هغوی د هغه څخه خبر کړي وروسته هغه خبره د هغوی څخه نوري ملائکي و پوښتي او د هغوی څخه بیا نوري تردې پوري

يَبْلُغَ الْخَبَرُ هَذِهِ السَّمَاءَ الدُّنْيَا فيخطف الْجِنُّ السَّمْعَ فَيَقْذِفُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ

چي دا سلسله و لاندي اسمان ته راورسیږي وروسته هغه خبر هغه پیریان او شیطانان واوري کوم چي یې غوږ نیولي وي د داسي خبرو منتظر وي او د خپلو دوستانو و غوږونو ته یې ور

وَيُرْمَوْنَ بِهِ فَمَا جَاءُوا بِهِ عَلَى وَجْهِهِ فَهُوَ حَقٌّ وَلَكِنَّهُمْ يَقْرِفُونَ فِيهِ وَيَزِيدُونَ .

رواه مسلم .

رسوي او ویشتل کیږي دوی ،غرض دا چي دا خبر داسي کاهنانو او جادوګرانو ته ورسیږي لیکن دا خلک په هغه کي درواغ شاملوي او د یوې خبري څخه نوري ډیري خبري جوړوي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴/ ۱۷۵۰، رقم: ۱۲۴- ۲۲۲۹.

د لغاتو حل: يقرفون: اى يكذبون (درواغ وايي).

ستوري د څه لپاره پیدا سوي دي

﴿۴۴۰۰﴾: وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ خَلَقَ الله تعالى هَذِهِ النُّجُومَ لِثَلَاثٍ جَعَلَهَا زِينَةً

د حضرت قتاده رحمه الله څخه روایت دی چي الله جل جلاله دا ستوري د درو خبرو لپاره پیدا کړي دي .

لِلسَّمَاءِ وَرُجُومًا لِلشَّيَاطِينِ وَعَلَامَاتٍ يُهْتَدَى بِهَا فَمَنْ تَأَوَّلَ فِيهَا بِغَيْرِ ذَلِكَ

(۱)- یو خو اسمان ته د ښائست ورکولو لپاره .(۲)-د پیریانو او شیطانانو د ویشتلو لپاره .(۳)-او دریم د علامو لپاره چي په دې سره خلک لاره پیدا کوي ، چا چي د دې درو

أَخْطَأَ وَأَضَاعَ نَصِيبَهُ وَتَكَلَّفَ مَا لَا عِلْمَ لَهُ بِهِ . رواه البخاري. وفي رواية

فائدو څخه پرته د بلې فائدې لپاره بیان کړ هغه غلطي وکړه ، د خپل عمر حصه یې ضائع کړه او په هغه شی کي یې تکلف وکړ چي په هغه کي ورته علم نه وي. بخاري ، او د رزین په روایت کي

رزين تكلف مالا يعنيه ومالا علم له به وما عجز عن علمه الأنبياء والملائكة وعن الربيع مثله وزاد والله ما جعل الله في نجم حياة أحد ولا رزقه ولا موته وإنما يفترون على الله الكذب ويتعللون بالنجوم.

دا الفاظ زیات دي چي د هغه شي تکلف یې وکړ چي هغه ته هیڅ فائده نه رسیږي او په هغه شي کي یې تکلف وکړ چي علم یې پکښې نسته چي د هغه د علم څخه انبیاء (پېغمبران) او ملائکي عاجزه دي (نو دوی به وربانديې څه پوه سي) د ربیع راوي څخه هم داسي روایت نقل دی او په هغه کي دا الفاظ زیات دي په خداي تعالی دي مي قسم وي چي الله ﷻ په ستورو کي نه خو د چا ژوند تړلی دی نه د چا مرګ او نه د چا رزق ، دا خلک په خداي تعالی باندي دروغ وایي چي ستوري د وجود او عدم علت (سبب ، وجه) ګرځوي .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲۹۵\۱۶،

تشريح: خپله برخه یې ضائع کړل: مطلب دا دی چي هغه خپل ځان په پالتو او بې کاره کارو کي اخته کړ چي د هغه ګټه نه په دنیا کي تر لاسه کیږئ او نه په آخرت کي تر لاسه کېدونکې ده، همدارنګه هغه د خپل قریب د عمر قیمتي برخه ضائع کړل .

نجومي ساحر دی

﴿۴۴۰۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اقْتَبَسَ بَابًا مِنْ عِلْمِ النُّجُومِ لِغَيْرِ مَا ذَكَرَ اللهُ فَقَدْ اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِّنَ السِّحْرِ الْمُنَجِّمُ كَاهِنٌ وَّالْكَاهِنُ سَاحِرٌ وَّالسَّاحِرُ كَافِرٌ . رواه رزين.

د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چاچي د نجوم د علم یوه برخه زده کړه د هغه څخه پرته چي د هغه ذکر الله ﷻ کړی دی نو هغه د جادو یوه حصه زده کړه او نجومي (یعني د ستورو په علم پوهېدونکي) کاهن دی او کاهن جادو ګر دی او جادو ګر کافر دی. رزین.

تخریج: رواه رزین.

تشریح: د حدیث خلاصه داده چي نجوم، کهانت او سحر دغه ټول شیان د یوه جنس دی او د ټولو یو حکم دی او دغه ټول د کافرانو او بې دینو خلکو کارونه دي.

باران خدای ﷻ کوي

﴿۴۴۰۲﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَمْسَكَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ الْقَطْرَ عَنْ عِبَادِهِ خَمْسَ سِنِينَ ثُمَّ أَرْسَلَهُ لَأَصْبَحَتْ طَائِفَةٌ مِنَ النَّاسِ كَافِرِينَ يَقُولُونَ سُقِينَا بِنَوْءِ الْمِجْدَحِ. رواه النسائي.

د حضرت ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که الله ﷻ د خپلو بندګانو څخه پنځه کاله باران ودروي او بیا باران وکړي نو د خلکو څخه یوه ډله کافران به د خدای تعالی څخه په انکار کولو سره ووایي چي د مجدح (یعني منزل قمر) په وجه پر موږ باندي باران وسو. نسائي.

تخریج: سنن النسائي ۳\۱۶۵، رقم: ۱۵۲۶.

د لغاتو حل: المِجدح: نجم من النجوم (یو ستوری).

تشریح: مِجدح: د میم په زېر، د جیم په جزم او د دال په زور سره د عربو په نزد د سپوږمۍ د منازلو څخه یو منزل دی، د جاهلیت په زمانه کي به عربو دغه منزل د باران اورېدو سبب ګرځوی، دا خبره مخکي هم ښودل سوې ده چي د ستورو راختل او لوېدل او د سپوږمۍ منازل د باران اورېدو حقیقي سبب ګڼل کفر دی.

==========

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم

کِتَابُ الرُّؤْيَا

(د خوبونو بیان)

د خوب معنی ده هغه خبره چي انسان یې په خوب کي ویني، تحقیق کوونکي وايي: خوب پر درې ډوله دي: یو خو محض خیال چي ټوله ورځ پر زړه، دماغ او ذهن باندي چي کومي خبري خپرې سوي وي هغه په خوب کي په مشکل کېدو سره ښکاري سي، دوهم ډول خوب هغه دی چي د شیطاني اثراتو عکاس وي لکه څرنګه چي په عامه توګه بېرونکي خوبونه لېدل کیږي، او دریم ډول هغه خوب دی چي د الله تعالی له لوري زیری او غوره والی ښکاري، د خوب دغه دریم ډول ته (رؤیا صالحه) وايي، او ددې حقیقت د علماوو او اهل سنت په نزد دادی چي الله تعالی د بېده سړي په زړه کي د علوم معرفت د ادراکاتو او احساساتو نور پیدا کوي، لکه څرنګه چي هغه د وېښ سړي زړه د علوم او معرفت د ادراکاتو او احساساتو په رڼا سره منور کوي، او الله تعالی بېله شکه پر دې قادر دی ځکه چي نه خو بيداري په قلب انساني کي د نور بصیرت د پېدا کېدو ذریعه ده او نه خوب ددې څخه مانع دی، څرګنده دي وي چي بېده سړی په خپل خوب کي د کومو خبرو ادراک او احساس کوي او کوم شیان چي د هغه نور بصیرت ویني هغه په اصل کي د واقع کېدونکو شیانو علامه او اشاره وي او دغه علامه او اشاره د تعبیر بنیاد جوړیږئ کله دغه علامه او اشاره دومره واضحه وي چي عام انساني ذهن د هغه مراد بیانولای سي لکه څرنګه چي د وریځي په لېدو سره د باران وجود ته ذهن خپله ورځي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مسلمان ښه خوب

﴿۴۴۰۳﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَبْقَ

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د نبوت د اثارو څخه هیڅ

مِنَ النُّبُوَّةِ إِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ قَالُوا وَمَا الْمُبَشِّرَاتُ قَالَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ. رواه

البخاري و زاد مالك برواية عطاء بن يسار يراها الرجل المسلم او ترى له.

پاته نه دي پرته د مبشراتو څخه (يعني نبوت به زما وروسته ختم سي او د راتلونکو واقعاتو د معلومولو هيڅ ذريعه به پرته د مبشراتو څخه پاته نسي) اصحابو کرامو وويل: چي مبشرات و څه ته ويل کيږي ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : ښه خوبونه (يعني زيرى ورکونکي خوبونه) . بخاري او مالک په دې روايت کي چي د عطاء بن يسار رحمه الله څخه نقل دى دا الفاظ زيات ليکلي چي نبي کريم ﷺ د ښه خوب وروسته دا الفاظ وفرمايل: هغه ښه خوب چي مسلمان يې د ځان لپارهويني يا د هغه لپاره يې بل څوک ويني..

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۳۷۵، رقم: ۶۹۹۰.

تشريح: مُبشرات : د ميم په پېښ او د باء په زور سره د بشارت څخه مشتق دى چي د هغه معنى د زيرې ده، په عربي کي د بشارت لفظ په عامه توګه د خير په سياق کي راځي مګر کله د شر سره هم استعماليږي ، همدارنګه د رؤياء اطلاق په عامه توګه پر نېک خوب باندي کيږي او خراب خوب ته حُلم وايي، مګر دغه فرق او تخصيص شرعي نه دى ، د لغت په اعتبار رؤياء مطلق خوب ته وايي، دلته په حديث کي هم د رؤياء لفظ مطلق د خوب په معنى کي استعمال سوى دى او که دا وويل سي چي د رؤياء څخه نېک خوب مراد دى نو په دغه صورت کي به ويل کيږي چي د لفظ صالحه ذکر محض د لفظ رؤياء د وضاحت او تشريح لپاره دى، يا دا چي صالحه په اصل کي د صادقه په معنى کي دى چي د روياء صالحه څخه مراد هغه نېک خوب دى چي رېښتونى يعني د واقع مطابق وي، په لومړۍ معنى کي يعني لفظ د صالحه د روياء وضاحت او تشريح ګرځول زيات صحيح او د مبشراتو د معنى موافق دى ځکه چي د نېک خوب مطلب نيک خبر دى او بشارت هم کليه يا په عامه توګه زړه او دماغ خوشحاله کونکى وي که څه هم د طيبي رحمه الله د قول مطابق په بشارت کي د صدق هم اعتبار وي مګر د حديث سياق د دې متقاضي دى چي دوهمه معنى مراد واخيستل سي ځکه چي په حديث کي خوب ته د نبوت يو جز ويل سوي دي او په نبوت کي د رېښتوني خبر اعتبار دى که څه هم هغه خوشحاله کونکى وي يا بېرونکى وي ، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي د لفظ مبشرات استعمال د تغليب لپاره دى يا دا چي مبشرات پر خپل مطلق معنى يعني مخبرات باندي محمول دى .

د ښه خوب فضیلت

﴿۴۴۰۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ. متفق علیه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ښه خوب د نبوت د شپږ څلوېښتو برخو څخه یوه برخه ده. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۳۷۳، رقم: ۶۹۸۸، ومسلم ۱۴\۱۷۷۴، رقم: ۸- ۲۲۶۳.

تشریح: څرګنده خبره داده چي دلته د رویاء صالحه څخه مراد صادقه دی یعني هغه نېک خوب چي رېښتیا هم وي، دلته یو سوال پیدا کیږي او هغه دا چي، د یو شي یو برخه د هغه شي څخه بېله نه وي بلکه د هغه سره وي په دې اعتبار به ویل کیږي چي کله نبوت باقي نه دی پاته سوی نو د هغه نبوت جز یعني رویا صالحه څرنګه باقي کیدای سي، ددې جواب دادی چي ددغه ارشاد معنی داده چي رویاء صالحه د علم نبوت د اجزاوو او برخو څخه یو برخه ده او څرګنده ده چي علم نبوت پاته دی که څه هم نبوت باقي نه دی، یعني په دغه حدیث کي د ذکر سوو الفاظو په ذریعه د رویاء صالحه فضیلت او منقبت بیان سوی دی چي نېک خوب د نبوت عکس دی که څه هم د هغه لیدونکی نبي نه وي، لکه چي په یو حدیث کي فرمایل سوي دي چي نېکي، حلم او میانه روي د نبوت څخه دي، د شپږ څلوېښت د شمېر د خاصوالي په اړه علماوو مختلفي خبري لیکلي دي، مګر صحیح خبره داده چي نه یوازې ددغه بلکه د نورو ډېرو شیانو لکه د لمانځه د رکعتو، تسبیحاتو او نورو په اړه چي کوم شمېر مشروع او مذکور دی د هغه د علت او حقیقت علم شارح ته معلوم دی، په یو بل روایت کي د شپږ څلوېښت پر ځای شپږ ویشت او په یوه روایت کي شپږ اویا او په یوه روایت کي څلیرویشت عدد مذکور دی، دې څخه دا ثابتیږي چي په هیڅ روایت کي یو خاص عدد مراد نه دی بلکه محض زیاتوالی مراد دی.

نبي ﷺ په خوب کي لیدل

﴿۴۴۰۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَتَمَثَّلُ فِي صُورَتِي. متفق علیه.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي په خوب کي زه

وليدم هغه (په حقيقت كي)زه وليدم ځكه چي شيطان زما شكل او صورت نه سي اختيارولای . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۰۲، رقم: ۱۱۰، ومسلم ۴\۱۷۷۴، رقم: ۱۰-۲۲۶٦.

تشريح: مطلب دادی چي كوم چا زه په خوب كي ولېدلم نو لكه هغه چي زه په وېښه ولېدلم مگر ددې دا مطلب نه دی چي پر هغه سړي باندي هغه احكام عائد كيږي كوم چي په حقيقت كي د رسول الله ﷺ د لېدو په صورت كي كيږي يعني نه خو داسي سړي ته صحابي ويل كيږي او نه په هغه شي عمل كول به د هغه لپاره ضروري وي چي هغه په خپل خوب كي د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي وي ، ځيني حضرات وايي چي رسول الله ﷺ دغه حديث د خپلي زمانې د خلكو لپاره فرمايلی دی چي زما په زمانه كي كوم څوک ما په خوب كي ويني هغه ته به الله تعالی د هجرت كول توفيق وركړي چي هغه به په راتلو سره زما سره يو ځای سي، يا دا مراد دی چي هغه به په آخرت كي زما لېدنه وكړي ، ځيني حضرات وايي چي دغه ارشاد په معنی د اخبار دی مطلب دا چي كوم څوک ما په خوب كي ويني هغه ته خبر وركړئ چي د هغه خوب حقيقي او رېښتونی دی او اضغاث احلام نه دي، ځكه چي شيطان زما صورت نسي اختيارولای يعني د هغه دومره توان نسته چي هغه يو چا ته په خوب كي راسي او د هغه په فكر كي دا خبره واچوي زه رسول الله ﷺ يم او همدارنگه په رسول الله ﷺ پسي درواغ وتړي .

ځيني محققينو ليكلي دي چي شيطان د الله تعالی د ذات په اړه درواغ بنودلای سي يعني لېدونكی په دې فكر او وسوسه كي اخته كولای سي چي دا د الله تعالی صورت دی مگر د رسول الله ﷺ صورت هيڅكله نسي جوړولای او نه په رسول الله ﷺ پسي درواغ تړلای سي، ځكه چي رسول الله ﷺ د هدايت مظهر دی او شيطان لعين د ضلالت او گمراهی مظهر دی او د هدايت او ضلالت په مينځ كي د اوبو او د اور نسبت دی چي دواړه د يو بل ضد دي ، ددې پر خلاف د الله تعالی ذات د صفات هدايت او اضلال او صفات متضاده جامع دی، ددې څخه پرته صفت الوهيت داسي صفت دی چي د هغه په مخلوقاتو كي دعوه كول صريح البطلان دی او محل اشتباه نه دی حال دا چي وصف نبوت ددې درجې صفت نه دی ، همدا وجه ده كه يو سړی د الوهيت دعوه وكړي نو د هغه څخه خارق عادات صادريدلای سي او كه يو سړي د نبوت دعوه وكړي نو د هغه څخه د معجزې څرگندېدل ممكن نه دي .

﴿۴۴۰۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَآنِي فَقَدْ رَأَى الْحَقَّ. متفق عليه.

د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي زه په خوب کي وليدم هغه حق وليدل يعني رښتني خوب يې وليدی او زه يې وليدم. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۳۷۳، رقم: ۶۹۹۶، ومسلم ۱۴\۱۷۷۶، رقم: ۱۱- ۲۲۶۷.

تشريح: څرګنده دي وي چي د دغه مضمون حديثونه په ډېرو طريقو او سندو سره نقل سوي دي، او پر دې خبره دلالت کوي چي کوم څوک رسول الله ﷺ په خوب کي ويني نو هغه په حقيقت کي رسول الله ﷺ ولېدی، دا د رسول الله ﷺ په ځانګړتياوو کي شمېرل کيږي او اعجاز نبوي ګرځول سوی دی البته د علماوو په نزد په دې خبره کي اختلاف دی چي د دغه حديثونو تعلق د رسول الله ﷺ په کوم صورت او حليه کي د لېدو دی، ځيني حضرات وايي چي د دغه حديثونو تعلق د هغه سړي سره دی چي په خپل خوب کي رسول الله ﷺ په هغه خاص صورت او حليه کي ويني چي په هغه سره رسول الله ﷺ متصف دی، ځينو حضراتو په دې کي پراختيا کړې ده او ويلي يې دي چي رسول الله ﷺ په هغه شکل او صورت کي ويني چي ټول عمر د رسول الله ﷺ سره متعلق وو يعني که د ځوانۍ په شکل کي يې ويني او که د پاخه عمر په شکل کي او که د آخري عمر په صورت کي يې ويني، ځينو حضراتو دغه دائره محدوده کړې ده او وايي چي رسول الله ﷺ په هغه شکل کي د لېدو اعتبار دی کوم چي د رسول الله ﷺ د عمر په آخري برخه کي وو او په هغه شکل کي رسول الله ﷺ له دنيا څخه تشريف وړی دی، تر دې چي هغه حضراتو د رسول الله ﷺ د هغه سپينو وېښتانو د لېدو هم اعتبار کړی دی چي د رسول الله ﷺ په سر مبارک او ږېره مبارکه کي وه او په شمېر کي شلو ته هم رسيدلي نه وه.

نقل سوي دي چي کله به محمد ابن سيرين رحمة الله عليه (د خوبو د تعبير په فن کي امام وو) ته يو سړی راغلی او دا بيان به يې وکړ چي ما رسول الله ﷺ په خوب کي ليدلی دی، نو هغه به پوښتنه ځيني کول چي وښيه! تا رسول الله ﷺ په کوم شکل او صورت کي ليدلی دی، که چيري هغه سړي به د رسول الله ﷺ هغه شکل بيان کړ کوم چي د رسول الله ﷺ سره خاص وو نو ابن سيرين رحمة الله عليه به ورته ويل: ولاړ سه تا رسول الله ﷺ په خوب کي نه دی ليدلی.

په دې اړه امام نووي رحمة الله عليه وايي: کوم څوک چي رسول الله ﷺ په خوب کي ويني نو هغه

په هر صورت کي رسول الله ﷺ په خوب کي لیدلی دی، که هغه یې په هغه خاص صورت کي وویني کوم چي د رسول الله ﷺ په اړه نقل سوی دی یا په بل شکل کي یې وویني، ځکه چي د شکل مختلف کېدل د ذات مختلف کېدل ضروري نه گرځوي، ددې څخه پرته دا هم باید په ذهن کي وي چي په شکل کي د اختلاف تعلق د اختلاف او تفاوت تعلق د خوب لېدونکي د ایمان د کمال او نقصان څخه هم کېدای سي یعني کوم څوک چي په خوب کي رسول الله ﷺ په ښه شکل او صورت کي وویني نو دا به د هغه د کامل ایمان او عقیدې علامه وگرځول سي او کوم څوک چي ددې پر خلاف وویني نو دا به د هغه د ایمان د کمزورۍ او د عقیدې د فساد علامه وگرځول سي، همدارنگه که یو څوک رسول الله ﷺ په سپین ږېرتوب کي وویني او یو سړی یې زلمی وویني او یو سړی یې خوشحاله وویني او یو سړی یې غمجن وویني نو دغه ټول حالتونه به دخوب لېدونکي د ایمان د احوالو پر فرق باندي مبني وي چي کوم څوک د کومي درجې ایمان لري هغه به رسول الله ﷺ د هغه درجې په صورت کي وویني، په دې اعتبار سره رسول الله ﷺ په خوب کي لېدل د خپل ایماني احوالو پېژندو یو معیار دی، نو دغه شی د سالکین طریقت لپاره د یو کټوري قاعدې حیثیت لري چي د هغه په ذریعه د خپل باطن حالت پېژندو سره د هغه اصلاح وکړي، پر دې باندي په قیاس کولو سره ځینو علماوو دا هم لیکلي دي چي کوم څوک په خوب کي د رسول الله ﷺ یو ارشاد واوري نو د هغه دي د حدیث او سنتو سره تقابل وکړي که هغه ارشاد د حدیث او سنت موافق وي نو هغه یقینا حق دی او که موافق نوي نو دا دي وگڼي چي دا زما د ذهن او سامعې خلل دی نو په خوب کي د رسول الله ﷺ ذات او د رسول الله ﷺ ارشاد لېدل او اورېدل حق دي که صورت مبارک او ارشادات مقدسه کي تفاوت او مخالفت معلوم سي نو باید پوه سي چي دا به د خوب لېدونکي د کوتاهۍ په اعتبار وي.

د شیخ علي متقي رحمه الله څخه نقل سوي دي چي یو فقیر په خوب کي ولېدل چي رسول الله ﷺ هغه ته د شراب څښلو لپاره وفرمایل، ددغه خوب په وجه د هغه په ذهن کي سخت تشویش پیدا سو، هغه د تشویش دفع کولو لپاره علماوو ته رجوع وکړه او د هغوی څخه یې پوښتنه وکړه چي ددغه خوب حقیقت څه شي دی؟ هر عالم مختلف تعبیر ورته بیان کړ، په دغه وخت کي دغه مسئله د حدیثو یو عالم شیخ محمد ابن عراق رحمه الله ته راغلل چي باعمله عالم او ډېر متبع سنت وو، هغه وفرمایل: اصل خبره دا نه ده لکه څرنگه چي هغه اورېدلې ده بلکه د هغه ذهن او سامعه د خلل او انتشار ښکار سوې ده، په حقیقت کي رسول الله ﷺ داسي ورته فرمایلي دي چي: (لا تشرب الخمر) یعني شراب هیڅکله مه څښه، مگر هغه دغه جمله داسي واورېده

چي : (اشرب الخمر) يعني شراب وڅښنه.

﴿۴۴۰۷﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَسَيَرَانِي فِي الْيَقَظَةِ وَلَا يَتَمَثَّلُ الشَّيْطَانُ بِي. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي په خوب كي زه وليدم هغه به ژر د بيداري په حالت كي ما ويني او شيطان زما شكل نه سي اختيارولاى. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۳۸۳، رقم: ۶۹۹۳، ومسلم ۱۴\۱۷۷۵، رقم: ۱۱-۲۲۶۶.

تشريح: د دغه حديث تعلق د رسول الله ﷺ د زمانې سره دى، چي كوم څوك په خوب كي رسول الله ﷺ ويني نو هغه ته به الله تعالى دا توفيق وركړي چي هغه په وېښه كي هم د رسول الله ﷺ په لېدنه مشرف سي، يعني د رسول الله ﷺ په خدمت كي به حاضر سي او اسلام به قبول كړي، يا د ارشاد مطلب دا دى چي څوك ما په خوب كي ويني نو په آخرت كي به هغه په وېښه سره هم ما ويني.

ښه يا خراب خوب

﴿۴۴۰۸﴾ : وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا

د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الصَّالِحَةُ مِنَ اللّٰهِ وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يُحِبُّ فَلَا

ښه خوب د الله جل جلاله له خوا وي او بد خوب د شيطان له جانبه دى، څوك چي ښه خوب ويني هغه دي يوازي و هغه چا ته بيان كړي

يُحَدِّثْ بِهِ إِلَّا مَنْ يُحِبُّ وَإِذَا رَأَى مَا يَكْرَهُ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّهَا وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَلْيَتْفِلْ ثَلَاثًا وَلَا يُحَدِّثْ بِهَا أَحَدًا فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ. متفق عليه.

چي د هغه سره يې محبت وي او څوك چي بد خوب ويني نو هغه دي د خداي تعالى په ذريعه د بدئ څخه پناه وغواړي او د شيطان څخه دي هم د خداي تعالى په ذريعه پناه وغواړي او درې

واره دي و چپه لور ته توکي او چا ته دي هغه خوب نه بيانوي لپاره د دې چي هغه خوب درته نقصان و نه رسوي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳۳۸\۱٦، رقم: ۳۲۹۲، ومسلم ۴\۱۷۷۲، رقم: ۱۱- ۲۲٦٦.

تشريح: خراب خوب د شيطان له لوري وي : ددې مطلب دادی چي که څه هم ښه او بد دواړه خوبونه الله تعالی پيدا کړي دي او ليدونکی يې د الله تعالی له خواويني مګر خراب خوب د شيطاني اثراتو عکس وي او د هغه خوب څخه انسان ته پريشاني کيږي ځکه په هغه کي شيطان ته ډېره خوشحالي تر لاسه کيږي، خلاصه دا چي ښه خوب خو د الله تعالی له لوري بنده ته زيری وي چي هغه بنده خوشحاله سي او د هغه ، هغه خوب د الله تعالی سره د هغه د ښه چلن او اميد باعث او د الله تعالی په شکر کي د زياتوب سبب وګرځي، حال دا چي غمجن او پرېشانه کونکی خوب ، درواغ خوب د شيطاني اثراتو څخه وي چي د هغه څخه د شيطان مقصد دا وي چي هغه مسلمان غمجن او پرېشانه کړي، چي په هغه سره د بدګمانۍ او نااميدۍ ښکار سي .

هغه خوب هغه ته تاوان نه رسوي: مطلب دادی چي څرنګه الله تعالی صدقه او خيرات او د مال ساتنه او برکت د بلاوو د دفع سبب جوړ کړی دی همدارنګه هغه مذکوره شيان يعني د الله تعالی مرسته غوښتل درې ځله چپه خوا ته توکل او چا ته نه بيانول د خراب خوب د مضرو اثراتو څخه د سلامتۍ سبب ګرځول سوی دی .

کله چي خراب خوب ويني

﴿۴۴۰۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَى أَحَدُكُمُ الرُّؤْيَا يَكْرَهُهَا فَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثًا وَلْيَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ ثَلَاثًا وَلْيَتَحَوَّلْ عَنْ جَنْبِهِ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي چي څوک خراب خوب ويني هغه ته پکار ده چي چپه طرف ته درې واره توکي او د خداي تعالی په ذريعه دي د شيطان څخه درې واره پناه و غواړي او خپل اړخ دي بدل کړي چي پر کوم يې خوب ليدلی وي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۱۷۷۲، رقم: ۵- ۲۲٦۲.

تشريح: د تله د توکلو لپاره د بصق لفظ استعمال سوی دی، حال دا چي په مخکني حديث کي

د تفل لفظ ذکر سوی دی، د مفهوم او مطلب په اعتبار دواړه الفاظ یو ډول دي مګر په دواړو کي لږ فرق دادی چي د تفل معنی د خولې څخه توکل دي او د بصق معنی د خولې د ننه څخه توکل دي په داسي توګه چي د حلق څخه هم راووځي، د خولې څخه راوتلي ناړو ته بصاق وایي او مزاق هم ورته وایي ددې څخه ثرګنده سوه چي د توکلو په اړه لومړی درجه د بصق ده ددې څخه وروسته تفل دی ، د تفل څخه وروسته تفث دی چي د هغه معنی په شونډانو سره توکل دي، او ددې څخه وروسته نفخ دی چي هغه محض پوکلو ته وایي، د مسلم په یوه روایت کي د فلیبصق پر ځای د فلینفث لفظ نقل سو دی او په دغه حدیث کي چپه خوا ته د توکلو حکم ورکړل سوی دی حال دا چي په مخکني حدیث کي مطلق د توکلو حکم دی، همدا رنګه په دغه حدیث د ثنګ بدلولو حکم هم ورکړل سوی دی ، علماوو لیکلي دي چي د خوب په اثراتو او کیفیاتو کي د تغیر او تبدیلی لپاره دغه شیان ډېر تاثیر لري .

د خوبو تعبیر

﴿۴۴۱۰﴾: وَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اقْتَرَبَ

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چي کله زمانه نیزدې سي د

الزَّمَانُ لَمْ يَكَدْ يَكْذِبُ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ وَرُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ

مؤمن خوب به دروغ نه وي ځکه چي د مؤمن خوب د نبوت د شپږڅلوېښتو برخو څخه یوه برخه

جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ وَمَا كَانَ مِنَ النُّبُوَّةِ فَإِنَّهُ لَا يَكْذِبُ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ سِيْرِيْنَ وَأَنَا

ده ، کوم شی چي د نبوت د اجزاؤ څخه وي هغه هیڅکله دروغ کېدای نه سي . د محمد بن سیرین قول دی :زه

أَقُوْلُ الرُّؤْيَا ثَلَاثٌ حَدِيْثُ النَّفْسِ وَتَخْوِيفُ الشَّيْطَانِ وَبُشْرَى مِنَ اللّٰهِ فَمَنْ

وایم چي خوب پر درې ډوله دی : (۱)- یو خو انساني خیال دی .(۲)- د شیطان وېرول.(۳)- د خدای تعالی له لوري بشارت ، نو څوک چي

رَأَى شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلَا يَقُصَّهُ عَلَى أَحَدٍ وَلْيَقُمْ فَلْيُصَلِّ قَالَ وَكَانَ يَكْرَهُ الْغُلَّ فِي

خراب خوب ویني هغه دي و چا ته نه بیانوي(او د خراب خوب د لېدو څخه وروسته) ولاړ دي

سي او لمونځ دي وکړي (يعني د نفل لمونځ څومره چې ممکن وي). د ابن سيرين رح بيان دی

النَّوْمِ وَكَانَ يُعْجِبُهُمُ الْقَيْدُ وَيُقَالُ الْقَيْدُ ثَبَاتٌ فِي الدِّينِ . متفق عليه .قال

چې نبي کريم ﷺ په خوب کي طوق ليدل بد ګڼل او قيد يعني په پښو کي بيړئ پرتې ليدل به يې ښه ګڼل او ويل کيږي (يعني د خوب د تعبيرو د ماهرانو قول دی) چې د قيد معنی ده په دين کي ثابت قدمي . بخاري او مسلم .او په

البخاري رواه قَتَادَةُ وَيُونُسُ وَهِشَامٌ وَأَبُو هِلَالٍ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ

بخاري کي دا حديث د قتاده رضی الله عنه، يونس رضی الله عنه ، هشيم رضی الله عنه او ابو هلال رضی الله عنه د ابن سيرين رضی الله عنه څخه او هغوی د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت کړی دی .

وَقَالَ يُونُسُ لَا أَحْسِبُهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقَيْدِ وقال مسلم

يونس وويل ، زما په خيال د قيد په اړه د نبي کريم ﷺ څخه روايت سوی دی . او د مسلم بيان

لَا أَدْرِي هُوَ فِي الْحَدِيثِ أَمْ قَالَهُ ابْنُ سِيرِينَ وَفِي رِوَايَةٍ نَحْوَهُ وَأَدْرَجَ فِي الْحَدِيثِ قَوْلَهُ وَأَكْرَهُ الْغُلَّ إِلَى تَمَامِ الْكَلَامِ .

دی چې ما ته نه ده معلومه چې دا د حديث برخه ده يا د ابن سيرين رضی الله عنه قول دی او په يوه روايت کي هم داسي دي او ما په حديث کي د هغه قول : و اکره الغل څخه تر اخيره پوري درج کړی دی .په دې حديث کي ((د زما نه نيژدې کېدو)) څلور معناوي دي :(۱)- يو خو قرب قيامت يعني کوم وخت چې د قيامت وخت راسي .(۲)- دويمه معنی يې داده چې د مرګ زمانه نيژدې سي .(۳)-دريمه معنی يې داده چې په هغه موسم چې په هغه کي شپه او ورځ برابره سي په دې موقع مزاج د اعتدال وي .(۴)- د زمانې د نيژدې کېدو څلورمه معنی داده ، کله چې مياشته د ورځو په شان سي او هغه د امام مهدي علیه السلام زمانه ده چې د عيش په وجه به زمانه تېرېدونکې نه معلوميږي .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۴۰۴، رقم: ۷۰۱۷، ومسلم ۴\۱۷۷۳، رقم: ۶- ۲۲۶۳.

تشريح: کله چې زمانه نژدې سي: ددې درې معناوي بيانيږي ، يوه دا چې د زمانې نژدې کېدو څخه مراد د قيامت د نژدې کېدو آخري زمانه ده لکه څرنګه چې په يو بل حديث کي په صراحت

سره بيان سوی دی چي په آخره زمانه کي (يعني قيامت ته نژدې) به د مؤمن خوب دروا غ نه وي، دوهم دا چي د زمانې د نژدې کېدو څخه مراد د مرګ د زمانې نژدې کېدل دي يعني د کوم مؤمن د مرګ زمانه چي نژدې کيږي نو دهغه خوب درواغ نه وي، دغه معنی شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه د خپل ځينو مشائخو څخه نقل کړې ده ، دريم دا چي ددې څخه مراد هغه ورځي دي چي په هغو کي ورځي او شپې برابري وي ، په کومه زمانه کي چي ورځي او شپې برابري وي نو په هغو کي انساني مزاج پر اعتدال باندي وي او د ذاهن او فکر صلاحيتونه په سلامتۍ او روغتيا سره کار کوي ، په داسي ورځو کي ليدونکی خوب د ذهني او جسماني خلل او انتشار څخه خوندي او زيات رښتيا وي، څلورم دا چي د زمانې د نژدې کېدو څخه مراد هغه زمانه ده چي کال د مياشت په ډول ، مياشت د اونۍ په ډول، اونۍ د ورځي په ډول او ورځ د ساعت په ډول تېريږي، علماوو ليکلي دي چي داسي زمانه به د حضرت امام مهدي عليه السلام په دور کي راځي، ځکه چي هغه وخت به د حضرت امام مهدي عليه السلام د عدل او انصاف په وجه ټول خلک آرام، بې فکره او خوشحاله وي، او څرګنده ده چي د بې فکرۍ او هوسايي ورځ په ډېره تيزي سره تېريږي که څه هم هغه هر څومره اوږده زمانه وي، نو د حضرت امام مهدي عليه السلام په زمانه کي به هم خوب صحيح او رښتوني دی ځکه چي هغه به د راستۍ زمانه وي ، په يوه حديث کي دا هم فرمايل سوي دي چي کوم څوک دومره زيات راست وي نو دهغه خوب به هغومره زيات رښتوني وي.

د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه د مطلق خوب رښتيا کېدل او د هغه توصيف او فضيلت څرګنديږي ځکه د خوب د ډولونو بيانولو لپاره د محمد ابن سيرين رحمة الله عليه يو قول نقل کړل سو چي په هغه کي دې ته اشاره ده چي د خوب هر ډول رښتيا نه وي او نه د تعبير وړ وي، بلکه دخوب يوازي هغه ډول د تعبير وړ او رښتوني وي چي هغه د الله تعالی له لوري زيری او د راتلونکو پېښو خبر او علامه ګرځول کيږي .

ابن سيرين رحمة الله عليه چي د خوب کوم درې ډولونه بيان کړي دي په هغو کي لومړی ډول د نفس خيال دی يعني انسان چي ټوله ورځ په کومو کارو کي بوخت وي او د هغه پر زړه او دماغ باندي چي کومي خبري پرتې وي هغه د شپې د خوب په شکل کي ويني، د مثال په توګه يو سړی په خپل کسب او کاروبار کي بوخت وي او د هغه ذهن او خيال د هغه خبرو په فکر کي وي چي د هغه کسب او کاروبار اړوند وي نو په خوب کي هغه ته هغه شيان معلوميږي ، يا يو سړی د خپل

محبوب په فكر كي وي او د هغه په ذهن كي هر وخت د محبوب سايه وي نو د هغه د خوب په دنيا كي هم محبوب خپور وي ، خلاصه دا چي په وېښه كي د انسان پر ذهن باندي كوم شي زيات خپور وي هغه ته په خوب كي هم هغه شي معلومېږي نو د داسي خوب هيڅ اعتبار نسته .

دوهم ډول بېرونكي خوب دی، دغه خوب په اصل كي د شيطاني اثراتو عكس وي ، شيطان د ازل څخه د انسان دښمن دی او څرنگه چي هغه په وېښه كي د انسان د گمراه كولو او پرېشانه كولو هڅه كوي همدارنگه د خوب په حالت كي هم انسان ارام ته نه پرېږدي، هغه انسان په خوب كي د پرېشانه كولو او بېرولو ډول ډول حربي استعمالوي كله خو هغه په بېرونكي شكل كي په نظر راځي چي په هغه سره خو ب لېدونكي ډېر په بېره كي سي ، او كله داسي خوب ورته ښيي چي په هغه كي خوب ليدونكي ته خپل ژوند ختمېدونكي معلومېږي لكه هغه چيويني چي زما سر پرېكړل سو او داسي نور، همدارنگه په خوب كي احتلام كېدل چي د غسل موجب وي او ډېر ځله د هغه په وجه لمونځ قضا سي ، د لومړي ډول په شان دغه ډول خوب هم بې اعتبار تعبير ورنه دی .

د خوب دريم ډول هغه دی چي هغه ته د الله تعالى له لوري زيرى ويل سوي دي، الله تعالى په خپلو بندگانو كي چا ته چي غواړي په خوب كي زيرى وركوي او د هغه په زړه كي د اشارې او علامې په توگه هغه شيان په مشكّل كولو سره ښيي كوم چي كېدونكي وي، يا د هغه تعلق د مؤمن د روحاني او قلبي طمانيت سره وي هغه بنده خوشحاله كوي او په طلب حق كي تازگي محسوس كوي ، او د الله تعالى سره حسن اعتقاد او اميد پيدا كوي ، د خوب دغه ډول چي د اعتبار او تعبير وړ دی او ددې فضيلت او تعريف په حديثو كي بيان سوى دی .

نو هغه دي چا ته نه بيانوي: ددې مطلب دادی چي داسي خوب بې اعتباره دی او ددې هيڅ تعبير نسته نو د هغه چا ته بيانول عبث او بې گټې دی ، ددې څخه پرته يوه بله خبره دا هم ده چي كله دا ډول خوب يو چا ته بيان كړل سي او اورېدونكي د ظاهري حالت سره سم د هغه خوب تعبير وكړي نو د هغه په وجه په فاسد وهم كي اخته كېدل او بدفالي نيول لازمېږي او د زړه او دماغ د مختلفو اندېښنو او وسوسو څخه پرېشانه كيږي، ددې څخه پرته د خوب په واقع كېدو كي خوب ته يو خاص تاثير حاصل دی چي خوب اورېدونكي كوم تعبير وركوي د الله تعالى په حكم سره هم هغسي واقع كيږي .

قال وكان يكره الغل ...الخ: په دغه الفاظو كي د قال او كان د ضميرو په اړه شارحينو د حديث څو احتماله ليكلي دي، يو خو دا چي د قال ضمير محمد ابن سيرين ته راجع دی لكه

ځرنګه چې مخکنی عبارت : قال محمد بن سيرين...الخ، څخه دا مفهوم اخيستل کيږي، او په دې وجه د کان يکره ضميرونه رسول الله ﷺ ته راجع وي، په دغه صورت کې د ذکر سوې جملې معنی به هم هغه وي کوم چې په ژباړه کې تېره سول، يعني محمد ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي: چې رسول الله ﷺ دا خبره ښه نه ګڼل چې يو سړی په خوب کې دا ووينې چې د هغه په غاړه کې طوق اچول سوی دی ځکه چې په غاړه کې طوق اچول د دوږخيانو صفت دی لکه ځرنګه چې فرمايل سوي دي : (اذا الاغلال في اعناقهم)، دوهم احتمال دادی چې د قال ضمير خو ابن سيرين رحمة الله عليه ته راجع دی او د کان يکره ضميرونه حضرت ابو هريره رضي الله عنه ته راجع دي، په دغه صورت کې به معنی دا وي چې ابن سيرين رحمة الله عليه ويلي دي چې ابو هريره رضي الله عنه دا خبره ښه نه ګڼل چې يو سړی دې په خوب کې دا ووينې چې د هغه په غاړه کې طوق اچول سوی وي، د حضرت ابو هريره رضي الله عنه دا ښه نه ګڼل يا خو په دې وجه وو چې هغه به د رسول الله ﷺ څخه همداسې اورېدلي وي يا د خپل اجتهاد په وجه وو، دريم احتمال دادی چې د قال ضمير هغه راوي ته راجع دی چې هغه دغه حديث د حضرت ابن سيرين رحمة الله عليه څخه نقل کړی دی او د کان يکره ضميرونه حضرت ابن سيرين رحمة الله عليه ته راجع دي، يعني ابن سيرين رحمة الله عليه په خوب کې په غاړه کې طوق لېدل ښه نه ګڼل، دغه دريم احتمال يو ډول ترجيح لري ځکه چې ابن سيرين رحمة الله عليه د خوب د تعبير په فن کې امام ګڼل کيږي او د هغه څخه داسې ډېر قولونه نقل سوي دي.

او د بند لېدل به يې خوښول: يعني که يو څوک په خوب کې ووينې چې د هغه په پښو کې زولنې اچول سوي دي او هغه بندي سوي دی نو دغه خوب به يې ښه ګڼی ، بخاري په دغه جمله کې د جمع صيغه يعني لفظ د يعجبهم نقل کړی دی ، نو د ضميرو په اړه مخکې نقل سوو احتمالاتو کې د لومړي احتمال په وجه د يعجبهم ضمير به رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ته راجع وي ، د دوهم احتمال په وجه به حضرت ابو هريره رضي الله عنه ته او د هغه تابعينو ته راجع وي او د دريم احتمال په وجه به حضرت ابن سيرين رحمة الله عليه او د هغه زمانې تعبير کوونکو علماوو ته راجع وي، په خوب کې د ځان بندي لېدل ځکه ښه دي چې دا په اصل کې د ګناهونو، ګمراهۍ او خرابۍ څخه د منع کېدو او پر ديني احکامو او طاعاتو باندې د ثابت قدمۍ علامه ده ، لکه ځرنګه چې په دغه روايت کې فرمايل سوي دي : (و يقال القيد ثبات في الدين) ، ويل کيږي چې د بند مطلب پر دين باندې ثابت قدمه کېدل دي، مګر ځرګنده دې وي چې دغه تعبير د اهل دين او طاعت د نسبت سره دی يعني کوم څوک چې د ديني ژوند حامل او پر عباداتو او طاعاتو باندې عامل وي او هغه په خوب کې خپل ځان بندي ووينې نو د هغه لپاره ذکر سوی تعبير دی

ځکه د خوب د تعبیر ماهرینو لیکلي دي که یو ناروغ یا بندي یا مسافر یا بل څوک مصیبت زده سړی په خوب کي ووینې چي زما په پښو کي زولنې دي نو د هغه په اړه به د خوب تعبیر دا وي چي هغه به پر خپل باندي قائم وي، همدارنګه که یو څوک یو خوب په دوو مختلفو حالاتو سره ووینې نو د هغه تعبیر به د هغوی د حالت مطابق بېل بېل وي، د مثال په توګه یو تجار دا خوب ووینې چي هغه د خپل سامان په اخیستلو سره په کښتۍ کي ناست دی او هواء د کښتۍ موافق چلیږي نو د هغه په اړه به خوب د تاوان او ضرر څخه د سلامتیا او په تجارت کي د ګټي علامه وي او که دغه خوب یو سالک طریقت ووینې نو د هغه په اړه به دغه خوب د شریعت د اتباع او مرتبې ته د رسیدو علامه ګرځول کیږي.

بېرونکی خوب

﴿۴۴۱۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي یو صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او

رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ رَأْسِي قُطِعَ قَالَ فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ

وه يې ویل: چي ما په خوب کي ولیدل چي زما سر پرې سوی دی (په دې اوریدو سره نبي کریم ﷺ مسکي سواو وېې فرمایل:

إِذَا لَعِبَ الشَّيْطَانُ بِأَحَدِكُمْ فِي مَنَامِهِ فَلَا يُحَدِّثْ بِهِ النَّاسَ. رواه مسلم.

کله چي شیطان په خوب کي د چا سره لوبې کوي نو هغه دي هغه خوب و خلکو ته نه بیانوي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۴\۱۷۷۷، رقم: ۱۶- ۲۲۶۸.

تشریح: لکه رسول الله ﷺ چي صحرائي ته وفرمایل چي ستا خوب اضغاث احلام دی او دا ډول نه دی چي په هغه کي د انسان سره شیطان لوبې کوي چي هغه پرېشانه کوي، داسي خوب باید پټ کړل سي او خلکو ته بیان نه کړل سي.

یحیی رحمه الله وایي: کېدای سي رسول الله ﷺ ته به د وحي په ذریعه دا معلومه سوې وي چي دغه خوب اضغاث احلام دی او د شیطاني اثراتو عکس دی کنه د اهل تعبیر په نزد ددغه خوب تعبیر زوال نعمت، د قوم څخه بېلوالی او همدارنګه د نورو شیانو په شکل کي څرګندیږي.

د نبي كريم ﷺ خوب ليدل

﴿۴۴۱۲﴾: وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

رَأَيْتُ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِيمَا يَرَى النَّائِمُ كَأَنَّا فِي دَارِ عُقْبَةَ بْنِ رَافِعٍ فَأُتِينَا بِرُطَبٍ

ما د شپې خوب و ليدی چي زه او زما اصحاب د عقبه بن رافع په کوړ کي ناست يو بيا زموږ مخته تازه خرماوي راوړل سي چي

مِنْ رُطَبِ ابْنِ طَابٍ فَأَوَّلْتُ الرِّفْعَةَ لَنَا فِي الدُّنْيَا وَالْعَاقِبَةَ فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّ دِينَنَا قَدْ طَابَ. رواه مسلم.

رطب بن طاب ورته ويل کيږي ما د دې خوب تعبير وکړ چي په دنيا کي به زموږ لپاره لوړ والي او عظمت وي او په اخيرت کي به خير او دا چي زموږ دين ښه دی . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۷۷۹\۴، رقم: ۱۸– ۲۲۷۰.

تشريح: په ذکر سوي تعبير کي رسول الله ﷺ د نومونو الفاظ بنياد وګرځول په دې توګه چي د رفعت تعبير رسول الله ﷺ د رافع څخه واخيست او د عاقبت تعبير يې د عقبه څخه واخيست او د طاب (يعني ښه دی) تعبير يې د رطب ابن طاب څخه واخيست، نو دا عادت وو چي رسول الله ﷺ به د نومونو د الفاظو په ذريعه د تفاول په طريقه او د تاويل د مقصد مفهوم ترلاسه کوی او دا خبره محض د تعبير خوب سره مخصوص نه وه بلکه په وېښه کي او په ورځني ژوند کي هم د هغه په ذريعه به يې نېک فال اخيستی لکه څرنګه چي نقل سوي دي چي کله رسول الله ﷺ د مکې مکرمې څخه هجرت کوی او مدينې منورې ته روان سو نو په لاره کي يو سړی برېده اسلمي يې د څو سپرو کسانو سره ولېدی چي د مکې قريشو د رسول الله ﷺ په نېولو او مکې ته بېرته را وستلو باندي مامور کړل سوی وو، او هغه ته يې د انعام په توګه سل اوښان ټاکلي وه، رسول الله ﷺ د هغه په لېدو سره پوښتنه څېني وکړه چي ته څوک يې ؟ او ستا نوم څه شي دی؟ هغه وويل: برېده، رسول الله ﷺ چي دا واورېدل (نو د لفظ برېده څخه په نېک فال اخيستلو سره يې) حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته وفرمايل : قد بردا امرنا، يعني زموږ معامله يخه سوه (چي د ښمن به کامياب نسي) .

د هجرت متعلق خوب

﴿۴۴۱۳﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ

د حضرت ابو موسی رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و فرمایل : ما په خوب کي ولیدل

أَنِّي أُهَاجِرُ مِنْ مَكَّةَ إِلَى أَرْضٍ بِهَا نَخْلٌ فَذَهَبَ وَهَلِي إِلَى أَنَّهَا الْيَمَامَةُ أَوْ هَجَرُ

چي زه د مکې څخه یو داسي علاقې ته هجرت کوم چي په هغه کي خرماوي دي ، په دې تعبیر کي زما خیال سو (چي کومځای ته زه هجرت کوم هغه ښار ((یمامه)) یا هجر دي او په حقیقت

فَإِذَا هِيَ الْمَدِينَةُ يَثْرِبُ وَرَأَيْتُ فِي رُؤْيَايَ هَذِهِ أَنِّي هَزَزْتُ سَيْفًا فَانْقَطَعَ صَدْرُهُ

کي هغه مدینه و ختله چي د هغې اولنی نوم یثرب دی ، په دې خوب کي ما ولیدل چي زه توري ته حرکت ورکوم او د هغې توري لوړه برخه ماته سوی ده ،

فَإِذَا هُوَ مَا أُصِيبَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ أُحُدٍ ثُمَّ هَزَزْتُهُ بِأُخْرَى فَعَادَ أَحْسَنَ

تعبیر دا و ختی چي د احد په غزا کي و مسلمانانو ته تکلیف و رسېدی ، بیا ما په خوب کي چي ما و توري ته بیا حرکت ورکړ نو توره په خپل اصلي حالت کي سوه بلکه د هغه څخه

كَانَ فَإِذَا هُوَ مَا جَاءَ اللهُ بِهِ مِنَ الْفَتْحِ وَاجْتِمَاعِ الْمُؤْمِنِينَ. متفق عليه.

ښه سوه ، د دې تعبیر هغه فتحه وه چي خدای تعالی (په مکه کي)راکړه یا صلحه حدیبیه (چي په هغه کي د مسلمانانو اجتماع وسوه)بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶۲۷\۱۶، رقم: ۳۶۲۲، ومسلم ۱۷۷۹\۱۴، رقم: ۲۰- ۲۲۷۲.

د لغاتو حل: وهلي: ای وهمي (زما وهم و ېږه)

تشريح: جزيره عرب (نجد او حجاز) هغه سیمه ده چي د جبل طویق جنوب لویدیځ خوا ته خپره ده او اوس د نجد په سیمه کي شامله ده، چي یمامه ورته ویل کیږي، دغه ډېره شنه او ښکلې سیمه وه او په دې کي د خرماوو لوی کښت وو، په اوسنی زمانه کي یمامه د یو کوچني کلي په صورت کي د سعوي عرب په دار السلطنت ریاض او الالم په مینځ کي دی ، هجر هم د یمامه سره متصل په ختیځ کي یو کلی وو ، دلته هم خرماوي ډېري وې.

د جاهلیت په زمانه کي د مدینې نوم یثرب وو ، رسول الله ﷺ چي د مکې څخه هجرت وکړ

او مدينې ته راغلی نو ددغه ځای نوم يې مدينه، اطابه او طيبه کښېښود، مګر مشهوره مدينه سوه، رسول الله ﷺ دغه مقدس ښار ته د يثرب ويلو څخه منع وفرمايل ځکه چې يثرب په اصل کې د ثرب بالتحريک څخه مشتق دی چې د هغه معنی د فتنې او فساد ده، کوم چې ددې خبرې تعلق دی چې خپله رسول الله ﷺ په دغه حديث کې يا په نورو حديثو کې ددغه ښار لپاره د هغه پخوانی نوم يثرب ولې استعمالوی، نو ددې وجه يا خو داده چې دغه حديثونه د مذکوره منع څخه مخکې دي يا دغه منع د نهي تنزيهي په توګه ده ځکه رسول الله ﷺ به دبيان جواز لپاره کله کله پخوانی نوم هم استعمالوی، يا دا چې د هجرت په پېل کې په عامه توګه خلک ددغه نوي نوم څخه خبر نه وه ځکه رسول الله ﷺ د هغوی د ناخبرتيا لپاره پخوانی نوم هم ذکر کوی او دغه آخري احتمال زيات صحيح معلومېږي، په قرآن کريم کې چې فرمايل سوي دي: (يا اهل يثرب لا مقام لكم ...الخ) نو دا د منافقينو وينا بيان سوې ده ځکه په دې اړه سوال نه پيدا کيږي.

د يو خوب تعبير

﴿۴۴۱۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا اَنَا

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه بيده وم چې د ټولې نړۍ

نَائِمٌ اُتِيتُ بِخَزَائِنِ الْأَرْضِ فَوُضِعَ فِي كَفِّي سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ فَكَبُرَا عَلَيَّ

خزانې زما و مخته پېش سوې او وروسته بيا زما په لاس کې د سرو زرو دوه باهو ګان کښېښودل سوه، پر ما باندي دا بده و لګېدل يعني د هغې زما په لاسونو کې کېدل پر ما ګرانه تمامه سوه او

فَأُوحِيَ إِلَيَّ أَنِ انْفُخْهُمَا فَنَفَخْتُهُمَا فَذَهَبَا فَأَوَّلْتُهُمَا الْكَذَّابَيْنِ اللَّذَيْنِ أَنَا

وروسته ماته وحي وسوې چې دا باهوګان پوه کړه نو ما هغه پوه کړل او هغه باهوګان والوتل، ما د دې خوب دا تعبير وکړ چې زه د

بَيْنَهُمَا صَاحِبَ صَنْعَاءَ وَصَاحِبَ الْيَمَامَةِ. متفق عليه. و في رواية يقال

دوو دروغجنو مدعيانو نبوت په مينځ کې يم يعني يو خو د صنعاء اوسېدونکي دی او د ويم ديمامه. بخاري او مسلم او په يوه بل روايت کې دا الفاظ هم دي چې په هغوي کې يو

احدهما مسيلمة صاحب اليمامة والعنسي صاحب صنعاء ولم اجد هذه

الرواية في الصحيحين و ذكر صاحب الجامع عن الترمذي.

((مسيلمه د يمامه اوسېدونكي دى او بل عنسي د صنعا اوسيدونكى)) په صحيحين كي دا روايت نه پيدا كيږي ليكن صاحب الجامع دا د ترمذي څخه نقل كړى دى.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۸۹، رقم: ۴۳۷۵، ومسلم ۱۴\۱۷۸۱، رقم: ۲۲- ۲۲۷۴.

تشريح: د مځكي خزانې، يعني د مځكي د خزانو كلياني زما مخته كښېښودل سوې او ځيني حضرات وايي چي د رسول الله ﷺ وړاندي په حقيقت كي خزانې راوړل سوې، د خزانو په ذريعه دا زيرى وركړل سو چي تاسو او ستاسو د امت خلك به د مځكي پر مخ باندي خپل تسلط قائم كړي او د دنيا د خزانو مالكان به سي او ستاسو امت او ستاسو شريعت به په څلور كونجه دنيا كي خپور سي.

صنعاء، د يمن يو مشهور ښار دى چي د هغه د سردار نوم اسود عنسي وو، هغه د رسول الله ﷺ په زمانه كي د پيغمبرۍ دعوه كړې ده، كله چي رسول الله ﷺ د وفات په ناروغۍ كي پروت وو نو حضرت فيروز ديلمي رضي الله عنه اسود عنسي قتل كړ، رسول الله ﷺ ته چي ددې خبر وركړل سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل: فاز فيروز، يعني فيروز فائز المرام سو، د اسود عنسي په ډول د يمايمه اوسيدونكي مسيلمه كذاب هم د نبوت دعوه كړې وه هغه د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د خلافت په زمانه كي حضرت وحشي رضي الله عنه قتل كړى وو، دا هغه وحشي دى چي د اسلام قبلولو څخه مخكي د احد په غزا كي يې حضرت امير حمزه رضي الله عنه په شهادت رسولى وو.

د كړۍ څخه د دوو درواغجنو په اړه د تعبير اخيستلو وجه علماوو دا ليكلې ده چي كړۍ په اصل كي د ښځيو سره مشابهت لري چي هغه د بنديان په لاسونو كي اچول كيږي، نو هغه دواړه كذاب چي د نبوت په دعوه كولو سره د رسول الله ﷺ مقابلې ته راغلي وه د بنديانو مشابه سول چي د هغوى د لاسو كړۍ د كړيو په صورت كي د رسول الله ﷺ په لاس مبارك كي وې، چي رسول الله ﷺ هغه دواړه لاسونه په كړيو كي اچولي او نيولي وه، پاته سوه دا خبره چي ددغه تعبير سره سم د سرو زرو كړۍ ولي وښودل سوې، او د اوسپني كړۍ ولي ونه ښودل سوې چي د هغوى زيات مناسب وي، نو په دې كي هم په اصل كي يوه نكته ده او هغه دا چي د سرو زرو كړۍ په ښودلو سره اشاره وكړل سوه چي دغه درواغجنان د دنيا عزت او زيب او زينت په بوختيا كي ځومره اخته دي او دا چي د هغوى مردود او مجرم كېدل څومره څرګند او دهغوى نوعيت څومره سنګين دى.

﴿۴۴۱۵﴾: وَعَنْ أُمِّ الْعَلَاءِ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ رَأَيْتُ لِعُثْمَانَ ابن مظعون فِي النَّوْمِ عَيْنًا تَجْرِي فقصصتها على رسول الله صلى الله عليه وسلم فَقَالَ ذَاكِ عَمَلُهُ يَجْرِي لَهُ. رواه البخاري.

د بي بي ام العلاء انصاريه ﷺ څخه روايت دی چي ما په خوب كي د عثمان بن مظعون لپاره (چي مهاجر مجاهد وو)او د(اسلامي)لښكر چوكيداري يې كوله يوه جاري چينه وليده ، نبي كريم ﷺ ته مي دا خوب بيان كړ نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا د عمل ثواب دی چي هغه لپاره جاري سوی دی يعني د هغه د دې عمل ثواب به همېشه جاري وي . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۴۱۰، رقم: ۷۰۱۸.

تشريح: عثمان ابن مظعون ﷺ يو جليل القدر او قديم الاسلام صحابی دی، په مهاجرينو كي د لوی فضيلت خاوند وو، د جنګ په ميدان كي يې د جانباز مجاهد حيثيت درلودی ، د هغه يو لوی فضيلت دا هم وو چي رسول الله ﷺ هغه په مرابط يعني د جنګ په ميدان كي د اسلامي لښكر او د سرحد ساتونكی ټاكلی وو، په شريعت كي د مرابط ډېر زيات فضائل نقل سوي دي په هغو كي يو فضيلت دا هم دی چي مرابط كله وفات كيږئ نو د هغه عمل صالح تر قيامته پوري زياتيږي ، رسول الله ﷺ د ذكر سوي خوب دا تعبير بيان كړ چي هغه چينه په اصل كي د هغه عمل صالح دی او څرنګه چي هغه چينه جاري ده همدارنګه د هغه د عمل ثواب هم جاري دی چي تر قيامته پوري به هغه ته رسيږي .

د عالم برزخ متعلق د نبي كريم ﷺ خوب

﴿۴۴۱۶﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى

د سمره بن جندب ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ دا عادت وو چي د سهار لمونځ به يې

أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ مَنْ رَأَى مِنْكُمُ اللَّيْلَةَ رُؤْيَا قَالَ فَإِنْ رَأَى أَحَدٌ قَصَّهَا

وكړ نو زموږ و لور ته به يې مخ كړ او پوښتنه به يې كوله چي په تاسو كي نن شپه چا خوب ليدلی دی ؟ د راوي بيان دی چي په موږ كي به چا خوب ليدلي وو هغه به يې نبي كريم ﷺ ته

فَيَقُولُ مَا شَاءَ اللَّهُ فَسَأَلَنَا يَوْمًا فَقَالَ هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ رُؤْيَا قُلْنَا لَا قَالَ

بیان کړ نو نبي کریم ﷺ به ویل ماشاء الله، یو ورځ نبي کریم ﷺ وفرمایل: په تاسو کي چا خوب لیدلي دی؟ موږ وویل: نه، نبي کریم ﷺ وفرمایل:

لَكِنِّي رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي فَأَخَذَا بِيَدِي فَأَخْرَجَانِي إِلَى الْأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ

مګر نن شپه ما خوب لیدلي دی چي دوه کسان ماته راغله، زما دواړه لاسونه یې په خپلو لاسونو کي ونیول او زه یې ارض مقدس ته بوتلم (یعني شام ته)

فَإِذَا رَجُلٌ جَالِسٌ وَرَجُلٌ قَائِمٌ بِيَدِهِ كَلُّوبٌ مِنْ حَدِيدٍ يُدْخِلُه فِي شِدْقِهِ فيشقه

هلته ما ولیدل چي یو سړی ناست دی او د یوه بل سړی په لاس کي د اوسپني یو انبور نیولی ولاړ دی، دا سړی د ناست سړی په خوله کي انبور او هغه د خولې د کونج څخه بیا تر څټ پوري

حَتَّى يَبْلُغَ قَفَاهُ ثُمَّ يَفْعَلُ بِشِدْقِهِ الْآخَرِ مِثْلَ ذَلِكَ وَيَلْتَئِمُ شِدْقُهُ هَذَا فَيَعُودُ

څیري بیا هغه دویم طرف د خولې کونج ته ځي او هغه هم څیروي، اولنی کونج صحیح سي او بیا هغه د هغه کونج طرف ته راځي

فَيَصْنَعُ مِثْلَهُ قُلْتُ مَا هَذَا قَالَا انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا حَتَّى أَتَيْنَا عَلَى رَجُلٍ مُضْطَجِعٍ

او هغه څیري په دې دوران کي د ویم کونج ښه سي او هغه بیا هغه څیري، ما د هغه خلکو څخه پوښتنه وکړه دا څه دي؟ هغوی راته وویل، مخته تشریف یوسه نو موږ مخته روان سولو تر څو چي زه یوه سړي ته ورسېدم چي پړمخی پروت دی

عَلَى قَفَاهُ وَرَجُلٌ قَائِمٌ عَلَى رَأْسِهِ بِفِهْرٍ أَوْ صَخْرَةٍ فَيَشْدَخُ بِهِ رَأْسَهُ فَإِذَا ضَرَبَهُ

او یو سړی د هغه سر ته یوه دومره لویه ډبره اخیستې ولاړ وو چي د هغه په لاس کي نه ځائېدل یا نبي کریم ﷺ داسي وفرمایل: چي یوه لویه ډبره اخیستی ولاړ وو چي په هغه سره یې په مځکه باندي د هغه سړي سر چیتوی کله چي ډبره د هغه پر سر ولګېده

تَدَهْدَهَ الْحَجَرُ فَانْطَلَقَ إِلَيْهِ لِيَأْخُذَهُ فَلَا يَرْجِعُ إِلَى هَذَا حَتَّى يَلْتَئِمَ رَأْسُهُ وَعَادَ

نو هغه ډبره به په ګېلېدو لیري ولاړه بیا به د هغه کاني د راوړلو لپاره تلی هغه به یې لا راوړې نه وه په دې جریان کي به د هغه سر داسي جوړ سوی وو لکه پخوا او هغه به بیا په دې ډبره سره

رَأْسُهُ كَمَا كَانَ فَعَادَ إِلَيْهِ فَضَرَبَهُ فَقُلْتُ مَا هٰذَا قَالَا انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا حَتّٰى اَتَيْنَا

وویشتل سو ، دا سلسله جاري وه ما پوښتنه وکړه چي دا څه معامله ده؟ هغه سړی راته وویل ، مخته تشریف یوسئ ، نو موږ پر مخ ولاړو تر دې پوري چي یوې کندې ته ورسېدو

إِلٰى ثَقْبٍ مِثْلِ التَّنُّورِ أَعْلَاهُ ضَيِّقٌ وَأَسْفَلُهُ وَاسِعٌ يَتَوَقَّدُ تَحْتَهُ نَارًا فَإِذَا ارْتَفَعَتْ

چي د تنور په شان وه یعني سریې تنګ وو دننه پراخ وه په هغه کي اور بلېدی ، کله چي به د هغې کندي اور تیز سو

ارْتَفَعُوا حَتّٰى كَادَ أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِذَا خَمَدَتْ رَجَعُوا فِيهَا وَفِيهَا رِجَالٌ وَنِسَاءٌ

نو خلک چي په اور کي دننه وه په شعلو سره راپورته کېدل تر دې پوري چي د کندي څخه به را ختلو ته نیزدې وه او کله چي به د شعلو اور کم سو نو هغه خلک به بیرته لاندي و غورځېدل ، په دې اور کي ډېر خلک او ښځي وې

عُرَاةٌ فَقُلْتُ مَنْ هٰذَا قَالَا انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا حَتّٰى أَتَيْنَا عَلٰى نَهَرٍ مِنْ دَمٍ فِيهِ رَجُلٌ

او ټول لوڅ وه ، ما پوښتنه وکړه چي دا څه دي ؟ هغو دوو کسانو راته وویل ، چي مخته تشریف یوسئ ، نو موږ و مخته ولاړو او یوې ویالې ته ورسېدو چي د وینو څخه ډکه وه د هغې په نس

قَائِمٌ عَلٰى وَسَطِ النَّهَرِ وَعَلٰى شَطِّ النَّهَرِ رَجُلٌ بَيْنَ يَدَيْهِ حِجَارَةٌ فَأَقْبَلَ الرَّجُلُ

کي یو سړی ولاړ وو او د ویالې پر غاړه یو سړی وو چي مخته یې کاڼي پراته وه کله چي هغه سړی چي د ویالې په نس کي ولاړ وو غاړې ته د راوتلو په نیت را مخته سو

الَّذِي فِي النَّهَرِ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ رَمَى الرَّجُلُ بِحَجَرٍ فِي فِيهِ فَرَدَّهُ حَيْثُ كَانَ

نو هغه سړی چي پر غاړه ولاړ وو هغه د ویالې د نس سړی به یې پر خوله په کاڼو سره وویشتی نو هغه به بیرته و خپل ځای ته ولاړ ،

فَجَعَلَ كُلَّمَا جَاءَ لِيَخْرُجَ رَمٰى فِي فِيهِ بِحَجَرٍ فَيَرْجِعُ كَمَا كَانَ فَقُلْتُ مَا هٰذَا قَالَا

په ویاله کي د دننه سړي چي به د راوتلو اراده وکړه نو غاړې والا سړی به پر خوله په کاڼو ویشتی او هغه به خپل ځای ته بیرته تلی ، ما پوښتنه وکړه چي دا څه معامله ده ؟ هغو دوو

کسانو راته وويل چي

انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا حَتَّى انْتَهَيْنَا إِلَى رَوْضَةٍ خَضْرَاءَ فِيهَا شَجَرَةٌ عَظِيمَةٌ وَفِي أَصْلِهَا

پر مخ ځه ، نو موږ مخته ولاړو تر دې پوري چي موږ و يوه شنه باغ ته ورسېدو ، په هغه باغ کي يوه لويه ونه وه چي د هغې لاندي

شَيْخٌ وَصِبْيَانٌ وَإِذَا رَجُلٌ قَرِيبٌ مِنَ الشَّجَرَةِ بَيْنَ يَدَيْهِ نَارٌ يُوقِدُهَا فَصَعِدَا بِي

يو زوړ سړی او څو هلکان ناست وه درختي ته نزدې يو بل کس وو چي د هغه و مخته اور بلېدی او هغه يې تيزوی ، هغه دوه کسان چي زما سره وه زه يې د درختي سر ته بوتلم

فِي الشَّجَرَةِ فَأَدْخَلَانِي دَارًا وَسَطَ الشَّجَرَةِ لَمْ أَرَ قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا فِيهَا رِجَالٌ

او په يوه داسي ځای کي يې داخل کړم چي د وني بالکل په مينځ کي واقع وو ، دا ځای دومره ښائسته وو چي ما دومره ښائسته ځای نه وو ليدلی ، په دې ځای کي څو

شُيُوخٌ وَشَبَابٌ وَنِسَاءٌ وَصِبْيَانٌ ثُمَّ أَخْرَجَانِي مِنْهَا فَصَعِدَا بِي الشَّجَرَةَ فَأَدْخَلَانِي

سپين ږيري ، ځوانان ، ښځي او هلکان وه بيا هغو دوو کسانو زه را وايستلم او و يوې درختي ته يې بوتلم او په يوه داسي کور کي يې داخل کړم

دَارًا هِيَ أَحْسَنُ وَأَفْضَلُ فِيهَا شُيُوخٌ وَشَبَابٌ فَقُلْتُ لَهُمَا إِنَّكُمَا طَوَّفْتُمَانِي اللَّيْلَةَ

چي د اولني ځای څخه زيات ښايسته وو او په هغه کي سپين ږيري او ځوانان وه . ما هغو دوو کسانو ته وويل ، تاسو خو زه نن شپه ډېر و ګرځولم

فَأَخْبِرَانِي عَمَّا رَأَيْتُ قَالَا نَعَمْ أَمَّا الَّذِي رَأَيْتَهُ يُشَقُّ شِدْقُهُ فَكَذَّابٌ يُحَدِّثُ

مګر ما چي څه ليدلي دي د هغوی د حقيقت څخه مي خبر کړئ ، هغوی راته وويل : ښه دی ، کوم سړي چي تا وليدی چي د خولې کونجان يې تر څټ پوري څيرېدل هغه درواغجنان دي او

بِالْكَذْبَةِ فَتُحْمَلُ عَنْهُ حَتَّى تَبْلُغَ الْآفَاقَ فَيُصْنَعُ بِهِ مَا تَرَى إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

درواغ وايي او وروسته بيا د هغوی د درواغو خبري بيانيږي تر دې پوري چي هغه و هر لور ته ورسيږي او د هغه سره به دا سزا چي تا د دوی وليدل تر قيامته پوري کيږي

وَالَّذِي رَأَيْتَهُ يُشْدَخُ رَأْسُهُ فَرَجُلٌ عَلَّمَهُ اللَّهُ الْقُرْآنَ فَنَامَ عَنْهُ بِاللَّيْلِ وَلَمْ

او د کوم سړي چي سر چیتېږي (میده کیږي) هغه ته خداي تعالی قرانکریم ښودلی وو هغه به د قرانکریم څخه غافل او د شپې به بیده وو

يَعْمَلْ بِمَا فِيهِ بِالنَّهَارِ يُفْعَلُ بِهِ مَا رَأَيْتَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَالَّذِي رَأَيْتَهُ فِي الثَّقْبِ

او د ورځي به يې د قرانکریم مطابق عمل نه کوی نو د هغه سره به دا عمل چي تا ولیدی تر قیامته پوري کیږي او کوم خلک چي په تنور کي دي لیدلي دي

فَهُمُ الزُّنَاةُ وَالَّذِي رَأَيْتَهُ فِي النَّهَرِ آكِلُوا الرِّبَا وَالشَّيْخُ الذي رايته فِي أَصْلِ

هغه زنا کاره دي او هغه سړی چي په ویالې کي دي ولیدل هغه سود خور دی او هغه سپین ږیري چي د ونې لاندي ناست وو

الشَّجَرَةِ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام وَالصِّبْيَانُ حَوْلَهُ فَأَوْلَادُ النَّاسِ وَالَّذِي يُوقِدُ

هغه حضرت ابراهیم علیه السلام دی او د هغه سره چي کوم کوچنیان وه هغوی د خلکو اولاد دی او هغه سړی چي اور تېزوي

النَّارَ مَالِكٌ خَازِنُ النَّارِ وَالدَّارُ الْأُولَى الَّتِي دَخَلْتَ دَارُ عَامَّةِ الْمُؤْمِنِينَ وَأَمَّا هَذِهِ

د دوږخ محافظ (خزانه دار) دی او د وني سره اولنی کور په کوم کي چي ته دا خل سوې په جنت کي د عامو مؤمنانو ځای دی او دغه

الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ وَأَنَا جِبْرِيلُ وَهَذَا مِيكَائِيلُ فَارْفَعْ رَأْسَكَ فَرَفَعْتُ رَأْسِي

کور د شهیدانو کور دی او زه جبرائیل علیه السلام یم او دا زما ملګری مکائیل علیه السلام دی اوس تا سو سر پورته کړئ ما چي سر پورته کړ

فَإِذَا فَوْقِي مِثْلُ السَّحَابِ وفي رواية مِثْلَ الرَّبَابَةِ الْبَيْضَاءَ قَالَا ذَاكَ مَنْزِلُكَ قُلْتُ

نو زما سر ته لوړ د وریځي په شان یو شی وو او په یوه روایت کي راغلي چي غټه سپینه وریځ وه هغوی ما ته وویل چي دا ستاسو ځای دی، ما ورته وویل:

دَعْنِي أَدْخُلْ مَنْزِلِي قَالَا إِنَّهُ بَقِيَ لَكَ عُمُرٌ لَمْ تَسْتَكْمِلْهُ فَإِذَا اسْتَكْمَلْتَهُ أَتَيْتَ

ما پرېږدئ چې زه و خپل ځای ته داخل سم، هغوی راته وويل: اوس لا ستا عمر پاته دی کوم چې تا سو نه دی پوره کړی کوم وخت چې ستا سو خپل عمر پوره کړئ

مَنْزِلَكَ. رواه البخاري. و ذكر حديث عبدالله بن عمر في رؤيا النبي صلى الله عليه وسلم في المدينة في باب حرم المدينة.

نو په خپل ځای کې به داخل سئ. بخاري او په مدينه منوره کې د نبي کريم ﷺ د خوب په اړه حديث د ((حرم المدينه)) په باب کې د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په حديث کې بيان سوی دی.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۴۳۹، رقم: ۷۰۴۸،

د لغاتو حل: كلوب: حديدة معوجة الراس يتعلق بالشئ مع شدة فيجذب به. الفهر: الحجر. تدهده: اى تدحرج. الربابة: السحاب التي ركب بعضها على بعض.

تشريح: په شپه کې بېده وو: يعني هغه سړي نه خو د شپې د قرآن کريم تلاوت وکړ او نه يې د ورځې په هغه عمل وکړ، يا خو په قرآن کريم باندي د عمل کولو تعلق د شپې او ورځې دواړو سره دی او د شپې د هغه تلاوت هم په هغه عمل کول دي مگر عبادت کونکي بندگان په عامه توگه د قرآن کريم تلاوت د شپې کوي ځکه نو د شپې سره خاص کړل سو او د ژوند د زياتو حرکاتو او عمل تعلق د ورځې سره دی او په دې اعتبار سره د قرآن کريم احکام يعني د هغه اوامر او نواهي باندي د عمل کولو تعلق د ورځې سره دی ځکه په قرآن کريم باندي عمل کول د هغه سره خاص کړل سو.

ملا علي قاري رحمة الله عليه وايي: ددې مطلب دادی چې هغه سړي ته الله تعالی يو عظيم نعمت ورکړ چې هغه ته يې د قرآن کريم علم ورکړ مگر هغه د دغه نعمت قدر ونه کړ، په دې توگه چې د شپې د هغه د تلاوت څخه په غافل کېدو سره بېده سو او داسي کول ډېر ځله د قرآن کريم د هېرېدو سبب گرځي او هغه د قرآن کريم په اموامرو او نواهيو باندي عمل ونه کړ، سره ددې چې د قرآن کريم د نازلېدو اصل مقصد دادی چې په هغه عمل وکړل سي ځکه فرمايل سوي دي چې کوم څوک په قرآن کريم باندي عمل کوي نو هغه لکه تل چې د قرآن کريم تلاوت کوي که څه هم هغه په حقيقت کې تلاوت ونه کړي او څوک چې تل تلاوت کوي مگر په هغه عمل نه کوي نو هغه لکه چې د قرآن کريم هيڅ تلاوت ونه کړ.

یحیی رحمة الله علیه وایي : د بېده کېدو مطلب دادی چي هغه د قرآن کریم څخه مخ وګرځوی او بې نیازي یې اختیار کړل، کوم څوک چي د تلاوت څخه پرته بېده سي نو په دې کي د هغه د اعراض او بې نیازۍ قطعا دخل نه وي بلکه محض د محض غفلت او کوتاهۍ یا بلي مجبورۍ دخل وي نو داسي سړی به د ذکر سوي وعید څخه مستثنی وي.

او دغه کور د شهیدانو ځای دی: په دې اړه علماوو لیکلي دي چي د شهیدانو څخه مراد خاص مؤمنین دي لکه انبیاء، اولیاء او علماو، ځکه نقل سوي دي چي د علماوو رنګ به د شهیدانو پر وینه غالبه وي.

امام نووي رحمة الله علیه وایي: ددغه ارشاد څخه دا هدایت څرګندېږي چي د امام لپاره دا مستحب دي چي هغه (د سهار په لمانځه کي) د سلام ګرځولو څخه وروسته مقتدیانو ته متوجه سي، او دا هم مستحب دي چي امام د مقتدیانو څخه د خوب په اړه پوښتنه وکړي او دا هم مستحب دي چي تعبیر بیانونکی د خوب تعبیر د ورځي په لومړنۍ برخه کي بیان کړي چي په کاروبار کي د بوختیا په وجه ذهن پاشلی نه وي او په ښه توجه سره تعبیر ورکړل سي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

خوب هر چا ته مه وایه

﴿۴۴۱۷﴾: عَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو رزین عقیلی رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ ستة أَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ وَهِيَ عَلَى رِجْلِ طَائِرٍ مَا

د مؤمن خوب د نبوت د شپږ څلوېښتمي برخي څخه یوه برخه ده او خوب چي ترڅو بیان نه سي د مرغانو په پښو کي وي (یعني غیر مستقل او غیر قائم وي)

لَمْ يَتَحَدَّثْ بِهَا فَإِذَا حَدَّثَ بِهَا وَقَعَتْ وَأَحْسَبُهُ قَالَ وَلَا يُحَدِّثُ إِلَّا لَبِيبًا أَوْ

خو کله چي بیان سي نو خوب واقع سي، د راوي بیان دی زما خیال دي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا هم وفرمایل: خوب د هر چا په مخکي کي مه بیانوئ پرته د دوستانو څخه.

حَبِيبًا. رواه الترمذي و في رواية ابي داؤد قال الرؤيا على رجل طائر ما لم

تعبر فاذا عبرت وقعت واحسبه قال لا تقصها الا علی واد او ذي راي.

ترمذي او د ابو داؤد په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه (خوب) د مرغانو په پښو کي وي ترڅو پوري چي د خوب تعبير بيان نه سي او کله چي د هغه تعبير بيان سي نو هغه تعبير واقع کيږي، راوي وايي، زما گمان دی چي نبي کريم ﷺ دا هم ويلي دي چي خوب د دوست او عقلمند څخه پرته و بل چا ته مه بيانوئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۶۴، رقم: ۲۲۷۸، سنن ابي داود ۵\۲۸۳، رقم: ۵۰۲۰.

تشريح: (علی رجل طائر)، هغه د مرغه په پښو وي، دا په اصل کي د عربي ژبي يوه محاوره ده چي عرب يې په يو داسي معامله کي او د يو داسي شي په اړه استعمالوي چي هغه قرار او ثبات نلري، مطلب دادی چي څرنگه مرغه په عامه توگه يو ځای نه دريږي بلکه الوځي او حرکت کوي او کوم شی چي د هغه په پښو وي نو هغه هم په يوه ځای کي نه وي بلکه په ادنی حرکت سره غورځي، همدارنگه دغه معامله او دغه شی هم پر يوه ځای قائم او ثابت نه پاته کيږي، نو وفرمايل سول چي د خوب معامله هم داسي ده چي تر څو پوري چا ته بيان نه کړل سي او هغه په خپل زړه کي پټ وساتي نو هغه تر وخته پوري د هغه اعتبار نه وي او نه واقع کيږي، مگر کله چي هغه يو چا ته بيان کړل سي او څرنگه چي د هغه تعبير وکړل سي نو د هغه تعبير سره سم واقع کيږي نو بايد چا ته خوب بيان نه کړل سي مگر څرگنده دي وي چي دغه حکم د خراب خوب په اړه دی چي د هغه د واقع کېدو څخه انسان بيريږي او د تاوان وهم لري لکه څرنگه چي په نورو حديثو کي ددې وضاحت سوی دی.

هوښيار سړي او ملگري ته د خوب بيانولو لپاره ځکه فرمايل سوي دي چي هوښيار او پوه سړی د خپل عقل او حکمت په وجه د خوب ښه تعبير ورکوي، په داسي توگه چي کوم څوک دوست او ملگری وي هغه به هم خوب پر خير او ښېگڼه محمول کړي او ښه تعبير به ورکړي حال دا چي بې عقل د خپلي ناپوهۍ په وجه او دښمن د خپل بغض او عناد په وجه خراب تعبير ورکوي. دلته دا سوال پيدا کيږي چي کله د ټولو شيان واقع کېدل د قضاء او قدر سره متعلق دي نو دخوب تعبير نه کول د هغه خوب پر نه ظاهرولو باندي څرنگه موقوف کېدای سي، او د خوب په واقع کېدو کي د تعبير مؤثر کېدل څرنگه دی؟ ددې مختصر جواب دادی چي دغه شی هم د قضاء او قدر مطابق دی لکه څرنگه چي د دعاء، صدقې، خيرات او نورو اسبابو مسئله ده.

ورقه بن نوفل په خوب کي ليدل

﴿۴۴۱۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَرَقَةَ

د بي بي عائشي ﷝ څخه روايت دی چي د نبي کريم ﷺ څخه د ورقه (ورقه بن نوفل) په هکله پوښتنه وسوه (چي هغه مسلمان وو او که څنگه؟)

فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ إِنَّهُ كَانَ صَدَّقَكَ وَلٰكِنَّهُ مَاتَ قَبْلَ أَنْ تَظْهَرَ فَقَالَ رَسُولُ

بي بي خديجې ﷝ د نبي کريم ﷺ په مخکي وويل: چي ورقه بن نوفل پوخ تصديق وکړ ليکن هغه ستاسو د نبوت څخه مخکي وفات سو ، نبي کريم ﷺ وفرمايل:

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيتُهُ فِي الْمَنَامِ وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ بَيضٌ وَلَوْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَكَانَ عَلَيْهِ لِبَاسٌ غَيْرُ ذٰلِكَ. رواه احمد و الترمذي.

په خوب کي ما ته ورقه بن نوفل ښودل سوی دی چي سپيني جامې يې اغوستي وې ، که هغه دوږخي وای نو د هغه پر بدن باندي به بل قسم جامې وای (مطلب دا چي هغه جنتي دی). احمد او ترمذي.

تخريج: مسند الامام احمد ٦\٦٥ ، والترمذي ۴\۴۶۸، رقم: ۲۲۸۸.

تشريح: ورقه ابن نوفل ابن اسد ابن عبدالعزی د ام المؤمنين بي بي خديجې ﷝ د اکا زوی وو ، هغه د جاهليت په زمانه کي د عيسائيت د تعليم ډېر مهارت درلودی او انجيل يې په عربي ژبه ژباړلی وو ، د هغه په اړه ثابته ده چي د بت پرستۍ څخه سخت بېزاره وو او پر خپله طريقه باندي د الله تعالی په عبادت کي بوخت وو ، د ډېر عمر وو او د عمر په آخري برخه کي ړوند سوی وو ، کله چي رسول الله ﷺ په نبوت مشرف کړل سو او لومړنۍ وحي پر نازل سول نو بي بي خديجې ﷝ رسول الله ﷺ ، ورقه ابن نوفل ته بوتلی ، هغه د رسول الله ﷺ د نبوت تصديق وکړ او رسول الله ﷺ ته يې زيری ورکړ چي تاسو نبي آخرالزمان ياست چي په آسماني کتابو يې يادونه راغلې ده ، دغه واقعه ډېره مشهوره ده او د سيرت په هر کتاب کي موجود ده.

د مشهور کتاب اسد الغابه مصنف د ورقه ابن نوفل تذکره د صحابه کرامو په ډله کي کړې ده او د هغه د اسلام راوړلو په اړه د علماوو چي کوم اختلافي اقوال دي د هغو ذکر کولو سره مذکوره حديث يې بعينه نقل کړی دی، د بي بي خديجې ﷝ په ژوند کي بي بي عائشه ﷝ د رسول الله ﷺ په خدمت کي نه وه راغلې ځکه هغې به دغه روايت د صحابه کرامو څخه د سماع

په تو که نقل کړی وي.

او بي بي خديجې ﷺ د رسول الله ﷺ په وړاندي بيان وکړ ...الخ: يعني کله چي د رسول الله ﷺ ځخه د ورقه ابن نوفل په اړه پوښتنه وسول نو بي بي خديجې ﷺ د رسول الله ﷺ د جواب ځخه مخکي د خپل اکا د زوی حالت بيان کړ مګر د کلام طرزيې داسي اختيار کړ چي د ورقه ابن نوفل حقيقت هم څرګند سي او د مرتبه نبوت ادب هم وسي نو هغې داسي وويل چي هغه به ستاسو تصديق کوی يعني ورقه ابن نوفل ستاسو په تصديق کولو سره ويلي وه چي کومه ملائکه تاسو لېدلې ده هغه د الله تعالی له خوا انبياء عليهم السلام ته وحي راوړونکې هغه ملائکه ده چي ستاسو ځخه مخکي پر حضرت موسی او حضرت عيسی عليهما السلام باندي هم نازلېدل او تاسو د الله تعالی پيغمبر ياست ، او که زه ستاسو د ظهور او غلبې پر وخت ژوندی پاته سم نو ستاسو مرسته به وکړم او تاسو ته به طاقت ورسوم، يعني يوې خوا ته په دې خبره سره بي بي خديجې ﷺ د ورقه ابن نوفل ايمان ثابتول غوښتل او بلې خوا ته يې دا ويل چي: مګر هغه ستاسو د نبوت ځخه مخکي مړ سوی دی، په دې سره د هغه د ايمان په اړه شک هم ظاهر کړ، او بيا رسول الله ﷺ د مذکوره ارشاد په ذريعه دا ثابته کړه چي هغه مؤمن وو نو دغه حديث د ورقه ابن نوفل پر ايمان دلالت کوي او څرګنده ده چي کله هغه د رسول الله ﷺ د پيغمبری کېدو ځخه وروسته د رسول الله ﷺ تصديق وکړ نو بيا د هغه د ايمان په اړه د اختلاف هيڅ ګنجائش نسته ، مګر که چيري د هغه تصديق کول د نبوت ځخه مخکي وي نو بېله شکه د اختلاف ګنجائش سته.

په خوب کي د نبي ﷺ پر تندي سجده

﴿۴۴۱۹﴾: وَعَنِ ابْنِ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ عَمِّهِ أَبِي خُزَيْمَةَ أَنَّه رَأى فِيمَا يَرَى

حضرت ابن خزيمه بن ثابت ﷛ د خپل اکا ځخه روايت کوي چي هغه په خوب کي وليدل چي د

النَّائِمُ أَنَّهُ سَجَدَ عَلَى جَبْهَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَاضْطَجَعَ لَهُ

رسول الله ﷺ پر تندي باندي يې سجده وکړه، نبي کريم ﷺ ته چي يې کله دا خوب بيان کړ نو نبي کريم ﷺ سمدستي ورته متوجه سو

وَقَالَ صَدِّقْ رُؤْيَاكَ فَسَجَدَ عَلَى جَبْهَتِهِ . رواه في شرح السنة، وسنذكر حديث أبي بكرة كأن ميزانا نزل من السماء في باب مناقب أبي بكر وعمر رضي الله عنهما.

او ویې فرمایل: خپل خوب رښتیا کړه نو هغه د نبي کریم ﷺ پر تندي مبارک باندي سجده وکړه . شرح السنه او ژر به د حضرت ابو بکر صدیق رضی اللہ عنہ حدیث کان میزانا نزل من السماء به د حضرت ابو بکر صدیق رضی اللہ عنہ او حضرت عمر رضی اللہ عنہ د مناقب په باب کي بیان کړو .

تخریج: البغوي في شرح السنة ۱۲\۲۲۵، رقم: ۳۲۸۵.

تشریح: دغه حدیث پر دې دلالت کوي که چیري دخوب تعلق د طاعاتو او عباداتو سره وي نو په وېښه په هغه خوب باندي عمل کول مستحب دي، د مثال په توګه یو سړی داسي خوب ویني چي روژه یې نیولې ده یا لمونځ یې کړی دی یا صدقه او خیرات یې ورکړي دي او د یو بزرګ زیارت یې کړی دی او داسي نور، نو د هغه خوب سره سم په وېښه کي لمونځ کول، روژه نیول، صدقه او خیرات کول او د هغه بزرګ زیارت کول مستحب دي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د ۴۴۱۶ نمبر حدیث متعلق نور خوب

﴿۴۴۲۰﴾: عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا

د حضرت سمره بن جندب رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به اکثره وخت د خپلو اصحابو

يُكْثِرُ أَنْ يَّقُوْلُ لِأَصْحَابِهِ هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِّنْكُمْ مِنْ رُّؤْيَا ؟ فَيَقُصُّ عَلَيْهِ مَنْ شَاءَ

کرامو څخه پوښتنه کوله چي ایا په تاسو کي چا خوب لیدلی دی؟ چا چي به خوب لیدلی وو نو هغه به یې بیانوی ،

اللهُ أَنْ يَّقُصَّ وَإِنَّهُ قَالَ لَنَا ذَاتَ غَدَاةٍ إِنَّهُ أَتَانِيْ اللَّيْلَةَ آتِيَانِ وَإِنَّهُمَا اِبْتَعَثَانِيْ

یوه ورځ موږ ته نبي کریم ﷺ زموږ په مخ کي بیان وکړ ، نن شپه دوه کسان په خوب کي ما ته راغله زه یې را کښېنولم

وَإِنَّهُمَا قَالاَ لِيْ اِنْطَلِقْ وَإِنِّيْ اِنْطَلَقْتُ مَعَهُمَا وَذَكَرَ مِثْلَ الْحَدِيْثِ الْمَذْكُوْرِ فِي

او ما ته یې وویل ، زموږ سره ولاړ سه نو زه د هغوی سره روان سوم ، دد ې څخه وروسته د حدیث راوي سمره د هغه حدیث په شان چي په اولني فصل کي بیان سوی دی اوږد حدیث بیان کړی دی

الْفَصْلِ الْأَوَّلِ بِطُوْلِهِ وَفِيْهِ زِيَادَةٌ لَيْسَتْ فِي الْحَدِيْثِ الْمَذْكُوْرِ وَهِيَ قَوْلُهُ : فَأَتَيْنَا

او په دې حدیث کې د اولنې فصل د حدیث څخه یو څه خبرې زیاتې دي او هغه دا دي: نبي کریم ﷺ وفرمایل: بیا موږ ورسېدو

عَلٰى رَوْضَةٍ مُعْتَمَّةٍ فِيْهَا مِنْ كُلِّ نُوْرِ الرَّبِيْعِ وَإِذَا بَيْنَ ظَهْرِيِ الرَّوْضَةِ رَجُلٌ طَوِيْلٌ

یو تاریکه باغ ته (یعني و هغه باغ ته چې د ډیرو ونو په وجه پکښې تیاره وه) چې په هغه کې د پسرلي شینګیا وه او ګلونه غوړېدلي وه، زما نظر ناڅاپه پر یو سړي پرېوت

لَا أَكَادُ أَرٰى رَأْسَهُ طُوْلًا فِي السَّمَاءِ وَإِذَا حَوْلَ الرَّجُلِ مِنْ أَكْثَرِ وِلْدَانٍ رَأَيْتُهُمْ قَطُّ

چې د باغ په مینځ کې ولاړ وو، دا سړی دومره اوږد وو چې د هغه سر ما نه ولیدی ګواکې د هغه سر و اسمان ته رسېدلی وو او شاؤخوا یې ډېر هلکان وه چې ما هیڅکله نه وو لیدلي،

قُلْتُ لَهُمَا مَا هٰذَا مَا هٰؤُلَاءِ قَالَ قَالَا لِيْ اِنْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا فَانْتَهَيْنَا إِلٰى رَوْضَةٍ

ما د هغو کسانو څخه و پوښتل چې دا اوږد سړی څوک دی؟ او دا هلکان څوک دي؟ هغوی راته وویل، چې مخته ځه، نو موږ په مخ ولاړو او یو لوی باغ ته ورسېدو

عَظِيْمَةٍ لَمْ أَرَ رَوْضَةً قَطُّ أَعْظَمَ مِنْهَا وَلَا أَحْسَنَ قَالَ قَالَا لِيْ اِرْقَ فِيْهَا قَالَ فَارْتَقَيْنَا

چې د هغه څخه لوی او ښائسته باغ ما نه وو لیدلي بیا هغو ما ته وویل چې و باغ ته د ننه ولاړ سه یا و ونې ته و خېژه نو موږ روان سوو

فيها فَانْتَهَيْنَا إِلٰى مَدِيْنَةٍ مَبْنِيَّةٍ بِلَبِنِ ذَهَبٍ وَلَبِنِ فِضَّةٍ فَأَتَيْنَا بَابَ الْمَدِيْنَةِ

او یوه ښار ته نژدې ورسېدو چې د سرو او سپینو زرو د خښتو څخه جوړ سوی وو د ښار و دروازې ته د رسېدو سره

فَاسْتَفْتَحْنَا فَفُتِحَ لَنَا فَدَخَلْنَهَا فَتَلَقَّانَا فيها رِجَالٌ شَطْرٌ مِنْ خَلْقِهِمْ كَأَحْسَنِ

موږ دروازه خلاصول و غوښتل نو دروازه خلاصه سوه او موږ په هغه کې دا خل سو موږ په هغه ځای کې د داسې کسانو سره ملاقات وکړ چې د هغوی نیم بدن ډېر ښائسته وو

مَا أَنْتَ رَاءٍ وَشَطْرٌ منهم كَأَقْبَحِ مَا أَنْتَ رَاءٍ قال قَالَا لَهُمْ اذْهَبُوا فَقَعُوا فِي ذٰلِكَ

او نیم بدن یې ډېر ناکاره وو (یعني بهترین داسې شی چې د چا په نظر بهترین ښکېدی او بد ترین داسې شی چې د چا په نظر باندې بد ښکارېدی)، د نبي کریم ﷺ بیان دي چې هغه دوه کسان چې زه یې د ځان

سره بېولی وم هغو خلكو ته وويل ،

النَّهر قَالَ وَإِذَا نَهرٌ مُّعْتَرِضٌ يَجْرِيْ كَأَنَّ مَاءَهُ الْمَحْضُ فِي الْبَيَاضِ فَذَهَبُوا

چي په دې وياله كي غوته ووهئ ما وليدل چي هلته د بنار په عرض كي يو وياله جاري وه چي اوبه يې تكي سپيني وې نو هغه خلک ولاړل

فَوَقَعُوا فِيهِ ثُمَّ رَجَعُوا إِلَيْنَا قَدْ ذَهَبَ ذٰلِكَ السُّوءُ عَنْهُمْ فَصَارُوا فِي أَحْسَنِ

او په هغه وياله كي پرېوتل ، كله چي يې غوته په كنبي وو هله بيرته راغله نو د هغوی د بدنو هغه خرابه برخه ختمه سوه او په يوه ښه صورت باندي جوړه سوه

صُورَةٍ وَذَكَرَ فِيْ تَفْسِيْرِ هٰذِهِ الزِّيَادَةِ وَأَمَّا الرَّجُلُ الطَّوِيْلُ الَّذِيْ فِي الرَّوْضَةِ فَإِنَّهُ

او حديث د دې زياتو الفاظو تفسير يې دا سي وكړ چي هغه اوږد سړی چي په باغ كي د ننه وو

إِبْرَاهِيْمُ وَأَمَّا الْوِلْدَانُ الَّذِيْنَ حَوْلَهُ فَكُلُّ مَوْلُوْدٍ مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ قَالَ فَقَالَ

هغه حضرت ابراهيم عليه السلام وو او كوم كوچنيان چي د هغه شاؤخوا را چاپېره وه هغه زېږېدلي كوچنيان وه چي د بالغ كېدو څخه مخكي وفات سوي وه ،

بَعْضُ الْمُسْلِمِيْنَ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَأَوْلَادُ الْمُشْرِكِيْنَ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

ځينو اصحابو كرامو د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه اې د الله جل جلاله رسوله ! او د مشركانو اولادونه؟ (يعني نا بالغه كوچنيان) نبي كريم ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَوْلَادُ الْمُشْرِكِيْنَ وَأَمَّا الْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَانُوْا شَطْرٌ مِّنْهُمْ حَسَنٌ

د مشركانو كوچنيان هم (د حضرت ابراهيم عليه السلام سره او سيږي) بيا نبي كريم ﷺ د خوب په سلسله كي يې وفرمايل: هغه خلک چي د هغوی نيم بدن صحيح او نيم خراب وو

وَّشَطْرٌ مِّنْهُمْ قَبِيْحٌ فَإِنَّهُمْ قَوْمٌ قَدْ خَلَطُوْا عَمَلاً صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا تَجَاوَزَ اللهُ

عَنْهُمْ . رواه البخاري .

هغه خلک وه چي هغوی به ښه او بد عمل كړه وه كوئ يعني يو څه عمل به يې ښه او يو څه عمل به يې بد كوئ وروسته الله جل جلاله د هغوی گناهونه ورمعاف كړل . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۴۳۸، رقم: ۷۰۴۷.

د لغاتو حل: المحض: اى اللبن الخالص غير مشوب بشئ.

د ځانه خوب مه جوړوئ

﴿۴۴۲۱﴾: وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مِنْ أَفْرَى الْفِرَى أَنْ يُرِيَ الرجل عَيْنَيْهِ مَا لَمْ تَرَيَا. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د ټولو څخه لوئ بهتان (تهمت) دا دي چي سړی و خپلو سترګو ته هغه شی وښائي چي هغه يې نه وي ليدلي (يعني په سترګو تهمت ولګوي چي ما داسي خوب وليدی او دروا غ بيان کړي). بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۴۲۷، رقم: ۷۰۴۳.

تشريح: مطلب دا دی چي پر سترګو باندي دا درواغ وتړل سي چي هغوی ليدلي دي حال دا چي په حقيقت کي هغوی هيڅ نه دي ليدلي ، يعني د درواغو د خوب ويلو بدي څرګندول دي او دې ته لوی بهتان ځکه ويل سوي دي چي خوب يو ډول د وحي قائم مقام وي او د هغه اړه د الله تعالی سره وي نو د درواغو خوب جوړول پر الله تعالی باندي بهتان تړل دي ، په يوه حديث کي راغلي دي چي الله تعالی د خوب ښوونکي لپاره ملائکه را استوي .

په سهار کي خوب ليدل

﴿۴۴۲۲﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَصْدَقُ الرُّؤْيَا بِالْأَسْحَارِ. رواه الترمذي والدارمي.

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چي ډېر رېښتني خوب د سهار د وخت دی . ترمذي او دارمي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۶۲، رقم: ۲۲۷۴، والدارمي ۲\۱۶۹، رقم: ۲۱۴۶.

تشريح: د شپې آخري برخه په عامه توګه د زړه او دماغ د سکون وخت دي، دا وخت نه يوازي دا چي آرام وي بلکه هغه د ملائکو د نزول، سعادت او دعاء د قبوليت وخت هم دی ځکه د غه وخت چي کوم خوب وليدل سي نو هغه زيات رېښتوني وي .

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم

كِتَابُ الْآدَابِ

د آدابو بيان

د ادب معنی ده هغه قول او فعل چي هغه ته ښه او د تعريف وړ ويل کيږي، او يا د ادب مطلب دادی چي هره خبره په ښه والي سره په ښه موقع وويل سي او هر کار په احتياط او تدبيره سره سرته ورسول سي.

د ځينو حضراتو په نزد مکارم الاخلاق (ښه اخلاق)، يعني يقين، قناعت، صبر، شکر، حلم، ښه اخلاق، سخاوت، غيرت او د مهرباني په ډول ښه صفتونه اختيارول او په هغو عمل کولو ته ادب وايي.

ځيني حضرات وايي : د ادب مطلب دادی چي د نيکۍ او ښېګڼي لار اختيار کړل سي او د ګناه د لاري څخه پرهېز وکړل سي. د ځينو حضراتو په نزد د ادب معنی داده چي د خپل بزرګ عزت او توقير وکړل سي او د خپلو کشرانو سره د شفقت او محبت چلن وکړل سي.

ادب د خپل وسيع مفهوم په اعتبار د انساني ژوند او تهذيب او د ټولني د مختلفو اړخونو سره اړوند حديثونه نقل کيږي.

بَابُ السَّلَامِ (د سلام بيان)

د سلام معنی د نقصاناتو او عيبو څخه خلاصون تر لاسه کول، سلام د الله تعالی يو پاک اسم دی چي د هغه معنی هغه ذات دی چي د هر عيب او آفت، تغير او فنا څخه پاک وي.

سلام د اسلامي تهذيب او ټولني يو خاص رکن دی، ددې لپاره چي کوم الفاظ ټاکل سوي دي هغه (السلام عليک) دي، ددې معنی ده چي الله تعالی ستا په حال خبر دی نو غفلت مه اختياروئ يا دا چي د الله تعالی د پاک اسم پر تاسو سايه ده يعني ته د الله تعالی په ساتنه او حفاظت کي يې لکه څرنګه چي ويل کيږي : الله معک، يعني الله تعالی ستا سره دی، د اکثرو علماوو په نزد ددې معنی داده چي پر تا دي سلامتيا وي يعني ته زما څخه په سلامتيا کي يې او ما هم د ځان څخه په سلامتيا کي کړه، په دغه صورت کي به سلام د سلم څخه مشتق وي چي

د هغه معنی د مصالحت ده او د دغه کلمې مطلب به دا وي چې ته زما څخه په حفظ او امان کې اوسه او ما هم په حفظ او امان کې ساته.

نقل سوي دي چې د سلام کولو طريقه د اسلام په پيل کې مشروع سوې ده او د دې مقصد يو داسې علامه رواج کول وه چې د هغه په ذريعه د مسلمان او کافر په مينځ کې فرق وکړل سي چې يو مسلمان د بل مسلمان سره تعرض نه کوي، يعني دغه کلمه په خپله ژبه ادا کونکی د دې خبرې اعلان کوي چې زه مسلمان يم او بيا دغه طريقه په ځانګړې توګه مشروع وګرځول سول.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د ملائکو سلام

﴿۴۴۲۳﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلَقَ اللّٰهُ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ پيدا کړی دی

آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ طُولُهُ سِتُّونَ ذِرَاعًا فَلَمَّا خَلَقَهُ قَالَ اذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلَى أُولَئِكَ

حضرت آدم ؑ په خپل صورت، د هغه اوږدوالی شپېته ګزه وو د هغه د پيدا کولو څخه وروسته خدای تعالی ورته وفرمايل: ورسه و دې ډلې ته سلام وکړه

النَّفَرِ وهم نفر مِنَ الْمَلَائِكَةِ جُلُوسٌ فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّونَكَ فَإِنَّهَا تَحِيَّتُكَ

او هلته د ملائکو ډله ناسته وه او واوره هغوی چې څه جواب در کړي هغه ستا او ستا د اولادې

وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ فذهب فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقَالُوا السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ

جواب دی، آدم ؑ ورغی او د ملائکو جماعت يې مخاطب کړ ورته يې وويل: السلام عليکم ملائکو ورته په جواب کې السلام عليکم ورحمة الله وويل،

اللّٰهِ فَزَادُوهُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ قال فَكُلُّ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ آدَمَ وطوله ستون ذراعا فَلَمْ يَزَلِ الْخَلْقُ يَنْقُصُ بَعْدُ حَتَّى الْآنَ. متفق عليه.

نبي کريم ﷺ وفرمايل: ملائکو د آدم ؑ د سلام په جواب کې ورحمة الله الفاظ زيات کړل، نبي کريم ﷺ فرمايي: څوک چې په جنت کې دا خلېږي نو د آدم ؑ په صورت به وي او د هغه

اوږدوالی به شپېته گزه وي ، د دې څخه يې وروسته د مخلوقاتو د پيدائش قد په اندازه سره کمېدی يعني د هغوی قد به کمېدی تر دې پوري چې و دې مقدار ته راورسېد کوم چې اوس دی . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) :۱۱\۳، رقم: ٦٢٢٧، ومسلم ۴\۲۱۸۳، رقم: ۲۸- ۲۸۴۱.

تشريح: الله ﷻ ، ادم عليه السلام په خپل صورت جوړ کړ: ددغه ارشاد په معنی کي د علماوو اختلافي قولونه دي ، ځيني حضرات وايي چي دغه ارشاد د احاديثو د صفاتو څخه دی چي د هغه حقيقي مفهوم او مطلب ته رسيدل ممکن نه دي، ځکه په دې اړه د تاويل او توجيه کولو پر ځای سکوت غوره دی، لکه څرنگه چي د داسي قولونو او ارشاداتو په اړه سکوت اختيارېږي چي متشابهات ورته وايي، علماء سلف دغه قول ته مائل دي ، حال دا چي ځيني نور حضرات ددغه ارشاد تاويلونه کوي چي د هغو څخه مشهور تاويل دادی چي دلته صورت د صفت په معنی کي دی ، لکه څرنگه چي په عامه توگه په ورځنۍ اصطلاح کي ويل کيږي چي د فلانۍ معاملې صورت دادی يا صورت حال داسي دی ، څرگنده ده چي څرنگه د يوې مسئلې يا حال يو ظاهري صورت نه وي بلکه د هغه سره د صورت لفظ استعمالولو سره په حقيقت کي د هغه مسئلې يا حال صفت او کيفيت مراد وي همدارنگه دلته د الله د صورت د لفظ څخه مراد الله ﷻ صفت دی، مطلب دادي چي الله تعالی آدم عليه السلام پر خپل صفت باندي جوړ کړ او هغه يې په صفاتو سره موصوف کړ چي د صفات کريمه باري تعالی عکس دی نو الله تعالی هغه حي، عالم، قادر، مريد، متکلم، سميع او بصير جوړ کړ .

ځيني حضرات وايي چي د صورته اضافت الله تعالی ته د شرف او عظمت څرگندولو لپاره دی لکه څرنگه چي په روح الله او بيت الله کي د روح او بيت اضافت الله تعالی ته دی، په دغه صورت کي به معنی دا وي چي الله تعالی آدم عليه السلام په هغه لطيف او جميل صورت باندي پيدا کړ چي پر اسرارو او لطائفو باندي مشتمل دی چي هغه د خپل قدرت کامله په ذريعه د خپل خوا څخه ورکړ .

ځيني حضرات وايي چي د صورته ضمير حضرت آدم عليه السلام ته راجع دی يعني الله تعالی آدم د هغه په صورت جوړ کړ ، مطلب دادی چي هغه د ابتداء څخه په دغه شکل باندي وو ، د نورو انسانانو په ډول د هغه تخليق په دغه تدريجي توگه نه وو سوی چي مخکي هغه نطفه وو بيا مضغه سو ، بيا جنين ، بيا طفل ، بيا صبي او بيا پوره سړی سو ، بلکه هغه د پېل څخه ټول اندامونه او جوارح په پوره شکل او صورت او د شپېته گزه قد انسان جوړ کړل سو ، نو الله تعالی

ادم په خپل صورت جوړ ولو څخه مراد د ادم د تخلیق او پیدائش حقیقت څرګندول دي او نور صفات پر خلاف د قد د اوږدوالي یو غیر معروف شی وو ځکه دا یې په خاصه توګه ذکر کړ، همدارنګه پر اوږد والي باندي پلنوالی هم قیاس کیدای سي او په اجمالي توګه یې تصور په ذهن کي راتلای سي نو پلنوالی یې ذکر نه کړ.

د (ورحمة الله) لفظ ملائکو زیات کړ: ددې په ذریعه د سلام د جواب په اړه یو تهذیب او ادب ته اشاره وسوه نو غوره طریقه داده که یو سړی السلام علیک ووایي نو د هغه په جواب کي وعلیک السلام ورحمة الله وبرکاته دي وویل سي، همدارنګه که یو څوک السلام علیک ورحمة الله ووایي نو د هغه په جواب کي وعلیک السلام ورحمة الله وبرکاته دي وویل سي، په یوه روایت کي د ورحمة الله څخه وروسته و مغفرته لفظ هم نقل سوی دی، د حدیث څخه معلومه سوه چي د سلام په جواب کي د وعلیک السلام پر ځای السلام وعلیک ویل هم صحیح دي ځکه چي د معنی په اعتبار په دواړ کي فرق نسته مګر د جمهورو علماوو په نزد غوره دادي چي په جواب کي وعلیک السلام یا وعلیکم السلام وویل سي، پاته سوه دا خبره چي ملائکو د حضرت ادم علیه السلام د سلام په جواب کي د وعلیک السلام پر ځای السلام علیک ولي وویل، نو کېدایسي چي ملائکو دا غوښتل چي په سلام کولو کي هغوی خپله پېل وکړي لکه څرنګه چي په عامه توګه کیږي چي کله دوه کسان یو ځای کیږي او په هغوی کي هر په سلام کي پېل کول غواړي نو دواړه یو بل ته السلام علیک یا السلام علیکم وایي مګر دا خبره دي څرګنده وي چي د جواب صحیح کېدو لپاره دا ضروري ده چي هغه جواب د سلام څخه وروسته واقع سي نه دا چي دواړه یو ځای واقع سي، لکه څرنګه چي فاستمع ما یحیونک، بیا واوره چي هغوی څه جواب درکوي، نه څرګندیږي، نو په فاستمع کي د فاء حرف د تعقیب لپاره دی چي د ذکر سوي وضاحت دلیل دی، په عامه توګه خلک د دغه مسئلې څخه ډېر غافل دي ځکه دا خبره باید په ذهن کي وي که دوه خلک یو ځای سي او دواړه یو ځای السلام علیکم ووایي نو په دواړو کي به پر هر یوه باندي جواب ورکول واجب وي.

د حدیث آخري جمله پر تقدیم او تاخیر باندي دلالت کوي، ددې مطلب دادی چي د حضرت آدم علیه السلام قد شپېته ګزه وو د هغه څخه وروسته د خلکو قد په تدریج سره کمېدی او بیا چي په جنت کي داخلیږي نو د ټولو قد به اوږد سي لکه څرنګه چي د آدم علیه السلام وو.

ښه اعمال

﴿۴۴۲۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ قَالَ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ. متفق عليه.

د حضرت عبد الله بن عمرو علیه السلام څخه روایت دی چې یوه سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې د اسلام کوم عادت بهتر دی؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: په چا باندي ډوډۍ خوړل او دوست او غیر دوست و ټولو ته سلام کول. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۱، رقم: ۶۲۳۶، ومسلم ۱\۶۵، رقم: ۶۳ - ۳۹.

تشریح: د دوو صفتو خاصوالی د سائل دحال په مناسبت دی نو په مختلفو وختو کي مختلفو اعمالو ته غوره ویل چې په یوه وخت کي یې یوه عمل ته افضل وویل او په بل وخت کي یې بل عمل ته، د مسائلو د احوال پر اختلاف او تفاوت باندي مبني وو، پوښتنه کونکي چې د کوم مزاج او احوال سړي وو او د هغه رجحان د کوم نیک خصلت په لور وو د هغه مخکي هغه نیک خصلت غوره وګرځول سي د مثال په توګه یو سړي پوښتنه وکړه چې کوم عمل غوره دی، رسول الله ﷺ وپوهېدی چې ددغه سړي په مزاج کي بخل دی نو هغه ته به یې وفرمایل چې خوراک ورکول تر ټولو غوره عمل دی، نو دلته چې کومه پوښتنه سوې وه رسول الله ﷺ د هغه د احوالو په مناسبت سره هغه ته وفرمایل چې خوراک ورکول او هر چا ته سلام کول غوره عمل دی.

لفظ د تُقری (د تاء په پېښ سره) د اقراء څخه مشتق دی او ددې معنی بل ته د ښوونې ده، دغه لفظ د تاء په زبر سره هم منقول دي چې د قرائت څخه مشتق دی او د هغه معنی د ویلو ده، که څه هم په لومړني صورت کي مفهوم زیات غوره دی نو ددې توجیه به دا کیږي چې سلام کونکی مسلم علیه به د جواب ورکولو باعث وي ځکه هغه د ژبي څخه هغه کلمه ویل غواړي چې د هغه تعلق د سلام او د هغه د جواب سره وي.

ددغه حدیث څخه دا خبره ثابته سوه چې د سلام تعلق د شناختوو د حقوقو څخه نه دی بلکه دا د هغه حقوقو څخه دی چې اسلام پر یو مسلمان باندي د بل مسلمان عائد کړل سي همدارنګه د ناروغ پوښتنه او داسي نور امور هم د اسلامي حقوقو او واجباتو سره تعلق لري لکه څرنګه چې د راتلونکي حدیث څخه څرګندیږي.

د يوه مسلمان پر بل مسلمان حقوق

﴿۴۲۲۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمُؤْمِنِ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د يوه مسلمان پر بل

عَلَى الْمُؤْمِنِ سِتُّ خِصَالٍ يَعُودُهُ إِذَا مَرِضَ وَيَشْهَدُهُ إِذَا مَاتَ وَيُجِيبُهُ إِذَا دَعَاهُ

مسلمان باندې شپږ حقوق دی :(۱)- کله چې يو مسلمان ناروغه سي د هغه پوښتنه کول .(۲)- کله چې يو مسلمان مړ سي د هغه په کفن او دفن کې او د جنازې په لمانځه وغيره کې شريکېدل .(۳)- که يو مسلمان دعوت درکړي د هغه دعوت قبلول .

وَيُسَلِّمُ عَلَيْهِ إِذَا لَقِيَهُ وَيُشَمِّتُهُ إِذَا عَطَسَ وَيَنْصَحُ لَهُ إِذَا غَابَ أَوْ شَهِدَ. ولم

(۴)- کله چې يو مسلمان سره يو ځای سي نو سلام ورته کول .(۵)- کله چې يو مسلمان تريچې وکړي د هغه په جواب کې يرحمک الله ويل(که چيرې هغه الحمد لله ووايي) .(۶)- د حاضر او غائب مسلمان خير خواهي کول .

اجده في الصحيحين ولا في كتاب الحميدي ولكن ذكره صاحب الجامع برواية النسائي .

(دا حديث په بخاري او مسلم کې نسته او نه په حميدي کتاب کې سته البته په جامع الاصول کې دا نقل سويدی او د نسائي حواله يې ورکړې ده).

تخريج: سنن الترمذي ۵\۷۵، رقم: ۲۷۳۷.

تشريح: خير خواهي دي کوي، ددې مطلب دادی چې پر مسلمان باندې د اواجب دي چې هغه په هر حالت کې د يو بل خير خواه او همدرد وي ، کوم مسلمان چې مخته وي د هغه سره دي خيرخواهي وکړل سي او کوم چې د نظر څخه ليرې وي د هغه سره دې هم خيرخواهي وکړل سي دغه بايد ونه کړل سي چې کله يو مسلمان مخته راسي نو د هغه سره دې ښه رويه اختيار کړل سي او کله چې هغه نه وي نو غيبت دې يې وکړل سي دا منافقانه رويه ده او د منافقانو خاصيت دی.

د دوستۍ ښه لار سلام کول دي

﴿۴۴۲۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ. رواه مسلم.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو تر هغه وخته پوري په جنت کي نه سي دا خلېدلای تر څو پوري چي ايمان را نه وړئ او تر هغه وخته پوري ستاسو ايمان نه سي کاملېدلای تر څو پوري چي په خپلو کي محبت پيدا نه کړئ، ايا زه تاسو ته يوه دا سي خبره و نه ښائم که تاسو په هغه باندي عمل وکړئ نو ستاسو په مينځ کي به محبت زيات سي او هغه خبره دا ده چي په خپلو کي يو بل ته سلام کول رواج کړئ يعني په خپلو کي دوست او غير دوست و ټولو ته سلام کوئ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱\ ۷۴، رقم: ۹۳- ۵۴.

تشريح: د مشکوة په صحيح او معتمدو نسخو کي د (ولاتؤمنوا) لفظ د نون په حذف سره دی او دغه د نون حذف حتی تؤمنوا د مجانست او مقارنت په وجه دی، مګر په ځينو نسخو کي دغه لفظ په نون سره يعني ولاتؤمنون هم نقل سوی دی او دا د نحوي قاعدې مطابق دی.

څوک دي اول سلام کوي

﴿۴۴۲۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي وَالْمَاشِي عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ. متفق عليه.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: سپور دي و پياده ته سلام کوي، پياده تلونکي دي و ناست ته سلام کوي او لږ کسان دي و ډېرو ته سلام کوي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۱۵، رقم: ۶۲۳۲، ومسم ۴\ ۱۷۰۳، رقم: ۱- ۲۱۶۰.

تشريح: کوم څوک چي سپور وي ...الخ: دغه حکم په اصل کي تواضع او انکسارۍ ته د رغبت ورکولو لپاره دی ځکه چي کوم سړی پر سپرلۍ وي هغه ته الله تعالی پر پښو تلونکي باندي غوره والی او فوقيت ورکړی دی نو هغه ته انکساري کول پکار دي، همدارنګه کوم

خلک چي کم وي او هغوی د داسي خلکو سره يو ځای سي چي هغوی زيات وي نو هغوی هم بايد د تواضع او انکسارۍ په وجه د زياتو کسانو د احترام سره سم په سلام کي پېل وکړي.

امام نووي رحمة الله عليه وايي: که يو سړی د ځو خلکو سره يو ځای سي او دا وغواړي چي هغه ټولو ته د سلام کولو پر ځای په هغوی کي يو څو کسانو ته سلام وکړي نو دا مکروه دي ځکه چي د اسلام اصل مقصد په خپلو کي موانست او الفت پيدا کول دي حال دا چي ځيني خاصو خلکو ته سلام کول پاته خلک په وحشت او پردي توب کي اخته کول دي او دغه کار په زياتو وختو کي د نفرت او عداوت سبب هم ګرځي مګر د بازار او عامو سړکانو حکم دی او دا د هغه شخه بېل دی، که په بازار يا عام سړک باندي ډېر خلک ځي او راځي نو په هغوی کي ځينو ته سلام کول کافي کيږي ځکه که يو سړی په بازار کي يو ځای کېدونکي هر سړي ته سلام کوي نو هغه به په همدې مصروف سي او خپل کارونه به ځيني پاته وي.

﴿۴۴۲۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه شخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کوچنی دي و لوئ ته سلام کوي او تلونکي دي و ناست ته سلام کوي او لږ کسان دي و ډېرو کسانو ته سلام کوي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۱۴، رقم: ۶۲۳۱.

تشريح: علماوو ليکلي دي چي ذکر سوی حکم په لاره کي د ليدني پر وخت دی د مثال په توګه يو سړی را روان دی او بل سړی ددې خوا شخه ور روان دی او دواړو يو ځای سي نو ددغه صورت لپاره دا حکم دی چي په دواړو کي کوم يو کشر وي هغه دي مشر ته سلام وکړي مګر مجلس يا بل ځای ته د ورتلو په صورت کي د اسلام پېل ورتلونکی ته کول پکار دي که څه هم هغه کوچنی وي يا لوی وي او که څه هم شمېر يې زيات وي يا کم وي.

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم شفقت

﴿۴۴۲۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى غِلْمَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ. متفق عليه.

ته يې سلام وكړ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۲، رقم: ۶۲۴۷، ومسلم ۱۴\۱۷۰۸، رقم: ۱۴- ۲۱۶۸.

تشريح: د رسول الله ﷺ دغه عمل مبارک چي ماشومانو ته يې سلام وکړ دا په حقيقت کي د رسول الله ﷺ د وصف تواضع او انکسارۍ د کمال شفقت او محبت مظهر دی.

غير مسلم ته سلام

﴿۴۴۳۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبْدَءُوا الْيَهُودَ وَلَا النَّصَارَى بِالسَّلَامِ وَإِذَا لَقِيتُمْ أَحَدَهُمْ فِي طَرِيقٍ فَاضْطَرُّوهُ إِلَى أَضْيَقِهِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يهودو او نصاراؤ ته په سلام کولو کي مخته کيږئ مه، او کله چي ستاسو سره په لار کي يو يهودي يا نصراني يو ځای سي نو د هغه لار دومره تنگه کړئ چي هغه و يوه لور ته په تېرېدو باندي مجبوره سي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۴\۱۷۰۷، رقم: ۱۳- ۲۱۶۷.

تشريح: په سلام کولو کي پېل مه کوئ: مطلب دا دی چي مخکي تاسو هغوی ته السلام عليکم مه وايا ست ځکه چي په اسلام کي پېل کول په حقيقت کي د اسلامي تهذيب يو اعزاز دی چي د هغه مستحق هغه خلک کيدای سي کوم چي د اسلامي تهذيب پيروان وي او مسلمانان وي، د دغه اعزاز استحقاق هغه خلکو ته تر لاسه کېدای نسي کوم چي د دين دښمنان او باغيان وي همدارنگه هغه باغيانو ته او دښمنانو ته سلام کول او د داسي نورو شيانو په ذريعه الفت او محبت ورسره کول هم جائز نه دي ځکه چي الله تعالی فرمايلي دي:

(لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ)

ژباړه: ته به داسي هيڅ قوم تر لاسه نه کړې چي پر الله جل جلاله او د قيامت په ورځ ايمان لري او د هغه خلکو سره هم دوستي کوي کوم چي د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي.

مگر که چيري هغه خلک په سلام کي پېل وکړي او السلام عليک يا السلام عليکم و وايي نو د هغه په جواب کي يوازي عليک يا عليکم ويل پکار دي، علماوو ليکلي دي چي غوره دا ده چي د غير مسلم په جواب کي هداک الله و ويل سي او ځينو علماوو ليکلي دي چي د يو ضرورت

او مجبوری، په وجه یهودو او نصاراوو ته سلام کول جائز دي او دا حکم د هغه مسلمانانو هم دی کوم چي بدعتیان او په فسق کي اخته وي.

په اسلامي سلطنت کي اوسیدونکي یو مسلمان که یو پردي ته سلام وکړ او بیا معلومه سوه چي هغه ذمي دی نو په دغه صورت کي مستحب دادي چي د خپل اسلام د واپس کولو مطالبه دي وکړي یعني داسي ووایي چي : استرجعت سلامي، یعني زه دخپل سلام د بېرته اخیستني غوښته کوم.

د حدیث د آخري الفاظو مطلب دادی چي یهود او نصارا چي د دین دښمنان دي او د خپل مکر او فریب د طاقتونو په ذریعه د الله جَلَّاللہ بېرغ نسکورول غواړي دداسي چلن مستحق دي چي کله هغوی په لاره کي یو ځای سي نو پر هغوی دي دومره زور راولي چي هغوی یوې خوا ته کېدو سره په تېرېدو باندي مجبور سي او پر هغوی دي لاره تنګه کړل سي چي د اسلام عظمت او شوکت او د مسلمانانو د دبدبې اظهار وسي، د مشکوٰة په ځینو حاشیو کي دا مطلب لیکلی دي چي هغوی ته دا حکم ورکړئ چي یوې خوا ته سئ او پر غاړه ځئ چي د لار د مینځ برخه د مسلمانانو د تګ راتګ لپاره مخصوص سي.

د یهودو شرارت

﴿۴۴۳۱﴾: وَعَنِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمُ الْيَهُودُ فَإِنَّمَا يَقُولُ أَحَدُهُمُ السَّامُ عَلَيْكَ فَقُلْ وَعَلَيْكَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي یهود تاسو ته سلام کوي نو دا وایي : السام علیک (یعني مړ سې، پر تا دي مرګ وي، خدای تعالی دي مړ که) د دې په جواب کي وایه وعلیک (یعني په تا دي مرګ راسي). بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۲، رقم: ۶۲۵۷، ومسلم ۴\۱۷۰۶، رقم: ۸- ۲۱۶۴.

﴿۴۴۳۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ أَهْلُ الْكِتَابِ فَقُولُوا وَعَلَيْكُمْ. متفق عليه.

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي یهود او نصاری درته

سلام وکړي نو د هغوی په جواب کي یوازي و علیکم وایاست. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۲، رقم: ۶۲۵۸، ومسلم ۴\۱۷۰۵، رقم: ۶- ۲۱۶۳.

تشریح: په لومړي روایت کي د فقل او علیک لفظ د مفرد په صیغې دي او په دغه روایت کي د جمع په صیغه دی، همدارنګه په نورو روایتو کي وعلیک او علیکم په واو سره او بېله واوه دواړه ډوله نقل سوی دی، د مشکوة مؤلف دلته چي کوم روایت نقل کړی دی په هغه کي دواړه په واو سره نقل سوي دي، د مؤطا په روایت کي علیک بېله واو او د دار قطني په روایت کي علیکم بېله واو نقل سوی دی، علماوو لیکلي دي چي صحیح او مختار قول دادی چي د ذکر سوو خلکو د سلام په جواب کي دغه لفظ بېله واو یعني علیکم یا علیک وویل سي چي په دې کي مشارکت لازم نسي کوم چي د هغوی په ژبه سره ادا سوی دی او ځیني حضرات وایي چي دغه لفظ په واو ویلو کي هم څه پروا نسته ځکه چي د کوم شي مشارکت لازمیږي هغه مرګ دی او مرګ ټولو ته راتلونکی دی، په دغه صورت کي ددغه لفظ مطلب به دا وي چي کوم مرګ تاسو بد ګڼئ او موږ ته د هغه ښېرا کوئ په هغه کي موږ او تاسو برابر یو، چي موږ ته مرګ یعني مړ کېدل دي، د ځینو حضرات قول دادی چي د واو حرف دلته د مشارکت لپاره نه دی بلکه د استیناف لپاره دی په دغه صورت کي دغه لفظ به د مفهوم په اعتبار ددغه جملې قائم مقام وي: وعلیکم ما تستحقونه من الذم، یعني پر تا دي هغه بدي وي چي د هغه ته مستحق یې، مګر دا خبره دي څرګنده ږي چي دغه لفظ په حدیثو کي دوه ډوله نقل سوی دی چي په ځینو روایتو کي په واو سره دی او په ځینو روایتو کي بېله واو دی ځکه نو په دې اړه صحیح خبره داده چي دواړه ډوله ویل جائز دي.

نووي رحمة الله علیه وایي: د علماوو پر دې خبره اتفاق دی چي اهل کتابو ته دي د سلام جواب ورکړل سي مګر وعلیکم السلام دي نه ویل کیږي یعني جواب ورکونکی دي علیکم السلام نه وایي بلکه یوازي علیکم یا علیک دي وایي، بلکه وعلیکم دي په هغه صورت کي وایي کله چي هغوی د یوه شخص زیات وي او که یو وي نو علیکم دي نه وایي ځکه چي په داسي ویلو سره د هغه تعظیم او توقیر لازمیږي.

د نبي کریم ﷺ حکم

﴿۴۴۴۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِسْتَأْذَنَ رَهْطٌ مِنَ الْيَهُودِ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چي د یهودو یو جماعت د نبي کریم ﷺ په خدمت کي د

حاضری اجازه و غوښتنه

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكُمْ فَقُلْتُ بَلْ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ

او وه یې ویل : السام علیکم (په تاسو دي مرګ راسي) ما د هغوی په جواب کي وویل : و علیکم السام واللعنة (په تاسو دي مرګ راسي او درباندي لعنت دي وي)

فَقَالَ يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللَّهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْأَمْرِ كُلِّهِ قُلْتُ أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا

په دې اورېدو سره نبي کریم ﷺ وفرمایل: اې عائشې ! خدای تعالی نرمي کوي او په ټولو کارونو کي نرمي خوښوي ما وویل: تاسو وا نه ورېدل چي

قَالُوا قَالَ قَدْ قُلْتُ وَعَلَيْكُمْ. وفي رواية عَلَيْكُمْ وَلَمْ يَذْكُرُوا الْوَاوَ. متفق

هغوی څه وویل ؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : ما د هغوی په جواب کي وعلیکم (په تاسو هم) ویلي وو، او په یوه روایت کي دي چي (علیکم) یې ورته وو ایه بېله واو، او د بخاري په یوه

عليه و في رواية للبخاري قَالَتْ أَنَّ يَهُودَ أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا

روایت کي دا الفاظ دي ، یهود د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سول او ویې ویل :

السَّامُ عَلَيْكُمْ فَقَالَتْ عَائِشَةُ السام عَلَيْكُمْ وَلَعَنَكُمُ اللَّهُ وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ

السام علیک (پر تا دي مرګ راسي) او نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : و علیکم (او په تاسو هم) بي بي عائشې رض د یهودو د الفاظو په اورېدو سره وویل : پر تاسو دي مرګ راسي او پر تاسو دي لعنت وي او پر تاسو دي غضب الهي نازل سي ،

فقَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم مَهْلًا يَا عَائِشَةُ عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ وَإِيَّاكِ

نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : اې عائشې ! د نرمي څخه کار اخله سختي پرېږده

وَالْعُنْفَ وَالْفُحْشَ قَالَتْ أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا قَالَ أَوَلَمْ تَسْمَعِي مَا قُلْتُ

او د بې شرمو خبرو څخه ځان وژغوره، بي بي عائشې ﷺ وویل ، تاسو د دوي الفاظ وا نه ورېدل ، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : او تا زما د جواب الفاظ وا نه ورېدل ما د هغوی الفاظ و

رَدَدْتُ عَلَيْهِمْ فَيُسْتَجَابُ لِي فِيهِمْ وَلَا يُسْتَجَابُ لَهُمْ فِيَّ، وفي رواية لمسلم قَالَ لَاتَكُوْنِيْ فَاحِشَةً فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفُحْشَ وَالتَّفَحُّشَ.

هغوی ته ور وګرځول زما دعا د هغوی په حق کي قبليږي او د هغوی دعا زما په حق کي نه قبليږي او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ دا وفرمايل: اې عائشې! ته فالتو او د فحش خبري مه کوه ځکه چي الله جلّ جلاله فحش او بې حيائي نه خوښوي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۲۸۰، رقم: ۶۹۲۷، ومسلم ۴\۱۷۰۶، رقم: ۱۰- ۲۱۶۵.

مسلمان او کافر چي دواړه وي

﴿۴۴۳۴﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِمَجْلِسٍ فِيهِ أَخْلَاطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ وَالْيَهُودِ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ. متفق عليه.

د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په يوه داسي ټولنه باندي تير سو چي په هغې کي مسلمانان، مشرکين، د بوتانو عبادت کونکي او يهود هر ډول خلک موجود وه او نبي کريم ﷺ و هغوی ته سلام ووايه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۸، رقم: ۲۶۵۴، ومسلم ۳\۱۴۲۲، رقم: ۱۱۶- ۱۷۹۷.

تشريح: نووي رحمه الله وايي: که يو مسلمان پر يو داسي ډله باندي تېر سي چي په هغه کي مسلمانان هم وي او کافران هم وي، که څه هم مسلمان يو وي يا ډېر وي نو سنت دادی چي د مسلمانانو يا مسلمان په قصد کولو سره ټولي ډلي ته سلام وکړل سي، علماوو ليکلي دي چي په دغه صورت کي السلام عليکم ووايي او دا نيت وکړي چي ددغه سلام اصل مخاطب مسلمانان دي او که داسي ووايي چي السلام علي من اتبع الهدی، علماوو دا هم ليکي دي که يو مشرک او کافران ته خط ليکل کيږي نو سنت دادي چي هغه ته د السلام عليکم ليکلو پر ځای هغه الفاظ وليکي کوم چي رسول الله ﷺ د روم پاچا هرقل ته ليکلي وه يعني سلام علی من اتبع الهدی.

دلاري حقوق

﴿۴۴۳۵﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوسعيد خدري ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ عَلَى الطُّرُقَاتِ فَقَالُوا يارسول الله مَا لَنَا من

تاسو په لاره کي مه کښېنئ، اصحابو کرامو وويل: اې د الله ﷻ رسوله! موږ خو په دې مجبور

مَجَالِسِنَا بد نَتَحَدَّثُ فِيهَا قَالَ فَإِذَا أَبَيْتُمْ إِلَّا الْمَجَالِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ

يو چي په لاره کي کښېنو ځکه چي موږ هلته په ناستي سره په ټولو ضروري کارونو باندي بحث کوو، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: که تاسو په دې مجبوره ياست نو د لاري حق ادا کوئ،

حَقَّهَا قَالُوا وَمَا حَقُّ الطَّرِيقِ يا رسول الله قَالَ غَضُّ الْبَصَرِ وَكَفُّ الْأَذَى وَرَدُّ السَّلَامِ وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ. متفق عليه.

اصحابو کرامو رض وويل: د لاري حق څشي دی؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: (۱)- د سترګو بندول (يعني پر حرامو شيانو باندي نظر نه کول). (۲)- و چا ته ضرر نه رسول. (۳)د سلام جواب ورکول. (۴)- د مشروعو خبرو خلکو ته امر ورکول. (۵)- او د ممنوعو خبرو څخه يې منعه کول. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۸، رقم: ۶۲۲۹، ومسلم ۳\۱۶۷۵، رقم: ۱۱۴- ۲۱۲۱.

تشريح: د سلام جواب ورکول: دلته د سلام کولو پر ځای د سلام د جواب ورکولو هدايت کول د هغه سنت په وجه دی چي تلونکي او تېرېدونکي دې ناست ته سلام کوي لکه څرنګه چي مخکي بيان سوی دی.

﴿۴۴۳۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ قَالَ وَإِرْشَادُ السَّبِيلِ. رواه ابوداؤد عقيب حديث الخدري هكذا.

حضرت ابو هريره ﷛ د پورته ذکر سوی حديث په واقعه کي دو مره اضافه توب کوي چي نبي

كريم ﷺ د لاري حقوق په بيانولو سره دا هم وفرمايل: د لاري ښودل (يعني كه يو څوك د لاري د معلومولو په هكله پوښتنه وكړي نو هغه ته لاره ښودل). ابوداؤد حديث خدري پسي دا سي بيان كړى دى.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱٦۰، رقم: ۴۸۱٦.

﴿۴۴۳۷﴾: وَعَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ قَالَ وَتُغِيثُوا الْمَلْهُوفَ وَتَهْدُوا الضَّالَّ. رواه ابوداؤد و عقيب حديث ابي هريرة هكذا ولم اجدهما في الصحيحين.

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د ذكر سوى حديث په واقعه كي دا سي وفرمايل: د مظلوم فرياد رسي كول او د لاري خطاكونكي ته لاره ښودل. ابوداؤد دا د حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ په حديث پسي دا سي بيان وكړ او موږ دا دواړه حديثونه په صحيحين نكړل پيدا.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱٦۰، رقم: ۴۸۱۷.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د مسلمان پر مسلمان حقوق

﴿۴۴۳۸﴾: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمُسْلِمِ عَلَى

د حضرت علي رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمان پر مسلمان باندي

الْمُسْلِمِ سِتٌّ بِالْمَعْرُوفِ يُسَلِّمُ عَلَيْهِ إِذَا لَقِيَهُ وَيُجِيبُهُ إِذَا دَعَاهُ وَيُشَمِّتُهُ إِذَا

شپږ حقوق دي: (۱)- كله چي د يو مسلمان سره يو ځاى سي نو هغه ته په ښه ډول سلام كوي. (۲)- كه يو څوك مسلمان دعوت كړي نو هغه دي قبلوي. (۳)- كه يو مسلمان ترپچى

عَطَسَ وَيَعُودُهُ إِذَا مَرِضَ وَيَتْبَعُ جَنَازَتَهُ إِذَا مَاتَ وَيُحِبُّ لَهُ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ.

رواه الترمذي والدارمي.

وکړي نو د هغه جواب ورکول (یعني یرحمک الله دي ورته ووایي).(۴)- یو مسلمان چي ناروغ سي نو د هغه پوښتنه کول .(۵)- یو مسلمان چي مړ سي نو د جنازې سره يې تلل .(۶) او د هر مسلمان لپاره هغه شی خوښوه کوم چي ته يې د ځان لپاره خوښوې. ترمذي او دارمي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۷۵، رقم: ۲۷۳۶.

ډېر ثواب والا سلام

﴿۴۴۳۹﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ ان رجلا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کي

فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَرَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ ثُمَّ جَلَسَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ

حاضر سو سلام يې وکړ رسول الله ﷺ د هغه سلام جواب ورکړ ، وروسته هغه سړي کښېنستی ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرٌ ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ فَرَدَّ عَلَيْهِ

د دې سړي لپاره لس نيکی وليکل سوې ، وروسته بيا يو بل سړی راغی هغه وويل السلام عليكم ورحمة الله ، نبي کريم ﷺ و هغه ته جواب ورکړ

فَجَلَسَ فَقَالَ عِشْرُونَ ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ فَرَدَّ عَلَيْهِ فَجَلَسَ فَقَالَ ثَلَاثُونَ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

او د هغه د ناستي څخه وروسته يې وفرمايل: د دې سړي لپاره شل نيکی و ليکل سوې ، وروسته بيا يو بل سړی راغي او ويې ويل : السلام عليكم ورحمة الله و بركاته ، نبي کريم ﷺ د هغه د سلام جواب ورکړ کله چي هغه کښېنستی نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: د ده لپاره ديرش نيکيو ليکل سوې. ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۱، رقم: ۲۶۸۹، وابوداود ۵\۳۷۹، رقم: ۵۱۹۵.

تشريح: د ذکر سوي ارشاد تعلق د سلام کونکی سره دی ، که سلام کونکی السلام عليكم ووايي او چا ته چي سلام سوی دی هغه په جواب کي ورحمة الله الفاظ زيات کړي يعني

وعليكم السلام ورحمة الله ، ووايي، يا سلام كونكى السلام عليكم ورحمة الله، ووايي او جواب وركونكى وبركاته لفظ زيات كړي يعنې داسي ووايي چي : وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته، نو دغه زياتوب به په ثواب كي د زياتوب په حكم كي وي او دغه حكم د مغفرته د زياتوب هم دى لكه چي په راتلونكي حديث كي ذكر سوي دي .

﴿۴۴۴۰﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ زَادَ ثُمَّ أَتَى آخَرُ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ وَمَغْفِرَتُهُ فَقَالَ أَرْبَعُونَ قَالَ هٰكَذَا تَكُونُ الْفَضَائِلُ. رواه ابوداؤد.

حضرت معاذ بن انس رضي الله عنه د ذكر سوى حديث هم معنى حديث د نبي كريم ﷺ څخه نقل كړى دى او دا الفاظ يې زيات ليكلي دي چي بيا يو بل سړى راغى او هغه وويل : السلام عليكم ورحمة الله وبركاته و مغفرته ، نبي كريم ﷺ وفرمايل: د دې سړي لپاره څلويښت نيكۍ و ليكل سوى ، د دې څخه وروسته نبي كريم ﷺ وفرمايل: او داسي ثواب زياتيږي . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۷۹، رقم: ۵۱۶۹.

تشريح: علماوو ليكلي دي چي د سلام كولو په اړه غوره دادي چي سلام كونكى داسي ووايي: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته، يعني د جمع ضمير استعمال كړل سي كه څه هم يوه سړي ته سلام كيږي، همدارنګه كوم سړي ته چي سلام سوى وي هغه دي په جواب كي داسي وايي : وعليكم السلام، يعني هغه دي هم د جمع ضمير استعمال كړي . څرګنده دي وي چي د سلام ادنا درجه السلام عليكم ويل دي او كه السلام عليك يا سلام عليك وويل سي نو هم كافي دي او په جواب كي ادنا درجه د وعليك السلام او وعليكم السلام دى او كه واو ونه ويل سي نو هم كافي دى، د علماوو پر دې خبره اتفاق دى كه چيري په جواب كي يوازي عليكم وويل سي نو جواب به پوره نه وي او كه په جواب كي وعليكم وويل سي يعني واو ولګول سي نو په دغه صورت كي دواړه قوله دي .

د مخكي سلام كولو فضيلت

﴿۴۴۴۱﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللّٰهِ مَنْ بَدَأَهُمْ بِالسَّلَامِ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله جل جلاله ته زيات نيزدې هغه سړی دی چي شروع په سلام وكړي . احمد ، ترمذي او ابوداؤد

تخريج: مسند الامام احمد ۵\ ۲۵۴، رقم: ۵۱۹۷، والترمذي ۵\ ۵۴، رقم: ۲۶۹۴.

تشريح: ددغه فضيلت مخاطب هغه خلک دي چي په لاره كي د يو بل سره يو ځای سي ځكه چي په دغه صورت كي د سلام كولو د حق په اړه هغوی برابر دي ، په هغوی كي چي كوم څوک مخكي سلام وكړي هغه به د ذكر سوي فضيلت مستحق وي ، ددې پر خلاف كه دا صورت وي چي يو سړی ناست وي او بل سړی هغه ته راسي نو د سلام كولو حق به پر هغه دوهم سړي وي كوم چي راغلی دی ، كه هغه راتلونكی سړی په سلام كي مخكي سي نو هغه بهٔ د فضيلت مخاطب نه وي ځكه چي هغه په سلام كي د مخكې كېدو سره په حقيقت كي هغه حق ادا كړی دی كوم چي د هغه پر ذمه وو ، مګر كه چيري په سلام كولو كي هغه ناست سړی مخكي سو نو ددغه فضيلت به هغه مستحق وي .

د حضرت عمر رضی الله عنه په اړه نقل سوي دي چي هغه به ويل: درې شيان داسي چي د هغه په اختيارولو سره د مسلمانانو په تعلقاتو كي استحكام، محبت او جذباتو ته پرمختګ وركوي، يو د ليدني په وخت كي په سلام كولو كي مخكي كېدل، دوهم يو مسلمان د هغه په هغه نامه مخاطب كول او بلل كوم چي هغه يې خوښوي، دريم دا چي كله هغه مجلس ته راسي نو هغه ته په عزت او احترام سره ځای وركړل سي .

﴿۴۴۴۲﴾: وَعَنْ جَرِيرٍ أَنَّ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ على نسوة فَسَلَّمَ عَلَيْهِنَّ . رواه احمد.

د حضرت جرير رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د ښځو د يوه جماعت سره نيزدې تير سو او هغوی ته يې سلام وكړ . احمد

تخريج: مسند الامام احمد ۴\ ۳۵۷.

تشريح: دا خبره د رسول الله ﷺ د ذات سره خاص وه ځكه چي په فتنه او شر كي د رسول الله ﷺ د اخته كېدو بېره نه وه ځكه د رسول الله ﷺ لپاره ښځو ته سلام كول روا وو ، مګر د رسول الله ﷺ څخه پرته د بل مسلمان لپاره دا مكروه دي چي هغه پردې ښځي ته سلام وكړي ، مګر كه چيري يو پردې ښځه د مره سپين سرې وي چي د هغې څخه د فتنې او شر بېره نه وي او نه هغې ته سلام

کول د نورو خلکو په نظر کې د بد گمانۍ سبب جوړېږي نو بیا هغې ته سلام جائز دي .

ډېرو خلکو ته سلام کول

﴿۴۴۴۳﴾: وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ قَالَ يُجْزِئُ عَنِ الْجَمَاعَةِ إِذَا مَرُّوا أَنْ يُسَلِّمَ أَحَدُهُمْ وَيُجْزِئُ عَنِ الْجُلُوسِ أَنْ يَرُدَّ أَحَدُهُمْ. رواه البيهقي في شعب الايمان مرفوعا و روى ابوداؤد وقال رفعه الحسن بن علي وهو شيخ ابي داؤد.

د حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه څخه روایت دی کله چې د سړو یو جماعت تیرېږي او په هغوی کې یو څوک یوه سړي یا جماعت ته سلام وکړ نو دا سلام د ټول جماعت د طرف څخه دی او داسې که د ناستې ډلې څخه یوازې یو سړی جواب ورکړي نو دا جواب د ټول جماعت د لورې څخه دی . بیهقي دا روایت مرفوعا نقل کړی دی (یعني دا قول یې د نبي کریم ﷺ ارشاد ښودلی دی).

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۸۷، رقم: ۵۲۱۰، والبيهقي في شعب الايمان ۶\۴۶۶، رقم: ۸۹۲۲.

تشريح: تیرېږي: په دغه حکم کې هغه صورت هم داخل دی چې کله یو څو خلک یو داسې ځای ته ولاړ سي یا په یو داسې ځای کې تم سي چې هلته د مخکې څخه خلک ناست وي یا یو سړی وي ، د حدیث خلاصه داده چې په سلام کولو کې مخکې کېدل سنت کفایه دي او د سلام جواب ورکول فرض کفایه دی ، کومو خلکو ته چې په سلام کې مخکې کېدل ضروري دي یا کومو خلکو ته چې د سلام جواب ورکول دي که په هغوی کې یو سړی سلام وکړي یا یو سړی د سلام جواب ورکړي نو هغه سلام یا جواب به د ټولو خلکو له خوا کافي وي او هغوی به بري الذمه سي ، که څه هم په هغوی کې د هر یوه سلام کول یا د هر یوه جواب ورکول غوره دي .

په اشاره سره سلام

﴿۴۴۴۴﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

عمرو بن شعیب رضي الله عنه د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل پلاره څخه روایت کوي چې رسول الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارٰى

ﷺ وفرمایل: څوک چې د غیر زموږ د قوم څخه د بل قوم سره مشابهت کوي هغه زموږ څخه نه دی ، تاسو د یهودو او د نصاراؤ سره مشابهت مه پیدا کوئ ،

فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِالْأَكُفِّ.

رواه الترمذي وقال اسناده ضعيف.

يهوديان د ګوتو په اشاره سره سلام کوي او نصارى د تلو (د خپرى) په اشاره سره. ترمذي ويلي د دې حديث سند ضعيف دى.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۵۴، رقم: ۲۶۹۵.

د لغاتو حل: الاكف: جمع كف، اى السلام بالكف (په لاس سره سلام ادا كول)

تشريح: د حديث خلاصه داده چې د يهوديانو او عيسايانو هر فعل او طريقه په خاصه توګه سلام کول د دغه دواړو طريقو مشابهت اختيارول نه دي پكار.

په ښکاره دا معلوميږي چې د يهودي او عيسائي سلام کول يا د سلام د جواب ورکولو لپاره يا د دواړو لپاره محض په ذکر سوو اشارو باندي اکتفاء کول او د سلام لفظ به يې نه وايه کوم چې د حضرت آدم عليه السلام او دهغه په اولاده كي د انبياؤ، او اولياؤ سنت او طريقه ده، رسول الله ﷺ ته مكاشفه وسوه چې زما د امت ځيني خلک به د بې لارى په ښکار کېدو سره د سلام کولو هغه طريقه اختياروي کوم چې د يهوديانو، عيسايانو او نورو قومونو ده لکه د ګوتو يا په ذريعه اشاره کول، لاس پورته کول، ملا يا سر کښته کول، او يوازي په سلام کولو اکتفاء کول او داسي نور، نو رسول الله ﷺ ټول امت په مخاطب کولو سره په دې اړه ... وفرمايه او دا وعيد يې بيان کړ چې کوم څوک د سلام هغه رواج خپلوي کوم چې د ... مي شريعت او زموږ د سنتو خلاف دى نو د هغه شمېر زموږ د امت په خلکو کي نه دى.

څرګنده دي وي چې د دغه حديث اسنادو ته ترمذي ضعيف ويلي دي مګر دا حديث په يو بل سند سره هم نقل سوى دى او هغه ضعيف نه دى، چې په جامع صغير كي نقل سوى دى.

هر وار سلام کول

﴿۴۴۴۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا لَقِيَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ فَإِنْ حَالَتْ بَيْنَهُمَا شَجَرَةٌ أَوْ جِدَارٌ أَوْ حَجَرٌ ثُمَّ لَقِيَهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي چي څوك د خپل مسلمان ورور سره ملاقات كوي نو اول دي و هغه ته سلام وكړي او كه د هغه او سلام كونكي په مينځ كي درخته، دېوال يا لويه ډبره واقع سي او بيا سره مخامخ سي نو دويم وار دي سلام وكړي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۸۱، رقم: ۵۲۰۰.

تشريح: مطلب دادی چي په دومره معمولي بېلوالي سره هم سلام كول مستحب دي نو بيا څه چي د زيات وخت وروسته وي، دغه حديث د سلام پر استحباب او هر وخت كي د ادب خيال ساتل د مبالغې په توګه بيانوي، څرګنده دي وي د سلام د ازرښت سربېره ځيني صورتونه داسي دي چي د سلام كولو څخه مستثنی دي د مثال په توګه يو څوك تشي بولي يا ډكي بولي كوي، يا په كوروالي كولو بوخت وي يا همدارنګه په بل حالت كي وي نو هغه وخت سلام كول مكروه دي او جواب وركول پر هغه واجب نه دي ، همدارنګه كه يو سړی بېده وي يا لمونځ كوي، يا اذان كوي او يا په حمام كي وي، يا خوراک كوي او ګوله د هغه په خولې كي وي نو په دغه صورتو كي كه يو څوک هغه ته سلام وكړي نو د هغه د جواب مستحق به نه وي، د خطبې په وخت كي بايد سلام ادا نه كړل سي او نه د هغه جواب وركړل سي ، كوم څوك چي د قرآن كريم تلاوت كوي نو هغه ته دي سلام نه ادا كيږي ، كه څوک سلام ورته وكړي نو تلاوت كونكی بانديْ د تلاوت په بندولو سره د سلام جواب وركړي او بيا په اعوذبالله ويلو سره تلاوت پيل كړي .

خپلي كورنۍ ته سلام

﴿۴۴۴۶﴾: وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلْتُمْ بَيْتًا فَسَلِّمُوْا عَلٰى أَهْلِهِ وَإِذَا خَرَجْتُمْ فَأَوْدِعُوْا أَهْلَهُ بِسَلَامٍ . رواه البيهقي في شعب الإيمان مرسلا .

د حضرت قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي تاسو په كور كي دا خلېږئ نو و كور والاؤ ته سلام كوئ او كله چي د كور د باندي وځئ نو د كوره څخه په سلام كولو سره رخصتېږئ . دا بيهقي په شعب الايمان كي مرسلا روايت كړی دی .

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۶\۴۴۷، رقم: ۸۸۴۵.

تشریح: که په کور کي یو څوک نه وي نو مستحب داده چي داسي ووايي : السلام علينا وعبادالله الصالحين، تر څو هلته موجودو ملائکو ته سلام ورسيږي.

د حديث په الفاظو : (فاودعوا اهله بسلام) کي ايداع په اصل کي د وديع په معنی کي دی چي د وداع څخه دی او مطلب يې دادی چي د کور څخه دباندي وتلو په وخت کي خپل کورنۍ ته د سلام په ذريعه وداع ووايه، ځيني علماوو ليکلي دي چي ددغه رخصتۍ د سلام جواب (واجب نه دی) بلکه مستحب دی ځکه چي دغه سلام په اصل کي دعاءاو وداع ده.

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله وايي: لفظ د اودعوا د ايداع څخه دی په دې معنی چي د خپل کورنۍ سره سلام امانت وساته ، ددې مطلب به دا وي چي کله تا د رخصتېدو په وخت کي خپل کورنۍ ته سلام وکړ نو تا د سلام خير او برکت د خپل کورنۍ سره امانت کښېښود چي تاسو به يې په آخرت کي بېرته اخلئ، لکه څرنګه چي يو څوک خپل يو شی د يو چا سره امانت کښېږدي او بيا هغه بېرته اخلي، د يحيی رحمه الله د قول سره سم مطلب دادی چي تاسو سلام خپل کورنۍ ته په وديعت (امانت) کي ورکړي چي تاسو په را ستنېدو سره هغوی ته راسئ نو خپل امانت بېرته واخلئ لکه څرنګه چي امانتونه بېرته اخيستل کيږي ، دا خبره ددې امر د نېک فال اخيستنی مترادف ده چي د کور څخه رخصتېدونکی به په سلامتۍ سره را ستون سي او هغه ته به د بيا سلام کولو موقع په برخه سي.

﴿۴۴۴۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ فَسَلِّمْ يَكُنْ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ. رواه الترمذي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و ماته وفرمايل : زويه! کله چي ته په (خپل) کور کي داخليږې نو (خپل) و کور والاؤ ته سلام کوه ، ستا سلام به ستا او ستا د کوروالاؤ لپاره د برکت موجب وي . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۶، رقم: ۲۶۹۸.

اول سلام پسې کلام

﴿۴۴۴۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّلَامُ قَبْلَ الْكَلَامِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث منكر.

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د خبرو کولو څخه مخکي بايد سلام وويل سي. ترمذي ويلي چي دا حديث منکر دی.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٥٦، رقم: ٢٦٩٩.

د جاهليت د زماني سلام

﴿۴۴۴۹﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ نَقُوْلُ أَنْعَمَ اللهُ بِكَ عَيْنًا وَأَنْعِمْ صَبَاحًا فَلَمَّا كَانَ الْإِسْلَامُ نُهِينَا عَنْ ذٰلِكَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عمران بن حصين ﷛ څخه روايت دی چي موږ د جاهليت په زمانه کي (د ملاقات پر وخت) دا ويل چي الله ﷻ دي ستا سترګي يخي کړي او ته دي د سهار په وخت کي په نعمتو کي داخل اوسې، وروسته چي کله اسلام خپور سو نو د دې (ډول سلام) څخه منعه وسوه. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ٥\٣٩٦، رقم: ٥٢٢٧.

تشريح: اول لفظ (انعم) د نعمومة څخه د ماضي صيغه ده چي معنى يې د نرمي او تازګي ده، د دغه عبارت: (انعم الله بک علينا) دوه مطلبه کېدای سي يو خو دا چي په بک کي باء د سبب په معنى وي او دغه جمله د هغه مفهوم وي چي الله ﷻ دي ستا په وجه ستا د قريبانو او ملګرو سترګي يخي او روښانه کړي، يعني دا د مخاطب د خوشحالۍ څخه کنايه ده، چي هغه خوشحاله وي چي د هغه ملګري هغه په خوشحاله او تازه لېدو سره خوشحاله سي، دوهم دا چي د باء حرف زائد دی او د هغه څخه تاکيد تعديه مراد دی، په دغه صورت کي به د دغه جملې مفهوم دا وي چي الله ﷻ دي تا ته د هغه شي د لېدو په موقع درکولو سره خوشحاله کړي کوم چي ته خوښوې او د هغه غوښتنه لرې.

دوهم لفظ: (انعم) د امر صيغه ده، مطلب دا دی چي ستا سهار ونه دي ستا لپاره د تازګۍ او خوشحالۍ باعث جوړ سي يا دا چي د سهار په وخت کي دي تازه او خوشحاله اوسې، دا هم د خوشحالۍ او فراغت سره د وخت تېرولو کنايه ده او د سهار د وخت خاصوالی په دې وجه دی چي د ورځي پېل د سهار څخه کيږي که د سهار په وخت کي يو ښېښه دځان سره راوړي نو د هغه مطلب به دا وي چي اوس به ټوله ورځ بې اطميناني او بې ارامي سره تېريږي، په خاصه توګه په هغه زمانه کي چي د ظلم او غلاوو رواج وو، د هغه وخت پېل به په عامه توګه د سهار په وخت کي کېدی نو په هغه زمانه کي چي د کوم چا سهار به په خېر او عافيت سره تېرېدی نو د هغه ټول

وخت به په اطمينان او آرام سره تېرېدی .

غائبانه سلام او د هغه جواب

﴿۴۴۵۰﴾: وَعَنْ غَالِبٍ قَالَ إِنَّا لَجُلُوسٌ بِبَابِ الْحَسَنِ البصري إِذْ جَاءَ رَجُلٌ

د حضرت غالب رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د حضرت حسن بصري رضي الله عنه په دروازه کي ناست وو چي يو سړی راغلی

فَقَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ جَدِّي قَالَ بَعَثَنِي أَبِي إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

او بيان يې وکړ چي زما پلار زما د نيکه څخه دا نقل کړي دي چي زه زما پلار نبي کريم ﷺ ته

وَسَلَّمَ فَقَالَ ائْتِهِ فَأَقْرِئْهُ السَّلَامَ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ إِنَّ أَبِي يُقْرِئُكَ السَّلَامَ فَقَالَ عَلَيْكَ السَّلَامُ وَعَلَى أَبِيكَ السَّلَامُ. رواه ابوداؤد.

ولېږلم او ويلې ته د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سه زما سلام ورته ووايه، زما نيکه وايي چي زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او عرض مي وکړ چي زما پلار پر تاسو (اې د الله جل جلاله رسوله ! سلام ويلې دی) نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : پر تا او ستا پر پلار دي سلام وي .ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۹۸، رقم: ۵۲۳۱.

تشريح: د دغه حديث څخه معلومه سوه که يو څوک د چا له خوا سلام ورسوي نو سنت طريقه داده چي پر سلام رسونکي باندي هم سلام وويل سي او د چا له خوا چي هغه سلام را رسولی وي پر هغه هم وويل سي، يعني کله چي يو څوک د چا له خوا سلام ورسوي نو په جواب کي دي داسي وويل سي : عليک وعلى فلان السلام، يا وعليک وعليه السلام، د نسائي په روايت کي دغه الفاظ بعينه نقل سوي دي .

په خط کي د سلام ليکلو طريقه

﴿۴۴۵۱﴾:وَعَنْ أَبِي الْعَلَاءِ الْحَضْرَمِيِّ أَنَّ الْعَلَاءَ بْنَ الْحَضْرَمِيِّ كَانَ عَامِلَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا كَتَبَ إِلَيْهِ بَدَأَ بِنَفْسِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو العلاء حضرمي رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ عامل (تماکل سوی حاکم)وو هغه به چي نبي کريم ﷺ ته خط ليکی نو د خپل ځان څخه به يې شروع کول (يعني داسي به يې ليکل)دا خط د علاء حضرمي د لوري څخه و نبي کريم ﷺ ته دی السلام عليکم ورحمة الله و برکاته . ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۴۸، رقم: ۵۱۳۴.

تشريح: د ابو العلاء اصل نوم يزيد ابن عبد دی ، دمشکوة په ځينو نسخو کي ددغه روايت د راوي نوم ابو العلاء ليکل سوی دی يعني داسي دي : عن ابي العلاء الحضرمي ان العلاء الحضرمي ...الخ، او په ځينو نسخو کي د مصابيح د ځينو نسخو مطابق ابن علاء ليکل سوی دی يعني داسي دي : عن ابن العلاء الحضرمي ان العلاء الحضرمي...الخ، حضرمي په اصل کي مشهور ښار حضر موت ته نسبت دی ځکه چي حضرت علاء رضي الله عنه د حضرت موت اوسيدونکی وو او د مشکوة په اکثرو نسخو کي راتلونکی عبارت : ان العلاء الحضرمي دی، مګر په يوه نسخه کي ان العلاء ابن الحضرمي ...الخ، ليکل سوی دی .

په تقريب کي ليکلي دي چي حضرت علاء رضي الله عنه د بنو اميه حليف وو ، نوموړی يو جليل القدر صحابي وو ، رسول الله ﷺ هغه د بحرين عامل تماکلی وو ، د رسول الله ﷺ څخه حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر رضي الله عنهما هم د خپل خلافت په زمانه کي هغه هم هلته عامل تماکلی وو او پر همدغه عهده وفات سو .

د ځان څخه د پيل کولو مطلب دادی چي د خط پيل به يې په داسي الفاظو کوی: من العلاء الحضرمي الی رسول الله صلی الله عليه وسلم السلام عليکم ورحمة الله (يعني د علاء حضرمي له لوري د رسول الله ﷺ په خدمت کي السلام عليکم ورحمة الله)، ددغه عبارت څخه وروسته به د خط مضمون وو ، او حضرت علاء حضرمي رضي الله عنه د خط ليکلو دغه طريقه د رسول الله ﷺ په اتباع کي اختيارول ځکه چي د رسول الله ﷺ د مکتوباتو پيل به همدا رنګه وو : من محمد رسول الله الی فلان، ددغه عبارت څخه وروسته به د سلام الفاظ وه ، که چيري مکتوب اليه به مسلمان وو نو دهغه مخاطب به يې په خاصه توګه هغه شوک ګرځوی يعني سلام عليک، لکه څرنګه چي به الفاظ وه. او که چيري مکتوب اليه به مسلمان نه وو نو بيا د سلام الفاظ په عامه توګه وه يعني داسي به يې ليکل : سلام علی من اتبع الهدی، يعني کوم شوک چي د سيده لاري پيروي وکړي پر هغه دي سلامتيا وي، د سلام څخه وروسته به اصل مضمون وو ، رسول الله ﷺ چي

هرقل ته كوم ليک ليږلی وو هغه په دغه ترتيب سره ليكل سوی وو مگر رسول الله ﷺ چي معاذ رضي الله عنه ته د هغه د زوی په تعزيت كي كوم خط ليكلی وو د هغه پيل په داسي الفاظو وو: بسم الله الرحمن الرحيم من محمد رسول الله الی معاذ بن جبل سلام عليک فاني احمد اليک الله الذي لا اله الا هو ، اما بعد .....الخ.

دغه حديث دلته نقل سوی دی مگر د باب د موضوع سره تعلق نه لري مگر دغه حديث د سلام يو بنيادي حيثيت لري لكه څرنگه چي بيان سول ځكه نو په دغه باب كي نقل سوی دی، همدارنگه وروسته درې حديثونه راځي او په هغو كي د ليک اړوند ځيني خبري بيان سوي دي د هغو تعلق هم په دې اعتبار سره د سلام سره دی چي سلام څرنگه زباني وړاندي كيږي همدارنگه هغه خط هم ليكل كيږي ، نو دغه حديثونه هم په دغه باب كي نقل سول او د مشكوة د مؤلف دا معمول وو چي هغه د فصل په پای كي هغه حديثونه نقل كوي كه څه هم هغه د باب سره تعلق نه لري مگر باب او د هغه د موضوع مناسب او بالواسطه تعلق لري.

د خط ليكلو وروسته خاوره دوړول

﴿۴۴۵۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَتَبَ أَحَدُكُمْ كِتَابًا فَلْيُتَرِّبْهُ فَإِنَّهُ أَنْجَحُ لِلْحَاجَةِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث منكر.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي په تاسو كي څوک و يوه چاته خط ليكي نو (د ليكلو څخه وروسته) دي خاوره پر ودوړوي ځكه چي داسي كول حاجت پوره كوي . ترمذي (او وايي چي دا حديث منكر دي).

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۳، رقم: ۲۷۱۳،

تشريح: پر كاغذ وغيره باندي د ليكلو څخه وروسته خاوره اچول دېره پخوانی طريقه ده او په عامه توگه ددې مقصد د رنگ وچول گڼل كيږي، مگر حقيقت دادی چي دغه طريقه د حاجت براري لپاره يو خاص تاثير لري او دغه تاثير بالخاصيت دی چي ددې سبب د شارع څخه پرته بل چا ته معلوم نه دي، ځينو عارفينو د اولي معنی يعني خاوره دي پر واچول سي په وضاحت كي ليكلي دي چي داسي كول په اصل كي پر خپل ليكل سوي خط باندي د خاورو اچولو د مفهوم مترادف دي په دې توگه چي دداسي كولو څخه څرگنديږي چي خپل مقصد او حاجت لپاره نه خو پر خپل دغه مكتوب باندي اعتبار دی او نه مكتوب اليه ته د حقيقي حاجت روا درجه

ورکول مقصد دي بلکه حقيقي اعتماد د الله تعالی پر ذات دی چي هغه مقصد پوره کونکی او حاجت پوره کونکی دی نو دغه مکتوب محض د اظهار خيال يوه ظاهري ذريعه ده حقيقي درخواست خو يوازي الله تعالی ته دی.

يا په خاوره اچولو سره وخنډه: دا د فليتربه دوهمه معنی ده او دغه معنی په دې اعتبار ده چي د خاورو اچولو په صورت کي داهم کېدای سي چي هغه خاوره د بل چا د ملکيت سره متعلق وي او همدارنګه د مالک د اجازې څخه پرته د هغه شي پاکول لازم سي چي په خاوره اچولو او خنډلو سره دا ډول يو خبره نه لازميږي نو ددغه دوهمي معنی تائيد د هغې قصې سره هم کيږي چي امام غزالي رحمة الله عليه په منهاج العابدين کي نقل کړي ده چي يو سړی چي د کرايې په سرای کي د اوسيدو هغه يوه پارچه وليکل بيا چي هغه دا وغوښتل چي د سرای د دېوال څخه د لږ خاوري په اخيستلو سره هغه پر ورقه باندي واچوي نو هغه ته خيال پيدا سو چي دغه سرای د کرايې دی او د هغه د دېوال څخه خاوره اخيستل او مصرفول غير مناسب دي مګر په زړه کي يې بل خيال هم راغلی چي په دې کي څه پروا نسته نو هغه خاوره واخيستل او پر ورقه يې واچول، ددې څخه وروسته هغه د غه غيبي اواز واورېدی چي يو څوک وايي: ددغه خاورو په حلال ګڼلو سره ژر به په دې پوه سې چي سبا ورځ (يعني د حشر په ورځ) د اوږده حساب په سبب هغه ته پېښېدونکي ده،

دغه حديث د راويانو په اعتبار منکر دی، مګر په مضمون کي يې څه خبره نسته، طبراني په اوسط کي مرفوعا د حضرت ابوداؤد څخه دا روايت نقل کړی دی چي: (اذا كتب احدكم الى انسان فليبدا بنفسه واذا كتب فليترب كتابه فهو انجح)، يعني کله چي په تاسو کي يو څوک يو چا ته خط ليکي نو بايد چي هغه د خپل ځان څخه پيل کړي او کله چي هغه خط وليکي نو پر هغه دي خاوره واچوي، ځکه چي داسي کول د حاجت پوره کېدو لپاره ډېر ګټور دی.

په غوږ کي د قلم ايښودلو خاصيت

﴿۴۴۵۳﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ يَدَيْهِ كَاتِبٌ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ ضَعْ الْقَلَمَ عَلَى أُذُنِكَ فَإِنَّهُ أَذْكَرُ لِلْمَالِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب و في اسناده ضعف.

د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر سوم دا وخت د نبي کريم صلى الله عليه وسلم مخي ته کاتب ناست وو ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه دا واورېدل قلم په خپل

غوږ کي ایږدئ ځکه چي داسي کول مطلب ژر را یادوي. ترمذي . او په ترمذي کي دا حدیث غریب دي او د دې په سند کي ضعف دی .

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۳، رقم: ۲۷۱۴.

تشريح: د هر شي مطلب ډېر یادیږي: مطلب دادی چي په داسي کولو سره ذهن خلاصیږي او د هغه نتیجه دا وي چي خپل مقصد او مفهوم بیانولو لپاره د عبارت او الفاظو راتګ پېل سي او لیکونکی چي څه لیکل غواړي په هغه کي په پوره توګه کامیابه کیږي ، دغه شی هم بالخاصیت دی یعني داسي څرنګه کیږي د دې علم شارع ته دی مګر ځیني علماء د دې تاویل او توجیه بیان کړې دي ، یحیی رحمة الله علیه لیکلي دي چي قلم یو ډول د ژبي حکم لري لکه چي ویل کیږي : القلم احد اللسانین، او ژبه د قلب او ذهن ترجماني کوي نو قلم په غوږ کي ایښودل د ژبي په غوږ کي ایښودو مترادف دي چي ژبه او قلم زړه او ذهن ته نژدې سي او د زړه او ذهن چي د څه ویلو اراده وي او هغه مفهوم په غوره عبارت او ښه الفاظو کي د ادا کولو تقاضا وکړي ، هغوی ته کلام او بیان په هغه مناسبت او موزونیت سره تحریر کړي .

دا حدیث غریب دی او د دې سند ضعیف دی، مطلب دادی چي د روایت د متن یا سند په اعتبار ضعیف دی مګر دا خبره د دغه روایت د صحیح کېدو خلاف نه ده او د دې تائید د ابن عساکر د روایت څخه هم کیږي چي هغه د حضرت انس رضي الله عنه څخه مرفوعا نقل کړی دی چي : اذا کتبت فضع قلمک علی اذنک فانه اذکر لک، همدارنګه په جامع صغیر کي د حضرت زید ابن ثابت رضي الله عنه څخه مرفوعا ترمذي دا روایت نقل کړی دی چي : ضع القلم علی اذنک فانه اذکر للملي.

د کافرانو ژبه

﴿۴۴۵۴﴾ : وَعَنْهُ قَالَ أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتَعَلَّمَ السريانية

د حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وماته حکم راکړ چي زه سریاني

وفي رواية انه امرني ان اتعلم كِتَابِ يَهُودَ قَالَ إِنِّي مَا آمَنُ يَهُودَ عَلَى كِتَابِي

ژبه زده کړم او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وماته حکم راکړ چي زه د یهودیانو خط وکتابت زده کړم

قَالَ فَمَا مَرَّ بِي نِصْفُ شَهْرٍ حَتَّى تَعَلَّمْتُهُ فكان إِذَا كَتَبَ إِلَى يَهُودَ كَتَبْتُ وَإِذَا

كَتَبُوا إِلَيْهِ قَرَأْتُ لَهُ كِتَابَهُمْ. رواه الترمذي.

او داسي يې وفرمايل: د خط و کتابت په معامله کې د يهوديانو د لوره ماته اطمينان نسته، د زيد بن ثابت رضي الله عنه بيان دې چې په دوو هفتو کې د ننه ما سرياني ژبه زده کړه، ورسته چې کله نبي کريم ﷺ به يوه يهودي ته خط ليکی نو هغه به يې په ما ليکی او يهوديانو چې به کوم خط و نبي کريم ﷺ ته رالېږی نو هغه به ما (نبي کريم ﷺ ته) ورته وايه. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۶۴، رقم: ۲۷۱۵.

تشريح: سُرياني د دنيا په پخوانيو کې ژبو کې يوه ژبه ده چې په هغه کې تورات نازل سوی وو مګر د اکثرو محققينو قول دادی چې تورات په عبراني ژبه نازل سوی وو، او سرياني او عبراني دواړي له يوبل سره يو ډول ژبي دي.

زما پر يهودو اطمينان نسته: مطلب دادی چې داسي مسلمان نسته چې د يهوديانو په ژبه پوهيږي ځکه د يهوديانو سره د خط او کتابت لپاره ما ته د يو يهودي مرسته اخيستل پکاريږي او په دغه صورت کې ما ته ددې خبري خطره ده که د يهودو په نامه خپل يو خط په يو يهودي وليکم نو هغه دخپل ځان څخه کمي او زياتوب پکښي ونه کړي، همدارنګه که د يهوديانو له خوا ما ته يو خط راسي او زه هغه په يهودي وايم نو هغه د خپل ځان څخه زياتوب او کمی پکښي ونه کړي، ددې څخه معلومه سوه چې د اړتيا له موخي د کافرانو ژبه زده کول جائز دي، او بېله ضرورته جائز نه دي ځکه چې په دغه صورت کې د کافرانو سره مشابهت اختيارول لازميږي او دا منع دی، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: من تشبه بقوم فهو منه، کوم څوک چې د يو قوم سره مشابهت اختيار کړي نو هغه په هغه قوم کې شمېرل کيږي، بلکه يحيى رحمة الله عليه بېله ضرورته زده کول حرام ليکلي دي.

اول او اخير سلام

﴿۴۴۵۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا انْتَهَى أَحَدُكُمْ إِلَى مَجْلِسٍ فَلْيُسَلِّمْ فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يَجْلِسَ فَلْيَجْلِسْ ثُمَّ إِذَا قَامَ فَلْيُسَلِّمْ فَلَيْسَتْ الْأُولَى بِأَحَقَّ مِنَ الْآخِرَةِ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې يو

ځوک یو مجلس ته ورسي نو سلام دي ورته وکړي او که د ناستي ضرورت وي نو کښېدیني او کله چي بیرته ځي نو د دویم وار لپاره دي سلام وکړي ځکه چي اولني سلام کول تر دویم وار سلام کولو بهتر نه دی یعني دواړه سلامونه حق او مسنونه دي. ترمذي او ابوداؤد.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۶۰، رقم: ۲۷۰۶، وابوداود ۵\۳۸۶، رقم: ۵۲۰۸.

تشریح: کله چي ولاړ سي: مطلب دادی چي په مجلس کي د ناستي څخه وروسته کله چي هغه د تلو لپاره ولاړ سي، زیاته صحیح خبره داده چي ددې څخه مراد دادی چي کله د هغه ځای څخه د تلو اراده وکړي که څه هم په مجلس کي ناست وي یا ناست نه وي، په هر حال د حدیث د ظاهري مفهوم څخه دا څرګندیږي چي د رخصتېدو په وخت کي هم سلام کول سنت دی، لکه څرنګه چي د لیدني په وخت کي سنت دی، همدارنګه د دواړو سلامو جواب ورکول واجب دي مګر ځینو محققینو لیکلي دي چي د رخصتېدو په وخت کي سلام او د هغه جواب مستحب دی.

په لاره کي د ناستي حق

﴿۴۴۵۶﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ خَيْرَ فِيْ جُلُوْسٍ فِي الطُّرُقَاتِ إِلاَّ لِمَنْ هَدَى السَّبِيْلَ وَرَدَّ التَّحِيَّةَ وَغَضَّ الْبَصَرَ وَأَعَانَ عَلَى الْحَمُوْلَةِ. رواه في شرح السنة وذكر حديث أبي جري في باب فضل الصدقة.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په لاره کي ناسته بهتره نه دی خو هغه سړی چي د لاري ښودنه کوي د سلام جواب ورکوي او سترګي پټي ساتي (یعني کوم حرامو شیانو ته نه ګوري) او د باروړونکي کومک کوي. شرح السنه.

تخریج: البغوي في شرح السنة ۱۲\۳۰۵، رقم: ۳۳۳۹.

د لغاتو حل: الحمولة: ما یحمل علی الدواب (بار).

تشریح: حُموله د حاء په پېښ سره دی، مګر د مشکوة په یوه نسخه کي د غه لفظ د حاء په زور سره نقل سوی دی، شارحینو لیکلي دي چي حَمولة هغه حیوان ته وایي چي پر هغه بار وړل کیږي.

د هغه سړي مرسته وکړئ، چي بار پر پروت وي، مطلب دادی که هغه سړی د خپل حیوان پر شا د بار اچولو لپاره یا خپله د بار په شا کولو لپاره بار پورته کول غواړي نو د هغه بار په پورته کولو کي د هغه مرسته وکړئ.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

حضرت ادم علیہ السلام

﴿۴۴۵۷﴾ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ

د حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم و فرمايل : الله جل جلالہ چي كله حضرت

آدَمَ وَنَفَخَ فِيهِ الرُّوحَ عَطَسَ فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ فَحَمِدَ اللّٰهَ بِإِذْنِهِ فَقَالَ لَهُ رَبُّهُ

آدم علیہ السلام پيدا كړ او روح يې په كښي پوه كړل نو هغه ته ترچي ورغلی او هغه د خداي تعالی په توفيق او اجازې سره الحمد لله وويل ، خداي تعالی وويل :

يَرْحَمُكَ اللّٰهُ يَا آدَمُ اذْهَبْ إِلَى أُولَئِكَ الْمَلَائِكَةِ إِلَى مَلَإٍ مِنْهُمْ جُلُوسٍ فَقُلْ

اې آدمه ! الله دي پر تا رحم وكړي اوس ته د ملائيكو و هغه جماعت ته ورسه چي ناست دی او هغوی ته سلام وكړه

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ قَالُوا وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى رَبِّهِ فَقَالَ إِنَّ هَذِهِ

يعني السلام عليكم ورته ووايه نو ده وويل چي السلام عليكم ملائكو وويل : و عليک السلام ورحمة الله د دې څخه وروسته حضرت آدم علیہ السلام و خپل پروردګار ته راغلی او الله جل جلالہ هغه ته وفرمايل: دا (السلام عليكم ورحمة الله)

تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ بَنِيكَ بَيْنَهُمْ فَقَالَ له اللّٰهُ وَيَدَاهُ مَقْبُوضَتَانِ اخْتَرْ أَيَّهُمَا شِئْتَ

ستا او ستا د اولاد دعا ده چي په خپلو كي به يې كوئ ، بيا الله جل جلالہ د خپل دواړو بنده لاسونو ته اشاره وكړه او ويې فرمايل : په دې دواړو لاسونو كي يو (د ځان لپاره)خوښ كړه ،

فَقَالَ اخْتَرْتُ يَمِينَ رَبِّي وَكِلْتَا يَدَيْ رَبِّي يَمِينٌ مُبَارَكَةٌ ثُمَّ بَسَطَهَا فَإِذَا فِيهَا آدَمُ

حضرت آدم علیہ السلام د خداي تعالی راسته لاس خوښ كړ او د خداي تعالی دواړه لاسونه بركتناک دي بيا الله جل جلالہ خپل دواړه لاسونه خلاص كړل نو هغه د آدم علیہ السلام

وَذُرِّيَّتُهُ فَقَالَ أَيْ رَبِّ مَا هَؤُلَاءِ فَقَالَ هَؤُلَاءِ ذُرِّيَّتُكَ فَإِذَا كُلُّ إِنْسَانٍ مَكْتُوبٌ

او د هغه د ذریات (اولادې) څخه ډک سو، حضرت آدم علیہ السلام پوښتنه وکړه اې پروردګاره! دا څوک دي؟ الله جل جلاله ورته وفرمایل: دا ستا اولاد دي، حضرت آدم علیہ السلام ولیدل چي د هغوي د

عُمُرُهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ فَإِذَا فِيهِمْ رَجُلٌ أَضْوَؤُهُمْ أَوْ مِنْ أَضْوَئِهِمْ قَالَ يَا رَبِّ مَنْ هَذَا

هر انسان عمر د هغوي د سترګو په مينځ کي ليکلي دي، بيا په هغوی کي حضرت آدم علیہ السلام يو روښانه (د ټولو خلکو څخه ډېر روښانه) سړی وليد او پوښتنه يې وکړه اې پروردګاره! دا

قَالَ هَذَا ابْنُكَ دَاوُدُ قَدْ كَتَبْتُ لَهُ عُمْرَ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ يَا رَبِّ زِدْهُ فِي عُمْرِهِ قَالَ

څوک دی؟ الله جل جلاله ورته وفرمایل: دا ستا زوی داؤد علیہ السلام دی او ما دده عمر څلوېښت کاله ليکلي دي حضرت ادم علیہ السلام وويل اې ربه عمر يې زيات کړې، الله جل جلاله وفرمایل:

ذَالِكَ الَّذِي كَتَبْتُ لَهُ قَالَ أَيْ رَبِّ فَإِنِّي قَدْ جَعَلْتُ لَهُ مِنْ عُمْرِي سِتِّينَ سَنَةً قَالَ

دا هغه قدر دی چي دده لپاره مي ليکلی دی، حضرت آدم علیہ السلام وويل: اې پروردګاره! ما د خپل عمر څخه شپېته کاله و ده ته ورکړل، الله جل جلاله ورته وفرمایل:

أَنْتَ وَذَاكَ قَالَ ثُمَّ أُسْكِنَ الْجَنَّةَ مَا شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ أُهْبِطَ مِنْهَا فَكَانَ آدَمُ يَعُدُّ

ته پوه شه او ستا زوئ داؤد علیہ السلام، نبي کريم صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل: چي آدم علیہ السلام (د دې څخه وروسته) تر څو پوري چي د الله جل جلاله خوښه وه په جنت کي وو او بيا د جنت څخه لاندي را کښته سو، حضرت آدم علیہ السلام به د خپل عمر کلونه شمېرل

لِنَفْسِهِ قَالَ فَأَتَاهُ مَلَكُ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُ آدَمُ قَدْ عَجَّلْتَ قَدْ كُتِبَ لِي أَلْفُ سَنَةٍ

کله چي د هغه عمر نه سوه څلوېښت کاله پوره سوه نو د مرګ ملائکي ورته راغلې، حضرت آدم علیہ السلام ورته وفرمایل: تا سو تلوار وکړي زما عمر خو زر کاله دی،

قَالَ بَلَى وَلَكِنَّكَ جَعَلْتَ لِابْنِكَ دَاوُدَ سِتِّينَ سَنَةً فَجَحَدَ فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهُ وَنَسِيَ فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ قَالَ فَمِنْ يَوْمِئِذٍ أُمِرَ بِالْكِتَابِ وَالشُّهُودِ. رواه الترمذي.

د مرګ ملائکي ورته وويل: هو، ستا عمر زر کاله وو ليکن تا د خپل عمر شپېته کاله خپل زوی داؤد علیہ السلام ته ورکړی دي، حضرت آدم علیہ السلام د دې څخه انکار وکړ او د هغه اولاد هم انکار کوي او

د حضرت آدم علیه السلام څخه (د خداي تعالی ممانعت چي د ونې د مېوې د خوړلو په اړه وو) هیر سو او د هغه د اولاد څخه هم هیرېږي ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: د دې ورځې څخه د لیکلو او د شاهد د درولو حکم وکړل سو . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۴۲۲، رقم: ۳۳۶۸،

د لغاتو حل: اذنه: اي بتيسيره و توفيقه.

تشريح: حال دا چي د هغه دواړه لاسونه بند وه: ددغه الفاظو څخه هغه هیئت کذائي بیانول مقصد دی لکه څرنګه چي یو څوک په خپلو لاسو کي یو شی پټ کړي .

او زما د پروردګار دواړه لاسونه راسته او بابرکته دي: دغه جمله حضرت آدم علیه السلام فرمایلې ده چي رسول الله ﷺ نقل کړل، یا د رسول الله ﷺ خپل کلام دی، په هر صورت الله تعالی ته د لاس او راسته لاس نسبت کول د متشابهاتو څخه دي مګر علماو ددغه الفاظو څو معناوي او تاویلونه بیان کړي دي، یو خو دا چي د الله تعالی لپاره د ید (لاس) صفت ثابت دی مګر ظاهري او جسماني لاس ثابت نه دی نو ذکر سوی عبارت د جسماني لاس نفي ته اشاره کوي ځکه که چیري د الله تعالی لپاره جسماني لاس ثابت وای نو یمین او شمال به هم ثابت وای .

او دواړه لاسونه ښه او بابرکته دي: په دغه جملې سره دې ته اشاره کول مقصد دي چي دلته د خیر او برکت وجود مراد دی چي ید یمین (راسته لاس) او لفظ یمین ماده اشتقاق تقاضا ده.

دوهم دا چي څرنګه په قوت کي د مخلوقاتو چپه لاس کمزوری او ناقص وي همدارنګه په الله تعالی کي کمزوري نسته بلکه د هغه دواړه لاسونه یو ډول زور او قوت لري، په دې اعتبار سره د هغه دواړه لاسونه ښه سول ، دا خبره د پوهولو لپاره بیان سوې ده کنه نو ددغه عبارت اصل مراد دا بیانول دي چي د الله تعالی په هیڅ یو صفت کي هیڅ ډول کمزوري او نقص نسته او د هغه ټول صفات کامل دي .

او دریم دا چي ددغه الفاظو مقصد د الله تعالی د وجود ، کرم ، احسان او انعام صفت زیات څرګندول دي ، کله چي به عربو د داسي کس صفت کول غوښتل چي هغه به ډېر ګټه رسونکی وو نو د هغه په اړه به یې دا ویل چي : کلتا یدیه یمین، یعني د هغه دواړه لاسونه راسته دي.

چي تر ټولو زیات ځلانده وو : ددغه عبارت څخه په ذهن کي یو تشویش پیدا کیږي او هغه دا چي ددغه الفاظو څخه پر ټولو انبیاوو باندي د حضرت داؤد علیه السلام فضیلت لازمیږي ، ددې جواب دادی چي دلته الله تعالی د حضرت آدم علیه السلام په وړاندي حضرت داؤد علیه السلام په یو ځانګړي

شکل او صورت کي څرګند کړ چي د هغه په وجه حضرت آدم عليه السلام د هغه په اړه سوال وکړي او پر هغه سوال باندي هغه صورت مرتب سي کوم چي مخکي پېښ سو، يعني د حضرت آدم عليه السلام، حضرت داؤد عليه السلام ته د خپل عمر څخه شپېته کاله ورکول او بيا د ملک الموت په راتلو سره د هغه انکار کول او دا خبره بالکل څرګنده ده چي د حضرت داؤد عليه السلام د ځلانده کېدو دا مطلب نه دی چي هغه په ټولو صفات کماليه کي تر ټولو انبياء عليهم السلام ترجيح درلودل، نو کېدای سي چي د ذکر سوي مصلحت په وجه په دغه عالم کي الله تعالی د حضرت داؤد عليه السلام په شکل او صورت کي يو ډول خاص نورانيت ورکړی وي بلکه هغه په هغه عالم کي هم په دغه نورانيت سره متصف وي، په پيغمبرانو کي هر نبي په يو خاص صفت سره موصوف سوی دی او په دغه صفت کي هغه ته امتيازي حيثيت او خصوصيت حاصل وي مګر ددې څخه دا نه لازميږي چي محض د دغه خاص صفت په وجه دغه نبي ته پر نورو نبيانو عليهم السلام د فضيلت او فوقيت درجه تر لاسه وي.

زما عمر خو زر کاله ټاکل سوی دی: څرګنده ده چي حضرت آدم عليه السلام دغه خبره بالکل صحيح کړې وه (ځکه چي په حقيقت کي الله تعالی د هغه زر کاله عمر ټاکلی وو) مګر ددې خبري په ذهن کي د هغه مذکوره انکار پټ وو، هغه په صراحت سره دا خبره ونه کړه چي ما د خپل عمر څخه داؤد عليه السلام ته څه نه دي ورکړي او صريحا انکار هم ممکن نه وو ځکه چي د انبياء عليهم السلام د ژبي څخه دروغ په قصد سره نه صادريږي نو ويل کيږي چي د حضرت ادم عليه السلام دغه انکار د تعريض په توګه وو لکه څرنګه چي په ځينو داسي صورتو کي د نورو انبياء عليهم السلام څخه هم صادريږي، يا دا ويل کيږي چي د حضرت آدم عليه السلام مذکوره انکار د هيري په توګه وو يعني د هغه دا په ياد نه وه چي هغه د خپل عمر څخه شپېته کاله داؤد عليه السلام ته ورکړي دي ځکه هغه د ملک الموت په وړاندي انکار وکړ.

ښځو ته سلام کول يوازي نبي ﷺ ته جائز وه

﴿۴۴۵۸﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدٍ قَالَتْ مَرَّ عَلَيْنَا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نِسْوَةٍ فَسَلَّمَ عَلَيْنَا. رواه ابوداؤد وابن ماجة والدارمي.

د بي بي اسماء بنت يزيد رضي الله عنها څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ موږ ښځو ته چي ناستي وو موږ ته تېر سو او موږ ته يې سلام وکړ. ابوداؤد، ابن ماجه او دارمی

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۳۸۳، رقم: ۵۲۰۴، وابن ماجه ۲\ ۱۲۲۰، رقم: ۳۷۰۱، والدارمي ۲\ ۳۵۹، رقم: ۲۶۳۷.

تشريح: ښځو ته د سلام کولو اجازه د رسول الله ﷺ د ذات سره خاص وو، د بل مسلمان لپاره دا جائز نه ده چي هغه پردۍ ښځي ته سلام وکړي لکه څرنګه چي د دوهم فصل د حديث په ضمن کي بيان سوي دي.

د سلام فضيلت

﴿۴۴۵۹﴾: وَعَنِ الطُّفَيْلِ بْنَ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ أَنَّهُ كَانَ يَأْتِي بْنَ عُمَرَ فَيَغْدُو مَعَهُ

د حضرت طفيل بن ابي بن كعب رضي الله عنه څخه روايت دى چي طفيل رضي الله عنه به ابن عمر رضي الله عنه ته راتلى او

إِلَى السُّوقِ قَالَ فَإِذَا غَدَوْنَا إِلَى السُّوقِ لَمْ يَمُرَّ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ عَلَى سَقَاطٍ

ابن عمر رضي الله عنه به هغه د سهار په وخت کي بازار ته بيوى کوم وخت چي به هغه بازار ته ولاړى نو

وَلَا صَاحِبِ بِيعَةٍ وَلَا مِسْكِينٍ وَلَا على أَحَدٍ إِلَّا سَلَّمَ عَلَيْهِ قَالَ الطُّفَيْلُ

کوم د کاندار عاجز او صاحب د بيع مسکين يا د بل سړي سره چي نژدې تيرېدى نو هغه ته به يې سلام کوى، د طفيل بيان دى،

فَجِئْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ يَوْمًا فَاسْتَتْبَعَنِي إِلَى السُّوقِ فَقُلْتُ لَهُ وَمَا تَصْنَعُ فِي

يوه ورځ زه (د معمول مطابق) ابن عمر رضي الله عنه ته ورغلم هغه زه بازار ته بوتلم ما ورته وويل ته د څه

السُّوقِ وَأَنْتَ لَا تَقِفُ عَلَى الْبَيْعِ وَلَا تَسْأَلُ عَنِ السِّلَعِ وَلَا تَسُومُ بِهَا وَلَا

لپاره و بازار ته ځې چي نه خو څه رانيسي او نه څه خرڅوې او نه د يوه شي نرخ معلوموې نه سوداګرى کوې او نه

تَجْلِسُ فِي مَجَالِسِ السُّوقِ فَاجْلِسْ بِنَا هَاهُنَا نَتَحَدَّثُ قَالَ فَقَالَ لِي عَبْدُ

د بازار په مجلس کي شاملېږې، راځه چي دلته کښېنو، خبري به کوو، طفيل رضي الله عنه وايي د دې په

اللهِ بْنُ عُمَرَ يَا أَبَا بَطْنٍ وَكَانَ الطُّفَيْلُ ذَا بَطْنٍ إِنَّمَا نَغْدُو مِنْ أَجْلِ السَّلَامِ

نُسَلِّمُ عَلَى مَنْ لَقِيْنَا. رواه مالك والبيهقي في شعب الايمان.

جواب كي ابن عمر رضي الله عنه راته وويل: اې خېټو! (د طفيل نس غټ وو) موږ صرف و سلام ته ځو او هر هغه سړي ته سلام كوو كوم چي زموږ سره يو ځاى كيږي. مالک او بيهقي.

تخريج: موطا الامام مالک ۲\ ۹۶۱، رقم: ٦، والبيهقي في شعب الايمان ۱\ ۴۳۴، رقم: ۸۷۹۰.

د لغاتو حل: سقاط: هو الذي يبيع الرديء من النوع (هغه كس چي خراب شيان پلوري).

سلام نه كول بخل دى

﴿۴۴٦۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَى رجل النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِفُلَانٍ

د حضرت جابر رضي الله عنه ځخه روايت دى چي يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او وه يې ويل: چي زما په باغ كي د فلاني سړى

فِي حَائِطِي عَذْق وَإِنَّهُ قَدْ آذَانِي مَكَان عَذْقِهِ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د خرماؤ يوه درخته ده او د هغه دا درخته ماته تكليف راكوي (يعني د دې مالک وخت بې وخته باغ ته را ځي او زما اهل وعيال ته ځيني تكليف رسيږي) نبي كريم ﷺ هغه سړى را

وَسَلَّمَ ان بِعْنِي عَذْقَكَ قَالَ لَا قَالَ فَهَبْهُ لِي قَالَ لَا قَالَ فَبِعْنِيهِ بِعَذْقٍ فِي

وغوښتى او هغه ته يې وويل: ته خپله درخته پر ما خرڅه كړه، هغه وويل: زه يې نه خرڅوم، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: چي ته يې نه خرڅوې نو هبه يې كړه ماته، هغه وويل، چي هبه كوم يې هم نه، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ښه نو درخته د درختي په عوض كي پر ما خرڅه كړه، هغه

الْجَنَّةِ فقَالَ لَا فقَالَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا رَأَيْتُ الَّذِي هُوَ أَبْخَلُ

وويل دا سي هم نه كوم، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ما ستا ځخه زيات بخيل سړى نه دى

مِنْكَ إِلَّا الَّذِي يَبْخَلُ بِالسَّلَامِ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

ليدلى خو هغه سړي ستا ځخه نور هم زيات بخيل دي چي خلكو ته په سلام كولو كي بخل كوي. احمد او بيهقي.

تخريج: مسند الامام احمد ۳\ ۳۲۸، والبيهقي في الشعب: ٦\ ۴۳۰، رقم: ۸۷۷۱.

تشریح: علماؤ لیکلي دي چي د رسول الله ﷺ هغه سړي ته ویل د شفاعت په توګه وو د حکم په توګه نه وو، که چیري رسول الله ﷺ د حکم په توګه فرمایلي وای نو هغه د انکار کولو هیڅ جرئت نسو کولای ځکه چي په هر حال هغه مسلمان وو او د مسلمان کېدو په حیثیت سره هغه د رسول الله ﷺ د حکم څخه انکار په هیڅ صورت کي نسو کولای، مګر که چیري هغه مسلمان نه وي نو د حکم نبوي څخه د هغه انکار د تعجب خبره نه ده مګر رسول الله ﷺ دا وفرمایل چي ته دغه درخته د جنت د خرما د درختي په بدله کي پر ما وپلوره، ددې خبري دلیل دی چي هغه یقینا مسلمان وو مګر د طبیعت د سختوالي څخه خالي نه وو.

په سلام کولو کي لومړیتوب

﴿۴۴۶۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَادِئُ بِالسَّلَامِ بَرِيْءٌ مِّنَ الْكِبْرِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په سلام کي مخته کېدونکي د تکبر څخه پاک دی. بیهقي

تخریج: البیهقي في شعب الایمان ۶\ ۴۳۲، رقم: ۸۷۸۶.

تشریح: مطلب دا دی چي کله تلونکي راتلونکي دوه کسان په خپلو کي یو ځای سي او د دواړو حیثیت یو ډول وي لکه دواړه پر پښو وي یا دواړه سپاره وي نو په هغوی کي چي کوم څوک مخکي سلام وکړي نو هغه دا څرګندوي چي الله تعالی هغه د تکبر او غرور څخه پاک کړی دی.

دا خبره هم مخکي بیان سوې ده چي سلام کول سنت دي او د سلام جواب ورکول فرض دي که یو سړی یو مجلس ته راسي او هلته سلام وکړي نو د مجلس پر خلکو باندي د هغه د سلام جواب ورکول فرض دي. او که هغه سړي دغه مجلس ته دوهم وار راسي او بیا سلام وکړي نو اوس د هغه د سلام جواب ورکول پر هغوی فرض نه دي بلکه مستحب دی، سلام او د هغه جواب د دواړو الفاظ باید د جمع په صیغه وي که څه هم مخاطب یو سړی وي، ددې لپاره چي ملائکي چي د هر چا سره ملګري دي په سلام کي د مخاطب سره شریکي سي.

په یوه حدیث کي نقل سوي دي چي یو سړي سرې جامې اغوستي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او سلام یې وکړ، رسول الله ﷺ د هغه د سلام جواب ورنه کړ، دغه حدیث پر دې دلالت کوي چي کوم څوک د سلام په کولو په وخت کي د یو نامشروع کار کونکی وي نو هغه به د سلام د جواب مستحق نه وي.

بَابُ الْاِسْتِیْذَانِ (د اجازې غوښتلو بیان)

د ادب او تهذیب غوښتنه داده چي هیڅوک دي د چا کور ته بېله اجازې نه ننوزي، شریعت دا خبره مستحب ګرځولې ده چي کله د یو چا کور ته ورسي نو لومړی دي په دروازه کي ودرېږي او د ننوتلو اجازه دي وغواړي که چیري د کور خاوند یې کور ته راوغواړي نو په دروازه کي دي دننه سي کنه نو بیرته دي ولاړ سي، ددغه حکم بنیاد د قرآن کریم دغه آیت کریمه دی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا

ژباړه: اې مؤمنانو! د خپلو کورو څخه پرته د نورو په کورو کي تر هغه وخته پوري مه ننوزئ تر څو چي د کور والا څخه اجازه تر لاسه نه کړئ او هغوی ته سلام ونه کړئ.

په دې اړه سنت طریقه داده چي په دروازه کي په درېدو سره د کور خاوند دي مخاطب کړي او داسي دي ووايي چي السلام علیکم، ایا زه دننه درسم؟.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د اجازې لپاره درې واره سلام کول

﴿۴۴۶۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ اتانا ابوموسی قال ان عُمَرَ اَرْسَلَ إِلَيَّ

د حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چي ابو موسی اشعری رضی الله عنه (یوه ورځ) موږ ته راغی او ویې ویل، چي حضرت عمر رضی الله عنه ما ته یو سړی راولېږی

أَنْ آتِيَهُ فَأَتَيْتُ بَابَهُ فَسَلَّمْتُ ثَلاَثًا فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ فَرَجَعْتُ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ

زه یې را وغوښتلم زه د هغه دروازې ته راغلم او د اجازت د حاصلولو لپاره مي درې واره سلام وکړ خو ما ته د سلام جواب را نغلی نو زه بیرته راغلم بیا (په بله موقع حضرت عمر رضی الله عنه ما ته

أَنْ تَأْتِيَنَا فَقُلْتُ إِنِّي أَتَيْتُكَ فَسَلَّمْتُ عَلَى بَابِكَ ثَلاَثًا فَلَمْ يَرُدُّوا عَلَيَّ فَرَجَعْتُ

وفرمایل: وروره ته را نغلې څه وسوه؟ ما ورته وویل: زه حاضر سوی وم او ستاسو په دروازه کي ودرېدلم درې واره مي سلام کړی وو لیکن په کورو الاؤ کي هیچا د سلام جواب را نکړ په دې وجه زه بیرته راغلم

وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَأْذَنَ أَحَدُكُمْ ثَلَاثًا فَلَمْ

ځکه چي نبي کريم ﷺ ما ته دا فرمايلي دي کله چي په تاسو کي څوک درې واره اجازت و

يُؤْذَنْ لَهُ فَلْيَرْجِعْ فَقَالَ عُمَرُ أَقِمْ عَلَيْهِ الْبَيِّنَةَ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ فَقُمْتُ مَعَهُ فَذَهَبْتُ إِلَى عُمَرَ فَشَهِدْتُ. متفق عليه.

غواړي که اجازت ورته و نه سو نو بيرته دي ځي، په دې اوربدو سره حضرت عمر ﷺ وفرمايل: د دې حديث شاهد را وله ابو سعيد ﷺ (د دې حديث راوي) وايي چي د ابوموسی سره زه و حضرت عمر ﷺ ته ورغلم او شاهدي مي ورکړه چي دا حديث صحيح دی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۶-۲۷، رقم: ۶۲۴۵، ومسلم ۳\ ۱۶۹۴، رقم: ۳۳-۲153.

تشريح: حضرت ابو موسی ﷺ، حضرت ابوسعيد ﷺ ته ذکر سوې پېښه بيان کړه او هغه وويل دغه حديث تا هم د رسول الله ﷺ څخه اورېدلی دی ځکه نو زما سره حضرت عمر ﷺ ته ولاړ سه او د هغه په وړاندي شاهدي ورکړه، نو ابو سعيد خدري ﷺ د هغه سره حضرت عمر ﷺ ته ورغلی او دا شاهدي يې ادا کړه چي حضرت ابو موسی ﷺ کوم حديث بيان کړی دی هغه بالکل صحيح دی.

د حضرت عمر ﷺ شاهد غوښتل محض د احتياط په توګه وو چي نورو خلکو ته د حديث بيانولو د ازرښت اندازه وسي او په خاصه توګه هغه درواغجن خلک چي د ځان څخه حديثونه جوړوي او رسول الله ﷺ ته يې منسوب کوي، هغوی د دې جرئت ونه کړلای سي کنه نو دا خبره ده چي خبر واحد مقبول دی په خاصه توګه په داسي صورت کي چي کله راوي د حضرت ابو موسی اشعري ﷺ په ډول صحابي وي چي د سترو صحابه کرامو څخه دی.

د دروازې په درېدو درې واره سلام کول د دې لپاره دي چي يو سلام خو د پېژندني لپاره سو او دوهم سلام د تامل لپاره او دريم سلام د اجازې لپاره دی، يعني د کور خاوند د اول سلام په اورېدو سره هغه سړی و پېژني چي دا څوک دی او د دوهم سلام په اورېدو سره هغه فکر وکړي چي ايا دغه سړي ته د راتلو اجازه ورکړل سي که يا، او د دريم سلام د اورېدو څخه وروسته به د ننه راتلو اجازه ورکړي.

خاص اجازه

﴿۴۴۶۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْنُكَ عَلَيَّ أَنْ تُرْفَعَ الْحِجَابُ وَأَنْ تَسْتَمِعَ سِوَادِي حَتّٰى أَنْهَاكَ. رواه مسلم.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و ما ته فرمایل: زه و تا ته اجازت درکوم چي ته زما د دروازې پرده پورته کوه او د ننه را ځه او تر څو پوري چي زه تا منعه نه کړم زما پټې خبري اوره. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱۷۹۸\۱۴، رقم: ۱۶- ۲۱۶۹.

تشریح: د رسول الله ﷺ پر دروازه چي کومه پرده وه هغه د بورۍ (ګونۍ) وه، د دغه حدیث څخه معلومه سوه چي حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه ته د رسول الله ﷺ کور ته د ننوتلو خاص اجازه تر لاسه وه او هغه په دروازه کي په درېدو سره د اجازې تر لاسه کولو پابند نه وو، نو رسول الله ﷺ هغه ته فرمایلي وه چي ما ته ستا د راتلو د اجازې علامه بس ده چي ته د پردې په پورته کولو سره وګورې که چیري زه موجود وم یا تا ته دا معلومه سي چي زه په کور کي یم نو دننه ځه که څه هم زه د خاصو خلکو سره خبري کوم، تا ته د اجازې غوښتلو ضرورت نسته مګر که یو وخت ستا راتلل مناسب و نه ګڼم نو هغه وخت به دي د راتلو څخه منع کوم، ددې ضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه د مرتبې اندازه لګول کیږي چي هغه ته په نظیر نبوت محبوبیت تر لاسه وو او پر هغه د رسول الله ﷺ څومره مهرباني وه، رسول الله ﷺ هغه مقرب ګرځولی وو چي هغه د کور یو فرد سوی وو چي کله به یې غوښتل کور ته به ورتلی مګر څرګنده دي وي چي حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه ته دغه خاص اجازه د دغه صورت سره متعلق وه چي کله به په حجره مبارکه کي د ښځو د راتلو وخت نه وو یا په کور کي به ښځي موجود نه وې، په خاصه توګه د پردې د آیت نازلېدو څخه وروسته خو به دا قید خامخا عائد سوی وي.

داسي مه وایه چي زه یم

﴿۴۴۶۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي دَيْنٍ كَانَ عَلٰى أَبِي فَدَقَقْتُ الْبَابَ فَقَالَ مَنْ ذَا فَقُلْتُ أَنَا فَقَالَ أَنَا أَنَا كَأَنَّهُ كَرِهَهَا. متفق علیه

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي د پور په یوه معامله کي چي زما پر پلار وو زه رسول الله ﷺ ته ورغلم دروازه مي و ټکول، نبي کریم ﷺ پوښتنه وکړه چي څوک دئ، ما وویل زه یم، نبي کریم ﷺ وفرمایل: زه یم زه یم مطلب نبي کریم ﷺ زما دا الفاظ بد وګڼل. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۵، رقم: ۶۲۵۰، ومسلم ۱۳\۱۶۹۷، رقم: ۳۸-۲۱۵۵.

تشریح: د پور هغه معامله چي د هغه په اړه حضرت جابر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوی وو، هغه دا وو چي د هغه پلار حضرت عبدالله انصاري رضي الله عنه د اُحد په غزا کي شهید سوی وو او د هغه پر ذمه پور پاته سوی وو، پور غوښتونکو د حضرت جابر رضي الله عنه څخه د پور د ادا کولو غوښتنه وکړه او د هغه تنګول يې پیل کړل نو هغه د مرستي غوښتني لپاره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو چي د هغه د پور ادا کولو یو انتظام وسي او د پور غوښتونکو څخه خلاصون تر لاسه سي، هغه وخت د حضرت جابر رضي الله عنه په ملکیت کي د لږ خرماوو څخه پرته نور هیڅ نه وه مګر دلته د رسول الله ﷺ معجزه څرګنده سوه چي په هغه خرماوو کي برکت نازل سو او دومره برکت چي حضرت جابر رضي الله عنه په هغه خرماوو سره ټول پور هم ادا کړ او د هغه څخه وروسته هم هغسي پاته وې او په هغه کي هیڅ کمي واقع نه سول،

زه یم، دا ویل رسول الله ﷺ ځکه بد وګڼل چي د دغه جملې په ذریعه د ابهام ازاله نه کېدله او د کور پر خاوند باندي دا نه څرګندېدل چي دا کوم څوک دی، یعني په دې ویلو سره د کور د خاوند دغه سوال چي څوک يې، همدغسي پاته کیږي، نو حضرت جابر رضي الله عنه باید خپل نوم، لقب یا کنیت ښودلی وای چي دا معلومه سوې وای چي د باندي په دروازه کي څوک دی، که څه هم په ځینو وختو کي محض په اواز پېژندو سره هم د شخصیت وضاحت کیږي په خاصه توګه په هغه صورت کي چي کله زه ویونکی سړی داسي څوک وي چي د هغه سره هر وخت ناست او ولاړه وي نو کېدای سي چي رسول الله ﷺ په اواز سره حضرت جابر رضي الله عنه پېژندلی وي مګر د دې سربېره رسول الله ﷺ د خپل ناخوښۍ اظهار حضرت جابر رضي الله عنه ته د هغه د تعلیم په توګه وکړ چي د چا دروازې ته په رسېدو سره د خپل راتګ خبر ورکړه او په صافو الفاظو سره خپل نوم وښیه محض په دې ویلو اکتفاء مه کوه چي زه یم.

دا هم کېدای سي چي رسول الله ﷺ د حضرت جابر رضي الله عنه داسي وینا له دې کبله بده ګڼلې وي چي هغه د سلام کولو په ذریعه د اجازې تر لاسه کولو طریقه پر ېښودل چي سنت ده.

د رسول الله ﷺ زه یم، زه یم، دوه واره ویل د حضرت جابر رضي الله عنه د هغه جواب قبلولو څخه د انکار په توګه وو او د هغه مهفوم دا وو چي زه یم زه یم دا څه وایې خپل نوم ولي نه ښیې.

﴿۴۴۶۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ لَبَنًا فِي قَدَحٍ فَقَالَ أَبَا هِرٍّ الْحَقْ بِأَهْلِ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ إِلَيَّ فَأَتَيْتُهُمْ فَدَعَوْتُهُمْ فَأَقْبَلُوا فَاسْتَأْذَنُوا فَأُذِنَ لَهُمْ فَدَخَلُوا. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ سره (د هغوی په کور کي)دا خل سوم نبي کريم ﷺ په خپل کور کي يوه پياله پيدا کړه چي شيدې پکښي وې نو ما ته يې وفرمايل: اې ابوهريره! (ولاړ سه او) اهل صفه ما ته را وله زه هغوی ته ورغلم ما اهل صفه را و غوښتل هغوی په دروازه کي حاضر سول ا جازت يې و غوښت نبي کريم ﷺ ورته اجازه ورکړه او دوی داخل سول . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۱ء رقم: ٦٢٤٦.

تشريح: په يو بل حديث کي دا هم نقل سوي دي چي اهل صفه دننه راغله نو رسول الله ﷺ هغوی ته د شېدو پياله ور وړاندي کړل او د رسول الله ﷺ د معجزې په سبب هغه ټولو د پيالې څخه په ماړه نس شيدې وڅښلې .

څرګنده دي وي چي اهل صفه د صحابه کرامو هغه ډلي ته وايي چي د هغوی په مدينه کي نه کور وو او نه معاش يو بله ذريعه بلکه د فقرا و مفلسۍ په وجه د مسجد نبوي څخه دباندي پر يو دوکانچه جمع وه او هر وخت د رسول الله ﷺ په خدمت کي په اوسېدو سره به يې فيض تر لاسه کوی، ددغه صحابه کرامو تعلق د انصارو سره هم وو او د مهاجرينو څخه هم، د مدينې عامو مسلمانانو به د خپل حيثيت او توان سره سم د هغوی د خوراک او څښاک بندوبست کوی مګر رسول الله ﷺ به د خپل طرف څخه هغوی ته خوراک او څښاک ورکوئ .

ددغه حديث څخه څرګنده سوه چي د يو چا رابلل د اجازې اخيستل نه ساقطوي يعني که يو سړی د چا په بلنه د هغه کور ته ورسي نو هغه بايد په دروازه کي په درېدو سره اجازه وغواړي او بيا کور ته دننه ورسي مګر دا چي په بللو او راتلو کي د زيات وخت فرق نه وي ، مخته يو حديث راځي چي په هغه کي فرمايل سوي دي چي کله په تاسو کي يو څوک وبلل سي او هغه سړی د هغه سره يو ځای راسي کوم چي د بللو لپاره ورغلی وي نو د هغه سره راتلل د هغه لپاره اجازه ده يعني هغه ته د اجازې اخيستلو ضرورت نسته ، دغه حديث د ذکر سوي حديث سره

مطابقت نلري ځکه د دواړو په مینځ کي د مطابقت پیدا کولو لپاره علماوو لیکلي دي چي اصل مسئله داده چي د بللو سره راوستونکی سره د راتلو په صورت کي د اجازې تر لاسه کولو ضرورت نسته ، اصحاب صفه ځکه راغوښتې وه چي کېدای سي هغوی به د ابوهریره رضي الله عنه سره نه وو راغلي بلکه د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه وروسته به را رسیدلي وي ، که چیري هغوی خپله د ابوهریره رضي الله عنه سره راغلي وي نو بیا هغوی ته به د اجازې غوښتني ضرورت نه وو ، یا دا چي هغه خلک د حضرت ابوهریره رضي الله عنه سره راغلي وه ، په دغه صورت کي هغوی ته د اجازې تر لاسه کولو ضرورت نه وو مګر پر هغه خلکو باندي د ادب او حیاء ډېره غلبه وه ځکه هغو اجازه تر لاسه کول غوره وګڼل ، یا هغه خلکو ته به هلته یو داسي شی محسوس سوی وي چي د اجازې تر لاسه کولو غوښتونکی به وو ، یا دا چي هغه خلکو ته به دغه حدیث نه وو رسیدلی ځکه هغوی اجازه وغوښتل . والله اعلم .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

بېله اجازې د بل کور ته مه داخلېږئ

﴿۴۴۶۶﴾ : عَنْ كَلَدَةَ بْنَ حَنْبَلٍ أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ بَعَثَهُ بِلَبَنٍ او جداية

د حضرت کلده بن حنبل رضي الله عنه څخه روایت دی چي صفوان بن امیه زما په لاس رسول الله ﷺ ته

وَضَغَابِيسَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَعْلَى

شیدې د اوسي يو بچی او ترې (ککړی) ولېږلې دا وخت نبي کريم ﷺ د مکې معظمې په

الْوَادِي قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ وَلَمْ أُسَلِّمْ وَلَمْ أَسْتَأْذِنْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْجِعْ فَقُلْ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَأَدْخُلُ. رواه الترمذي وابوداؤد.

پورته طرف کي چي هغې ته معلا وايي تشریف فرما وو زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي دا غسي ورغلم يعني نه مي سلام وکړ او نه مي اجازه و غوښتل نبي کريم ﷺ و ما ته وفرمایل: بیرته ولاړ سه (يعني د کور څخه د باندي د هغه ځايه څخه) السلام علیکم ووایه او د ننه د راتلو اجازت واخله . ترمذي او ابوداؤد ..

تخريج : سنن الترمذي ۵\۶۱، رقم: ۲۷۱۰، وابوداود ۵\۳۶۸، رقم: ۵۱۷۶.

د لغاتو حل: الجِداية: اولاد الظباء.

د غوښتونکي سره راتګ

﴿۴۴۶۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ فَجَاءَ مَعَ الرَّسُولِ فَإِنَّ ذٰلِكَ لَهُ إِذْنٌ. رواه ابوداؤد. وفي رواية له قال رسول الرجل الى الرجل اذنه.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي په تاسو کي يو څوک را وغوښتل سي او بيا دی د قاصد سره راسي نو د قاصد سره را تلل د ده لپاره اجازت دی، او د ابوداؤد په بل روايت کي دي چي نبي کريم ﷺ وويل: قاصد لېږل د سړي بل سړي ته اذن دی. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۷۶، رقم: ۵۱۹۰.

تشريح: مطلب دادی که يو څوک يو سړی د يو چا را بللو لپاره واستوي او هغه هم د بلونکي سره راسي نو په دغه صورت کي ده ته ددې خبري ضرورت نسته چي په دروازه کي ودرېږي او اجازه وغواړي او بيا کورته داخل سي.

د بل چا کورته د تلو ادبونه

﴿۴۴۶۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن بسر رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ

إِذَا أَتَى بَابَ قَوْمٍ لَمْ يَسْتَقْبِلِ الْبَابَ مِنْ تِلْقَاءِ وَجْهِهِ وَلٰكِنْ مِنْ رُكْنِهِ الْأَيْمَنِ

د يو چا کورته ورتلی نو د دروازې و مخ ته به نه درېدی بلکه د دروازې راسته يا چپه لورته به

أَوِ الْأَيْسَرِ فَيَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَذٰلِكَ أَنَّ الدُّورَ لَمْ يَكُنْ

درېدی او (د اجازت د اخيستلو لپاره به يې) السلام عليکم السلام عليکم ويل او د دروازې مخته به په دې وجه چي په هغه زمانه کي به

يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا سُتُورٌ، رواه ابوداؤد وذكر حديث انس قال عليه الصلاة والسلام السلام عليكم ورحمة الله في باب الضيافة.

د دروازې مخته پردې نه وې. ابوداؤد، او د انس رضي الله عنه حديث چې نبي كريم ﷺ السلام عليكم ورحمة الله ويل د ضيافت په باب كې بيان سوى دى.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۳۷۴، رقم: ۵۱۸۶.

تشريح: د زيات واره سلام كولو وجه دا وه چې د كور خاوند يې په ښه واورې او اجازه وركړل سي، څرګنده دې وي چې دلته د السلام عليكم دوه واره ذكر سوى دى نو ددې څخه شمېر مراد دى او د دوه واره اقتصار مراد نه دى ځكه چې د رسول الله ﷺ عادت مبارك وو چې كله به د چا د دروازې سره ودرېدى نو درې واره به يې سلام ادا كوى لكه چې مخكې تېر سوي دي.
د روايت د آخري الفاظو: د دروازې مخته د درېدو وجه ...الخ: ددې څخه دا معلومېږي كه چېرې پر دروازه باندې لرګي وي يا پر هغه پردې وي نو په دغه صورت كې د دروازې مخته په درېدو كې څه پروا نسته مګر د اصل سنت د رعايت سره سم غوره خبره داده چې په دغه صورت كې هم د دروازې د مخ څخه آخوا راسته يا چپه خوا ته ودرېږي او په دې وجه هم چې ځينې وختونه د لرګيو او پردې د خلاصولو په وخت كې د دروازې مخته د ولاړ سړي نظر كور ته د ننه ځي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د خپلې مور څخه هم اجازه غواړه

﴿۴۴۶۹﴾: عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عطاء بن يسار رضي الله عنه څخه روايت دى چې يوه سړي د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه

فَقَالَ أَسْتَأْذِنُ عَلَى أُمِّي فَقَالَ نَعَمْ فَقَالَ الرَّجُلُ إِنِّي مَعَهَا فِي الْبَيْتِ فَقَالَ

ايا زه خپلې مور ته په ورتلو كې اجازت غواړم؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هو! سړي وويل: زه او زما مور په يوه كور كې اوسېږو،

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا فَقَالَ الرَّجُلُ إِنِّي خَادِمُهَا

نبي كريم ﷺ وفرمايل: كله چي و هغې ته ورځې نو اجازت و غواړه هغه وويل: چي زه د خپلي مور خادم يم (يعني د هغې د خدمت لپاره بار بار زه و هغې ته ځم)

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا أَتُحِبُّ أَنْ تَرَاهَا عُرْيَانَةً قَالَ لَا قَالَ فَاسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا. رواه مالك مرسلا.

نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د اجازې د غوښتلو څخه وروسته ورځه ايا ته دا خبره خوښوې چي خپله مور لځه ووينې ؟ هغه وويل: يا ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د اجازې د غوښتلو څخه وروسته ورځه. مالک مرسلا.

تخريج: موطا الامام مالک ۲\۹۶۳، رقم: ۱.

تشريح: په دې اړه د مور په حکم کي نور محارم هم دي که دهغوی سره نسبي تعلق وي يا د خسروالي تعلق، خلاصه دا چي د کومو ښځو څخه پرده کول په شرعي توګه ضروري نه وي او هغوی ته محارم ويل کيږي که هغوی ته ورتلل وي نو د اجازې اخيستلو څخه پرته ورتلل نه دي پکار مګر خپل ښځه ددغه حکم څخه مستثنی ده.

د اجازې طريقه

﴿۴۴۷۰﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ كَانَ لِي مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَدْخَلٌ بِاللَّيْلِ وَمَدْخَلٌ بِالنَّهَارِ فَكُنْتُ إِذَا دَخَلْتُ بِاللَّيْلِ تَنَحْنَحَ لِي. رواه النسائي

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه به (هر وخت) شپه او ورځ نبي كريم ﷺ ته ورتلم كله چي به زه د شپې په خدمت کي حاضريدم نو نبي كريم ﷺ به د اجازت راکولو لپاره غاړه تازه کوله ماته. نسائي

تخريج: سنن النسائي ۳\۱۲، رقم: ۱۲۱۲.

تشريح: ددې څخه معلومه سوه چي د شپې په وخت کي د اجازې ورکولو علامه غاړه تازه کول وو، ياته سوه دا خبره چي د ورځي په وخت کي د حاضرۍ په صورت کي کومه علامه ټاکل سوې وه نو کېدای سي چي ددغه صورت لپاره امربالعکس مراد وي يعني حضرت علي رضي الله عنه دا ويل غواړي چي د شپې وخت به رسول الله ﷺ غاړه تازه کول چي زما لپاره به د اجازې برابر وو او کله چي به زه د ورځې ورتلم نو د خپلو غاړو په تازه کولو سره به د ننه ورتلم.

د دغه حديث څخه دا څرګندېږي چي د رسول الله ﷺ غاړه تازه كول د اجازې علامه وه مګر په يو بل روايت كي حضرت علي رضي الله عنه دا فرمايي چي كله به د شپې په وخت كي زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضرېدم نو رسول الله ﷺ به غاړه تازه كول نو زه به ببرته ولاړم څكه نو دا څرګندېږي چي غاړه تازه كول د نه اجازې علامه وه نو په څرګنده دا معلومېږي چي غاړه تازه كول يوازي د اجازې علامه نه وه بلكه يو داسي قرينه به وه چي د هغه په ذريعه به غاړه تازه كول په ځينو وختو كي د اجازې علامه ګڼل كېدل او په ځينو وختو كي به د نه اجازې علامه ګڼل كېدل نو هغه قرينې چي به كوم صورت ظاهروي حضرت علي رضي الله عنه به په هغه عمل كوى .

سلام نه کونکی

﴿۴۴۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ تَأْذَنُوا لِمَنْ لَّمْ يَبْدَأْ بِالسَّلاَمِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اجازه مه وركوئ هغه چا ته چي اول سلام ادا نه كړي . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٦\٤٤١، رقم: ٨٨١٦.

تشريح: مطلب دادى كه چيري يو سړى چي تاسو ته راتلل غواړي مګر هغه د سلام په ذريعه د ننه راتلو اجازه طلب نه كړي يا تاسو ته په را رسېدو سره تاسو ته سلام ونه كړي نو هغه ته د راتلو يا د څان سره د كېښېنستلو اجازه مه وركوئ بلكه هغه ته وواياست چي هغه دروازې په ببرته تلو سره لومړى سلام وكړي او بيا د اجازې په اخيستلو سره د ننه راسي .

============

بَابُ الْمُصَافَحَةِ وَالْمُعَانَقَةِ

(د لاس د روغبړ او د غاړي د روغبړ بيان)

د مصافحې تعريف په داسي الفاظو سوى دى : دست يكديګر را ګرفتن، يعني د دوو كسانو په خپل مينځ كي د يو بل سره لاس يو ځاى كول، د معانقې په اړه دا ويل سوي دي چي: دست در ګردن يكديګر در آوردن، يعني د دوو كسانو په خپلو كي د يو بل په غاړه كي لاس اچول، د دوو كسانو په خپلو كي يو بل سره سينه لګول.

د مصافحې او معانقې احکام

د ملاقات په وخت کې مصافحه کول سنت دي او باید په دواړو لاسو مصافحه وسي، محض په یوه لاس سره مصافحه کول غیر مسنون دي، په یو خاص وخت یا یو خاص مراسمو کې مصافحه ضروري ګڼل غیر شرعي خبره ده، په ځینو وختو کې چې دا رواج دی چې ځینې خلک د مازدیګر د لمانځه یا جمعې د لمانځه څخه وروسته د بل سره مصافحه کوي د دې هیڅ اصل نسته او زموږ علماوو وضاحت کړی دی چې د وخت د خاصوالي په سبب داسې مصافحه کول مکروه ده او بدعت مذمومه دی، مګر که یو سړی مسجد ته راسي او خلک په لمانځه کې بوخت وي یا لمونځ پیل کېدونکی وي او هغه سړی د لمانځه څخه وروسته د هغه خلکو سره مصافحه وکړي نو دا مصافحه بېله شکه مسنون مصافحه ده په شرط د دې چې هغه د مصافحې څخه مخکې سلام هم کړی وي، که څه هم په یو خاص او مکروه وخت کې مصافحه کول مکروه دي مګر که یو سړی هغه وخت د مصافحې لپاره لاس را وړاندي کړي نو د هغه څخه لاس منع کول به مناسب نه وي ځکه چې د دې په وجه د مصافحې لپاره لاس وړاندي کونکی سړي ته تکلیف رسیږي او یو مسلمان ته تکلیف نه رسول د ادابو د رعایت څخه زیات اهم دی، د پیغلې ښځې سره مصافحه کول حرام دي او د هغه سپین سري ښځې سره په مصافحه کولو کې پروا نسته چې ته جنسي جذبات مائل کېدای نسي، نقل سوي دي چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خپل په زمانه کې د هغه سپینو سرو ښځو سره مصافحه کول چې د هغوی تی یې رودلی وي ځکه د هغه سپین ږیري سړي چې د جنسي جذباتو د فتنې څخه بې بهره سوی وي هغه لره د پیغلې ښځې سره مصاحفه کول جائز دي د ښځې په ډول د ښه شکل سړي سره هم مصاحفه کول جائز نه دي، څرګنده دي وي چې د چا لیدل حرام دي د هغه مس کول هم حرام دي بلکه د مس کولو حرمت د لېدو تر حرمت زیات سخت دی لکه چې په مطالب المؤمنین کې ذکر سوي دي.

په صلوة مسعودي کې لیکلي دي چې کله یو سړی سلام وکړي نو خپل لاس دې هم ورکړي یعني د مصافحې لپاره لاس ورکول سنت دي مګر د مصافحې طریقه دې دا وي چې ورغوی دې په ورغوي کې کښېږدي محض د ګوتو په سرونو سره دې اکتفاء نه کوي ځکه چې محض د ګوتو په سرونو نیولو سره د مصافحې یوه داسې طریقه ده چې هغې ته بدعت ویل کیږي.

معانقه یعني یو د بل تر غاړه کېدل مشروع دي په خاصه توګه هغه وخت کله چې یو سړی د سفر څخه راغلی وي لکه څرنګه چې د حضرت جعفر ابن ابي طالب حدیث نقل سوی دی مګر

ددې اجازه په هغه صورت کي ده کله چي د هغه په وجه په يو خرابۍ کي د اخته کېدو يا د يو شک او شبهې پيدا کېدو بېره نه وي .

د حضرت امام اعظم ابو حنيفة او امام محمد رحمة الله عليهما په اړه نقل سوي دي چي دغه دواړه حضرات د معانقې او تقبيل (يعني د لاس د خولې او سترګو په ذريعه مچولو) د کراهت قائل دي، د هغوی دا وينا ده چي د معانقې په اړه نهي منقول ده لکه چي په لومړي فصل کي د حضرت انس رضي الله عنه د روايت څخه دغه نهي ثابتيږي ، دغه حضرات دا هم وايي چي په کومو روايتو کي د معانقې اجازه ثابتيږي د هغو تعلق د هغه زمانې سره دی کله چي معانقه منع نه وه ګرځول سوې ، په هر حال په دې اړه چي کوم حديثونه نقل سوي دي او د هغو په مينځ کي په ظاهره اختلاف معلوميږي نو د دغه حديثو د اختلاف ليري کولو او د هغوی په مينځ کي د مطابقت پيدا کولو لپاره د شيخ ابو منصور ماتريدي رحمه الله دغه قول نقل سوی دی چي کومه معانقه خراب خيال او د جنسي جذباتو په وجه وي نو هغه مکروه ده او د کومي معانقې تعلق چي د ميني او اکرام په جذبه سره وي نو هغه بېله شکه او شبهې جائز ده، ځينو علماوو دا هم ليکلي دي چي د معانقې په اړه د فقهاوو په مينځ کي چي کوم اختلاف دی دا په هغه صورت کي دی کله چي پر بدن باندي جامه نه وي ، پر بدن باندي د قميص ، چپني وغيره کېدو په صورت کي هيڅ اختلاف نسته بلکه په اتفاق سره جائز دي .

تقبيل يعني د لاس يا تندي وغيره مچول هم جائز دي بلکه د دين د بزرګانو او د سنتو د متبعينو علماوو لاس مچولو ته ځينو حضراتو مستحب ويلي دي مګر د مصافحې څخه وروسته د خپل لاس مچول هيڅ اصل نه لري بلکه دا د جاهلانو طريقه ده او مکروه دي .

د حاکمانو او مشائخو علماوو په وړاندي مځکه مچول حرام دي ، مچه مچونکی او په هغه باندي راضي کېدونکی دواړه ګناه کار دي، فقيه ابو جعفر رحمه الله وايي : د پاچا او حاکم په وړاندي مچه مچونکی او سجده کونکی کافر کيږي په شرط ددې چي د هغه مځکه مچول او سجده د عبادت په نيت وي او که د تحيه (سلام) په توګه وي نو نه کافر کيږي مګر د کبيره ګناه کونکی به وي، د ځينو علماوو د قول مطابق د هيڅ ډول نيت نه کېدو په صورت کي هم کافر کيږي .

علماوو ليکلي دي چي د يو عالم يا پاچا او حاکم لاس مچول که د هغه د عدل او انصاف په وجه وي او د دين د اکرام او جذبي څخه وي نو څه پروا نسته او که د هغوی د لاس مچولو تعلق د دنيوي غرض او ګټي لپاره وي نو سخت مکروه به وي او که يو سړی يو عالم يا بزرګ ته د هغه د پښو مچولو لپاره خواست وکړي نو دا بايد هيڅکله ونه منل سي ، د ماشومانو مچولو اجازه ده

كه څه هم د بل چا ماشومان وي بلكه د كوچني مچول سنت دي .

علماوو ليكلي دي چي كومه مچه په شرعي توګه جائز ده د هغه پنځه صورتونه دي : ۱: يو خو د مودت او ميني مچه لكه څرنګه چي مور او پلار د خپل زوى بار خوګان مچوي، ۲: دوهم د احترام ، اكرام او رحمت مچه لكه د اولاد د مور او پلار سر مچول، ۳: دريم د جنسي جذباتو مچه لكه د خاوند د خپل ښځي مخ مچول، ۴: څلورم د تحيه (سلام) مچه لكه د مسلمانانو د يو بل لاس مچول، ۵: او پنځم هغه مچه چي خور د خپل ورور تندي مچ كړي ، د ځينو حضراتو په نزد په خپلو كي د يو بل لاس او مخ مچول مكروه دي ، ځيني حضرات وايي چي د ماشوم مچول واجب دي .

امام نووي رحمة الله عليه دا ليكلي دي چي (د ښځي او خاوند څخه پرته د بل چا څخه) د جنسي جذباتو په وجه مچه اخيستل په اتفاق سره حرام دي كه هغه پلار وي يا بل څوك وي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

مصافحه مشروع ده

﴿۴۴۷۲﴾: عَنْ قَتَادَةَ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسٍ أَكَانَتْ الْمُصَافَحَةُ فِي أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى [اللهُ عَ]لَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ . رواه البخاري

[حض]رت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د انس رضي الله عنه څخه پوښتنه وكړه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم اصحابو كرامو كي د مصافحي (د لاس روغبړ) رواج وو ؟ هغه وفرمايل : هو. بخاري

[ت]خريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۵۴، رقم: ۶۲۶۳.

د كوچنيانو سره مينه مستحب ده

﴿۴۴۷۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَبَّلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَسَنَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم حسن بن علي رضي الله عنه مچ كړى دا وخت د

بْنَ عَلِيٍّ وَعِنْدَهُ الْأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ فَقَالَ الْأَقْرَعُ إِنَّ لِي عَشَرَةً مِنَ الْوَلَدِ مَا

نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره اقرع بن حابس رضي الله عنه ناست وو هغه چي نبي كريم صلى الله عليه وسلم په مچولو سره وليدى نو

يې وويل، زما لس زامن دي

قَبَّلْتُ مِنْهُمْ أَحَدًا فَنَظَرَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ مَنْ لَا

ما هيڅكله په هغوى كي يو هم نه دى مچ كړى، نبي كريم ﷺ د هغه وطرف ته وكتل ورته يې وفرمايل: كوم سړى چي (پر خپل اولاد يا د خداى تعالى پر مخلوق)

يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ. متفق عليه. وسنذكر حديث أبي هريرة أثم لكع في باب

مهرباني او شفقت نه كوي پر هغه رحم نه كيږي يعني الله ﷻ پر هغه باندي رحم نه كوي. بخاري او مسلم، او ډير ژر به موږ د ابوهريره رضي الله عنه حديث: ثم لكع

مناقب أهل بيت النبي صلى الله عليه وعليهم أجمعين إن شاء تعالى وذكر

حديث أم هانئ في باب الأمان.

د اهل بيت د مناقبو په باب كي بيان كړو او د ام هاني حديث په باب الامان كي راغلى دى

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۲۶، رقم: ۵۹۹۷، ومسلم ۵\۱۸۰۸، رقم: ۶۵ – ۲۳۱۸.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د مصافحې فضيلت

﴿۴۴۷۴﴾: عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي دوه مسلمانان

مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ فَيَتَصَافَحَانِ إِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أَنْ يَتَفَرَّقَا. رواه

احمد والترمذي وابن ماجة و رواية ابي داؤد قال اذا التقى المسلمان

فتصافحا وحمد الله واستغفراه غفر لهما.

سره يو ځاى سي او مصافحه كوي نو هغوى د جلا كېدو مخكي بخښل كيږي. احمد، ترمذي او ابن ماجه، او د ابوداؤد په يوه روايت كي دا الفاظ دي كله چي د وه مسلمانان سره يو ځاي

سي او مصافحه وكړي د خداي تعالى ثناء بيان كړي او بخښنښ وغواړي نو هغوى بخښل كيږي.

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۲۸۹، وابوداود ۵\۳۸۸، رقم: ۵۲۱۲، والترمذي ۵\۷۰، رقم: ۲۷۲۷، وابن ماجه ۲\۱۲۲۰، رقم: ۳۷۰۳.

تشريح: حكيم ترمذي او ابو الشيخ د حضرت عمر رضي الله عنه څخه مرفوعا دا روايت نقل كړى دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي دوه مسلمانان سره يو ځاى سي او په هغوى كي يو بل ته سلام كوي نو په هغوى كي هغه مسلمان د الله تعالى په نزد زيات غوره وي كوم چي په پراخ تندي او خوشحالي سره د خپل دوهم ملګري سره يو ځاى كيږي او بيا چي كله دواړه مصافحه كوي نو الله تعالى پر هغوى سل رحمتونه نازلوي، نيوي (۹۰) رحمتونه پر هغه چا باندي چا چي مخته والى وكړ او لس رحمتونه پر هغه چا باندي د چا سره چي مصافحه كوي.

د سلام په وخت كي بايد سر كښته نه سي

﴿۴۴۷۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ الرَّجُلُ مِنَّا يَلْقَى أَخَاهُ أَوْ صَدِيقَهُ أَيَنْحَنِي لَهُ قَالَ لَا قَالَ أَفَيَلْتَزِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ قَالَ لَا قَالَ أَفَيَأْخُذُ بِيَدِهِ وَيُصَافِحُهُ قَالَ نَعَمْ. رواه الترمذي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي يوه سړي وويل: اې د الله رسوله! كله چي په موږ كي څوك د خپل مسلمان وروريا دوست سره ملاقات كوي نو ايا هغه (د هغه د تعظيم لپاره) ورته سر كښته كړي؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: يا! هغه سړي وويل، ايا د هغه سره معانقه وكړي؟ (يعني هغه ته په غاړه ورسي او مچ يې كړي) نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: يا! هغه سړي بيا پوښتنه وكړل ايا د هغه لاس په خپل لاس كي ونيسي مصافحه ورسره وكړي؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هو. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۷۰، رقم: ۲۷۲۸.

تشريح: د دغه حديث څخه څرګنده سوه چي د سلام په وخت كي كښته كېدل لكه څرنګه چي د ځينو خلكو عادت دى او په ځينو ځايو كي رواج دى، د سنت خلاف دى او رسول الله ﷺ له دې كبله خوښ نه كړ چي داسي كول د ركوع په حكم كي دي او ركوع د الله تعالى عبادت دى.

يحيى رحمه الله د محي السنة څخه نقل كړي دي چي د سلام په وخت كي د ملا كښته كول مكروه دي ځكه چي د دې په منع كي صحيح حديث نقل سو يدي كه څه هم ځيني عالمانو دا

اختيار کړی دی مګر د هغوی دغه فعل هیڅکله د باور او اعتماد وړ نه دی.

په مطالب المؤمنين کي د شيخ ابو منصور ماتريدي رحمة الله عليه څخه نقل سوي دي که چيري يو ثوک د چا په وړاندي مځکه مچ کړي يا د هغه په مخکي ملا کښنته کړي نو هغه دې په وجه نه کافر کيږي مګر ګناه کار کيږي ځکه چي د چا په مخکي مځکه مچول يا کښنته کېدل د تعظیم لپاره وي چي د عبادت په نيت سره وي نو کوم ثوک چي د عبادت په نيت سره داسي کار وکړي نو هغه يقينا کافر کيږي.

ځيني مشائخ ددغه کار (کښنته کېدو) منع په ډېره سختئ سره بيانوي او وايي : كاد الانحناء ان يكون كفرا، یعني کښنته کېدل کفر ته نژدې دي.

کوم حضرات چي معانقه او تقبيل (یعني غاړه په غاړه کېدل او مچېدل) ته مکروه وايي کله د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه په اړه نقل سوي دي چي هغوی ددغه حديث څخه استدلال کوي مګر کوم حضرات چي ددغه شيانو د کراهت قائل نه دي هغوی وايي چي هغه معانقه او تقبيل مکروه دی کوم چي د بې ځايه تعظيم په توګه وي يا د کومي معانقې او تقبيل څخه چي د يو خرابي رامنځه کېدو بېره وي، کنه نو په هغه صورت کي معانقه او تقبيل جائز دی کله چي يو ثوک رخصت کوي يا ثوک د سفر څخه راسي يا د يو چا سره ډېر وخت وروسته لېدنه کيږي يا د الله تعالى لپاره د يو چا د مينې غلبه ددې متقاضي وي.

د مريض پوښتنه

﴿۴۴۷۶﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

قَالَ تَمَامُ عِيَادَةِ الْمَرِيضِ أَنْ يَضَعَ أَحَدُكُمْ يَدَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ أَوْ عَلَى يَدِهِ فَيَسْأَلُهُ

د ناروغ پوره پوښتنه داده چي چي ته خپل لاس د ناروغه پر تندي يا پر لاس کښېږدې او د هغه څخه د هغه حال و پوښتې چي

كَيْفَ هُوَ وَتَمَامُ تَحِيَّاتِكُمْ بَيْنَكُمُ الْمُصَافَحَةُ. رواه احمد والترمذي.

ښنګه یې او پوره سلام کول دادي چي د سلام وروسته ورسره مصافحه هم وکړې. احمد او ترمذي.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\ ۲۶۰، والترمذي ۵\ ۷۱، رقم: ۲۷۳۱.

﴿۴۴۷۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَدِمَ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ الْمَدِينَةَ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

د بي بي عائشې ﷺ څخه روايت دی چي زيد بن حارثه و مدينې منورې ته راغلی او د نبي کريم

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي فَأَتَاهُ فَقَرَعَ الْبَابَ فَقَامَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

ﷺ سره د ملاقات لپاره حاضر سو نبي کريم ﷺ دا وخت په کور کي وو ، هغه دروازه وټکوله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرْيَانًا يَجُرُّ ثَوْبَهُ وَاللّٰهِ مَا رَأَيْتُهُ عُرْيَانًا قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ فَاعْتَنَقَهُ

وَقَبَّلَهُ. رواه الترمذي

نبي کريم ﷺ لنګ وهلی لڅ بدن باندي د څادر را کښولو سره د باندي را ووت قسم په خداي چي ماهيڅکله نبي کريم ﷺ ددې څخه مخکي او وروسته لڅ نه وو ليدلی ، نبي کريم ﷺ زيد ﷺ په غاړه کي ونيوی او مچ يې کړ. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۷۲، رقم: ۲۷۳۲.

تشريح: دغه حديث او همدارنګه د حضرت جعفر ابن ابي طالب ﷺ حديث چي مخته را روان دی پر دې دلالت کوي چي معانقه او تقبيل يعني تر غاړه کېدل او لاس وغيره مچول جائز دي ، فقهاوو دا قول اختيار کړی دی چي د سفر څخه د راتلونکي کس سره معانقه او تقبيل بېله کراهته جائز دي.

معانقه

﴿۴۴۷۸﴾: وَعَنْ أَيُّوبَ بْنِ بُشَيْرٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ عَنَزَةَ أَنَّهُ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي ذَرٍّ هَلْ

حضرت ايوب بن بشير ﷺ د بنو عنزه د قبيلې د يو سړي څخه نقل کوي هغه سړي د ابوذر ﷺ

كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَافِحُكُمْ إِذَا لَقِيتُمُوهُ قَالَ مَا لَقِيتُهُ

څخه پوښتنه وکړه کله چي نبي کريم ﷺ به ستاسو سره ملاقات کوی نو مصافحه به يې هم کول ؟ ابوذر ﷺ وويل ما چي هر کله د نبي کريم ﷺ سره ملاقات کړی دی

قَطُّ إِلَّا صَافَحَنِي وَبَعَثَ إِلَيَّ ذَاتَ يَوْمٍ وَلَمْ أَكُنْ فِي أَهْلِي فَلَمَّا جِئْتُ أُخْبِرْتُ

فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ عَلَى سَرِيرِهِ فَالْتَزَمَنِي فَكَانَتْ تِلْكَ أَجْوَدَ وَأَجْوَدَ. رواه ابوداؤد.

نو نبي كريم ﷺ زما سره مصافحه كړې ده يوه ورځ نبي كريم ﷺ زه را وغوښتلم خو هغه وخت زه په كور كي نه وم زه چي كورته راغلم او ما ته د دې اطلاع وسوه نو زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم نبي كريم ﷺ دا وخت پر تخت باندي ناست وو نبي كريم ﷺ زه و خپل غاړي ته كش كړم او دا غاړه ډېر بهتره سوه (يعني د مصافحې څخه زياته بهتر سو چي د معانقې بركت او راحت راته حاصل سو). ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۸۹، رقم: ۵۲۱۴.

تشريح: د دې څخه معلومه سوه چي د سفر څخه د راتلو پرته په نورو حالاتو كي هم د ميني او عنايت د اظهار لپاره معانقه كول ثابت دي.

﴿۴۴۷۹﴾: وَعَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ أَبِي جَهْلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ جِئْتُهُ مَرْحَبًا بِالرَّاكِبِ الْمُهَاجِرِ. رواه الترمذي.

د حضرت عكرمه بن ابو جهل رضي الله عنه څخه روايت دى كوم وخت چي زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم نو نبي كريم ﷺ و ماته وفرمايل: هجرت كوونكى سپور ته دي مرحبا وي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۷۴، رقم: ۲۷۳۵.

تشريح: سيوطي رحمة الله عليه په جمع الجوامع كي د حضرت معصب ابن عبد الله څخه نقل كړي دي چي كله رسول الله ﷺ، عكرمه ابن ابو جهل را روان ولېدى نو ولاړ سو او هغه ته ور روان سو او بيا د هغه تر غاړه سو او وه يې فرمايل: مرحبا بالراكب المهاجر.

حضرت عكرمه رضي الله عنه د اسلام قبلولو څخه مخكي د خپل پلار ابو جهل په ډول د رسول الله ﷺ سره سخت عداوت درلود او د اسلام پر خلاف په هره جګړه كي مخته وو، د هغه خاص صفت ښه سپرتيا وه چي په هغه كي ډېر مشهور وو او ښه سپور منل كېدى، د مكې د فتحي په ورځ چي د اسلام دښمن طاقت په آخري توګه ذره ذره سو او هغه پر خطه مقدس باندي د الله تعالى د نوم اخيستونكو پوره غلبه وسوه نو عكرمه هم د مكې څخه په تېښتېدو سره يمن ته ورسېدى، بيا د هغه ښځه بي بي ام حكيم بنت حارث يمن ته ورغله او هغه يې د ځان سره د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر كړ، او هغه د رسول الله ﷺ په مخكي د خپلو تېرو كوتاهيو د پښېمانى

اظهار وکړ او د بخښني غوښتونکی سو ، د رسول الله ﷺ په مبارک لاس يې اسلام قبول کړ او د اسلام داسي شتمني يې په برخه سول چي د فخر وړ جوړ سو ، تر دې چي د الله تعالی د دين د بيرغ په پورته کولو سره يې خپل ځان قربان کړ او د يرموک په غزا کي د شهادت په مرتبه فائز سو .

ځرګنده دي وي چي په دغه حديث کي د سفر څخه راتلونکي کس ته د ښه راغلاست ذکر دی او ښه راغلاست ويل د مصافحې سره يو ډول مناسبت لري په دې اعتبار دغه حديث دلته (د مصافحې په باب کي) نقل سوی دی .

د رسول ﷺ بدن مچول

﴿۴۴۸۰﴾: وَعَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ بَيْنَمَا هُوَ يُحَدِّثُ

د حضرت اسيد بن حضير انصاري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه يوه ورځ د خپل قوم سره خبري

الْقَوْمَ وَكَانَ فِيهِ مِزَاحٌ بَيْنَا يُضْحِكُهُمْ فَطَعَنَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

کولې او دی ټوکی (مسخر کونکی) وو ، له دې کبله خلکو د هغه د خبرو سره خندل او هغه په خپلو خبرو سره قوم خندوی چي رسول الله ﷺ د هغه تشی په ډيکه ووهئ ،

خَاصِرَتِهِ بِعُودٍ فَقَالَ أَصْبِرْنِي فَقَالَ اصْطَبِرْ قَالَ إِنَّ عَلَيْكَ قَمِيصًا وَلَيْسَ عَلَيَّ

هغه رسول الله ﷺ ته وويل ما ته د دې بدله راکړه ، رسول الله ﷺ ورته فرمايل (ښه دئ) بدله واخله ، هغه ورته وويل : ستاسو ﷺ پر بدن جامه ده او زه لوڅ وم ، نبي کريم ﷺ خپل قيمص

قَمِيصٌ فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَمِيصِهِ فَاحْتَضَنَهُ وَجَعَلَ يُقَبِّلُ كَشْحَهُ قَالَ إِنَّمَا أَرَدْتُ هَذَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ . رواه ابوداؤد.

واړوئ ، اسيد رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ تشي ته ور جوخت سو او د هغه مچول يې پيل کړل بيا يې وويل اې د الله رسوله ! ما يوازي دا غوښتل (يعني ستاسو بدن مبارک مي مچول غوښتل) . ابو داؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۳۹۴، رقم: ۵۲۲۴.

د لغاتو حل: كشحه: اى جنبه (بغل يې).،

تشريح لفظ د (رجل) په مصابيح کي د لام په زېر سره ذکر سوی دی او د دې متقاضي دی چي د

كوم چا په مزاج كي خوش طبعي او ظرافت وو او هغه د رسول الله ﷺ د بدلې غوښتنه وكړه هغه په خپله اسيد رضي الله عنه دی، لكه څرنګه چې د ژباړې څخه څرګنده سوه، مګر په جامع الاصول كي دغه لفظ رجل نه دی بلكه رجلا نقل سوی دی، د روايت الفاظ داسي دي: عن اسيد بن حضير قال ان رجلا من الانصار كان فيه مزاح فبينما هو يحدث القوم يضحكم اذ طعنه النبي ...الخ،
ژباړه: د حضرت اسيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي په انصارو كي يو سړی وو چي د هغه په مزاج كي خوش طبعي او ظرافت وو، يو وخت چي هغه د خلكو سره خبري كولې او هغوی يې خندول نو نبي كريم ﷺ هغه په بغل كي په لرګي ووهی...الخ، ددې څخه دا څرګنده سوه چي په خوش طبعي او ظرافت سره خندونكی او د رسول الله ﷺ د بدلې غوښتنه كونكی بل څوک وو او خپله اسيد رضي الله عنه نه وو، حضرت اسيد رضي الله عنه خو د هغه پيښي بيانونكی دی.

طيبي رحمة الله عليه د جامع الاصول د روايت سره سم د حديث د متن په روايت كي توجيه او تاويل كولو سره ددې هڅه كړې ده چي صاحب واقعه خپله اسيد رضي الله عنه نه دی بلكه هغه محض ددغه پيښي راوي دی او هغه ځكه هڅه كړې ده چي حضرت اسيد رضي الله عنه يو جليل القدر صحابي وو د هغه تعلق د لوړي درجې د صحابه كرامو څخه وو نو د هغه د شان څخه دا خبره ليري معلوميږي چي ددغه پيښي تعلق د هغه سره وي، والله اعلم.

رسول الله ﷺ هغه په بغل كي په لرګي ووهی: ددغه الفاظو محمول دادی چي هغه كس د مزاح او ظرافت يې پرېښود او خپلو خبرو يې خلک خندول ځكه رسول الله ﷺ هم په دې خوشحاله سو او د مزاح په توګه يې هغه په لرګي ووهی، ددې څخه معلومه سوه چي د خوش طبعي او ظرافت خبري كول او د هغه خبرو اورېدل مباح دي په شرط ددې چي د هغه په وجه د يو غير شرعي او منع خبرو صادرېدل نه وي.

معانقه او مچول

﴿۴۴۸۱﴾: وَعَنِ الشَّعْبِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلَقَّى جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَالْتَزَمَهُ وَقَبَّلَ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ. رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان مرسلا وفي بعض نسخ المصابيح وشرح السنة عن البياضي متصلا.

د حضرت شعبي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ د جعفر بن ابو طالب سره يو ځای سو او د هغه سره غاړه په غاړه سو نو هغه يې د سترګو په منځ كي مچ كړ. ابوداؤد، بيهقي په شعب

الايمان كي مرسلا روايت كړې دئ، د مصابيح په ځينو نسخو كي او په شرح السنه كي د بياضي څخه مرسلا روايت دئ.

تخريج: سنن ابي داود ٥\ ٣٩٢، رقم: ٥٢٢٠، والبغوي في شرح السنة ١٢\ ٢٩٢، رقم: ٣٣٢٧، ولم نجده في الشعب.

تشريح: د حضرت جعفر رضي الله عنه د حبشې څخه راتلل د دغه واقعې سره متعلق دي چي د هغه ذكر په مخكي حديث كي هم راغلی دی.

بياضي بياضه ابن عامر ته منسوب دی او په جامع الاصول كي ليكلي دي چي هلته مطلق بياضي بېله نامه نقل سوی دی هلته به حضرت عبد الله ابن جابر انصاري صحابي مراد وي.

﴿۴۴۸۲﴾: وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ أَبِيْ طَالِبٍ فِيْ قِصَّةِ رُجُوْعِهِ مِنْ أَرْضِ الْحَبَشَةِ قَالَ

حضرت جعفر بن ابو طالب رضي الله عنه د حبشې څخه د راګرځېدو د قصې په بيانولو سره فرمايي چي

فَخَرَجْنَا حَتّٰى أَتَيْنَا الْمَدِيْنَةَ فَتَلَقَّانِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

موږ د حبشې څخه را روان سو مديني ته راغلو، رسول الله صلى الله عليه وسلم زموږ سره يو ځای سو او زه يې د

فَاعْتَنَقَنِيْ ثُمَّ قَالَ مَا أَدْرِيْ أَنَا بِفَتْحِ خَيْبَرَ أَفْرَحُ أَمْ بِقُدُوْمِ جَعْفَرٍ وَوَافَقَ ذٰلِكَ فَتْحُ خَيْبَرَ. رواه في شرح السنة.

خپل غاړي مباركي سره جوخت كړم او وه يې فرمايل: زه نه سم ويلای چي ما ته د خيبر د فتح خوشحالي زياته ده يا د جعفر راتګ، جعفر په دغه ورځ راغلی وو په كومه ورځ چي خيبر فتح سوی وو. شرح السنه..

تخريج: البغوي في شرح السنة ١٢\ ٢٩١، رقم: ٣٣٢٧.

تشريح: د امام شافعي رحمه الله استاد او شيخ سفيان ابن عيينه په اړه نقل سوي دي چي هغه يوه ورځ د امام مالك رحمه الله په خدمت كي حاضر سو، امام مالك رحمه الله د هغه سره مصافحه وكړه او وه يې فرمايل: كه معانقه بدعت نه وای نو ما به ستا سره معانقه هم كړې وای، حضرت سفيان رحمه الله وويل: معانقه خو هغه خلكو كړې ده چي زما او ستا څخه غوره وو، د حبشې څخه د حضرت جعفر رضي الله عنه د راتلو پر وخت رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه سره معانقه وكړه او هغه يې مچ كړ، امام مالك رحمه الله وفرمايل: صحيح ده مګر هغه د حضرت جعفر رضي الله عنه سره خاص وو، حضرت سفيان

رحمة الله عليه جواب ورکړ، يا، هغه معانقه د حضرت جعفر رضي الله عنه سره خاص نه وه او که زموږ تعلق د صحابه کرامو څخه نه وي نو موږ او جعفر يو ډول حيثيت لرو، که تاسو اجازه راکړئ نو زه به ستاسو په مجلس کي دا حديث بيان کړم، امام مالک رحمة الله عليه وفرمايل: هو، زه اجازه درکوم، نو حضرت سفيان رحمة الله عليه حديث په خپل سند سره بيان کړ او امام مالک رحمة الله عليه خاموشي اختيار کړه.

د رسول ﷺ لاسونه او پښي مچول

﴿۴۴۸۳﴾: وَعَنْ زَارِعٍ وَكَانَ فِي وَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ قَالَ لَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ فَجَعَلْنَا نَتَبَادَرُ مِنْ رَوَاحِلِنَا فَنُقَبِّلُ يَدَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِجْلَهُ. رواه ابوداؤد.

زارع چي د عبد القيس په ډله کي ګډ وو وايي کله چي موږ مديني ته راغلو نو موږ په تلوار تلوار د خپلو سپرليو څخه کښته سو او موږ د رسول الله ﷺ لاس او پښي مبارکي مچ کړلې. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۹۵، رقم: ۵۲۲۵.

د لغاتو حل: نتبادر: اى نتسابق في النزول من رواحلنا.

تشريح: د دغه حديث د ظاهري مفهوم څخه معلوميږي چي د پښو مچول جائز دي مګر فقهاوو دا منع ګرځولي دي، هغوى د دغه حديث دا تاويل کوي چي يا خو دا د رسول الله ﷺ د خصائصو څخه وو چي يوازي د رسول الله ﷺ د پښو مچول وو، يا دا چي دا د اسلام په پېل کي وو او بيا منع سو، يا هغه خلک د دغه مسئلې څخه ناخبره وه او د دغه ناخبرۍ په وجه د رسول الله ﷺ پښه مبارکه يې مچ کړل او يا د ليدني د شوق د اضطراري حالت څخه هغوى دغه کار وکړ.

د اولاد مچول

﴿۴۴۸۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا كَانَ أَشْبَهَ سَمْتًا

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دئ چي ما په هيئت او طريقه، سيرت، عادت او شکل کي او

وَهَدْيًا وَدَلًّا وَ فِي رواية حَدِيثًا وَكَلَامًا بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ

په يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي په خبرو او کلام کي د رسول الله ﷺ سره زيات مشابه تر

فَاطِمَةَ كَانَتْ إِذَا دَخَلَتْ عَلَيْهِ قَامَ إِلَيْهَا فَأَخَذَ بِيَدِهَا وَقَبَّلَهَا وَأَجْلَسَهَا فِي

بي بي فاطمې بل څوک نه دی ليدلی ، (په دې ټولو شيانو کې بي بي فاطمه د رسول الله ﷺ مشابه وه) کله چې به بي بي فاطمه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره سوه نو رسول الله ﷺ به ورته ولاړ سو او پر تندي به یې مچ کړه

مَجْلِسِهِ وَكَانَ إِذَا دَخَلَ عَلَيْهَا قَامَتْ إِلَيْهِ فَأَخَذَتْ بِيَدِهِ فَقَبَّلَتْهُ وَأَجْلَسَتْهُ فِي مَجْلِسِهَا. رواه ابوداؤد.

او پر خپل ځای به یې کښېنول او کله چې به رسول الله ﷺ د بي بي فاطمې ﷞ کره ولاړی نو بي بي فاطمه به ورته ولاړه سوه د رسول الله ﷺ لاس مبارک به یې په خپل لاس کې واخيست او مچ به یې کړی او پر خپل ځای به یې کښېنوئ . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۹۱، رقم: ۵۲۱۷.

د لغاتو حل: الدل: حسن الشمائل

﴿۴۴۸۵﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ أَبِي بَكْرٍ أَوَّلَ مَا قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَإِذَا عَائِشَةُ ابْنَتُهُ مُضْطَجِعَةٌ قَدْ أَصَابَتْهَا حُمَّى فَأَتَاهَا أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ كَيْفَ أَنْتِ يَا بُنَيَّةُ وَقَبَّلَ خَدَّهَا . رواه ابوداؤد.

د حضرت براء ﷜ څخه روایت دئ چې کله ابوبکر ﷜ مدينې ته راغلی (يعني د يوې غزا څخه را ستون سو) نو زه ورسره د هغه کور ته ورغلم ما وليدل چې د هغه لور بي بي عائشه پرته وه او تبه یې وه ، حضرت ابوبکر صديق ﷜ هغې ته ورغلی او پوښتنه یې وکړه لوري څنګه یې ؟ بيا یې پر مخ مچ کړل . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۹۳، رقم: ۵۲۲۲.

اولاد د بزدلۍ سبب دئ

﴿۴۴۸۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِصَبِيٍّ فَقَبَّلَهُ فَقَالَ أَمَا إِنَّهُمْ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ وَإِنَّهُمْ لَمِنْ رَيْحَانِ اللهِ . رواه في شرح السنة.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ چي يو کوچنی نبي کريم ﷺ ته راوستل سو رسول الله ﷺ هغه مچ کړ او وه يې فرمايل دا اولاد د. بخل باعث دئ دا اولاد د بيري سبب دئ او دا اولاد د خداى جل جلاله نعمت دى. شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ١٣\٣٥، رقم: ٣٤٤٨.

د لغاتو حل: ريحان الله: اى من رزق الله. (د الله جل جلاله روزي)

تشريح: د اولاد په اړه چي رسول الله ﷺ څه فرمايلي دي د هغه څخه دې ته اشاره کول مقصد دي چي اولاد په انسان باندي هر څه کوي، يو پلار د خپل اولاد لپاره نه يوازي دا چي په مختلفو وسائلو اختيارولو سره روپۍ ګټي او اسباب تياروي بلکه د کوچنيانو راتلونکى هغه په دې مجبوره کوي چي هغه څه ګټلي دي هغه وساتي تر دې چي د اولاد فکر يې بخيل جوړ کړي چي هغه د خپل مال څخه د الله تعالى په لاره کي مصرف نه کوي او نه د انساني ښېګڼې او همدردۍ په کارو کي مرسته کوي او بيا دا چي د اولاد مينه وي چي انسان تر دې حده بې زړه کوي چي هغه د اعلاء كلمة الحق او د دين د سرلوړۍ خپل فرض هم هيروي د جهاد کولو او جګړې ته تلو څخه منع کوي دغه خوف هغه د ميړاني او شجاعت ښوونې څخه منع کوي او وايي که زه د جنګ په ميدان کي ووژل سم يا ونېول سم نو زما د اولاد به څه حال وي؟ د هغوى ساتنه او روزنه به څرنګه کيږي او زما کوچنيان به د پلار د سايې څخه په محروم کېدو سره په کوم ډول تکليف او مشقت کي اخته سي.

مخکي خو رسول الله ﷺ د اولاد په اړه داسي بدي بيان کړه او بيا وروسته يې د اولاد يوه خوبي او د هغه تعريف هم بيان کړ، رسول الله ﷺ وفرمايل: دغه کوچنيان ريحان دي، د ريحان معنى د روزۍ او نعمت هم ده او ريحان هغه بوټي ته هم وايي چي خوشبويي لرونکى وي، په دواړو صورتو کي د اولاد مدح او تعريف ظاهريږي او په دې کي څه شک هم نسته چي کوچنيان د مور او پلار په حق کي د رزق درجه لري که د مور او پلار غېږ د اولاد څخه خالي وي نو د هغوى مينه او جذبه داسي پرېشانه وي لکه څرنګه چي يو وږى د روزۍ نه تر لاسه کولو په صورت کي مضطرب وي همدارنګه کوچنيان په اصل کي د الله تعالى له خوا مور او پلار ته د يو عظيم نعمت په توګه ورکول کيږي داسي نعمت چي د هغوى د ژوند مرسته کونکي هم وي او د هغوى د کور څراغ هم او که چيري د ريحان څخه خوشبويي لرونکى بوټى مراد واخيستل سي نو بېله شکه او شبهې کوچنيان د خپل مور او پلار او کورنۍ په نظر کي د ګل درجه لري لکه څرنګه چي يو سړى د ګل په لېدو سره خوشحالي تر لاسه کوي او په بويولو سره يې دماغ معطر کوي

همدارنګه د کوچنیانو په لېدو سره هم خوشحالئ محسوس کوي ، د هغوی سره په مینه کولو سره د هغوی په مچولو سره او د هغوی سره په خوش طبعي کولو سره خوشحالي تر لاسه کوي.

اَلْفَصْلُ الثالث (دریم فصل)

انسان او دده اولاد

﴿۴۴۸۷﴾: عَنْ يَعْلٰى قَالَ اِنَّ حَسَناً وَحُسَيْنًا اِسْتَبَقَا إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَمَّهُمَا إِلَيْهِ وَقَالَ إِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ. رواه احمد.

د حضرت يعلي رضي الله عنه څخه روایت دئ چي حضرت حسن او حضرت حسين (رض) رسول الله ﷺ ته په منډه راغلل او رسول الله ﷺ هغوی ځان ته را کش کړل او وه یې فرمایل اولاد د بخل سبب دئ اولاد دبیري سبب دئ . احمد .

تخریج: مسند الامام احمد ۴\۱۷۳.

تشریح: علماوو ليکلي دي چي دلته د ذکر سوو الفاظو څخه د کوچنیانو سره د شفقت او میني او د تعريف اظهار مقصود دی حال دا چي په مخکني حديث کي ددغه الفاظو په ذریعه د کوچنیانو د بدي او کراهت اظهار سوی دی .

هديه او مصافحه

﴿۴۴۸۸﴾: وَعَنْ عَطَاءِ الْخُرَاسَانِيِّ اِنَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَصَافَحُوا يَذْهَبُ الْغِلُّ وَتَهَادَوْا تَحَابُّوا وَتَذْهَبُ الشَّحْنَاءُ. رواه مالك مرسلا.

د حضرت عطاء خراساني رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مصافحه (دلاس روغبړ) کوئ په دې سره بغض لیري کیږي او هدیه او تحفه یو بل ته لیږئ په دې سره مینه زیاتیږي او دښمني ختمیږي . مالک.

تخریج: موطا الامام مالک ۲\۹۰۸، رقم: ۱۶.

﴿۴۴۸۹﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى أَرْبَعًا قَبْلَ الْهَاجِرَةِ فَكَأَنَّمَا صَلاَّهُنَّ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَالْمُسْلِمَانِ إِذَا

تَصَافَحَا لَمْ يَبْقَ بَيْنَهُمَا ذَنْبٌ إِلاَّ سَقَطَ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوک چي تر غرمې څلور ركعته وكړي دومره ثواب لري لكه په ليلة القدر كي چي وكړل سي ، او دوه مسلمانان چي په خپل منځ كي مصافحه كوي نو د هغوی په منځ كي هيڅ گناه داسي نه پاته كيږي چي هغه ونه بخښل سي . بيهقي .

تخريج : البهيقي في شعب الايمان ۶\ ۴۷۴، رقم: ۸۹۵۵.

تشريح : په ځرگنده دا معلوميږي چي د گناه څخه مراد عام گناهونه دي مگر طيبي رحمة الله عليه ويلي دي: چي د گناه څخه مراد بغض، كينه او دښمني ده لكه ځرنگه چي تر دې مخكي په حديث كي بيان سوي دي .

=========

بَابُ الْقِيَامِ

(د تعظيم لپاره د دريدو بيان)

د قيام (دريدو) څخه مراد د يو چا د تعظيم لپاره دريدل دي، ځيني علماوو ليكلي دي چي په مجلس كي يا د راتلونكي سړي د تعظيم او عزت لپاره دريدل مسنون دي ، دغه حضراتو د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد څخه استدلال كړی دی چي : قوموا الى سيدكم، او ځيني حضرات وايي چي مكروه او بدعت دی، او ددې منع ثابت ده ، دهغوی دليل دادی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ځرنگه چي عجميان دريږي همدارنگه تاسو مه دريږئ، او وه يې فرمايل چي دا د عجميانو رواج دی .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د اهل فضل تعظيم

﴿۴۴۹۰﴾: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ بَنُو قُرَيْظَةَ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د بنو قريظه يهودو د حضرت سعد رضي الله عنه پر

عَلَى حُكْمِ سَعْدٍ بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اليه وَكَانَ قَرِيبًا مِنْهُ

پریکړه امادګي څرګنده کړه نو رسول الله ﷺ سعد بن معاذ راوغوښتئ، سعد رضی الله عنه هغه ځای ته

فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ فَلَمَّا دَنَا مِنَ الْمَسْجِدِ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نژدې وو هغه پر خره سپور راغلی کله چې مسجد نبوي ته رانژدې سو نو رسول الله ﷺ انصارو

لِلْأَنْصَارِ قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ. متفق عليه. و مضى الحديث بطوله في باب حكم الاسراء.

ته وفرمايل: تاسو خپل سردار ته ولاړ سئ. بخاري او مسلم، ددې پوره حديث د بنديانو د احکامو په باب کې تير سوی دئ.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۱۱، رقم: ۴۱۲۱، ومسلم ۳\۱۳۸۸، رقم: ۶۴ - ۱۷۶۸.

تشريح: بنو قريظه د مدينې منورې د يهوديانو د يوې قبيلې نوم دی، په پنځم هجري کال کې د خندق د غزا په دوران کې دغه يهوديانو د منافقانو کردار ادا کړ او سره د پخوانی معاهدې سره سم هغه يهوديانو ته هم د مسلمانانو سره اوږه پر اوږه د کفارو مقابله کول پکار وو مګر هغوی د خپل بدعهدۍ او شرارت مظاهره وکړه او د مختلف ډول فلانونو په ذريعه د هغه عهد ماتولو لپاره د کفارو آله کار جوړ سول، د هغوی ددغه بدعهدۍ په وجه رسول الله ﷺ د خندق د غزا څخه د فارغه کېدو وروسته د بنو قريظه سره د جنګ اعلان وکړ او هغه ټول يهوديان يې په هغه قلعه کې پر محصور کېدو مجبور کړل، د مسلمانانو له خوا د بنو قريظه په قلعه کې محاصره تر پنځه ويشت ورځو پورې جاري وه، په پا يکې يهوديانو دا تجويز وکړ چې زموږ معامله دې حضرت سعد ابن معاذ رضی الله عنه ته وسپارل سي چې د اوس قبيلې سردار وو، او د اوس قبيله د بنو قريظه حليف وو، هغه يهوديانو وويل: موږ حضرت سعد رضی الله عنه خپل ثالث منو، هغه چې زموږ په اړه کومه فيصله وکړي موږ هغه خامخا منو، د يهوديانو خيال وو چې حضرت سعد رضی الله عنه زموږ د قبيلې سردار دی او د هغوی او زموږ په مينځ کې خاص تعلقات دي ځکه نو حضرت سعد رضی الله عنه به يقينا زموږ په حق کې فيصله وکړي نو رسول الله ﷺ حضرت سعد رضی الله عنه راوغوښت چې هغه راسي او په دې اړه يو فيصله وکړي. حضرت سعد رضی الله عنه که څه هم هغه وخت د رسول الله ﷺ تم ځای ته نژدې وو مګر د خندق په غزا کې هغه سخت زخمي سوی وو او په خاصه توګه پر رګ

زخمي سوی وو چي د هغه څخه وينه روانه وه ځکه نو پر خره باندي په سپرېدو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، هغه وخت هم د زخم څخه وينه روانه وه مګر دا د رسول الله ﷺ معجزه وه چي کله رسول الله ﷺ را وبلی نو وينه يې ودرېدل، په هر حال حضرت سعد رضي الله عنه راغلی او هغه د ټولي معاملې پر مختلفو اړخونو باندي په فکر کولو سره او د هغوی د بدعهدۍ د جرم په وجه د هغوی د شريعت مطابق چي کومه فيصله وکړه د هغې خلاصه دا وه چي د هغوی جنګېدونکي خلک دي قتل کړل سي ، ښځي او کوچنيان دي يې غلامان وګرځول سي او د هغوی سامان دي وويشل سي، پر دغه فيصله باندي تر يو حده پوري عمل هم وسو ،

دلته په حديث کي د هغه وخت د پېښي ذکر دی کله چي حضرت سعد رضي الله عنه راتلی نو رسول الله ﷺ انصارو ته وفرمايل: وګورئ ستاسو سردار را روان دی ولاړ سئ، زيات علماء ددغه حديث څخه استدلال کوي او وايي که چيري د فضل خاوند او معزز سړی راسي نو د هغه د عزت او احترام لپاره درېدل پکار دي، دديې پر خلاف ځيني علماء وايي چي : قوموا الى سيدكم، څخه د رسول الله ﷺ دا مراد نه وو چي د سعد رضي الله عنه د تعظيم او عزت لپاره ولاړ سئ لکه څرنګه چي د يو لوی سړي پر راتلو باندي د درېدو رواج دی او د هغه منع ثابت ده او دا عمل د رسول الله ﷺ په نزد د ژوند تر آخري زمانې پوري ناخوښه وو، يحيى رحمه الله وايي: که چيري ددغه ارشاد څخه د رسول الله ﷺ مراد د تعظيم او عزت لپاره د درېدو حکم ورکول وي نو رسول الله ﷺ به په دغه وخت کي : قوموا الى سيدكم، نه فرمايلای بلکه دا به يې فرمايلای چي: قوموا لسيدكم، نو ددغه علماوو مطابق ددغه حکم څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي وګورئ ستاسو سردار سعد رضي الله عنه را روان دی او د هغه حالت ښه نه دی، ژر ولاړ سئ او د هغه د سپرلۍ څخه په راکښته کېدو کي مرسته وکړئ چي د کښته کېدو په وخت کي هغه په تکليف نسي او د زيات حرکت په وجه د زخم څخه وينه ونه بهيږي، ددغه علماوو له خوا داهم ويل کيږي چي دغه روايت چي حضرت عکرمه رضي الله عنه ابن ابي جهل د رسول الله ﷺ خدمت کي حاضر سو نو رسول الله ﷺ د هغه د تعظيم لپاره درېدلی وو يا د حضرت عدي ابن حاتم دا روايت چي نقل کيږي چي هغه وويل کله چي به زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم نو رسول الله ﷺ به زما لپاره ودرېدی يا به د خپل ځای څخه وښورېدی نو ددغه روايتو څخه استدلال کول صحيح نه دي ځکه چي محدثينو دغه روايتونه ضعيف ګرځولي دي .

کوم حضرات چي د اهل فضل او کمال پر راتلو باندي درېدل جائز ګرځوي د هغوی وينا داده که چيري د حضرت عکرمه او حصرت عدي رضي الله عنهما په اړه ذکر سوي روايتونه

ضعیف وي او د هغو څخه استدلال کول صحیح نه وي نو بیا د هغه روایت په اړه به څه ویل کیږي کوم چي د بي بي فاطمې ﷺ په اړه نقل سوی دی چي کله به رسول الله ﷺ بي بي فاطمې ﷺ ته تشریف راوړ نو بي بي فاطمه ﷺ به د رسول الله ﷺ لپاره دریدل، او کله چي به بي بي فاطمه ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سول نو رسول الله ﷺ به د هغې لپاره دریدی، که د دغه روایت دا تاویل وکړل سي چي د رسول الله ﷺ دریدل د میني د اظهار او د استقبال په توګه وو نه د تعظیم او عزت په توګه نو دغه تاویل به د حقیقت څخه لیري ګڼلو څخه خالي نه وي ، د دې څخه پرته خپله طیبي رحمة الله علیه د محي السنة څخه نقل کړي دي چي د جمهورو علماوو پر دې اتفاق دی چي د دغه حدیث سره سم د اهل فضل او کمال په ډول علماء کرامو، صالحانو او بزرګانو عزت او اکرام کول جائز دي د دې څخه پرته محي الدین نووي رحمة الله علیه دا لیکلي دي چي دغه دریدل د اهل فضل د راتلو په وخت کي مستحب دي او نه یوازي دا چي په دې اړه احادیث هم منقول دي بلکه د دې صریح منع د هیڅ صحیح حدیث څخه ثابت نه ده .

په مطالب المؤمنین کي د قنیه په حوالې سره دا نقل سوي دي چي د راتلونکي کس د تعظیم په توګه د ناست خلکو قیام یعني دریدل مکروه نه دي او دا چي قیام بنفسه مکروه نه دي بلکه د قیام طلب او خوښول مکروه دي ، هغه قیام هیڅکله مکروه نه دی چي د یو داسي سړي لپاره وکړل سي چي نه خو د ځان لپاره قیام طلب کوي او نه یې خوښوي .

قاضي عیاض مالکي رحمة الله علیه دا هم لیکلي دي چي د دریدو د منع تعلق د هغه چا لپاره دی چي ناست وي او د هغه تر ناستي پوري خلک ورته ولاړ وي لکه څرنګه چي په یوه حدیث کي منقول دي ، خلاصه دا چي که چیري یو سړی داسي معلوم سي چي د علم او فضل خاوند دی نو د هغه د تعظیم او عزت په توګه دریدل جائز دي په دې کي هیڅ پروا نسته مګر د داسي سړي په وړاندي دریدل چي نه یوازي دا چي د دغه عزت مستحق نه وي بلکه پر خپل راتلو باندي هغه د خلکو د دریدو غوښتنه او خواهش هم لري نو دا مکروه دي او همدارنګه د بې ځایه ښه راغلاست په توګه دریدل هم مکروه دي او د شتمنو خلکو لپاره دریدل او د هغوی عزت کول هم ډېر سخت مکروه دي او په دې اړه ډېر سخت وعید هم نقل سوی دی .

په مجلس کي ناست مه ولاړوئ

﴿۴۴۹۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُقِيمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مجلسه ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ وَلٰكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا. متفق عليه .

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوک دي د خپل ناستي لپاره بل سړی د هغه ځای څخه نه ولاړوي مگر پراخه کوئ ځايونه او ځای ورکوئ خلکو ته . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۶۲، رقم: ۶۲۶۹، ومسلم ۴\۱۷۱۴، رقم: ۳۱- ۲۱۷۷.

تشريح: ځينو حضراتو دا ويلي دي چي د ولکن څخه وروسته ليقل لفظ مقدر دی يعني د مفهوم په اعتبار اصل عبارت داسي دی : ولکن ليقل تفسحوا وتوسعوا، په دغه صورت کي به معنی دا وي چي هيڅوک دي بل څوک د هغه د ځای څخه په ولاړولو سره نه کښېني، بلکه هغه دي داسي وايي چي په پراخې سره کښېنئ او راتلونکي کس ته ځای ورکړئ .

امام نووي رحمة الله عليه وايي : په حديث کي ذکر سوې منع د نهي تحريمي په توگه ده ، مطلب دادی که چيري يو سړی يو داسي ځای ته مخکي په رسېدو سره کښيني کوم چي د يو چا لپاره خاص نه وي د مثال په توگه د جمعې وغيره په ورځ مسجد ته په داسي وخت کي ورسيږي او په اول صف کي کښېني يا ددې څخه پرته په بل مجلس وغيره کي مخکي په رسېدو سره په يو عام ځای کي کښېني نو پر هغه ځای به تر ټولو زيات حقدار هم هغه وي د بل چا لپاره به دا حرام وي چي هغه سړی د ځای څخه ولاړ کړي او خپله هلته کښېني .

د خپل ځای حقداره

﴿۴۴۹۲﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَامَ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوک چي په يو مجلس کي د خپل ځای څخه (د يو ضرورت لپاره) ولاړ سي او بيرته راسي نو د خپل ځای هغه زيات ور دئ . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۱۷۹، رقم: ۳۱- ۲۱۷۹.

تشريح: علماوو ليکلي دي چي دغه حکم په هغه صورت کي دی کله چي هغه سړی د خپل ځای څخه په دې ارادې او نيت ولاړ سوی وي چي بيرته به خپل ځای ته راځي، د مثال په توگه هغه د اوداسه لپاره ولاړ سوی وي يا هغه ته يو داسي ضرورت پېښ سوی وي چي د هغه په وجه د لږ وخت لپاره ولاړېدل ضروري سوی وي او بيا هغه په اودس کولو سره يا د هغه کار په پوره کولو

سره بيرته راسي نو د هغه ځاى زيات مستحق به هم هغه سړى وي ، په دغه صورت كي كه چيري بل سړى راسي او د هغه پر ځاى كښيني نو د هغه ولاړول به صحيح وي ځكه چي هغه اول سړى پر هغه ځاى د ناستي څخه محروم سوى نه دى په دې توګه چي هغه په عارضي توګه د يو ضرورت لپاره تللى دى او بيرته راغلى دى نو پر دغه ځاى به د هغه حق برقرار وي ، ددې تائيد د راتلونكي يو حديث څخه هم كيږي چي په هغه كي بيان سوى دى چي رسول الله ﷺ به كوم ځاى ناست وو بيا به د هغه ځاى څخه په ولاړېدو د ضرورت لپاره ولاړى او بېرته د راتلو اراده به يې وه نو رسول الله ﷺ به پر هغه ځاى خپل څپلۍ پرېښودلې ، مګر څرګنده دي وي كه يو سړى د خپل ځاى په پرېښودو سره د مجلس څخه ولاړ سي او د يو ضرورت لپاره ليري ځاى ته ولاړ سي او بيا بېرته راسي نو په دغه صورت كي به د هغه خپل پخوانۍ ځاى مستحق نه وي كه څه هم هغه پر خپل ځاى څپلۍ وغيره اېښي وي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

مكروه كار

﴿۴۴۹۳﴾ : عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمْ يَكُنْ شَخْصٌ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانُوا إِذَا رَأَوْهُ لَمْ يَقُومُوا لِمَا يَعْلَمُونَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذٰلِكَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث صحيح.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي صحابه كرامو تر رسول الله ﷺ بل هيڅوک زيات محبوب او عزيز نه ګڼئ مګر د هغوى دا عادت وو چي كله به رسول الله ﷺ تشريف راوړ نو دتعظيم لپاره به ورته نه دريدل ځكه چي هغوى په دې پوهيدل چي رسول الله ﷺ دا كار مكروه ګڼئ . ترمذي دا حديث حسن صحيح دئ .

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۸۴، رقم: ۲۷۵۴.

تشريح: رسول الله ﷺ دخپل انكسارۍ او تواضع د اظهار او د متكبرينو د طريقو د مخالفت په وجه دا خبره نه خوښول چي كله رسول الله ﷺ مجلس ته راسي نو صحابه كرام دي د رسول الله ﷺ د لېدو سره د تعظيم لپاره ولاړ سي بلكه رسول الله ﷺ په درېدو ، كښېنستو ، خوراک، څښاک او نورو كارو كي د تكلفاتو پر ترک بآندي قائم وو چي د عربو عادت وو ځكه رسول

الله ﷺ وفرمایل : انا واتقياء امتي براء من التكلف.، يعني زه او زما د امت متقیان خلک د تکلف څخه بېزاره دي .

طيبي رحمه الله وايي : دغه شی نه خوښول د کمال محبت، د باطن د پاکوالي او اتحاد قلوب په وجه وو، چې قلبي اتحاد او د تعلق کمال د داسي تکلفاتو متقاضي نه وي .

خلاصه دا چې د تعظیم لپاره درېدل او نه درېدل د دواړو صورتو تعلق د وخت او حالاتو او اشخاصو پر تفاوت مبني وي چې ځيني وختونه او په ځينو حالاتو کي د راتلونکي لپاره درېدل مناسب وي او په ځينو حالاتو او وختو کي درېدل مناسب نه وي په خاصه توګه په هغه صورت کي کله چې دا معلومه سي چې راتلونکی کس درېدل نه خوښوي ، يا په خپلو کي تعلقات د تکلفاتو محتاج نه وي او د داسي سړي لپاره درېدل جائز نه دي چې هيڅ ډول ديني فضيلت نه لري بلکه دنياوي حيثيت لري .

خلک ولاړ مه ساتئ

﴿۴۴۹۴﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ . رواه الترمذي وابوداؤد

د حضرت معاويه رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم څوک چې دا خبره خوښوي چې خلک د هغه لپاره ولاړ سي نو هغه ته پکار ده چې په دوږخ کي خپل د ناستي ځای تیار کړي . ترمذي او ابوداؤد .

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۸۴، رقم: ۲۷۵۵، وابوداود ۵\ ۳۹۷، رقم: ۵۲۲۹.

تشريح: تیار کړئ: دغه امر د خبر په معنی کي دي يعني ددغه بيان په ذريعه رسول الله ﷺ دا خبر ورکړی دی چې کوم څوک په دې خبره سره خوشحاله کيږي چې خلک د هغه په مخکي په ادب سره ولاړ وي نو هغه ته دي معلومه وي چې هغه خپل ځان په دوږخ کي د داخلېدو مستوجب ګرځولی دی .

علماؤ ليکلي دي چې دغه وعيد د هغه چا په اړه دی چې هغه د تکبر او د خپل تعظیم کولو لپاره خپل مخکي خلک درېدل خوښوي مګر که يو سړی دا غوښتنه او خواهش نه لري بلکه خپل په خپله خوښه د هغه د خدمت لپاره يا د ثواب د طلب لپاره د هغه په مخکي ولاړ وي نو په دې کي څه پروا نسته ، خلاصه دا چې منع او مکروه دغه شی دی چې د خپل تعظیم او احترام

لپاره او د خپلي لويي د اظهار لپاره خلک خپل مخکي ولاړ خوښ کړل سي او که دا صورت نه وي نو بيا منع او مکروه به نه وي.

بيهقي رحمة الله عليه په شعب الايمان کي د خطابي رحمة الله عليه څخه دا نقل کړي دي چي د حديث مطلب دادی چي ددغه وعيد تعلق د هغه ځا سره دی چي هغه د تکبر په وجه خلکو ته دا حکم ورکړي چي د هغه په مخکي ولاړ سي يا د هغه خلکو لپاره دا ضروري وګرځول سي چي کله د هغه مخکي راسي نو ولاړ دي وي، او وايي چي د حضرت سعد رضي الله عنه په اړه کوم حديث تېر سوی دی هغه ددې خبري دليل دی چي د سردار، امير، فاضل، والي او عادل په مخکي دربدل لکه څرنګه چي يو شاګرد د خپل استاد په مخکي ولاړ وي مستحب دي او مکروه نه دي، بيهقي ددغه قول په وضاحت کولو سره ويلي دي چي د مذکوره خلکو دربدل په اصل کي د خير تر لاسه کولو او د تکريم په توګه د دربدو مترادف دی لکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ په حکم انصار د حضرت سعد رضي الله عنه لپاره درېدلي وه، يا حضرت طلحه رضي الله عنه د حضرت کعب ابن مالک رضي الله عنه لپاره درېدلی وو، مګر څرګنده دي وي چي کوم سړی داسي حيثيت او فضيلت لري نو د هغه په مخکي د احترام په دربدو کي څه پروا نسته مګر د هغه لپاره هم مناسب نه دي چي هغه د خلکو څخه په خپل مخکي دربدل وغواړي تر دې که يو سړی ونه دريږي نو د هغه سره کينه او بغض کوي يا د هغه څخه شکايت کوي او يا ور څخه ناراضه سي.

د احترام لپاره مه ولاړيږئ

﴿۴۴۹۵﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا عَلَى عَصًا فَقُمْنَا له فَقَالَ لَا تَقُومُوا كَمَا تَقُومُ الْأَعَاجِمُ يُعَظِّمُ بَعْضُهَا بَعْضًا.

رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ چي تکيه کونکی وو پر لکړه باندي نو موږ د تعظيم لپاره ولاړ سوو نو رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو د تعظيم لپاره داسي مه ولاړيږئ لکه څرنګه چي عجمي خلک ولاړيږي په هغوی کي ځيني د ځينو تعظيم کوي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۳۹۸\۵، رقم: ۵۲۳۰.

تشريح: د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي دا د عجميانو رواج دی چي کله د هغوی سردار يا يو

مشر سړی د هغوی مجلس ته راسي نو محض د هغه په لېدو سره ولاړيږي، او بيا د هغه په مخکي په ادب سره لاس تر نامه ولاړ وي، نو رسول الله ﷺ د دغه ارشاد : يعظم بعضها بعضا، ددې څخه دې ته اشاره ده چي هغوی کوچني او کمتر خلک د خپل لوی او لوړي درجې خلکو سره داسي دريږي که هغوی ورته ونه دريږي نو هغه لوی خلک ځيني ناراضه سي او بيا د تعظيم لپاره د هغوی په مخکي ولاړ وي، ددغه توجيه څخه دا خبره څرګنده سوه چي دلته په حديث کي د اصل قيام منع کېدل نه ثابتيږي چي د هغه جواز د نورو حديثو څخه ثابت دی بلکه هغه قيام منع دی چي د شان د اظهار او د تکبر په توګه وي ، يا دا خبره کيږي چي رسول الله ﷺ د تواضع او انکسارۍ په وجه صحابه کرامو د دې د څخه منع کړل لکه څرنګه چي په مخکي يو حديث کي تېر سوي دي .

﴿۴۴۹۶﴾ : وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ قَالَ جَاءَنَا أَبُو بَكْرَةَ فِي شَهَادَةٍ فَقَامَ لَهُ

د حضرت سعيد بن ابو الحسن رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حضرت ابو بکر رضي الله عنه په يوه فيصله کي د شاهدۍ لپاره تشريف راوړ

رَجُلٌ مِنْ مَجْلِسِهِ فَأَبَى أَنْ يَجْلِسَ فِيهِ وَقَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يو سړي د هغه د ناستي لپاره ځای خالي کولو په نيت ولاړ سو ، نو هغه د هغه سړي پر ځای د ناستي څخه انکار وکړ او وه يې فرمايل : نبي کريم ﷺ

نَهَى عَنْ ذَا وَنَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَمْسَحَ الرَّجُلُ يَدَهُ بِثَوْبِ مَنْ لَمْ يَكْسُهُ. رواه ابوداؤد.

ددې څخه منع فرمايلې ده او د هغه سړي په جامه دلاس وچولو څخه يې منع فرمايلې ده چي هغه ته جامه نه ورکوي (لکه زوی، مزدور) چي کالي يې ستا پر ذمه وي د هغه نفر په کالو لاس وچول ستا لپاره پروا نه لري . ابوداؤد ،

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۱۶۴، رقم: ۴۸۲۷.

تشريح: په حديث کي د ذکر سوې منع مطلب دا دی که په خوراک يا بل شي سره لاس ولړل سي نو هغه لاسونه دي د بل چا په جامه وغيره سره نه وچوي بلکه د داسي کس په جامه سره په لاس اچولو کي څه پروا نسته چي هغه جامه ورکړې وي لکه خپل اولاد يا غلام يا خادم وغيره، او

صحیح خبره داده چي د هغه پردي سړي په جامه سره په وچولو کي هم څه پروا نسته چي هغه په
ئې راضي وي، په دغه حدیث کي د لومړني جز مسئله هم قیاس کیدای سي او که دا معلومه
وي چي یو سړی د هغه لپاره د خپل ځای څخه په خوښۍ ولاړ سوی دی نو د هغه پر ځای په ناسته
کي پروا نسته لکه څرنګه چي په دغه آیت : تفسحوا في المجالس، څخه مفهوم کیږي او څرنګه
چي دغه حدیث پر دې هم دلالت کوي : صدر الدابة احق بصاحبها الا اذا اذن، او همدارنګه نور
ډېر منقولات دي چي د هغو څخه دا مفهوم اخیستل کیږي، پاته سوه دا خبره چي کله هغه سړی
د حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ لپاره په خپل خوښه ځای پرې ایښی وو نو حضرت ابوبکر صدیق
رضی اللہ عنہ د ناستي څخه ولي انکار وکړ نو د هغه د انکار سبب دا وو چي هغه ته به د هغه سړي په
خوښي کي شک سوی وي او هغه به دا محسوس کړې وي چي دغه سړی په خوښي سره نه دی
ولاړ سوی بلکه د بل سړي په وجه ولاړ سوی دی یا د شرم په وجه ولاړ سوی دی، یا دا چي د هغه
سړي د خوښۍ سربېره حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ احتیاط او تقوا په دې کي لیدلې وي چي هغه
دي دده پر ځای نه کښېني، یا هغه د منع حدیث پر اطلاق باندي محمول کړی وی او خوښي یې
هم د عدم منع سبب نه وي ګڼلی.

چي ولاړ یږي پر ځای یو شی پر یږده

﴿۴۴۹۷﴾: وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ فَقَامَ فَأَرَادَ الرُّجُوعَ نَزَعَ نَعْلَيْهِ أَوْ بَعْضَ مَا يَكُونُ عَلَيْهِ فَيَعْرِفُ ذَلِكَ أَصْحَابُهُ فَيَثْبُتُونَ. ابوداؤد.

د حضرت ابو درداء رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي کله به رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم تشریف راوړ او موږ به شاوخوا
ناست وو نو د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم دا عادت مبارک وو که چیري به د وتلو ضرورت پېښ سو یعني
کورته او بیرته د راتلو اراده به یې وه نو پر خپل ځای به یې څپلۍ، څادر وغیره ایښودل، د رسول
الله صلی اللہ علیہ وسلم صحابه کرامو ته به د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم بیرته راتګ معلومیدی او هغوی به پر خپل خپل
ځای ناست وه. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۵\ ۱۸۰، رقم: ۴۸۵۴.

تشریح: د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم شاوخوا څخه مراد د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم راسته خواته، چپه خواته او مخته
کښېنستل دي، یعني ځیني صحابه کرام به د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم راسته خواته، ځیني چپه خواته او

ځيني مخته کښېنستل ، دا معنی ځکه بيان سوې ده که چيري د چاپېره ځخه مراد څلور خواوي واخيستل سي نو دا به صحيح نه وي ځکه چي د حلقې په مېنځ کي د ناستي څخه منع راغلې ده.

د دوو کسانو په منځ کي کښېنستل

﴿۴۴۹۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ رَّسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ اثْنَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوو ناستو خلکو په منځ کي بېلوالی راوستل (يعني د هغوی په منځ کي کښېنستل) جائز نه دي مګر دا چي هغوی اجازه ورکړي. ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۸۳، رقم: ۲۷۵۲، وابوداود ۵\۱۷۵، رقم: ۴۸۴۵.

تشريح: مطلب دادی که چيري دوه کسان يو ځای ناست وي نو دريم سړي ته دا جائز نه دي چي هغه د دوو په مېنځ کي په ننوتلو سره کښېني ځکه کېدای سي چي هغه دوه کسان په خپلو کي مينه او تعلق ولري او په خپلو کي خبري کول غواړي او که دريم سړی د هغوی په مېنځ کي کښيني نو د هغه ناسته به پر هغوی باندي سخته سي ، علماوو دا وضاحت کړی دی که چيري دا معلومه سي چي دغه دوه ناست کسان مينه او تعلق نه لري نو په دغه صورت کي د هغوی په مېنځ کي ناسته پروا نه لري او که د هغوی په مېنځ کي مينه او تعلق مبهم وي نو په دغه صورت کي د احتياط تقاضا داده چي د هغوی په مېنځ کي دي نه کښيني.

﴿۴۴۹۹﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تجلس بَيْنَ رَجُلَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا. رواه ابوداؤد.

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوو کسانو په منځ کي مه کښېنه مګر د دوی په اجازه سره. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۷۴، رقم: ۴۸۴۴.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د رسول ﷺ تعظيم

﴿۴۵۰۰﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَجْلِسُ مَعَنَا فِي الْمَسْجِدِ يُحَدِّثُنَا فَإِذَا قَامَ قُمْنَا قِيَامًا حَتّٰى نَرَاهُ قَدْ دَخَلَ بَعْضَ بُيُوْتِ أَزْوَاجِهِ.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به زمونږ سره په مسجد كي ناست وو خبري به يې كولې بيا چي به كله رسول الله ﷺ ولاړيدئ نو موږ به هم ولاړيدلو او تر هغو پوري به ولاړ وو تر څو پوري چي موږ به رسول الله ﷺ په خپلو بيبيانو كي د يو چا كور ته داخل سو.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۶\۴۶۷، رقم: ۸۹۳۰.

تشريح: كله چي به رسول الله ﷺ د مجلس څخه ولاړېدی نو هغه وخت به د صحابه كرامو ولاړېدل د احترام په توګه نه وو بلكه د مجلس د ختمېدو په وجه به وو، او دا هم څرګنده ده چي كله صحابه كرام د رسول الله ﷺ د راتلو په وخت كي نه درېدل نو د تلو په وخت كي به ولي درېدل ، پاته سوه دا خبره چي صحابه كرامو به تر ډېره وخته ولي ولاړ وه نو ددې وجه به دا وي چي رسول الله ﷺ به د مجلس څخه ولاړ سو نو صحابه كرام به په دې انتظار كي وه چي كيداى سي رسول الله ﷺ د يو كار لپاره تللى وي يا دا اميد وو چي رسول الله ﷺ به بيا راسي او مجلس به برقرار وي مګر كله چي به دغه اميد ختم سو نو صحابه كرام به پر خپلو خپلو لارو ولاړل.

د راتلونكي هر كلى ښه كار دى

﴿۴۵۰۱﴾: وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ دَخَلَ رَجُلٌ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت واثله بن خطاب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړى رسول الله ﷺ ته حاضر سو په

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ قَاعِدٌ فَتَزَحْزَحَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

او رسول الله ﷺ په مسجد نبوي كي ناست وو ، رسول الله ﷺ د خپل ځاى څخه لږ آخوا سو او د هغه لپاره يې ځاى خالي كړ

وَسَلَّمَ فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ فِي الْمَكَانِ سَعَةً فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

هغه سړي وويل اې دالله رسوله ! ځای بس او پراخ دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلْمُسْلِمِ لَحَقًّا إِذَا رَآهُ أَخُوهُ أَنْ يَتَزَحْزَحَ لَهُ . رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

د يو مسلمان حق دي چي هغه يو ورور راتلونکی ويني نو د هغه لپاره دي د خپل ځای څخه حرکت وکړي (چي هغه هم کښيني). دواړه حديثونه بيهقي په شعب الايمان کي روايت کړي دي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٦\٤٦٨، رقم ٨٩٣٣.

==========

بَابُ الْجُلُوْسِ وَالنَّوْمِ وَالْمَشْيِ

(د ناستي، خوب او تګ بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د ناستي طريقه

﴿٤٥٠٢﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفِنَاءِ الْكَعْبَةِ مُحْتَبِيًا بِيَدِهِ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ د کعبې په غولي کي داسي ناست وليدئ چي د رسول الله ﷺ دواړه زنګنونه ولاړ وه او په خپلو مبارکو لاسونو سره يې پر پنډۍ حلقه جوړه کړې وه . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٦٥، رقم: ٦٢٧٢.

تشريح: پر پښو ناسته، د ناستي يوه خاصه طريقه ده چي صورت يې داسي وي چي دواړه زنګنونه ودرول سي ، تلي پر مځکه وي او په دواړو لاسو سره پر زنګنو حلقه وتړي، او کوناټي که پر مځکه وي که پورته وي، دېر واره پر زنګنو باندي د لاسو په ذريعه د خلقه تړلو پر ځای پر هغه جامه لکه دسمال وغيره چاپيره کوي ، د رسول الله ﷺ په اړه جامه چاپيره کول هم نقل سوي

دي . په هر حال د ناستي دغه طريقه په عربو كي ډېره رواج وه او زيات خلک به داسي کښېنستل ، د حديث څخه معلومه سوه چي داسي ناسته جائز بلکه مستحب ده .

د پروتي طريقه

﴿۴۵۰۳﴾: وَعَبَّادِ بْنُ تَمِيمٍ عَنْ عَمِّهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ مُسْتَلْقِيًا وَاضِعًا إِحْدَى قدميه عَلَى الْأُخْرَى . متفق عليه

حضرت عباد بن تميم رضي الله عنه د خپل اکا څخه روايت کوي چي ما رسول الله ﷺ په مسجد کي داسي پروت وليدئ چي شا يې پر مځکه او سينه يې آسمان ته وه (ستوني ستخ) چي يو ه پښه مبارکه يې پر بله اچولې ده . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۸۰، رقم: ۶۲۸۷، ومسلم ۱۳\۱۶۶۲، رقم: ۷۵- ۲۱۰۰.

تشريح: پر قدم باندي د قدم په اېښودو سره په پرېوتلو ستر نه لوڅېږي، او داسي پرېوتل چي پر پښه باندي پښه اېښې وي د ستر لوڅېدو سبب کيږي، ددغه مطلب په ذريعه دغه حديث او د هغه حديثو په مينځ کي مطابقت پيدا کيږي کوم چي مخکي را روان دی او د هغه څخه دا ځرګنديږي چي پر پښه باندي په پښه اېښودو سره پرېوتل منع دي ددغه مسئلې زيات تفصيل به مخته راسي .

ځرګنده دي وي چي د رسول الله ﷺ داسي پرېوتل به کله وه او هغه هم يا خو د بيان جواز لپاره د يا لږ ارام کولو لپاره ، کنه د رسول الله ﷺ معمول دا وو چي په داسي ځای کي چي هلته به خلک موجود وه چارزانو ، باوقار او په تواضع سره کښېنستی .

﴿۴۵۰۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهٰى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْفَعَ الرَّجُلُ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى وَهُوَ مُسْتَلْقٍ عَلَى ظَهْرِهِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د داسي پريوتلو څخه منع فرمايلې ده چي يو ه پښه ولاړه او بله پښه پر هغې سربيره کښېږدي او دی ستوني ستخ پروت وي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۳\۱۶۶۱، رقم: ۷۲- ۲۰۹۹.

﴿۴۵۰۵﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَسْتَلْقِيَنَّ أَحَدُكُمْ ثُمَّ

يَضَعُ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅوک دي داسي ستوني ستخ نه پريوځي چي يوه پښه يې ولاړه وي او بله يې سربيره پر اچولې وي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۳\۱۶۶۲، رقم: ۷۴- ۲۰۹۹.

تشريح: د حضرت جابر رضي الله عنه ذکر سوي دواړه حديثونه د عباد ابن تميم د روايت خلاف معلوميږي مګر حقيقت دادی چي په هغو کي هيڅ اختلاف او تضاد نسته ځکه چي پر پښه باندي په پښه ايښودو سره ستوني ستخ پرېوتل دوه ډوله وي يو خو دا چي دواړي پښې يې غزولي وي د يوې پښې سربېره يې بله پښه ايښې وي په دغه طريقه باندي په پرېوتلو کي څه پروا نسته، ځکه چي په دغه صورت کي د ستر ښکاره کېدو سوال نه پيدا کيږي، نو د عباد ابن تميم په روايت کي چي دا منقول دي چي رسول الله ﷺ پر يوه قدم باندي دوهم قدم ايښودو سره پرېوتی نو ددې څخه دا صورت مراد دی، دوهمه طريقه داده چي په ستوني ستخ پرېوتو سره د يوې پښې ګونډه ودرول سي او دوهمه پښه پر هغه ولاړي ګونډې کښېښودل سي دغه طريقه منع ده مګر دغه منع هم په هغه صورت کي ده کله چي د ستر لوڅېدو انديښنه وي د مثال په توګه يو سړی پرتوګ نه وي اغوستی او نه يې لونګ تړلی وي او د هغه لونګ يا قميص دومره کوچني وي چي د داسي پرېوتلو په وجه ستر لوڅ سي که د ستر لوڅېدو انديښنه نه وي نو بيا په دغه طريقه سره پرېوتل به هم جائز وي، خلاصه دا چي د منع او جواز اصل مدار د ستر پر لوڅېدو دی، علماوو هم دا بيان کړی دی.

د تکبر انجام

﴿۴۵۰۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَتَبَخْتَرُ فِي بُرْدَيْنِ وَقَدْ أَعْجَبَتْهُ نَفْسُهُ فَخَسَفَ بِهِ الْأَرْضَ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِيهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. متفق عليه.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يو سړی وو چي دوه څادرونه يې پر ځان د غرور څخه اچولې وه او غرور يې کوئ او هغه ته ځان ښه ښکاره کېدی نو هغه په مځکه کي ژوندی ننوتئ چي تر قيامته پوري به په مځکه کي روان وي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۵۸، رقم: ۵۷۸۹، ومسلم ۳\۱۶۵۳، رقم: ۴۹– ۲۰۸۸.

تشریح: ځیني حضرات وایي چي په حدیث کي د کوم چا ذکر سوی دی هغه قارون وو، نووي رحمة الله علیه لیکلي دي چي دا هم کېدای سي چي هغه سړی به د امت یو کس وو، یا په تېر امت کي به یو سړی وي، په هر حال د حدیث څخه دا ثابته سوه چي په تکبر او غرور سره تلل خراب دي او د دې انجام ډېر بد دی، الله جل جلاله دي موږ وساتي، اللهم امین.

تر ټولو ښه تګ

څرګنده دي وي چي د انسان تګ د هغه د مزاج او حال تر ډېره حده غماز وي، همدارنګه پر دې خبره خاص ټینګار کېږي چي انسان د خپل تګ انداز داسي نه کړي چي په هغه سره د هغه په شخصیت کي نقص پیدا سي او د هغه طبعي احوال او کیفیاتو کي د کوږوالي اظهار وي، په عامه توګه د چلن لس ډولونه بیانیږي او په هغو کي هر ډول په عربي کي په یو ځانګړي لفظ سره نومول سوی دی چي د هغو تفصیل په نورو کتابو کي موجود دی، کوم ډول چي تر ټولو غوره او افضل ګڼل کیږي هغه ته د هون نوم ورکړل سوی دی، د لغت په اعتبار د هون معنی ده سکون او قرار، د عربي دا مشهوره محاوره ده: امش علی هونک، یعني په خپل تګ ځه، کوم چلن ته چي هون ویل کیږي هغه داسي چلن دی چي په هغه کي حرکت خو پوره وي مګر قدم کرار کرار په لږ تیزي سره پورته کوي نه خو د وچ لرګي په ډول داسي مړ قدم پورته کول لکه د مړه زړه خلک چي ځي او نه دومره تېز وي لکه په بېړه کي چي وي، د تلو دغه دواړه صورتونه خراب دي او د تلونکي د زړه مړتوب یا بې عقلي څرګندوي، په قرآن کریم کي الله تعالی د هون تعریف کړی دی او دغه تګ یې د خپل خاصو بندګانو صفت ګرځولی دی لکه چي فرمایي: (وعباد الرحمن الذین یمشون علی الارض هونا) او د رحمن خاص بندګان هغه خلک دي چي پر مځکه په نرمۍ او سکون سره ځي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په تکیه لګولو سره ناسته مستحب ده

﴿۴۵۰۷﴾: عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ عَلَى يَسَارِهِ. رواه الترمذي.

د حضرت جابر بن سمرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي ما رسول الله ﷺ په داسي تکیه لګولو سره ناست ولیدئ چي بالښت د هغه چپه اړخ ته پروت وو . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۹۱، رقم: ۲۷۷۰.

تشريح: د دغه حدیث څخه معلومه سوه چي په تکیه کولو سره ناسته مستحب ده او دا نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ به تکیه خوښول او رسول الله ﷺ د خوشبویي په ډول د تکیې په اړه هم دا فرمایلي دي که یو سړی بالښت درکړي نو د هغه د قبلولو څخه انکار مه کوئ.

د ناستي طریقه

﴿۴۵۰۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ فِي الْمَسْجِدِ اِحْتَبٰى بِيَدَيْهِ . رواه رزين.

د حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ په مسجد کي کښېنستئ نو دواړه زنګنونه به یې ولاړ ساتل او په دواړو لاسونو مبارکو به یې حلقه (کړۍ) جوړول . رزین .

تخريج: رواه رزين.

د عاجزي ناسته

﴿۴۵۰۹﴾: وَعَنْ قَيْلَةَ بِنْتِ مَخْرَمَةَ أَنَّهَا رَأَتْ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَهُوَ قَاعِدٌ الْقُرْفُصَاءَ قالت فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَخَشِّعَ أُرْعِدْتُ مِنَ الْفَرَقِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت قیله بنت مخرمه (رض) څخه روایت دئ چي هغې رسول الله ﷺ په مسجد کي د قرفصاء په شکل ناست ولیدئ هر کله چي ما د رسول الله ﷺ د خضوع (د زړه عاجزي) او خشوع (عاجزي او خاکساري) دا حالت ولیدئ نو د رسول الله ﷺ د هیبت څخه وبیریدم . ابوداؤد. (د قرفصاء شکل دادئ چي سړی دواړه زنګنونه ودروی پر ورنو کښېنيني او زنګنونه د نس سره ومښلوي او په دواړو لاسونو سره زنګنونه ونیسي یعني دواړه لاسونه پر زنګنونو چاپېره کړي).

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۷٦، رقم: ۴۸۴۷.

د لغاتو حل: المتخشع: اى الخاشع الخاضع المتواضع(خاكسار). الفرق: الخوف (ېره)

تشريح: قُرفصاء، د قاف په پېښ، د راء په جزم او د فاء په پېښ او زور سره دی، ددې معنی داده چي د پښو پر سرو کښېنستل، او لاسونه پر پښو چاپېره کول، ددغه ناستي يعني قرفصاء صورت دا وي چي دواړه زنګنونه ودرول سي او پر کوناټو باندي کښېني، زنګنونه د نس سره ولګوي او دواړه لاسونه پر زنګنو ونيسي، د قرفصاء دوهم صورت دا هم دی چي دواړه زنګنونه پر مخکه په لګولو سره ورنونه د نس سره لګوي او د لاسونو مړوندونه د دواړو بغلو سره يو ځای کړي، داسي چي راسته مړوند په چپه بغل کي او چپه مړوند په راسته بغل کي وي، د ناستي دغه خاص طريقې ته د عربو هغه غير متمدن خلکو کي رواج وه چي په ځنګلو کي اوسېدل او هغه مسکين او غريب خلک هم داسي کښيني چي په فکر او غم کي اخته وي، دغه ناسته د ډېر عجز او انکساری څرګندونه کوي ځکه رسول الله ﷺ به په دغه هيئت سره کښېنستی

د سهار تر لمانځه وروسته

﴿۴۵۱۰﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى الْفَجْرَ تَرَبَّعَ فِي مَجْلِسِهِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَسْنَاءَ. رواه ابوداؤد

د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د سهار لمونځ وکړ نو چارزانو به کښېنستئ او تر لمر ښه ځلانده کېدو پوري به همداسي ناست وو. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۷۸، رقم: ۴۸۵۰.

د پروتي طريقه

﴿۴۵۱۱﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَرَّسَ بِلَيْلٍ اِضْطَجَعَ عَلٰى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ وَإِذَا عَرَّسَ قُبَيْلَ الصُّبْحِ نَصَبَ ذِرَاعَهُ وَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلٰى كَفِّهِ. رواه في شرح السنة.

د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ په سفر کي آرام کوئ په شپه کي نو پر راسته اړخ به پريوتئ او که د سهار په وخت کي به يې آرام کوئ نو خپل يو لاس مبارک به يې ودروئ او پر ورغوي د لاس به يې سر کښېښودی (چي خوب ورنه سي). شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۲\ ۳۲۵، رقم: ۳۳۵۹.

تشريح: د رسول الله ﷺ معمول وو چي كله به په سفر كي وو او د شپې په وخت كي به په يو ځاى كي تم سو او د شپې څه برخه به پاته وه نو پر راسته بغل به پرېوتى او ارام به يې كوى لكه څرنګه چي په غير سفر كي به پر راسته بغل د پرېوتلو عادت وو، او كه داسي وخت به تم سو چي د شپې ډېره برخه به تېره سوې وه او سهار به نژدې وو نو په دغه صورت كي به رسول الله ﷺ د پرېوتلو پر ځاى راسته لاس مبارک ودروى او پر هغه به يې تكيه كولو سره ارام كوى، داسي به يې ځكه كول چي د غفلت خوب رانسي او د سهار لمونځ قضاء نسي كه څه هم پر راسته بغل باندي د بېده كېدو په صورت كي د غفلت خوب نه راځي ځكه چي پر راسته بغل باندي په پروته سره زړه لاندي وي او قرار كم وي، او پر چپه بغل باندي په پروته سره زړه پر خپل ځاى وي او ارام هم وي چي د هغه په وجه خوب هم د اطمينان او سكون وي، همدا وجه ده چي طبيبانو نه يوازي خپله بلكه نورو ته هم پر چپه اړخ د بېده كېدو مشوره وركوي هغوى وايي: پر چپه بغل باندي په بېده كېدو سره زړه پر خپل ځاى وي ځكه نو زړه ته د مطمئن او ارام كېدو په وجه نه يوازي دا چي آرام او د ارام خوب تر لاسه كيږي بلكه خوراک هم په ښه ډول هضم كيږي ځكه په دغه صورت كي د بدن حرارت په بدن كي دننه پاته سي چي د نظام هضم غوره او معتدل كېدو سبب دى، په ځينو روايتو كي دا بيان سوى دى چي رسول الله ﷺ به د سفر په دوران كي د شپې په آخري برخه كي چيري تم سو نو تر سر مبارک لاندي به يې يو خښته كښېښودل او كله چي به د سهار وخت نژدې وو نو د لاس په درولو سره به يې پر هغه سر مبارک كښېښود او د لږ وخت لپاره به پرېوتى.

د رسول الله ﷺ بستره

(۴۵۱۲): وَعَنْ بَعْضِ آلِ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَ كَانَ فِرَاشُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوًا مِمَّا يُوضَعُ فِي قَبْرِهِ وَكَانَ الْمَسْجِدُ عِنْدَ رَأْسِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ام سلمه رضي الله عنها د ځيني اولاد څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ بستره د هغه جامې څخه وه كومه چي د رسول الله ﷺ پر قبر مبارک كښېښودل سوې وه او په مسجد كي د رسول الله ﷺ سر مبارک ته نژدې وو. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۹۷، رقم: ۵۰۴۴.

تشريح: د حديث د لومړۍ برخي مطلب دا دى چي رسول الله ﷺ پر كومه كوربچه ارام كوى د

هغه اوږدوالي او پلنوالي تقريبا د هغه جامې برابر وو كوم چي د رسول الله ﷺ په قبر مبارک كي اېښودل سوې ده او هغه جامه ځينو خلكو ليدلې وه چي يو مختصر جامه وه چي نه زياته اوږده او نه زياته پلنه وه ، ځينو حضراتو د امطلب بيان كړی دی چي د رسول الله ﷺ كوربچه د هغه ټوكر ځخه وه كوم چي د رسول الله ﷺ په قبر مبارک كي اېښودل سوی دی او كوم ټوكر چي په قبر مبارک كي اېښودل سوی دی هغه په اصل كي يو سور ځادر وو چي د ناروغۍ په حالت كي به د رسول الله ﷺ لاندي پروت وو، كله چي د رسول الله ﷺ وصال وسو نو شقران ﷺ چي د رسول الله ﷺ غلام وو ، دصحابه كرامو د رايه ځخه پرته هغه ځادر په قبر شريف كي د رسول الله ﷺ تر بدن مبارک لاندي اېښي وو ، د هغه وينا وه چي زه نه غواړم د رسول الله ﷺ ځادر دي د ...ه ځخه وروسته بل څوک واغوندي يا يې استعمال كړي، صحيح قول دادی چي كله صحابه ...رام په هغه خبر سول نو هغوی د قبر شريف بندولو ځخه مخكي هغه ځادر را كښلی وو ، ...ګرګنده دي وي چي په حديث شريف كي بايد د يوضع (مضارع) پر ځای (وضع) د ماضي صيغه واې مګر د

راوي مقصد به د حال زمانه وه ځكه د ماضي د صيغې پر ځای يې د مضارع صيغه استعمال كړل

د حديث دوهمه برخه: او مسجد به د رسول الله ﷺ سر مبارک ته نژدې وو، ددې مطلب دادی چي كله به رسول الله ﷺ آرام كوی نو د هغه كونج سره به پرېوتی چي سر مبارک به يې مسجد ته وو ځكه چي د رسول الله ﷺ حجره شريفه د مسجد چپه خوا ته وه او رسول الله ﷺ به مخ پر قبله پرېوتی ځكه نو ښرګنده ده كه چيري په هغه حجره كي مخ پر قبله پرېوځي نو مسجد به يې سر ته وي، د مشكوة په يوه نسخه كي د مسجد لفظ د جيم په زېر سره دی چي د هغه معنی د مصلی ده ، په دغه صورت كي به مطلب دا وي چي د ارام په وخت كي به د رسول الله ﷺ مصلی د رسول الله ﷺ سر ته اېښودل كېدل چي كله د لمانځه وخت سي نو هغه به سمدستي وغوړول سي.

پړمخي مه پرېوځئ

﴿۴۵۱۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مُضْطَجِعًا عَلَى بَطْنِهِ فَقَالَ إِنَّ هَذِهِ ضَجْعَةٌ لَا يُحِبُّهَا اللَّهُ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو سړي پړمخی (نس پر مځكه او ملا آسمان ته) پروت وليدئ نو وه يې فرمايل په دغه شكل كي پرېوتل الله ﷻ نه خوښوي . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۹۰، رقم: ۲۷۶۸.

تشريح: علماؤ ليکلي دي چي د پرېوتو ځلور صورتونه دي، يو خو سم پرېوتل د اهل عبرت طريقه ده چي کوم خلک د الله تعالی د قدرت د عجائبو په لېدو سره ايمان باالله ټينګول غواړي نو هغوی سم پرېوځي چي هغوی اسمان او ستورو ته د اشتهاد په نظر ګوري چي د الله تعالی د قدرت او حکمت کار کردګي دليل حاصل کړي، دوهم صورت پر راسته بغل باندي د پرېوتلو دی، دا د اهل کبارو د پرېوتلو طريقه ده چي کوم خلک د الله تعالی په عبادت کي بوخت وي او د شپې وېښېدل غواړي نو هغوی پر راسته اړخ پرېوځي چي د غفلت خوب پر رانسي او پر وخت باندي په پورته کېدو سره په لمانځه، ذکر او وظيفه کي بوخت سي، دريم صورت پر چپه بغل پرېوتل دي چي د آرام او راحت غوښتونکو د پرېوتلو طريقه ده يعني کوم خلک چي غواړي چي خوراک يې په ښه ډول هضم سي او د ارام خوب وکړل سي او بدن ته په پوره توګه ارام او راحت تر لاسه سي نو هغوی پر چپه بغل باندي پرېوځي ، او ځلورم صورت د پړموخي يعني پر نس باندي د پرېوتلو دی ، دا د اهل غفلت او ناپوهانو خلکو د پرېوتلو طريقه ده ځکه د داسي پرېوتلو مطلب دا وي چي سينه او مخ چي غوره اندامونه دي او په بدن کي تر ټولو افضلي برخي دي هغه بېله قصده پر مځکه باندي پړموخي واچول سي چي ددغه اندامو د عزت او شرف خلاف کار دی او د بچه بازو خلکو عادت دی، ځکه پړموخی پرېوتل دومره ذليل مشابهت اختيارول دي چي په خپله ډېره بده خبره ده.

﴿۴۵۱۴﴾: وَعَنْ يَعِيشَ بْنِ طَخْفَةَ بْنِ قَيْسٍ الْغِفَارِيِّ عَنْ أَبِيهِ وَكَانَ مِنْ

حضرت يعيش بن طخفه بن قيس غفاري رضي الله عنه د خپل پلار څخه چي

أَصْحَابِ الصُّفَّةِ قَالَ فَبَيْنَمَا أَنَا مُضْطَجِعٌ مِنَ السَّحَرِ عَلَى بَطْنِي إِذَا رَجُلٌ

په اصحابه صفه کي وو روايت کوي چي زه د سينې د درد په وجه پړمخی پروت وم چي يو سړي

يُحَرِّكُنِي بِرِجْلِهِ فَقَالَ إِنَّ هَذِهِ ضِجْعَةٌ يُبْغِضُهَا اللَّهُ قَالَ فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

زه په خپل پښه سره وښورولم او وه يې ويل د پروتي دغه طريقه الله تعالی نه خوښوي، ما چي وکتل نو هغه رسول الله ﷺ وو. ابوداؤد او ابن ماجه

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۹۴، رقم: ۵۰۴۰، وابن ماجه ۱\ ۲۴۸، رقم: ۷۵۲.

تشريح: په ظاهره دا معلوميږي چي د رسول الله ﷺ په علم كي به د حضرت طخفه ﷺ هغه عذر نه وو چي د هغه په وجه هغه پوړموخی پروت وو، ځكه رسول الله ﷺ په ذكر سوو الفاظو سره وفرمايل، او كه چيري دا وويل سي چي د هغه عذر د رسول الله ﷺ په علم كي وو نو بيا به دا تاويل كيږي چي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد د احتياط او تقوا په وجه وو، او ددې څرګندولو لپاره وو چي په عامو حالاتو كي پړموخی پرېوتل سخت خراب كار دی او دې ته هم اشاره كول مقصود وو كه د سينې د درد دفاع مقصد وي نو په دغه صورت كي دا هم ممكن ده چي هغه د پښو غزولو څخه پرته د پښو خوا ته په كښته كېدو سره سينه د دواړو زنګنو سره وموښلوي.

پر داسي بام پرېوتل چي ديوال نه لري

﴿۴۵۱۵﴾: وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ شَيْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَاتَ عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ لَيْسَ عَلَيْهِ حِجَابٌ وفي رواية حِجَارٌ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ. رواه ابوداؤد. في معالم السنن للخطابي حجي.

د حضرت علي بن شيبان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د شپې پر داسي بام بيده كيږي چي پر هغه ديوال نه وي، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي پر هغه ډبري نه وي (يعني د ډبرو ديوال نه وي) نو د هغه څخه د الله ذمه ولاړل (يعني د هغه د ساتني ذمه ختمه سوه ځكه چي هغه خپل ځان په خپله په خطره كي واچوئ). ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۹۵، رقم: ۵۰۴۱.

د لغاتو حل: حجي: اى ستر.

تشريح: د يوه مضمون په درو روايتو كي بېل بېل الفاظ دي، په يوه روايت كي د حجاب لفظ دی چي د هغه معنی د پردې ده او ددې څخه مراد هغه دېوال دی چي بام د بې پردګۍ څخه خوندي كوي او د هغه په وجه د بام څخه د يو چا لوېدو ېېره هم نه وي، په دوهم روايت كي د حجار لفظ دی چي د حجر جمع ده، او معنی يې د هغه شی ده چي بام داسي راګير كړي چي څوک ځيني ايله نسي كه هغه دېوال وي يا بل شی وي، او په دريم روايت كي د حجي لفظ دی دغه لفظ د حاء په زبر سره هم دی او د حاء په زور سره هم دی، په دواړو صورتو كي دغه لفظ د پردې په

مفهوم کي دی ، د لغت په اعتبار د حجی معنی عقل او زیرکتوب ده، نو ويل کيږئ چي پردې ته د عقل سره ځکه مشابهت ورکړل سوی دی چي څرنګه عقل انسان د خرابو او تاواني کارو څخه منع کوي همدارنګه پرده هم انسان د بام لوېدو څخه منع کوي، همدارنګه حَجی د حاء په زور سره د غاړي په معنی ده او څرګنده ده چي د بام پرده د بام پر غاړه وي، په دې اعتبار سره دې ته حجی ويل کيږي.

د حديث خلاصه داده چي الله تعالی د هر انسان د ساتني او حفاظت ذمه او عهد اخيستی دی او ددغه مقصد لپاره هغه محض په خپل فضل او کرم سره ملائکي ټاکلي دي او داسي اسباب يې پيدا کړي دي چي د هغه په اختيارولو سره انسان خپل ځان خوندي ساتلای سي، مګر که چيري يو سړی پر داسي بام باندي بېده کيږي چي د هغه شاوخوا پرده يا بل شی نه وي نو د هغه مطلب به دا وي چي هغه په يو داسي ځای کي بېده کيږي چي په عامه توګه د هلاکت او ضرر سبب ګرځېدلای سي، او کله چي هغه سړی خپله خپل ځان په هلاکت کي د اچولو اراده کړې ده نو اوس قدرت ته څه ضرورت دی چي د هغه ساتنه دي وکړي نو د هغه د ساتني څخه خدايي ذمه او عهد ساقط سو .

﴿۴۵۱۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنَامَ الرَّجُلُ عَلَى سَطْحٍ لَيْسَ بِمَحْجُورٍ عَلَيْهِ. رواه الترمذي.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر هغه بام د بيدېدو څخه منع فرمايلې ده چي پر هغه د پردې ديوال نه وي . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۱۳۰، رقم: ۲۸۵۴.

د خلکو په منځ کي مه کښېنئ

﴿۴۵۱۷﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ مَلْعُونٌ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَعَدَ وَسْطَ الْحَلْقَةِ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر هغه سړي لعنت ويلی دئ چي د حلقې په مينځ کي کښېني . (يعني چي يو څو کسان سره ناست وي دی را تېر سي په مينځ کي يې کښېني) ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۱۶۴، رقم: ۴۸۲۶، والترمذي ۵\۸۳. رقم: ۲۷۵۳.

تشريح: د دغه حديث د محمول په اړه د علماوو مختلف اقوال دي ، يو خو دا چي د مثال په توګه خلکو حلقه جوړه کړې ناست وي چي يو سړی راسي او ددې پر ځای چي هغه چيري ځای ويني هم هلته کښېني نو د خلکو پر اوږو په ټوپ وهلو سره ولاړ سي او په مينځ کي کښېني ، داسي سړي ته ملعون ويل سوي دي ، دوهم دا چي يو سړی د خلکو د حلقې په مينځ کي داسي کښېني چي په هغوی کي د ځينو مخونه د يو بل څخه پټ سي او هغوی په خپلو کي په نه لېدو سره په خپل مينځ کي د خلل په وجه هغه سړی د تکليف او ضرر باعث محسوس کړي، نو داسي سړی د مذکوره حديث محمول دی، او دريم دا چي د دغه حديث تعلق د هغه سړي سره دی چي د مسخرو کولو لپاره د خلکو د حلقې په مينځ کي کښېني ددې لپاره چي خلک ورباندي وخاندي

په پراخه ځای کي مجلس

﴿۴۵۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ الْمَجَالِسِ أَوْسَعُهَا. رواه ابوداؤد

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غوره مجلس هغه دئ چي په پراخه ځای کي جوړ کړل سي . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۱۶۲، رقم: ۴۸۲۰.

تشريح: مطلب دا دی که چيري د وعظ او نصيحت مجلس وي يا په يو مباح مراسمو کي خلک جمع کول وي نو د دغه مقصد لپاره داسي ځای اختيارول پکار دي چي پراخه وي چي خلکو ته په ناسته کي تنګي نه وي او هغوی په تکليف کي اخته نسي .

يو ځای کښېنستل

﴿۴۵۱۹﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ جَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واصحابه جلوس فَقَالَ مَالِي أَرَاكُمْ عِزِينَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي صحابه کرام ناست وه چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل : څه خبره ده. چي تاسو جلا جلا ناست ياست. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۱۶۳، رقم: ۴۸۲۳.

د لغاتو حل: عزين: اى متفرقين (جلا جلا)

تشريح: عزين په اصل کي د عزة جمع ده چي د هغه معنی د خلکو د ډلي ده، رسول الله ﷺ چي دا ولېدل چي د صحابه کرامو يو ډله دغه خوا ته ناست دي او بله ډله هغه خوا ته، ځيني خلک په دغه کونج کي ناست دي او ځيني خلک په هغه کونج کي، نو په بېلو بېلو ډلو کي کښېنستل په خپلو کي وحشت او يوازيوالي ته فروغ ورکول دي او د يو بل څخه د بېلوالي اختيارولو موجب کيږي ځکه رسول الله ﷺ د مذکوره ارشاد په ذريعه په داسي متفرق ډول ناسته ناخوښه کړل او په يو ځاى سره ناستي ته يې راغب کړل، ځکه چي يو ځاى په جمع کېدو سره ناسته په اصل کي د اتحاد او د ميني علامه ده.

خلاصه دا که چيري په يو ځاى کي يو څو مسلمانان جمع وي نو هغوى بايد د بېلو بېلو ډلو په جوړولو سره نه کښېني بلکه ټول خلک يو ځاى په حلقه جوړولو سره يا په صف جوړولو سره کښېني.

نيم په لمر او نيم په سايه کي مه کښېنئ

﴿۴۵۲۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا كَانَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي په تاسو کي يو

اَحَدُكُمْ فِي الْفَيْءِ فَقَلَصَ عَنْهُ الظِّلُّ وَصَارَ بَعْضُهُ فِي الشَّمْسِ وَبَعْضُهُ فِي

څوک په سايه کي ناست وي بيا هغه سايه ولاړه سي او د هغه د بدن يو څه برخه په لمر کي او څه برخه په سايه کي وي نو هغه ته پکار ده چي د هغه ځاى څخه ولاړ سي (يا په سايه کي دي

الظِّلِّ فَلْيَقُمْ. رواه ابوداؤد. وفي شرح السنة عنه قال اذا كان احدكم في الفئ فقلص عنه فليقم فانه مجلس الشيطان هكذا رواه معمر مرفوعا.

کښېني او يا په لمر کي). ابوداؤد، په شرح السنة کي دا الفاظ دي چي په تاسو کي چي يو څوک په سايه کي ناست او هغه سايه ولاړه سي نو د هغه ځايه څخه دي ولاړ سي ځکه چي په لږ سايه او لږ لمر کي ناسته د شيطان کار دئ.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۶۲، رقم: ۴۸۲۱.

تشريح: د حديث د آخري الفاظو مطلب دادى چي دا د حضرت ابو هريره رضي الله عنه قول دى، د رسول الله ﷺ ارشاد نه دى، مگر څرګنده دي وي چي دا موقوف حکم په اعتبار د مرفوع حديث په

درجه کي دی ځکه چي د دين کومه خبره د اجتهاد او قياس په ذريعه ثابت کېدونکي نه وي او يو صحابي يې په خپله نقل کړي نو ددې مطلب به دا وي چي هغه صحابي هغه خبره د رسول الله ﷺ څخه خامخا اورېدلي وي کنه نو دا ممکن نه ده چي يو صحابي دې د دين يو داسي خبره نقل کړي چي د اجتهاد او قياس څخه وتلې وي او هغه خبره يې د رسول الله ﷺ څخه نه وي اورېدلې.

د شيطان د ناستي ځای دی: په دې اړه ځينو حضراتو دا ويلي دي چي دغه عبارت پر خپل ظاهري معنی باندي محمول دی يعني په حقيقت کي داسي کېږي چي شيطان پر هغه ځای کښېني چي د هغه لږ برخه په لمر کي او لږ په سايه کي وي، په دې اعتبار سره دا خبره کېږي چي لږ په سايه کي او لږ په لمر کي ناسته د شيطان کار دی، ځيني حضرات وايي چي د داسي ځای نسبت شيطان ته په دې اعتبار سوی دی چي شيطان کوم سړی پرېشانه کول غواړي هغه د داسي ځای ناستي يا پرېوتلو ته راغب کوي، يعني پر هغه ځای باندي د يو سړي د ناستي يا پرېوتلو سبب شيطان جوړېدل وي او ددې څخه د شيطان مقصد دادی چي هغه سړی په تکليف او مصيبت کي اخته سي، نو معلومه سوه چي شيطان څرنګه د انسان د دين دښمن دی همدارنګه د هغه د بدن هم بدخواه دی.

دا خبره دي په ذهن کي وي چي په يو داسي ځای کي هم ناسته يا پرېوتل مکروه دي چي ټول په لمر کي وي که څه هم په دغه صورت کي د منع او کراهت سبب دا نه دی چي په داسي ځای کي د شيطان د ناستي ځای وي بلکه دا ځکه منع او مکروه دی چي په پوره توګه په لمر کي کښېنستل د خپل ځان په تکليف کي اخته کول دي مګر که چيري د يخ په وخت کي وي نو بيا په لمر کي ناسته پروا نه لري.

نارينه او ښځي دي پر يو طرف نه ځي

﴿۴۵۲۱﴾: وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو اسيد انصاري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مسجد څخه وتلی وو په

يَقُولُ وَهُوَ خَارِجٌ من المسجد فاختلط الرجال مع النساء فِي الطَّرِيقِ

لاره کي د ښځو سره نارينه يو ځای سول (يعني په لاره کي ګډ وډ تلل)

فَقَالَ لِلنِّسَاءِ اسْتَأْخِرْنَ فَإِنَّهُ لَيْسَ لَكُنَّ أَنْ تَحْقُقْنَ الطَّرِيقَ عَلَيْكُنَّ

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل تاسو د نارينوو وروسته ځئ تاسو ته د لارې په منځ کي تلل مناسب نه دي تاسو

بِحَافَّاتِ الطَّرِيقِ فَكَانَتْ الْمَرْأَةُ تَلْتَصِقُ بِالْجِدَارِ حَتَّى إِنَّ ثَوْبَهَا لَيَتَعَلَّقُ بِالْجِدَارِ. رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان.

په غاړه غاړه کي ځئ، د دې په اوريدو سره ښځي د ديوالو سره جوختي تللې تر دې چي ځيني وختونه به يې جامې د ديوال سره موښتې. ابوداؤد او بيهقي په شعب الايمان کي.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۴۲۲، رقم: ۵۲۷۳. والبيهقي في الشعب ۶\ ۱۷۳، رقم: ۷۸۲۲.

د لغاتو حل: تحققن: اى تذهبن في وسط الطريق (د لارې په منځ کي تلل)

د ښځو په مينځ کي مه ځئ

﴿۴۵۲۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يَمْشِيَ يَعْنِي الرَّجُلَ بَيْنَ الْمَرْأَتَيْنِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د دې څخه منع کړې ده چي يو سړی د دوو ښځو په منځ کي ځي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۴۲۲، رقم: ۵۲۷۳.

تشريح: د يعني لفظ د راوي خپل قول دی چي په هغه سره د حديث د الفاظو وضاحت کول مقصد دی، يعني راوي دا بيان کړی دی چي رسول الله ﷺ د يمشي فاعل يې الرجل مراد اخيستی دی، خلاصه دا چي دغه لفظ د الرجل د حديث د متن جز نه دی بلکه د راوي لفظ دی، همدارنګه د روايت په مينځ کي دغه عبارت يعني الرجل جمله معترضه ده.

رسول الله ﷺ خلک د ښځو په مينځ کي د تلو څخه ځکه منع کړل چي د سړي او ښځو اختلاط نه يوازي دا چي په مختلفو فتنو کي اخته کيږي بلکه دا يو داسي کار دی چي د شرم او حياء خلاف ګڼل کيږي.

ښکاره دي وي چي څرنګه د ښځو په مينځ کي تلل منع دي همدارنګه په لاره کي د يوې ښځي سره تلل هم منع دي په شرط د دې چي د هغه په وجه په فتنه کي د اخته کېدو ېېره وي.

پر خالي ځای ناسته

﴿۴۵۲۳﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر بن سمرة ﷺ ځخه روايت دئ چي موږ به وو چي نبي ﷺ به راغلی نو چي کوم يو

جَلَسَ أَحَدُنَا حَيْثُ يَنْتَهِي. رواه ابوداؤد و ذكر حديث عبدالله بن عمرو في

ځای ته به را ورسيدی هلته به کښېنستی. ابوداؤد د حضرت عبدالله بن عمرو حديث په باب

باب القيام و سنذكر حديث علي و ابي هريرة في باب اسماء النبي صلى الله

عليه وسلم وصفاته ان شاء الله تعالى.

القيام کي بيان سوی دئ او د حضرت علي او ابوهريره حديث به د اسماء النبي ﷺ وصفاته په باب کي ان شاءالله بيان سي.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۷۶، رقم: ۴۸۴۸.

تشريح: مطلب دادی چي په نبوي مجلس کي هر سړی به د مجلس د ادب او وقار خيال ساتی او ددې خبري پرواه کولو پرته چي هغه ته د نورو په نسبت ځلانده او غوره مقام تر لاسه سي چيري چي به يې ځای لېدی هلته به کښېنستی ځکه چي په مجلس کي ښکاره او غوره ځای باندي د کښېنستلو او د هغه لپاره هڅه کول په اصل کي د هغه نفس تقاضا وي چي هر وخت خپل ځان بېله ضرورت ښکاره کولو او غوره ثابتولو په لټه کي وي، او دا د هغه خلکو شان دی چي د عزت او شان لوی حريص وي، حال دا چي صحابه کرامو دداسي جذباتو ځخه بالکل خلاص وه، نه هغوی ته ددغه شي د تر لاسه کولو خواهش وو او نه په يو وخت کي د ناستي په اړه د تکلف او اهتمام عادي وه، د هغوی په مزاج کي چي کومه سادګي او خاکساري وه د هغه په وجه او د رسول الله ﷺ د ادب او احترام په وجه به په مجلس نبوي کي چيري چي به يې ځای تر لاسه کړ هلته به کښېنستل.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د ناستي غلطه طریقه

﴿۴۵۲۴﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ مَرَّ بِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا جَالِسٌ هَكَذَا وَقَدْ وَضَعْتُ يَدِيَ الْيُسْرَى خَلْفَ ظَهْرِي وَاتَّكَأْتُ عَلَى أَلْيَةِ يَدِي فَقَالَ أَتَقْعُدُ قِعْدَةَ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ. رواه ابوداؤد.

حضرت عمرو بن شرید رضي الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ زما سره نژدې تېر سو او زه داسي ناست وم چي ما چپه لاس زما پر ملا ایښی وو او د بټې ګوتي لاندي غوښي باندي مي تکیه کړې وه، په دې حال لیدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل ایا ته دا ډول کښینې په کوم ډول چي هغه خلک کښینستل چي پر هغوی د الله ﷻ غضب نازل سوی وو. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۵\۱۷۶، رقم: ۴۸۴۸.

د لغاتو حل: الية: اللحمة التي في اصل الابهام.

تشریح: چي پر هغوی د الله ﷻ غضب نازل سوی دی: ددې څخه مراد یهودیان دي، دلته د یهودیانو په څرګنده ذکر کولو پر ځای د مغضوب علیهم په ذریعه هغوی ته د اشارې کولو یوه وجه خو ددې خبري څخه خبرداری دی چي پر دغه ډول ناسته د هغه شیانو څخه ده چي الله تعالی یې دښمن ګڼي او دوهم دا چي مسلمان د یو اُمت فرد دی چي پر هغه الله تعالی خپل رحمت او نعمت فرمایلی دی، ځکه نو هغه باید د هغه خلکو مشابهت اختیار نه کړي چي پر هغوی د الله تعالی غضب نازل سوی دی او هغوی یې ملعون ګرځولي دي، څرګنده دي وي چي د قرآن کریم په سورة فاتحه کي هم د مغضوب علیهم په ذریعه چي کومو خلکو ته اشاره سوې ده د هغو څخه هم دغه یهود مراد دي.

ځینو حضراتو ویلي دي چي په حدیث کي د مغضوب علیهم لفظ په خپل وسیع او عام مفهوم کي استعمال سوی دی یعني ددې څخه ټول کافران او هغه خلک مراد دي چي په خپلو تلو او راتلو او نورو چارو کي د تکبر او غرور اظهار کوي.

پړ موخی پروته د دوږخیانو طریقه ده

﴿۴۵۲۵﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ مَرَّ بِيَ النَّبِيُّ ﷺ وَأَنَا مُضْطَجِعٌ عَلَى بَطْنِي فَرَكَضَنِي بِرِجْلِهِ وَقَالَ يَا جُنَيْدِبُ إِنَّمَا هِيَ ضِجْعَةُ أَهْلِ النَّارِ. رواه ابن ماجة.

د حضرت ابودرداء رضي الله عنه څخه روایت دئ چي زه پړموخی پروت وم چي رسول الله ﷺ زما په خوا کي تیر سو ، رسول الله ﷺ په پښې مبارکي سره زه وښورولم ه او وه یې فرمایل : اې جندبه ! د پریوتلو دا طریقه د دوږخیانو ده . ابن ماجه.

تخریج: سنن ابن ماجه ۲\۱۲۲۷، رقم: ۳۷۲۴.

تشریح: جندب د جضرت ابوذر رضي الله عنه اصلي نوم دی، رسول الله ﷺ په دغه وخت کي هغه د کنیت پر ځای په اصلي نامه سره مخاطب کړ .

داسي پرېوتل د دوږخیانو طریقه ده : په دې اړه دوه احتماله دي یو خو دا چي د ارشاد څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي په دنیا کي کفار او فاجران د داسي پرېوتلو عادي دي ، دوهم دا چي رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذریعه دې ته اشاره وفرمایل چي کفار او فاجران به په دوږخ کي په کوم هیئت وهل کیږي هغه به دغه هیئت وي یعني پړموخی .

===========

بَابُ الْعُطَاسِ وَالتَّثَاؤُبِ

(د ترچي او اړږمی بیان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

اړږمی ښه نه وي

﴿۴۵۲۶﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی ترچی خوښوي

الْعُطَاسَ وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ فَإِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ وَحَمِدَ اللّٰهَ كَانَ حَقًّا عَلَى كُلِّ

او اړږمی بد ګڼي ، په تاسو کي چي چا ته ترچی راسي او هغه الحمدلله ووایي نو د هر هغه

مُسْلِمٍ سَمِعَهُ أَنْ يَقُوْلَ لَهُ يَرْحَمُكَ اللهُ وَأَمَّا التَّثَاؤُبُ فَإِنَّمَا هُوَ مِنَ الشَّيْطَانِ

مسلمان چي ترچی واوري دا فرض دي چي په جواب كي ورته يرحمک الله ووايي، او ارږمی د شيطان له طرفه ځخه ده

فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرُدَّهُ مَا اسْتَطَاعَ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا تَثَاءَبَ ضَحِكَ مِنْهُ

په تاسو كي چي چا ته ارږمی راسي نو ترڅو چي ممكن وي هغه دي بنده كړي ځكه چي يو سړی

الشَّيْطَانُ. رواه البخاري وفي رواية للمسلم فان احدكم اذا قال ها ضحك الشيطان منه.

ارږمی كوي نو شيطان پوري خاندي. بخاري، او د مسلم په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي كله په تاسو كي يو څوک ها كوي (يعني ارږمی كاږي) نو شيطان ورپوري خاندي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱۰\۶۱۱، رقم: ۶۲۲۶،

تشريح: الله ﷻ ترچی خوښوي، مطلب دادی چي د ترچي په وجه د دماغ ځخه بوج ليري كيږي او د فهم او ادراک د قوت تزكيه كيږي او دغه شی د طاعت او د زړه د حضور مرستيال جوړيږي ځكه نو ترچی غوره دی، ددې پر خلاف د ارږمی راتلل د نفس د دروندوالي او د حواس د كدورت له وجه وي او دغه شي غفلت، سستي او بدفهمي په طاعت او عبادت كي د عدم انشاط باعث جوړيږي ځكه د ارږمی راتلل د شيطان د خوشحالی ذريعه ده، او له دې كبله د ارږمی راتلل د شيطان اثر ګرځول سوی دی او ددې نسبت شيطان ته سوی دی، ددې ځخه معلومه سوه چي د الله تعالی ترچی خوښول او ارږمی نه خوښول د هغه د نتيجې او ثمرې په اعتبار دي چي د ترچي په نتيجه كي په عبادت او طاعت كي نشاط او تازګي پيدا كيږي او د ارږمی په نتيجه كي سستي پيدا كيږي.

د الله ﷻ تعريف وكړي: يعني كله چي ترچی راسي نو الحمدلله دي ووايي او كه رب العالمين ووايي نو غوره دي، او كه الحمدلله على كل حال وويل سي نو ډېره غوره ده، په مصنف نامه كتاب كي ابن ابي شيبه رحمة الله عليه د حضرت علي رضي الله عنه ځخه موقوفا دا نقل كړي دي چي كوم چا ته ترچی راسي او هغه داسي ووايي: الحمدلله رب العالمين على كل حال، نو هغه به د زامي او غوږو په درد كي هيڅكله اخته نسي، ځرګنده دي وي چي علماوو پر ترچي راتلو باندي

د الحمدلله ويلو دا حكمت بيان كړى دى چي ترچى په اصل كي د دماغ، روغتيا، او په طبيعت كي د نشاط او توانايي علامه ده او دغه شى د بدني روغتيا په اعتبار د الله تعالى يو ډېر لوى نعمت دى او څرګنده ده چي د نعمت په تر لاسه كېدو باندي د الله تعالى تعريف كول ډېر مناسب كار دى.

يرحمک الله ويل فرض دي که واجب؟

د حديث دغه عبارت: پر هر مسلمان باندي حق دى چي هغه د ترچي كونكي په جواب كي يرحمک الله ووايي، دا په ښكاره پر دې خبره دلالت كوي كه چيري ترچي كونكى الحمدلله ووايي نو د هغه پر اورېدونكي مسلمان باندي دا فرض دي چي د هغه په جواب كي يرحمک الله ووايي، مګر په دې اړه د علماوو اختلافي اقوال دي، د حنفي مذهب په اعتبار زيات صحيح قول دادى چي په جواب كي يرحمک الله ويل واجب على الكفايه دي، مطلب دادى كه د ترچي كونكي حمد اورېدونكى تر يوه زيات خلک وي نو هلته په موجود ټولو خلكو كي د يوه سړي يرحمک الله ويل د ټولو د ذمې څخه د جواب وجوب ساقطوي، په يوه قول كي د هغه جواب ته مستحب ويل سوي دي، ددې پر خلاف د سفر السعادت مصنف دا ليكلي دي چي په دې اړه د منقول صحيح حديثو ظاهري مفهوم دا څرګندوي چي د ترچي كونكي په جواب كي يرحمک الله ويل پر اورېدونكي هر مسلمان باندي فرض دي او هلته په موجود خلكو كي د يوه جواب وركول فرض دى او د ټولو د ذمي څخه نه ساقط كېږي،

د ځينو اكابرو علماوو د يو ډلي مذهب د دغه قول مطابق دى، د شوافعو مذهب دادى چي د ترچي كونكي جواب وركول سنت على الكفايه دى مګر غوره دادى چي په حاضرينو كي هر سړى په جواب كي يرحمک الله ووايي، د امام مالک رحمة الله عليه په مذهب كي اختلافي قولونه دي چي تر چي كونكي ته په جواب كي يرحمک الله ويل واجب دي كه سنت، مګر پر دې باندي اتفاق دى چي دغه اختلاف په هغه صورت كي دى كله چي ترچي كونكى الحمدلله ووايي او هغه حاضرين واوري، كه ترچي كونكى الحمدلله ونه وايي نو هغه د جواب مستحق نه دى همدارنګه هغه الحمدلله ووايي مګر دومره كرار يې ووايي چي بل څوک يې نه واوري نو په دغه صورت كي هم جواب وركول يعني يرحمک الله ويل لازم نه دي، لفظ د سمعه چي په حديث كي نقل سوى دى پر دې خبره دلالت كوي، او دغه حكم د سلام او ټولو فرض كفايه كارو لكه د ناروغ پوښتنه، د مړي كفن، دفن، د جنازې لمونځ او نورو شيانو هم دى.

په شرح السنه كي ليكلي دي چي دغه حديث پر دې دلالت كوي چي ترچي كونكى باندي الحمدلله په لوړ اواز ووايي ترڅو نور ناست خلك يې واوري او د جواب مستحق سي.

يرحمک الله ويونكى

﴿۴۵۲۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلْيَقُلْ لَهُ أَخُوهُ أَوْ صَاحِبُهُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ فَإِذَا قَالَ لَهُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ فَلْيَقُلْ يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي يو چا ته ترچى راسي نو هغه دي الحمدلله ووايي او د هغه مسلمان ورور دي په جواب كي يرحمک الله ووايي نو ترچى كونكى دي په جواب كي يهديكم الله ويصلح بالكم (الله دي تا ته هدايت وكړي او ستا حال دي درست كړي) ووايي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۶۰۸، رقم: ۶۲۲۴.

تشريح: په: يهديكم الله، كي د مخاطب لپاره د جمع صيغه يا خو د غالب په اعتبار ده چي په عامه توګه ترچي كونكي سره څو خلك وي نو په ذكر سوې دعاء كي هغه ټول بايد شريک سي يا د مخاطب لپاره د جمع صيغه د تعظيم او تكريمه په توګه ده يا دا چي په دعاء كي د مخاطب په واسطه ټول امت مرحومه شاملول مراد كيږي.

د الحمدلله نه ويونكى

﴿۴۵۲۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ عَطَسَ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَمَّتَ أَحَدَهُمَا وَلَمْ يُشَمِّتِ الْآخَرَ فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ شَمَّتَّ هَذَا وَلَمْ تُشَمِّتْنِي قَالَ إِنَّ هَذَا حَمِدَ اللّٰهَ وَلَمْ تَحْمَدِ اللّٰهَ. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په حضور دوو كسانو ته ترچى ورغلى، رسول الله ﷺ يوه سړي ته جواب وركړ او بل ته يې ورنه كړ هغه ووېل: اې د الله رسوله! تاسو ده ته جواب وركړ او ما ته مو جواب نه راكړ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هغه سړي د خداى جل جلاله حمد ووايه او تا ونه وايه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۶۱۰، رقم: ۶۲۲۵، ومسلم ۴\۲۲۹۴، رقم: ۵۳- ۲۹۹۱.

تشريح: د حديث څخه معلومه سوه چي کوم څوک د ترچي څخه وروسته الحمد لله ونه وايي نو هغه ددې مستحق نه دی چي هغه ته د ترچي په جواب کي يرحمک الله وويل سي.

حضرت مکحول رحمة الله عليه وايي: يوه ورځ زه د حضرت ابن عمر رضي الله عنه سره ناست وم چي يو سړي د مسجد په يوه کونج کي ترچی وکړ، حضرت ابن عمر رضي الله عنه چي د هغه د ترچي آواز واورېدی نو وه يې فرمايل: يرحمک الله ان کنت حمدت الله، يعني که چيري تا د الله جل جلاله حمد کړی وي نو پر تا دي الله جل جلاله خپل رحمت نازل کړي.

شعبي رحمة الله عليه وايي: که چيري يو څوک د دېوال د شا له خوا ترچي وکړي او د الحمد لله پلو آواز تا ته راسي نو هغه ته هم جواب ورکړه يعني يرحمک الله ووايه.

﴿۴۵۲۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم يَقُوْلُ إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَحَمِدَ اللّٰهَ فَشَمِّتُوْهُ فَإِنْ لَمْ يَحْمَدُ اللّٰهَ فَلَا تُشَمِّتُوْهُ. رواه مسلم

د حضرت ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل هر کله چي چا ته ترچی راسي او هغه الحمد لله ووايي نو تاسو په جواب کي ورته يرحمک الله وايا ست او څوک چي په ترچي سره الحمد لله ونه وايي نو هغه ته جواب مه ورکوئ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۲۹۲، رقم: ۵۴- ۲۹۹۲.

د ترچي ادبونه

﴿۴۵۳۰﴾: وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم وَعَطَسَ رَجُلٌ عِنْدَهُ فَقَالَ لَهُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ ثُمَّ عَطَسَ أُخْرٰى فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلُ مَزْكُوْمٌ. رواه مسلم وفي رواية للترمذي انه قال له في الثالثة انه مزكوم.

د حضرت سلمة بن اکوع رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د نبئ کريم صلى الله عليه وسلم څخه يې اوريدلي وه چي يو سړي ته ترچی ورغلي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په جواب کي يرحمک الله وويل بيا دويم وار ورتا

ترچی ورغلی نو رسول الله ﷺ وفرمایل دا سړی زکام دئ. مسلم او د ترمذي په یوه روایت کي راځي چي رسول الله ﷺ د هغه سړي پر دریم ترچی وفرمایل چي دی زکام دئ.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۲۹۲، رقم: ۵۵- ۲۹۹۳.

تشريح: د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا وو چي دغه سړی زکام سوی دی ځکه په وار وار ترچی کوي او الحمدلله وایي، نو د هغه په جواب کي په وار وار د یرحمک الله ویلو ضرورت نسته، څرګنده دي وي چي د ابوداؤد او ترمذي په یو بل روایت کي دا فرمایل سوي دي چي کوم چا ته ترچی راځي او هغه الحمدلله وایي نو تر درو واره ترچي کولو پوري جواب ورکول کیږي او د دریم وار څخه وروسته اختیار دی که جواب ورکړي یا یې نه ورکړي.

د حدیث خلاصه دا سوه که چیري یو سړي ته پرله پسې ترچي راځي نو د هغه په جواب کي تر درو وارو پوري یرحمک الله ویل واجب یا سنت مؤکده دي، د دریم وار څخه وروسته د سکوت او جواب په مینځ کي اختیار دی که د درو واره څخه وروسته جواب نه ورکړي، او که وغواړي د دریم وار وروسته دي هم جواب ورکړي چي مستحب دی، یعني مقصد دادی چي د درو وارو څخه وروسته جواب ورکول ناجائز خبره نه ده مګر واجب او سنت مؤکده هم نه دي.

د ارږمی په وخت کي

﴿۴۵۳۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَاتَثَاوَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيُمْسِكْ بِيَدِهٖ عَلٰى فِيْهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ. رواه مسلم

د حضرت ابو سعید خدري ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي په تاسو کي یو چا ته اررمی راسي نو خپله خوله دي په لاس سره بنده کړي ځکه چي شیطان دده په خوله کي ننوزي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۲۹۳، رقم: ۵۷- ۲۹۹۵.

تشريح: په خوله کي د شیطان ننوتلو څخه مراد یا خو حقیقتا ننوتل دي یا دا مراد دی چي کوم څوک د اررمی پر وخت خپله خوله بنده نه کړي نو شیطان پر هغه باندي په اثر کولو سره او د هغه په وسوسو او وهمو کي اخته کولو باندي قادر کیږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ترچي په وخت کي

﴿۴۵۳۲﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَطَسَ غَطَّى وَجْهَهُ بِيَدِهِ أَوْ بِثَوْبِهِ وَغَضَّ بِهَا صَوْتَهُ. رواه الترمذي و ابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ ته ترچي راغلی نو مخ مبارک به يې په خپل لاس يا خپل جامې سره پټوی او د ترچي آواز به يې په کرار کړ. ترمذي ابوداؤد و ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۸۰، رقم: ۲۷۴۵، وابوداود ۵\۲۸۷، رقم: ۵۰۲۹.

تشريح: د ترچي په وخت کي مخ پټول او په لوړ آواز سره ترچي نه کول د تهذيب علامه هم ده او اداب شريعت تقاضا هم ده، ځکه چي د ترچي په ذريعه په عامه توګه د دماغ فضله مواد او بلغم وغيره د پزي يا خولې څخه راوځي، او د دوهم ترچي پر وخت د مخ هيئت خراب سي ځکه نو مخ پټول پکار دي همدارنګه په زيات لوړ آواز سره د ترچي کولو په صورت کي ډېر ځله خلک راوېښ سي او هسي هم زيات لوړ آواز سره ترچي کول د طبيعت د سلامتيا او شخصي وقار خلاف ګڼل کيږي نو په کرار آواز سره ترچي کول د ادب څخه ګڼل کيږي ، علماوو ليکلي دي چي ترچي کونکي ته مستحب دي چي خپل ترچي په کرار آواز سره وساتي او الحمدلله په لوړ آواز سره ووايي چي خلک يې په اورېدو سره جواب ورکړي.

د يرحمک الله ويونکي جواب

﴿۴۵۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا عَطَسَ

د حضرت ابو ايوب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي په تاسو کي چا ته

أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ الْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ وَلْيَقُلْ الَّذِي يَرُدُّ عَلَيْهِ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ وَلْيَقُلْ هُوَ يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ. رواه الترمذي والدارمي.

ترچى راسي نو دا كلمات دي وايي الحمدلله على كل حال (پر هر حال باندي الله تعالى ته تعريف دئ) او څوک چي دده جواب ورکوي هغه دي يرحمک الله ووايي او ترچي کونکی دي دا ووايي : يهديكم الله ويصلح بالكم . ترمذي او دارمي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۷۷، رقم: ۲۷۴۱، والدارمي ۲\۳۶۸، رقم: ۲۶۵۹.

د يهودو د ترچي جواب

﴿۴۵۳۴﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كَانَ الْيَهُودُ يَتَعَاطَسُونَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْجُونَ أَنْ يَقُولَ لَهُمْ يَرْحَمُكُمُ اللّٰهُ فَيَقُولُ يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله به د رسول الله ﷺ سره يهود وه او هغوى ته به ترچى راغلی نو په قصد سره به يې ترچى کوئ په دې اميد چي رسول الله ﷺ ورته يرحمک الله ووايي مگر رسول الله ﷺ به د هغوى د ترچى په جواب کي يهديکم الله ويصلح بالکم ويل . ابوداؤد او ترمذي.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۹۱، رقم: ۵۰۳۸، والترمذي ۵\۷۶، رقم: ۲۷۳۹.

تشريح: مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به د هغوى د ترچي په جواب کي يرحمک الله نه وايه، ځکه چي د الله تعالى رحمت يوازي د مؤمن لپاره خاص دی مگر رسول الله ﷺ به د هغوى د حال سره سم هغوى ته د هدايت او اصلاح دعاء کول .

د ترچي په وخت کي سلام

﴿۴۵۳۵﴾: وَعَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ قَالَ كُنَّا مَعَ سَالِمِ بْنِ عُبَيْدٍ فَعَطَسَ رَجُلٌ

د هلال بن يساف رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د سالم بن عبيد رضي الله عنه سره وو چي يو سړي ترچى

مِنَ الْقَوْمِ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقَالَ لَهُ سَالِمٌ وَعَلَيْكَ وَعَلَى أُمِّكَ فَكَأَنَّ

وکړ هغه د الحمدلله پر ځای السلام عليکم ووايي (په دې خيال چي شايد دا هم صحيح وي) سالم رضي الله عنه د هغه سړي په جواب کي وويل پر تا او ستا پر مور دي سلام وي ، هغه سړي خپل په

الرَّجُلَ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ فَقَالَ أَمَا إِنِّي لَمْ أَقُلْ إِلَّا مَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

زړه كي دا الفاظ بد وګڼل ، سالم ورته وويل په دې كي دبد منلو كومه خبره ده ما خو هغه الفاظ ويلي دي كوم چي رسول الله ﷺ فرمايلي وه

وَسَلَّمَ عَطَسَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ

يعني يو سړی په ترچي كولو سره د رسول الله ﷺ ومخته السلام عليكم وويل

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكَ وَعَلَى أُمِّكَ إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ

نو نبي كريم ﷺ ورته په جواب كي وفرمايل پر تا او ستا پر مور دي سلام وي او ددې وروسته نبي كريم ﷺ فرمايلي وه هر كله چي څوک ترچي وكړي نو هغه دي

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَلْيَقُلْ لَهُ مَنْ يَرُدُّ عَلَيْهِ يَرْحَمُكَ اللَّهُ وَلْيَقُلْ يَغْفِرُ اللَّهُ لَنَا وَلَكُمْ. رواه الترمذي وابوداؤد.

الحمد لله رب العالمين وايي او څوک چي جواب وركوي هغه دي ورته يرحمک الله ووايي او بيا دي ترچي كونكی د هغه په جواب كي يغفر الله لي ولكم ووايي . ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۸۸، رقم: ۵۰۳۱، والترمذي ۵\۷۶، رقم: ۲۷۳۹.

تشريح: مطلب دادی چي د ترچي په راتلو باندي الحمد لله يا الحمد لله رب العالمين ويل پكار دي ، په دغه وخت كي حاضرينو ته د سلام كولو څه معنی ده او نه ددې هيڅ اصل سته .

ځينو حضراتو ليكلي دي چي د يرحمک الله ويونكي په جواب كي ترچي كونكي ته يغفر الله لي ولكم سره يهديكم الله ويصلح بالكم هم ويل غوره دي .

د حديث څخه معلومه سوه كه چيري ترچي كونكی د الحمد لله پر ځای بل لفظ ووايي نو هغه د جواب مستحق نه دی ، همدا وجه ده چي رسول الله ﷺ هغه سړي ته د ترچي په جواب كي يرحمک الله ونه فرمايل مګر هغه سړی رسول الله ﷺ ته سلام وكړ نو رسول الله ﷺ د سلام جواب وركړ ، پاته سوه دا خبره چي رسول الله ﷺ د سلام په جواب كي وعلی امک (او ستا پر مور دي سلام وي) الفاظ ولي وفرمايل، نو دا په اصل كي رسول الله ﷺ د دغه الفاظو په ذريعه دوو خبرو ته اشاره وفرمايل ، يو خو دا چي په دغه وخت كي سلام كول بې ځايه دی او دا داسي

ده لکه یو سړی سلام کول غواړي مګر هغه داسي وو ایي چي پر تا او ستا پر مور دي سلام وي ، دوهمه خبره دا ده چي د یوه لفظ او کلام بې محله او بې موقع استعمالول خپل ځان د علم او تربیت څخه بې خبره ثابتول دي او ددې خبري اظهار کول دي چي زه د هغه سړي په ډول یم چي د یو هوښیار سړي د تربیت څخه محروم او محض د مور د غیر موزون تربیت حامل وي، او د هغه په زړه او دماغ د ښځینوو ماحول او طریقو اثر وي، علماوو دا هم لیکلي دي چي ددغه الفاظو په ذریعه د هغه سړي ناپوهي څرګنده سوې ده چي په هغه کي د مور د اوصافو د سرایت کولو په وجه پیدا سوې ده ، په دې اعتبار سره هغه دخپل مور په حق کي د رسول الله ﷺ د دعاء محتاج وو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ستا سره دي ستا پر مور هم سلامتیا وي چي الله تعالی هغه د عقل په دولت ونازوي او د ناپوهۍ د فتنې څخه يې خوندي کړي .

درې واره د ترچي جواب

﴿۴۵۳۶﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ رِفَاعَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُشَمِّتُ الْعَاطِسَ ثَلَاثًا فلما زَادَ فَإِنْ شِئْتَ فَشَمِّتْهُ وَإِنْ شِئْتَ فَلَا. رواه ابوداؤد والترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت عبید بن رفاعه رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ترچی کونکي ته درې واره جواب ورکوئ ددې څخه وروسته که ترچي ورته راسي نو خوښه ستا ده که جواب ورکوئ او که یې نه ورکوئ. ابوداؤد او ترمذي. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ

تخریج: سنن ابي داود ۵\ ۲۹۱، رقم: ۵۰۳۶، والترمذي ۵\ ۷۹، رقم: ۲۷۴۴.

﴿۴۵۳۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ شَمِّتْ أَخَاكَ ثَلَاثًا فَمَا زَادَ فَهُوَ زُكَامٌ . رواه ابوداؤد و قال لا اعلمه الا انه رفع الحديث الى النبي ﷺ.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي د خپل مسلمان ورور لپاره تر درو وارو پوري د ترچي جواب ورکوئ ددې څخه زیات که ترچي ورته راسي نو بیا هغه زکام دئ ، ابوداؤد او وایي چي پرته ددې څخه ما ته نور معلومات نسته چي دا حدیث یې رسول الله ﷺ ته مرفوع کړی دئ .

تخریج: سنن ابي داود ۵\ ۲۹۱، رقم: ۵۰۳۴.

تشريح: د امام ابوداؤد رحمة الله عليه د عبارت مطلب دادى چي دغه حديث د حضرت ابوهريره رضي الله عنه خپل قول نه دى بلكه د رسول الله ﷺ ارشاد دى چي ابوهريره رضي الله عنه نقل كړى دى او كه چيري دغه حديث ته حديث موقوف يعني د ابوهريره رضي الله عنه قول وويل سي نو بيا به هم دغه روايت د حديث موفوع يعني د رسول الله ﷺ د ارشاد په حكم كي وي ځكه چي حضرت ابوهريره رضي الله عنه د درود شمېر تعين د شارع عليه السلام د اورېدو څخه پرته نسو كولاى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د ترچي صحيح جواب

﴿۴۵۳۸﴾: عَنْ نَافِعٍ أَنَّ رَجُلًا عَطَسَ إِلَى جَنْبِ ابْنِ عُمَرَ فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د ابن عمر رضي الله عنه په څنګ كي يو سړي ترچى وكړ او بيا يې وويل الحمد لله

وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ قَالَ ابْنُ عُمَرَ وَأَنَا أَقُولُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالسَّلَامُ عَلَى

والسلام على رسول الله، ابن عمر رضي الله عنه ددې په جواب كي وويل او زه هم وايم الحمد لله والسلام

رَسُولِ اللّٰهِ وَلَيْسَ هٰكَذَا عَلَّمَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَقُولَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

على رسول الله مګر موږ ته رسول الله ﷺ داسي ښودنه نه ده كړې، رسول الله ﷺ موږ ته داسي ښودلي دي هر كله چي چا ته ترچى راسي نو الحمد لله على كل حال دي ووايي. ترمذي او وايي چي دا حديث غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۷۶، رقم: ۲۷۳۸.

======

بَابُ الضِّحْكِ (د خندا بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د رسول ﷺ تبسم

﴿۴۵۳۹﴾: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَجْمِعًا ضَاحِكًا حَتّٰى أَرٰى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ. رواه البخاري

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ چي ما هيڅكله رسول الله ﷺ په داسي خندا كولو نه دی ليدلی چي د رسول الله ﷺ خوله مبارکه خلاصه سوې وي او حلق مبارک يې ښکاره سوی وي بلکه رسول الله ﷺ به تبسم کوئ، بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۰۴، رقم: ۶۰۹۲.

د لغاتو حل: لهواته: جمع اللهاة، وهي اللحمات في سقف اقصى الفم مشرفة على الحلق.

﴿۴۵۴۰﴾: وَعَنْ جَرِيرٍ قَالَ مَا حَجَبَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِي إِلَّا تَبَسَّمَ. متفق عليه.

د حضرت جرير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د كوم وخت څخه زه مسلمان سوی يم رسول الله ﷺ په هيڅ حال كي زه هغوی ته د ورتلو څخه منع كړی نه يم او كله چي به رسول الله ﷺ ما ته كتل نو تبسم به يې كوئ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۰۴، رقم: ۶۰۸۹، ومسلم ۱۴\۱۹۲۵، رقم: ۱۳۴-۲۴۷۵.

تشريح: زه يې نه يم منع كړی: ددې مقصد دادی چي رسول الله ﷺ هيڅكله زه د راتللو څخه نه يم منع كړی، ما چي به كله غوښتل نو د رسول الله ﷺ په خدمت كي به حاضرېدم، كه څه هم هغه به يو خاص مجلس وو، په شرط ددې چي د نارينو مجلس به وو، يا دا مراد دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه يو شی غوښتی دی او رسول الله ﷺ د هغه د راكولو څخه انكار كړی وي، كله چي به ما د رسول الله ﷺ څخه غوښتل نو هغه به ما ته راكول.

د صحابه كرامو خندل

﴿۴۵۴۱﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا

د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به چي په كوم ځاى كي د سهار

يَقُومُ مِنْ مُصَلَّاهُ الَّذِي يُصَلِّي فِيهِ الصُّبْحَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِذَا طَلَعَتْ

لمونځ وكړ نو تر هغه وخته پوري به د هغه ځاى څخه نه ولاړيدئ تر څو پوري چي به لمر بنه

الشَّمْسُ قَامَ وَكَانُوا يَتَحَدَّثُونَ فَيَأْخُذُونَ فِي أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ فَيَضْحَكُونَ

ځلانده سوى نه وو كله چي به لمر راوختئ نو رسول الله ﷺ به ولاړ سو او صحابه كرامو به په خپل منځ كي خبري كولې او د جاهليت د زمانې حالات به يې بيانول او خندل به يې

وَيَتَبَسَّمُ ﷺ. رواه مسلم وفي رواية للترمذي يتناشدون الشعر.

او رسول الله ﷺ به تبسم كاوه . مسلم او د ترمذي په روايت كي دي چي صحابه كرامو به شعرونه ويل .

تخريج: صحيح مسلم: ۱۸۱۰\۱۴، رقم: ۶۹ - ۲۳۲۲، والترمذي ۱۲۸\۵، رقم: ۲۸۵۰.

تشريح: د اشعارو څخه مراد هغه اشعار دي چي هغه د توحيد، رسالت او ترهيب پر مضامينو باندي مشتمل وه . ددغه حديث څخه معلومه سوه چي د جاهليت زمانې خبري كول او پر هغو خندل جائز دي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

زيات تبسم كونكى

﴿۴۵۴۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه الترمذي.

د حضرت عبد الله بن حارث بن حزء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما تر رسول لله ﷺ زيات تبسم كونكى هيڅوك نه دى ليدلى . ترمذي .

تخريج: سنن الترمذي ۵۶۱\۵، رقم: ۳۶۴۲،

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د صحابه کرامو تبسم

﴿۴۵۴۳﴾: عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ هَلْ كَانَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى

د حضرت قتادة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د ابن عمر رضي الله عنه څخه پوښتنه وسول ايا د رسول الله ﷺ

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْحَكُوْنَ ؟ قَالَ نَعَمْ وَالْإِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِهِمْ أَعْظَمُ مِنَ

اصحابو به خندل؟ هغه ورته وويل هو او د هغوی په زړونو کي تر غره هم لوی ايمان وو ،

الْجَبَلِ وَقَالَ بِلَالُ بْنُ سَعْدٍ أَدْرَكْتُهُمْ يَشْتَدُّوْنَ بَيْنَ الْأَغْرَاضِ وَيَضْحَكُ بَعْضُهُمْ إِلٰى بَعْضٍ فَإِذَا كَانَ اللَّيْلُ كَانُوْا رُهْبَانًا . رواه في شرح السنة.

بلال بن سعد رضي الله عنه وايي ما صحابه کرام د غشي نبني ته په منډه ليدلي دي په داسي حال کي چي يو بل يې خندول مګر کله چي به شپه سول نو زهد (د خدای جل جلاله عبادت) به يې کوی . شرح السنة.

تخريج: رواه البغوي في شرح السنة ١٢\٣١٨، رقم: ٣٣٥١.

تشريح: حال دا چي د هغوی په زړو کي تر غره لوی ايمان وو: دلته دا اشاره ده چي کله به د خندا وخت وو نو هغوی به خندل مګر داسي به يې نه خندل لکه څرنګه چي غافل او شتمن خلک خاندي څکه چي داسي خندا چي تر حد زياته وي زړه غافل کوي او په نور ايمان کي خلل اچوي، صحابه کرامو به د خندا په حالت کي هم د شرعي ادابو لمن د لاس څخه نه ايله کول او خپل ايمان به يې پر کامله درجه ساتی .

نو هغوی به د الله جل جلاله څخه ډېر زيات بېرېدونکي وه: مطلب دادی چي کله به شپه راغله نو صحابه کرام به د دنيا ټول کار او ارام پرېښود او په عبادت کي به بوخت سول او د الله جل جلاله د بيري د غلبې څخه به يې ژړاوي کولې او په مناجات او التجاء کي به بوخت وه .

==========

بَابُ الْاَسَامِيْ (دنوم ايښودلو بيان)

په دغه باب کي هغه حديثونه نقل کيږي چي د هغو څخه د نومانو احکام څرګنديږي او دا معلوميږي چي بايد څرنګه نوم کښېښودل سي ، کوم نومونه ښه دي او کوم نومونه خراب دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د رسول ﷺ کنيت پر ځان مه ايږدئ

﴿۴۵۴۴﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السُّوقِ فَقَالَ

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په بازار کي وو چي يو سړي وويل :

رَجُلٌ يَا أَبَا الْقَاسِمِ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّمَا دَعَوْتُ

اې اباالقاسم، رسول الله ﷺ هغه سړي ته وکتل ، هغه وويل ما تاسو ته آواز نه دی کړی هغه بل سړي ته مي آواز کړی دی ،

هٰذَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي . متفق عليه

رسول الله ﷺ وفرمايل زما په نامه خپل نوم ايږدئ مګر زما په کنيت خپل کنيت مه ايږدئ. بخاري او مسلم . کنيت هغه نامه ته وايي چي د پلار، مور، لور يا زوی ته منسوب وي لکه ابو القاسم د قاسم پلار چي د رسول الله ﷺ کنيت دئ .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\۳۳۹، رقم: ۲۱۲۰، ومسلم ۳ ۱۶۸۲، رقم: ۱- ۲۱۳۱.

﴿۴۵۴۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي فَإِنِّي إِنَّمَا جُعِلْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ . متفق عليه.

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په نامه خپل نوم ايږدئ مګر زما په کنيت خپل کنيت مه ايږدئ ځکه چي زه قاسم (ويشونکی) جوړ کړل سوی يم چي په تاسو کي ويش کوم . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢١٧، رقم: ٣١١٤، ومسلم ٣\١٦٨٣، رقم: ٤- ٢١٣٣.

تشريح: کُنيت دې ته وايي چي يو سړی د خپل ذات نسبت پلار يا زوی ته په کولو سره خپل ځان په هغه مشهور او معروف کړي لکه ابن فلان يا ابو فلان، يعني د فلاني زوی يا د فلاني پلار، يا داسي هم ويل کيږي چي کنيت هغه نامه ته وايي چي د پلار، زوی، لور او مور سره اړوند ويل کيږي.

او زه ستاسو په مينځ کي وېش کوم: ددې مطلب دادی چي الله تعالی ما ته کوم علم او حکمت، ديني احکام او مسائل او دنيوي مال لکه د غنيمت مال وغيره راکوي نو زه هغه د مسلمانانو په مينځ کي ويشم، ددې څخه مراد دادی چي زه د الله ﷻ نېکو بندګانو ته د جَنت او د نورو نعمتونو زيری ورکوم او بدکاره خلک د دوږخ څخه بېروم، نو دغه صفت په تاسو کي موجود نه دی او تاسو په دې فائز نه ياست، ځکه تاسو زما د کنيت اختيارولو مجاز نه لرئ، البته خپل نوم يا دخپل اولاد نوم لفظا او صورتا زما په نامه اېښولای سئ، خلاصه دا چي زه محض په دې وجه ابو القاسم نه يم چي زما د زوی نوم قاسم دی بلکه په ما کي د قاسميت د معنی لحاظ هم اېښودل سوی دی، په دې اعتبار چي زه د ديني او دنيوي چارو وېشونکی ګرځول سوی يم، کله چي زه د ذات په اعتبار او د صفاتو په اعتبار ستاسو په ډول نه يم نو تاسو زما کنيت ولي اېږدئ بلکه د هغه وصف د مالک به وي لکه چا ته چي ابو الفضل ويل کيږي حال دا چي د هغه د زوی نوم فضل نه وي.

ځيني حضرات وايي چي د رسول الله ﷺ د کنيت اېښودو منع د رسول الله ﷺ د زمانې سره خاص وه چي د تخاطب په وخت کي د نبي کريم ﷺ او نورو خلکو په مينځ کي د اشتباه صورت پيدا نسي لکه څرنګه چي ملا علي قاري رحمه الله ليکلي او دغه قول صحيح دی.

شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله وايي: ددغه دواړو حديثو څخه دا څرګنديږي چي د محمد نوم اېښودل جائز دي مګر د ابو القاسم کنيت اېښودل جائز نه دي که څه هم داسي صورت وي چي د يو چا نوم محمد وي او هغه خپل کنيت ابو القاسم اېښودل غواړي او که داسي صورت چي بل نوم يې وي او محض کنيت د ابو القاسم اېږدي، خلاصه دا چي د هيچا لپاره دا جائز نه ده چي هغه خپل کنيت ابو القاسم کښېږدي که څه هم د هغه نوم محمد وي يا بل څه وي، د امام شافعي رحمه الله او اصحاب ظواهرو دا قول دی او هغوی ددغه حديثونو څخه استدلال کوي، دوهم قول د محمد شيباني رحمه الله دی او هغه دادی چي د نامه او کينت يو ځای صحيح نه دي يعني د چا نوم چي محمد وي هغه دي خپل کنيت ابو القاسم نه اېږدي مګر که چيري د چا نوم محمد نه وي نو هغه ته په ابو القاسم ويل جائز دي، د دوی په نزد ددغه حديثو مطلب دادی چي

يو سړی دي د خپل ذات لپاره دغه نوم او كنيت يو ځای نه اختيار روي.

دريم قول دادی چي دواړه جمع كېدل هم جائز دي يعني د چا نوم چي محمد وي هغه هم خپل كنيت ابو القاسم ايښودلای سي، د دغه قول نسبت امام مالک رحمه الله عليه ته كيږي، د دوی وينا ده چي په كومو حديثو كي د دغه منع نقل سوې ده هغه منسوخ دي، يو ډله وايي چي د دغه منع تعلق د رسول الله ﷺ د زمانې سره وو، د رسول الله ﷺ څخه وروسته دا جائز دی، د دغه ډلي دليل د حضرت علي رضی الله عنه دغه حديث دی چي كله هغه رسول الله ﷺ ته وويل: كه ستاسو څخه وروسته زما زوی پيدا سي نو زه به د هغه نوم او كنيت ستاسو د نامه او كنيت په ډول ايږدم، رسول الله ﷺ اجازه وركړه، نو حضرت محمد بن الحنيفة چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته پيدا سوی وو، حضرت علي رضی الله عنه د هغه كنيت ابو القاسم كښېښود، يو بله ډله چي د هغوی قول د باور وړ نه دی وايي چي يو چا ته د رسول الله ﷺ نوم ايښودل هم جائز نه دي.

د ذكر سوو قولو په رڼا كي كوم قول چي تر ټولو زيات صحيح او د حنفي مذهب مطابق دی هغه دادی چي د رسول الله ﷺ نوم ايښودل خو جائز دي بلكه مستحب دي مگر د رسول الله ﷺ كنيت ايښودل كه څه هم د دې تعلق د رسول الله ﷺ څخه وروسته وي منع دی تر څو چي د حضرت علي رضی الله عنه په اړه منقول دي نو دا د هغه سره يو خاص معامله وه لكه څرنگه چي د حديث د سياق څخه څرگنديږي، نو د هغه څخه پرته د بل چا لپاره دا جائز نه دي چي هغه د رسول الله ﷺ كنيت پر خپل ځان كښيږدي، د دې تائيد د ابن عساكر رحمه الله عليه د دغه روايت څخه هم كيږي چي په جمع الجوامع كي د حضرت علي رضی الله عنه څخه نقل سوي دي چي يوه ورځ پر دغه مسئله باندي د حضرت علي رضی الله عنه او حضرت طلحه رضی الله عنه په مينځ كي خبري وسوې، نو حضرت طلحه رضی الله عنه، حضرت علي رضی الله عنه ته وويل: تاسو د خپل زوی نوم د رسول الله ﷺ په نامه محمد ايښی دی او د هغه كنيت دي هم د رسول الله ﷺ پر كنيت (ابو القاسم) ايښی دی حال دا چي رسول الله ﷺ د دواړو جمع كولو څخه منع فرمايلې ده، حضرت علي رضی الله عنه وفرمايل: معاذ الله، څوک د الله تعالی او د هغه د رسول پر خلاف د عمل كولو جرئت كولای سي، بيا حضرت علي رضی الله عنه يو څو قريشي صحابه كرام را وغوښتل او هغوی ټولو شاهدي وركړه چي رسول الله ﷺ حضرت علي رضی الله عنه ته اجازه وركړې وه چي هغه د رسول الله ﷺ څخه وروسته د خپل زوی نوم او كنيت د رسول الله ﷺ په نامه او كنيت كښيږدي.

عبدالله او عبدالرحمان

﴿۴۵۴۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَبَّ أَسْمَائِكُمْ إِلَى اللّٰهِ عَبْدُ اللّٰهِ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالی په نزد ستاسو په نومونو کي غوره نوم عبدالله او عبدالرحمن دئ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۶۸۲\۳، رقم: ۲- ۲۱۳۲.

تشريح: ځينو حضراتو ويلي دي چي د دغه ارشاد څخه مراد دادی چي دغه دواړه نومونه يعني عبدالله او عبدالرحمن د انبياء عليهم السلام د نومانو څخه وروسته زيات غوره دي، په دې اعتبار سره ويل کيږي چي دغه دواړه نومونه د محمد د نامه څخه زيات غوره نه دي بلکه په غوره والي کي د دواړو درجه يا خو د محمد د نامه څخه کمه ده او يا برابره ده.

يو څو منع نومونه

﴿۴۵۴۷﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سمرة بن جندب رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

لَا تُسَمِّيَنَّ غُلَامَكَ يَسَارًا وَلَا رَبَاحًا وَلَا نَجِيحًا وَلَا أَفْلَحَ فَإِنَّكَ تَقُولُ أَثَمَّ هُوَ

د خپل غلام نوم يسار، رباح، نجيح، او افلح مه ايږدئ ځکه چي تاسو د هغه په نامه سره هغه ته

فَلَا يَكُونُ فَيَقُولُ لَا، رواه مسلم و في رواية له قَالَ لَا تُسَمِّ غُلَامَكَ رَبَاحًا وَلَا يَسَارًا وَلَا أَفْلَحَ وَلَا نَافِعًا.

آواز کړئ او هغه موجود نه وي نو وه به ويل سي چي هغه نسته، (يعني مثلا تاسو د ايسار په نامه اخيستلو سره آواز کړئ او دا وويل سي چي هغه نه سته نو د دې مفهوم به دا وي چي په کور کي پراخي او اساني نه سته او دا بده خبره ده). مسلم او د مسلم په يوه بل روايت کي دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: د خپل غلام نوم رباح، يسار، افلح او نافع مه ايږدي. رباح معنی ګټه، نجيح معنی مطلب ته رسيدونکی، افلح معنی بری موندونکی.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۶۸۵، رقم: ۱۲- ۲۱۳۷.

تشريح: يسار د يسر څخه دی چي معنی يې د پراخۍ ده، رباح د ربح څخه دی چي معنی يې د ګټې او فائدې ده، نجيح د نجح څخه دی چي معنی يې د بريالیتوب ده، افلح د فلاح څخه دی چي معنی يې د کاميابۍ او خلاصون ده، نافع د نفع څخه دی چي معنی يې د ګټې ده.

د حديث مطلب دادی چي داسي نوم ايښودل منع دی ځکه د مثال په توګه که چيري د يو سړي نوم يسار کښېښودل سي او يو وخت د کورنۍ والا څخه پوښتنه وکړل سي چي دلته يسار سته ؟ او د کورنۍ خلک جواب ورکړي چي په کور کي يسار نسته نو که څه هم په دغه صورت کي متعين ذات مراد دی مګر د لفظ يسار د حقيقي معنی په اعتبار به دا مفهوم وي چي په دغه کور کي پراخي نسته او داسي ويل خرابه خبره ده، پر همدغه باندي نور ذکر سوي الفاظ هم قياس کيدای سي.

د مسلم په يوه روايت کي د نجيح پر ځای د نافع ذکر دی، ددې څخه معلومه سوه چي د ذکر سوي منع تعلق محض ددغه نومانو سره نه دی بلکه هغه نور نومونه هم ددغه الفاظو په معنی کي همدغه حکم لري.

امام نووي رحمة الله عليه وايي: زموږ علماؤ ويلي دي چي داسي نومونه ايښودل مکروه تنزيهي ده نه مکروه تحريمي.

﴿۴۵۴۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْهَى عَنْ أَنْ يُسَمَّى بِيَعْلَى وَبِبَرَكَةَ وَبِأَفْلَحَ وَبِيَسَارٍ وَبِنَافِعٍ وَبِنَحْوِ ذٰلِكَ ثُمَّ رَأَيْتُهُ سَكَتَ بَعْدُ عَنْهَا ثُمَّ قُبِضَ وَلَمْ يَنْهَ عَنْ ذٰلِكَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم اراده وکړه چي خلک د يعلي، برکت، افلح، يسار او نافع او ددې په مثل نومونو ايښودلو څخه منع کړي بيا ما وليدل چي رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې اراده څخه پټه خوله پاته سو او ددې څخه وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات سو او رسول الله صلی الله عليه وسلم ددغه نومو ايښودو څخه منع نه وفرمايل. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۶۸۶، رقم: ۱۳- ۲۱۳۸.

تشريح: ددغه حديث څخه معلومه سوه چي د ذکر سوو نومونو ايښودو منع نافذ سوې نه ده، حال دا چي مخکني حديث د منع پر نفاذ باندي په ښکاره دلالت کوي، ددغه تضاد ليري کولو

لپاره يحيى رحمة الله عليه وايي چي د حضرت جابر رضي الله عنه د منع علامه لېدل او هغه شی هم اورېدل چي منع ته اشاره کوي هغه د منع حکم په صريح توګه نه وو اورېدلی ځکه هغه دغه مسئله په ذکر سوي طرز بيان کړل، مګر دغه منع د صحيح حديث څخه ثابت سوې ده ځکه نو دا ويل کيږي چي منع ثابت ده ، ددې څخه پرته ملا علي قاري رحمة الله عليه وايي چي زما په نزد ددغه تضاد ليري کولو لپاره يو بل تاويل دی هغه دا چي د رسول الله ﷺ د ارادې تعلق په اصل کي د هغه منع د نهي تحريمي په توګه نافذ کولو نه وو مګر ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د امت په اړه د سانۍ او نرمۍ په خيال ساتلو سره سکوت وفرمايه ځکه چي رسول الله ﷺ پوهېدی چي د نومانو مسئله داسي ده چي هغه ته زيات خلک توجه نه کوي او د ښه او بد نومانو د فرق کولو پابند به نه وي او د هغه نتيجه به دا وي چي ددې په وجه به د امت خلک په ديني تاوان کي اخته سي ، نو ويل کيږي چي د کوم روايت څخه د منع عدم نفاذ ثابتيږي د هغه تعلق د نهي تحريمي سره دی او په حقيقت کي دا مسئله هم ده چي ذکر سوی نوم اېښودل مکروه تنزيهي دی او مکروه تحريمي نه دی .

شهنشاه

﴿۴۵۴۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْنَى

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بدترين

الْأَسْمَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ اللَّهِ رَجُلٌ تَسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ .رواه البخاري

نوم به د قيامت په ورځ د الله تعالی په نزد د هغه سړي نوم وي چي هغه ته شهنشاه ويل کيږي (يعني د يو چا نوم چي شهنشاه وي) . بخاري

وفي رواية مسلم قَالَ أَغْيَظُ رَجُلٍ عَلَى اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَخْبَثُهُ وَأَغْيَظُهُ رَجُلٍ كَانَ يُسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ لَا مَلِكَ إِلَّا اللَّهُ.

او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د قيامت په ورځ به مبغوض ترين خلک د الله جل جلاله په نزد هغه وي چي د هغه نوم شهنشاه وي (دا نوم که د يو عام سړي او که د يو پاچا ښه نه دئ) د الله تعالی څخه پرته بل هيڅوک حقيقي پاچا نسته .مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۸۸، رقم: ۶۲۰۶، ومسلم ۳\۱۶۸۸، رقم: ۲۰- ۲۱۴۳.

د لغاتو حل: اخنى: اى اقبحها (بد يې ګنم)

تشريح: مطلب دادی چي د الله جل جلاله څخه پرته بل حقيقي پاچا نسته نو بيا شهنشاه يعني د پاچاهانو پاچا يو چا ته ويل به څرنگه وي، شهنشاه يو داسي وصف دی چي يوازي د الله تعالی سره خاص دی چي په دغه وصف کي د يو مخلوق د شريک کېدو وهم او گمان هم نسي کيدای.

د نفس تعريف

﴿۴۵۵۰﴾: وَعَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَتْ سُمِّيتُ بَرَّةَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمُ اللَّهُ أَعْلَمُ بِأَهْلِ الْبِرِّ مِنْكُمْ فَقَالُوا بِمَ نُسَمِّيهَا قَالَ سَمُّوهَا زَيْنَبَ. رواه مسلم.

د حضرت زينب بنت ابو سلمه رضي الله عنها څخه روايت دئ چي زما نوم بره (نيکه) کښېښودل سو، رسول الله ﷺ وفرمايل د خپل ځان تعريف مه کوه د نيکۍ خاوندان الله جل جلاله ښه پيژني ددې نوم زينب کښېږدئ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\۱۶۸۷، رقم: ۱۹- ۲۱۴۲.

تشريح: ددغه حديث څخه معلومه سوه چي داسي نوم بايد نه کښېښودل سي چي د هغه لفظي مفهوم څخه د نفس تعريف ظاهرېږي ځکه چي ددې په وجه په نفس کي لويي پيدا کيږي.

﴿۴۵۵۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَتْ جُوَيْرِيَةُ اسْمُهَا بَرَّةُ فَحَوَّلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَهَا جُوَيْرِيَةَ وَكَانَ يَكْرَهُ أَنْ يُقَالَ خَرَجَ مِنْ عِنْدَ بَرَّةَ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ د بي بي جويريه نوم بَرّه وو، رسول الله ﷺ د هغې نوم بدل کړ او جويريه نوم يې پر کښېښودئ ځکه چي رسول الله ﷺ دا خبره بده گڼل چي څوک ورته دا ووايي چي تاسو د بره (نيکۍ) څخه ووتلاست. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۳\۱۶۸۷، رقم: ۱۶- ۴۱۴۰.

تشريح: د بره معنی د نيکانو ده، ددغه لفظ د اصل معنی په اعتبار يې خوښ نه کړ، کله چي د بره د کور څخه ووځي ځکه چي د نيکانو څخه وتل ښه خبره نه گڼل کيږي، وکان يکره...الخ: په

دې اړه دا معلومیږي چې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه قول دی مګر دا هم کیدای سي چې د خپل ذکر سوي ناخوښي په اړه خپله رسول الله ﷺ د دغه الفاظو په ذریعه خبر ورکړی وي ، څرګنده دي وي چې په دغه حدیث کي د بره اېښودو د منع سبب ذکر سوې ناخوښي ګرځول سوې ده ، حال دا چې د بي بي زینب رضی الله عنها په اړه د دغه منع سبب د نفس تزکیه ګرځول سوې ده مګر په دواړو کي څه تضاد نسته ، ځکه چې د اسبابو په مینځ کي مزاحمت نه وي ، د یوه شي دوه مختلف سببونه کیدلای سي د کومو دوو شیانو چې ذکر سوی دی هغه دواړه د مذکوره منع د سبب صلاحیت لري ، ددې څخه پرته دا هم کیدای سي چې د زینب کورنۍ او قبیلې د خلکو څخه د معلومولو څخه وروسته دا څرګنده سوې وي چې هغوی د زینب نوم بره واقعتا د هغې د نفس د تعریف او مدح په قصد سره ایښی وي حال دا چې د بي بي جویریه رضی الله عنها په اړه دا خبره نه ده ځکه د زینب په اړه د منع سبب د نفس تزکیه وګرځول سول او د جویریه په اړه د منع سبب د رسول الله ﷺ د بره څخه د وتلو ویل نه خوښول وګرځول سول، او دا خبره هم ده چې ازواج مطهرات ته د رسول الله ﷺ د تلو او راتلو په اړه په عامه توګه داسي ویل کېدل چې رسول الله ﷺ فلانۍ بي بي ته تشریف وړی دی یا رسول الله ﷺ د فلانۍ بي بي څخه وتلی دی او دا هم کیدای سي چې څرنګه یسار، نجیح وغیره د نومونو په اړه د بدفالۍ اعتبار کیږي همدارنګه د بره په اړه هم دا اعتبار وي او څرنګه چې د بره په اړه د تزکیې او کراهت اعتبار سوی دی همدارنګه د یسار او نجیح په اړه هم ددې اعتبار وي .

ښه نومان اېږدئ

﴿۴۵۵۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ ابْنَتًا لِعُمَرَ كَانَتْ يُقَالُ لَهَا عَاصِيَةُ فَسَمَّاهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمِيلَةَ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې د حضرت عمر رضی الله عنه د یوې لور نوم عاصیه (ګناه کاره) وو ، رسول الله ﷺ د هغې نوم بدل کړ او جمیله نوم یې پر کښېښودئ. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۳\ ۱۶۸۷، رقم: ۱۵- ۲۱۳۹.

تشریح: د جاهلیت په زمانه کي د عربو دا رواج وو چې هغوی به د خپلو کوچنیانو نوم عاصي یا عاصیه اېښودل، د عاصي لفظي معنی د نافرمان ، سرکښ او متکبر ده، چې د الله جل جلاله او د هغه د دین مخالف دي، د اسلام د زمانې څخه وروسته رسول الله ﷺ داسي نومونه اېښودل

ناخوښه کړل ، او د چا نوم چي عاصي يا عاصيه وو هغه به يې بدل کړل او نور نومونه يې پر کښېښودل، ددې څخه معلومه سوه چي د خراب نوم بدلول مستحب دي .

﴿۴۵۵۳﴾: وَعَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ قَالَ أُتِيَ بِالْمُنْذِرِ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ وُلِدَ فَوَضَعَهُ عَلَى فَخِذِهِ فَقَالَ مَا اسْمُهُ قَالَ فُلَانٌ قَالَ وَلَكِنْ أَسْمِهِ الْمُنْذِرَ. متفق عليه.

د حضرت سهل ابن سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله منذر بن ابو اسيد رضي الله عنه پيدا سو نو د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر سو ، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه پر خپل زنګانه مبارک کښېښوئ او پوښتنه يې وكړه دده نوم څه دئ ؟په جواب كي ورته وويل سوه دده نوم فلانى دئ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل دا نه بلكه دده نوم منذر دئ (منذر معنى د الله جل جلاله د احكامو رسونكى او د الله جل جلاله د عذاب څخه بېرونكى) . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۷۵، رقم: ۶۱۹۱، ومسلم ۳\۱۶۹۲، رقم: ۲۹– ۲۱۴۹.

تشريح: فلانى نوم دى، يعني مور او پلار چي كوم نوم پر ايښى وو راوستونكي هغه بيان كړ، راوي ته هغه نوم معلوم نه وو ځكه هغه همداسي نقل كړي . منذر په اصل كي د انذار څخه مشتق دى چي د هغه معنى د الله تعالى د عذاب څخه د بېرونكي ده .

عبدي يا امتي مه واياست

﴿۴۵۵۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ عَبْدِي وَأَمَتِي كُلُّكُمْ عَبِيدُ اللَّهِ وَكُلُّ نِسَائِكُمْ إِمَاءُ اللَّهِ وَلَكِنْ لِيَقُلْ غُلَامِي وَجَارِيَتِي وَفَتَايَ وَلَا يَقُلِ الْعَبْدُ رَبِّي وَلَكِنْ لِيَقُلْ سَيِّدِي، وفي رواية

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : هيڅوک دي (خپل غلام او مينزي ته) زما بنده او زما مينزه نه وايي (اصل مطلب دا چي عبدي او امتي ويل يوازي كبريا او د عزت خاوند الله جل جلاله خپل بنده ته وايي نور خلک بايد ونه وايي او غلام ويل روا دى ځكه چي غلام معنى هلک) تاسو ټول د الله جل جلاله بندګان او ټولي ښځي د الله جل جلاله مينزي دي بلكه

داسي دي ووايي زما خادم او زما خادمه، زما هلک او زما انجلۍ، او غلام دي خپل بادار ته زما پروردګار نه وايي بلکه زما سردار دي ورته وايي، او په يوه روايت کي دادي

لِيَقُلْ سَيِّدِي وَمَوْلَايَ، وفي رواية لَا يَقُلِ الْعَبْدُ لِسَيِّدِهِ مَوْلَايَ فَإِنَّ مَوْلَاكُمُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ. رواه مسلم.

چي غلام دي خپل بادار ته زما مولى نه وايي ځکه چي ستاسو مولى الله تعالى دئ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۱۷۶۴، رقم: ۱۳- ۲۲۴۹.

تشريح: کله چي د غلام او مينزي ساتلو رواج وو نو خلکو به د داسي الفاظو په ذريعه مخاطب کول چي د خپلي معنى په اعتبار به بالکل نامناسب وه د مثال په توګه د جاهليت په زمانه کي به عربو خپل غلام يا مينزي په داسي ويلو مخاطب کول چي يا عبدي (اې زما بنده) او يا امتي (اې زما مينزي) ،څرګنده ده چي د عبد لفظ د يو خاص مفهوم حامل دی او د اسلامي عقيدې مطابق انسان د الله تعالى عبد (بنده) دی، او يو انسان د بل انسان بنده نسي کيدای، په دې اعتبار سره که چيري يو انسان بل انسان ته د خپل عبد يعني بنده په لفظ ووايي نو ددې مطلب دادی چي په ظاهره يا خو هغه په حقيقت کي د عبديت د شرک مرتکب کيږي يا د شرک مرتکب نه دی بلکه د ګمان سبب جوړيږي، نو رسول الله ﷺ ددغه لفظ د استعمال څخه منع وفرمايل، همدارنګه د قاموس مطابق د امة لفظ د مملوکه په معنى دی او دا هم څرګنده ده چي د يو انسان حقيقي ملکيت يوازي الله تعالى ته حاصل دی، دا ممکن نه ده چي يو انسان د بل انسان د ملکيت دعوه وکړي نو رسول الله ﷺ ددغه لفظ د استعمالولو څخه هم منع وفرمايل.

د کومو الفاظو په ذريعه چي د غلام او مينزي د يادولو اجازه ورکړل سوې ده په هغو کي د غلام (هلک) او جاريه (انجلۍ) الفاظ دي، د فتى معنى د زلمي ده او د فتاة معنى د ځواني ښځي ده، څرګنده ده چي ددغه الفاظو په استعمال کي نه يوازي دا چي د مفهوم په اعتبار څه نامناسب نيت نسته بلکه ددغه الفاظو په ذريعه يو ډول د غلام او مينزي د شفقت او ميني د جذباتو اظهار هم کيږي، پاته سوه دا خبره چي فتى او فتاة ځوان سړي او ځواني ښځي ته وايي نو ددغه الفاظو اطلاق به پر هغه غلام او مينزي باندي څرنګه کيږي چي هغوی سپين ږيري وي، نو په دې اړه بايد دا خيال وي چي غلام او مينزه که هر څو مره سپين ږيري وي په عامه توګه د هغوی د سپين ږيرتوب هغه لحاظ او احترام به يې نه کوي چي د هغه عمر د نورو خلکو يعني د

آزادو سپین ږیرو کېدی ، ددې ځخه پرته دا هم ویل کیدای سي چي د خدمت او کاروبار په اړه سپین ږیري غلام او مینزه هم د ځوانان په ډول تکړه وي ځکه هغوی ته به هم فتی او فتاة ویل کېدل، خلاصه دا چي ددغه ارشاد مطلب دا څرګندول دي که چیري غلام او مینزه د داسي الفاظو په ذریعه مخاطب کړل سي چي د هغوی حیثیت او مرتبه څرګنده سي نو ددغه مقصد لپاره د عبد او امة ځخه غوره الفاظ دي، علماوو دا لیکلي دي چي د عبد او امة د الفاظو د استعمال د منع تعلق په هغه صورت کي دی کله چي د خپل غرور او تکبر اظهار او د غلام او مینځي د حقیر او ذلیل ګڼلو په توګه وي کنه نو پر غلام او مینزي باندي د عبد او امة د لفظ اطلاق په خپله په قرآن کریم کي نقل سوی دی لکه څرنګه چي الله تعالی فرمایي :

وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ، اللهُ مَثَلاً عَبْدًا مَّمْلُوكًا لاَّ يَقْدِرُ عَلَى شَيْءٍ.

همدارنګه په ډېرو حدیثو کي هم د غلام او مینزي لپاره د عبد او امة الفاظ استعمال سوي دي .

لکه څرنګه چي مالکانو ته هدایت سوی دی چي هغوی دي خپل غلام او مینځي په نامناسب الفاظو سره نه یادوي همدارنګه غلام او مینځي هم خبرداری ورکړل سوی دی چي هغوی دي خپل مالک په نامناسب الفاظو سره نه مخاطب کوي او فرمایل سوي دي چي هیڅ غلام او مینځه دي خپل بادار ته په (ربي) یعني زما ربه، نه وایي ، که څه هم د رب معنی د تربیت او روزني ده مګر ربوبیت علی الاطلاق یو داسي خاص صفت دی چي یوازي د الله تعالی سره خاص دی، نو یو انسان ته رب ویل د شرک د ګمان باعث دی مګر څرګنده دي وي چي ددغه منع تعلق هم د هغه صورت سره دی کله چي ددغه لفظ د استعمال مقصد د خپل بادار تعظیم وي کنه نو پر مالک باندي د رب د لفظ اطلاق هم د قرآن کریم ځخه ثابت دی لکه چي فرمایل سوي دي :

اذْكُرْنِي عِندَ رَبِّكَ، غلام او مینځي ته د خپل بادار د یادولو لپاره چي د کوم لفظ اجازه ورکړل سوې ده هغه سید دی، او دا څرګنده ده چي بادار ته پر خپل غلام او مینځي باندي سیادت (سرداري او مشرتوب) تر لاسه دی، په دې اعتبار سره غلام او مینځي ته د یا سیدي (اې زما سرداره!) په لفظ ویلو سره مخاطب کول مناسب دي .

څرګنده دي وي چي په یوه روایت کي خو غلام او مینځي ته حکم ورکړل سوی دی چي هغوی دي خپل بادار ته مولی وایي مګر په دوهم روایت کي دا ویل سوي دي چي هیڅ یو غلام او مینځه دي خپل مالک ته مولی نه وایي، ددغه دواړو روایتو په مینځ کي ظاهري تضاد ددغه تاویل په ذریعه لیري کیدای سي چي د مولی څو معناوي دي لکه متصرف ، منتظم، ناصر ،

معين وغيره، نو غلام او مينځي ته د خپل بادار لپاره د مولى د لفظ استعمالولو د اجازې تعلق په هغه صورت كي دى كله چي د هغه هغه معنى مراد وانخلي كوم چي د الله تعالى د ذات سره خاص ده مګر د كومي معنى اطلاق چي د بندګانو پر ذات باندي هم كيداى سي لكه متصرف او منتظم نو ددغه معنى په مراد اخيستلو سره د بادار لپاره د مولى د لفظ استعمال كيداى سي، همدا وجه ده چي د مولى اطلاق پر معتِق او معتَق باندي كيږي، لكه څرنګه چي د بخاري په روايت كي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد نقل سوى دى : مولى القوم من انفسهم، يا د طبري په روايت كي دي : مولى الرجل اخوه، بادار ته د مولى ويلو منع او د عدم جواز تعلق په هغه صورت كي دى كله چي ددغه لفظ هغه معنى مراد واخيستل سي كوم چي د الله تعالى د ذات سره خاص ده لكه ناصر ، معين او داسي نور، ځكه چي ددغه معنى په اعتبار د مولى حقيقي معنى يوازي الله تعالى دى لكه چي فرمايل سوي دي : نعم المولى ونعم النصير، ددغه تفصيل څخه وروسته د دواړو حديثو په مينځ كي تضاد پاته نه سو ، خلاصه دا چي په دغه مسئله كي به هغه مسئله په نظر كي وي كوم چي مخكي ذكر سوې ده يعني كه چيري د مولى د لفظ استعمال د تعظيم په توګه وي نو ددغه منع حكم به جاري وي كنه نو په بل صورت كي ددغه لفظ په استعمال كي څه پروا نسته .

انګورو ته كرم مه واياست

﴿۴۵۵۵﴾ : وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُولُوا الْكَرْمَ فَإِنَّ الْكَرْمَ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ. رواه مسلم. وفي رواية عن وائل بن حجر لَا تَقُولُوا الْكَرْمُ وَلَكِنْ قُولُوا الْعِنَبُ وَالْحَبْلَةُ.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ وفرمايل : د انګورو درختي ته كرم مه واياست ځكه چي كرم د مؤمن زړه دئ . مسلم او د مسلم په يو بل روايت كي داسي دي چي انګور ته كرم مه واياست بلكه عنب او حبله ورته واياست .

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۱۷۶۳، رقم: ۷- ۲۲۴۷.

د لغاتو حل: الحبلة: وهو الاصل من شجر العنب (تاک)

تشريح: حَبله د حاء او باء په زور سره ، يا د حاء په زور او د باء په جزم سره ، دغه لفظ په اصل كي تاک (د انګورو درخته) يا د يوه قول مطابق د انګورو ښاخ ته وايي ، په ځينو ځايو كي مجازا

انگورو ته هم حبله ویل سوي دي.

د حديث خلاصه داده چي انگور ته عنب يا حبله وايا ست يا ددې لپاره چي نور نومونه دي په هغه ورته وایاست، مگر کرم مه ورته وایاست، ددغه منع يوه واقعه داده چي د جاهلیت په زمانه کي عربو به انگورو ته کرم ویل ځکه چي د انگورو څخه شراب جوړیږي او د هغوی وینا ده چي ددغه شراب په څښلو سره په سړي کي سخاوت، همت، كرم او داسي نور صفتونه پیدا کیږي حال دا چي شريعت شراب حرام كړل او هغه يې يو نجس او ناپاک شی وگرځوی، نو رسول الله ﷺ انگورو ته د كرم ويلو څخه منع وفرمايل، ځکه چي يو داسي شی د ذكر سوي نامه په ذريعه په کرم او خير سره متصف کول چي د شرابو په ډول د ناپاک شي ربنبه ده مناسب ونه گڼل سو، حال دا چي انگور په دومره ښه نامه سره د يادولو مطلب د يو حرام شي د تعريف او توصيف لار اختيارل او د هغه څخه زړه او دماغ ته رغبت ورکول هم کیدای سي، او رسول الله ﷺ دې ته اشاره وفرمایل چي كرم يو داسي غوره لفظ دی چي د خپل وسيع مفهوم په اعتبار يې ټولي ښېگڼي چاپيره کړي دي، په دې اعتبار سره ددغه لفظ مصداق مؤمن او د هغه زړه کېدای سي چي د علم او تقوا د نور او اسرارو منبع دی.

زمانې ته بد مه وایاست

﴿۴۵۵۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُسَمُّوا الْعِنَبَ الْكَرْمَ وَلَا تَقُولُوا خَيْبَةَ الدَّهْرِ فَإِنَّ اللهَ هُوَ الدَّهْرُ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پر انگور د كرم نوم مه ايږدئ او يا خيبة الدهر (د زمانې نا اميدي) مه وایاست ځکه چي زمانه خدای دئ (یعني زمانه د الله جل جلاله په اختيار کي ده). بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۵۶۴، رقم: ۶۱۸۲.

تشريح: د جاهلیت په زمانه کي د خلکو عادت وو چي كله به تكليف ور رسېدی يا په يو مصيبت کي به اخته سول نو داسي به يې ويل: يا خيبة الدهر، يعني ددغه الفاظو په ذريعه به هغوی زمانې ته بد ويل (لکه څرنگه چي اوس هم د جاهلانو خلکو عادت دی چي پر هره خبره باندي زمانې ته بد وايي)، رسول الله ﷺ خلک له دې څخه منع کړل ځکه چي زمانه بذات خود هيڅ شی نه دی د حالاتو او زمانې بدلون د الله تعالی په قدرت کي دی چي د کوم خير او شر

نسبت زمانې ته کيږي په حقيقت کي هغه د الله تعالى له لوري دى او هغه فاعل حقيقي دى نو زمانې ته بد ويل په اصل کي الله تعالى ته بد ويل دي.

﴿٤٥٥٧﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَسُبُّ أَحَدُكُمُ الدَّهْرَ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ الدَّهْرُ. رواه مسلم.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زمانې ته بد مه وايا ست ځکه چي د زمانې بدلون د الله تعالى په حکم کي دئ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ٤\١٧٦٣، رقم: ٦- ٢٢٤٧.

د بنو الفاظو ښودونه

﴿٤٥٥٨﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ خَبُثَتْ نَفْسِي وَلَكِنْ لِيَقُلْ لَقِسَتْ نَفْسِي. متفق عليه و ذكر حديث ابي هريرة يؤذيني ابن آدم في باب الايمان.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅوک دي د زړه خرابيدو سره خَبُثَتْ نَفْسِي زما زړه خراب سو) نه وايي بلکه لقست نفسي دي وايي. بخاري او مسلم، د ابو هريره حديث يؤذيني ابن ادم په کتاب الايمان کي بيان سوى دئ.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٥٦٣، رقم: ٦١٧٩، ومسلم ٤\١٧٦٥، رقم: ١٦- ٢٢٥٠.

د لغاتو حل: لقست: اى غثيت (د زړه ايشېدل)

تشريح: خبثت نفسي او لقست نفسي، دغه دواړه لفظونه که د معنى په اعتبار څه فرق نه لري بلکه په عربي کي ددغه دواړو معنى يوه ده يعني زړه ايشېدل او د طبيعت فاسد کېدل مګر رسول الله ﷺ خبثت نفسي ويل ناخوښ کړل ځکه چي د خبثت په وجه نه يوازي دا چي جمله قبيح کيږي بلکه د مؤمن لفظ د خبث خپل ځان ته منسوب کول هم لازميږي چي نامناسبه خبره ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

ابوالحکم کنیت یې بدل کړ

﴿۴۵۵۹﴾: وَعَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ لَمَّا وَفَدَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

حضرت شریح بن هانئ رضی اللہ عنہ د خپل پلار څخه روایت کوي کله چي هغوی د خپل قوم سره د رسول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ قَوْمِهِ سَمِعَهُمْ يَكْنُونَهُ بِأَبِي الْحَكَمِ فَدَعَاهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول نو نبي کریم ﷺ واوریدل چي د هغه قوم هغه ته ابو الحکم ویل، رسول الله ﷺ هغه را وغوښتئ

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَكَمُ وَإِلَيْهِ الْحُكْمُ فَلِمَ تُكْنَى أَبَا الْحَكَمِ

او ورته وه یې فرمایل: حکَم الله تعالی کوي او حُکَم د هغه په قبضه او اختیار کي دئ، بیا تا ابو الحکم کنیت ولي ټاکلی دئ،

قَالَ إِنَّ قَوْمِي إِذَا اخْتَلَفُوا فِي شَيْءٍ أَتَوْنِي فَحَكَمْتُ بَيْنَهُمْ فَرَضِيَ كِلَا الْفَرِيقَيْنِ

هغه وویل زما په قوم کي چي به په یو شي کي اختلاف پیدا سو نو هغوی به ما ته راغلل او ما به د هغوی په منځ کي داسي پریکړه وکړه چي دواړه ډلي به راضي سوې زما په حکم،

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحْسَنَ هٰذَا فَمَا لَكَ مِنَ الْوَلَدِ قَالَ

رسول الله ﷺ وفرمایل د خلکو په منځ کي پریکړه کول ډیره ښه خبره ده ستا څو کوچنیان دي؟ وویل ده چي زما اولادونه دي

لِي شُرَيْحٌ وَمُسْلِمٌ وَعَبْدُ اللّٰهِ قَالَ فَمَنْ أَكْبَرُهُمْ قَالَ شُرَيْحٌ قَالَ فَأَنْتَ أَبُو

شُرَيْحٍ. رواه ابوداؤد والنسائي.

شریح، مسلم او عبدالله، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په دوی کي مشر کوم یو دئ؟ ویلي دي ده چي وه مي ویل: شریح، رسول الله ﷺ وفرمایل: بس ستا کنیت ابو شریح دئ. ابو داؤد او نسائي.

تخریج: سنن ابي داود ۵\۲۴۰، رقم: ۴۹۵۵، والنسائي ۸\۲۲۶، رقم: ۵۳۸۷.

تشريح: كنيت كله خو يو صفت ته په نسبت كولو سره ټاكل كيږي لكه يو سړی خپل كنيت ابو الفضل، ابو الحكم، ابو الخير او داسي نور وټاكي، او كله اولاد ته په نسبت كولو سره ټاكل كيږي لكه ابو مسلم، ابو شريح او داسي نور، او كله د كنيت تعلق د يو داسي خاص شي سره وي چي د هغه سره ډېر اختلاط او ربط وي لكه مشهور صحابي ابو هريره رضي الله عنه چي د هغه اصلي نوم عبد الله وو، ويل كيږي چي يوه پيشي د هغه سره اوسېدل، يوه ورځ هغه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو نو هغه پيشي يې په لستوڼي كي اخيستې وه، رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وكړه چي دا څه شي دی؟ هغه وويل: پيشي ده، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: يا اباهريره!، نو د هغه ورځي څخه د هغه كنيت په ابو هريره (د پيشانو پلار) سره مشهور سو، او كله كنيت محض د علميت لپاره يعني د اصل نامه په توګه وي لكه ابو بكر، ابو عمر او داسي نور.

او حكم د هغه د لوري وي، ددې څخه د رسول الله ﷺ مقصد دا وو چي حقيقي حكم د الله تعالی ذات دی او د هر حكم او فيصلي پيل او پای د هغه په اختيار كي دی چي نه يوازي د هغه حكم او فيصله څوك رد كولای نسي بلكه د هغه حكم او فيصله، حكمت او دانايي څخه خالي نه وي په دې اعتبار سره دغه وصف د الله تعالی سره خاص دی او يوازي هغه ددغه صفت وړ دی نو بل چا ته مناسب نه دي چي هغه ځان ته ابو الحكم (يعني د حكم او فيصلې خاوند) ووايي، ځكه چي په دغه صورت كي د الله تعالی په دغه خاص وصف كي د غير الله سره د شريكېدو ګمان پيدا كيږي، دا بېله خبره ده چي د ابوت او ابنيت د وهم په وجه د هغه پر ذات د ابو الحكم اطلاق نه كيږي.

اجدع د شيطان نوم دئ

﴿۴۵۶۰﴾: وَعَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ لَقِيتُ عُمَرَ فَقَالَ مَنْ أَنْتَ قُلْتُ مَسْرُوقُ بْنُ الْأَجْدَعِ قَالَ عُمَرُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْأَجْدَعُ شَيْطَانٌ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت مسروق رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د حضرت عمر رضي الله عنه سره ملاقات وكړ هغه راڅخه پوښتنه وكړه چي ته څوك يې؟ ما ورته وويل مسروق زوی د اجدع، حضرت عمر رضي الله عنه وويل: ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي اجدع د شيطان يو نوم دئ. ابوداؤد او ابن ماجه.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۴۳، رقم: ۴۹۵۷، وابن ماجه ۲\۱۲۲۹، رقم: ۳۷۳۱.

تشريح: اجدع په اصل کي هغه چا ته وايي چي د هغه غوږ، پزه، شونډه او لاسونه پرې سوي وي، او کنايتا د دغه نامه اطلاق پر هغه سړي باندي کيږي چي د هغه په خبره کي هيڅ وزن او دليل نه وي په دغه مناسبت سره يو شيطان ته اجدع ويل کيږي.

د حضرت عمر رضي الله عنه د مسروق رحمة الله عليه په اړه پوښتنه کول او بيا د رسول الله ﷺ د ذکر سوي ارشاد نقل کول د طبع د ازادۍ په توګه وو او ددې په ذريعه دې ته اشاره کول مقصد وو که ستا پلار ژوندی وای نو د هغه دغه نوم بدل کړئ.

ښه نومان ايږدئ

﴿۴۵۶۱﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ. رواه احمد وابوداؤد.

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به تاسو په خپلو نومو او ستاسو د پلرونو په نومو بلل کيږئ له دې کبله تاسو خپل نوم ښه ايږدئ. احمد او ابوداؤد

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۱۹۴، وابوداود ۵\۲۳۶، رقم: ۴۹۴۸.

تشريح: تاسو ښه نوم ايږدئ: د دغه ارشاد په ذريعه ټولو انسانانو ته خطاب سوی دی نو په دې کي پلرونه هم داخل دي او د هغوی لپاره هدايت دی چي د خپلو اولادو ښه نومونه ايږدي.

په يوه روايت کي دا فرمايل سوي دي چي د قيامت په ورځ به خلک د هغوی د ميندو په نامه بلل کيږي او علماوو دا ليکلي دي چي د ميندو په نومو سره د بللو حکمت او علت دادی چي کوم خلک د زنا په نتيجه کي پيدا سوي وي هغوی به په دغه صورت کي د شرمندګۍ او رسوايي څخه وساتل سي، دوهم د حضرت عيسی ابن مريم عليه السلام د حال رعايت به مقصد وي چي بې پلاره وو، او دريم د حضرت حسن او حضرت حسين رضي الله عنهما د فضل او شرف اظهار به مقصد وي چي هغوی ته د بي بي فاطمې رضي الله عنها د زامنو کېدو په حيثيت سره رسول الله ﷺ ته د نسبت په ذريعه حاصل دی، که دا روايت هم ومنل سي نو ويل کيږي چي تاسو به ستاسو د پلرونو په نومونه بلل کيږئ، په دې کي به پلار پر تغليب باندي حمل کړل سي لکه څرنګه چي مور او پلار دواړو ته ابوين ويل کيږي او دا هم کېدای سي چي په يو ځای کي د پلار په نامه سره بلل سي او په يو ځای کي د مور په نامه سره، يا د ځينو خلکو نسبت به پلار ته کيږي او د ځينو

خلکو نسبت به د هغوی مور ته کیږي.

د رسول ﷺ نوم او کنیت مه یو ځای کوئ

﴿۴۵۶۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يَجْمَعَ أَحَدٌ بَيْنَ اسْمِهِ وَكُنْيَتِهِ وَيُسَمِّيَ مُحَمَّدًا أَبَا الْقَاسِمِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمایلې ده چي یو سړی د رسول الله ﷺ نوم مبارک او کنیت یو ځای کړي (یعني محمد نوم کښیږدئ او کنیت ابو القاسم وټاکي). ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۱۲۴، رقم: ۲۸۴۱.

تشريح: ذکر سوې معنی به په هغه صورت کي وي چي کله لفظ د محمد مرفوع او یسمی د مجهول په صیغه وي، لکه څرنګه چي ترمذي او شرح السنه او د مصابیح په اکثرو نسخو کي نقل سوي دي، مګر په جامع الاصول او د مصابیح په ځینو نسخو کي محمدا په نصب (زور) سره نقل سوی دی، په دغه صورت کي به یسمی په معروف صیغه سره وي او معنی به داسي کیږي که یو سړی هغه ته ابو القاسم ووایي چي د هغه نوم محمد وي، د حدیث خلاصه داده چي د کوم چا نوم محمد وي نو هغه ته دا رواه نه ده چي خپل کنیت ابو القاسم کښېږدي، ددغه مسئلې تفصیل مخکي هم تېر سوی دی.

﴿۴۵۶۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا سَمَّيْتُمْ بِاسْمِي

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو زما په نامه خپل نوم

فَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي، رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث

ایږدئ مګر زما په کنیت خپل کنیت مه ټاکئ. ترمذي او ابن ماجه، او ترمذي ویلي دي چي دا

غريب، وفي رواية ابي داؤد قَالَ مَنْ تَسَمَّى بِاسْمِي فَلَا يَتَكَنَّى بِكُنْيَتِي وَمَنْ تَكَنَّى بِكُنْيَتِي فَلَا يَتَسَمَّى بِاسْمِي.

حدیث غریب دی، او د ابوداؤد په روایت کي دي چي کوم سړی زما په نامه خپل نوم کښیږدئ

هغه دي زما په کنيت خپل کنيت نه ايږدئ او کوم سړی چي زما په کنيت خپل کنيت وتاکي هغه دي زما په نامه خپل نوم نه ايږدي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۱۲۵، رقم: ۲۸۴۲. وسنن ابن ماجه ۲\۱۲۳۰، رقم: ۳۷۳۵.

تشريح: دغه حديث هم د رسول الله ﷺ د نامه او کنيت په يو ځای اختيارولو صريح منع ثرګندوي، مګر په دې اړه يو اختيارول يعني يوازي نوم ايښودل يا يوازي کنيت ايښودل منع نه دي.

﴿۴۵۶۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي

د حضرت عائشې ﷞ څخه روايت دئ چي يوې ښځي وويل اې د الله رسوله! زما يو زوی

وَلَدْتُ غُلَامًا فَسَمَّيْتُهُ مُحَمَّدًا وَكَنَّيْتُهُ أَبَا الْقَاسِمِ فَذُكِرَ لِي أَنَّكَ تَكْرَهُ ذٰلِكَ

پيدا سوی دئ چي د هغه نوم مي محمد او کنيت مي ابو القاسم ايښی دئ، بيا ما ته وويل سول چي دا خبره ستاسو خوښه نه ده،

فَقَالَ مَا الَّذِي أَحَلَّ اسْمِي وَحَرَّمَ كُنْيَتِي أَوْ مَا الَّذِي حَرَّمَ كُنْيَتِي وَأَحَلَّ اسْمِي. رواه ابوداؤد وقال محي السنة غريب.

رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم شي زما نوم جائز کړ او کوم شی زما کنيت حرام کړ، يا کوم شي زما کنيت حرام کړ او زما نوم يې حلال کړ مګر د دواړو جمع کول مکروه تنزيهي دي حرام نه دي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۵۱، رقم: ۴۹۶۸.

تشريح: د حديث د آخري الفاظو (يا يې داسي وفرمايل) په ذريعه راوي د خپل شک اظهار کړی دی چي رسول الله ﷺ يا خو مخکي د نوم حلت او بيا د کنيت حرمت ذکر کړ يا مخکي د کنيت حرمت او وروسته د نامه حرمت ذکر کړ، په هر حال په دواړو صورتو کي معنی او مطلب يو دی، د مفهوم او مقصد په مينځ کي څه فرق نسته، اصل خبره داده چي محدث کله يو حديث بيانوي نو ددې خبري پوره احتياط وکړئ چي هغه د حديث الفاظ د رسول الله ﷺ څخه چي څرنګه اوريدلي وي يا څرنګه هغه ته رسيدلي وي بعينه هم هغه نقل کړي، دلته د حديث راوي ته د الفاظو په اړه شک پيدا سو ځکه هغه په ذکر سوي طرز سره بيان وکړ.

د دغه حديث څخه ثابته سوه چي رسول الله ﷺ د نامه او کنيت يو ځای اختيارولو منع د

تحریم په توګه نه دی بلکه د مکروه تنزیهي په توګه ده .

﴿۴۵۶۵﴾ : وَعَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ الْحَنَفِيَّةِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ إِنْ وُلِدَ لِي بَعْدِكَ وَلَدٌ أُسَمِّيْهِ بِاسْمِكَ وَأُكَنِّيْهِ بِكُنْيَتِكَ قَالَ نَعَمْ . رواه ابوداؤد.

حضرت محمد بن حنفیه د خپل پلار څخه روایت کوي چي ما وویل: اې دالله رسوله ! که ستاسو وروسته زما یو زوی پیدا سو نو زه د هغه نوم محمد او کنیت یې ابو القاسم کښېږدم (که یا)؟ رسول الله ﷺ وفرمایل هو، ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود: ۵\ ۲۵۰، رقم: ۴۹۶۷.

تشریح: دغه حدیث هم پر دې دلالت کوي چي د رسول الله ﷺ د نامه او کنیت یو ځای اختیارولو د منع تعلق د رسول الله ﷺ د زمانې سره وو او د هغه څخه وروسته دا جائز دي ، په دې اړه د علماوو چي کوم اختلافي قولونه دي هغه مخکي نقل سوي دي .

د حضرت انس رضي الله عنه کنیت

﴿۴۵۶۶﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَنَّانِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَقْلَةٍ كُنْتُ أَجْتَنِيهَا. رواه الترمذي وقال هذا حديث لا نعرفه الا من هذا الوجه وفي المصابيح صححه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما به یو واښه وکښېئ رسول الله ﷺ د هغه واښه په نامه زما کنیت و ټاکئ یعني ابو الحمزه ، (حمزه ترتیزک ته وایي) . ترمذي ویلي دي دا حدیث ددې طریقې څخه پرته په بل ډول زه نه پیژنم او په مصابیح کي یې دې ته صحیح ویلي دي .

تخریج: سنن الترمذي ۵\ ۶۴۰، رقم: ۳۸۳۰، والبغوي في المصابيح ۳\ ۳۰۷، رقم: ۳۷۰۸.

خراب نومونه بدلول

﴿۴۵۶۷﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قالت أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُغَيِّرُ الِاسْمَ الْقَبِيحَ. رواه الترمذي.

د حضرت عائشي ﷞ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به خراب نومونه بدلول. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۱۲۴، رقم: ۲۸۳۹.

تشريح: د مثال په توګه په يوه روايت کي بيان سوی دی چي د يوه سړي نوم اسود (تور) وو، رسول الله ﷺ د هغه نوم بدل کړ او وه يې فرمايل چي د نن څخه وروسته د ده نوم ابيض (سپين) دی.

منع نومونه

﴿۴۵۶۸﴾: وَعَنْ بَشِيرِ بْنُ مَيْمُونٍ عَنْ عَمِّهِ أُسَامَةَ بْنِ أَخْدَرِيِّ أَنَّ رَجُلًا يُقَالُ

حضرت بشير بن ميمون د خپل اکا اسامه بن اخدري ﷜ څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ ته

لَهُ أَصْرَمُ كَانَ فِي النَّفَرِ الَّذِينَ أَتَوْا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

ډله راغلل په هغو کي يو سړی وو چي هغه ته يې أَصرم (درختي پريکونکی) ويل، رسول الله

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا اسْمُكَ قَالَ أَصْرَمُ قَالَ بَلْ أَنْتَ زُرْعَةُ.

ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه ستا نوم څه شي دئ؟ هغه وويل: اصرم، رسول الله ﷺ وويل بلکه زُرعه وايه.

رواه ابوداؤد وقال غير النبي ﷺ اسم العاص وعزيز وعتلة وشيطن والحكم و غراب وحباب و شهاب وقال تركت اسانيدها للاختصار.

ابوداؤد، ابوداؤد ويلي دي چي رسول الله ﷺ عاص، عزيز، عتله، شيطان، حکم، غراب، حباب او شهاب نومونه بدل کړي دي او ويلي يې دي چي د لنډوالي له کبله يې ما سندونه پرېښودل.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۳۹، رقم: ۴۹۵۴.

تشريح: اصرم د صرم څخه مشتق دی چي د هغه معنی د قطع او ترک سلام و کلام دی، او د درختي پرېکولو ته هم وايي، د دغه معنی په مناسبت سره رسول الله ﷺ د اصرم نوم ناخوښ کړ او د دې پر ځای کي د زرعه نوم کښېښود، يا دغه لفظ د زراعت څخه ماخوذ دی او د خپلي معنی په اعتبار سخاوت، خير او برکت ته اشاره کوي.

په پای کي ابوداؤد چي د رسول الله ﷺ له خوا د کومو نومونو د بدلولو ذکر کړی دی په هغو کي عاص د عاصي مخفف دی، دغه لفظ د لفظي مفهوم په اعتبار عصيان او سرکښي

باندي دلالت كوي، حال دا چي مؤمن خصوصيت اطاعت او فرمانبرداري وي، ځكه د هيڅ مؤمن لپاره دا مناسب نه دي چي هغه عاص يا عاصيه نوم كښېږدي.

عزيز د الله تعالى د اسماوو څخه يو پاک اسم دى ځكه نو عبدالعزيز نوم ايښودل مناسب دي مگر يوازي د عزيز نوم نامناسب دى ، د دې څخه پرته د غه لفظ پر غلبه، قوت او عزت باندي دلالت كوي چي د الله تعالى شان دى او د بنده شان ذلت او انكساري ده .

خضوع او خشوع ده، همدارنگه د حميد نوم ايښودل هم نامناسب دي ځكه چي دا هم د الله تعالى د اسماوو او صفاتو څخه يو اسم دى او د مبالغې په توگه د هغه يو صفت دى، په دې اعتبار سره د يو چا نوم عبدالحميد مناسب دى ، كريم او داسي نور نومان هم پر دې قياس كيداى سي .

د عتله نوم هم رسول الله ﷺ ناخوښ كړ ځكه چي په دې كي د عظمت ، شدت او سختۍ معنى ده حال دا چي مؤمن په نرم او ملائمت سره موصوف سوى دى .

د شيطان نوم ايښودل نه يوازي دا چي د هغه د ذات سره مشابهت اختيارول دي چي د ټولو خرابيو رېښه ده بلكه د دغه لفظي مفهوم په اعتبار هم ډېر نامناسب دى ځكه چي لفظ د شيطان د شيط څخه وتلى دى چي د هغه معنى د سوځېدو او هلاكېدو ده ، او يا د شطن څخه دى چي د هغه معنى د الله تعالى د رحمت څخه ليري كېدل دي .

حكم د حاكم مبالغه ده او حقيقي حاكم د الله تعالى ذات دى، په دې اعتبار سره د حكم نوم ايښودل هم نامناسب دي او كله چي رسول الله ﷺ د ابوالحكم كنيت خوښ نه كړ لكه چي په مخكي روايت كي تېر سوي دي نو د حكم نوم په طريقه اولى مناسب نه دى .

د غراب د نامه د ناخوښۍ وجه يوه خو داده چي غراب ټپوس ته وايي چي په مرغانو كي مردار دى ، او هغه مرداري خوري، دوهم دا چي د دغه لفظ معنى د ليري كېدو ده .

د حباب نوم له دې كبله نامناسب دى چي دا د شيطان نوم دى او مار ته هم حباب وايي، شهاب د اور هغه شغلې ته وايي چي ملائكي شيطانان په ولي ، له دې كبله د شهاب نوم ايښودل هم ناخوښه دى مگر كه چيري د شهاب اضافت دين ته وكړل سي يعني شهاب الدين نوم كښېښودل سي نو په دې كي څه پروا نسته .

د زعموا لفظ

﴿۴۵۶۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ مَسْعُودِ الْاَنْصَارِيِّ قَالَ لِاَبِيْ عَبْدُاللهِ اَوْ قَالَ اَبُو عَبْدُاللهِ

حضرت ابو مسعود انصاري رضی اللہ عنہ د ابو عبد الله ځخه او يا ابو عبد الله رضی اللہ عنہ د ابو مسعود انصاري

لِأَبِيْ مَسْعُوْدٍ مَا سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول فِي زَعَمُوا قَالَ

رضی اللہ عنہ ځخه پوښتنه وکړه چي ايا تا د رسول الله ﷺ ځخه د لفظ زعموا په اړه څه اوريدلي دي؟

سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بِئْسَ مَطِيَّةُ الرَّجُلِ .رواه ابو داؤد وقال ان اباعبدالله حذيفة.

هغه وويل: ما د رسول الله ﷺ ځخه دا اوريدلي دي چي (زَعَمُوا) د سړي خرابي سپرلۍ ته وايي (يعني ددې لفظ استعمال خراب دئ). ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۵۴، رقم: ۴۹۷۲.

تشريح: زعموا د زعم ځخه مشتق دی، زُعم، يا زِعم، د زاء په پېښ او زير سره ددې معنی هغه ده کوم چي د ظن او ګمان ده لکه ځرنګه چي په نهايه کي ليکلي دي، په صراح کي ليکلي دي چي د زعم معنی د ويلو ده او په عامه توګه د زعم اطلاق پر هغه خبره کيږي چي خرابه او د باور وړ نه وي، په قاموس کي هم ليکلي دي چي د زعم معنی د قول ده او ددې اطلاق پر بې بنياده او دروغو خبرو باندي کيږي.

د زعموا په اړه علماوو دا بيان کړی دی چي د خلکو دا معمول دی چي کله هغوی ته يو بې بنياده خبره بيانول وي نو هغوی داسي وايي چي د فلاني سړي په اړه دا اوريدل سوي دي، يا خلک داسي وايي، او د دروغ کېدو د بيري ځخه د يو سړي نوم نسي اخيستلای چي دا خبره فلاني کړې ده يا فلاني سړی بيان کړی دی، بلکه خلک وايي يا بيان کيږي، په دغه پرده کي ډېر دروغ ويل کيږي او بېله پلټنې خبري خپرول کيږي، په ذکر سوو دواړو صحابه کرامو کي يو صحابي د بل صحابي ځخه پوښتنه وکړه چي ځيني خلک چي د زعموا لفظ يعني خلک وايي په ذريعه بې بنياده خبري نقل کوي نو ايا تا د رسول الله ﷺ ځخه د دغه لفظ په اړه څه اوريدلي دي، چي رسول الله ﷺ د دغه لفظ په تحقيق کي د دغه لفظ د استعمال او مفهوم په اړه څه فرمايلي دي، دوهم صحابي جواب ورکړ ما د رسول الله ﷺ ځخه اوريدلي دي چي دغه لفظ خرابه سپرلۍ ده، يعني رسول الله ﷺ دغه لفظ ته له سپرلۍ سره تشبيه ورکړې ده لکه ځرنګه چي يو سړی پر سپرلۍ په ناسته سره خپل منزل ته رسيږي همدارنګه کوم سړی چي دا غواړي چي يو بې

بنیاده او غیر حقیقي خبره د نورو په مخکي نقل کړي او هغوی یې خپره کړي نو هغوی د خپل بحث او خپل قول په پیل کي د زعموا لفظ استعمالوي او ددغه لفظ په ذریعه خپل مقصد تر لاسه کول غواړي او رسول الله ﷺ د خرابي سپرلۍ په ذریعه دې ته اشاره وفرمایل چي د زعموا په لفظ سره د خبرو پیل کول ښه خبره نه ده ځکه چي ددغه لفظ په بنیاد جوړولو سره چي کومه خبره کیږي یا نقل کیږي د هغه محمول جزم او یقین نه وي بلکه زعم او گمان وي او ځرګنده ده چي د زعم او ګمان نسبت هغه خبري ته کیږي چي یو سند او ثبوت نه لري بلکه د یو حکایت په درجه کي وي او د ګمان په توګه پر ژبه راسي نو ددغه ارشاد مطلب دادی چي د نقل او بیان په اړه پوره احتیاط کول پکار دي ښېله پلټني یو خبره بیانول نه دي پکار ، او د اورېدلي خبري تعبیر په یقین سره نورو ته رسول نه دي پکار ځکه چي هغه خبري چي د هغه تعلق محض د ګمان سره وي په عامه توګه پر غلط فهمۍ او درواغو باندي مبني وي ځکه ویل سوي دي چي : وزعموا مطیة الکذب ، یعني د زعموا لفظ د درواغو سپرلۍ ده، او یا رسول الله ﷺ د ذکر سوي ارشاد په ذریعه دا هدایت ورکول وغوښتل چي یو سړی دي ښېله پلټني او یقین د زعم او ګمان نسبت یو چا ته نه کوي مګر که چیري هغه ته د هغه خبري یقین وي چي فلاني سړي په حقیقت کي درواغ ویلي دي او دا چي د هغه سړي درواغ ویل د تاوان د اثراتو څخه د نورو خلکو ساتنه ضروري وي چي څوک د هغه څخه په دوکه کي نسي نو ددغه حکمت سره سم یو چا ته د زعم او ګمان نسبت کول جائز دي لکه څرنګه چي محدثین وغیره یې کوي .

منعه الفاظ

﴿۴۵۷۰﴾ : وَعَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُولُوا مَا شَاءَ

د حضرت حذیفه رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو داسي مه وایاست که

اللّٰهُ وَشَاءَ فُلَانٌ وَلَكِنْ قُولُوا مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ شَاءَ فُلَانٌ. رواه احمد وابوداؤد

خدای او فلاني سړي غوښتل، (ځکه په دې کي د بنده او خدای برابري ده) بلکه داسي وایاست که خدای غوښتل او د فلاني سړي غوښتنه وه نو داسي به وي ، احمد او ابوداؤد ،

وفي رواية منقطعا قال و لاتقولو ما شاء الله وشاء محمد وقولوا ما شاء الله وحده. رواه في شرح السنة.

او په یوه منقطع روایت کي داسي الفاظ دي چي تاسو داسي مه وایاست که خدای او محمد وغوښتل (نو داسي به وي) بلکه یوازي داسي وایاست که خدای و غوښتل ، یعني که دخدای خوښه وه . شرح السنه.

تخریج: مسند الامام احمد ۵\ ۳۸۴، وابوداود ۵\ ۲۵۹، رقم: ۴۹۸۰.

منافق ته سید مه وایاست

﴿۴۵۷۱﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُولُوا لِلْمُنَافِقِ سَيِّدًا فَإِنَّهُ إِنْ يَكُ سَيِّدًا فَقَدْ أَسْخَطْتُمْ رَبَّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ. رواه ابوداؤد.

د حضرت حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : منافق ته سید مه وایاست ځکه که هغه ته سید ووایاست نو خپل پروردګار مو خفه کړ . ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۵\ ۲۵۷، رقم: ۴۹۷۷.

تشریح: په عربي کي د سید معنی د سردار او مشر ده ، څرګنده ده چي یو منافق ته دا مقام نسي تر لاسه کېدای چي هغه ته دي یو ثوک سردار او مشر ووایي بلکه یو منافق که په حیقیقت کي سردار وي په دې توګه چي هغه د خپل قوم مشر وي یا د ځینو خلکو حاکم وي ، یا د غلام او مینزو مالک وي نو ددې سربېره هغه به ددې وړ نه وي چي یو مسلمان هغه ته په سردار ووایي، یا هغه ته سید ووایي، او که چیري یو مسلمان هغه ته سید ووایي نو د الله تعالی د غضب مستحق به سي ځکه چي دغه لفظ پر تعظیم او احترام باندي دلالت کوي او هغه منافق د مسلمانانو له خوا د هیڅ تعظیم او احترام مستحق نه دی نو هغه ته سید ویل به نور هم بد وي ځکه چي ددې سربېره هغه ته سید ویونکی نه یوازي دا چي د ذکر سوي حکم خلاف ورزي کوي بلکه د دروا غو مرتکب به هم وي .

څرګنده ده چي په دې اړه کافر ، ګمراه او ګناه کار هم د منافق په حکم کي داخل دی مګر په حدیث کي یوازي د منافق ذکر ځکه سوی دی چي منافق په هر حال په ظاهري توګه مسلمان وي ځکه د عامو مسلمانانو د هغه په تعریف کي اخته کېدل زیات احتمال لري نو یوازي د منافق په ذکر کولو سره ددې خبري څخه منع وفرمایل سول چي هغه ته سید مه وایاست .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د خراب نوم خراب اثر

﴿٤٥٧٢﴾: عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ شَيْبَةَ قَالَ جَلَسْتُ إِلَى سَعِيدِ بْنِ

د حضرت عبد الحميد بن جبير بن شيبه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه د حضرت سعيد بن مسيب

الْمُسَيَّبِ فَحَدَّثَنِي أَنَّ جَدَّهُ حَزْنًا قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

رضي الله عنه سره ناست وم او هغه ما ته دا حديث بيان کړ چي زما نيکه چي د هغه نوم حزن وو د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، نبي کريم ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه چي

مَا اسْمُكَ قَالَ اسْمِي حَزْنٌ قَالَ بَلْ أَنْتَ سَهْلٌ قَالَ مَا أَنَا بِمُغَيِّرٍ اسْمًا سَمَّانِيهِ أَبِي قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ فَمَا زَالَتْ فِينَا الْحُزُونَةُ بَعْدُ. رواه البخاري.

ستا نوم څه شي دئ ؟ هغه وويل : حزن، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ما ستا نوم سهل کښېښودئ، هغه وويل زه خپل نوم بدلول نه غواړم کوم چي زما پلار را ته ايښی دئ، د ابن مسيب بيان دئ چي د دغه نوم په وجه همېشه زموږ کورنۍ په سختۍ کي اخته وه آن تر اوسه ، د حزن معنا ده سخته مځکه او د سهل معنا ده نرمه مځکه . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\ ٥٧٤، رقم: ٦١٩٠.

تشريح: حزن سختي مځکي ته وايي، سهل د حزن ضد دی يعني نرمه او هواره مځکه، د حضرت سعيد نيکه د رسول الله ﷺ اېښودل سوی نوم اختيار نه کړ ځکه الله تعالی د دغه انکار د نحوست څخه د هغوی پر کورنۍ حزن مسلط کړ چي د هغوی کورنۍ تل د سختيو ښکار سول ، پاته سوه دا خبره چي حزن ته د رسول الله ﷺ د خبري څخه د انکار کولو جرئت څرنګه وسو نو اول خو دي ته د شيطان وسوسه ويل کيږي چي په هغه کي اخته سو دوهم دا چي ذکر سوي پېښه د هجرت د پيل وه کله چي هغه په نوي هجرت کولو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوی وو او تر هغه وخته پوري د تعليم او تربيې د فقدان په وجه هغه په صدق ايمان ، سلامتۍ او اخلاقو سره مشرف سوی نه وو نو پر هغه د شيطان دا غشی وچلېدی او هغه د رسول الله ﷺ غوره کړی نوم اختيار نه کړ .

ښه نومونه

﴿۴۵۷۳﴾: وَعَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسَمَّوْا بِأَسْمَاءِ الْأَنْبِيَاءِ وَأَحَبُّ الْأَسْمَاءِ إِلَى اللّٰهِ عَبْدُ اللّٰهِ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَأَصْدَقُهَا حَارِثٌ وَهَمَّامٌ وَأَقْبَحُهَا حَرْبٌ وَمُرَّةُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو وهب جشمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د انبياؤو په نومو خپل نوم ايږدئ او د الله تعالى په نزد غوره نوم عبدالله او عبدالرحمن او زيات رېښتوني (د معنا په اعتبار) يا د واقع سره سم نوم حارث (كسب كونكى) او همام (قصد او اراده) دي او بد ترين نوم حرب (جګړه) او مروه (تلخي يعني تريخوالي) دئ. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۳۷، رقم: ۴۹۵۰.

تشريح: د انبيا، په نومو ...الخ: ددې څخه څرګنديږي چي د ملائكو په نومو نوم اېښودل نه دي پكار همدارنګه هغه نومونه اېښودل هم نه دي پكار كوم چي د جاهليت په زمانه كي رواج وه لكه كلب، حمار، عبد شمس، او داسي نور نومونه.

د حارث معنى د كسب او ګټي د اراده كونكي ده، همدارنګه همام د هم څخه دى چي د هغه معنى د قصد او ارادې ده، څرګنده دي وي چي هيڅ سړى د كسب او ګټي د ارادې څخه خالي نه وي ځكه نو د معنى او مفهوم په اعتبار د غه نومو ته زيات رېښتوني ويل سوي دي.

حرب او مره ته تر ټولو خراب نومونه ځكه ويل سوي دي چي حرب جګړې ته وايي او جګړه خراب شى دى چي په هغه كي وينه تويول او بربادي وي همدارنګه مره تريخ ته وايي چي په طبيعت كي ناخوښه شى دى او ځيني حضرات وايي چي د ابليس كنيت ابو مره دى ځكه نو د مره نوم اېښودل بد دى.

==========

بَابُ الْبَيَانِ وَالشِّعْرِ

(د بيان او شعر بيان)

د بيان اصل معنى د خلاصولو په ډول د څرګندولو او ښه واضح کولو ده، يا داسي وويل سي چي بيا هغه فصيح خبرو او تقرير ته وايي چي په ډېر وضاحت او ښکلا سره ظاهر کړل سي، په صراح کي دا هم ليکلي دي چي د خبري په څرګندولو او وضاحت سره ويلو ته بيان ويل کيږي، ځکه نو ويل کيږي چي: فلان ابين من فلان ، يعني فلانى سړى تر فلاني سړي زيات بيانونکى دى، يعني هغه خپله خبره د فلاني سړي څخه په زيات فصاحت او وضاحت سره بيانونکى دى.

د شعر معنى د پوهي او زيرکتوب ده، او د شاعر معنى د پوه او زيرک سړي دي مګر په عامه اصطلاح کي شعر موزون او مقفى کلام ته وايي چي په قصد او اراده سره موزون او منظم کړل سوى وي په دې اعتبار سره په قرآن کريم او حديث کي چي مقفى (منظوم) عبارتونه دي پر هغو باندي د شعر اطلاق نسي کيداى ځکه چي ددغو عبارتونو مقفى کېدل په قصد او ارادې سره نه دي او نه مقصود بالذات دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

په ځيني بيان کي د سحر تاثير وي

﴿۴۵۷۴﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَدِمَ رَجُلَانِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَخَطَبَا فَعَجِبَ النَّاسُ لِبَيَانِهِمَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا. رواه البخاري

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي دوه کسان د ختيځ د لوري راغلل او په (ښه وضاحت او فصاحت سره) يې خطبه وويل د هغوى تقرير ته خلک حيران پاته سول ، رسول الله ﷺ وفرمايل ځيني بيان د سحر څخه وي . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۳۷، رقم: ۵۷٦۷.

تشريح: دا د هغه وخت پېښه ده کله چي د ختيځ سيمي څخه د بنو تميم يو ډله د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضره سول ، په هغه ډله کي دوه داسي کسان هم وه چي په فصاحت او بلاغت کي

يې مهارت درلودی په هغوی کې د یوه نوم حصین ابن هدی او لقب یې زبرقان وو او د دوهم نوم عمرو ابن هتم وو ، دغه دواړو کسانو د رسول الله ﷺ په وړاندې په خپلو کې خبرې وکړې ، زبرقان خپل فضائل او اوصاف بیانول پیل کړل او د خپلو کارنامو تعارف کول یې پیل کړل چې اې د الله رسوله ! ما فلانۍ فلانۍ کارنامې کړې دي او زه داسې او هاسې یم، تر دې چې عمرو هم په دې خبر سي، عمرو چې دا واورېدل نو هغه هم په دومره فصیح او بلیغ اندازه د هغه د خبرو جواب ورکړ او په خپل بیان کې یې د هغه دومره خرابۍ څرګندې کړې چې د زبرقان بیان سوي ټول صفتونه او فضائل یې د نه یقین وړ سول، زبرقان بیا په فصاحت او بلاغت سره وویل چې اې د الله رسوله ! عمرو زما په ټولو صفتو او فضائلو ښه خبر دی او څه چې وایې په هغه کې اواز نسته ، په حقیقت کې هغه ته زما د کمالاتو اعتراف دی مګر حسد زما پر خلاف بیانولو باندې مجبور کړی دی ، په دغه وخت کې رسول الله ﷺ وفرمایل: ځیني بیان د سحر تاثیر لري لکه څرنګه چې سحر د انسان په حالت او کیفیت کې بدلون پیدا کوي همدارنګه ځیني بیان هم دا ډول وي چې د هغه په وجه د انسان په ذهن او دماغ کې بدلون پیدا کیږي او د هغه په تاثیر سره زړه ګرځوي .

په دې اړه د علماوو اختلاف دی چې رسول الله ﷺ ذکر سوی ارشاد د بیان په تعریف کې وفرمایه او که په بدوالي کې؟ د دغه قولونو په مخته اېښودو سره صحیح خبره دا راوځي چې د دغه ارشاد شخه د بیان تعریف او بدي دواړي ظاهرېږي په دغه صورت کې به مطلب دا وي چې ځیني بیان زړونه مائل کوي او د خپل جواب ویلو شخه معذور کیږي ، د سحر په ډول تاثیر لري او دا ښه دی په شرط د دې چې د هغه بیان تعلق د رېښتیا څرګندولو او رېښتیا ثابتولو سره وي او که د هغه تعلق د باطلو او فاسدو امورو سره وي نو بیا به هغه بد وي لکه څرنګه چې په یو حدیث کې فرمایل سوي دي : الشعر هو كلام فحسنه حسن و قبيحه قبيح، یعني شعر کلام دی نو ښه شعر ته به ښه ویل کیږي او بد شعر ته به بد ویل کیږي .

ځیني شعر حکمت وي

﴿۴۵۷۵﴾ : وَعَنْ اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةً . رواه البخاري

د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه شخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : ځیني د شعرو شخه

حکمت وي. بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۳۷، رقم: ۶۱۴۵.

تشریح: مطلب دادی چي ټول شعرونه خراب نه دي بلکه په هغو کي ځیني ښه او ګټور وي چي د هغو په ذریعه د حکمت او پوهي خبري معلومیږي.

مبالغه مه کوئ

﴿۴۵۷۶﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُوْنَ قَالَهَا ثَلَاثًا. رواه مسلم.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په کلام کي مبالغه کونکی هلاک سو، رسول الله ﷺ دا الفاظ دري واره وفرمایل. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۱۴\۲۰۵۵، رقم: ۷-۲۶۷.

د لغاتو حل: المتنطعون: ای المتکلفون في الفصاحة. (په فصاحت کي تکلیف کوونکي،)

تشریح: مطلب دادی چي په تقریر او تحریر کي بې ځایه تکلف او پابندي کول ډېر بد دي کله چي د هغه مقصد د عظمت اظهار، ریا، او د هغه ځان ته مائل کول او راغب کول وي.

یو ښه شعر

﴿۴۵۷۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا الشَّاعِرُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللّٰهَ بَاطِلٌ. متفق علیه.

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که یو شاعر رېښتونې خبره کړې وه نو هغه د لبید قول دئ یعني دا چي (الا کل شئ ما خلا الله باطل) خبردار سئ د الله څخه پرته هر شی باطل او فاني دئ) بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۳۷، رقم: ۶۱۴۷، ومسلم ۱۴\۱۷۶۸، رقم: ۳-۲۲۵۶.

تشریح: لَبید، د عربو یو مشهور شاعر وو، په عربي ادب کي د هغه کلام او شاعری ته د سند درجه تر لاسه ده، الله تعالی د اسلام هدایت ورته وکړ او د اسلام قبلولو څخه وروسته د صحابیت په درجه هم مشرف سو، لکه څرنګه چي د جاهلیت په زمانه کي د خپل فن په وجه په قدر ورته کتل کېدل همدا رنګه د اسلام په زمانه کي هم ډېر معزز او مکرم وو، ویل کیږي چي

هغه د ډېر عمر سړی وو او تقریبا د یو نیم سلو کالو په عمر له دنیا څخه رخصت سو.

رسول الله ﷺ چي د کوم کلام تعریف او توصیف کړی دی هغه شعر دا دی:

الا کل شئ ما خلا الله باطل　　　وکل نعیم لا محالة زائل

ژباړه: (مه هیروه چي) د الله ﷻ څخه پرته هر شی فنا کېدونکی دی او د دنیا هر لذت او راحت فناء کېدونکی دی.

دغه مشهور شعر هم د لبید ؓ دی:

ولقد سامت من الحیوة وطولها　　　وسوال هذا الناس کیف لبید

ژباړه: زه د ژوند او د هغه د اوږدوالي څخه بېزاره سوی یم او د خلکو په وار وار پوښتنه کولو څخه چي لبید څرنګه دی.

د رسول ﷺ شعرونه اوریدل

﴿۴۵۷۸﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَدِفْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

حضرت عمرو بن شرید ؓ د خپل پلار څخه روایت کوي چي یوه ورځ زه د رسول الله ﷺ سره پر

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ هَلْ مَعَكَ مِنْ شِعْرِ أُمَيَّةَ بْنِ أَبِي الصَّلْتِ شَيْءٌ قُلْتُ

سپرلۍ شا ته سپور سوم، رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا ستا د امیه بن ابي صلت یو څه اشعار په یاد دي؟ ما وویل: هو،

نَعَمْ قَالَ هِيهْ فَأَنْشَدْتُهُ بَيْتًا فَقَالَ هِيهْ ثُمَّ أَنْشَدْتُهُ بَيْتًا فَقَالَ هِيهْ حَتَّى أَنْشَدْتُهُ مِائَةَ بَيْتٍ. رواه مسلم.

رسول الله ﷺ وفرمایل: وه یې وایه، ما یو شعر ووایه، رسول الله ﷺ بیا وفرمایل نور ووایه، ما بیا یو شعر ووایه، رسول الله ﷺ وفرمایل نور ووایه همداسي ما سل شعرونه وویل. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱۴\۱۷۶۷، رقم: ۱- ۲۲۵۵.

تشریح: امیه ابن ابي الصلت هم د عربو یو مشهور او کمالداره شاعر وو، د هغه تعلق د ثقیف د قبیلې څخه وو چي د جاهلیت په زمانه کي یې د اهل کتابو څخه زده کړه کړې وه او د دینداری خبري به یې کولې، پر حشر او نشر او د قیامت په ورځ یې هم عقیده درلودل او د هغه اشعار د علم او حکمت څخه ډک وه، رسول الله ﷺ د هغه په اړه فرمایلي وه: امن شعره وکفر قلبه، یعني

د هغه د اشعارو څخه ايمان ځليږي كه څه هم د هغه په زړه كي كفر دی، د هغه يو خاص بوختيا دا وه چي د آسماني كتابو علم لرونكو ته به تلی او راتلی او د هغوی څخه به يې د هغو زيرو او وړاند وينو په اړه پوښتني كولې چي په آسماني كتابو كي د نبي اخر الزمان ﷺ د پيغمبرۍ په اړه وې، د هغه ګمان وو چي الله تعالی په خپلو كتابو كي د كوم نبي د راتلو خبر وركړی دی هغه زه يم، او يوه ورځ به زه د نبوت په خلعت سره ونازول سم مګر كله چي د هغه آسماني كتابو عالمانو هغه ته وښودل چي هغه نبي به د قريشو څخه وي او هغه ته د رسول الله ﷺ د صفاتو تفصيل معلوم سو نو هغه د خپلو عقيدو او نظرياتو څخه وګرځېدی او د حسد او عناد پر لار روان سو چي زه بايد پر هغه نبي هيڅكله ايمان نه راوړم چي د هغه تعلق د ثقيف د قبيلې څخه نه وي، ابن جوزي رحمة الله عليه په كتاب وفاء كي ليكلي دي چي اميه ابن ابي الصلت په پېل كي د نبي كريم ﷺ د راتلو په ډېره سخته انتظار كوی او د رسول الله ﷺ د نبوت چي كومي نښي او صفتونه يې اورېدل د هغه په وجه يې دا غوښتنه درلودل چي ارمان زه هغه زمانه ووينم او د هغه خاص مرسته وكړم مګر كله چي د رسول الله ﷺ نبوت ښكاره سو نو د خپلو خبرو څخه وګرځېدی او د بغض او عناد لار يې اختيار كړل.

په هر حال د ذكر سوي حديث څخه دا معلومه سوه چي كوم اشعار د علم او حكمت پر خبرو مشتمل وي د هغو اورېدل مسنون دي كه څه هم د هغه اشعارو ويونكی كافر او فاسق وي.

د رسول ﷺ خپلي ګوتي ته خطاب

﴿۴۵۷۹﴾: وَعَنْ جُنْدَبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي بَعْضِ الْمَشَاهِدِ وَقَدْ دَمِيَتْ إِصْبَعُهُ فَقَالَ هَلْ أَنْتِ إِلَّا إِصْبَعٌ دَمِيتِ وَفِي سَبِيلِ اللّٰهِ مَا لَقِيتِ. متفق عليه.

د حضرت جندب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ په يوه غزا كي چي د رسول الله ﷺ ګوته مباركه ويني سوه، رسول الله ﷺ ګوته مخاطب كړه او ورته وه يې فرمايل: ته يوه ګوته يې (يعني د بدن يو لوی اندام نه يې) او ويني سوې او په لاره د خدای جل جلاله كي دي چي تا وليدل (يعني دا تكليف عبث نه دی خدای جل جلاله ثواب راكوي). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٩، رقم: ٢٨٠٢، ومسلم ٣\١٤٢١، رقم: ١١٢- ١٧٩٦.

تشريح: زخمي او په وينو لړلي ته چي رسول الله ﷺ كوم اشعار وفرمايل د هغه مطلب دا وو

چي ته د بدن يوه لويه برخه نه يې ، د بدن تر ټولو ارزښتناكه برخه نه يې بلكه يو معمولي ګوته يې ، او تا ته چي كوم تكليف در رسيدلى دى هغه سخت نه دى چي نه ته پرېكړل سوې يې او نه په هلاكت كي اخته سوې يې ته يوازي زخمي سوې يې او په وينو يې، تا چي دومره تكليف وړى دى په دې وجه د بې تابۍ څه وجه نسته حال دا چي دغه لږ تكليف هم ضائع كېدونكى نه دى بلكه د الله تعالى په لاره كي او د هغه په رضا كي چي تا تكليف وړ ى دى پر هغه به تاته اجر دركول كيږي، ځكه نو دغه تكليف هم ستا لپاره د خوشحالۍ او راحت ذريعه ده ، ددغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ د امت خلكو ته تلقين وفرمايه كه چيري يو مسلمان ته د الله تعالى په لاره كي يو تكليف او تاوان ورسيږي نو پر هغه بايد صبر وكړي بلكه په حقيقت كي هغه د شكر مقام دى چي د الله تعالى وركړى بدن د هغه په لاره كي د قربانولو توفيق په برخه سو چي يو ډېر لوى سعادت دى.

ددغه حديث په اړه دا سوال پيدا كيږي چي د رسول الله ﷺ ذكر سوى ارشاد يو شعر دى حال دا چي د رسول الله ﷺ ذات مبارك د شعر او شاعرۍ څخه پاک دى او د رسول الله ﷺ د ذات څخه د شعر صادرېدل ناممكن دي ځكه چي الله ﷻ دهغه په اړه فرمايلي دي : (و ما علمناه الشعر) او موږ هغه ته شعر نه دى ښودلى، ددغه سوال جواب دادى چي په شعر كي د شاعر مقصد او اراده هم شرط ده يعني دا ضروري ده چي كوم څوک يو موزون كلام ويلي دى هغه د موزونيت قصد او اراده هم كړې وي لكه څرنګه چي د باب په پېل كي بيان سوى دى حال دا چي د رسول الله ﷺ ارشاد بېله شكه موزون كلام دى مګر ددغه موزونيت رسول الله ﷺ قصد او اراده نوه كړې بلكه بېله قصده او ارادې د رسول الله ﷺ د ژبي مباركي څخه صادرېدونكي كلام شعر جوړ سو .

ځينو حضراتو دا جواب وركړى دى چي د رسول الله ﷺ ذكر سوى كلام په اصل كي د رجز څخه دى او پر رجز باندي د شعر اطلاق نه كيږي، ددې څخه پرته يحيى رحمه الله دا هم ويلي دي چي كوم څوک ناڅاپه يو شعر ووايي نو هغه ته شاعر نسي ويل كيداى او د الله تعالى د ارشاد : (وما علمناه الشعر) څخه مراد دادى چي رسول الله ﷺ شاعر نه دى .

د حضرت حسان هجوه ويل

﴿۴۵۸۰﴾ : وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ قُرَيْظَةَ لِحَسَّانَ

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د قريظه په ورځ (يعني په كومه ورځ چي د

بني قريظه يهودو محاصره کړی وو) حسان بن ثابت رضي الله عنه (شاعر) ته و فرمایل :

بْنِ ثَابِتٍ اهْجُ الْمُشْرِكِينَ فَإِنَّ جِبْرِيلَ مَعَكَ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

ته د مشرکانو بد وايه جبرائيل عليه السلام ستا سره دئ ، او رسول الله ﷺ چي به کله د کافرانو

وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَسَّانَ أَجِبْ عَنِّي اللَّهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ. متفق عليه.

څخه خپله هجوه واوريدل نو حسان ته به يې وفرمايل : ته زما د لوري دوی ته جواب ورکړه ، بيا يې د حسان لپاره داسي دعاء وغوښتل اې الله :په روح القدس (جبرائيل عليه السلام) سره دحسان مرسته وکړې . بخاري او مسلم. (هجوه: په شعر او يا نظم کي يو چا ته بد ويل) .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٠٤، رقم: ٣٢١٢، ومسلم٤\١٩٣٣، رقم: ٥١- ٢٤٨٥.

تشريح: د يهوديانو د يوې قبيلې نوم بنو قريظه وو چي د مديني منورې د ښار پر يو غاړه اباد وه ، کله چي هغه يهوديانو د معاهدې خلاف د مسلمانانو پر خلاف فلانونه جوړول پېل کړل او د کفارو مرسته يې کول نو رسول الله ﷺ او مسلمانانو ته يې سخت تکليف ورسوی ، ځکه نو رسول الله ﷺ د خندق د غزا څخه وروسته د مسلمانانو په شتون کي د هغه قبيلې محاصره وکړه چي د هغه په نتيجه کي هغه کفار په خپله سزا ورسېدل ، نو دغه پېښه د قريظه په ورځ سره تعبير کړل سوې ده .

حضرت حسان ابن ثابت ابن منذر د مديني منورې او سيدونکی وو او يو جليل القدر انصاري صحابي وو ، نوموړی ډېر لوی شاعر وو او د اسلام په شاعرانو کي شمېرل کيږي او د شاعر رسول په لقب سره ياديږي ، د هغه عمر يوسل او شل کاله وو ، شپېته کاله د کفر په حالت کي وو او شپېته کاله يې د اسلام په حالت کي تېر کړل .

د قريشو هجوه

﴿٤٥٨١﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اهْجُوا قُرَيْشًا فَإِنَّهُ أَشَدُّ عَلَيْهَا مِنْ رَشْقٍ بِالنَّبْلِ. رواه مسلم.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د جګړې په دوران کي (خپلو شاعرانو ته) وفرمايل : د قريشو بد واياست ځکه چي د قريشو بد ويل د قريشو لپاره د غشو تر زخم زيات سخته ده . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\ ۱۹۳۵، رقم: ۱۵۷- ۲۴۹۰.

تشريح: د هجو معنی د اشعارو په ذريعه د بدی بيانول دي ، ددغه حديث څخه څرګنده سوه چي د کفارو او د دين د دښمنانو هجو کول جائز دي مګر ددې خبري لحاظ ساتل ضروري دي که چيري کفار د مسلمانانو هجو کوي نو بيا د هغوی هجو دي وکړل سي ددې څخه وړاندي هغوی ته هجو کول روا نه دي ځکه چي په دغه صورت کي به هغوی د مسلمانانو هجو کوي او همدارنګه د مسلمانانو پر خلاف د هغوی د هجو سبب به خپله مسلمان وګرځي ، ددغه مسئلې بنياد دغه آيت کريمه دی چي :

وَلاَ تَسُبُّواْ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ فَيَسُبُّواْ اللّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ،

ژباړه : اې مسلمانانو ! هغه خلکو ته ښکنځل مه کوئ کوم چي غير الله يادوي يعني کفار او مشرکين کنه نو هغوی به بېله علمه الله ته ښکنځل کول پيل کړي .

﴿۴۵۸۲﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَسَّانَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي حسان

إِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ لَا يَزَالُ يُؤَيِّدُكَ مَا نَافَحْتَ عَنِ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ وَقَالَتْ سَمِعْتُ

(شاعر) ته يې دا وويل تر څو پوري چي ته د الله د رسول د لوري مقابله کوې روح القدس (جبرائيل عليه السلام) به ستا مرسته کوي ، بي بي عائشه وايي ما د رسول الله ﷺ څخه

رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ هَجَاهُمْ حَسَّانُ فَشَفَى وَاشْتَفَى. رواه مسلم.

واوريدل چي حسان د کفارو بد وويل او په دې بد ويلو سره يې مسلمانانو ته شفاء ورکړه او خپله يې شفاء تر لاسه کړه يعني سکون او اطمينان يې تر لاسه کړ . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\ ۱۹۳۵، رقم: ۱۵۷- ۲۴۹۰.

د لغاتو حل: نافحت: ای دافعت و خاصمت (دفاع کول)

د خندق په غزا کي د عبدالله بن رواحه اشعار ويل

﴿۴۵۸۳﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د خندق په غزا کي خاوري وړلې تر دې

يَنْقُلُ التُّرَابَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ حَتّٰى أَغْبَرَ بَطْنَهُ يَقُوْلُ وَاللّٰهِ لَوْلَا اللّٰهُ مَا اهْتَدَيْنَا،

چي د رسول الله ﷺ نس مبارک په خاورو ولړل سو او رسول الله ﷺ به دا فرمايل: قسم په خدای که د الله جل جلاله هدايت نه وای نو موږ به هيڅکله هدايت نه وای تر لاسه کړی

وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا، فَأَنْزِلَنْ سَكِيْنَةً عَلَيْنَا، وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا،

نه به مو صدقه ورکولای نه به مو لمونځ کولای. اې الله! پر موږ آرام او سکينه نازل کړې او موږ چي د ښمنانو سره جنګيږو نو موږ ثابت قدمه ولرې، دغه کافرانو پر موږ زياتی کړی دئ هغوی

إِنَّ الْأُلٰى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا، إِذَا أَرَادُوْا فِتْنَةً أَبَيْنَا، يَرْفَعُ بِهَا صَوْتَهُ أَبَيْنَا أَبَيْنَا. متفق عليه.

زموږ په فتنه کي د اچولو اراده لري نو موږ ددې څخه انکار کوو. رسول الله ﷺ به دا رجز (يعني د عبدالله بن رواحه رضي الله عنه اشعار) په لوړ آواز سره ويل او آبينا آبينا الفاظ يې په ډير لوړ آواز سره فرمايل رجز: د ميړاني شعرونه ويلو ته وايي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۳۹۹، رقم: ۴۱۰۴، ومسلم ۳\۱۴۳۰، رقم: ۱۲۵-۱۸۰۳.

تشريح: په (يرفع بها صوته) کي د بها ضمير ابينا ته راجع دی او د ابينا ابينا څخه مخکي د قائلا لفظ مقدر (پټ) دی، مطلب دا دی چي رسول الله ﷺ به دغه شعرونه ويل نو په پای کي به يې د ابينا لفظ په وار وار وايه او هغه وخت به يې اواز لوړوی، او ددې څخه مقصد د دغه لفظ مفهوم مؤکد کول دي او د مسلمانانو او کافرانو غوږو ته رسول دي.

طيبي رحمة الله عليه دا ليکلي دي چي د بها ضمير هغه اشعارو ته راجع دی او د ابينا ابينا په دغه جمله کي حال واقع کيږي، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي رسول الله ﷺ به ټول اشعار په لوړ اواز ويل او د ابنيا لفظ ته په رسيدو سره به يې اواز په خاصه توګه لوړوی.

د انصارو او مهاجرينو لپاره دعاء

﴿۴۵۸۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ جَعَلَ الْمُهَاجِرُوْنَ وَالْأَنْصَارُ يَحْفِرُوْنَ الْخَنْدَقَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د احزابو په غزا کي به مهاجرينو او انصارو خندق

وَيَنْقُلُونَ التُّرَابَ وَهُمْ يَقُولُونَ نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدًا، عَلَى الْجِهَادِ مَا

کيندئ او خاوري به يې وړلې او ويل به يې موږ هغه خلک يو چې د محمد ﷺ پر لاس مو د جهاد بيعت کړی دئ

بَقِينَا أَبَدًا، يَقُولُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ يُجِيبُهُمْ اللَّهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَهْ فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ. متفق عليه.

تر څو پوري چې موږ ژوندي يو جهاد به کوو ، او رسول الله ﷺ به ددې په جواب کي وويل : اې الله ! ژوند نسته مګر د آخرت ژوند ته انصار او مهاجرين و بخښې . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٤٦، رقم: ٢٨٣٥، ومسلم ٣\١٤٣٢، رقم: ١٣٠-١٨٠٥.

تشريح: رسول الله ﷺ د دغه دعائيه الفاظو په ذريعه صحابه کرامو ته ډاډ ورکوی چي تاسو په دغه وخت کي تکليف زغمی او د کومو سختيو سره چې مخ ياست پر هغه صبر کوئ چې د الله تعالی انعام ستاسو لپاره مقدر دی او په دغه دنيا کي تاسو ته راحت او سکون تر لاسه سي يا تر لاسه نسي مګر د آخرت په ژوند کي به تاسو ته د خپل تکليف او زحمت په عوض کي بې شمېره انعامات تر لاسه کيږي او اصل انعامونه د آخرت دي ، په دې توګه چي ژوند خو د آخرت ژوند دی چي تل پاته کېدونکی دی حال دا چي د دنيا به څه راحت او څه تکليف وي ، ټول معدوم کېدونکي دي لکه څرنګه چي الله تعالی فرمايي : وَما الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلاَّ مَتَاعُ الْغُرُورِ.

د خراب شعر بدوالی

﴿۴۵۸۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا يَرِيهِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا. متفق عليه.

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نس د نو څخه ډکول چي نس خراب کړي تر دې غوره دي چي هغه د شعر څخه ډکه کړي (يعني چي د قرآن کريم وظيفه او نور ديني علم پريږدي يوازي شعر ته مخ کړي) . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٥٤٨، رقم: ٦١٥٥، ومسلم ١٤\١٧٦٩، رقم: ٧-٢٢٥٧.

تشريح: د دغه حديث په ذريعه د داسي شاعری بدي بيان سوې ده چي انسان د هر کار څخه

غافل کوي ، کوم شاعر چي هر وخت د شعر په مضامينو او جوړېدو کي مستغرق وي او د فرضو، عبادت، تلاوت ، ذکر او شرعي علومو څخه غافل وي نو د هغه د شعرونو د خرابۍ او د نفرت وړ کېدو په اعتبار هغه ته ترنو هم بد ويل سوي دي که څه هم هغه شعرونه پر ښه مضامينو باندي مشتمل وي .

او يا په دغه ارشاد کي د هغه شعرونو بدي مراد ده چي د فحش، بې حيايي، کفر او فسق پر مضامينو باندي د مشتمل کېدو په وجه خراب اشعار ورته ويل کيږي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په توره او ژبه سره جهاد

﴿۴۵۸۶﴾: عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ

د حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما نبي کريم ﷺ ته وويل: الله تعالى چي د

تَعَالَى قَدْ أَنْزَلَ فِي الشِّعْرِ مَا أَنْزَلَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ

شعر په اړه کوم حکم نازل کړی دئ هغه څرګند دئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل :

الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ وَلِسَانِهِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَكَأَنَّمَا تَرْمُوْنَهُمْ بِهِ

مؤمن په توره سره هم جهاد کوي او په ژبه سره هم، قسم دئ په هغه ذات چي د هغه په واک کي زما ساه ده ستاسو شعر کافران داسي ولي (يعني بد پر لګيږي)

نَضْحَ النَّبْلِ .رواه في شرح السنة. وفي الاستيعاب لابن عبد البر أنه قال يا رسول الله ماذا ترى في الشعر ؟ فقال : "إن المؤمن يجاهد بسيفه ولسانه

لکه ستاسي غشي . شرح السنه ، او په کتاب استيعاب کي د ابن عبد البر څخه نقل دي چي هغه (يعني کعب) وويل: تاسو څه حکم کوئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : مؤمن په توره سره هم جهاد کوي او په ژبه سره هم .

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۲\ ۳۷۸، رقم: ۳۴۰۹.

تشريح: علماؤ ليکلي دي چي درو شاعرانو په اسلام کي غوره حيثيت درلودی چي په هغوی

کي يو حضرت حسان ابن ثابت ﷺ وو، دوهم حضرت عبدالله ابن رواحه ﷺ او دريم حضرت کعب ﷺ ابن مالک، علماؤ دا هم ليکلي دي چي دغه درو سره حضراتو شعرونه بېل بېل انداز لري، د حضرت کعب ﷺ اشعار پر داسي مضامينو باندي مشتمل وه چي کفار او مشرکين يې د جنګ او جهاد په بيره کي اخته کول او د هغوی پر زړونو د رعب او هيبت اثرات مرتب کېدل، حضرت حسان ﷺ د خپلو شعرو په ذريعه د دين دښمنان او د رسول الله ﷺ پر دښمنانو باندي د نسب او حسب د طعن او پيغور غشی چلوی، او د حضرت عبدالله ابن رواحه ﷺ د اشعارو اندازه د کفارو او مشرکينو توبيخ او بدی ته وو.

د حديث خلاصه داده چي کله الله تعالی د قرآن کريم دغه آيت: (والشعراء يتبعهم الغاوون) نازل کړ او ددې په ذريعه د شعر او شاعرۍ بدی څرګنده سول نو حضرت کعب ﷺ د شاعرۍ د خرابۍ او د خپل حال يعني خپل شاعر کېدو د افسوس د څرګندېدو په توګه د رسول الله ﷺ په وړاندي ذکر سوې جمله ادا کړل مګر رسول الله ﷺ د خپل جواب په ذريعه هغه ته څرګنده کړه چي شعر او شاعرۍ بذات خود بد شی نه دی مګر په دې کي خرابي هغه وخت پيدا کيږي کله چي هغه د غير شرعي خبرو او د نامناسب مضامينو د اظهار ذريعه سي او په عامه توګه شاعران د فکر او خيال ګمراهۍ او د ژبي د بداعتدالو ښکار کيږي ځکه نو الله تعالی د هغه په بدۍ کي ذکر سوی آيت نازل کړ، او کوم چي ددې خبري تعلق دی چي د حق او صداقت د اظهار او د باطل د ترديد ذريعه جوړوي نو هغه شعر به ددغه آيت محمول نه وي بلکه کوم شاعران چي د خپلو شعرونو په ذريعه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ لپاره د کفارو د شعرو مقابله کوي او د هغوی د هجو د جواب په هجو ورکولو سره د اسلام د دين تائيد کوي، هغوی په اصل کي له جهاد کونکو څخه شمېرل کيږي نو تاسو مطمئن اوسئ چي نه ستاسو اشعار ددغه آيت په رڼا کي د بدۍ وړ دي او نه تاسو په هغه شاعرانو کي یاست چي د هغوی د بدۍ ظاهرولو لپاره دغه آيت نازل سوی دی ځکه چي ستاسو په ډول شاعران الله ﷻ د خپل دغه قول په ذريعه د مذکوره آيت څخه ايستلي دي: (الا الذين آمنوا وعملو الصالحات وذکر الله کثيرا).

لږ خبري د ايمان نښه ده

﴿۴۵۸۷﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحَيَاءُ وَالْعِيُّ شُعْبَتَانِ مِنَ الْإِيمَانِ وَالْبَذَاءُ وَالْبَيَانُ شُعْبَتَانِ مِنَ النِّفَاقِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو مامه ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : حيا او ژبه په واک کي ساتل د ايمان دوه ښاخونه دي او فحش ويل او بې ګټي خبري د نفاق دوه ښاخونه دي . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۳۲۹، رقم: ۲۰۲۷.

د لغاتو حل: البذاء: فحش الكلام (بدي خبري)

تشريح: شرم او حياء د ايمان ښاخ کېدل يوه څرګنده او معروفه خبره ده او ددې تفصيل په باب الايمان کي تېر سوی دی . ژبه په واک کي ساتل د ايمان ښاخ کېدل او فحش وينه د نفاق ښاخ کېدل په دې اعتبار دي چي مؤمن د خپل حقيقت په اعتبار د شرم او حياء په کومو صفتونو چي مزين کيږي هغه د خپل خدايي عبادت او د خپل خدای ﷻ د مخلوق په خدمت او د خپل باطن په اصلاح کي چي څرنګه بوخت وي د هغه په وجه هغه ته پر بې ګټي تقرير او بيان باندي قدرت تر لاسه نه وي ، هغه پردې قادر نه وي چي خپل مفهوم او مدعا د مبالغې او د ژبي د تيزی په ذريعه ثابت او ظاهر کړل سي بلکه هغه ددې بيري څخه لږ ويل اختيار وي او خپله ژبه په واک کي ساتي چي داسي نه د ژبي څخه يو خرابه خبره راووځي او هغه د فحش ويني مرتکب سي ، ددې پر خلاف د منافق شان دا وي چي هغه فحش ويني او پالتو خبرو کولو لار اختيار وي چي د هغه په نتيجه کي د بې ګټي تقرير او بيان کولو باندي قادر کيږي .

بې فائدې خبري مکروه دي

﴿۴۵۸۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت ابو ثعلبة خشني ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَاسِنَكُمْ أَخْلَاقًا وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ

د قيامت په ورځ به ما ته تر ټولو عزيز، محبوب او نژدې هغه خلک وي کوم چي په تاسو کي زيات خوش اخلاقه وي ، او مبغوض ترين

إِلَيَّ وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّي مَسَاوِيكُمْ اَخْلَاقًا الثَّرْثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ الْمُتَفَيْهِقُونَ

او زما څخه ډېر ليري به هغه خلک وي کوم چي ډېر بد اخلاقه وي ، زياتي خبري جوړونکي په بې احتياطی سره پالتو خبري او تکبر کونکي وي ،

رواه البيهقي في شعب الايمان وروی الترمذي نحوه عن جابر وفي رواية

بیهقي، ترمذي د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه دا ډول روایت نقل کړی دئ او په یوه روایت کي دي چي

قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَدْ عَلِمْنَا الثَّرْثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ فَمَا الْمُتَفَيْهِقُونَ قَالَ الْمُتَكَبِّرُونَ.

صحابه کرامو وویل: (اې د الله رسوله!) ثرثارون او متشدقون خو موږ پیژنو مګر متفیقهون کوم خلک دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل متکبر (غرور کونکي). (ثرثاون: ډیري خبري جوړونکي، متشدقون: په بې پرواهي سره پالتو خبري کونکي، متفیهقون: کبرجن او متکبرته وایي).

تخریج: البیهقي في شعب الایمان ۱۴\ ۲۵۰، رقم: ۴۹۶۹.

د لغاتو حل: المتفیهقون: هم الذین یملؤون افواههم بالکلام تکبرا. (په غرور خبري کوونکی.)

تشریح: فیهق، د ضرورت څخه زیاتي خبري کول او مخ په ګرځولو سره یو خبره کولو ته وایي، لکه څرنګه چي په تکبر او غرور کي د اخته کسانو عادت وي چي کله هغوی د یو چا سره خبري کوي نو د هغوی د رویې څخه داسي محسوس کیږي لکه چي هغوی خپل مخاطب ډېر حقیر او ... یل ګڼي او دا هم نه خوښوي چي هغه ته په مخ کولو سره خبره وکړي بلکه د هغه څخه په مخ ګرځولو خبري کوي، ددغه معنوي لزوم په وجه د متفیهقین وضاحت د متکبرینو په ذریعه سوی دی.

ددغه حدیث څخه څرګنده سوه چي پالتو او بې ګټي خبري کول، په جوړولو سره خبري کول او بیان کول مکروه او بد دی مګر د حق لپاره د خلکو ذهن او فکر متاثر کول، زړونه نرمول او عبادت او طاعت ته متوجه کولو لپاره په وعظ او نصیحت کي چي کوم بیان او تقریر بیانیږي هغه بد او مکروه نه دی مګر په دغه صورت کي دا هم ضروري ده چي د بیان انداز او طرز داسي اختیار کړل سي چي په اسانۍ سره خلک مقصد ته ورسول سي، ددې پر خلاف پېچېده او دقیق انداز، مشکل لغاتونه او الفاظ چي د عام ذهن او فهم څخه لوړ وي او د هغه په وجه بې علمه خلک د هغه د وعظ او تقریر څخه ګټه تر لاسه نه کړلای سي مناسب او موزون نه دي.

یوه پیشګویي

﴿۴۵۸۹﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ قَوْمٌ يَأْكُلُونَ بِأَلْسِنَتِهِمْ كَمَا يَأْكُلُ الْبَقَرُ

بِأَلْسِنَتِهَا. رواه احمد

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قيامت به تر هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو پوري چي يو داسي قوم پيدا نه سي چي په خپلو ژبو سره به داسي خوراک کوي لکه غواوي چي په خپلو ژبو سره خوراک کوي (يعني خپلي ژبي به د خوراک وسيله جوړه کړي او په درواغو خبرو يا فصاحت او بلاغت يا مدح او ذم سره به خپل خوراک پيدا کوي). احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ١١ ١٨٤.

تشريح: مطلب دادی چي د قيامت د نژدې کېدو د علامو څخه يوه علامه دا هم ده چي داسي خلک به پيدا سي چي خپل ژبي به د خوراک او ښېښاک ذريعه جوړوي، په دې توګه چي هغوی به د ښه راغلاست په وجه د خلکو درواغ تعريفونه بيانوي يا د بغض او حسد په وجه د هغوی د درواغو بدي بيانوي او په خپل تقرير او تحرير کي د درواغ د فصاحت څرګندونه کوي چي خلک په خپل جال کي اخته کړي او د هغوی څخه د دنيا مال تر لاسه کړي او د خپلو خواهشاتو تکميل وکړي.

لکه څرنګه چي غواوي د خپل ژبي په ذريعه خوراک کوي، په دغه الفاظو کي دې ته اشاره سوې ده چي څرنګه غواوي په خپل ژبه سره خوراک کوي او د خوراک په وخت کي دا تميز نه کوي چي هغه وابښه وچ دي که لانده، خواږه دي که ترخه، جائز دي که ناجائز، همدارنګه هغه خلک چي خپلي ژبي د ناجائز مقصد او ناروا خواهشاتو د پوره کولو وسيله او ذريعه جوړوي، د حق او باطل، رېښتيا او درواغو په مينځ کي فرق نه کوي او نه د حلال او حرام په مينځ کي فرق کوي.

اوږده ژبې

﴿۴۵۹۰﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُبْغِضُ الْبَلِيغَ مِنَ الرِّجَالِ الَّذِي يَتَخَلَّلُ بِلِسَانِهِ كَمَا يَتَخَلَّلُ الْبَاقِرَةُ بِلِسَانِهَا. رواه الترمذي وابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث غريب.

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی هغه سړی بد ګڼي چي په خبرو کي مبالغه کوي هغه څوک چي خپله ژبه په خبرو سره تاووي لکه غوايان

چي وابنه په خوله كي ننباسي او په خپلو ژبو يې يوې خوا بلي خوا ته اړوي .ترمذي او ابوداؤد . داحديث غريب دئ.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۷۴، رقم: ۵۰۰۵، والترمذي ۵\ ۱۲۹، رقم: ۲۸۵۳.

د لغاتو حل: الباقرة: اى البقرة (غو)

تشريح: مطلب دادی چي د ژبي اوږدوالی او طاقت لساني ښه شی نه دی ، په خپل خبرو كي د حد څخه زيات فصاحت او بلاغت كول د ناپوهانو خلكو په نزد خو يو وصف ګڼل كيږي مګر كوم پوهان او هوښيار خلک چي په دغه صفت كي پټه خرابي ويني چي په عامه توګه داسي خبري جوړونكي خلک درواغجن او چمباز وي نو د هغوی په نزد ددغه وصف هيڅ اعتبار نسته، ځكه نو رسول الله ﷺ وفرمايل : داسي كس د الله ﷻ په نزد ناخوښه دی ، نو ښه كلام هغه دی چي د ضرورت په اندازه او ساده وي چي د هغه څخه دا څرګنديږي چي د متكلم ظاهري الفاظ د هغه د باطني كيفياتو عكس وي چي دا د شريعت تقاضا هم ده .

د بې عمله نصيحت كونكو عذاب

﴿۴۵۹۱﴾:وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَرْتُ لَيْلَةً

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د معراج په شپه زه پر داسي

اُسْرِيَ بِيْ بِقَوْمٍ تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيْضَ النَّارِ فَقُلْتُ يَا جِبْرِيْلُ مَنْ

خلكو تير سوم چي د هغوی ژبي د اور په غچيانو سره پريكېدلې ، ما د جبرائيل عليه السلام څخه پوښتنه وكړه دا څوک دي ؟

هٰؤُلَاءِ ؟ قَالَ هٰؤُلَاءِ خُطَبَاءُ أُمَّتِكَ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

هغه راته وويل دا ستا د امت خطيبان (نصيحت كونكي) دي چي داسي خبري به يې كولې په كومو چي به يې خپله عمل نه كوئ. ترمذي.دا حديث غريب دئ.

تخريج: لم نجده عند الترمذي

تشريح: په دغه حديث كي د هغو واعظانو او خطيبانو د بې عملي بد څرګنديږي ، نه دا چي دغه ارشاد مقصد ددې خبري خرابي بيانول دي چي هغوی د نېكيو لپاره ولي وايي كه څه هم

هغوی خپله نیک کارونه نه کوي ، له دې کبله علماء وايي چي په امر بالمعروف کي فعل شرط نه دی يعني دا ضروري نه ده چي د نېک لپاره هغه سړی ویل وکړي چي هغه په خپله هم عمل کوي ځکه چي د کوم امر باالمعروف بنیاد محض پر قول باندي وي او پر هغه عمل نه وي نو د هغه اثر هم نه وي .

د غوړ ژبي په باره کي وعيد

﴿۴۵۹۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَعَلَّمَ صَرْفَ الْكَلَامِ لِيَسْبِيَ بِهِ قُلُوبَ الرِّجَالِ أَوِ النَّاسِ لَمْ يَقْبَلِ اللهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي (د فصاحت او چم) داسي خبري زده کړي چي په هغه سره د نارينوو يا د خلکو پر زړو واک تر لاسه کړي ، الله تعالى به د قيامت په ورځ د هغوی څخه نه فرض قبول کړي او نه نفل . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۷۴، رقم: ۵۰۰۶.

د لغاتو حل: صرفا : اى توبة.

تشريح: د ذکر سوي سزا تعلق د هغه سړي سره دی چي د ضرورت څخه زياتي خبري وکړي ، خپل مقصد په داسي راچاپېره کولو سره بيان کړي چي حقيقت ظاهر نسي يا خپل کلام د ضرورت څخه زيات په فصاحت او بلاغت سره مزين او ښکلی کړي او د دغه شيانو مقصد دا وي چي خلک هغه ته متوجه سي او د هغه د خبرو څخه په اثر قبلولو سره د هغه مقصد پوره کړي .

لنډ تقرير ښه دی

﴿۴۵۹۳﴾: وَعَنْ عَمْرِو ابْنِ الْعَاصِ أَنَّهُ قَالَ يَوْمًا وَقَامَ رَجُلٌ فَأَكْثَرَ الْقَوْلَ

د حضرت عمرو ابن العاص رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يوه ورځ يو سړی ولاړ سو په فصاحت او بلاغت سره يې يو اوږد تقرير وکړ ،

فَقَالَ عَمْرٌو لَوْ قَصَدَ فِي قَوْلِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

حضرت عمرو رضي الله عنه وويل که ده په خپل بيان کي د لنډوالي څخه کار اخيستی وای نو غوره به

وه، ځکه چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي

وَسَلَّمَ يَقُولُ لَقَدْ رَأَيْتُ أَوْ أُمِرْتُ أَنْ أَتَجَوَّزَ فِي الْقَوْلِ فَإِنَّ الْجَوَازَ هُوَ خَيْرٌ.

رواه ابوداؤد.

چې زه پوه سوی يم يا حکم راکړل سوی دئ د دې خبري چې په تقرير او خبرو اترو کې د لنډوالي څخه کار واخلم ځکه چې لنډ تقرير غوره وي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۷۵، رقم: ۵۰۰۸.

د لغاتو حل: انجوز: اى اسرع.

تشريح: په روايت کې د (فقال عمرو) الفاظ د خبرو د اوږدوالي لپاره تکراري نقل سوي دي ځکه چې (ولو قصد...الخ) مقوله ده او (وقال يوم او قام رجل) حال دی، او څرګنده ده چې د حال په وجه د قول او مقولې په مينځ کي خاص فرق وسو ځکه د فقال عمرو دوهم وار ويلو سره يې د قول اعاده وکړه.

ځيني علم جهالت وي

﴿۴۵۹۴﴾: وَعَنْ صَخْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ سَمِعْتُ

حضرت صخر بن عبد الله بن بريدة رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د پلار څخه روايت کوي چې ما د

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا وَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ جَهْلًا وَإِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حُكْمًا وَإِنَّ مِنَ الْقَوْلِ عِيَالًا. رواه ابوداؤد.

رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چې ځيني بيان د جادو په ډول او ځيني د علم څخه جهل دی او ځيني شعرونه پر حکمت مبني او ګټه رسونکي وي او ځيني قولونه هلاکت وي، ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود: ۵\۲۷۸، رقم: ۵۰۱۲.

د لغاتو حل: عِيالا: اى ثقلا على سامعک.

تشريح: ځيني علم جهالت وي: د دغه جملې دوې معناوي دي، يو خو دا چې يو سړی داسي علم حاصل کړي چې ګټور نه وي او نه هغه ته اړتيا وي لکه علم جعفر، رمل يا علم نجوم، فلسلفه او داسي نور، او په دغه بې ګټي عِلم کي د بوختيا په وجه هغه د ضروري علومو څخه

محروم سي چي په هغه سره د خلکو احتياج او ضرورت اړوند وي، لکه قرآن کريم، احاديث، د دين علوم، نو څرګنده ده چي په دغه صورت کي به دا ويل کيږي چي هغه څوک چي بې ګټې علم تر لاسه کړي هغه علم د نورو ضروري علومو څخه هغه محروم کړی دی، ددې خلاصه دا سوه چي ځيني علوم په حقيقت کي جهل لازموي او په دې اعتبار فرمايل سوي دي چي ځيني علوم جهالت وي.

دوهمه معنی داده چي علم تر لاسه کونکی پر خپل علم باندي عمل کونکی نه وي، په دې اعتبار سره هغه سړی د عالم کېدو سربېره جاهل ګرځول کيږي ځکه چي کوم څوک علم لري او عمل نه په کوي نو هغه ګويا جاهل دی.

ددې څخه پرته ددغه ارشاد څخه دا مراد هم اخيستل کيدای سي چي کوم څوک د علم دعوه کوي او د خپل ګمان مطابق ځان عالم ګڼي مګر په حقيقت کي هغه عالم نه وي نو د هغه دغه علم علم نه دی بلکه جهالت او ناپوهي ده.

او ځيني قولونه هلاکت وي: ددې مطلب دادی چي يو سړی يوه داسي خبره وکړي چي د هغه په وجه هغه خپل ځان په هلاکت کي اخته کړي يا کوم څوک چي هغه خبره واوري نو هغه په غم او تکليف کي اخته سو، په دې توګه که چيري هغه اورېدونکی جاهل وي نو هغه خبره د هغه په پوهه کي نه راغله او که عالم وي نو د هغه لپاره بې ګټې ده يا هغه يو داسي خبره ده چي اورېدونکی يې نه خوښوي او د هغه خبري په وجه هغه ته تکليف رسيږي نو په دغه صورتو کي به دا ويل کيږي چي د ويونکي هغه قول او کلام د هلاکت ذريعه وګرځېدل.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د حسان شاعر فضيلت

﴿۴۵۹۵﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ لِحَسَّانَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د حسان (شاعر) لپاره په مسجد

مِنْبَرًا فِي الْمَسْجِدِ يَقُوْمُ عَلَيْهِ قَائِمًا يُفَاخِرُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

کي منبر کښېښنودئ، حسان به پر هغه ودريدئ، د رسول الله ﷺ د لوري به يې د فخر څرګندونه کول يا د رسول الله ﷺ د لوري به يې د کفارو د مذمت (بدوالي)

وَسَلَّمَ أَوْيُنَافِحُ وَيَقُوْلُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ يُؤَيِّدُ حَسَّانَ

مقابله كول او رسول الله ﷺ به دا فرمايل : بېشكه الله تعالى د حسان تائيد كوي

بِرُوْحِ الْقُدُسِ مَا نَافَحَ أَوْ فَاخَرَ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ ﷺ. رواه البخاري.

په جبرائيل عليه السلام سره تر هغو پوري چي هغه د رسول الله ﷺ د لوري مقابله يا فخر كوي. بخاري.

تخريج: لم نجده عند البخاري، بل هو عند الترمذي ۵\۱۲۶، رقم: ۲۸۴۶.

د اوښانو د حدي اثر

﴿۴۵۹۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَادٍ يُقَالُ لَهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ يو حاد وو (حاد د اوښانو د شړلو غزل

أَنْجَشَةُ وَكَانَ حَسَنَ الصَّوْتِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُوَيْدَكَ يَا أَنْجَشَةُ لَا تَكْسِرُ الْقَوَارِيرَ قَالَ قَتَادَةُ يَعْنِي ضَعَفَةَ النِّسَاءِ. متفق عليه.

ويونكى)، چي د هغه نوم انجشه وو ډير ښه آوازې وو، يوه ورځ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: اې (نجشه) اوښان په كراره كراره شړه (يعني په خپل حدي سره اوښان مه ګرموه تيزيې مه شړه) او شيشې مه ماتوه، قتاده رضي الله عنه وايي د شيشو څخه د رسول الله ﷺ مراد كمزوري ښځي وې. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۹۴، رقم: ۶۲۱۱، ومسلم ۴\۱۸۱۲، رقم: ۷۳-۲۳۲۳.

تشريح (حُدِي): د صراح مطابق هغه په زوره غزلي ته وايي چي د هغه په ذريعه اوښان شړل كيږي، د لغت په نورو كتابو كي دا ليكلي دي چي حُدي د عربو د چوپانانو نفحې (شپيلې) ته وايي، په عربو كي دا رواج دى چي د اوښان شړونكي كله دا ويني چي د هغه اوښ ستړى سوى دى يا هغه سست سوى دى نو هغه په لوړ او خوش آوازي سره غزل ويل پيل كړي د دغه غزلي آواز په اوښ كي بيداري او ګرمي پيدا كوي چي په هغه سره تېز سي، په كتابو كي ليكلي دي چي حُدي مباح دى او په دې اړه د هيڅ يو عالم اختلاف نسته.

قوارير د قاروره جمع ده چي معنى يې د شيشې ده، د ارشاد (ولا تكسر القوارير) يعني

شیشې مه ماتوه، د دغه جملې دوه مطلبه دي ، یو دا چي د ښځو په بدن کي کوم فطري نزاکت او کمزوري وي د هغه په وجه د اوښانو تېز تلل او جمپونه وهل هغوی ته د سخت تکلیف سبب گرځي نو رسول الله ﷺ خپل ساربان انجشه رضي الله عنه ته حکم ورکړ چي اوښان په دومره تیزي سره مه شړه چي پر هغه سپرې ښځي په تکلیف سي .

دوهم مطلب دا دی چي د دغه ارشاد په ذریعه د ښځو د زړه کمزوري او نرمۍ ته اشاره کول مقصد وو ، یعني رسول الله ﷺ، انجشه رضي الله عنه ته هدایت وکړ چي دا سي حُدي مه وایه چي په هغه سره د ښځو زړه کمزوری او متاثر سي او ستا د غزلو په وجه د هغوی په ذهن او جذباتو کي پارونه پیدا سي او هغوی په بل خیال کي اخته سي، ځکه چي د غزلي خاصیت دا دی چي هغه په طبیعت کي جوش پیدا کوي او جذبات راپاروي، که څه هم دا خبره ویل کیدای سي چي رسول الله ﷺ کوم وخت دغه ارشاد وفرمایه هغه وخت پر اوښ باندي په ازواجو مطهراتو کي یوه زوجه مطهره سپره وه او په دغه صورت کي دغه مطلب نامناسب معلومیدی ځکه چي مذکوره احتمال د ازواج مطهراتو په اړه ډېر کمزوری او ضعیف دی، مګر دا حقیقت هم دی چي د یو خراب خیال پیدا کېدل او د طبیعت او زړه په وسوسه کي اخته کېدل یو طبعي شی دی چي د یو انسان په اختیار کي نه دی نو رسول الله ﷺ دا مناسب وګڼل چي د لاري احتیاط ظاهري کړي چي په هر صورت د احتیاط لاره اختیارول غوره دي، دا خبره هم باید په ذهن کي وي چي د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد تعلق په حقیقت کي د امت خلکو ته تعلیم او تلقین دی یعني رسول الله ﷺ د ذکر سوي ارشاد په ذریعه ټول امت ته هدایت وفرمایه چي کله پر اوښ باندي ښځي سپرې وي نو د هغوی د شتون خیال دي وساتل سي او په حُدی ویلو کي دي احتیاط وکړل سي .

پورته چي کوم مطلب بیان سوی دی په هغه کي دوهم مطلب ته زیاتو شارحینو ترجیح ورکړې ده مګر د روایت د الفاظو تقاضا داده چي لومړی مطلب صحیح وګڼل سي .

د ښه شعر او بد شعر تعلق

﴿۴۵۹۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ ذُكِرَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشِّعْرَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ كَلَامٌ فَحَسَنُهُ حَسَنٌ وَقَبِيْحُهُ قَبِيْحٌ . رواه الدارقطني، وروى الشافعي عن عروة مرسلا .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ په مخکي د شعر یادونه وسول ،

نو رسول الله ﷺ وفرمايل : شعر يو كلام دئ ښه شعر ښه كلام دئ او بد شعر بد كلام دئ . دار قطني . شافعي د عروه څخه مرسلا روايت كړى دئ .

تخريج: سنن الدار قطني ۴\۱۵۵، رقم: ۲.

تشريح: د شعر او شاعرئ په اړه مخكي هم ښودل سوي دي او دا حديث هم دا خبره څرګندوي چي شعر ويل يا اورېدل بذات خود بدي نه لري بلكه د شعر د ښه والي او بدوالي دار او مدار د شعر پر مضامينو باندي وي كه د شعر مضمون داسي وي چي د شريعت د حكم او منشاء او ديني تقاضاوو خلاف نه وي نو په هغه شعر كي څه بدي نسته بلكه د داسي مضامينو حامل شعر كه وويل سي يا واورېدل سي چي په هغه سره د دين خبره خپرېږي او ثابتيږي يا د هغه څخه د الله تعالى د وحدانيت د رسول د ميني او منقبت او د دين عظمت څرګنديږي نو يقينا داسي شعر به مستحسن او محمود وي ، ددې پر خلاف د كوم شعر مضمون چي د شريعت د حكم او منشاء خلاف وي نو هغه ته به بد ويل كيږي .

د ګناه شعرونه

﴿۴۵۹۸﴾ : وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَا نَحْنُ نَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره په عرج نامي ځاى

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَرْجِ إِذْ عَرَضَ شَاعِرٌ يُنْشِدُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

كي روان وو چي يو شاعر په شعر ويلو سره په مخه راغلئ ، د هغه د شعرونو په اوريدو سره

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذُوا الشَّيْطَانَ أَوْ أَمْسِكُوا الشَّيْطَانَ لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ

قَيْحًا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا . رواه مسلم .

رسول الله ﷺ وفرمايل : دا شيطان ونيسئ ، يا دا شيطان منع كړئ ، د انسان د نو څخه نس دكول تر دې غوره دي چي هغه د شعر څخه ډكه كړي . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۷۶۹، رقم: ۲۲۵۹.

د لغاتو حل: العرج: بلد باليمن (د يمن يو ښار)

تشريح: عرج د مديني منورې او مكې مكرمې په مينځ كي د يو ځاى نوم دى چي هلته يو لږ څه ابادي هم ده ، پر دغه لاره باندي تلونكي قافلې به دلته پړاو كوى ، رسول الله ﷺ به هم د حج په

سفر او په حجة الوداع کي پر دغه ځای تېرېدی، په ظاهره معلومېږي چي په حديث کي د کومي پېښي ذکر سوی دی هغه د حجة الوداع د سفر پېښه ده.

په هر حال کله چي رسول الله ﷺ هغه سړی ولېدی چي هغه په شعر ويلو کي ډېر بوخت دی تر دې چي هغه ته د موجودو مسلمانانو هيڅ توجه نسته بلکه يو ډول د رسول الله ﷺ او ټولو مسلمانانو په هېرولو سره بې پروا روان دی او د هغه شاعرۍ شوق هغه دومره بې باکه کړی دی چي هغه انساني او اخلاقي تقاضې او د ژوند ادبونه هير کړي دي، ددې مطلب دادی چي د هغه په رګو کي شعر او شاعرۍ دومره سرايت کړی دی چي هغه ډېر بې حياء او بې ادبه سوی دی نو رسول الله ﷺ هغه ته شيطان ووايه، ددې څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي دغه سړی د رحمت الهي او قرب الهي څخه لېري والی اختيار کړی دی او څرګنده ده چي ددې څخه د صورت حال صدور ځکه وسو چي هغه خپل شعر او شاعرۍ په غرور او تکبر کي اخته کړی وو ځکه رسول الله ﷺ د شعر بدي وکړه.

سندري ويل نفاق پيدا کوي

﴿۴۵۹۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: سندري په زړه کي داسي منافقت زرغون کوي لکه څرنګه چي اوبه فصل زرغون کوي. بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۴\۲۷۹، رقم: ۵۱۰۰.

تشريح: مطلب دادی چي غزلي او سروز د انساني زړه او روح لپاره يو آزار دی چي د هغه ثمره نفاق دی يا داسي ويل کيږي چي غزلي او سروز په انسان کي د نفاق او د باطن فساد کېدو سبب جوړيږي. د ديلمي رحمة الله عليه په روايت کي د حضرت انس ﷺ څخه د رسول الله ﷺ ارشاد داسي نقل سوی دی: (ان الغنا واللهو ينبتان النفاق كما ينبت الماء العشب والذي نفس محمد بيده ان القرآن والذكر ينبتان الايمان في القلب كما ينبت الماء العشب)، ژباړه: بېله شکه سروز او غزلي او لوبي مسخرې نفاق داسي شين کوي لکه څرنګه چي اوبه شنګيا شنه کوي، او قسم دي په هغه ذات چي د هغه په واک کي د محمد ساه ده قرآن او ذکر الهي دواړه په زړه کي ايمان داسي زرغون کوي لکه څرنګه چي اوبه شنګيا زرغونه کوي.

خلاصه داده چي انسان بايد د هغه سروز ، غزلو او لوبو مسخرو څخه ځان وساتي بلکه خپل وختونه د قرآن کريم په تلاوت او ذکر الهي سره معمور وساتي ځکه چي دغه شيان زړه او روح ته ځلا ورکوي او ايمان او اخلاق مضبوط کوي .

نووي رحمه الله په کتاب روضه کي ليکلي دي چي محض په اواز سره غزلي ويل مکروه دي او اورېدل يې هم مکروه دي ، د پردۍ ښځي څخه اورېدل سخت مکروه دي او د ساز سره غزلي ويل ، اورېدل او خپل کسب جوړول حرام دي .

د ساز اواز

﴿۴۶۰۰﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِي الطَّرِيْقِ فَسَمِعَ مِزْمَارًا

حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه د ابن عمر رضي الله عنه سره روان وم چي هغه د شپيلۍ آواز

فَوَضَعَ إِصْبَعَيْهِ فِيْ أُذُنَيْهِ وَنَأَ عَنِ الطَّرِيقِ إِلَى الْجَانِبِ الْآخَرِ ثُمَّ قَالَ لِي يَا

واوريدئ نو په خپلو غوږونو کي يې ګوتي دننه کړې او دلاري څخه آخوا سو ليري ولاړی ، بيا

نَافِعُ هَلْ تَسْمَعُ شَيْئًا قُلْتُ لَا فَرَفَعَ إِصْبَعَيْهِ مِنْ أُذُنَيْهِ وَقَالَ كُنْتُ مَعَ

يې ما ته وويل اې نافع ! ته (د شپيلۍ) آواز اورې ، ما وويل :يا ، نو هغه د غوږو څخه ګوتي ايسته کړې او وه يې ويل زه

النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَ صَوْتَ يَرَاعٍ فَصَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُ قَالَ نَافِعٌ وَكُنْتُ إِذًا ذَاكَ صَغِيْرًا. رواه احمد وابو داؤد.

د رسول الله ﷺ سره روان وم چي رسول الله ﷺ د شپيلې آواز واوريدئ او رسول الله ﷺ همداسي وکړل کوم چي ما وکړل ، نافع وايي زه هغه وخت ډير کوچنی وم ، احمد او ابوداؤد .

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۸، وابوداود ۵\۲۲۲، رقم: ۴۹۲۴.

د لغاتو حل: وناء: اى بعد، اليراع: القصب.

تشريح: حضرت نافع رحمه الله ددغه روايت په پای کي دا ښکاره کړه چي ما د کومي پېښي ذکر کړی دی دا د هغه وخت پېښه ده کله چي زه کوچنی وم ، ددې څخه دا خبره ښکاره کول مقصد وو چي هغه وخت زه کوچنی وم او په شرعي توګه مکلف نه وم ځکه حضرت ابن عمر رضي الله عنه د هغه اواز

اورېدو څخه منع نه کړم که چیري زه په شرعي توګه مکلف وای نو هغه به یقینا ما ته هدایت کړی وای چي د هغوی په ډول زه هم په خپلو غوږو کي ګوتي ونیسم ، نو باید دا وهم پیدا نسي چي په هغه اواز کي کراهت تنزیهي وو ځکه نو زه یې د هغه اواز اورېدو څخه منع نه کړم بلکه حقیقت دادی چي هغه اواز اورېدل مکروه تحریمي وو او زما د نه منع کېدو تعلق زما د غیر مکلف کېدو سره وو .

پاته سوه دا خبره چي کله حضرت ابن عمر رضي الله عنه په خپلو غوږو کي ګوتي اچولي وې نو بیا د لاري پرېښودو څه اړتیا وه نو ددې تعلق د کمال تقوای سره وو یعني حضرت ابن عمر رضي الله عنه د احتیاط او تقوا تقاضا دا وګڼل چي د هغه لاري څخه هم لیري سي که چیري د لارې پرېښودل په شرعي توګه ضروري وای نو حضرت ابن عمر رضي الله عنه به یقینا حضرت نافع رحمة الله عليه ته د هغه لاري پرېښودو حکم ورکړی وای .

څرګنده دي وي چي د غزلو او سروز مسئله ډېره تفصیلي مسئله ده ، د خلاصې په توګه دومره پوه سئ چي د محدثینو د تحقیق مطابق داسي هیڅ حدیث منقول نه دی چي د هغه څخه د غزلي حرام کېدل ثابتیږي ، د مشائخو وینا ده چي په دې اړه د اظهار ممانعت په توګه چي څه منقول دي ددې څخه مراد دادی چي په دغه مسئله کي یې ډېر شدت اختیار کړی دی چي د هغه تفصیل د فقهي په کتابو کي تر لاسه کېدای سي ، په فتاوی قاضي خان کي لیکلي دي چي د لهو و لعب شیان یعني سروز اورېدل حرام او سخته ګناه ده ، ځکه چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي : استماع الملاهي معصیة والجلوس علیها فسق والتلذذ بها من الکفر، ژباړه : د سروز اورېدل ګناه ده ، هغه ته ناسته فسق دی او د هغه څخه خوند تر لاسه کول د کفر څخه دی .

که چیرې د یو چا غوږ ته د سروز آواز ناڅاپه راسي نو په دغه صورت کي ګناه نسته مګر پر هغه واجب دي چي هغه ددې پوره هڅه وکړي چي هغه اواز نه واوري ځکه چي د رسول الله ﷺ څخه نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ د سروز اورېدو څخه د ځان ساتني لپاره په خپلو غوږو کي ګوتي اچولي وې .

==========

بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ

(د ژبي ساتنه، غیبت او بد ویلو بیان)

د غیبت معنی ده د یو چا تر شا بد ویل یعني د یو سړي په غیاب کي د هغه په اړه داسي خبري کول که چیري هغه یې واوري نو ناخوښه به یې کړي. د شتم معنی د ښکنځلو کولو ده یعني یو چا ته داسي فحش خبره کول چي هغه د شریعت، اخلاق او تهذیب خلاف وي.

په هر حال په دغه باب کي هغه حدیثونه نقل کیږي چي د هغو ځخه دا څرګندیږي چي ژبه د داسي الفاظو او خبرو څخه ساتل پکار دي چي د هغه پر ژبه راوړل په شرعي، اخلاقي او معاشرتي توګه ناروا وي، په خاصه توګه غیبت، ښکنځل، بد ویل، او ددغه حدیثو څخه دا هم معلومیږي چي په دغه شیانو کي په شرعي توګه خرابي ده او ددې کونکی د شریعت او اخلاقو په نظر کي څومره ناخوښه دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د ژبي او شرمګاه ساتونکي ته زیری

﴿۴۶۰۱﴾: عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ. رواه البخاري.

د سهل بن سعد رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي زما سره ددې خبري وعده وکړي چي هغه به دداړو زامو په منځ کي د شي (یعني ژبي) او دداړو پښنو په منځ کي د شي (یعني شرمګاه) ساتنه وکړي نو زه د هغه لپاره د جنت ضمانت ورکوم، بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۰۸، رقم: ۶۴۷۴،

تشريح: د ژبي د ساتني مطلب دادی چي هغه پر خپل ژبه باندي واک ولري په دې توګه چي هغه د بې ګټې خبرو او فحش ویني څخه وساتي او د غاښو د ساتني مطلب دادی چي هغه د حرامو شیانو د خوړلو او څښلو څخه منع کړي همدارنګه د شرمګاه د ساتني مطلب دادی چي د زنا په ډول خرابۍ څخه پرهیز وکړي.

د حدیث خلاصه داده چي کوم څوک زما سره ددې عهد وکړي او د عمل په ذریعه هغه عهد

پوره کړي چي هغه خپل ژبه د فحش ويني او بد کلامۍ څخه وساتي ، خپل خوله د حرام او ناجائز خوراک او څښناک څخه وساتي او خپل شرمګاه د حرام کارۍ څخه وساتي نو زه د هغه ضامن يم چي هغه به پېل کي د خلاصون تر لاسه کونکو خلکو سره په جنت کي داخل کړل سي او د هغه درجات عاليه مستحق به وګرځول سي .

څرګنده دي وي چي د رسول الله ﷺ ضمانت په اصل کي د الله تعالى له لوري ضمانت دى لکه څرنګه چي هغه محض په خپل فضل سره د بندګانو د رزق ضامن سوى دى همدا رنګه هغه د پاک ژوند اختيارونکو او پر اعمال صالحه باندي د جزا ورکولو او خپلو انعاماتو سره د نازولو هم قوي وعده کړې ده او رسول الله ﷺ د هغه نائب دى ځکه رسول الله ﷺ د هغه له لوري ذکر سوى ضمانت کړى دى .

خپل ژبه وساته

﴿۴۶۰۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللّٰهِ لَا يُلْقِي لَهَا بَالًا يَرْفَعُهُ اللّٰهُ بِهَا

د انسان کلام درجه پورته کوي يا په جنهم کي يې غورځوي، ځيني وخت بنده د ژبي څخه داسي خبره راوباسي چي په هغه سره الله تعالى خوشحاله سي مګر هغه بنده د دې حيثيت څخه خبر نه وي او الله تعالى د هغه خبري په بدله کي د هغه درجې پورته کوي

دَرَجَاتٍ وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللّٰهِ لَا يُلْقِي لَهَا بَالًا يَهْوِي بِهَا

او ځيني وخت بنده داسي خبره وکړي چي په هغه سره الله ناراضه سي او هغه د دې څه پروا نه لري نو هغه خبره به يې

فِي جَهَنَّمَ. رواه البخاري و في رواية تَهْوِيْ بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ.

په جنهم کي غورځوي. بخاري او په يوه روايت کي دي چي د هغه کلمې په سبب به په اور کي وغورځول سي کوم چي ډير ليري دئ د مشرق څخه تر مغرب پوري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۰۸، رقم: ۶۴۷۴، ومسلم ۱۴\۲۲۹۰، رقم: ۵۰- ۲۹۸۸.

تشریح: ددغه ارشاد مقصد ددې خبري خبرداری ورکول دي چي ژبه باید هر وخت په واک کي وي او دا معامله بې ارزښتنه ونه ګڼي، او دا حقیقت هم هیڅکله نظر انداز نه کړي که پر ژبه باندي د احتیاط واک سست کړل سي او دغه کوچنی شی ستا د واک څخه ووځي نو بیا ستا خیر نسته ، نو دا حقیقت څرګند کړل سو چي ډېر ځله بنده د خپل ژبي څخه داسي خبره باسي او هغه په خپل خیال کي ډېره معمولي ګڼي مګر په حقیقت کي د نتیجې په اعتبار د هغه خبره ارزښت وي دا داسي وګڼئ که هغه خبره حقه وي او د الله تعالی د رضا ذریعه جوړېږي نو هغه کوچنی خبره په جنت کي د هغه د درجو د لوړوالي سبب جوړېږي او که هغه خبره داسي وي چي د خرابېدو په وجه د الله تعالی د ناراضګی سبب جوړه سوې وي نو د بنده په نزد هغه معمولي خبره د هغه په دوږخ کي د لوېدو سبب جوړېږي .

مسلمان ته بد ویل فسق دی

﴿۴۶۰۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ. متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مسلمان ته بد ویل فسق دئ او مسلمان وژل کفر دئ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۱۱۰، رقم: ۴۸، ومسلم ۱\۸۱، رقم: ۱۱۶- ۶۴.

تشریح: د یو مسلمان وژني ته د کفر ویلو دا مطلب نه دی که چیري یو مسلمان بل مسلمان قتل کړي نو هغه کافر کیږي بلکه د ارشاد مطلب په ډېره سختي او شدت سره بیانول دي چي د مسلمان په ناحقه وژل ډېر لوی جرم دی او کوم مسلمان چي خپل مسلمان ورور وژني نو هغه د خپل اسلام د کامل کېدو نفي کوي ، یعني دلته د کفر څخه مراد د کمال اسلام نفي ده لکه څرنګه چي په یو حدیث کي فرمایل سوي دي : المسلم من سلم المسلمون ...الخ، یعني کامل مسلمان هغه دی چي د هغه څخه نور مسلمانان خوندي او مامون وي، او که چیري د کفر څخه حقیقي معنی مراد واخیستل سي نو په دغه صورت کي به ویل کیږي چي هغه مسلمان به یقینا کافر سي چي یو مسلمان ددې لپاره قتل کړي چي هغه مسلمان دی او د هغه د اسلام په سبب د هغه قتلول حلال او مباح وګڼي ځکه چي یو مسلمان محض د هغه د اسلام په وجه وژل او د هغه قتلول حلال او مباح ګڼل بېله شکه کفر دی .

مسلمان ته كافر مه وايه

﴿۴۶۰۴﴾: وَعَنِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا رَجُلٍ قَالَ لِأَخِيهِ كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوک چي خپل مسلمان ورور ته كافر ووايي نو په هغو دواړو كي يو كس د كفر ددې كلمې وړ ګرځيدلى دئ (يعني په دواړو كي يو كافر ګرځي هغه سړي چي هغه ته كافر ويل سوي دي كه چيري واقعي كافر وي نو ددې كلمې وړ هغه دئ او كه هغه داسي نه وي نو ددې كلمې ويونكى ته بيرته دا كلمه راګرځي يعني مسلمان ته چي څوک كافر ووايي نو ويونكي يې خپله ددغه لفظ وړ سي له دې كبله پر چا باندي د كفر فتوا لګولو كي ډير احتياط كول پكار دي داسي نه چي كوم تهمت پر بل لګوي هغه پر ده راسي) .بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۱۴، رقم: ۶۱۰۴، ومسلم ۱\۷۹، رقم: ۱۱۱– ۶۰.

تشريح: مطلب دادی چي يو مسلمان بل مسلمان ته كافر ووايي نو ددې دوه صورتونه دي يو خو دا كه چيري ويونكى ريښتيا ويلي وي نو څرګنده ده چي په دغه صورت كي د كلمه كفر مستحق به هغه سړى وي چا ته چي كافر ويل سوي دي او حقيقتا كافر دى ، دوهم دا كه چيري ويونكى دروغ ويلي وي يعني هغه چي كوم سړي ته كافر ويلي دي هغه په حقيقت كي مسلمان دى او هغه ته د كفر نسبت دروغ دى نو په دغه صورت كي به ويل كيږي چي ويونكى خپله كافر سو ، ددې مطلب د دې څخه پرته بل څه كيداى سي چي هغه ايمان كفر وګڼى او دين اسلام يې باطل وګڼى .

ددغه حديث په اړه امام نووي رحمه الله چي څه ليكلي دي د هغه خلاصه داده چي ذكر سوى حديث ځينو علماوو په مشكلاتو كي شمېرلى دى ځكه چي ددغه ارشاد كوم ظاهري مفهوم دى هغه حقيقي مراد كيداى نسي په دې وجه د اهل حق مذهب دادى چي هيڅ مسلمان كه څه هم لويه ګناه وكړي لكه قتل ، زنا او داسي نور او كه څه هم خپل مسلمان ورور ته كافر ووايي په شرط ددې چي هغه د اسلام د دين د باطل كېدو عقيده نه لري نو هغه ته د كفر نسبت نسي كيداى، حال دا چي د مذكوره حديث ظاهري مفهوم دا ثابتوي كه چيري يو مسلمان بل مسلمان ته كافر ووايي او په حقيقت كي هغه كافر نه وي نو ويونكى خپله كافر كيږي، په دې وجه د

ارشاد مختلف تاویلونه کیږي يو خو دا چي ددغه حديث محمول هغه سړی دی چي هغه نه یوازي دا چي يو مسلمان ته کافر ووايي بلکه يو مسلمان ته د كفر نسبت كول حلال او جائز وګڼي، په دغه صورت کي به د (باء بها) معنی دا وي چي کفر خپله هغه سړي ته د تکفير معصيت واپس کوي، يعني كوم څوک چي يو مسلمان ته کافر ووايي نو د هغه دا ويل هغه مسلمان ته څه تاوان نه رسوي مګر مسلمان ته د کافر ويلو په ګناه کي خپله اخته کيږي، او دوهم دا چي ددغه ارشاد محمول خوارج دي چي مؤمنانو ته کافر وايي مګر دغه دوهم تاويل ډېر ضعيف دی ځکه چي ددغه تاويل مطلب به دا وي چي خوارج کافران وګرځول سي حال دا چي د اکثرو علماوو په نزد صحيح او د قبول وړ قول دا دی چي د خوارجو سره تعلق لرونکي خلک بېله شکه ګمراه دي لکه څرنګه چي بدعتيان دي مګر هغوی ته کافر ويل نه دي پکار ، که څه هم ملا علي قاري رحمة الله عليه وضاحت کړی دی چي دغه تاويل ته به د هغوی په اړه ضعيف نسي ويل کېدای چي نه یوازي د اهل سنت والجماعت بلکه د اکثرو صحابه کرامو په اړه هم نعوذ باالله د کفر عقيده لري.

﴿۴۶۰۵﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرْمِي رَجُلٌ رَجُلًا بِالْفُسُوقِ وَلَا يَرْمِيهِ بِالْكُفْرِ إِلَّا ارْتَدَّتْ عَلَيْهِ إِنْ لَمْ يَكُنْ صَاحِبُهُ كَذٰلِكَ. رواه البخاري.

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک دي پر چا د فسق تهمت نه لګوي او نه د كفر ، كه هغه سړی داسي نه وي نو دا کلمه ويونکی ته راګرځي ، يعني هغه د کفر مستحق ګرځي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۴۶۴، رقم: ۶۰۴۵.

تشريح: مطلب دا دی چي يو مسلمان ته مه فاسق وایاست او مه هغه ته د کفر نسبت کوئ، ځکه که چيري يو سړی داسي سړي ته فاسق ووايي چي په حقيقت کي فاسق نه وي نو هغه ويونکی خپله فاسق کيږي همدا رنګه که يو سړی داسي سړي ته کافر ووايي چي هغه په حقيقت کي کافر نه وي بلکه مؤمن وي نو هغه ويونکی خپله کافر کيږي لکه څرنګه چي د تېر حديث په تشريح کي بيان سوی دی.

چا ته د خدای دښمن مه وایاست

﴿۴۶۰۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ دَعَا رَجُلًا بِالْكُفْرِ أَوْ قَالَ عَدُوَّ اللّٰهِ وَلَيْسَ كَذٰلِكَ إِلَّا حَارَ عَلَيْهِ. متفق عليه.

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي چا ته کافر یا د الله جل جلاله دښمن ووایي او هغه داسي نه وي نو دا پر کلمه ویونکي باندي راګرځي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۶۴، رقم: ۶۰۴۴، ومسلم ۱\۷۹، رقم: ۱۱۲- ۶۱.

د لغاتو حل: حار: ای رجع علیه ما نسب الیه. (بېرته ده ته راګرځي)

ظالم او مظلوم

﴿۴۶۰۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ وَّ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْتَبَّانِ مَا قَالَا فَعَلَى الْبَادِئِ مَا لَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُومُ. رواه مسلم.

د حضرت انس او ابو هریرة (رضي الله عنهما) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که دوه کسان یو بل ته بد وایي ددې بد ویلو ګناه به پر هغه چا وي چي په بد ویلو یې شروع کړې وي) نو هغه ظالم دئ او دویم سړی مظلوم دئ تر څو پوري چي مظلوم د حد څخه تجاوز ونه کړي یعني د ظالم څخه زیات بد ونه وایي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۴\۲۰۰۰، رقم: ۶۸- ۲۵۸۷.

تشریح: مطلب دادی که چیري دوه کسان په خپلو کي ښکنځل کول پیل کړي او یو بل ته بد وایي نو ددغه ټولو ښکنځلو او بد رد ویلو ګناه به پر هغه چا وي چي په ښکنځلو پیل کړی دی یعني پر هغه د خپلو ښکنځلو ګناه هم وي او د بل سړي د ښکنځلو ګناه به هم د هغه په عمل نامه کي لیکل کیږي ځکه چي هغه د ښکنځلو په پېل کولو سره پر دوهم سړي باندي ظلم کړی دی او په دې اعتبار هغه ته ظالم ویل کیږي او دوهم سړي ته مظلوم ویل کیږي مګر دا په هغه صورت کي دی کله چي هغه دوهم سړی یعني مظلوم په جواب کي زیاتوب ونه کړي که مظلوم د حد څخه تجاوز وکړي په دې توګه ي د هغه ښکنځل د پېل کونکي تر ښکنځلو هم زیات تکلیف ورکړي نو په دغه صورت کي به د پیل کونکي په نسبت پر هغه زیاته ګناه وي، ځینو حضراتو

ليکلي دي چي دوهم سړی به هم د دغه زياتوب په وجه ګناه کار وي.

لعنت مه وایاست

﴿۴۶۰۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَنْبَغِي لِصِدِّيقٍ أَنْ يَكُونَ لَعَّانًا. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :د صديق (يعني مؤمن) لپاره دا مناسب نه ده چي هغه لعنت ويونکی وي.، مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴\۵۰۰۵، رقم: ۸۴-۲۵۹۸.

تشريح:صديق د مبالغې صيغه ده چي معنی يې د زيات رښتوني ده، ځينو حضراتو ويلي دي چي صديق هغه سړي ته وايي چي د هغه د قول او فعل په مينځ کي تضاد نه وي بلکه مطابقت وي، د صوفيانو په نزد صديقيت يو مقام دی چي د هغه درجه د نبوت د مقام څخه وروسته تر ټولو لوړه ده لکه څرنګه چي د قرآن کريم د دغه آيت څخه څرګنديږي :

(فَأُوْلَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاء وَالصَّالِحِينَ).

د حديث مطلب دادی چي کوم څوک د صدق او ريښتنوالي په صفت سره مزين وي او داسي لوړ مقام ته رسيدلی وي چي د نبوت د مقام څخه وروسته تر ټولو اعلی دی او په دې اعتبار د هغه دغه مرتبې د نبوت د مرتبې سره تر ټولو نژدې نسبت حاصل وي نو د هغه شان بايد داسي نه وي چي هغه پر نورو لعنت کوي او نه دا د مقام صديقيت مقتضي کيدای سي ځکه چي پر چا باندي د لعنت کولو مطلب دادی چي هغه د رحمت الهي څخه محروم او ليري وګرځول سي حال دا چي د ټولو انبياوو مقصد دا وو چي هغوی د الله تعالی مخلوق د رحمت الهي څخه ونه باسي او څوک چي د الله تعالی د دربار څخه ليري سوي دي هغوی نژدې راولي ، په دې وجه د اهل سنت والجماعت طريقه داده چي لعنت کول پرهېښودل سي او پر هيچا لعنت ونه کړل سي که څه هم هغه د لعنت مستحق وي ځکه چي کوم څوک د خپل قول او فعل په ذريعه خپله د الله تعالی په نزد ملعون ګرځول سوی دی پر هغه د لعنت کولو ضرورت نه پاته کيږي نو پر داسي سړي لعنت کول خپله ژبه چټلول دي او د هغه په لعنت کي خپل وخت ضائع کول دي او دا چي پر هغه لعنت کولو سره د خپل او خپل ډلي حقه طريقه او معمول پر خلاف عمل کول دي مګر پر هغه کافر باندي په لعنت کولو کي پروا نسته چي د هغه په اړه د مخبر صادق خبر يا خپل علم او يقين

دا وي چي هغه د کفر په حالت کي مړ سوی دی.

څرګنده دي وي چي د لعنت دوه ډولونه دي، یو دادی چي یو سړی د خیر څخه بالکل محروم او د الله تعالی د رحمت څخه بالکلیه لیري وګرځول سي او هغه د الله تعالی د فضل څخه مطلق ناامیده کړل سي داسي لعنت کول یوازي دکافرانو لپاره خاص دی، دوهم ډول لعنت دادی چي یو داسي سړی د رضاء حق او قرب الهي څخه لیري او محروم کړل سي کوم چي د ترک اولی مرتکب وي، د ځینو اعمالو او اورادو په پرېښودو کي چي کوم لعنت منقول دی او د ځینو صحابه کرامو او نورو څخه هم نقل سوی دی د هغه تعلق د دغه دوهم ډول سره دی.

د لعان لفظ د مبالغې صیغه ده چي معنی یې د ډېر زیات لعنت کونکي ده، په حدیث کي دغه لفظ د مبالغې په توګه ځکه استعمال سوی دی چي په عامه توګه دا ممکن نه ده چي د لوړي درجې مؤمن هم د ډېر لعنت کولو څخه پرهیز کوي، ابن ملک رحمه الله لیکلي دي: په دغه ارشاد کي دغه لفظ د مبالغې په صیغه ذکر کول دې ته اشاره کوي چي د لعنت کولو کومه بدي د دغه حدیث څخه څرګندیږي دا د هغه چا په اړه نه ده چي د هغه څخه کله نا کله یعني یو واریا دوه واره وسي.

﴿۴۶۰۹﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّعَّانِينَ لَا يَكُونُونَ شُهَدَاءَ وَلَا شُفَعَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه مسلم.

د حضرت ابودرداء رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چي لعنت ویونکي خلک به د قیامت په ورځ نه شهادت کونکي او نه شفاعت کونکي وي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۲۰۰۶\۴، رقم: ۸۶- ۲۵۹۸.

تشريح: د قیامت په ورځ به د امت محمدي خلک پر مخکنیو امتو باندي د شاهدانو په حیثیت سره وړاندي سي، هغوی به دا شاهدي ادا کوي چي د هغوي رسولانو او پیغمبرانو د الله تعالی احکام هغوی ته رسولي وه او هغوی یې الله تعالی ته رابللي وه مګر هغوی د خپلو رسولانو خبره ونه منل، په دې اړه الله تعالی فرمایي:

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ

ژباړه: او همدارنګه موږ تاسو غوره امت وګرځولاست ددې لپاره چي تاسو پر نورو خلکو شاهدان یاست.

ددغه شاهدي په اړه رسول الله ﷺ فرمايي: د قيامت په ورځ به داسي كس شاهد ونه ګرځول سي كوم چي پر نورو زيات لعنت كوي او لعنت كول د هغوى عادت ګرځېدلى وي ، همدارنګه ډېر زيات لعنت كونكي خلک به د قيامت په ورځ د شفاعت څخه هم محروم كړل سي يعني كه هغوى غواړي چي د نورو خلكو شفاعت وكړي نو دوى به يې نسي كولاى.

هلاكت مه وايا ست

﴿۲۶۱۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ الرَّجُلُ هَلَكَ النَّاسُ فَهُوَ أَهْلَكُهُمْ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي څوک دا وايي چي خلک هلاک سول نو هغه ويونكي به تر ټولو زيات هلاكيدونكى وي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۴\ ۲۰۲۴، رقم: ۱۳۹- ۲۶۲۳.

تشريح: كه يو څوک خلک په داسي عقائدو او اعمالو كي اخته ويني كوم چي د دين او شريعت خلاف وي نو د هغوى پر دغه حالت افسوس كول او د غم خوارۍ جذبه پيدا كېدل يو فطري امر هم دى او د اخوت اسلامي تقاضا هم ده ، كه يو څوک ددغه حسرت او افسوس د جذباتو سره سم د هغه خلكو په اړه دا ووايي چي هغه خلک خو هلاک سول يعني هغه خلكو داسي عقائد او اعمال اختيار كړي دي چي هغوى به د دوږخ اور ته واچوي نو په دې كي څه پروا نسته، ځكه چي د هغه سړي دغه ويل په اصل كي د هغه خلكو سره د همدردۍ او غم خوارۍ څرګندونه ده او ددې مطلب دا ګڼل كيږي چي هغه سړي ددغه خلكو په خرابو اعمالو خوابدى دى او د هغه د زړه جذبه داده چي ارمان هغه خلک په دغه حالت كي په اخته كېدو سره د اخرت د هلاكت او تباهۍ لار اختيار نه كړي او كله چي هغوى په دغه لاره كي اخته سوي دي نو افسوس چي اوس هم د هغوى هدايت په برخه سي او هغوى ددغه هلاكت او تباهۍ څخه په ساتني پر سيده لار روان سي.

مګر كه چيري يو سړى ددغه جذباتو او غم خوارۍ برعكس محض د عيب ويني ، سپكاوي او هغه خلكو د رحمت الهي څخه د مايوس كولو لپاره داسي الفاظ د ژبي څخه باسي نو دا به ډېر بد وي او همدارنګه ويونكى به خپله د ټولو څخه زيات په هلاكت او تباهۍ كي وي ځكه چي د هغه ددغه الفاظو څخه دا ګڼل كيږي چي هغه د خپل نفس په خرابۍ او د خپلو اعمالو

په تباهۍ کي اخته سوی دی ، نور خلکو ته د سپکاوی په نظر ګوري او هغوی د الله تعالی د رحمت څخه نا امیده کوي، دا مطلب به په هغه صورت کي وي کله چي لفظ د اهلکم د کاف په پېښ سره یعني د تفضیل په صیغه وي او که چیري د غه لفظ د کاف په زېر سره یعني د ماضي په صیغه وي لکه څرنګه چي په ځینو روایتو کي نقل سوی دی نو په دغه صورت کي به معنی دا وي چي داسي ویونکی هغوی هلاکوي ، او مطلب به دا وي چي کله یو سړی د خپل مشاهدې سره سم په بدعملو کي د اخته خلکو لپاره د خپل ژبي څخه دغه لفظ وباسي چي هغه خلک خو هلاک او برباد سول نو ددې نتیجه به دا وي چي هغه د رحمت الهي څخه په مایوس کېدو سره ترک طاعت او عبادت او په ګناه کي نور زیات مصروف کیږي ځکه چي داسي الفاظ هغه ګناه کار کوي چي دخپلو عملو په وجه په دنیا کي د الله تعالی په قهر او جلال کي اخته سوی وي ځکه د شریعت تعلیم دادی چي کومو خلکو د بد عملۍ لار اختیار کړې ده او د معصیت تیارو راچاپېره کړي دي نو هغوی ته په ډېره نرمۍ او شفقت سره نصیحت کول پکار دي او د هغوی سره سختي او تشدد کول د هغوی په حق کي بد وینه او د مایوسي الفاظ د خپل ژبي څخه ایستل د هغوی په حق کې د سختي خرابۍ سبب کیږي او د هغوی په ضد کي د اخته کېدو په وجه پر سیده لار باندي د تلو پر ځای نور زیات په ګمراهي کي اخته کیږي ، نو کوم څوک چي د هغوی په اړه سخت الفاظ استعمالوي او هغوی ته د هلاکت او بربادۍ خبري کوي نو هغه ګویا د هغوی په هلاکت او بربادۍ کي د لوېدو سبب ګرځي ، په دې اعتبار سره ویل کیږي چي د رسول الله ﷺ مذکور ارشاد دې ته اشاره کوي چي ګناه کارو خلکو ته هم د بخښني زیری ورکوئ ، د هغوی زړه او ذهن پر دین او ایمان باندي پخېدل پکار دي او هغوی د الله تعالی د رحمت امیدوار جوړول پکار دي .

دوه مخي

﴿۴۶۱۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجِدُونَ شَرَّ النَّاسِ يوم القيامة ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَيَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ. متفق عليه

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به تاسو بدترین هغه وینئ چي دوه مخي منافق وي چي هغه ته ورسي نو د هغه د طبیعت خبري کوي او چي ده ته ورسي نو دده د طبیعت خبري کوي یعني حقه خبره نه کوي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۴۷۴، رقم: ۶۰۵۸، ومسلم ۴\ ۲۰۱۱، رقم: ۱۰۰- ۲۵۲۶.

تشريح: په دغه ارشاد كي د هغه كسانو لپاره سخت وعيد او خبرداري دی چي د منافقانو په ډول دوه مخي وي چي د هري ډلي د خوشحاله ساتلو لپاره هيځكله صحيح او حق خبره نه كوي بلكه په مخ كي يو څه وايي او تر شا بل څه وايي يعني كومي ډلي ته چي ورځي نو د هغوی د خوشحاله كولو لپاره خپله ژبه خلاصوي، كله چي زيد ته ورسي نو د هغه د طبيعت خبري كوي او كله چي بكر ته ورسي نو د هغه د خوښي خبري كوي يعني د هغه سره هو هو كوي.

چغل خور جنت ته نه ځي

﴿۴۶۱۲﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ. متفق عليه و في رواية مسلم نَمَّامٌ.

د حضرت حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي چغل خور به جنت ته نه ځي. بخاري او مسلم او د مسلم په يوه روايت كي د قتات پر ځای د نمام لفظ راغلی دئ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۴۷۲، رقم: ۶۰۵۶، ومسلم ۱\ ۱۰۱، رقم: ۱۶۹- ۱۰۵.

د لغاتو حل: قتات: ای نمام (چغلخور).

تشريح: د قتات او نمام يوه معنی ده يعني چغل خور، چغل خور هغه سړي ته وايي چي لګول او مړكول كوي او د يوه ځای خبره بل ځای او د بل ځای خبره بل ځای كولو سره د خلكو په مينځ كي د فتني او فساد تخم كري.

هميشه رښتيا وايه دروغ مه وايه

﴿۴۶۱۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا

رښتيا ويل اختيار كړئ ځكه چي رښتيا ويل د نيكی لار ښيي او نيكي سړی جنت ته بيايي او

يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللّٰهِ صِدِّيقًا وَإِيَّاكُمْ

ځوک چي همیشه ربنتیا وایي او د ربنتیا ویلو کوښښ کوي هغه د الله تعالی سره صدیق (ربښتونی) لیکل کیږي او تاسو ځان وساتئ

وَالْكَذِبَ فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ وَمَا

د دروغو ځخه ځکه چي دروغ (سړی) د فسق او فجور په لوري بیایي او فسق او فجور د دوږخ په لور لاربښوونه کوي او ځوک چي

يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّابًا. متفق

همیشه دروغ وایي او د دروغو ویلو کوښښ کوي هغه د الله تعالی په نزد کذاب (ډیر دروغجن) ولیکل سي. بخاري او مسلم

عليه و في رواية المسلم قال إِنَّ الصِّدْقَ بِرٌّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الْكَذِبَ فُجُورٌ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ.

او د مسلم په روایت کي دا الفاظ دي چي ربنتیا ویل نیکي ده او نیکي سړی جنت ته بیایي او دروغ ویل فسق او فجور دي او فسق او فجور (سړی) دوږخ ته بیایي

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۰۷، رقم: ۶۰۹۴، ومسلم ۴\۲۰۱۳، رقم: ۱۰۵-۲۶۰۷.

تشریح: هغه د الله تعالی په نزد صدیق لیکل کیږي: ددې مطلب دادی چي هغه د صدیقیت د وصف حامل او پر مقام صدیقیت باندي فائز ګرځول کیږي او ددغه لوړي درجې د وصف او مقام مستحق ګرځول کیږي. یا دا مطلب دی چي په ملاء اعلی سره په کوم کتاب کي چي د ټولو بندګانو اعمال لیکل کیږي په هغه کي د ذکر سوي سړي نوم صدیق لیکل کیږي، یا دا چي په دنیا کي خلک داسي سړی په خپلو کتابو او قلمو کي د صدیق په نامه سره لیکي او یادوي، په دغه صورت کي د ارشاد مطلب دا ځرګندول دي چي داسي سړی د الله تعالی له خوا په خلکو کي ډېر معزز او مکرم ظاهریږي، د خلکو په زړو کي د هغه سړي لقب په صدیق سره القاء کیږي او دهغوی پر ژبو د هغه دغه لفظ او وصف جاري کیږي، چي د هغه نتیجه دا وي چي خلک هغه رښتونی او صدیق ګڼي او د هغه د ریښتیا او صداقت تعریفونه کوي، ددغه مفهوم بنیاد دغه ارشاد هم دی: (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَنُ وُدًّا)

يعني كومو كسانو چي ايمان قبول كړ او نېک اعمال يې وكړل نو الله تعالى به د هغوى مينه د خلكو په زړو كي واچوي.

همدارنګه د الله تعالى په نزد كذاب (دروغجن) ليكل كيږي، ددې مطلب دادى چي د دروغ ويونكي سړي په اړه دا فيصله كيږي چي دغه سړى دروغجن دى او دده لپاره سزا تاكل كيږي كوم چي د دروغجنانو لپاره خاص ده، يا دا چي د داسي سړي لپاره د خلكو په زړو كي دا خبره څرګنديږي چي داسي سړى ډېر بې باوره دى، همدارنګه هغه دروغجن مشهور كيږي چي د هغه نيتجه دا كيږي چي داسي سړى د خلكو په نظر كي لوېږي او د هغه سړى بغض او نفرت كول پيل كړي.

د صلح لپاره دروغ

﴿۴۶۱۴﴾: وَعَنْ أُمِّ كُلْثُوْمٍ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ وَيَقُوْلُ خَيْرًا وَّيَنْمِي خَيْرًا. متفق عليه.

د ام كلثوم (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه سړى دروغجن نه دئ چي د خلكو په منځ كي صلح كوي، نيكي خبري كوي او ښه خبري خلكو ته رسوي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۲۹۹، رقم: ۲۶۹۲، ومسلم ۴\۲۰۱۱، رقم: ۱۰۱– ۲۶۰۵.

تشريح: مطلب دادى چي د مسلمانانو په خپلو كي جګړې او فساد ختمولو لپاره كه يو سړى داسي خبره وكړي چي د حقيقت په اعتبار صحيح نه وي بلكه دروغ وي نو هغه سړي ته به دروغجن نه ويل كيږي او پر هغه به د دروغو ګناه نه وي مګر دا ضروري ده چي هغه خبره داسي وي چي پر ښېګڼي باندي شامله وي نه دا چي د يو خرابۍ خبره لكه شرک، فسق وغيره حامله وي، د مثال په توګه دوه مسلمانان زيد او بكر په خپلو كي دښمني لري يا د هغوى دواړو په مينځ كي فتنه او فساد وي نو په دغه صورت كي كه چيري يو دريم مسلمان دا وغواړي چي د دواړو په مينځ كي دښمني ختمه سي او د هغوى په مينځ كي صلح راسي او ددغه مقصد لپاره هغه دواړو ته ورسي او داسي ورته ووايي چي هغه دوهم تا ته سلام ويلى دى او هغه ستا تعريف كوى او ستا په اړه يې ويل چي زه هغه خپل دوست ګڼم او په حقيقت كي نه هغه سلام ويلى وي او نه يې د هغه تعريف كړى وي.

مبالغه مه كوئ

﴿۴۶۱۵﴾: وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْاَسْوَدِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْمَدَّاحِينَ فَاحْثُوا فِي وُجُوهِهِمُ التُّرَابَ. رواه مسلم.

د حضرت مقداد بن اسود ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي تاسو هغه خلک ووينئ چي په مبالغې سره تعريفونه كوي (يعني د درواغو تعريفونه كوي) نو د هغوی پر مخونو خاوري واچوئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۲۲۹۷\۱۴، رقم: ۶۹- ۳۰۰۲.

تشريح: مطلب دادی كه چيري يو سړی ستا په مخكي ستا تعريف وكړي او هغه تعريف كه په ژبه وي يا د قصيدې او نثر په صورت كي وي او د هغه تعريف كولو څخه مقصد ستا څخه مالي ګټه تر لاسه كول يا د خپل يو مطلب پوره كول وي نو ته د هغه په خوله كي خاوري واچوه يعني هغه محروم كړه ، مه هغه ته څه وركوه او مه د هغه مطلب پوره كوه.

په خوله كي د خاورو اچولو څخه دا مراد دی چي هغه ته يو معمولي شی وركړه چي هغه ډېر سپک او معمولي شی وی او د هغه په خوله كي د خاورو اچولو مشابه وي او دا معمولي وركول هم د هغه حكمت سره سم وي چي داسي نه د څه نه وركولو په صورت كي هغه بد ويل پيل كړي.

ځينو علماوو دغه ارشاد پر خپل ظاهري مفهوم باندي محمول كړی دی ، ددغه حديث راوي حضرت مقداد ﷜ په اړه نقل سوي دي چي يو سړی د امير المؤمنين حضرت عثمان ﷜ په مخكي د هغه تعريف كول پيل كړل نو هغه يو موټ خاوري راواخيستلې او د هغه پر مخ يې وپاشلې، علماوو ليكلي دي چي د تعريف كونكو سره داسي چلن كول په اصل كي د هغه تعريف كونكي په سختئ سره خبردار كول دي ځكه چي د چا په مخكي د هغه تعريف كونكی خپل ممدوح په غرور او تكبر كي اخته كوي.

خطابي رحمه الله عليه ليكلي دي چي مداحين يعني تعريف كونكو څخه مراد هغه خلک دي چي هغوی بې ځايه تعريف او مدح كول خپل عادت وګرځوي ، داسي خلک په تعريف او مدح كولو كي نه د حق او باطل تميز كوي او نه د مستحق او غير مستحق خيال ساتي ، او هغوی دغه كار د ګټي تر لاسه كولو او معاش ذريعه جوړوي ، د كوم چا څخه چي هغه څه تر لاسه كول غواړي يا د كوم سړي څخه چي د مطلب پوره كولو اميد وي نو هغه ته مخامخ په ډېري مبالغې سره د هغه

تعريف او مدح كوي نو كوم څوک چي د دنياوي غرض څخه پرته د يو قابل تعريف سړي واقعي مدح او تعريف وكړي يا د يو سړي پر ښه كار باندي د هغه تعريف وكړي چي په هغه سره نور د ښكو كارو شوق پيدا سي او نورو خلكو ته هم د هغه په اتباع كي د نيكو اعمالو او د خير د كارونو رغبت پيدا سي نو پر داسي سړي باندي د ذكر سوي حديث اطلاق نه كيږي يعني هغه ته به بد تعريف كونكى نه ويل كيږي.

﴿۴۶۱۶﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ أَثْنَى رَجُلٌ عَلَى رَجُلٍ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوبكره ﷛ څخه روايت دئ چي يو سړي د رسول الله ﷺ مخته (په مبالغې) سره د يو بل سړي تعريف وكړ،

وَسَلَّمَ فَقَالَ وَيْلَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ أَخِيكَ ثَلَاثًا مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَادِحًا لَا مَحَالَةَ

رسول الله ﷺ هغه مبالغه كونكي ته وفرمايل پر تا دي افسوس وي تا دخپل ورور غاړه ووهل دا الفاظ ورته رسول الله ﷺ درې واره وويل،. او ددې وروسته يې وويل: كه ته د چا تعريف كول ضروري گڼئ

فَلْيَقُلْ أَحْسِبُ فُلَانًا وَاللَّهُ حَسِيبُهُ إِنْ كَانَ يُرٰى أَنَّهُ كَذَالِكَ وَلَا يُزَكِّي عَلَى اللَّهِ أَحَدًا. متفق عليه.

نو داسي وايه چي د فلاني سړي په اړه زما دا خيال دئ يا فلانى سړى زه داسي گڼم، او الله ﷻ د حقيقت حال څخه ښه خبر دئ هغه حساب كونكى او خبر وركونكى دئ او دا دي هم په داسي صورت كي وايي چي د هغه سړي په اړه داسي خيال ولري او پر الله تعالى دي د يو سړي په نسبت يقين سره دا حكم نه لگوي چي هغه يقينا داسي دئ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۵۲، رقم: ۶۱۶۲ و مسلم ۴\۲۲۹۶، رقم: ۶۵- ۳۰۰۰.

تشريح: د چا غاړه پرېكول: دغه الفاظ كه څه هم د ذبح كولو او د هغه د بدني هلاكت په معنى دي مگر دلته د غاړي پرېكولو څخه مراد روحاني هلاكت دى، مطلب دا دي چي كوم څوک د يو چا تعريف كوي نو هغه د خپل تعريف په اورېدو سره په غرور او تكبر كي اخته كيږي لكه څرنگه چي د چا غاړه پرېكول د هغه په دنيوي توگه د هلاكولو برابر دي همدارنگه د يو چا په مخكي د هغه تعريف كول د هغه د ديني او اخروي هلاكت سبب دى، او دغه تعريف ډېر واره په دنيوي

توګه هم د هلاکت سبب جوړیږي لکه څرنګه چې یو سړی د خپل تعریف په اورېدو سره دومره مغرور سي چې د یو چا ناحقه وینه توی کړي او بیا د عدالت له خوا د مرګ د سزا په ورکېدو سره د خپل ځان څخه لاس پرېولي.

که چیري په تاسو کي یو څوک د یو چا تعریف کول ضروري وګڼي: د دې مطلب دا دی که چیري تاسو په یو سړي کي داسي صفت ووینئ چې د هغه په وجه هغه د تعریف وړ وي د مثال په توګه هغه ډېر نېک او صالح وي، یا یو سړی د ښو اخلاقو څښتن وي او تاسو د هغه تعریف کول وغواړئ نو په دغه صورت کي هم دا ضروري ده چې تاسو د خپل د ګمان تر حده د هغه تعریف وکړئ، د هغه په اړه په یقین سره فیصله مه کوئ بلکه داسي وایاست چې زه د فلاني سړي په اړه داسي ګمان کوم، د دغه جملې وجه دا ده چې د یو سړي حقیقي حال د الله تعالی څخه پرته هیچا ته معلوم نه دی، کوم څوک چې په ظاهره نیک او ښه ګڼل کیږي کیدای سي چې د هغه باطني حال د هغه درجي وي چې هغه د الله تعالی په نزد هم ښه وي نو کوم څوک چې د تعریف وړ وي د هغه په تعریف کي احتیاط کول پکار دي او د هغه په اړه بالکل آخري فیصله کول نه دي پکار چې دغه سړی یقینا ښه او نېک دی او د الله تعالی په نزد غوره دی مګر د هغو خلکو معامله بېله ده چې هغوی په حدیثو کي په صراحت سره د تعریف وړ ګرځول سوي دي او د هغوی په اړه ثابته سوې ده چې هغوی د الله تعالی په نزد یقینا غوره دي لکه عشره مبشره او داسي نور، د دغه کسانو څخه پرته د بل چا په اړه دي د یقین اظهار نه کیږي چې فلانی سړی د الله تعالی په نزد ښه دی.

د تعریف ډولونه: علماؤ د یو چا د تعریف کولو درې ډولونه بیان کړي دي: یو دا چې د چا په مخکي د هغه تعریف وکړل سي دا هغه ډول دی چې د هغه منع نقل سوې ده، دوهم دا چې د یو چا غائبانه تعریف وکړل سي مګر خواهش دا وي چې هغه په دغه تعریف خبر نسي دا ډول تعریف هم داسي دی چې منع ځیني سوې ده او دریم دا چې د یو چا غائبانه تعریف وکړل سي او د دې پروا نه وي چې هغه ته دغه تعریف ورسیږي یا ونه رسیږي او تعریف هم داسي وکړل سي چې هغه یې په حقیقت کي مستحق وي دا هغه ډول دی چې د دې اجازه ورکړل سوې ده او د یو چا په داسي تعریف کي څه پروا نسته.

د غیبت معنی او تفصیل

﴿۴۶۱۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَدْرُونَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د صحابه كرامو څخه پوښتنه وكړه چي ايا تاسو ته معلومه ده چي

مَا الْغِيبَةُ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ قِيلَ أَفَرَأَيْتَ

غيبت څه شي دئ ؟ هغوى وويل: الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي ، رسول الله ﷺ وفرمايل د خپل مسلمان ورور داسي خبرو سره يادونه كول چي هغه ته بدي ښكاري ،

إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ قَالَ إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ

پوښتنه وسول كه زما په ورور كي هغه خرابي وي د كومي چي زه يادونه كوم بيا هم دې ته غيبت ويل كيږي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل كه په هغه كي دغه خرابي موجود وي نو تا د هغه غيبت وكړ او كه هغه خرابي پكښي موجود نه وي

فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ. رواه مسلم ، وفي رواية إِذَا قُلْتَ لِأَخِيكَ مَا فِيهِ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وَإِذَا قُلْتَ مَا لَيْسَ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ.

نو تا پر هغه بهتان (تهمت) ولګوئ ، او په يوه روايت كي داسي الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل كه تا د خپل ورور هغه بدي بيان كړه چي په هغه كي وي نو تا د هغه غيبت وكړ او كه تا د هغه په اړه داسي خبره وكړه كومه چي په هغه كي نه وي نو تا پر هغه بهتان ولګوئ . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۲۰۰۱/۴، رقم: ۷۰- ۲۵۸۹.

تشريح: غيبت يعني د يو چا عيب بيانول نه يوازي دا چي ګناه ده بلكه په ټولنيز توګه هم ډېر خراب كار دى ، مګر د حيرانتيا خبره داده چي د نورو ګناهو په نسبت دغه ګناه په خلكو كي زياته خپره سوې ده ، داسي خلک به ډېر كم وي چي د دغه خرابۍ څخه خوندي وي ،كنه نو په عامه توګه هر سړى په يو صورت كي غيبت كونكى دى نو ضروري ده چي په دې اړه تفصيل بيان كړل سي .

لكه څرنګه چي مخكي بيان سوى دى چي غيبت دې ته وايي چي يو سړى د يو چا په اړه چي هغه موجود نه وي داسي ذكر وكړي چي په هغه سره د هغه يو عيب څرګند سي او هغه عيب ذكر كول هغه ناخوښه كړي او د هغه عيب تعلق كه د هغه د بدن سره وي يا د عقل سره وي او كه د دين سره وي يا د دنيا سره وي ، كه د اخلاقو او افعالو سره وي او كه د نفس سره، كه د مال سره وي

او كه د اولاد وغيره سره وي، كه د هغه د مور او پلار سره وي يا د ښځي او خادم سره وي، كه د هغه د جامې سره وي يا د هغه د چلن سره وي، كه د هغه د ذاتي هيئت سره وي او كه د هغه د حركاتو او سكناتو سره وي، كه د هغه د پراختيا سره وي او كه د هغه د ترش رويې سره وي او كه ددغه شيانو څخه پرته د بل شي سره وي ، او ددغه عيب ذكر كول كه په الفاظو سره وي او كه په كنايه او اشاره سره وي ، اشاره او كنايه كه د الفاظو په ذريعه وي يا د لاسو، سترګو، سر وغيره په ذريعه وي، په دې اړه دا كليه هم بايد په ذهن كي وي كه چيري د يو سړي يو عيب د هغه په عدم موجودتيا كي بيان كړل سي چي د نورو په نظر كي د خپل مسلمانان ورور حيثيت كموي نو دا سخت غيبت دی او حرام دی او كه د چا په مخ كي د هغه يو داسي عيب بيان كړل سي چي هغه ته ناخوښه وي نو دا يو ډول بې حيايي او تكليف رسول دي چي دا نوره هم سخته ګناه ده ، د غيبت كفاره داده چي د كوم چا غيبت سوی وي غيبت كونكی د هغه څخه معافي وغواړي په شرط ددې چي د هغه غيبت خبر هغه ته رسيدلی وي او كه د هغه د معافی غوښتني په وخت كي تفصيل بيانول ضروري نه وي بلكه په اجمالي توګه دومره ويل كافي دي چي ما ستا غيبت كړی دی ما معاف كړه او كه هغه ته غيبت رسيدلی وي په دې توګه چي هغه مړ سوی وي يا يو ليري ځای تللی وي نو په دغه صورت كي استغفار كافي دي يعني هغه دي پر خپل دغه ګناه باندي د الله تعالی څخه بخښنه وغواړي ، په حديثو كي دا هم نقل سوي دي چي د كوم چا غيبت سوی وي د هغه په اړه استغفار كول د غيبت په كفاره كي داخل دی .

غيبت په كوم صورت كي جائز دی : علماؤ ليكلي دي چي د يو چا غيبت كول په ځينو صورتو كي جائز دي د مثال په توګه يو شرعي صورت لاحق وي لكه د ظالم ظلم بيانول ، د حديث د راويانو حال ښكاره كول، د نكاح د مشورې په وخت كي د يو چا نسب بيانول يا يو مسلمان د يو چا سره د امانت او شراكت يوه معامله كول غواړي نو هغه مسلمان د تاوان څخه ژغورني لپاره د هغه سړي رويه بيانول او داسي نور، همدارنګه يو سړی په ظاهري توګه ديندار وي يعني لمونځ هم كوي، روژه هم نيسي او نور فرضونه هم ادا كوي مګر په هغه كي دا عيب وي چي خلكو ته په خپل ژبه او لاس سره تاوان رسوي نو د خلكو په مخكي د هغه دغه عيب بيانول به غيبت نه وي او كه چيري ددغه سړي په اړه د حكومت چارواكو ته خبر وركړل سي چي هغه خبردار كړي او د هغه د تكليف څخه خلك خوندي سي نو په دې كي هم څه خبره نسته .

علماؤ دا هم ليكلي دي چي د اصلاح په توګه د يو سړي عيب بيانول څه پروا نه لري، منع په هغه صورت كي ده كله چي د هغه د عيب بيانولو مقصد د هغه سړي خرابي بيانول وي او هغه ته

تکلیف رسول وي همدا رنګه د يو ښار يا کليو د اوسيدونکو حال بيانول ته غيبت نه ويل کيږي تر څو چي هغوی په متعينه توګه د يو ډلي نوم نه واخلي .

فحش ويونكى بد سړى دى

﴿۴۶۱۸﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَجُلًا اسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي يو سړي د نبي کريم ﷺ څخه د حاضريدو اجازه وغوښتل ، رسول الله ﷺ اصحابو ته وفرمايل :

ائْذَنُوا لَهُ فَبِئْسَ أَخُو الْعَشِيرَةِ فَلَمَّا جَلَسَ تَطَلَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ده ته د راتلو اجازه ورکړئ دی د خپل قوم خراب سړی دئ کله چي هغه سړی راغلئ د رسول الله ﷺ په خوا کي کښينستئ نو رسول الله ﷺ

فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطَ إِلَيْهِ فَلَمَّا انْطَلَقَ الرَّجُلُ قَالَتْ عَائِشَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قُلْتَ

لَهُ كَذَا وَكَذَا ثُمَّ تَطَلَّقْتَ فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطْتَ إِلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ

په ورين تندي ورته وکتل او په خندا خندا سره يې د هغه سره خبري وکړې بيا چي هغه ولاړی نو بي بي عائشې وويل : اې د الله رسوله ! د هغه په اړه خو تاسو داسي ويلي وه بيا تاسو ورسره داسي په ورين تندي خبري وکړې ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَا عَائِشَةُ مَتَى عَهِدْتِنِي فَحَّاشًا إِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَ اللَّهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ شَرِّهِ، وفي رواية اتِّقَاءَ فُحْشِهِ . متفق عليه.

تا کله زه فحش ويونکی ليدلی يم بد ترين سړی به د الله ﷻ په نزد د قيامت په ورځ هغه وي چي خلک يې په دې وجه پريږدي چي د بدی څخه يې بيريږي او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د هغه د فحش ويلو د بيري څخه خلک د هغه څخه ليري ليري اوسي . بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۱۰\۴۵۲، رقم: ۶۰۳۲، ومسلم ۴\۲۰۰۲، رقم: ۷۳- ۲۵۹۱.

تشريح : په حديث کي چي د کوم سړي په اړه يادونه سوې ده د هغه نوم عينيه ابن حصين وو ، دغه سړی د خپل سخت زړه توب ، بد اخلاقۍ او سخت مزاجۍ په اعتبار ډېر مشهور وو ، که څه

هم د رسول الله ﷺ په زمانه کي د هغه په دين او ايمان کي تاوان پېښ سوی وو مګر د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته د دين او ايمان څخه په پوره توګه اوښتلو مرتد سوی وو، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه هغه ونيوی نو هغه دوهم وار ايمان قبول کړ او د اسلام په حالت کي له دنيا څخه رخصت سو، په هر حال بي بي عائشې رضي الله عنها د هغه سړي په اړه يادونه وکړه چي هغه په خپل لومړني زمانه کي يوه ورځ زموږ دروازې ته په را تلو سره د حاضرۍ اجازه وغوښتل نو رسول الله ﷺ هغه ته د راتلو اجازه ورکړه او د مجلس حاضرينو ته يې وويل دغه سړی د خپل قوم يو خراب سړی دی، هغه په دغه وخت کي د رسول الله ﷺ په وړاندي د خپل اسلام اظهار وکړ که څه هم د هغه ايمان او اسلام راسخ نه وو، ددې څخه څرګنده سوه چي رسول الله ﷺ د هغه په اړه څه وفرمايل هغه د نبوت د علاماتو څخه يوه علامه او د رسول الله ﷺ يوه معجزه وه، رسول الله ﷺ د ذکر سوي ارشاد په ذريعه د هغه په اړه د راتلونکو پېښو او د هغه د باطن حقيقي حال خلکو ته وښودی او په پای کي د هغه بدي او خرابي د ارتداد په صورت کي څرګند سول، ددې څخه دا خبره هم څرګنده سوه چي رسول الله ﷺ په هغه وخت کي کوم الفاظ وفرمايل يا د هغه کوم عيب يې څرګند کړ د هغه مقصد د هغه د حال منکشف کول وو چي خلک يې و پېژني او د هغه د حقيقت څخه خبر سي او د هغه څخه په فتنه او فساد کي اخته نسي نو دې ته به غيبت نه ويل کېږي.

امام نووي رحمة الله عليه ددغه حديث په تشريح کي ليکلي دي چي د رسول الله ﷺ د هغه سړي سره په ورين تندي يو ځای کېدل او په خندا خندا د هغه سره خبري کول د تاليف قلب په وجه وو، ددې څخه معلومه سوه چي د هغه سړي خاطر کول جائز دي چي د هغه د فُحش ويني، بد اخلاقۍ او تاوان څخه بېره وي، ددې څخه دا هم معلومه سوه چي د يو فاسق عيب څرګندول يعني د هغه غيبت کول جائز دي، دلته د مداراتو او مداهنت په مينځ کي په فرق کولو باندي پوهېدل ضروري دي، مدارات دې ته وايي چي د يو سړي د دنيا يا دين يا دواړو د اصلاح لپاره پر هغه د دنيا يو شی خرڅ کړل سي او دا مباح دي بلکه ډېر ځله دا يو ښه کار وي، ددې پر خلاف مداهنت دې ته وايي چي د يو چا د اصلاح او مرستي لپاره پر هغه دين قربان کړل سي، د مداراتو او مداهنت په مينځ کي دغه فرق بايد په ياد وي ځکه اکثر خلک ددې څخه غافل دي او ددغه فرق نه پوهېدو په وجه په ګمراهۍ کي اخته کېږي.

تازه کله فحش ويونکی لېدلی يم: د رسول الله ﷺ دغه ارشاد په اصل کي د بي بي عائشې رضي الله عنها د خيال صحيح کولو لپاره وو چي هغې د خپل قول په ذريعه د خپل حيرانتيا اظهار وکړ چي

رسول اللهﷺ د هغه په اړه مختلفه رویه اختیار کړل کوم وخت چي هغه د رسول اللهﷺ په مخکي نه وو نو رسول اللهﷺ د هغه بدي بیان کړل او کله چي هغه مخکي راغلی نو د هغه سره یې د مهرباني او نرمي چلن وکړ،، کله چي رسول اللهﷺ د هغه په عدم موجودتیا کي هغه ته بد وویل نو د هغه په موجودتیا کي به یې هم بد ورته ویلي وای او د هغه سره به یې داسي چلن کړی وای لکه څرنګه چي د یو خراب سړي سره کیږي، نو رسول اللهﷺ د بي بي عائشيؓ د خبري په جواب کي څرګنده کړه که چیري ما د هغه په مخکي هم دا خبره کړې وای کوم چي د هغه په نه موجودتیا کي کوم نو دا به یوه بده خبره وای حال دا چي تا زه هیڅکله په نامناسبه خبره کولو باندي نه یم لیدلې، ددې څخه وروسته چي رسول اللهﷺ کوم ارشاد وفرمایه د هغه دوې معناوي دي یو خو دا چي رسول اللهﷺ ددغه ارشاد په ذریعه دا څرګنده کړه چي ما د هغه سړي په مخکي هغه ته بد ځکه ونه ویل چي زه سخت ویونکی ونه ګرځول سم او زما شمېر په هغه خلکو کي نسي چي د هغوی د سختو او ترخو خبرو په وجه خلک هغوی سره یو ځای کېدل پرېږدي، دوهمه معنی داده چي رسول اللهﷺ ددغه الفاظو په ذریعه دا څرګنده کړه چي هغه سړی ډېر شریر او بدباطنه وو نو د هغه د بد باطنۍ په وجه ما پرهیز ځیني وکړ او د هغه په مخکي مي هغه ته بد ونه ویل او په حقیقت کي خراب سړی هغه دی چي د هغه د بدۍ څخه د ساتني لپاره خلک د هغه څخه پرهیز وکړي او د هغه د عیبو څخه یې هم خبر کړي.

خپل عیب مه ښکاره کوئ

﴿۴۶۱۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ أُمَّتِي

د حضرت ابو هریرهؓ څخه روایت دئ چي رسول اللهﷺ وفرمایل: زما ټول امت په سلامتیا

مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِينَ وَإِنَّ مِنَ الْمُجَانَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا ثُمَّ

کي دئ (یعني هیڅ یو سخت عذاب به نه ورکول کیږي) مګر هغه خلک په عافیت کي نه دي چي بدي ظاهرونکي وي او دا خبره څومره د بې پرواهۍ ده چي سړی د شپې یو (بد) کار وکړي او

يُصْبِحَ وَقَدْ سَتَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ فَيَقُولَ يَا فُلَانُ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا وَقَدْ

سبا ته چي الله تعالی د هغه عیب پټ کړی وي هغه ګرځي او خلکو ته وایي اې فلانیه! د شپې ما

بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللّٰهِ عَنْهُ. متفق علیه و ذکر حدیث

ابي هريرة من كان يؤمن بالله في باب الضيافة

داسي كړی وه ، الله تعالی د هغه عيب پټ کړ او هغه د سهار کېدو سره د الله تعالی پرده وشکول يعني کوم عيب چي الله تعالی پټ کړی وو پرده يې پر اچولې وه هغه يې خپله خلکو ته څرګند کړ ، بخاري او مسلم او د ابو هريره حديث من کان يؤمن بالله الخ د ضيافت په باب کي بيان سوی دئ .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۸٦، رقم: ٦۰٦۹، ومسلم ۴\۲۲۹۱، رقم: ۵۲- ۲۹۹۰.

د لغاتو حل: المجانة: ان لايبالي الانسان بما صنع ولابما قيل له من غيبة و مذمة.

تشريح: شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمة الله عليه په خپل کتاب کي د معافا لفظ معنی د سلامتيا او خوندي کېدو ليکلې ده، يعني د هغه په نزد د : (کل امتي معافا الا المجاهرون) معنی داده چي زما د امت ټول خلک د غيبت څخه خوندي او مامون دي پرته د هغه خلکو څخه چي هغوی په ډاګه ګناه او معصيت کوي، طيبي رحمة الله عليه هم دا معنی ليکلې ده ، مګر ملا علي قاري رحمة الله عليه دا ليکلي دي چي د حديث سياق او سباق او د هغه حقيقي مفهوم پر دې دلالت نه کوي، د هغه په نزد هغه معنی ده کوم چي په ژباړه کي ليکل سوې ده .

حضرت شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمة الله عليه د حديث په وضاحت کي ليکلي دي چي شريعت کوم غيبت حرام ګرځولی دی هغه د هغه سړي غيبت دی چي په پټه سره يو ګناه کوي او خپل عيب پټوي مګر کوم خلک چي په څرګنده ګناه کوي او خپل عيب خپله څرګندوي چي نه خو د الله جل جلاله څخه شرمېږي او نه د بندګانو څخه نو د هغه غيبت کول صحيح دي .

علماؤ ليکلي دي چي د فاسق معلن يعني په ډاګه د فسق کونکي غيبت کول جائز دی او د ظالم حاکم او پاچا او مبتدع داعي لپاره غيبت کول هم صحيح دی همدارنګه د عيبو د اصلاح لپاره او د نصيحت لپاره د يو چا بدي بيانول ، د يو شاهد د حالاتو پلټنه کول او د هغه په اړه صحيح خبر معلومول د هغه عيب بيانول او د اخبار او حديثو د راويانو حيثيت او شخصيت څرګندولو لپاره د هغوی عيبونه څرګندول په غيبت کي داخل نه دي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د درواغو پرېښودل

﴿۴٦۲۰﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چي باطل درواغ ويل

وَهُوَ بَاطِلٌ بُنِيَ لَهُ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ وَمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَهُوَ مُحِقٌّ بُنِيَ لَهُ فِي

پریږدي نو د هغه لپاره د جنت پر غاړه یو ماڼۍ تیاریږي او څوک چې پر حق وي پر هغه سربېره جګړه پریږدي د هغه لپاره

وَسَطِهَا وَمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ بُنِيَ لَهُ فِي أَعْلَاهَا. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن وكذا في شرح السنة وفي المصابيح قال غريب.

د جنت په منځ کي ماڼۍ تیاریږي او چا چي خپل اخلاق ښه کړل د هغه لپاره د جنت په لوړو کي ماڼۍ جوړیږي. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۱۵، رقم: ۱۹۹۳، والبغوي في شرح السنة ۱۳\۸۲، رقم: ۳۵۰۲،

تشریح: په حدیث کي هغه درې ډوله خلک ذکر سوي دي چي هغوی ته به په جنت کي لوړ مقام ورکول کیږي، یو ډول هغه خلک دي چي درواغ ویل بالکل پریږدي ، دلته د ناحق قید لګول سوی دی یعني داسي درواغ چي بالکل ناروا اوناجائز وي، ددغه قید وجه داده چي په ځینو صورتو کي درواغ ویل جائز دي لکه د جنګ په حالت کي، په شرط ددې چي د هغه درواغو په وجه د عهد ماتول نه وي، یا د خلکو په مینځ کي د صلح لپاره او د یو مسلمان د مال ساتنې لپاره یا د دوو ښځو ساتلو په صورت کي یعني که د یوه سړي دوې ښځې وي نو د هغه لپاره دا جائز دي چي هغه د خپلي هري ښځي د خوشحاله کولو لپاره هري یوې ته داسي ووایي چي ته زما ډېره خوښه یې ، او ځینو حضراتو دا هم لیکلي دي چي د یوې ښځي کېدو په صورت کي هم هغه وخت درواغ ویل جائز دي کله چي د هغې د زړه خوشحاله کولو لپاره هغې ته داسي وویل سي چي زه به تا ته دا درکړم او هغه به درکړم ، دا به درته جوړ کړم او هغه به درته راوړم.

دوهم ډول هغه خلک دي چي د حق کېدو سربېره د تواضع، انکسارۍ او د نفس د شرارت په وجه د دښمنۍ او بحث څخه خپل لمن ساتي مګر دا په هغه صورت کي دي کله چي د هغه دښمنۍ او جګړې تعلق د یو دنیوي معاملې سره وي او په هغه کي په سکوت او پرهیز سره په دین کي څه تاوان نه لویږي، مګر که چیري د یو دښمنۍ او جګړې تعلق د دیني معاملې سره وي نو د هغه څخه تر هغه وخته پوري ځان ساتل مناسب نه دي تر څو چي هغه معامله صحیح نسي او حق څرګند نسي ، د امام شافعي رحمة الله عليه څخه نقل سوي دي چي هغه به فرمایل: ما په هیڅ یو

ديني معامله کي بحث او مناظره ددغه مقصد څخه پرته په بله وجه نه ده کړې چي ما غوښتل چي زه د رېښتيا ثابتولو ذمه واری څخه خلاص سم او حق زما د مقابل په لاس څرګند سي.

په دې اړه امام حجة الاسلام رحمه الله علیه لیکلي دي چي د مراء یعني د جګړې او بحث اختیارولو کم از کم درجه داده چي يو سړی د بل چا پر خبره اعتراض وکړي په دې توګه چي يا خو د هغه په الفاظو کي خلل او تاوان څرګند کړي يا د هغه په مضمون او معنی کي د غلطۍ را ايستلو يا د متکلم مقصد او مراد غلط وګرځوي ددې پر خلاف ترک مراء یعني د جګړې او بحث څخه د پرهیز کولو مطلب دادی چي د بل چا په کلام او قول داسي اعتراض ونه کړي ، نو انسا ن باید کله چي د هغه کلام او خبره واوري که هغه پر حق وي نو د هغه تصدیق دي وکړي او که هغه باطل وي او د هغه د يو ديني معاملې سره نه وي نو : هغه څخه دي سکوت اختیار کړي.

دریم ډول هغه خلک دي چي خپل اخلاق ښه جوړوي، څرګنده دي وي چي حسن اخلاق د ټولو ښه صفتو او کمالاتو اختیارولو نوم دی مګر په ټولنه کي په عامه توګه د حسن اخلاق اطلاق پر ورين تندي، نرمه وينا او ښه چلن باندي کیږي.

جنت او دوږخ ته د تللو سبب

﴿۴۶۲۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَدْرُونَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : تاسو پوهیږئ چي په جنت

مَا أَكْثَرَ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ تَقْوَى اللهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ أَتَدْرُونَ مَا أَكْثَرَ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ الْأَجْوَفَانِ الْفَمُ وَالْفَرْجُ. رواه الترمذي.

کي اکثريو څوک کوم شی داخلوي (هغه شی) د الله تعالی څخه ویره او ښه اخلاق دي ايا تاسي نه پوهیږئ دوږخ ته خلک د خولې (ژبي) او فرج (شرمګاه) څخه دوږخ ته داخليږي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۱۹، رقم: ۲۰۰۴، وابن ماجه ۲\۱۴۱۸، رقم: ۴۲۴۶.

تشريح: د تقوا تر ټولو ادنی درجه داده چي د شرک څخه پرهیز وکړل سي او تر ټولو لوړه درجه داده چي په زړه کي د الله جل جلاله څخه پرته د بلي خبري خيال هم نه راوستل سي ، د حسن خلک څخه مراد د الله تعالی د مخلوق سره ښه اخلاق اختیارول دي چي د هغه تر ټولو ادنی درجه داده چي يو مخلوق ته هيڅکله تکلیف او تاوان ونه رسول سي او تر ټولو اعلی درجه داده چي انسان د هغه سره نيکي هم وکړي چا چي ورسره بد کړي وي، په دې اعتبار سره د حديث د لومړنی برخې

مطلب دادی چي په کوم چا کي تقوا او ښه اخلاق دواړه صفتونه پیدا سي نو پوه سئ چي د هغه د خلاصون دروازه خلاصه سوه ، چي په تقوا یعني پرهیزګاری سره د الله ﷻ رضا تر لاسه کیږي او په ښه اخلاقو سره د مخلوق خوشحالي تر لاسه کیږي ، څرګنده دي وي چي د کوم چا څخه الله ﷻ هم خوشحاله وي او مخلوق هم ، نو د هغه د کښتي په پوري وتلو کي څه شک دی .

شیخ عبدالحق رحمة الله علیه لیکلي دي: ښه اخلاق هم په تقوا کي داخل دی، په حدیث کي د تقوا څخه وروسته د ښه اخلاقو ذکر کول د تخصیص بعد تعمیم په توګه دي مګر دا ویل کیدای سي چي د تقوا څخه د ظاهري اعمالو حسن مراد دی او د ښه اخلاقو څخه د باطني احوالو حسن .

طیبي رحمة الله علیه وایي: د تقوا په ذریعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي د الله ﷻ سره ښه معامله وکړي، په دې توګه چي د هر هغه شي څخه ځان وساتي د کوم څخه چي منع سوې ده او په هر هغه شي عمل وکړي چي د هغه حکم سوی دی، او د ښه اخلاقو په ذریعه دې ته اشاره سوې ده چي د الله تعالی د مخلوق سره ښه چلن وکړل سي یعني ښه اخلاق اختیار کړل سي .

د حدیث په دوهمي برخي کي دې ته اشاره سوې ده چي خوله او شرمګاه د ګناه دوې لوي چینې دي چي د هغو څخه په پیدا کېدونکو خرابیو کي په لوېدو سره انسان په دوږخ کي لوېږي، نو خوله چي په هغه کي ژبه هم داخل ده د ګمراهۍ او بد عملۍ لویه ذریعه ده انسان چي کوم حرام شی خوري او څښي هغه د خولې په ذریعه تېروي او کوم منع او ناجائز خبري چي کوي ، خوله د هغه ذریعه جوړېږي، همدا رنګه شرمګاه که د ښځي وي او که د نارینه وي د شیطان تر ټولو لوی جال دی چي په هغه کي هغه خلک په لوېدو سره په دوږخ کي اچوي ، انسان د دغه شرمګاه په سبب د جنسي جذباتو څخه مغلوب کیږي او په نفساني شهوت کي په اخته کېدو سره د خپل خالق نافرماني کوي .

د ښه او بدي خبري پای

﴿۴۶۲۲﴾: وَعَنْ بِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت بلال بن حارث رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

إِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنَ الْخَيْرِ مَا يَعْلَمُ مَبْلَغُهَا يَكْتُبُ اللّٰهُ لَهُ بِهَا

کله انسان د خیر کلمه په خپل ژبه سره وایي مګر د هغه په قدر نه پوهیږي او خدای ﷻ په هغه خبره سره دده لپاره خپله

رِضْوَانَهُ إِلَى يَوْمٍ يَّلْقَاهُ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنَ الشَّرِّ مَا يَعْلَمُ

رضا وليکي تر هغه ورځې پورې چې دی خدای ﷻ ته ورځي، او يو سړی يو کلمه د ژبې څخه وباسي مګر د هغه حقيقت نه پيژني

مَبْلَغَهَا يَكْتُبُ اللهُ بِهَا عَلَيْهِ سَخَطَهُ إِلَى يَوْمٍ يَّلْقَاهُ. رواه في شرح السنة و روى مالك والترمذي وابن ماجه نحوه.

او الله تعالى د هغه په سبب پر هغه غيظ او غضب ليکي تر څو پورې چې هغه د الله تعالى سره ملاقات نه کوي، . شرح السنه. مالک، ترمذي او ابن ماجه همدا ډول حديث نقل کړی دئ.

تخريج: موطا الامام مالک ۲\ ۹۸۵، رقم ۵، والترمذي ۴\ ۴۸۴، رقم: ۲۳۱۹، وابن ماجه ۲\ ۱۳۱۲.

تشريح: خپله رضا ثابتوي: مطلب دادی چې الله ﷻ هغه ته د داسې خبرو توفيق ورکوي چې د الله تعالى د رضا سبب وي، هغه په برزخ کې د قبر د عذاب څخه ساتي، د هغه قبر پراخوي او هغه ته ويل کيږي چې داسې بيده سه لکه څرنګه چې ناوې بيده کيږي، بيا به هغه د قيامت په ورځ په خوشبختۍ او سعادت سره راپورته کيږي چې پر هغه به د الله تعالى د حق سايه وي او په جنت کې به داخل کړل سي او د هغه ځای نعمتونه به يې په برخه سي، همدارنګه چا چې د الله تعالى ناراضګی تر لاسه کړې وي د هغه معامله به ددې برعکس وي، په حديث کې فرمايل سوي دي چې تر هغه ورځې پورې تر څو چې هغه د الله تعالى ملاقات وکړي، نو ددغه توقيت مطلب دا نه دی چې د الله تعالى رضا يا د هغه ناراضګی به تر هغه ورځې پورې محدود وي د هغه څخه وروسته به منقطع سي، ددې تائيد د قرآن کريم د آيت څخه هم کيږي کوم چې د ابليس په اړه نازل سوی دی: (ان عليک لعنتي الى يوم الدين)، څرګنده ده چې د آيت مطلب دا نه دی چې ابليس لعين به د الله تعالى د لعنت مورد يوازې د قيامت تر ورځې پورې وي بلکه تل به د الله تعالى په لعنت کې وي، همدارنګه په حديث کې د ذکر سوو خلکو په اړه به د الله تعالى د رضا او ناراضګی تعلق د مرګ د ورځې څخه د تل لپاره وي.

سفيان ابن عيينه رحمة الله عليه وايي: د خير د کار څخه مراد ظالم پاچا او حاکم په مخکې د حق خبره کول دي، پر دې باندې په قياس کولو سره ويل کيږي چې د شر د کلمې څخه مراد د يو پاچا او حاکم په مخکې د باطل کلمه يعني خرابه خبره کول چې دين ته تاوان رسوي مګر د حديث ظاهري مفهوم پر عموميت باندې دلالت کوي.

د خلکو خندولو لپاره درواغ

﴿۴۶۲۳﴾: وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلٌ لِمن يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ وَيْلٌ لَهُ وَيْلٌ لَهُ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والدارمي.

د حضرت بهز بن حکیم رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: پر هغه چا افسوس دئ چي خبري کوي نو درواغ وایي یوازي ددې لپاره چي خلک وخندوي، پر داسي کس افسوس او افسوس دئ. احمد، ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\ ۳، ۵، ۷، سنن الترمذي ۴\ ۴۸۳، رقم: ۲۳۱۵، وابوداود ۵\ ۲۶۵، رقم: ۴۹۹۰، والدارمي ۲\ ۳۸۲، رقم: ۲۷۰۲.

تشريح: د (ویل) معنی د هلاکت ده او د دوږخ د یوې ژوري کندي نوم هم ویل دی، که چیري په هغه کي غرونه واچول سي نو د ګرمۍ څخه به ویلي سي، د عربو په کلام کي دغه لفظ د هغه چا لپاره استعمالیږي چي د یو خراب او ناخوښه کار کونکی وي او پر هغه افسوس کول مقصد وي، رسول الله ﷺ د خپل ارشاد په پای کي ذکر سوی لفظ بیا استعمالول او تکرارول د داسي سړي په اړه د زجر او وعید په سختۍ سره بیانول مقصد دي چي د بې بنیاده خبرو او درواغو لطیفو او قصو په ذریعه خلک خندوي.

ویل لمن یحدث فیکذب ....: د درواغ ویلو په قید سره دا خبره څرګندیږي که یو څوک د خپل ملګرو او دوستانو د خوشحاله کولو او خندولو لپاره داسي خبره وکړي یا داسي لطیفې او قصې ورته وکړي چي رښتوني وي نو په دې کي څه پروا نسته، که څه هم دا ضروري ده چي هغه دي خپل عادت نه ګرځوي او نه دي د لطیفو او قصو ویل خپل کسب ګرځوي ځکه چي خوش طبعي چي پر درواغو مشتمل نه وي سره ددې چي مشروع او مسنون کار دی مګر کله کله اختیارول پکار دي چي تل دي خپل وخت په داسي کولو کي نه مصرفوي او نه دي دغه کار ته زیاته توجه ورکوي ځکه چي ددې انجام د تاوان او خسارې څخه پرته بل هیڅ نه دی لکه څرنګه چي په حدیث کي فرمایل سوي دي.

﴿۴۶۲۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : انسان

لَيَقُوْلُ الْكَلِمَةَ لاَ يَقُوْلُهَا إِلاَّ لِيُضْحِكَ بِهِ النَّاسَ يَهْوِيْ بِهَا أَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ

یوه خبره کوي او ددې لپاره يې کوي چي خلک وخندوي او هغه ددې خپلي خبري په سبب په دوږخ کي اچول کيږي د دومره فاصلې څخه څومره چي

السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَإِنَّهُ لَيَزِلُّ عَنْ لِّسَانِهِ أَشَدُّ مِمَّا يَزِلُّ عَنْ قَدَمِهِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د آسمان او مځکي په منځ کي ده او انسان د خپلي ژبي په وجه د قدمونو تر ښوئيدو زيات سخت ښوئيږي . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۴\۲۴۶، رقم: ۴۹۵۵.

تشريح:د حديث د آخري برخي مطلب دادی که چيري يو څوک د پښو په ښوئيدلو سره پورموخی ولويږي او تاوان ور ورسيږي نو دا دومره سخت نه دی لکه څومره چي هغه تاوان دی چي د ژبي په ښوئيدو سره هغه د درواغو وغيره په ذريعه تر لاسه کړي ځکه د پښو ښوئيدل بدن ته تاوان رسوي او د ژبي ښوئيدل دين او آخرت ته تاوان رسوي او څرګنده ده چي بدني تاوان تر ديني تاوان سپک دی .

پټه خوله خلاصون دئ

﴿۴۶۲۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَمَتَ نَجَا . رواه أحمد والترمذي والدارمي والبيهقي في شعب الإيمان

د حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي پټه خوله پاته سي نو هغه خلاصون تر لاسه کړ . احمد ، ترمذي ، دارمي او بيهقي په شعب الايمان کي

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۱۷۷، والترمذي ۴\۵۶۹، رقم: ۲۵۰۱، والبيهقي في شعب الايمان ۴\۲۵۴، رقم: ۴۹۸۳، والدارمي ۲\۳۸۷، رقم: ۲۷۱۳.

تشریح: مطلب دا دی چي په پټه خوله کېدو سره او ژبه د خرابو خبرو څخه په خوندي کولو سره د دنیا د ډېرو آفتونو څخه خلاصون تر لاسه کیږي او په دیني توګه هم له ډېرو بلاوو او ستونزو څخه خلاصون په برخه کیږي ځکه چي انسان په عامه توګه په کومو بلاوو او آفتو کي اخته کیږي په هغو کي اکثر د ژبي په ذریعه وي.

د خبرو ډولونه: امام غزالي رحمة الله علیه لیکلي دي: انسان چي د خپلي ژبي څخه کومه خبره راباسي او کوم کلام کوي د هغه څلور ډولونه دي، یو خو محض تاوان، دوهم محض ګټه، دریم هغه خبره چي په هغه کي ګټه هم وي او تاوان هم وي، څلورم هغه خبره چي په هغه کي ګټه نه وي او تاوان هم نه وي نو د هغه څخه سکوت اختیارول پکار دي ځکه چي د تاوان څخه ځان ساتل د ګټي تر لاسه کولو څخه زیات مهم دی او هغه کلام چي په هغه کي نه ګټه وي او نه تاوان نو څرګنده ده چي په هغه کي ژبه بوختول محض د وخت ضائع کول دي او دا شی هم خالص تاوان دی، پاته سو دوهم ډول یعني هغه کلام چي په هغه کي ګټه وي که څه هم په داسي خبرو کي ژبه بوختول خرابه خبره نه ده مګر دا حقیقت هم باید په ذهن کي وي چي په دې کي هم د ابتلایي آفت خطره وي په دې توګه چي په داسي کلام کي ډېر ځله ریا او تصنع او د نفس خوشحاله کولو اندېښنه وي او په دغه صورت کي دا تمیز کول هم مشکل وي چي کوم ځای ښوئیدلی دی، خلاصه دا چي په هر حالت او هر صورت کي پټه خوله اختیارول غوره او د خلاصون ذریعه ده ځکه چي د ژبي آفتونه بې شمېره دي او د هغو څخه ځان ساتل مشکل دي مګر دا چي ژبه بنده وساتل سي. یو چا څومره ښه ویلي دي: (اللسان جسمه صغیر و جرمه کبیر و کثیر) یعني ژبي کوچنۍ ده مګر د هغه جرمونه لوی او ډېر دي.

﴿۴۶۲۶﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ لَقِيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ مَا النَّجَاةُ قَالَ أَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ سره ملاقات وکړ او پوښتنه مي وکړه چي د خلاصون ذریعه څه ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: خپله ژبه په واک کي ساته، په خپل کور کي پروت اوسه او پر خپلو ګناهونو ژاړه. احمد او ترمذي.

تخریج: مسند الامام احمد ۵\۲۵۹، والترمذي ۴\۵۲۳، رقم: ۲۴۰۶،

تشریح: (اَملک) د الف په زور او د لام په زبر سره دی مګر شیخ عبدالحق رحمة الله علیه د الف په زبر سره ترجیح ورکړې ده ، ددغه جملې معنی یو شارح داسي لیکلې ده چي خپله ژبه د داسي خبرو څخه وساتي چي په هغو کي خیر او نیکي نه وي ، مګر ددغه جملې زیاته صحیح معنی داده چي خپله ژبه بنده ساته ګویا ته د خپلو کارو ساتنه کوې، یعني د خپل دین په اړه محتاط او پرهیزګار اوسې او پر خپلو حالاتو باندي متوجه کېدل ظاهر دي چي کله خپلو معاملو کي محتاط او پرهیزګار اوسیږي او پر خپلو حالاتو باندي په متوجه کېدو سره پر خپلو خرابیو او نیکیو باندي نظر لري نو د خلاصون لار به ستا مخته وي.

ستا کور دي ستا کفایت وکړي: مطلب دادی چي د خرابو مجلسو او خرابو خلکو د ملګرتیا څخه د ځان ساتني په وجه یوازیوالي اختیار کړه ، د خپل کور څخه هغه وخت دباندي وځه کله چي د وتلو اړتیا وي او ددغه یوازیوالي په وجه زړه مه خفه کوه بلکه دا غنیمت وګڼه ځکه چي داسي کول د ډېرو فتنو او فساد څخه د خلاصون ذریعه ده، ځکه ویل سوي دي : هذا زمان السکوت وملازمة البیوت والقناعة بالقوة الی ان تموت، طیبي رحمة الله علیه وایي چي په (ویسعک بیتک) کي د حکم ظاهر مورد کور دی مګر په حقیقت کي ددغه حکم مورد مخاطب دی یعني ددغه ارشاد په ذریعه مخاطب ته هدایت سوی دی چي په خپل کور کي د یوازیوالي په اختیارولو سره د الله تعالی په عبادت کي بوخت اوسه.

پر خپلو ګناهو باندي ژاړه : مطلب دادی چي پر خپلو خطاوو او کوتاهیو باندي په پښېمانه کېدو سره د بخښني لپاره د الله تعالی په وړاندي ژړا او زاري اختیار کړه او که ژړا نه درځي نو د ژړا صورت جوړ کړه.

دژبي عاجزي

﴿۴۶۲۷﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَفَعَهُ قَالَ إِذَا أَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ فَإِنَّ الْأَعْضَاءَ كُلَّهَا تُكَفِّرُ اللِّسَانَ فَتَقُولُ اتَّقِ اللَّهَ فِينَا فَانَّا نَحْنُ بِكَ فَإِنْ اسْتَقَمْتَ اسْتَقَمْنَا وَإِنْ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا. رواه الترمذي.

د حضرت ابو سعید رضي الله عنه څخه مرفوعا روایت دئ او وایي چي انسان کله سهار کوي نو د بدن ټول اندامونه ژبي ته عاجزي کوي او ورته وايي چي زموږ په اړه د الله جل جلاله څخه و بیریږه ځکه چي موږ ستا سره تړلي یو که ته سمه یې نو موږ به هم سم یو (په امان یو) او که ته بې لارې غوره

کړې نو موږ به هم بې لارې سو . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۲۳، رقم: ۲۴۰۷.

تشريح: هسې خو د ټول بدن نظام ظاهري او باطني دار او مدار پر زړه دی که زړه صحيح او صالح وي نو ټول اندامونه به صحيح او صالح وي او که زړه فاسد او بېکاره سي نو ټول اندامونه به هم فاسد او بېکاره سي ، لکه چي په يو حديث کي فرمايل سوي دي : (ان في الجسد مضغة ان صلحت صلح الجسد کله واذا فسدت فسد الجسد کله) ژباړه : په تحقيق سره په بدن کي د غوښې يوه ټوټه ده که چيري هغه سمه وي نو ټول بدن به سم وي او که هغه خرابه وي نو ټول بدن به خراب وي .

د دغه حقيقت سربېره په دغه حديث کي دا ښکاره سوي چي ژبه د بدن د ټولو اندامو سردار ده ، دا په دې اعتبار دي چي په حقيقت کي زړه د بدن پاچا دی مګر د زړه ترجمان او خليفه ژبه ده چي زړه څه فکر کوي ژبه هغه بيانوي او د بدن نور اندامونه په هغه عمل کوي، نو کوم حکم چي د زړه وي هغه د ژبي دی لکه څرنګه چي د زړه د صالح او فاسد کېدو اثر د بدن پر ټولو اندامو لوېږي همدا رنګه د ژبي د ښه والي او بدوالي اثر هم د بدن پر ټولو اندامو لوېږي .

ښه اسلام

﴿۴۶۲۸﴾ : وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ. رواه مالك واحمد ورواه ابن ماجة عن ابي هريرة والترمذي والبيهقي في شعب الايمان عنهما.

د حضرت علي بن حسين رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انسان (يعني د مسلمان) اسلامي ښه والی دادئ چي هغه شی پرېږدي کوم چي بې ګټې وي . مالک، احمد او ابن ماجه د ابوهريره او ترمذي او بيهقي د دواړو څخه روايت کړی دئ .

تخريج: موطا الامام مالک ۲\۹۰۳، رقم: ۳، ومسند الامام احمد ۱\۲۰۱.

تشريح: مطلب دادی چي د يو سړي د اسلام ښه والی او د ايمان د کامل کېدو علامه داده چي د هغه شي څخه پرهيز وکړي چي د هغه پابندي نسي کولای چي په هغه سره يو مقصد متعلق نه وي او که د يو شي دا شان نه وي چي د هغه پابندي وکړل سي او د هغه په تر لاسه کولو کي

بوختيا اختيار كړل سي ، خلاصه دا چي هغه كار ضروري نه دى كوم ته چي لا يعني ويل كيږي او د هغه تعريف او وضاحت دادى ، ددې پر خلاف كوم كار چي ضروري وي او يو سړى د هغه پابندي كوي نو هغه شى داسي وي چي په هغه سره په دنيا كي د ژوند اړتياوي او په آخرت كي سلامتيا او خلاصون اړوند وي د مثال په توګه د دنيا او ژوند په اړتياوو كي خوراک دى چي لوږه دفع كوي ، دوهم اوبه دي چي تنده دفع كوي ، دريم جامه ده چي ستر پټوي ، څلورم ښځه ده چي عفت او پاک لمني قائموي، او همدارنګه هغه شيان چي د ژوند نوري اړتياوي پوري كوي ، نه هغه شيان چي په هغو سره محض د نفس د لذت د حرص او هوس پوره كېدل او په دنيا كي د مينې تعلق وي او داسي كارونه او اقوال هم نه چي بې ګټي او بې فائدې وي، همدارنګه هغه شى چي په هغه سره د آخرت سلامتيا او خلاصون متعلق وي ، ايمان ، اسلام او احسان چي د هغو وضاحت د كتاب په پېل كي سوى دى ، خلاصه دا چي دغه شيان په دنيا او آخرت كي ضروري دي او پر هغو د انسان ديني او دنيوي ژوند دار او مدار دى او د الله تعالى د رضا سبب او ذريعه جوړيږي هغه خو لا يعني نه دي ، ددې څخه پرته نور ټول شيان لا يعني دي كه څه هم د هغو تعلق د عمل سره وي يا د قول سره وي .

امام غزالي رحمة الله عليه ويلي دي: د لايعني (بې ګټو خبرو) آخري درجه داده چي ته داسي خبره د خپل ژبې څخه ونه باسې كه هغه دي د خپلي ژبې څخه نه وايستل نو نه ګناه كار كيږې او د هغه په وجه به تا ته تاوان نه رسيدى، ددې مثال داسي دى د مثال په توګه ته د يو چا سره ناست يې اوس تا د هغوى په مخكي د خپل يو سفر احوال بيان كړل ، د هغه احوالو د بيان په دوران كي تا د هر هغه شي تفصيل بيان كړ كوم چي تا د خپل سفر په دوران كي ليدلي وه ، د مثال په توګه غر، درياب او داسي نور، يا كومي پېښي او حادثات چي تا ته پېښ سوي وه د هغه په اړ، دي وښودل ، بيا تا د ښه خوراكونو ، ښو جامو او نورو شيانو ذكر هم وكړ كوم چي تا ته تر لاسه سوي وه يا تا ليدلي وه ، څرګنده ده چي تا دغه ټول تفصيل بيان كړ او د كومو كارو چي تا ذكر وكړ هغه يقينا داسي شيان دي كه تا هغه نه واى بيان كړي نو نه به ګناه كار كيداى او نه به تا ته تاوان رسيدلاى ، حال دا چي د هغه اوږده تفصيل بيانولو په صورت كي ډېره ممكن ده چي پر يوه خبره باندي ستا ژبه ښوئيدلې واى او داسي خبره دي كړې واى چي په هغه سره ته ګناه سوى واى .

په بې علمي سره خبره مه كوئ

﴿۴۶۲۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ تُوُفِّيَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ رَجُلًا أَبْشِرْ بِالْجَنَّةِ

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَلَا تَدْرِي فَلَعَلَّهُ تَكَلَّمَ فِيمَا لَا يَعْنِيهِ أَوْ بَخِلَ بِمَا لَا يَنْقُصُهُ. رواه الترمذي.

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي په صحابه کرامو کي يو کس وفات سو نو يو سړي وويل تا ته دي د جنت زيری وي، ددې په اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: ته دا خبره کوې کيدای سي د حقيقت څخه ته خبر نه يې ممکن ده چي ده په بې ګټي کارونو کي په خبرو وخت ضائع کړی وي او په داسي شی کي يې بخل کړی وي چي په هغه کي دده کمي نه راځي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۸۳، رقم: ۲۳۱۶.

تشريح: په يو داسي معامله کي د خپلي ژبي څخه الفاظ ايستلي دي: مطلب دادی چي هغه په بې ګټو خبرو کي خپل وخت ضائع کړی وي او په داسي کارو کي د خپلي ژبي څخه الفاظ ايستلي وي چي د هغه لپاره د يو ډول تاوان رسولو سبب وي.

په يو داسي شي کي بخل کړی وي: مطلب دادی چي هغه په يو داسي ورکولو کي د بخل څخه کار اخيستی وي چي د ورکولو سربېره نه کمېدی لکه د علم، د زکوة مال چي د علم په ويشلو سره او د زکوة د مال په اداء کولو سره هيڅ کمي نه کيږي بلکه په هغه کي زياتوب کيږي.

د رسول الله ﷺ د ارشاد خلاصه دا وه چي تا د هغه سړي جنت د تللو په اړه داسي يقين ولي کړی دی حال دا چي تا ته د هغه د ژوند د ټولو ظاهري او باطني اړخونو خبر نسته بېله شکه ددغه سړي ظاهري ژوند ډېر پاک وو او هغه ته د صحابيت سعادت هم تر لاسه دی مګر کيدای سي چي هغه د خپل ژبي څخه يو داسي خبره ايستلي وي يا بخل يې کړی وي او د هغه په نيوکه کي په اخته کېدو سره د جنت څخه منع سوی وي.

د ژبي فتنه

﴿۴۶۳۰﴾: وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ الثَّقَفِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا أَخْوَفُ مَا تَخَافُ عَلَيَّ فَأَخَذَ بِلِسَانِ نَفْسِهِ ثُمَّ قَالَ هٰذَا. رواه الترمذي وصححه.

د حضرت سفيان بن عبدالله ثقفي رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي ما وويل: اې دالله رسوله! کوم شيان چي ته زما لپاره بيرونکي ګڼې په هغو کي زيات بيرونکی څه شی دئ؟ د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ خپله ژبه مبارکه ونيول او وه يې فرمايل دا. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۲۴، رقم: ۲۴۱۰.

دروغ ویل د ملائکو لیري کېدو سبب دی

﴿۴۶۳۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ تَبَاعَدَ عَنْهُ الْمَلَكُ مِيلًا مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي بنده دروغ وايي نو (ساتونکي) ملائکي د دروغو د بوی په وجه تر يو ميل پوري ليري تښتي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۳۰۴، رقم: ۱۹۷۲.

تر ټولو لوی خيانت

﴿۴۶۳۲﴾: وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَسِيدٍ الْحَضْرَمِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كَبُرَتْ خِيَانَةً أَنْ تُحَدِّثَ أَخَاكَ حَدِيثًا هُوَ لَكَ بِهِ مُصَدِّقٌ وَأَنْتَ لَهُ بِهِ كَاذِبٌ. رواه ابوداؤد.

د حضرت سفيان بن اسيد حضرمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي تر ټولو لوی خيانت دادئ چي ته خپل مسلمان ورور ته يوه خبره وکړې او هغه خبره هغه رښتيا او صحيح وګڼي او په حقيقت کي تا هغه ته دروغ ويلي وي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود: ۵\ ۲۵۳، رقم: ۴۹۷۱.

تشريح: مطلب دادی چي په هر حالت او هر وخت کي دروغ ويل بد دي مګر په هغه صورت کي ډېر زيات بد دي چي ته د خپل مسلمان ورور اعتماد ته تکليف ورسوې په دې توګه چي هغه تا رښتونی وګڼي مګر ته هغه ته دروغ ووايې.

دوه ژبی

﴿۴۶۳۳﴾: وَعَنْ عَمَّارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ ذَا وَجْهَيْنِ فِي الدُّنْيَا كَانَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِسَانَانِ مِنْ نَارٍ. رواه الدارمي.

د حضرت عمار ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په دنیا کي چي څوک دوه مخی وي (یعني یو چا ته یو څه وایي او بل چا ته بل څه وایي) نود قیامت په ورځ به د هغه په خوله کي د اور دوې ژبي وي . دارمي.

تخریج: سنن الدارمي ۲\۴۰۵، رقم: ۲۷۶۴.

تشریح: دوه مخي په اصل کي د منافق صفت دی یعني هغه سړی چي د چا په اړه مخلص نه وي په ژبه سره یو څه وایي او په زړه کي يې بل څه وي، کله چي د یو چا په مخکي خبره کوي نو داسي يې کوي چي مخاطب دا وګڼي چي دا زما دوست دی مګر د هغه تر شا چي کوم خبره کوي نو د ژبي څخه داسي الفاظ راباسي چي د هغه لپاره د تکلیف سبب وي .

ځیني حضرات وایي چي دوه مخی هغه سړي ته وایي چي په خپلو کي د دښمني لرونکو دوو کسانو کي هر یوه ته د هغه خبر ورکوي ، یوه ته ورسي نو د هغه د خوښۍ خبري ورته کوي او هغه دا وګڼي چي دا زما دوست دی همدارنګه دوهم ته ورسي نو هغه ته د هغه د خوښۍ خبري کوي او هغه دا ګڼي چي دا زما دوست دی ، خلاصه دا چي په دواړو کي هر یوه ته د خپل میني اظهار کوي او د دوهم بدي ورته وایي همدارنګه دواړه د هغه په اړه د غلط فهمۍ ښکار سي او هر یو دا ګڼي چي دی زما دوست او ملګری دی او زما د مخالف دښمن بدخواه دی .

کامل مؤمن نه دی

﴿۴۶۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلَا اللَّعَّانِ وَلَا الْفَاحِشِ وَلَا الْبَذِيْءِ . رواه الترمذي والبيهقي و في اخرى له ولا الفاحش البذي وقال الترمذي هذا حديث غريب

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مؤمن نه خو طعن ویونکی وي او نه لعنت ویونکی وي نه فحش ویونکی وي او نه بې حیا (اوږد ژبی) وي . ترمذي، بیهقي ، د بیهقي په یوه روایت کي د ولا الفاحش البذي (پوچ ګویه ، بې حیا) الفاظ دي . ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ .

تخریج: سنن الترمذي: ۴\۳۰۸، رقم: ۱۹۷۷، والبیهقي في شعب الایمان ۴\۲۹۳، رقم: ۵۱۵۰،

﴿۴۶۳۵﴾: وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَكُونُ الْمُؤْمِنُ لَعَّانًا، وفي رواية لَا يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يَكُونَ لَعَّانًا. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (پوره) مؤمن زيات لعنت ويونكى نه وي، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي مؤمن ته لعنت ويل مناسب نه دي. ترمذي،

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۰۸، رقم: ۱۹۷۷.

ښېرا مه كوئ

﴿۴۶۳۶﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلَاعَنُوا بِلَعْنَةِ اللّٰهِ وَلَا بِغَضَبِ اللّٰهِ وَلَا بِجَهَنَّمَ وفي رواية وَلَا بِالنَّارِ. روه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت سمرة بن جندب رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په خپل منځ كي داسي خبري مه كوئ چي پر تا دي د الله لعنت وي، او مه د غضب الهي د نازليدو ښيرا كوئ او مه د دوږخ د داخليدو ښيرا كوئ، په يوه روايت كي دي او نه په اور سره. ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۱۱، رقم: ۴۹۰۶، والترمذي ۴\۳۰۸، رقم: ۱۹۷۶.

تشريح: مطلب دادی چي په هيڅ صورت كي بايد يو مسلمان د بل مسلمان لپاره ښېرا ونه كړي مګر د الله تعالی د لعنت او نورو شيانو ښېرا كول خرابه او د ګناه خبره ده، يو چا ته بايد داسي ښېرا ونه كړل سي چي پر تا دي د الله تعالى لعنت وي يا پر تا دي د خدای جل جلاله غضب وسي، يا خدای جل جلاله دي وكړي چي ته دوږخ ته ولاړ سې او داسي نور.

د لعنت راګرځيدل

﴿۴۶۳۷﴾: وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ابودرداء رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي

إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا لَعَنَ شَيْئًا صَعِدَتْ اللَّعْنَةُ إِلَى السَّمَاءِ فَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ

هر کله یو بنده پر یو شي لعنت وايي نو هغه لعنت آسمان ته خيژي او د آسمان دروازې پر هغه

دُونَهَا ثُمَّ تَهبِطُ إِلَى الأَرْضِ فَتُغْلَقُ أَبْوَابُهَا دُونَهَا ثُمَّ تَأْخُذُ يَمِينًا وَشِمَالًا فَإِذَا

لعنت بندي سي بيا هغه لعنت مځکي ته راکښته سي او د مځکي دروازې هم پر دغه لعنت بندي سي بيا هغه راسته او چپه لوري ته ګرځي او ددې خوا څخه هم

لَمْ تَجِدْ مَسَاغًا رَجَعَتْ إِلَى الَّذِي لُعِنَ فَإِنْ كَانَ لِذَلِكَ أَهْلًا وَإِلَّا رَجَعَتْ إِلَى قَائِلِهَا. رواه ابوداؤد.

لار پيدا نه کړي آخر د هغه سړي يا شی په لور وګرځي چي پر هغه لعنت سوی دئ که هغه د لعنت وړ وي نو پر هغه ودريږي او که هغه د لعنت وړ نه وي نو پر لعنت ويونکي بيرته راسي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۱۰، رقم: ۴۹۰۵.

تشريح: ددغه حديث په ذريعه د لعنت حقيقت بيان سوی دی چي خلک يې ډير معمولي ګڼي او پر چا باندي لعنت کوي او په پای کي خپله د هغه لعنت ښکار سي، کله چي يو څوک پر يو چا باندي لعنت کوي نو هغه لعنت په پيل کي هغه ته نه متوجه کيږي او دا غواړي چي آخوا دېخوا وګرځي مګر کله چي يوې خوا ته لار پيدا نه کړي نو په پای کي هغه متوجه کيږي، په شرط ددې چي د هغه لعنت وړ وي او د حقيقت په اعتبار که چيري د هغه لعنت وړ نه وي نو بيا انجام دا وي چي هغه لعنت په بېرته راتلو سره پر هغه سړي واقع کيږي چا چي لعنت کړی وي، نو څرګنده سوه چي تر څو پوري په يقيني توګه دا معلومه نسي چي فلانی سړی په حقيقت کي د لعنت مستحق دی نو پر هغه دي لعنت نه ويل کيږي، څرګنده ده چي د يو سړي د لعنت وړ کېدل د شارع له خوا د ښوونې څخه پرته متعين کيدای نسي.

﴿۴۶۳۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَجُلًا نَازَعَتْهُ الرِّيحَ رِدَاءَهُ فَلَعَنَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلْعَنْهَا فَإِنَّهَا مَأْمُورَةٌ وَإِنَّهُ مَنْ لَعَنَ شَيْئًا لَيْسَ لَهُ بِأَهْلٍ رَجَعَتِ اللَّعْنَةُ عَلَيْهِ. رواه الترمذي وابوداود.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي باد د يو سړي څادر په هوا کړ، هغه سړي پر هوا

لعنت ووايه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل پر هوا لعنت مه وايه ځکه چي هغه ماموره ده (يعني د الله جل جلاله په حکم سره چليږي) او واقعه داده چي څوک پر يو شي لعنت ووايي که هغه شی د لعنت وړ نه وي نو هغه پر لعنت ويونکي بيرته راځي، ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۱۲، رقم: ۴۹۰۸، والترمذي ۴\۳۰۹، رقم: ۱۹۷۸.

تشريح: هغه خو د حکم تابع دی: مطلب دا چي هواء د الله تعالی له خوا پر تلو ماموره سوې ده او الله تعالی د خپل حکمت سره سم هغه پيدا کړې ده او چلوي يې، په دغه صورت کي که د هغه په وجه چا ته تکليف ورسيږي نو هواء ته بد او رد ويل نه يوازي دا چي ډېره بده خبره ده بلکه عبوديت او استقامت د تقاضا خلاف هم ده، د زمانې په پېښو، تغيراتو، ارادو او افعالو کي هم دغه حکم دی چي د غم او تکليف په وخت کي خپل ظاهر او باطن دواړه راضي او ساکت وساتي او که د تکليف يا پيښي په وخت کي د بشريت د تقاضا سره سم په ځان کي يو تغير ووينې نو لازم ده چي خپل ژبه په واک کي کړي چي د هغه څخه شکايت او د غم اظهار ونه سي چي د عبوديت د مرتبې او اسلامي تعليمات خلاف کار دی.

د چا په اړه بد مه واياست

﴿۴۶۳۹﴾: وَعَنِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُبَلِّغُنِي أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِي عَنْ أَحَدٍ شَيْئًا فَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَخْرُجَ إِلَيْكُمْ وَأَنَا سَلِيمُ الصَّدْرِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په صحابه کرامو کي دي هيڅوک ما ته د يو سړي په اړه بده خبري نه اوروي، ځکه چي زه دا خبره بنيم چي زه تاسو ته را ځم نو زما سينه دي صافه وي (يعني د چا په اړه د بدي خبري اوريدو په وجه دي زما په زړه کي کينه نه وي) او نه زه د چا څخه ناراضه يم. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۸۳، رقم: ۴۸۶۰.

تشريح: په دغه ارشاد کي د امت لپاره دا تعليم دی چي هيڅوک دي د خپل يو مشر، بزرګ او شيخ په مخکي د يو چا بدي نه بيانوي چي د بغض، عداوت، ناراضګی او خفګان صورت پيدا نسي، د حديث د آخري برخي مطلب علماوو دا ليکلی دی چي د دغه ارشاد په ذريعه رسول الله

ﷺ د خپل هغه خواهش او غوښتني اظهار وفرمايه چي رسول الله ﷺ د خپل صحابه کرامو څخه خوشحاله او راضي له دنيا څخه رخصت سي.

﴿۴۶۴۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا تَعْنِي قَصِيرَةً فَقَالَ لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَ بِهَا الْبَحْرِ لَمَزَجَتْهُ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي ما د بي بي صفيې (رض) په اړه رسول الله ﷺ ته وويل: (يعني د هغې د يو عيب په اړه) چي ستاسو لپاره دا کافي ده، چي هغه داسي او داسي ده، مطلب يې دا وو چي کوتاه قامت يې دی، رسول الله ﷺ ددې په جواب کي وفرمايل: تا يوه داسي کلمه ويلې ده که په درياب کي واچول سي نو پر درياب به هم غالبه سي. احمد، ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: مسند الامام احمد ۱۸۹\۶، وابوداود ۱۹۲\۵، رقم: ۴۸۷۵، والترمذي ۵۷۰\۴، رقم: ۲۵۰۲.

تشريح: بي بي صفيه بنت حيي هم د رسول الله ﷺ يوه بي بي مبارکه وه، د هغې قد کوچنی وو، يوه ورځ بي بي عائشې ﷞ وغوښتل چي د رسول الله ﷺ په مخکي د بي بي صفيې ﷞ هغه عيب ذکر کړي او همدارنګه هغې ذکر سوې الفاظ په خپله ژبه سره ادا کړل، څرګنده ده چي دا غيبت وو چي په هغه کي بي بي عائشه ﷞ اخته سوه ځکه رسول الله ﷺ د هغې پر دغه خبره د ناخوښۍ اظهار وکړ او د ذکر سوي ارشاد په ذريعه يې هغې ته څرګنده کړه چي تا کومه خبره کړې ده هغه يو معمولي خبره نه ده بلکه د نيتجې په اعتبار دومره هيبتناکه ده که چيري يو درياب ته واچول سي نو درياب به هم د هغه په وړاندي معمولي سي، او دغه يو څو الفاظ به د هغه درياب د وسعت او عظمت سربېره پر هغه غالب سي او هغه به متغير کړي، او کله چي ددغه الفاظو په مقابله کي د درياب دا حال دی نو فکر وکړئ چي ستاسو د اعمالو به څه حشر وي، ددې څخه معلومه سوه چي د يو چا دومره عيب هم په قصد بيانول چي فلانی سړی لنډی دی يا فلانۍ ښځه لنډۍ ده نو دا هم غيبت دی.

لکه څرنګه چي په ژباړه کي څرګند سول چي د کذا کذا لفظ په ذريعه د بي بي صفيې ﷞ عيبونه يعني د هغه د قد لنډېدل کنايتا بيانول مقصد وو، حال دا چي يو شارح ويلي دي چي بي بي عائشې ﷞ د خپل دغه الفاظو په ذريعه خپل بالنبت ته اشاره وکړه چي بي بي صفيه ﷞ ددغه بالنبت په اندازه ده، دا هم ويل کيدای سي چي د کذا لفظ تکراري کېدل دا څرګندوي چي

د بي بي عائشې ﷞ مقصد د بي بي صفيې ﷞ هغه عيب په ژبه او اشاره دواړو سره بيان کړي وي، نو کيداى سي چې بي بي عائشې ﷞ لومړى خو په خپله ژبه سره ويلي وي چې بي بي صفيه ﷞ لنډۍ ده او بيا يې خپل بالنبت ته په اشاره کولو سره دا خبره مؤکد کړې وي چې هغه ډېره لنډۍ ده، ملا علي قاري ﷫ همدا رنګه خبره کړې ده.

د بدو يلو او حياء اثر

﴿۴۶۴۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كَانَ الْفُحْشُ فِي شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ وَمَا كَانَ الْحَيَاءُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ. رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په کوم شي يا کار کې چې فحش يا سخته وينا وي هغه فحش هغه شى عيب داره کوي او په کوم شي يا کار کې چې حيا وي هغه حيا د هغه شى ښکلا جوړېږي، ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۳۰۷\۴، رقم: ۱۹۷۴.

تشريح: طيبي ﷫ وايي: په دغه ارشاد کې فحش يعني بد وينه او سخت کلامي او د هغه په مقابله کې د حياء يعني نرمۍ تاثير او شان د مبالغې په توګه بيان سوى دى، که چيري فحش يا حياء په يوه ډېره يا لرګي کې پيدا سي نو هغه عيب داره يا ښکلي جوړوي، ددې څخه معلومه سوه چې بده وينا او سخت کلامي په شخصيت کې د نقص او تاوان پيدا کولو ذريعه ده حال دا چې نرمه وينا او خوش کلامي په شخصيت کې د وقار مظهر دى.

مسلمان ته پيغور مه ورکوئ

﴿۴۶۴۲﴾: وَعَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ

حضرت خالد بن معدان ﷛ د معاذ ﷛ څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَيَّرَ أَخَاهُ بِذَنْبٍ لَمْ يَمُتْ حَتَّى يَعْمَلَهُ يَعْنِي مِنْ

څوک چې يو مسلمان ورور ته شرم اړوي (يعني په هغه ګناه کې چې مخکې يې کړې وي) يا هغه ملامتوي نو هغه کس به د مرګ څخه مخکې په هغه ګناه کې اخته سي، د راوي بيان دئ چې

ذَنْبٍ قَدْ تَابَ مِنْهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وليس اسناده

بمتصل لان خالدا لم يدرك معاذ بن جبل .

د هغه ګناه چي چا ته عار (پيغور) پر ورکول سي هغه ګناه مراد ده چي د هغه څخه يې توبه کړې وي، ترمذي او ويلي يې دي چي دا حديث غريب دئ او ددې سند متصل نه دئ ځکه چې ددې راوي خالد حضرت معاذ بن جبل نه دی ليدلی .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۷۱، رقم: ۲۵۰۶،

تشريح: د يو مسلمان د بشريت د غوښتني سره سم په يوه ګناه کي اخته کېدل او بيا پر هغه پښيمانه کېدل د هغه ګناه څخه د توبې کولو او د هغه د طبيعت د سلامتۍ علامه ده ، په دغه صورت کي يو چا ته دا حق نه تر لاسه کيږي چي هغه مسلمان ته د هغه ګناه پېغور ورکړي او هغه ملامت کړي ، مګر که چيري هغه د ګناه څخه توبه ونه کړي او په هغه ګناه کي اخته وي نو بيا هغه ته پېغور ورکول کيدای سي او ملامتيا هم ور باندي کيدای سي په شرط ددې چي هغه ته د شرم او غيرت ورکول د تکبر او سپکاوي په توګه نه وي بلکه د خبرداري او د نصيحت په توګه وي او د هغه څخه د هغه د منع کولو قصد وي .

د رسول الله ﷺ د ذکر سوي ارشاد دغه وضاحت د امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه څخه نقل سوی دی او دغه الفاظ د هغه روايت په پای کي نقل کيږي . امام ترمذي رحمة الله عليه دغه روايت ته غريب ويلي دي او په دې کي يې کلام کړی دی مګر عراقي رحمة الله عليه وايي چي دغه روايت احمد او طبراني په صحيح سند سره نقل کړی دی .

د چا پر ستونزه مه خوشحاله کيږئ

﴿۴۶۴۳﴾: وَعَنْ وَاثِلَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُظْهِرُ الشَّمَاتَةَ لِأَخِيكَ فَيَرْحَمُهُ اللّٰهُ وَيَبْتَلِيكَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب.

د حضرت واثله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر خپل هغه مسلمان ورور باندي چي په مصيبت کي اخته وي مه خوشحاله کيږئ الله تعالی به پر هغه رحم وکړي او ته به په هغه مصيبت کي اخته کړل سې . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۷۱، رقم: ۲۵۰۵.

د يو چا پېښې كول حرام دي

﴿۴۶۴۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أُحِبُّ أَنِّي حَكَيْتُ أَحَدًا وَأَنَّ لِي كَذَا وَكَذَا. رواه الترمذي و صححه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د چا نقل كول نه خوښوم كه څه هم چي دنياوي مال ما ته هر څومره راكړل سي د يو چا نقل كول په غيبت كي شامل دي. نقل كول دې ته وايي چي د بل چا په ركم تګ وكړي يا اواز (يعني فلانى داسي ګوډ ګوډ ځي يا داسي خبري كوي). ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۱۴/۵۷۰، رقم: ۲۵۰۳.

تشريح: د يو چا نقل كول كه په قول سره وي او كه په فعل سره وي حرام او په غيبت كي داخل دى.

د خداى جلاله رحمت محدود نه دى

﴿۴۶۴۵﴾: وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ ثُمَّ عَقَلَهَا ثُمَّ دَخَلَ

د حضرت جندب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو صحرائي سړى راغلى هغه خپل اوښ كښېنوئ د هغه پښه يې وتړل او په مسجد كي داخل سو،

الْمَسْجِدَ فَصَلَّى خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا سَلَّمَ أَتَى رَاحِلَتَهُ

بيا يې د نبي كريم ﷺ سره لمونځ وكړ او د سلام ګرځولو څخه وروسته ولاړ سو د خپل اوښ پښه

فَأَطْلَقَهَا ثُمَّ رَكِبَ ثُمَّ نَادَى اللّٰهُمَّ ارْحَمْنِي وَمُحَمَّدًا وَلَا تُشْرِكْ فِي رَحْمَتِنَا

يې خلاصه كړه او پر هغه سپور سو او د دې ويلو سره روان سو چي اې الله! پر ما او محمد ﷺ باندي رحم وكړې او زموږ په رحمت كي زموږ سره بل څوك شريك مه كړې

أَحَدًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَقُولُونَ هُوَ أَضَلُّ أَمْ بَعِيرُهُ أَلَمْ

،(ددې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو په خيال كي دا صحرائي زيات ګمراه دئ كه دده اوښ،

تَسْمَعُوا إِلَى مَا قَالَ قَالُوا بَلَى. رواه ابوداؤد و ذكر حديث ابي هريرة كفى بالمرء

كذبا في باب الاعتصام في الفصل الاول.

تاسو نه واوريدل چي ده څه وويل ؟ صحابه كرامو وويل: اې دالله رسوله موږ واوريدل ، ابوداؤد، په لومړي فصل كي د ابوهريره حديث په (باب الاعتصام) كي بيان سوى دئ.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۹۷، رقم: ۴۸۸۵.

تشريح: هغه صحرائي په خپله دعاء كي د الله تعالى رحمت خاص او محدود كړى وو ځكه رسول الله ﷺ د خپل ذكر سوو الفاظو په ذريعه پر هغه د ناخوښۍ اظهار وفرمايه ، نو معلومه سوه چي په دعاء كي بايد خپل مطلوب محدود او خاص نه كړل سي يعني داسي دعاء ونه غوښتل سي چي فلانۍ خبره زموږ لپاره بس ده او د نورو لپاره دي نه وي، بلكه په هغه كي دي ټول مؤمنان نارينه او ښځينه داخل كړل سي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د فاسق تعريف مه كوئ

﴿۴۶۴۶﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مُدِحَ الْفَاسِقُ غَضِبَ الرَّبُّ تَعَالٰى وَاهْتَزَّ لَهُ الْعَرْشُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي د فاسق تعريف كيږي نو الله تعالى د تعريف كونكي څخه ناراضه كيږي په غضب كيږي او د هغه د تعريف څخه عرش الهي لړزيږي. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۴\۲۳۰، رقم: ۴۸۸۶.

تشريح: د عرش رپېدل يا خو پر خپل ظاهري مفهوم محمول دى چي كله د يو فاسق او فاجر تعريف كيږئ نو عرش الهي په حقيقت كي رپيږي يا د دغه الفاظو په ذريعه دغه خبره د كنايې په توګه بيان سوې ده چي د فاسق تعريف او صفت كول يوه ډېره هيبتناكه خبره ده او د دغه هيبتناكۍ وجه څرګنده ده ځكه چي كله يو سړى د يو فاسق تعريف كوي نو د هغه مطلب دا وي چي تعريف كونكى د هغه د كارو څخه راضي او خوشحاله دى كوم چي د هغه فاسق په ژوند كي وي بلكه عجيبه نه ده چي تعريف كونكى د كفر په حد كي داخل سي ځكه چي د فاسق تعريف هغه تر دې حده بېولاى سي چي هغه حرام حلال ګڼي ، د دې څخه معلومه سوه چي د بې عمله او

شتمنو عالمانو، گمراهانو شاعرانو او رياكارو قاريانو مدح او تعريف كولو هم دغه حال دى نو د ظالم او كافر په تعريف كي خپله ژبه چلول به څومره بد وي نو په دې اړه احتياط لازم دى او د دغه لويو بلاوو څخه ځان ساتل ډېر ضروري دي او د دې څخه ځان ساتنه په هغه صورت كي ممكن ده كله چي د دغه خلكو د صحبت او ملګرتيا څخه ځان و ساتل سي.

د مؤمن زيږېدنه

﴿۴۶۴۷﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطْبَعُ الْمُؤْمِنُ عَلَى الْخِلَالِ كُلِّهَا إِلَّا الْخِيَانَةَ وَالْكَذِبَ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان عن سعد بن ابي وقاص.

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مؤمن د درواغو او خيانت څخه پرته پر ټولو خصلتونو پيدا سوى دئ. احمد او بيهقي په شعب الايمان كي سعد بن ابي وقاص څخه روايت كړى دئ.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۲۵۲.

د لغاتو حل: الخلال: اى الخصال (خويونه)

تشريح: د دغه ارشاد مقصد دا څرګندول دي چي په كامل مؤمن كي دغه دوه عادتونه نسي يو ځاى كيدلاى بلكه د هغه په اجزاء تركيبي كي د صدق او امانت اوصاف وي چي د تصديق او ايمان تقاضا ده، يا د دغه ارشاد مراد د مؤمن په ذات كي د دغه دوو عادتو نفي كول دي يعني دا بيانول مقصد دى چي مؤمن د امانت حامل دى، هغه په دوو عادتو كي نسي اخته كيداى او صحيح خبره داده چي رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په ذريعه د دوو عادتو اختيارولو څخه منع وفرمايل چي هيڅ مسلمان بايد دغه دوو عادتو ته ځاى ورنه كړي يعني خيانت او درواغ، ځكه چي دغه دوه عادتونه په حقيقت كي د ايمان او اسلام ضد دي.

﴿۴۶۴۸﴾: وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ أَنَّهُ قَالَ قِيلَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت صفوان بن سليم رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي ايا

وَسَلَّمَ أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ جَبَانًا قَالَ نَعَمْ فَقِيلَ له أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ بَخِيلًا قَالَ

مؤمن بزدل کیدلای سي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل هو، بیا پوښتنه وسول ایا مؤمن بخیل کیدلای سي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

نَعَمْ فَقِيلَ لَهُ أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ كَذَّابًا قَالَ لَا. رواه مالك والبيهقي في شعب الايمان مرسلا.

هو، بیا پوښتنه وسول ایا مؤمن درواغجن کیدلای سي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل یا، . مالک او بیهقي په شعب الایمان کي مرسلا روایت کړی دئ.

تخریج: موطا الامام مالک ۲\۹۹۰، رقم: ۱۹، والبیهقي في شعب الایمان ۴\۲۰۷، رقم: ۴۸۱۲.

تشریح: مطلب دادی چي یو مؤمن په یو وخت کي بې زړه کېدای هم سي او په یوه صورت کي بخېل کیدای هم سي مګر هغه درواغجن کیدای نسي ځکه چي د ایمان، صداقت او حقانیت د کذب خلاف دی چي د خپل اصل او نفس الامر په اعتبار ناحق او باطل دی، علماؤ لیکلي دي چي دغه حدیث هم د ذکر سوي حدیث په تشریح کي پر ذکر سوي تاویل باندي محمول دی.

په حدیث کي د کذاب لفظ د مبالغې په صیغه سره ذکر کول دې ته اشاره ده چي د بشریت د غوښتني سره سم که چیري یو وخت د مؤمن څخه درواغ وویل سي لکه څرنګه چي په ځینو صورتو کي د دنیا د یو ناجائز مقصد لپاره بلکه د مصالح او حکمت عملي سره سم درواغ ویل هم ضروري کیږئ نو داسي صورت مستثنی دی دې ته د ایمان خلاف نسي ویل کېدای.

د حضرت صفوان رحمة الله علیه یادونه

دلته د دغه حدیث د راوي حضرت صفوان رحمة الله علیه لنډه یادونه مناسب ده، د نوموړي نوم صفوان ابن سلیم زهري دی او د حضرت حمید ابن عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه ازاد سوی غلام دی، د نوموړي شمېر د مدینې منورې د مشهورو او جلیل القدر تابعینو څخه دی، د حضرت انس رضي الله عنه او نورو څخه حدیثونه روایت کوي، د الله جل جلاله صالح او بزرګ بنده وو، ویل کیږي چي هغه تر څلوېښتو (۴۰) کالو پوري خپل اړخ پر مځکه نه وو لګولی تر دې چي د مرګ په وخت کي هم ناست وو، او په همدغه حالت کي په حق ورسیدی، خلکو وویل چي د عبادت او زیاتو سجدو په وجه د هغه په مخ کي سُوری (غار) سوی وو، د قناعت یې دا حال وو چي د احتیاجې سره یې د پاچاهانو تحفې نه قبلولې، د نوموړي فضائل او مناقب ډېر زیات دی. په ۱۳۲ هجري کال کي وفات سوی دی.

د شيطان فتنه

﴿۴۶۴۹﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ إِنَّ الشَّيْطَانَ لِيَتَمَثَّلُ فِي صُوْرَةِ الرَّجُلِ

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دئ چي شيطان د يو سړي شكل غوره كړي يو قوم ته

فَيَأْتِي الْقَوْمَ فَيُحَدِّثُهُمْ بِالْحَدِيثِ مِنَ الْكَذِبِ فَيَتَفَرَّقُوْنَ فَيَقُوْلُ الرَّجُلُ

راسي او د دروا غو خبري ورته كوي بيا دا قوم خپور سي او په دوی كي يو سړی دا وايي ما د يو

مِنْهُمْ سَمِعْتُ رَجُلًا أَعْرِفُ وَجْهَهُ وَلَا أَدْرِي مَا اسْمُهُ يُحَدِّثُ. رواه مسلم.

سړي څخه چي زه د هغه صورت پيژنم نوم يې نه پيژنم دا خبره اوريدلې ده. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ١١\١٢، في المقدمة.

تشريح: د خبر څخه مراد يا خو د رسول الله ﷺ حديث دی يا مطلق يو درواغ خبر دی، د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د قول مقصد دا خبرداری وركول دي چي د حديث د اوريدو په وخت كي پوره احتياط كول پكار دي چي كوم حديث اوريدل كيږي يا نقل كيږي ايا هغه صحيح دی كه يا، همدا رنګه كه يوه خبره د يو چا څخه واوري نو تر هغه وخته پوري دي د نورو په وړاندي نه وايي تر څو چي دا تحقيق ونه كړي چي د هغه خبري بيانونكی د باور وړ او ريښتونی دی كه يا، او دا چي هغه خبره د حقيقت مطابق ده كه يا ، ذكر سوی روايت كه څه هم مرفوعا يعني د رسول الله ﷺ د ارشاد په توګه نقل سوی نه دی بلكه موقوف دی يعني حضرت ابن مسعود رضی الله عنه دا سي هيڅ خبره د رسول الله ﷺ څخه د اوريدو پرته نه سوای بيانولای ځكه دغه روايت د مرفوع حديث په حكم كي دی.

د خراب ملګري څخه ليري سه

﴿۴۶۵۰﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حَطَّانَ قَالَ أَتَيْتُ أَبَا ذَرٍ فَوَجَدْتُهُ فِي الْمَسْجِدِ

د حضرت عمران بن حطان رضی الله عنه څخه روايت دئ چي زه ابوذر رضی الله عنه ته ورغلم هغه په مسجد كي

مُحْتَبِيًّا بِكِسَاءٍ أَسْوَدَ وَحْدَهُ فَقُلْتُ يَا أَبَا ذَرٍ مَاهٰذِهِ الْوَحْدَةُ فَقَالَ سَمِعْتُ

تور څادر اغوستی يوازي ناست وو ، ما ورته وويل: اې ابوذر! دا يوازيوالی څنګه؟ ابوذر رضی الله عنه

رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَلْوَحْدَةُ خَيْرٌ مِّنْ جَلِيْسِ السَّوْءِ

وويل : ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي يوازيوالی د خراب ملګري څخه غوره دئ او

وَالْجَلِيْسُ الصَّالِحُ خَيْرٌ مِّنَ الْوَحْدَةِ وَإِمْلاَءُ الْخَيْرِ خَيْرٌ مِّنَ السُّكُوْتِ وَالسُّكُوْتُ خَيْرٌ مِّنْ إِمْلاَءِ الشَّرِّ. رواه البيهقي.

نيک ملګری د يوازيوالی څخه غوره دئ او د نيکی ښودل تر پټمي خولې غوره دئ او پټه خوله تر خراب تعليم غوره ده . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۴\۲۵۶، رقم: ۴۹۹۲.

تشريح: د حضرت ابوذر رضي الله عنه مطلب دا وو چي دا وخت هغه خاص ملګری دلته موجود نه دی چي د هغوی د نيکيو، سلامتيا او پاکی طلبګار کېدل پکار دي او پر هغوی زما باور کيدای سي ځکه نو ما دا غوره وګڼل چي دلته پټه خوله او يوازي کښېنم ، مګر کله چي داسي خلک موجود وي نو د هغوی سره کښېنم .

پټه خوله ښه عبادت

﴿۴۶۵۱﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَقَامُ الرَّجُلِ بِالصَّمْتِ أَفْضَلُ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّيْنَ سَنَةً. رواه البيهقي.

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سړو پټه خوله او سيدل د شيپتو کالو عبادت څخه غوره دي . بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب ۴\۲۴۵، رقم: ۴۹۵۳.

تشريح: لفظ د مقام د ميم په زور سره او د ميم په پيښ سره هم منقول دی مطلب دادی چي د سړي د خرابو خبرو څخه پټه خوله اختيارول او پر هغه سکوت باندي په هميشتوب سره عمل کول د هغه سړي د شپيتو کلو د عبادت څخه هم غوره او افضل دی کوم چي په ډېرو خبرو او د ژبي په بې احتياطی کي اخته وي، او د هغه عبادت د استقامت دين د روح څخه خالي وي، طيبي رحمة الله عليه د مقام معنی د الله تعالی په نزد د هغه د مرتبې ليکلې ده او د افضل کېدو دليل يې دا بيان کړی دی چي په عباداتو کي ډېر آفات هم پيښيږي او کوم څوک چي پټه خوله او سيږي نو هغه ددغه آفاتو څخه خوندي او سلامت وي ، لکه چي فرمايل سو يدي : من كان صمت نجا ، يعني کوم څوک چي پټه خوله سي نو هغه خلاصون تر لاسه کړ .

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه د دغه حديث په تشريح كي ليكلي دي چي د پټه خوله كېدو په وجه چي كومه درجه تر لاسه كيږي نو كله هغه د الله تعالى په نزد د شپېتو كالو د عبادت څخه غوره ګرځول كيږي ځكه چي هغه پټه خوله كېدل چي د هغه په دوران كي د الله تعالى ذات او صفات د هغه د قدرتونو او كائناتو په اړه د هغه په حكمت او كارسازۍ كي فكر كوي يا په ذكر خفي كي ښخته وي او روح او باطن ته د الله تعالى د ذات او صفاتو د نور څخه د رڼا تر لاسه كېدو موقع تر لاسه سي نو دغه فكر او استغراق كه څه هم د يوه ګړي په اندازه وي مګر د اندامو د هغه عبادت او طاعت څخه ډېر غوره او افضل دى كوم چي د ذهن او فكر د انتشار ، او د زړه د حاضرېدو څخه پرته په عمل كي راسي كه څه هم هغه عبادت او طاعت د كلونو په اندازه وي.

د نبي ﷺ نصيحتونه حضرت ابوذر رضي الله عنه ته

﴿۳۶۵۲﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم ، ددې

الْحَدِيْثَ بِطُوْلِهِ إِلَى أَنْ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَوْصِنِيْ قَالَ أُوْصِيْكَ بِتَقْوَى

وروسته ابوذر رضي الله عنه يو اوږد حديث بيان كړ چي (دلته ذكر نه دئ) ، (بيا يې وويل) ما وويل: اې د الله رسوله ! ما ته نصيحت وكړه ، رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل زه درته د الله جل جلاله څخه د بيري

اللهِ فَإِنَّهُ أَزْيَنُ لِأَمْرِكَ كُلِّهِ قُلْتُ زِدْنِيْ قَالَ عَلَيْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ وَذِكْرِ اللهِ

نصيحت كوم ځكه چي د الله تعالى څخه بيره به ستا په ټولو كارونو كي د ښكلا او سمون باعث وي ، ما وويل: څه نور نصيحت راته وكړه ! رسول الله ﷺ راته وفرمايل : د قرآن كريم تلاوت او

عَزَّ وَجَلَّ فَإِنَّهُ ذِكْرٌ لَّكَ فِي السَّمَاءِ وَنُوْرٌ لَّكَ فِي الْأَرْضِ قُلْتُ زِدْنِيْ قَالَ عَلَيْكَ

ذكر الهي پر ځان لازم كړه ځكه چي د الله جل جلاله ذكر په آسمان كي (د ملائكو په منځ كي) ستا د ذكر سبب دئ، او په مځكه كي د نور سبب ګرځي ، ما وويل: څه نور نصحيت راته وكړه ! رسول الله ﷺ راته وفرمايل :

بِطُوْلِ الصَّمْتِ فَإِنَّهُ مَطْرَدَةٌ لِلشَّيْطَانِ وَعَوْنٌ لَّكَ عَلَى أَمْرِ دِيْنِكَ قُلْتُ زِدْنِيْ

پټه خوله او اوږده خاموشي اختيار كړه ځكه چي خاموشي شيطان تښتوي او په ديني كارونو

کي به ستا مرستياله وي، ما وويل: يو څه نور نصيحت راته وکړه، رسول الله ﷺ راته وفرمايل

قَالَ إِيَّاكَ وَالضِّحْكِ فَإِنَّهُ يُمِيتُ الْقَلْبَ وَيُذْهِبُ بِنُوْرِ الْوَجْهِ قُلْتُ زِدْنِيْ قَالَ

د زياتي خندا څخه ځان وساته ځکه چي زياته خندا زړه مړ کوي او د مخ تازګي ليري کوي، ما وويل: څه نور نصيحت راته وکړئ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل:

قُلِ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا قُلْتُ زِدْنِيْ قَالَ لَا تَخَفْ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ قُلْتُ زِدْنِيْ قَالَ لِيَحْجُزْكَ عَنِ النَّاسِ مَا تَعْلَمُ مِنْ نَّفْسِكَ. رواه البيهقي.

رښتيا خبره کوه که څه هم چي ترخه وي، ما وويل: څه نور نصيحت راته وکړئ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل: د ديني کارونو په څرګندولو کي د چا د ملامتيا څخه مه بيريږه، ما وويل: څه نور نصيحت راته وکړه، رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي د يو چاد عيب لټولو خيال ستا په زړه کي پيداسي نو د هغه د اظهار څخه دي دا خيال تا منع کړي چي په ما کي هم عيبونه سته. بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب ۴\۲۴۲، رقم: ۴۹۴۲.

تشريح: هر هغه کار او نېکه خبره چي محض د الله تعالی د رضا او خوشحالۍ په نيت سره وسي په ذکر الله کي داخله ده، که چيري په دغه جمله (وعليک بتلاوة القرآن وذکر الله) کي د ذکر الله لفظ پر دغه معنی محمول کړل سي نو ويل کيږي چي د ذکر الله څخه مراد هغه خاص ذکر دی چي په هغه کي د کلمه توحيد يعني لااله الاالله ورد کيږي او په دې اړه په يوه حديث کي فرمايل سوي دي چي افضل الذکر لااله الاالله، يعني په ټولو ذکرو کي غوره او افضل ذکر د لااله الاالله دی، نو ويل کيږي چي ذکر سوې جمله د اسلوب بيان مظهر دی چي په هغه کي يوه خبره مخکي په عامه توګه ذکر کيږي او بيا يو داسي جزاء په خاصه توګه ذکر کيږي چي د ټولو اجزاوو څخه زياته شرف او فضيلت لري.

د ملامتيا کونکي د ملامتيا څخه مه بېرېږه: د دغه جملې په ذريعه دا تلقين ورکول کيږي چي د الله تعالی د دين د لوړتيا کومه فريضه چي پر تا عائد کيږي که د هغه په سرته رسولو کي د ټولي نړۍ څخه مخ اړول کيږي نو په هغه کي هيڅ بېره مه کوه او دا خبره ضروري وګڼه چي تا ته د دنيا د خلکو د بدۍ او تعريف څخه په بې پروا کېدو سره په هر حالت کي پر حق او صداقت باندي او د الله تعالی پر طاعت باندي ثابت قدم کېدل دي لکه څرنګه چي الله تعالی فرمايلي

دي: (و تبتل اليه تبتيلا) او د نړيوالو څخه په مخ ګرځولو سره يوازي د الله تعالی رضا او خوشحالي ته رجوع وکړه.

چي ته يې د خپل ځان په اړه پېژني: ددې مطلب دا دی چي کله ته پو هيږې چي په تا کي يو عيب دی او ستا نفس په کومو خرابيو کي اخته دی نو بيا ستا لپاره دا مناسب نه ده چي ته د نورو عيبو ته فهم وکړې او د نورو پر خرابيو ګوته پورته کړې، د امر بالمعروف او نهي عن المنكر ذمه داری پوره کولو سره بېله شکه يو څوک د هغه پر خرابۍ ترټل کيدای سي او هغه ته د سيده لاري اختيارولو نصيحت کيدای سي بلکه پر تا دا ضروري هم ده که څوک په خرابۍ کي اخته ووينې نو د هغه خرابۍ څخه د ليري کولو هڅه کوه مګر محض عيب ويل او د سپکاوی په خيال سره د يو چا خرابۍ ته ګوته مه نيسه او د هغه غيبت مه کوه بلکه پر خپلو عيبونو باندي فهم کوه او خپل ځان تر ټولو ناقص او کم ګڼه، يو چا څومره ښه ويلي دي:

غافل اند اين خلق از خود بي خبر   لا جرم گويند عيب يكديگر

ديلمي رحمة الله عليه د حضرت انس رضي الله عنه څخه دا قول نقل کړی دی: (طوبى لمن شغله عليه عن عيوب الناس)، يعني مبارکي دي وي هغه چا لره چي د هغه خپل عيب د خلکو د عيبو څخه منع کړي.

پټه خوله او ښه اخلاق

﴿۴۶۵۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَبَاذَرٍ أَلاَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ابوذر رضي الله عنه ته وفرمايل: اې ابوذر! زه تا ته

أَدُلُّكَ عَلٰى خَصْلَتَيْنِ هُمَا أَخَفُّ عَلَى الظَّهْرِ وَأَثْقَلُ فِي الْمِيْزَانِ ؟ قَالَ قُلْتُ بَلٰى

داسي دوې خبري وښيم چي ډيري اساني او لنډي دي مګر د اعمالو په ترازو کي ډيري درنې دي، ابوذر رضي الله عنه وويل: هو ضروري يې راوښيه، رسول الله ﷺ وفرمايل:

قَالَ طُوْلُ الصَّمْتِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ مَا عَمِلَ الْخَلاَئِقُ

بِمِثْلِهِمَا. رواه البيهقي.

(۱): اوږده خاموشي (۲): ښه اخلاق، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د چا په واک کي زما ساه ده د مخلوق لپاره تر دغه دوو خصلتونو بل غوره کار نسته. بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب ۴\۲۴۲، رقم: ۴۹۴۱.

تشریح: پټه خوله او سېدل او ښه اخلاق اختیارول، دغه دواړه عادتونه په دې اعتبار ډېر اسانه دي چې په پټه خوله اوسېدو کي تکلیف نه وي بلکه یو ډول راحت تر لاسه کېږي ځکه چي د ژبي په ښورولو او الفاظو ته په ترتیب ورکولو سره د جملو په ادا کولو کي د ظاهر او باطن تکلیف وي، پر دې باندي ښه اخلاق هم قیاس کیدای سي، چي نرمه وینا او ښه اخلاق کولو کي راحت او سکون وي پر خلاف د سختۍ او ترش تندي چي په هغه کي تکلیف او مشقت وي.

دابوبکر صدیق ﷺ توبه

﴿۴۶۵۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَبِيْ بَكْرٍ وَّهُوَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي ابوبکر رضي الله عنه پر خپل یو غلام لعنت وایه، په دغه

يَلْعَنُ بَعْضَ رَقِيْقِهِ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ فَقَالَ لَعَّانِيْنَ وَصِدِّيْقِيْنَ ؟ كَلَّا وَرَبِّ الْكَعْبَةِ

وخت کي رسول الله ﷺ تشریف راوړ حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته یې وکتل او وه یې فرمایل: تا لعنت ویونکي او صدیقان چیري یو ځای لیدلي دي (یعني تا داسي مسلمان لیدلی دئ چي ډېر ربښتیا ویونکی هم وي او لعنت ویونکی هم وي) د کعبې په پروردګار دي مي قسم وي

فَأَعْتَقَ أَبُوْ بَكْرٍ يَوْمَئِذٍ بَعْضَ رَقِيْقِهِ ثُمَّ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا أَعُوْدُ. روى البيهقي الأحاديث الخمسة في شعب الإيمان.

دا دواړې خبري نه سي یو ځای کیدلای، ددې په اوریدو سره په هم هغه ورځ حضرت ابوبکر رضي الله عنه خپل ځیني غلامان آزاد کړل او بیا د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او وه یې ویل: اې دالله رسوله! بیا به هیڅکله داسي نه کوم. بیهقي.

تخریج: البیهقي في شعب الایمان ۴\ ۲۹۴، رقم: ۵۱۵۴.

ژبي ته سزا

﴿۴۶۵۵﴾: وَعَنْ اَسْلَمَ قَالَ اَنَّ عُمَرَ دَخَلَ يَوْمًا عَلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ وَهُوَ يَجْبِذُ لِسَانَهُ فَقَالَ عُمَرُ مَهْ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّ هٰذَا أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ. رواه مالك.

د حضرت اسلم رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي يوه ورځ حضرت عمر رضی اللہ عنہ حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ ته راغلی ، حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ خپله ژبه په ګوتو سره نيولې وه را ايستل يې ، (يعني په ژبه يې د غضب څرګندونه کول) حضرت عمر رضی اللہ عنہ ورته وويل صبر وکړه الله جل جلالہ دي ستا مغفرت نصيب کړي (يعني داسي مه کوه) حضرت ابوکر رضی اللہ عنہ ورته وويل دغه ژبي زه د هلاکت په ځايونو کي غورځولی يم . مالک .

تخريج: موطا الامام مالک: ۲\۹۸۸، رقم: ۱۲.

د لغاتو حل: يجبذ: ای يجذب.

شپږ خبري د جنت ضمانت

﴿۴۶۵۶﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اضْمَنُوا

د حضرت عبادة بن صامت رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم وفرمايل: تاسو ضمانت راکړئ

لِي سِتًّا مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَضْمَنْ لَكُمُ الْجَنَّةَ اصْدُقُوا إِذَا حَدَّثْتُمْ وَأَوْفُوا إِذَا

ما ته د شپږو خبرو نو زه به ستاسو لپاره د جنت ضامن سم: (۱) چي خبري کوئ نو رښتيا وايا ست (۲) چي وعده وکړئ

وَعَدْتُمْ وَأَدُّوا إِذَا اؤْتُمِنْتُمْ وَاحْفَظُوا فُرُوجَكُمْ وَغُضُّوا أَبْصَارَكُمْ وَكُفُّوا أَيْدِيَكُمْ. رواه احمد والبيهقي.

نو پوره کوئ يې، (۳) کله چي امانت درسره کښښودل سي نو ادا کوئ يې ، (۴) د خپل شرمګاه ساتنه کوئ. (۵) خپل نظر کښته ساتئ (۶) خپل لاسونه په واک کي ساتئ (يعني پرچا ظلم مه کوئ) . احمد او بيهقي

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۳۲۳، والبيهقي في الشعب: ۱۴\۳۲۰، رقم: ۵۲۵۶.

د الله جل جلالہ خوښ څوک دی؟

﴿۴۶۵۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ غَنْمٍ وَاَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ

د حضرت عبد الرحمان بن غنم او بي بي اسماء بنت يزيد (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خِيَارُ عِبَادِ اللّٰهِ الَّذِينَ إِذَا رُءُوا ذُكِرَ اللّٰهُ وَشِرَارُ عِبَادِ اللّٰهِ

ﷺ وفرمایل: د الله تعالی غوره بندګان هغه دي چي د هغوی په لیدو سره سړي ته الله ﷻ ور یاد سي او د الله تعالی بد ترین بندګان هغه دي

الْمَشَّاءُونَ بِالنَّمِيمَةِ الْمُفَرِّقُونَ بَيْنَ الْأَحِبَّةِ الْبَاغُونَ الْبُرَآءَ الْعَنَتَ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

چي په خلکو کي چغلي کوي د ملګرو په منځ کي بیلوالی راولي او د پاکو خلکو څخه د فساد، ګناه، هلاکت او زنا امید ساتي. احمد او بیهقي په شعب الایمان کي.

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۲۲۷، رقم: ۱۱۱۰۸.

د لغاتو حل: الباغون: الطالبون (غوښتونکي)

تشريح: په دغه حدیث کي د غوره خلکو تعریف دا سوی دی چي د الله تعالی هغه نېک او صالح بندګان چي د الله تعالی سره د خپل تعلق او اختصاص په وجه پر داسي درجې باندي فائز کېږي چي د هغوی پر حال، عاداتو، سکناتو او حرکاتو باندي انوار ظاهرېږي او دهغوی پر مخونو د عبادت او اتباع دین هغه نښي څرګندېږي چي کله د هغوی په جمال نظر لوېږي نو بې ساخته سړي ته خدای ﷻ ور په یاد سي او زړه آواز کوي چي دا هغه نیک بندګان دي چي د کامل عبودیت حامل او د کائنات انساني خلاصه او د انوار الهي مظهر دي.

ځینو حضراتو د الله ﷻ د یادېدو دا معنی بیان کړې ده چي د خدای ﷻ داسي نیک او صالح بندګان لېدل ګویا په ذکر الله کي بوخت کېدل دي لکه څرنګه چي علماؤ لیکلي دي چي د عالم مخته کتل عبادت او سعادت دی، او په دې کي هیڅ شک نسته چي ډېره ځله د یو صالح او شیخ کامل مخ ته په کتلو سره په باطن کي داسي نورانیت محسوس کېږي چي په هغه سره زړه ځلانده سي، دا خبره د حدیث څخه هم ثابته ده، د حضرت علي ﷜ په اړه فرمایل سوي دي چي: (النظر علی وجه علي عبادة) یعني د علي ﷜ مخ ته کتل عبادت دي او نقل سوي دي چي کله به حضرت علي ﷜ د کور څخه ووتی او د خلکو نظر به د هغه د مخ پر نور باندي ولویدی نو دغه الفاظ به د هغوی پر ژبه راتلل: لااله الاالله ما اشرف هذا الفتی، لااله الاالله ما اکرم هذا الفتی، لااله الاالله ما اعلم هذا الفتی، لااله الاالله ما اشجع هذا الفتی، یعني د حضرت علي ﷜ لېدل به د کلمه توحید د ورد سبب جوړیدی.

غيبت كول روژه ماتوي

﴿۴۶۵۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَجُلَيْنِ صَلَّيَا صَلاَةَ الظُّهْرِ أَوِ الْعَصْرِ وَكَانَا

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي دوو روژه نيونكو د ماپښين يا مازديگر لمونځ

صَائِمَيْنِ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلاَةَ قَالَ أَعِيدَا وَضُوْءَ كُمَا

وكړ ، كله چي رسول الله ﷺ لمونځ وكړ نو هغوى ته يې وفرمايل : ولاړ سئ دويم وار اودس

وَصَلاَتَكُمَا وَامْضِيَا فِيْ صَوْمِكُمَا وَاقْضِيَا يَوْمًا آخَرَ قَالاَ لِمَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ؟ قَالَ

اِغْتَبْتُمْ فُلاَنًا. رواه البيهقي.

وكړئ او لمونځ وكړئ او خپله روژه پوره كړئ او په دويمه ورځ قضا روژه ونيسئ ، هغوى وويل: اې د الله رسوله ! ولي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : تاسو د فلاني سړي غيبت وكړ . بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب ۵\ ۳۰۳، رقم: ۶۷۲۹.

تشريح: د دغه حديث څخه په ښكاره دا معلوميږي چي غيبت اودس او روژه ماتوي مګر علماؤ ليكلي دي چي دغه حديث په اصل كي د غيبت د بدوالي د سختۍ او د غيبت كونكي په اړه د سخت خبرداري په توګه ارشاد فرمايل سوى دى، كنه په حقيقت كي په غيبت سره روژه او اودس نه ماتيږي مګر د غيبت په وجه د اودس او روژې كمال او ثواب خامخا ضائع كيږي مګر د حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه په نزد غيبت روژه فاسدوي ، په هر حال د حديث څخه دا خبره څرګنديږي چي د غيبت بدوالي او خرابي ډېره زياته ده بلكه علماؤ دا هم ليكلي دي كه يو سړى ډېر زيات وخاندي يا يو ښوك ډيري پالتو خبري وكړي نو د هغه لپاره مستحب دي چي هغه دوهم وار اودس وكړي چي هغه ظلمت زائل سي كوم چي په ډېره خندا او پالتو خبرو سره د هغه پر باطن خپور سوى دى او روژه دار بايد د غيبت څخه په پوره توګه پرهېز وكړي .

غيبت تر زنا سخت دئ

﴿۴۶۵۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ وَّجَابِرٍ قَالاَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد او جابر (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

اَلْغَيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ وَكَيْفَ الْغَيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا ؟ قَالَ

غيبت تر زنا بد تر دئ ، صحابه كرامو وويل: اې دالله رسوله غيبت تر زنا څنګه زيات خراب كيدلاى سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

إِنَّ الرَّجُلَ لَيَزْنِيْ فيتوب فَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلَيْهِ ، وَفِيْ رِوَايَةٍ فَيَتُوْبُ فَيَغْفِرُ اللّٰهُ لَهُ

سړى چي زنا وكړي بيا توبه وكاږي الله تعالى د هغه توبه قبلوي ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي بيا زنا كار توبه وباسي او الله تعالى هغه وبخښي

وَإِنَّ صَاحِبَ الْغَيْبَةِ لَا يُغْفَرُ لَهُ حَتّٰى يَغْفِرَهَا لَهُ صَاحِبُهُ. وَفِيْ رِوَايَةِ أَنَسٍ قَالَ

مګر الله تعالى غيبت كونكى نه بخښي تر څو پوري چي هغه سړى يې معاف نه كړي د چا چي يې غيبت كړى وي ، او د انس ﷛ په روايت كي دا الفاظ دي چي

صَاحِبُ الزِّنَا يَتُوْبُ وَصَاحِبُ الْغَيْبَةِ لَيْسَ لَهُ تَوْبَةٌ. روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإِيْمان.

زناكاره توبه كاږي او د غيبت كونكى لپاره توبه نسته . بيهقي دا درې سره حديثونه په شعب الايمان كي روايت كړي دي .

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٥\٣٠٦، رقم: ٦٧٤١.

تشريح: او د غيبت كونكي لپاره توبه نسته : دغه جمله په دې اعتبار فرمايل سوې ده چي كوم څوک په زنا كي اخته كيږي نو د هغه پر زړه باندي د الله ﷻ خوف خپرېږي او په دې تصور سره رېږي كه چيري الله تعالى مؤاخذه وكړل نو د خلاصون لار به تر لاسه نه كړي ځكه هغه پر خپل دغه خراب كار باندي په شرمنده كېدو سره توبه كوي ، او غيبت كه څه هم د الله تعالى په نزد د لوى ګناه شي دى مګر غيبت كونكى هغه يو معمولي شى ګڼي ځكه چي كله يوه خرابي عامه سي نو د هغه قباحت د زړه څخه وځي او خلک په هغه كي د اخته كېدو خرابي نه محسوس كوي ، يا دا خبره د امكان څخه ليري نسي كيداى چي غيبت كونكى د غيبت كول خراب كار ونه ګڼي بلكه هغه جائز او حلال وګڼي او همدارنګه هغه د كفر په شېله كي ولوېږي ، يا د دغه جملې دا معنى ده چي غيبت كونكى توبه كوي نو د هغه توبه بذات خود په كار نه ورځي بلكه د هغه توبې صحيح او مقبول كېدل د هغه سړي پر رضا مندۍ او د هغه له لوري پر معافۍ باندي موقوف دى د چا چي يې غيبت كړى دى نو د ذكر سوي حديث څخه دا څرګنديږي .

د غیبت کفاره

﴿۴۶۶۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ كَفَّارَةِ الْغِيْبَةِ أَنْ تَسْتَغْفِرَ لِمَنِ اغْتَبْتَهُ تَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلَهُ. رواه البيهقي في الدعوات الكبير وقال في هذا الإسناد ضعف

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د غيبت كفاره داده چي د كوم سړي تا غيبت كړى وي د هغه څخه بخښنه وغواړې او داسي ووايې چي اې الله! موږ و بخښې او هغه و بخښې. بيهقي ويلي دي چي ددې حديث په سند كي كمزوري ده.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٣٠٦١٥، رقم: ٦٧٤٢.

تشريح: د دعاء او مغفرت د الفاظو څخه دا څرګنديږي چي غيبت كونكى دي لومړى په خپل اړه د مغفرت دعاء وكړي، په دې كي نكته داده چي د استغفار كونكي په اړه د الله تعالى وعده داده چي د هغه دعاء او مغفرت به قبليږي نو غيبت كونكى چي لومړى د خپل ځان په اړه استغفار وكړي او د هغه په نتيجه كي هغه ددغه معصيت څخه پاک سي نو د بل چا په اړه به هم د هغه دعاء او مغفرت قبول سي.

په (اغفرلنا) كي د جمع متكلم صيغه د هغه صورت په اعتبار ده كله چي د غيبت صدور هم دخلكو څخه سوى وي يعني كه چيري غيبت كونكي څو خلک وي نو ټول همدارنګه دعاء وغواړي او كه غيبت كونكى يو سړى وي نو بيا به د اغفرلي الفاظ استعمالوي يا دا مراد دى چي استغفار كونكى دى په خپل دعاء او مغفرت كي ټول مسلمانان شامل كړي، په دغه صورت كي به د دعاء معنى دا وي چي اې الله! موږ ټول مسلمانان او دغه سړى (چي ما يې غيبت كړى دى) و بخښې، په ښكاره دا معلوميږي چي د مغفرت دعاء كول د هغه صورت سره متعلق ده كله چي د هغه غيبت خبر هغه سړي ته نه وي رسيدلى د چا چي غيبت سوى دى او كه چيري دا صورت وي چي د كوم چا غيبت سوى دى هغه ته معلومه سوې وي چي فلاني سړي زما غيبت كړى دى نو د غيبت كونكي لپاره دا ضروري ده چي د هغه سړي څخه معافي وغواړي په دې توګه چي لومړى دى هغه ته ووايي چي ما ستا په غيبت كي داسي ويلي دي او بيا دي د هغه څخه معافي وغواړي او كه غيبت كونكي د يو مجبورى او عذر په وجه داسي نسي كولاى نو بيا دي دا اراده وكړي چي كله كيداى سي د هغه څخه معافي وغواړي، ددې څخه وروسته كله

چي د هغه شخه معافي ترلاسه کړي نو د دغه ذمه دارۍ شخه به خلاص سي او د هغه غيبت په اړه به پر هغه مؤاخذه پاته نسي مگر که چيري هغه د معافي ترلاسه کولو شخه بالکل عاجز سي په دې سبب چي د کوم چا غيبت يې کړی دی هغه مړ سوی وي يا دومره ليري تللی وي چي د هغه سره د ليدني امکان نه وي نو په دغه صورت کي د هغه لپاره دا ضروري ده چي د الله تعالی شخه مغفرت او بخښنه وغواړي او د هغه د فضل او کرم شخه دا اميد وساتي چي هغه سړی به د هغه له خوا راضي کړي.

فقيه ابو الليث رحمة الله عليه وايي: علماؤ د غيبت کونکی د توبې په اړه کلام کړی دی چي ايا د هغه لپاره دا جائز دي که يا چي هغه د چا غيبت کړی وي نو د هغه شخه د معافي ترلاسه کولو پرته توبه وکړي، ځينو علماؤ دې ته جائز ويلي دي حال دا چي زموږ په نزد ددې دوه صورتونه دي يو خو دا که چيري د هغه د غيبت خبر هغه ته رسيدلی وي د چا چي يې غيبت کړی دی نو د هغه توبه داده چي د هغه شخه معافي وغواړي او دوهم دا که چيري هغه سړي ته د هغه غيبت خبر نه وي رسيدلی نو په دغه صورت کي دي هغه د الله تعالی شخه مغفرت او بخښنه غواړي او په زړه کي دي دا عهد وکړي چي بيا به داسي کار نه کوم،

بيهقي رحمة الله عليه دغه روايت ضعيف گرځولی دی مگر ددې ضعيف کېدل د حديث پر اصل مفهوم باندي اثر نه کوي ځکه چي په فضائلو او اعمالو کي د ضعيف حديث شخه استدلال کول هم کافي کيږي ددې شخه پرته په جامع صغير کي همدارنگه حديث د حضرت انس رضي الله عنه شخه منقول دی چي دغه روايت ته تقويت ورکوي د هغه حديث الفاظ دادي چي: كفارة من الغيبة ان تستغفر له، يعني د غيبت کفاره داده چي د هغه سړي لپاره د مغفرت دعاء وکړل سي د چا چي غيبت سوی وي.

========

بَابُ الْوَعْدِ (**دوعدې بيان**)

د وَعدٌ معنی د قول او اقرار ده، وعده کول يعني يو چا ته د مثال په توگه داسي ويل چي ستا فلانی کار به وکړم، يا به تا ته راسم، يا ستا سره به خوراک وخورم او داسي نور، څرگنده دي وي چي لفظ د وعد د خير او شر دواړو سره متعلق جملو کي استعمالېدای سي په شرط ددې چي په هغه جمله کي د خير او شر لفظ ذکر سوی وي لکه چي ويل کيږي: وعدته خيرا يا

وعدته شرا، او كه چيري د خير يا شر لفظ مذكور نه وي نو په خير كي به د وعد لفظ استعماليږي او په شر كي به د وعيد او ايعاد لفظ استعماليږي.

د عهد پوره كول د انسانيت مظهر او د اسلامي اخلاقو يو بنيادي تقاضا ده، ددې پر خلاف بدعهدي او وعده خلافي يو ډېر لوى عيب دى كوم شوك چي خپل عهد نه پوره كوي او د خپلي وعدې وفا نه كوي نو هغه د اسلام او ټولني دواړو په نظر كي ډېر سخت ناخوښه ګڼل كيږي، نو په دغه باب كي د دغه موضوع سره اړوند حديثونه نقل كيږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

د رسول ﷺ وعده يې پوره كړه

﴿۴۶۶۱﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ أَبَا بَكْرٍ مَالٌ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته كله چي حضرت

مِنْ قِبَلِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَضْرَمِيِّ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ مَنْ كَانَ لَهُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

ابوبكر صديق رضي الله عنه ته د علاء بن حضرمي د طرفه مال راغلى نو حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه خلكو ته وويل د چا چي پر رسول الله ﷺ څه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَيْنٌ أَوْ كَانَتْ لَهُ قِبَلَهُ عِدَةٌ فَلْيَأْتِنَا قَالَ جَابِرٌ فَقُلْتُ وَعَدَنِي

پور وي يا د چا سره رسول الله ﷺ څه وعده كړې وي هغه دي موږ ته راسي (چي موږ هغه پور يا وعده ور كړو) د جابر رضي الله عنه بيان دئ چي زه حاضر سوم او وه مي ويل

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُعْطِيَنِي هٰكَذَا وَهٰكَذَا فَبَسَطَ يَدَيْهِ ثَلَاثَ

چي رسول الله ﷺ زما سره وعده كړې وه چي ما ته دومره دومره او دومره راكړې يعني درې واره

مَرَّاتٍ قَالَ جَابِرٌ فَحَثَا لِي حَثْيَةً فَعَدَدْتُهَا فَإِذَا هِيَ خَمْسُ مِائَةٍ قَالَ خُذْ مِثْلَيْهَا. متفق عليه.

دواړه ډك لاسونه (د مال څخه) جابر رضي الله عنه وايي: حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ما ته يو ډكه لپه نقد زر راكړل كله چي ما شمير كړل نو هغه پنځه سوه وې بيا يې وفرمايل پنځه سوه پنځه سوه

دوه واره نور وشميره .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۴۷۴، رقم: ۲۲۹٦، ومسلم ۴\ ۱۸۰٦، رقم: ٦۰- ۲۳۱۴.

د لغاتو حل: عِدة: اى وعد (وعده)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۴٦٦۲﴾: عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْيَضَ قَدْ شَابَ وَكَانَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ يُشْبِهُهُ وَأَمَرَ لَنَا بِثَلَاثَةَ عَشَرَ قَلُوصًا فَذَهَبْنَا نَقْبِضُهَا فَأَتَانَا مَوْتُهُ فَلَمْ يُعْطُونَا شَيْئًا فَلَمَّا قَامَ أَبُو بَكْرٍ قَالَ مَنْ كَانَتْ لَهُ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِدَةٌ فَلْيَجِئْ فَقُمْتُ إِلَيْهِ فَأَخْبَرْتُهُ فَأَمَرَ لَنَا بِهَا . رواه الترمذي.

د حضرت ابو جحيفه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ وليدئ چي سپين رنګ (سپين ږيرتوب) پر څرګند سوی وو او حسن بن علي رضي الله عنه د رسول الله ﷺ زيات مشابه وو، رسول الله ﷺ موږ ته د ديارلسو ځوانو اوښانو راکولو حکم کړی وو، موږ د اوښانو راوستلو لپاره ورتلو چي په دغه وخت کي د رسول الله ﷺ د وفات خبر راغلئ او موږ ته هيڅ هم را نه کړل سول،، بيا کله چي حضرت ابو بکر رضي الله عنه خليفه سو نو هغه اعلان وکړ د چا سره چي رسول الله ﷺ د څه ورکولو وعده کړې وي هغه دي موږ ته راسي نو زه حاضر سوم او د پيښي څخه مي خبر کړ نو هغه د اوښانو راکولو حکم وکړ . ترمذي .

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۱۱۸، رقم: ۲۸۲٦.

د لغاتو حل: قلوصا: اى ناقة شابة (ځوانه اوښه.).

﴿۴٦٦۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي الْحَمْسَاءِ قَالَ بَايَعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبد الله بن ابي الحمساء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د نبي کريم ﷺ د نبي کېدو څخه

وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يُبْعَثَ وَبَقِيَتْ لَهُ بَقِيَّةٌ فَوَعَدْتُهُ أَنْ آتِيَهُ بِهَا فِي مَكَانِهِ

مخكي ما يو شی ځيني رانيولی وو چي د هغه يو څه پيسې پر ما پاته سوې ما د رسول الله ﷺ سره وعده وکړې وه چي زه به پاته قيمت تاسو ته پر دې ځای درکوم،

فَنَسِيتُ فَذَكَرْتُ بَعْدَ ثَلَاث فَإِذَا هُوَ فِي مَكَانِهِ فَقَالَ لَقَدْ شَقَقْتَ عَلَيَّ أَنَا هَاهُنَا مُنْذُ ثَلَاثٍ أَنْتَظِرُكَ. رواه ابوداؤد.

زما څخه هغه وعده هيره سوه په دريمه ورځ ما ته خبره را ياده سوه نو پاته قيمت مي هغه ځای ته ورسوئ د کوم ځای چي مي ورسره وعده کړې وه ، ما وليدل چي رسول الله ﷺ پر هغه ځای ناست دئ زما په ليدو سره رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل تا زه په لوی زحمت کي اخته کړم زه د درو ورځو څخه دلته انتظار کوم. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۶۸، رقم: ۴۹۹۶.

تشريح: علماؤ ليکلي دي چي د رسول الله ﷺ دومره اوږد انتظار کول او د تکليف زغمل د هغه شي د پاته بيي تر لاسه کولو لپاره نه وو بلکه د دې احساس لپاره وو چي کله عبدالله رضي الله عنه د پاته روپو په اخيستلو سره دلته د راتلو وعده کړې وه او د هغه وعدې په جواب کي زما له خوا هم دا وعده وه چي زه به همدلته يم نو تر څو چي هغه نه راسي د ايفاء عهد له کبله ما ته دلته په کښېنستو سره انتظار کول پکار دي، په دې اعتبار سره رسول الله ﷺ د خپل عمل په ذريعه امت ته دا تعليم ورکړ چي وعده په هر صورت کي پوره کول پکار دي که څه هم د هغه لپاره ډېر زحمت او تکليف زغمل وي ، څرګنده دي وي چي د اسلام د دين څخه مخکي هم په ټولو اديانو کي د وعدې پوره کولو محافظت کړل سی دی ، الله جل جلاله د حضرت ابراهيم عليه السلام په مدح او تعريف کي داسي فرمايلي دي : (وابراهيم الذي وفی).

﴿۴۶۶۴﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا وَعَدَ الرَّجُلُ أَخَاهُ وَمِنْ نِيَّتِهِ أَنْ يَفِيَ لَهُ فَلَمْ يَفِ وَلَمْ يَجِئْ لِلْمِيعَادِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ.

رواه ابوداؤد والترمذي.

د حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي يو سړی د خپل ورور سره وعده وكړي او د هغه دا نيت وي چي هغه پوره كړي مگر په يو وجه هغه پوره نه سي نو پر هغه څه گناه نه سته . ابو داؤد او ترمذي.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۶۸، رقم: ۴۹۹۵، والترمذي ۵\۲۱، رقم: ۲۶۳۳.

تشريح: ددې څخه څرگنده سوه چي يو سړی د وعدې پوره كولو د نيت درلودو سربېره هغه وعده پوره نه كړای سي نو هغه گناه كار نه دی ، دلته دا خبره هم څرگندېږي كه چيري يو سړی يو وعده وكړي او نيت يې دا وي چي وعده به نه پوره كوم نو هغه گناه كار دی كه څه هم هغه وعده پوره كړي يا نه، ځكه چي په ژبه سره وعده كول او په زړه كي د هغه د خلاف كولو اراده كول د منافقانو عادت دی .

ځينو علماؤ ليكلي دي چي پرته د امر مانع وعده خلافي كول حرام دي او د ذكر سوي ارشاد مراد همدغه دی ، په مجمع البحار كي ليكلي دي چي د علماؤ پر دې اتفاق دی كه چيري يو سړی د يو منع كار وعده وكړي نو د هغه وعدې پوره كول نه دي پكار .

د وعدې پوره كول واجب دي كه مستحب ؟

د فقهي د امامانو په دې خبره كي اختلاف دی چي ايا د وعدې پوره كول واجب دي كه مستحب؟ جمهور علماء سره د امام اعظم ابو حنيفة او امام شافعي رحمة الله عليهم وايي چي د وعدې پوره كول مستحب دي او نه پوره كول يې سخت مكروه دي ، مگر گناه نه ده ، ددې پر خلاف د يو ډلي قول دا دی چي د وعدې پوره كول واجب دي، حضرت عمر بن عبد العزيز رحمة الله عليه هم په دغه ډله كي شامل دی . نقل سوي دي چي د حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه دا معمول وو چي كله به يې د يو چا سره وعده كول نو انشاء الله به يې ويل، او د رسول الله ﷺ په اړه هم نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ به د عسى لفظ وايه .

د كوچني سره هم وعده پوره كړئ

﴿۴۶۶۵﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَامِرٍ قَالَ دَعَتْنِي أُمِّي يَوْمًا وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عبد الله بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو ورځ زما مور زه راوغوښتلم او په دغه وخت كي رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ فِي بَيْتِنَا فَقَالَتْ هَا تَعَالَ أُعْطِيكَ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

زموږ په کور کي ناست وو او وه يې ويل (زما مور) دلته راسه زه يو شی درکوم ، رسول الله ﷺ

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا أَرَدْتِ أَنْ تُعْطِيهِ قَالَتْ اردت ان أُعْطِيهِ تَمْرًا فَقَالَ لَهَا

زما د مور ښخه پوښتنه وکړه تا ده ته د څه ورکولو اراده کړې ده ، هغې وويل ما ديوې خرما ورکولو خيال کړی وو ، رسول الله ﷺ هغې ته وفرمايل

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّكِ لَوْ لَمْ تُعْطِهِ شَيْئًا كُتِبَتْ عَلَيْكِ كِذْبَةٌ . رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان.

که تا ده ته څه نه وای ورکړي نو ستا په عمل نامه کي به پر تا باندي دروغ ليکل سوی وای (يعني په دروغجنو کي به داخله سوې وای). ابوداؤد او بيهقي.

تخريج: سنن ابي داود ٦\ ٢٦٥، رقم: ٤٩٩١، والبيهقي في شعب الايمان ١٤\ ٢١٠، رقم: ٤٨٢٢.

تشريح: دغه پېښه د حضرت عبد الله ابن عامر ؓ د وړکتوب ده چي د هغه مور هغه ته آواز وکړ او د يو شي د ورکولو وعده يې ورسره وکړه نو رسول الله ﷺ پوه سو چي خپل کوچني ته محض د غولولو لپاره خبري کيږي او د هغه سره د دروغو وعده کيږي يا د هغه د بېرولو لپاره د خوفناکه شيانو ذکر ورته کيږي او دلته د هغه خبرو حقيقي مفهوم مراد نه دی نو رسول الله ﷺ د حضرت عبد الله ؓ د مور ښخه په دې اړه د خبرداره کولو لپاره ذکر سوی سوال وکړ.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

دلمانځه په وجه بې قولي

﴿٤٦٦٦﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ وَعَدَ رَجُلاً فَلَمْ يَأْتِ أَحَدُهُمَا إِلَى وَقْتِ الصَّلَاةِ وَذَهَبَ الَّذِيْ جَاءَ لِيُصَلِّيْ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ . رواه رزين.

د حضرت زيد بن ارقم ؓ ښخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چي د يو چا سره يو وعده وکړي او په دواړو کي يو د لمانځه تر وخته رانغلی او دغه بل سړی د لمانځه لپاره ځيني ولاړی نو پر دغه (نفر چي لمانځه ته ولاړی) ګناه نه سته . رزين.

تخريج: رواه رزين.

تشريح: د دغه ارشاد وضاحت دا دی چي د مثال په توګه دوه کسان د يو بل سره يو ځای کيږي، ددې وعدې مطابق په هغوی دواړو کي يو سړی پر ټاکلي وخت رسيدو سره د بل سړي په انتظار کي ناست وو اوس نو انتظار يې ونه کړ او د لمانځه لپاره ولاړ سي نو هغه ته به وعده خلافه نه ويل کيږي او پر هغه به هيڅ ګناه نه وي ځکه چي لمانځه ته تلل د دين د ضرورت څخه دی مګر که چيري هغه د لمانځه د وخت کېدو څخه مخکي د هغه ځای څخه ولاړ سي نو بېله شکه هغه ته به وعده خلاف ويل کيږي او د وعده خلافۍ بدي به د هغه پر ذمه وي همدارنګه که چيري يو ضروري کار پېښ سي لکه د خوراک او څښباک وخت سي يا د تشو او ډکو بولو حاجت سي يا دا ډول بل حقيقي عذر پېښ سوی وي نو په دغه صورت کي هم د نور انتظار کولو څخه پرته د وخت څخه مخکي تلل جائز دي.

==========

بَابُ الْمِزَاحِ

(د خوش طبعي (مسخرو) بيان)

مِزاح د ميم په زېر سره مصدر دی او معنی يې د خوش طبعي، خندا او مسخرو ده، او د ميم په پېښ سره يعني مُزاح اسم مصدر دی چي د هغه معنی د خوش طبعۍ او ظرافت ده.

په عربي کي د مزاح اطلاق پر هغه خوش طبعۍ او خندا باندي کيږي چي په هغه کي د يو چا د زړه ماتېدو او تکليف رسوني اړخ نه وي، ددې پر خلاف د کومي خوش طبعۍ او خندا و مسخرو تعلق چي د زړه ماتېدو او تکليف رسوني سره وي هغه ته سخريه وا ي.

په يوه حديث کي دا فرمايل سوي دي چي: لا تمار اخاك ولا تمازحه، يعني د خپل مسلمان ورور سره جګړه او فساد مه کوه، او مه د هغه سره خندا او مسخرې کوه. نو علماؤ ليکلي دي چي هغه مسخرې منع دي چي په هغه کي د حد څخه تجاوز وکړل سي او هغه عادت جوړ کړل سي ځکه چي هر وخت په مسخرو کي اخته کېدل او په هغه کي د حد څخه تجاوز کول د ډېري خندا او قهقهه کولو باعث کيږي، قلب او ذهن په سختۍ او بې حسۍ کي اخته کوي، د ذکر الله څخه غفلت راولي، ددين په مهماتو کي د غور او فکر څخه منع کوي او زيات وختونه ددې انجام تکليف رسول او په خپلو کي د بغض او عناد صورت جوړوي ددې څخه پرته دا هم حقيقت دی چي کوم څوک هر وخت خندا او مسخرې کوي نو د هغه شخصيت متاثر او مجروح کيږي

چي نه د هغه د بد به قائمه پاته کيږئ او نه د هغه عظمت او وقار پاته کيږي ، د دې برعکس کومي مسخرې چي په حد کي دننه او کله نا کله وي نو هغه نه يوازي دا چي مباح دي بلکه د صحت مزاج او خوش طبعی علامه هم ده ، رسول الله ﷺ به مزاح او ظرافت اختيار وی چي د هغه څخه به د رسول الله ﷺ مقصد د زړه خوشحاله کېدل او په خپلو کي د ميني او موانست د جذباتو مستحکم کول وو ، او داسي کول سنت مستحبه دي او که چيري دلته دا سوال واقع سي چي دغه خبره د هغه روايت مخالف ده چي په هغه کي حضرت عبد الله ابن حارث رضي الله عنه بيان کړی دی چي : ما رايت احدا اکثر مزاحا من رسول الله ﷺ ، يعني ما د رسول الله ﷺ څخه زيات مسخرې کونکی هيڅوک نه دی ليدلی ، نو د هغه جواب به په لنډه توګه دا وي چي د زيات مزاح او ظرافت منع په دې وجه ده چي په دې سره پر نفس باندي واک نه پاته کيږي او څرګنده ده چي د رسول الله ﷺ برابر هيڅوک پر نفس باندي زيات واک نسي درلودلای نو دغه شی (يعني زيات مزح کول) د هغه امورو څخه دی چي يوازي د رسول الله ﷺ د ذات مبارک سره خاص دی او نورو ته د هغه څخه ځان ساتل غوره دي ، د دې تائيد د ترمذي د هغه روايت څخه هم کيږي چي مخکي به راسي ، چي صحابه کرامو وويل : اې د الله رسوله ! تاسو زموږ سره مزاح کوئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : زه په مزاح کي ريښتيا وايم ، خلاصه دا چي د زيات مزاح کولو د منع تعلق د رسول الله ﷺ څخه پرته د نورو خلکو سره دی مګر که چيري يو سړی پر حد باندي قائم وي او پر خپل نفس واک ولري او د اعتدال د لاري څخه په منحرف کېدو باندي قادر وي نو هغه به هم د دغه منع څخه مستثنی وي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د نبي ﷺ خوش طبعي

﴿۴۶۶۷﴾ : وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ إِنْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُخَالِطُنَا حَتّٰى يَقُولَ لِأَخٍ لِي صَغِيرٍ يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ يَلْعَبُ بِهِ فَمَاتَ. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به زموږ سره خوش طبعي هم کول تر دې چي زما کشر ورور ته به يې دا ويل : عمير ستا نغير څه سو (نغير د يو مرغه نوم دئ لکه بلبله) د انس ورور عمير به په هغه بازی کولې او هغه مړه سوې وه . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٥٢٦، رقم: ٦١٢٩، ومسلم ٣\١٦٩٢، رقم: ٣٠- ٢١٥٠.

د لغاتو حل: النغير: طائر يشبه العصفور، احمر المنقار (د چوغكي غوندي يو مرغه.)

تشريح. حضرت انس رضي الله عنه د خپل كشر ورور ذكر كړى دى چي د هغه نوم كبشه وو او هغه دده اخيافي (په مور كډه) ورور وو، د هغه د پلار نوم ابوطلحه ابن زيد ابن سهيل انصاري وو.

نُغَير، تصغير دى د نَغَرٌ چي د يوه كوچني مرغه نوم دى چي د هغه مښوكه سره وي، ځينو حضراتو ويلي دي چي د هغه مرغه سور سر وي او ځينو ويلي دي چي د مدينې خلكو به هغه ته بلبله ويل، كيداى سي چي دا هغه مرغه وي چي موږ لال ورته وايو.

د حضرت انس رضي الله عنه كوچني ورور كبشه به هغه مرغه رسول الله ﷺ ته راوړى لكه څرنګه چي كوچنيانو په مرغانو او نورو شيانو سره لوبي كوي او هغه د ځان سره ساتي، يوه ورځ ناڅاپه هغه مرغه مړ سو او ددې څخه وروسته چي كله به د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو نو رسول الله ﷺ به د مسخرو په توګه هغه ته ويل اې ابوعمير! ستا هغه نغير څه سو، يعني رسول الله ﷺ به د هغه د مخاطب كولو په وخت كي په خوش طبعۍ سره د تفنن كلام اسلوب هم اختيار وى يعني د نغير په مناسبت سره او ددغه لفظ د قافيې په توګه د ابوعمير د كنيت په ذريعه يې هم مخاطب كوى.

ددغه حديث څخه معلومه سوه چي كوچنيانو ته په مرغانو او نورو شيانو سره لوبي كول جائز دي په شرط ددې چي هغو ته تكليف ونه رسوي او ددې څخه معلومه سوه چي د يو كوچني كنيت ټاكل جائز دي او دا په دروغو كي داخل نه دي بلكه نېك فالي ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿٤٦٦٨﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا قَالَ إِنِّي لَا أَقُولُ إِلَّا حَقًّا. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي صحابه كرامو وويل: اې دالله رسوله! تاسو زموږ سره خوش طبعي كوئ، رسول الله ﷺ وفرمايل هو مګر (په دې خوش طبعي كي) زه رښتيا خبره كوم. ترمذي،

تخريج: سنن الترمذي ٤\٣١٤، رقم: ١٩٩٠.

تشريح: په ښکاره دا معلوميږي چې رسول الله ﷺ، صحابه کرام د زياتي خندا او مسخرو څخه منع کړل مګر ددې څخه وروسته هم هغوی ذکر سوی سوال وکړ، نو رسول الله ﷺ هغوی ته جواب ورکړ چې د خندا او مسخرو منع په دې وجه ده چې په هغه کي په عامه توګه درواغ او غير شرعي خبري واقع کيږي او څرګنده ده چې په تاسو کي هيڅوک پر دې قادر نه دی چې د هغه خندا او مسخرې درواغ او لا يعني خبرو څخه پاک وي ځکه چې تاسو معلوم نه ياست مګر الله تعالى زه معصوم (د ګناهو څخه پاک) ګرځولی يم او زه يې پر دې قادر کړی يم چې کله کله زما په خندا او مسخرو کي د درواغو آميزش وي نو هغه ناجائز ده همدا وجه ده چې رسول الله ﷺ به هيڅکله داسي مسخرې نه کولې چې په هغو کي به د درواغو او نامناسب خبره وه او د خندا او مسخرو خبره که چيري د حقيقت په اعتبار پر درواغو مبني نه وي نو هغه جائز ده مګر ددې سربېره خندا او مسخرې عادت جوړول نه دي پکار ځکه چې په دې وجه دبدبه او وقار ختميږي.

﴿۴۶۶۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا اسْتَحْمَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي حَامِلُكَ عَلَى وَلَدِ النَّاقَةِ فَقَالَ مَا أَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ وَهَلْ تَلِدُ الْإِبِلَ إِلَّا النُّوقُ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې يو سړي د رسول الله ﷺ څخه سپرلۍ وغوښتل، رسول الله ﷺ وفرمايل زه به د سپرلۍ لپاره د اوښي بچی درکړم، هغه سړي وويل زه به د اوښي په بچي څه وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل اوښ خو د اوښي څخه زيږي. (يعني اوښ خو هم د اوښي بچی وي که يا). ابوداؤد او ترمذي.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۷۰، رقم: ۴۹۹۸، والترمذي ۴\ ۳۱۴، رقم: ۱۹۹۱.

تشريح: هغه سړي دا ګڼلي وه چې د اوښي د بچي څخه مراد هغه کوچنی بچی مراد دی چې د سپرلۍ وړ نه وي مګر د رسول الله ﷺ مراد دا وو چې د سپرلۍ وړ کوم اوښ وي هغه خو هم د اوښي بچی وي نو رسول الله ﷺ د هغه سړي په طلب ذکر سوی ارشاد د خوش طبعۍ په توګه وفرمايه او بيا يې د هغه پر حيرانتيا جواب ورکړ چې د هغه په ذريعه نه يوازي د مفهوم حقيقت ادا کړي بلکه دې ته يې هم اشاره وفرمايل که تا دلږ عقل څخه کار اخيستی وای نو زما د خبري ژورالي ته به دي د رسېدو هڅه کړې وای نو په دغه حيرانتيا کي به نه لوېدی او پر حقيقي

مفهوم باندي به په خپله پوه سوی وای نو په دغه ارشاد كي يو ازي خوش طبعي نه وه بلكه دې ته متوجه كول هم مقصد وو چي اورېدونكى بايد په هغه خبره كي غور او فكر وكړي كوم چي هغه ته ويل سوې ده او بې فكر سوال او جواب دي نه كوي بلكه مخكي دي په هغه خبره د پوهېدو هڅه وكړي او د فكر څخه وروسته دي مخته ځي .

خوش طبعي

﴿۴۶۷۰﴾: وَعَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ يَا ذَا الْأُذُنَيْنِ. رواه ابوداؤد والترمذي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يوه ورځ رسول الله ﷺ ده ته وويل : اې د دوو غوږو خاونده . ابوداؤد او ترمذي.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۷۲، رقم: ۵۰۰۲، والترمذي ۴\۳۱۵، رقم: ۱۹۹۲.

تشريح: رسول الله ﷺ چي حضرت انس رضي الله عنه د دوو غوږو والا په ذريعه مخاطب كړی نو په دې كي خوش طبعي او ظرافت وو او په هغه كي د دغه تعريف او توصيف اظهار هم مقصد وو چي ته ډېر فهيم او ذكي يې او تا ته چي كومه خبره ويل كيږئ هغه ته په ښه ډول اورې .

سپين سري جنت ته نه ځي

﴿۴۶۷۱﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِاِمْرَأَةٍ عَجُوْزٍ إِنَّهُ لاَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يوې سپين سرې ته وفرمايل : سپين سري

تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَجُوْزٌ فَقَالَتْ وَمَا لَهُنَّ وَكَانَتْ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ فَقَالَ لَهَا أَمَا

به جنت ته نه ځي، سپين سري وويل: اې دالله رسوله څه سبب دئ چي هغوی به جنت ته نه ځي او دغه سپين سرو به قرآن وايه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا تا په قرآن كريم كي دا آيت نه دي

تَقْرَئِيْنَ الْقُرْآنَ إِنَّآ أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا. رواه رزين . وفي شرح السنة بلفظ المصابيح

لوستی (انا انشانهن......) موږ به په جنت كي ښځي دويم وار پيدا كړو موږ به هغوی پيغلي

انجوني جوړي کړو. رزين.

تخريج: البغوي في شرح السنة ١٣\ ١٨٣، رقم: ٣٦٠٦، والبغوي في المصابيح ٣\ ٣٣٥، رقم: ٣٧٩٦.

تشريح: په مصابيح کي چي دغه روايت په کومو الفاظو نقل سوی دی هغه دادی چي رسول الله ﷺ هغه ښځي ته وفرمايل چي سپين سري ښځي به په جنت کي نه داخليږي (د دې په اورېدو سره) هغه سپين سرې ښځه په ژړا ولاړه نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه ښځي ته ورسئ او ورته ووايا ست چي ښځي به خپل سپين سري جنت ته نه ځي ځکه چي الله تعالی فرمايلي دي (انا انشاناهن انشاء فجعلناهن ابكارا) يعني ښځي به په پيغلي کېدو سره په جنت کي داخليږي.

د خوش طبعۍ يوه واقعه

﴿٤٦٧٢﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلاً مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ كَانَ اِسْمُهُ زَاهِرَ بْنِ حِرَامٍ وَّكَانَ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي يو صحرايي سړی چي د هغه نوم زاهر بن حرام وو د

يُهْدِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْبَادِيَةِ فَيُجَهِّزُهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

رسول الله ﷺ لپاره به يې د صحراء څخه د تحفې لپاره يو څه راوړل (مثلا سبزي وغيره) او کله چي به هغه ستنېدئ نو رسول الله ﷺ به د هغه د سفر سامان سمویٔ،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَّخْرُجَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ زَاهِرًا

يوه ورځ نبي کريم ﷺ د هغه په اړه وفرمايل: زاهر

بَادِيَتُنَا وَنَحْنُ حَاضِرُوْهُ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّهُ وَكَانَ دَمِيْمًا

زموږ د باندي بندوبست کونکی دئ او موږ د هغه د ښار بندوبست کونکي او رسول الله ﷺ د زاهر سره ډېره مينه کول هغه د رنګه تور وو،

فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا وَهُوَ يَبِيْعُ مَتَاعَهُ فَاحْتَضَنَهُ مِنْ خَلْفِهِ

يوه ورځ رسول الله ﷺ د ښاد خوا ورغلئ د ښا د لوري يې د هغه ستر کي بندي کړې (يعني لاسونه مبارک يې پر کښېښودل)

وَهُوَ لاَ يُبْصِرُهُ فَقَالَ أَرْسِلْنِيْ مَنْ هٰذَا فَالْتَفَتَ فَعَرَفَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

هغه شی نه سو ليدلای او وه يې ويل ثوک يې ما پرېږده، بيا زاهر د سترګو په کونجو کي وکتل او رسول الله ﷺ يې و پيژندئ

وَسَلَّمَ فَجَعَلَ لَا يَأْلُوا مَا أَلْزَقَ ظَهْرَهُ بِصَدْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ

او خپله شا يې د رسول الله ﷺ د سينې مبارکي سره په مښلولو کي پوره کوښښ وکړ (يعني د برکت تر لاسه کولو لپاره)

عَرَفَهُ وَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ يَّشْتَرِيْ الْعَبْدَ فَقَالَ يَا

او رسول الله ﷺ دا ويل ثوک غلام رانيسي، ددې اوريدو سره زاهر وويل: اې د الله رسوله!

رَسُوْلَ اللهِ إِذًا وَاللهِ تَجِدُنِيْ كَاسِدًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لٰكِنْ عِنْدَ اللهِ لَسْتَ بِكَاسِدٍ. رواه في شرح السنة.

په الله ﷻ دي مي قسم وي تاسو به ما د خرڅولو په وخت کي کوټه تر لاسه کړئ (يعني ثوک به مي نه رانيسي) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل مګر د الله ﷻ په نزد ته کوټه نه يې (يعني د کار سړی يې). شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۳\۱۸۱، رقم: ۳۶۰۴

تشريح: رسول الله ﷺ، زاهر رضي الله عنه د مسخرو په توګه په غلام سره تعبير کړ او د حقيقت په اعتبار د دروغو خبره نه وه ځکه چي هغه د الله تعالی غلام په هر حال وو، د يو شي د پلورلو په توګه استفهام په ډول دا ويل چي کوم ثوک دی چي دی رانيسي، د مفهوم په اعتبار کله خو د هغه د قيمتي کېدو لپاره پر مقابلې باندي اطلاق کيږي او کله د هغه اطلاق پر استبدال باندي وي نو د رسول الله ﷺ دغه ارشاد کوم ثوک دی چي ددغه غلام رانيونکی دی مطلب دا وو چي په دغه بازار کي داسي ثوک سته چي ددغه غلام د قدر او قيمت مقابله وکړي يعني دلته يو د دغه د حيثيت مقابله نسي کولای يا دا چي داسي ثوک سته چي ددغه غلام قيمت ولګوي يا داسي شی ماته راکړي چي د هغه په بدله کي زه دغه غلام ورکړم يعني دلته هيڅ مال دده بدل کېدای شي او هيڅ شی دده قيمت نسي جوړېدای او دا هم ممکن ده چي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد چي دغه غلام حاصل کړي يعني داسي هيڅوک نسته چي ددغه غلام د تر لاسه کولو او د ځان سره د ساتلو اهل وي.

د نبي كريم ﷺ سره د صحابه كرامو خوش طبعي

﴿۴۶۷۳﴾: وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د عوف بن مالک اشجعي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ فَسَلَّمْتُ فَرَدَّ وَقَالَ ادْخُلْ

د تبوک په غزا كي، دغه وخت رسول الله ﷺ د پوست په يوه خيمه كي وو، ما رسول الله ﷺ ته سلام ادا كړنو د سلام جواب يې راكړاو وه يې فرمايل دننه راځه

فَقُلْتُ أَكُلِّي يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ كُلُّكَ فَدَخَلْتُ قَالَ عُثْمَانُ بْنُ أَبِي الْعَاتِكَةِ قَالَ إِنَّمَا قَالَ أَدْخُلُ كُلِّي مِنْ صِغَرِ الْقُبَّةِ. رواه ابوداؤد.

ما د مسخرو په توګه وويل: اې دالله رسوله! ټوله راسم (يعني ټول بدن را دننه كړم) رسول الله ﷺ وفرمايل: ټول بدن را دننه كړه، نو زه خيمې ته را دننه سوم، ددې حديث يو راوي عثمان بن ابو العاتله رضي الله عنه وايي عوف بن مالک رضي الله عنه دا جمله ځكه ويلې وه چي خيمه كوچنۍ وه. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۷۱، رقم: ۵۰۰۰.

د لغاتو حل: قبة: اى خيمة صغيرة (كوچنۍ خېمه)

تشريح: ددغه حديث څخه معلومه سوه چي رسول الله ﷺ دخپلو صحابه كرامو سره د داسي ميني او شفقت تعلق درلودی چي صحابه كرام د رسول الله ﷺ سره بې تكلفه وه. او ددغه بې تكلفۍ په وخت كي به يې د رسول الله ﷺ ظريفانه خبري هم كولې.

﴿۴۶۷۴﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ اسْتَأْذَنَ أَبُو بَكْرٍ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

د حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حضرت ابوبكر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه كور ته د ورتلو اجازه وغوښتل،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَ صَوْتَ عَائِشَةَ عَالِيًا فَلَمَّا دَخَلَ تَنَاوَلَهَا لِيَلْطِمَهَا وَقَالَ أَلَا

سمدستي هغه د بي بي عائشې رضي الله عنها آواز واوريدئ چي په زوره ګډه وه، د ننه په ورتلو سره حضرت ابوبكر رضي الله عنه د بي بي عائشې رضي الله عنها لاس ونيوئ او د چپلاخي وركولو اراده يې وكړه او وه

يې فرمايل خبردار!

أَرَاكِ تَرْفَعِينَ صَوْتَكِ عَلَى رَسُولِ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى

چي بيا دې د رسول الله ﷺ د آواز څخه په لوړ آواز وانه ورم، رسول الله ﷺ ابوبكر صديق رضي الله عنه

اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْجِزُهُ وَخَرَجَ أَبُو بَكْرٍ مُغْضَبًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ

منع كړې د وهلو څخه ددې څخه وروسته ابوبكر رضي الله عنه د غضب په حالت كې ولاړې د هغه د تلو

وَسَلَّمَ حِينَ خَرَجَ أَبُو بَكْرٍ كَيْفَ رَأَيْتِنِي أَنْقَذْتُكِ مِنَ الرَّجُلِ قَالَ فَمَكَثَ أَبُو

څخه وروسته رسول الله ﷺ بي بي عائشې رضي الله عنها ته وفرمايل تا وليدل ما څرنګه ددغه سړي (ابوبكر صديق رضي الله عنه) د لاسه خلاصه كړې، د بي بي عائشې بيان دئ ددې څخه وروسته حضرت

بَكْرٍ أَيَّامًا ثُمَّ اسْتَأْذَنَ فَوَجَدَهُمَا قَدِ اصْطَلَحَا فَقَالَ لَهُمَا أَدْخِلَانِي فِي سِلْمِكُمَا

ابوبكر رضي الله عنه تر څو ورځو پورې زموږ كره نه راغلئ، بيا يوه ورځ هغه حاضر سو اجازه يې وغوښتل په كور كې يې وليدل چې رسول الله ﷺ او عائشه رضي الله عنها د صلح په حالت كې ناست دي نو ابوبكر صديق رضي الله عنه دواړه مخاطب كړل او ورته وه يې ويل ما په خپل صلح كې ګډ كړئ

كَمَا أَدْخَلْتُمَانِي فِي حَرْبِكُمَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ فَعَلْنَا قَدْ فَعَلْنَا. رواه ابوداؤد.

په څرنګه چې مو په جګړه كې ګډ كړې وم، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: موږ همداسې وكړل موږ همداسې وكړل (يعني ته هم په صلحه كې راسره داخل يې). ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۷۱، رقم: ۴۹۹۹.

لغاتو حل: يحجزه: اى يمنعه (منعه كوي يې)

تشريح: په څرګنده دا معلوميږي چې په دغه حديث كې د رسول الله ﷺ هغه جمله د مزاح په توګه وه چې رسول الله ﷺ بي بي عائشې رضي الله عنها ته فرمايلې وه چې تا وليدل چې ما ته د هغه سړي (يعني د ابوبكر صديق رضي الله عنه) د لاس څخه څرنګه خلاصون وركړ، يعني رسول الله ﷺ ستا د پلار ويلو پر ځاى د هغه سړي ويل د مسخرو په توګه حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه د بي بي عائشې رضي الله عنها

